مَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا

رسول الله ﷺ چه تاسو ته د څه حکم کوی هغه
اخلی او د څه نه مو منع کوی د هغے نه منع شی

پښتو

صَحِيح مُسْلِم شَرِيف

تالیف

لِلْإِمَامِ أَبِي الْحُسَيْنِ مُسْلِمِ بْنِ الْحَجَّاجِ بْنِ مُسْلِمِ
الْقُشَيْرِيِّ النَّيْسَابُورِيِّ رحمه الله

پښتو ترجمه

مولوی حضرت علی ابن حاجی هادی عفی عنه

1

فیضی کتب خانه محله جنگی پشاور
فون: 091-2566505



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

"وما آتكم الرسول فخذوه وما نهكم عنه فانتهوا"

رسول الله ﷺ چه تاسو ته څه درکوی هغه اخلئ او د څه نه مو چه منع کوی د هغې نه منع شئ

صحیح مسلم

مع

شرح نووی

تالیف

ابوالحسین مسلم بن الحجاج القشیریؒ

★★★ ترجمه ★★★

علامه وحید الزمان رحمه الله

پښتو مترجم

مولوی حضرت علی حنفی ابن حاجی هادی

ناشر فیضی کتب خانه قصه خوانی پشاور

کتاب نوم ________ صحیح مسلم

مؤلف ________ ابو الحسین مسلم بن الحجاج

مترجم پښتو ________ مولانا حضرت علی صیب

ناشر ________ فیضی کتب خانه

پروپرائیټر: عبدلاکبر

0333-9194846

091-2566505

★★★★★ فهرست مضامین صحیح مسلم جلداول ★★★★★

"بسم الله الرحمن الرحیم"

دیباچه

الحمد لله الذی منّ علینا بالهدایة الی دین الاسلام واحکمه فی قلوبنا خیر احکام وجنبنا من بوطیل الوسوس والاوهام بالاقتفآء بسنة نبیه خیر الانام علیه افضل الصلوة ما تکررت اللیالی والایام وتعاقبت الانوار والظلام وعلی اله واصحابه الکرام :

دَ حمد او نعت نه بعد فقیر او حقیر سراپا قصوروار **وحید الزمان** عفا عنه دَ تمامو مسلمانانو رونړو او دَ حدیثو دَ سید المرسلین ﷺ دَ شوق مندو حضراتو په خدمت کښې عرض کوی ۔ چه سره دَ کمزورئ او ناتوانئ او دَ کم والئ دَ مال او بے سروسامانه په اواخر ۱۳۰۰ هجری کښې محض په تائید غیبی او امداد خداوندی سره څلور لوے لوے کتابونه دَ حدیثو منجمله صحاح سته په اوردو ژبه کښې ترجمه شول ۔ یعنی موطا امام مالك او جامع الترمذی او سنن ابو داود او سنن نسائی او الله جل شانه په خپل فضل اوکرم سره دے څلورو کتابونو لره مقبول کړل او په سوونو او زرګونو نسخے هغه طالبانو هر څلور طرف ته په ولایت هند کښې واخستلے۔

اوس په شروع کښې دَ څورلسمے صدئ یعنی ۱۳۰۱ هجری کښې دَ محرم دَ میاشتے نه دا فکر پیدا شو اګر چه ددنیا دَ ژوند څه اعتبار نشته دے او دَ دنیا ژوند صرف یو حُباب دے مګر دَ کومے پورے چه څه روح باقی وی هغه هم کۀ چرے دَ حدیثو په خدمت کښے صرف شی نو ددے نه اوچت کوم یو نعمت دے ۔ پس په دے خیال سره ما دَ خداوند کریم په مدد باندے بروسه اوکړه او دَ صحیحینو په ترجمه کښې مے وخت صرف کول مناسب اوګنړل۔ او چونکه دَ صحیح بخاری شرحے او ترجمے په عربئ او فارسئ ژبه کښې ډیرے شوے دی بلکه په موجوده وخت کښې دَ اوردو یوه ترجمه دَ مدارس په ښار کښې چهاپ کیدل شروع شوے وو ، ددے نه علاوه دَ جناب نواب فیضِ مآب معلے القاب خادمِ سنتِ سیدِ المرسلین، وارث الانبیاء والمرسلین، حامی شریعت مبین ، ناصر دین متین ، قامع بدعات ، ماحی ظلمات ، مجدد قرن ثالث عشر ، امام قرن رابع عشر ، فخر العلماء والمجتهدین ، راس المفسرین والمحدثین جناب نواب والا جاه امیر الملك

مولانا سید محمد صدیق حسن صاحب بهادرؒ چه د هغوی او چتے ارادے همیشه همیشه د دین ذ اشاعت او حمایت د شریعت متین په طرف باندے متوجه وے. په خپل او چت همت او اراده سره ئے کتاب مستطاب نادر الوجود فتح الباری شرح د صحیح بخاری په مصر کښے شروع کړے وه. او ظاهره خبره ده چه ذ بخاری په تمامو شرحو کښے ددے په شان شرحه نۀ جوړه شوے ده او نۀ به جوړه شی ـ ددے د وجے نه د بخاری په ترجمه کښں ددے شرحے په میلاویدو سره د لوے آسانی خیال وو ما ذ بخاری شریف ترجمے لره بالفعل ملتوی کړله. او حسب ایماء د جناب ممدوح صحیح مسلم شریف ترجمه مے شروع کړه.

صحیح مسلم شریف هم په صحت حدیث او په جودتِ اسناد کښں د صحیح بخاری نه کم نۀ دے . او په اتفاق ذ علماؤ سره دا کتاب هم ذ صحیح بخاری شریف سره برابر دے. ددے وجے نه دے دوارو کتابونو ته صحیحین وئیلے شی. اگر چه اکثرو علماؤ صحیح بخاری لره یوه درجه په دۀ باندے مقدم کړے دے لیکن حافظ ابوعلی نیشاپوریؒ وئیلے دی چه صحیح مسلم په نسبت ذ صحیح بخاری شریف هم زیات صحیح دے او بعضے مغربی علماؤ هم ددے قول سره اتفاق کړے دے. او ذ هغے وجه داده چه امام مسلم په خپل صحیح مسلم کښں دا خبره لازمه کړے ده چه هغه حدیث ئے نقل کړے دی چه ذ دوو معتبرو تابعینو او ذ دوو صحابه کرامو نه روایت شوے دی او دغه شان په هره طبقه کښں ذدوو معتبرو سره ذ دوو معتبرو اصحابو نه نقل راغلے دی. او امام بخاری ددے شرط خیال نۀ دے ساتلے .

او حدیث " انما الاعمال بالنیات " چه په صحیح مسلم کښں موجود دے اگر چه په دے کښں دا شرط نۀ شی موندلے کیدے مگر په نظر د تبرك او صحیح خیال او په مشهور کیدو ددے ذکر شوے دے. او بعضو وئیلے دی چه صرف دا حدیث مستثنی دے. امام مسلمؒ فرمائیلے دی چه ما دے کتاب لره په درے لکه احادیثو سره منتخب کړے دے او کۀ د تمامے زمکے خلق د دوو سوو کالو پورے احادیث اولیکی. نو بیا اعتماد آخر ذ هغوی په دے کتاب باندے وی. او ما یو حدیث لره په دے کتاب کښں داخل کړے نۀ دے مگر په بنۀ پوهه او دلیل سره مے داخل کړے دے. او په دے شان مے ترینه یو حدیث نۀ دے ویستلے مگر په بنۀ پوهه او دلیل سره مے ویستلے دے.

احمد بن سلمیؒ فرمائیلي دي چه ما دَ امام مسلم سره ددے کتاب د جمع کولو په وخت دَ پنځلسو کالو پورے لیکل کړے دي په دے کتاب کښې دولس زره احادیث دي۔ مکی بن عبدان وائی چه ما دَ امام مسلم نه اوریدلے دي هغه وئیلي وو چه ما دے کتاب لره دَ ابوزرعه رازیؒ مخے ته وړاندے کړو۔ بیا چه هغوی په کوم حدیث کښې علت بیان کړو نو هغه حدیث ترے نه ما اویستو۔ اوکوم حدیث ته چه هغوی صحیح اووے چه دا صحیح دے او څه علت په کښې نشته دے هغه مے په کښې داخل کړو۔ دے روایت لره خطیب بغدادیؒ په خپل سند سره روایت کړے دے۔

دَ اعلیٰ نه اعلیٰ سند دَ امام مسلم هغه دے چه په هغے کښې دَ امام مسلم نه واخله دَ رسول الله ﷺ پورے څلور واسطے دي او څنګه چه دَ بخاری ثلاثیات دي په دریو واسطو دَ حدیثو سره هغه په صحیح مسلم کښې نشته دے۔ امام نوویؒ وئیلي دي چه امام مسلم په حدیثو کښې څو کتابونه لیکلے دي په تولو کښې مشهور دا صحیح مسلم شریف دے او دا کتاب په تواتر سره دَ امام مسلم نه نقل کړے شوے دے۔ په دے شان چه دے کتاب ته دَ امام مسلم تصنیف یقینا وئیلے کیږی او باسانید متصل دَ امام مسلم پورے نقل شوے دے۔

او یوه خاصه فائده چه په دے کتاب کښې ده هغه داده چه امام مسلم دَ هر یو حدیث دپاره یو خاص مقام چه دَ هغه حدیث سره مناسب وو مقرر کړے دے او په دغه ځائے کښې ئے ددغه حدیث تمام طرقو لره راجمع کړے دي او دَ هغے تمامو الفاظو لره ئے په یو مقام باندے بیان کړے دي ددے دپاره چه ددے کتاب لوستونکی ته آسانی وی او دَ تمامو طریقو نه هغه فائده اوچته کړی۔ او دا خبره په صحیح بخاری کښې نشته دے۔ امام حافظ عبد الرحمٰن بن علی یمنیؒ څو اشعار دَ صحیح مسلم په تعریف کښې لیکلے دي چه دَ هغے مضمون دادے:

"اے لوستونکیه! صحیح مسلم شریف دَ علم دریاب دے چه په کښې دَ اوبو بهیدو لارے نشته دے، (یعنی تولے اوبهٔ په یو ځائے کښې جمع دي) او دَ مسلمؒ دَ روایتونو ذخیره دَ بخاریؒ دَ روایتونو نه زیاته مزه ورکوی۔ حافظ بن صلاح وئیلے دي دَ مسلم شرط دادے چه حدیث به متصل الاسناد وی دَ اول نه واخله دَ آخره پورے یو معتبر دَ بل معتبر نه نقل کړے وی، او په هغے دغه طلاقو سره نهٔ حانث کیږی۔ ولے چه په حقیقت کښے ددے دواړو احادیث صحیح دي او عملاً

ددے په صحیح والی باندے اجماع کړے ده او په دے خبره باندے د تمام امت محمدیؐ اتفاق دے چه دَ کوم حدیث په صحت باندے د امام بخاری او مسلمؒ دواړو اتفاق دے هغه صحیح دے ۔ ابن الصلاحؒ وئیلے دی چه امام مسلمؒ د ابوزرعه رازیؒ خواله راغے او یو ساعته پورے کیناستو او خبرے ئے کولے هر کله چه پاسیدو نو چا اونیلے چه دهٔ څلور زره احادیث په خپل صحیح کښ راجمع کړے دی۔ ابوزرعه رازیؒ اوفرمائیل چه بیاؒ ئے باقی احادیث چا دپاره پرخودل۔ شیخ وئیلے دی چه مراد دَدغه سړی داوو چه په صحیح مسلم کښ اصل څلور زره احادیث دی سیوا د مکرراتو نه ۔ او مکررات چه ورسره یو ځائے کړے نو اووهٔ زره او دوه سوه پنځه اویا احادیث دی۔

امام مسلمؒ دے کتاب لره د ابوابو په ترتیب سره جمع کړے دے او په حقیقت کښے په باب باب باندے مرتب دے او د باب ترجمو لره هغه په متن کښ داخل کړے نه دی۔ ددے دپاره چه دَ کتاب حجامت سیوا نهٔ شی یا په څه بل غرض سره ۔ امام نوویؒ وئیلے دی چه خلقو د صحیح مسلم شریف دَ ابوابو ترجمے کړے دی بعضے ښے دی اوبعضے نهٔ دی۔ ددے وجے نه چه دَ ترجمے په عبارت کښ قصور دے یا الفاظ دَ هغه کمزورے دی او زهٔ په خپله شرحه کښ دے ترجمو لره په مناسب عبارتونو سره بیانووم ۔ امام سیوطیؒ وئیلے دی چه د صحیح مسلم په یوه نسخه کښ چه دَ بابونو کومے ترجمے موندلے شی نو دا دَ مسلمؒ جوړے شوے نهٔ دی بلکه خلقو دَ هغه نه پس جوړے کړے دی۔ او په هغے کښ ښهٔ او بد تول دی۔ لکه څنګه چه امام نوویؒ وئیلے دی او دَ هغه خلقو غرض داوو چه حدیث راویستونکی والا ته آسانی وی۔ لیکن غوره داده چه دَ باب ترجمے په کتاب کښ اونهٔ لیکلے شی لکه څنګه چه په زړو نسخو کښ نهٔ دی لیکلے شوے ۔ او د کومو خبرو په وجه سره چه دَ مسلم کتاب د بخاری دَ کتاب نه ممتاز یعنی غوره دے په هغے کښ یوه خبره داده چه امام مسلمؒ بے سنده احادیث ډیر کم بیان کړے دی سوا دَ څو مقاماتو نه ، په خلاف دَ امام بخاریؒ چه دَ هغه په کتاب کښ بے سنده احادیث ډیر زیات دی۔ امام نوویؒ وئیلے دی چه مسلمؒ په خپل کتاب کښ دَاعتماد لارو لره اخیار کړے دی په ډیر احتیاط او مضبوطوالی او دَ معرفت سره۔ او ددے نه د هغه دَ کمال او دَ دینداری او ډیر علم او زیات تحقیق او د اوچت شان نتیجه معلومیږی او امام مسلمؒ دَ خپل کتاب په مقدمه کښ لیکلے دی چه هغوی احادیثو لره

په درے قسمه باندے کړے دی یو خو هغه دی چه هغه ئے دَ لویو لویو حافظانو نه نقل کړے دی دویم هغه دی چه دَ هغوی غیب پټ پاتے شوے دے۔ دریم هغه دی چه هغے لره ضعیف او متروکو خلقو روایت کړے دی نو مسلمؒ چه هر کله دَ وړومبی قسم احادیثو نه اوزګاریږی نو دویم قسم احادیثو لره راوړی۔ لیکن دریم قسم احادیثو لره بالکل نهٔ راوړی۔

علماو اختلاف کړے دے چه ددے تقسیم نه څه مراد دے حاکمؒ او بیهقی وئیلے دی چه امام مسلمؒ دویم قسم احادیثو لره بیانول غوښتل مګر دَ هغے نه وړاندے ناګهانه مرګ راغے او فقط دَ وړومبی قسم احادیث دَ هغه په کتاب کښں دی۔ قاضی عیاضؒ وئیلے دی چه غوره سره دا خبره صحیح نهٔ شی معلومیدے، او هغه په خپل کتاب کښں په دریو قسمونو سره احادیث بیان کړے دی۔ او ابن عساکرؒ وئیلے دی چه امام مسلمؒ په دوه قسمه حدیثو باندے خپل کتاب مرتب کول غوښتل ۔ یو قسم دَ اوچتو اوچتو حافظانو او معتبرو خلقو دَ روایتونو ۔ مګر هغه ته مرګ راغے او دا آرزوئے پوره نهٔ شوله او کتاب دَ ترتیب تراجم او ابوابو سره پاتے شو۔ باوجود ددے دَ هغه کتاب مقبول او مشهور شو۔ او دریم قسم احادیثو لره هغه بالکل بیان کړے نهٔ دی بیا دَ امام مسلمؒ نه پس نورو خلقو ډیر داسے کتابونه دَ امام مسلمؒ دَ صحیح په شان اولیکل او اوچتو اوچتو سندونو لره ے حاصل کړل۔ او په هغوی کښے بعضو دَ امام مسلمؒ مشائخو لره اوموندل۔ او دَ مسلمؒ احادیثو لره ئے په خپل کتاب کښں اولیکل۔ شیخ ابو عمرو وئیلے دی چه کوم کتابونه دَ صحیح مسلم په شان لیکلے شوے دی اګر چه په هغے کښں دَ صحیح والی یوه نښانی ده مګر په تمامو خبرو کښں هغه دَ مسلم په شان کیدے نهٔ شی۔ په صحیح مسلم باندے علماؤ ډیرے شرحے لیکلے دی په ټولو کښں مشهوره هغه شرحه ده کومه چه امام حافظ ابو زکریا محی الدین نوویؒ شافعیؒ تالیف کړے ده۔ او دغه شرحه شائع او مشهوره ده۔ او یوه دغه شرحے خلاصه ده چه هغے لره شمس الدین محمد بن یوسف قونویؒ مرتب کړے ده

او یوه شرحه دَ قاضی عیاض مالکیؒ ده چه دَ هغے نوم کمال المعلم فی شرح صحیح المسلم ده او یوه شرح دَ ابو العباس احمد بن عمر بن ابراهیم قرطبیؒ ده او دا شرحه دَ نوویؒ نه هم وړاندے ده او یوه شرحه دَ امام ابو عبد الله محمد بن خلیفه مالکیؒ په څلورو جلدونو کښں

چهاپ ده. او یوه شرح د ابو عبد الله مازری ده. چه نوم ئے المعلم به فوائد کتاب المسلم ده او یوه شرح عماد الدین عبد الرحمن بن عبد العلی مصری لیکلے ده او یوه شرح غرائب مسلم مسلم بن عبد الغافر بن اسماعیل فارسی لیکلے ده. چه نوم ئے المفهم فی شرح غریب المسلم ده . او یوه شرح ئے د سبط ابن الجوزی ده او یوه شرح په پنځه جلده کښې د ابو الفرج عیسیٰ بن مسعود زوادیٰ ده او یوه شرح د قاضی زین الدین زکریا بن محمد اناری ده. یوه مختصر شرح د شیخ جلال الدین سیوطیؒ ده چه د هغې نوم الدیباج علی صحیح مسلم بن الحجاج ده. او یوه شرح دَ قوم الدین ابو القاسم اسماعیل بن محمد اصفهانی ده او یوه شرح د تقی الدین شافعی ده او یوه شرح دَ قسطلانی ده چه نوم ئے منهاج الدیباج دے او یوه شرح ده د ملا علی قاریؒ په څلورو جلدونو کښې دَ صحیح مسلم مختصرات هم ډیر دی .

یو مختصر دَ ابو عبد الله شرف الدین محمد بن عبد الله مرسی دے . او یو مختصر دے د وائد مسلم په بخاری باندے د حافظ سراج الدین عمر بن علی ملقن شافعیؒ او یو مختصر د حافظ زکی الدین منذری دے او ددے مختصرے شرحے هم ډیرے دی او د ټولو نه اعلی شرح السراج الوهاج ده چه هغه زمونږه په دے زمانه کښې دَ جناب مولانا محمد صدیق حسن صاحب بهادرؒ دَ تصنیفاتو نه چهاپ شوے ده. او په دے ترجمه کښې دَ هغه دَ شرحے نه څه ډیرے فائدے نقل شوے دی. دَ امام مسلمؒ حال کوم چه ددے کتاب مولف دے چه نوم ئے مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیری بن وردین کرشاد نیشاپوری دے . امام دَ علم حدیث حافظ دے او هغوی دَ علم دَ حاصلولو دپاره دَ حجاز او عراق او د شام او د مصر سفرونه کړے دی او مشهور مشائخ دَ هغه دای. یحییٰ بن یحییٰ نیشاپوریؒ . امام احمد بن حنبل . اسحاق بن راهویه. عبد الله بن مسلمه قعنبیؒ . قتیبه بن سعیدؒ . ابوبکر بن ابی شیبه . محمد بن بشارؒ . محمد بن المثنیٰؒ . او دغه شان نور هم دی .

او څو څو ځله بغداد ته راغلے دے او د خاوندانو د بغداد نه ئے روایت کړے دے ددے ټولو نه هغه بغداد ته په ۲۵۹ هجری کښې تشریف راوړو ترمذیؒ دَ هغه روایت کړے دے . خطیب بغدادی وئیلے دی چه مسلمؒ دَ بخاری تکرار کړے دے او دَ خلقو اعتراضونه به ئے دَ هغه نه دفع

کول ـ تر دے پورے چه د هغه او ذ ذهلیؒ په دے وجه سره خفگان راغے حافظ بن محمد یعقوب وئیلے دی چه بخاریؒ هر کله نیشاپور ته راغے نو امام مسلمؒ به دَ هغه خواله ډیر زیات تلو راتلو ددے نه پس دَ امام بخاریؒ او امام مسلمؒ اونۀ منل او هغه به خپل تگ راتگ جاری ساتلو ـ هر کله چه امام ذهلیؒ ته ددے خبرے پته اولگیده نو هغه امام مسلمؒ ته غصه شو امام مسلمؒ دَ هغه دَ مجلس نه پاځیدو او کوم حدیث چه ئے دَ ذهلیؒ نه لیکلے وو هغه ئے ورته واپس ورکړل۔ او په دے سره ئے دَ ذهلیؒ سره ملاقات پریخودو۔ بهر حال امام مسلمؒ دَ علمائے اعلام نه دے او دَ احادیثو حافظ او مقتداء دے دَ هغه فن چه هغے لره امام اهل حدیث مسلم کړے دے او دَ طلب حدیث دپاره دَ دنیا په هر طرف او گوټ گوټ کښې گرځیدلے دے۔ او محمد بن مهران او ابو غسان او عمر بن سواد او جزیله بن یحییٰ او سعیدبن منصور او دَ ابو مصعب نه ئے اوریدلے دی او دَ هغوی نه ئے روایات کړے دی، یو جماعت دَ علماؤ لکه ابو حاتم رازی او موسیٰ بن هارون او احمد بن سلمهؒ او ابوبکر بن خزیمه او نورو ډیرو خلقو چه دَ هغوی شمار گران دے

ابو عمر بن محمد بن حمدان وئیلے دی چه ما دَ ابو العباس بن عقده نه سوال اوکړو چه په بخاری او مسلم کښې کوم یو وړاندے دے هغوی اووے چه دواړه اوچت عالمان دی ما بیا تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه اے ابو عمر! دَ بخاریؒ نه کله کله غلطی کیږی به روایت کوونکو خاوندانو دَ شام کښې لکه چه په یو ځائے کښې ئے دَ یو راوی نوم اخستے دے او به بل ځائے کښې ئے ددغه راوی دَ نوم په ځائے باندے کنیت بیان کړے دے۔ نو دَ هغے نه داسے گمان او خیال راځی چه دا راویان دوه سړی دی۔ او دَ امام مسلمؒ نه داسے غلطی ډیره کمه شوے ده۔ خطیب بغدادیؒ وئیلے دی چه امام مسلمؒ دَ امام بخاریؒ پیروی کړے ده او دَ هغه په قدم باندے چلیدلے دے. دار قطنی وئیلے دی چه که چرے امام بخاریؒ نۀ وے نو امام مسلمؒ ته دا لار هم نۀ ملاویده عرض دا چه امام مسلمؒ دَ امام بخاریؒ نه ډیره فائده اوچته کړے ده۔ ابو احمد شیخ حاکم نیشاپوری وئیلے دی چه امام مسلمؒ په خپل کتاب کښې ډیر متفرق حدیثونه دَ بخاریؒ دَ کتاب نه اخستے دی مگر هغے لره ئے دَ بخاریؒ په طرف باندے نسبت نۀ دے ورکړے او نۀ ئے په خپل صحیح کښې دَ بخاریؒ نه روایت کړے دے مسلم سیوا ددے صحیح نه نور کتابونه هم لیکلے دی لکه مسند کبیر ـ جامع کبیر ـ

کتاب العلل. کتاب الطبقات . کتاب اوهام المخضرمین. کتاب الاسماء والکنی .کتاب الوحدان .کتاب حدیث عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده. کتاب مشائخ مالك . کتاب مشائخ الثوری .

او د امام مسلمؒ د عجیبه حالاتو نه یو حالت دادے چه هغه په تمام عمر کښې د چا غیبت نۀ دے کړے او نۀ ئے خوك وهلے دی او نۀ ئے چاته کنځل کړے دی او د حدیثو په کره او کهوټه پیژندو کښې په خپله زمانه کښې په ټولو باندے وړاندے وو تر دے پورے چه په بعضے امورو کښې ئے په بخاریؒ باندے هغه لره فضیلت ورکړے شوے دے لکه چه وړاندے بیان شو. امام مسلمؒ په ۲۰۶ هجری کښې پیدا شوے وو. او د اتوار په ماښام د رجب د میاشتے په پنځه ویشتم تاریخ په ۲۶۱ هجری کښې وفات شو. انا لله وانا الیه راجعون "

د امام مسلمؒ عمر پنځه کم شپیته کاله وو او د ګل (پیر) په ورځ دفن کړے شو د هغه د وفات قصه څه داسے لیکلے شوے ده چه په مجلس کښې خلقو د هغه نه د یو حدیث تپوس اوکړو هغه ته دغه حدیث په هغه وخت کښې معلوم نۀ شو نو کورته راغے او خپل کتابونه لټول ئے شروع کړل او ټوکری ئے د خرماؤ مخے ته پرته وه د هغے نه به ئے یوه یوه خرما خوړله تر دے پورے چه هغه ټوکرۍ تمامه شوه او د حدیثو په تلاش کښې دومره مستغرق وو چه په هغه ټوکری ختمیدو باندے پوهه نۀ شو ددغے خرماؤ د زیات خوراك په وجه باندے ناجوړه شو او دغه ناجوړتیا د هغه د وفات سبب جوړ شو .

امام حاتم رازیؒ امام مسلم د مرګ نه پس په خوب کښې اولیدو او د حال تپوس ئے ترینه اوکړو مسلمؒ ورته اوئیلے چه خدائے پاك زما دپاره جنت مباح کړځولے دے کوم ځائے چه غوارم هلته کښې اوسیږم

د مترجم سند د امام مسلمؒ پورے

ددے مسلم شریف د ترجمے اجازت ماته زما شیخ عالم علامه شیخ احمد بن ابراهیم بن عیسی شرقی حنبلیؒ راکړے دے او هغه ته شیخ عبد الرحمن بن حسن اجازه کړے ده او هغه ته شیخ حسن قولسینی مصری اجازت ورکړے دے او هغه ته شیخ سلیمان بجیری اجازت کړے دے او هغه ته شیخ محمد عشمادی او هغه ته شیخ عبد الله بن عجمی او هغه نه شیخ محمد شوبری

او هغه ته محمد رملی اجازت ورکړے دے او هغوی دَ شیخ الاسلام زکریائی انصاری نه اوریدلے دی او هغوی دَ امام حافظ ابن حجر عسقلانیؒ نه اوریدلے دی حافظ ابن حجر روایت کړے دے چه دا کتاب دَ صلاح بن ابی عمر مقدسی نه او هغه دَ علی بن احمدبن بخاری نه۔ او هغه دَ موید طوسی نه او هغه دَ عبد الله فرادی نه او هغه دَ عبد الغافر فارسی نه او هغه دَ ابواحمد محمد بن عیسیٰ جلوه وی نه۔ او هغه دَ ابو اسحاق ابراهیم بن محمد نه۔ او هغه د امام مسلم بن الحجاج قشیری نه کوم چه ددے مسلم شریف مولف دے ۔ الله پاك چه واحد دے راضی دے شی ددے ټولو بزرگانو نه او مغفرت دے نصیب کړی سره زما او زما دَ مور او پلار او زما دَ رونړو او دَ ټولو بزرگانو ۔ ددے کتاب دَ مترجم نه واخله دَ امام مسلم پورے شپاړس واسطے دی ۔ او دَ امام مسلمؒ واسطه دَ رسول الله ﷺ پورے په رباعی حدیث کښ څلور دی په دے حساب سره دَ مترجم نه واخله دَ حضور ﷺ پورے ټولے یویشت واسطے دی ۔

" وَالحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى ذَالِکَ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْه "

* * * * * * * * * * * *

مقدمة

صحیح مسلم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ، وَصَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّدٍ خَاتَمِ النَّبِیِّیْنَ وَعَلٰی جَمِیْعِ الْاَنْبِیَآءِ وَالْمُرْسَلِیْنَ :

شروع کووم په نوم دَ الله سره چه هغهٔ ډیر مهربان او رحم والا دے او دَتولو تعریفونو لائق دے او هغه پروردگار چه هغه پالی دا تول جهان او بهترین انجام دَهغه خلقو دے چه هغه پرهیزگاران دی۔ الله تعالیٰ دے خپل رحمت نازل کړی په حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم چه دَ تمام انبیاء علیهم السلام خاتم دے (یعنی دَ نبوت سلسله الله تعالیٰ دَ دوی په ذاتِ بابرکت باندے ختمه کړے ده اوس به دُنیا ته بل پیغمبر په نوے شریعت باندے نۀ راځی۔) او په تمام انبیاؤ (او پیغمبرانو باندے چه کوم زمونږه دَ پیغمبر صلی الله علیه وسم نه مخکښ تیر شوے دی۔ لکه حضرت آدم، حضرت نوح ،حضرت ابراهیم ،حضرت موسیٰ او حضرت عیسیٰ علیهم السلام)۔

اَمَّا بَعْدُ! فَاِنَّکَ یَرْحَمُکَ اللّٰهُ بِتَوْفِیْقِ خَالِقِکَ ذَکَرْتَ اَنَّکَ هَمَمْتَ بِالْفَحْصِ عَنْ تَعَرُّفِ فِیْ سُنَنِ الدِّیْنِ وَاَحْکَامِهٖ وَمَا کَانَ مِنْهَا فِی الثَّوَابِ وَالْعِقَابِ وَالتَّرْغِیْبِ وَالتَّرْهِیْبِ وَغَیْرِ ذٰلِکَ مِنْ صُنُوْفِ الْاَشْیَآءِ بِالْاَسَانِیْدِ الَّتِیْ بِهَا نُقِلَتْ وَتَدَاوَلَهَا اَهْلُ الْعِلْمِ فِیْمَا بَیْنَهُمْ فَاَرَدْتُ اَرْشَدَکَ اللّٰهُ اَنْ تَوَقَّفَ عَلٰی جُمْلَتِهَا مُؤَلَّفَةً مُحْصَاةً وَسَاَلْتَنِیْ اَنْ اُلَخِّصَهَا لَکَ فِی التَّاْلِیْفِ بِلَا تَکْرَارٍ یَکْثُرُ فَاِنَّ ذٰلِکَ زَعَمْتَ مِمَّا یَشْغَلُکَ عَمَّا لَهٗ قَصَدْتُ مِنَ التَّفَهُّمِ فِیْهَا وَالْاِسْتِنْبَاطِهَا مِنْهَا وَلِلَّذِیْ سَاَلْتَ اَکْرَمَکَ اللّٰهُ حِیْنَ رَجَعْتُ اِلٰی تَدَبُّرِهٖ وَمَا تَؤُوْلُ اِلَیْهِ الْحَالُ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ عَاقِبَةٌ مَحْمُوْدَةٌ

ترجمه: امام مسلمؒ دَحمد او دَ صلوة نه ورستو مخاطب ته فرمائی چه الله تعالیٰ دے په تا باندے رحم اوکړی تا دَ الله تعالیٰ په توفیق سره ذکر کړے وو چه ستا قصه داده چه تۀ تلاش کړے هغه ټولو احادیثو لره چه هغه دَرسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کړے شوے دی دَدین په طریقو او په حکم کښے (یعنی دَمسائلو هغه احادیث چه هغه د فقهے سره متعلق دی، او هغه

احادیث چه هغه دثواب او عقاب دخوشخبرئ او د یرے متعلق دی (یعنی د فضائلو او د اخلاقو احادیث) او ددے نه علاوه نور احادیث د سندونو سره چه ددے په رو سره هغه احادیث نقل کرے شوے وی او چه هغے لره علمائے کرامو جاری کرے وی په خپل مابین کښے (یعنی مشهور او معروف سندونه)نو ستا مطلب داوو الله دے تا ته هدایت اوکری چه ته ددے تولو احادیثو نه واقف شے په دے شان سره چه هغه تول احادیث په یو ځائے کښے جمع وی او تا دا سوال کرے وو.

چه څه داتول احادیث ستا دپاره داختصار سره جمع کړم او په دے کښ تکرار نهٔ وی څکه کهٔ چرے تکرار وی (او طول وی) نو ستا مقصد چه داحادیثو پوهه ده او په دے کښے غور کول دی او ددے نه مسائل راویستل دی هغه به فوت شی او تا چه د کومے خبرے سوال کرے دے الله دے تاته عزت درکری کله چه ما په دے کښے غور اوکړو او ددے انجام ته مے اوکتل نو ان شاء الله ددے انجام به بهتر وی او بالفعل هم په دے کښے فائده شته (یعنی دحال او د مآل دواړو په دے کښے فائدے شته)

وَظَنَنْتُ حِيْنَ سَأَلْتَنِيْ تَجَشُّمَ ذٰلِكَ اَنْ لَوْ عَزَمَ لِيْ عَلَيْهِ وَقُضِيَ لِيْ تَمَامُهُ كَانَ اَوَّلُ مَا يُصِيْبُهُ نَفْعُ ذٰلِكَ اِيَّايَ خَاصَّةً قَبْلَ غَيْرِيْ مِنَ النَّاسِ لِاَسْبَابٍ كَثِيْرَةٍ يَطُوْلُ بِذِكْرِهَا الْوَصْفُ اِلَّا اَنَّ جُمْلَةَ ذٰلِكَ اَنَّ ضَبْطَ الْقَلِيْلِ مِنْ هٰذَا الشَّانِ وَاِتْقَانَهُ اَيْسَرُ فَعَلَى الْمَرْءِ مِنْ مُعَالَجَةِ الْكَثِيْرِ مِنْهُ وَلَا سِيَّمَا عِنْدَ مَنْ لَا تَمِيْزَ عِنْدَهُ مِنَ الْعَوَامِ اِلَّا بِاَنْ يُوَقِّفَهُ عَلَى التَّمِيْزِ غَيْرُهُ فَاِذَا كَانَ الْاَمْرُ فِيْ هٰذَا كَمَا وَصَفْنَا فَالْقَصْدُ مِنْهُ اِلَى الصَّحِيْحِ الْقَلِيْلِ اَوْلٰى بِهِمْ مِنْ اِزْدِيَادِ السَّقِيْمِ وَاِنَّمَا يُرْجٰى بَعْضُ الْمَنْفَعَةِ فِي الْاِسْتِكْثَارِ مِنْ هٰذَا الشَّانِ وَجَمْعُ الْمُكَرَّرَاتِ مِنْهُ لِخَاصَّةٍ مِنَ النَّاسِ مِمَّنْ رُزِقَ فِيْهِ بَعْضَ التَّيَقُّظِ وَالْمَعْرِفَةَ بِاَسْبَابِهِ وَعِلَلِهِ فَذٰلِكَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰى يَهْجُمُ بِمَا اُوْتِيَ مِنْ ذٰلِكَ عَلَى الْفَائِدَةِ فِي الْاِسْتِكْثَارِ مِنْ جَمْعِهِ فَاَمَّا عَوَامُ النَّاسِ الَّذِيْنَ هُمْ بِخِلَافِ مَعَانِي الْخَاصِّ مِنْ اَهْلِ التَّيَقُّظِ وَالْمَعْرِفَةِ فَلَا مَعْنٰى لَهُمْ فِيْ طَلَبِ الْحَدِيْثِ الْكَثِيْرِ وَقَدْ عَجَزُوْا عَنْ مَعْرِفَةِ الْقَلِيْلِ ثُمَّ اِنَّا اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مُبْتَدِئُوْنَ فِيْ تَخْرِيْجِ مَا سَاَلْتَ وَتَاْلِيْفِهِ عَلٰى شَرِيْطَةٍ سَوْفَ اَذْكُرُ لَكَ وَهُوَ اِنَّا نَعْمِدُ اِلٰى جُمْلَةِ مَا اُسْنِدَ مِنَ الْاَخْبَارِ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَنَقْسِمُهَا عَلٰى ثَلَاثَةِ اَقْسَامٍ وَثَلَاثِ طَبَقَاتٍ مِنَ النَّاسِ عَلٰى غَيْرِ تَكْرَارٍ۔

ترجمه: او ما دا خیال اوکړو کله چهٔ تا ماته ددے خبرے تکلیف راکړو کهٔ چرے دا کار څما نه اوشو نو دتولو نه مخکښے څما خپله فائده ده دڅو اسبابو دوجے نه چه دهغے بیانول طول دے مګر

خلاصه داده چه ددے طول نه لرِ غوندے احادیث یادول دمضبوطئ. او دَ صحت سره دَسړی دَپاره آسان دی دَ ډیرو احادیثو دَ روایت کولو نه (بغیر دَ ضبط اوډ اتقان نه ځکه چه په دے کښے خلجان پیدا کیږی) خاص کر دَ عوامو دَپاره به ډیره فائده وی چه هغوی ته تمیز نهٔ وی دَ کره اودَ کهوټه احادیثو بغیر دَ بل چا دَ ښودنے نه او کله چه حال داسے شو لکه څنګه چه مونږه پورته ذکر اوکړو نو دَلږو احادیثو صحیحو بیان کول ددے نه بهتر دی دَډیرو احادیثو نه او ډیر احادیث بیانول او مکررات جمع کول دا خاص خاص خلقو ته فائده ورکوی چه هغوی ته دَ احادیثو څه واقفیت حاصل دے او دَ احادیثو اسباب او علتونه هغوی پیژنی نو داسے سړے په وجه دَو قفیت او دَ معرفت دَډیر حدیثو دَ جمع کولو نه فائده اخلی لیکن عام خلق چه دوی برخلاف دی دَ هغے خواصو چه هغه صاحبِ معرفت او واقفیت دی هغوی ته هیڅ نهٔ خاصلیږی دَ ډیرو احادیثوپهَ طلب کولو کښے کله چه دَ لږو احادیثو دَ پیژندلو نه عاجزدی (یعنی خومره کم حدیثونه چه دوی لیدلی وی نو دومره دَ دے دَ پیژندو او دَصحیح دَ ضعیف نه دَ تمیز راوستو استعداد په دوی کښے نهٔ وی نو دَډیرو احادیثو نه به څنګه دوی فائده واخلی) بیا کهٔ الله اوغوښتل نو مونږه به د دے احادیثو په بیانولو کښے چه دکومو تا فرمائش کړے دے په یو شرط چلیږو او هغه شرط دادے چه مونږه دے تولو احادیثو ته قصدکوو چه هغه مسندا (یعنی متصلا) یو راوی دبل نه اوریدلے وی او رسول الله صلی الله علیه وسلم پورے روایت کړے شوے وی (دَتولو احادیثو نه مراد اکثر احادیث دی ځکه چه ټول مسند احادیث په دے کتاب کښے نشته) بیا به دے لره تقسیموو په درے قسمونو باندے او دَ راویانو په درے طبقو باندے (اوله طبقه دَحافظ او دَ ثقه راویانو. دویمه دَ متوسطینو او دریمه دَ ضعفاؤ او دَ متروکینو مګر مصنف په دے کتاب کښے دَاول قسم نه ورستو دَدویم قسم احادیث بیان کړے دی مګر دَدریم قسم نے مطلقا ذکر نهٔ دے کړے او حاکم او بیهقی فرمائیلے دی چه په دے کتاب کښے دَ تولو نه مخکښے دَاول قسم احادیث دی او دَ دویم قسم احادیثو د بیان نه مخکښے امام مسلمؒ وفات شوے دے)بغیر دَ تکرار نه۔

اِلَّا اَنْ یَّاْتِیَ مَوْضِعٌ لَا یُسْتَغْنٰی فِیْهِ عَنْ تَرْدَادِ حَدِیْثٍ فِیْهِ زِیَادَةُ مَعْنًی اَوْ اِسْنَادٌ یَقَعُ اِلٰی جَنْبِ اِسْنَادٍ لِعِلَّةٍ تَكُوْنُ هُنَاكَ لِاَنَّ الْمَعْنَی الزَّائِدَ فِی الْحَدِیْثِ الْمُحْتَاجِ اِلَیْهِ یَقُوْمُ مَقَامَ حَدِیْثٍ تَامٍّ فَلَا بُدَّ مِنْ اِعَادَةِ الْحَدِیْثِ الَّذِیْ فِیْهِ

ما وصفنا من الزّيادة اوْ انْ نفصّل ذالک المعنیٰ منْ جُملة الحديْث علیٰ اختصاره اذا امکن ولکنْ تفصیْلُهٗ رُبّما عسُرَ علی جملته فاعادته بهیْئته اذا ضاق ذالک اسلمْ فامّا ما وجدنا بدًّا من اعادته بجملته عن غیر حاجة منّا الیه فلا نتولّی فعلهٗ انْ شآء اللّٰه تعالیٰ فامّا القسْم الاوّل فانّا نتوخّی انْ نقدّم الاخبار الّتی هی اسْلمُ من العیوب من غیرها وانقیٰ من ان یّکون ناقلوْها اهل استقامة فی الحدیث واتْقان لما نقلوْا لم یُوْجد فی روایتهم غیر فیه علی کثیر من الْمُحدّثین وبان ذالک فی حدیثهمْ فاذا نحنُ تقصّیْنا اخبار هذا الصّنْف منَ النّاس اتْبعْناها اخبارًا یقعُ فی اسانیْدها بعْضُ منْ لّیس بالْموْصُوف بالْحفظ والاتْقان کالصّنْف الْمقدّم قبْلهُمْ علیٰ انّهم وَانْ کانُوْا فیْما وصفْنا دُوْنهُم فانّ اسْم السّتْرِ والصّدْق وتعاطی الْعلْم یشْملُهُمْ کعطآء بْن السّائب ویزیدْ ابْن ابیْ زیادٍ ولیْثِ بْنِ ابی سُلیْم

ترجمه: مګر کله چه داسې مقام وی چه هلته دوباره حدیث ذکر کول ضروری وی ددې وجې نه چه هلته یوه خبره زیاتی راغلې وی یا یو داسې اسناد وی چه دا دَ دویم اسناد په یو جانب کښې واقع وی دَیو علت دَوجې نه نو هلته به تکرار کوو (یعنی دوباره به دغه حدیث ذکرکوو) ځکه چه کله یوه خبره زیاته شی په یو حدیث کښې نو دا په مثل دکامل حدیث وی نو بیا به ضروری وی دَ مکمل حدیث ذکر کول چه په هغې کښې دا خبره زیاتی راغلې وی یا به مونږه دا زیاتوالې جدا کوو دَ پوره حدیث نه په اختصار سره کۀ چرې ممکن وو یعنی په یو حدیث کښې یوه جمله زیاته راغله چه دَهغې نه څه خبره دکار راوځی او دا جمله جدا کیدې شوه نو صرف دا جمله به دَدویم اسناد سره نقل کوو او ټول حدیث به دوباره نۀ ذکر کوو لیکن داسې به هله کوو چه ددې حدیث نه ددې جملې جدا کیدل ممکن وی (امام نووی فرمائی چه په دې مسئله کښې دَ علماؤ دَ حدیث اختلاف دې یعنی دَ حدیث یوه ټکړا جدا ذکر کوولو کښې دَبعضو په نزد باندې مطلقا منع دې ځکه چه روایت بالمعنیٰ ددوی په نزد باندې جائز نۀ دې بلکه دَ حدیث لفظ په لفظ سره ذکر کول پکار دی او دَ بعضو په نزد اګر چه روایت بالمعنیٰ جائز دې مګر دَ حدیث یوه ټکړا ځانله ذکر کول په هغه وخت کښې جائز دی چه کله اول کامل حدیث روایت کړې شی او دَ بعضو په نزد باندې مطلقا جائز دې او قاضی عیاضؒ فرمائی چه دَامامِ مسلم هم دا قول دې او صحیح داده چه دَ علماؤ او دَ اهلِ معرفت دا خبره درست ده خو په دې شرط سره چه په معنیٰ کښې خلل واقع نۀ

شی) لیکن کۀ کله جدا کول ددے جملے مشکل وو نو پوره حدیث په خپل یو خاص وضع باندے بیانول بهتر دی او دَ کوم حدیث چه مونږه ته واپس دَ بیانولو حاجت نۀ وو یعنی په هغے کښے یو داسے خبره زیاته نۀ وی چه دهغے احتیاج وی) نو دا به مونږه دوباره نۀ ذکر کوو ان شآء الله په اول قسم کښے به اول هغه احادیث بیانه وو چه هغه دَ غیب نه پاك او صفا دی ددے وجے نه چه ددے روایت کوونکے هغه خلق دی چه هغه صاحبِ حق او اتقان دی (یعنی مضبوط او صفا دی په خپل روایت کښے نۀ ددوی په روایت کښے سخت اختلاف شته او نۀ خلط ملط دے ځکه چه کوم راوی دَنورو ثقه او صاحبِ اتقان والا سره زیات اختلاف وی یا په روایاتو کښے خلط ملط کوی نو هغه قابلِ اعتبار نۀ پاتے کیږی) لکه دَبعضے محدثینو کیفیت معلوم شو او ددوی په احادیثو کښے دا خبره ظاهره شوے ده بیا کله چه مونږه بیان کړو دَداسے راویانو حدیثونه (یعنی چه هغه موصوف دی په کمالِ حفظ او ضبط باندے)نو ددے ورستو به داسے احادیث ذکر کوو چه ددے په اسناد کښے به داسے خلق وی چه دَهغوی به دومره حفظ او اتقان نۀ وی لکه څنګه چه په اول راویانو کښے موجود وو او دا خلق اګر چه دَاول قسم راویانو نه په درجه کښے کم دی لیکن ددوی عیب پټ کړے شوے دے او په ریښتیا والی او دَ حدیث په روایت کښے دا خلق هم شامل دی (یعنی ددویمے درجے راویان هم ریښتنے او تیك دی او کوم څه چه په دوی کښے عیب وو هغه پټ کړے شوے دے اهلِ حدیثو دوی ته متهم نۀ دی وئیلے په کذب سره، او نۀ یے ددوی نه روایت ترك کړے دے) لکه عطاء بن السائب او یزید بن ابی زیاد او لیث بن ابی سُلیم۔

فائده : دا درے واړه راویان ددویمے درجے دی چه په حفظ او اتقان کښے دَ اعلیٰ درجے نۀ دی لیکن ددوی په سچائی کښے شبه نشته دَ عطاء بن السائب کنیه ابو السائب ده یا ابو یزید یا ابو محمد او یا ابو زید دا ثقه دی مګر په آخر عمرکښے ددوی په حافظه کښے فطور راغلے وو او کومو خلقو چه ددوی نه دَاختلاط نه مخکښے اوریدلے دی نو دَهغوی روایت صحیح دے او چه کومو ورستو ترے اوریدلے دے نو البته ددوی حدیث مضطرب دے سفیانِ ثوری او شعبه ددوی نه روایت کړے دے دَ اختلاط نه مخکښ او جریر او خالد بن عبد الله او اسماعیل او علی بن عاصم ددوی نه روایت کړے دے دَفطور نه بعد۔ او هم داسے وئیلے دی امام احمد بن حنبلؒ او یحییٰ بن معین

فرمائی چه دَعطاء نه تولو دَ اختلاط نه بعد روایت کړے دے مګر شعبه او سفیان او ابو عوانه دَ عطاء نه دَصحت او دَ اختلاط په دواړو حالاتو کښے ئے ترے نه روایت کړے دے نو ددوی دَ روایت هم اعتبار نشته یزید بن ابی زیاد یا یزید بن زیاد قرشی دمشقی حفاظو دَ حدیث دهٔ ته ضعیف وئیلے دی لیث بن ابی سلیم ته جمهورو ضعیف وئیلے دے او وئیلے ئے دی چه دا مختلط شوے وو او ددوی روایات مضطرب دی لیکن ددوی حدیث لیکلے شی احمد بن حنبل فرمائی چه دا مضطرب الحدیث دے لیکن خلقو ددهٔ نه روایت کړے دے۔ دارقطنی او عدی فرمائیلے دی چه ددوی حدیث لیکلے شی او اکثر خلقو وئیلے دی چه ددوی روایت دَ لیکلو قابل نهٔ دے۔(نووی)

فَهُمْ وَاِنْ كَانُوْا بِمَا وَصَفْنَا مِنَ الْعِلْمِ وَالسِّتْرِ عِنْدَ اهلِ الْعِلم مَعْرُوفِيْنَ فَغَيْرُهُمْ مِنْ اَقْرَانِهِم مِمَّنْ عِنْدَ هُم مَا ذَكَرْنَا مِنَ الْاِتْقَانِ وَالْاِسْتِقَامَةِ فِىْ الرِّوَايَةِ يَفْضُلُوْنَهُم فِى الْحَالِ وَالْمَرْتَبَةِ لانَّ هذا عِنْدَ اهلِ الْعِلْم دَرَجَةٌ رَفِيْعَةٌ وَخَصْلَةٌ سَنِيَّةٌ :

ترجمه : او په مثل دَدے خلقو، دَحدیث روایت کوونکے او دَ خبر نقل کوونکے اګر چه دا خلق مشهور دی په علم کښے او مستور دی دَ اهلِ حدیثو په نزد باندے، لیکن ددوی هَم عصر نور خلق چه دَ هغوی سره اتقان او استقامت شته په روایت کښے دَدوی نه اوچت دی په حال او په مرتبه کښے، په دے واسطے سره چه دَ اهلِ علم په نزد باندے دا یوه بلنده درجه ده او یو عمده خصلت دے۔(یعنی ضبط او اتقان)

الا تَرٰى اَنَّكَ اِذَا وَازَنْتَ هٰؤُلَآءِ الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ سَمَّيْنَاهُم عَطَآءً وَيَزِيْدُ وَلَيْثُ بِمَنْصُوْرِ بْنِ الْمُعْتَمِرِ وَسُلَيْمَانَ الْاَعْمَشِ وَاِسْمٰعِيْلَ ابْنِ اَبِى خَالِدٍ فِي اِتْقَانِ الْحَدِيْثِ وَالْاِسْتِقَامَةِ فِيْهِ وَجدْتَهُمْ مُبَايِنِيْنَ لَهُم لا يُدَانُوْنَهُم لاَ شَكَّ عِنْدَ اهلِ الْعِلْمِ بِالْحَدِيْثِ فِي ذٰلِكَ لِلَّذِىْ اسْتَفَاضَ عِنْدَ هُمْ مِن صِحَّتِ حِفْظِ مَنْصُوْرٍ وَالْاَعْمَشِ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِتْقَانِهِمْ لِحَدِيْثِهِمْ وَاَنَّهُم لَمْ يَعْرِفُوا مِثْلَ ذٰلِكَ مِنْ عَطَاءٍ وَيَزِيْدَ وَلَيْثٍ:

ترجمه : آیا ته نهٔ ګورے کهٔ چرے تهٔ موازنه اوکړے دَ هغے کسانو دَچا چه مونږه اسمونه ذکر کړل دَ منصور بن معتمر او دَ سلیمانِ اعمش او دَ اسماعیل بن ابی خالد سره (یعنی چه یو په بل باندے اوتلے)

نو دَ حدیث په اتقان او استقامت کښے به دوی بلکل جدا مومے او هر ګز به دوی ته قریب نهٔ وی۔

په دے خبره کښې هيڅ شك نشته دَ اهلِ حديثو په نزد باندے څکه چه دوی ته ثابت شوے دے حفظ دَ منصور او اعمش او دَ اسماعيل او ددوی ضبط او اتقان په حديث کښې. چه دا نۀ دی ثابت په عطاء يزيد او ليث کښې.

فائده : يعنی عطاء يزيد او ليث دَ منصور او سليمان او دَ اسماعيل مخے ته هيڅ نۀ دی څکه چه دَ عطاء يزيد او دَ ليث مرتبه ډيره کمه ده لکه څنګه چه بره ددوی حال ذکر شو او منصور او اعمش او اسماعيل دادَ حديث دَ حافظانو او دَ ثقه خلقو نه دی۔ دوی انس بن مالك، سلمان بن اكوع، عبد الله بن ابی اوفیٰ، عمرو بن حريث، او قيس بن عابد او ابو جحيفه ليدلے دی او دا ټول صحابه دی او سليمان اعمش هم تابعي دے څکه چه دوی انس ليدلے دے او اعمش وئيلے شی ضعيف البصر تـه دوی ته دا څکه وئيلے شی چه ددوی په نظر کښې فطور وو او دادَ دوی لقب وو محدثينو په داسے قسم القابو کښې څه قباحت نۀ دے ليدلے څکه چه دا القاب دَ معرفت دپاره ذکر کوولے شی دَ ذلت او دَ قباحت دَ پاره نه۔ منصور بن معتمر اګر چه تابعي دے ليکن په حفظ او په اتقان کښې دَ ټولو نه زيات دے ددے وجے نه امام مسلم ددوی نوم مخکے ذکر کړو عبد الرحمان بن مهدی فرمائی چه منصور په ټوله کوفه کښې زيات ثقه دے۔

وَفِیْ مِثْلِ مَجْرَی هٰؤُلَآءِ إِذَا وَازَنْتَ بَيْنَ الْاَقْرَانِ كَابْنِ عَوْنٍ وَاَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ مَعَ عَوْفِ بْنِ اَبِی جَمِيْلَةَ وَاَشْعَثَ الْحُمْرَانِيِّ وهُمَا صَاحِبَا الْحَسَنِ وَابْنِ سِيْرِيْنَ كَمَا اَنَّ ابْنَ عَوْنٍ وَاَيُّوبَ صَاحِبَاهُمَا إِلَّا اَنَّ الْبَوْنَ بَيْنَهُمَا وَبَيْنَ هٰذَيْنِ بَعِيْدٌ فِی كَمَالِ الْفَضْلِ وَصِحَّةِ النَّقْلِ وإِنْ كَانَ عَوْفٌ وَاَشْعَثُ غَيْرَ مَدْفُوْعَيْنِ عَنْ صِدْقٍ وَاَمَانَةٍ عِنْدَ اَهْلِ الْعِلْمِ وَلٰكِنِ الْحَالُ مَا وَصَفْنَا مِنَ الْمَنْزِلَةِ عِنْدَ اَهْلِ الْعِلْمِ وإِنَّمَا مَثَّلْنَا هٰؤُلَآءِ فِی التَّسْمِيَةِ لِيَكُوْنَ تَمْثِيْلُهُمْ سِمَةً يَصْدُرُ عَنْ فَهْمِهَا مَنْ غَبِیَ عَلَيْهِ طَرِيْقُ اَهْلِ الْعِلْمِ فِی تَرْتِيْبِ اَهْلِهِ فِيْهِ فَلَا يُقَصَّرُ بِالرَّجُلِ الْعَالِی الْقَدْرِ عَنْ دَرَجَتِهِ وَلَا يُرْفَعُ مُتَّضِعُ الْقَدْرِ فِی الْعِلْمِ فَوْقَ مَنْزِلَتِهِ وَيُعْطِی كُلَّ ذِی حَقٍّ فِيْهِ حَقَّهُ وَيُنْزَلُ مَنْزِلَتَهُ وَقَدْ ذُكِرَ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَتْ اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ نُنْزِلَ النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ مَعَ مَانَطَقَ بِهِ الْقُرْآنُ مِنْ قَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ " وَفَوْقَ كُلِّ ذِیْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ"

ترجمه : او هم داسے کيفيت دے کله چه موازنه اوکړے (يعنی چه ته اوتلے يو دبل سره) هم عصرو لره لکه ابن عون او ايوب سختياني، عوف بن ابی جميله او اشعث حمرانی، دادواړه

مصاحب وو او ابن سیرین او حسن بصری (چه دا دَ مشهور تابعینونه دی) لکه ابن عون او ایوب ددوی مصاحب وو او په دواړو کښې ډیر فرق دے (یعنی دَابن عون او دَ ایوب درجه بلنده ده) په کمالِ فضل او په صحت دَ روایت کښې اګر چه عوف او اشعث هم رښتنې او امانت دار دی (امام احمد صاحب فرمائی عوف ثقه دے او صالح الحدیث دے او یحیٰی بن معین هم فرمائیلی دی چه دا ثقه دی. او داسې اشعث حمرانی ته دارقطنی وئیلی دی چه دا ثقه دے دَ اهلِ علم په نزد باندے) مګر اصل حال هم هغه دے دَاهلِ علم په نزد باندے چه کوم مونږه بیان کړو او مونږه دَمثال په طور باندے ذکر کړل په نوم ذکر کولو سره دپاره ددے چه مثال یوه نښانی وی او فراغت اومومی ددے په پیژندلو سره هغه خوك چه په هغه باندے لارے دَعلم پټے کړے شوے دی او دے دپاره چه کم نهٔ کړی په علم کښې دَ بلندے درجے والا او دَخپلے درجے نه زیات نهٔ کړی کمے درجے والا. چه هر یو ته په خپله درجه کښې خپل حق ورکړی او دَحضرت عائشےؓ نه منقول دی چه رسول الله ﷺ به مونږه ته حکم کوولو دَ هر یو سړی په خپله مرتبه کښې دَ ایښودو او دَقرآن نه هم دا ثابت دی چه الله تعالی فرمائی چه دَ هر ذی علم دَ پاسه عالم وی" (نو حدیث او قرآن دواړونه دَ اهلِ علم تفاوت په درجاتو کښې ثابت شو)

فائده : امام مسلمؒ دے حدیث لره معلقا یعنی بغیر دَ سند نه ئے ذکر کړو او معلق احادیث په مسلم شریف کښې ډیر کم دی یو دهغے نه دا حدیث هم دے چه ددے په صحت کښې دَ علماؤ اختلاف دے. حاکم ابو عبد الله حافظ په خپل کتاب معرفهٔ علوم الحدیث کښې ئے ددے صحت بیان کړے دے او ابو داؤد په خپل سنن کښې دے لره روایت کړے دے دَ میمون بن ابی شبیب نه او هغه دَ عائشے بی بی نه لیکن میمون دَ عائشے نه نهٔ دے اوریدلے نو دا حدیث منقطع شو او حالانکه مسلم خو دا شرط بیان کړے دے چه حدیث به متصل او مسند وی. ددے جواب ئے دا کړے دے چه میمون مغیره بن شعبه موندلے دے او مغیره دَ حضرت عائشےؓ نه مخکښې وفات شوے دے او شرط دَ مسلم دادے چه هم عصر به وی او ملاقات به ممکن وی نو روایت حدیث په ملاقات باندے دلیل دے. البته کهٔ میمون دا وائی چه څه دَ عائشےؓ سره نهٔ یم ملاؤ شوے نو اعتراض به درست وے. سوا ددینه چه بزار په خپل مسند کښې ددهٔ روایت کړے دے او

فرمائیلے نے دی چه مرفوعا دا حدیث هم په دے طور باندے مروی دے لیکن موقوفاپه نورو طریقو باندے هم روایت کرے شوے دے۔ "والله اعلم"

فَعلٰى نَحْوِ مَا ذَكَرْنَا مِنَ الْوُجُوهِ نُؤَلِّفُ مَا سَأَلْتَ مِنَ الْاَخْبَارِ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَاَمَّا مَا كَانَ مِنْهَا عَنْ قَوْمٍ هُمْ عِنْدَ اَهْلِ الْحَدِيْثِ مُتَّهَمُونَ اَوْ عِنْدَ الْاَكْثَرِ مِنْهُم فَلَسْنَا نَتَشَاغَلُ بِتَخْرِيجِ حَدِيْثِهِم كَعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مِسْوَرٍ اَبِى جَعْفَرِ الْمَدَآئِنِيِّ وَعَمْرِو بْنِ خَالِدٍ وَعَبْدِ الْقُدُّوسِ الشَّامِي وَمُحَمَّدِ بْنِ سَعِيْدِ الْمَصْلُوبِ:

ترجمه: لکه څنګه چه بره مونږه بیان اوکړو هم په دغه طریقه باندے به احادیث دَ رسول الله ﷺ نه جمع کوو۔ اوس چه کوم احادیث دَداسے خلقو نه مروی دی چه په هغے باندے تمام اهلِ حدیثو دکذب نسبت کړے دے یا بعضے اهلِ حدیثو (ورته دا نسبت کړے دے) نو مونږه به داسے احادیث نهٔ روایت کوولکه عبد الله بن مسور ابو جعفر مدائنی او عمرو ب خالد او عبد القدوس شامی شو(چه روایت کوی دَعکرمه او دَ عطاء نه، عمر بن علی فرمائی چه اتفاق کړے دے اهلِ علمو ددوی دَ حدیث په ترک باندے)او محمد بن علی مصلوب شو۔

فائده : دمشقی چه ددوی کنیت ابو عبد الرحمان وو یا ابو عبد الله او یا ابو قیس چه ددهٔ په نسب او نوم کښے ډیر اختلاف دے حافظ عبد الغنی وائی چه دے خپل نوم په سلو قسمونو باندے بدلوی ابو خاتم وائی چه دے متروك الحدیث دے او قتل کړے شوے دے دَ بے دینئ دَوجے نه او دهٔ ته پانسی ورکړے شوے ده او ددوی حدیث موضوعی دے او خالد بن یزید فرمائی چه ما ددهٔ نه اوریدلی دی چه زهٔ کله یوه عمده خبره واورم نو دهغے په اسناد جوړولو کښے هیڅ قباحت نشته دے۔ احمد بن صالح وئیلے دی چه دوی څلور زره احادیث جوړ کړے دی۔

وَغِيَاثِ بْنِ اِبْرَاهِيْمَ وَسُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرٍو اَبِى دَاوُدَ النَّخَعِيِّ وَاَشْبَاهِهِمْ مِمَّنْ اتُّهِمَ بِوَضْعِ الْاَحَادِيْثِ وَتَوْلِيْدِ الْاَخْبَارِ وَكَذٰلِكَ مَنِ الْغَالِبُ عَلٰى حَدِيْثِهِ الْمُنْكَرُ اَوِ الْغَلَطُ اَمْسَكْنَا اَيْضًا عَنْ حَدِيْثِهِمْ وَعَلَامَةُ الْمُنْكَرِ فِى حَدِيْثِ الْمُحَدِّثِ اِذَا مَا عُرِضَتْ رِوَايَتُهُ لِلْحَدِيْثِ عَلٰى رِوَايَةِ غَيْرِهِ مِنْ اَهْلِ الْحِفْظِ وَالرِّضٰى خَالَفَتْ رِوَايَتُهُ رِوَايَتَهُمْ اَوْ لَمْ تَكَدْ تُوَافِقُهَا فَاِذَا كَانَ الْاَغْلَبُ مِنْ حَدِيْثِهِ كَذٰلِكَ كَانَ مَهْجُوْرَ الْحَدِيْثِ غَيْرَ مَقْبُوْلِهِ وَلَا مُسْتَعْمَلِهِ:

ترجمه : او غیاث بن ابراهیم او سلیمان بن عمرو او ابو داود نخعی او ددوی په مثل نور خلق چه

په دوی باندے دَ حدیث جوړولو او دَ خبر تراشلو (یعنی دَ خانه دَ جوړولو) نسبت کړے شوے دے (یعنی دا ټول وضاع، کذاب او متروك الحدیث دی نو دداسے خلقو روایات مونږه نهٔ دی ذکر کړے) او داسے مونږه دهغے خلقو روایت هم مونږه نهٔ دی لیکلے چه دهغوی اکثر احادیث منکر (یعنی دَ ثقه نه مخالف) او یا غلط دی او دَ منکر علامت په حدیث دَ محدث دَ کښے داده چه کله ددوی دَروایت مقابله اوکړے شی دَ نورو راویانو دَ روایت سره چه هغه ښهٔ او حافظے والا وی نو ددهٔ روایت دَهغوی دَ روایت نه مخالف وی او یا څهٔ موافق او اکثر مخالف وی کله چه دَ یو راوی اکثر روایات دغه شان وی نو دے مهجور الحدیث دے یعنی ددهٔ روایت به مقبول او مستعمل نهٔ وی۔

فائده: نو دَ منکر معنی دا شوه چه کوم روایت دَ ثقه خلقو دَرایت نه مخالف وی دے ته منکر وئیلے شی او مردود ورته هم وئیلے شی او یو منکر دے ته هم وئیلے شی چه هغے لره صرف هم یو ثقه روایت کړے وی لیکن دا مردود نهٔ دے کله چه دغه ثقه، ضابط او متقن وی۔ (نووی رحمه الله)

فَمِنْ هٰذَا الضَّرْبِ مِنَ الْمُحَدِّثِيْنَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَرَّرٍ وَيَحْيٰى بِنِ اَبِىْ اُنَيْسَةَ وَالْجَرَّاحُ بْنُ الْمِنْهَالِ اَبُو الْعَطُوْفِ وَعُبَّادُ بْنُ كَثِيْرٍ وَحُسَيْنُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بِنِ ضُمَيْرَةَ وَعُمَرُبْنُ صُهْبَانَ وَمَنْ نَحَا نَحْوَهُمْ فِى رِوَايَتِ الْمُنْكَرِ مِنَ الْحَدِيْثِ:

ترجمه: ددے قسم راویانو نه عبد الله بن محرر او یحی بن ابی انیسه او جراح بن منهال ابو العطوف او عباد بن کثیر او حسین بن عبد الله بن ضمیره او عمر بن صهبان او ددوی په مثل نور خلق هم دی چه هغوی منکر احادیث نقل کوی۔

فائده: عبد الله بن محرر یا عبد الله بن محرَر مګر صحیح محرَر دے په صیغے دَ اسم مفعول سره دادَ اتباعو دَ تابعینو نه دے او روایت کوی دَ حسن او قتاده او دَ زهری او نافع وغیره تابعینو نه، ثوری او یو جماعت دَ محدثینو اتفاق کړے دے ددهٔ په ترك باندے۔ امام احمد بن حنبل فرمائی چه خلقو ددهٔ حدیث ترك کړے دے ابو انیسه چه دادَ یحی پلار دے ددهٔ نوم زید دے او ابو العطوف دَ جراح بن منهال نه روایت کوی امام بخاری وائی چه دا منکر الحدیث دے او عمر بن منهال مدنی دے او ددهٔ په ترك باندے اتفاق دے۔ (امام نوی رحمه الله)

فَلَسْنَا نُعَرِّجُ عَلٰى حَدِيْثِهِمْ وَلَا نَتَشَاغَلُ بِهٖ لِاَنَّ حُكْمَ اَهْلِ الْعِلْمِ وَالَّذِىْ يُعْرَفُ مِنْ مَذْهَبِهِمْ فِىْ قُبُوْلِ مَا يَتَفَرَّدُ بِهِ الْمُحَدِّثُ مِنَ الْحَدِيْثِ اَنْ يَّكُوْنَ قَدْ شَارَكَ الثِّقَاتِ مِنْ اَهْلِ الْعِلْمِ وَالْحِفْظِ فِىْ بَعْضِ مَارَوَوْا وَاَمْعَنَ فِىْ ذٰلِكَ عَلَى الْمُوَافَقَةِ لَهُمْ فَاِذَا وُجِدَ ذٰلِكَ ثُمَّ زَادَ بَعْدَ ذٰلِكَ شَيْئًا لَيْسَ عِنْدَ اَصْحَابِهٖ قُبِلَتْ زِيَادَتُهٗ فَاَمَّا مَنْ تَرَاهُ يَعْمِدُ لِمِثْلِ الزُّهْرِىِّ فِىْ جَلَالَتِهٖ وَكَثْرَةِ اَصْحَابِهِ الْحُفَّاظِ الْمُتْقِنِيْنَ لِحَدِيْثِهٖ وَحَدِيْثِ غَيْرِهٖ اَوْ لِمِثْلِ حَدِيْثِ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ وَحَدِيْثُهُمَا عِنْدَ اَهْلِ الْعِلْمِ مَبْسُوْطٌ مُشْتَرَكٌ قَدْ نَقَلَ اَصْحَابُهُمَا عَنْهُمَا حَدِيْثَهُمَا عَلَى الْاِتِّفَاقِ مِنْهُمْ فِىْ اَكْثَرِهٖ فَيَرْوِىْ عَنْهُمَا اَوْ عَنْ اَحَدِهِمَا الْعَدَدَ مِنَ الْحَدِيْثِ مِمَّا لَا يَعْرِفُهٗ اَحَدٌ مِّنْ اَصْحَابِهِمَا وَلَيْسَ مِمَّنْ قَدْ شَارَكَهُمْ فِى الصَّحِيْحِ مِمَّا عِنْدَهُمْ فَغَيْرُ جَائِزٍ قُبُوْلُ حَدِيْثِ هٰذَا الضَّرْبِ مِنَ النَّاسِ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ وَقَدْ شَرَحْنَا مِنْ مَذْهَبِ الْحَدِيْثِ وَاَهْلِهٖ بَعْضَ مَا يَتَوَجَّهُ بِهٖ مَنْ اَرَادَ سَبِيْلَ الْقَوْمِ وَوُفِّقَ لَهُمْ وَسَنَزِيْدُ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ شَرْحًا وَاِيْضَاحًا فِىْ مَوَاضِعَ مِنَ الْكِتَابِ عِنْدَ ذِكْرِ الْاَخْبَارِ الْمُعَلَّلَةِ اِذَا اَتَيْنَا عَلَيْهَا فِى الْاَمَاكِنِ الَّتِىْ يَلِيْقُ بِهِ الشَّرْحُ وَالْاِيْضَاحُ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰى :

ترجمه : نو مونږه به دَ هغے خلقو احادیث نهٔ راوړو او نهٔ به په هغے کښے مشغول کیږو ځکه چه اهلِ علمو کوم حکم کړے دے او کوم چه دَ هغوی مذهب ظاهر شوے دے هغه دادے چه کوم یو روایت هم یو محدث روایت کړے وی هغه به قبولے شی په دے شرط باندے چه شریك وی دَ نورو ثقه او حافظ خلقو سره دَ هغوی په بعضے روایتونو کښے یا بالکل موافق وی دَ هغوی سره، بیا کله چه دا حال شو ددهٔ او په بل یو روایت کښے څه عبارت زیات کړی چه هغهٔ ددهٔ دَنورو ملګرو په روایت کښے نهٔ وو نو دا به قبولے شی۔ لیکن کهٔ تهٔ څوك اوینی چه هغه دَ زهری په شان دَ بزرګ سړی نه دَ روایت کولو قصد کوی چه د هغه شاګردان ډیر دی او هغه حافظ دے او په مضبوطیه سره بیانه وی ددهٔ او دَنورو حدیثونو لره، یا دَ هشام بن عروه نه دَ روایت کولو قصد کوی او ددے دواړو یعنی دَ زهری او دَعروه حدیث په خلقو کښے خوارهٔ وارهٔ او مشترك دی او ددے دواړو دَ شاګردانو احادیث په اتفاق سره اکثر بیانه وی بیا دا سړے ددے دواړو نه څه داسے احادیث نقل کړی چه هغهٔ یو شاګرد ته دَ شاګردانو دَ دوی چاته معلوم نهٔ وی او دا سړے په نورو صحیح روایاتو کښے دَدوی شاګردانو سره شریك نهٔ وی نو دا قسم روایاتونه دداسے خلقو بالکل مقبول نهٔ دی (بلکه دا به منکر او مردود وی)۔ او مونږه بیان کړو مذهب دَ حدیث او دَ اهل حدیثو دومره قدر چه څومره

مقصود دے دَهغه کس چه هغه تلل غواړی د اهل حدیثو په لاره باندے نو مونږه به دے لره دَ شرح او وضاحت سره بیانوو ددے کتاب په څو مقاماتو کښے چه په کوم ځائے کښے هغه احادیث راځی چه په هغے کښے څو علتونه دی، په هغه مقاماتو کښے چه کوم ځائے کښے شرح کول او واضح بیان کول مناسب وی۔

وبعدُ يَرحَمُكَ اللّٰهُ فَلَوْ لَا الَّذِیْ رَاَیْنَا مِنْ سُوْءِ صنیعِ کَثِیْرٍ مِمَّنْ نصب نفسهٔ مُحدِّثًا فِیْما یَلْزَمُهُمْ مِنْ طَرْحِ الْاَحادِیْثِ الضَّعِیْفَةِ وَالرِّوَایَاتِ الْمُنْکَرَةِ وَتَرْکِهِمُ الْاِقْتِصارَ عَلَی الْاَخْبارِ الصَّحِیْحَةِ الْمَشْهُوْرَةِ مِمَّا نقلهُ الثِّقَاتُ الْمَعْرُوْفُوْنَ بالصِّدْقِ الْاَمَانَةِ بَعْدَ مَعْرِفَتِهِمْ وَاِقْرارِهِمْ بِاَلْسِنَتِهِمْ اَنَّ کَثِیْرًا مِمَّا یَقْذِفُوْن بِهِ اِلَی الْاَغْبِیَاءِ مِنَ النَّاسِ هُوَ مُسْتَنْکَرٌ وَمَنْقُوْلٌ عَنْ قَوْمٍ غَیْرَ مَرْضِیِّیْنَ مِمَّنْ ذَمَّ الرِّوَایَةَ عَنْهُمْ اَئِمَّةُ اَهْلِ الْحَدِیْثِ مِثْلُ مَالِکِ بْنِ اَنَسٍ وَشُعْبَةَ بْنِ الْحَجَّاجِ وَسُفْیَانَ بْنِ عُیَیْنَةَ وَیَحْیَ بْنِ سَعِیْدِ الْقَطَّانِ وَعَبْدِ الرَّحْمَانِ بْنِ مَهْدِیٍّ وَغَیْرِهِمْ مِنَ الْاَئِمَّةِ لَمَا سَهُلَ عَلَیْنَا الْاِنْتِصَابُ لِمَا سَاَلْتَ مِنَ التَّمِیْزِ وَالتَّحْصِیْلِ وَلٰکِنْ مِنْ اَجْلِ مَا اَعْلَمْنَاکَ مِنْ نَشْرِ الْقَوْمِ الْاَخْبارَ الْمُنْکَرَةَ بِالْاَسَانِیْدِ الضِّعَافِ الْمَجْهُوْلَةِ وَقَذْفِهِمْ بِهَا اِلَی الْعَوَامِ الَّذِیْنَ لَا یَعْرِفُوْنَ عُیُوْبَهَا خفَّ عَلٰی قُلُوْبِنَا اِجابَتُکَ اِلٰی مَا سَاَلْتَ:

ترجمه : او وروستو ددے تهولو خبرونو نه چه کومے مخکښے ذکر شوے الله دے په تا باندے رحم اوکړی که چرے مونږه نۀ لیدے هغه بدکار کوم چه هغه خپل ځان محدث جوړ کړے دے یعنی لازم دی داسے بنده لره چه داسے ضعیف حدیث او منکر روایتونه نۀ نقل کوی او صرف هغه حدیثونه روایت کړی چه هغه صحیح او مشهور دی چه هغے لره معتبرو خلقو چه دَهغوی سچائی او امانتداری مشهور دی نقل کړی دی او هغه پو هه دی او قرار کوی۔ چه ډیر داسے حدیث چه هغے لره عامو خلقو اوریدلے دی منکر دی او هغۀ خلقو نه روایت دی چه دَهغوی مذمت دَ حدیثو امامانو کړے دے۔

لکه مالك بن انس او شعبه بن حجاج او سفیان بن عیینه او یحیی بن سعید القطان او عبد الرحمان بن مهدی وغیره۔ (داتول دَحدیثو لوے امامان او پیشوا دی) البته مونږه ته دا تکلیف اوچتول ستا دَ خواهش مطابق کوم چه تا دَ صحیح احادیثو دَ جدا کولو دَپاره کړے وو گران وو (ولے چه هر کله تمامو خلقو دا عادت کولے چه صحیح احادیث ئے نقل کولے نو دَ عوامو دَ دهوکے

خورلو خطره به نهٔ وه او دَ صحیح احادیثو دَ جدا کولو بره به هم نهٔ پریوته۔ لیکن ددے وجے نه کومه چه مونږ بیان کړه چه خلق منکر احادیثو لره په ضعیف او مجهول سندونو سره بیانوی او عوامو ته ئے اوره وی چه په هغوی کښے دَ عیبونو دَپیژندو طاقت او لیاقت نهٔ وی۔ ستا دا خواهش قبلول په مونږه باندے آسان شو (ددے دَ پاره چه دَ کوم کلر ضرورت وی دَهغے کول آسان وی ۔)

باب وجوب الرواية عن الثقات وترک الكاذبين والتحذير من الكذب على رسول الله ﷺ

باب: همیشه د ثقه او د معتبرو خلقو نه روایت کول پکار دی او د کومو خلقو نه چه دروغ ثابت وی دهغو نه روایت کول نهٔ دی پکار:

وَاعْلَمْ وَفَّقَكَ اللّٰهُ اَنَّ الْوَاجِبَ عَلٰى كُلِّ اَحَدٍ عَرَفَ التَّمِيْزَ بَيْنَ صَحِيْحِ الرِّوَايَاتِ وَسَقِيْمِهَا وَثِقَاتِ النَّاقِلِيْنَ لَهَا مِنَ الْمُتَّهِمِيْنَ اَنْ لَا يَرْوِىَ مِنْهَا اِلَّا مَا عَرَفَ صِحَّةَ مَخَارِجِهٖ وَالسِّتَارَةَ فِى نَاقِلِيْهِ وَاَنْ يَّتَّقِىَ مِنْهَا مَاكَانَ مِنْهَا عَنْ اَهْلِ التُّهَمِ وَالْمُعَانِدِيْنَ مِنْ اَهْلِ الْبِدَعِ۔

ترجمه : تهٔ پو هه شه ! خدائے دے تا ته توفیق درکړی کوم سړے چه په صحیح او ضعیف حدیث کښے دَتمیز قدرت لری او معتبر او متهم یعنی چه چا باندے تهمت لګیدلے وی دَدروغو وغیره راویانو لره پیژنی نو په هغه باندے واجب دی چه روایت نهٔ کړی مګر هغه حدیث چه دَهغے دَاصل صحت وی او دَهغے نقل کونکی هغه خلق وی چه دَ هغوی عیب فاش شوے نهٔ وی او بچ وی دَهغه خلقو دَروایت نه چه په هغوی تهمت لګیدلے وی یا چه (عناد)یعنی حسد دشمنی ساتی دَ اهلِ بِدَعو نه(یعنی دَ بدعتیانو نه)

فائده: امام نوویونیلے دی چه علماو اتفاق کړے دے چه کوم بدعتی داسے وی چه دَهغه بدعت هغه لره کفر ته رسولے وی نو دَهغه روایت بالاتفاق مقبول نهٔ دے او دچا بدعت چه تر کفر پورے نهٔ وی رسیدلے دَهغه په روایت قبلولو کښے اختلاف دے لیکن صحیح قول دادے چه دهغه روایت مقبول دے خو په دے شرط سره چه دغه روایت به ددهٔ دَ بدعت په تائید کښے نهٔ وی او په صحیحینو وغیره کښے هم ډیر روایتونه دَهغه خلقو نه منقول دی چه هغه په بدعت کښے

گرفتار وو اصل دادے چه کوم بدعتی عناد ساتی یعنی تعضب. چه ددروغو روایت دَخپل تائید دپاره نقل کول جائز اوساتی۔ لکه په روافضو کښې یو ے فرقے خطابیه چه دَخپل قوم دَفائدے دَپاره دَدروغو روایت جائز گنړی دَهغه روایت به نهٔ قبلیږی او کوم بدعتی چه رښتونے وی او دَهغه عدالت په روایت کښې معلوم وی دَهغه حدیث به قبلیدے شی۔

وَالدَّلِيلُ عَلٰى اَنَّ الَّذِىْ مِنْ هٰذَا هُوَ اللَّازِمُ دُوْنَ مَا خَالَفَهٗ قَوْلُ اللّٰهِ تَعَالٰى ذِكْرُه " يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِنْ جَاءَ كُمْ فَاسِقٌ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ "

[۴۹: الحجرات : ۶]

ترجمه :څه چه مونږه اونیلے په دے باندے دلیل دادے چه الله جل شانه فرمائیلی دی۔ اے مؤمنانو کهٔ چرے تاسو لره یو فاسق خبر راوړی او راشی نو تاسو ددهٔ ددغے خبر تحقیق کوی داسے دے نهٔ وی چه اوغرځیږی یو قوم په جهالت کښې او سحر له بیا په خپلو کړو باندِ خپیمانه وی۔

فائده : یو سړے حضورﷺ دَیو قوم نه دزکوة دَاخستو دَپاره اولیږو هغه قوم ددهٔ دَاستقبال دَپاره مکے ته راووتو دَاسلام نه وړاندے په دغه قوم کښې او دَ لیږلے شوی سړی په قوم کښې دشمنی وه دے اویریدو چه دا خلق زما دَ وژلو دَپاره بهر راووتل نو دے واپس راوتختیدو او په مدینه کښې نے مشهوره کړه چه فلانے قوم مرتد شو حضورﷺ په هغے باندے فوج لیږی ددے نه معلومه شوه چه گواهی دَفاسق مقبوله نهٔ ده۔

وَقَالَ جَلَّ ثَنَاءُهٗ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ [۲: البقرة : ۲۸۲] وَقَالَ عَزَّوَجَلَّ وَاَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ [۶۵ : الطلاق : ۲] فَدَلَّ بِمَا ذَكَرْنَا مِنْ هٰذِهِ الْاٰىِ اَنَّ خَبَرَ الْفَاسِقِ سَاقِطٌ غَيْرُ مَقْبُوْلٍ وَاَنَّ شَهَادَةَ غَيْرِ الْعَدْلِ مَرْدُوْدَةٌ وَالْخَبَرُ وَاِنْ فَارَقَ مَعْنَاهُ مَعْنَى الشَّهَادَةِ فِى بَعْضِ الْوُجُوْهِ فَقَدْ يَجْتَمِعَانِ فِى اَعْظَمِ مَعَانِيْهِمَا اِذَا كَانَ خَبَرُ الْفَاسِقِ غَيْرَ مَقْبُوْلٍ عِنْدَ اَهْلِ الْعِلْمِ كَمَا اَنَّ شَهَادَتَهٗ مَرْدُوْدَةٌ عِنْدَ جَمِيْعِهِمْ :

ترجمه : دویمه دا چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه گواه کړی دوو سړو لره او یا یو سړے او دوو ښځو لره څوك چه تاسو ته غوره وی (یعنی دَ گواهی دَپاره چه کوم رښتونے او نیك معلومیږی)او الله تعالیٰ فرمائی چه گواه کوی دوو سړو لره چه عادلان وی۔ نو ددے آیتونو نه معلومه شوه چه دَفاسق خبره بے اعتباره ده او دَ قبلولو لائقه نهٔ ده او کوم سړے چه عادل نهٔ وی دَهغه گواهی

مـردوده ده۔ او دَ حـدیـث په بیانولو او ګواهی کولو کښې اګر چه څه فرق دے مګر دواړه شریك دی په یو لوے مطلب کښے۔ هر کله چه حدیث دَفاسق مقبول نهٔ دے دَعلماؤ په نزد باندے نو دغه شان ګواهی هم دَفاسق دَټولو په نزد باندے مردوده ده۔

فائده : دا جـواب دے دیـو اعـتـراض چـه کـوم آیتونه مخکښے بیان شول ددے نه دا خبره مـعـلـومـیـږی چـه دَفـاسـق خبره مقبوله نهٔ ده په حدیث باندے ددهٔ مردود کیدل نهٔ ثابتیږی جواب دادے چـه حـدیث او ګواهی دواړه په حقیقت کښے یو دی اګر چه په بعضے خبرو کښے څه فرق دے او هـغـه فـرق دادے چـه پـه ګـواهی کښے آزادی او مردیت او عدد یعنی دوه ګواهان شرط دی او په حدیث کښے دا شرط نشته نو مقبول دے حدیث دَغلام او دَ ښځے او دَ یو سړی په دے دواړو کښے دا ضـروری ده چـه په اسلام کښے به وی، عقل به ئے وی، او بالغ به وی عادل وی او مروت او ضـبـط به ئے وی او حـافـظ بـه وی دَتـحـمـل او دَ ادائی وخت به ئے وی (تحمل هغه وخت چه هر کله حدیث واوری یـا وینی او دا هغه وخت چه هر کله هغے لره بیان کړی دَچانه په دے شان په ګواهی کښے یو دَتـحـمـل وخـت دے یـعـنـی هـر کله چه واقعه واوری یا وینی او یو دَادا وخت دے یعنی هر کله چه دَقـاضـی مـخـکښے ګواهی ورکړی) دَروند په ګواهی کښے اختلاف دے۔ دَامام شافعی په نزد او دَ یـو جـمـاعـت دَ علماؤ په نزد باندے جائز نهٔ ده او دَ امام مالك او دَ یو جماعت په نزد باندے جائز ده او حـدیـث ددهٔ پـه اتـفـاق سره مقبول دے په دے شان دَبلوغ شرط دَحدیثو دَادا په وخت دے نهٔ دَ تحمل وخت۔ نـو دَ بـلـوغ نـه وړانـدے چـه راوی کـوم واوری او دَ بلوغ په وخت ئے بیان کړی نو ددهٔ روایت مقبول دے او دا دَاکثرو علماؤ قول دے مګر دَبعضو دا قول دے چه دَتحمل وخت هم بلوغ ضروری دے او دَبـعـضـو دا قـول دے چـه بـلـوغ دَ تـحمل په وخت کښے شرط دے نهٔ دَادا په وخت او دا دواړه مذهبونه شاذ او دَ جمهورو علماؤ خلاف دی۔ (نوویؒ)

وَدَلَّتِ السُّنَّةُ عَلٰى نَفْيِ رِوَايَةِ الْمُنْكَرِ مِنَ الْاَخْبَارِ كَنَحْوِ دَلَالَةِ الْقُرْآنِ عَلٰى نَفْيِ خَبَرِ الْفَاسِقِ وَهُوَ الْاَثَرُ الْمَشْهُوْرُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مَنْ حَدَّثَ عَنِّيْ بِحَدِيْثٍ يُرٰى اَنَّهُ كَذِبٌ فَهُوَ اَحَدُ الْكَاذِبِيْنَ: **ترجمه** : په دے شان سره دَحـدیـث نـه هـم دا خبره ثابتیږی چه دَمنکر حدیث بیانول (چه دَهغے دَ غلط کیدو احتمال او یره وی) درست نهٔ دی لکه څنګه چه دَقرآن نه معلومیږی او هغه حدیث دغه دے کوم

چه دَ رسول الله ﷺ نه په شهرت منقول دے چه حضور ﷺ فرمائیلی دی چه چا زما نه حدیث نقل کړو او دَ هغه دا خیال وو چه دا دروغ دے نو هغه په خپله دروغ جن دے.

فائده: یعنی اګر چه دۀ دروغ جوړ نۀ کړل بیا هر کله چه دۀ ته خیال دے چه ددے حدیث دَصحیح والی یقین نۀ شی کیدے نو ددے دَ بیانولو څه ضرورت دے کۀ په دۀ باندے ئے هم بیان اوکړو او ددے عیب ئے ظاهر نۀ کړو نو په دروغجنو کښے دے هم شریك شو. یعنی په دۀ باندے به هم دومره وبال وی څومره چه په دروغه دَ حدیث جوړونکی باندے وی. امام مسلم دے حدیث ته مشهور وئیلے دی ولے چه دا حدیث په مختلفو الفاظو کښے دَ متعدد صحابه کرامو نه منقول دے، بزار په خپل مسند کښے بیان کړے دے چه دَ څلویښت صحابه کرامو نه هغه دا حدیث نقل کړے دے او ابو بکر صیرفی لیکلی دی چه هغه دَ شپیتو صحابه کرامو نه نقل دے او ابن منده وئیلے دی چه دا حدیث دَ اووه اتیا صحابه کرامو نه نقل دے او بعضو وئیلے دی چه دَ دوه شپیتو صحابه کرامو نه روایت دے چه په هغے کښے عشره مبشره هم دی او یو حدیث ماسوا ددے حدیث نه داسے نشته چه هغه تمامو عشره مبشره روایت کړے وی او یا دَ شپیتو نه زیاتو صحابه کرامو روایت کړے وی او بعضو دے حدیث ته متواتر وئیلے دے او بعضو وئیلے دی چه دا حدیث دَ دوه سوه صحابو نه منقول دے او بخاری او مسلم دواړو نقل کړے دے دے حدیث لره.

(۱) عَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ وَسَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ذَالِکَ: [ترمذی : ۲۶۶۲؛ ابن ماجه : ۴۱]

ترجمه: امام مسلم دَخپل اسناد نه روایت کړے دے دَ سمره بن جندب او دَ مغیره بن شعبه نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی (یعنی هغه حدیث کوم چه مخکښ تیر شو چه کوم سړے زمانه حدیث نقل کړی او هغه پوهیږی چه دا دروغ دے نو هغه په خپله دروغ جن دے)

ددے حدیث نه څو خبرے معلومیږی یوه دا چه په حضور ﷺ باندے دروغ وئیل حرام او ګناهِ کبیره ده لکه څنګه چه په ورانده روایتونو کښے دی چه څوك داسے کوی هغه خپله ټهکانه په جهنم کښے جوړوی نو ددے نه معلومه شوه چه هغه به ضرور جهنم ته داخلیږی بیا کۀ چرے مؤمن دے نو دَ جهنم نه به راووځی ځکه چه دَ صاحبِ سنتو اتفاق دے چه مؤحد به

همیشه په جهنم کښې نۀ پاتے کیږی اګر چه هر څو مره ګنهګار وی دویمه دا چه دَ کوم حدیث دَ دروغ کیدو احتمال وی هغې لره نقل کول هم درست نۀ دی البته چه هر کله د هغې سره دا خبره اووائی او یا ئے اولیکی چه دا حدیث منکر دے یا ضعیف دے یا په دے کښې دا علت دے خو درست دے دَ محدثینو په نزد بانـدے۔ ددے دپاره چه محدثینو په خپلو کتابونو کښې دَتمام قسم حدیثونو لره بیان کړے دی تر دے پورے چه موضوعاتو لره هم۔ دریمه دا چه چه کوم دَ نقل کونکی په خیال کښې غلطی وی یعنی هغه دَدروغو حدیث لره چه صحیح اوګنړی او بیان ئے کړی نو په هغه باندے ګناه نشته دے لکه څنګه چه حاکم او ابن ماجه بعضِ غلطو احادیثو لره په صحیح خیال باندے نقل کړے دی څلورمه دا چه هر قسم احادیث خواه احکام وی خواه فضائل وی یا په اخلاقو کښې په ټولو کښې دغه حکم دے او دکرامیه په نزد باندے په فضائلو او اخلاقو کښې حدیث جوړول درست دی او دا دَهغوی انتهائی جهالت دے (نووی مع زیادت)

باب تغليظ الكذب على رسول الله ﷺ:

باب: په رسول لله ﷺ باندے دروغ وئیل څومره لویے ګناه ده:

(۲) عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ أَنَّهُ سَمِعَ عَلِيًّا يَخْطُبُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَا تَكْذِبُوا عَلَيَّ فَإِنَّهُ مَنْ يَكْذِبْ عَلَيَّ يَلِجِ النَّارَ: [بخاری : ۱۰۶ ؛ ترمذی : ۲۶۶۰؛ ابن ماجه : ۳۱]

ترجمه : دَحضرت ربعی بن حراش نه روایت دے هغه اوریدلے دی دَحضرت علیؓ نه چه هغه خطبه لوستله او وئیل ئے چه فرمائیلے دی حضور ﷺ دروغ مۀ جوړوی په ما باندے ځوك چه په ما باندے دروغ وائی هغه به جهنم ته ځی۔

فائده : یعنی دَ جهنم دَتلو لائق شو اوس کۀ چرے خدائے ئے معاف کړی نو دَ جهنم نه به خلاص شی لکه ټول په کبیره ګناهونو کښې دۓ بعضو وئیلے دی چه دا بد دعا ده چه دَ دروغو حدیث جوړونکے دے الله په جهنم کښې داخل کړی۔

(۳) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ إِنَّهُ لَيَمْنَعُنِيْ أَنْ أُحَدِّثَكُمْ حَدِيْثًا كَثِيْرًا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ مَنْ تَعَمَّدَ عَلَيَّ كَذِبًا فَلْيَتَبَوَّءْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ :

ترجمه : دَانس بن مالكؓ نه روایت دے هغه فرمائی چه ما دَډیرو احادیثو بیانولو نه دا خبره منع

کوی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه کوم سړی ما باندی قصدا دروغ وائی هغه خپله ټهکانه په جهنم کښې جوړوي۔

(۴): عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ کَذَبَ عَلَیَّ مُتَعَمِّدًا فَلْیَتَبَوَّءْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ:[بخاری :۱۱۰؛ ۶۱۹۷]

ترجمه: دَابو هریرهؓ نه روایت دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړی چه ما باندی قصدا دروغ اووائی هغه ځان له دَاوسیدو ځائے په جهنم کښې جوړوي۔

(۵)عَنْ عَلِیِّ بْنِ اَبِیْ رَبِیْعَةَ الْوَالِبِیِّ قَالَ اَتَیْتُ الْمَسْجِدَ وَالْمُغِیْرَةُ اَمِیْرُ الْکُوْفَةِ قَالَ فَقَالَ الْمُغِیْرَةُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ اِنَّ کَذِبًا عَلَیَّ لَیْسَ کَکَذِبٍ عَلٰی اَحَدٍ فَمَنْ کَذَبَ عَلَیَّ مُتَعَمِّدًا فَلْیَتَبَوَّءْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ۔ [بخاری : ۱۲۹۱ ؛ ترمذی : ۱۰۰۰ ؛ وانظر فی مسلم ؛ ۲۱۵۷، ۲۱۵۸، ۲۱۵۹]

ترجمه : دَعلی ابن ربیعهؓ والبی نه روایت دی هغه فرمائی چه زهٔ جمات ته راغلم او په دغه وخت کښې مغیره بن شعبهؓ دکوفه امیر وو نو مغیره اوفرمائیل چه ما دَرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیل ئې چه په ماباندی دروغ ونیل داسی نهٔ دی لکه په چا بل چا باندی دروغ ونیل (ځکه چه په بل چا باندی په دروغ تړلو سره دَدروغ ویونکی نقصان نهٔ کیږی یا چه چا پورے دروغ اونیلی شی دَهغه هم او یا دَدوو دریو سړو دروغو ونیلو سهی، لیکن په حضور ﷺ باندی په دروغو ونیلو سره به یو عالم گمراه شی او دنیا ته به ضرر اورسی) بیا چه څوك ما باندی دروغ وائی هغه خپله ټهکانه په جهنم کښې جوړوي۔

(۶) عَنِ الْمُغِیْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ بِمِثْلِهٖ وَلَمْ یَذْکُرْ : (اِنَّ کَذِبًا عَلَیَّ لَیْسَ کَکَذِبٍ عَلٰی اَحَدٍ) [راجع: ۵]

ترجمه : مغیره بن شعبهؓ دَنبی کریم ﷺ نه بیان کوی بغیر ددی الفاظو نه (چه په ما باندی دروغ تړل په تاسو کښې په یو عام کس پورے دَ دروغو تړلو په شان نهٔ دی)

باب النهی عن الحدیث بکل ما سمع:

باب : دهر چا اوریدلی خبره (بغیر د تحقیق نه) ونیل منع دی۔

(۷) عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ کَفٰی بِالْمَرْءِ کَذِبًا اَنْ یُّحَدِّثَ بِکُلِّ مَا سَمِعَ :

[ابو داود: ۴۹۹۲]

ترجمه : دَحضرت حفص بن عاصم نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه دَسړی دَدروغجن کیدو دَپاره دا خبره کافی ده چه واوری او بیان کړی۔

فائده : بغیر د تحقیق او تنقیح نه ددے دپاره چه دروغ وائی په خلاف دَ واقعے بیانولو کښے بیا کۀ چرے په قصدسره داسے کار کوی نو گنهگار به وی گنی گنهگار به نۀ وی۔ ددے حدیث نه معلومه شوه چه دا عادت چه څه واوری او هغه بیانوی بد دے بلکه تحقیق کول ضروری دی چه دا خبره ریښتونے ده او کۀ دروغ۔ هر کله چه ئے دریښتونے کیدو یقین وی نو دغه وخت کۀ ئے دَخلے نه اوباسی نو بده نۀ ده۔

(۸) عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ بِمِثْلِ ذَالِکَ [راجع ۷]

ترجمه : حفص ابن عاصم دَابو هریرهؓ نه نقل کوی او هغه دَنبی کریم ﷺ نه په مثل ددغه حدیث۔

(۹) عَنْ اَبِیْ عُثْمَانَ النَّهْدِیِّ قَالَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِؓ بِحَسْبِ الْمَرْءِ مِن الْکَذِبِ اَنْ یُحَدِّثَ بِکُلِّ مَا سَمِعَ:

ترجمه : دَابو عثمان نهدی نه روایت دے چه حضرت عمرؓ فرمائیلے دی چه پوره دی سړی لره دومره دروغ چه بیان کړی هغه خبره چه ئے واوری۔

(۱۰) عَنْ اِبْنِ وَهْبٍ قَالَ قَالَ لِیْ مَلِکٌ: اِعْلَمْ اَنَّهٗ لَیْسَ یَسْلَمُ رَجُلٌ حَدَّثَ بِکُلِّ مَا سَمِعَ وَلَا یَکُوْنُ اِمَامًا اَبَدًا وَهُوَ یُحَدِّثُ بِکُلِّ مَا سَمِعَ:

ترجمه : دَابن وهبؓ نه روایت دے چه امام مالکؒ ماته اوئیلے چه اوپیژنه دے خبرے لره چه کوم سړے اوائی هغے خبرے لره چه دے ئے واوری هغه نۀ شی بچ کیدے دَ(دروغو نه)او چرته دغه سړے امام کیدے نۀ شی چه بیان کړی هرے یوے خبرے لره چه هغه دۀ اوریدلے وی۔

(۱۱) عَنْ عَبْدُ اللّٰهِ قَالَ بِحَسْبِ الْمَرْءِ مِنَ الْکَذِبِ اَنْ یُحَدِّثَ بِکُلِّ مَاسَمِعَ:

ترجمه : دَعبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے هغوی فرمائی چه پوره دی سړی لره دومره دروغ چه څه واوری او هغه اووائی۔

(۱۲) عَنْ عَبْدُ الرَّحْمَانِ بْنِ مَهْدِیِّ یَقُوْلُ لَا یَکُوْنُ الرَّجُلُ اِمَامًا یُقْتَدٰی بِهٖ حَتّٰی یُمْسِکَ عَنْ بَعْضِ

مَاسَمِعَ :

ترجمه :دَحضرت عبد الرحمان بن مهدی نه روایت دے (دادحدیثو لوے امام دے) هغوی فرمائی چه سړے چرته هم امام نهٔ شی جوړیدلے (یعنی ددے لائق چه ددهٔ خلق پیروی اوکړی) تر دے پورے چه هغه اونهٔ وائی بعضے خبرو لره چه هغې لره دهٔ اوریدلے وی) په دے خیال سره چه شائد دا خبرے غلطې وی نو زمانه به دروغ ثابت شی۔

(۱۳)عَنْ سُفْيَانَ بْنِ حُسَيْنٍ قَالَ سَأَلَنِيْ اَيَاسُ بْنُ مُعَاوِيَةَ فَقَالَ اِنِّيْ اَرَاكَ قَدْ كَلِفْتَ بِعِلْمِ الْقُرْآنِ فَاقْرَأْ عَلَيَّ سُوْرَةً وَفَسِّرْهَا حَتّٰى اَنْظُرَ فِيْمَا عَلِمْتَ قَالَ فَعَلْتُ فَقَالَ لِيْ اِحْفَظْ عَلَيَّ مَا اَقُوْلُ لَكَ اِيَّاكَ وَالشَّنَاعَةَ فِي الْحَدِيْثِ فَاِنَّهُ قَلَّمَا حَمَلَهَا اَحَدٌ اِلَّا ذَلَّ فِيْ نَفْسِهٖ وَكُذِّبَ فِيْ حَدِيْثِهٖ :

ترجمه :دَ سفیان بن حسینؒ نه روایت دے چه ماته ایاس بن معاویه اوفرمائیل زهٔ ګورم چه ته ډیر محنت کوے دَقرآن په حاصلولو کښے (یعنی په علم تفسیر کښے) تهٔ زما په مخکښے یو سورت اولوله او بیا ئے مطلب بیان کړه ددے دَپاره چه زهٔ ستا علم اوګورم ۔ سفیان وئیلے دی چه ما داسے اوکړل نو ایاس اوئیلے چه یاد ساته څه چه وایمه زهٔ تاته چه ځان ساته دَشناعت نه په حدیث کښے (دَشناعت معنیٰ ده سپکوالے یعنی داسے حدیث مهٔ نقل کوه چه خلق تاته بد وائی او دروغجن دے اوګنړی)ولے چه چا شناعت لره اختیار کړو هغه په خپله ذلیل شو او نورو ته هم دروغجن شو (یعنی دَهغه اعتبار ختم شو اوس ریښتونے خبره ددهٔ هم دروغجنه ګنړلے شی۔)

(۱۴)عَنْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ مَا اَنْتَ بِمُحَدِّثٍ قَوْمًا حَدِيْثًا لَا تَبْلُغُهُ عُقُوْلُهُمْ اِلَّا كَانَ لِبَعْضِهِمْ فِتْنَةً:

ترجمه : عبد الله بن مسعودؓ فرمائیلے دی چه هر کله تهٔ خلقو ته داسے حدیث بیان کړے چه دَهغوی په عقل کښے نهٔ راځی نو دَ بعضے خلقو دَپاره به په هغې کښے فتنه وی یعنی هغه به ګمراه کیږی ددے دپاره هر سړی ته دَهغه دَعقل مطابق خبره کول پکار دی.

باب النهی عن الروایة عن الضعفاء والاحتیاط فی تحملها:

بـاب: دضعیفو خلقو نه روایت کول منع دی او دروایت دتحمل په وخت احتیاط کول پکار دی:

فائده : په بعضو نسخو کښې دا خبره داسې ليکلې ده۔ باب فی الضعفاء والكذابين ومن يرغب عن حديثهم : يعنى باب دے په بيان دَ دروغجنو او كذابينو كښې او دَ هغه چا په بيان كښې چه دَ هغوى دَ حديث نه نفرت كولے شى۔

(۱۵)عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اَنَّهٗ قَالَ سَيَكُوْنُ فِىْ آخِرِ اُمَّتِىْ اُنَاسٌ يُحَدِّثُوْنَكُمْ بِمَا لَمْ تَسْمَعُوْا اَنْتُمْ وَلَا آبَائُكُمْ فَاِيَّاكُمْ وَاِيَّاهُمْ :

ترجمه : دَابو هريرةؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه زما په آخرى امت كښې به داسې خلق پيدا شى چه هغه به تاسو ته حديث بيانوى چه هغه به نهٔ تاسو اوريدلے وى او نهٔ ستاسو پلار او نيكۀ۔ تاسو هغوى نه ځان بچ اوساتى۔

فائده : يعنى دَهغوى په فريب كښې مهٔ راځى۔ او دَحديثو په څهٔ شان سره جانچ اخلى اوس په دے زمانه كښې هم ډير جاهلان فقيران او موليان دَخپلے خبرے دَ مضبوطولو دَپاره بغير دَ سند نه احاديث نقل كوى نو په هغے باندے اعتبار نهٔ دے پكار۔ تر څو چه هغه په صحيح كتابونو كښې ملاؤ نهٔ شى دَ الله په فضل وكرم سره اوس دَ صحاحِ سته ترجمه نزدے باتمام ده عامو خلقو ته هم دا كتابونه فائده وركولے شى۔

(۱۶)عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَؓ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَكُوْنُ فِىْ آخِرِ الزَّمَانِ دَجَّالُوْنَ كَذَّابُوْنَ يَاْتُوْنَكُمْ مِنَ الْاَحَادِيْثِ مَا لَمْ تَسْمَعُوْا اَنْتُمْ وَلَا آبَاءُكُمْ فَاِيَّاكُمْ وَاِيَّاهُمْ لَا يُضِلُّوْنَكُمْ وَلَا يُفْتِنُوْنَكُمْ :

ترجمه : دَابو هريرةؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل په آخره زمانه كښې به دجال(يعنى دَدروغو نه ربنتيا جوړولو والا) اوكذاب يعنى دروغ جوړونكے به پيدا شى هغه به داسې حديثونه تاسو ته اؤروى چه هغه به ستاسو پلار او نيكۀ نهٔ وى اوريدلے تاسو ځان بچ ساتى دَهغوى نه داسې نه چه هغه تاسو لره گمراه كړى او په آفت كښې مو اوغرځوى۔

(۱۷)عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبَدَةَ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ اِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَتَمَثَّلُ فِىْ صُوْرَةِ الرَّجُلِ فَيَاْتِى الْقَوْمَ فَيُحَدِّثُهُمْ بِالْحَدِيْثِ مِنَ الْكَذِبِ فَيَتَفَرَّقُوْنَ فَيَقُوْلُ الرَّجُلُ مِنْهُمْ سَمِعْتُ رَجُلاً اَعْرِفُ وَجْهَهٗ وَلَا اَدْرِىْ مَا اسْمُهٗ يُحَدِّثُ :

ترجمه : دَعامر بن عبده نه روایت دے چه عبد الله بن عمرؓ ونیلے دی چه شیطان د یو سړی په شکل کښے دَخلقو خواله راځی او بیا هغوی ته دَدروغو حدیث بیانوی هر کله چه هغه ددغه ځائے نه جدا کیږی نو په هغو کښے یو سړے وائی چه ما دیو سړی نه اوریدلے دی چه دَهغه شکل زهٔ پیژنم خو نوم ئے نهٔ راځی هغه داسے بیان کوی.

(۱۸)عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ ؓ قَالَ اِنَّ فِی الْبَحْرِ شَیَاطِیْنَ مَسْجُوْنَةً اَوْثَقَهَا سُلَیْمَانُ یُوْشِکُ اَنْ تَخْرُجَ فَتَقْرَءَ عَلَی النَّاسِ قُرْآنًا :

ترجمه :دَ عبد الله بن عمرو بن العاصؓ نه روایت دے چه هغوی فرمائی چه په سمندر کښے ډیر شیطانان دی چه هغه حضرت سلیمان قید کړے دی نزدے ده چه هغه راووځی او خلقو ته قرآن اوروی.

(۱۹)عَنْ طَاوٗسٍ قَالَ جَاءَ هٰذَا اِلٰی اِبْنِ عَبَّاسٍ یَعْنِیْ بُشَیْرَ بْنَ کَعْبٍ فَجَعَلَ یُحَدِّثُهٗ فَقَالَ لَهٗ اِبْنُ عَبَّاسٍ عُدْ لِحَدِیْثِ کَذَا وَکَذَا فَعَادَلَهٗ ثُمَّ حَدَّثَهٗ فَقَالَ لَهٗ عُدْ لِحَدِیْثِ کَذَا وَکَذَا فَعَادَلَهٗ فَقَالَهٗ مَا اَدْرِیْ اَعَرَفْتَ حَدِیْثِیْ کُلَّهٗ وَاَنْکَرْتَ هٰذَا اَمْ اَنْکَرْتَ حَدِیْثِیْ کُلَّهٗ وَعَرَفْتَ هٰذَا فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اِنَّا کُنَّا نُحَدِّثُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اِذْ لَمْ یُکْذَبْ عَلَیْهِ فَلَمَّا رَکِبَ النَّاسُ الصَّعْبَ وَالذَّلُوْلَ تَرَکْنَا الْحَدِیْثَ عَنْهُ:

ترجمه : دَطاؤسؒ نه روایت دے چه بشیر بن کعب دَ ابن عباسؓ خواله راغے او هغه ته ئے روایت بیانول شروع کړل ابن عباسؓ ورته اوفرمائیل چه فلانکے حدیث بیا بیان کړه نو هغه دوباره بیان کړو او وے فرمائیل چه ماته معلومه نهٔ ده چه تا ټول حدیثونه ځما اوپیژندل او دا دے منکر اوګنړو او یا دے تمام احادیث منکر اوګڼړل او دے حدیث لره دے اوپیژندو. ابن عباسؓ هغه ته اوفرمائیل چه مونږه به درسول الله ﷺ نه احادیث نقل کول په هغه وخت چه دروغ نهٔ شو ونیل کیدے په هغه باندے. بیا چه خلقو په ښو او په بدو لارو باندے تلل شروع کړل (یعنی ټول قسم حدیث صحیح او غلط نقل کول شروع شو) نو مونږه حدیث بیانول پریخودل.

(۲۰)عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِنَّا کُنَّا نَحْفَظُ الْحَدِیْثَ وَالْحَدِیْثُ یُحْفَظُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَاَمَّا اِذَا رَکِبْتُمْ کُلَّ صَعْبٍ وَذَلُوْلٍ فَهَیْهَاتَ: [ابن ماجه : ۲۷]

ترجمه : دَحضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه مونږه حدیث یاده ول کول او حدیث درسول الله ﷺ یاده ول پکار دی لیکن هر کله چه تاسو په بده او په هر قسم لاره تلل شروع کړل نو اوس اعتبار ختم شو او لرے شو۔

(۲۱) عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ جَاءَ بُشَيْرُ بْنُ كَعْبٍ الْعَدَوِيّ اِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَجَعَلَ يُحَدِّثُ وَيَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَالَ فَجَعَلَ اِبْنُ عَبَّاسٍ لَا يَاذَنُ لِحَدِيْثِهِ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِ فَقَالَ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ مَالِيْ لَا اَرَاكَ تَسْمَعُ لِحَدِيْثِيْ اُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَلَا تَسْمَعُ فَقَالَ اِبْنُ عَبَّاسٍ اِنَّا كُنَّا مَرَّةً اِذَا سَمِعْنَا رَجُلاً يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ابْتَدَرَتْهُ اَبْصَارُنَا وَاَصْغَيْنَا اِلَيْهِ بِاٰذَانِنَا فَلَمَّا رَكِبَ النَّاسُ الصَّعْبَةَ وَالذَّلُوْلَ لَمْ نَاْخُذْ مِنَ النَّاسِ اِلَّا مَا نَعْرِفُ :

ترجمه : دَمجاهد نه روایت دے چه بشیر بن کعب عدوی دَحضرت ابن عباسؓ خواله راغے او حدیث بیانول ئے ورته شروع کړل او اوئے فرمائیل چه رسول الله ﷺ داسے فرمائیلی دی حضرت ابن عباسؓ ورته غوږ نۀ کیښودو او نۀ ئے ورته اوکتل بشیر اووئیلے اے ابن عباسؓ تالره څه شوے دی چه څما خبره نۀ اورے زۀ حدیث دَرسول الله ﷺ بیانووم او تۀ ئے نۀ اورے۔

ابن عباسؓ ورته اوفرمائیل یو هغه وخت وو چه مونږه به دَچا سړی نه واوریدل چه رسول الله ﷺ داسے فرمائیلی دی نو دغه وخت به مونږه هغه ته اوکتل او غوږ به مو ورته کیښودو بیا چه هر کله خلقو په ښۀ او بده لاره باندے تلل شروع کړل (یعنی غلط روایتونه شروع شول) نو مونږه خلقو اوریدل پریخودل مګر کوم حدیث چه مونږه پیژنو او مونږه ته صحیح معلومیږی نو هغه اورو۔

(۲۲) عَنْ اِبْنِ اَبِيْ مُلَيْكَةَ قَالَ كَتَبْتُ اِلَى اِبْنِ عَبَّاسٍ اَسْاَلُهُ اَنْ يَكْتُبَ لِيْ كِتَابًا وَيُخْفِيْ عَنِّيْ فَقَالَ وَلَدٌ نَاصِحٌ اَنَا اَخْتَارُ لَهُ الْاُمُوْرَ اِخْتِيَارًا وَاُخْفِيْ عَنْهُ قَالَ فَدَعَا بِقَضَاءِ عَلِيٍّ فَجَعَلَ يَكْتُبُ مِنْ اَشْيَاءَ وَيَمُرُّ بِهِ الشَّيْءُ فَيَقُوْلُ وَاللّٰهِ مَا قَضٰى بِهٰذَا عَلِيٌّ اِلَّا اَنْ يَكُوْنَ ضَلَّ :

ترجمه : دَابن ابی ملیکه نه روایت دے چه ما ابن عباسؓ ته اولیکل چه زما دَپاره یو کتاب اولیکه او پټے مے کړے (هغه خبرو لره چه هغه کښے کلام دے ددے دپاره چه جګړه اونۀ شی) ابن

عباسؓ اووے هلکه (بنځه) نصیحت کوے (یعنی ابن ابی ملیکه ته یے اوییلے چه زۀ به ددۀ دپاره وانړووم خبرو لره او پټے به کړم کومے چه دَ پټولو خبرے دی ۔ بیا هغوی : حضرت علیؓ فیصلو لره رااوغوښتے ۔ دَهغے نه یے څه خبرے اولیکلے او بعضے فیصلے چه به یے لیدلے نو فرمائیل به یے قسم په الله چه علیؓ داسے فیصله نۀ ده کړے او کۀ چرے کړے یے وی نو : هغه به هیره شوے وی یعنی غلطی شوے ده ۔

فائده: هر کله چه حضرت علیؓ دَخلفائے راشدینو نه دے او د رسول الله ﷺ عزیز او ملګرے او دَ علم دریاب وو دَهغه په فیصلو کښے غلطی وه نو دَعالمانو او مولیانو تول حکم څنګه صحیح کیدے شی بعضو وئیلے دی چه دَابن عباسؓ مطلب دادے چه روایت غلط دے او حضرت علیؓ ګمراه نۀ وو نو هغه به دا فیصله ولے کړے وی۔

(۲۳) عَنْ طَاؤسٍ قَالَ اُتِیَ اِبْنُ عَبَّاسٍ بِکِتَابٍ فِیْهِ قَضَآءُ عَلِیٍّؓ قَالَ رَجُلٌ مِنْ اَصْحابِ عَلِیِّ قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ اَیَّ عِلْمٍ اَفْسَدُوا:

ترجمه : دَ طاؤس نه روایت دے چه حضرت ابن عباسؓ ته دَ حضرت علیؓ : فیصلو کتاب راوړلے شو هغوی تولو لره وران کړل مګر دَ یو لاس برابرئے پریخودل (چه کومه فیصله صحیح وه څکه چه هغوی ته معلومه وه چه ددے فیصلو روایت صحیح نۀ دے)

(۲۴) عَنْ اَبِی اِسْحَاقَ قَالَ لَمَّا اَحْدَثُوا تِلْکَ الْاَشْیَاءَ بَعْدَ عَلِیٍّؓ قَالَ رَجُلٌ مِنْ اَصْحابِ عَلِیِّ قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ اَیَّ عِلْمٍ اَفْسَدُوْا :

ترجمه : ابو اسحاقؓ فرمائی چه هر کله خلقو هغو خبرو لره دَحضرت علیؓ نه ورستو را اویستے (یعنی دروغجنو خلقو دروغ اَیتونه ئے دَهغه نه شائع کړل)نو دَحضرت علیؓ یو دوست اوئیلے چه الله دے هغوی لره تباه کړی یا دَ په هغوی لعنت وی څنګه ئے علم وران کړو (یعنی خلقو لره ئے ګمراه کړل او دَ حدیثو دَ علم ئے خانه برباده کړه۔)

(۲۵)عَنْ اَبِی بَکْرِ بْنِ عَیَّاشٍ قَالَ سَمِعْتُ الْمُغِیْرَةَ یَقُوْلُ لَمْ یَکُنْ یُصَدِّقُ علی علیّ فِی الْحَدِیْثِ عَنْهُ اِلَّا مِنْ اَصْحَابِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ۔

ترجمه : دَابو بکر بن عیاشؒ نه روایت دے چه ما دَ مغیره نه اوریدلے دی هغه فرمائیلے وو چه دَحضرت علیؓ نه به کومو خلقو روایت کوولو نو هغه روایت به نهٔ منلے کیدو ترڅو پورے چه به دَعبد الله بن مسعودؓ ملګری دَهغے تصدیق کړے نهٔ وو۔

باب فی ان الاسناد من الدین وان الروایة لا تکون الا عن الثقات وان جرح الرواة بما هو فیهم جائز بل واجب وانه لیس من الغیبة المحرمة بل من الذب عن الریعة المکرمة

باب : دَحدیثو سند بیانول ضروری دی او هغه په دین کښے داخل دے:

(۲٦)عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِیْرِیْنَ قَالَ اِنَّ هٰذَا الْعِلْمَ دِیْنٌ فَانْظُرُوْا عَمَّنْ تَاْخُذُوْنَ دِیْنَکُمْ:

ترجمه : محمد بن سیرین (چه مشهور تابعی دے) فرمائیلے ئے دی چه دا علم دین دے نو ګوره دکوم سړی نه به تهٔ دین حاصلوے (یعنی دَ هر سړی به په دے کښے اعتبار نهٔ کوے مګر چه کوم رینتونے او دیندار او معتبر وی دَهغه نه علمِ دین حاصلول ضروری دی۔

(۲۷)عَنْ بْنِ سِیْرِیْنَ قَالَ لَمْ یَکُوْنُوْا یَسْاَلُوْنَ عَنِ الْاِسْنَادِ فَلَمَّا وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ قَالُوْا سَمُّوْا لَنَا رِجَالَکُمْ فَیُنْظَرُوْا اِلٰی اَهْلِ السُّنَّةِ فَیُؤْخَذُ حَدِیْثُهُمْ وَیُنْظَرُ اِلٰی اَهْلِ الْبِدَعِ فَلَا یُؤْخَذُ حَدِیْثُهُمْ۔

ترجمه : بن سیرین فرمائی چه په اوله زمانه کښے به چه چا حدیث بیانوو نو دَهغه نه به چا دَحدیث تپوس نهٔ کوو بیا چه هر کله فتنه خوره شوه (یعنی ګمراهی شروع شوه او بدعتونه دَ روافضو او خواجو او مرجیو او قدریو شائع شول) خلقو اووئیلے چه خپل خپل سند بیان کړی ګورو کهٔ چرے روایت کونکے اهل سنت وی نو دهغه روایت به مقبول وی او کوم چه بدعتیان وی دَهغوی روایت به نهٔ قبلیږی۔

(۲۸)عن سُلَیْمَانَ بْنِ مُوْسیٰ قَالَ لَقِیْتُ طَاؤسًا فَقُلْتُ حَدَّثَنِیْ فُلَانٌ کَیْتَ وَ کَیْتَ قَالَ اِنْ کَانَ مَلِیًّا فَخُذْ عَنْهُ:

ترجمه : سلیمان بن موسی فرمائیلے دی چه ما طاوس ته اوئیلے چه فلانکی سړی ماته داسے او داسے حدیث بیان کړے دے هغوی اوفرمائیل کهٔ چرے ستا ملګرے معتبر دے نو دهغه نه حدیث

روایت کوه۔

(۲۹)عَنْ سُلَیْمَانَ بْنِ مُوسٰی قَالَ قُلْتُ لِطَاوٗسٍ اِنَّ فُلَانًا حَدَّثَنِیْ بِکَذَا وَ کَذَا فَقَالَ اِنْ کَانَ صَاحِبُکَ مَلِیْنًا فَخُذْ عَنْہُ:

ترجمه : سلیمان بن موسی فرمائیلے دی چه زهٔ د طاوس سره ملاؤ شومه او ما اوئیلے چه فلانکی سړی ماته حدیث په داسے طریقه باندے بیان کړو هغوی اوئیلے کهٔ چرے هغه معتبر دے (یعنی کهٔ دَ هغه په امانت او دیانت باندے بروسه کیدے شی۔ لکه څنګه چه دمالدار او دَ بنهٔ معاملے والا دَخبرے اعتباروی) نو دَ هغه نه حدیث روایت کړه۔

(۳۰)عَنْ اَبِی الزِّنَادِ قَالَ اَدْرَکْتُ بِالْمَدِیْنَةِ مِاْئَةً کُلُّهُم مَامُوْنٌ مَا یُؤْخَذُ عَنْهُم الحدیث یُقَالُ لَیْسَ مِنْ اَهْلِهٖ

ترجمه :ابو الزناد (چه ددهٔ نوم عبد الله بن ذکوان دے او دَحدیثو امام دے) فرمائی چه ما په مدینه کښے سل سړی اوموندل چه ټول نه بنهٔ وو مګر دَهغوی نه دَ حدیثو روایت نهٔ شو کیدلے خلقو به وے چه دوی ددے لائق نهٔ دی۔

فائده : یعنی اګر چه هغه خلق دینداره وو مګر دَ حدیثو دَ قبلیدو دَپاره نور شرطونه هم دی یعنی ضروری دی۔ لکه حفظ او اتقان او معرفت شو فقط زهد او ریاضت کافی نهٔ دے ددے وجے نه نے دهغوی نه روایت نهٔ کوو او نهٔ دَ روایت اهل ګڼړلے شو۔

(۳۱)عن سعد بن ابراهیم یقول لا یحدث عن رسول الله ﷺ الا الثقات۔

ترجمه : دسعد بن ابراهیم نه روایت دے نهٔ شی قبلیدے حدیث دَ رسول الله ﷺ مګر دَ معتبرو خلقو نه (چه د هغوی په روایت باندے بهروسه کیدے شی۔)

(۳۲)عن عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْمُبَارَکِ یَقُوْلُ الاِسْنَادُ مِنَ الدِّیْنِ وَلَوْ لَا الاِسْنَادُ لَقَالَ مَنْ شَآءَ مَاشَآءَ:

عن عبد الله یقولُ بیننا وبَیْنَ الْقوم القوائمُ یَعْنِی الاِسْنَادُ:

ترجمه : عبد الله بن مبارك فرمائیلے دی چه اسناد په دین کښے داخل دے کهٔ چرے سندونه نهٔ وے نو هر سړی چه څه غوښتل هغه به نے وئیل او په خپله خبره به چلیدو۔

عبد الله بن مبارك فرمائیلے دی چه زمونږه او دَخلقو په مینځ کښے خپے دی یعنی سندونه (

څنګه چه حیوان بغیر دَ خپو نه اودریدے نۀ شی دغه شان احادیث بغیر دَسندونو نه راتولے دے نۀ شی۔

عَنْ اَبِی اِسْحَاقِ اِبْرَاهِیْمَ بْنِ عِیْسٰی الطَّالِقَانِیُّ قَالَ قُلْتُ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْمُبَارَکِ یَا اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْحَدِیْثُ الَّذِیْ جَاءَ اِنَّ مِنَ الْبِرِّ بَعْدَ الْبِرِّ اَنْ تُصَلِّیَ لِاَبَوَیْکَ مَعَ صَلٰوتِکَ وَتَصُوْمَ لَهُمَا مَعَ صَوْمِکَ قَالَ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللّٰهِ یَا اَبَا اِسْحَاقَ عَمَّنْ هٰذَا قَالَ قُلْتُ لَهُ هٰذَا مِنْ حَدِیْثِ شِهَابِ بْنِ خِرَاشٍ قَالَ ثِقَةٌ عَمَّنْ قَالَ قُلْتُ عَنِ الْحَجَّاجِ ابْنِ دِیْنَارٍ قَالَ ثِقَةٌ عَمَّنْ قَالَ قُلْتُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَالَ یَا اَبَا اِسْحَاقَ اِنَّ بَیْنَ الْحَجَّاجِ ابْنِ دِیْنَارٍ وَبَیْنَ النَّبِیِّ ﷺ مَفَاوِزَ تَنْقَطِعُ فِیْهَا اَعْنَاقُ الْمَطِیِّ وَلٰکِنْ لَیْسَ فِی الصَّدَقَةِ اخْتِلَافٌ:

ترجمه : ابو اسحاق (چه دَهغه نوم ابراهیم بن عیسی طالقانی دے) وئیلی دی چه ما عبد الله بن مبارک ته اووئیلے چه اے ابو عبد الرحمٰن دا حدیث څنګه دے کوم چه روایت کړے شوے دے دَرسول الله ﷺ نه دَ نیکئ نه پس دویمه نیکی داده چه تۀ مونځ کوے دَ خپل مانځه نه پس دَ خپل مور پلار دپاره او روژه نیسه دَهغوی دپاره دَخپلے روژے سره هغه ئی اووے اے ابو اسحاق ! دا حدیث څوك روایت کوی ؟ ما اوئیلے شهاب بن خراش هغوی اوفرمائیل هغه خو ثقه دے بیانے اوئیلے هغه دَچانه روایت کړے دے ما اووے دَ حجاج بن دینار نه هغه اوئیلے هغه خو هم ثقه دے بیانے اووے چه هغه دَ چانه روایت کړے دے ؟ ما اوئیلے چه هغه وائی چه رسول الله ﷺ داسے فرمائیلے دی عبد الله اوئیلے اے ابو اسحاق ! اوس خو دَحجاج نه واخله دَ رسول الله ﷺ پورے دومره لوے لوے ځنګلونه باقی دی چه دَهغے دَ طے کولو دَپاره دَ اوښانو ختونه ستړی شی البته په صدقه ورکولو کښے دَچا څه اختلاف نشته۔

فائده : یعنی حجاج خو دَ تبع تابعینو نه دے خو ادنیٰ درجه داده چه درسول الله ﷺ پورے دوه راویان نور دی چه دَهغو پته نشته بیا حدیث منقطع شو او هغه څنګه قبلیدے شی۔ دَلویو لویو ځنګلو نه دا مطلب دے چه څه راویان ورك شوے دی چه : هغوی معلومول ضروری دی نو حدیث قابل دَاعتبار پاتے نۀ شو مګر دَچا زړۀ چه غواړی دَخپل مور پلار دَ طرف نه دے

خیرات کوی نو دَهغے ثواب دَټولو علماؤ په نزد باندے رسی۔ ولے چه دَصدقے ثواب مړی ته بالاتفاق رسی۔ البته په مونځ روژه او عبادتِ بدنیه کښے اختلاف دے نو دامام شافعی او دَ جمهورو مذهب دادے چه ددے څیزونو ثواب مړی ته نهٔ رسی مګر په کوم صورت کښے چه په مړی باندے روژے واجب وی او دَهغه وارث دَهغه دَ طرفه قضاء اونیسی نو ادا کیږی او یو قول دادے چه نهٔ ادا کیږی او دَ علماؤ دَ یو جماعت مذهب دادے چه مړی ته دَ تمامو اعمالو ثواب رسیدے شی لکه مونځ روژه دُعا تلاوتِ قرآن وغیره او دَ عطاء بن ابی رباح او اسحاق بن راهویه هم دا قول دے۔ (نوویؒ)

باب الکشف عن معایب الرواة الحدیث وناقلی الاخبار وقول الائمة فی ذالک :

باب: دحدیث د راویانو عیب بیانول درست دی او هغه په غیبت کښے داخل نه دی ولے چه ددین ضرورت دے لکه دګواهانو حال بیانول چه درست ی او د هن ... مانو داسے وئیلے دی:

عَن عَبد اللّٰهِ بن المُبارَکِ یَقُولُ علی رُؤسِ النّاسِ دَعُوا حَدیثَ عمرو بنِ ثابت فانّه کان یَسبُّ السّلفَ:

ترجمه : عبد الله بن مبارك به دَ خلقو په مخکښے ونیل چه پریږدی روایت کړل دَ عمرو بن ثابت نه ولے چه هغه به بد ونیل وړمبو بزرګانو ته۔

(۳۳)عَن ابی عَقِیل صَاحِب بُهَیَّة قال کنتُ جَالِسا عند القاسم ابن عبد اللّه ویحیی بن سعید فقال یحیی لِلقاسم یا ابا مُحَمّد انه قَبِیحٌ علی مِثلِکَ عَظِیمٌ ان تُسئلَ عن شیءٍ من امر هذا الدّین فلا یُوجَد عِندک منه علمٌ ولا فَرجٌ اَو عِلمٌ ولا مخرجٌ فقال لهُ القاسمُ وعمّ ذاک قال لانّکَ ابن امامَی هُدًی ابن ابی بَکر وَعُمَرؓ قال یقولُ لهُ القَاسِم اَقبح مِن ذاک عند مَن عقلَ عن اللّه تعالیٰ ان اقول بغیر عِلم او اٰخذَ عَن غَیر ثِقَة قَال فَسکَت فَمَا اَجابَهٗ:

ترجمه : دَابو عقیل یحیی بن متوکل نه روایت دے چه دا صاحب وو دَ بهیه (بهیه ... بنځے

نوم دے چه دَ حضرت عائشے ؓ نه روایت کوی ابو عقیل دَ هغے آقا وو) چه زهٔ دَقاسم بن عبد الله بن عمر سره ناست وُم هلته یحییٰ بن سعید وو نو یحیی قاسم ته اوئیلے اے ابو محمد ! ستا داسے سړی دَپاره دا خبره ډیره بده ده چه ستا نه ددین دَ یوے مسئلے تپوس اوکړے شی او بیا تاته دَهغے علم نهٔ وی نهٔ دهغے دَ جواب۔ قاسم اووے چه په څه وجے سره؟ یحیی اووے ددے وجے نه چه ته ناست ئے دَ دوو لویو لویو رهنما امامانو یعنی دَ ابو بکر صدیق ؓ او عمر ؓ سره(قاسم دَ حضرت ابو بکر ؓ نمسے وو او دَ حضرت عمر ؓ نمسے یعنی دَ څوی څوے ئے وو ولے چه دَقاسم مور ام عبید الله ده ۔ چه څوے دیدَقاسم بن محمد ابی بکر صدیق ؓ قاسم اوئیلے ددے نه هم ډیره دا خبره بده ده دَهغه سړی په نزد چه هغه لره الله عقل ورکړے دے چه زهٔ اوکړم بوه خبره او دَهغے ماته علم نهٔ وی یا دَداسے سړی نه روایت اوکړم چه هغه معتبر نهٔ وی په دے اوریدو سره یحییٰ چپ شو او جواب ئے ورنهٔ کړو ۔

فائده : یحیی قاسم ته یو قسم غیرت ورکوو چه ستا دواړه نیکونه دَدین دومره لوے امامان وو او تهٔ دَ هغوی نمسے ئے نو تاله هم پکار دی چه بنهٔ علم حاصل کړے او حدیث جمع کړے او دَ هرے مسئلے جواب تا سره وی لیکن قاسم هغه جواب ورکړو چه یحیی ما سوا دَ چپ کیدو نه نور څه نهٔ شو وئیلے دَ ضبط او اتقان سره لږ علم دَ طوفان بے تمیزه نه غوره دے دَ هرے مسئلے جواب خو دَ هیڅ چاسره ممکن نهٔ دے لویو لویو مجتهدینو او علماؤ په ډیرو مسائلو کښے سکوت کړے دے په دے روایت کښے یحییٰ بن متوکل چه دهغه کنیت ابو عقیل دے ضعیف دے جرح کړے ده په دهٔ باندے یحییٰ بن معین او علی بن مدینی او عمر بن علی او عثمان بن سعید دارمی او ابن عمار او نسائی۔ او بیا مسلم چه کوم ددهٔ نه روایت کړے دے دهغے جواب په دوه قسمه دے یو دا چه دا راوی شائد دَ مسلم په نزد باندے ثقه وی ولے چا چه جرح کړے ده هغه شکمنه ده او دَ کومے پورے چه دَ جرحے وجے بیان نهٔ شی نو هغه دَ قبلیدو لائقه نهٔ وی۔ دویمه دا چه مسلم دے روایت لره په طور دَ امداد او استشهاد بیان کړے دے او هغه مقصود بالذات نهٔ دے۔

(۳۴)عَن اَبِی عَقِیل صَاحب بُهَیَّةَ اَنَّ اِبنَا لِعَبدِ اللّٰهِ بن عُمَر سَاَلُوهُ عَن شَیْءٍ لَم یَکُن عِندَهُ فِیه عِلمٌ فَقَال

لہ یحیی ابن سعید واللہ انی لاعظم ان یکون مثلک وانت ابن امامی الہدی یعنی عمر بن عمر تسأل عن امر لیس عندک فیہ علم فقال اعظم من ذالک واللہ عند اللہ عز وجل وعند من عقل عن اللہ عز وجل ان اقول بغیر علم او اخبر عن غیر ثقۃ قال وشہدھما ابو عقیل یحیی ابن المتوکل حین قالا ذالک.

ترجمه : د ابو عقیل نه روایت دے چه دا صاحب د بهیه وو چه د عبد الله ابن عمرؓ د یو ځوی نه د څه خبرے په باره کښے تپوس اوشو د هغې جواب هغه ته نۀ ورتلو سعید هغه ته اووے چه دا امر په ما باندے ډیر سخت تیر شو چه ستا غوندے سړے چه ځوے نے د دوو لویو امامانو یعنی : حضرت عمر او د حضرت عبد الله بن عمرؓ چه ددوی نه د څه خبرے تپوس اوشی او دوی نے اونۀ ښائی هغوی اووے چه په خدائے مے دے قسم وی ! چه ددے نه زیات د خدائے په نزد او د هغه چا په نزد چه هغوی ته الله عقل ورکړے وی دا چه زۀ اووایم او ما ته علم نۀ وی یا روایت اوکړم ددا سے سړی نه چه هغه ثقه نۀ وی سفیان اووے یحیی بن متوکل یعنی ابو عقیل ددے خبرو اترو په وخت باندے موجود وو

(۳۵)عن یحیی بن سعید قال سألت سفیان الثوری وشعبۃ ومالکا وابن عیینۃ عن الرجل لا یکون ثبتا فی الحدیث فیاتینی الرجل فیسألنی عنہ قالوا اخبر عنہ انہ لیس بثبت.

ترجمه : یحیی بن سعید فرمائیلی دی چه ما د سفیان ثوری او شعبه او مالك او ابن عیینه نه تپوس اوکړو (چه دا د حدیثو لوے امام وو) کچرے یو سړے معتبر نۀ وی د حدث په روایت کښے او څوك د هغه د حال زما نه تپوس اوکړی (نو زۀ د هغه عیب بیان کړم او کۀ پټ نے کړم) هغوی تولو اووے چه بیان نے کړه چه دا سړے معتبر نۀ دے او ددے په بیانولو کښے د غیبت گناه نشته دے بلکه اجر دے ولے چه نیت په خبر باندے دے ددین حفاظت منظور دے نۀ ددغه سړی سپکوالے.

(۳۶)عن النظر بن شمیل یقول سئل بن عون عن حدیث لشہر وہو قائم علی اسکفۃ الباب فقال ان شہرا ترکوہ ان شہرا ترکوہ قال مسلم بن الحجاج ترکوہ یقول اخذتہ السنۃ الناس تکلموا فیہ:

ترجمه : دنظر بن شمیل نه روایت دے چه دابن عون نه چا تپوس اوکړو د شهر بن حوشب د

حدیث په باره کښې او هغه ولاړ وو دَ دروازې په یو چوکټ باندې هغه اووې چه حوشب خلقو پریخودې دې مسلم وئیلې دی چه دَ پریخودلو نه مطلب دادې چه خلقو په دې کښې خبرې اوکړې او دَ هغوی په حق ئې جرح او طعن اوکړو۔

فائده : مګر ډیرو اماماًنو دَ شهر توثیق کړې دې لکه امام احمد بن حنبل او یحیی بن معین احمد بن عبد الله وئیلې دی چه هغه تابعی دې او ثقه دې او ابو زرعه وئیلې دی ولا بأس به او بخاری وئیلې دی شهر حسن الحدیث او یعقوب بن شیبه وئیلې دی چه شهر ثقه دې۔

(۳۷) عن شبابة قال : قال شعبة وقد لقیت شهرا فلم اعتد به :

ترجمه : شبابه بیان کوی چه شعبه وئیلې دی چه زهٔ شهر بن حوشب سره ملاو شوې یم لیکن څه دَ هغه روایت نهٔ شمار کووم۔

(۳۸) عَنْ عَبدِ اللّٰهِ بْنِ الْمُبارکِ قال قُلت لِسُفیان الثَوری انّ عَبّاد بْنَ کثِیر من تعرف حاله وَاذَا حدّث جَاءَ بِامر عَظِیم فتری ان اقُول لِلنّاس لَا تاخُذُوا عنه قَال سُفْیانُ بلٰی قَال عَبْدُ اللّٰهِ فکُنْتُ اِذَا کنت فِی مَجْلِس ذُکِرَ فیه عَبّادٍ اثنیتُ عَلَیْه واَقُولُ لَا تاخُذُوا عَنْه :

ترجمه : دَ عبد الله بن مبارك نه روایت دې چه ما دَ سفیان ثوری نه تپوس اوکړو چه تاته دَ عباد بن کثیر دَ حال پته ده هر کله چه حدیث بیانوی نو راتلل کوی په یو امر عظیم باندې نو ستاسو څه رائې ده چه زهٔ خلقو ته اووایم چه دده نه روایت مهٔ کوی سفیان اووې چه ولې نه اووایه عبد الله اووې بیا چه زهٔ به کوم مجلس کښې یم او دَ عباد بن کثیر ذکر راشی نو زهٔ به دَ هغه دَ دینداری تعریف کووم لیکن دا به وایم چه دده نه دَ حدیثو روایت مهٔ کوی۔

فائده : دا عباد بن کثیر ثقفی بصری دې دهٔ لره اهلِ حدیثو پریخې دې امام احمد فرمائیلې دی چه هغه دَ دروغو احادیث بیانوی اګر چه دا سړې په ظاهر حال کښې مرد دیندار او صالح وو خو دَ حدیثو په روایت کولو کښې دده پو هه نهٔ وه هغه به غلط روایت لره دَ صحیح روایت نه تمیز نهٔ شو کولې۔

عن عبدُ الله بنُ الْمُبارَک قالَ انْتهَیتُ اِلٰی شُعْبة فقَالَ هٰذا عَبّاد بْن کثِیر فاحْذَرُوْه:

ترجمه : دَ عبد الله بن مبارك نه روايت دے چه زۀ دَ شعبه خواله لاړم هغوی اوئیلے چه دا عباد بن کثیر دے ددۀ نه ځان ساتی. (یعنی په روایت کولو کښے)

(۳۹)عَنْ الْفَضْل ابْن سَهْل قَال سَالتُ مُعَلّٰے الرّازِی عن مُحَمّد بْن سَعِيْد الَّذِی روی عَنْه عَبَّادُ ابْن كَثِیْر فَاَخْبرنِی عَن عیسیٰ ابْن یُونَس قَال کنتُ علٰی بَابِه وسُفیان عنْده فَلمَّا خرج سَالتُه عَنه فَاَخبرنِی انّه کذّابٌ:

ترجمه : دَفضل بن سهل نه روایت دے چه ما دَ معلیٰ رازی نه دَ محمد بن سعید دَحال تپوس اوکړو دَچا نه چه عباد روایت کوی هغوی نقل کړے دَعیسیٰ بن یونس نه. هغوی وئیلے دی چه زۀ دَ عباد په دروازه کښے ووم او سفیان ددۀ سره وو هر کله چه هغه راووتو نو ما ترے نه تپوس اوکړو دَ عباد په باره کښے سفیان اووے هغه دروغجن دے.

(۴۰)عَن مُحَمّد بْن يَحيیٰ بن سَعید بن القطّان عَن ابِیه قَال لم نر الصَّالِحِیْن فِی شَیْئٍ اَکْذب مِنْهُم فِی الْحدیثِ قال بْن ابی عتاب فَلقِیتُ انا مُحَمّد بْن یَحییٰ بْن سَعید بْن القَطّان فَسالتُه عنه فقَال عن ابیه لَم ترىٰ اهل الْخیر فِی شیٍ اَکْذبَ منِهم فِی الْحَدِیْث قال مُسلِمٌ یقولُ یجری الْکذبُ علی لِسَانِهِمْ وَلا یتعمّدُوْن الْکَذِب.

ترجمه : محمد بن یحیی بن سعید قطان دَ خپل پلار نه روایت کوی (یحییٰ بن سعید قطان چه دَ حدیثو لوے امام وو) هغه به وئیل چه مونږه نیکو سړو لره (یعنی صوفیانو او درویشانو لره) دومره دروغ په بل څه کښے نۀ وو لیدلے څومره دروغ مو چه دَ حدیثو په روایت کولو کښے مے اولیدل. ابن ابی عتاب وئیلے دی چه زۀ دَ محمد بن یحییٰ سره ملاؤ شوم او دَ هغه نه مے ددے خبرے تپوس اوکړو هغوی دَ خپل پلار نه روایت اوکړو چه هغه وئیلے دی چه تۀ به نیکو خلقو لره دومره دروغجن په بله خبره کښے اونۀ مومے څومره چه دَ حدیثو په روایت کولو کښے. امام مسلم ددے تاویل دا کړے دے چه دَ دروغو حدیث دَ هغوی دَ ژبے نه اوځی لیکن هغه قصدا دروغ نۀ وائی.

فائده : ددے دَپاره کۀ چرے هغه قصدا غلط حدیث جوړوی نو دَهغوی نه به بل بدتر

خوک وی بیا به هغه نیک خنګه پاتے شی اکثر دَ زاهدانو او درویشانو احادیث غلط ختلے دی او محدیثنو دَهغے اعتبار نۀ دے کړے دَهغے وجه دا معلومیږی چه دَغه خلقو ته دَ عبادت او استغراق نه دومره فرست نۀ وو چه هغوی حدیثو طرفته زیاته توجه کړے وے او هغه ئے لټولے وے او صحیح او غلط لره ئے جدا کړے وے هغه خلق زیات مینه ناك او سیدها ساده وو چاچه به کوم حدیث دَ هغوی وړاندے بیان کړو هغه به ئے صحیح اوګنړو او دَهغے روایت کول به ئے شروع کړو او دَروایت عیب او نقصان ته به ئے خیال کم وو۔

ددے ځائے نه دا خبره معلومه شوه چه زهد او ریاضت او درویشی او تقدس بل څیز سے او علم بل څیز دے " ہر کسے را بہر کارے ساختند" بعضے حضرات داسے هم تیر شوے دی چه هغه دَ زهد او درویشی سره په ظاهری علومو کښے لوے لیاقت او مهارت لرلو لکه امام حسن بصری ،سفیان ثوری، عبد الله بن مبارك، فضیل بن عیاض، وکیع بن الجراح راضی، دَدوی نه دے الله راضی وی، دا دَ مخکینو خلقو حال دے نو وروستو علماؤ لره هم دغه شان خیال کول پکار دی ۔ امام غزالی چه په علم کلام او حکمت کښے او په اصولو کښے هغه لوے کامل وو دَ علمِ حدیث نه بالکل عاری وو دَهغه په کتابونو کښے اکثر بے اعتباره حدیثونه دی۔

(۴۱)عَن خَلِيفة بُن مُوسىٰ قَال دَخلُتُ علٰی غَالب بُن عُبَيدِ اللّٰهِ فَجعلَ يُملی علٰی حدّثنی مَكحُولٌ فَاخذهُ الْبَوْلُ فَقامَ فَنظَرْتُ فِى الْكُرّاسَة فَإذَا فِيهَا حدّثنی اَبَان عَن اَنس وَاَبانٌ عَن فُلان فَتركتُهُ فَقُمتُ وَسمِعتُ الحَسنَ بُن عَلى الحلوانیّ يقُولُ رَاَيتُ فِی كِتَاب عفّان حَدِيث هِشَام ابی الْمقْدَام حَديث عُمَر بُن عَبد العَزِيز قَال هِشَام حدّثنی رجُل يُقَالُ له يَحيیٰ بُن فُلانٌ عَن مُحمّد ابُن كَعب قال قُلت لعفّان انّهُم يقُولُون هِشام سمعهُ مِن مُحمّد بُن كَعب فقال انّما بُتلیَ من قِبَل هٰذَا الحَدِيث كانَ يقُولُ حَدّثنی يَحيیٰ عَن مُحمّد ثُم ادّعی بعد انّه سمعهُ مِن مُحمّد:

ترجمه : دَ خلیفه بن موسیٰ نه روایت دے چه زۀ دَ غالب بن عبد الله خواله لاړم هغه ماته لیکل شروع کړل حدیث بیان کړو ماته مکحول په دے کښے هغه ته متیازے ورغلے او ما دَ هغه کتاب ته اوکتل په هغے کښے دا لیکلے وو چه حدیث بیان کړو ماته ابان دَ انس نه او ابان دَ فلانی نه۔ ددے

په لیدو سره ما ددهٔ نه روایت کول پریخودل او پاسیدم لاړم۔

امام مسلم وائی چه ما اوریدلی دی دَ حسن بن علی حلوانی نه هغه وئیلی وو چه ما دَ عفان په کتاب کښے دَ هشام ابو المقدام حدیث اولیدو چه دَ عمر بن عبد العزیز نه روایت شوے دے۔ هشام اووے چه ماته یو سړی بیان کړے وو چه دَهغه نوم یحیی وو او د فلانی ځوے هغه دَ محمد بن کعب نه اوریدلی وو۔ ما عفان ته اووے خلق وائی چه هشام دا حدیث دَ محمد بن کعب نه اوریدلے دے عفان اووے چه هشام ددے حدیث په وجه سره په آفت کښے پریوتے دے ورمے نے وئیلے چه ما دا حدیث دَ یحییٰ نه اوریدلے دے او هغه دَ محمد نه بیا ئے اوئیلے چه ما په خپله اوریدلے دے دَ محمد نه۔

فائده: هشام دَ زیاد اموی ځوے دے دهٔ ته محدثینو په دے وجے سره ضعیف وئیلے دی کومه چه بیان شوه مگر دا قدرے وجه ددهٔ دَ ضعف دَ پاره کافی نهٔ ده ولے چه احتمال دے چه هغه اوریدلے وی دَ محمد نه او بیا ئے هیر شوے وی نو دَ یحییٰ په واسطه ئے بیان کړے دے بیا ورته یاد شوے دی چه ما خو دَ محمد نه اوریدلے دی په دے کښے دا احتمال دے او دَ حدیثو امامانو ته معلومه شوه چه هشام دَ محمد نه نهٔ دی اوریدلے ددے وجے نه دَهغه دروغ کلاؤ شو (نووی)

(۴۲)عَن عَبدِ اللّٰهِ بنِ عثمان ابن جبلة يَقُولُ قُلت لِعَبدِ اللّٰه بن المُبارَكِ من هذا الرَّجل الَّذِی رويتُ عنه حدِيث عَبدِ اللّٰه بن عمر ويوم الفِطرِ وَيَوم الجَوائز:

ترجمه: دَ عبد الله بن عثمان بن جبله نه روایت دے چه ما عبد الله بن مبارك ته اووے، هغه څوك سړے دے چه دَ هغه نه تا دَ عبد الله بن عمر حدیث روایت کړو عید الفطر لره دَ جوائز په باب کښے۔

فائده: جوائز دَ جائز جمع ده یعنی انعامات ورکول او هغه حدیث دادے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی هر کله چه دَ عید الفطر ورځ شی نو فرشتے په لارو کښے راشی.او وائی اے مسلمانانو څی! خپل پروردگار طرفته چه رحمت والا دے حکم کوی دَ نیك کار بیا به دَ هغے بدله ورکوی دَهغه په حکم تاسو روژه اونیوله او دَ خپل رب وینا مو اومنله نو قبول کړی خپلو خپلو ورکړو لره بیا چه هرکله دَ اختر مونځ اوشی نو آواز کونکے آواز اوکړی اسمان ته لاړشی. او

د خپلو کورونو مرادونه اوموهمی ستاسو گناهونه اوبخلے شول او دے ورځے ته یوم الجوائز وائی۔

قال سلیمان بن الحجاج ما وضعت فی یدک منه. قال ابن قهزاذ سمعت وهب ابن زمعة یذکر عن سفیان ابن عبد الملک قال قال عبد الله یعنی ابن المبارک رأیت روح ابن غطیف صاحب الدم قدر الدرهم:

ترجمه :اووے (عبد الله بن مبارك) چه هغه سلیمان بن حجاج دے۔ گورئ تاسو د هغه نه څه حاصل کړل (یعنی هغه یو پاك سړے وو او معتبر ثقه وو داد هغه تعریف دے) ابن قهزاذ وائی چه ما اوریدلے دی د وهب بن زمعه نه هغه روایت کوو د سفیان بن عبد الملك نه چه عبد الله بن مبارك وائی چه ما روح بن عطیف اولیدو چه هغه د درهم برابر د وینے حدیث روایت کړو.

فائده : روح د زهری نه او هغه د ابو سلمه نه او هغه د ابو هریره نه روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کۀ په چا باندے د یو درهم برابر وینه لګیدلے وی او هغه مونځ اولولی نو مونځ دے بیا دوباره اوکړی دا حدیث بخاری په خپل تاریخ کښے ذکر کړے دے او د محدثینو په نزد باندے دا حدیث باطل او بے اصل دے۔

وجلست الیه مجلسا فجعلت استحیی من اصحابی ان یرونی جالسا معه کره حدیثه:

ترجمه : زۀ په دغه مجلس کښے ناست ووم بیا زۀ د خپلو دوستانو نه اوشرمیدم چه هغه څه وائی زۀ چه نے د هغوی سره ناست اولیدم په دے وجه سره چه ددۀ نه روایت کول مکروهه ګڼرلے شو

فائده : ولے چه روح بن عطیف ضعیف دے امام بخاری وائی چه هغه منکر الحدیث دے۔

(۴۳)عن عبد الله بن المبارک قال بقیۃ صدوق اللسان ولکنه یاخذ عمن اقبل و ادبر:

ترجمه : دَعبد الله بن مبارك نه روایت دے چه بقیه بن صائد بن کعب کلاعی ربښتونے دے لیکن هغه روایت کوی د هر قسم خلقو نه (یعنی ثقه او ضعیف نۀ ګوری په دے وجه محدثینو هغه ته ضعیف وئیلے دی)

(٤٤) عَنِ الشعبِی قال : حَدثنِی الحَارث الاعور الهمدانی وکان کذابا :

ترجمه : شعبی بیان کوی چه ما ته حدیث بیان کړو حارث الاعور همدانی حالانکه هغه دروغجن وو۔

(٤٥)عن الشَعبی یقُولُ حدّثنی الحارث الاعْوَر وَهو یَشْهَد انّه اَحَدُ الکاذِبین :

ترجمه : عامر بن شراحیل شعبی (چه دَ حدیثو امام دے) هغه فرمائیلے وو چه ماته حارث اعور حدیث بیان کړو او هغه یو دَ دروغجنو نه وو۔

فائده: دا حارث څوک دے دَ عبد الله بن عبید الله او اعور ورته ددے وجے نه وائی چه هغه کانا وو (یوے سترگے والا) کنیت ددهٔ ابو زهیر دے دَ کوفے اوسیدونکے مصاحب وو دَ حضرت علیؓ لیکن دهٔ په حضرت علیؓ باندے دروغ وئیل شروع کړل او ډیر احادیث ئے غلط ملط روایت کړل آخر دَ هغه دروغ ښکاره شو او محدثینو هغه پریخودو صرف نسائی ددهٔ نه دوه حدیثونه نقل کړے دی او دا هم وئیلے شوے دی چه دا سړے دَ روافضو په مذهب باندے وو چنانچه دَ مخکښے روایاتو نه معلومیږی۔

(٤٦)عَن اِبْراهِیم قَال عَلْقَمةُ قَراتُ الْقُرآنَ فِی سَنَتَیْنِ فقال الْحارثُ القرآن هَیِّنٌ الْوَحْی اشَدّ:

ترجمه : ابراهیم نخعی (چه دَ حدیثو لوے امام وو) روایت کوی چه علقمه (چه دَ عبد الله بن مسعود دَ صحبت ملګرے وو) وائی چه ما قرآن لره په دوه کاله کښے اولوستو حارث اووے چه قرآن آسان دے لیکن وحی مشکله ده۔

فائده : دا روایت دَ حارث دَ بد مذهبی ثبوت دے ولے چه هغه ماسوا دَ قرآن دَ وحی نه نور څه قرار کړے دی لکه چه شیعه وائی که الله تعالیٰ ډیرے راتلونکے خبرے او پټ رازونه حضرت ته ښودلے وو چه هغے لره حضرت خاص کر علی ابن ابی طالب ته ښودلی دی او هغه ته ئے خپل وصیت کړے وو۔

(٤٧)عَنْ اِبْراهِیم انّ الْحَارِث قَال تعلّمتُ الْقُرآن فِی ثلاثِ سِنِیْن وَالْوحْی فِی سَنَتَیْنِ اَو قَال الْوحْیُ فِی ثلاث سِنِیْن وَالْقُرآنُ فِی سَنَتَیْن :

ترجمه : دَابراهیم نه روایت دے چه حارث اووے چه ما قرآن په درے کاله کښے ایزده کړو او وحی ئے په دوه کاله کښے یائے اووے چه قرآن مے په دوه کاله کښے او وحی مے درے کاله کښے اولوسته:

(۴۸)عن ابراهیم ان الحارث اتُّهِمَ :

ترجمه :ابراهیم اووے چه حارث تهمت دار دے (یعنی هغه منسوب کړے شوے دے په دروغو او بد مذهبی سره)

(۴۹) عَن حَمزَة الزَیّات قال سمع مرّة الهَمدَانیّ من الحَارِث شیئًا فَقالَ لَهُ اُقعُد بالبَاب قال فدخل مرّة واَخذ سَیفَهُ قَال وَاحسّ الحَارثُ بِالشّرّ فَذهب:

ترجمه : دَ حمزه زیات نه روایت دے چه مره همدانی دَ حارث نه څه خبره واوریده نو دهٔ ته ئے اووے چه تهٔ په دروازه کښے کینه او مره دننه لاړو او توره ئے اوچته کړه (چه حارث قتل کړی) حارث یره اومنده چه څه شر کیدونکے دے پس هغه لاړو۔

(۵۰)عن ابن عون قال قال لنا ابراهیم ایاکم والمغیرة بن سعید وابا عبد الرحیم فانهما کذابان :

ترجمه : دَابن عون نه روایت دے چه ابراهیم وئیلے دی چه زمونږه نه دے. ځان اوساتی تاسو دَ مغیره بن سعید او عبد الرحیم نه هغه دواړه دروغجن دی ۔

فائده: مغیره بن سعید کوفی، نسائی په کتاب الضعفاء کښے وائی چه دا سرے دجّال وو دَ نخعی په زمانه کښے په اور سوزولے شوے وو او هغه دَ نبوت دعویٰ کړے وه۔ ابو عبد الرحیم چه دهٔ نوم شفیق الضبی دے کوم چه قاضی وو، او بعضو وئیلے دی چه ددهٔ نوم سلمه بن عبد الرحمن نخعی دے او دَ دواړو کنیت عبد الرحیم دے او دواړه ضعیفان دی (نووی)

(۵۱)عَنْ عَاصِم قَال کُنّا نَاْتِی اَبَا عَبْد الرّحمٰن السّلمیّ وَنَحن غِلمَةٌ اِیْفَاعٌ فَکَان یَقُولُ لَنَا لَا تُجَالِسُوا القُصّاص غیر اَبِی الْاَحوص وایّاکم وشقِیق قال وکان شَقِیْق هٰذا یرٰی رَاْیَ الْخَوَارِج ولَیس بِاَبِی وَائِلٍ:

ترجمه : دَحضرت عاصم نه روایت دے چه مونږه دَ ابو عبد الرحمان سلمی خواله تلل راتلل کول او په دغه زمانه کښے مونږه ځوانان هلکان وو (یعنی ځوانی ته نزدے) نو هغه به مونږه ته

ونیل چه مۀ کینی دَ قصه خوانانو سره سوا دَ ابو الاحوس نه او ځان ساتی تاسو دَ شقیق نه او دے شقیق دَ خوارجو په شان عقیده لره او دا ابو وائل نۀ دے ـ

فائده: ابو وائل شفیق بل دے چه دَ سلمیٰ ځوے دے او هغه دَ لویو تابعینو نه دے دا شفیق دغه دے کوفی چه ذکرئے وړاندے تیر شو او نسائی هغه ضعیف کړے دے دَ هغه کنیت ابو عبد الرحیم دے چه هغه لره یرولے دے ابراهیم او بعضو ونیلے دی ابراهیم چه دَ چا نه یرولے دَ هغه نوم سلمه بن عبد الرحمٰن نخعی دے، دَاابن ابی خاتم دَ ابن مدینی نه نقل کړے دے۔(نووی)

(۵۲)عَن جَرِیْر یقُولُ لَقِیْتُ جَابِر بُن یَزِیْد الْجُعْفِیّ فَلَمْ اَکْتُب عَنْه کَانَ یُوْمِن بِالرَّجْعۃِ :

ترجمه : دَ جریر نه روایت دے چه زۀ دَ جابر بن یزید جعفی سره ملاو شوم بیا ما دده نه احادیث نۀ دی لیکلی هغه یقین دَ رجعت کوو۔

فائده: په دے وجه محدثینو جابر بن یزید لره ضعیف کړے دے او ونیلے ئے دی چه هغه رافضی وو۔دَ رجعت مراد دلته دادے چه دَ روافضو اعتقاد دے چه حضرت علیؓ ژوندے دے او په ابر کښ اوسیږی هر کله چه دَ هغه په اولاد کښے امام برحق پیدا شی نو هغه به خپلو شیعه ګانو ته دَ اوریځے نه اواز کوی چه دَ هغه سره شریك شی دا دسے خبره ده چه دے لره به یو دَ عقل خاوند هم قبوله نۀ کړی۔

(۵۳)عَن مِسْعَر قَالَ اَخْبَرْنَا جَابِر بُن یَزِیْد قَبْل اَن یُحْدِثَ مَا اَحْدَثَ :

ترجمه : دَ مسعر نه روایت دے چه مونږه ته حدیث بیان کړے دے جابر بن یزید دَ هغه دَ نوے خبرے دَ ظاهریدو نه مخکښ (یعنی دَ بد مذهبی نه وړاندے) ددے نه معلومه شوه چه وړومبے دَ جعفر اعتقاد صحیح وو بیا وروستو فاسد شوے دے ـ

(۵۴)عَن سُفْیَانَ قَالَ کَانَ النَّاسُ یَحْمِلُون عَنْ جَابِر قَبل اَن یُّظْهِرَ مَا اَظْهَرَ فَلمَّا اَظْهَر مَا اَظْهَرَ اتَّهَمَهُ النَّاسُ فِیْ حَدِیْثِه وتَرَکَهُ بَعْضُ النَّاسِ فَقِیْلَ لَهُ وَمَا اَظْهَر قَالَ اْلاِیْمَان بِالرَّجْعَۃِ:

ترجمه : دَ سفیان نه روایت دے چه وړاندے به خلقو دَ جابر نه احادیث روایت کول هر کله چه هغه خپل اعتقاد ظاهر کړو نو خلقو دۀ لره متهم کړو په حدیث کښے او بعضو هغه لره پ نخودو

خلقو اووے چه ددهٔ نه خه یے اعتقادی معلومه شوه؟ سفیان اووے چه په رجعت باندے یقین کول۔

(۵۵)عَن جابر بن یزید یقول عندی سبعون الف حدیث عن ابی جعفر عن النبی ﷺ کلها:

ترجمه : جابر بن یزید جعفی وئیلے دی چه زما سره اویا زره احادیث دی چه هغه ما روایت کړے دی دَابو جعفر نه (یعنی دَ امام محمد باقر نه) او هغه دَ رسول الله ﷺ نه روایت کړے دی۔

فائده : دا کله چرے امام محمد باقر دَ رسول الله ﷺ نه نهٔ وی اوریدلے نو دا تول روایتونه منقطع شول او ددے روایاتو دویم روایت کونکے دَ جابر غوندے بد اعتقاد سړے ۔ ددے وجے نه یقین کیدے شی چه هغه تول روایات دروغ او دَ جابر تراشلے شوے دی چه هغے لره شیعه گانو په خپلو کتابونو کښے روایت کړے دی۔

(۵۶)عَنْ زُهَیر یَقُوْلُ قَالَ جَابِر اَوْ سَمِعْتُ جَابِرًا یَقُوْلُ اِنَّ عِنْدِی لَخَمْسِیْنَ اَلْف حَدِیْث مَا حَدَّثْتُ مِنْهَا بِشَیْ‌ءٍ قَالَ ثُمَّ حَدَّث یَوْمًا بِحدِیْث فَقَال هٰذا مِنَ الْخَمْسِیْنَ اَلْفًا:

ترجمه دَ زهیر نه روایت دے چه جابر وئیلے دی چه زما سره پنځوس زره داسے احادیث دی چه هغه ما خلقو ته بیان کړے نهٔ دی بیا نے یوه ورځ حدیث بیان کړو او اونے وئیل چه دا دَ هغه پنځوس زره احادیثو نه دے ۔

(۵۷)عن سلام بن ابی مُطِیْع یقولُ سمعتُ جابر الْجعفیّ یقُولُ عندی خَمْسُوْن اَلف حَدیث عَنِ النَّبِی ﷺ

ترجمه : دَ سلام بن ابی مطیع نه روایت دے چه ما اوریدلے دی دَ جابر جعفی نه چه زما سره پنځوس زره احادیث دی دَ رسول الله ﷺ نه۔

عن سفیان قال سمعت رجلا سأل جابرا عن قوله عزوجلّ فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْض حَتّٰی یَاْذَنَ لِی اَبِی اَوْ یَحْکُمَ اللّٰهُ لِیْ وَهُوَ خَیْرُ الْحَاکِمِیْن: [۱۲ : یوسف : ۸۰]

ترجمه : دَ سفیان نه روایت دے چه یو سړی دَ جعفر نه تپوس اوکړو ددے آیت "فلن ابرح الارض حتیٰ یأذن لی ابی او یحکم الله لی وهو خیر الحاکمین"

فائده : دا آیت په سورت یوسف کښے دے هر کله چه یوسف علیه السلام خپل ورو کی

رور لره دَ غلا په بهانه سره حصار کړو نو مشر وروړ ئے دَ قافلے سره راغلے وو او وئیل ئے چه زهٔ به ددے ملك نه واپس نهٔ شم تر هغے پورے چه اجازت راکړی مالره زما پلار یا الله زما دَپاره فیصله اوکړی او هغه دَ تولو نه غوره فیصله کونکے دے۔

فقال جابر لم یجیئ تأویل هذه قال سفیان و کذب فقلنا لسفیان وما اراد بهذا فقال ان الرافضة تقول ان علیا فی السحاب فلا نخرج مع من یخرج من ولده حتی ینادی مناد من السمآء یرید علیا انه ینادی اخرجوا مع فلان یقول جابر فذا تأویل هذه الآیة و کذب کانت فی اخوة یوسف:

ترجمه : جابر اووے ددے آیت مطلب اوس ظاهر نهٔ شولو سفیان اووے جابر دروغجن وو حمیدی وائی (څوك چه دا روایت دَ سفیان نه نقل کوی) چه مونږه خلقو دَ سفیان نه تپوس اوکړو چه دَ جابر څه غرض وو؟ هغه اووے روافض دا اعتقاد لری چه حضرت علیؓ په وریځ کښے دے او مونږه دَ هغه په اولاد کښے دَچا سره نهٔ ووځو تر دے پورے چه دَ اسمان نه حضرت علیؓ اواز اوکړی چه اوځی ددے سړی سره جابر وائی چه ددے آیت تفسیر دادے ۔او دروغ ئے وئیلے ددے دَپاره چه دا آیت دَ یوسف علیه السلام دَ رونړو په قصه کښے دے۔

فائده : ددے آیت په اول آخر کښے دَهغهٔ دَ رونړو قصه ده دا تفسیر چه جابر دَ عقل خلاف کړے دے کمزور او بے بنیاده دے روافض قرآن لره په دے شان بے ترتیبه اخوا دیخوا اولی او غور نهٔ کوی۔

(۵۹)عَن سُفیان قَال سمعتُ جابرا یحدّثُ بِنَحو من ثَلاثِیْنَ اَلْف حَدیث مَا استحلّ ان اذکر مِنْهَا شَیْئًا وَاَنّ لِیْ کَذَا وَکَذَا:

ترجمه : دَسفیان نه روایت دے چه ما دَ جابر نه اوریدلے دی دیرش زره احادیث زهٔ حلال نهٔ گنړم ددے نه یو حدیث بیانولو لره اگر چه ما ته دا اودا ملاویږی بیا هم زهٔ دے حدیثو لره نهٔ نقل کووم ولے چه ټول دروغ وو۔

عَنْ اَبِی غَسَّانَ مُحَمّد بْن عَمْرو الرّازِیّ قَالَ سَاَلْتُ جَرِیْر بْن عَبْد الْحَمِیْد فَقُلْتُ : اَلْحَارِثُ بْن حَصِیْرة لَقِیْتَهُ قَال نَعَمْ شَیْخٌ طَوِیلُ السّکُوت یُصِرُّ علیٰ اَمر عَظِیْم:

ترجمه : ابی غسان محمد بن عمرو رازی وئیلی دی چه ما ذ جریر بن عبد الحمید نه تپوس اوکړو چه تا حارث بن حصیره لیدلے دے؟ هغه اووے چه او یو بوډا وو اکثر به خاموش اوسیدو لیکن په ډیره لویه خبره باندے به ئے اصرار کوو۔

فائده : یعنی عقیده ئے ذ روافضو وه په تقریب کښے دی چه حارث بن حصیره ازدی چه کنیت ئے ابو نعمان دے ذکوفے اوسیدونکے ربښتونے دے مګر خطا کوی او نسبت ئے شوے دے طرف ذ رفض ته۔

(۲۰)عَنْ حمّادبْن زَیْد قَال وذکر ایّوبُ رَجُلًا یومًا فَقَالَ لَمْ یَکُن بِمُسْتَقِیْم اللّسَان قَال وَذَکَرَ آخر فقَالَ هُو یَزِیْدُ فِی الرَّقَم:

ترجمه : حماد بن زید وائی چه ایوب سختیانی ابن ابی تیمیه کسان ابو بکربصری ثقه ثبت او حجت فقیه عابد مشهور وو وئیلی دی ذ یو سری حال چه ذ هغه ژبه درسته نۀ وه او بل دویم ته ئے اووے چه هغه رقم لره زیاتوی۔

فائده : اکثر ذ بے ایمانه سوداګرو عادت وی چه ذ کپړو په تانونو باندے چه کوم ذ خرید رقم لیکلے وی هغه زیاتوی ددے ذ پاره چه خریدار له دهوکه ورکړی او خپله منافع زیاته کړی دلته مراد دادے چه په حدیث کښے زیاتے کول دادواړه لفظ اشاره دی ددروغو ذپاره یعنی دواړه دروغ او کذب وو۔

(۲۱)عَن حمّاد بن زید قال قال ایّوب انّ لی جارًا ثم ذکر من فضله ولو شهد عندی علی تمرتین مارایت شهادته جائزةً :

ترجمه : ذ حماد بن زید نه روایت دے چه ایوب وئیلی دی زما یو ګاونډی دے بیائے فضیلت بیان کړو (یعنی ذ هغه ذ لیاقت او ذ علم تعریف ئے اوکړو) او وے وئیل کۀ چرے هغه زما په مخکښے په دوو کجورو باندے ګواهی ورکړی نو د هغه ګواهی ته به درسته نۀ وایم۔ یعنی په دے کښے دا عیب دے چه دروغ وائی نو داسے په وړه مقدمه کښے هم ذ هغه اعتبار نۀ شی کیدے۔

(۲۲)عَنْ مَعْمَر ما رایت ایّوب اعتاب احدًا قطُّ الّا عبْد الْکریْم یعنی ابا امیّة فان ذکره فقال کان غیر

ثقةً لقدْ سألنيْ عنْ حديث لِعكْرمةثمّ قالَ سمعتُ عكْرمةَ:

ترجمه :دَ معمر نه روایت دے چه دَ ایوب نه دَچا بنده غیبت نهٔ دے اوریدلے مگر دَ عبد الکریم ابی المخارق چه کنیت ئے ابو امیه دے . ذکر کړے ئے دے دهٔ لره نو ونیلے ئے چه خدائے دے رحم اوکړی په هغه باندے هغه ثقه نهٔ وو یو ځلے زمانه دَعکرمه دَیو حدیث تپوس اوکړو بیا ئے اووے چه ما خپله اوریدلے دے دَعکرمه نه۔

فائده : مگر صرف ددے خبرے نه دهغه ضعف نهٔ شی ثابتیدے شائد چه هغه دَ عکرمه نه اوریدلے وی او هیر شوے ئے وی بیائے دَ ایوب نه اوریدلے وی او یاد شوے وی ورته او روایت ئے کړے وی۔ بیا په نورو قرینو سره دَ هغه دروغ ثابت شوے دی او ضعیف کړے دے دے عبد الکریم لره سفیان بن عیینه او عبد الرحمان بن مهدی او یحییٰ بن سعید القطان او احمد بن حنبل او ابن عدی۔ او دا عبد الکریم دَ بصرے دَ فاضلانو او فقهاؤ نه وو ۔(نووی)په تقریب کښے دی چه ددهٔ دَ پلار نوم قیس یا طارق وو او دے مکے ته راغلے وو او اوسیدو، ضعیف دے۔ بخاری ددهٔ نه په باب قیام اللیل کښے یو زیادت نقل کړے دے او نسائی ددهٔ نه روایت کړے دے مگر لږ۔

(۲۳)عنْ همّام قالَ قدم علیْنا ابُو داؤد الْاعْمیٰ فجعلَ یقُولُ حدّثنا الْبرّاء وحدّثنا زیْد بْن ارْقم فذکرْنا ذالک لقتادة فقال کذب ما سمع منْهم:

ترجمه :د همام نه روایت دے ابو داؤد وروند(نضیع بن حارث)زمونږه خوا له راغے او وے وئیل چه حدیث بیان کړے دے ماته براء بن عازب او حدیث بیان کړے دے ماته زید بن ارقم مونږه ددے قتاده ته ذکر اوکړو هغه اووے دروغ وائی دهٔ نهٔ دی اوریدلے د براء او دَ زید نه۔

فائده : او هغه ونیلے وو چه ما د اتلسو بدری صحابو نه اوریدلے دی دَابو داؤد په اتفاق دَ عالمانو ضعیف دے عمرو بن علی ونیلے دی هغه متروك دے او یحییٰ بن معین او ابو زرعه ونیلے دی چه هغه څه څیز نهٔ دے او ابو حاتم ونیلے دی چه منکر الحدیث دے۔

انما کان ذالک سائلا یتکفف الناس زمن طاعون الجارف:

ترجمه : هغه یو سوال کړے وو دَخلقو په مخکښں به ئے لاس خورول دَ سختے وباء په زمانه کښے

فائده : دا وباء یعنی طاعون ډیو قسم دانه وه چه په هغې کښې به سوزیدل وو او ددغه دانه نه به چاپیره سورروالے یا توروالے یا شین والے خوریدو او ددے سره به زړهٔ درزیدو او قے یعنی اولټی به هم ورتلے۔ علماؤ ددهٔ په زمانه کښې اختلاف کړے دے ابن عبد البر وئیلی دی چه ایوب سختیانی ددغے طاعون په زمانه کښې مړدے په ۱۳۲ هجری کښې او ابن قتیبه په معارف کښې ډ اصمعی نه نقل کړے دی چه دا طاعون ډعبد الله بن زبیر په زمانه کښې راغلے وو په ۶۷ هجری کښې او احتمال دے چه په دے تولو کالونو کښې طاعون واقع شوے وو او جارف ورته ددے وجے نه وائی چه ډجارف معنی ده صفا کونکے۔ او دے طاعون هم خلق صفا کړے وو یعنی ډیر خلق ئے هلاك کړے وو ابن قتیبه په معارف کښې ډ اصمعی نه نقل کړے دی چه ډټولو نه وړاندے په اسلام کښې طاعونِ عمواس په شام کښې واقع شوے وو ډحضرت عمرؓ په زمانه کښې او په دغے سره ابو عبیده بن الجراح او معاذ بن جبل او ددهٔ بی بی او لور رضی الله عنهم وفات شوے وو۔

بیا دویم طاعون جارف ډعبد الله بن زبیر په زمانه کښې واقع شوے وو بیا طاعون فتیات ولے چه دا واقع شوے وو په ځوانانو ښځو باندے په بصره او واسط او شام او کوفه کښې په دغه زمانه کښې حجاج ظالم په واسط کښې وو ډعبد الملك بن مروان په خلاف کښې او دے ته طاعون اشراف هم وائی ولے چه ډیر شریفان خلق په دے طاعون سره هلاك شوے وو۔

بیا طاعون عدی بن ارطات په ۱۰۰ هجری کښې واقع شوے وو بیا طاعون غراب په ۱۲۷ هجری کښې واقع شوے وو بیا طاعون مسلم بن قتیبه په ۱۳۱ هجری کښې واقع شوے وو ډ شعبان او ډ رمضان په میاشت کښې او ډشوال په میاشت کښې موقوف شوے وو او په دے کښې ایوب سختیانی مړ وو۔

او په مدینه او مکه کښې څه طاعون واقع شوے نۀ وو ابن قتیبه وئیلی دی او ابو الحسن مدائنی وئیلی دی چه په اسلام کښې پنځه طاعونه مشهور دی یو طاعون شرویه چه په مدائن کښې راغلے وو ډرسول الله ﷺ په زمانه ۶ هجری کښې دویم طاعون عمواس چه ډحضرت عمرؓ په زمانه کښې په شام کښې واقع شوے وو په دے کښې پنځه ویشت کسان مړهٔ وو دریم طاعون جارف ډعبد الله بن زبیر په زمانه کښې په ۶۹ هجری کښې راغلے وو په دے کښې په هره ورځ

دَدریو ورځو پورے اوبا زره کسان مړهٔ کیدل دانس بن مالك په کښې درے اتیا یا درے اویا ځامن مړه شوے وو .

خلورم طاعون فتیات چه په ۸۷ هجری کښې دوړوکی اختر په میاشت کښې واقع شوے وو پنځم طاعون په ۱۳۱ هجری کښې واقع شوے وو درجب په میاشت کښې او سخت شو په رمضان کښې ځو ورځے په دے طاعون کښے زر جنازے سکت المرید ته راتللے بیا په وړوکی اختر کښې کم شو او یو طاعون په کوفه کښې په ۵۰ هجری کښې راغلے وو چه په دے کښې مغیره بن شعبه وفات شوے وو.

او طاعون عمواس په ۱۸ هجری کښې واقع شوے وو او ابو زرعه وئیلے دی چه په ۱۷ هجری کښې واقع شوے وو او عمواس دَ یو کلی نوم دے چه دَ رمله او بیت المقدس په مینځ کښے دے۔ نو دَ قتاده پیدائش په دغه کلی کښې په ٦١ هجری کښې او وفات ئے په ۱۱۷ هجری کښې شوے دے په دے صورت کښې قاضی عیاض چه کوم تاریخ ددغه طاعون ۱۱۹ هجری بیان کړے دے غلط کیږی او دلته ضرور دَ دوو طاعونو نه یو طاعون مراد دے یا دَ ۲۷ هجری طاعون مگر دغه وخت دَ قتاده عمر صرف شپږ کاله راځی یا دَ ۲۷ هجری طاعون او هم دغه ظاهر دے ۔(نووی)

طاعون همیشه څه دَ یو قسم نهٔ وی بلکه دَ بیماریانو یو عمر دے هره یوه بیماری دَ خپل خپل عمر پورے وی وړومبی رو رو او لږه لږه ظاهره شی او بیا زور اونسی او بیا په قلاره بالکل دَدنیا نه ختمیږی په پخوا زمانه کښې به طاعون ثبورات او په دانو سره راتلو ننکی هم کهٔ چرے عامے شی نو ددے قسم نه دے بیا د طبے طاعون راغے او زمونږ په زمانه کښې دَسلو کالو راسے چه دیار لس سوه او یو هجری ده طاعون دَ قی او دست په خلقو راځی چه ورته هیضه وائی ۔

دا بیماری اوس زور نیسی په ولایتِ هند او عرب او نورو گرمو ملکونو کښې دا عارضه تقریبا هر کال څه نه څه وی دَ ۱۳۰۰ په آخر کښې په ولایتِ مصر کښې په ډیره سختنه سره شوے وو اوس گوری چه ددے عمر په دنیا کښې دَ کومے پورے دے۔

(۶۳)عَن هَمّام قَالَ دخل ابُو داؤد الْاَعْمى علىٰ قَتَادَةَ فلمّا قَامَ قَالُوا انّ هٰذَا يَزْعمُ انّهُ لَقِیَ ثَمانِيَۃَ عَشَرَ بَدْرِيًا فَقَالَ قَتَادةُ هٰذا كان سَائلاً قَبْلَ الْجَارِف لَايَعْرِف لشيءٍ مِّنْ هٰذا وَلَا يتكلّمُ فِيْه فوَاللّٰهِ مَا حَدَثَنَا

الحسن عَنْ بدرئ مُشافَهةً ولا حدّثنا سَعِيد بْن الْمُسيّب عَن بدرئ مُشافهةً الّا عن سعيد بْن المالِك

ترجمه : دَهمام نه روایت دے چه ابو داؤد اعمیٰ دَ قتاده خواله راغے هر کله چه هغه پاسیدو لاړو نو خلقو اووے دے وائی چه زهٔ دَ اتلسو صحابه کرامو سره ملاؤ شوے یم چه هغه دَ بدر په جنګ کښے شریك وو قتاده اووے دا خو دَ طاعون جارف نه مخکښ سوال کوو ددهٔ د حدیث روایت کولو کله خیال وو نهٔ چرته دهٔ خبرے اترے کړے دی په حدیث کښے قسم په خدائے چه حسن بصری (چه دَ ابو داؤد نه مشر او دَ حدیثو عالم وو) یو حدیث زمونږه نه نهٔ دے بیان کړے د چا بدری صحابی نه نهٔ سعید بن المسیب مګر دَ سعد ابی وقاص نه۔

فائده : نو هر کله چه دے دواړو صاحبانو چه دَ ابو داؤد په نسبت په عمر او علم کښے زیات وو۔ دَ چا بدری نه نهٔ اوریدلی سوا دَ سعد بن مالك نه یعنی سعد بن ابی وقاص نه نو ابو داؤد ولے دَ اتلسو صحابه کرامو نه واوریدو دا صرف بهتان او کذب دے دَ ابو داؤد۔ ددے ځائے نه دا خبره معلومه شوه چه حسن بصری دَ حضرت علی نه نهٔ اوریدلے دی او نهٔ ئے هغه لیدلے دے او دَ اکثر اهلِ حدیثو په دے باندے اتفاق دے او صوفیه سماع دَ حسن بصری دَ حضرت علیؓ نه بیانوی په دے بناء باندے دَ تصوف سلسله قائموی۔

(۲۵)عَنْ رقَبةَ انّ ابا جَعْفر الْهَاشمِی الْمدائنیّ كانَ يضع اَحادِيْث كَلام حقّ ولَيْسَتْ مِن اَحادِيْث النّبِی ﷺ وكان يَرْوِيهَا عَنِ النّبِیّ ﷺ :

ترجمه :رقبه بن مسقله بن عبد الله کوفی وئیلے دی چه ابو جعفر هاشمی مدنی (چه نوم ئے عبد الله بن مسور مدائنی دے) به دَ رښتیا رښتیا خبرو نه حدیث جوړوو او نقل کوو به ئے هغے لره دَ رسول الله ﷺ نه ۔

فائده : یعنی خبره به ئے دَ رښتیا او دَ حکمت نقل کوله مګر غضب به ئے دا کوو چه هغے لره به ئے دَ رسول الله ﷺ فرموده وئیله۔

(۲۶)عن يونس بن عبيد قال كان عمر بن عبيد يكذب فى الحديث :

ترجمه : دَیونس بن عبید نه رایت دے چه عمر بن عبید به په حدیثو کښے دروغ وئیلو ۔

فائده : دا عمر بن عبید هغه سړے دے کوم چه د حسن بصری په صحبت کښے اوسیدو بیا قدری او معتزلی شو۔

(۶۷)عَن مُعاذ بن مُعاذ يقولُ قلتُ لعوْف بن ابى جميلة انّ عمرو بن عُبَيد حدّثنا عن الحسن انّ رَسُوْل اللّهِ ﷺ قالَ من حمل علينا السّلاح فليس منّا قال كذب و اللّه عمْرو ولكنّه اراد انْ يَحُوْز اِلى قوْله الخَبِيث:

ترجمه : دَ معاذ بن معاذ نه روایت دے چه ما عوف بن ابی جمیله ته اووے چه عمر بن عبید زمونږه نه حدیث بیان کړے دے دَ حسن بصری نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه کوم سړے مونږ پسے هتیار اوچت کړی (یعنی دَ مسلمانانو په قتل باندے بغیر د څه وجے شرعی نه راضی شی) هغه زمونږه نه نۀ دے عوف وئیلے دی چه قسم په خدائے عمرو دروغجن دے دَهغه مقصد ددے حدیث دَ روایت کولو نه دادے چه خپل ناپاك اعتقاد لره په دے سره ثابت کړی۔

فائده : دا حدیث صحیح دے او په څو طریقو سره روایت دے په خپله امام مسلم وړاندے دے لره نقل کړے دے مګر عوف چه دَ حسن بصری مصاحب وو دا غرض دے چه حسن دے حدیث لره نقل کړے نۀ دے نو دَ عمرو بن عبید دَ حسن نه روایت کول غلط او دروغ پاتے شو عمرو بن عبید چونکه دَ معتزلو دَ مذهب امام وو دَهغه اعتقاد دا وو چه کوم مسلمان کبیره ګناه اوکړی هغه نۀ مسلمان دے او نۀ کافر دَاسلام او دَ کفر په مابین کښے یے یوه بله واسطه راوستلے وه او وئیل به یے چه کبیره ګناه کونکے به هم دَ کافر په شان همیشه همیشه په جهنم کښے وی دے حدیث لره هغه دَ خپل مذهب دَ ثابتولو دپاره روایت کړے دے په ظاهر ددے حدیث نه دا خبره معلومیږی چه په مسلمان پسے اسلحه اوچتونکے زمونږ نه نۀ دے یعنی مسلمان نۀ دے او په مسلمان باندے اسلحه اوچتول کبیره ګناه ده نو ددے نه دا معلومه شوه چه کبیره ګناه کونکے مسلمان نۀ دے۔ او کافر هم نۀ دے بیا څه شو نۀ مسلمان نۀ کافر دا د عمرو بن عبید مذهب دے او اهل سنت دا وائی چه انسان یا کافر دے او یا مسلمان دے او کبیره ګناه کونکے مسلمان دے مګر ګنهګار۔ دَ خدائے پاك اختیار دے چه دَ قیامت په ورځ د هغه ګناه معاف کړی یا د څو ورځو دپاره دَ جهنم عذاب ورکړی مګر هغه به یو نه یو ورځ دَ جهنم نه راووځی او جنت ته به لاړ شی ولے چه

ایمان دَهغه قائم وو بیا به هغه نهٔ ضائع کیږی او وړاندے به په کتاب الایمان کښے ان شاء الله ډیر حدیث بیان شی چه په هغے سره دَ معتزلو د مذهب رَدْ دے او ددے حدیث مطلب دادے چه کوم سړی په مسلمان پسے هتیار اوچت کړو هغه زمونږ په طریقه او زمونږ په لاره باندے نهٔ دے لکه خنګه چه پلار خپل شریر او نافرمان بچی ته وانی په غصه کښے چه تهٔ زما خوے نهٔ یے په دے شان دَ حدیث نه تشدد او سختی مراد ده او مقصود ئے دادے چه خلق په مسلمان باندے د هتیار دَ اوچتولو نه ځان بچ کړی او نظیر ددے په نورو احادیثو کښے هم موجود دے لکه من غش فلیس منا یعنی څوك چه په خرید او فروخت کښے دهوکه کوی هغه زمانړه نه نهٔ دے (نووی)

(۲۸) عَنْ حمّاد بْن زَیْد قَالَ کَانَ رجلٌ قَدْ لَزِمَ ایُّوب وسمعَ منهُ ففقدهٔ ایُّوب فقالُوا یا ابابکْر انه قد لَزِمَ عَمْرو بْن عُبَیْد قَالَ حمّاد فَبَیْنَا انَا یومًا مع ایُّوب وقد بکرنا الی السّوق فاسْتقْبلهُ الرّجلُ فسلّم علیْهِ ایُّوب وسَالهُ ثم قال لهٗ ایُّوب بلَغنیْ انّک لزمْت ذالِک الرّجُل قال حمّاد سمّاهُ یعْنی عَمْروا قال نعَمْ یا ابا بکْرَ انه یجیْئنا باشْیَاء غرائب قال یقُولُ لهٗ ایُّوب انما نفِرُّ اوْ ونفرقُ منْ تلْک الْغرائب:

ترجمه: دَ حماد بن زید نه روایت دے چه سړے به همیشه دَ ایوب سختیانی په مجلس کښے پاتے کیدو نو دَهغه نه به ئے حدیث اوریدل یو ځل ایوب هغه لره اونهٔ مندو نو تپوس ئے اوکړو خلقو اووے اے ابو بکر (دادَ ایوب سختیانی کنیت دے) هغه سړے اوس دعمرو بن عبید په مجلس کښے اوسیږی حماد اووے یوه ورځ زهٔ دَ ایوب سره سحر وختی بازار ته روان وُم په دے کښے هغه سړے مخے ته راغے ایوب هغه ته سلام اوکړو بیا ئے ورته اووے چه ما اوریدلے دی چه تهٔ دَ عمرو بن عبید سره اوسیږے هغه اووے چه او اے ابو بکر! ولے چه هغه مونږ ته عجیبه خبرے اوروی ایوب اووے چه مونږه دداسے ناشنا خبرو نه تنبیه کوو.

فائده: یعنی غریب او نادر حدیثو لره چه هغے لره نور څوك نهٔ پیژنی او عمرو بن عبید هغے لره روایت کوی ددے دَپاره چه هغه دروغجن دے او د عمر بن عبید اعتبار نشته.

(۲۹) عَنْ حمّاد قال قیل لایُّوبَ انّ عَمْرو بْن عُبَیْد رَوٰی عنِ الْحسن قال لا یُجْلد السّکْران من النّبِیْذ فقالَ کَذَبَ انا سمعتُ الْحسَن یقُولُ یُجلد السّکْران من النّبیْذ:

ترجمه : دَحماد نه روایت دے چه ایوب ته چا اووے چه عمرو بن عبید د حسن نه روایت کړے دے چه کوم سړے په نبیذ څکلو سره نشه شی، (نبیذ یو قسم شراب چه د خرما او دَ اوریشو نه جوړیږی) نو په هغه به حد نهٔ شی جاری کولے ایوب اووے چه عمرو بن عبید دروغجن دے حسن وئیلے وو چه کوم سړے په نبیذ سره نشه شی په هغه باندے به حد جاری کولے شی۔

(۷۰)عَن سَلاّمِ بنِ ابی مُطِیع یقول بلغ ایُّوب انّی اتی عمرا فاقبل علی یوما فقال ارأیت رجلاً لا تأمنه علی دِینِه کَیف تَأمَنُه علی الحَدِیث؟ :

ترجمه : دَسلام بن ابی مطیع نه روایت دے چه ایوب ته خبر اورسیدو چه زهٔ دَ عمرو بن عبید خواله ځم نو هغه یوه ورځ ماته راغے او راته ئے اووے تهٔ څه پو هیږے چه دَ کوم سړی په دین باندے ستا بهروسه نهٔ وی نو ولے دَهغه په حدیث باندے تهٔ بهروسه کولے شے۔

(۷۱)عَنْ اَبِی موسٰی یقُولُ لنَا عَمْرو ابن عُبَیْد قَبْل انْ یُحَدّث عَن مُعاذ الْعَنْبرِیَ قَال کتبتُ اِلٰی شُعْبَة اَسَالُهٗ عَنْ اَبِی شَیْبَة قَاضِی وَاسِط فَکَتَبَ اِلَیّ لا تکْتُبُ عَنْهُ شیْئًا ومَزّق کِتَابِی:

ترجمه : ابو موسی وئیلے دی چه ماته حدیث بیان کړے دے عمرو بن عبید وړاندے ددے نه چه هغه نوے خبرے ظاهرے کړے (یعنی دَ بد اعتقادی نه وړاندے)

معاذ بن عنبری وئیلے دی چه ما شعبه ته اولیکل چه ابو شیبه واسط (دادیو کلی نوم دے دَ بصرے سره) دَ قاضی څه حال دے هغوی په جواب کښے اولیکل چه ددهٔ نه څه روایت مهٔ کوه۔او اشلوه زما دے خط لره۔

فائده : ددے دَپاره چه څوك اونهٔ وینی او داسے اونهٔ شی چه ابو شبیه ته خبر ورکړی او هغه ایذاء ورکړی او فساد خور کړی دا ابو شیبه دَ ابوبکر شیبه او دَ عثمان بن ابی شیبه نیکهٔ دے ۔ د محدثینو په نزد باندے متروك دے او دَ هغه نمسے معتبر او ثقه دے خصوصا ابو بکر بن ابی شیبه چه دَهغه مصنف مشهور دے دے ابو شیبه هغه حدیث روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ په رمضان کښے شل رکعته تراویح لوستلے دی ذهبی وئیلے دی چه دا حدیث دَ ابو شیبه دَ منکر احادیثو نه دے۔

(۷۳)عن عفان قال حدثنا حماد بن سلمة عن صالح المري بحديث عن ثابت فقال كذب وحدثنا همامًا عن صالح المري بحديث فقال كذب:

ترجمه : دعفان نه روايت دے چه ما حماد بن سلمه ته يو حديث دصالح مرى چه هغوى دثابت نه نقل كړے وو بيان كړو حماد اووے دروغ دى بيا به همام ته يو حديث بيان كړو دصالح مرى نو هغوى اووے دروغ دى۔

فائده : دا صالح مرى د بشر ځوے بصرى دے دلويو ابدانو او زاهدانو نه دے او مرى ورته ددے وجے نه وائى چه پلار ددهٔ عربى وو او مور نے وينځه وه چه هغے لره د بنى مره يو ے ښځے ازاد كړے وه دصالح مرى حكايتونه په صوفيانو كښے ډير مشهور دى. آواز دهغه زيات خوږ وو قرآن به ئے ډير په خوش آوازۍ سره لوستو تر دے پورے چه دهغه په قرآن اوريدو سره بعضے خلق د يريے نه مړه شوے دى دے په خپله ډير صالح او اسم با مسمىٰ او خدا ترس وو.

اكثر به ئے دخدائے د يريے نه ژړا كوله مګر د حديثو په روايت كښے دهغه اعتبار نشته لكه څنګه چه وړاندے بيان شو چه درويشى ځان له څيز دے او دحديثو روايت ځان له څيز دے۔

(۷۴)عن ابي داؤد قال قال لي شعبة ائت جرير ابن حازم فقل له لا يحل لك ان تروي عن الحسن ابن عمارة فانه يكذب قال ابو داؤد قلت لي شعبة وكيف ذاك قال حدثنا عن الحكم باشياء لم اجد لها اصلاً قال قلت باي شيئ قال قلت للحكم اصلى النبي ﷺ على قتلى احد فقال لم يصلى عليهم فقال الحسن بن عمارة عن الحكم عن مقسم عن ابن عباس ان النبي ﷺ ودفنهم قلت للحكم ماتقول في اولاد الزنا قال يصلى عليهم قلت من حديث من يروى عن الحسن البصرى فقال الحسن بن عمارة حدثنا الحكم عن يحيى بن الجزار عن علي رضي الله عنه:

ترجمه : دابو داؤد نه روايت دے چه ماته شعبه اووے ته جرير بن حازم له لاړ شه او ورته اووايه چه تا لره درست نهٔ دى دحسن بن عمار نه روايت كول ولے چه هغه دروغ وائى.

ابو داؤد وائى چه ما د شعبه نه تپوس اوكړو تاته څنګه معلوم شوه چه هغه دروغ وائى؟ شعبه اووے چه حسن بن عماره د حكم نه څو حديثونه نقل كړى دى چه دهغے څه اصل ما څهٔ اونهٔ

مړ سړو ما اووے هغه کوم حدیثونه دی؟ شعبه اووے چه ما د حکم نه تپوس اوکړو چه آں حضرت ﷺ د احد په شهیدانو باندے مونځ لوستلے وو؟ هغه اووے چه نه بیا حسن بن عماره د حکم نه روایت کړے دے هغه د مقسم نه او هغه د ابن عباسؓ نه چه رسول الله ﷺ مونځ لوستلے دے د احد په شهیدانو باندے او دفن کړی نے دی هغوی لره او ما حکم نه اووے چه ته د زنا د اولاد په حق کښے څه وائے؟ ما اووے د څنه روایت شوے دے په دے باب کښے؟ هغه اووے د حسن بصری نه. حسن بن عماره اووے ماته حکم بیان کړے دے هغه د یحیی بن جزار نه اوریدلی دی او هغه د حضرت علی نه.

فائده : نو په دے دواړو مقاماتو کښے د حسن بن عماره دروغ ظاهر شول ولے چه شعبه په خپله د حکم سره ملاؤ شو او تپوس نے ترے اوکړو هغوی اووے چه رسول الله ﷺ د احد په شهیدانو باندے مونځ نه دے لوستلے بیا حکم پخپله څنګه روایت کوی دابن عباس نه چه رسول الله ﷺ مونځ لوستلے دے په هغوی باندے. په دے شان حکم په ولد زنا باندے دنماز جنازے دلوستلو په باره کښے د حسن بصری قول نے نقل کړے دے او حسن د هغه نه د حضرت علیؓ قول نقل کړے دے اګر چه احتمال دے چه په دے باب کښے د حسن او دعلی د دواړو قول نقل شوے وی مګر د حدیثو حافظان دراویانو د دروغو او دلائلو او قرائنو نه پیژندلے شی دا حسن بن عماره بجلی ابو محمد کوفی دے دقاضی بغداد او په اتفاق سره ضعیف دے او متروک دے

(د۔) عن یزید بن هارون و ذکر زیاد بن میمون فقال حلفت ان لا اروی عنه شیئا و لا عن خالد بن محدوج و قال لقیت زیاد بن میمون فسالته عن حدیث فحدثنی به عن بکر المزنی ثم عدت الیه فحدثنی به عن مورق ثم عدت الیه فحدثنی به عن الحسن و کان ینسبهما الی الکذب قال الحلوانی سمعت عبد الصمد و ذکرت عنده زیاد بن میمون فنسبه الی الکذب.

ترجمه : یزید بن هارون ذکر کړے دی د زیاد بن میمون نه او قسم نے کړے دے او ویلے نے دی چه د دهٔ نه به څه روایت نهٔ کووم او نهٔ به د خالد بن محدوج نه. یزید وائی چه زهٔ د زیاد بن میمون سره ملاؤ شوم او د هغه نه مے د یو حدیث تپوس اوکړو هغه روایت کړو هغے لره د ابو بکر بن عبد الله

مزنی نه بیا زهٔ دَ هغه سره ملاو شوم نو روایت اوکړو ددے حدیث د مورق بن شمر نه بیا زهٔ دَهغه سره ملاو شوم نو روایت ئے اوکړو ددے حدیث دَ حسن نه۔ او یزید بن هارون په دغه ورځو زیاد بن میمون او خالد بن مجدوح ته دروغجن وئیلو حسن حلوانی وئیلے دی چه ما دَ عبد الصمد نه اوریدلے دی، ما ذکر اوکړو دَ زیاد بن میمون نه هغوی اووے دروغجن دے:

فائده : زیاد بن میمون بصری چه کنیت ئے ابو عمار دے ضعیف دے۔ بخاری په خپل تاریخ کښے فرمائیلے دی چه دهٔ لره پریخودے دے محدثینو۔ او خالد بن مجدوح واسطی هم ضعیف دے نسائی دهٔ لره ضعیف کړے دے کنیت ددهٔ ابو روح دے او دهٔ لیدلے دے انس بن مالك لره۔

(۷۶)عَن مَحْمُود بُن غَيْلان قَالَ قلتُ لاَبِى دَاوٗد الطَّيَالِسِىّ قَد اَكْثَرت عَن عبَّاد بُن مَنْصُور فَمَالِكَ لم تَسْمَع منه حَديث العطَّارة الَّذى روىٰ لَنَا النَّضر بُن شُمَيْل فَقَالَ لى اسْكُت فانا لِقِيتُ زياد بُن مَيْمُون وعبد الرَّحمان بُن مَهْدِىّ فَسَالْنَاهُ فقُلنا لهُ هذه الْاَحَاديْث الَّتى تَرْوِيْهَا عَن انس بُن مَالك فقَالَ ارئيتُمَا رجُلاً يذنب فيتوبُ اَلَيْس يتوب اللّٰه عليْه قَالَ قُلْنَا نعَم قَالَ مَا سَمِعْتُ مِن اَنَس مِن ذَا قليلاً وَلاَ كَثِيْرًا اِنْ كَان لا يَعْلَمُ النَّاس فَاَنْتُمَا لاَ تَعْلَمَانِ اِنّى لم الْق اَنَسًا قَالَ ابُو دَاوٗد فَبَلَغَنَا بَعْد انه يَرْوِى فَاَتَيْنَاه اَنَا وَعَبْدُ الرَّحمان فَقَالَ اَتُوبُ ثمّ كَانَ بَعْد يحدّث فَتَرَكْنَاه:

ترجمه : دَمحمود بن غیلان نه روایت دے چه ما ابو داؤد طیالسی ته اووے چه تا دَ عباد بن منصور نه ډیر زیات روایتونه کړی دی نو څه سبب دے چه تا هغه حدیث نهٔ دے اوریدلے دَ عطار ښځے چه دکوم روایت کړے دے نظر بن شمیل زمونږ دپاره هغوی اووے چُپ شه زهٔ او عبد الرحمان بن مهدی دواړه دَ زیاد بن میمون سره ملاؤ شو او دُ هغه نه مو تپوس اوکړو دَهغه احادیثو چه هغه روایت کړے دی دَ انس بن مالك نه هغه اووے چه تاسو څه پو هیږی کهٔ چرے سړے ګناه اوکړی او بیا توبه اوکړی نو ولے خدائے پاك به ئے نهٔ معاف کوی؟ عبد الرحمن اووے البته معاف به ئے کړی زیاد اووے چه ما دانس نه څهٔ نهٔ دی روایت کړے نهٔ لږ او نهٔ ډیر کهٔ چرے خلق دا خبره نهٔ پیژنی نو ولے تاسو به ئے هم نهٔ پیژنی (یعنی تاسو خو ئے پیژنی) زهٔ دَانس سره

ملاؤ شوے قدرے نۀ یم ابو داؤد ونیلي دي چه بیا مونږ ته خبر رااورسیدو چه زیات روایت کوي د انس نه زۀ او عبد الرحمان واپس شو هغه اووے چه زۀ توبه کووم بیا هغه ددے نه پس دَ هغه نه روایت کوو آخر مونږه هغه پریخودو ۔یعنی ددۀ نه مو روایت کول پریخودل ولے چه هغه دروغجن اوختو او دروغجن همداسے چه دَتوبے خیال ئے هم پریخودو۔

فائده : دَهغه عطارنی حدیث دادے چه یوه ښځه وه په مدینه کښے عطارنی چه دَهغې نوم حولاء وو هغه رسول اللهﷺ لله راغله نو د حضرت عائشےؓ سره ملاؤ شوه او د خپل خاوند حال ئے ورته بیان کړو هغې ورته دَ خپل خاوند بزرګیانے اوښودلے دا حدیث ډیر اوګد دے او صحیح نۀ دے ابن وضاح دے لره پوره ذکر کړے دے او روایت کړے دے ئے دے دے حدیث لره زیاد بن میمون د انس رضی الله عنه نه۔

(٣٣)عن شبابة قال كان عبد القدوس يحدثنا فيقول سويد بن عقلة قال شبابة وسمعتُ عبدُ القُدوس يقولُ نهى رسولُ اللهﷺ ان يَتخِذ الرّوح غرَضا قال فقِيل لهُ اىّ شيٍ هذا قالَ يَعْنِي يَتّخِذ كُوّةً فِي حائط ليدْ خل عليه الرّوْح قال وَسَمِعتُ عُبيْد الله بْن عُمَرَ القَواريرىّ يقُول سمعتُ حمّاد بْن زَيْد يقُول لرجل بعْد ما جَلَس مهْدِىّ بْن هِلاَل باَيّام مَاهذه العيْن المَالِحة الّتى نبعت قبلكُم قَالَ نَعَمْ يَا اَبَا اسماعيْل:

ترجمه : د شابه بن سوار مدائنی نه روایت دے چه عبد القدوس مونږه ته حدیث بیانول نو ونیلے ئے وو سوید بن عقله او ونیلے ئے وو چه منع کړے ده رسول اللهﷺ روح یعنی هوا لره په عرض کښے د اخستو نه۔

خلقو اووے ددے مطلب څه دے هغه اووے مطلب دادے چه په دیوال کښے یو سورے اوکړے دَهوا دَ راتلو د پاره امام مسلمؒ فرمائی چه ما اوریدلے دی دَ عبد الله بن عمر قواریری نه او هغوی اوریدلے دی د حماد بن زید نه ۔ هغوی یو سړی ته اووے هر کله چه مهدی بن هلال دَ څو ورځو پورے کیناستو دا څنګه ترخه چینه ده چه ماته شوه ستاسو په طرف هغه سړی اووے ها اے ابو اسماعیل:

فائده: دا قول دَ عبد القدوس تصحیف او نافهمی ده هغه غلطی کړے ده په سندونو او متن دوارو کښے دَسندونو غلطی خو داده چه دَراوی نوم سوید بن عقله دے دَ عین او قاف سره، نهٔ دَعین او دَ قاف سره عقله۔ او دَ متن غلطی داده چه روح په ضمے دَراء سره دے په معنی دَ جان نهٔ روح په فتحے دَراء سره په معنی دَهوا سره چه دَهغے معنی هوا ده او غرض دَ غین سره دے نهٔ چه عرض دَعین سره دے او اصل معنی دَحدیث داده چه هغه منع کړے دی هر جاندار لره نشانه جوړول او وژلو نه چه هغے لره عبد القدوس التِه پلتِه کړو او دَ یو ځائے نه ئے بل ځائے ته کړو ابو اسماعیل کنیت دے دَحماد بن زید دَ ترخے چینے نه دَ هغه غرض دَمهدی بن هلال ضعیف کول وو، او اتفاق کړے دے محدثینو دَ هغه په ضعف باندے نسائی وئیلی دی چه هغه دَ بصرے لوسیدونکے او متروک دے روایت کوی دَداؤد بن ابی هند او یونس بن عبید نه۔(نوویؒ)

(۷۸)عن ابی عوانة قال ما بلغنی عن الحسن حدیث الا اتیت به ابان بن ابی عیاش فقرأه علی:

ترجمه : دَابو عوانه نه روایت دے چه ماته دَ حسن نه څه روایت نهٔ دے رارسیدلے مگر ماتپوس اوکړو دَابان بن ابی عیاش نه هغه اولوستو هغے لره زما په مخکښں۔

فائده : یعنی دَابان دا حال وو چه دکومے خبرے تپوس به دے دَ هغه نه کوو هغه به روایت کوو دَحسن نه او دا دلیل دے دَهغه دکذب او دروغو وئیلو په تقریب کښے دی چه دَابان بنَ ابی عیاش ددهٔ کنیت ابو اسماعیل عبدی دے او دا متروک دے۔

(۷۹)عَن عَلِیّ بْن مُسْهِر قَال سمعتُ انا وحمزة الزَّیَّات من اَبَان بْن اَبِیْ عَیَاش نَحْوا مِن اَلْف حَدِیْث قَال عَلِیّ فَلَقِیْت حَمزة فَاَخبرنِی انه رَاَی النَبِیَّ ﷺ فِی الْمَنَامِ فَعَرَضَ علیهِ مَاسَمِع مِن اَبَان فَمَا عرف مِنْها الاشیئًا یَسِیْرا خَمْسَةاَوْ ستَةً:

ترجمه : دَعلی بن مسهر نه روایت دے چه ما او حمزه زیات دَابان بن عیاش نه تقریبا یو زر احادیث اوریدلے دی علی وائی چه بیا دَحمزه سره ملاؤ شوم هغه بیان اوکړو چه ما رسول اللهﷺ په خوب کښے اولیدو او څه چه مے دَابان نه اوریدلے وو هغه مے ورته واورول هغه اونهٔ پیژندل دے حدیثو لره مگر لږ شان احادیث ئے قبول کړل پنځه یا شپږ۔

فائده : نووی فرمائیلے دی چه مقصود ددے روایت په راوړلو سره تائید دے دَ هغه امر کوم چه ورانده ثابت شو چه ابان بن ابی عیاش ضعیف دے نۀ دا خبره چه دَخوب نه څه امر یقینا ثابت کیدے شي یا په خوب سره څۀ سنت کوم چه ثابت شوے دی باطلیږی یا چه کوم باطل شوی دی هغه ثابت کیدے شي او په دے باندے دَ علماؤ اجماع ده چه خوب څه دلیل شرعی نۀ دے داسے وئیلے دی قاضی عیاض. او زمونږه ملګرو هم داسے وئیلے دی او اتفاق ئے کړے دے په دے باندے چه دَخوب نه څه خبره دَشرعے نه څه بدل نۀ شی کیدے او دا امر ددے حدیث خلاف نۀ دے چه چا زۀ په خوب کنبے اولیدم نو هغه زۀ خا مخا اولیدم ولے چه شیطان زما صورت نشی اختیارولے ددے دَپاره چه دَحدیث مطلب دادے چه محمد ﷺ په خوب کنبے لیدل صحیح دی دغه خوب دَشیطان دَنورو خیالاتو په شان نۀ دے مګر دَحدیث نه دا خبره چرته وئیلے کیږی چه په خوب کنبے څه اوئیلے شی هغه یو شرعی حکم دے او دَ خوب حالت دَغفلت حالت دے نۀ دَضبط او تحقیق اتفاق کړے دے علماؤ چه دَروایت او شهادت دَقبلولو دَپاره ضروری ده چه راوی او شاهد بیدار او هوښیار صحیح الحفظ او قلیل الخطاء به وی او کوم سړے چه اوده وی او په هغه کنبے دا یو صفت نۀ وی نو بیا به دَهغه روایت څنګه مقبول شی مګر دا ټول بیان په دے صورت کنبے دے چه په خوب کنبے څه داسے خبره اوګوری یا واوری چه هغه دَ شرعے نه خلاف وی ها کۀ چرے هغه خبره واوری یا اوګوری چه کومه دَ شرعے دَ طرف نه جائز یا دَثواب وی یا تالره منع کول اووینی دَداسے کار نه چه دَ شرعے دَطرف نه منع وی یا دداۀ څه دنیاوی کار وی چه په هغے کنبے څه مصلحت وی نو بالاتفاق په دے خوب باندے عمل کول مستحب دی ولے چه دا حکم صرف دَخوب نه ثابت نۀ دے هغه خو دَ ورانده نه ثابت شوے دے۔ (انتهیٰ)

مترجم وائی کۀ چرے دَ خوب خبرو لره دلیل شرعی اوګنړلے شی نو لوے قباحت پیدا کیږی هغه دا چه هر سړے به دعویٰ کوی چه ما خوب کنبے دَحضرت محمد ﷺ نه داسے اوریدلے دی بیا به دَهغے تصدیق ګران وی او په دے کنبے شك نشته چه کوم خلق صالح او دینداره او خدا پرست عاشقِ رسول ﷺ دی دَهغوی خوبونه اکثر صحیح وی بیا دَهغے صحت دَ شرعے نه معلومیدے شی۔ نۀ دَ شرعے صحت دَ خوب نه۔

(۸۰)عن زکریا بن عدی قال قال لی ابو اسحاق الفزاری عن بقیة ما روی عن المعروفین ولا تکتب عنه ما روی عن غیر المعروفین ولا تکتب عن اسماعیل بن عیاش ما روی عن المعروفین ولا عن غیرهم: [ترمذی: ۲۸۵۹]

ترجمه : دَ زکریا بن عدی نه روایت دے چه ماته اووے ابو اسحاق فزاری (ابراهیم بن محمد بن حارث بن اسماء بن خارجه کوفی چه دَحدیثو لوے امام وو او ثقه او فاضل وو) چه لیکه ته د بقیه بن ولید هغه حدیث چه هغه نے روایت کړی د هغه مشهورو خلقو نه او هرگز مهٔ لیکه تهٔ دَاسماعیل بن عیاش نه حدیث اگر کهٔ هغه روایت اوکړی دَ مشهورو خلقو نه هم۔

فائده : نووی فرمائی دا قول دَ ابو اسحاق دَ اسماعیل بن عیاش په حق کښے خلاف دے لو د امامانو دَحدیثو۔ عباس وئیلے دی چه ما دَ یحیٰی بن معین نه اوریدلے دی هغه وئیلے وو چه اسماعیل بن عیاش ثقه دے او دَ شام والو په نزد باندے هغه دَ بقیه نه بهتر وو ابن ابی خیثمه وائی چه ما دَ یحیٰی بن معین نه اوریدلے دی چه هغه وئیلے وو اسماعیل بن عیاش ثقه دے او عراق والا بد گنړلو دَهغه روایت لره او بخاری وئیلے دی چه دَ اسماعیل بن عیاش روایت دَشام دَخلقو نه صحیح دے او هر کله چه دَ اهلِ مدینه نه لکه هشام بن عروه او یحیی بن سعید او سهیل بن ابی صالح نه روایت کوی نو هغه څه نهٔ دے او یعقوب بن سفیان وئیلے دی چه ما دَخپلو یارانو نه اوریدلے وو هغوی وئیلے وو چه دَشام علم دَاسماعیل بن عیاش سره دے یعقوب وائی چه بعضے خلقو دَ اسماعیل په حق کښے کلام کړے دے او هغه ثقه دے او عادل دے دَتولو نه زیات پو هه دے دَشام والا په حدیثو باندے۔ او اکثرو ددهٔ په حق کښے دا کلام کړے دے چه هغه غریب احادیث روایت کوی۔

دَ مکے او مدینے د معتبرو خلقو نه یحیی بن معین وئیلے دی چه اسماعیل ثقه دے دَ شام والو نه په روایت کولو کښے او دَ اهلِ حجاز نه دَهغه روایت معتبر نهٔ دے ولے چه ددهٔ کتاب تلف شوے وو او حافظه نے خرابه شوے وه۔ ابو خاتم وائی هغه ضعیف دے مگر دَهغه روایت لیکے شی او زهٔ نهٔ پو هیږم چه څوك راوُختے دے ددهٔ دَروایت نه سوا د ابو اسحاق فزاری نه ترمذی وئیلے دی چه هغه دَ بقیه نه بهتر دے او دَ بقیه ډیر احادیث منکر دی۔ احمد بن ابی الحواری وائی چه

وکیع ماته اووے چه ستا نه دلته خلق روایت کوی دَاسماعیل بن عیاش نه ما اووے ها ولید او مروان خو دواړه نه روایت کوی او هیثم او محمد بن ایاس روایت نهٔ کوی هغوی اووے چه هیثم او محمد بن ایاس څه دی بنار والا خو او ولید او مروان دی (یعنی ولید او مروان معتبر دی۔ او هر کله چه دا روایت کوی نو پوره دے۔(امام نوویؒ)

(۸۱)عَنْ عبد اللّٰه بْن الْمُبَارَکِ قال نِعْم الرّجُل بَقِیّة لَوْلَا انّه یکنی الْاسامی وَیسمّ الْکنی کَان دَهْرا یُحَدّثُنَا عَن اَبِی سعِیْد الْوحَاظی فنظرْنَا فَاِذَا هُو عَبْدُ الْقُدُوس:

ترجمه : عبد اللّٰه بن مبارك وائی چه بقیه بن ولید ښهٔ سړے وو کهٔ چرے هغه نومونو لره په کنیت سره نهٔ بیانولے او کنیت لره په نومونو سره (یعنی په بقیه کښے دا عادت خراب دے چه تدلیس او تلبیس کوی۔ دَراویانو دَ عیب دَ پټولو دَپاره نوم لره په کنیت سره بدلوی او کنیت لره په نوم سره ددے دَپاره چه خلق ئے نهٔ پیژنی دَیوے مُدے پورے ئے مونږ ته احادیث بیانول دَابو سعید حاظی نه هر کله چه مونږ غور اوکړو (چه حاظی څوك دے) نو معلومه شوه چه هغه خو عبد القدوس دے۔

فائده : یعنی عبد القدوس بن حبیب کلاعی ابو سعید شامی چه بیان ئے وړاندے تیر شو دَهغه نوم مشهور دے او کنیت ئے مشهور نهٔ دے نو بقیه هغه لره په کنیت سره ذکر کول شروع کړل ددے دَپاره چه خلق ئے او نهٔ پیژنی۔

(۸۲)عَن عبد الرزّاق یقُول مارایت ابْن الْمُبارک یفْصح بقوله کذّاب الا لِعَبْد الْقُدوْس فانّی سمعْتُهٗ یقُول لهٗ کذّابٌ :

ترجمه : د عبد الرزاق نه روایت دے چه ما نهٔ دی اوریدلے دَ عبد الله بن مبارك نه چه چاته ئے صفا دروغجن ونیلے وی مگر عبد القدوس ته به هغه ونیل چه دروغجن دے۔

(۸۳)عَنْ ابی نَعِیْم و ذکر الْمعلّی بْن عِرْفان فقالَ قال حدّثنا اَبو وَائل قَالَ خرجَ علیْنَا ابْن مَسْعُود بصفّین فَقالَ ابُو نَعِیْم اَتراهُ بَعْث بَعْد الْمَوْت:

ترجمه : ابو نعیم ذکر اوکړو دَ معلے بن عرفان نو اووے ونیل چه معلے وائی چه ماته حدیث بیان

کړے دے ابو وائل چه راوتلے وو زمونږه مخے ته عبد الله بن مسعودؓ په صفین کښے ابو نعیم اووے چه مړ وی او بیا د قبر نه پاخیدلے وی۔

فائده : مقصود ددے نه دَ عبد الله دروغ ظاهره ول دی په ابو وائل باندے په دے واسطه چه عبد الله بن مسعود وفات شوے دے په ۳۲ هجری کښے او یا په ۳۳ هجری کښے د حضرت عثمانؓ دَ وفات نه درے کاله وړاندے او صفین جنګ د حضرت علیؓ د خلافت نه دوه کاله ورستو شوے دے نو ابن مسعود په دے کښے څنګه راوتلے شی مګر په دے شان کۀ چرے بیا راپاسیدلے وی او ابو وائل ثقه او فاضل دے دَ هغه نه دا دروغ نشی صادر کیدے نو ضروری خبره ده چه معلی دروغ وئیلے دی دا معلی بن عرفان اسدی کوفی دے چه په اتفاق سره ضعیف دے بخاری په تاریخ کښے وئیلے دی چه هغه منکر الحدیث دے نسائی هم ضعیف کړے دے صفین دَیو مقام نوم دے چه هلته دَ حضرت علی او حضرت معاویه رضی الله عنهم په مابین کښے جنګ واقع شوے وو۔

(۸۴)عن عفان بن مسلم قال کنّا عند اسمعیل بن علیة فحدّث رجل عن رجلٍ فقلت انّ هذا لیس بثبت قال فقالَ الرّجل اِغتبْتَهٗ فقال اِسماعیل مَا اغتابهٗ ولکنه حکَم انه لیس بثبتٍ :

ترجمه : دَعفان بن مسلم نه روایت چه مونږه دَ اسماعیل بن عطیه سره ناست وو په دے کښے یو سړی دَ بل سړی نه یو حدیث روایت کړو ما اووے هغه معتبر نۀ دے هغه سړی اووے تا دَ هغه غیبت اوکړو اسماعیل اووے دۀ غیبت نۀ دے کړے بلکه حکم ئے اولګوو په دۀ باندے چه معتبر نۀ دے۔

فائده : یعنی د حدیثو دَ امامانو په چا باندے جرح کول په غیبت کښے داخل نۀ دی بلکه مثال ئے دَ فتوے او حکم دے۔

(۸۵)عن بشر بن عُمر قال سالتُ مَالک ابن انس عن محمّد بن عبد الرّحمان الّذی یروی عَن سَعیْد ابن المُسیّب فقال لیس بثقة وسالتُ عن مالِک بن انس عن ابی الحویرث فقالَ لیس بثقة وسالتُهٗ عن شعبةُ الّذی یروی عنه ابن ابی ذئب فقال لیس بثقة وسالته عن صالِح مولی التّوأمة فقال لیس بثقة وسالته عن حرام ابن عُثمان فقال لیس بثقة وسالتُ مالک ابن انس عن هؤلآء الخمسةِ فقال لیسُوا.

بشقّة فی حدیثهم وسالته عن رَجُل آخر نسیتُ اِسْمه فقالَ هل رَأیْتهُ فِی کُتُبِی فقُلتُ لا قال لو کَانَ ثقةً لَرائِته فِی کُتُبِیْ:

ترجمه : دَ بشیر بن عمر نه روایت دے چه ما تپوس اوکړو دَ امام مالك نه دَ محمد بن عبد الرحمٰن په باره کښے چه روایت کوی دَ سعید بن مسیب نه نو هغوی اووے هغه ثقه نهٔ دے او تپوس اوکړو ما دَهغه نه په باره دَ ابو الحویرث کښے هغوی اووے چه هغه ثقه نهٔ دے او تپوس اوکړو ما دَهغه نه په باره دَ شعبه کښے چه هغه نه روایت کوی ابن ابی ذئب هغوی اووے هغه ثقه نهٔ دے او ما تپوس اوکړو دَهغه نه دَصالح په باره کښے چه آقا دے دَ توأمه هغوی اووے هغه ثقه نهٔ دے او ما دَهغوی نه تپوس اوکړو دَ حرام بن عثمان په باره کښے هغوی اووے چه ثقه نهٔ دے او تپوس مے اوکړو دَ امام مالك نه دَ هغه پنځو سړو په باره کښے (چه دَ هغوی ذکر وړاندے تیر شو) هغوی اووے چه هغه ثقه نهٔ دی او بیا ما دَ یو بل سړی نه تپوس اوکړو چه دَ هغه نوم زمانه هیر شوے دے نو هغه اووے تا دَ هغه روایت زما په کتابونو کښے لیدلے دے؟ ما اووے چه نه، نو هغه اووے کهٔ چرے هغه ثقه وے نو دَهغه روایت به دے زما په کتابونو کښے لیدلے وو۔

فائده : یعنی عبد الرحمان بن معاویه حویرث انصاری مدنی لره حاکم وائی چه هغه قوی نهٔ دے او امام احمد دَ امام مالك دَقول نه انکار کړے دے او وئیلے ئے دی چه روایت کړے دے دهٔ نه شعبه۔ او بخاری ذکر کړے دے دهٔ لره په تاریخ کښے او خبرے ئے نهٔ دی کړے په دے کښے۔ او شعبه دهٔ کنیت ابو الجویریه نقل کړے دے او حاکم وئیلے دی چه دا وهم دے دَ شعبه۔ په تقریب کښے دی چه عبد الرحمٰن رښتونے دے مګر حافظه دَ هغه خرابه وه او نسبت کړے شوے دے سره دَ ارجاء یعنی دَ مرجیه کیدو ۔ دا هغه شعبه نهٔ دے کوم چه دَ حدیثو لوے امام دے مشهور۔ هغه خو شعبه بن حجاج بصری دے او دا شعبه بن دینار هاشمی دے دابن عباس آقا۔ دهٔ کنیت ابو عبد الله یا ابو یحیی دے دَحدیثو ډیرو عالمانو دهٔ ته ضعیف وئیلے دی احمد بن حنبل او یحییٰ بن معین وائی هغه څه بد نهٔ دے ابن عدی وائی ما دهٔ یو حدیث منکر نهٔ دے لیدلے په تقریب کښے دی چه دا شعبه رښتونے دے مګر حافظه دهٔ خرابه وه او دادَ نبهان دَ مدینے دَ اوسیدونکی صالح ځوے دے او دهٔ ته مولیٰ توأمه وائی ددے دَپاره چه کومے ښځے دے آزاد کړے وو هغه دَخپلے

خور سره یو ځائے پیدا شوے وه۔ امام مالك صالح ته ضعیف وائی۔
لیکن روایت کړے دے ددهٔ نه ترمذی او ابو داؤد او ابن ماجه۔ یحیی بن معین وئیلے دی چه هغه ثقه دے او مالك هغه لره اوموندو هر کله چه هغه بوډا شوے وو او حافظه ئے خرابه شوے وه۔ دغه شان ثوری هم هغه وخت اوموندو چه هر کله هغه بوډا شوے او عقل ئے تلے وو نو واوریدل ئے ددهٔ نه څه منکر احادیث لیکن کومو خلقو چه روایت کړے دے (مخکښې دَ حافظے دَ خرابیدونه) دَهغوی روایت صحیح دے۔ ابن عدی وائی ابن ابی ذئب ابن جریح او زیاد بن سعد ددهٔ نه اوریدلے دی مخکښې دَ حافظے دَ خرابیدو نه او دَ هغوی په روایاتو کښې څه خراب والے نشته دا حرام بن عثمان انصاری سلمی دے امام بخاری وائی چه هغه منکر الحدیث دے زبیری وائی چه هغه شیعه وو روایت کوی دَ جعفر بن عبد اللهؓ نه نسائی وئیلے دی چه هغه ضعیف دے
ددے نه معلومه شوه چه دَ کومو خلقو نه امام مالك په خپلو کتابونو کښې روایت کړے دے هغه ټول ثقه دی مګر دا ضروری نهٔ ده چه دَ تمامو خلقو په نزد باندے ثقه دی البته دَ امام مالك په نزد باندے ثقه دی او خیلاف کړے دے علماؤ په دے مسئله کښې چه کهٔ چرے یو سړے دَ یو ورك سړی نه روایت اوکړی نو دَهغه نه به دَدغه مجهول توثیق کیدے شی یا نه۔ دَاکثرو دا قول دے چه صرف روایت کول ددهٔ نه دَتوثیق باعث نه دی او دا ټیك ده ولے چه کله کله ثقه دَ غیر ثقه نه روایت کوی نهٔ ددے وجے نه چه هغه روایت حجت او دلیل دے بلکه دَاعتبار او تائید دَ پاره۔
البته هر کله چه ثقه داسے اووائی لکه څنګه چه امام مالك اووے نو دَ چانه چه هغه په خپل کتاب کښې روایت کوی هغه به ددهٔ په نزد باندے ثقه ګڼلے شی او کوم ثقه چه دومره اوائی چه ماته بیان کړے دے ثقه نو هغه پوره ده دَ تعدیل دَ پاره۔ (نووی)

(۸۶)عن ابن ابی ذئب عن شرحبیل ابن سعد و کان متهما :

ترجمه : ابن ابی ذئب روایت کړے دے دَشرحبیل بن سعد نه او هغه متهم دے۔

فائده : یعنی منسوب وو طرف دَ دروغو ته۔ دا شرحبیل د مغازی لوے عالم وو (یعنی دَ رسول اللهﷺ دَ جهادونو) سفیان بن عیینه وائی ددهٔ نه اوچت دَ غازیانو وصف کونکے څوك نهٔ وو۔ هغه محتاج شو نو خلقو به ددے بیرے دَوجے نه هغه لره ورکړه کوله چه داسے نه چرته

اووانی چه ستا پلار دَ بدر په جنګ کښے حاضر نۀ وو او شرحبیل دَانصارو آقا دے ۔ مدنی کنیت ددۀ ابو سعید دے محمد بن سعد وائی چه کوم لوے او زوړ بوډاوو روایت کړے دے دۀ دَزید بن ثبت نه او دَ نورو زیاتو صحابو نه درسول الله ﷺ۔ په تقریب کښے دی چه هغه رښتونے دے خو لیکن په اخر کښے ئے حافظه خرابه شوے وه چه دَسلو کالو شو نو وفات شو۔

(۸۷) عَن عبْدُ اللّٰهِ بْن الْمُبارَک یقُولُ لَو خُیِّرتُ بَیْن اَنْ اَدْخُل الْجنّة وبیْن انْ الْقیٰ عبْد اللّٰه بْن محرّر لاخْترتُ انْ الْقاه ثم اَدْخُل الْجنّة فلمّا رایتُه کانَت بَعْرةٌ احبّ الیّ مِنْه:

ترجمه : دَعبد الله بن مبارك نه روایت دے هغه وئیلے وو کۀ ماته اختیار راکړے شی چه جنت ته لاړشم یا دَ عبد الله بن محرر سره ملاقات اوکړم نو زۀ به وړومبے ددۀ سره ملاوْ شم بیا به جنت ته ځم (داسے ئے ددۀ تعریف اوریدلے وو او دومره ئے ددۀ دَملاویدو شوق وو) هر کله چه زۀ دَهغه سره ملاوْشوم نو دَ اوښ یوه پچه ماته دَهغه نه غوره معلومه شوه۔

فائده : یعنی داسے بیکاره او خراب اوختو۔

(۸۸) عَنْ زَیْد یعْنی ابی اَنیْسةَ قَالَ لا تَاْخُذُوا عَن اَخیْ:

ترجمه : زید بن ابی انیسه وائی چه روایت مۀ کوئ زما دَ ورور نه:

فائده : یعنی یحیی بن ابی انیسه نه چه روایت کوی دَزهری او دَعمرو بن شعیب نه ددے دپاره چه هغه ضعیف دے بخاری وائی چه هغه څه نۀ دے۔ نسائی وائی چه ضعیف دے او متروك الحدیث دے۔ په تقریب کښے دی چه کنیت ددۀ ابو زید جزری دے او هغه ضعیف دے۔ نووی وائی چه ددۀ ورور زید بن ابی انیسه ثقه دے جلیل دے حجت اخستے دے ددۀ نه بخاری او مسلم محمد بن سعد وائی هغه ثقه دے کثیر الحدیث او فقیه دے دَاهلِ حدیثو اخلاص او خلوص ددۀ نه معلومیږی چه ددین دَ فائدے خیال ئے ساتلو او دَ خپلولی خیال ئے نۀ ساتلو بلکه لحاظ ئے نۀ کوو۔

(۸۹) عن عبید الله ابن عمرو وقال کان یحیی ابن انیسة کذابا:

ترجمه : عبید الله بن عمرو وئیلے دی چه یحییٰ بن انیسه دروغجن وو ۔

(۹۰)عَن حَمّاد ابُن زید قَال ذکر فرقد عِند ایُوب فقال انّ فرقدا لَیس صاحب حَدیث

ترجمه : حماد بن زید وئیلے دی چه دَفرقد (بن یعقوب سنجی ابویعقوب)ذکر راغے دَایوب په مخکښے هغوی اووے هغه صاحبِ حدیث نهٔ دے۔

فائده : یعنی دَ حدیث روایت کول بل کار دے۔ فرقد لره په دے کښے دخل نهٔ وو اگر چه هغه تابعی وو او عابد او زاهد وو لکه څنګه چه وړاندے تیر شو چه عبادت او زهد بل څیز دے او روایت دَ احادیثو بل څیز دے۔ مگر دَ یحیی بن معین نه منقول ده چه هغه ثقه وئیلے دی فرقد ته۔ په تقریب کښے دی چه روایت کړے دے ددهٔ نه ترمذی او ابن ماجه او هغه وروستونے عابد وو مگر په حدیثو کښے ضعیف دے او کثیر الخطا وو۔ په ۳۱ هجری کښے وفات شو۔

(۹۱)عَن عبدِ الرّحمان بُن بِشر العَبدیَ قالَ سمعتُ یَحیٰی بن سعید القَطّان و ذکر عِندهُ محمّد بُن عبد اللّٰهِ عُمَیر اللَّیثی فضعفهُ جدا فقِیل لِیَحییٰ اَضعفُ مِن یَعقُوب بُن عَطاء قال نعم ثمّ قَال مَا کنت اَری انّ احَدًا یَروِیُ عن محمّد بُن عبدِ اللّٰہِ ابُن عُبَید بُن عُمیر :

ترجمه : عبد الرحمان بن بشر عبدی وائی چه ما دَ یحیی بن سعید قطان نه اوریدلے دی چه دَهغوی په مخکښے ذکر راغے دَمحمد بن عبد الله بن عبید بن عمیر لیثی نو هغه ورته ډیر ضعیف اووے چا ورته اووے چه ولے هغه دَ یعقوب بن عطار نه هم ډیر ضعیف دے؟ هغوی اووے او بیا ئے اووے چه زهٔ نهٔ پو هیږم چه څوك دَ محمد بن عبید الله بن عبید بن عمیر نه روایت کوی۔

(۹۲)عَن بِشر بُن الحَکم قَال سمعتُ یحیٰی بُن سَعید القَطّان ضَعف حکِیم ابن جُبَیر وعبد الاَعلیٰ وَضَعف یَحییٰ بُن مُوسیٰ بُن دِینَار قَال حدیثه رِیحٌ وضَعف مُوسیٰ بُن الدّهقان وعِیسیٰ بُن اَبِی عِیسیٰ المَدنیّ :

ترجمه : دَبشر بن حکم نه روایت دے چه ما اوریدلے دی دَیحیی بن سعید قطان نه (چه امام وو دَ حدیثو)هغوی ضعیف وئیلے دی حکیم بن جبیر ته او عبد الاعلی ته (بن عامر ثعلبی) او ضعیف ئے وئیلے دی یحیی بن موسی بن دینار ته او وئیلے ئے دی چه ددهٔ حدیث په مثل دهوا دے

او موسی من دھقان لرہ او عیسی بن ابی عیسی مدنی لرہ.

فائدہ : دا حکیم بن جبیر اسدی کوفی دے. شیعہ وو ابو حاتم رازی وائی چہ لوئے کٹر شیعہ وو دَعبد الرحمان بن مہدی او شعبہ نہ تپوس اوشو چہ تاسو د حکیم بن جبیر نہ روایت کول ولے پریخودل ھغوی اووے چہ مونږہ یریږو دجھنم نہ یعنی د ھغۂ روایتونہ دروغ دی. کۂ چرے مونږہ ددۂ نہ نقل اوکړو نو پہ دوزخ کښے بہ واچولے شو پہ تقریب کښے دی چہ ھغہ ضعیف دے او روایت کړے دے ددۂ نہ ترمذی او ابو داؤد او ابن ماجہ، او روایت نۂ دے کړے ددۂ نہ بخاری او مسلمؒ ، پہ تقریب کښے دی چہ ھغہ رښتونے دے مگر وھم کوی یعنی لغوا اوبے ثبات دے پہ دے مقام کښے پہ تمامو نسخو کښے دَیحیی نہ پس د بن لفظ موجود دے چہ ھغہ یقینا غلطی دہ او ثواب دادے چہ دَ بنِ لفظ نۂ وی. نووی فرمائی چہ دا غلطی د مسلم دکتاب نقل کوونکو نہ شوے دہ نۂ چہ دَ مسلم نہ. دا موسی بن دینار مکی دے چہ روایت کوی دَ سالم نہ او کوم چہ بصری دے ھغہ روایت کوی د ابن کعب نہ . پہ تقریب کښے دی چہ دا ضعیف دے دا عیسیٰ بن میسرہ دے ددۂ کنیت ابو موسیٰ دے یا ابو محمد غفاری مدنی اصل ددۂ کوفی دے. دۂ تہ خیاط یا حناط او یا خباط وائی یحییٰ بن معین وائی چہ وړاندے خیاط وو (یعنی درزی وو) بیا ئے دا کسب پریخودو حناط شو(حناط دَ حنطہ نہ دے یعنی د غنمو خرخونکے) بیائے دے لرہ پریخودو خباط شو (یعنی پانړے صفا کونکے) پہ تقریب کښے دی چہ دا متروك دے .

قال مُسْلمٌ وسمعتُ الْحسن بن عِيسىٰ يقُولُ قال لي ابْن الْمُبارك اذا قدمْتَ على جرِيْر فاكتُب عِلْمه كلّه الا حديث ثلاثة لا تكْتُب حديث عُبيْدة بْن مُعْتِب والسّرِىّ ابْن اسْمعيل ومحمّد بْن سالِم:

ترجمہ : امام مسلمؒ فرمائیلی دی چہ حسن بن عیسی وائی چہ مانہ عبد اللہ بن مبارك اووے چہ ھر کلہ تۂ دجریر خوالہ لاړ شے نو دَھغہ تول علم اولیکہ (یعنی تمام احادیث د ھغہ روایت کړہ)مگر دَدریو سرو احادیث مۂ لیکہ دعبیدہ بن معتب او سری بن اسماعل او د محمد بن سالم روایتونہ.

فائدہ : ولے چہ دا تول ضعیف دی نووی فرمائی چہ دا تول کوفیان دی او متروك دی.

قَال مُسْلم بْن الْحجّاج وَاَشْباہ مَا ذكرْنا مِنْ كلام اهلِ الْعِلم فى مُتّهِمى رُواة الْحديْث واخبارِهم عَن

مَعایِبِهِمْ كَثِيرٌ يَطُولُ الْكِتَابُ بِذِكْرِهٖ عَلَى اسْتِقْصَائِهٖ وَفِيمَا ذَكَرْنَا كِفَايَةٌ لِّمَنْ تَفَهَّمَ وَعَقَلَ مَذْهَبَ الْقَوْمِ فِيمَا قَالُوْا مِنْ ذَالِكَ وَبَيَّنُوا:

ترجمه : امام مسلم وائی او ددے مانند کوم چه مونږه ذکر کړل د اهل حدیثو کلام په متهم راویانو کښے او دَ هغوی په غیبونو کښے ډیر دے چه دهغے په تمامو بیانولو سره کتاب ډیر اوږدیږی او څومره قدرے چه مونږه بیان کړو هغه کافی دے دهغه سړی دپاره چه هغه دقوم مذهب پیژنی په هغه څه کښے چه وائی دوی ددے نه او بیانوی دے لره:

فائده: یعنی دا کتاب دَ جرح او تعدیل دَپاره لړ دے چه په دے کښے دتمامو راویانو حال بیان کړے شی بلکه دَ جرح او تعدیل دَپاره خو جدا جدا کتابونه جوړ دی چه په هغے کښے دَتمامو راویانو پوره پوره حال بیان کړے شوے دے دلته خو دَڅو راویانو عیب دَ ائمهٔ حدیث په اقوالو سره بیان کړے شو صرف ددے مقصد دَپاره چه دَاهلِ حدیثو په نزد باندے دَراویانو عیب او سقم بیانول بد نهٔ دی او دا په غیب کښے نهٔ داخلیږی۔

وَاِنَّمَا اَلْزَمُوْا اَنْفُسَهُمُ الْكَشْفَ عَنْ مَعَايِبِ رُوَاةِ الْحَدِيْثِ وَنَاقِلِى الْاَخْبَارِ وَاَفْتَوْا بِذَالِكَ حِيْنَ سُئِلُوْا لِمَا فِيْهِ مِنْ عَظِيْمِ الْخَطَرِ اِذِالْاَخْبَارُ فِى اَمْرِ الدِّيْنِ اِنَّمَا يَاْتِى بِتَحْلِيْلٍ اَوْ تَحْرِيْمٍ اَوْ اَمْرٍ اَوْ نَهْىٍ اَوْ تَرْغِيْبٍ اَوْ تَرْهِيْبٍ فَاِذَا كَانَ الرَّاوِى لَهَا لَيْسَ بِمَعْدِنٍ لِّلصِّدْقِ وَالْاَمَانَةِ ثُمَّ اَقْدَمَ عَلَى الرِّوَايَةِ عَنْهُ مَنْ قَدْ عَرَفَهٗ وَلَمْ يُبَيِّنْ مَا فِيْهِ لِغَيْرِهٖ مِمَّنْ جَهِلَ مَعْرِفَتَهٗ كَانَ آثِمًا بِفِعْلِهٖ ذَالِكَ غَاشًّا لِعَوَامِ الْمُسْلِمِيْنَ اِذْ لَا يُؤْمَنُ عَلَى بَعْضِ مَا سَمِعَ تِلْكَ الْاَخْبَارَ اَنْ يَّسْتَعْمِلَهَا اَوْ يَسْتَعْمِلَ بَعْضَهَا وَلَعَلَّهَا اَوْ اَكْثَرُهَا اَكَاذِيْبُ لَا اَصْلَ لَهَا مَعَ اَنَّ الْاَخْبَارَ الصِّحَاحَ مِنْ رِوَايَةِ الثِّقَاتِ وَاَهْلِ الْقَنَاعَةِ اَكْثَرُ مِنْ اَنْ يُّضْطَرَّ اِلَى نَقْلِ مَنْ لَيْسَ بِثِقَةٍ وَلَا مَقْنَعٍ:

ترجمه : او دَحدیثو امامانو دَراویانو عیب ظاهره ول ضروری اوګڼړل او ددے خبرے فتویٰ ئے ورکړه هر کله چه ددوی نه تپوس اوشو ددے دَپاره چه دا ډیر اهم کار دے ولے چه ددِین دَخبرے هر کله نقل کیدے شی نو هغه دَ څه امر دَحلالیدو دپاره یا د حرامیدو دپاره وی یا په دے کښے دَڅه خبرے حکم وی یا دَڅه خبرے ممانعت وی یا دَڅه کار طرف ته رغبت ورکول وی او یا دَڅه کار نه یره ول وی بهر حال هر کله چه راوی رښتونے او امانت دار نهٔ وی۔ بیا ددهٔ نه څوک روایت اوکړی او هغه ددهٔ په حال باندے خبر وی او هغه نورو ته بیان نهٔ کړی چه هغه نے دحاله خبر نهٔ وی نو

گنهګار شو او دَهٔو کـه ورکـونـکو نه شو مسلمانانو عوامو لره. ددے دپاره چه بعض خلق دے حدیثـو لره اوری او په دے تولو باندے یا په بعضو باندے عمل کوی. او شائد چه هغه تول یادوی نهٔ اکثر دروغجن وی (او په بعضو نسخو کښے دادی چه په دے کښے کم یا ډیر دروغجن وی) چه دَهغوی اصل نهٔ وی حالانکه صحیح حدیثونه دَثقه خلقو او دهغه خلقو چه دَ هغوی په روایت باندے قناعت کیدے شی ولے څه کم دی؟ چه دَیے اعتباره او دَهغه چا په روایت باندے چه قناعت نهٔ شی کیدے دَهغوی دَ روایتونو حاجت راغے.

فائده : یعنی دَروایت دَپاره صحیح احادیث په زرګونو دی بیا څه ضرورت دے چه دے لره پریږدی او ضعیف او منکر او موضوع حدیثونو لره نقل کړی.

وَلا اَحْسِبُ كَثِيرًا مِمَّن يُعَرِّجُ مِن النَّاس عَلٰى مَا وَصَفْنَا من هذه الاحاديث الضِّعَاف وَالْاَسَانِيْد الْمَجْهُولَةِ ويعتدّ بروايتها بَعد مَعرفته بمَا فِيها من التّوهّن والضّعف الا انّ الّذى يحمله على رِوَايتها وَالْاِعْتدادُ بِهَا اِرَادة التَّكْثِير بذالك عِنْد الْعَوامِ ولان يُقال مَا اكثر ما جمع فُلان مِن الْحديْث واَلَّف مِن الْعدد ومَنْ ذَهب فِي الْعِلْم هذا الْمذْهب وسلک هٰذَا الطَّرِيْق فلا نَصِيْبَ لَهٗ فيْهِ وَكَان بِاَن يُسَمّٰى جَاهِلاً اَوْلٰى مِنْ اَن يُنْسَبَ اِلَى الْعِلْم:

ترجمه : او زهٔ پوهیږم چه کومو خلقو ددے قسم ضعیف حدیثونه او مجهول سندونه نقل کړے دی او په دے کښے مصروف دی او هغه ددے په ضعف باندے ښهٔ پوهه وی خو دَهغوی غرض دادے چه عوامو ته خپل زیات علم اوښائی او ددے دَپاره چه خلق اووائی چه سبحان الله چه فلانکے سړے څومره زیات احادیث جمع کړے دی او دَکوم سړی چه دا چال دے او دَ دے دا طریقه ده چه ددهٔ علم په حدیث کښے څه نهٔ دے نو هغه د جاهل ونیلو زیات حقدار دے دَعالم ونیلو نه.

فائده : ولے چه علم هغه دے چه هغه عالمان خلق تسلیم کړی او دجاهل ناواقفه خلقو څه اعتبار دے هغه اګر چه داسے سړی ته لوے عالم وائی نو د هغوی دَپر هے نه څه کیږی دَ حدیثو امام او فاضل همیشه داسے سړی ته چه هغه هر قسم حدیثونه نقل کوی او په صحیح او

ضعیف کښې تمیز نۀ کوی جاهل او بې وقوف ونیلې دې۔

او امام نووی دَقاضی عیاض نه نقل کړې دی چه دراویانو عیب بیانول جائز دی بلکه واجب دی په اجماع دَ عالمانو سره په دې واسطه چه شریعت حفاظت ضروری امر دې او دا په غیبت کښې داخل نۀ دې کوم چه حرام دې بلکه نصیحت دې دوی دَ مسلمانانو دپاره یعنی دَتولو خیر خواهی ده او همیشه دمحمد ﷺ دَامت فاضلان او پرهیزګاران او تقوی پسند خلق په دې شان سره راغلی دی۔

لکه څنګه چه مسلم په دې باب کښې دَخومره بزرګانو اقوال نقل کړې دی او ما هم دَ بخاری دَ شرحې په شروع کښې څه اقوال ددې قسم بیان کړی دی مګر دا امر ضروری دې چه کوم سړې دَراویانو عیب بیانوی هغه دې دَخدائې نه یره کوی او په سوچ سمج سره دې وائی او دَ سستئ او کاهلئ نه دې پرهیز کوی او دَ هغه سړی عیب دې نۀ بیانوی چه هغه دَعیب نه پاك وی یا دهغه عیب فاش شوې نۀ وی ددې دپاره چه په جرح کولو سره هم یو مفسده پیدا کیږی هغه دا چه ددغه راوی روایتونه دَاعتبار قابل نه شی پاتې کیدې او ددۀ احادیث ټول رد کیږی بیا کۀ چرې جرح غلطه وه نو داسې شوه چه صحیح روایتونه او حدیثونه یې رد کړل ددې وجې نه جرح دَداسې سړی مقبوله ده چه هغه په خپله صاحب دَ معرفت او مقبول القول وی ګنی : جرح کونکی جرح کول درست نۀ دی۔

اوس دا خبره چه په جرح او تعدیل دواړو کښې دیو سړی وینا پوره ده یا ډیرو سړو پکار ده په دې مسئله کښې دَ عالمانو اختلاف دې او صحیح داده چه دیو سړی ونیل کافی دی۔ بیا دا خبره چه دَجرح سبب بیانول ضروری دی یا نه۔ په دې کښې هم اختلاف دې دَ امام شافعی او دَ ډیرو امامانو دَقول دې چه سبب بیانول ضروری دی او جرح مبهم مقبوله نۀ ده او دَ قاضی ابو بکر باقلانی وغیره دا قول دې چه سبب بیانول ضروری نۀ دی او دَ بعضو دا قول دې چه کوم سړې دَ جرح اسباب پیژنی دَهغه دپاره دَ جرح سبب بیانول ضروری نۀ دی او حوك چه نۀ پیژنی دَ هغه دَپاره ضروری دی۔

بیا دَ کومو خلقو په نزد چه دَ جرح سبب بیانول ضروری دی هغه وائی چه دَ جرح مبهم اثر

صرف دومره قدرے کیږی چه ددے روایت به دَ حجت قابل نهٔ پاتے کیږی هر کله چه ددے جرح ثبوت یا ابطال نهٔ وی اوس په صحیحینو کښے کوم چه بعضے داسے راویان دی چه هغے باندے ورومبو خلقو جرح کړے ده نو دَهغوی جرح مبهم ده یا ثابته شوے نهٔ ده کهٔ چرے د یو راوی بعضے خلق جرح اوکړی او بعضے تعدیل نو قول مختار په دے باندے د جمهورو علماؤ او محققینو دادے، چه جرح به قبلیږی او جرح مقدمه ده په تعدیل باندے اګر کهٔ تعدیل کونکے په شمار کښے سیوا وی۔

او بعضو وئیلے دی کهٔ چرے تعدیل کونکی سیوا وی نو تعدیل مقدم دے مګر ورومے صحیح قول دے۔ امام مسلم په دے باب کښے دَشعبی نه نقل کړے دے چه هغوی وائی حدیث بیان کړے دے مونږه ته فلانی او هغه متهم وو په دے مقام باندے دا اعتراض کیدے شی چه دغه امامانو دَداسے خلقو نه ولے روایت کوو حالانکه دوی پیژندل چه دغه خلق دروغجن او متهم دی او ددے څو جوابونه دی۔

یو داچه هغوی روایت کړے دے خلقو ته دَ ښودنے دپاره چه ددے روایت دَ ضعف نه آګاه شی دویم داچه دَضعیف سړی نه په طور دَ استشهاد او تائید روایت کول درست دی۔ مګر یوائے ددهٔ روایت دَ حجت نیولو قابل نهٔ دے دریمه دا چه دَ ضعیف سړی ټول روایتونه دروغ نهٔ شی کیدے نو دَحدیثو امام دے روایتونو لره پیژنی او هغو لره روایت کوی او ضعیف او باطل لره پریږدی او دا امر په هغوی باندے آسان دے لکه چا سفیان ثوری نه اووے هر که چه هغوی دَکلبی نه(محمد بن سائب)روایت کولو لره منع کړل چه تهٔ ولے ددهٔ نه روایت کوے هغوی اووے چه زهٔ ددهٔ دروغ او رښتیا پیژنم۔

څلورمه داچه اکثر دَضعیف شخصیتونو نه ترغیب او ترهیب او فضائل او قصص او زهد او دَاخلاقو احادیث روایت کوی چه هغه دَ څیز دحلت یا دَ حرمت سره متعلق نهٔ وی او اهلِ حدیثو ددے قسم ضعیف روایتونو لره جائز کړے دے په شرط ددے چه موضوعی نهٔ وی لیکن دَ حدیث امامانو دَ ضعیف خلقو نه دَځه قسم روایت کول بالانفراد جائز کړے نهٔ دی او نهٔ محققینو علماؤ جائز کړے دی ۔

او دا کوم چه بعضے فقیهانو (لکه صاحب هدایه) عادت دے چه دَهر قسم روایت نقل کوی دا څه ښهٔ خبره نهٔ ده بلکه زیاته بده خبره ده ددے دپاره کهٔ چرے دا نه معلومه وه چه دا روایت ضعیف دے نو صحیح نهٔ وو دلیل راوړل په دے سره ولے چه په دے خبره دټولو علماؤ اتفاق دے چه ضعیف حدیث دَ شریعت په احکامو کښے دحجت نیولو قابل نهٔ دے او کهٔ چرے دا نه معلوم نهٔ وو ددا ضعف نو هم بغیر دَ معلوماتو او اهلِ علمو دَتپوس نه ددے خبرے نقل کول درست نهٔ وو۔

کاذبین یعنی دَ دروغو دَ حدیثو جوړه ونکو دوه قسمونه دی یو خو هغه چه دَهغوی دروغ صفا ښکاره شوے دی هغه په څو قسمه دی بعضے خو داسے دی چه صفا جوړوی په حضرت ﷺ باندے هغه خبرے چه هغه نهٔ وی فرمائیلے لکه زندیق او بے دینه خلق چه دَهغوی په نزد باندے دَدین څه عظمت او عزت نشته دے. یا دے کار له هغه ښهٔ او دَ ثواب کار ګنړی لکه بعضے جاهل درویشان او صوفیان چه په فضائل او اخلاقو کښے خلقو ته دَ رغبت ورکولو دپاره حدیثونه جوړوی یا دَ خپل فخر دَښودنے دَپاره نوی او نامعلوم روایتونه سره لکه څنګه چه فاسقان خلق کوی۔ یا په تعصب سره دَخپل مذهب د ثابتولو دپاره لکه بدعتی او شیعه او قدریه او جهمیه خذلهم الله تعالیٰ؛ او دَ اهلِ علمو په نزد دَ هر یو یو طبقے خلق ددوی نه معین او معلوم شوے دی۔ او بعضے ددے کاذبینو نه داسے دی چه هغه د حدیثو متن له نهٔ جوړوی لیکن دَهغے دَ پاره یو صحیح سند تراش کوی او بعضے سند له الټه کوی او بعضے نے زیاتوی په دروغو سره او ددے نه مقصود خپل فضل ظاهرول یا خپل جهالت رفع کول وی

او بعضے په دے شان سره دروغ وائی چه دچا نه ئے نهٔ وی اوریدلی هغه ته وائی چه ماترے نه اوریدلی دی یا دَچا سره ملاؤ شوے نهٔ وی دهغه سره خپل ملاقات بیانوی وینا له دومره اوچته کړی چه دَرسول الله ﷺ وینا ترینه جوړه کړی په دے شان دروغ سړے چه هغه دَ حدیثو په روایت باندے جرأت کوی بغیر دَ څه تحقیق نه او پړتال کولو نه نو ددا سے خلقو نه روایت نهٔ شی کیدے نهٔ دَهغوی روایتونه قبلولے شی اګر چه صرف یو ځل دغوی دا سے کړے وی۔

ولے هر کله چه یو ځل ئے بے احتیاطی اوکړه نو دَهغوی اعتبار ختم شو لکه دَ دروغ

گواه چه یو ځل دَدروغو دَ گواهئ سره دَ هغه هره یوه گواهی دَ اعتبار لائقه نهٔ شی پاتے کیدے بیا کهٔ چرے دغه سړے توبه کړی نو دَ راتلونکی ژوند په موقعه به ددهٔ روایت قبلیږی او کهٔ نهٔ به قبلیږی۔ په دے کښے اختلاف دے لیکن ظاهره داده چه قبلیږی به ځکه چه په توبه سره هر قسم تمام گناهونه معاف کیږی او چاچه آننده هم قبوله نهٔ کړه دهغوی حجت دادے چه دا گناه زیات سخت دے یعنی په نبی کریم ﷺ باندے دروغ وئیل نو ددے سزا هم سخته ورکول پکار دی۔

ولے چه نبی ﷺ په خپله فرمائیلے دی چه په ما باندے دروغ وئیل داسے نهٔ دی لکه په بل یو کس باندے دروغ وئیل ۔ دویم قسم دَدروغجنو دادے چه په حدیث کښے خو هغه دَځه قسم دروغ نهٔ وائی لیکن په نورو دنیاوی خبرو کښے دروغ وائی داسے خلقو روایت هم نهٔ شی قبلیدے نهٔ دَهغوی گواهی قبولے ده البته کهٔ چرے توبه کړی نو قبلیدے شی۔ او کهٔ یو نیم دروغ وائی ددنیا په خبرو کښے او هغه په دروغو کښے معلوم او مشهور نهٔ وی۔ نو ددهٔ روایت به قبلیږی ولے چه احتمال دے چه ددهٔ نه غلطی شوے وی یا وهم شوے وی او بل هغه په خپله دَیو ځل دروغو اقرار اوکړی په شرط ددے چه ددهٔ دَ دروغو نه چا مسلمان ته نقصان نهٔ وی رسیدلے او بیا توبه کړی نو هم به ددهٔ روایت قبلیدے شی ولے چه دا نامناسبه ده او په هغه گناهونو کښے نهٔ دے چه هغه انسان لره هلاکوی او ددے قسم خطائی دَ ډیرو خلقو نه راتلے شی۔

دغه شان حکم دے دَهغه دروغو چه هغه په طریقه دَتعریض او یادطنز وی ولے چه هغه په حقیقت کښے دروغ نهٔ وی اگر چه په صورت کښے دروغ دی لکه چه رسول الله ﷺ ابو الجهم لره چه هغه خپله لخته دَاوګے نه په زمکه باندے نهٔ دی (یعنی اکثر ماره داره کوی)

دغه شان خو ابراهیم علیه السلام هم کړی دی چه خپلے بی بی لره ئے خور اوښودله دا توریه چه په نظر دَ مصلحت وی صحیح ده تمام شو کلام دَ قاضی عیاض(نووی)

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

باب صحة الاحتياج بالحديث المعنعن اذا امكن لقاء المعنعنين ولم يكن فيهم مدلس۔

باب: په معنعن حديث سره حجت نيول صحيح دي هر کله چه د معنعن والاؤ ملاقات ممکن وي۔ او په دوی کښې څوک تدليس کولو والا نۀ وي۔

فائده: معنعن هغه حديث ته وائي چه دهغې په اسناد کښې فلان عن فلان عن فلان وي يعنې فلانی دَفلانی نه او هغه دَ فلانی نه روايت کړے دے چونکه په داسے اسناد کښې راوی داسے نۀ شي وئيلے چه ما دَفلانی نه اوريدلے دی هغه ماته بيان کړے دے نو شبه پاتے کيږی چه يو دَ بل نه اوريدلے دی يا نه۔ داسے نۀ وی چه په ميڅ کښې څه راوی پاتے شوے وی په دے واسطه دَ معنعن حديث په حجت کيدو کښې دعالمانو اختلاف دے۔

دَبعضو داقول دے چه کۀ چرے يو راوی دبل راوی زمانه موندلی وی او دَ هغه ملاقات دَ هغه سره ممکن وی نو روايت به محمول وی په اتصال باندے او حجت به وی دَامام مسلم دا مذهب دے۔ او په دے باب کښے نے دے لره ثابت کړے دے او بعضے دا وائی چه صرف دَ ملاقات ممکن کيدل کافی دی بلکه ضروری ده چه دَکم نه کم يو ځل ددغه راوی دَدويم راوی سره ملاقات ثابت شی امام مسلمؒ فرمائی چه دا قول دَ اعتبار لائق نۀ دے او بالکل نوی مذهب دے چه په اهلِ علمو کښے چا اختيار کړے نۀ دے او بدعت دے بيا علماؤ دے قول لره اختيار کړے دے او دَ مسلم مذهب لره نے ضعيف کړے دے علي بن المديني او بخاري او يو جماعت دَ علماؤ دَ امام مسلم په مخالفت کښے دی۔ بلکه بعضو ددے نه زيات نور شرطونه هم مقرر کړے دی چه ددے راوی دَدويم راوی سره ملاقات معلوم او مشهور شوے وی او په دوی کښے دَيو بل سره صحبت پاتے شوے وی۔

مګر ابن مديني او بخاري چه کوم قول اختيار کړے دے دغه صحيح دے چه هر کله کم نه کم يو ځل ملاقات ثابت شوے وی نور روايت به متصل ګنړلے شی ولے چه دَراوی حال معلوم دے چه ددهٔ عادت دَ تدليس نۀ دے د تدليس معنی ده (پټول) او دَ اهلِ حديثو په اصطلاح کښے

تدلیس دے ته وائی چه روایت کونکے خپل شیخ لره دچانه چه ئے حدیث اوریدلے وی پټ کړی او دهغه دپاسه دروایت کونکے نوم واخلی ددے دپاره چه خلقو ته ملومه شی چه دهٔ ددهٔ نه اوریدلے دی او دا عادت د بعضے اهلِ حدیثو وو چه دهغوی حال معلوم شوے دے چه هغو د اوچتو اسنادو دخودلو دپاره یا دځه ادنیٰ سړی نه په روایت کولو کښے به ئے د شرم په وجے سره تدلیس کوو.

بیا کهٔ چرے داسے تدلیس کونکے راوی په معنعن حدیث کښے وی نو هلته به یو ځل ملاقات کیدل یا ملاقات ممکن کیدل دچا په نزد به دحدیث د متصل کیدو دپاره کافی نهٔ وی دکومے پورے چه صفا معلومه نهٔ شی چه په حقیقت کښے مدلس راوی ملاقات او صحبت ددویم راوی سره شوے دے مگر دا قول مردود دے په اجماع د سلفو سره دے لره چا اختیار کړے نهٔ دے.(نوویؒ سره د زیاتوالی نه) نووی ددے باب ترجمے لره په دے شان سره قائمه کړے ده لکه څنګه چه پورته اولیکلے شوه لیکن په نسخه مطبوعه کلکته کښے دا باب داسے لیکلے دے:

باب ما تصح به روایت الرواة بعضهم عن بعض و التنبیه علی من غلط فی ذالک :- یعنی باب دے په بیان ددے خبرے کښے چه ولے صحیح کیږی روایت د یو راوی ددویم راوی سره او بیان ددے غلطئ چه خلقو په دے مقام باندے کړے ده۔ اګر چه دا ترجمه هم بده نهٔ ده خو امام نووی چه کومه ترجمه کړے ده هغه زیاته مناسبه او اولیٰ ده په دے واسطه مونږه دے لره اختیار کړه او وجه ددے اختلاف هم دغه ده چه کومه وړاندے تیره شوه چه امام مسلمؒ خو په خپله دباب ترجمے لیکلے نهٔ دی خلقو دهغه نه وروستو لیکلے دی بیا هر یو په مناسب نظر سره په خپل رائے سره بابونه قائم کړے دی. کومه ترجمه چه زیاته مناسبه وی نو مونږه به هغه لیکو۔

وقد تکلّم بعضُ مُنتحلی الْحدیث من اهْل عصْرنا فِی تصحیْح الْاَسَانِیْد وَتَسْقِیْمِهَا بِقَوْلٍ لَو ضَرَبْنا عَن حکَایته و ذکر فسادهٔ صفحًا لکَان رایًا مَتِیْنا مذْهبًا صحِیْحًا اِذالاعْراضِ عَن الْقَول الْمطرح اَحوی لاماتَتِه وَاخْمال ذِکْر قائله وَاجْدر ان لَا یکُون ذَالک تنْبِیها لِلْجهَّال عَلَیْه غَیْر انا لمّا تَخوفْنا مِن شُرُوْر الْعواقِب وَاغْتِرار الْجهلة بمُحْدثات الْاُمُوْر وإسْراعهم اِلی اِعْتقَاد خطَا الْمخطئین وَالْاَقْوال السَاقِطة عنْد الْعُلمَاء رَاَیْنا الْکشْف عَن فساد قوْله ورد مقالته بقدر ما یَلِیْقُ بِهَا مِنَ الرّدّ اَجْدٰی عَلٰی الْاَنام وَاَحْمد

لِلْعَاقِبَةِ اِنْشَآء اللّٰهُ :

ترجمه : امام مسلم وائی چه زمونږه په زمانه کښې بعضې داسې خلق چه هغوی په دروغه سره دَخپله ځانه پخپله محدث جوړ کړې دی۔ داسنادو په سند او سقم کښې ئې یو قول بیان کړې دے که چرې مونږه بالکل دے لره نقل نۀ کړو او ددې ابطال اونۀ لیکو نو مزیدار تجویز به شی، او نیك لاره به شی ددې دپاره چه دَ غلطې خبرې په طرف التفات نۀ کول۔ ددې دَ ورکولو دپاره ددې دَ ویونکی والا نوم ورکول غوره دی او مناسب دی دَ جاهلانو دپاره چه هغوی ته خبر هم نۀ وی ددې غلطې خبرې مګر ددې وجې نه چه مونږه دَ انجام دَ بدوالی نه یریږو او دا خبره وینو چه جاهل به نوې خبره باندې عاشقان کیږی او په غلطه خبره باندې زر اعتقاد راځی۔ چه دَ عالمانو په نزد باندې ساقط الاعتبار وی، مونږه ددې قول غلطی بیانول او دې لره رد کول ځنګه چه پکار وو دَخلقو دَ پاره مو غور او بهترین خیال اوکړو او ددې انجام به هم نیك وی که الله جل شانه غواړی۔

وَزَعَمَ الْقَائِلُ الَّذِی افْتَتَحْنَا الْكَلَامَ عَلَی الْحِكَايَةِ عَنْ قَوْلِهٖ وَالْاِخْبَارِ عَنْ سُوْءِ رَوِيَّتِهٖ اَنَّ كُلَّ اِسْنَادٍ لِحَدِيْثٍ فِيْهِ فُلَانٌ عَنْ فُلَانٍ وَقَدْ اَحَاطَ الْعِلْمُ بِاَنَّهُمَا قَدْ كَانَا فِیْ عَصْرٍ وَاحِدٍ وَجَائِزٌ اَنْ يَّكُوْنَ الْحَدِيْثُ الَّذِیْ رَوَی الرَّاوِیْ عَمَّنْ رَوٰی عَنْهُ قَدْ سَمِعَهٗ مِنْهُ وَشَافَهَهٗ بِهٖ غَيْرَ اَنَّهٗ لَا نَعْلَمُ لَهٗ مِنْهُ سِمَاعًا وَلَمْ نَجِدْ فِیْ شَیْءٍ مِنَ الرِّوَايَاتِ اَنَّهُمَا الْتَقَيَا قَطُّ اَوْ تَشَافَهَا بِحَدِيْثٍ اَنَّ الْحُجَّةَ لَا تَقُوْمُ عِنْدَهٗ بِكُلِّ خَبَرٍ جَاءَ الْمَجِیْءَ حَتّٰی يَكُوْنَ عِنْدَهُ الْعِلْمُ بِاَنَّهُمَا قَدِ اجْتَمَعَا مِنْ دَهْرِهِمَا مَرَّةً فَصَاعِدًا اَوْ تَشَافَهَا بِالْحَدِيْثِ بَيْنَهُمَا اَوْ يَرِدَ خَبَرٌ فِيْهِ بَيَانُ اِجْتِمَاعِهِمَا اَوْ تَلَاقِيْهِمَا مَرَّةً مِنْ دَهْرِهِمَا فَمَا فَوْقَهَا فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ ذَالِكَ وَلَمْ يَاْتِ رِوَايَةٌ تُخْبِرُ اَنَّ هٰذَا الرَّاوِیَ عَنْ صَاحِبِهٖ قَدْ لَقِيَهٗ مَرَّةً وَسَمِعَ مِنْهُ شَيْئًا لَمْ يَكُنْ فِیْ نَقْلِهِ الْخَبَرَ عَمَّنْ رَوٰی عَنْهُ عِلْمُ ذَالِكَ وَالْاَمْرُ كَمَا وَصَفْنَا حُجَّةٌ وَكَانَ الْخَبَرُ عِنْدَهٗ مَوْقُوْفًا حَتّٰی يَرِدَ عَلَيْهِ سِمَاعُهٗ مِنْهُ بِشَیْءٍ مِنَ الْحَدِيْثِ قَلَّ اَوْ كَثُرَ فِیْ رِوَايَةٍ مِّثْلِ مَا وَرَدَ :

ترجمه : او هغه سړې چه دَ چا دَقول نه مونږه افتتاح اوکړه او دَهغه فکر او خیال نه چه مونږه باطل اووے دا ګمان کړې دے چه کوم اسناد داسې وی چه په هغې کښې فلان عن فلان راغلې وی۔

او دا خبره معلومه شوه چه هغه دواړه په یوه زمانه کښې وو او ممکنه ده چه دا حدیث یو د بل نه اوریدلې وی او دواړه سره یو ځائې شوې وی. مګر مونږه ته دا معلومه نۀ وه چه دۀ د هغه نه اوریدلی دے نۀ مونږه په څه روایت کښې ددے خبرې تصریح اومونده چه هغه دواړه یو ځائې شوې وو او په هغوی کښې خله په خله خبرې اترې شوې وې نو دداسې اسناد نه چه کوم حدیث روایت کړې شی هغه حجت نۀ دے ذکومے پورے چه دا خبره معلومه نۀ شی چه کم نه کم هغه دواړه په خپل عمر کښې یو ځل ملاؤ شوې وو او یو د بل سره خبرې کړې وې. یا داسې یو حدیث روایت کړې شی چه په هغې کښې ددے امر بیان وی.

چه ددے دواړو ملاقات یو ځل یا زیات واره شوے وو کۀ چرے ددے خبرې علم نۀ وی او نۀ څه حدیث داسې روایت کړے شی چه په هغې سره دملاقات او سماع ثبوت وی. نو داسې حدیث نقل کول چه دَهغې دَ ملاقات علم نۀ وی په داسې حالت کښې حجت نۀ دے او هغه حدیث به موقوف وی تر دے پورے چه ددے دواړو سماع لږه یا ډیره دَدویم روایت نه معلومه شی.

وَهٰذا الْقولُ یرْحمُکَ اللّٰهُ فِی الطَّعْنِ فِی الْاَسَانِیْد قوْلٌ مُخْترَعٌ مُستحْدثٌ غیر مسْبُوق صَاحِبه اِلَیْه ولا مسَاعِدلهٗ من اهْلِ الْعِلم عَلیه وَ ذالِکَ اَنّ الْقول الشّائع الْمُتفق علیْه بیْن اَهْل الْعِلْم بِالْاَخْبار والرّوایات قدیْما وَحدیْثا انّ کلّ رَجُل ثِقةٌ رَوٰی عن مِثْله حَدیثا فَجائز مُمْکِن لهٗ لِقاءُهٗ والسّماعُ مِنْه لِکوْنِهما جمِیْعا کانا فی عصْر واحِدٍ وَاِن لَّم یَاتِ فِی خبر قطّ ان هُما اِجْتمعَا وَلا تَشافَهَا بِکَلام فالرّوایة ثابِتة الْحُجّة بها لازِمة الا ان تکُون هُناکَ دلالةٌ بیّنةٌ اَنّ هٰذا الرّاوِی لَم یلْق مَن روٰی عَنه اَوْ لَم یسْمع مِنْه شیْئا فامّا الامْر مُبْهم وَلِی الْاِمْکانُ الّذی فسّرْنا فَالرّوایَة عَلٰی السّماع ابدا حَتّٰی یَکون الدّلالة الّتی بیّنّا:

ترجمه: و دا قول داسنادو په باب کښې چه خدائې دې په تا باندې رحم اوکړی یو نوې ایجاد کړې شوې دې چه هغه وړاندې چا نۀ دې وئیلې نۀ دَحدیثو عالمانو ددې موافقت کړې دې. ددې دَپاره چه مشهور مذهب چه په هغې باندې دَاهل علمو اتفاق دې دَ وړومبو او ورستنو هغه دادې.

چه هر کله یو ثقه سړې دَبل ثقه سړی نه روایت اوکړی دَ یو حدیث او ددې دواړو ملاقات جائز او

ممکن وی (په اعتبار دَسن او دَ عمر) په دے وجه سره چه هغه دواړه په یوه زمانه کښے موجود وو اګر چه په څه حدیث کښے ددے خبرے تصریح نهٔ وی چه هغه دواړه ملاؤ شوے وو یا په دوی کښے مخامخ خبرے اترے شوے وے نو هغه حدیث حجت دے او هغه روایت ثابت دے البته کهٔ چرے ددے امر هلته څه واضح دلیل وی چه په حقیقت کښے دَراوی دَدریم راوی سره نهٔ دے ملاؤ شوے او دَ هغه نه ئے څه نهٔ دی اوریدلے نو هغه حدیث به حجت نهٔ وی لیکن دَ کومے پورے چه دا امر مبهم وی (یعنی ګول مول او څه دلیل دَ اوریدو او دَ ملاقات نهٔ وی)او هغه روایت به په سماع باندے محمول کولے نهٔ شی۔

فَيُقَالُ لِمُخْتَرِعِ هٰذَا الْقَوْلِ الَّذِی وَصَفْنَا مَقَالَتَهُ اَوْ لِلذَّابِ عنه قَدْ اعطِیتُ فِی جُمْلَةِ قَوْلِکَ اَنَّ خَبَرَ الْوَاحِدِ الثِّقَةِ عَنِ الْوَاحِدِ الثِّقَةِ حجّة یلزمُ به الْعَمَلُ ثمّ ادخلت فِیْهِ الشَّرطُ بَعْدَ فقلتُ حتّٰی یَعلم انّهما قَدْ کَانَا الْتَقَیَا مرّة فصَاعدًا اَوْ سَمِعَ مِنْهُ شَیْئًا فَهَل تَجِدُ هٰذَا الشَّرطَ الَّذِی اِشْتَرَطْتَهُ عَنْ اَحَدٍ یَلْزَمُ قَوْلُهُ وَاِلَّا فَهَلُمَّ دَلِیْلًا عَلٰی مَا زَعَمْتَ فَاِنَّ الدَّعِیَ قَوْلَ اَحَدٍ مِنْ عُلَمَاءِ السَّلَفِ بِمَا زَعَمَ مِنْ اِدْخَالِ الشَّرِیْطَةِ فِی تَثْبِیْتِ الْخَبَرِ طُولِبَ بِهٖ وَلَنْ یَجِدَ هُوَ وَلَا غَیْرُهُ اِلٰی اِیْجَادِهٖ سَبِیْلًا وَاِنْ هُوَ ادَّعٰی فِیْمَا زَعَمَ دَلِیْلًا یَحْتَجُّ بِهٖ قِیْلَ لَهٗ وَمَا ذٰلِکَ الدَّلِیْلُ؟:

ترجمه : بیا چه کوم سړی دا قول راویستلے دے یا ددے حمایت کړے دے ددهٔ سره دا ګفتګو کولے شی چه پخپله ستا دَ ټول کلام نه دا خبره راووته چه دَ یو ثقه سړی روایت دَدویم ثقه سړی نه حجت دے چه په هغے باندے عمل کول واجب دی بیا تا پخپله یو شرط ورستو سیوا کړو چه هر کله دا خبره معلومه شی چه هغه دواړه په خپل عمر کښے یو ځل ملاؤ شوے وو یا زیات او یو دَ بل نه اوریدلے وو اوس ددے شرط ثبوت دَچا داسے سړی دَقول نه موندل دی چه دَهغے منل ضروری وی کهٔ چرے داسے قول نهٔ دے نو بل څه دلیل په خپلے دعویٰ باندے راوړه۔ کهٔ چرے هغه دا اووائی چه په دے باب کښے دَ سلفو قول دے یعنی ددے شرط دَ ثبوت دَپاره به تهٔ چرته ځے کوم ځائے دے؟ لا! بیا به نهٔ دهٔ ته څه قول ملاویږی او نهٔ به بل چاته او کهٔ چرے هغه څه بل دلیل قائمول غواړی نو تپوس به کولے شی چه هغه دلیل څه دے؟۔

فائده :په دے مقام باندے امام مسلمؒ یوه لویه ضروری قاعده دشرع بیان کړه هغه دا
عمل کول په خبر واحد باندے علماؤ ونیلی دی چه حدیث یعنی خبر په دوه قسمه دے یو متواتر
یو احاد. متواتر هغه دے چه دَهغے روایت کونکے دومره سړی وی چه د هغے تولو دروغجن کیدل
دعقل په نزد باندے محال معلومیږی او په هره طبقه کښے ددے راوی په دے کثرت سره وی ددے
قسم روایت نه خو علم هم حاصلیږی یعنی یقین او په دے باندے عمل هم واجبیږی.

خبرِ احاد هغه دے چه هغے لره په هره طبقه کښے ددے قسم راویانو نقل کړے نهٔ وی خواه
کهٔ یو راوی نقل کړے وی یا زیاتو اگر چه په بعضو طبقو کښے ددے راویان په کثرت سره وی مثلا
یو صحابی یو روایت لره نقل کړے دے او بیا ډیرو تابعینو ددغه صحابی نه اوریدلے دے اگر چه
هغه حدیث به مشهور وی خو په خبرِ احاد کښے داخل دے دخبر احاد په حکم کښے دَعالمانو
اختلاف دے مگر جمهورو اهل اسلام صحابه او تابعین او دَهغوی نه پس او محدثینو. فقهاؤ او
عالمانو مذهب دادے کهٔ چرے دَ خبر واحد راوی کهٔ چرے ثقه وی نو حجت دے او ددے نه ظن
حاصلیږی اگر چه یقین ځنګه دَ متواتر نه حاصلیږی نهٔ شی حاصلیدے او په دے باندے عمل
کول واجب دی ددے په مقابله کښے قیاس او رائے لره پریخودل پکار دی.

او کهٔ چرے په خبر احاد باندے عمل واجب نهٔ شی نو ټول دَحدیثو علم بے کاره کیږی ولے
چه متواتر احادیث دَیو یا د دوو نه زیات نشته دے ټول احاد دی بیا ما سوا دَ قرآن نه څه باقی نهٔ
پاتے کیدل او دقدریو او روافضو دا قول دے چه په خبر واحد باندے عمل واجب نهٔ دے او دَ بعضے
اهل حدیثو دا قول دے چه خبر واحد دَ علم او عمل دواړو موجب دے په مثل دَ خبر متواتر ددے
دپاره چه راوی ثقه او معتبر دے او د بعضو قول دادے چه دَ بخاری او مسلم احاد حدیثونه علم لره
موجب دی او عمل لره هم د باقی کتابونو احاد حدیثونه صرف عمل لره موجب دی. مگر دا
ټول اقوال ضعیف دی او صحیح هغه دے کوم چه وړاندے بیان شو چه په خبر واحد باندے عمل
واجبیږی او ددے نه علم یعنی یقین نهٔ شی حاصلیدے په دے واسطه په اعتقاداتو کښے په خبر واحد
باندے بروسه نهٔ شی کیدے البته کهٔ چرے خبرونه د احاد ډیر وی چه دَهغے نه یو مشترك
مضمون پیدا کیدے شی نو هغه مضمون به متواتر کبدے شی او داسے حدیث ته متواتر المعنیٰ

وائی په دے کښے اګر چه دَ حدیث الفاظ متواتر نۀ دی بیا هم دَ دے ټولو حاصل مضمون به متواتر خیال کولے شی او په دے باندے یقین کول لازم دی۔ شفاعت او علامات قیامت او ظهور مهدی او اکثر دَ اعتقاداتو مطابق مضامین ددے قسم دی چه دَ هغے مضامین په مختلفو حدیثونو او رواتونو سره ۔ متواتر شوے دی ۔

فَإِن قَالَ قَائِلٌ فَلِمَ قُلْتَهُ لانّي وجدتُ رُوَاةَ الأَخبار قَدِيمًا وَحَدِيثًا يروى احدهُمْ عَنِ الآخر الحَدِيث ولمّا يُعاينه وَلا وَسَمِعَ منه شَيئا قطّ فلمّا رأيتهم اسْتجازُوا رِوَايَة الحديث بَيْنَهُم هكذا على الإِرْسَال مِن غير سماع وَالمُرسَل من الرّوايات فِي اصل قولنا وَقَوْل اهْل العِلم بالاخبارِ لَيس بِحُجّة احتجتُ لمَا وَصَفْت من العلّة إلَى البَحْث عَنْ سِمَاعِ الرّاوِي كل خَبر عَنْ رِوَايَة فَإِذا انا هَجمتُ علىٰ سِمَاعه منه لِأدْنىٰ شَئٍ ثبتَ عِندِي بِذَالِكَ جَمِيعَ مَا يروى عَنْه بَعد فَان عَزب عنّي مَعرِفَة ذَالِكَ اَوقفتُ الخَبَرَ وَلَم يَكُن عِنْدِي مَوْضِع حُجّة لامكانِ الإرْسَالِ فِيه:

ترجمه : بیا کۀ څوک دا سوے دا اووائی چه ما دا مذهب ددے دَپاره اختیار کړے دے چه ما دَ حدیثو تمامو ورومبو او وروستنو راویانو لره اوکتل چه دَ یو بل نه حدیث روایت کوی حالانکه یو بل لره نۀ دے لیدلے او نۀ ئے اوریدلے دی نو هر کله چه ما دا اولیدل چه هغوی جائز کړے دی مرسل لره روایت کول بغیر دَ سماع نه۔

او مرسل روایت زمونږه او دَ عالمانو په نزد باندے حجت نۀ دے نو حاجت راغے ماته دَ راوی دَسماع او دَ لیدلو چه هغے لره هغه روایت کوی دَبل نه بیا کۀ څوک ماته څرته لږه هم ثابته شوه چه دۀ اوریدلے دی دَدویم راوی نه نو دۀ تمام روایتونه ددے سره درست شول او کۀ څوک بالکل ماته معلومه نۀ شوه چه دۀ ددۀ نه اوریدلے دی نو زۀ به روایت لره موقوف اوساتم او زما په نزد به هغه روایت حجت نۀ وی ددے دَپاره چه ممکن دی ددے مرسل کیدل (دلیل شو دَ مخالف اوس ددے جواب وړاندے ذکر کیږی۔)

فائده : مرسل وائی هغه روایت ته چه دَ هغے په اسناد کښے اتصال نۀ وی بـ ي یو راوی ئے په مینځ کښے پاتے شوے وی مثلا تابعی دا اووائی چه رسول الله ﷺ داسے فر ائیلی دی او

هغه صحابی ذکر نهٔ کړی دَچانه چه دے تابعی اوریدلے دی منقطع او معضل هم ددے قسومونه دی مګر منقطع هغه روایت ته وئیلے شی چه هغه تبع تابعی دَصحابی روایت کړی یا دَلاندے راویانو نه یو راوی پاتے شی او معضل هغه دے چه په هغے کښے دوه راویان پاتے شوے وی دَ مرسل حدیث په قبلولو کښے دَ عالمانو ډیر اختلاف دے مشهور مذهب دادے چه هغه حجت نهٔ دے او دا قول دے دَیو جماعت دَ فقهاؤ او دَ امام شافعی او دَ امام مالك او ابو حنیفه او امام احمد رحمهم الله تعالی علیهم اجمعین او دَ اکثرو فقهاؤ قول دادے چه مرسل روایت حجت دے هر کله چه دَدغه روایت راوی ثقه وی۔

فَيُقَالُ لَهُ فَانْ كَانَتِ الْعِلَّةُ فِي تَضْعِيفِكَ الْخَبَرَ وَتَرْكِكَ الْاِحْتِجَاجَ بِهِ اِمْكَانَ الْاِرْسَالِ فِيْهِ لَزِمَكَ اَنْ لَا تَثْبِتَ اِسْنَادًا مُعَنْعَنًا حَتّٰى تَرٰى فِيْهِ السَّمَاعَ مِنْ اَوَّلِهِ اِلٰى آخِرِهِ وَذَالِكَ اَنَّ الْحَدِيْثَ الْوَارِدَ عَلَيْنَا بِاِسْنَادِ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ فَبِيَقِيْنٍ نَعْلَمُ اَنَّ هِشَامًا قَدْ سَمِعَ مِنْ اَبِيْهِ وَاَنَّ اَبَاهُ قَدْ سَمِعَ مِنْ عَائِشَةَ كَمَا نَعْلَمُ اَنَّ الْعَائِشَةَ قَدْ سَمِعَتْ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ وَقَدْ يَجُوْزُ اِذَا لَمْ يَقُلْ هِشَامٌ فِيْ رِوَايَةٍ يَرْوِيْهَا عَنْ اَبِيْهِ سَمِعْتُ اَوْ اَخْبَرَنِيْ اَنْ يَكُوْنَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اَبِيْهِ فِيْ تِلْكَ الرِّوَايَةِ اِنْسَانٌ آخَرُ اَخْبَرَهُ بِهَا عَنْ اَبِيْهِ وَلَمْ يَسْمَعْهَا هُوَ مِنْ اَبِيْهِ لَمَّا اَحَبَّ اَنْ يَرْوِيَهَا مُرْسَلًا وَلَا يُسْنِدَهَا اِلٰى مَنْ سَمِعَهَا مِنْهُ وَكَمَا يُمْكِنُ ذَالِكَ فِيْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ فَهُوَ اَيْضًا مُمْكِنٌ فِيْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ وَكَذَالِكَ كُلُّ اِسْنَادِ الْحَدِيْثِ لَيْسَ فِيْهِ ذِكْرُ سَمَاعِ بَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ وَاِنْ كَانَ قَدْ عُرِفَ فِي الْجُمْلَةِ اَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ قَدْ سَمِعَ مِنْ صَاحِبِهِ سَمَاعًا كَثِيْرًا فَجَائِزٌ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ اَنْ يَنْزِلَ فِيْ بَعْضِ الرِّوَايَةِ فَيَسْمَعَ مِنْ غَيْرِهِ عَنْهُ بَعْضَ اَحَادِيْثِهِ ثُمَّ يُرْسِلَهُ عَنْهُ اَحْيَانًا وَلَا يُسَمِّيْ مَنْ سَمِعَ مِنْهُ وَيَنْشَطُ اَحْيَانًا فَيُسَمِّي الَّذِيْ حَمَلَ عَنْهُ الْحَدِيْثَ وَيَتْرُكُ الْاِرْسَالَ۔

ترجمه : نو دا ته به وئیلے شی کهٔ چرے ستا په نزد باندے حدیث لره دَ ضعیف کولو او هغے لره دَ حجت نهٔ ګنړلو علت صرف دَارسال ممکن کیدل دی۔ (لکه دا پخپله وئیلے دی چه هر کله سماع ثابته نهٔ وی نو هغه روایت به حجت نهٔ وی ولے چه ممکن دی ددے مرسل کیدل)نو لازمیږی چه تهٔ څه اسناد معنعن لره او نهٔ منے دکومے پورے چه دَ اول نه دَ آ خره پورے په هغے کښے تصریح نهٔ وی دَ سماع(یعنی چه هر راوی دَدویم راوی نه داسے روایت اوکړی چه ما دده نه اوریدلے دی)مثلا

کوم حدیث چه مونږه ته رارسیدلے دے ذهشام په روایت سره هغه د خپل پلار عروه نه او هغه ذ حضرت عائشےؓ نه اوریدلے دی ځنګه چه مونږه دے خبرے لره په یقین سره منو چه حضرت عائشےؓ د محمد ﷺ نه اوریدلے دی. باوجود ددے احتمال دے چه کۀ چرے په څه روایت کښے هشام داسے اونۀ وائی چه ما ذ عروه نه اوریدلے دی یا عروه ماته خبر راکړے دے (بلکه صرف عن عروه اووائی) نو د هشام او ذ عروه په مینځ کښے یو بل سړے دے چه هغه ذ عروه نه اوریدلے دی او هشام ته ئے خبر ورکړے وی. او پخپله هشام د خپل پلار نه نۀ دی اوریدلے دے روایت لره، لیکن هشام دے لره مرسلا روایت کول او غوښتل او ذ چا په ذریعه چه ئے اوریدلے دهغه ذکر مناسب نۀ دے او ځنګه چه دا احتمال ذ هشام او ذ عروه په مابین کښے دے دغه شان ذ عروه او ذ حضرت عائشےؓ په مابین کښے هم کیدے شی. په دے شان په هر یو اسناد کښے چه په هغے کښے ذسماع تصریح نشته اګر کۀ دا خبره معلومه شی چه یو ذ بل نه ډیر روایتونه اوریدلے دی مګر دا کیدے شی چه بعض روایتونه ئے ددۀ نه نۀ وی اوریدلے بلکه ذ چا بل چا په ذریعه ئے اوریدلے وی او دے لره ئے مرسلا نقل کړے وی او ذ چا په ذریعه ئے چه اوریدلے وی ذهغه نوم ئے نۀ دے اخستے او کله ددے اجمال ذ رفع کولو ذپاره ئے ذهغه نوم هم ورکړے دے او ارسال ئے پریخودے دے.

فائده : حاصل ذ جواب دادے چه هر کله احتمال ذ ارسال ذ حدیث ذ حجت نۀ کیدو ذپاره کافی شی نو احتمال خو هلته هم موجود دے کوم ځائے چه ذ یو راوی ملاقات ذبل راوی سره ثابت شی ولے چه ذ ملاقات کیدل دے خبرے لره مستلزم نۀ دی چه تمام حدیثونه ددۀ روایت کړی شوی پخپله ددۀ نه اوریدلے وی جائز دی چه څه ددۀ نه پخپله واوری او څه ذ نورو خلقو په واسطه سره روایت کړی نو ذ ملاقات حال معلومیدل هم ذ احتمال رفع کولو ذ پاره کافی نۀ شوه بیا ددے شرط ذ لګولو نه حاصل څه شو بلکه نور ضرر پیدا شو چه په زرګونو صحیح متصل روایتونه چه ذ عن عن سره مروی دی ذ یو بے بنیاده احتمال نه بیکاره شول مخالف ددے جواب داسے ورکوی چه مطلق احتمال ذ رفع اتصال ذپاره کافی نۀ دے هر کله چه ملاقات ثابت شو نو طرف ذ اتصال لره ترجیح ده او جانب ارسال، مرجوع سو اعتبار به ذ اتصال وی ولے چه دا ظاهر دے او ظنِ غالب هم ددے دے. ددے پاره چه راوی مدلس نۀ دے په خلاف ذهغے صورت چرته چه

ملاقات یو ځل هم ثابت نۀ وی هلته جانب دَ اتصال او ارسال دواړه مساوی دی ددے دپاره شك او تردد شو او هغه مسلزم دے دَروایت موقوف کولو لره۔

وَمَا قُلنَا مِنْ هٰذا مَوْجُود فِی الْحَدِیْث مُسْتَفِیْضٌ مِنْ فِعْل ثِقَات الْمُحدثِیْن وَائِمَة اَهْل الْعِلْم وَسَنَذْکُرهُم مِن رِوَایَتِهِم عَلَی الْجِهَة الَّتِی ذَکَرْنا عَدَدًا یستدلّ بِها عَلٰی اَکْثَرِمِنْها اِنْ شَآء اللّٰهُ تَعالیٰ فَمِن ذٰلِک اَنّ اَیُّوب السَّخْتِیَانِیّ وَابْن الْمُبارَک وَوَکِیْعًا وابْن نُمَیْر وَجَمَاعَة غَیْرهُم رَوَوْا عَنْ هِشَام بْن عُرْوَة عَنْ اَبِیْه عَنْ عَائِشَة قَالَتْ کُنْتُ اُطِیْب رَسُولُ اللّٰه ﷺ لحلّهٖ ولِحَرمهٖ بِاَطْیَب مَا اَجد فَرَوٰی هٰذه الرِّوَایَة بِعَیْنِهَا اللَّیْثُ بْن سَعْد وَدَاوُد الْعَطَّار وحُمَیْد بْن الْاَسْود وَوُهَیْب بْن خَالِد وَاَبُو اُسَامه عَنْ هِشَام قَالَ اَخْبَرَنِیْ عُثْمان بْن عُرْوَة عَنْ عُرْوَة عَنْ عَائِشَة عَنِ النَّبِی ﷺ :

ترجمه : امام مسلمؒ فرمائی چه دا احتمال کوم چه مونږه بیان کړو (صرف فرضی او خیالی نۀ دے) بلکه موجود دے په حدیث کښے او جاری دے دَ ډیرو ثقه محدثینو په روایتونو کښے مونږه لږ شان داسے روایتونه بیانوو کۀ خدائے غواړی نو په دے سره به دلیل پوره شی په ډیرو روایتونو باندے ورومبے روایت هغه دے کوم چه ایوب سختیانی او ابن مبارك او وکیع او ابن نمیر او یو جماعت سوا دَدوی نه دَ هشام نه نقل کړے دے ۔ هغه دَ خپل پلار عروه نه او هغه دَ حضرت عائشےؓ نه چه ما به خوشبو لګوله دَ رسول الله ﷺ دَ احرام پرانستلو په وخت او دَ احرام دَ تړلو په وخت ۔ چه خومره به زیاته مزیداره خوشبو ماته ملاویده دے روایت لره بعینه لیث بن سعد او داؤد عطار او حمید بن اسود او وهیب بن خالد او ابو اسامه دَ هشام نه نقل کړے دے هشام وائی چه خبر راکړے دے ماته عثمان بن عروه او هغه دَ عروه نه او هغه دَ حضرت عائشےؓ نه او هغے دَ رسول الله ﷺ نه ۔

فائده : نو دَ هشام او دَ عروه په مینځ کښے دَ عثمان بن عروه واسطه نقل کړه او په ورومبو اسنادو کښے دَ عثمان واسطه نشته صرف هشام بن عروه دے. حالانکه دَ رومبو اسنادو نقل کونکو والا دَ حدیثو لوے لوے امامان دی ددے تولو نه غلطی نشی کیدے نو ضرور ده دا خبره چه دے روایت لره هشام پخپله دَ عروه نه نۀ دے اوریدلے بلکه دَ عثمان په واسطه ئے اوریدلے

دے لیکن کله کله هشام دے لره مرسلا دَ عروه نه نقل کړے دے او کله سندا دَ عثمان نه اګر چه په دے مقام کښے دا احتمال هم دے چه هشام ددے نه مخکښے دَ عثمان په واسطه باندے اوریدلے وی بیا په خپله دَ عروه سره ملاؤ شوے وی او بے دَ واسطے ئے دَهغه نه اوریدلے وی۔

وَرَوٰی هِشَام عَنْ اَبِیْه عَنْ عَائِشَة کَان النَّبِیّ ﷺ اِذَا اِعْتَکَفَ یُدْنِی اِلَیّ رَاْسَه فَاُرَجِّلُه وَاَنَا حَائِض فَرَوَاهَا بِعَیْنِهَا مَالِک بْن اَنَس عَنِ الزُّهْرِیّ عَنْ عُرْوَة عَنْ عَمْرَة عَنْ عَائِشَة عَنِ النَّبِیّ ﷺ :

ترجمه : اودویم روایت هشام کړے دے دَخپل پلار عروه نه هغه دَ حضرت عائشہؓ نه چه رسول الله ﷺ به هر کله په اعتکاف کښے وو نو خپل سر مبارك به ئے زما طرف ته راخکته کړو ما به دَهغه سر ګومونز کړو حالانکه زۀ به حائضه ووم دے روایت لره بعینه امام مالك دَ زهری نه روایت کړے دے هغه دَ عروه نه او هغه دَ عمره نه او هغه دَ حضرت عائشہؓ نه او هغوی دَ رسول اللهﷺ نه۔

فائده : نو دَ امام مالك په روایت کښے دَ عروه او دَ حضرت عائشہؓ په مابین کښے یوه واسطه ده دَ عمره۔ چه هغه په ورومبو اسنادو کښے نشته امام نووی وئیلی دی چه ددے حدیث نه څو خبرے معلومیږی یو دا چه دَ حائضے ښځے نور اندامونه پاك دی او په دے باندے دَ علماؤ اتفاق دے او دَ ابو یوسف نه چه کوم منقول دے چه دَ حائضے لاس پلیت دے هغه روایت صحیح نۀ دے دویمه دا چه معتکف په خپلو ویختو کښے ګومنز کولے شی دریم دا چه خپلے ښځے طرف ته کتلے شی او هغه بغیر دَ شهوت نه ښکلولے شی۔

وَرَوٰی الزُّهْرِیّ وَصَالِح بْن اَبِی حَسَّان عَنْ اَبِی سَلَمَة عَنْ عَائِشَة کَان النَّبِی ﷺ یُقَبِّل وَهُوَ صَائِم فَقَال یَحْیٰی ابْن اَبِی کَثِیْر فِی هٰذَا الْخَبَر فِی الْقُبْلَة اَخْبَرَنِی اَبُو سَلَمَة بْن عَبْد الرَّحْمَان اَنّ عُمَر بْن عَبْد الْعَزِیْز اَخْبَرَه اَنّ عُرْوَة اَخْبَرَه اَنّ عَائِشَة اَخْبَرَتْه اَنّ النَّبِی ﷺ کَان یُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِم :

ترجمه : دریم روایت هغه دے چه زهری او صالح بن ابی حسان دَابو سلمه نه نقل کړے دے او هغه دَ عائشہؓ نه چه رسول الله ﷺ ښکلول کړے وو او هغه به روژه دار وو۔ یحییٰ بن ابی کثیر ددے ښکلولو حدیث لره داسے روایت کړے دے خبر راکړے دے ماته ابو سلمه بن عبد الرحمٰن هغه

تـه خبر ورکړې دې عـمر بن عـبد العزیز او هغه ته خبر ورکړې دې عروه او هغه له خبر ورکړې دې حضرت عائشہؓ چه رسول الله ﷺ به ښکوله او هغه به روژه دار وو.

فائده : او پـه يـوه نسخه کښې صالح بن کيسان دې او هغه غلط دې. صحيح صالح بن ابی حسان دې نسائی دې لره روايت کړې دې دابن وهب نه هغه دَ ابن ابی ذئب نه هغه دَ صالح بن ابی حسان نـه هـغـه دَ ابو سلمه نه ترمذی دَ بخاری نه نقل کړې دې چه صالح بن ابی حسان ثقه دې او صـالـح بـن حسان بصری ابو الحارث دويم سړې دې هغه هم دَ ابو سلمه نه روايت کوی خو هغه ضعيف دې (نوویؒ)

نـو يـحيـیٰ بـن کثير دَابو سلمیٰ او عائشہؓ په مابين کښې دوه واسطې نورې دَ عمر بن عبد العزيز او عروه نقل کړې دی. دا دواړه واسطې په وړومبو اسنادو کښې نشته دې. په اسناد کښې يوه عـجيبـه خبره داده چـه دا څـلـور راويان يـعـنـی يحيیٰ او ابو سلمه او عمر بن عبد العزيز او عروه دَ تـابعينو نه دې او دَ يو بل نه روايت کوی دويم لطف دادې چه ابو سلمه يعنی عبد الرحمٰن بن عبد الرحـمـن بن عوف دَ لويو تابعينو نه دې او عمر بن عبد العزيز ددهٔ په نسبت په عمر او طبقه کښې کم دې بيا هغه دَدوی نه روايت کوی.

وَرَوٰی ابـن عُيَيْـنَة وَغَيْرهُ عَنْ عَمرو بْنِ دِيْنَار عَن جَابِر قَالَ اَطْعَمْنا رَسُول اللّٰهِ ﷺ لحُومَ الْخيل وَنَهَانَا مِنْ لُـحُوْم الْـحُمُرِ الْاَهْلِيَة فَرَوَاهُ حمّاد بْن زَيْد عَن عَمْرو وعَنْ مُحَمّد بْن عَلِیّ عَن جَابِر عَن النَّبِیّ ﷺ وَهٰذَا النَّحْو فِی الرِّوَايَاتِ كَثِيْرٌ يَكْثُر تِعْدَادُهُ وَفِيْهَا ذَكَرْنَا مِنْهَا كِفَايَة لِّذَوِی الْفَهْمِ .

ترجمه : څـلـورم روايت هـغـه دې چـه سـفيـان بـن عـيينه وغيره دَ عمرو بن دينار نه کړې دې او هغوی دَ حضرت جابرؓ نه چه رسول اللهﷺ په موږ ه خوره ولې ده دَ اسونو غوښه او منع کړې ئې وو دَ پـالـلـو شـوو خـرو دَ غـوښـو نه دې حديث لره روايت کړې دې حماد بن زيد دَعمرو نه هغوی دَ مـحـمـد بـن عـلـی نه (يعنی امام باقر) هغوی دَ جابر نه(نو حماد بن زيد دَعمرو بن دينار او جابر په مـابـيـن کښې يـوه واسـطـه بـلـه نـقـل کـړې ده دَ محمد بن علی چه هغه په وړومبو سندونو کښې نشتـه)او ددې قسم حديثونه ډير دی چه دَهغې شمير ډير زيات دې او څومره چه موږه بيان کړل هغه دَ پوهې دَ خاوندانو دَپاره کافی دی.

فَإِذا كَانت العِلَّةُ عِنْد من وَصَفْنا قَوْله قَبْل في فساد الحديث وتوهينه اذا لم يعلم انّ الرّاوِى قد سمع مِمّن روى عنه شيئا لإمْكَان الْإِرْسال فِيْه لزمه ترْك الْإحْتِياج فِي قيام قوْله برواية من يُعلم انّه قد سمع ممّن روى عَنْه إلا فِي نفس الْخبر الّذِى فِيه ذِكْر السّماع لِما بيّنا مِنْ قبل عن الْائِمّة الّذِيْن نقلوا الْاخبار انه كانت لهم تارات يُرْسِلُون فيها الْحدِيث اِرْسالاً ولا يذْكُرُون من سمعُوهُ مِنْه وتارات يَنْشَطُ... فيسندُون الْخبر على هَيْئته ما سمِعُوا فيخبرُون بالنّزُول فِيْه إنْ نزلُوا وبالصّعُوْد إنْ صعدوا كما شرحْنا ذالِكَ عَنْهُمْ :

ترجمه : بیا هر کله چه علت دَ هغه سړی په نزد چه دَ هغه قول مونږه وړاندے بیان کړو، دَ حدیث دَ خرابئ او دَ توهین دا شو چه دَ یو راوی سماع دَ بل راوی نه معلومه نهٔ شوه نو ارسال ممکن دے نو ددے قول په موجب دهٔ لره ترك کول دَ حجت لازم دی دَ هغه روایتونو سره چه دَ هغے دَ راوی سماع دَدویم نه معلومه شوے وی (بیا خاص په دے روایت کښے دَسماع تصریح نشته،)البته دغه سړی په نزد باندے صرف دغه روایت حجت وی چه په هغے کښے دَسماع تصریح ده ولے چه وړاندے مونږه دا بیان کړی دی چه دَ حدیثو دَ روایت کونکو امامانو حال مختلف وی کله خو هغوی ارسال کوی او دَ چا نه چه هغوی اوریدلے وی دَ هغوی نوم نهٔ اخلی او کله خوشحالیږی او دَ حدیثو پوره اسناد په څه شان چه ئے دوی اوریدلے وی بیانوی بیا کهٔ چرے هغوی لره غوره ځول وی نو غوره ځول ئے بنائی او کهٔ چرته هغوی لره اوچتول وی نو اوچتول (یعنی خیژول) ئے بنائی څنگه چه وړاندے صفا مونږه بیان کړے دی۔

فائده : دَ غوره ځولو او پورته کولو نه دا مقصود دے چه سند عالی شو او واسطے کمے شوے نو اوچت شو، او کوم سند چه عالی نهٔ وی او واسطے زیاتے شی نو اوغوره ځیدو۔

وَمَا عَلِمْنا اَحَدا مِن اَئِمّة السّلف ممّن يُسْتعمِلُ الْاَخْبارَ وَيَتَفَقّدُوا صحّة الْاَسانِيْد وَسقِمِهَا مِثْل ايّوب السّخْتِيانِىّ وَابْن عَوْن وَمَالِك ابْن اَنَس وَشُعْبة بْن الْحَجّاج ويَحْيىٰ بْن سَعِيْد الْقَطّان وعبد الرّحمٰن بْن مَهْدى ومن بعدهم من اهل الْحَدِيث فتشُوا عَن موضع السّماع فِى الْاَسَانِيْد كَمَا ادّعَاهُ الّذِى وصَفْنا قَوْلهُ مِنْ قَبْل وانّما كَان تفقّد مَنْ تفقّد مِنْهم سماع رُوَاة الْحدِيْث ممّن رَوىٰ عَنْهم إذَا كَان

الرّاوِی مِمّن عرف بالتدلیس بالحدیث وشهر به فحینئذٍ یبحثون عن سماعه فی روایته ویتفقدون ذالک منه کی تنزاح عنهم علة التدلیس فاما ابتغاء ذالک من غیر مدلس علی الوجه الذی زعم من حکینا قوله فما سمعنا ذالک عن احد ممن سمینا ولم نسم من الائمة ـ فمن ذالک ان عبد الله بن یزید الانصاری وقد رای النبی ﷺ قد روی عن حذیفة وعن ابی مسعود الانصاری وعن کل واحد منهما حدیثا یسنده الی النبی ﷺ ولیس فی روایته عنهما ذکر السماع منهما ولا حفظنا فی شیئ من الروایات ان عبد الله بن یزید شافه حذیفة وابا مسعود بحدیث قط ولا وجدنا ذکر رؤیته ایاهما فی روایت بعینها ولم یسمع عن احد من اهل العلم ممن مضی ولا ممن ادرکنا انه طعن فی هذین الخبرین الذین رواهما عبد الله بن یزید عن حذیفة وابی مسعود بضعف فیهما بل هما وما اشبههما عند من لاقینا من اهل العلم بالحدیث من صحاح الاسانید وقویها یرون استعمال ما نقل بها والاحتجاج بما اتت من سنن آثار وهی فی من حکینا قوله من قبل واهیة مهملة حتی یصیب سماع الرّاوی عمن روی :

ترجمه : او مونږه دَ سلفو امامانو نه به چه کوم حدیث استعمالول او دَ اسنادو دَ صحت او سقم تپوس به مونږ نۀ کولو لکه ایوب سختیانی او ابن عون او مالك بن انس او شعبه بن حجاج لو یحییٰ بن سعد القطان او عبد الرحمٰن بن مهدی چه دَدوی نه پس دی چا نۀ دی اوریدلی چه هغه په اسنادو کښې دَسماع تحقیق کوی. لکه چه دا سړے دعویٰ کوی چه هغه قول مونږه پورته بیان کړے دے البته چا چه دَدوی نه دَروایاتو دَسماع تحقیق کړے دے نو هغه دَ هغه راویانو چه هغه مشهور دی په تدلیس کښې دغه وخت یے شکه دَداسے راویانو دَ سماع نه بحث کیږی او ددے معلومات کوی چه دَدوی نه دادَ تدلیس مرض لرے شی ـلیکن دَ سماع تحقیق په هغه راوی کښې چه هغه مدلس نۀ وی په څه شان چه دے سړی بیان کړے دے نو دا مونږه دَ امام نه نۀ دے اوریدلے دَهغه امامانو نه دَچا چه ذکر مونږه اوکړو او دَچا ذکر چه مونږه نۀ دے کړے. ددے قسم روایت نه دَ عبد الله بن یزید انصاری روایت دے (پخپله صحابی دے) هغوی لیدلے دے رسول الله ﷺ لره او روایت کړے دے حذیفه بن ایمان او ابو مسعود (عقبه بن عمرو انصاری بدری) نه دَ هر

یو نه یو حدیث لره چه هغے لره هغوی مسند کړے دے دَ رسول الله ﷺ پورے او نشته دے تصریح په دے روایتونو کښے ددے خبرے چه عبد الله بن یزید اوریدلی دی ددے دواړو نه (یعنی حذیفه او ابو مسعود نه ئے اوریدلے دی) او نهٔ په څه روایت کښے مونږه دا خبره اومونده چه عبد الله دَ حذیفه او ابو مسعود سره رو برو ملاؤ شوے دے او دَ هغه نه ئے څه حدیث اوریدلے دی او نهٔ چرته مونږه دا اومونده چه عبد الله دے دواړو لره لیدلے دی په یو خالص روایت کښے (مګر چونکه عبد الله پخپله صحابی وو) او دَ هغه عمر دومره وو چه ملاقات دَ هغه دَ حذیفه او ابو مسعود سره ممکن دے ددے دَپاره روایت په عن سره محمول دے په اتصال باندے نو صرف امکان ملاقات کافی شولو۔ لکه څنګه چه دَامام مسلم مذهب دے او دَچا علم والا نه نهٔ دی اوریدلی او نهٔ دَ وړومبو خلقو نه نهٔ دَ هغه چانه چه دَهغوی سره مونږه ملاؤ شوے یو چه هغوی طعن کړے وی په دے دواړو حدیثونو کښے چه عبد الله روایت کړے دی دَ حذیفه او ابو مسعود نه چه دا ضعیف دی بلکه دا حدیثونه اوکوم چه ددے مشابه دی دا صحیح حدیثونه دی او قوی دی دَهغه امامانو په نزد باندے چه دَهغوی سره مونږه ملاؤ شوے یو۔ او هغه ددے استعمال جائز ګنړی او ددے ه حجت اخلی حالانکه دا حدیثونه دَدغے سړی په نزد باندے چه دَهغه قول وړاندے مونږ بیان کړو (چه هغه ثبوتِ ملاقات شرط کوی) واهی دی او بیکاره دی دکومے پورے چه سماع دَ عبد الله دَحذیفه او ابو مسعود سره متحقق نهٔ وی۔

فائده : دَابو مسعود نه هغوی نفقة الرجل علی اهله حدیث روایت کړے دے چه هغه بخاری او مسلم دواړو په خپلو کتابونو کښے نقل کړے دے۔ او دَ حذیفه نه ئے هغه حدیث نقل کړے دے اخبرنی النبی ﷺ بما هو کائن دَ اخیره پورے چه دے لره مسلم نقل کړے دے نو عبد الله بن یزید صحابی دے هغوی روایت کړی دَ حذیفهؓ او ابو مسعودؓ نه چه مشهور صحابه کرام دی۔

وَلَو ذَهَبْنَا نُعَدِّدُ الْاَخْبَارَ الصِّحَاحَ عِنْدَ اَهْلِ الْعِلْمِ مِمَّنْ يُهِنُ بِزَعْمِ هٰذَا الْقَائِلِ وَنحصِيهَا لَعَجَزْنَا عَنْ تَقَصِّيْ ذِكْرِهَا وَاِحْصَائِهَا كُلِّهَا وَلٰكِنَّا اَحْبَبْنَا اَنْ نَّنْصِبَ مِنْهَا عددًا يَكُونُ سِمَةً لِّمَنْ سَكَتْنَا عَنْهُ مِنْهَا وهٰذا اَبُو عُثْمَانَ النَّهْدِى وَاَبُو رَافِعِ الصَّائِغِ وهُمَا مِمَّنْ اَدْرَكَ الْجَاهِلِيَّةَ وَصحبَا اَصْحَابَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ

مِنَ الْبَـدْرِيّيـنَ هلمّ جرًا وَنقلا عَنْهم الْاَخْبار حتّى نزل اِلٰى مااِئل ابى هُريْرة وابْن عُمَر وذويهما قدْ اسْند كلّ وَاحد منْهُمَا عَن اَبى بْـن كَعْب عَن النّبىّ ﷺ حدِيْثا وَلم يسمعْ فِى رِوَاية بعيْنها انّهما عاينا أبيًّا او سَمِعَ مِنْه شَيْئًا:

ترجمه : او کۀ چرے مونږه تول داسے حدیثونو لره چه دَ اهل علمو په نزد باندے صحیح دی او ددے سری په نزد باندے ضعیف دی بیان کړو نو ددے په ذکر کولو به مونږه سنړے شو (یعنی دومره زیات دی) لیکن مونږه غواړو چه لږ ددے نه بیان کړو چه دباقی دپاره هغه نمونه وی ابو عثمان نهدی (عبد الرحمٰن بن مُل چه دَ یو سل دیرشو کالو شو نو مړ شو) او ابو رافع صائغ (نقیع مدنی) دے دواړو دَ جاهلیت زمانه موندلے ده (لیکن دَ رسول الله ﷺ صحبت ورته نصیب شوے نۀ دے داسے خلقو ته مخضرم وائی) او دَ رسول الله ﷺ دَ لویو لویو بدری صحابو سره ملاؤ شوے او روایتونه ئے ترے کړے دی بیا دَ لاندے دَ نورو صحابو سره تر دے پورے چه ابو هریرة او ابن عمرؓ او دَدوی په مثل صحابه کرامو سره۔ په دوی کښے هر یو یو حدیث دَ ابی بن کعب نه روایت کړے دے او هغوی دَ رسول الله ﷺ نه حالانکه دَ څه روایت نه دا خبره ثابته شوے نۀ ده چه دے دواړو ابی بن کعب لره لیدلے دے یا ئے دَ هغه نه څه اوریدلے دی۔

وَاسْـنـد ابـو عَـمْـرو الشّيبانىّ وهُو ممّن ادْرك الْجاهليّة وكَان فِى زمن النّبىّ ﷺ رجُلا وابُـو مَـعْـمـر عَبْـد اللّٰهِ بْن سَخْبَرة كلّ وَاحد منهُما عَن ابْن مسعُود الْاَنْـصَـارىّ عَنِ النّبىّ ﷺ خبَرَيْنِ:

ترجمه : او ابو عمر شیبانی (سعد بن ایاس) چه هغه دَ جاهلیت زمانه موندلے ده او دَ رسول الله په زمانه کښے ځوان سړے وو او ابو معمر عبد الله بن سخبره هر یو دَدوی نه دوه دوه احادیث دَ ابو مسعود انصاری نه روایت کړے دی او هغوی دَ رسول الله ﷺ نه

وَاَسْـنـد عُبَيْـد بْن عُمَيْر عَن امّ سلْمة زَوْج النّبى ﷺ عَنِ النّبىّ ﷺ حدِيْثا وَعُبَيْد وَلَدَ فِى زمن النّبىّ ﷺ واسـنَـد قَيْس ابْن اَبِى حَازِم وقَدْ اَدْرك زَمَن النّبىّ ﷺ عَنْ اَبِى مسعُود هُو الْاَنْصَارِىّ عَنِ النّبى ﷺ ثلثة اَخْبَار وَاسْـند عبدُ الرّحْمٰن ابْن اَبِى لَيْلىٰ وَقَدْ حَفظ عَنْ عُمَر بْن الْخطّاب وصَحِبَ عَلِيًّا عن

انس بن مالک عن النبی ﷺ حدیثا واسند ربعی بن خراش عن عمران ابن حصین عن النبی ﷺ حدیثا وقد سمع ربعی من علی بن ابی طالب وروی عنہ واسند نافع بن جبیر بن مطعم عن ابی شریح الخزاعی عن النبی ﷺ حدیثا واسند النعمان ابن ابی عیاش عن ابی سعید الخدری ثلثۃ احادیث عن النبی ﷺ واسند عطاء بن یزید اللیثی عن تمیم الداری عن النبی ﷺ حدیثا واسند سلیمان ابن یسار عن رافع بن خدیج عن النبی ﷺ حدیثا واسند عبید بن عبد الرحمن الحمیری عن ابی ھریرۃ عن النبی ﷺ احادیث:

ترجمه: او عبید بن عمیر دَ ام المؤمنین ام سلمهؓ نه یو حدیث روایت کړے دے او هغوی دَ رسول اللهﷺ نه۔ او عبید پیدا شوے دے دَ رسول اللهﷺ په زمانه کښے او قیس بن ابی حازم چه دَ رسول اللهﷺ زمانه ئے موندلے ده دَ ابو مسعود انصاری نه درے احادیث روایت کوی او عبد الرحمان بن ابی لیلیٰ چه هغه دَ حضرت عمرؓ نه اوریدلے دی او دَ حضرت علیؓ په صحبت کښے پاتے شوے دے یو حدیث دَ انس بن مالکؓ نه روایت کوی۔ او ربعی بن حراش دَ عمران بن بن حصین نه دوه حدیثونه روایت کوی هغوی دَ رسول اللهﷺ نه او ابو بکر نه یو حدیث هغوی دَ رسول اللهﷺ نه۔

او ربعی دَ حضرت علیؓ نه اوریدلے دی او دَ هغه نه ئے روایت کړے دے۔ او نافع بن جبیر بن مطعم دَ ابو شریح خزاعی نه یو حدیث روایت کړے دے او هغوی دَ رسول اللهﷺ نه۔ او نعمان بن ابی عیاش دَ ابو سعید خدریؓ نه درے حدیثونه روایت کړے دی هغوی دَ رسول اللهﷺ نه او عطاء بن یزید لیثی دَ تمیم داری نه یو حدیث روایت کړے دے هغوی دَ رسول اللهﷺ نه۔ او سلیمان بن یسار دَ رافع بن خدیج نه یو حدیث روایت کړے دے او هغوی دَ رسول اللهﷺ نه او عبید بن عبد الرحمان حمیری دَ ابو هریرةؓ نه څه حدیثونه روایت کړے دی او هغوی دَ رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی۔

فائده: دے ټولو حدیثونو لره نوویؒ په خپله شرح کښے نقل کړے دی مگر اکثر حدیثونه ددے نه مسلم وړاندے نقل کړے دی ددے دپاره دَ طول دَ یرے نه مونږ دے لره دلته اونه

لیکل او غرض ددے تولو راویانو دَ ذکر کولو نه دادے چه دا تول راویان په اعتبار دَ سِن او عمر سره چه دَ کومو خلقو نه روایت کړے دے دَ هغوی نه اوریدلے شی بیا دَ هغوی اوریدل او ملاقات کول ثابت شوے نۀ دی حالانکه محدثینو دغې روایتونو لره قبول کړے دی او دے ته ئے صحیح وئیلے دی نو معلومه شوه چه صرف امکان سماع کافی دے ثبوتِ سماع ضروری نه دے۔

فَکُلّ هٰؤُلَاء التَّابِعِیْن الَّذِیْن نَصَبْنَا رِوَایتهُم عَنِ الصُّحَابَة الَّذِین سَمَّیْنَاهُمْ لَم یَحْفظ عنهُم سِمَاع عَلِمْنَاهُم مِنْهُم فِی رِوَایَة بِعَیْنِهَا ولا انّهم لَقُوْهُم فِی نَفْس خَبَر بِعَیْنِه وَهِیَ اَسَانِید عند ذَوِی الْمَعْرِفَة بِالْاَخْبَار وَالرِّوَایَات مِن صِحَاحِ الْاَسَانِیْد لا نَعْلمهُم وهَنُو منها شَیْئًا قطّ ولا اَلْتمسُوا فِیْهَا سِمَاع بعضهُم مِن بَعْض اِذِالسَّمَاع لکلّ واحِد مِّنهم مُمْکن مِنْ صَاحبه غَیْر مُسْتَنْکر لِکَوْنهِمْ جمیعًا کَانُوا فِی الْعَصْر الَّذِی اتّفقُوا فِیْه وَکَان هٰذا الْقول الَّذِی حَکَیْنَاهُ فِی تَوْهِیْن الْحدیْث بالعلّة الّتِی وَصف اقلّ من انْ یُعرّج عَلیه وَیُثَارُ ذِکرهُ اذْکَان قَوْلًا مُحْدَثًا وَکَلامًا خلفا لَم یَقُلْه اَحَدٌ مِّنْ اَهْل الْعِلْم سلف وَیَسْتَنْکرهُ مَنْ بَعْدهُم خلف فَلا حَاجَة بِنَا فِی رَدّه بِاَکْثر مِمَّا شَرحْنَا اِذْ کَانَ قَدْر الْمَقَالَة وَقَائِلُهَا الْقدْر الَّذِی وَصَفْنَاهُ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰی دَفْع مَا خَالَفَ مَذْهَبِ الْعُلَمَاءِ وَعَلَیْکَ التُّکْلَانُ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَصَلَّی اللّٰهُ علٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِه وَصَحْبِه وَسَلَّم:

ترجمه : بیا دا تول تابعین چه هغوی دَ صحابه کرامو نه روایات کړے دی چه دَ هغوی ذکر مونږه پورته بیان کړو دَدوی سماع دَ هغه صحابو نه په څه معین روایت کښے معلومه شوے نۀ ده او نۀ ملاقات دَدوی دَدغه صحابو سره دَروایت نه ظاهر شوے دے۔ باوجود ددے ددۀ دا تول روایتونه حدیث او دَ روایت دَ پیژدونکو خلقو په نزد(یعنی دَ حدیثو دَ امامانو په نزد باندے) صحیح السند دی او مونږه نۀ پو هیږو چه چا ددے نه څه روایت لره ضعیف کړے دے یا په دے کښے دَ سماع تلاش وی ددے دَپاره چه سماع ممکنه ده ددے نه انکار نۀ شی کیدے۔ ولے چه هغه دواړه په یوه زمانه کښے موجود وو او دا قول چه دے لره هغه سړی راویستلے دے چه دَ هغه بیان مخکښے مونږه اوکړو دَ حدیث دَ ضعیف کیدو دَپاره ددے علت په وجه سره کوم چه ذکر شو ددے لائق هم نۀ دے چه دے طرف ته التفات اوکړی یا ددے ذکر اوکړی ددے دَپاره چه دا قول نوے وتلے

شوے دے او غلط او فاسد دے څوك خاوند دَ علم دَ سلفو ددے قائل شوے نۀ دے او کوم خلق چه دَ سلفو نه پس تیر شوے دی هغوی دَدے نه انکار کړے دے نو په دے سره ددۀ دَ رد کولو حاجت نشته دے هر کلمه چه ددے قول او ددے دَ ویونکی دا وقعت دے لکه چه بیان شو الله مدد ورکونکی دے ۔دَهغه خبرے دَ رد کولو دَپاره چه دَ عالمانو دَ مذهب نه خلاف ده اوپه دے باندے بهروسه ده ۔(تمامه شوه مقدمه دَ مسلم شریف اوس شروع کیږی بیان دَ ایمان چه اصل دے دَ تمامو اعمالو او چه په دے باندے موقوف دے خلاصے دَ آخرت دَ عذاب نه۔)

کتاب الایمان

دَایمان بیان

فائده: خطابی وئیلے دی چه دَ اکثرو علماؤ مذهب دادے چه ایمان او اسلام یو دےاو زهری وئیلے دی چه اسلام په ژبه سره اقرار کول دی او ایمان اعمالِ صالحه ته وائی. او صحیح دادی چه اسلام عام دے او ایمان خاص دے نو هر مؤمن مسلم یعنی مسلمان دے لیکن هر مسلم لره مؤمن کیدل ضروری نهٔ دی دَایمان اصل تصدیق دے یعنی په زړهٔ باندے یقین کول او دَاسلام اصل فرمانبرداری ده یعنی اطاعت کول نو چه کوم سړے په ظاهر کښے فرمانبرداره وی لیکن په زړهٔ کښے دَهغه یقین نهٔ وی هغه سړے مسلمان دے او مؤمن نهٔ دے.

بیا ایمان په اصطلاح دَ شرعه کښے دادے چه په زړهٔ سره یقین اوکړی او په ژبه سره اقرار اوکړی او اعمالو لره په لاسونو او خپو سره ادا کړی. په دے سره ایمان کمیږی او زیاتیږی او دا مذهب دے دَ اهلِ حدیثو او ددے دلیل ډیر آیتونه او احادیث دی.

او دَ مرجیو قول دادے چه ایمان صرف دَ قول نوم دے او اعمالِ صالحه په ایمان کښے داخل نهٔ دی ددے وجے نه ایمان نهٔ زیاتیږی او نهٔ کمیږی او خفیه هم دَ مرجیو سره په دے باب کښے موافق شوے دی مګر فرق دادے چه خنفیه اعمال صالحه لره دَ عذابِ قبر نه دَ بچ کیدو دَپاره ضروری ګنړی او مرجیه وائی چه دَ اعمالو ضرورت نشته او دَ ایمان سره څه ګناه ضرر نهٔ کوی.

او کوم خلق چه دَاحادیثِ صحیحه نه او دَ آیاتِ قرآنیه نه خلاف ددے خبرے قائل شوے دی چه په ایمان کښے کمے او زیاتے نهٔ کیږی ددے دَپاره چه ایمان صرف دَزړهٔ تصدیق او یقین ته وئیلے شی هغوی غور نهٔ دے کړے په دے باندے چه تصدیق او یقین دواړه دَ صفاتِ نفسانیو نه دی او همیشه صفاتِ نفسانی لکه رنج او غصه او محبت او عداوت کښے کمے او زیاتے کیږی په شان دلائلو کښے دَغور کولو سره په یقین کښے هم کمے او زیاتے راځی. بعضو وئیلے دی چه دَ کمی او زیاتی نه راتلو نه دا عرض دے چه په کمیت کښے کمے او بیشے نهٔ راځی لیکن په کیفیت کښے خو کمے او بیشے راتلل ضروری ده ولے چه دَ مقلد ایمان دَ محقق دَ ایمان برابر نهٔ شی کیدے.

دغه شان ایمان ادنیٰ دَ عام سړی او ایمان دَ انبیاو علیهم السلام او اولیاو څنګه برابر کیدے شی۔ اوس علماؤ په دے خبره باندے اتفاق کړے دے چه مؤمن په چا باندے چه حکم شوے دے دَ اهلِ قبلو او کوم چه همیشه په جهنم کښے نهٔ شی پاتے کیدے هغه سړے دے چه هغه په زړهٔ باندے دَ دین اسلام په حق کیدو باندے اقرار او یقین اوکړی او په دے کښے شک نهٔ کوی او په ژبه سره اقرار اوکړی دَ الله جل شانه دَ توحید او دَ حضورِ اکرم ﷺ په رسالت باندے۔ اوس کهٔ چرے دَ یوے خبرے اقرار اوکړی یعنی یواځے د توحید یا یواځے دَ رسالت نو هغه به مؤمن نهٔ وی اوبعضو ونیلے دی کهٔ چرے یواځے دَ توحید اقرار اوکړی نو هغه به مسلمان وی او هغه ته به وینا کولے شی دَرسالت دَ اقرار کولو دَ پاره بیا کهٔ چرے هغه انکار اوکړو نو مرتد شو واجب القتل دے۔

په دے شان چه کوم سړے دَ اهل قبلو نه وی هغه دَ څه ګناه په وجه سره نهٔ کافر کیږی۔ البته کهٔ چرے دَ اسلام دَ یو ضروری فرضی رکن نه انکار اوکړی او عمل نهٔ کوی چه دَ هغے ثبوت په تواتر او اتفاق سره دے لکه دَ مانځه یا دَ روژے دَ فرضیت نه انکار اوکړی یا دَ شرابو دَ حراموالی نه انکار اوکړی نو هغه ته به کافر ونیلے شی ۔ (نوویؒ به اختصار مع زیادت)

بَابُ بیانِ الاِیمانِ والاِسلامِ والاِحسانِ ووجوبِ الاِیمانِ باِثباتِ قدرِ اللهِ سبحانه وتعالیٰ

باب: د ایمان او د اسلام او د احسان بیان او د الله تعالیٰ په تقدیر باندے د ایمان بیان:

قَالَ الْإِمَامُ ابُو الْحُسَيْنِ مُسْلِمُ بْنُ الْحَجَّاجِ الْقُشَيْرِى رَحِمهُ اللّٰهُ بِعَوْنِ اللّٰهِ عزّ و جلّ نَبْتَدِئُ وايّاه نَسْتَكْفِي وَما توفِيْقُنَا اِلاّ بِاللّٰهِ جلّ جَلالَهُ:

ترجمه: امام ابو الحسین مسلم بن حجاج ددے کتاب مؤلف فرمائی مونږه شروع کوو کتاب لره دَالله تعالیٰ په مدد سره او هغه کافی ګنړم او نشته دے مونږه لره توفیق ورکونکے مګر الله تعالیٰ چه لوے جلال والا دے ۔

فائده: اوس ددے ځائے نه کتاب مسلم شریف شروع کیږی مګر مونږه په ترجمه کښے دَ

اختصار په وجه سره دَ حدیثو سندونه نهٔ دی لیکلی ولی چه دَ سندونو نه هغه خلق فائده اخستے شی چه هغه اهلِ علم او اهلِ معرفت دی او عام سړی لره صرف دا کافی ده چه دَ حدیثو امامان کوم حدیث ته صحیح وائی په هغې باندې عمل اوکړی۔ امام مسلمؒ په اسنادو کښې چرته حدثنا او اخبرنا وئیلی دی او چرته ئې حدثنی او اخبرنی وئیلی دی نو ددې نه دَ امام مسلمؒ کمال اودَ حدیثو په روایت کښې احتیاط معلومیږی حدثنی او اخبرنی په هغه ځائې کښې وئیلې شی چه هلته امام مسلم یواځې دَشیخ نه حدیث اوریدلے یا یواځې لوستلے اوریدلے وی او حدثنا او اخبرنا هغه ځائې کښې وئیلی شی چه هلته ئې دَ نورو خلقو سره حدیث اوریدلے دی یا ئې لوستلے او لوړلے دی۔

(۹۳)عَن یَحۡیٰی بُن یَعۡمَر قَال کَان اوّل مَنۡ قَال فِی الۡقَدۡرِ بالۡبصۡرَة مَعۡبَدُ الۡجُهنِیّ فَانۡطَلقۡتُ انَا وَحُمَیۡدُ بۡن عَبۡد الرّحۡمٰن الۡحِمۡیَرِیّ حَاجَّیۡنِ اَوۡ مُعۡتَمِرَیۡن فقُلنا لَو لَقِیۡنا احدًا من اصۡحابِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَسَألۡنَاهُ عمّا یقُولُ هٰؤلاءِ فِی الۡقدرِ فوُفِق لَنَا عبد اللّٰه بۡن عُمَر بۡن الۡخطّاب دَاخِلان الۡمَسۡجد فاکۡتَنَفۡتُهُ انَا وصَاحِبِی اَحدنَا عَن یَمِیۡنِه وَالآخر عَنۡ شِمالِه فظَنَنۡتُ انّ صَاحِبِیۡ سَیَکِلُ الۡکلام اِلَیّ فقُلۡتُ یَا ابَا عَبۡد الرّحمٰن انّه قد ظَهر قَبلنَا نَاسٌ یَقۡرءُون الۡقرآن ویتقفّرُون الۡعِلۡم وذکر مِن شَانِهِمۡ وانّهم یَزۡعُمُون انۡ لاّ قَدۡر وانّ الۡاَمۡر اُنُفٌ فَقَال اذَا لَقِیۡتَ اُولٰئکَ فاَخۡبِرهُم انّی بَرِیۡئٌ مِّنۡهُم وانّهم بُرآءُ مِنّی والّذی یَحۡلِفُ بِه عبدُ اللّٰه بۡن عُمَر لَوۡ انّ لِاَحَدِهِم مثل اُحُد ذَهَبًا فَانۡفَقَهُ مَا قَبِل اللّٰهُ مِنه حتّی یُؤۡمِنَ بِالۡقَدۡرِ :

ترجمه: دَیحییٰ بن یعمر نه روایت دے چه دَ ټولو نه وړاندې چه چا په تقدیر کښې بحث کړے دے په بصره کښې (دا یو ښار دے په دهانه خلیج فارس باندې آباد کړے وو عتبه بن غزوان دَ حضرت عمرؓ دَ خلافت په دور کښې ۔ سمعانی وائی چه بصره قبه ده دَ خاوندانو دَ اسلام او خزانه ده دَ عربو او په حقیقت کښې بصره یو ښار دے چه په هغې سره تجارت دَ اهل هند او فارس سره په خوبۍ قائمیدے شی او شاید چه په دے مصلحت سره ددے ښار بناء شوی وی) هغه معبد جهنی وو نو زهٔ او حمید بن عبد الرحمٰن حمیری دواړه یو ځائې لاړو دَ حج یا دَ عمرې دَپاره او مونږه دا اووے چه کاش! مونږه ته یو صحابی دَ رسول الله ﷺ ملاؤ شوے وے چه هغه ته مونږ ذکر اوکړو

ددے خبرے چہ دا خلق وائی پہ تقدیر کنبے، نو اتفاقا ملاؤ شو مونږہ دَ عبد اللہ بن عمرؓ بن الخطاب سرہ پہ لارہ کنبے چہ ھغہ جماعت تہ تللو ھغہ مونږہ پہ مینځ کنبے کړو یعنی زۀ او زما ملگرے ترے نہ ښی او گس طرف تہ شو زۀ پوھہ شوم چہ زما ملگرے (حمید) بہ ماتہ دَ خبرے کولو دَپارہ وائی (ددے دَپارہ چہ زما گفتگو ښۀ وہ) نو ما اووے اے ابا عبد الرحمان (دا کنیت دے دَ ابن عمرؓ) زمونږہ پہ ملك کنبے داسے خلق پیدا شوے دی چہ ھغوی قرآن لولی او دَ علم شوق لری یا دَ ھغے بارکیانے راوُباسی او دَ ھغوی حال مو بیان کړو او دا مو اووے چہ ھغہ وائی چہ تقدیر څہ شے نۀ دے او تمام کارونہ ناگھانہ شوے دی عبد اللہ بن عمرؓ اوفرمائیل تۀ چہ کلہ دَداسے خلقو سرہ ملاؤ شوے نو ورتہ وایہ چہ زۀ دَ ھغوی نہ ویزاریم او ھغوی زما نہ او زما دے پہ اللہ باندے قسم وی چہ دَدغہ خلقو نہ (دَچا ذکر چہ تا اوکړو چہ دَ تقدیر قائل نۀ دی) کۀ دَچا سرہ دَ احد دَ غر برابر سرۀ زر وی او ھغہ دَ خدائے پہ لارہ کنبے خرچ کړی نو اللہ بہ ئے قبول نۀ کړی تر څو چہ ئے پہ تقدیر باندے ایمان نۀ وی راوړے۔

ثُمَّ قَالَ حَدَّثَنِی اَبِی عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ قَالَ بَیْنَھُمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰہِ ﷺ ذَاتَ یَوْمٍ اِذْ طَلَعَ عَلَیْنَا رَجُلٌ شَدِیْدُ بَیَاضِ الثِّیَابِ شَدِیْدُ سَوَادِ الشَّعْرِ لَا یُرٰی عَلَیْہِ اَثَرُ السَّفَرِ وَلَا یَعْرِفُہٗ مِنَّا اَحَدٌ حَتّٰی جَلَسَ اِلَی النَّبِیِّ ﷺ فَاَسْنَدَ رُکْبَتَیْہِ اِلٰی رُکْبَتَیْہِ وَوَضَعَ کَفَّیْہِ عَلٰی فَخِذَیْہِ وَقَالَ یَا مُحَمَّدُ اَخْبِرْنِیْ عَنِ الْاِسْلَامِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ اَلْاِسْلَامُ اَنْ تَشْھَدَ اَنْ لَّا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰہِ وَتُقِیْمَ الصَّلٰوۃَ وَتُؤْتِیَ الزَّکٰوۃَ وَتَصُوْمَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَیْتَ اِنِ اسْتَطَعْتَ اِلَیْہِ سَبِیْلًا قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَعَجِبْنَا لَہٗ یَسْاَلُہٗ وَیُصَدِّقُہٗ قَالَ فَاَخْبِرْنِیْ عَنِ الْاِیْمَانِ قَالَ اَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰہِ وَمَلٰٓئِکَتِہٖ وَکُتُبِہٖ وَرُسُلِہٖ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدْرِ خَیْرِہٖ وَشَرِّہٖ قَالَ صَدَقْتَ :

ترجمہ : بیا ئے اووے چہ حدیث بیان کړے دے ماتہ زما پلار عمر بن الخطاب رضی اللہ تعالی عنہ چہ یوہ ورځ مونږہ دَ رسول اللہ ﷺ سرہ ناست وو پہ دے کنبے یو سړے راښکارہ شو چہ کپړے ئے زیاتے سپینے وے او ویختۀ ئے زیات تور وو دا نۀ وہ معلومہ چہ دے دَ سفر نہ راغلے دے او نۀ زمونږ نہ ھغہ چا پیژندو ۔ ھغہ کیناستو دَ حضور ﷺ سرہ او خپل زنگونان ئے دَ حضور ﷺ دَ

زنگونانو سره ملاو کړل (لکه څنګه چه شاګرد د استاذ مخې ته کینی) بیائې اووے اے محمد! اوښایه ماته اسلام څه دے؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل اسلام دادے چه ته ګواهي ورکړه (یعنی په ژبه سره لووایه او په زړه باندے یقین اوکړه) ددے خبرے چه نشته دے رښتونے معبود سوا دَ الله نه او محمد(ﷺ) دَ هغه رالیږلے شوے رسول دے او قائمه وه مونځ لره او ادا کوه زکوة لره او روژے ساته دَ رمضان او دَ خانه کعبے حج کوه که چرے ستا نه کیږی. (یعنی دَ لارے خرچ درسره وی او په لاره کښے څه یره نهٔ وی) هغه اووے تا رښتیا اووے. مونږه حیران شو چه پخپله تپوس کوی او بیا پخپله وائی چه رښتیا دے اووے (حالانکه تپوس کونکے بے علمه وی او رښتیا دے اووے دا خو هغه کس وائی چه هغه ته علم وی دا دواړه کاره یو سړے څنګه اوکړی) بیا هغه سړی اووے ماته اوښایه چه ایمان څه دے؟ حضور ﷺ او فرمائیل ایمان دادے چه ته یقین اوکړه (دَزړهٔ نه) په الله باندے او دَ هغه په فرښتو باندے (چه هغه د الله پاك پاکے بندګانے دی او دَ هغه حکم په ځائے کوی او الله پاك ورله لوے طاقت ورکړے دے) او د هغه په پیغمرانو باندے (چه هغوی لره الله رالیږلے دی دَ حق لارے دَ ښودنے دَپاره) او په ورځ دَ آخرت باندے (یعنی د قیامت ورځ چه په دغه ورځ به حساب کتاب کیږی او دَ ښهٔ او بدو اعمالو تول به کیږی) او یقین اوکړه په تقدیر باندے چه ښهٔ او بد تمام دَ الله پاك دَ طرف نه دی (یعنی دَ تولو خالق هغه دے) هغه سړی اووے چه تا رښتیا اووے.

قَال فاخبرنی علی الاِحسان قَال انْ تَعْبُدَ اللّٰهَ کَاَنّک تَراهُ فَاِن لَم تَکُن تَراهُ فانه یراک قَال فَاَخْبِرْنی عَنِ السّاعة قَال مَا الْمَسْؤل عَنها اَعْلم مِنَ السّائل قَال فَاَخْبِرنی عن اِمَارَتِهَا قَال اَنْ تَلِد الْاَمَۃُ رَبَّتَهَا وَاَنْ تَرٰی الْحُفاۃ الْعالۃ رعآء الشّاۃِ یتطاوَلُونَ فِی الْبُنْیان قَال ثمّ انطلق فَلَبِثْتُ مَلِیًّا ثمّ قَال لی یَا عُمَر اَتَدْرِی مَنِ السّائِلُ قُلتُ اللّٰهُ وَرَسُولُهٗ اَعْلَم قَال فَاِنّه جِبْرِیل اَتاکُم یُعلّمُکُم دِیْنَکُم. [ابو داود : ۴۶۹۵: ترمذی ۲۶۱۰؛ نسائی : ۵۰۰۵؛ ابن ماجه : ۶۳]

ترجمه : بیا هغه سړی اووے چه اوښایه ماته احسان څه دے؟ هغه اوفرمائیل احسان دادے چه ته دَ الله عبادت کوه په دے شان سره ګویا چه ته خدائے وینے کهٔ دومره نهٔ وی نو داسے اوګڼړه چه هغه تا وینی.

بیا هغه سړی اووے چه اووایه ماته چه قیامت به کله وی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل د چانه چه تپوس کوے هغه د تپوس کونکی نه زیات نهٔ پوهیږی. بیا هغه سړی اووے چه ماته ددے نشانے اوښایه حضور ﷺ اوفرمائیل یوه نشانی داده چه وینزه به خپلے بی بی لره او زیږوی دویمه نشانی داده چه ته به اوګورے چه د چا په خپو پیزار نهٔ وو او په تن پورے نے کپړے نهٔ وے هغه مفلسان به لوے لوے عمارتونه جوړه وی راوی وائی چه بیا هغه سړے لاړو زهٔ د ډیر وخته پورے حصار شوم ددے نه پس حضور ﷺ ماته اوفرمائیل اے عمره تهٔ پیژنے چه دا تپوس کونکے څوک وو؟ ما اووے الله او د هغه رسول بنهٔ پوهیږی حضرت ؓ اوفرمائیل چه دا جبریل وو تاسو ته ستاسو د دین د ایزده کولو د پاره راغلے وو.

فائده: یعنی د تقدیر نفی نے اوکړه او بدعت نے رااوویستو او د خاوندانو د حق مخالفت نے اوکړو ولے چه حق تقدیر لره ثابته وی یعنی دا وائی چه الله جل شانه په ازل کښے د تمامو څیزونو اندازه لګولے ده یعنی هغه ته پته وه چه فلانے څیز به په فلانی وخت کښے په فلانی شان واقع کیږی بیا د هغے موافق څنګه چه د الله پاك په علم کښے وو هغه څیز ظاهرېږی.

او قدریه ددے امر نه انکار کوی هغوی وائی چه الله جل شانه ددے خبرز اندازه نهٔ ده کړے هغه ته ددے علم نهٔ وو بلکه هر کله چه هغه څیز واقع شو نو دغه وخت الله تعالیٰ ته د هغے علم اوشو او دا د هغوی دروغ دی په الله عز وجل باندے او دے فرقے ته قدریه ځکه وائی چه هغوی انکار کوی د قدر نه.

صاحب مقالات وئیلے دی چه دا فرقه قدریه تمامه شوه او څوك د اهل قبلو نه ددے قول قائل نهٔ دے پاتے. او په آخره زمانه کښے چه چاته قدریه وئیلے شی هغه به تقدیر الهی لره ثابتوی خو دا وائی چه شر د شیطان او بنده د طرف نه دے او خیر د الله د طرف نه دے او معتزلو ته قدریه وئیلے شی ولے چه هغوی ددے خبرے قائل شوے دی چه بنده بالکل قادر دے او هغه پخپله د خپلو کارونو که خیر وی یا شر خالق دے. او روافض هم په دے باب کښے د معتزلو سره شریك شوے دی، او اهل حدیث دا وائی چه خالق څوك نشته ما سوا د الله نه او خاص الله د تمامو څیزونو خالق دے خو الله پاك بنده لره یو قسم اختیار ورکړے دے چه په هغے باندے عذاب او

ثواب منحصر دے خو دے اختیار تہ خلق نۀ شی وئیلے پہ خپلہ پہ قرآن مجید کښے دا خبرہ موجود دہ "والله خلقکم وما تعملون" یعنی الله پاك تاسو او ستاسو اعمالو لرہ ئے پیدا کڑے دے او فرمائیلے ئے دی " هل من خالق غیر الله " یعنی آیا څوك خالق شته سوا دَ الله نه ۔ ابو محمد بن قتیبه پہ غریب الحدیث کښے او ابو المعالی امام الحرمین پہ ارشاد کښے دا لیکلے دی چه بعضے قدریه وائی چه مونږه قدریه نۀ یو بلکه اهل سنت قدریه دی ولے.چه هغوی قدر او قضاء ثابتوی او دا محض دهوکه او فریب دے ددے دَپاره چه خاوندانو دَ حق تمامو کارونو لره خدائے پاك ته سپارلے دی او قدر او تمام افعالو لره دَ خدائے پہ طرف باندے نسبت کوی او دا جاهلین خپل طرف ته نسبت کوی او کوم سړے چه خپل طرف ته نسبت کوی دَڅه څیز نو هغه اولی دے چه نوم کیږدی دَدغه څیز سره پہ نسبت دَهغه سړی چه هغه دغه څیز لره دَ ځان نه نفی کړی۔ او دَغیر دَپاره ئے ثابت کړی امام الحرمین وئیلے دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه قدریه ددے امت مجوسیان دی نو مشابهت ئے ورکړو دَ قدریو دَ مجوسیانو سره لکه مجوس (فارسی خلقو) دوه خالق ثابت کړے دی یو دَ خیر هغے ته(یزدان) وائی یو دَ شر هغے ته(اهرمن) وائی په دے شان قدریو هم دَ شر خالق بنده گنړلے دے بلکه دَ مجوسیانو نه هم زیات بد تر دی ولے چه مجوسو دوه خالقه گنړلی دی او دوی پہ زرگونو او لکونو او کروړونو خالقان کړل۔

نووی فرمائیلے دی چه دا حدیث چه قدریه ددے امت مجوسیان دی روایت کړے دے ابو حازم دَابن عمرؓ نه او هغوی دَ رسول الله ﷺ نه او دے لره ابو داؤد روایت کړے دے پہ خپل سنن کښے او حاکم پہ مستدرك کښے او وئیلے ئے دی چه صحیح دے دَ بخاری او دَمسلم پہ شرط باندے کۀ چرے دَ ابو حازم سماع دَابن عمر نه ثابته شی۔

خطابی وئیلے دی چه رسول الله ﷺ قدریو ته مجوس ددے وجے نه وائی چه دَدوی قول دَ مجوسیانو دَ مذهب مشابه دے ولے چه مجوس دَدوو اصلونو قائل دی یو دَ نور یعنی رڼړا او بل دَ ظلمت یعنی دَ تیرے او وائی چه خیر دَ نور فعل دے او شر دَ ظلمت نو هغه بت پرست او مشرکان شوے دی پہ دے شان قدریه نسبت کوی دَ الله طرفته دَ خیر او نسبت کوی دَ شر دَ بنده طرفته۔

حالانکه الله پاك دَ خير او شر دَ هر څه خالق دے۔

او څه کار نيك يا بد دَ هغه دَ ارادے نه بغير نهٔ کيږي نو خير او شر دواړه په اعتبار دَ خلق سره دَ الله پاك په طرف منسوب دی او په اعتبار دَ کسب او فاعليت دَبنده په طرف او بعضے سرے دَ قضا او قدر مطلب داګڼي چه بنده بالکل مجبوره دے دَ خدائے دَ قضا او قدر په مخکښے او ده ته په هيڅ شان اختيار نشته۔ دے ته فرقه جبريه وائي چه دا هم دَ قدريو په شان ګمراه ده او اهل سنت نه خارجه ده حالانکه دَ قضا او قدر دا مطلب نهٔ دے بلکه قضا او قدر دَ الله تعالی علم دے چه بنده څنګه کار کوی بد يا نيك او کله ئے کوی خو بنده ته ددے علم نهٔ وی په دے واسطه هغه تمام کارونه په خپل اختيار سره کوی او دَ هغے ثواب يا عذاب ورته ملاويږی ۔(نوویؒ مع زيادت)

سمعانی په کتاب الانسان کښے ليکلی دی چه جهنی نسبت دے جهينه طرف ته چه دا يوه قبيله ده دَ قضاعه نه او دَ هغے نوم ليث بن اسود بن اسلم بن الحاف بن قضاعه وو څه خلق دَدوی په کوفه کښے دی چه جهينه طرف ته نسبت لری او څه په بصره کښے دی او بصرے والو کښے وو معبد بن خالد جهنی چه دَ حسن بصری شاګرد وو دَ ټولو نه وړاندے هغه خبرے اترے کړے وے په تقدير باندے په بصره کښے بيا بصرے والا دَ هغه په لاره باندے روان شو حجاج بن يوسف هغه لره ګرفتار کړو او قتل ئے کړو۔

په تقريب کښے دی چه بعضو وئيلے دی چه دَ هغه نوم عبد الله بن عقيم دے او بعضو وئيلے دی چه دَ هغه نيکهٔ عويمر وو هغه رښتونے دے ليکن بدعتی وو هغه دَهر چانه مخکښے په تقدير کښے خبرے اترے کړے وے په بصره کښے۔ او په ۸۰ هجری کښے قتل شوے وو۔

په دے حديث کښے دلته يتقفرون دے په وړاندې والی دَ قاف په فاء باندے چه معنی ئے داده چه طلب کوی علم لره او شوق لری او بعضے نسخو کښے يتقفرون دے چه معنی ئے داده چه باريکيانے راوباسی او نکتے جوړوی او بعضو دَ مسلم نه سوا دا لفظ رايت کړے دے يتقفون په خذف دَ راء سره چه معنی ئے داده پيروی کوی دَ علم قاضی عياض وائی چه بعضے يتقعرون وائی دَ تقعر نه دے يعنی ژورے خبرے راوباسی او دَ ابو يعلیٰ په روايت کښے يتفقهون دے چه معنی ئے داده يعنی فقهه حاصلوی ۔(نوویؒ)

یعنی ابتدائی ناخاپه یے سو چه او یے پو هے شول الله تعالیٰ ته دَ وړاندے نه ددے علم نهٔ وو نهٔ هغه وړاندے ددے څه اندازه کړے وه بلکه دَ واقع کیدو نه پس خدائے پاك ته علم اوشو لکه چه مخکښے تیر شو چه دا قول دَ غلات قدریو دے۔ او دَ تولو قدریو نهٔ دے او قائل ددے گمراه او دروغجن دے خدائے پاك دے تمام مسلمانان یعنی دَاسلام علاقه ددے اعتقاد نه بچ اوساتی۔ ولے چه هغه تمام کافران دی قاضی عیاض وائی چه مراد هغه قدریه دی چه دَ الله تعالیٰ علم دَ مخلوق سره نفی کوی۔ هغه بالاتفاق کافر دی۔

او دا خلق په حقیقت کښے فلاسفه دی چه هغه وائی چه الله تعالیٰ ته دَ جزئیاتو علم نشی کیدے او کهٔ وی هم نو یو شان اجمالی علم به وی نهٔ تفصیلی، بعضو وئیلی دی چه دَابن عمرؓ دا قول دَ قدریو په کافر کیدو باندے دلالت کوی او احتمال دے مراد دَ کفر نه نا شکری وی لیکن دَ مخکښے عبارت نه صفا دَدوی کفر معلومیږی په دے یوه فقره کښے رسول الله ﷺ تمام تصوف او سلوك لره بیان کړے دے۔

دَ تصوف تعریف

خلاصه دَ تصوف داده چه بنده دَخدائے پاك سره محبت او الفت پیدا شی او دَ خدائے پاك خیال هر وخت دَ بنده په زړهٔ کښے وی نو اعلیٰ درجه ددے داده چه بنده دَخدائے پاك به تصور کښے داسے مستغرق شی چه سوا دَ خدائے نه ورته څه په نظر نهٔ راځی، کهٔ په ظاهری سترگو سره دَدنیا څیزونه وینی او په غوږونو سره اوری خو هر کله چه زړهٔ دَ خدائے سره لگیدلے دے نو سترگے او غوږونه دَ مړی دَ سترگو او غوږونو په شان کهولاؤ وی سترگے وینی غوږونه اوری مگر تصور او خیال ئے دَ مولا سره دے دے ته وحدت الشهود وائی چه دا دَ اعلیٰ درجے فقیرانو او صوفیانو او خدائے پاکو بندگانو ته حاصلیږی او یوه مرتبه ددے نه ادنیٰ ده چه دَ هغے دَ حاصلولو دَپاره هر مسلمان لره کوشش کول پکار دی۔

هغه دا چه هر وخت خدائے پاك حاضر او ناظر اوگنړی او دا یقین اوکړی چه خدائے پاك دذ په تمامو حرکاتو او سکناتو تر دے پورے چه دَزړهٔ خطرات او خیالات هم بنهٔ وینی او پرے پو هه دے بیا دَ۔ هغه دَ عبادت په وخت دَدویم څیز یعنی دَ نورو څیزونو سره زړهٔ لگول او بیهوده

وسوسے خپلول دَ شیطان کار دے۔ دَهغے نه پناه غوښتل پکار دی ۔

نووی وائی مقصود ددے کلام نه دادے چه بنده په عبادت کښے اخلاص کوی او دَ زړهٔ دَ اخلاصه نے کوی یعنی عبادت په ډیر خشوع او خضوع سره کوی قاضی عیاض وئیلے دی چه دا حدیث داسے جامع دے چه تمام دَ شریعت علوم ددے نه وتلے دی یعنی دَ قیامت راتلل چاته معلوم نهٔ دی سوا دَ الله نه۔

نووی وئیلے دی چه ددے حدیث نه معلومه شوه چه د مفتی او عالم نه هرکله چه دَداسے خبرے تپوس اوکړے شی چه په هغے باندے هغه نهٔ پوهیږی نو دا وئیل پکار دی چه ماته معلومه نهٔ ده او دا وئیل به دَ هغه دَ ذلت او نقصان باعث نهٔ وی بلکه دلیل دے دَدهٔ دَ کمالِ علم او دینداری او تقوی۔ لویو لویو امامانو لکه امام ابو حنیفهؒ او امام مالکؒ په ډیرو مسائلو کښے وئیلے دی چه مونږه ته معلومه نهٔ ده ۔

دا ترجمه ده ان تلد الامة ربتها ددے، لکه دا روایت دے. او په یو روایت کښے دَ ربتها په ځائے باندے ربها راغلے دے دَ تذکیر سره نو ترجمه به داوی چه پیدا به کړی وینځے خپل آقا لره او په یو روایت کښے بعلها دے یعنی پیدا به کړی وینځے خپل خاوند لره۔

ددے فقرے په مطلب کښے مختلف اقوال دی بعضو وئیلے دی چه مطلب دادے چه وینځے به ډیرے نیولے شی او دَ هغوی اولاد به ډیر خور شی او ظاهره ده چه وینځه هم دَ شریعت په رویٔ سره یو قسم مال دے او دَ پلار مال دَ هغه نه پس دَ ځوی وی او ځوی لور دَخپلے مور مالکان وی۔ بعضو وئیلے دی چه مراد دادے چه وینځے به دَبادشاهانو میاندے وی ولے چه دَدغے زمانے بادشاه به دَ شریعت موافق دَ نکاح پابند نهٔ وی بلکه ډیر نکاحونه به نهٔ کوی وینځے او خواصیانے به ساتی۔ بیا به دَ هغوی بچی هلکان او جینکی په تخت باندے کینی او بادشاهان به جوړیږی او خپلے مور لره به په خپل رعیت کښے شاملوی۔

او بعضو وئیلے دی چه غرض دادے چه دَ خلقو حال به تباه شی او دَ بچی مور خرخول به شروع کړی هغه وینځه به خرسیږی خرسیږی څه وخت پس به بیا دلته راشی یعنی خرسه به شی په دغه خپل ځوی باندے په هغه وخت چه دے به ځوان شوے وی او دا به ورته معلومه نهٔ

وی چه دا ځما مور ده او دا صورت ما سوا دَ ام ولد نه په نورو خلقو کښې هم کیدے شی مثلاً دَ یوے بنځې ځوے سوا دَ هغې دَ مالك نه دَ چا بل چاسره وی په نکاح یا په شبه یا په زنا سره بیا هغه وینځه خرسیږی ددغه هلك په لاس کښې راشی او هغه نے نهٔ پیژنی۔

او دَ بعل معنیٰ هم دَ مالك او سید راځی لکه اتدعون بعلا یعنی تاسو چغې وهی مالك ته، بعضو وئیلی دی چه دَ بعل نه مراد خاوند دے یعنی خصم هغه وائی دَ وینځو خرید او فروخت به دومره په کثرت سره شی چه کله به یو سړے خپله مور په نکاح کوی او هغه ته به معلومه نهٔ وی۔ او بعضو وئیلی دی چه مراد دادے چه خلق به دَ میاندو عزت او حرمت پریږدی او دَ خپلې مور سره به داسے سلوك کوی کوم چه دَ وینځو سره کوی خدائے پاك دے مونږه په خپله پناه کښے اوساتی۔ په دے زمانه کښے ډیر خلق داسے شته چه دَ پلار مور ادب نهٔ کوی او دَ هغوی فرمانبرداری نهٔ کوی بلکه دَ وینځو او غلامانو په شان هغوی لره لکه دَ کور دَ سپی په شان دبلوه وی۔

امام نووی فرمائیلی دی چه ددے حدیث نه دا خبره نهٔ شی وتلے چه دَ ام ولد بیعه ممنوع یا جائز ده۔ او کومو خلقو چه استدلال کړے دے په دے امر باندے ددے حدیث نه نو په دوی باندے تعجب کیږی ددے دَپاره چه کوم څیز دَقیامت نشانی وی دَهغې حرام یا مذموم کیدل ضروری نهٔ دی۔ ولے چه دهنگ دهنگ کورونه جوړول دولت ډیر ګټل پنځوس پنځوس بنځے ساتل حرام نهٔ دی حالانکه هغه هم دَ قیامت نشانی دی یعنی دَدُنیا په حالت کښے به یو لوے انقلاب وی کوم خلق چه مفلس قلاش اوګی وو هغه به امیر او مالدار شی او کوم چه مالدار وو هغه به مفلس او محتاج شی۔

اګر چه داسے انقلاب په دنیا کښې په لویو لویو جنګونو کښے څو څو ځله راغلی دے او قیامت ته نزدے به هغه په تمامه دنیا کښے وی۔ او تر اوسه پورے چه کوم شوے دی لکه څنګه چه په دویم روایت کښے دی چه قیامت ته نزدے به قتل او غارت ډیر زیات شی او په تمامه دنیا کښے یو لوے فساد جوړ شی۔ او بعضو وئیلی دی چه مراد دَ لغړو او کنګالو نه دَعربو خلق دی او دا یوه پیشنګوئی وه دَهغوی دَپاره چه اسلام به ترقی اوکړی او دَعربو شان او شوکت به لوچت

شي۔ او هغه به دَ محتاجي۔ او غربت نه بچ شي او مالداران او اميران به ترے نه جوړ شي۔
بيا داسے اوشوه چه دَ هغه دَ وفات نه ورستو لږه موده پس ايران او روم او مصر فتح شول او دَعربو خلق مالامال شول۔ دا ترجمه ده دَ " فلبث ملياً " او په بعضے نسخو کښے فلبث مليا يعنى دَډير وخته پورے چپ پاتے شو او دَ ابو داؤد او ترمذى په روايت کښے دى دَدرے ورځو نه پس حضور ﷺ زما سره ملاؤ شو ليکن دا په ظاهره مخالفت دے دَحضرت ابو هريرةؓ دَ روايت۔ چه هغه سړى شا کړه او لاړو هغه اوفرمائيل چه دے راولى۔ خلقو وړپسے منډے کړے نو هلته ئے څوك اونۀ موندو دغه وخت رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا جبريل وو او ممکن دے توفيق په دے طور باندے چه حضرت عمرؓ دغه وخت دَمجلس نه پاسيدلے او وتلے وى خو هغه نورو خلقو ته دغه وخت ونيلى وى او دَ حضرت عمرؓ نه درے ورځے پس دَ هغه نه معلومه شوه چه ايمان او اسلام او احسان ټول په دين کښے شامل دى يعنى داخل دى۔ او دا حديث دَ علوم او معارفو په ډيرو قسمونو باندے مشتمل دے بلکه هغه اصل دے دَاسلام لکه څنګه چه مونږه دَ قاضى عياض نه نقل کړو او څه فائدے ددے پورته ذکر شوے دى يوه فائده دے دا هم ده چه هر کله دَ مجلس خاوندانو ته دَ څه خبرے علم نۀ وى نو دَهغے دَ معلومولو دَپاره تپوس کول درست دى۔ ددے دَپاره چه ټول واقف شى، دويمه داده چه عالم لره ډيره نرمى کول پکار دى او تپوس کونکى ته په ښۀ شان سره جواب ورکول پکار دى چه دَهغه تشفى اوشى۔

(۹۴)عَن يَحيىٰ بن يَعْمَرَ قَال لَمّا تكلّم مَعْبَدُ بما تكلّم به فِي شَان الْقَدر اَنْكَرْنَا ذَالِك قَال فحجَجْتُ انَا وحُمَيد بن عَبد الرّحمٰن الْحِمْيرِىَ حجة وَساقُوا الْحَديث بمعنى حَدِيْث كَهْمَس واِسْنَادهٗ وَفِيْهِ بَعْضُ زِيادةٍ ونُقْصَان اَحْرُفٍ[راجع ۹۳]

ترجمه : يحيىٰ بن يعمر وائى چه کله معبد دَ تقدير په مسئله کښے خبرے شروع کړے نو مونږه ئے مخالفت اوکړو او دا دَ هغه وخت خبره ده چه زۀ او حميد بن عبد الرحمٰن حميرى دَ حج دَپاره روان شو باقى حديث ئے دَ بعضے الفاظو دَ کمى او بيشى سره بيان کړو۔

(۹۵)عَن يَحيىٰ بن يَعْمَرَ وَحُمَيْد بْن عبدالرّحمٰن قالا: لقِيْنا عبد الله بْن عُمَر فذكرنَا القَدر وما يقولُون

فِیه واقتصّ الْحدیث نَحو حَدِیْثِهِمْ عنِ النّبی ﷺ وَفِیْه شئیٌ مِّنْ زِیادۃ وَقَدْ نقصَ مِنه شیْئًا:

[ابو داؤد : ۴۶۹۶]

ترجمه : (دویم سند) یحییٰ بن یعمر او حمید بن عبد الرحمٰن وائی چه مونږه دَ عبد الله بن عمرؓ سره مـلاؤ شو او مونږه دَ تقدیر په باره کښې چه کوم خلق غلطې خبرې کوی دَهغې تذکره مو ورته اوکړه نو هغوی هم هغه حدیث بیان کړو چه کوم تیر شو. په څه کمی او زیاتوالی سره.

(۹۶) عن یحیی بن یعمر عن ابن عمر عن عمر عن النبی ﷺ بنحو حدیثهم: [راجع :۹۳]

ترجمه : پـه یـو بـل روایـت سره یحییٰ بن یعمر دَ ابن عمر نه هغه دَ عمرؓ نه او هغوی دَ نبی کریم ﷺ نه هم دغه شان حدیث بیانوی.

باب الایمان ماهو ؟ وبیان خصاله:

دایمان حقیقت او دهغې د خصلتونو بیان:

(۹۷)عن ابی هُریرۃ قَال کان رسُول اللّٰه ﷺ یومًا بارزًا لِلنّاس فَاتاہُ رجُل فَقَال یارسُول اللّٰه مـاالْایـمـان قـال اَنْ تـؤمِـن بِاللّٰهِ وملٰئکتِه وکُتبه ولقائه ورُسُلِه وتُؤمِنَ بِالْبعثِ الْاٰخِر فقال یَا رَسُول اللّٰهِ مـاالْاِسـلام قـال الاسـلام اَنْ تـعْبُـدَ اللّٰـهَ ولا تشـرِکَ به شَیْئًا وتُقِیم الصّلوۃَ الْمَکْتُوبة وتؤدّی الزّکوۃ الْـمـفْـروضـة وتصُوم رمضان قال یَا رَسُول اللّٰه مَا الْاِحْسَان قَال ان تعبد اللّٰه کَانّک تَراہُ فانک انْ لَا تراہُ فانّه یرَاکَ :

ترجمه : دابو هریرۃؓ نه روایت دے چه یوه ورځ رسول الله ﷺ په خلقو کښې تشریف فرما وو چه پـه دے کښې یو سړے راغے او وے وئیل چه یا رسول الله ﷺ ایمان څه ته وائی؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه ایمان دادے چه ته د زړۀ نه یقین اوکړے په الله پاك باندے دَهغه په فرشتو باندے او دَهغـه پـه کتابونو باندے اوذهغه په ملاقات باندے او دَهغه په پیغمبرانو باندے او داچه ته یقین اوکړے په راپورته کیدو دَ ورځے آخرے باندے بیا هغه سړی اووے یا رسول الله ﷺ اسلام څه دے؟ حضـور ﷺ ورتـه اوفـرمـائیـل اسـلام دادے چـه تـه دَالله پاك جل جلاله عبادت کوه او دَهغه سره څـوك شـریك مۀ جوړوه او فرض مونځ لره قائمه وه او زکوۀ چـه درباندے څومره فرض وی ورکوه

او دَ رمضان روژے نیسه۔ بیا هغه سړی اووے یا رسول اللهﷺ احسان څه دے؟ حضورﷺ اوفرمائیل چه ته عبادت کوه دَالله پاك لکه چه ته وینے هغه لره او کۀ ته چرے هغه لره نۀ وینے (یعنی دومره استغراق دے نۀ وی او دا درجه درنه نۀ کیږی) نو دومره خو دے وی چه هغه تا وینی۔

قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ وَلٰكِنْ سَأُحَدِّثُكَ عَنْ أَشْرَاطِهَا إِذَا وَلَدَتِ الْأَمَةُ رَبَّهَا فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا وَإِذَا كَانَتِ الْعُرَاةُ الْحُفَاةُ رُءُوسَ النَّاسِ فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا وَإِذَا تَطَاوَلَ رِعَاءُ الْبَهْمِ فِي الْبُنْيَانِ فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا فِي خَمْسٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ تَلَا رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ قَالَ ثُمَّ أَدْبَرَ الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ رُدُّوا عَلَيَّ الرَّجُلَ فَأَخَذُوا لِيَرُدُّوهُ فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ هٰذَا جِبْرِيلُ جَاءَ لِيُعَلِّمَ النَّاسَ دِينَهُمْ:

ترجمه: بیا هغه سړی اووے یا رسول اللهﷺ قیامت به کله وی؟ حضورﷺ اوفرمائیل دَچا نه چه تپوس کوے دَقیامت هغه پرے دَ تپوس کونکی نه زیات نۀ دے پوهه لیکن ددے نشانے به زۀ تاته بیان کړم هر کله چه وینځه خپل مالك لره اوزیږه وی نو دا دَقیامت نشانی ده هر کله چه خپے ابله او بربنډ کرخیدلے خلق سرداران شی نو دا دَ قیامت نشانی ده او هر کله چه ګډے بزے ساتونکی خلق لوے لوے بنګلے جوړے کړی نو دا دَ قیامت نشانی ده۔ قیامت دَ هغه پنځو خیزونو نه دے چه په هغے باندے سوا دَ الله نه څوك نۀ دی پوهه بیا رسول اللهﷺ دا آیت اولوستو یعنی صرف الله ته علم دے دَقیامت او ورَه وی ابو لره او پو هیږی په ګیډو دَ میاندو باندے (یعنی نر یا ماده) او څوك په دے باندے نۀ دے پو هه چه هغه به صبا څه کوی او چاته دا پته نشته چه هغه به په کوم ملك کښے مری۔

الله پیژندونکے او خبردار دے راوی وائی چه هغه سړی شاکړه او لاړو پس رسول اللهﷺ اووے چه دۀ لره واپس راولی۔ خلق دۀ د واپس کولو دَ پاره لاړل لیکن هلته ئے څه اونۀ موندل (یعنی دَ هغه سړی څه نشان هم ملاؤ نۀ شو) بیا پیغمبرﷺ اوفرمائیل چه دا جبریل وو تاسو ته

دَدین د خبرو ایزده کولو دَپاره راغلے وو۔

فائده: دَخدائے سره ملاویدل خو دَ مرگ سره کیږی او دَورستو دَژوندی پاسیدو نه مراد قیامت دے بعض وائی چه دَ خدائے سره ملاویدل به حساب او کتاب نه پس کیږی لیکن دَ ملاویدو نه دَ الله دیدار مراد نهٔ دے ولے چه هغه به خاصو خلقو لره وی۔ (نوویؒ)

یعنی دَ خدائے برابر به څوك نهٔ گنړے نهٔ په قدرت کښے او نهٔ په تصرف کښے نهٔ په عبادت کښے نهٔ په دعا کښے بلکه کهٔ عبادت کوے نو دَ خدائے به کوے کهٔ غواړے نو دَ خدائے به غواړے سوا دَ خدائے نه به تولو لره عاجز بنده خیال کوے اگر چه بعضے بندگانو او غلامانو لره پروردگار ډیرے درجے اوچتے کړے دی او هغه ئے په ډیر څه سره سرفراز کړے دی خو دَ الله په مخکښے هغه بندگان غلامان دی البته په بندگانو هغوی ته غوره حیثیت حاصل دے دا تول څیزونه په عبادت کښے داخل دی مگر چونکه دا تول څیزونه په عبادت کښے دَاعلیٰ درجے وو ددے دَپاره هغے لره ئے جدا بیان کړو او بعضو وئیلے دی چه دَ عبادت نه مراد معرفت الهی او اقرار دے دَهغه دَ وحدانیت په مانځه کښے ئے دَ فرضو قید ددے دَپاره اولگوو چه دَ مسلمانیدو دَپاره صرف فرض ادا کول کافی دی دَسنتو او مستحباتو ادا کول ضروری نهٔ دی په دے شان نفل او صدقات ورکول لازم نهٔ دی۔

او دَ مانځه قائمولو نه مراد دادے چه همیشه په پابندئ سره ئے لوله یا دَ تولو شرائطو لو لرکانو سره ئے پوره کوه دَحضور ﷺ په زمانه کښے په عرب او هند او روم او مصر او ایران کښے دَیو شافی تهذیب او شائسته گی وه او یورپ یعنی دَ فرنگستان خلق بالکل وحشی جاهل گنوار دَ څناورو په شان وو خصوصا دَ انگلینډ خلق او د روم خلق خو دَ انسانیت سره ډیره لږه حصه لرله او دَ څناورو په شان به په ځنگلو او غرونو کښے اوسیدل په دوی کښے دَ بادشاهیت او دَ ملك دارئ سلیقه بالکل نهٔ وه اوس زمونږ په زمانه کښے دَخو ورځو نه هغه وحشی خلقو هغه ترقی کړے ده چه دَ تمامے دنیا حاکمان او سرداران جوړ شوے دی پس شاید چه دا هم دَ قیامت نشانی وی او دا مراد وی ددے حدیث نه۔

(۹۸) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو حَيَّانَ التَّيْمِيُّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ

مِثلَه غَیر اَنّ فِی رِوَایتِه ((اِذَا وَلَدتِ الْاَمَةُ بَعلَهَا یَعنِیْ السَّرَارِیَّ)) [راجع :۹۷]

ترجمه : دا حدیث په دے سند سره هم مروی دے او دَ "رب" په ځائے دَ "بعل" الفاظ استعمال کړے شوے دی۔

باب الاسلام ماهو وبیان خصاله:

باب: داسلام حقیقت او ددے دخصلتونو بیان :

(۹۹)عَن اَبِی هُرَیْرَةؓ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ سَلُونِی فَهَابُوهُ اَنْ یَّسْئَلُوهُ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ فَجَلَسَ عِنْدَ رُکْبَتَیْهِ فَقَالَ یَا رَسُولَ اللّٰهِ مَاالْاِسْلَامُ قَالَ لَا تُشْرِکُ بَاللّٰهِ شَیْئًا وَتُقِیْمُ الصَّلٰوةَ وَتُؤتِی الزَّکٰوةَ وَتَصُومُ رَمَضَانَ قَالَ صَدَقْتَ قَالَ یَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا الْاِیْمَانُ قَالَ اَنْ تُؤمِنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰئِکَتِهٖ وَکُتُبِهٖ وَلِقَائِهٖ وَرُسُلِهٖ وَتُؤمِنَ بِالْبَعْثِ وَتُؤمِنَ بِالْقَدَرِ کُلِّهٖ قَالَ صَدَقْتَ قَالَ یَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا الْاِحْسَانُ قَالَ اَنْ تَخْشَی اللّٰهَ کَاَنَّکَ تَرَاهُ فَاِنَّکَ اِنْ لَا تَکُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ یَرَاکَ قَالَ صَدَقْتَ:

ترجمه: دَ ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه تپوس کوی زمانه (دَدین دَ خبرو کومے چه ضروری دی البته بے ضرورته تپوس کول منع دی) خلقو یره کوله په تپوس کولو کښے (یعنی په خلقو باندے دَ هغه رعب پریوتلو) نو یو سړے راغے او دَحضرت دَ زنګونانو سره کیناستو او دائے اووے یا رسول الله ﷺ اسلام څه دے؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائیل دَ الله سره څوک شریك مۀ ګرځوه او مونځ قائم کړه او زکوٰت ادا کوه او دَ رمضان روژے نیسه هغه اووے چه رښتیا دے اووے بیا هغه اووے یا رسول الله ﷺ ایمان څه دے؟ حضور ﷺ اوفرمائیل یقین اوکړه ته په الله باندے او دَ هغه په کتابونو باندے او دَ هغه سره په ملاقات باندے او دَ هغه په پیغمبرانو باندے او دَ مرګ نه پس په پورته کیدو باندے او یقین اوکړه تۀ پوره تقدیر باندے هغه اووے رښتیا دے اووے :

بیا هغه اووے یا رسول الله ﷺ احسان څه دے؟ حضور ﷺ اوفرمائیل دَالله نه یره کوه داسے لکه تۀ چه هغه وینے کۀ چرے تۀ هغه لره نۀ وینے نو هغه خو تا وینی۔ هغه سړی اووے رښتیا دے اووے۔

قال یا رسول الله متی تقوم الساعة قال ما المسئول عنها باعلم من السائل وساحدثک عن اشراطها اذا رأیت المرأة تلد ربها فذاک من اشراطها اذا رایت الحفاة العراة الصم البکم ملوک الارض فذاک من اشراطها واذا رأیت رعاء البهم یتطاولون فی البنیان فذاک من اشراطها فی خمس من الغیب لا یعلمهن الا الله ثم قرء الآیة ان الله عندہ علم الساعة وینزل الغیث ویعلم ما فی الارحام وما تدری نفس ماذا تکسب غدا وما تدری نفس بای ارض تموت الی آخر السورة قال ثم قام الرجل فقال رسول الله ﷺ ردوہ علی فالتمس فلم یجدوہ فقال رسول الله ﷺ هذا جبریل علیه السلام اراد ان تعلموا اذا لم تسألوا۔

ترجمه : بیا هغه اووے یا رسول الله ﷺ قیامت به کله وی؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائیل دَچانه چه تپوس کوے هغه دَ تپوس کونکی نه زیات پو هه نهٔ دے البته زهٔ تاته دَهغے نشانے بیانووم چه هر کله ته وینځے اوګورے (یا ښځے ته) چه هغه به خپل مالك او خاوند لره زیږه وی نو دا دَ قیامت نشانی ده او هر کله چه تهٔ اوګورے چه لغړ او بربنډ او خپے ابله خپے او کانړهٔ او چاړګان خلق (یعنی احمق او نادان) چه دَ ملك بادشاهان شی نو دا دَ قیامت نشانی ده او هر کله چه اوګورے چه بزے څرونکی خلق به لوے لوے بنګلے جوړوی نو دا دَ قیامت نشانی ده قیامت دَهغه پنځو خبرونه دے چه دَهغے علم ماسوا د الله نه بل چاته نشته دے۔ بیا حضور ﷺ دا آیت اولوستو ان الله عنده علم الساعة الخ یعنی دَ الله سره دے دَقیامت علم او راوروی ابو لره او پیژنی هغه څه چه دَ مور په ګیډه کنبے دے او چاته دا پتا نشته چه صبا به څه کووم او څوك ددے نه خبر نهٔ دی چه زهٔ به په کوم ملك کنبے مرم بیا هغه سړے پاسیدو او لاړو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دے زما خواله راولی هغه خلقو هر طرفته اخوا دیخوا اوکتلو لیکن چرته ئے اونهٔ موندو ۔ هغوی ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا جبریل وو هغوی دا غوښتل چه تاسو ته علم راشی هر کله چه تاسو څه تپوس اونهٔ کړو (یعنی تاسو سوال اونهٔ کړو او په رعب کنبے راغلی) نو حضرت جبریل دَسړی لباس جوړ کړو او راغے او دَ ضروری خبرو تپوس ئے اوکړو او لاړو ددے دَپاره چه تاسو کنبے علم راشی۔

باب بیان الصلوة التی هی احد ارکان الاسلام :

باب: د مونځونو بیان چه هغه د اسلام یو رکن دے:

(۱۰۰)عن طلحة بن عبید الله یقول جاء رجل الی رسول الله ﷺ من اهل نجد ثائر الرأس نسمع دوی صوته ولا نفقه ما یقول حتی دنا من رسول الله ﷺ فاذا هو یسئل عن الاسلام فقال رسول الله ﷺ خمس صلوات فی الیوم واللیلة فقال علی غیرهن فقال لا الا ان تطوع وصیام شهر رمضان فقال هل علی غیره فقال لا الا ان تطوع وذکر له رسول الله ﷺ الزکوٰة فقال هل علی غیرها قال لا الا ان تطوع قال فادبر الرجل وهو یقول والله لا ازید علی هذا ولا انقص منه فقال رسول الله ﷺ افلح ان صدق: [بخاری : ۴۶؛ ۲۶۵۸؛ ۱۸۹۱، ۲۹۵۶؛ ابوداود : ۳۹۱، ۳۹۲، ۳۲۵۲، : نسائی : ۴۵۷، ۴۰۸۹، ۵۰۴۳]

ترجمه: دَطلحه بن عبید الله نه روایت دے چه دَ نجد والو (نجد په عربو کښے دَ یو ملك نوم دے) نه یو سړے رسول الله ﷺ ته راغے چه دَ هغه ویښته پریشانه وو دَ هغه آواز دَ ګنګناهټ اوریدے شو لیکن څوك پرے نهٔ پو هیدل چه څه وائی تر دے پورے چه هغه رسول الله ﷺ ته نزدے راغے نو معلومه شوه چه دَاسلام په باره کښے تپوس کوی رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په شپه او ورځ کښے پنځهٔ مونځونه دی هغه اووے چه ددے نه سوا په ما باندے بل څه مونځونه شته حضور ﷺ اوفرمائیل نه مګر کهٔ ته نفل لوستل غواړے او رمضان روژے دی هغه اووے چه په ما باندے سوا دَ رمضان نه نورے روژے شته حضور ﷺ اوفرمائیل نه مګر کهٔ ته نفل روژه نیول غواړے بیا پیغمبر هغه ته دَ زکوٰة بیان اوکړو هغه اووے په ما باندے ددے نه سوا بل څه خیز شته حضور ﷺ او فرمائیل نه مګر دا کهٔ نفل دثواب دَپاره صدقه ورکول غواړے راوی وائی هغه سړے راوګرځیدو او دائے ونیل او روان شو په خدائے مے دے قسم وی نهٔ به زهٔ ددے نه زیاتوالے کووم او نهٔ کموالے رسول الله ﷺ اوفرمائیل دهٔ مراد اوموندو کهٔ چرے رښتونے وی:

فائده : یعنی سوا ددے پنځه مونځونو نه بل مونځ فرض نهٔ دے بلکه سنت دی یا مستحب او د وتر مونځ او دَاختر مونځ او دَ ګرهن مونځ دا ټول سنت دی او کوم څوك چه ورته

واجب وائی په هغوی باندے دا حدیث حجت دے هغه وائی چه شاید ددغه وخته پورے نور مونځ او ذاختر مونځ واجب شوے نۀ وی مګر دا صرف احتمال دے۔

ذرمضان نه سوا بله روژه فرض نۀ ده مګر دا کۀ تۀ نفل روژه نیول غواړے نو دقضاء روژهٔ رمان روژه ده او ظهار وغیره کفارو کښے روژه نیول متعین نۀ ده په نورو څیزونو سره کفاره ادا کیږی۔

وئیل ئے چه دَ زکوٰة نه سوا په ما باندے څه څیز شته حضور ﷺ اوفرمائیل نه مګر داکۀ تۀ دَ نور نفل ثواب دپاره صدقه ورکول غواړے نو صدقه فطر واجب نۀ شوه او څوك چه ورته واجب وائی هغه خیال کوی چه ددے وخته پورے واجب شوے نۀ وی۔ ددے سړی دَ واپس تلو سره په دے وینا کولو باندے چه په خدائے مے دے قسم وی چه زۀ به په دے کښے نۀ زیاتے راولم او نۀ کمے نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه دۀ مراد اومونده کۀ چرے دے رښتونے دے کۀ چرے دا تمامے خبرے ئے اومنلے او کمے ئے اونۀ کړو په دے کښے نو په آخرت کښے به مراد او مومی او خپل مرادته به اورسی۔ او چا چه زیات کړو ددے نه نو نور غوره دے ددے دپاره چه په دے مقام دا اعتراض کیږی چه ددین ارکان او اعمال خو نور هم ډیر دی نو بیا دے سړی دا ولے اووے چه دے نه به زیات نۀ کووم جواب ددے دادے چه دَ بخاری په روایت کښے دی چه رسول الله ﷺ دۀ ته دَ شریعت خبرے ښودلے او هغه وئیلے وو قسم په خدائے چه څومره قدرے الله په ما باندے فرض کړے ده زۀ به په هغے کښے کمے او زیاتے نۀ کووم نو په فرضو کښے او ددین په خبرو کښے تول ضروری ارکان او اعمال راغلل او دَ نفلو او سنتو ادا کول دَخلاصی دپاره ضروری نۀ ده خو همیشه دپاره دَ سنتو پریخودل بد دی او ذداسے سړی ګواهی مقبوله نۀ وی خو هغه به ګنهګار په دے نۀ شی او نجات به ضرور مومی او په دے حدیث کښے دَ حج ذکر نشته او بعضیروایتونو کښے دَروژے ذکر نۀ وی او په چا کښے دَزکوٰة ذکر نۀ وی۔

قاضی عیاض وئیلے دی چه دا دَراویانو قصور دے څنګه چه چاته یاد شوے دے دغسے هغوی بیان کړے دے او چونکه زیاتوالے دَ ثقه مقبول دے نو تول اعمال او ارکان کوم چه دَتولو روایتونو دَ لیدو نه معلوم شوے دی ضروری اوګرځیدل په بعضے روایتونو کښے په تامله دَ

عزیزانو سره سلوك او محبت كول او دَ مالِ غنیمت نه پنځه حصے ادا كول هم دَاسلام په اركانو كښے بیان كړے دی او دا احتمال دے چه حضور ﷺ دَموقعے او دَ محل لیدو سره چه دَ كوم قوم دَپاره زیات ضروری وی هغه بیان كړے وی او ددے نه دا نۀ لازمیږی چه نور اركان چه دَهغے فرضیت هغوی ته معلوم شی خواه كۀ دَمخكښے نه معلوم نۀ وو په ځائے رانۀ وړی ۔ والله اعلم۔

(۱۰۱)عَن طَلْحَةَ بنِ عُبَيدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِهٰذَ الْحَدِيثِ نَحوَ حَدِيثِ مَالِكٍ غَيرَ انَّه قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ اَفْلَحَ وَاَبِيهِ اِنْ صَدَقَ اَوْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَاَبِيهِ اِنْ صَدَقَ : [راجع : ۱۰۰]

ترجمه : روایت دے دَ طلحه بن عبید الله نه او هغه دَ رسول الله ﷺ نه دویم روایت هم دا دے لكه څنګه چه وړاندے تیر شو دومره فرق دے چه هر كله دغه سړی اووے چه قسم په خدائے نۀ به زیاتے اوكړم په دے كښے نۀ كمے نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل نجات اوموندو دۀ قسم دے ددۀ پلار كۀ چرے رښتونے وی یا جنت ته به ځی ددۀ پلار كۀ چرے رښتونے وی۔

فائده : په دے حدیث كښے حضور ﷺ قسم خوړلے دَ هغه دَ پلار حالانكه په دویم حدیث كښے دی چه كوم سړے قسم خوړل غواړی نو په خدائے پاك دے قسم خوری او په یو حدیث كښے دی چه الله تعالی منع كوی تاسو لره دَپلار نیكۀ دَ قسم خوړلو نه جواب ددے دادے چه دَحضور ﷺ دا فرمائیل په طریقه دَعادت او تكیه كلام وو ولے چه دَعربو خلق په خبرو كښے ددے قسم خوړل كوی نۀ په طور دَحلف چه په هغے كښے تعظیم دَچا دَنوم مقصود وی او مشابه كول ددے دَ الله جل شانه سره دغه جواب صحیح دے ۔ او بعضو وئیلی دی چه دا هغه وخت كیدے شو هر كله چه د خدائے نه سوا دَبل چا قسم خوړل منع نۀ وو او صحیح داده چه قسم خوړل دَالله نه سوا ددے دَپاره منع دے چه دَخدائے سره څوك بل برابر نۀ كړے شی یعنی څنګه چه دَخدائے دَنوم عظمت او لوئی په زړۀ كښے ده داسے دے دَبل چانۀ وی او نۀ دَ بل چا په نوم قسم پوره كول داسے لازم او ضروری اوګنړلے شی لكه دَخدائے دَ نوم قسم لره۔ بیا كه چرے چا بل څوك داسے لوئ او بزرګ اوګنړو لكه څنګه چه خدائے ګنړی او دَهغه قسم اوخوری نو هغه سړے مشرك شو او څوك چه ئے داسے اونۀ ګنړی صرف په طور دَ تكیه كلام یا دَعادت په طور دَلغو دَ چا قسم اوكړی نو هغه مشرك نۀ دے مګر چونكه دكافرانو دكارونو مشابه دے ددے نه هم پرهیز كول پكار دی

او دا مقصد دے دَرسول الله ﷺ چه چا قسم اوکړو سوا دَ خدائے په بل چا باندے هغه شرک لوکړو۔

باب السوال عن ارکان الاسلام :

باب : داسلام دارکانو د تپوس کولو بیان :

(۱۰۲)عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِک قَالَ نُهِیْنَا اَنْ نَسْئَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنْ شَیْءٍ فَکَانَ یُعْجِبُنَا اَنْ یَّجِیْءَ مِنْ اَهْلِ الْبَادِیَةِ الْعَاقِلِ فَیَسْأَلَهُ وَنَحْنُ نَسْمَعُ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ اَهْلِ الْبَادِیَةِ فَقَالَ یَا مُحَمَّدُ اَتَانَا رَسُوْلُکَ فَزَعَمَ لَنَا اَنَّکَ تَزْعُمُ اَنَّ اللّٰهَ اَرْسَلَکَ قَالَ صَدَقَ قَالَ فَمَنْ خَلَقَ السَّمَاءَ قَالَ اللّٰهُ قَالَ فَمَنْ خَلَقَ الْاَرْضَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی قَالَ فَمَنْ نَصَبَ هٰذِهِ الْجِبَالَ وَجَعَلَ فِیْهَا وَمَا جَعَلَ قَالَ اللّٰهُ قَالَ فَبِاَیِّ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمَاءَ وَخَلَقَ الْاَرْضَ وَنَصَبَ هٰذِهِ الْجِبَالَ اللّٰهُ اَرْسَلَکَ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَزَعَمَ رَسُوْلُکَ اَنَّ عَلَیْنَا خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِیْ یَوْمِنَا وَلَیْلَتِنَا قَالَ صَدَقَ قَالَ فَبِاَیِّ الَّذِیْ اَرْسَلَکَ اللّٰهُ اَمَرَکَ بِهٰذَا قَالَ نَعَمْ قَالَ وَزَعَمَ رَسُوْلُکَ اَنَّ عَلَیْنَا زَکٰوةً فِیْ اَمْوَالِنَا قَالَ صَدَقَ قَالَ فَبِاَیِّ الَّذِیْ اَرْسَلَکَ اللّٰهُ اَمَرَکَ بِهٰذَا قَالَ نَعَمْ قَالَ وَزَعَمَ رَسُوْلُکَ اَنَّ عَلَیْنَا صَوْمَ شَهْرِ رَمَضَانَ فِیْ سَنَتِنَا قَالَ صَدَقَ قَالَ فَبِاَیِّ الَّذِیْ اَرْسَلَکَ اللّٰهُ اَمَرَکَ بِهٰذَا قَالَ نَعَمْ قَالَ وَزَعَمَ رَسُوْلُکَ اَنَّ عَلَیْنَا حَجَّ الْبَیْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَیْهِ سَبِیْلًا قَالَ صَدَقَ قَالَ ثُمَّ وَلّٰی قَالَ وَالَّذِیْ بَعَثَکَ بِالْحَقِّ لَا اَزِیْدُ عَلَیْهِنَّ وَلَا اَنْقُصُ مِنْهُنَّ فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ لَئِنْ صَدَقَ لَیَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ:

[بخاری : ۶۳ ، ترمذی ۶۱۹ ، نسائی ۲۰۹۰]

ترجمه : دَانس بن مالك نه روایت دے چه مونږه ته ممانعت شوے وو دَرسول الله ﷺ نه دَڅه پوښتنے نو مونږه ته ښهٔ معلومے ده چه دَ باندے دَاوسیدونکو نه یو سړے راشی مګر عاقل وی ستا نه تپوس اوکړی او مونږه ئے واورو نو دَ باندے دَاوسیدونکو نه یو سړے راغے او وے وئیل اے محمد! ستا قاصد ماته راغے او دائے اووے حضور ﷺ وائی چه زه الله رالیږلے یم حضور ﷺ اوفرمائیل هغه قاصد رښتیا وائی هغه اووے نو اسمان چا پیدا کړے دے؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه الله بیا هغه اووے چه زمکه چا پیدا کړے ده نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه الله بیا هغه اووے چه دا غرونه چا اودرولے دی او په دے کښے چه کوم څیزونه دی هغه چا پیدا

کړے دی حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه الله بیا هغه سړی اووے چه قسم مے ذے وی په هغه ذات باندے چا چه اسمان پیدا کړے دے او زمکه ئے جوړه کړے ده او غرونه ئے اودرولی دی چه الله تعالی ته په حقیقت کښے رالیږلے ئے ؟حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه او ! بیا هغه سړی اووے چه ستاسو قاصد وائی چه په مونږه باندے پنځه مونځونه فرض دی په هره شپه او ورځ کښے حضور ﷺ اوفرمائیل رښتیا وائی هغه سړی اووے چه قسم دے وی په هغه ذات چه چا ته رالیږلے ئے ولے الله تاته ددے مونځونو حکم کړے دے؟ حضور ﷺ اوفرمائیل او! بیا هغه سړی اووے چه ستاسو قاصد وائی چه په مونږه باندے زمونږه په مالونو کښے زکوٰة دے حضور ﷺ اوفرمائیل هغه رښتیا وائی بیا هغه سړی اووے قسم دے په هغه ذات چه ته ئے رالیږلے ئے چه الله تاته دَزکوٰة حکم کړے دے حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه او! بیا هغه سړی اووے چه ستا قاصد وائی چه په مونږه باندے دَرمضان روژے فرض دی په هر کال کښے حضورﷺ اوفرمائیل چه هغه رښتیا وائی، هغه سړی بیا اووے چه قسم دے په هغه ذات باندے چه ته ئے رالیږلے ئے الله تاته دَروژو حکم کړے دے پیغمبر ﷺ اوفرمائیل چه او! بیا هغه سړی اووے چه ستاسو قاصد وائی چه په مونږه باندے دَ بیت الله حج فرض دے چه څوك دَ لارے دَ تلو طاقت لری (یعنی دَ لارے دَ سورلۍ خرچ ورسره وی او په لاره کښے امن وی) پیغمبر ﷺ اوفرمائیل رښیا وائی ددے په اوریدو سره هغه سړے واپس اوګرځیدو اودائے وئیل او لاړو چه قسم په هغه ذات چا چه ته رښتونے پیغمبر رالیږلے ئے زه به دے خبرو نه نۀ زیاتے کووم او نۀ به کمے کووم رسول الله ﷺ اوفرمائیل کۀ چرے دا(اقرار) په رښتونے وی نو جنت ته به داخل شی۔

فائده : الله تعالی فرمائیلے دی یا ایها الذین امنو لا تسئلوا عن اشیاء ان تبدلکم تسؤکم تر دَآخره پورے یعنی اے ایمان والو تپوس مۀ کوئ دَډیرو خیزونو په باره کښے که چرے په تاسو باندے کهولاؤ شی نو په تاسو باندے به بد اولګی او که چرے تپوس کوئ چه څه قرآن نازلیږی نو کهولاؤ به کړے شی الله هغوی ته معافی کړے ده او الله بخنه کوی صبر کونکو ته۔ دَداسے خبرو تپوس کړے دے ستاسو نه مخکښے خلقو بیا ئے تپوس کړے او په دویمه ورځ ئے انکار کړے دے یعنی دده نه تپوس مۀ کوئ چه دا خیز روا دے یا روا نۀ دے پس دا کار اوکړو که نۀ کوو بلکه

چه څه نے درته اوفرمائیل په هغے باندے عمل کوئ کوم چه نے اونهٔ فرمائیل هغه معاف گنړئ ددے دپاره چه دین آسان پاتے شي او چه دَهرے خبرے جواب راشي نو دين به تنگ شي بيا به عمل نهٔ شي كولے لكه څنگه چه ورمنو خلقو نهٔ وو كړے۔ بيا دَ كفر رسمونه بنائي چه دَ تپوس حاجت نشته دے كوم چه الله نه دی فرمائيلے هغه بے اصل دی او په دے شان دَ بے فائدو خبرو تپوس دے۔ چا تپوس اوكړو چه زما پلار څوك وو يا زما ښځه په كور كښے په څه شان ده كهٔ چرے پيغمبر دَهرے خبرے جواب وركړی نو شايد چه بد جواب راشي او خفگان حاصل شي ۔(موضع القرآن)

په تفسير فتح البيان فی مقاصد القرآن كښے امام عالي جاه مولانا سيد محمد صديق حسن خان بهادر ليكلی دی چه الله تعالىٰ دَډيرو سوالونو كولو نه منع كړے ده ددے دپاره چه كله دَبے حاجته سوال كولو سره يو امر چه هغه واجب نهٔ وو واجبيږی۔ او بخاری او مسلم دَحضرت انس نه روايت كړے دے چه رسول الله خطبه اولوسته داسے چه چرته چا داسے خطبه نهٔ وه اوريدلے يو سړی اووے زما پلار څوك وو په دغه وخت دا آيت نازل شو بخاری دَ ابن عباس نه داسے روايت كړے دے په يو روايت كښے دی چه هغه تپوس كونكے عبد الله بن حذافه وو هغه تپوس اوكړو چه زما پلار څوك دے حضور ﷺ اوفرمائيل چه ستا پلار حذافه دے۔

ابن حبان دَ ابو هريرهؓ نه روايت كړے دے چه رسول الله ﷺ خطبه اولوسته او وے فرمائيل چه الله په تاسو باندے حج فرض كړے دے يو سړے پاسيدو او وے وئيل چه ولے هر كال يا رسول الله پيغمبر ﷺ چپ پاتے شو، هغه سړی درے ځله دا تپوس اوكړو هر كله چه هغه اوفرمائيل كه چرته ما او وئيلے وے نو حج به هر كال فرض كيدو بيا به تاسو ادا كولے نهٔ شو۔ كومه خبره چه زهٔ بيان نهٔ كړم تاسو هغے لره پريږدئ يعني تپوس نے مهٔ كوئ ددے دپاره چه ستاسو نه مخكښے خلق ددے ډيرو تپوسونو په وجه سره او دَخپلو پيغمبرانو سره دَ اختلاف په وجه سره هلاك شوے دی هر كله چه زهٔ تاسو دَيوے خبرے نه منع كړم نو دَهغے نه ځان ساتئ او هر كله چه دَيوے خبرے حكم اوكړم نو هغے لره په ځائے كوئ دَكومے پورے چه درنه كيدے شي۔ او دا آيت په دے باب كښے نازل شو۔

بخاری او مسلم دَسعد بن ابی وقاصؓ نه روايت كوی چه خلق دَيو څيز پوښتنه كوی چه

هغه حلال وی بیا تپوس کوی کوی چه هغه شے حرام شی نو هغے لره کول شروع کړی۔ دَابن منذر نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی دَ تولو نه لوے گناه په هغه مسلمان باندے ده چه هغه تپوس اوکړو دَیو شی او هغه حرام نهٔ وو بیا دَهغه په تپوس کولو سره حرام شو۔

او ابن جریر او ابن منذر او حاکم دَابو ثعلبه خشنی نه روایت کوی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه الله تعالی حدونه مقرر کړے دی بیا ددے نه وړاندے مهٔ ځی او فرض ئے بنودلے دی هغے لره ادا کوی او حرام کړے چه ئے دی کومو څیزونو لره هغه مهٔ کوی او کومے خبرے چه ئے نهٔ دی بیان کړے هغه هیرے نهٔ دی بلکه رحمت دے دَهغه په تاسو باندے نو چپ پاتے شی او دَهغے بحث مهٔ کوی یعنی هم دغسے ئے پریږدی۔ (انتهیٰ)

اګر چه دا ممانعت دَبے فائدے سوال کولو نه دے او دَبے کاره څیزونو دَتپوس کولو نه وو۔ او دا مطلب دَحضورﷺ نهٔ وو چه خلق دَایمان خبرے یا روری دَدین دکار تپوس دے نهٔ کوی، ولے چه ددے خبرو دَ بنودنے دَپاره خو هغه پخپله رالیږلے شوے دے خو صحابه کرامؓ یریدل بعضے وخت به ئے دَتپوس کولو دَ خبرے هَم تپوس نهٔ کولو۔ او په دے انتظار کښے به اوسیدل چه څوک نوے ناواقفه سړے راشی او هغه تپوس اوکړی نو مونږه به ئے هم واورو او خپل ځان به پرے پوهه کړو۔

وړومبے دغه سړی دَخدائے په باره کښے تپوس اوکړو بیا ئے دَرسالت تصدیق اوکړو پس ددے نه ئے دَاعمالو تپوس اوکړو دا ترتیب زیات عمده دے او دا یوه پوره قرینه ده ددے خبرے چه هغه تپوس کونکے اګر چه ځنګلی وو خو دَعقل خاوند او پوهه وو ابن الصلاح وائی چه په دے حدیث کښے دلیل دے دَهغه خلقو دَپاره چه دَ مقلدینو عوامو ایمان درست ګنړی ددے دَپاره چه عوامو ته هم یقین حاصلیږی او شك او تذبذب نهٔ پاتے کیږی په خلاف دَ معتزلو، چه هغوی دَ مقلد ایمان صحیح نهٔ ګنړی او داحدیث حجت دے په هغوی باندے ولے چه تاسو دَهغوی ایمان جائز اوساتلو او دائے او نهٔ وے چه تالره په دے خبرو باندے دَیقین کولو دَپاره دلیل او دَ معجزے لیدل ضروری دی معتزله دا وائی چه کیدے شی چه مقلد اعتقاد مضبوط وی خو دَهغه په مضبوطوالی باندے بروسه نهٔ شی کیدے ددے دَپاره چه هغه بغیر دَ دلیل نه دَیو سړی خبره منلے

ده بیا کهٔ څوك دویم په دے کښې شك اوغور څوی نو ددهٔ اعتقاد واپس کیږی۔ ددے جواب دادے چه دَ کومے پورے دهٔ ته شك پیدا شوے نهٔ وی دَ هغه وخته پورے خو ددهٔ ایمان صحیح دے ولے چه هغه برابر دے دَ محقق دَ ایمان چه هغه په دلائلو کښې غور کړے دے او حاصل کړے ئے دے اوس مقلب القلوب خدائے دے هغه چه غواړی نو په ایمان باندے ئے ثابت ساتی۔ او چه هغه اوغواړی نو اوئے لرزوی۔ لوے لوے محقق په وسوسو سره پریوتے او گمراه شوے دی اگر چه په دے کښے شك نشته چه اعلیٰ درجه دَ تحقیق ده او دَ کومے پورے چه تحقیق ممکن وی دَ تقلید په لاره باندے تلل غوره نهٔ دی نهٔ په تقلید کښے څه حلاوت او ذائقه شته۔ خو دے مزے لره هغه کنړلے شی چه محقق دی۔

امام نووی وائی چه ددے حدیث نه دا خبره اوځی چه دَیو سړی خبر معتبر دے او په هغے باندے عمل کول پکار دی ځکه حضور ﷺ دَ دین دَ خبرو دَښودلو دَپاره یو قاصد لیږلے وو او دا سړے چه کوم راغلے وو ددهٔ نوم ضمام ب ثعلبه وو قاضی عیاض وئیلے دی ظاهره داده چه دا سړے مسلمان شوے راغلے وو مگر دَ اسلام خبرو لره ئے په بنهٔ شان دَ تحقیق کولو دَپاره ئے پخپله دَحضور ﷺ نه تپوس اوکړو حاکم ابو عبد الله په کتاب المعرفه کښے لیکلی دی چه دا حدیث ددے خبرے دلیل دے چه علو اسناد طلب کول جائز دی ولے چه دغه سړی وړومبے تمامے خبرے دَدین دَقاصد په واسطه باندے اوریدلے وے، بیا په دے واسطه پخپله دَحضور ﷺ نه دَاوریدو دَپاره راغے۔

(۱۰۳) عَنْ اَنسٍ قَالَ : كُنَّا نُهِيْنَا فِي الْقُرْآنِ اَنْ نَسْئَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنْ شَيْءٍ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِمِثْلِهٖ : [راجع : ۱۰۲]

ترجمه : په دویم سند کښې روایت دے چه حضرت انس فرمائی چه په قرآن کښې مونږه منع کړے شوے وو دَ رسول الله ﷺ نه دَ سوال کولو نه ، باقی ئے دَ وړاندے په شان حدیث بیان کړو۔

باب بيان الايمان الذي يدخل به الجنة وان من تمسک بما امر به دخل الجنة :

باب: دهغه ایمان بیان چه په هغې سره سړے جنت ته داخلیږی. او بیان ددې خبرې چه هغه په خائې راوړونکې په جنت ته ځی:

(۱۰۳)عَنْ اَبِی اَیُّوب اَنَّ اَعْرَابِیًّا عرض لِرَسول اللّٰهِ ﷺ وَهُو فِی سَفر فَاَخَذ بِخِطَام نَاقتِهٖ او بِزِمَامِهَا ثُمَّ قَال یَا رَسول اللّٰه او یا مُحمّد! اَخبِرنی بِما یُقرِّبُنِی مِنَ الْجَنّة وَمَا یُبَاعِدُنِی مِنَ النّار قَال فَکفّ النّبی ﷺ ثُمّ نظر فِی اَصْحَابِهٖ ثمّ قَال لَقَدْ وُفِّقَ او لَقَدْ هُدِیَ قَال کَیْفَ قُلْتَ قَال فَاَعَادَ فَقَال رَسُول اللّٰهِ ﷺ تَعْبُدُ اللّٰهَ وَلَا تُشْرِکُ بِهٖ شَیْئًا وَتُقِیْمُ الصَّلٰوۃَ وتُؤتِی الزَّکوۃَ وتَصِلُ الرَّحِم دَعِ النَّاقَۃَ: [بخاری : ۱۳۹۶، ۵۹۸۳، نسائی ۴۶۷]

ترجمه : دَابی ایوب (خالد بن یزید) انصاری نه روایت دے چه رسول اللهﷺ په سفر کښے روان وو په کښے یو بانډیچی راغے او دَ حضرت دَ اوښے رسی یا پیزوان ئے اونیولو او وے وئیل یا رسول الله ﷺ او یا محمد ماته هغه څیز اوښایه چه هغه ما جنت ته نزدے کړی او دَجهنم نه مے لرے کړی حضرت ددے اوریدو سره اودریدو او دَ خپلو اصحابو په طرف ئے اوکتل او بیائے اوفرمائیل چه دا لره توفیق ورکړے شو او یا هدایت ورته اوکړے شو (یعنی خدائے دهٔ مدد اوکړو او ددے خبرے دَ تپوس کولو طاقت ئے ورکړو توفیق وائی دَ نیکئ خبرے قدرت ورکولو ته او خذلان نَبدے خبرے قدرت ورکولو ته وائی) حضور ﷺ هغه (څنګلی ته) اوفرمائیل ! تا څه اووے هغه بیا هغه خبره اوکړه (یعنی ماته هغه خبره اوښایه چه جنت ته مے نزدے کړی او جهنم نه لرے) بیا رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه دَالله عبادت کوه او دَ هغه سره چاله شریك مهٔ گرځوه او مونځ ادا کوه او زکوٰت ورکوه او صله رحمی کوه (یعنی دَ عزیزانو او رشته دارانو سره ښهٔ سلوك کوه کهٔ هغوی بد کوی او ترك ملاقات کوی خو تهٔ نیکی کوه او دَ هغوی سره ملاویږه) پریږده اوښے لره (ولے چه اوس ستا کار اوشو).

فائده : ددے حدیث نه دا خبره معلومیږی چه په روانه روانه کښے یو سړے دَدین دَ خبرے

تپوس اوکړی نو اوریدل او هغه ته بنودل پکار دی او ددین دخبرے په بنودلو کښے دعلم سره سستی کول بده خبره ده په حدیث شریف کښے راغلی دی چه څوك چپ پاتے شو دحق په خبره کښے هغه ګونګا شیطان دے۔

(۱۰۵) عن ابی ایّوب عن النّبی ﷺ بمثل هذا الحدیث : [راجع : ۱۰۴]

ترجمه : امام مسلم په یو بل سند سره هم روایت بیان کړو چه ابو ایوب دَ نبی کریم ﷺ نه روایت کوی۔ (باقی روایت په مثل دَ ماقبل دے)

(۱۰۶) عَن ابی ایُّوب قَال جاء رجُل الی النّبی ﷺ فقَال دَلّنی علی عمل اعْمَلهُ یُدْخلنی من الْجنّة ویُباعِدُنی من النّار قَالَ تعبد اللّٰه ولَا تُشْرِک به شیئًا وتُقیم الصّلوٰة وتُوْتی الزّکوٰة وتصلُ ذَارحمک فلمّا اَدْبر قَال رسُول اللّٰهِ ﷺ اِنْ تمسّک بمَا اُمِر به دخل الْجنّة وفِی رِوَایة ابْن ابی شَیبة اِنْ تَمسّک بِهٖ: [راجع : ۱۰۴]

ترجمه : دَابو ایوبؓ نه روایت دے چه یو سړے رسول اللهﷺ ته راغے او ورته ئے اووے چه ماته داسے کار اوښایه چه هغه ما جنت ته نزدے او دَجهنم نه لرے کړی حضورﷺ اوفرمائیل هغه کار دادے چه ته دَالله پاك عبادت کوه او چاله دَهغه سره مهٔ شریك کوه او مونځ قائم کړه اوزکوٰة ورکړه او صله رحمی کوه هر کله چه دَهغه شا شوه او لاړو نو حضور ﷺ اوفرمائیل کهٔ چرے دے په هغه خبرو باندے اوچلیدو دکومو چه دهٔ ته حکم شوے دے یا چه ماورته دَهغے حکم اوکړو نو جنت ته به داخل شی۔

(۱۰۷) عَن اَبی هُریرة انّ اعْرابیًا جَاء الی رسول اللّٰه ﷺ فقَال یَا رسُول اللّٰه دَلنی علی عمل اذا عملتهٗ دخلت الْجنّة قَال تعبد اللّٰهَ ولا تشرک به شیئًا وتقیم الصّلوة الْمکْتُوبَة وتؤدّی الزّکوٰة الْمفْروضَة وتَصُوم رَمضان قَال والّذی نفسی بیده لا اَزِیْدُ عَلی هٰذا شیئاً ولا اَنْقص مِنْه فلمّا ولّی قال النّبی ﷺ مَنْ سرّهٗ انْ یّنْظر الی رجُل مِّنْ اهْل الْجنّة فلْیَنْظُر اِلٰی هٰذا:

ترجمه : دَابو هریرهؓ نه روایت دے چه یو اعرابی (دَبانډے اوسیدونکے) رسول اللهﷺ ته راغے او دائے اووے یارسول اللهﷺ ماته یو داسے کار اوښایه چه دَهغے په کولو سره جنت ته لاړشم حضور

ﷺ ورته اوفرمائیل چه هغه کار دادے چه عبادت کوه دَالله پاك او دَهغه سره څوك شریك مهٔ جوړه وه او قائم کړه مانځه لره په خپل خپل وخت سره او ورکوه زکوٰة لره چه فرض دے او دَرمضان روژے ساته هغه سړی اووے قسم دے په هغه ذات چه دَچا په قبضه کښے زما روح دے چه زهٔ به نهٔ ددے نه زیات کړم او نهٔ به کم. بیا هغه واپس اوګرځیدو او لاړو حضور ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړے په دے باندے خوشحالیږی چه زهٔ دے جنتی لره اووینم نو دهٔ ته دے ګوری ځکه چه دا جنتی دے۔

فائده : شاید چه الله پاك حضور ﷺ لره آګاه کړے وی چه دا سړے به ضرور جنت ته داخلیږی ولے چه دے دا کارونه په ځائے باندے راوړی او همیشه ئے کوی تر دے پورے چه ددهٔ خاتمه به په خیر باندے وی.

(۱۰۸)عَنْ جابرٍ قالَ اَتی النّبی ﷺ نُعمان بْن قَوْقل فَقال یَارسُول اللّٰهِ اَرَاَیْتَ اذا صَلَّیْتُ الْمَکْتُوبَة وحرّمْتُ الْحَرام وَاَحْلَلتُ الْحَلال اَدْخُل الْجنّة فَقال النّبی ﷺ نعم:

ترجمه : دَحضرت جابرؓ نه روایت دے چه نعمان بن قوقل رسول الله ﷺ ته راغے او عرض ئے اوکړو یا رسول الله ﷺ کهٔ چرے زهٔ فرض مونځ ادا کړم او حرامو لره حرام اوګنړم (او ځان ترے اوساتم) او حلال حلال اوګنړم (اګر چه هغے لره نهٔ کووم) نو زهٔ به جنت ته لاړشم حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه او!

(۱۰۹) عَنْ جَابرٍ قَال قال النُّعمان بْن قَوقَل یَا رَسولَ اللّٰهِ ! بِمِثْلِه وزاد فِیْه وَلَم اَزِدْ عَلٰی ذَالِکَ شَیْئًا ؛

ترجمه : حضرت جابرؓ بیان کوی چه نعمان بن قوقلؓ اوفرمائیل اے دَ الله رسوله ! باقی ئے دَ وراندے په شان حدیث بیان کړو مګر په دے روایت کښں اضافه داده : " چه زهٔ په کښں څه هم زیات نهٔ کړم "

(۱۱۰)عَنْ جابرٍ انّ رجُلاً سَاَل رَسُول اللّٰه ﷺ فقال اَرایْتَ اذا صَلّیتَ الصّلوٰة الْمَکْتُوبات وصُمْت رَمضَان وَاَحْلَلْتُ الْحَلال وحرّمْتُ الْحَرام وَلَم اَزِدْ عَلٰی ذَالِکَ اَدْخل الْجنّة قَال نَعَمْ قَال وَاللّٰهِ لَا اَزِیْد عَلٰی ذَالِکَ شَیْئًا :

ترجمه: دَحضرت جابرؓ نه روایت دے چه یو سړی دَ رسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو که چرے زهٔ فرض مونځ ادا کړم او دَ رمضان روژے نیسم او حلال حلال اوګنړم او حرام حرام اوګنړم لو ددے نه زیات څه نهٔ کووم نو جنت ته به داخل شم حضورﷺ ورته اوفرمائیل چه او! هغه سړی اووے په خدائے مے دے قسم وی چه زهٔ به زیات ددے نه هیڅ نهٔ کووم۔

باب بیان ارکان الاسلام ودعائمه العظام :

باب :داسلام دلویو ارکانو او ستنو بیان :

(۱۱۱)عَن ابُن عُمَرؓ عَن النَّبی ﷺ قَالَ بُنِیَ الۡاِسُلام علٰی خَمُس عَلٰی انُ یُوَحَّد اللّٰهُ واَقام الصَّلٰوة وایُتاءِ الزّکوٰة وصِیَام رَمَضَان والُحجّ فَقَال رجُلٌ الُحجّ وصِیَام رَمَضَان قَال لا صِیَام رَمضَان وَالُحَجّ هٰکذا سمِعتُهٗ مِنُ رسُولِ اللّٰهِ ﷺ :

ترجمه : دَعبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه هغوی دَ رسول کریمﷺ نه اوریدلے دی چه هغه فرمائیلے دی اسلام جوړ کړے شوے دے په پنځو څیزونو باندے یعنی په پنځو ستنو باندے اسلام ولاړ دے (دا تشبیه ده چه اسلام دَیو کور مانند اوګنړه یا دَیو چهت چه په هغے کښے پنځه ستنے وی) دَالله پاك توحید مونځ قائمول زکوٰة ورکول دَرمضان روژے نیول حج کول یو سړی اووے حج او دَ رمضان روژے نیول (یعنی حج ئے وروستے کړو او روژے ئے ورستهٔ) ابن عمرؓ اووے دَرمضان روژے او حج مادَ رسول اللهﷺ نه اوریدلے دی ۔

فائده : مګر دویم روایت پخپله دَ ابن عمرؓ نه په تقدیم دَحج روایت دے بیا دوی په دغه سړی باندے څنګه انکار اوکړو ددے جواب علماؤ داسے ورکړے دے چه هغوی به دا حدیث دَرسول اللهﷺ نه اوریدلے وی یو ځل په تقدیم دَروژے او ځل په تقدیم دَحج ۔ بیا ئے ددغه سړی په وړاندے هغه روایت نقل کړو چه هغه په تقدیم دَ صوم باندے وو هر کله چه هغه حج لره وړاندے کړو نو ابن عمرؓ په دے باندے انکار اوکړو چه تهٔ په دے خبره باندے څه پوهه ئے چه حضورﷺ داسے فرمائیلے دی په تقدیم دَ صوم۔ او ددے نه دا خبره نهٔ شی وتلے چه هغوی په دویمه طریقه سره دا روایت نهٔ دے اوریدلے او احتمال دے چه ابن عمر دغه وخت حج په تقدیم روایت لره فراموش

کړے وی ددے دَپاره هغوی انکار اوکړو بیا ورته راياد شو نو دے لره ئے روايت کړو۔
حافظ بن الصلاح وائی دَابن عمر محافظت په دے ترتيب سره دلالت کړے دے په دے خبره باندے چه واو دَ عربو په کلام کښے دَترتيب دَپاره راځی او دا مذهب دے دَډيرو فقهاؤ شافعيو او دَبعضے نحويانو ليکن کوم خلق چه دَواو نه ترتيب نهٔ وياسی لکه چه دَ جمهورو قول دے او دغه مختار دے هغه وائی چه دَابن عمر دا انکار ددے دَپاره نهٔ وو چه واو ترتيب لره مقتضی دے بلکه ددے دَپاره چه دَرمضان روژے په دويمه هجری کښے فرض شوے دی او حج په شپږمه هجری کښے يا په نهمه هجری کښے فرض شوے دے نو روژے لره وړومبے ذکر کول پکار دی بيا دَتقديم حج روايت بالمعنی دے او په دے کښے دَتقديم اِو تاخير نه تصرف شوے دے۔
نووتی فرمائيل دی دَابن الصلاح دا تقرير منسلم نهٔ دے ولے چه دواړه روايتونه صحيح دی او په دواړو کښے منافات نشته او ددے قسم احتمال په روايت کښے بے فائدے قدح پيدا کوی او ابو عوانه اسفرائنی په کتاب مخرج علی صحيح مسلم کښے انکار دَابن عمرؓ دَصيام په تقديم باندے نقل دے او دا دَ مسلم دَ روايت برعکس دے ليکن ابن الصلاح وئيلے دی چه دا روايت دَ مسلم دَروايت مقابله نهٔ شی کولے نووتی وئيلے دی احتمال دے چه دا صحيح وی او شايد چه دا واقعه دوباره مخے ته راغلے وی ۔والله اعلم نووتی)

(۱۱۲)عَنْ اِبْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ بُنِیَ الْاِسْلَامُ عَلٰی خَمْسٍ عَلٰی اَنْ یُّعْبَدَ اللّٰہُ وَیُکْفَرَ بِمَا دُوْنَہٗ وَاِقَامِ الصَّلٰوۃِ وَاِیْتَاءِ الزَّکٰوۃِ وَحَجِّ الْبَیْتِ وَصَوْمِ رَمَضَانَ :[راجع : ۱۱۱]

ترجمه : دَعبدالله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی چه اسلام په پنځو ستنو باندے ولاړ دے يوه دا چه دَالله عبادت اوکړے شی او دهغه نه سوا (دَتمامو دَدروغو خدايانو نه) انکار اوکړے شی دويم مونځ کول دريم زکوة ورکول څلورم دَبيت الله حج کول پنځم دَ رمضان روژے نيول ۔

(۱۱۳)عَنْ عَبْدِ اللّٰہِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ بُنِیَ الْاِسْلَامُ عَلٰی خَمْسٍ شَھَادَۃُ اَنْ لَّا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَرَسُوْلُہٗ وَاِقَامِ الصَّلٰوۃِ وَاِیْتَاءِ الزَّکٰوۃِ وَحَجِّ الْبَیْتِ وَصَوْمِ رَمَضَانَ :

ترجمه : دَعبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دى چه اسلام جوړ شوے په پنځه خبرو باندے يو خو گواهى وركول ددے خبرے چه نشته دے معبود برحق سوا دَ الله نه او حضرت محمد ﷺ دَ هغه بنده او رااليږلے شوے رسول دے دويم مونځ قائمول دريم زكوٰت وركول څلورم دَخانه كعبے حج كول پنځم دَرمضان روژے نيول۔

(۱۱۳)عَنْ طَاؤس انّ رجلاً قال لِعَبْد اللّٰهِ ابْن عُمَرؓ الا تغزُو فَقَال انى سمعتُ رسُول اللّٰهِ ﷺ يقُولُ انّ الْاِسْلام بُنِىَ على خَمْسة شَهَادةُ اَنْ لا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ وَاِقَام الصّلوٰة وَاِيْتاء الزّكوٰة وصِيام رَمَضان وحج الْبَيْت: [بخارى : ۸ ؛ ترمذى : ۲۶۰۹]

ترجمه : دَطاؤس نه روايت دے چه عبد الله بن عمرؓ ته يو سړى اووے چه ته جهاد ولے نۀ كوے؟ هغه اووے چه ما دَ رسول الله ﷺ نه اوريدلے دى چه فرمائيلے ئے وو دَاسلام پنځه ستنے دى يو خو گواهى وركول ددے خبرے چه څوك معبود نشته ما سوا دَ الله نه دويم مونځ لوستل دريم زكوٰت وركول څلورم دَرمضان روژے نيول پنځم دَخانه كعبے حج كول۔

فائده : او جهاد ددے قسم ركن نۀ دے چه هر مسلمان ته ددے كول ضرورى دى بلكه جهاد فرضِ كفايه دے كۀ چرے بعضو اوكړو نو ددے تولو دَطرف نه الزام ختم شو البته كۀ څوك ئے هم اونۀ كړى نو ټول ټول به گنهگار شى دا هغه وخت دے چه هر كله په جهاد كښے دَ ټولو مسلمانانو دَ شريك كيدو ضرورت نۀ وى او كوم جماعت چه جهاد كوى هغه دَ دشمن دَ مقابلے د پاره كافى وى او هر كله چه كافران په جمع سره راشى او جهاد كونكى دَ هغوى دَ مقابلے كولو نه عاجز شى نو په دغه وخت كښے په ټولو باندے جهاد فرض كيږى او ظاهره ده چه ابن عمرؓ دَرسول الله ﷺ سره په جهاد كښے شريك شوے وو بيا دا واقعه هغه وخت كيدے شى چه هر كله هغه بوډا وو بيا دَ بل څه عذر سره په هغه كښے دَ جهاد دَتلو طاقت نۀ وو يا دَ هغه فتنے وخت كيدے شى چه پخپله مسلمان دَيو بل سره جنگيدو په داسے وخت كښے خو په كور كيناستل ډير غوره دى۔

****

باب الامر بالایمان باللّه تعالی ورسوله ﷺ وشرائع الدّین والدّعاء الیه والسّؤال عنه وحفظه وتبلیغه من لم یبلغه :

باب: په الله او رسول او په دینی احکامو باندے دَ ایمان راوړو حکم کول او دَ هغے طرفته خلق رابلل دَدین دَخبرو تپوس کول، یاد ساتل، او نورو لره پیژندل:

(۱۱۵)عَنْ اِبْنِ عَبَّاس قَالَ قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَیْسِ علی رسُول اللّهِ ﷺ فقالُوا یا رسُولَ اللّهِ اِنَّا هٰذه الْحَیّ مِنْ رَبِیْعة وَقَدْ حَالتْ بیْنَنا وَبَیْنَکَ کفّار مُضَرَ ولا نَخْلصُ اِلَیْکَ اِلّا فِی شهر الْحَرَام فَمُرْنَا بِاَمْر نَعْمَلُ بِهٖ ونَدْعوا اِلَیْه مَنْ وَّرَاءَ نَا قَال اٰمُرُکُمْ بِاَرْبع وانْهَاکُم عَنْ اَرْبَع اَلْاِیْمَان بِاللّٰه ثم فَسَّرهَا لَهُم فقال شَهَادةُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وانَّ محمّدا رَّسُول اللّهِ واِقام الصّلوٰة وَاِیْتَاءِ الزَّکوٰة وَاَنْ تُؤدُّوا خُمُسَ ما غَنِمْتُم وَاَنْهَاکُم عَنِ الدُّبَّاء والْحَنْتَم وَالنَّقِیْر وَالْمُقَیَّر وزاد خَلَفٌ فِی رِوَایَتِه شَهَادَةُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَعَقَدَ وَاحِدَةً: [بخاری : ۵۳ ، ۵۲۳ ، ۱۳۹۸ ، ۳۰۹۵ ، ۳۵۱۰ ، ۴۳۶۸ ، ۶۱۷۶ ، ۷۲۶۶ ، ۷۵۵۶ ، ابوداود ۳۶۹۲ ، ۴۶۷۷ ، ترمذی ؛ ۱۵۹۹ ، ۲۶۱۱ ، نسائی ؛ ۵۰۳۶ ، ۵۷۰۸ ، وانظر فی مسلم ؛ ۵۱۷۸]

ترجمه : دَابن عباسؓ نه روایت دے چه دَعبد قیس وفد رسول الله ﷺ ته راغے او وے وئیل یا رسول الله مونږه دَربیعه قبیلے نه یو او زمونږه او تاسو په مینځ کښے مضر کافر رکاوټ دے (مضر دَ یوے قبیلے نوم دے ددے خلق کافر وو او هغه دَ عبد قیس او دَ مدینے په مینځ کښے اوسیدل او دَ عبد قیس والا به ئے مدینے ته نۀ پریخودل) او مونږه ستاسو پورے نۀ شو راتلے مګر په حرامو میاشتو کښے یعنی خالی، ذی الحجه او محرم میاشتو کښے (دَعربو په نزد باندے خلور میاشتے حرامے وے یعنی خالی ذی الحجه او محرم او زبرګه یعنی دَ رجب میاشت په دے میاشتو کښے هغوی لوټ مار نۀ کوی او مسافر نۀ تنګوی په دے وجه سره په دے میاشتو کښے به مسافر سفر کوو او بے تکلیفه به په لاره تلل) نو مونږه ته یو داسے خبره اوبنایه چه په هغے باندے مونږه عمل اوکړو او دَخپل طرف خلق هم مونږه دے طرفته راوُغواړو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل زۀ تاسو ته

حکم کووم دَخلورو خبرو او منع کووم تاسولره دَ خلورو خبرو نه او بيانئ بيان اوکړو چه حکم کووم تاسو ته چه ګواهی ورکړی ددے خبرے چه نشته معبود برحق سوا دَخدائے پاك نه او حضرت محمد ﷺ دَهغه رالیږلے شوے پیغمبر دے او مونځ کوه او زکوت ورکوه او منع کووم تاسو دَدَبائ نه (یعنی دَتریخ کدو ډول نه) او حنتم نه او نقیر نه (یعنی دَ چوبی لوښی نه یو لرګے واخلی او هغه اوکنی او ډوغل شان ترے نه جوړ کړی) او مقیر نه خلف بن هشام په خپل روایت کښے دومره زیاته کړه چه ګواهی ورکړه ددے خبرے چه څوك رښتونے معبود نشته سوا دَالله نه او اشاره اوکړه هغه په ګوته باندے دَ یو۔

فائده : وفد وائی هغه خلقو ته چه هغه دَیو جماعت یا قوم دَ طرف نه منتخب شی او اولیګلے شی دَځه ضروری کار په واسطه دَبادشاه یا دَ وزیر یا دَ څه سردار طرفته۔ او عبد القیس دَیو سړی نوم دے چه دَهغه اولاد ته بنی عبد القیس وائی او دا یو شاخ دے دَربیعه چه یوه لویه قبیله وه په عربو کښے دا خلق رسول الله ﷺ له څوارلس سوه راغلی وو چه دَ هغو سردار اشج عصری وو۔

او په دے خلقو کښے مزیده بن مالك محاربی او عبیده بن حمام محاربی او صحار بن عباس مری او عمر بن محروم عصری او حارث بن شعیب عصری او حارث بن جندب موجود وو او دَباقی خلقو نومونه معلوم نهٔ دی او ددے خلقو دَراتلو دا سبب وو چه منقذ بن حیان یو سړے وو چه اکثر به مدینه منورے دَ تجارت دَپاره راتلو دَجاهلیت په زمانه کښے یو ځل هغه څادرے او کهجورے دَ حجر نه (حجر دَ یو کلی نوم دے) مدینے منورے ته راوړے دغه وخت رسول الله ﷺ دَ مکے نه مدینے ته هجرت کړے وو منقذ په لاره کښے ناست وو چه رسول الله ﷺ په هغه طرف باندے راغے منقذ دَ حضرت په لیدو سره پاسیدو او دریدو حضرت ورته اوفرمایل منقذه! ستا دَقوم دَتمامو خلقو څه حال دے؟ بیا حضرت دَهغه دَقوم دَلویو لویو نه دَ هر یو نوم واخستو۔

منقذ چه دا معجزه اولیده نو حیران شو او په دغه وخت ئے اسلام قبول کړو او سورت فاتحه او اقرأ ئے ایزده کړو بیا دَ حجر په طرف باندے روان شو رسول الله ﷺ هغه له یو خط دَعبد القیس دَخلقو دَپاره ورکړو هغه خط منقذ دَ عبد القیس خلقو ته ورنهٔ کړو۔ او دَځان سره ئے

لوساتو، یو محل دَ منقذ بنځه چه دَ اشج عصری لور وه، دَ اشج خپل نوم منذر بن عائذ وو لیکن رسول اللهﷺ دَهغه نوم اشج ایخودے وو (ولے چه دَهغه په تندی کښے دَزخم نشان وو) هغے خپل خاوند لره په مانځه او قرآن لوستو باندے اولیدو او خپل پلار منذر ته ئے دَهغے ذکر اوکړو او دائے اووے چه زما خاوند هر کله چه دَ مدینے نه واپس راغلے دے څه عجیب حال ئے جوړ شوے دے لاس او خپے وینځی بیا یو طرف ته (یعنی دَ قبلے طرف ته) مخ کړی کله ملا یعنی شا خکته کړی (رکوع) کله په زمکه باندے ځان غورځوی (سجده) هر کله چه منذر دَ هغے دَخاوند سره ملاؤ شو او دَدواړو خبرے اوشوے نو دَ اشج په زړۀ کښے دَاسلام خیال جمشو او دَ رسول اللهﷺ هغه خط ئے راوخستو او دَ خپل قوم خواله راغے او هغه خط ئے ورته واورولو۔

دَهغوی ټولو زړۀ اسلام طرف ته مائله شو او هغوی یو جماعت دَ رسول اللهﷺ په طرف باندے روان کړو او اشج ئے دَهغے سردار کو هر کله چه هغوی مدینے ته راورسیدل نو رسول اللهﷺ صحابو ته اوفرمائیل چه ستاسو خواله دَ عبد القیس خلق راروان دی چه هغه به یورپ والو کښے دَټولو نه بهیترین دی او په هغوی کښے اشج هم دے او هغه خلق واپس کیدونکے نۀ دی او نۀ شك کوونکی دی۔

په دویم روایت کښے پنځه خبرے ذکر دی خلور خو دادی (توحید رسالت مونځ زکوٰت او دَ مال غنیمت نه دَ پنځمے حصے ادائیگی) او دَ رمضان روژے نیول، او دَ بخاری په روایت کښے هم پنځه خبرے دی په دے مقام باندے دا شکایت دے چه حضور [illegible] خلور خبرے فرمائیلے دی او دکر شو پنځو لره، علماؤ ددے جواب [illegible] خو طریقو سره ورکړے دے دټولو نه ظاهر هغه دے کوم چه ابن بطال ونیلے دے چه [illegible] خلور خبرے وے یعنی توحید او مونځ [illegible] او زکوٰت مګر یوه خبره دَ غنیمت د پنځمے حصے به رمات [illegible] ددے دپاره چه هغه خلق کفار [illegible] نزدے اوسیدل او هغوی ته جهاد کول پریوتل او غنیمت [illegible] ورته ملاویدل

او ابن الصلاح ونیلے دی چه د "وان تؤدوا" عطف په "شهادة ان لا اله الا الله" باندے نۀ دے چه پنځه خبرے دے وی بلکه په خلورو باندے دے نو مطلب داشو چه تاسو ته حکم کووم د خلورو خبرو او دَ یوے خبرے بل۔

(فرمائیلے ئے دی چه زۀ تاسو لره منع کووم دَدباء نه او دَ حنتم نه) دَ حنتم په تفسیر کښې دَعلماؤ څو اقوال دی صحیح دادی چه حنتم وائی شنو لاکھی منګو او دا تفسیر خپله په صحیح مسلم کښې په کتاب الاشربه کښې دَابو هریره نه منقول دے او دا قول دے دَعبد الله بن مغفل او دَ اکثرو خاوندانو دَ لغت او بعضو وئیلے دی چه حنتم هر یو منګی ته وئیلے شی دادَ عبد الله بن عمر او سعید بن جبیر او دَ ابو سلمه قول دے۔

او بعضو وئیلے دی چه حنتم یو قسم منګے دے چه دَ مصر نه راځی او هغه روغنی وی دادَ انس بن مالك او ابن لیلی نه منقول دے هغوی وائی چه دا سرۀ وی بعضو وئیلے دی چه حنتم دَ سرخ رنګ منګی دی او په دے کښې به دَ مصر نه شراب راوړے شول۔ دادَ حضرت عائشہؓ نه منقول دے۔ او ابن ابی لیلی وائی چه دَ طائف نه به په دے کښې شراب راتلل او څه خلقو به په دے کښې نبیذ جوړول کول بعضو وئیلے دی چه حنتم هغه منګی دی چه هغه دَ خاؤرے او دَ وینتو او دَ وینے نه جوړیږی۔ او دا دَ عطاء نه منقول دے۔ (نوویؒ)

فرمائیلے ئے دی زۀ تاسو دَ مقیر نه منع کووم) مقیر دَقار نه وتلے دے یعنی په کوم لوښی باندے چه قار چراو شوے وی قار زفت ته وئیلے کیږی او بعضو وئیلے دی زفت یو قسم دے دَ قار او اول قول صحیح دے ولے چه دَ ابن عمرؓ نه په صحیح سند سره چه مزفت او مقیر یو څیز دے او قار او زفت ته په هندی کښې رال وئیلے شی۔

داچه کوم ددے څلورو قسمو لوخو نه ممانعت اوکړو ددے غرض دادے چه په دے لوخو کښې شراب تیاریدے شول او نشه په دے کښې زر پیدا کیږی او په چمړه کښې دَ شربت دَ جوړولو ممانعت نشته دے ولے چه چمړه نرمه ده او په دے کښې نشے والا شے نۀ شی تکیدے بلکه اکثر چمړه په تیزو شرابو سره چودلے شی او دا ممانعت هم په اولو ورځو دَاسلام کښې وو بیا دَ بریدہؓ په حدیث سره منسوخ شو په هغے کښې دادی چه ما تاسو لره منع کړے وو دَ شربت دَ جوړولو نه سیوا دَ چمړے نه په نورو لوخو کښې لیکن اوس جوړوی په هر لوخی کښې او مۀ څکی هغے شرابو لره چه هغه نشه کوی۔ روایت کړے دے لره مسلم او دا دَ جمهورو علماؤ قول دے او خطابی وئیلے دی چه ممانعت منسوخ شوے دے او دَ علماؤ یو جماعت دے ممانعت لره قائم ساتلے دے او

داقول : امام مالك او احمد او اسحاق دے او دا منقول دے د عمر او ابن عباس رضی الله عنهما نه (نووی)

(۱۱۲) عن ابی جمرة قال كُنْتُ اترجم بين يدی ابن عبّاس وبين النّاس فاتته امراة تسئله عن نبيذ الجرّ فقال انّ وفد عبد القيس اتوا رسول الله ﷺ فقال رسول الله ﷺ من الوفد او من القوم قالوا ربيعة قال مرحبا بالقوم او بالوفد غير خزايا ولا ندامى قال فقالوا يا رسول الله انا ناتيك من شقة بعيدة وانّ بيننا و بينك هذا الحيّ من الكفار مضر وانا لا نستطيع ان نّاتيك الا فی شهر الحرام فمرنا بامر فصل نخبر به من وّراء نا وندخل به الجنّة قال فامرهم باربع ونهاهم عن اربع قال امرهم بالايمان بالله وحده قالوا الله ورسوله اعلم قال شهادة ان لا اله الا الله وانّ محمّدا رّسول الله واقام الصلوة وايتاء الزكوة وصوم رمضان وان تؤدوا خمسا من المغنم ونهاهم عن الدّبّاء والحنتم والمزفت قال شعبة وربّما قال النّقير قال وربما قال النّقير وقال احفظوه واخبروا به من وّرائكم وقال ابو بكر ابن شيبة وفی روايته المقيّر. [راجع : ۱۱۵]

ترجمه : د ابو جمره (نضر بن عمران) نه روایت دے چه زهٔ د ابن عباسؓ په وړاندے د هغوی او د نورو خلقو په مینځ کښے مترجم وو (یعنی د نورو خلقو خبرے به مے په عربی کښے ترجمه کولے لو ابن عباس به مے پرے پو هه کولو) چه په کښے یوه ښځه راغله چه تپوس ئے کوو د منګی د نبیذ په باره کښے نو ابن عباسؓ ورته اووے چه د عبد القیس وفد (د وفد معنی مخکښے شوے ده) رسول الله ﷺ ته راغے حضور ﷺ تپوس اوکړو چه دا وفد څوك دی؟ یا د کوم قوم خلق دی؟ خلقو اووے چه دا د ربیعه خلق دی حضور ﷺ اوفرمائیل مرحبا دے وی قوم یا وفد لره چه هغه نه رسوا شول او نهٔ شرمنده (ولے چه پخپله بغیر د جنګ نه راغلل او مسلمانان شول کچرے د جنګ نه پس مسلمانان شوے وے نو رسوا شوے به وو مال به ئے لټ کیدو او ونځے او غلامان به ترے جوړ شوے وو) هغه خلقو اووے یا رسول الله ﷺ مونږه تاسو ته په ډیر اوګد سفر سره راغلے یو زمونږه او ستاسو په مینځ کښے د مُضر کافرانو قبیله ده نو مونږ ستاسو پورے نهٔ شو راتلے مګر په شهر الحرام کښے (هر کله چه لوټ مار نهٔ شی کیدے) ددے د پاره مونږه ته حکم اوکړه د

یوے صفا خبرے چہ هغه مونږه نورو خلقو ته هم اوښایو او دَ هغے په سبب سره جنت ته لاړشو حضرت ورته دَ څلورو خبرو حکم اوکړو او دَ څلورو خبرو نه ئے منع کړل هغوی ته ئے حکم اوکړو دَ الله په توحید باندے دَ ایمان راوړلو، او دَ هغوی نه ئے تپوس اوکړو چه تاسو پیژنئ چه ایمان څه دے؟ هغوی اووے الله او دَ هغه رسول ئے ښهٔ پیژنی حضور ﷺ ورته اوفرمائیل ایمان گواهی ورکول دی ددے خبرے چه سوا دَخدائے پاك نه څوك دَ عبادت لائق نشته دے او بے شکه محمد ﷺ دَ هغه رالیږلے شوے رسول دے او مونځ قائمول او زکوٰت ورکول او دَ رمضان روژے نیول (دا څلور خبرے شوے اوس یو پنځمه خبره بله ده) او دَ غنیمت په مال کښے دَ پنځمے حصے ادا کول (یعنی دَ کافرانو په لوټ کښے چه کوم مال ملاؤ شی دَ هغے نه پنځمه حصه دَخدائے او رسول دَپاره وېستل) او منع ئے کړل هغو لره دَ کدو دَ پټ دَ کچکول نه او دَ شین لاکهی گهړو نه او دَ روغنی لوخو نه، شعبه کله داسے وئیلی، او دَ نقیر نه او کله ئے وئیلے دَ مقیر نه (دواړه معنے مخکښے تیرے شوے دی) او وے فرمائیل دے لره یاد ساتی او ددے خبرو هغه خلقو ته هم خبر ورکړی کوم چه ستاسو نه ورستو دی۔ او دَ ابو بکر بن شیبه دَ مِنْ وراءِ کم په بدل کښے مَنْ وراءَ کم اووے (او مطلب دَدواړو یو دے) او دَ هغه په روایت کښے دَ مقیر ذکر نشته دے۔

فائده: یوے ښځے دَ نبیذ دَ منگی په باره کے تپوس کړے وو یعنی دَ خاورے په ورو کی خم یا بلتونی یا په منگی کښے چه کوم دَ کهجورو یا دَ انگورو شربت جوړ کړے شی دَ هغے څکل څنگه دی ؟ امام نووی وائی په دے کښے دلیل دے ددے خبرے چه ښځه دَ ناشنا او دَ نابلده غیر سره خبرے کولے شی او دَ هغو اواز اوریدے شی او هغه ښځه هم دَدوی آواز دَضرورت په وخت دَحاجت په وخت اوریدے شی۔

مرحبا یوه کلمه ده چه دَعربو خلق ئے دَملاقات دَپاره وائی یعنی څوك چه دَ ملاویدو دَپاره راشی۔ ددے مطلب دادے چه تهٔ ښهٔ ځائے ته راغلے دَوسعت او اسائش او دَ آرام ځائے ته راغلے۔

(۱۱۷)عَنْ ابْنِ عبَّاس عن النَّبی ﷺ بهٰذ الْحَدیْث نحْو حدیث شُعْبَةَ وقَال آنْهَاکُم عمَّا ینبذُ فِی الدُّبَّاء والنَّقِیر والحنتم والمزفت وزاد بْنَ مَعاذ فِی حدیثه عن ابِیْه قَال وقَال رسُول اللّهِ ﷺ لِلْاشجّ اشجِّ عَبْد الْقَیْس انّ فِیْک لَخصْلَتیْن یُحبّهما اللّهُ اَلحِلم وَالْاَنَاةُ:[راجع : ۱۱۵]

ترجمه : دریم روایت هم دَ ابن عباس نه په دے شان دے په هغے کښے دادی چه زهٔ تاسو لره منع کووم دَ هغه نبیذ نه چه هغه کټ کړے شی دَ کدو په ډول کښے او چوبی او شین لاکهی لو روغن لوخی کښے ابن معاذ په خپل روایت کښے دَخپل پلار نه دومره زیاته کړه چه رسول الله ﷺ دَ عبد القیس اشج ته (چه دَ هغه نوم منذر بن حارث بن زیاد وو یا منذر بن عبید یا عائذ بن منذر یا عبد الله بن عوف وو) اوفرمائیل په تا کښے دوه خصلتونه داسے دی چه هغه الله پاک خوښوی یو خو عقل مندی، اودویم څه ساعت سوچ کول ، تادی نهٔ کول۔

فائده : دا رسول الله ﷺ ددے دَپاره اوفرمائیل چه هر کله دَ عبد القیس خلق مدینے منورے ته راورسیدل نو چهټ پټ رسول الله ﷺ له راغلل مگر اشج دَ سامان سره پاتے شو لو تول سامان ئے راټول کړو او په اوښ ئے اوترو بیا ئے ښهٔ کپړے بدلے کړے دَ هغے نه پس دَ حضرت خواله راغے حضرت دے نزدے راوُغوښتو او دَ ځان سره ئے اوکه په اوګه کینولو بیا ئے ورته اوفرمائیل چه په حقیقت کښے عقل مندی او اطمینان دواړه صفتونه داسے دی چه دَ تملو خوبیانو زیلے دی بعضے سرے عقل مند وی لیکن جلد باز وی دَ هغه نه ډیرے زیاتے غلطیانے کیږی او بیا شرمنده وی ښهٔ خبره داده چه کوم کار کول غواړے ورومبے په هغے کښے ښهٔ فکر اوکړه او په فائده او نقصان ئے نظر واچوه بیا چه هر کله فائدے زیاتے معلومے شی نو انجام به ئے ښهٔ وی نو هغه اوکړه کهٔ پخپله دا کار نهٔ شے کولے نو دَ عقلمندو دوستانو نه مشوره واخله حکملو وئیلے دی چه کوم سرے هر کار دَ خیال راتلو سره کوی په هغه کښے او په څناور کښے څه فرق نشته دے دَ څناورو عقل په دے شان دے چه څه خیال ئے راشی په هغه طرف منده کړی فکر او تأمل او انجام لیدل هیڅ ئے نهٔ وی۔

(۱۱۸) عَنْ قَتَادَةَ قَالَ حَدَّثَنِی مَنْ لَقِیَ الْوَفْدَ الَّذِیْنَ قَدِمُوا رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ مِنْ عَبْدِ الْقَیْسِ قَالَ سَعِیْدٌ وَذَکَرَ قَتَادَةُ اَبَا نَضْرَةَ عَنْ اَبِی سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ فِی حَدِیْثِهٖ هٰذَا اَنَّ اُنَاسًا مِنْ عَبْدِ الْقَیْسِ قَدِمُوا عَلٰی رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالُوا یَا رَسُولَ اللّٰهِ اِنَّا حَیٌّ مِنْ رَبِیْعَةَ وَبَیْنَنَا وَبَیْنَکَ کُفَّارُ مُضَرَ وَلَا نَقْدِرُ عَلَیْکَ اِلَّا فِی اَشْهُرِ الْحُرُمِ فَمُرْنَا بِاَمْرٍ نَاْمُرُ بِهٖ مَنْ وَّرَاءَنَا :

ترجمه : دقتاده نه روایت دے چه ماته حدیث بیان کړے دے هغه سړی چه هغه ملاؤ شوے وو دهغه وفد سره کوم چه رسول الله ﷺ له راغلی وو دعبد القیس د قبیلې نه (او قتاده نوم نهٔ دے اخستے دهغه سړی دچانه چه هغه اوریدلې دے دهغه نه دے نه تدلیس وائی) سعید وائی چه قتاده دابو نضره نوم اخستے دے هغوی اوریدلې دی دابو سعید خدری نه (سعد بن ملك سنان نه) چه څه خلق دَعبد القیس رسول الله ﷺ ته راغلل او وے وئیل چه اے نبی ﷺ مونږه د ربیعه یو شاخ یو او زمونږه او ستاسو په مینځ کښے د مضر کافر دی او مونږه ستاسو پورے نهٔ شو رائے مګر په حرامو میاشتو کښې راځو نو حکم اوکړه مونږه ته دداسے کار چه هغه مونږ نورو خلقو ته چه زمونږ نه ورستو دی اوښایو .

وَنَدخل به الجنّة اذا نحنُ اخذنا به فقال رسُول اللّه ﷺ امرکم باربع وانهاکم عن اربع اعبُدو اللّٰه ولا تُشرکُوا به شیئًا واقیموا الصّلوٰة واتوا الزّکوٰة وصوموا رمضان واعطوا الخمس من الغنائم وانهاکم عن اربع عن الدّبّاء والحنتم والمزفت والنقیر قالوا یا نبیّ اللّه ما علمک بالنقیر قال بلی جِذعٌ تنقرُونهٗ فتقذفون فیه من القُطیعاء قال سعید او قال من التمر ثم تصبّون فیه من الماء حتّی اذا سکن غلیانهٗ شربتمُوهُ حتّی انّ احدکم او ان احدهم لیضرب ابن عمّه بالسّیف قال وفی القوم رجل اصابتهُ جراحةٌ کذالک قال وکُنتُ اخباٴها حیاءً من رسُول اللّه ﷺ فقُلت ففیم نشرب یا رسُول اللّٰهِ قالَ فی اسقیة الادم الّتی یلاثُ علی افواهها فقالوا یا نبیّ اللّه انّ ارضنا کثیرة الجرذان ولا تبقی بها اسقیة الادم فقال النّبی ﷺ وانْ اکلتها الجرذان وان اکلتها الجرذان وان اکلتها الجرذانُ قالَ فقال النّبی ﷺ لاشج عبد القیس انّ فیک لخصلتین یحبهما اللّٰه الحلم والاناةُ .

ترجمه : او مونږه دهغے په وجه جنت ته داخل شو هر کله چه په هغے باندے مونږه عمل اوکړو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل زهٔ تاسو ته دَ څلورو څیزونو حکم کووم او دَ څلورو څیزونو نه مو منع کووم (دَ کومو څلورو څیزونو چه حکم کووم هغه دا دی) چه د الله عبادت کوی او دَهغه سره څوك شریك مهٔ ګرځوی او مونځ قائم کړی او زکوٰت ورکوی او دَ رمضان روژے نیسی او دَ غنیمت دَ مالونو نه پنځمه حصه ادا کوی او منع کووم تاسو لره دڅلورو څیزونو نه دَ کدو دَ ډول

نه او دَ شين لاکهى لوخى نه او د روغنى لوخى نه او د نقير نه. خلقو اووے يا رسول الله نقير ته نهٔ پيژنے حضور ﷺ اوفرمائيل چه ولے نه پيژنه نقير يو لرگے دے چه هغے لره تاسو اوکنئ. (او ووغل نے کړئ) بيا په هغے کښے قطيعا (يو قسم وړے کهجورے چه ورته شهرير هم وائى) لو لرئ. سعيد اووے يا تمر په کښے اولړئ او بيا په کښے اوبهٔ واچوئ هر کله چه د هغے جوش کينئ نو هغے لره څکئ تردے پورے چه يو د تاسو نه دخپل ترهٔ خوے لره په توره سره وژنئ (په نشه کښے راشى او عقل نے لاړشى نو ددوست او دشمن شناخت پاتے نهٔ شى نو خپل ورور چالره چه دَ هر څه نه زيات غواړى په توره سره وژنى دشرابو به بدو کښے دا يو لويے قباحت دے چه هغے لره حضرت ﷺ بيان کړے دے) راوى وائى زمونږه په خلقو کښے دغه وخت يو سړے موجود وو (چه نوم نے جهم وو) په هغه کښے د دغه نشے زخم وو هغه اووے چه لېکن ما دے لره پټوو دَرسول الله ﷺ نه دَ شرم په سبب. ما اووے يا رسول الله بيا مونږه په کوم لوخى کښے شربت څکو. حضور ﷺ اووے چه دَ څرمنے په لوخو کښے او په مشکونو کښے. چه د هغے خلهٔ ترلے شى (په رسى يا په تسمه سره) خلقو اووے اے دَالله نبى زمونږه په ملك کښے منګکان ډير زيات دى هلته دَ څرمنے لوخى نهٔ شى پاتے کيدے حضور ﷺ اوفرمائيل چه څکوئ د څرمنو په لوخو کښے اګر که منګکان هغه پريکړى اګر کهٔ منګکان هغه پريکړى اګر کهٔ منګکان هغه پريکړى. (يعنى په کوم طور سره چه کيدے شى دَ څرمنو په لوخو کښے څکئ او د منګکونه نے حفاظت کوئ ليکن په دغه لوخو کښے خو څکل نهٔ دى چه هغه دَ شرابو لوښى دى) راوى وائى چه رسول الله ﷺ دَ عبد القيس اشج ته اوفرمائيل چه ستا کښے دوه خصلتونه داسے دى چه هغه الله پاك خوښوى يو خو عقلمندى چه هغه الله پاك خوښوى او اطمينان (يعنى تادى نه کول)

(۱۱۹) عَنْ اَبِى سَعِيْدِ الْخُدْرِىْ اَنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ لَمَّا اَتَوْا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بِمِثْلِ حَدِيْثِ ابْنِ عُلَيَّةَ غَيْرَ اَنَّ فِيْهِ: وَتُذِيْفُوْنَ فِيْهِ مِنَ الْقُطَيْعَاءِ وَالتَّمْرِ وَالْمَاءِ) وَلَمْ يَقُلْ: قَالَ سَعِيْدٌ اَوْ قَالَ مِنَ التَّمْرِ:

[راجع: ۱۱۸]

ترجمه: په يو بل سند سره راغلے دى چه ابو سعيد خدرى بيان کوى چه کله دَ بنى عبد

قیس دَ قبیلے وفد رسول الله ﷺ ته راغے (باقی ئے پورتنے حدیث بیان کړو) صرف په الفاظو کښې معمولی غوندے تبدیلی دهٔ، مفهوم هم هغه ورومبے دے۔

(۱۲۰) عَنْ اَبِی سَعِیْدٍ الْخُدْرِیِّ اَنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَیْسِ لَمَّا اَتَوا نَبِیَّ اللّٰهِ ﷺ قَالُوا یَا نَبِیَّ اللّٰهِ جَعَلَنَا اللّٰهُ فِدَاکَ مَاذَا یَصْلُحُ لَنَا مِنَ الْاَشْرِبَةِ فَقَالَ لَا تَشْرَبُوا فِی النَّقِیْرِ قَالُوا یَا نَبِیَّ اللّٰهِ جَعَلَنَا اللّٰهُ فِدَاکَ اَوَتَدْرِیْ مَا النَّقِیْرُ قَالَ نَعَمْ اَلْجِذْعُ یُنْقَرُ وَسَطُهٗ وَلَا فِی الدُّبَّاءِ وَلَا فِی الْحَنْتَمِ وَعَلَیْکُم بِالْمُوْکٰی:

ترجمه: دَابو سعید خدریؓ نه روایت دے چه دَ عبد القیس وفد چه هر کله رسول الله ﷺ ته راغے نو وے وئیل اے دَ الله نبی الله دے مونږه په تا باندے قربان کړی کوم څکل زمونږه دپاره جائز دی حضور ﷺ اوفرمائیل په نقیر کښې مهٔ څکئ. هغوی اووے اے دَ الله نبی الله دے مونږه په تا باندے قربان کړی ولے تهٔ نقیر پیژنے؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه ولے نه نقیر یو لرگے دے چه دَ هغے مینځ ئے کنستلے او ډوغل کړے وی او دَ کدو په ډول کښې مهٔ څکئ او په شین لاکهی لوښی کښې مهٔ څکئ۔ او څکئ (دَ څرمنے) په مشکونو کښې چه دَ هغے خلهٔ په رسۍ یا په تسمه باندے تړلے شی۔

فائده: نوویؒ وائی ددے حدیث نه (یعنی ددے حدیث نه چه دَ څو راویانو نه په مختلفو طریقو سره وراندے روایت کړے شوے دی) ډیر مسائل معلوم شول چه ځائے په ځائے باندے پورته ذکر شوے دی او زهٔ په اختصار سره دے لره دلته بیانووم یو خو دَ رؤساؤ او اشرافو سفارت روانه کول ضروری او دَ مهم کارونو دپاره۔

دویم دَ سوال نه وړاندے عذر ظاهرول دریم دَ مهمات اسلام او دَ ارکان اسلام بیان دَ سوا دَحج نه او پورته مونږه وئیلے دی چه ددے وخته پورے حج فرض شوے نهٔ وو څلورم دَ عالم مدد غوښتل دَنورو دَ پوهه کولو دپاره دَچابل سړی نه لکه دَابن عباسؓ مترجم چه ابو جمره وو۔

پنځم په ترجمه او فتوٰی او خبر کښے دَ یو سړی قول کافی کیدل. شپږم دَ میلمه دپاره مرحبا وئیل، او دَ هغه دَ خوشالولو دپاره دَ هغه تعریف کول اووم په خله باندے تعریف کول هر کله چه په کښے دَ فتنے یره نهٔ وی او په خله باندے تعریف کول یعنی مدح منع ده په هغه وخت

چه نفتنې پره وي گنې په ډیرو مقاماتو کښې خپله د رسول الله ﷺ نه مدحه ثابته ده. حضرت د رښتې کولو په حدیث کښې ابوبکرؓ ته اوفرمائيل چه ته د هغه خلقو نه نه يې چه هغه د تکبر نه داسې کار کوي. او فرمائيلې يې وو اے ابو بکرؓ مه ژاړه د ټولو نه زيات احسان د صحبت او د مال په وجه سره په ما باندې ستا دے او کوم چه زهٔ چاله دوست جوړوم (سوا د خدائے نه) نو ابوبکر به جوړوم او دغه شان ډیر احادیث او آثار منقول دي اتم په تپوس کونکي باندے ملاتیا نهٔ کول کهٔ چرے هغه اووائي چه ماته کهولاؤ بیان اوکړه نهم صرف د رمضان لفظ وئیل درست کیدل شهر رمضان وئیل ضروري نهٔ دي. لسم د عالم نه دوباره د پوهه کیدو دپاره تپوس کول. يوولسم تاکید کول دَ خبرے دزیات اثر غور خولو دپاره دولسم دا وئيل درست دي چه خدائے دے ما په تا باندے فدا کړي (انتهی مختصرا)

باب الدعاء الى الشهادتين وشرائع الاسلام :

باب: خلقو لره دَ شهادتونو طرف ته دَراغوښتو او دَ اسلام دَ ارکانو بیان:

(۱۲۱) عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ انّ مُعاذًا قال بعثني رسول اللّه ﷺ فقال انک تاتي قومًا من اهل الكتاب فادعهم الى شهادة ان لا اله الا اللّه واني رسول اللّه فان هم اطاعوا لذالک فاعلمهم ان اللّه افترض عليهم خمس صلوات في كل يوم وليلة فان هم اطاعوا لذالک فاعلمهم ان اللّه افترض عليهم صدقة تؤخذ من اغنيائهم فتردّوا على فقرائهم فان هم اطاعوا لذالک فاياک وكرائم اموالهم وتق دعوة المظلوم فانه ليس بينها وبين اللّه حجاب. [بخاري : ۱۳۹۵ ، ۲۴۴۸ ، ۴۳۴۷ ، ابو داود ؛ ۱۵۸۴ : ترمذی ؛ ۶۲۵ ، ۲۰۱۴ ، نسائی : ۲۴۳۴ ، ابن ماجه : ۱۷۸۳]

ترجمه : دابن عباسؓ نه روايت دے چه معاذ بن جبلؓ وائي چه زهٔ رسول الله ﷺ (د يمن په طرف حاکم کړم) اوليږلم نو وے فرمائيل ته به ملاؤ شے د خه خلقو سره دَ اهلِ کتابو نه نو رااوغواړه هغوی لره د دے خبرے گواهی طرف ته چه څوک دعبادت لائق نشته سوا دَ الله پاک نه او زهٔ دخدائے رالیږلے شوے پیغمبر یم (یعني محمد ﷺ) کهٔ چرے هغوی دا اومنی نو ورته اوښایه دا خبره چه الله پاک په هره شپه او ورځ کښے پنځهٔ مونځونه فرض کړے دی کهٔ چرے

هغوی دا اومنی نو هغوی ته اووایه چه الله پاك په دوی باندے زکوٰت فرض کړے دے چه هغه به دَدوی دَ مالدارو نه اخستے شی او دَ هغوی فقیرانو ته به ورکولے شی که چرے هغوی دا خبره اومنی نو خبردار! وانۀ خلے غوره مال دَ هغوی نه (یعنی په زکوٰت کښے دَدرمیانه درجے څناور اخله دَډیرو روږو والا او ښورب مۀ چانړ کوه)او د مظلوم د بددُعا نه ځان بچ اوساته ځکه چه دَ مظلوم دَ بددعا او دَ الله پاك په مینځ کښے څه منع کونکے نشته دے۔

فائده : یعنی فورا الله ته رسی او قبلیږی نووی فرمائی چه ددے حدیث نه ډیرے خبرے اوځی قبلول دَ خبر واحد او واجبیدل د عمل په هغے باندے او وتر واجب نۀ کیدل۔ ددے دَپاره چه معاذؓ دَ رسول الله ﷺ دَ وفات نه څو ورځے وړاندے یمن ته لیږلے شوے وو۔ بیا کۀ چرے وتر واجب وے نو حضور ﷺ به وترو لره هم په مونځونو کښے شریك کړے وو ۔ او مسنون کیدل دعوت دَ کفارو لره په طرف دَ توحید دَ جنګ نه وړاندے او حکم پرے نۀ کول دَاسلام دَ کومے پورے چه دَ شهادتینو په ژبه سره اقرار او نۀ کړی او دا مذهب دے دَ اهلِ سنت۔

او واجب کیدل دَ پنځو مونځونو په هره شپه او ورځ کښے او ظلم ته عظیم ګناه وئیل او دَ امام نصیحت کول خپلو عاملانو ته دَالله نه دَ ډیرو ډیاره او حرامیدل دَ زکوٰت په وصولی کونکی باندے غوره او چهانټ شوے مال اخستل [illegible] په دے شان دَ مال په خاوند باندے بد مال ورکول او زکوٰت نۀ ورکول کافر لره نۀ مالدار [illegible] او [illegible]ستدلال کړے دے په حدیث سره خطابی او زمونږه اصحابو چه دَ زکوٰت نقل جائز نۀ دے یعنی دَ یو ملك زکوٰت دَ بل ملك فقیرانو ته نۀ شی لیږلے۔ او دا ستدلال قوی نۀ دے ولے چه دَ فقراؤ نه دَ مسلمانانو فقیران مراد کیدے شی او بعضو ددے حدیث نه دا استدلال کړے دے چه کافر دَ فروع شریعت لکه دَ مونځ او روژے سره مخاطب نۀ دی یعنی هغوی ته صرف دا حکم دے چه ایمان راؤړی او ددے امر په نۀ کولو باندے به هغه عذابیږی۔

مونځ روژه وغیره په هغوی باندے هله فرض دی چه هغه مسلمانان شی او دلیل ددے دادے چه حضور ﷺ په دے حدیث کښے دا فرمائیلے دی کۀ چرے هغوی اومنی نو هغوی ته دا اوښایه نو معلومه شوه چه هر کله ئے شهادتین نۀ وی منلے نو نور ارکان دَاسلام په هغوی باندے

واجب نۀ دی۔ او دا استدلال ضعیف دے ددے دپاره چه دَحدیث مقصود دادے چه هر کله هغوی دَ شهادتینو اقرار اوکړی نو هغوی ته اوښایه چه د مانځه مطالبه به دَدوی نه په دنیا کښے کیږی او په دنیا کښے خو دَارکانِ اسلام مطالبه هغه وخت کیږی چه هر کله هغه اسلام قبول کړی ددے نه دا نۀ لازمیږی چه په آخرت کښے هم هغو لره دارکان اسلام په پریخودو باندے عذاب نۀ وی۔ او قرینه په دے باندے داده چه حضور ﷺ یوه یوه خبره په ترتیب باندے خودلے ده وړومبی چه کومه ډیره زیاته ضروری وه بیا دَ هغے کمه ضروری بیا دَ هغے نه کمه۔ او په خپله په دے حدیث کښے دا خبره موجوده ده۔ چه هر کله هغوی مونځ اومنی نو دَ زکوٰت فرضیت ورته اوښایه حالانکه ددے خوک قائل شوے نۀ دی چه وړومبے په انسان باندے مونځ فرض کیږی بیا دَهغے نه پس زکوٰة فرض کیږی۔

(۱۲۲) عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ بعث مُعَاذا اِلَی الْیَمَنِ فقال (اِنَّکَ سَتَاْتِیْ قَوْمًا) بِمِثْلِ حَدِیْثِ وَکِیْعٍ۔[راجع : ۱۲۲]

ترجمه : دَ حضرت ابن عباسؓ نه رایت دے چه رسول الله ﷺ حضرت معاذؓ لره دَ یمن حاکم جوړ کړو لیږلو ئے او ورته ئے اوفرمائیل چه " عن قریب ته دَ اهل کتابو خو خلقو ته به ځے " بیا هغه حدیث بیان کړو چه مخکښې تیر شو صرف دَ سند فرق دے۔

(۱۲۳) عَنْ اِبْنِ عَبَّاس اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ لَمَّا بَعَثَ مُعَاذًا اِلَی الْیَمنِ قَال اِنَّکَ تَقْدَمُ عَلٰی قَوْمِ اَهْل کِتَاب فَلْیَکُنْ اَوَّلَ مَا تدْعُوهُمْ اِلَیْه عِبَادة اللّٰه فَاِذَا عَرَفُو اللّٰه فَاَخْبِرْهُم اَنَّ اللّٰهَ قَدْ فَرض عَلَیْهِم خَمْسَ صَلَوَات فِی یومِهِمْ وَلَیْلَتِهِمْ فاذا فعلوا فاخبرهم انّ الله عزّ وجلّ قد فرض علیهم زکوٰة تُوخَذُ مِنْ اَمْوَالِهِم فتردُ علی فقرائهم فاذا اطاعوا بها فخذ منهم وتوق کرائم اَمْوَالِهِمْ: [راجع : ۱۲۱]

ترجمه : دابن عباس نه روایت دے رسول الله ﷺ چه هر کله معاذ یمن ته اولیږلو نو هغه ته ئے اووے چه ته ځے د اهل کتابو نه ډیر قوم خواله نو د هر څه نه اول چه کوم طرفته ته هغوی رابلے هغه د الله پاک عبادت دے بیا چه هر کله هغوی خدائے اوپیژنی نو خبر ورکړه دوی لره چه الله پاک په دوی باندے په هره ورځ او شپه کښے پنځه مونځونه فرض کړے دی هر کله چه هغوی

شروع کړی نو بیا ورله خبر ورکړه چه الله پاك په دوی باندے زکوٰة فرض کړے دے چه هغه به ددوی دَ مالونو نه اخستے شی او بیا به دَدوی فقیرانو ته ورکولے شی۔ هر کله چه هغوی دا هم اومنی نو دَهغوی نه زکوت واخله او دَ هغوی دَ غوره مالونو نه ځان بچ اوساته۔

فائده : قاضی عیاض وئیلے دی ددے نه معلومیږی چه اهل کتاب یعنی یهودلو نصاری خدائے پاك نهٔ پیژنی او دغه قول دے دَ لویو لویو متکلمینو اګر چه هغوی په ظاهر کښے دَ الله پاك عبادت کوی او وائی چه مونږ خدائے پاك پیژندلے دے۔ اګر چه عقل دا خبره جائز کړے ده چه کوم سړے رسول نهٔ منی هغه خدائے پاك پیژندلے شی،

قاضی عیاض وئیلے دی چه کوم سړے خدائے پاك دَ نور مخلوق مشابه ګنړی یا خدائے لره جسم ثابتوی دَنورو جسمونو په شان دَ یهودیانو نه یا دَ خدائے پاك اولاد کیدل جائز ګنړی یا هغه لره ښځه یا ځوے ثابتوی یا دَ حلول او انتقال او امتزاج اجسامو په شان دَهغه دَپاره جائز ګنړی دَ نصارو نه یا دَهغه اوصاف داسے بیانوی چه هغه دَ هغے لائق نهٔ دے۔

یا دَهغه دپاره شریك یا مخالف یا یوشان والے ثابتوی دَمجوسیانو او بت پرستو نه نو دا ټولو معبود په حقیقت کښے خدائے پاك نهٔ دے اګر چه هغوی دَ هغه نوم خدائے پاك وائی خو په حقیقت کښے هغوی رښتونے رب لره نهٔ دے پیژندلے په دے نکته باندے ځان پوهه ول لوه ایله ساتل پکار دی۔ (نووی)

دا چه ئے اوفرمائیل ددوی دَمال نه به زکوٰت اخستے شی ددے نه دا معلومه شوه چه کهٔ چرے یو مسلمان زکوٰت نهٔ ورکوی نو جبرا به دَ هغه نه مال اوصولولے شی په دے کښے خلاف نشته دے مګر اختلاف په دے کښے دے چه آیا هغه باطنا بینه و بین الله دَ زکوٰت نه بری شوے وی یا نهٔ وی په دے کښے زمونږه دَاصحابو دوه قولونه دی۔ (نووی)

باب الامر بقتال الناس حتی یقول لا اله الا الله محمد رسول الله :

باب: دکومے پورے چه خلق لااله الا الله محمد رسول الله او نهٔ وائی دَ هغه سره دَ جنګ کولو حکم:

(۱۴۲)عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ لَمَّا تُوُفِّیَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَاسْتُخْلِفَ اَبُو بَکْرٍ الصِّدِّیْقُ بَعْدَهُ وَکَفَرَ مَنْ کَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ قَالَ عُمَرُ الْخَطَّابِ لِاَبِی بَکْرٍ کَیْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ اُمِرْتُ اَنْ اُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰی یَقُوْلُوا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَقَدْ عَصَمَ مِنِّی مَالَهُ وَنَفْسَهُ اِلَّا بِحَقِّهِ وَحِسَابُهُ عَلَی اللّٰهِ فَقَالَ اَبُو بَکْرٍ وَاللّٰهِ لَاُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَیْنَ الصَّلٰوةِ وَالزَّکٰوةِ فَاِنَّ الزَّکٰوةَ حَقُّ الْمَالِ وَاللّٰهِ لَوْ مَنَعُوْنِی عِقَالًا کَانُوا یُؤَدُّوْنَهُ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلٰی مَنْعِهِ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَوَ اللّٰهِ مَا هُوَ اِلَّا اَنْ رَاَیْتُ اللّٰهَ قَدْ شَرَحَ صَدْرَ اَبِی بَکْرٍ لِلْقِتَالِ فَعَرَفْتُ اَنَّهُ الْحَقُّ: [بخاری : ۱۳۹۹ ، ۱۴۵۷ ، ۶۹۲۴ ، ۶۸۵۵ ؛ ابوداود : ۱۵۵۶ ، ۱۵۵۷ ، ترمذی : ۲۶۰۷ ؛ نسائی : ۲۴۴۲ ، ۳۰۹۱ ، ۳۰۹۲ ، ۳۰۹۳ ، ۳۹۸۰ ، ۳۹۸۱ ، ۲۹۸۳ ، ۳۹۸۵]

ترجمه: دَ ابو هریرةؓ نه روایت دے چه هر کله رسول الله ﷺ وفات شو او حضرت ابوبکر صدیقؓ خلیفه جوړ شو او دَ عربو خلق چه کوم کافر کیدونکے وو هغه کافر شو نو حضرت عمرؓ حضرت ابو بکرؓ ته اوفرمائیل ته دَدغه خلقو سره ولے جنګ کوے حالانکه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه ماته حکم شوے دے دَخلقو سره دَ جنګ تر دے پورے چه هغه لا اله الا الله اووائی بیا چه چا لا اله الا الله اووے هغه زمانه خپل مال او جان بچ کړو مګر دَ چا دَحق په بدله (یعنی دَ څه قصور په بدله کښے لکه زنا اوکړی یا خون اوکړی نو نیولے به شی) بیا حساب دَ هغے په الله باندے دے (کۀ دَهغه په زړۀ کښے کفر وی او په ظاهره کښے ئے دَیرے ایمان راوړے وی نو په قیامت کښے به الله هغه سره پوهیږی دنیا په ظاهره باندے ده په دنیا کښے به دوۀ نه څه مواخذه نۀ شی کیدے) حضرت ابو بکرؓ ورته اووے قسم په خدائے چه زۀ خو به جنګیږم دَهغه سړی سره چه هغه فرق کوی په مونځ او زکوٰت کښے ددے دَپاره چه زکوٰت دَمال حق دے قسم په خدائے کۀ هغه یو عقال پاتے کړی کوم چه ئے رسول الله ﷺ ته ورکوو نو زۀ جنګ کووم دَ هغه سره دَ هغے په نۀ ورکولو باندے حضرت عمرؓ وائی قسم په خدائے بیا هغه څه نۀ وو مګر ما یقین اوکړو چه الله جل شانه دَ ابو بکرؓ سینه فراخه کړے ده دَجنګ دَپاره (یعنی دَ هغه په زړۀ کښے ئے دا خبره اچولے ده ، بیا زۀ پوهه شوم چه دا حق دے۔

فائده : خطابی وئیلی دی کوم خلق چه ذاسلام نه واپس شوی وو یعنی روګردان شوی وو هغه په دوه قسمه باندی وو یو خو هغه وو چه هغوی بالکل دین اسلام پریخودی وو او دکفر په طرف واپس شوی وو او ابو هریرهؓ چه څه وئیلی دی چه کافر شول دعربو خلق چه کوم کافر شوی وو ددی نه مراد ددی قسم خلق دی او په دغه خلقو کښی هم دوه ګروفونه وو یو ګروپ خو د مسلیمه کذاب وو چه کافر ګڼړلے شو او اسود غسی ئے رسول منلے وو او ددی قبلونکی کسان د یمن دخلقو نه وو۔ او یو ګروپ ددی برعکس وو دی فرقو خو بالکل زمونږ د پیغمبر ﷺ د نبوت نه انکار کولو او اسود یا مسیلمه لره ئے پیغمبر ګڼړلو ۔

حضرت ابو بکرؓ دهغوی سره جنګ شروع کړو تر دی پوری چه مسیلمه په یمامه کښی لو اسود غسی په صنعا کښی قتل کړے شو او دهغوی جماعتونه ختم کړے شو او اکثر ددوی نه مړه شو۔ دویم ګړپ هغه وو چه هغه ددین نه وتلے وو او د شرائع دین او احکامو نه منکر شوی وو لو مونځ او روژے ئے پریخودی وی۔ او بیا دهغه جاهلیت په لاره باندی روان وو دغه وخت سجده صرف په دریو جماعتونو کښی کیدے شوه یو د مکے مکرمے په جماعت کښی بل د مدینے منورے په جماعت کښی او دریم د عبد القیس په جماعت بحرین کښی۔ ددویم قسم هغه خلق وو چه هغوی په مونځ او زکوت کښی فرق راوویستو نو مونځ به ئے کوو خو د زکوت د ورکولونه ئے انکاراوکړو دا خلق په حقیقت کښی یو قسم باغیان وو ددغه خلقو په باره کښی حضرت عمرؓ ته شك راغے ۔(السراج الوهاج)

حضرت عمرؓ اعتراض په نظر د ظاهر حدیث وو چه هر کله رسول الله ﷺ فرمائیلی وو چا چه لا اله الا الله اووے هغه زمانه خپل ځان او مال بچ کړو او دا خلق لا اله الا الله وائی صرف دزکوت ورکولو نه انکار کوی بیا دهغوی سره جنګ کول او دهغوی مال او جان دهغوی نه اخستل څنګه درست کیدے شی

مطلب د حضرت ابوبکرؓ داوو چه رسول الله ﷺ دمال او د جان حفاظت په دوو شرطونو باندی معلق کړے دے او کوم حکم چه دوو شرطونو باندی معلق وی هغه د یو شرط په کیدو سره نهٔ شی حاصلیدے هر کله چه دویم شرط نهٔ وی بیا قیاس شو دے لره په مانځه سره بعد ددے نه

زکوت لره په مثل دمانځه قرار شو په دے حدیث کښے دلیل دے ددے خبرے چه کوم سړے مونځ پریږدی په اجماع دصحابو رضی الله عنهم ددهٔ سره جنګ کول درست دی هر کله چه ابو بکر صدیقؓ زکوت چه مختلف فیه وو دمانځه سره مثل قرار کړو چه هغه متفق علیه وو نو په دے معامله کښے حضرت عمرؓ په عموم حدیث سره استدلال اوکړو او حضرت ابو بکر صدیقؓ دقیاس نه. او معلومه شوه چه د عامو تخصیص دقیاس نه کیدے شی.

په مسلم شریف کښے عقالا مروی ده او داسے په بخاری کښے او په بعضے روایتونو کښے دعقال په ځائے باندے عناق دے. چه د بزے بچی ته وئیلے شی. او دواړه صحیح دی او محمول دی په دے امر دے چه ابو بکرؓ دا کلام دوه ځله وئیلے دے یو ځل ئے عقال وئیلے او په بل ځل ئے عناق نو ددهٔ نه دواړه لفظونه روایت شوے دی. نو دعناق نه د بزو هغه بچی دی چه دهغے میاندئې مړے شوے وی. او دعقال نه مراد دیو کال زکوت دے او بعضو وئیلے دی چه عقال هغه رسی ده چه په هغے سره اوښان تړلے کیږی او نووی دے ته صحیح وئیلے دی ولے چه دا موقع د شدت او د مبالغے ده نو دکومه پورے چه د عقال تحقیق وی مناسب دے او هر کله چه دیو کال د زکوت مراد واخلے نو مطلب نهٔ شی حاصلیدے. (السراج الوهاج)

نووی فرمائیلی دی چه عمرؓ د ابو بکرؓ تقلید نهٔ دے کړے په دے واسطه چه عمرؓ پخپله مجتهد وو درست نهٔ دی ددویم مجتهد تقلید کول او روافضو دا خیال کړے دے چه حضرت عمرؓ د حضرت ابو بکرؓ تقلید اوکړو او بناء ددے دهغو په خیال فاسد باندے ده چه امام لره معصوم کیدل ضروری دی دا دهغوی ظاهر شوے جهالت دے. (السراج الوهاج)

امام نوویؒ وئیلے دی چه بعضے رافضیانو دا خیال کړے دے چه ابو بکرؓ د تولو نه مخکښے مسلمانانو لره قید او قتل کړے دی، حالانکه هغه خلقو د زکوٰة په باب کښے تاویل کولو. او وئیل به ئے چه په قرآن کښے دا کوم حکم چه دے خذ من اموالهم صدقة الآیة" نو دا خطاب د رسول اللهﷺ دپاره خاص دے په دے واسطه چه تطهیر یعنی د ګناهونو نه پاك کیدل او تزکیه او صلوٰة دبل چانه نهٔ شی کیدے خطابی وئیلے دی چه دا خیال د داسے خلقو دے چه دهغوی ددین سره لګه واسطه هم نشته دے او د هغو عمده مقصدونه افتراء او بهتان او د سلفو برایانے دی او

مونږه ورانديے بيان كړے دى چه دَاسلام نه مرتد شويے خلق په څو قسمه دى بعضے خو دَدين نه بالكل بهر شوے وو او مسيلمه وغيره لره ئے پيغمبر گنړلے وو او بعضو مونځ لو زكوٰت او تمام شريعت لره ئے پريخودے وو۔

بيا دغه خلقو لره صحابوؓ كافران اوگنړل او ابو بكرؓ دَدوى سره جنگ اوكړو لو دَهغوى ښځو او بچو لره ئے غلامان جوړ كړل او اكثرو صحابو دَ ابو بكرؓ په دے خبره كښے دَابو بكرؓ موافقت اوكړو پخپله حضرت عليؓ دَبنى حنيفه دَقيديانو يوے ښځے لره خپله وينځه جوړه كړه چه دَهغے دَ گيدے نه محمد بن حنيفه پيدا شو بيا دَ صحابو دَزمانے تيريدو نه ورانديے په دے خبره بلندے اتفاق راغے چه مرتد لره قيد كول نۀ دى پكار بلكه قتلول ئے پكار دى ۔

لو هغه خلق چا چه دَ زكوٰت دَ وركولو نه انكار كړے وو هغه په دين بلندے قائم وو خو باغيان وو لو اگر چه په هغو كښے بعضے په زكوٰت وركولو باندے راضى وو خو دَ هغو سردارانو هغه دَ زكوٰت وركولو نه منع كړے وو لكه بنى يربوع چه هغه په زكوٰت وركولو باندے مستعد شوے وو لو مالِ زكوٰت ئے راجمع كړے وو او دَهغے راليږونكے وو چه مالك بن نويره هغوى لره منع كړل۔ بيا ئے هغه خلق خلاص كړل كافرئے ورته اونۀ وے، اگر چا دا هم يو قسم مرتد وو ولے چه په مرتدو خلقو كښے شريك شوے وو دَدين په بعضو خبرو موقوف كولو كښے۔ ددے دَپاره چه دَ مرتد اطلاق په هر گمراه باندے كيږى او په هر هغه سړى باندے چه هغه ورانديے دَيو كار په طرف توجه لرى او بيا دَهغے نه اعراض اوكړى يعنى دَ هغے نه واوړى او دا خلق هم دَ اطاعت نه اوړيدلے وو او حق لره ئے منع كوو نو دا قبيح لقب دَ مرتد دَدوى سره هم اولگيدو او ديندارى ئے لاړه لو دا چه كوم هغوى استدلال كړے وو دَقرآن نه چه په قرآن كښے خذ من اموالهم كښے خطاب خاص دے دَ رسول اللهﷺ پورے نو دَ قرآن خطاب په دريے قسمه باندے دے لكه يو خطاب علم دے لكه يا ايهاالذين آمنوا اذا قمتم الى الصلوة يعنى اے ايمان والو! هر كله چه تاسو لودريږى دَمانځه دَپاره۔ يا ايهاالذين آمنوا كتب عليكم الصيام يعنى اے ايمان والوفرض شوے دى په تاسو باندے روژے۔ لو يو خطاب خاص دے دَ رسول اللهﷺ پورے چه په هغے كښے دويم شريك كيدے نۀ شى۔ او هغه وخت دے چه په قرآن كښے صفا ارشاد وى چه دا حكم دَ پيغمبر سره خاص دے لكه ومن الليل

فيهمه ناللہ لک او داسې نے فرمائيلی دی خالصة لک من دون المؤمنین ۔ او یو خطاب هغه دے چه په هغې کښې الله پاك خپل پیغمبر لره مخاطب کړے دے خو په هغې کښې پیغمبر او تمام امت برابر دی لکه اقم الصلوة لدلوک الشمس او قائم کړه مانځه لره دَ نمر دَ کمیدو سره او لکه فاذا قرات القرآن فاستعذ بالله من الشیطان الرجیم یعنی هر کله چه تاسو قرآن لولی نو پناه غواړی دَ شیطان مردود نه او داسې لکه واذا کنت فیهم فاقمت لهم الصلوة او دا خطاب شوے دے په جهاد کښې چه دَرسول الله ﷺ سره خاص نهٔ دے بلکه تمامم امت په دے کښې شریك دے په دے شان داخطاب هم دے خذ من اموالهم صدقة نو چه کوم سړے دَ رسول الله ﷺ دَوفات نه پس دَ هغه قائم مقام وی نو هغه په دے باندے عمل کولے شی، او ددے په مثل دا آیت هم دے یا ایها النبی اذا طلقتم النساء چه خطاب نبی کریم ﷺ ته دے او حکم دے تمامو مسلمانانو ته. بلکه په بعضے مقاماتو کښې خطاب دے پیغمبر ﷺ ته او مراد ترے نه نور خلق دی لکه داشو فان کنت فی شک مما انزلنا الیک ددے دَپاره چه حضور ﷺ لره شك نهٔ وو په هغه څه کښې چه په هغه باندے نازلیدو پاتے شو تطهیر او تزکیه او دعاء نو دا هر یو امام کولے شی۔ دَصاحب صدقې دَپاره او کوم ثواب چه په کوم عمل باندے وارد شوے دے هغه قائم دے دَهغه دَ وفات سره موقوف شوے نهٔ دے امام لو عامل لره مستحب دی چه دَ صدقه ورکونکی والا دَپاره دعا اوکړی ددے دَپاره چه دَهغه په مال کښې ترقی او برکت شی او امید دے چه خدائے پاك به دَهغه دعا قبلوی او دَهغه سوال به نهٔ رد کوی او که چرے څوك دا اووائی چه کومو خلقو په دغه زمانه کښې دَ زکوٰت دَ نهٔ ورکولو دَپاره تاویل کړے وو هغه باغیان ګڼلے شوے وو ۔

لوس که چرے په دے زمانه کښې څوك دَ زکوٰت دَ فرضیت نه انکار اوکړی او دے لره ادا نهٔ کړی نو ولے ددهٔ حکم به په مثل دَ باغیانو وی نو جواب ددے دادے "نه" په دے زمانه کښې چه څوك دَ زکوٰت دَ فرضیت نه انکار اوکړی هغه بالاجماع کافر دے او وجه ددے داده چه هغه خلق معذوره وو په څو وجو سره یو خو دا چه زمانه دَ نبوت هوی ته نزدے وه هر کله احکام چه به منسوخ کیدے شول۔ دویمه دا چه هغه خلق نادان وو او نوی مسلمانان شوے وو ددے وجے نه په شبه کښې پریوتل اوس دین اسلام شائع لو مشهور شوے دے۔

او دَدین خبرے هر خاص او عام ته تپولو ته معلومے شوے دی او س خو عالم څه چهٔ جاهله پورے هر چا ته پته ده چه زکوت د اسلام یو رکن دے نو اوس څوك معذوره کیدے نۀ شی ددے په انکار کبنے، دغه شان حکم دے هر سړی ته چه هغه انکار اوکړی دَروژے، یا دَ جنابت دَ غسل نه یا دَ زنا دَ حرام والی نه یا دَ شرابو دَ حراموالی نه یا دَ محرم ښځو سره دَ نکاح دَ حرام والی نه۔ البته که چرے څوك په دے زمانه کبنے هم نوے مسلمان شی او ارکان اسلام لره په ښۀ شان باندے نۀ پیژنی هغه که چرے انکار اوکړی دَ نادان والی دَ وجے نه نو هغه به کافر نۀ وی او دَ اسلام اطلاق به په دۀ باندے باقی پاتے وی او کومے خبرے چه دَ امت اجماعی دی خو په خاص او علم کبنے مشهورے نه دی دَ هغے انکار به کفر نۀ وی لکه ترور او وریرے لره جمع کول یا ترور او خورزے لره جمع کول یا قاتل لره میراث نۀ ورکول یا نیا (دادی) ته شپږمه حصه ملاویدل ۔(انتهیٰ باختار)

په سراج الو هاج کبنے دی چه حضرت ابو بکرؓ چه کوم دلیل راوړے دے او عمرؓ چه په اعتراض کړے دے ددے نه معلومیږی چه دوی ته دَدویم روایت خبر نۀ دے شوے چه هغے لره ابو هریرةؓ روایت کړے دے چه حضور ﷺ فرمائیلی دی ماته حکم کړے شوے دے دَخلقو سره دَ جنګ کولو تر دے پورے چه هغه ګواهی ورکړی ددے خبرے چه معبود نشته سوا دَ الله نه او یقین اوکړی په ما باندے او په هغه څه باندے چه ما راوړی دی هر کله چه داسے اوکړی نو بچ کړو هغوی خپلو جانونو او مالونو لره مګر دَ حق په بدله بیا حساب دَ هغے په الله پاك باندے دے او دَابن عمرؓ په روایت کبنے دی چه ګواهی ورکړی ددے خبرے چه نشته دے معبود برق سوا دَ الله نه او محمد د هغه رسول دے او ادا کوی مانځه لره او ورکوی زکوٰت لره۔ او دَ انسؓ په روایت کبنے دی چه مخ کوی په مانځه کبنے زمونږه دَ قبلے په طرف او خوری زمونږه ذبحه شوے څناور او زمونږ په شان مونځ کوی۔ ددے دَپاره کۀ چرے حضرت عمرؓ ته ددے روایتونو خبر وے نو دا اعتراض به ئے نۀ کړے او کۀ چرے ابو بکرؓ ته خبر وے نو هغه به په حدیث سره دلیل راوړے وو قیاس به ئے ولے کوو۔

ددے حدیث نه ډیرے خبرے معلومے شوے یو خو دَ قیاس حجت کیدل او په هغے باندے

عمل کول دویم مونځ یا زکوٰت یا نور فرائض ډ اسلام لره ډنۀ ادا کونکو سره جنګ کول، دریم ډ
باغیانو سره ډ جنګ اجازت ځلورم امام لره ډضرورت په وخت اجتهاد درست کیدل او ډ امام سره
بحث کول۔ امام نوویؒ فرمائی چه قاضی عیاض ونیلی دی چه په لا اله الا الله ونیلو باندے جان او
مال محفوظ پاتے کیدل ډ عربو ډ مشرکانو او بت پرستو ډپاره دی ددے نه سوا نور کافران چه ډ
توحید اقرار کوی لکه اهل کتاب وغیره هغه صرف ډ توحید په وجه سره نۀ شی بچ کیدے ددے
ډپاره چه دویم حدیث کښے ئے دومره زیاته کړے ده چه مالره رسول اومنی او مونځ کوی او زکوت
ورکوی او ددے سره سره دا هم ضروری ده چه څومره احکام او مسائل ډ رسول الله ﷺ نه ثابت
دی دے ټولو لره اومنی بیا نووی وائی چه علماؤ اختلاف کړے دے ډزندیق په توبه قبلولو کښے
یعنی چه بالکل ډ شریعت الهی نه منکر شی (لکه چه زمونږه په دے دجالی زمانه کښے یوه فرقه
راوتلے ده چه وته نیچری یا طبعی وائی) نو په دے کښے پنځه قولونه دی په ټولو کښے صحیح او
ثواب دادے چه توبه ددۀ قبوله ده په سبب ډ احادیثِ صحیحه مطلقه او یو قول دادے چه ددۀ توبه
هرګز قبوله نۀ ده بلکه دۀ لره قتلول پکاردی بیا کۀ چرے هغه په حقیقت کښے رښتونے وی نو په
آخرت کښے به ډهغه خلاصے وی۔ او قول دادے چه ډ وړومبی وار توبه ئے قبوله ده بیا که چرے
کفر اختیار کړی نو توبه ئے قبوله نۀ ده، او قول دادے که چرے هغه پخپله توبه اوکړی نو قبوله ده
لو که چرے ډ تورے ډیرے نه توبه کړی نو قبوله نۀ ده او یو قول دادے چه هغه که چرے نورو لره
ګمراه کوی او ګمراهی طرف ته ئے رابلی نو ډهغه توبه قبوله نۀ ده او که داسے نۀ وی نو بیا ئے
توبه قبوله ده۔ (انتهیٰ)

(۱۲۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَخْبَرَهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اُمِرْتُ اَنْ اُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰی یَقُوْلُوْا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
فَمَنْ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ عَصَمَ مِنِّیْ مَالَهُ وَنَفْسَهُ اِلَّا بِحَقِّهِ وَحِسَابُهُ عَلَی اللّٰهِ: [نسائی : ۳۰۹۰]

ترجمه : ډ ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ماته حکم شوے دے ډ خلقو
سره ډ جنګ کولو تر دے پورے چه هغه لا اله الا الله لووائی بیا چه چا لا اله الا الله اووے هغه بچ
کړو زما نه خپل مال او جان لره مګر ډ چا ډ حق په بدله، او حساب ددے په الله باندے دے۔

(١٢٦) عن ابی هریرة عن رسول الله ﷺ قال امرت ان اقاتل الناس حتی یشهدوا ان لا اله الا الله ویؤمنوا بی وبما جئت به فاذا فعلوا ذالک عصموا منی دمائهم واموالهم الا بحقها وحسابهم علی الله:

ترجمه: دَ ابو هريرةؓ نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلى دى ماته حکم شوے دَخلقو سره دَ جنگ تر دے پورے چه هغه لا اله الا الله اوائى (يعنى نشته دے معبود بر حق سوا دَ الله نه) او په ما باندے ايمان راوړى (چه زهٔ دَ الله راليږلے شوے پيغمبر يم) او په هغه څه باندے چه هغه ما راوړے دى او راغلے يم (يعنى په قرآن باندے او دَ شريعت په تمامو احکامو باندے چه هغه ما راوړے دى) که چرے هغوى داسے اوکړو نو بچ ئے کړو زمانه مالونه او نفسونه خپل مگر دَحق په بدله ـ او حساب ددے په الله باندے دے۔

فائده: نووىؒ فرمائى چه په دے حديث کښے بيان دے دَ هغه خبرے چه هغه په نورو روايتونو کښے لنډه کړے شوے ده صرف دَ لا اله الا الله په وئيلو سره يعنى ددے حديث نه صفا معلوميږى چه دا پورته روايتونه چه په هغو کښے صرف دَ لا اله الا الله دَ وئيلو بيان دے مختصر او مجمل دى۔

دَ جان او مال بچ کولو دَ پاره چه دَ لا اله الا الله اقرار ضرورى دے دغه شان دَ محمد رسول الله اقرار هم ضرورى دے بلکه دَ قرآن او حديث او دَ تمام احکامِ شريعت منل چه دَهغے ثبوت په تواتر سره يقين ته رسيدلے دے ضرورى دى، او ددے بيان په تفصيل سره پورته تير شوے دے او ددے حديث نه معلوميږى چه هر کله سړے په دين اسلام باندے مضبوط عقيده لرى او شك نهٔ کوى نو هغه مؤمن دے او موحد دے دا ضرورى نهٔ ده چه دَ اهل کلامو علم دريافت کړى او خدائے په دغے دلائلو سره اوپيژنى، دا قول دے دَ محققينو او جمهورو سلفو ـ او دَ بعضے خلقو په نزد باندے دَايمان دَ پوره کيدو دَپاره دَدلائلو پيژندل ضرورى دى او دا قول دے دَ معتزلو او دَ بعضے اشاعره او دا خطاء دے ددے دَپاره چه مقصود يقين دے او هغه حاصل شو دَ تقليد نه ه ـ دويمه دا چه رسول اللهﷺ هم صرف يقين لره کافى گڼلے دے او يقين دريافت کول ئے شرط کښے نهٔ دى۔

(۱۲۷) عَنْ جَابِرٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ (أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ) بِمِثْلِ حَدِيْثِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ : [ابن ماجه : ۳۹۲۷]

ترجمه : جابر او ابو هريره رضی الله عنهما دواړه دَ نبی کريم ﷺ نه هم هغه حديث نقل کوی کوم چه سعيد بن المسيب دَ ابو هريرةؓ نه نقل کوی -

(۱۲۸) عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَقُولُوا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ فَإِذَا قَالُوا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ عَصَمُوا مِنِّي دِمَائَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُم عَلَى اللّٰهِ ثُمَّ قَرَأَ إِنَّمَا أَنْتَ مُذَكِّرٌ لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ :[الغاشيه : ۲۱، ۲۲] [ترمذی : ۳۳۴۱]

ترجمه : دَ حضرت جابرؓ او ابو هريرةؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه ماته حکم شوے دے دَ خلقو سره دَ جنگ کولو تر هغے چه هغوی لا اله الا الله اووائی بيا که چرے هغوی لا اله الا الله اووے نو دوی بچ کړو زمانه خپلو مالونو او جانونو لره مگر دَ حق په بدله کښے۔ او حساب دَ هغے په الله باندے دے بيا حضور ﷺ دا آيت اولوستو انما انت مذکر لست عليهم بمصيطر يعنی تهٔ خو نصيحت کونکے ئے خلقو ته، ستا څه زور په دوی باندے نهٔ دے (دا آيت دَ هغه وخت دے چه کله جهاد فرض شوے نهٔ وو)۔

(۱۲۹) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ وَيُقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ فَإِذَا فَعَلُوا عَصَمُوا مِنِّي دِمَائَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُم عَلَى اللّٰهِ : [بخاری : ۲۵]

ترجمه : دَ عبد الله بن عمرؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه ماته حکم شوے دے دَ خلقو سره دَ جنگ کولو تر دے چه گواهی ورکړی ددے خبرے چه نشته دے معبود برحق سوا د خدائے نه او بے شکه محمد (ﷺ) دَ هغه رسول دے او قائم کړی مانځه لره او ورکوی زکوٰت لره بيا چه هر کله دا اوکړی نو بچ کړل هغوی زمانه خپل جانونه او مالونه مگر دَ حق په بدله ـ او حساب دَ هغے په الله باندے دے ـ

فائده: په سراج الوهاج کښے دی چه دَ امام شوکانی نه چا سوال اوکړو هغه خلق چه په

څنګل کېنئ اوسیږی او څه حکم شرعی په ځائے باندے نهٔ راوړی نهٔ مونځ نهٔ روژه صرف په ژبه سره کلمه شهادت وائی هغه کافر دی یا مسلمان او آیا مسلمانانو لره دَ هغوی سره جهاد کول پکار دی یا نهٔ؟ هغوی جواب ورکړو په ارشاد السائل کښے دی چه کوم سړے ارکان اسلام او فرائضِ اسلام لره بالکل پرېږدی او دَ هغه سره څه نهٔ وی سوا دَ لا اله الا الله محمد رسول الله دَ وینا نه نو بے شکه هغه کافر دے او شدید الکفر۔ دَ هغه مال او جان حلا ل دے ددے دَپاره چه دَ صحیح احادیثو نه دا خبره ثابته ده چه مالٌ او جان هغه وخت بچ کیدے شی هر کله چه ارکانِ اسلام ادا کړی نو دَداسے مسلمانانو په خوا کښے چه کوم مسلمانان اوسیږی په هغوی باندے واجب ده چه دغه کافرانو ته دَ اسلام احکام اوښائی او دَ هغے په ځائے کولو دَپاره هغوی ته دعوت ورکړی ورومبے په نرمی۔ او سهولت سره دَ ثواب رغبت به ورته ورکړی او دَ عذاب نه به ئے اوېروی او پوهه به ئے کړی۔

که چرے هغه اومنی او ارکان اسلام ادا کول شروع کړی نو ښهٔ خبره ده او که چرے انکار اوکړی او اونهٔ منی نو مسلمانانو لره دَهغوی سره جهاد کول پکار دی او دَ کومے پورے چه هغه دَ اسلام اعمال په ځائے نهٔ کړی دَ هغوی وینه تویول او مال حلال دے۔ او دَهغوی حکم داسے دے لکه دَ جاهلیت دَ خلقو او رسول الله ﷺ مونږ ته کهولاؤ بیان کړی دی هغه خبرے چه هغه دَ کافرانو سره دَ جنګ کولو متعلق دی او آیات قرآنی او احادیث نبوی په دے باب کښے ډیر دی او هر سړی ته معلوم دی بلکه خاص ددے امر دَپاره الله جل جلاله خپل رسول ﷺ رالیږلے دے او کتابونه ئے نازل کړے دی او ددے نه زیات بیان کول بے فائدے اوږده ول دی۔ حاصل دَ کلام دادے چه هر کله هغه خلقو اصرار اوکړو په کفر باندے نو هغه ملك دار الحرب دے بلا شك او بلا شبهے نه۔ او کوم احکام چه دَدارالحرب دی دغه احکام به ددغه ملك وی او اختلاف کړے دے مسلمانانو دَ کافرانو په ملك باندے دَ جهاد کولو دَپاره دَ امام کیدل ضروری دی یا نهٔ دی۔ لیکن حق دادی چه امام ضروری نهٔ دے۔ او دا جهاد واجب دے په هر سړی باندے چه مسلمان وی او آیات قرآنی او حدیث نبویؐ مطلق دی په دے کښے څه قید نشته۔ (انتهیٰ)

(۱۳۰)عَنْ اَبِی مَالِک عَنْ اَبِیْهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ مَنْ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ کَفَرَ مَا یُعْبَدُ

مِنْ دُونِ اللّٰهِ حَرُمَ مَالُهُ وَدَمُهُ وَحِسَابُهُ عَلَى اللّٰهِ:

ترجمه : دَابو مالكؓ نه روايت دے هغه اوريدلے دى دَخپل پلار نه هغه وائى چه ما اوريدلے دى دَ رسول الله ﷺ نه چه فرمائيلے ئے وو كوم سړے چه لا اله الا الله اووے او انكارئے اوكړو دَهغه څيزونو نه چه دَ چا عبادت كولے شى سوا د خدائے پاك نه (كۀ سړے وى يا پيرے او تار يا جهاړ غر يا بت وغيره) نو حرام شو مال ددهٔ او وينه دهٔ او ذدے حساب په الله باندے دے۔

(۱۳۱) عَنْ اَبِى مَالِکٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهُ سَمِعَ النَّبِىَّ ﷺ (مَنْ وَحَّدَ اللّٰهَ) ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِهِ : [راجع ۱۳۰]

ترجمه: ابو مالك دَ خپل پلار نه روايت كوى چه هغوى اوريدلے دى دَ نبى كريم ﷺ نه فرمائى چا چه دَ الله پاك وحدانيت بيان كړو : باقى ئے دَ وړاندے په شان حديث بيان كړو :

باب الدليل على صحة اسلام من حضره الموت مالم يشرع فى النزع وهو الغرغرة ونسخ جواز الاستغفار للمشركين والدليل على ان من مات على الشرك فهو من اصحاب الجحيم ولا ينقذه من ذالک شيئ من الوسائل:

باب : ددے خبرے بيان چه كوم سړے دَ مرګ په وخت مسلمان شى نو دَهغه اسلام صحيح دے دَهغے پورے چه حالت دَ نزعے نۀ وى يعنى ساه وتل شروع شوى نۀ وى او دَ مشركينو دَ پاره دعا كول منع دى او څوك چه دَ شرك په حالت كښے مړ شى هغه صاحب دَ جهنم دے او څه وسيله به ددهٔ پكار نۀ راځى۔

(۱۳۲) عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ لَمَّا حَضَرَتْ اَبَا طَالِبٍ اَلْوَفَاةُ جَاءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَوَجَدَ عِنْدَهُ اَبَا جَهْلٍ وَعَبْدَ اللّٰهِ بْنَ اَبِى اُمَيَّةَ بْنَ الْمُغِيْرَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَا عَمِّ قُلْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ كَلِمَةً اَشْهَدُ لَکَ بِهَا عِنْدَ اللّٰهِ فَقَالَ اَبُوْ جَهْلٍ وَعَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِى اُمَيَّةَ يَا اَبَا طَالِبٍ اَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَعْرِضُهَا عَلَيْهِ وَيُعِيْدُ لَهُ تِلْکَ الْمَقَالَةَ حَتّٰى قَالَ اَبُوْ طَالِبٍ آخِرَ مَا كَلَّمَهُمْ هُوَ عَلٰى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَاَبٰى اَنْ يَّقُوْلَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ اَمَ وَاللّٰهِ لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَکَ مَالَمْ اُنْهَ

عنک فانزل اللّٰہ عزّوجلّ ما کان لنبیّ والّذین آمنوا ان یّستغفروا للمشرکین ولو کانوا اُولی قربی من بعد ما تبیّن لھم انّھم اصحاب الجحیم۔ وانزل اللّٰہ عزوجلّ فی ابی طالب فقال لرسول اللّٰہ ﷺ انک لا تھدی من احببت ولکنّ اللّٰہ یھدی من یّشاء وھو اعلم بالمھتدین (۲۸: القصص) [بخاری : ۱۳۶۰، ۳۸۸۴، ۴۶۷۵، ۴۷۷۲، ۶۶۸۱، نسائی : ۲۰۳۴]

ترجمه : سعید بن مسیب (چه د مشهورو تابعینو نه دے ابن مدینی وائی ما دده نه زیات په علم کښې یو تابعی نۀ دے موندلے فقیه دے امام دے) روایت کوی د خپل پلار نه (مسیب بن حزن بن عمرو بن عابد بن عمران بن مخزوم قرشی مخزومی نه چه صحابی دے) هغوی وائی چه هر کله ابو طالب بن عبد المطلب (د رسول الله ﷺ حقیقی تره او پرورش کونکے) وفات کیدو نو رسول الله ﷺ د هغه خواله تشریف یوړو . نو هلته ابو جهل (عمر بن هشام) او عبد الله بن ابی امیه بن مغیره لره ئے ناست اولیدل رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے زما تره! ته اووایه چه لا اله الا الله یوه کلمه کښې زۀ به د الله سره ددے ګواه شم ستا دپاره (یعنی الله پاك ته به د قیامت په ورځ عرض کووم چه ابو طالب موحد وو او دۀ لره د جهنم نه خلاص کړه ځکه چه دۀ په آخر وخت کښې د کلمه توحید اقرار کړے وو) ابو جهل او عبد الله بن امیه اووے اے ابو طالب آیا تۀ د عبد المطلب دین پریږدے؟ او رسول الله ﷺ برابر دغه خبره کوله (یعنی د کلمهٔ توحید د لوستو دپاره. دے خوا ابو جهل او عبد الله بن امیه به ورته خپله خبره کوله) تردے پورے چه ابو طالب آخری چه کومه خبره اوکړه هغه داوه چه زۀ د عبد المطلب په دین باندے یم او انکار ئے اوکړو د لا اله الا الله د ویلو نه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل قسم په خدائے چه زۀ به ستا دپاره دعا کوم (یعنی بخشش غواړم) دکومے پورے چه منع نۀ وی دغه وخت الله پاك دا آیت شریف نازل کړو ما کان للنبی والذین امنوا الخ" یعنی نبی لره او نورو مؤمنانو لره درست نۀ دی چه د مشرکانو د پاره دعا اوکړی اګر چه هغه رشته دار وی هر کله چه معلومه شوه چه هغه جهنمی دے نو بیا الله تعالی د ابو طالب په باره کښې دا آیت نازل کړو او رسول الله ﷺ ته ئے اوفرمائیل انك لا تهدی من احببت د آخره پورے یعنی تۀ هدایت نۀ شے کولے چالره چه اوغواړے لیکن الله پاك هدایت

کوی چاړه چه اوغواړی او هغه پو هه دے په هغو خلقو د چا چه قسمت کښې هدایت دے ۔

فائده : سعید روایت کوی دَ خپل پلار مسیب نه چه صحابی دے دا حدیث بخاری او مسلم دواړو روایت کړے دے حالانکه دَ مسیب نه ددے راوی بل څوك نشته سوا دَ هغه دَ ځوی دَ سعید نه نو رد شو دَ حاکم دَقول چه بخاری او مسلم یو حدیث داسے روایت کړے دے نۀ دے چه دَ هغے راوی یو سړے وی او شاید مراد دَ هغے دادے چه سوا دَ صحابو نه نور سړی روایت کونکی کم ازکم دوه کسان پکار دی۔ (نوویؒ)

نبی کریم ﷺ اووے خپل ترهٔ ابو طالب ته هر کله چه دَهغ دَ مرگ وخت راغے یعنی بیماری ئے سخته شوه او دَ مرگ یقین ئے راغے دا مراد نۀ دے چه سکرات ئے شروع شو ولے چه دَ نزعے او سکرات په وخت توبه قبوله نۀ ده الله پاك فرمائی ولیست التوبة للذین یعملون السیات حتی اذا حضرت احد حم الموت قال انی تبت الأن یعنی نشته توبه دَهغه خلقو دَپاره چه هغه گناه کوی بیا هر کله چه مرگ ئے مخے ته راشی نو وائی چه مونږه اوس توبه کړے ده او ددے دلیل دادے چه دَ ابو طالب سره رسول الله ﷺ خبرے اترے کولے او مشرکانو دَ حضور ﷺ خلاف هغه ته لمسه کوله آخر ابو طالب دَ مشرکانو وینا اومنله نو معلومه شوه چه دا دَ نزعے حالت نۀ وو ۔

قاضی عیاض وئیلے دی چه بعضے متکلمینو دلته دا معنیٰ کړے ده چه دَ نزعے حالت په ابو طالب باندے طاری شوے وو او دا صحیح نۀ ده نو ابو طالب دینِ اسلام لره قبول نۀ کړو او دَ خپل قوم ملگرتیا ئے اوکړه او جهنم ئے اختیار کړو په السراج الوهاج کښے دی چه په دے حدیث کښے دلیل دے ددے خبرے چه عبد المطلب هم دَ کفر په حالت کښے وفات شوے وو او داسے ابو طالب۔ امام ابو حنیفهؒ په فقهه اکبر کښے صفا لیکلے دی چه ابو طالب په کفر باندے وفات شوے دے۔

رسول الله ﷺ اوفرمائیل قسم په خدائے چه زۀ به ستا دَپاره دعا اوکړم نوویؒ وائی ددے نه معلومیږی چه قسم خوړل خپل پخپله بغیر ددے نه چه دویم قسم ورکړی درست دے او دا ځائے دَ قسم نه مراد تاکید یعنی پو خوالے مقصود دے چه زۀ به ستا دَپاره ضرور استغفار کووم او دَ هغه دَ ابو طالب دَ خوشالولو دپاره فرمائیلی وو او دَهغه وفات په مکه مکرمه کښے دَهجرت نه

خۀ ورځې وراندې شوې وو. ابن فارس وائی ابو طالب چه کله وفات شو نو دغه وخت دَ رسول الله ﷺ عمر شریف تقریبا یو کم پنځوس کاله او اتۀ میاشتې او یوولس ورځې وو او دَ ابو طالب دَ وفات نه درې ورځې ورستو ام المؤمنین حضرت خدیجهؓ انتقال اوشو په رسول الله ﷺ باندې دَ یو غم نه ورستو بل غم راغې په دې واسطه دغه کال ته عام الحزن ونیلې شی.

امام نوویؒ فرمائی چه دَ مفسرینوؒ په دې خبره باندې اتفاق دې چه دا آیت انك لا تهدی من احببت دَ ابو طالب په باره کښې نازل شوې دې زجاج هم په دې باندې اجماع مقرر کړې ده.

(۱۳۳) عَنِ الزُّهرِیِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَیْرَ اَنَّ حَدِیْثَ صَالِحٍ انْتَهٰی عِنْدَ قَوْلِهٖ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ فِیْهِ وَلَمْ یَذْکُرِ الْآیَتَیْنِ وَقَالَ فِی حَدِیْثِهٖ وَیَعُوْدَانِ بِتِلْکَ الْمَقَالَةِ وَفِی حَدِیْثِ مَعْمَرٍ مَکَانَ هٰذِهِ الْمَقَالَةِ اَلْکَلِمَةُ فَلَمْ یَزَالَا بِهٖ : [راجع : ۱۳۲]

ترجمه : دَ زهری نه په دې سند سره مختلفو راویانو په معمولی اختلاف سره بیان کړې دی مګر معنیٰ دَ ټولو هم هغه ده چه کومه مخکښې تیره شوه:

(۱۳۴) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِعَمِّهٖ عِنْدَ الْمَوْتِ قُلْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَشْهَدُ لَکَ بِهَا یَوْمَ الْقِیٰمَةِ فَاَبٰی قَالَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ اِنَّکَ لَا تَهْدِیْ مَنْ اَحْبَبْتَ الآیة : [ترمذی : ۳۱۸۸]

ترجمه : دَ ابو هریرهؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ خپل ترۀ ته دَ مرګ په وخت اووې تۀ لا اله الا الله اووایه نو زۀ به دَ قیامت په ورځ ستا دَپاره دې ګواه شم هغوی انکار اوکړو نو الله پاك دا آیت نازل کړو انك لا تهدی من احببت دَ آخره پورې.

(۱۳۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِعَمِّهٖ قُلْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَشْهَدُ لَکَ بِهَا یَوْمَ الْقِیَامَةِ قَالَ لَوْ لَا اَنْ تُعَیِّرَنِیْ قُرَیْشٌ یَقُوْلُوْنَ اِنَّمَا حَمَلَهٗ عَلٰی ذٰلِکَ الْجَزَعُ لَاَقْرَرْتُ بِهَا عَیْنَکَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰی اِنَّکَ لَا تَهْدِیْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰکِنَّ اللّٰهَ یَهْدِیْ مَنْ یَّشَاءُ : [۲۸ : القصص] [راجع: ۱۳۴]

ترجمه : دَ ابو هریرهؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ خپل ترۀ ته اوفرمائیل ته اووایه لا اله الا الله زۀ به دَ قیامت په ورځ ستا دَپاره ګواهی ورکړم هغه اووې کچرې قریش زما دَپاسه عیب نۀ وې هغوی به وائی چه ابو طالب اوېریدو یا په هیبت کښې راغې البته ما به یخې کړې وې ستا

سترگې دانې اووې (یعنې ته به مې خوشاله کړې وې او دَ لا اله الا الله اقرار به مې کړې وې خو دَ قریشو دَ خلقو نه ماته شرم راځي هغوی به وائي چه ابو طالب داسې بودا او کچا وو چه دَ مرګ په وخت ئې ډیرې خپل دین بدل کړو) نو الله تعالی دا آیت نازل کړو. انك لا تهدی من احببت ولکن الله یهدی من یشاء.

باب الدلیل علی ان من مات علی التوحید دخل الجنة قطعا:

باب: موحد قطعي جنتي دې:

فائده: یو نه یو ورځ اګر چه لږې ورځې عذاب به مومن په خپلو نورو ګناهونو باندې خو هغه همیشه به جهنم کښې نشي پاتې کیدې نوویؒ فرمائي دَ اهل سنت او اهل حق او سلف او خلف نه دا اعتقاد دې چه کوم سړې په توحید باندې مړ شي هغه به په هر حال کښې جنت ته ځي.

بیا که چرې دګناهونو نه پاك وی لکه نابالغه مجنون چه دَ بالغ کیدو سره مجنون شوې وی یا هغه صحیح توبه اوویسته دَ تمامو ګناهونو نه او بیا ئې دَ توبې نه پس څه ګناه نۀ وی کړې یا دَ خدائې دَ طرف نه دۀ ته دَ ګناهونو نه دَ بچ کیدو توفیق ورکړې شوې وی نو هغه به جنت ته ځي او جهنم ته به بالکل نۀ داخلیږي او دا چه کوم آیت دې چه په تاسو کښې څهوك نشته مګر په جهنم به دَ هغه ورود وی نو دَ ورود نه مراد مرور دې یعني په هغې باندې تیریدل او به دوزخ تیرګدل خو دتهولو دَپاره دی. ولې چه پل صراط دَ جهنم دَ پاسه دې الله دې مونږه دَ جهنم نه او دَ تهولو آفتونو نه بچ کړي او کۀ چرې دۀ کبیره ګناهونه کړې وی او بغیر دَ توبې نه مړ شي نو هغه دَ الله په مرضۍ باندې منحصره ده که چرې غواړي نو دده قصور به معاف کړي او دۀ لره به جنت ته داخل کړي او کۀ غواړي نو لږې ورځې به دَ هغې قصور یعني دَ ګناه مطابق عذاب ورکړي او بیا به ئې جنت ته بوځي. خو هغه همیشه په جهنم کښې نشي پاتې کیدې خو کوم بنده چه دَ توحید په حالت کښې مړ شي هغه چه څومره ګناه هم اوکړي خو همیشه به جهنم کښې نۀ شي پاتې کیدې دغه شان هغه سړې چه دَ کفر په حالت کښې مړ شو، همیشه به جهنم کښې وی او جنت ته به نۀ شي تللې.

دا مختصر بیان دے دَ اهل حق دَ عقیدو په دے مسئله کښے او کتاب او سنت او اجماع دَ امت دلیل دے دا هغه اعتقاد او نصوص متواتره دی په هغه باب کښے چه دَ هغے نه یقین حاصلیدے شی بیا چه هر کله دا قاعده ثابته او مقرره شوه نو اوس څومره حدیث چه واردیږی اګر چه څه حدیث په ظاهر کښے ددے قاعدے نه خلاف دی خو دے لره په دغه قاعده باندے حمل کول پکار دی ددے دَپاره چه په نصوص شرعیه کښے تناقض او تخالف نۀ وی او کۀ خدائے غواړی نو مونږ به دَ بعضے احادیثو تاویل بیان کړو چه دَ هغے نه به دَ نورو حدیثو تاویل هم معلوم کړے شی۔ (انتهیٰ)

(۱۳٦)عَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ اَنَّهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ :

ترجمه : دَحضرت عثمانؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه کوم بنده مر شی او هغه ته ددے خبرے یقین وی چه بل څوك دَ عبادت لائق نشته سوا دَ الله نه نو هغه به جنت ته داخلیږی۔

فائده : نوویؒ فرمائی قاضی عیاض وئیلی دی چه خلقو اختلاف کړے دے دَهغه سړی په باب کښے چه هغه دَ شهادتینو قائل وی یعنی دَ توحید او رسالت۔ لیکن ګنهګار مر شی نو مرجیه(یوه ګمراه فرقه ده هغه) دا وائی چه د ایمان سره څه ګناه اثر نۀ شی کولے۔ او خوارج وائی چه ګناه ضرر کوی او بنده دَ ګناه په وجه سره کافر کیږی او معتزله وائی چه کۀ چرے دۀ ګناه کبیره ګناه ده نو همیشه به په جهنم کښ وی او نۀ به ورته مؤمن وئیلے شی نۀ کافر بلکه فاسق به ورته وئیلے کیږی او دَ اشاعره په نزد باندے چه اهل سنت دی دغه بنده مؤمن دے اوس کۀ چرے دۀ ګناه اونۀ بخلے شی او دۀ لره عذاب شی خو همیشه به نۀ وی یو نه یو ورځ به جنت ته داخلیږی۔

نو ددے حدیث په خوارجو او معتزلو باندے رد راغے او مرجیه چه ددے حدیث نه کوم دلیل راوړی دهغے جواب دادے چه ستاسو مطلب ددے حدیث نه چرته وتلے شی، په دے حدیث کښے خو داده چه موحد به جنت ته ځی بیا کیدے شی چه دَهغه ګناه اوبخلے شی یا په شفاعت سره دَجهنم نه خلاصے بیا مومی او جنت ته لاړ شی۔ او دا تاویل ضروری دے چه دَ ډیرو آیتونو او

احادیثو نه دَ گنهګار دَپاره عذاب خودلے شوے دے۔ بیا نصوص شریعت یو ددویم مطابق کول لازم دی، او څه چه ئے فرمائیلے دی په دے حدیث کښے چه دهٔ لره یقین وی دَ توحید دا رد شو په بعضے جاهل مرجیو باندے چه هغه وائی شهادتینو لره صرف په ژبه سره ویونکے به جنت ته ځی۔ اګر کهٔ دَزړهٔ نه ئے په دے باندے اعتقاد نهٔ وی او په دویم حدیث کښے ددے بل تاکید مروی دے یعنی دهٔ لره شك نشته او دا مؤید دے زمونږ دَ مذهب، قاضی عیاضؒ فرمائی چه په دے حدیث هغه سړے هم حجت راوړی چه هغه وائی صرف دَ زړهٔ شهادتینو لره پیژندل کافی دی په ژبه سره وئیل ضروری نهٔ دی مګر دَ اهل سنتو مذهب دادے چه په زړهٔ سره یقین کول او په ژبه سره اقرار کول دواړه ضروری دی۔

او دَ جهنم نه دَ نجات موندو دَپاره یو اځے یو کافی نهٔ دے البته هر کله چه په ژبه کښے څه آفت وی لکه وئیلے نهٔ شی یا ورته مهلت نهٔ وی یعنی دَ ژبے دَ وینا نه وړاندے مړ شی نو په زړه سره یقین کول کافی دی او په دے حدیث کښے حجت نشته دَهغه سړی چه هغه خلاف کوی دَ اهل سنت والجماعت ددے دَپاره چه په دویم حدیث کښے صفا راغلے دی چا چه اووے لا اله الا الله او چا چه ګواهی ورکړه دَ لا اله الا الله او دَ معاذ په روایت کښے دی دَچا چه آخری خبره لا اله الا الله شی هغه به جنت ته ځی۔

• او په یو روایت کښے دی څوك چه دَالله سره ملاؤ شی او دَهغه سره ئے چالره شریك نهٔ وی جوړ کړے نو هغه به جنت ته ځی او په یو روایت کښے دی یو بنده داسے نشته چه هغه ګواهی ورکړی ددے کبرے چه الله نه سوا بل ربنتونے معبود نشته او محمد ﷺ دَهغه بنده او رسول دے مګر حرام به کړی الله هغه لره په جهنم باندے او داسے دَ عباد بن صامتؓ او عتبان بن مالك په روایت کښے دی دَعباده په حدیث کښے دومره زیاته ده چه دهغه اعمال هر څنګه چه وی ۔او دَ ابو هریرةؓ په روایت کښے دی هغه دَ الله سره ملاؤ شی او دَهغه په شهادتینو کښے شك نهٔ وی نو هغه به جنت ته ځی اګر چه زنا اوکړی یا غلا اوکړی دے تولو احادیثو لره مسلم په خپل کتاب کښے نقل کړے دی نو دَ سلفو دَ یو جماعت نه چه په هغے کښے سعید بن مسیب هم دے دا منقول دے چه دا احادیث دَهغه وخت دی چه هر کله نور فرائض او اوامر او نواهی نهٔ وو او بعضو وئیلے دی دا

حدیثونه مجمل دی دَ شرح محتاج دی او مطلب ددے دادے چه دَ شهادتینو اقرار اوکړی او ددے حقوق او فرائض تول ادا کړی او دا قول دَ حسن بصریؒ هم دے بعضو وئیلی دی چه داذ هغه سړی دَپاره دے چه هغه دَ کفر او شرك نه شرمنده شی ددے اقرار اوکړی او بیا مړ شی دا قول دَ بخاری دے۔

او ددے ټولو تاویلاتو ضرورت هغه وخت دے هر کله چه حدیثو لره په ظاهره سره اونیسی لیکن هر کله چه ئے خپلے درجے او مرتبے ته اورسوی نو تاویل مشکل نهٔ دے لکه چه علمائے محققینو بیان کړے دے نو اول په دے باندے ځان پوهه کول پکار دی چه دَ تمامو اهل سنت سلفو صالحینو او محدثینو فقهاؤ او متکلمینو مذهب دادے چه گنهگار دَ الله تعالی په مشیت باندے دے او کوم سړے چه دَایمان په حالت کښے مړ شی او په زړهٔ کښے دَ شهادتینو یقین لری هغه به جنت ته ځی بیا کهٔ چرے دهٔ دَ گناهونو نه توبه کړے وی یا دَ گناهونو نه پاك وی نو هغه به دَ خپل پروردگار په رحمت سره جنت ته ځی او په جهنم باندے به حرامیږی بیا که چرے مونږه دے حدیثو لره په داسے سړو باندے محمول کړو نو مطلب به صفا شی او دَ حسن بصریؒ او امام بخاریؒ هم دغه مراد دے۔ او که چرے دغه سړے دَ گناهونو سره آلوده وی واجبات ئے ترك کړے وی یا دَحرامو ارتکاب ئے کړے وی نو هغه د الله په مشیت باندے دے دَهغے یقین نهٔ شی کیدے چه هغه به آخر یوه ورځ جنت ته لاړ شی او دَ الله تعالی اختیار دے کهٔ غواړی دهٔ گناه به معاف کړی او کهٔ غواړی څه ورځے به عذاب ورکړی او بیا به ئے جنت ته بوځی او ممکنه ده چه تمام احادیث په خپله معنی باندے قائم وی او جمع به هم شی چه په جنت کښے دَتلو نه دا مراد وی چه دَجنت استحقاق دهٔ ته شوے وی یا بالفعل په عفوه یا آئنده پس دَعذاب نه، او دَ جهنم دَ حرامیدو نه دا غرض شو چه همیشه جهنم په دهٔ باندے حرام دے۔ او په دواړه مسئلو کښے دَ خوارجو او معتزلو خلاف دے، او احتمال دے چه حدیث من کان آخر کلامه لا اله الا الله یعنی دَچا چه آخری خبره لا اله الا الله شوه نو هغه به جنت ته ځی دا دَهغه سړی دَپاره ده چه دَهغه دَژبے نه دَمرگ په وخت دا کلمه ووځی او بیا ددغے کلمے نه پس دویمه خبره اونهٔ کړی اگر کهٔ ددے وړاندے ئے گناهونه کړے وی خو شائد دَخاتمه کلام په وجه سره دَخدائے په رحمت کښے شامل حال شو او

هغه به د جهنم نه بالکل خلاصے اومومی په خلاف د هغه گنهګارانو چه د هغوی آخری کلام دا کلمه وی۔

په دے شان باندے کوم چه دعباده په حدیث کښے دے چه هغه د جنت په کومه دروازه سره غواړی تلے شی هغه خاص دے د هغه چا دپاره چه هغه د شهادتینو سره ایمان لو د توحید حقیقی سره متصف وی او د هغے ثواب دومره قدرے شی چه ددهٔ دګناهونو نه زیات شی لو مغفرت لو رحمت لره واجب کړی تمام شو کلام د قاضی عیاضؒ: او دا زیات عمده دے لیکن د ابن مسیب نه چه کوم تاویل منقول دے هغه ضعیف او باطل دے۔ ددے دپاره چه ابو هریرهؓ ډیر وروستو اسلام راوړے وو۔ په کوم کال چه خیبر فتحه شو په اوومه هجری کښے لو دغه وخت خو تمام احکام شریعت جاری شوی وو۔ او ټول فرائض لکه مونځ او روژه او زکوٰت فرض شوے وو لو حج هم فرض شوے وو۔ ددے قول مطابق چه هغه وائی حج په پنځمه هجری یا په شپږمه هجری کښے فرض شوے دے او شیخ ابن الصلاح په دے مقام باندے یو بل تاویل بیان کړے دے هغوی وئیلے دی چه شاید دا قصور د راویانو د حفظ او قلت ضبط د وجے نه دے لو د رسول الله ﷺ د طرف نه نهٔ دے هغه خو پوره پوره بیان په نورو احادیثو کښے کړے دے او جائز ده چه دا اختصار رسول الله ﷺ کړے وی د بت پرستو سره په خطاب کولو کښے ولے چه توحید د هغوی دپاره ددین تمامے خبرے لازمے کړے وے۔ او کوم کافر چه د توحید قائل نهٔ وی لکه بت پرست یا پارسی۔ بیا که هغه لا اله الا الله اووائی او ددهٔ هغه حال وی کوم چه پورته مونږه بیان کړونو حکم به کیږی په دهٔ باندے د اسلام او مونږ به هغه وایو د هغه په حال کښے لکه څنګه چه زمونږ بعضو اصحابو وئیلے دی چه کوم بنده لا اله الا الله اووائی په هغه به د اسلام حکم کیدے شی لو بیا به په هغه باندے جبر کیدے شی د نورو احکامو د قبلولو دپاره۔ ددے دپاره چه ددے حل دا راووځی چه د اسلام پوره کولو دپاره په دهٔ باندے جبر اوشی او ددهٔ حکم به په مثل د مرتد وی کهٔ چرے هغه باقی احکام په ځائے باندے رانهٔ وړی او نفس الامر او د آخرت په احکامو کښے هغه مسلمان نهٔ وی۔ حالانکه مونږه چه چا لره بیان کړو هغه نفس الامر او د آخرت په احکامو کښے مسلمانان دی۔ والله اعلم (نووی)

(۱۳۷) عَنْ عُثمان يقُولُ : سَمِعْتُ رسُولَ اللّٰهِ يقُولُ : مثلهُ سَواءٌ۔

ترجمه : دَ عثمان نه روایت دے هغه فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ هم داسے حدیث اوریدلے دے

(۱۳۸) عَنْ اَبِی هُرَیْرةَ قالَ کُنّا مَعَ النّبِی ﷺ فِی مسِیْر قَالَ فَنَفِدَتْ اَزْوَادُ الْقَوم قَال حتّٰی هَمّ بنحْرِ بَعْض حَمَائِلهِم قال فقَالَ عُمَرُ یَا رَسُول اللّٰهِ لَوْ جَمَعْتَ ما بقِی مِنْ اَزْوَاد الْقَوم فَدَعَوْت اللّٰهَ عَلَیها قالَ فَفَعَل قال فجَاء ذُو الْبُرّ بِبُرّهٖ وذُو التّمر بِتَمرهٖ قالَ وَقَال مُجَاهدٌ وَذُو النّوَاة بنواه قُلت وَما کَانُوا یَصْنَعُون وَیَشْرَبُون عَلَیْه الْمَاء قَال فَدَعا عَلَیْها قالَ فَدَعَا عَلَیْهَا قَال حتّٰی مَلَاَ الْقَوْم اَزْوِدَتهُم قَال فقَالَ عِنْد ذَلِکَ اَشْهَدُ انْ لّا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ وانّی رَسُول اللّٰه لا یلقی اللّٰهَ عزّ وجلّ بهِمَا عَبْد غَیْر شَاکٍّ فِیْهِمَا اِلا دَخَلَ الْجَنّةَ:

ترجمه : دَابو هریرهؓ نه روایت دے چه مونږه دَرسول الله ﷺ سره ملگری وو په یو سفر کښے (په جنگ تبوك کښے) نو خلقو سره توښے تمامے شوے نو هغه اراده اوکړه دَخلقو دَ بعضے اوښانو دَحلالولو حضرت عمرؓ اووے یا رسول الله ﷺ پکار ده چه تا جمع کړے وے دَخلقو تمامے توښے لو بیا دے په هغے باندے دَالله نه دعا کړے وے (ددے دَپاره چه په دے کښے برکت شی او دَتولو دَپاره کافی شی) هغه داسے اوکړو نو دَچا سره چه غنم وو هغوی غنم راوړل او دَچا سره چه کجورے وے هغوی کجورے راوړل او دَ چا سره چه گهټلی وه هغوی گهټلی راوړه او راغے ما اووے چه په گهټلی به ئے څه کول هغوی اووے هغه به ئے چوسل او بیا به ئے په هغے باندے اوبۀ څکلے راوی وائی هغه په دے ټولو توښو باندے دعا اوکړه نو خلقو دَهغے ډیری نه دَ خپلے خپلے توښے لوښی ډك کړل۔ په دغه وخت باندے حضور ﷺ اوفرمائیل چه زۀ گواهی ورکووم ددے خبرے چه نشته دے معبود برحق سوا دَ الله نه (هغه رښتونے الله دے نور ټول دروغجن دی) او زۀ دَ الله رالیږلے شوے رسول یم۔ کوم بنده چه دَ الله سره ملاؤ شی او په دے دواړو خبرو کښے دۀ ته شك نۀ وی نو هغه به جنت ته ځی۔

فائده : په دے حدیث کښے حمائلهم دے په حائے حطی سره یا جمائلهم په جیم سره دواړه منقول دی صاحب تحریر او ابن الصلاح دواړو لره ذکر کړے دے لیکن صاحب دَ تحریر جمائلهم

په جیم سره اختیار کړے دے او قاضی عیاض په ځائے حطی سره. شیخ ابو عمر وائی چه دواړه صحیح دی نو هر کله چه په ځائے حطی سره شی نو حمائل جمع ده دَ حموله یعنی هغه اوښ چه هغه بار کړے شوے وی دَ سامان وغیره نه او هر کله چه په جیم سره شی نو بیا جمع ده دَ جماله او جماله جمع ده دَ جمل او جمل اوښ ته وائی.

امام نووی وائی ددے حدیث نه دا ثابته شوه چه مسافرو له خپله خپله توښه یو ځائے کول او خوړل درست دی اګر که څوك کمه اوخوری او څوك زیاته او زمونږ دَ اصحابو په نزد باندے دا سنت دی. هر کله چه خلقو دَ خپلے خپلے توښے لوخی راوړل نو حضور ﷺ دعا اوکړه نو په توښه کښے دَ هغه دَدعا په برکت سره دومره سوا والے راغے چه یا خو هغه توښے ختمیدو ته نزدے شوے وے او یا تمام نه تمام لوخی دوباره بیا ډك شول او اطمینان ورته حاصل شو. دا هم دَ حضرت محمد ﷺ دَ مبارکو معجزو نه یوه ښکلی معجزه وه.

(۱۳۹) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ اَوْ عَنْ اَبِی سَعِیْد شَکَّ الْاَعْمَش قَالَ لَمَّا کَانَ یَوْمَ غَزْوَةِ تَبُوْک اَصَابَ النَّاسَ مَجَاعَةٌ قَالُوْا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْ اَذِنْتَ لَنَا فَنَحَرْنَا نَوَاضِحَنَا فَاَکَلْنَا وَادَّهَنَّا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِفْعَلُوْا قَالَ فَجَاءَ عُمَرُ فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اِنْ فَعَلْتَ قَلَّ الظَّهْرُ وَلٰکِنْ ادْعُهُمْ بِفَضْلِ اَزْوَادِهِمْ ثُمَّ ادْعُ اللّٰهَ لَهُمْ عَلَیْهَا بِالْبَرَکَةِ لَعَلَّ اللّٰهَ اَنْ یَّجْعَلَ فِیْ ذٰلِکَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نَعَمْ قَالَ فَدَعَا بِنِطَعٍ فَبَسَطَهُ ثُمَّ دَعَا بِفَضْلِ اَزْوَادِهِمْ قَالَ فَجَعَلَ الرَّجُلُ یَجِیْءُ بِکَفِّ ذُرَةٍ قَالَ وَجَعَلَ یَجِیْءُ الْآخَرُ بِکَفِّ تَمْرٍ قَالَ وَیَجِیْءُ الْآخَرُ بِکِسْرَةٍ حَتّٰی اجْتَمَعَ عَلَی النِّطَعِ مِنْ ذٰلِکَ شَیْءٌ یَسِیْرٌ قَالَ فَدَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِالْبَرَکَةِ ثُمَّ قَالَ لَهُمْ خُذُوْا فِیْ اَوْعِیَتِکُمْ قَالَ فَاَخَذُوْا فِیْ اَوْعِیَتِهِمْ حَتّٰی مَا تَرَکُوْا فِی الْعَسْکَرِ وِعَاءً اِلَّا مَلَئُوْهُ قَالَ فَاَکَلُوْا حَتّٰی شَبِعُوْا وَفَضَلَتْ فَضْلَةٌ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ لَا یَلْقَی اللّٰهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَیْرَ شَاکٍّ فَیُحْجَبَ عَنِ الْجَنَّةِ.

ترجمه: دَابو هریرهؓ یا دَ ابو سعیدؓ نه روایت دے (دا شك دے دَ اعمش چه ددے حدیث راوی دے) هر کله چه غزوهٔ تبوك وخت راغے (تبوك په شام کښے دَیو ځائے نوم دے) نو خلق سخت اوږے شو هغوی اووے یا رسول الله ﷺ که چرے تا مونږه ته اجازت کولے نو مونږ به خپل اوښان په کومو

باندے چه اوبهٔ راوړو حلال کړے وو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل ښهٔ ده حلال کړئ په دے کښے حضرت عمرؓ راغے او هغه اووے یا رسول الله کهٔ چرے داسے اوشی نو سورلی به کمے شی لیکن ټول خلق راوغواړه چه خپله خپله باقی پاتے توښه خلق راوړی او راشی بیا دخدائے نه دعا اوغواړه چه ښه هغے توښه کښے برکت واچوی شاید په دے کښے به الله څه لار اوباسی (یعنی برکت او بهتری به په کښے پیدا کیږی) رسول الله ﷺ اوفرمائیل ښهٔ ده بیا ئے یو درستخوان راوړو او هغه ئے اوغوړوو او دَ ټولو بچ شوے توښه ئے را اوغوښته چا دَ موټی مقدار جوار راوړل چا دَ موټی مقدار کجورے راوړے چادَډوډی ټکړه تردے چه ټولو په جمع لږه لږه په درستخوان باندے راجمع کړه بیا رسول الله ﷺ دَ پاره دَ برکت دعا اوکړه ددے نه پس ئے بیا هغوی ته اوفرمائیل چه خپل خپل لوښی دَ توښے نه ډك کړی نو ټولو خپل خپل لوښی دَ توښے نه ډك کړل تر دے پورے چه په لښکر کښے یو لوښے هم خالی پاتے نهٔ شو بیا ټولو خوراك شروع کړو او ماړهٔ شو بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل زهٔ گواهی ورکووم ددے خبرے چه نشته دے ربښتونے معبود سوا دَ الله نه او زهٔ دَ الله تعالیٰ رالیږلے شوے پیغمبر یم کوم سړے چه په دے دواړو خبرو باندے یقین اوکړی او دالله سره ملاو شی هغه به دَ جنت نه محروم نهٔ شی۔

فائده : دارقطنی ددے حدیث په اسناد باندے طعن کړے دے چه په دے کښے دَاعمش نه اختلاف دے کله داعمش نه عن ابی صالح عن جابر روایت کړے شوے دے خو دَحدیث په صحت کښے دا طعن څه قدح نهٔ کوی ددے دپاره چه اعمش ته دَصحابی په نوم کښے شك دے او صحابه ټول ثقه دی۔ نوویؒ فرمائی چه هر کله یو راوی نوم واخلی او داسے اووائی چه ماته فلانی یا فلانی حدیث بیان کړے دے او هغه دواړه ثقه دی نو دا روایت بلا خلافه حجت دے ددے دپاره چه غرض دادے چه روایت د ثقه نه وی او هغه حاصل دے دے قاعدے لره خطیب بغدادی په کفایه کښے او نورو خلقو بیان کړے ده او دا په غیر د صحابه کښے دے نو په صحابه کرامو کښے خو په طریق اولی به وی ددے دپاره چه صحابه کرامؓ ټول عادلان دی بیا دَراوی په تعین نهٔ کولو سره مقصود نهٔ فوت کیږی۔

. صحابه کرام دَسختے لوږے دوجے نه خواهش ظاهر کړو چه کاش! کهٔ چرے حضرت

محمد ﷺ مونږ ته اجازت راکولے نو مونږ به خپل ذابو راوړو او ښهان حلال کړے وو دا یوه ښکلے طریقه ده دَ ادب په ځائے دَسوال کولو او ددے نه معلومه شوه چه دَ لښکر خلقو لره خپل څناور کوم چه په جنګ کښے مدد کوی حلالول او خوړل درست نهٔ دی دَکومے پورے چه امام اجازت ورنهٔ کړی (السراج الهاج) حضور ﷺ اوفرمائیل چه ښهٔ ده خپل اوښان ذبحه کړی په دے کښے حضرت عمرؓ راغے او نبی کریم ﷺ ته ئے اووے کهٔ چرے داسے اوشوه نو سورلی به کمے شی ددے نه دا معلومه شوه چه دَامام او بادشاه په حکم کښے اعتراض کول جائز دی او کمے درجے والا ته دا حق شته دے چه دَ وختی مصلحت مطابق دَلوے درجے والا ته سمه ښکلے مشوره ورکړی او دَهغه دَ حکم دَ منسوخ کولو دَپاره اووائی۔

(١٣٠)عَنْ عُبادة بْن الصَّامِت قَالَ قَال رَسُولُ اللّٰه ﷺ مَنْ قَال لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدهُ لَا شَرِيْك لَهُ وَاَنّ مُحَمَّدا عَبْدهُ وَرسُولهُ وانّ عِيْسٰی عَبْد اللّٰهِ وَابْن امته و كَلِمتهُ اَلْقاهَا اِلٰی مَرْيَم وَرُوْحٌ مِّنْه ولنّ الْجنّة حق اَدْخلهُ اللّٰهُ مِنْ ایّ اَبْواب الْجنّة الثَّمانِيَة شَاءَ :

ترجمه : دَعباده بن صامتؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه کوم سړے اووائی چه زهٔ ګواهی ورکووم ددے خبرے چه نشته دے رښتونے معبود سوا دَ الله نه او حضرت محمد (ﷺ) دَهغه بنده او رالیږلے شوے پیغمبر دے او دَهغه دَ وینځے (مریم) ځوے دے او دَ هغه خبرے نه پیدا شوے چه هغه په مریم کښے اچولی وه (یعنی حکم ئے اوکړو په کن سره بیا هغه بن دَ پلاړ) او رحمت دے دَ الله یا روح دے دَالله (یعنی حضرت عیسیٰؑ ته روح الله وائی ددے دَپاره چه الله تعالیٰ دَهغه روح پیدا کړو اګر چه خدائے پاك جوړ کړے دی خو دَ عیسیٰ علیه السلام روح ډیر عزتمند او بزرګی والا دے ددے وجے نه دَ خدائے په طرف نسبت ورکړے شو لکه خانه کعبے ته چه بیت الله وائی) او بے شکه جنت حق دے او جهنم حق دے نو داخل به کړی الله تعالیٰ دهٔ لره په اتو دروازو دَ جنت باندے چه کومه ددهٔ خوښه شی۔

فائده : نوویؒ فرمائی چه دا حدیث په عقائدو کښے ډیر ښکلے حدیث دے چه دَ تمامو ضروری خبرو جامع دے او ددے نه په اختصار سره دَتمام کفر دَ ملتونو رد کیږی بعضے خلق زمونږ په زمانه کښے دا شبه کوی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام بغیر دَپلاړ نه څنګه پیدا شو

حالانکه دَ فطرت دَقاعدے نه او اصول حکمت نه دا خبره محال معلومیږی ـ دَ هغې نه جواب دادے چه ته عالم لره قدیم منے یا حادث کۀ چرے حادث گنړے نو په ابتداء آفرینش کښے دَ نوع انسان ظهور دَ چا وړاندے شخص نه شوے وو چه هغه ئې پلار لرلو او نۀ مور، بیا چه هر کله خدائے پاك بغیر موره او پلاره یو سړے پیدا کړو نو بغیر دَ پلار نه پیدا کول ولے دَ هغه په نزد بلندے څه گرانه ده او که چرے قدیم ئې گنړے نو دَ قدم نه دا مراد نۀ دے چه عالم په دے شان په وضع خاص قدیم دے ولے چه په اوضاع او اطوار کښے همیشه تغیر کیږی او راځی بلکه په دے بنا بلندے دَ کرّاتو کرات متفرق او پریشانه کیدے شی او دَ هغې اجزاء بیا دوباره یو ځائے شی او یوه نوے کره ظاهره کړی ددے وجے نه دَابی قور او دیو جانس او دَ فلاسفو یو جماعت چه دَ قدم علم قائل وو دا لیکلے دی چه اوائل ترکیب په زمکه کښے دَ زمکے نه اعلی اعلی قسم جاندار لکه انسان او بهائم خپل په خپله پیدا کول ـ آخر ډیره زمانه پس دَ زمکے قوت کمیدو کمیدو سره اوس دا نوبت رارسیدلے دے چه سوا دَ نباتاتو او کم درجه حیواناتو لکه منگکان او گونس چینجی وغیره دَ بنۀ قسم جاندار دَ زمکے نه خپل په خپله نۀ پیدا کیږی بیا چه کوم خلق په زمکه کښے دا قوت ایخودے چه بنیادم او دَ تمام قسم ځناور په دے کښے پیدا کوی دے نزدے پخپله دَ انسان نه دویم انسان پیدا کول نۀ مشکل دی او نۀ دَ عقل نه خلاف دی او تعجب دے چه دغه عیسیٰ علیه السلام لره پلار نۀ منونکے خلق په عقل او فلسفے یقین کوی او دَ حکیمانو او فلسفیانو لغویاتو لره هم تسلیموی او دَ قرآن او حدیث په رښتونے او قرین قیاس خبرو کښے شبه کوی ـ په خپله دَ حکیم او فلسفی انسان ابتدائی خلقت او دَ عالم په ابتدائی افرینش کښے دومره قدرے اختلاف لری چه ډیو بل خیال لره لغوه او باطل گنړی.

(۱۴۱) عَنْ عُمَيْرِ ابْنِ هَانِئٍ هٰذَا الْاَسْنَادِ بِمِثْلِهِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ : اَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ عَلٰى مَا كَانَ مِنْ عَمَلٍ ، وَلَمْ يَذْكُرْ : مِنْ اَيِّ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ شَاءَ : [راجع ۱۴۰]

ترجمه : دَ عمیر بن هانی په دے سند کښں ددے الفاظو " دَ جنت په اتو دروازو کښې چه ئې په کومه دروازه خوښه شی " په ځائے باندے دا الفاظ موجود دی " الله تعالیٰ به دۀ لره جنت ته داخل کړی چه هغه څنگه هم اعمال کوی کله چه ددے دنیا نه لاړ شی "

(۱۴۲) عَنْ الصَّنَابِحِيِّ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ اَنَّهُ قَالَ دَخَلْتُ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي الْمَوْتِ فَبَكَيْتُ فَقَالَ مَهْلًا لِمَ تَبْكِي؟ فَوَ اللّٰهِ لَئِنِ اسْتُشْهِدْتُ لَاَشْهَدَنَّ لَكَ وَلَئِنْ شُفِّعْتُ لَاَشْفَعَنَّ لَكَ وَلَئِنِ اسْتَطَعْتُ لَاَنْفَعَنَّكَ ثُمَّ قَالَ وَاللّٰهِ مَا مِنْ حَدِيْثٍ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لَكُمْ فِيْهِ خَيْرٌ اِلَّا حَدَّثْتُكُمُوْهُ اِلَّا حَدِيْثًا وَاحِدًا وَسَوْفَ اُحَدِّثُكُمُوْهُ الْيَوْمَ وَقَدْ اُحِيْطَ بِنَفْسِي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ شَهِدَ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ النَّارَ : [ترمذی : ۲۶۳۸]

ترجمه : دَ صنابحی نه روایت دے چه زهٔ دَ عبادهؓ بن صامت خواله لاړم هغه مرګ ته نزدے وو زهٔ په ژړا شوم هغوی اووے ماته مهلت راکړه (یعنی ماته خبرو کولو کښے) ولے ژاړے؟ قسم په خدائے کهٔ چرے زهٔ ګواه جوړ کړے شم نو ستا دَپاره به دَ (ایمان) ګواهی ورکووم او کهٔ چرے زما سفارش په کار راشی نو ستا سفارش به کووم او کهٔ چرے په ما کښے طاقت وی نو تا لره به فائده درکووم بیا ئے لووے قسم په خدائے چه یو حدیث ما دَرسول الله ﷺ نه نهٔ اوریدلے چه په هغے کښے ستا نیکی وه مګر ما تاته بیان کړو البته یو حدیث ما تر اوسه پورے نهٔ دے بیان کړے نن ئے بیانووم ددے دَپاره چه زما روح وتونکے دے ما دَرسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه فرمائیلے ئے وو کوم سړے چه ګواهی ورکړی (یعنی په زړهٔ سره یقین اوکړی او په ژبه سره اقرار اوکړی) چه دَخدائے نه سوا بل څوک ربشتونے معبود نشته او بے شکه حضرت محمد ﷺ دَ الله رسول دے نو الله به په دهٔ باندے جهنم حرام کړی. (یعنی همیشه به جهنم کښے د اوسیدو یا دَ جهنم په هغه طبقه کښے چه په هغے کښے همیشه اوسیدونکی کافران اچولے شی)

فائده : (دَ صنابحی نه روایت دے) صنابحی دَ صنابح طرف ته نسبت دے چه دَ قبیله مراد یو شاخ دے او نوم دَهغه ابو عبد الله عبد الرحمان بن عسیله دے. نوویؒ وئیلے دی چه دا جلیل القدر تابعی وو دے رسول الله ﷺ سره د ملاقات کولو دَپاره روان وو دے په لاره دَ جحفے کښے وو چه حضرت ﷺ وفات شو. دَحضرت دَ وفات نه پنځه شپږ ورځے پس دے مدینے ته راورسیدلو او دَ ابو بکر صدیقؓ سره او دَنورو ډیرو اصحابو سره ملاؤ شو او روایتونه ئے اوکړل په تقریب کښے دی چه دَ عبد الملك دَ خلافت په دور کښے هغوی انتقال کړے دے. نوویؒ وئیلے دی

چا ته چه په حدیث کښې اشتغال نشته دې هغه دې صنابحی لره صنابح بن عسر خیال کړي حالانکه صنابح بن عسر صحابي دې عباده بن صامت صنابحی ته قسم اوخوړو چه یو حدیث ما دَرسول الله ﷺ نه نۀ اوریدلې چه په هغې کښې ستا نیکی وه مگر ما هغې لره تاته بیان کړو قاضی عیاضؒ وائی ددې نه معلومیږی چه هغوی هغه حدیثونه پټ کړې وو چه دَ هغې په بیانولو کښې هغوی ته نقصان یا فتنې معلومیده ددې دپاره چه دَ هر سړی عقل دومره نۀ وی چه دَ هر حدیث په مطلب باندې پوهه شي، او په دۀ کښې دڅه عمل کولو خبره نۀ وی نۀ څه حدوی دَ شریعت دَ حدودو نه او داسې ډیرو صحابوؓ کړی دی چه بې ضرورته حدیث ئې بیان کړې نۀ دی، هغه حدیث لرچه دَهغې نه په خلقو کښې دَ فساد خوریدو یره وی ددې وجې نه چه دَهغې په پوهه کولو سره دَهغوی عقل قاصر وو (یعنی کمزورې وو) دغه شان هغه حدیثونه چه دَ منافقانو په بیان کښې یا دَ قیامت په علاماتو کښې یا دَ چا قوم په خرابو صفاتو کښې یا دَهغوی په مذمت کښې او لعنت کښې وو۔ (نوویؒ)

(۱۴۳)عَنْ مُعاذ بن جَبَلٍ قَال كُنْتُ رِدْفَ النَّبي ﷺ لَيس بَيْنِي وَبَيْنَهُ إلَّا مُؤخرةُ الرَّحْلِ فَقَال يا مُعاذ بن جَبَل قُلْتُ لبيک يا رسُولُ اللهِ وَسَعْدَيْک ثمّ سار ساعةً ثُمّ قال يا مُعاذ ابْن جَبَل قُلْتُ لَبّيک يا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيک ثُمّ سَارَ ساعةً ثم قَالَ يا مُعَاذ ابْن جبل قُلْتُ لَبّيْک يا رَسُول اللهِ وَسَعْدَيْک قَالَ هَلْ تَدْرِي مَا حقّ اللهِ على الْعِبَاد قَالَ قلتُ اَللّهُ وَرَسُولُهُ اعْلَم قَال فانّ حَقّ الله عَلَى الْعِبَاد انْ يَعْبدوهُ وَلا يُشركُوا بِهِ شَيْئًا ثمّ قَالَ يا مُعاذ بن جَبل قُلت لَبّيک يا رسُول اللهِ وسَعْدَيک قَالَ هَلْ تَدْرِيْ مَا حَقّ الْعِبَاد عَلَى اللّهِ إذا فَعَلُوا ذَالِک قُلْتُ اللّهُ وَرَسُولهُ اعلمُ قَال اَنْ لَا يُعَذّبهُم : [بخاری: ۵۹۶۷، ۲۲۶۷، ۶۵۰۰]

ترجمه : دَ معاذ بن جبلؓ نه روایت دې چه زۀ په سورلی باندې دَرسول الله ﷺ سره شاته ناست ووم۔ زما او دَ هغه په مینځ کښې ماسوا دَ کجاوې د شا دَ لرگی نه نور څه نۀ وو حضور ﷺ اوفرمائیل اې معاذ بن جبل ما عرض اوکړو حاضر یم ستا په خدمت کښې او فرمانبردار یم یا رسول الله بیا څه لږ وخت لاړو نو دَ هغې نه پس نې اوفرمائیل اې معاذ بن جبل ما عرض لوکړو

حاضر یم یا رسول الله او فرمانبردار یم بیا روان وو څه ځائے وړاندے نے بیا اوفرمائیل اے معاذ بن جبل ما اووے یا رسول الله فرمانبردار او ستا په خدمت کښے حاضر یم حضور ﷺ اوفرمائیل تاته پته شته چه دَ الله حق په بندګانو باندے څه دے ما اووے چه الله او دَ هغه رسول ښهٔ پوهه دی حضور ﷺ اوفرمائیل چه دَ الله حق په بندګانو باندے دادے چه د هغه عبادت اوکړی او دَ هغه سره څوك شریك جوړ نهٔ کړی بیا څه لږ مخکښ چه لاړو نو وے فرمائیل اے معاذ بن جبل ما اووے یا رسول الله ستا په خدمت کښے حاضر یم او ستا فرمانبردار یم! حضور ﷺ اوفرمائیل تاته پته شته چه دَ بندګانو په الله باندے څه حق دے هرکله چه بندګان دا کار اوکړی (یعنی دَ هغه عبادت اوکړی او چا لره دَ هغه سره شریك نهٔ کړی) ما اووے چه الله او دَ هغه رسول ښهٔ پو هیږی حضور ﷺ اوفرمائیل هغه حق دادے چه الله دوی لره عذاب نهٔ کړی۔

فائده : صاحب تحریر وائی حق وئیلے شی هر موجود لره چه اوموندے شی یا دَ هغے موندل په راتلونکی وخت کښے ضروری وی۔ او الله سبحانه حق دے موجود دے ازلی دے باقی او ابدی دے مرګ قیامت او جنت او نار حق دے ولے معنی هغه ضروری موندے شی او وی به۔ او ربنتونی خبرے ته هم حق وئیلے شی یعنی هغه موندلے شوے او دَ هغے وجود دے دغه شان حق واجب او لازم کار ته هم وئیلے شی چه په هغے کښے اختیار نهٔ وی لکه فرائض دالله چه دَ هغے کول لازم دی یا دَ چا قرض چه دَ هغے ادا کول لازم دی یا څه بل حق دَ حقوقو نه۔

نو هرکله چه دا اووائی چه دَ الله حق په بندګانو باندے نو ددے معانے دادی چه هغه دَ الله دپاره په بندګانو باندے لازم او واجب دی او هر کله چه دا اووائی دَبندګانو حق په الله باندے نو هلته دَحق نه مراد دَ هغے تحقق دے یعنی هغه به ضرور موندلے شی دائهٔ چه په الله باندے واجب یا فرض دے ولے چه په الله پاك باندے څه کار واجب او لازم نهٔ دے او نهٔ څوك په هغه باندے څه کار واجبولے شی هغه په خپله بادشاه دے مالك دے صاحب دے دَ ټول جهان څه چه غواړی کوی څه چه نهٔ غواړی نهٔ کوی خو دَخپلے وعدے او قول رښتونے دے۔ دَ هغه خبره حصاریدونکے والا نهٔ وی هغه چه څنګه اوفرمائیل دغه شان به دَ هغه نیك بندګان جنت ته ضرور ځی لیکن کهٔ هغه اوغواړی نو نیکان هم په دوزخ کښے اچولے شی دَچا څه مجال دے چه هغه ته څه اووائی۔

(۱۴۳) عَنْ مُعَاذ بْنِ جَبَلٍ قَالَ كُنْتُ رِدفَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى حِمَارٍ يُقَالُ لَهُ عُفَيْرٌ قَالَ فَقَالَ يَا مُعَاذُ تَدْرِي مَا حَقُّ اللّٰهِ عَلَى الْعِبَادِ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ قَالَ قُلْتُ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ اَعْلَمُ قَالَ فَاِنَّ حَقَّ اللّٰهِ عَلَى الْعِبَادِ اَنْ يَّعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهٖ شَيْئًا وحقّ العباد عَلى الله انْ لّا يعذّب مَنْ لَّا يُشْرِكُ بِهٖ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اَفَلَا اُبَشِّرُ النَّاسَ قَالَ لَا تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوا : [بخاری : ۲۸۵۶ ، ترمذی : ۲۶۴۳]

ترجمه : دَ معاذ بن جبل ؓ نه روایت دے چه زهٔ دَ رسول الله ﷺ سره په خر باندے سور ووم چه دَهغه نوم عفیر وو حضور ﷺ اوفرمائیل اے معاذ تاته پته شته چه دَ الله په بندګانو باندے څه حق دے او دَ بنده په الله پاك باندے څه حق دے ما اووے چه الله او دَهغه رسول ښهٔ پوهیږی حضور ﷺ اوفرمائیل چه دَ الله حق په بندګانو باندے دادے چه دهغه عبادت کوی او هغه لره دَچا سره شریك نهٔ کړی۔ او دَبندګانو حق په الله باندے دادے چه کوم سړے شرك نهٔ کوی الله هغه لره عذاب نهٔ ورکوی ما اووے یا رسول الله ﷺ زهٔ زیرے ورنهٔ کړم خلقو لره ددے په اوریدو حضور ﷺ اوفرمائیل مهٔ اوروه داسے نهٔ وی چه هغه په دے باندے بروسه اوکړی او کینی۔

فائده : عفیر په ضمے دَ عینِ مهملے سره او په فتحے دَ فاء موحدے سره دا صحیح دے او دا په معتبرو نسخو کښے دے او قاضی عیاض ؒ ... هغه دے لره په غین معجمه سره وئیلے دے هغه متروك دے نووی ؒ وائی چه دا هغه خر وو چه دَ رسول الله ﷺ دَ سورلی وو بعضو وئیلے دی هغه په حجت الوداع کښے مړ وو او ددے حدیث نه معلومیږی چه دا واقعه دَدویم وار ده او په وړومبی حدیث کښے چه کومه ذکر ده هغه دِ بل وار ده ددے دَپاره چه وړومبی حدیث کښے دَپالان ذکر دے او پالان په اوښ باندے وی او احتمال دے چه یو د واقعه وی او دَ وړومبی حدیث مطلب داوی چه زما او دَ حضرت په مینځ کښے صرف دومره فاصله وه لکه دَپالان دَ لرګی هومره۔

حضرت معاذ بن جبل ته ئے اوفرمائیل چه خلقو ته زیرے مهٔ ورکوه داسے نه وی چه هغه په دے زیری باندے بروسه اوکړی او کینی بیا نو دَ نیکی کار کول او دَ ګناهونو نه بچ کیدل پریږدی، اګر چه توحید دَ خلاصی دَپاره کافی دے خو دَ جهنم نه بالکل دَ محفوظ کیدو دَپاره او په جنت کښے دَ اعلی درجے دَپاره اعمال صالحه کول او دَ بدو کارونو نه بچ کیدل ضروری دی۔

(١٤٥) عن معاذ ابن جبل قال قال رسول اللّٰه ﷺ یا معاذ اتدری ما حق اللّٰه علی العباد قال اللّٰه ورسوله اعلم قال ان یعبدوا اللّٰه ولا یشرک به شیئ قال اتدری ما حقهم علیه اذا فعلوا ذالک قلت اللّٰه ورسوله اعلم قال ان لا یعذبهم :[بخاری : ٤٣٤٣]

ترجمه : دَ معاذ بن جبلؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی اے معاذ! ته پیژنے چه دَالله حق په بندگانو باندے څه دے هغوی اووے چه الله او دَ هغه رسول بنهٔ پو هیږی۔ حضور ﷺ اوفرمائیل هغه حق دادے چه عبادت کوی دَ الله پاك او دَ هغه سره څوك شریك نهٔ جوړوی بیا حضور ﷺ اوفرمائیل تاته پته شته چه دَبندگانو په الله باندے څه حق دے ما اووے الله او دَهغه رسول بنهٔ پو هیږی حضور ﷺ اوفرمائیل هغه حق دادے چه الله به دوی لره عذاب ورنهٔ کړی۔ (یعنی دَ همیشه والی عذاب لکه چه مشرکانو ته به وی)

فائده : او په بعضو نسخو کښے شیئا دے په نصب سره نو ترجمه به داوی چه دَ الله عبادت به کوی او چا لره به دَ هغه سره شریك نهٔ گرځوی۔

(١٤٦) عن الاسود بن هلال قال سمعت معاذا یقول : دعانی رسول اللّٰه ﷺ فاجبته فقال : هل تدری ما حق اللّٰه علی الناس ' نحو حدیثهم : [راجع : ١٤٥]

ترجمه : دَ اسود بن هلال نه روایت دے فرمائی چه ما دَ معاذؓ نه اوریدلی دی چه زهٔ رسول الله ﷺ را اوبللے ما د هغه په خبره باندے لبیك اووے حضور ﷺ اوفرمائیل آیا تاته پته شته چه دَ بندگانو په اله پاك باندے څه ق دے ؟ (باقی حدیث دَ وراندے حدیث په مثل باندے دے)

(١٤٧) عن ابی هریرة قال کنا قعودا حول رسول اللّٰه ﷺ ومعنا ابو بکر وعمر فی نفر فقام رسول اللّٰه ﷺ من بین اظهرنا فابطا علینا وخشینا ان یقتطع دوننا وفزعنا فقمنا فکنت اول من فزع خرجت ابتغی رسول اللّٰه ﷺ حتی اتیت حائطا للانصار لبنی النجار فدرت به هل اجد له بابا فلم اجد فاذا ربیع یدخل فی جوف حائط من بئر خارجة والربیع الجدول فاحتفزت فدخلت علی رسول اللّٰه فقال ابو هریرة فقلت نعم یا رسول اللّٰه قال ما شانک قال قلت کنت بین اظهرنا فقمت فابطات علینا فخشینا ان تقتطع دوننا ففزعنا فکنت اول من فزع فاتیت هذا الحائط فاحتفزت کما یحتفز

الشَّعلبُ وَهٰؤلاء النّاس وَرَائِيْ فَقَال يَا اَبَا هُرَيْرَة وَاَعْطَانِي نَعْلَيْهِ فَقَال اِذْهَبْ بِنَعْلَيّ هَاتَيْن فَمَنْ لَقِيْتَ مِنْ وَرَاء هٰذَا الْحَائِط يَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰه اِلَّا اللّٰهُ مُسْتيقنًا بِهَا قَلبهُ فبشّرْهُ بالْجنّة فَكَان اوّل مَن لَقِيتُ عُمَر ابْن الْخطَّاب فَقَالَ مَا هَاتَان النّعلان يَا ابَا هُرَيْرة قُلْتُ هاتَيْنِ نَعْلا رَسُول اللّٰهِ ﷺ بَعَثَنِي بِهِمَا مَنْ لَقِيت يشْهد انْ لَّا اِلٰه اِلَّااللّٰهُ مُطْمئنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشّرْناهُ بِالْجنّة قَال فَضَرب عُمَرُ بِيدهٖ بَيْن ثَدْيَي ضَرْبةً فَخررتُ لاستي فقال اِرْجِعْ يا اَبا هُرَيْرة فرجعْتُ اِلٰى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَاَجْهَشْتُ بُكاء وَرَكِبَنِيْ عُمَر فَاِذا علٰى اثرى فقال رسُول اللّٰه ﷺ مَا لَکَ يَا ابَا هُرَيْرةَ قُلْتُ لَقِيتُ عُمر فَاَخْبرتهُ بِالَّذى بَعَثْتَنِي بِهٖ فَضَربَ بين ثديَيّ ضَرْبةً فَخَرَرْتُ لِاِسْتِي فَقَالَ ارْجِعْ فَقَال رَسُول اللّٰه ﷺ يَا عُمَر مَا حَمَلَکَ عَلى مَا فَعَلْت قَال يَا رَسُول اللّٰهِ بِاَبِي اَنْت واُمّي اَبعثْتَ ابَا هُرَيْرَة بِنَعْلَيْک مَنْ لَقِي يَشْهدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشّرهُ بِالْجنّة قَال نَعم قَال فَلا تَفْعل فَاِنّي اَخْشٰى انْ يتكلَ النّاس فَخَلِّهِم يَعْمَلُون قَال فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فخلِّهِم : [بخاری شریف : ۱۲۸]

ترجمه : دَ حضرت ابو هريرةؓ نه روايت دے چه مونږه دَرسول الله ﷺ نه چاپيره ناست وو او زمونږه سره ابو بکر او عمر رضی الله عنهما هم وو په نورو سرو کښے۔ په دے کښے رسول الله ﷺ پاسيدو (او بهر ئے تشريف يوړو) بيا زمونږه خواله په واپس راتلو کښے هغه ډير وخت تير کړو نو زمونږه سره يره شوه چه چرته دشمن يوائے اوموندو او وفات ئے کړو مونږ ګبرالا شو لو پاسيدو دتهولو نه اول زهٔ ګبراو شوم او دَ هغه په تلاش کښے بهر اووتم او دَ بنی نجار دَباغ خواته اورسيدم (بنی نجار په انصارو کښے يوه قبيله وه) دَ هغے باغ نه چاپيره اوګرځيدم چه کهٔ ماته دروازه ملاو شی نو باغ ته به دننه لاړشم (ولے چه شايد رسول الله ﷺ دے باغ ته دننه تشريف اوړلے وی) دروازه راته ملاو نهٔ شوه (شايد چه په دے باغ کښے دروازه نهٔ وه يا وه خو ابو هريرةؓ دَ ګبراهټ دَ وجے نه ليدلے نهٔ وی) چه اوس کتل نو بهر دَ کوهی نه دَاوبو يو لختے با ته دننه شوے وو زهٔ لکه دَ ګيدړ په شان په دغه نالی کښے په خونډو خونډو سره باغ ته ننوتم او رسول الله ﷺ ته اورسيدم۔ حضور ﷺ اوفرمائيل ابو هريره ! ما اوفرمائيل چه جی ها يا رسول الله حضور ﷺ اوفرمائيل ستا څه حال دے ما عرض اوکړو يا رسول الله تاسو مونږه خلقو کښے تشريف فرما وے

بیا تا تشریف یوړو او ډیر وخت اوشو چه تاسو رانغلئ نو زمونږه سره یره شوه چه چرته دشمن ئے ځان له اونهٔ مومی او تنګ ئے نهٔ کړی مونږ ګبراؤ شو او دَ ټولو نه مخکښے زهٔ ګبراؤ شوم پاسیدم او ددے باغ* خواته راغلم (دروازه ئے رانه ملاؤ نهٔ شوه) نو په دے شان مے ځان راغونډ کړو او راننوتم لکه ځنګه چه ګیدړ ځان راغونډ کړی او ننوځی او تمام خلق ما پسے شاته راروان دی۔ حضور ﷺ اوفرمائیل اے ابو هریره او رائے کړو ماته خپل پیزار (دَنشانی دَپاره چه نور خلق دَ ابو هریره خبره رښتیا اوګنړی) او وے فرمائیل زما دا دواړه پیزار واخله او ځه او څوك چه تاته ددے باغ نه ورستو ملاؤ ویږی او هغه ددے خبرے ګواهی ورکوی چه دَ خدائے نه سوا بل معبود برحق نشته او په دے خبره باندے دَ زړهٔ نه یقین لری نو هغوی ته دَ جنت دَ تلو زیرے ورکړه۔ (ابو هریره وائی چه ما پیزار راواخستو او روان شوم) دَ ټولو نه مخکښے دَ عمرؓ سره ملاؤ شوم هغوی تپوس اوکړو اے ابو هریره دا پیزار دَ چا دے؟ ما اووے دا دَ نبی کریم ﷺ دے هغوی دا راکړل او زهٔ ئے راولیږلم چه زهٔ دَ چا سره ملاؤ شوم او هغه ګواهی ورکوی دَ لا اله الا الله او په زړهٔ سره یقین کوی چه هغه ته دَ جنت زیرے ورکړم۔ ددے په اوریدو عمرؓ ماله دَ لاس په سوك سره دَ سینے په مینځ کښے یو ګذار راکړو چه زهٔ شاته دَ کوناتو په سوکه باندے اوغورزیدم بیا ئے اووے اے ابو هریره دَ رسول الله ﷺ خواته واپس شه پس واپس شوم زهٔ رسول الله ﷺ ته۔ او ژړا له راغلے ووم چه زما سره ورستو عمر هم راورسیدو رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے ابو هریره دا تاله څه شوے دی ما اووے زهٔ دَ عمرؓ سره ملاؤ شوم او کوم پیغام چه تا ماته راکړے او لیږلے دے ووم هغه مے ورته اورسوو۔

هغه ماته دَ سینے په مینځ کښے دومره سخت ګزار راکړو چه زهٔ ئے واپس دَ کوناتو په سر باندے اوغورځولم او راته ئے اووے چه واپس شه۔ رسول الله ﷺ حضرت عمرؓ ته اووے تا ولے داسے اوکړو هغوی عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ زما مور او پلار دے ستا نه قربان شی ابو هریره له چه تا پیزار ورکړے او رالیږلے دے وو چه کوم سړے ستا سره ملاؤ شی او هغه دَ زړهٔ په یقین سره دَ لا اله الا الله ګواهی ورکړی نو هغه ته دَ جنت دَ تلو زیرے ورکړه۔ حضور ﷺ اوفرمائیل چه او! نو حضرت عمرؓ اوفرمائیل چه زما مور او پلار دے ستانه قربان وی داسے مهٔ کوه ولے چه زهٔ یریږم چه خلقه به په دے باندے تکیه اوکړی او کینی به۔ دوی ته عمل کول ورکړه رسول الله ﷺ

اوفرمائیل بنه دوی په عمل کولو ته پرېږده۔

فائده : حضرت ابو هریرةؓ اولیدل چه یوه نالی د خارجی کوهی نه باغ ته دننه تلې وه نو دَ خارجه کوهی صفت دے او بعضے وائی چه خارجه دَ یو سړی نوم دے نو ترجمه به داشی چه دَ خارجه د۔ کوهی نه یعنی دَ اوبو هغه نالی دَ خارجه د کوهی نه راغلې وه ابو هریرةؓ وائی چه هر کله ما دَ رسول کریم ﷺ دَ خوشخبری هغه پیغام حضرت عمرؓ ته واورولو نو حضرت عمرؓ ماته دَ سینو په مینځ کښې داسے سوك راکړو چه زهٔ واپس دَ کوناتو په سر باندے اوغورځیدم ۔ ددے نه دَ حضرت عمرؓ دا اراده نهٔ وه چه زهٔ دے ابو هریرةؓ اوغورزووم او یا دے ورته ضرر اورسووم بلکه هغه لره ددے کار نه راړول مقصود وو او په لاس ئے په سینه باندے ځکه اووهو چه دهٔ ته تنبیه شی او ددے وینا نه منع شی۔

قاضی عیاضؒ وغیره وئیلے دی چه دَ حضرت عمرؓ دا فعل په طور دَ اعتراض نهٔ وو په رسول الله ﷺ باندے۔ ولے چه دَ ابو هریره په سوال او جواب کښې سوا دَ امت دَ خوشالولو نه بله څه بده خبره نهٔ وه مګر حضرت عمرؓ داسے خبرے لره فاش کول دَ مصلحت نه خلاف اوګنړل۔ ولے چه هغه وخت په دین کښې دَ سعی او کوشش ضرورت وو، او احکام الهی په خپل ځائے باندے راوړل خاص کر جهاد وغیره دَ ترقی دَدین دَپاره ډیر زیات ضروری وو، او کهٔ چرے دا خوشخبری ټولو ته رسیدلے وے نو احتمال وو چه ډیرو خلقو نن اسانی (ځان اسانی) کړے وے۔ او په دغه خوشخبری باندے بروسه کړے وے او سست شوے وے، او په دے وجه حضرت عمرؓ دَابو هریرةؓ سره راغے او حضور ﷺ ته ئے دا مصلحت بیان کړو حضور ﷺ دا رائے درسته اوګنړله او په هغه باندے ئے عمل اوکړو او ددے حدیث نه معلومه شوه چه رعیت دَ امام په حکم باندے اعتراض کولے شی۔ او امام له پکار دی چه یا خو ددے اعتراض معقول جواب ورکړی او رعیت لره خاموش کړی او یا خپل حکم موقوف کړی۔ (نوویؒ)

نوویؒ وائی چه حدیث په ډیرو فائدو باندے مشتمل دے یو دَ عالم کیناستل دَخلقو دَ پوهه کولو او دَدین دَخبرو ایزده کولو دَپاره۔ بل غیر مِلك ته دننه تلل بغیر دَ اجازت نه درست دی۔ هر کله چه یقین وی ددے خبرے چه هغه به نهٔ خفه کیږی، ولے چه ابو هریرةؓ باغ ته دننه لاړو

او حضور ﷺ هغه لره منع هم نۀ کو بلکه جائز دی د بل د هتیار نه فائده اخستل او د بل غله خوړل او د هغه په څناور باندے سورلی کول او خوراك خپل کور ته اوړل او ددے په مثل نورے خبرے چه هغه په دۀ باندے نۀ گرانیږی۔ لیکن روپی او پیسے اخستل درست نۀ دی چه هغه نۀګواردی دا تپول په دے صورت کښے دی چه د هغه د رضامندی یقین وی۔ او کوم چه شك وی نو بغیر د اذن نه تصرف جائز نۀ دے۔

دویم امام خپله نښه ورکول او چالره لیږل څلورم بعضے د دین خبرے پټول په نظر د مصلحت سره یا د یرے د فساد۔ پنځم د تابع اعتراض کول په متبوع باندے او د تابع رائے قبلول هر کله چه رائے درسته وی۔ شپږم دا قول درست کیدل چه زما پلار او مور دے پتا باندے قربان وی او بعضے سلفو دے لره مکروه کړے دے مگر هغه صحیح نۀ دے۔

(۱٤۸) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِکٍ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ رَدِیْفُهٗ عَلَی الرَّحْلِ فَقَالَ یَا مُعَاذُ قَالَ لَبَّیْکَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَسَعْدَیْکَ قَالَ یَا مُعَاذُ قَالَ لَبَّیْکَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَسَعْدَیْکَ قَالَ یَا مُعَاذُ قَالَ لَبَّیْکَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ وَسَعْدَیْکَ قَالَ مَا مِنْ عَبْدٍ یَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَی النَّارِ قَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا اُخْبِرُ بِهَا فَیَسْتَبْشِرُوْا قَالَ اِذًا یَتَّکِلُوْا فَاَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهٖ تَاَثُّمًا :

[بخاری : ۱۲۷]

ترجمه : د انس بن مالك نه روایت دے چه معاذ بن جبل د حضور ﷺ سره په سورلی باندے ناست وو۔ حضور ﷺ اوفرمائیل یا معاذ! هغوی اووے زۀ ستا په خدمت کښے حاضر یم یا رسول الله او فرمانبردار یم۔ حضور ﷺ بیا اوفرمائیل یا معاذ هغوی اووے چه زۀ ستا په خدمت کښے حاضر یم یارسول الله او فرمانبردار یم ستا ! حضور ﷺ بیا اوفرمائیل یا معاذ ! هغوی اوفرمائیل چه زۀ حاضر یم یا رسول الله او فرمانبردار یم ستا ! حضور ﷺ اوفرمائیل چه کوم بنده گواهی ورکړی ددے خبرے چه د خدائے نه سوا بل رښتونے معبود نشته دے نو الله پاك به حرام کړی هغه لره په اور باندے معاذ اووے یا رسول الله ﷺ زۀ ددے خلقو ته خبر ورکړم چه خوشاله شی حضور ﷺ اوفرمائیل بیا خو به هغه تکیا اوکړی په دے خبره باندے بیا معاذ د گناه نه د بچ کیدو د پاره

دمرگ په وخت دا حدیث بیان کړو.

فائده : ولې چه دعلم پټول په دے شان چه هغه ضائع شی منع دے. معاذ چه دکومے پورے ژوندے وو نو دا حدیث ضائع کیدے نهٔ شو او هر کله چه نے دمرګ وخت راغے نو اوریدو چه دا حدیث به بالکل تلف شی ددے وجے نه هغوی بیان کو او حضور ﷺ چه هغه دبیانولو نه منع کړے وو هغه په طور د تحریم باندے نهٔ وو بلکه په طور د مصلحت ویا د ممانعت د مشهورولو نه وو. نهٔ د خاص خلقو د بیانولو نه ګنی معاذ ته به ئے ولے بیانولو. شیخ ابن الصلاح وائی چه رسول الله ﷺ حضرت معاذ لره د عامے خوشخبری نه منع کړے وو ددے پرے نه چه څرته جاهل او بے خبره سړے ددے په اوریدو سره دهوکه اونهٔ خوری او ددے په تکیا باندے نیک عملونه پریے نږدی.

او پخپله دا حدیث حضور پاك ﷺ هغه خلقو ته اوښودو چه دهغوی په دهوکه کښے د پریوتو څه یره نهٔ وه. او هغه خاوندان د علم او معرفت وو، لکه معاذ بن جبل نو معاذ هم په دغه لاره باندے تلے دے، هغوی هم خاص خاص سړو ته چه ددے لائق به ئے اوموندو دا حدیث بیان کړے دے. او د حضرت ابو هریرة نه چه کوم دا روایت منقول دے چه رسول الله ﷺ هغه ته د عامے خوشخبری دپاره ونیلے وو. نو دا وړومبے رائے وه، ددے نه پس رائے بدله شوه او رائے ورکول یعنی اجتهاد رسول الله ﷺ لره هم درست وو. لکه څنګه چه نورو مجتهدینو لره درست دے. خو رسول الله ﷺ لره په نورو مجتهدینو باندے فضیلت دے چه هغه په خطاه باندے قائمیدے نهٔ شی. ډیر زر دهغه په وحی سره اصلاح کیږی. په خلاف د نورو مجتهدینو چه هغه په خطاه باندے قائمیدے شی.

اوکوم سړے چه ددین په خبرو کښے درسول الله ﷺ دپاره اجتهاد جائز کړے نهٔ دے هغه دا وائی چه شاند ابو هریرة ته دعامے خوشخبری دورکولو حکم وراندے راغلے وی. بیا د حضرت عمر د سوال په وخت دویم حکم راغلے وی چه په هغے سره وړومبے حکم منسوخ شو نووی وائی چه د رسول الله ﷺ په اجتهاد کښے تفصیل دے چه هغه مشهور دے لیکن په دنیاوی امورو کښے خو هغه بالاتفاق اجتهاد کولو او ددین په خبرو کښے دعلماو اختلاف دے. اکثر جائز وائی

اجتهاد تـه دَدین پـه خبرو کښې ولې چـه نبی بـه دَ الله پاك نـه تپوس اوکړو او یقین بـه ئې حاصلوو او بعضې وائي چه دَدین په کارونو کښې اجتهاد جائز وو۔ په نورو خبرو کښې نـه۔ بیا کومو علماؤ چه اجتهاد دَدین پـه خبرو کښې جائز کړے دے هغوی اختلاف کړے دے چه آیا اجتهاد هغه هم کړے دے یا نـه اکثر وائي چه کړے ئې دے او بعضې ووائي چه نۀ ئې دے کړے او بعضو توقف کړے دے په دے مسئلـه کښې۔ بیا کـوم خلق چه وائي چه اجتهاد ئې کړے دے هغوی اختلاف کړے دے چه خطاء دَهغه نه کیده یا نۀ کیده۔ دَمحققینو دا قول دے چه خطاء دَهغه نه نۀ شوه کیدے او دَ اکثرو خلقو دا قـول دے چه خطاء بـه ترے کیدله خو پـه هغه خطاء بـه قائم نۀ پاتے کیدو۔ او دا مقام دَهغے تفصیل نۀ دے۔

(۱۴۹) عَنْ اَنَـس بْـن مَالِک قَال حدّثني مَحْمُودُ ابْن الرَّبِيع عَنْ عِتْبان بْن مَالک قَال قَدِمت الْمَدِيْنَ فَلَقِيْتُ عُتبان فَقُلت حَدِيث بَلَغَنِي عَنْک قَال اَصَابَنِي فِي بَصَرى بَعْض الشَّيْئ فَبَعَثْتُ اِلَى رَسولِ الله انّي احبّ اَنْ تَاْتِيني تُصلّي مَنْزِلي فاتّخذهُ مُصلّى قَال فَاَتَى النَّبيُّ ﷺ وَمن شَاء اللّٰهُ مِنْ اَصْحَابه فَدخل وهُو يُصلّي فِي مَنْزِلي وَاَصْحَابهُ يتحدّثُون بَيْنهُم ثُمّ اَسْنَدُوا عُظْم ذالِک وَكِبْرهُ الَى مَالِک بْن دُخْشم قَال وَدّوا انّه اَصَابـه شَيئ فَقَضى رَسول اللهِ ﷺ الصَلوٰة وَقَال اَلَيـس يَشْهَد اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وانّي رسُول اللّٰـه قالُوا انّه يقُولُ ذَالِک وما هُو فِي قَلْبِه قَالَ لَا يَشْهد اَحَدٌ انّه لا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وانّي رَسول اللّٰهِ فَيدخُل النَّار اَو تَطْعَمَهُ قَال اَنَس فَاَعْجبني هذا الْحدِيْث فَقُلْتُ لِاِبْنِي اكْتبهُ فَكَتَبهُ : [بخاری : ۴۲۴، ۴۲۵، ۶۶۷، ۶۸۶، ۸۳۸، ۸۴۰، ۱۱۸۶، ۴۰۰۹، ۶۴۲۲، : نسائی : ۷۸۷، ۱۳۲۶؛ ابن ماجه : ۷۸۷، ۱۳۲۶، ابن ماجه : ۷۵۴، وانظر فی مسلم : ۱۴۹۶، ۱۴۹۷، ۱۴۹۸]

ترجمه : دَانس بن مالك نـه روایت دے هغوی وائي چه ماته حدیث بیان کړے دے محمود بن ربیع او هغه اوریدلے دی دَعتبان بن مالك نه۔ محمود وائي چه زۀ مدینے ته راغلم نو دَ عتبان سره ملاؤ شوم ما اووے چه یو حدیث دے چه ماته رارسیدلے دے ستا نه۔ (تـه بیان کړه هغې لره) عتبان اووے چه زما نظر کم شوے دے (په دویم روایت کښې دی چه هغه ړوند شوے وو او شاید چه ضعف بصارت ترے نه مراد وی) ما دَرسول الله ﷺ په خدمت کښې یو وینا کوونکے لیږلے دے

چه زهٔ غوارم چه ته زما کور ته تشریف راوړه او څه ځائے مونځ اولوله چه زهٔ په هغه ځائے باندے دَ مانځـه ځائے جوړ کړم (یعنی همیشه هلته مونځ کووم او درخواست نے ددے پاره اوکړو چه په سترګو کنبے ئے نقصان وو او مسجد نبوی کنبے ورته راتلل ګران وو) نو حضور ﷺ هلته تشریف راوړو او چا لره چه خدائے غوښتل دخپلو ملګرو نه ئے هم دَځان سره راوستل۔ حضور ﷺ دننه راغے او په مانځه باندے ئے شروع اوکړه او اصحابو ئے په خپلو کنبے خبرے اترے کولے (دَمنافقانو ذکر راغے نو د هغو حال ئے بیانوو او دَهغوی بدے خبرے او بد عادتونه ئے بیانول) بیا هغوی یو لوے منافق مالك بن دخشم ته اووے یا مالك بن دخشم یا مالك بن دخشن یا مالك بن دخیشن او غوښتل ئے چه رسول الله ﷺ دهٔ په حق کنبے بددعا اوکړی چه هغه مړشی او په هغه باندے څه بلا نازله شی (نو معلومه شوه چه دَ بدکارانو دَ تباه کیدو دَپاره ارزو کول بد نهٔ دی) په دے کنبے رسول الله ﷺ دَمانځه نه فارغ شو او وے فرمائیل ولے هغه (یعنی مالك بن دخشم) ددے خبرے ګواهی نهٔ ورکوی چه سوا دَخدائے نه بل څوك ربنتونے معبود نشته او زهٔ دَالله رسول یم صحابو عرض اوکړو هغه خو دا خبره په ژبه سره وائی لیکن په زړه کنبے ئے یقین نهٔ لری۔ حضور ﷺ اوفرمائیل چه څوك دَ لا اله الا الله ګواهی ورکړی دَ محمد رسول الله سره، بیا هغه جهنم ته نهٔ شی تلے۔ یا هغه به انکارے نهٔ خوری۔ انسؓ وائی چه ماته دا حدیث ډیر ښه معلوم شو نو خپل ځوی ته مے اووے چه دا اولیکه نو هغه اولیکو۔

فائده : نوویؒ وائی چه ددے حدیث په اسناد کنبے دوه عجیبه خبرے دی یو خو دا چه درے صحابه کرام برابر دیو بل نه روایت کوی چه هغه انس او عتبان او محمود دی۔ دویمه دا چه لوے دَ وړکی نه روایت اوکړو انسؓ لوے دے دَ محمودؓ نه په عمر او علم او مرتبه کنبے۔ (هغوی یعنی صحابو ۔الك بن دخشم ته لوے منافق اووے) صحابو په نفاق کنبے دا سړے په اوله درجه کنبے قرار کړو۔ حالانکه دا سړے په بدر کنبے هم شریك وو او نورو جنګونو کنبے هم۔ او نفاق دهٔ نه ثابت شوے نهٔ دے بلکه په خپله حضور ﷺ دهٔ ته مؤمن وئیلے دی دَبخاری په روایت کنبے دی چه هغه لا اله الا الله صرف دَخدائے دَپاره وائی۔

(۱۵۰) عَن أَنَس حَدَّثَنِي عِتْبَان بْن مَالِك أَنَّه عَمِيَ فَأَرْسَلَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَقَالَ تَعَالَ فَخُطَّ لِي

مسجدا فجاء رسول الله ﷺ وجاء قومهٔ فنعت رجلٌ منهم یقال له مالک بن الدخشم ثم ذکر نحو حدیث سلیمان بن المغیرة : [راجع ۱۴۹]

ترجمه : دانس نه روایت دے چه حدیث بیان کړو ماته عتبان بن مالك او هغه ړوند شوے وونو هغوی رسول الله ﷺ ته یو پیغام رسانولیکو چه زما کور ته تشریف راوړه او د جماعت یو ځائے راله مقرر کړه پس رسول الله ﷺ راغے او د هغه خلق راغلل خو یو سړے غائب وو چه هغه ته به نے مالك بن دخیشم ونیلو . بیا ئے بیان کړو حدیث په دے شان لکه چه مخکښے تیر شو سلیمان بن مغیره.

فائده : نووی فرمائی چه ددے حدیث نه څو خبرے معلومے شوے څه وړاندے تیرے شوے دی۔ او یوه خبره داده چه آثار د صالحینو سره تبرك كول درست دی. دویمه دا چه علماء او فضلاء او مشائخو لره د خپلو مریدانو او شاګردانو کور ته تلل او د هغوی سره کیناستل او ملاویدل غوره دی دریم مفضول لره فاضل ته څه درخواست کول به څه مصلحت سره درست دی خلورم د مونځ کونکی په مخکښے خبرے کول درست دی کۀ مونځ کونکی ته څه خرج نۀ وی پنځم چه کوم سړے ملاقات له لاړ شی. د هغه امامت درست دے کۀ چرے د کور خاوند رضامند وی.

شپږم حاکم او امام ته دچا سړی حال بیانول هر کله چه د هغه نه د ضرر یره وی درست دی اووم د حدیث لیکل درست دی ولے چه انس خپل خوی ته اووے چه اولیکه دے لره لیکل مستحب دی. او د حدیث د لیکلو نه ممانعت هم راغلے دے ددے دپاره چه هغه نے یادوی نه صرف په لیکلو باندے بروسه لری حالانکه چه په هغوی کښے د یادولو طاقت وی. او اجازت ددے دپاره دے چه څوك نے سره د کوشش نه یادولے نۀ شی او بعضو ونیلے دی چه ممانعت هغه وخت وو چه هر کله د حدیثو د ملاویدو یره وه د قرآن پاك سره بیا اجازت اوشو.

او وړاندے په سلفو صحابو او تابعینو کښے اختلاف وو د حدیثو په کتاب کښے لیکن وروستو د کتاب په درست کیدو باندے دامت اجماع راله. اتم امام یا عالم لره د خپل ملګری سره ملاقات یا د دعوت دپاره تلل یا ملګرے دعوت له بوتلل درست دی. (انتهی باختصار)

باب الدلیل علی انّ من رضی با الله ربا وبا الاسلام دینا وبمحمد ﷺ رسولا فهو مؤمن وان ارتکب المعاصی الکبائر :

باب : کوم سړے چه دَ الله په خدائی، دَاسلام په دین او دَ محمد ﷺ په پیغمبری باندے راضی شو هغه مؤمن دے اګر که هغهٔ کبیره ګناهونه کړے وی او کوی :

(۱۵۱)عَنِ الْعبّاس بْن عَبد الْمُطلب انّه سَمِعَ رسُول اللّهِ ﷺ يقُولُ ذَاق طَعْم الْإيْمان مَن رضِی با الله ربًا وَبالْإِسْلام دِيْنًا وَبِمُحمّد ﷺ رسولًا : [ترمذی : ۲۶۲۳]

ترجمه : دَعباس بن عبد المطلب نه روایت دے هغوی دَ رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو چه دَ ایمان مزه هغه چا اوڅکله چه هغه راضی شو دَ الله پاك په خدائی باندے او دَاسلام په دین کیدو باندے، او دَمحمد ﷺ په پیغمبری باندے:

فائده : نووی نقل کړے دی دَ صاحب تحریر نه راضی کیدل یعنی قناعت کول او پوره کنټرول او څه نهٔ غوښتل. دَحدیث مطلب دادے چه سوا دَ خدائے نه بل چالره طلب نهٔ کړے او سوا دَ اسلام نه په نورو دَ کفر په لارو باندے روان نهٔ شے، او دَ حضرت محمد ﷺ دَشریعت موافق لوسیږی. بیا چه چا کښے دا صفات وی بیشکه د ایمان حلاوت د هغه په زړه کښے معلومیږی او هغه ددے مزه څکی. قاضی عیاض وائی چه دَمزے څکلو نه مراد دادے چه ددهٔ ایمان به صحیح وی او ددهٔ زړه ته به اطمینان وی. په دے واسطه چه هر کله ددے څیزونو نه راضی وی، نو دادهٔ دکمال معرفت او نفاذ بصیرت دلیل دے. او په دے سره به ددهٔ زړه هم خوشاله وی. ددے دپاره چه کوم سړے د څه څیز نه راضی شی نو تمام عبادتونه او اطاعتونه په هغه باندے اسانیږی. څکه چه دے مؤمن دے او ددهٔ په زړه کښے ایمان محکم شوے دے، نو څکه ورله تمام عبادات او اطاعات زیاته مزه ورکوی.

په تحفة الاخیار کښے دی چه دَالله په خدائے باندے دراضی کیدلو دا نښانی ده چه دَهغه په قضاء او قدر باندے راضی شی. په رنج او تکلیف او مصیبت کښے دَهغه شکر ادا کړی لو ګیلا

باندے مضبوط شی او د کفر رسومات دخان نه چاپیره نۀ پریږدی۔ او د حضرت محمد ﷺ په پیغمبرئ باندے د رضا کیدو پهچان دادے چه دحضور ﷺ په طریقو باندے چلیږی۔ او د بدعت سره دشمنی ساتی۔ او چا ته چه دا خبره حاصله نۀ وی هغه ته دایمان د مزے خبر نشته (انتهی)

مترجم وائی چه په دے حدیث کښے حضور ﷺ یو لوے مرتبے طرف ته اشاره کړے ده چه هغه عامو مؤمنانو او مسلمانانو ته حاصل نۀ ده بیا په دنیا کښے هغوی ته دایمان حلاوت او لذت هم نشته دے۔ هغه تمام عبادتونه او طاعتونه چه کوی نو د جهنم ديرے نه په نفس باندے زور غورزوی او ددین احکام په ځانے باندے راوړل د هغوی په نزد باندے داسے گران دی لکه درنه کټه اوړل او څه مخنت شاقه کول چه هغه ددۀ زړه نۀ غواړی خو د گیدے په خاطر یا دَچا انسان دَ یرے نه نے کوی۔ قهر درویش بر جان درویش۔ وروسته هر مسلمان لره په دے شان محنت او ریاضت کول او نفس بد خواهشات او تن آسانی او ارام طلبی لره پریخودل پکار دی خو ددے خبرو مزه به په ډیرو ورانده تلو سره څه ورځے پس حاصل شی۔ هرکله چه ددۀ نفس په تکرار دَ عمل سره یعنی بار بار په نیک عمل کولو سره ددغه کارونو عادی شی، نو دۀ ته په دغه کارونو کښے یو خوند او مزه پیدا کیږی۔ لکه چه انسان وروسته کسرت کوی یا مگدر هِلا وه وی نو یو څو ورځے پرے ډیرے بدے او بے مزے تیریږی، بیا ورته په کښے یوه داسے مزه راشی چه دَهغے پریخودل ورته گران شی او بے دکسرت نه ورته آرام نۀ راځی۔ دا و دَ جسمانی قوت او حرکاتو خوند دے چه دَعادت کیدو نه پس بیلیدے نۀ شی دَایمان چه کوم روحانی خوند او لذت دے چه ددے مزه او ذائقه به څومره وی، قیاس کول پکار دی خو ددے بیان څنگه کیدے شی۔

په دے خو هغه خلق پو هیږی چه چا ددے مزه څکلے وی سرے هر کله چه په دنیا کښے دڅه مودے پورے ژوند تیر وی او ددنیا په انقلاباتو او حرکاتو او تغیراتو کښے غور کوی نو دۀ ته یو خلجان او اضطراب پیدا کیږی، او چونکه هغه اسباب دَخیر او راحت او خوشحالی جمع کول غواړی خو دَاسبابو په تشخیص او شناخت کښے غلطی کوی۔ نو هر ځل ددۀ کوشش ځایه او ددۀ په سعی بربادیدو سره دۀ ته وحشت پیدا کیږی۔ په آخر کښے یو داسے تشتت او اضطراب ددۀ زړه ته کیږی چه معاذالله اکثر دنیا دار په دے عارضه کښے گرفتار وی او هغوی ته یوه ذره هم آولم نۀ

شته. دَهغوی ژوند د مرګ نه بدتر دے

هغوی ته په دنیا کښې هغه عذاب الیم دے چه امان غواړه په خدائے سره. هر کله چه دیو سړی دا حال وی نو پوهه شه چه دے برائے نام مؤمن دے چه هغه دایمان کلمات د طوطی په شان وائی خو په زړه ددهٔ کښې د ایمان نور بالکل نشته دے. او دَ رضاء بالقدر مرتبه دهٔ ته حاصله نهٔ ده.

او چا چه خداوندِ کریم لره خپل مالك، پروردګار، مربی، سرپرست، او د هر قسم حاجت پوره کونکے دتولو کارونو ویستونکے دښو او بدو خبر اخستونکے دتمامو ضرورتونو بندوبست کونکے دتمامو ضرورتونو او تکلیفونو نه بچ کونکے اوګنړی او دزړه نه په هغه باندے یقین اوکړی او تولو مقاصدو او مطالبو لره دَهغه په مرضی باندے پریږدی، هغه دخدائے پاك دَ خدائی نه راضی او خوشاله شو اوس څه ممکنه ده چه ددنیا د تغیراتو نه دهٔ ته دَ رتی برابر رنج یا اضطراب پیدا شی. نو هغه دخپل مالك په ارادو باندے او دهغه په کارونو باندے دزړه نه خوشحاله دے. او کوم نظام چه پروردګار قائم کړے دے هغه ددهٔ عین مطلب او مقصد دے بیا ددهٔ په تکلیف څه او په خفګان څه.

کارساز ما بفکر کار ما

فکر ما در کار ما آزار ما

باب بیان عدد شعب الایمان وافضلها وادناها وفضیلة الحیاء وکونه من الایمان:

باب : دَایمان دَ شاخونو بیان. کوم یو شاخ افضل دے او کوم یو ادنیٰ دے دَ شرم او حیاء فضیلت او ددے په ایمان کښې دَداخلیدو بیان :

(۱۵۲) عَنْ اَبِی هُرَیْرَة عَنِ النَّبِی ﷺ قَالَ اَلْاِیْمَان بِضْعٌ وَسَبْعُوْن شُعْبَةً وَالْحَیَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْاِیْمَانِ: [بخاری: ۹، ابوداود: ۴۶۷۶، ترمذی ۲۶۱۴، نسائی: ۵۰۱۹، ۵۰۲۰، ۵۰۲۱، ابن ماجه: ۵۷]

ترجمه : دَابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دَایمان اویا او څو بناخونه

دی او حیاء دایمان یو ښاخ دے.

فائده : په دویم روایت کښے په شپیتو باندے څو ښاخونه دی مگر په دے کښے راوی ته شك دے چه په اویا باندے څو ښاخونه دی که په شپیتو باندے څه شاخونه دی او بخاری بغیر د شك نه په شپیتهٔ څو روایتونه کړے دی او د ابو داؤد او ترمذی په اویا باندے څو بغیر د شك نه. او په یو روایت کښے د ترمذی دایمان څلور شپیتهٔ دروازے منقول دی او علماؤ اختلاف کړے دے په دے کښے چه صحیح کوم یو روایت دے قاضی عیاض فرمائی چه صحیح په شپیتو باندے څو شاخونه دی شیخ ابن الصلاح وائی چه دا شك دسهیل راوی دَطرف نه واقع شوے دے او بیهقی هم داسے وئیلے دی او دسهیل نه په اویاؤ باندے څو شاخونه بغیر دَ څه شك نه هم منقول دی، او رانج کوم یو روایت دے دا مختلف فیه دے چا دَ شپیتو روایت لره ترجیح ورکړے ده او چا دَاویا روایت لره ترجیح ورکړے ده. په حدیث کښے دَ بضع لفظ چه کوم راغلے دے نو ددے په معنو کښے هم دَعلماؤ اختلاف دے څوك وائی چه بضع دَ دریو نه واخله تر دَ لسو پورے دے ته وائی څوك وائی چه دَدریو نه واخله دَ نهو پورے. خلیل وائی چه بضع اووهٔ ته وئیلے کیږی چا وئیلے دی چه دَدوو نه تر دَلسو پورے او دَ دولسو نه تر دَ شلو پورے. او دَشعبه نه مراد ټکړه ده نو معنی دَحدیث داده چه ایمان په اویا باندے دَڅو خصلتونو نوم دے قاضی عیاض وئیلے دی پورته دا خبره تیره شوے ده چه ایمان په لغت کښے یقین کولو ته وئیلے کیږی. او په شرع کښے په زړهٔ سره یقین کولو ته انیلے شی. او د شرعے دَدلائلو نه معلومیږی چه ایمان اعمالو ته وئیلے شی.

لکه په یو حدیث کښے دی چه دَټولو نه غوره خصلت دَایمان په کلمه توحید باندے یقین کول دی او دَ ټولو نه کمتر دَلارے نه ضرر رسونکے څیز لره لرے کول دی، او مونږهٔ پورته وئیلے دی چه کمال دَ ایمان په اعمالو سره او اتمام دَایمان په عبادت سره دے او عبادت کول اوددے ټولو شاخونو ملاوه ول دَتصدیق تتمه ده او دَ تصدیق دلیل دے. او دا خصلتونه دَهغه چا دی چه هغه تصدیق لری نو هغه دَایمان نه خارج نهٔ دے نهٔ دَایمانی شرعی نه او نهٔ دَایمان لغوی نه، او رسول الله ﷺ دے خبرے لره بنودلے ده چه غوره په دے ټولو خصلتونو کښے توحید دے چه هغه په هر سړی باندے واجب دے او یو شاخ هم بغیر ددے نه قائمیدے نهٔ شی، لکه دائے یوهٔ زیلی ده. او

سرې باندې واجب دې او يو شاخ هم بغير ددې نه قائميدې نۀ شي، لکه دا ئې يوه زيلي ده. او ددې تولو نه کمتر خصلت دادې چه دَ کوم څيز نه

مسلمانانو ته دَضرر رسيدو امکان وي يا ګمان وي لکه اغزي وغيره دَلارې نه لرې کول او ددې دواړو په مابين کښې ډير خصلتونه دي چه هغه په کوشش کولو سره معلوميږي او بعضو په دې کښې کوشش کړې دې مګر په هغې باندې يقين نۀ شي کيدې. چه دا دَرسول الله ﷺ په زړه کښې وه او ددې نه پيژندګلي په ايمان کښې څه فرق يا نقصان نۀ کوي په دې واسطه چه اصول او فروغ دَايمان ټول معلوم او محقق شوې دي البته اجمالا يقين کول چه دَ ايمان خصائل دومره قدرې ضروري دي. دَقاضي عياض ؒ کلام ختم شو.

حافظ ابن حبان وائي چه ما په دې حديث کښې دَيوې پورې مدې پورې غور اوکړو او دَ عباداتو او اطاعاتو شمار ~~مې اوکړو نو هغه~~ په اوياؤ باندې څو ډير زيات دي بيا ما دَ حديثو طرف ته رجوع اوکړه او کوم عبادتونه چه رسول الله ﷺ په ايمان کښې شمار کړې دي هغه مې يو ځائې کړل نو لويا باندې څه کميږي په آخر کښې مې دَ الله پاك کتاب طرف ته رجوع اوکړه او هغه مې يو ځائې کړل او بيا په غور باندې مې اولوستو او کوم عبادتونه چه الله په ايمان کښې داخل کړې دي هغه مې يا ځائې کړل نو هغه هم دَ اوياؤ نه څه کميږي. بيا ما قرآن او حديث لره ملاؤ کړل او کوم عبادتونه چه مکرر ملاؤ وو هغه مې ترې نه اويستل نو دَ الله او دَهغه دَ رسول بيان کړې شوې عبادتونه چه ملاؤ شو نو په اويا باندې نهۀ شول نۀ زيات او نۀ کم هر کله چه ما دا يقين اوکړو چه مراد دَ حضور ﷺ دا عبادتونه دي او ابن حبان دې تولو عبادتونو لره په خپل کتاب شعب الايمان کښې بيان کړې دي او په دې فن کښې دَتولو نه ښکلې کتاب منهاج دې دَابو عبد الله حليمي بل کتاب شعب الايمان دې دَامام بيهقي او ابن حبان وائي چه په شپيتو باندې دَ څو دَپاسه دا روايت هم صحيح دې ددې دَپاره دَ عربو خلق ګنتي بيانوي او ددې دا غرض نۀ دې چه ددې زيات نوۀ نشته دې. (انتهي کلام النووي)

په سراج الوهاج کښې مولانا سيد محمد صديق حسن خان صاحب بهادر فرمائيلي دي چه شعب الايمان دَ بيهقي خلاصه امام قزويني کړې ده بيا ما دَقزويني دَ خلاصې خلاصه کړې ده

(۱۵۳) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْاِیْمَانُ بِضْعٌ وَّسَبْعُوْنَ اَوْ بِضْعٌ سِتُّوْنَ شُعْبَةً فَاَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَدْنَاهَا اِمَاطَةُ الْاَذٰی عَنِ الطَّرِیْقِ وَالْحَیَاءُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْاِیْمَانِ : [راجع ۱۵۲]

ترجمه : دَابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دَ ایمان په اویا باندے څو یا په شپیتو باندے څو شاخونه دی په دے تولو کښے غوره لا اله الا الله دے او ادنیٰ په دے کښے دَلارے نه ضرررسان څیز اوچتول دی او حیاء دایمان یو خاخ دے۔

فائده : او په یو روایت کښے دی چه حیاء په ایمان کښے ده او په دویم روایت کښے دی چه دَحیاء نه نۂ کیږی مګر نیکی. او په یو روایت کښے دی چه حیاء بالکل خیر دے۔ واحدی وائی چه حیاء او استحیاء دواړه دَحیات نه وتلے دی او حیاء دَانسان قوت حیات دے نو دَ کوم سړی چه احساس لطیف او حیات ئے قوی دے په هغه کښے حیاء وی جنید بغدادی وائی چه حیاء دَ نعمتونو لیدل او په خپلو تقصیراتو باندے غور کول ددے نه یو حالت پیدا کیږی چه هغے ته حیاء وائی۔ په اخلاقو کښے فضایلِ نفس درے دی عفت او شجاعت او عدالت بیا حیاء دَ عفت یو شعبه ده ابو علی ابن مسکویه په کتاب الطهارت کښے وئیلے دی چه حیاء دَنفس دَبدو خبرو نه ورکیږی او دَبدی نه پرهیز کول دی. قاضی عیاض وائی چه حیاء یو خلقی صفت دے بیا ئے دے لره په ایمان کښے داخل کړے دے ددے دَپاره چه کله حیاء پیدا کیږی دَریاضت او کسب نه لکه اخلاق حسنه چه په ریاضت سره حاصلیږی او کله خلقی وی لیکن دَحیاء استعمال دَشرعی دَقانون موافق محتاج وی کسب او نیت او دَ علم طرفته نو هغه په ایمان کښے دے ۔ او دویمه داچه حیاء نیك کارونه کوی او دَ ګناهونو نه بچ کول کوی مګر داچه کوم ئے فرمائیلے دی چه حیاء بالکل خیر دے او نه کیږی ددے نه مګر خیر. نو په دے کښے دا اشکال کیږی چه بعضے وخت دَحیاء په وجه سره انسان دَحقے خبرے دَ وئیلو نه منع شی او امر بالمعروف او نهی عن المنکر پریږدی. او کله دَحیاء دَوجے نه دَ هغه حقوق تلف کیږی نو خیر یوائے څنګه شو ددے جواب دادے چه دا حیاء نۂ ده دا خو عجز او ناتوانی ده دے ته ئے حیاء مجازا وئیلے ده لیکن په حقیقت کښے حیاء دَهغه خلق نوم دے چه هغه دَبدے خبرے نه منع کوی او نیے خبرے طرفته رابلل کوی او دَچا حقدار په حق کښے دَقصور کولو نه منع کوی او دَجنید قول په دے باندے دلالت کوی۔ (نوویؒ)

(۱۵۴) عَنْ سَالِم عَنْ اَبِيه انّه سَمِعَ النّبِی ﷺ رَجُلًا يَعِظُ اخاهُ فِی الْحياء فقال الْحياء من الْاِيْمَان : [ترمذی : ۲۶۱۵، ابن ماجه : ۵۷]

ترجمه : سالم دَخپل پلار حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روايت کړے دے چه رسول الله ﷺ واوريدل چه يو سړی خپل ورور ته دَحياء په باب کښے نصيحت کوو حضور ﷺ اوفرمائيل (دے پريږدی يعنی دَحياء نه ئے مهٔ منع کوی.) حياء په ايمان کښے داخله ده.

(۱۵۵) عن الزهری بهذا الاسناد وقال : مر برجل من الانصار يعظ اخاه:

ترجمه : او ددے روايت دا الفاظ دی يعنی حضرت ﷺ په يو انصاری باندے تير شو چه هغه انصاری خپل ورور ته نصيحت کولو.

(۱۵۷) عن عِمْران بْن حُصَيْن يحدّث عن النّبی ﷺ انّه قال اَلْحياء لا ياتی الّا بخير فقال بُشَيْر بْن كَعْب انّه مَكْتُوب فِی الْحِكْمة انّ منه وقَارًا ومِنْه سَكِيْنَةٌ فقالَ عِمْران اُحدّثُک عَنْ رسُوْلِ اللّه ﷺ وتحدّثنی عَنْ صُحُفک : [بخاری : ۶۱۱۷]

ترجمه : عمران بن حصين بيان کړے وو چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه حياء نه نهٔ کيږی مګر خير بشير بن کعب وئيلے دی چه دَحکمت په کتابو کښے ليکلی دی چه دَحياء نه وقار پيدا کيږی. او دَحياء نه آرام زړه ته حاصليږی. عمران اووے زهٔ خو تاته درسول الله ﷺ حديث بيانووم او تهٔ دخپلو کتابونو خبرے کوے.

فائده : وقار وانی په سوچ او پوهے سره يو کار کولو ته او ددے خلاف چهچهورا پن دے چه په تادی سره څه په خيال کښے راشی او اوشی او دهغے په اِنجام باندے سوچ اونهٔ شی لکه چه دځناورو خيال دے او سکينه هم وقار ته وانی يعنی سکون نفس او دَ ثباتِ حرکات وخت او ددے په خلاف کښے دے اضطراب او عجلت (يعنی تلوار کول)

(عمران بن حصين بشير بن کعب ته اووے چه زه خو تاته دَرسول الله ﷺ حديث بيانووم او تهٔ دَخپلو کتابونو خبرے کوے) يعنی دَ قرآن او حديث په مخکښے دَ حکيمانو اقوال بيانول بے موقعے دی. او اګر چه حکيم ډير دانشور او عقيل وو مګر بيا هم ددهٔ نه په زرګونو

غلطیانے شوے دی، دحکیم رتبه دپیغمبر نه ډیره کمه ده بیا دَ پیغمبر ﷺ قول چه کله ملاؤ شی نو اوس دحکیمانو خبره لتول بے کاره دی.

(۱۵۷)عن ابی قتادة قال كنا عند عمران ابن حصين في رهط منا وفينا بشير ابن كعب فحدثنا عمران يومئذ قال قال رسول الله ﷺ الحياء خير كله قال او قال الحياء كله خير فقال بشير ابن كعب انا لنجد في بعض الكتب او الحكمة ان منه سكينة ووقارا لله تعالى ومنه ضعف قال فغضب عمران حتى احمرتا عيناه وقال الا اراني احدثك عن رسول الله وتعارض فيه قال فاعاد عمران الحديث قال فاعاد بشير فغضب عمران قال فما زلنا نقول فيه انه منا يا ابا نجيد انه لا باس به : [ابوداود : ۴۷۹۶]

ترجمه : دَابو قتادةؓ نه روایت دے چه مونږه دَ عمران بن حصینه سره زمونږه دَخلقو نه په یو رهط کښے وو (رهط واتی دَلسو نه دَکمو سړو جماعت ته) او زمونږه په دے خلقو کښے بشیر بن کعب (ابن ابی الحمیری عدوی ابو ایوب بصری) هم وو عمرانؓ یوه ورځ حدیث بیان کړو چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی حیاء تول خیر دے یا حیاء بالکل خیر دے بشیر بن کعب واتی چه مونږه په بعضے کتابونو یا حکمت کښے لیدلے دی چه حیاء خو یو قسم سکینه اووقار دے دَ الله تعالی دپاره او یوه حیاء ضعف نفس دے ددے په اوریدو سره عمران ته غصه ورغلے او دَهغه سترګے سرے شوے او هغوی اووے چه زهٔ خو دَرسول الله ﷺ حدیث بیانووم او تهٔ دَهغے خلاف بیان کوے ابو قتادةؓ واتی چه عمران بیا دوباره دے حدیث لره بیان کړو. بشیر بیا دوباره ورته هغه خبره اوکړه نو عمران غصه شو (او هغوی بشیر ته دَسزاء ورکولو اراده اوکړه) مونږ تولو اووے اے ابا نجید (دا کنیت دے دَ عمران بن حصین) بشیر زمونږ نه دے (یعنی مسلمان دے) په دهٔ کښے څه عیب نشته (یعنی هغه منافق یا بے دینه یا بدعتی نهٔ دے لکه څنګه چه تهٔ خیال کوے.)

فائده : یوه حیاء ضعف نفس ده یعنی پودا پن او ډرپوك پنا ،پست حاصلګی چه دَهغه په زړه کښے طاقت نه وی وینه په هغه کښ کمه وی هغه ته دا صفت اکثر لاحق کیږی دے ته په عربی کښے عجز او خوَر او مهانت هم وائی ددے صفت دَونے نه په انسان کښ دنائت او لئامت

پیدا کیږی هغه خپل حقوقو لره پورا پورا نهٔ شی حاصلولے بریږی آخر چه څه ورته ملاویږی په هغے باندے قناعت کوی او وینه نهٔ تویوی۔ بلکه دَخپلو حقوقو دَحاصلولو دَپاره کوشش هم نهٔ کوی، اکثر دَهندوستان خلق په دے بدعادت کښے مبتلا دی او دا دَاخلاقِ بهیمیه نه دے چه ددے نه همیشه منع کول راغلی دی او دا په حقیقتً کښِ حیاء نهٔ ده چه د صفاتِ حمیده او اخلاقِ فاضله نه ده خو بعضے په دے باندے دَحیاء اطلاق په مغالطه سره یا مجازا کړے دے۔

دیو جانس حکیم چه په یونان کښِ وو هغه هم وئیلے دی چه حیله دَ ضعف نفس نه پیدا کیږی او دے لره پریخودل پکار دی مراد ددغے حیاء نه هم صفت رزیله ده نه هغه حیاء کومه چه انسان دَبدو خبرونه منع کوی هغه خو په اتفاق سره ښکلے صفت دے۔ (عمران بن حصین بشیر بن کعب ته اووے زهٔ خو دَرسول الله ﷺ حدیث بیانووم او ته دهغے خلاف بیان کوے) هر چند په حدیث کښِ چه کوم مطلب دے هغه بالکل صحیح دے ولے چه مراد دَحضور ﷺ دَ حیاء نه هغه صفت دے چه هغه دَاخلاقِ فاضله نه دے چه دَهغے بیان اوس اوشو او کوم چه انسان دَ قبائحو نه او دَ گناهونو نه منع کوی او بالکل دا خیر دے۔ سراسر بهتری ده او دَحکمت په رو سره چه کوم امر ثابت دے هغه هم صحیح دے، ددے دَپاره چه حکیمانو دے حیاء ته بده نهٔ ده وئیلے بلکه ضعف نفس لره چه هغه په حقیقت سره په حیاء کښِ داخل نهٔ دے او دواړو قسم قولونو کښے دَڅه قسم تعارض یا خلاف نشته۔ خو چونکه بشیر دَ حیاء اطلاق په دے بد صفت باندے هم کړے دے او حیاء ئے په دوه قسمه باندے تقسیم کړے ده یو ښهٔ او بله بده، او دَ ظاهر نه دا خبره وتلے ده چه حیاء سراسر خیر دے نو په ظاهر گویا دَحدیث په خلاف کښے یوه خبره وئیلے ده، او دَحکمت خبرے لره په مقابله د حدیث کښے بیان کړے ده ددے دَپاره عمرانؓ غصه شو په اسراج الو هاج کښے دی چه اکثرو سلفو بلکه دَ خلفو صلحاؤ داسے غصه او انکار کړے دے په هغهٔ سړی باندے چه دَرسول الله ﷺ په مقابله کښے : چ بل قول بیان کړی، اګر چه هغه هر څومره دَاوچتے درجے وی ددے دَپاره چه دَیو صحابیؓ یا دَ ولیؒ یا مجتهد درجه او مرتبه دَ حضور برابر نهٔ شی کیدے بیا دَهغه خبره هم دَ رسولِ کریم ﷺ دَارشاد په خلاف کښے محض بے وقعت او بے اعتباره ده او حاصله داده چه سوا دَ حضور ﷺ نه نور چه څومره خلق دی دَټولو دَاقوالونه څه دَاخستو

قابل دی او څه ذ پریخودو قابل دی۔ په قول د خذ ماصفا ودع ما کدر او زهٔ حیرانیږم هغه سری ته چه ایمان راوړی په الله باندے او د هغه په رسول باندے او په ورځ دقیامت باندے چه د هغه زړه څنګه منی چه د رسول الله ﷺ حدیث واوری او بیا په دے امت کښے دبل چا خبره اوری یائے منی او دبل چا خبره وړاندے کوی د رسالتِ مآب ﷺ په خبره باندے. چه د هغه په شان کښے دا آیت نازل شوے دے "وما ینطق عن الهوی ان هو الا وحی یوحی"

باب جامع اوصاف الاسلام :

باب : د اسلام د جامعه اوصافو بیان :

(۱۵۹) عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قُلْ لِيْ فِي الْإِسْلَامِ قَوْلًا لَا اَسْئَلُ عَنْهُ اَحَدًا بَعْدَكَ وَفِيْ حَدِيْثِ اَبِيْ اُسَامَةَ غَيْرَكَ قَالَ قُلْ آمَنْتُ بِاللّٰهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ : [ترمذی : ۲۴۱۰، ابن ماجه : ۳۹۷۲]

ترجمه : د سفیان بن عبد الله ثقفیؓ نه روایت دے ما اووے یا رسول الله ﷺ ماته په اسلام کښے یوه داسے خبره اوښایه چه بیا زهٔ هغے لره ستانه پس د چا نه تپوس نهٔ کووم حضور ﷺ اوفرمائیل چه اووایه ما په خدائے پاك باندے ایمان راوړے دے او بیا په هغے باندے استقامت اختیار کړه دابو اسامه په روایت کښے دی چه ستا نه سوا د چانه (تپوس نهٔ کووم)

فائده : قاضی عیاض وائی چه دا حدیث په جامع الکلم کښے دے او د الله تعالیٰ د قول "ان الذین قالوا ربنا الله ثم استقاموا" مطابق دے یعنی کومو خلقو چه اووے چه زمونږه پروردګار الله دے او بیا ئے په هغے باندے استقامت اونیوو یعنی د الله پاك په توحید او په هغه باندے ایمان راوړی او په هغے باندے جمعه پاتے شی یعنی دتوحید نه اونهٔ تختی او په شرك کښے اونهٔ نخلی او د الله پاك اطاعت په ځان باندے لازم کړی تر دے پورے چه په دے حال باندے مړ شی۔ او دا تفسیر دے ددے آیت د اکثرو مفسرینو او صحابه کرامو او د هغه چاچه چه ورستو زمونږ نه دی ددے مطابق او دا معنی ده ددے حدیث ۔ د قاضی عیاضؒ کلام تمام شو۔ ابن عباسؓ وائی چه د الله پاك په دے قول کښ "فاستقم کما امرت " چه په رسول الله ﷺ باندے په ټول قرآن کښے یو آیت ددے

په دے قول کښې "فاستقم کما امرت " چه په رسول الله ﷺ باندے په ټول قرآن کښې یو آیت دومره زیات ګران او سخت نهٔ دے نازل شوے او په دے واسطه هر کله چه صحابوؓ هغوی ته اووے چه حضرت تهٔ ډیر زر بوډا شوے نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه زهٔ سورت دهر او دَهغے په مثل سورتونو بوډا کړم۔

استاذ ابو القاسم قشیری په خپله رساله کښې لیکلی دی چه استقامت هغه درجه ده چه په دے سره تمام کارونه پوره او کامليږي، او په دے صفت سره تمامے نیکۍ حاصليږي او دَهغے انتظام کيږي او په کوم بنده کښې چه استقامت او استقلال نهٔ وي دَ هغه تمام کوشش ناکامه اوے ځایه دے او دَهغه سعي تولهٔ بے نتیجے ده. بعضو وئیلے دی چه استقامت یو داسے صفت دے چه دے لره لوے لوے خلق کوي ولے چه هغه دَ رسوماتو پریخودو سره او خلافِ شریعت عاداتو په پریخودو سره او خلوص او صدق سره دَ خدائے په مخکښے دَ اودریدو نه حاصليږي په دے واسطه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی استقامت کوي او تاسو هیڅ کله تمامے نیکۍ نهٔ شی کولے۔ واسطی وائی استقامت هغه حصلت دے چه په هغے سره تمامے نیکۍ پوره کيږي او ددے په نهٔ کیدو سره ټولے نیکۍ خرابيږي او مسلم په خپل صحیح کښے دَسفیان بن عبد الله ثقفی نه صرف دا حدیث روایت کړے دے او دا حدیث ترمذی هم روایت کړے دے او دومره نے زیات کړے دے چه ما اووے یا رسول الله ماته دَهر څیز نه زیات دکوم څیز نه یریدل پکار دی هغه خپله ژبه اونیوله او وے فرمائیل ددے نه. ولے چه اکثر ګناه دَژبے نه صادريږي او اکثر آفتونه او بلاګانے په انسان باندے دَژبے دَوجے نه راځی او دَ تربیت شروع په حکماء کښے دغه ده. چه وړومبے انسان خپلے ژبے لره قابو کړی او اوګوری چه ددهٔ دَ ژبے نه کومے خبرے راوځی هغه مناسب دی یا غیر مناسب دی. او لازمه ده چه دَ مصلحت نه خلاف یوه خبره دَژبے نه او نهٔ باسی۔

باب تفاضل الاسلام وای اموره افضل :

باب : دَخصائلِ اسلام فضیلت او دَدے خبرو بیان چه په اسلام کښے کوم یو کار افضل دی :

وتقرئ السلام على من عرفت ومن لم تعرف : [بخاری : ۱۲ ، ۲۸ ، ۶۲۳۶ ، ابو داود : ۵۱۹۴ ،
ابن ماجه : ۳۲۵۳]

ترجمه : دعبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه یو سړی درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه کوم یو اسلام غوره دے حضور ﷺ اوفرمائیل (دا چه ته به اوړی او میلمه باندے غله اوخوره وے) چه ته طعام اوخوروے او دهر سړی سره السلام علیکم کوے خواه که ته هغه پیژنے یا نے نه پیژنے۔

فائده : کوم یو اسلام غوره دے یعنی داسلام کوم یو خصلت غوره دے او سنت داسلام دغه دی چه په دے حدیث سره بیان شول چه مسلمان ته به السلام علیکم کوے. خواه که دده سره پیژن ګلی وی اوکه نه وی او دا عادت چه کوم خلقو اختیار کړے دے چه هغه سړی ته سلام کوی چه دهغه سره پیژن ګلی وی دا عادت بنه نه دے ۔

(۱۶۱)عن عبد الله بن عمرو بن العاص يقول ان رجلا سال رسول الله ﷺ فقال اى المسلمين خير قال من سلم المسلمون من لسانه ويده :

ترجمه : د عبد الله بن عمرو بن العاصؓ نه روایت دے چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه کوم مسلمان بهتر دے حضور ﷺ اوفرمائیل چه هغه مسلمان چه دهغه د ژبے نه او لاسونو نه نور مسلمانان بچ پاتے شی۔ (یعنی نه په ژبه سره دچا مسلمان بد وائی او نه په لاسونو سره چاته ضرر رسوی۔)

(۱۶۲)عن جابر يقول سمعت النبى ﷺ يقول المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده :

ترجمه : دحضرت جابرؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلے ئے وو چه مسلمان هغه دے چه دهغه د ژبے او لاسونو نه نور مسلمانان بچ پاتے شی۔

(۱۶۳) عن ابى موسى قال قلت يا رسول الله قال قلت يا رسول الله اى الاسلام افضل قال من سلم المسلمون من لسانه ويده : [بخاری : ۱۱ ترمذی : ۲۵۰۴ ، نسائی : ۵۰۱۴]

ترجمه : دابو موسی اشعریؓ نه روایت دے ما اووے یا رسول الله ﷺ کوم اسلام غوره دے حضور ﷺ اوفرمائیل چه دچا دژبے او لاسونو نه نور مسلمانان محفوظ پاتے شی۔

حضور ﷺ اوفرمائيل چه دَچا دَژبے او لاسونو نه نور مسلمانان محفوظ پاتے شي۔

فائده : نوويؒ وائي چه کله افضل حضور ﷺ هغه مسلمان ته ونيلے دی چه هغه په خلقو باندے غله خوره وی او هر چاته سلام کوی او کله ئے هغه چاته افضل ونيلے دی چه دَهغه دَ ژبے او لاسونو نه نور مسلمانان بچ پاتے شی دا اختلاف په وجه دَ اختلاف دَ احوالو دَ سائلينو او حاضرينو ۔ نو په يو مقام کښے دَ سلام او طعام يعنی دَخورلو او څکلو زيات ضرورت معلوم شو نو حضور ﷺ دے لره بيان اوفرمائيلو۔ او په يوه موقعه باندے دَ ضرر رسولو نه دَبچ کولو ضرورت معلوم شو نو حضور ﷺ دے لره بيان اوفرمائيلو او دا کوم چه ئے فرمائيلے دی چه مسلمان هغه دے چه دَهغه دَ ژبے نه او لاسونو نه نور مسلمانان بچ پاتے شی نو مطلب دادے چه کامل مسلمان دغه ے چه په هغه کښے دا صفت وی۔

لو دا غرض نهٔ دے چه په چا کښے دا صفت نهٔ وی هغه مسلمان هم نهٔ دے او په دے حديثو کښے نور ډير فوائد دی، يو خو دا چه غله خوره ول او سخاوت کول او مسلمانانو ته فائده رسول دَدين ډير ضروری کار دے دويم داچه مسلمانانو لره دَ ضرر ورکولو نه بچ کيدل پکار دی خواه که هغه په ژبه سره ضرر وی يا څه فعل سره دَچا توهين يا حقارت نهٔ کول پکار دی دريم په دے کښے دَ مسلمانانو دَزړه دَ يو ځائے کيدو او اتفاق او په خپلو کښے دَمحبت او دَدوستی او مينے ساتلو يو ترغيب دے۔ قاضی عياضؒ وائی چه خپلو کښے مينه ساتل او اتفاق کول دَدين فرضو کښے يو فرض دے او دَ شريعت لوے رکن دے۔ او په دے سره دَاسلام انتظام دے څلورم حکم دے دَسلام کولو په هر مسلمان باندے خواه دَهغه سره پيژن ګلی وی يا نهٔ وی او مراد دَ هر سری نه هر مسلمان دے۔ نودا عام، خاص کړے شوے دے او کافر ته سلام کول ضروری نهٔ دی۔ پنځم هدايت دے دَ اخلاص دَ عمل په واسطه۔ شپږم ارشاد دے دَعاجزی او انکساری طرف ته چه هغه شعار دَاسلام دے۔

(۱۶۴) عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ اَیُّ الْمُسْلِمِيْنَ اَفْضَلُ ؟ فَذَكَرَ مِثْلَهٗ :

ترجمه : په دے روايت کښې دَدويم اسناد سره دا الفاظ راغلی دی چه په هغے کښې دَ رسول الله ﷺ

نه تپوس اوکړے شو چه کوم یو مسلمان افضل دے؟ بیا ئے دَ وړاندے حدیث په مثل حدیث ذکر کړو.

باب بیان خصال من اتّصف بهن وجد حلاوة الایمان :

باب : دَهغه خصلتونو بیان چه په هغے سره څوك متصف وی هغه ته به دَایمان حلاوت حاصلیږی:

(۱۶۵)عَنْ اَنس عَنِ النبی ﷺ قَالَ ثلاث من كنّ فِيْه وجد بهنّ حلاوة الْإِيْمان منْ كَان اللّهُ ورسُوله احبّ اِلَيه ممّا سواهُمَا وان يُحبّ الْمرء لَا يُحبّه الا اللّه وان يّكْره اَن يعُودَ فِي الْكُفر بَعْد ان انقذهُ اللّهُ مِنْه كمَا يكْفرهُ ان يّقْذف فِي النّارِ :[بخاری : ۱۶، ۲۱، ۶۰۴۱، ۶۹۴۱، ترمذی : ۲۶۲۴، نسائی : ۵۰۰۳]

ترجمه : دَانس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه درے خبرے داسے دی چه دَ هغے په وجه سره دَایمان خوږوالے او حلاوت حاصلیږی یو خو دا چه دَالله او دَ هغه دَرسول سره دَنماmو خلقو نه زیات محبت اوساتی. دویمه دا چه دَ هر یو سړی سره دَخدائے پاك په واسطه دوستی ساتی. (یعنی ددنیا څه غرض ئے پرے نۀ وی او نۀ ترے پریږی) دریمه دا چه کفر دوباره اختیارول ورستو ددے نه چه خدائے ورته خلا صے دَ کفر نه ورکړے دے دومره بد گنړی لکه چه اور کښے غورزیدل (بدگنړی)

فائده : امام نووی وائی دا حدیث ډیر لوے دے او دَ اسلام دَاصولو نه یو اصل دے علماء وائی چه دَ حلاوتِ ایمان معنیٰ داده چه په عبادت کښے او په تکلیف اوچتولو کښے دَخدائے او دَ رسول د رضامندی دپاره لذت او مزه پیدا شی. او دَدنیا په فوائدو او منافعو باندے دَ خدائے او دَ رسول رضامندی وړاندے کړی او دَ خدائے پاك محبت داد ے چه دَهغه حکم به منی او دَهغه مخالفت لره به پریږدی. دغه شان دَرسول الله ﷺ محبت دے. قاضی عیاض وائی دا حدیث ددے مطلب دے لکه چه پورته تیر شو یو حدیث چه دَایمان مزه اوڅکله هغه چا چه هغه دَ خدائے د. خدائی سره او دَ محمد ﷺ دَ پیغمبری سره او دَاسلام او دَ دین سره راضی شو. ددے دپاره چه

دَخدائے او دَرسول محبت دغه شان خالص دخدائے دپاره دبل مسلمان سره محبت اودغه شان دَ کفر لره دوباره اختیارولو نه نفرت نهٔ شی کیدے مگر هغه سړی ته چه دهغه ایمان او یقین زور اور دے. او دهغه زړه ته اطمینان دے لو دهغه سینه کشاده ده او ایمان دهغه په غوښه او وینه کښے اثر کړے دے دا هغه سړے دے چاچه دایمان خوږوالی موندلے دے او دَخدائے دپاره دچاسره محبت ساتل دخدائے د محبت میوه ده. او بعض وائی چه د خدائے محبت دادے چه خپل زړه دَ خدائے د مرضی مطابق کړی نو څه چه خدائے ته غوره دی هغه دے دهٔ ته هم غوره وی او څه چه خدائے نه غوره نهٔ وی هغه دے دهٔ ته هم غوره نهٔ وی. او په دے باب کښے د متکلمینو عبارتونه مختلف دی. لیکن مطلب ئے یو دے او حاصل دادے چه محبت یو میل او خواهش دے بیا دا میل کله خو هغه طرف ته وی چه هغه بالطبعه انسان ته مرغوب دی لکه ښکلوالے. خوش آوازی. دَخوراك ذائقه، او کله دهغه څیزونو طرف ته وی چه دَهغے حسن دعقل نه معلوم شوے دے لکه: صالحینو سره محبت او دَ علماؤ محبت او دَ فضل دَ خاوندانو سره محبت.

او کله دا میل ددے وجے نه کیږی چه چا په دهٔ باندے احسان کړے دے یا ئے دَ تکلیف او نقصان نه بچ کړے وی او دا تمامے خبرے زمونږه په رسول کریم ﷺ کښے موجود وی. ولے چه تمام کمالات ظاهری او باطنی په هغه کښے موجود او جمع وو، او تمام فضائل او محاسنِ اخلاق په هغه کښے موجود وو او دَ هغه احسان او فیض خو دومره عام دے چه دَ ټولو مسلمانانو په گردن بانده دے او مسلمانانو لره ئے همیشه همیشه آرام غوښتلے دے . او دَ جهنم دَ عذاب نه ئے بچ کړے دی. بیا د الله پاك احسان خو دَ ټولو نه زیات دے ولے چه هم هغه حضور ﷺ لره پیدا کړو او بیا ئے خپل پیغمبر ﷺ جوړ کړو او زمونږه طرف ته ئے خپل رحمت راواولیږو. پس په حقیقت او اصل کښے دا د رب ذوالجلال محبت دے. محبت دَ رسول الله ﷺ او صحابه کرامؓ او اهل بیتوؓ او صالحینو او اولیاء الله دالله د محبت طرف ته راجع دے. نو دَ الله محبت بالذات دے دباقی ټولونه. یعنی دخدائے دَ محبت لاندے دی او څوك چه سوا دَخدائے نه څه بل څیز سره محبت بالذات لری. هغه دَ الله په نزد باندے مشرك دے یحبونهم کحب الله دا صفت دے دمشرکینو او د مؤمنانو صفت دادے " والذین آمنوا اشد حبا لله " (نوویؒ)

(۱۶۶)عن انس بن مالک قال قال رسول اللہ ﷺ ثلث من کن فیه وجد طعم الایمان من کان یحب المرء لا یحبه الا لله ومن کان الله ورسوله احب الیه مما سواهما ومن کان ان یلقی فی النار احب الیه من ان یرجع فی الکفر بعد ان انقذه الله منه ؛

ترجمه : دانس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه چا کښے درے خبرے وی هغه به دایمان مزه موندے شی کوم سرے چه دچاسره دوستی ساتی بیا دهغه سره دوستی نهٔ کوی مگر دٔ خدائے دپاره (یعنی دٔ خدائے نیك بنده نے اوګنړی) او کوم سړے چه دَ الله او دَ رسول سره دوستی لری، دَ نورو ټولو خلقو او څیزونو نه زیات، او کوم بنده چه اور ته غورزیدل غوره کړی مګر بیا کفر اختیارول غوره نهٔ کړی. هر کله چه الله پاك ده ته دَ کفر نه خلاصے ورکړو .

فائده : مراد ددے نه هغه خلق دی چه هغه وړاندے کافر یا مشرك وو بیا خدائے پاك دوی لره په اسلام باندے مشرف کړل، نو ددوی اسلام به دوی ته هله مزه ورکوی چه دَ کفر ددین نه دومره بیزار وی چه په اور کښے غورزیدل قبلوی خو کفر نهٔ قبلوی۔

(۱۶۷) عن انس قال : قال رسول الله ﷺ بنحو حدیثهم غیر انه قال من ان یرجع یهودیا او نصرانیا

ترجمه : حضرت انس فرمانی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی (بیا نے دَ وړاندے حدیث په شان حدیث بیان کړو مګر په آخر کښں نے دا لفظ دے چه هغه واوړی یهودیت یا نصرانیت طرف ته)

باب وجوب محبة رسول الله ﷺ اكثر من الاهل والولد والوالد والناس اجمعين واطلاق عدم الايمان على من لم يحبه هذه المحبة :

باب : دَرسول الله ﷺ سره دَاولاد او مور او پلار نه او دَټولو خلقو نه زیات محبت ساتل واجب دی او دَچا چه رسول الله ﷺ سره داسے محبت نهٔ وی هغه مؤمن کیدے نهٔ شی۔

(۱۶۸)عن انس قال قال رسول الله ﷺ لا یؤمن عبد وفی حدیث عبد الوارث الرجل حتی اکون احب الیه من اهله وماله والناس اجمعین :[بخاری : ۱۵ ، نسائی : ۵۰۲۸، ۵۰۲۹، ابن ماجه :

[بخاری : ۱۵ ، نسائی : ۵۰۲۸، ۵۰۲۹، ابن ماجه : ۶۸]

ترجمه : دَحضرت انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه بنده مؤمن نهٔ شی کیدے دکومے پورے چه هغه ته زما محبت دکور والو نه او دَ مال او دَ تمامو خلقو نه زیات نهٔ وی لو دَ عبد الوارث په روایت کښے دی چه یو سړے مؤمن کیدے نهٔ شی۔

فائده : خطابی وائی چه مراد هغه محبت نهٔ دے چه هغه طبعی وی او غیر اختیاری وی بلکه مقصود محبت اختیاری دے نو مطلب دادے چه دَ رسول الله ﷺ اطاعت او دَهغه دَ ارشاداتو تعمیل دَ هر څه مقدم اولری۔ پلار مور بنځه اولاد دوستان آشنایان دا تمام کهٔ ناراضه کیږی نو قبلوه ئے خو دَ خدائے او دَ رسول نافرمانی هیڅ کله مهٔ اختیاره وه۔ دا رښتونے محبت دے چه په دے باندے دَایمان مدار دے ابن بطال او قاضی عیاض وائی چه محبت په درے قسمه باندے دے یو خو محبت دَ مشری او بزرګی په وجه دے لکه دَخوی چه دَپلار سره وی او دَ شاګرد چه دَ استاذ سره وی۔ دویم محبت دَ شفقت او دَ مینے دَ وجے نه دے، لکه دَ پلار او مور چه اولاد سره وی، دریم محبت دَ هم شکل او هم خیال کیدو په وجه سره وی لکه دَ دوستانو او آشنایانو چه محبت وی. نو حضور ﷺ دے تمامو محبتونو لره جمع کړے دی۔

ابن بطال وائی چه دَ حدیث مطلب دادے چه دَچا ایمان کامل وی او هغه ددے خبرے یقین کوی چه دَرسول الله ﷺ حق په دهٔ باندے زیات دے ددهٔ دَ پلار او مور او اولاد دَ حق نه ولے چه رسول الله ﷺ په طفیل سره مونږ ته دَ جهنم نه خلاصے ملاؤ شوے دے او مونږه دَ ګمراهئ نه وتلے یو او هدایت مو موندلے دے۔ قاضی عیاض وائی چه دَ رسول الله ﷺ دَمحبت نه یو خبره دا هم ده چه دَهغه دَ سنتو مدد کول او دَهغه په شریعت باندے چه څوك اعتراض لوکړی دَهغے جواب کول او دَحضور ﷺ سره دَ ملاقات آرزو لرل اګر که جان او مال ئے پرے قربان شی۔ او هر کله چه دا خبره معلومه شوه چه دَایمان حقیقت نهٔ پوره کیږی بغیر دَهغه دَ محبت نه او ایمان نهٔ صحیح کیږی تر هغے چه دَ رسول الله ﷺ قدر او منزلت دَپلار اومور، بزرګ او محسن، دَتولو نه زیات په زړه کښے نهٔ وی او دَچاچه دا اعتقاد نهٔ وی هغه مؤمن کیدے نهٔ شی۔

(۱۶۹) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُم حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهٖ

ووالده والنّاس اجمعین: [بخاری: ۱۳، ترمذی: ۲۵۱۵، نسائی ۵۰۳۱، ۵۰۵۴، ابن ماجه: ۶۶

ترجمه: د انس بن مالک نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ستاسو نه څوك مؤمن کیدے نۀ شی دکومے پورے چه هغه سره زما محبت د اولاد نه، د مور او پلار نه، او د تمامو خلقو نه زیات نۀ وی.

باب الدلیل علی ان من خصال الایمان ان یحب لاخیه المسلم ما یحب لنفسه من الخیر:

باب: د ایمان خصلت دادے چه د خپل مسلمان رور د پاره هغه څیز غواړی کوم چه د ځان د پاره غواړی:

(۱۷۰) عنْ انسِ بنِ مالک عنِ النّبی ﷺ قال "لا یُؤمنُ احدکُم حتّی یُحبّ لاخیه او قال لجاره ما یحبُّ لنفسه: [بخاری: ۱۳ ترمذی: ۵۰۳۲]

ترجمه: د انس بن مالک نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك په تاسو کښں مومن کیدے نۀ شی تر څو پورے چه هغه د خپل رور یا ګاوندی د پاره هغه څه اونۀ غواړی کوم څه چه د خپل ځان د پاره غواړی.

فائده: علماؤ وئیلی دی چه مراد دادے چه کامل مؤمن نۀ دے ګنی اصل ایمان خو بغیر د دے صفت نه هم حاصلیږی او مطلب دادے چه د خپل مسلمان رور د پاره هم عبادات او نیکی او د دنیا تمام هغه څیزونه کوم چه د خپل ځان د پاره غواړی د هغه د پاره او غواړی. د نسائی په روایت کښے دی نیکی او خوبی. ابن الصلاح وائی چه بعضو د دے صفت حاصلول سخت او محال ګنړلے دی. حالانکه دا خبره صحیح نۀ ده ولے چه مراد ادے چه ستاسو نه د چا ایمان کامل کیدے نۀ شی دکومے پورے چه هغه د خپل مسلمان رور د پاره هغه څه اونۀ غواړی کوم څه چه د ځان د پاره غواړی. یعنی د هغه د پاره هم د نعمتونو حاصلیدل بنۀ اوګنړی که پخپله ئے په کښے څه نقصان نۀ وی او دا امر ډیر آسان دے په قلبِ سلیم باندے یعنی د چا زړه چه صفا وی البته د چا زړۀ چه د کینے حسد او بغض نه ډك شوے وی په هغه باندے ډیر ګران دے. الله پاك دے مونږ لره او تمامو

زونړو لره دداسې خرابو زړونو نه اوساتي (نووي)

حاصله داده چه هر کله دچا مسلمان زور فائده کیږي او په خپله په دې کښې څه ضرر نۀ وي نو په هغې باندې خوشالیدل پکار دي او همیشه په عامه خیر خواهي او عامه همدردي کښې شریك کېدل پکار دي.

(۱۷۱) عن انس بن مالك عن النبي ﷺ قال والذي نفسي بيده لا يؤمن عبد حتى يحب لجاره او قال لاخيه مايحب لنفسه :

ترجمه : دانس بن مالك نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي قسم دې په هغه ذات چه دهغه په لاس کښې (یعني دقدرت په قبضه کښې) زما روح دې چه یو سړې مؤمن کیدې نۀ شي دکومې پورې چه هغه دخپل زور یا گاونډي دپاره هغه څه اونۀ غواړي کوم چه دځان دپاره غواړي :

باب تحريم ايذاء الجار :

باب : گاونډي ته تکلیف رسول حرام دي :

(۱۷۲) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَا يَدْخُلِ الْجَنَّةَ مَنْ لَّا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ :

ترجمه : دحضرت ابو هریرة نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه هغه سړې به جنت ته لاړ نۀ شي چه دهغه گاونډي دهغه دمکر او فساد نه محفوظ نۀ وي .

فائده : یعني ددۀ دبدي او ظلم نه په امن نۀ وي او هغه همیشه یریږي چه چرته ماته ددۀ دطرف نه صدمه رااونۀ رسي. علماء وائي چه ددې حدیث مطلب دادې چه څوك گاونډي لره تنګول درست اوګنړي او حالانکه دې پوهیږي چه دا فعل حرام دې نو هغه کافر دې چرته هم جنت ته نۀ شي تلې. یا دا غرض دې چه دۀ ته د جنت د کهولاویدو سره جنت ته تلل نۀ نصیب کیږي مګر حصار به وي دهغې پورې چه په هغه ګناه باندې عذاب شي یا ورته معافي اوشي او ضرورت ددې تاویلونو دادې . چه کوم وړاندې تیر شو چه دحق دخاوندانو مذهب دادې چه کوم سړې په توحید باندې مړ شي اګر چه ګناه کبیره نې کړې وي هغه همیشه په جهنم کښې نۀ شي

پاتے کیدے مگر خو ورځے به سزاء ورکولے شی یا به معاف کړے شی نو بیا به همه جنت ته ځی.
بهر حال ګاونډی ته تکلیف ورکول او ناحق هغه لره تنګول داسے حرام دی چه بنده لره د جنت نه محرومه کوی.

باب الحث علی اکرام الجار والضیف ولزوم الصمت الا عن الخیر و کون ذالک کله من الایمان :

باب : دګاونډی او میلمه د خاطر داری ترغیب او چُپ پاتے کیدو فضیلت او ددے خبرو په ایمان کښے داخلیدل :

(۱۷۳) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ کَانَ یُؤمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْآخِرِ فَلْیَقُلْ خَیْرًا اَوْ لِیَصْمُتْ وَمَنْ کَانَ یُؤمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْآخِرِ فَلْیُکْرِمْ جَارَهُ وَمَنْ کَانَ یُؤمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْآخِرِ فَلْیُکْرِمْ ضَیْفَهُ [بخاری : ۶۰۱۸، ابن ماجه : ۳۹۷۱]

ترجمه : دابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه په الله باندے او په ورځ د آخرت باندے یقین لری هغه له پکار دی چه یا خو ښے خبرے کوی او یا چُپ پاتے وی او کوم سړے چه الله او ورځ دآخرت باندے یقین لری هغه له پکار دی چه دخپل ګاونډی خاطر داری کوی او کوم سړے چه الله باندے او په ورځ د آخرت باندے ایمان لری هغه له پکار دی چه دخپل میلمه خاطر داری کوی.

فائده : سبحان الله څومره ښکلے نصیحت دے. نوویؒ وائی غرض دادے چه هر کله دخبرے کولو اراده اوکړی نو سوچ اوکړه چه کومه خبره کول غواړے هغه بهتره ده دثواب خبره ده واجب ده یا مستحب ده نو هغه وخت ئے اووایه او که چرے معلومه شی چه ددے خبرے په کولو کښے ثواب نشته نو چپ پاتے شه بیا خواه که هغه خبره حرامه وی یا مکروهه وی یا مباحه وی چه په هغے کښے نۀ ثواب وی او نۀ عذاب په هر حال کښے خاموشی غوره ده. نو د مباح خبرے هم نۀ ونیل غوره او اولیٰ دی ولے چه مباح خبرے انسان لره دَ مکروهو او حرامو طرف ته راکاږی. او داسے اتفاق اکثر راځی الله پاک فرمائیلی دی " ما یلفظ من قول الا لدیه رقیب عتید " یعنی کومه خبره

چه انسان دخلې نه رااوباسي ددۀ سره يو سړے دے چه هغه لار ورنې تيار دے دهغې ليکلو ته.

او اختلاف کړے دے سلفو او خلفو په دے مسئله کښې چه دانسان تمام قسم خبرے اګر چه مباح وي ليکلے شي يا صرف هغه خبرے چه په هغې کښې ثواب يا عذاب وي. دابن عباس قول دادے چه صرف هغه خبرے ليکلے کيږي چه دهغې بدله ثواب يا عذاب ملاوېږي، په دے صورت کښې آيت لره خاص کول پرے وُځي او شرع ترغيب ورکړے دے دے طرف ته چه مباح خبرے ډيرے کول بنۀ نۀ دي ولے چه انسان په ډيرو خبرو کولو سره اګر چه مباح وي په حرامو يا مکروهه خبرو کښې مبتلا کيږي. امام شافعي ددے حديث دا مطلب بيان کړے دے چه انسان لره دَ خبرے کولو نه وړاندے فکر کول پکار دي بيا که چرے دۀ ته ددے خبرے تحقيق اوشي چه په دے خبره کښې څه نقصان نشته دے نو هغه خبره دے اوکړي او که چرے دا امر متحقق شي چه ددے نه به څه ضرر پورته شي يا دَ عدم ضرر دَ پورته کيدو شک وي نو چپ دے پاتے شي. امام ابي زيد مالکي وائي چه تمام آداب او اخلاقِ حسنه دَخلورو حديثو نه وتلي دي. يو خو دغه حديث دوېم هغه حديث چه دَ بنده بنۀ اسلام دادے چه هغه خبره پريږدي چه هغه پکار نۀ راځي (يعنې دَ بے کاره او لغو خبرو نه دے پرهيز اوکړي) دريم حديث لا تغضب يعني غصه مۀ کوه څلورم هغه حديث چه وړاندے تېر شو چه انسان له پکار دي چه دَخپل روز دَپاره هغه څه غوره کړي کوم چه دځان دپاره غوره کوي

او استاذ ابو القاسم قشيري فرمايلي دي چه په موقع باندے چپ پاتے کيدل دَ سړو صفت دے لکه چه په موقع باندے وينا کول زيات بنۀ خصلت دے او ما دَ ابو علي دقاق نه اوريدلي دي هغه وئيلي وو چه کوم سړے چپ پاتے شو دَحقې خبرے نه (يعني کوم ځائے چه دَحقې خبرے بيانولو موقعه وي) نو هغه ګونګا شيطان دے ليکن ارباب مجاهده او رياضت چه کوم سکوت اختيار کړے دے هغه ددے دپاره چه په خبرو کولو کښې قسم قسم آفتونه دي. او په دے کښې نفس ته چه کومه خوشالي وي هغه خپل تعريف کوي او کله خپل فصاحت او شيرين بياني په خلقو باندے ظاهره ول غواړي. او دا سکوت او خاموشي دَتهذيب او اخلاق يو لوے رکن دے. فضيل بن عياض داسے بيان کړے دے چه کوم سړے خبرے لره دَخپلو اعمالونه يو عمل اوګڼړي هغه به

فائدے خبرے کمے کوی او ذنون مصری وائی دتولو نه زیات دخپل نفس حفاظت کونکے هغه سړے دے چه هغه خپله ژبه زیاته کنټرول کړی . کوم بنده چه په الله باندے او وړستو راتلونکی ورځ باندے ایمان لری هغه له پکار دی چه د ګاونډی او میلمه خاطرداری کوی. قاضی عیاضؒ وائی چه مطلب دحدیث دادے چه کوم سړے په شریعت اسلام باندے تلل غواړی هغه لره د ګاونډی او میلمه سره ښهٔ سلوك کول ضروری دی او الله تعالیٰ په خپل کتاب کښے د ګاونډی سره دَ ښهٔ سلوك حکم کړے دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه جبرئیلؑ به ماته همیشه دَ ګاونډی سره دَ ښهٔ سلوك کولو وصیت کولو تر دے پورے چه زهٔ پوهه شوم چه جبرائیل علیه السلام دهٔ ته ترکه (یعنی میراث) هم ورکوی. (یعنی دَ میراث نے حقدار کوی) دغه شان دمیلمه عزت کول هم دَاسلام طریقه ده او دَ پیغمبرانو او صالحانو خصلت دے. او لیث وائی چه یوه شپه میلمستیا کول واجب دی، او ددے دلیل هغه حدیث دے چه یوه شپه میلمستیا کول حق دی او په هر مسلمان باندے واجب دے او دَ عقبه دا حدیث چه هر کله تاسو په یو قوم باندے ورشی بیا هغه په طور دَ میلمستیا سره تاسو لره څه درکوی نو هغه قبلوی. او څوك چه نهٔ درکوی نو دَ هغوی نه دَ خپلے میلمستیا حق واخلی.

او اکثر فقهاء په دے خبره باندے دی چه میلمستیا کول په اخلاقو کښے داخل دی خو واجب نهٔ دی او دلیل دَهغوی هغه حدیث دے چه میلمستیا جائزه ده یوه شپه او جائزه وائی عطاء او صله او احسان ته او دا اختیاری وی نهٔ وجوبی او هم حضورﷺ فرمائیلی دی پکار ده چه احسان اوکړی او سلوك اوکړی ددے نه هم دا خبره راوُځی چه میلمستیا واجب نهٔ ده ولے چه ددا سے الفاظو استعمال په واجبو کښے نهٔ وی دویمه دا چه میلمه او ګاونډے نے یو ځائے ذکر کړے دی حالانکه د ګاونډی سره سلوك واجب نهٔ دے. او د وړومبو احادیثو نے دا تاویل کړے دے چه هغه داسلام د وړومبنو ورځو حدیثونه دی هر کله چه دلداری او خاطرداری واجبه وه. بیا علماؤ اختلاف کړے دے چه میلمستیا په دیهاتیانو او په ځنګل والا دواړو باندے واجب ده یا صرف د ځنګل په اوسیدونکو باندے. نو دَ امام شافعیؒ او محمد بن حکم قول دادے چه په دواړو باندے واجب ده. او مالك او عنون وائی چه صرف په ځنګل والو باندے واجب ده ددے وجے نه چه په

قصبه یا ښار کښې دمیلمه د :مه کدو ځائے پیدا کېږی سرائے وغیره او د خوراك سڅاك څیزونه هم په بازار کښے ملاویږی. او سه بو حدیث کښے راغلی دی چه میله ستیا د ځنګل په اوسیدونکو باندے نه نهٔ په کلی والا باندے لیکن دا حدیث دحوندانو د معرفت په نزد باندے موضوعی دے (نووی)

(۱۷۳) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ من کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلا یؤذی جاره ومن کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلیکرم ضیفه ومن کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلیقل خیرا او لیسکت

توجمه : د ابو هریرهٔ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه څوك په الله او په اخرت باندے یقین لری نو هغه دے ضرور نهٔ ورکوی ګاونډی ته. او څوك چه ایمان لری په الله پاك او په ورځ د آخرت باندے هغه به دخپل میلمه خاطر داری کوی او څوك ایمان راوړی په الله پاك او په ورځ دآخرت باندے هغه دے ښے خبرے کوی اویا دے چپ اوسی.

(۱۷۵) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ بمثل حدیث ابی حصین غیر انه قال : فلیحسن الی جاره

توجمه : ابو هریرهٔ فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی " بیا ئے سابقه حدیث ذکر کړو مګر په سند کښ دا لفظ دے (هغه دے د خپل همسایه سره دے ښهٔ سلوك اوکړی)

(۱۷۶) عن ابی شریح الخزاعی ان النبی ﷺ قال من کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلیحسن الی جاره ومن کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلیقل خیرا او لیسکت [بخاری ۶۰۱۹، ۶۱۳۵، ۶۴۷۶، ترمذی ۱۹۶۷، ۱۹۶۸، ابن ماجه ۳۶۷۲]

ترجمه : د ابو شریح خزاعیؓ (خویلد بن عمر یا عبد الرحمن یا عمر بن خویلد یا هانی بن عمرو یا کعب) نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه په الله باندے او په ورځ دآخرت باندے ایمان لری هغه به دخپل ګاونډی سره نیکی کوی، او کوم سړے چه په الله او په ورځ دآخرت باندے ایمان لری هغه به دخپل میلمه سره احسان کوی او کوم بنده چه په الله باندے او په ورځ دآخرت باندے ایمان لری هغه به ښے خبرے کوی. (چه په هغے کښے نیکی وی یا

ثواب وی) یا به چپ وی.

باب كون النهى عن المنكر من الايمان وان الايمان يزيد وينقص :

باب : دبدے خبرے نه منع کول په ایمان کښے داخل دی : او ایمان کمیږی زیاتیږی:

(۱۷۷)عن طارق بن شهاب قال اول من بدء بالخطبة يوم العيد قبل الصلوة مروان فقام اليه رجل فقال الصلوة قبل الخطبة فقال قد ترک ما هنالک قال ابو سعيد اما هذا فقد قضى ما عليه سمعت رسول الله ﷺ يقول من راى منكم منكرا فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه وذالک اضعف الايمان :[ابوداود : ۱۱۴۰، ۴۳۴۰، ترمذی : ۲۱۷۲، نسائی : ۵۰۲۳، ابن ماجه : ۱۲۷۵، ۴۰۱۳]

ترجمه : دطارق بن شهاب نه روایت دے چه د ټولو نه وړاندے چه چا د اختر په ورځ دمنځه نه مخکښے خطبه شروع کړے وه هغه مروان وو(دحکم ځوے چه د خلفاء بنو امیه نه وړومے خلیفه دے) دغه وخت یو سړے پاسیدو او وے ونیل چه د خطبے نه مخکښی مونځ لوستل پکار دی مروان لووے چه دا خبره موقوف کړے شوے ده ابو سعید اووے دغه سړی خو خپل حق ادا کړو ما درسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه فرمانیلے ئے وو چه کوم سړے ستاسو نه څه منکر کار لره (خلاف شرع) کار لره اووینی نو هغه دے منع کوی په خپلو لاسونو سره که چرے دومره طاقت ئے نۀ وی نو په ژبه سره او که دومره طاقت ئے نۀ وی نو په زړه سره (یعنی په زړه کښے دے هغه بد اوګڼی او دهغے نه دے ویزار شی) دا دټولو نه د کمے درجے ایمان دے

فائده : داختر په ورځ چه چا دټولو نه وړاندے دمانځه نه مخکښے خطبه شروع کړے وه هغه مروان وو قاضی عیاض وائی چه په دے خبره کښے اختلاف دے بعضو وئیلی دی چه دټولو نه وړاندے داختر دمانځه نه مخکښی خطبه حضرت عثمانؓ لوستلے ده او بعضو وئیلی دی چه حضرت عمرؓ لوستے وه او دهغے وجه داوه چه خلق به د مانځه د ختمیدو سره تلل او د خطبے انتظار به ئے نۀ کولو. او بعض وائی چه په دے کښے دا مصلحت وو چه د لرے لوسیدونکو ته هم

مونځ ملاؤ شي. او بعضو ونيلي دي چه دا فعل دَهر چانه مخکښې معاويه کړے وو او بعضو ونيلي دي چه عبد الله بن زبير کړے وو (خو دا ټول روايتونه ثابت نهٔ دي) او کوم چه دَ رسول الله ﷺ او ابوبکر. عمر. عثمان او دَ علي رضي الله عنهم نه ثابت شوے دے هغه دادے چه اول ئے دَاختر مونځ کړے دے او بيا ئے خطبه لوستے ده او دا قول دے دَ تمامو ملکونو دَ فقهاؤ او بعضو په دے باندے اجماع نقل کړے ده او دا اجماع دَ اختلاف نه پس اوشوه يا دا چه دَ بني اميه دَاختلاف طرف ته التفات کړے شوے نه دے ولے چه دَتمامو خلفائے راشدينو او صدرِ اول اتفاق شوے وو. او په دے روايت کښے ابو سعيد چه کوم ونيلي دي چه دے سړي خپل حق ادا کړو دَټولو خلقو په مخکښے دا دليل دے ددے خبرے چه دَخلقو په نزد باندے سنت ثابت شوے وو. په خلاف دَهغے چه کوم مروان کړے وو. او دا هم ابو سعيد اووے چه ما دَرسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه کوم سړے ستاسو نه څه خلاف شرعه کار اووينی نو هغه به ختموی او خلافِ شرعه به هغه کار وی چه هغه دَسنتو خلاف وی او په هغے باندے په تيره شوے زمانه کښے عمل نهٔ وی شوے، او دا هم دليل دے چه سوا دَ مروان نه داسے بل يو خليفه کښے نهٔ وو او دَحضرت عثمانؓ او حضرت عمرؓ لو حضرتِ معاويهؓ چه کوم منقول دی هغه صحيح نهٔ دے۔ (نوویؒ)

يو سړے پاسيدو لو وے ونيل چه دَ خطبے نه مخکښے مونځ لوستل پکار دي مروان اووے چه دا خبره موقوف کړے شوے ده . په دے مقام باندے دا اعتراض کيدے شي چه ابو سعيد پخپله ولے نهٔ منع کوو ددے بد کار نه تر دے پورے چه يو بل سړے پاسيدو او وے ونيل. ددے جواب دادے چه کيدے شي چه ابو سعيد دَ خطبے شروع کولو په وخت کښے په دغه ځائے کښے موجود نهٔ وو. نو دغه سړي اعتراض اوکړو که بيا ابو سعيد راغلي وی او احتمال دے چه ابو سعيد دوړاندے نه موجود وی ليکن هغه يره کړے وی دَځان دَ ضرر يا دَ فتنے نو ساقط شو ددهٔ نه انکار کوم چه واجب وو. او دغه سړي يره نهٔ وی کړے دَځه قوت په وجه سره يا ئے يره کړے وی پخپل ځان باندے صرف او دا جائز دی چه داسے صورت کښے بالکل مستحب دی او احتمال دے چه ابو سعيدؓ ددهٔ تائيد لوکړو.

لو په دويم روايت کښے چه هغے لره بخاری او مسلم دواړو ويستلي دي په باب صلوٰت

العید کښې دادې چه ابو سعید په خپله دمروان لاس راښکو هر کله چه نې هغه منبر ته تلونکې اولیدو او مروان او ابو سعیدؓ دواړه یو ځائې راغلي وو. بیا مروان د ابو سعیدؓ خبرې لره اونۀ منله نو احتمال دے چه دا موقعه دوباره شوې وی که چرې په ژبه سره نې دمنع کولو طاقت نۀ وی نو په زړه کښې دې بد اوګنړی داد تولو نه کمه درجه دایمان ده. که چرې دا هم نۀ وی او په زړه کښې هم دخلاف شرعې کار نه نفرت رانغې نو پو هه دې شی چه ایمان رخصت شو. او په کفر کښې پریوتو. لا حول ولا قوة الا بالله العلي العظيم امام نووی وائی دا چه کوم حضور ﷺ فرمائیلې دی دبد او خلاف شرع کار ختمول په لاسونو یا په ژبه سره دا امر په اجماع دامت سره دوجوب دپاره دې او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په واجب کیدو باندې د کتاب او سنت او اجماع دلیل دے او دا په نصیحت کښې داخل دے چه په خپله دین دے. او په دې کښې سوا د څو رافضیانو نه چا خلاف نۀ دے کړے او د هغوی د اختلاف څه اعتبار نشته. امام الحرمین هم وائی چه ددوی د خلاف په دې مسئله کښې اعتبار کول نۀ دی پکار ددې دپاره چه د مسلمانانو ددې په وجوب باندې د رافضیانو د پیدا کیدو نه مخکښې اتفاق راغلي وو. او وجوب ددې د شرعې نه دې نۀ د عقل نه. او د معتزلو په نزد باندې د عقل نه دے. او دا چه کوم فرمائیلې دی الله تعالی لا يضركم من ضل اذا اهتديتم یعنی اے د ایمان خاوندانو تاسو خپل ځانونه سنبال کړی تاسو ته به د نورو د ګمراه کیدو نه څه نقصان نۀ وی هر کله چه تاسو هدایت اوموموی. دا د زمونږ د مذهب خلاف کښې نۀ دے ولې چه دآیت کریمه ترجمه په مذهب صحیحه سره داده چه هر کله تاسو تمام احکام کوم چه په تاسو باندې واجب دی په ځائې راوړی نو د نورو د تقصیر نه به تاسو ته ضرر نۀ وی. لکه بل ځائې کښې الله پاک فرمائیلې دی. ولا تزر وازرة وزر اخرى یعنی د یو بوج به بل نۀ اوچتوی بیا چه چا هر کله امر بالمعروف او نهی عن المنکر اوکړو نو په دې باندې ددۀ مؤاخذه ختمه شوه اوس ګناه په هغه کس ده چا چه بد کار اوکړو.

په دې باندې خان پو هول پکار دی چه دبدۀ خبرې حکم کول او دبدې خبرې نه منع کول فرض کفایه دی کـه بعضو اوکړو نو د تولو د ذمه ولړی. نه دا فرض ادا شول ورنه تول به ګنهګار وی او په بعضې مقاماتو کښې دا فرض کیږی په یو خاص سړی باندې لکه په دغه مقام کښې ددۀ

نه سوا څوك نۀ وي. يا دا په حكم سره هغه خبره پريږدي. يا لكه څوك خپلے بي بي يا بچي يا غلام لره په څه بدكار اووينى يائے په فرضو پريخودلو باندے اووينى. علماء وائى چه كوم يو سړى ته دا گمان وي چه زما د منع كولو نه څه فائده نۀ كيږي خو بيا هم منع كول پكار دي ددے دپاره چه په نصيحت سره مسلمانانو ته څه نه څه فائده ضرور وي. او مونږه پورته بيان كړے دي چه ددے سړي كار حكم كول دي دبنۀ كار. او د بد كار نه منع كول دي اوس چاته چه امر كوي دنيكي او منع كوي نے دبدي نه كه هغه مني يا نۀ مني منل دده فرض نۀ دي لكه چه الله پاك فرمائيلي دي په رسول ﷺ باندے څه نشته مگر رسول. علماء وائي چه په امر بالمعروف او نهي عن المنكر كنبے دا شرط نشته دے چه حكم كونكے دے په خپله دشريعت په تمامو احكامو باندے چليږي او د بدو خبرو نه دے بچ وي بلكه اگر كه هغه په خپله تقصير دار وي خو بيا هم امر بالمعروف او نهي عن المنكر كول پكار دي ولے چه دا دويم فرض دے. بيا په يو كنبے په خلل راتلو سره دويم لره هم ضائع كول درست نۀ دي او دا كار دحاكمانو سره خاص نۀ دے بلكه هر مسلمان دے لره كولے شي. امام الحرمين وائي چه په دے باندے د مسلمانانو اجماع دليل دے دے دپاره چه په صدر اول كنبے او دے ته په نزدے زمانه كنبے ادنی ادنی مسلمانانو به پخپله حاكمانو لره بدو خبرو نه منع كول او د بنۀ كارونو حكم به نے ورته كوو. حالانكه نورو مسلمانانو به دا لره ددے كار نه نۀ منع كوو او په هغه باندے به نے زجر نۀ كوو. بيا كه چرے حكومت شرط وے دامر بالمعروف او نهي عن المنكر دپاره نو البته نورو مسلمانانو به دا لره پو هه كوو چه ستا دا عهده نۀ ده دا خبره ضروري ده چه كوم سړے امر بالمعروف او نهي عن المنكر كوي هغه دے پخپله دغه مسئلے لره بنۀ ايزده كړے وي كه هغه خبره د مشهور واجباتو يا محرماتو نه وي لكه مونځ روژه. زنا شراب نو هر يو مسلمان نه ددے خبرے علم دے هغه ددے حكم كولے او منع كولے نے شي. او هر كله چه دقيق مسئله وي نو عوامو لره په دے كنبے مداخلت نشته دے. او نۀ نے انكار ته رسيدے شي. بلكه دا منصب د علماؤ دے بيا علماؤ لره هم ددے كار نه انكار كول يا حكم كول پكار دي كوم چه اجماعي وي. او كوم كار چه اختلافي وي په هغے كنبے يو فريق لره ددويم فريق سره جهگړه كول درست نۀ دي. ددے دپاره چه هر مجتهد مصيب دے.

دبعضو په نزد باندے بل مخطی هم دے او د بعضو په نزد باندے یو مصیب دے او باقی
مخطی لیکن مخطی معین نهٔ شی کیدے او کوم چه معین هم وی نو په وجه د اجتهادی خطا یی
سره په دا باندے گناه نشته دے خو که د نصیحت په طور باندے دا لره په نرمی سره یو هغه کړے
شی نو هغه غوره ده ددے دپاره چه د علماو په دے خبره باندے اتفاق دے چه د اختلاف نه وتل بکار
دی۔ حتی المقدور هر کله چه په څه سنتو کښے خلل نهٔ راځی یا په څه بل اختلاف کښے نهٔ پریوځی۔
قاضی القضات ابو الحسن ماوردہ بصری شافعی په خپل کتاب احکام سلطانیه کښے
لیکلے دی چه په دے مسئله کښے د علماؤ اختلاف دے چه بادشاه چالره محتسب جوړ کړی او
هغه مجتهد وی نو هغه خلقو لره د خپل مذهب طرف ته راوستے شی په اختلافی مسائلو کښے
چه د کوم فقیه غواړی مذهب اختیاره وی او همیشه فروعاتو کښے صحابهٔ او تابعین او دمن
بعدهم اختلاف پاتے دے۔ نو نهٔ په محتسب باندے څوك انکار کوی نهٔ محتسب په بل باندے نهٔ
بل څوك په دویم باندے۔ دغه شان عالمانو وئیلے دی چه مفتی او قاضی ته نهٔ رسی چه هغه په
خپل مخالف باندے اعتراض کوی هر کله چه هغه د نص یا اجماع یا قیاس جلی مخالفت نهٔ
کوی۔ او پوهه شه ته چه دا باب د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ډیر ضائع شوے دے د ډیرے
اوږدے مودے نه او په دے زمانه کښے چه کوم باقی دے هغه ډیر کم دے حالانکه دا یو ډیر لوے
باب وو چه په دے باندے ددین دارومدار وو، او هر کله چه بدی ډیرے خورېږی نو عذاب الهی عام
کیږی په هر نیك او بد بنده باندے او هر کله چه ظالم لره خلق د ظلم نه نهٔ منع کوی نو الله پاك
تمامو لره په عذاب کښے گرفتاره وی الله تعالی فرمائیلی دی فلیحذر الذین یخالفون عن امره الآیه"
یعنی بچ شی هغه خلق چه مخالفت کوی دالله د حکم نه نو رسیږی به هغوی ته فتنه یا دردناك
عذاب نو کوم سړے چه د آخرت طلبگار وی او د الله پاك رضامندی حاصلول غواړی هغه له
پکار دی چه ددے خبرے خیال اوساتی یعنی دامر بالمعروف او نهی عن المنکر ددے دپاره چه ددے
لویه فائده ده خاصکر په هغه حالت کښے چه هغه موقوف شوے دے او خپل نیت به خالص
لری۔ او کوم سړی ته چه حکم کوی یائے منع کوی د هغه نه به یره نهٔ کوی په دے خیال سره چه
هغه لوے سړے دے ولے چه الله فرمائیلے دی "البته خدائے پاك مدد کوی د هغه سړی چاچه

دَخدائے مدد اوکړو. او فرمائیلی ئے دی چا چه بروسه اوکړه په الله باندے هغه ته نیغه لار ملاو شوه. او فرمائیلی ئے دی کومو خلقو چه زما په لاره کښے کوشش اوکړو مونږ هغوی ته خپله لار ښایو. او فرمائیلی ئے دی خلق خیال کوی چه هغه به پریخودے شی په دومره خبره باندے چه مونږ ایمان راوړے دے او دَ هغوی ازمائش به نهٔ کیږی ددوی نه مخکښے چه کوم خلق تیر شوے دی هغه هم مونږ ازمایلی دی. نو البته الله تعالیٰ هغه خلقو لره پیژنی، کوم چه رښتونے دی او کوم چه دروغجن دی. او په دے خبره باندے خیال کول پکار دی چه همیشه ثواب دومره ډیر ملاویږی څومره چه تکلیف زیات وی، او امر بالمعروف او نهی عن المنکر لکه څنګه چه دَ یَرے پریخودل نهٔ دی پکار دغه شان دَدوستی او محبت او دَ سُستی په وجه ئے هم پریخودل نهٔ دی پکار، او دَخپلے مرتبے او سرخروئی دَپاره او دَ مرتبے دَ اوچتولو او سوا کولو دَپاره هم نهٔ دی پکار. ددے دَپاره چه په دوستی او محبت سره خو دَهغه حق په دے باندے راغے. او هغه حق دادے چه دهٔ ته نصحت اوکړی او دَ آخرت فائدے ورته اوښائی او دَ ضرر رسانو او هلاکت کونکو خبرو نه ئے بچ کړی او دَ سړی دوست او عزیز هغه دے چه هغه ددهٔ دَ آخرت دَفائدے کوشش کوی. اګر که په دنیا کښے دَهغے په وجه سره دَهغه نقصان واقع کیږی.

او دشمن هغه دے چه هغه ددهٔ آخرت لره تباه کړی اګر کهٔ دَدنیا څه فائده ورته حاصله کړی او شیطان چه زمونږ دَ خلقو دشمن شمارلے کیږی هغه ددے وجے نه چه دَدنیا په لره شان خوشالی او خواهشاتو سره زمونږ دآخرت ژوند چه همیشه همیشه دے تباه کړی او پیغمبران چه د مؤمنانو دوست ګڼړلے کیږی هغه په دے سبب سره چه هغه دَ مؤمنانو دَ آخرت په درست کولو کښے خپل کوشش کوی. یا الله ته مونږ لره او زمونږ دوستانو لره او تمامو مسلمانانو لره توفیق ورکړے چه هغه ستا دَ خوشالی په حاصلولو کښے کوشش کوی او خپل رحمت او عنایت په مونږ ټول باندے عام کړه.

او کوم سړے چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی هغه له پکار دی چه نرمی کوی ددے دَپاره چه په هغے باندے خلق زر عمل کوی. امام شافعی فرمائی چا چه خپل رور ته پټ نصیحت اوکړو نو هغه دهٔ لره درست کړو او ښایسته ئے کړو او چا چه کهلم کهلا نصیحت اوکړو

هغه خپل زور لره رسوا کړو هغه خپل زور لره رسوا کړو. او په دے باب سره یو کار هغه دے چه په هغې کښے اکثر خلق سُستی کوی هغه دادے چه یو سړے په عیب دار څیز خرخوولو باندے اوبنی بیا هغه لره د هغه عیب نه منع نۀ کړی او دا یوه لویه خطا ده او عالمانو صفا وضاحت کړے دے چه کوم سړے په دے امر پو هیږی چه په دے څیز کښے عیب دے نو په هغه باندے واجب دی چه خرخوونکے ئے د خرخوولو نه منع کړی او اخستونکے د دغه عیب نه خبر کړی. لیکن طریقه دَمنع کولو خو هغه پخپله حضور ﷺ ښودلے ده. چه دے لره (یعنی بد کار لره) په لاسونو سره ختم کړه وران ئے کړه که چرے دا نۀ شی کیدے نو په ژبه سره او که درنه دا نۀ شی کیدے نو زړۀ سره، دَزړۀ دَ ورانولو مطلب دادے چه هغې لره بد اوګنړی او اګر چه ددۀ په بد ګنړلو سره هغه کار خو څه بندیږی نۀ شی نو بیا څه کول پکار دی خو دَدۀ اختیار دومره قدرے دے او دا چه کوم حضور ﷺ فرمائیلی دی دَټولو نه دَلاندے درجے ایمان دے یعنی دا یوه ادنی ثمره ده دَایمان چه په زړه سره بد کار لره بد اوګنړی. او دَ هغې نه نفرت اوکړی. قاضی عیاضؒ وائی چه دا حدیث اصل دے دَبد کار په ختمولو کښے نو په ختمونکی باندے واجب ده چه په څه شان کیږی چه ختم ئے کړی. په قول سره یا په فعل سره نو کوم چه دَ خراب کار آلات او اسباب دی هغې لره په لاسو نو سره مات کړی او شرابو او مسکراتو لره قیمت ورکړی یا بل ته اوواني چه هغه قیمت ورکړی او په زور او زبر دستی سره اخستے شوے څیز والی او په خپله ئے مالك ته حواله کړی یا بل چاته حکم اوکړی او پکار ده چه دَ بد کار په ختمولو کښے نرمی اوکړی دَجاهل سره او دَ هغه ظالم سره چه دَهغه نه دَ شر یره وی، مګر دا هله دے چه هغه له په خپله خبره دَ چلیدو خیال وی.

دغه شان مستحب ده دا خبره چه بد کار لره ختمونکے پخپله صالح او خاوند دَ فضیلت وی او کوم سړے چه په انتها درجه باندے ګمراه وی یا په خپل کار کښے اصرار کوی په هغه باندے سختی هم کوه. هر کله چه دا معلومه شی چه ددۀ دَدے سختی نه فایده وی او یره نۀ وی دَنورو فسادونو، کۀ ددۀ غالب ګمان وی چه په لاس سره په بندولو کښے بل یو لوے فساد کیږی یعنی دَ چا دَ قتل یره وی پخپله ددغه بدکار دَ ختمونکی یا دَ بل چا نه نو قلار دے شی. او صرف په ژبه سره دے ورته نصیحت کوی او دَ خدائے پاك دعذاب نه دے یروی. او که غالب ګمان ئے وی چه په

ژبه سره په وبیلو او منعه کولو کښې هم دداقسم شر پیدا کیږی. نو صرف په ژبه سره دې دا بد اوګنړی او چپ دې شی او دغه مقصود دې ددې حدیث نه کۀ خدائی اغوښته او دا ته څه مددګار ملاؤ شو نو دهغه نه به مدد واخلی خو هتیار به نۀ اوچتوی او جنګ به نۀ شروع کوی . او پکار ده چه دې حبرې حاکم ته اطلاع ورکړی یا کۀ چرې دا کار سوا دحاکم نه بل څوك کولے شی یا دې صرف هغې لره بد اوګنړی په ژبه سره دا مسئله ده او دا د محققینو علماؤ په نزد باندې صو ب دې. او بعضې وائی چه په هر حال کښې به ورته په ژبه باندې وینا کوی بیا که چرې قتل کړې شی یا ورته ضرر اورسیږی نو په هغې دې صبر اوکړی دقاضی عیاض کلام ختم شو.

امام الحرمین وائی چه په رعیت کښې هر سړی ته دا حق حاصل دې چه کبیره ګناه کونکې به منع کوی دهغې ګناه نه خو جنګ به ورسره نۀ کوی او هتیار به ورپسې نۀ اوچتوی او کۀ چرې هغه نۀ منی نو بادشاهِ وقت ته به اطلاع ورکوی بیا کۀ چرې بادشاه هم په ظلم باندې مستعد وی او د شریعت د مخالفت نه نۀ منع کیږی او په پو هه کولو باندې نۀ پو هیږی نو تول مسلمانان چه کوم درائې خاوندان دی هغه به یو ځائې شی او دغه بادشاه لره به د تخت نه کوز کړی اګر کۀ په دې کښې دهتیار داوچتولو ضرورت راشی او وینې توې شی او جنګ جوړ شی. دا کلام دې دامام الحرمین او کوزه ول دبادشاه عجیبه ده او محموله ده په دې صورت باندې چه هر کله د بادشاه د کوزولو نه د بل فساد یره نۀ وی. چه هغه ددې نه هم لوې وی. او امر بالمعروف کونکې نه د جاسوس او د کورونو تلاش کولو اجازت نشته دې. بلکه هر کله چه هغه یو بده خبره اووینی نو هغه به منع کوی دا کلام دې د امام الحرمین او قاضی القضات ماوردی وائی چه محتسب له بحث کول نۀ دی پکار دهغه ګناهونو نه چه هغه ظاهر نۀ وی بیا کۀ چرې ګمان غالب وی چه بعضې خلق داسې کارونو لره پټول کوی نو په هغې کښې دوه قسمه دی یو قسم خو دا چه دهغې تدارك ورستو دواقع کیدو نه ګران وی یعنی سخت وی. لکه یو سړې محتسب لره خبر کړی چه فلانې سړې د فلانې ښځې سره په تنهایی کښې زنا کول غواړی یا فلانې فلانې قتلول غواړی نو دیر زر محتسب لره تجسس پکار دې. او ددې واقعې بندوبست کول پکار دی دغه شان کۀ د محتسب نه سوا نورو خلقو ته خبر رسیدلې وی نو هغوی لره هم بندوبست کول

پکار دی دویم هغه دے چه هغه ددے نه کم دے او په دے کښے تجسس او کھوج جائز نۀ دے لکه وچا دَ کور نه دَ باجے غږولو آواز راځی نو دَ بهر نه به نے په آواز سره منع کوے خو کور ته دننه به نۀ ورځی.

او ماوردی دَ احکام سلطانیه په آخر کښے یو بنکلے باب دَ احتساب په باب کښے لیکلے دے چه دَ امر بالمعروف او نهی عن المنکر په قاعدو باندے مشتمل دے او مونږ په دے مقام باندے دَ هغه مطلبونه بیان کړے دی او کلام مو اوګد کړے دے ددے دَپاره چه مفید دے او دا باب دَ اسلام یو لوے باب دے او دے ته ډیر زیات حاجت پریوزی. (نووی)

په سراج الوهاج کښے دی چه مسلمانانو په دے خبره باندے اتفاق کړے دے چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر واجب دے او وئیلے ئے دی چه دا دواړه دَدین لوے ستنے دی او دا واجب دی په هر مسلمان باندے. په القول الجمیل کښے دی چه دَ امر بالمعروف او نهی عن المنکر ادب دادے چه دَ نرمی او ملائمت سره وی او سختی او شدت بادشاهانو لره زیبا دے الله تعالیٰ فرمائیلی دی " وجادلهم بالتی هی احسن" او بحث کوه دَدوی سره په ښۀ طور سره. په اودس او مانځه کښے دَ امر بالمعروف طریقه داده ملا چالره اووینی چه هغه خپو لره په ښۀ طریقه باندے نۀ وینځی نو دا حدیث ورته واوره وه چه خرابی ده دَ کچو دَ جهنم په عذاب سره یا مونځ په ښۀ طریقه باندے نۀ کوی نو دا حدیث ورته واوروه بیا مونځ کوه ولے چه دۀ مونځ نه دے لوستے او په لباس او کلام وغیره کښے په دے شان الله پاك فرمائیلی دی " ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر ویامرون بالمعروف وینهون عن المنکر واولئک هم المفلحون" یعنی ستاسو نه څه خلق داسے کیدل پکار دی چه هغه دَ نیکی طرف ته رابلل کوی او دَ بدی نه منع کول کوی او دَ نیے خبرے حکم کوی نو دغه خلق خلاصے موندونکی دی په ورځ دَ قیامت دَ عذاب نه.

(۱۷۸) عَنْ اَبِی سَعِیْدٍ الْخُدْرِیِّ فِی قِصَّةِ مَرْوَانَ وَحَدِیْثُ اَبِی سَعِیْدٍ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ بِمِثْلِ حَدِیْثِ شُعْبَةَ وَسُفْیَانَ: [راجع: ۱۷۷]

ترجمه: دَ ابوسعید خدری روایت دَ مروان په قصه کښے دَ سابقه حدیث په شان دے او هم دغه شان دَ شعبه او دَ سفیان دَ روایت په شان په یو بل سند سره هم مروی دے.

۱۷۹ عن عبد الله ابن مسعود ان رسول الله ﷺ قال ما من نبي بعثه الله في امة قبلي إلا كان له من امته حواريون واصحاب يأخذون بسنته ويقتدون بامره ثم انها تخلف من بعدهم خلوف يقولون ما لا يفعلون ويفعلون ما لا يؤمرون فمن جاهدهم بيده فهو مؤمن ومن جاهدهم بلسانه فهو مؤمن ومن جاهدهم بقلبه فهو مؤمن وليس وراء ذالك من الايمان حبة خردل قال ابو رافع فحدثت به عبد الله ابن عمر فانكره علىّ فقدم ابن مسعود فنزل بقناة فاستتبعني إليه عبد الله ابن عمر يعوده فانطلقت معه فلما جلسنا سألت ابن مسعود عن هذا الحديث فحدثنيه كما حدثته ابن عمر قال صالح فقد تحدث بنحو ذالك عن ابي رافع :

ترجمه : دَ عبد الله بن مسعود نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دی الله تعالی زمانه مخکښے يو نبی داسے نۀ راليږلے چه دَ هغه په امت کښے حواری نۀ وی او اصحاب نۀ وی چه دَ هغه په طريقه باندے چليږی او دَ هغه دَ حکم پيروی کوی۔

بيا دَ هغه نه پس داسے نالائقه خلق پيدا کيږی چه هغه په ژبه سره وائی او کوی ئے نه او هغه کارونه کوی چه دَ هغے ورته حکم نۀ وی شوے۔ بيا چه څوك ددغه نالائقه خلقو سره په لاسونو باندے جنگ کوی هغه مؤمن دے او څوك چه ورسره جنگ کوی (او هغوی ته بد وائی او د هغوی رد کوی) په ژبه سره هغه مؤمن دے او څوك چه ورسره جنگ کوی دَ زړۀ نه (يعنی هغوی ته بد گوری) هغه هم مؤمن دے او ددے نه بعد دَ اوری دَ دانے برابر هم ايمان نشته (يعنی کۀ په زړۀ سره ئے هم بد اونۀ گنړی نو په هغه کښے دَ ذرے برابر هم ايمان نشته دے) ابو رافع (چا چه دے حديث لره دَ ابن مسعود نه روايت کړے دے او نوم دَ هغه اسلم يا ابراهيم يا هرمز يا ثابت يا يزيد وو چه دَ رسول الله ﷺ مولی وو) وائی چه ما دا حديث دَ عبد الله ابن عمرؓ نه روايت کړے دے هغوی نۀ منل او انکارئے اوکړو اتفاقا زما خواله عبد الله ابن مسعودؓ راغے او په قنات کښے (قنات د مدينے په واديانو کښے دَ يوے وادی نوم دے) کوز شو نو عبد الله ابن عمرؓ زۀ دَ ځان سره بوتلم دَ عبد الله ابن مسعودؓ عيادت لره زۀ دَ هغوی سره لاړم هر کله چه مونږه کيناستو نو ما دَ عبد الله ابن مسعودؓ نه ددے حديث په باره کښے تپوس اوکړو نو هغوی په دے شان باندے بيان

کړو لکه څنګه چه ما ابن عمرؓ ته بیان کړے وو۔ صالح بن کیسان اووے دا حدیث دَ ابو رافع نه په دے شان بیان شوے دے۔

فائده : حضور ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی زما نه مخکښے داسے یو نبی نۀ دے رالیږلے چه دَ هغه سره دَ هغه په امت کښے حواری نۀ وی دَ حواری معنی مخلص او بزرګان خلق دی چه هغه دَ هر قسم عیب نه پاك وی۔ یا مددګار یا جهاد کوونکے یا دَ پیغمبر نه پس دَ خلافت مستحق وی۔ عبد الله ابن مسعودؓ راغے او په قنات کښے کوز شو، نوویؒ وائی قنات په فتحے دَ قاف سره داسے ذکر شوے دے ۔ دا دَ حمیدی په کتاب الجمع بین الصحیحین او اکثرو نسخو کښے هم دغه شان دے۔ او د مسلم اکثرو روایت کونکو بفنائه روایت کړے دے په فاء موحده سره او فناء وائی هغه میدان ته چه هغه دَ کور مخے ته وی، دغه شان ابو عوانه روایت کړے دے۔

قاضی عیاض وائی چه دَ سمرقندی روایت په قنات دَ قاف سره تهیك دے او دَ جمهورو روایت په بنفائه خطاء دے ، او تصحیف صالح بن کیسان وائی چه په دے شان دا حدیث دَ ابو رافع نه نقل کړے شوے دے یعنی صالح بن کیسان وائی چه دا حدیث دَ ابو رافع نه او هغه دَ رسول الله ﷺ نه روایت کړے دے۔ او په دے کښے دَ عبد الله ابن مسعودؓ ذکر نشته دے بخاری په خپل تاریخ کښے په دے شان سره دَ اختصار دَ رافع نه او هغه دَ رسول الله ﷺ نه دے حدیث لره نقل کړے دے۔ ابو علی جیلانیؒ او امام احمد بن حنبلؒ فرمائی چه دا حدیث محفوظ نۀ دے او دا کلام دَ کلام دَ ابن مسعودؓ سره نۀ ملاویږی، هغه خو دا روایت کوی چه داسے وخت صبر کوه تر دے پورے چه زما سره ملاؤ شے، دا کلام دے دَ قاضی عیاضؒ او شیخ ابو عمرؓ وائی چه ددے حدیث نه امام احمدؒ انکار کړے دے او ددے په اسناد کښے حارث بن فضیل انصاری دے۔

ابو عبد الله مدنی بجلی وائی هغه ثقه دے او ددۀ نه روایت کړے دے دَ ثقاتو یو جماعت۔ او مونږ دۀ ذکر دَ ضعفاؤ په کتابونو کښے نۀ دے لیدلے، ددے نه علاوه حارث منفرد نۀ دے ددے حدیث سره بلکه متابعت کړے دے دۀ بلکه لکه څنګه چه دَ صالح ابن کیسان دَ کلام نه معلومیږی۔ دار قطنی په کتاب العلل کښے وائی چه دا حدیث په نورو طرقو سره هم روایت شوے دے په دوی کښې یو روایت دے دَ ابو واقد لیثی دَ ابن مسعودؓ نه او هغوی دَ رسول الله ﷺ

نه لو دا چه د ابن مسعود نه روایت دے چه تاسو صبر کوئ تر دے پورے چه زماسره ملاؤ شئ نو دا په هغه موقع باندے دے چه په کوم ځائے دقتل او د وینے تونیدو او د فتنو یره وی او په دے حدیث کښے چه کوم حکم دے. د نااہلو سره د جهاد کولو په لاسونو سره او په ژبه سره او د زړه سره حکم په هغه موقع باندے دے چه هلته د څۀ فتنے د پورته کیدو یره نۀ وی. علاوه ددے نه په دے حدیث کښے دَ وړومبنو امتونو بیان دے او ددے امت ذکر نشته دے تمام شو کلام دَ ابو عمرو لو دا ظاهر دے او دَ امام احمدؒ قدح په دے حدیث کښے ډیره عجیبه ده. (انتهٰی ما قال النووی)

السراج الوهاج کښے دی چه اګر چه په حدیث کښے ددے امت ذکر نشته دے لیکن حضور ﷺ اشاره کړے ده چه داسے به ستاسو په امت کښے هم وی. په دے قول سره فمن جاهدهم یعنی څوك چه ددوی سره جهاد کوی نو څۀ وجه نشته دے چه دے په امت کښے شامل نۀ وی لو اعتبار به دَ عموم دَ لفظ وی. دویم دا چه مطلب ددے حدیث په نورو احادیثو کښے هم نقل دے. حضور ﷺ فرمائیلی دی خیر القرون قرنی "الخ" دَ آخر حدیثه پورے نوویؒ وائی چه ددے حدیث په اسناد کښے څلور تابعی دی چه د یوبل نه روایت کوی او صالح او حارث او جعفر او عبد الرحمن او دغه شان یو اسناد مخکښې هم تیر شوے دے. او ما یوه رساله جوړه کړے ده په دے قسم رباعی اسناد کښے په هغے کښے بعضے اسناد داسے دی چه په هغے کښے څلور صحابه کرامؓ دَ یو بل نه روایت کوی. او څلور تابعین دَ یوبل نه روایت کوی.

(۱۸۰) عن عبد الله ابن مسعود ان رسول الله ﷺ قال : ما كان من نبيّ الا و [قد] كان لهٗ حواريون يعملون بهديه ويستنون بسنته مثل حديث صالح ولم يذكر قدوم ابن مسعود واجتماع ابن عمر معهٗ.

ترجمه : دَ عبد الله ابن مسعود نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یو نبی هم داسے نۀ دے تیر شوے چه دَ هغه دپاره حواری نۀ وی او دَ هغه یعنی دَ خپل نبی په لاره باندے ځی، او دَ هغه په سنتو باندے عمل کوی. " بیا نے باقی روایت لره هغه شان بیان کړو لکه څګه چه پورته ذکر شو لیکن په دے کښې دَ ابن مسعود دَ راتلو او دَ ابن عمرؓ دَ هغه سره دَ ملاویدو ذکر نشته دے.

باب تفاضل اهل الایمان فیه. ورجحان اهل الیمن فیه:

باب: دَ ایماندارو دَ یو بل سره کم او زیاتول او دَ یمن دَ خلقو ایمان زیاتیدل:

(۱۸۱) عن ابی مسعودٌ قال اشار النبی ﷺ بیده نحو الیمن فقال الا ان الایمان ههنا وان القسوة وغلظ القلوب فی الفدادین عند اصول اذناب الابل حیث یطلع قرنا الشیطان فی ربیعة ومضر [بخاری: ۳۳۰۲، ۳۴۹۸، ۴۳۸۷، ۵۳۰۳]

ترجمه: دَ ابو مسعود (عقبه بن عمرو انصاري) نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اشاره اوکړه په خپل لاس سره دَ یمن طرف ته (چه دا یو ملك دے چه په جزیرهٔ عرب کښے جنوبی مشرق طرف ته دَ مدینے نه. چه په هغے کښے ډیر ښارونه او کلی دی. صنعاء دَ هغه ځائے یو مشهور ښار دے) او وے فرمائیل خبردار ایمان دلته دے او تریخ والے او دَ زړونو سختی په هغه خلقو کښے ده چه هغه چلول کوی د اوښانو دَ لکی د ویخ سره چه دَ هغه ځائے نه دَ شیطان دوه ښکرے راخیژی. یعنی په قوم د ربیعه او مضر کښے.

فائده: (په غیاث اللغات کښے دی چه یمن په اقلیم اول او دویم کښے یو مشهور ملك دے او دا ملك دَ مکے معظمے نه ښی جانب ته واقع دے په دے واسطه باندے دے ته یمن وائی ولے چه کعبے لره عربو یو بنده قرار کړے دے چه دَ هغه خلهٔ یورپ طرف ته ده او شاه دَ هغے پچهم طرف ته ده) اول حضور ﷺ یمن طرف ته اشاره اوکړه او دَ هغوی تعریف ئے اوکړو په دے واسطه باندے چه دَ هغه ځائے خلقو ډیر زر ایمان راوړے وو. او د یورپ طرف ته ئے اشاره اوکړه او دَ هغوی مذمت ئے اوکړو یعنی قوم د ربیعه او مضر چه هغوی سره اوښان ډیر وو په دے واسطه چه هغوی داسلام نه ډیر مخالف پاتے شو. دَ شیطان د دوو ښکرو نه مراد نمر دے په دے واسطه چه هرکله نمر راخیژی نو شیطان خپل دواړه ښکرونه (یعنی دَ سر دواړه گوټونه) په هغه باندے گدی چه دَ کافرانو سجده دهٔ ته وی. (تحفة الاخیار)

نووی وائی چه دَ شیطان دَ قرن نه مراد دَ هغه دَ سر دواړه گوټونه دی او بعضو وئیلی دی چه دَ هغه دواړه جماعتونه دی چه هغوی لره هغه لیږی دَ خلقو دَ گمراه کولو دپاره. او بعضو

ونیلے دی چه د هغه دواړه گروهونه د کافرانو نه او مقصود ددے نه دادے چه مشرق یعنی د یورپ په طرف د شیطان تسلط زیات دے. لکه چه په دویم حدیث کښے دی چه د کفر سر د مشرق طرف ته دے او د حضرت په زمانه کښے دا حال وو ولے چه په دغه وخت کښے د یورپ طرف ته چه کوم ملکونه واقع وو لکه هند او چین او په خپله د عربو په ملك کښے نجد وغیره هلته کښے ایمان بالکل نۀ وو. او تمام کفر کفر وو او په کوم وخت کښے چه دجال راووځی نو هغه به هم د دمشرق د طرف نه راووځی په دغه وخت کښے هم د کفر زور د مشرق طرف ته وی او لوے لوے فتنے او فسادونه ددغه طرف نه واقع شوے دی. او دا طرف دے د جاهل وحشی ترکیانو چه هغه د انتها درجے جنگی او فساد کونکی وی. او فتنه د ترکیانو د " هلاکو " په زمانه کښے او لوټ کول د هغوی بغداد لره او ورانول خلافت عباسی لره. او قتلول په لکونو مسلمانانو لره د هغوی د لاس نه په تاریخ کښے مشهور دی او دا یوه دومره لویه فتنه وه چه د هغے په مثل په اسلام کښے ډیر کم شوے دی بیا فتنه د تیمور لنگ او ددغه فتنو په نورو احادیثو کښے هم حضور ﷺ خبر ورکړے دے.

(۱۸۲)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ جآء اَهْلُ الْیَمَنِ هُم ارقُّ اَفْئِدَةً اَلْاِیْمان یمان وَالفقه یمَان وَالْحِکْمَة یمانیة :

ترجمه : د ابو هریرةؓ نه روایت دے چه حضور ﷺ فرمائیلے دی د یمن خلق راغلل (په خپله د مسلمانیدو دپاره) هغه خلق نرم زړۀ والا دی. ایمان هم د یمن او فقهه هم د یمن او حکمت هم د یمن.

فائده : نووی فرمائی دا چه نے فرمائیلے دی چه ایمان د یمن دے. دے لره علماؤ په ظاهر سره گرځولے دے ددے دپاره چه د ایمان شروع د مکے نه شوے ده او بیا د مدینے نه د مغرب امام ابو عبیده په دے باب کښے څو اقوال بیان کړے دی یو خو دا چه د یمن نه مراد مکه ده ولے چه په تهامه کښے ده. او تهامه په یمن کښے داخله ده دویمه دا چه د یمن نه مراد مکه او مدینه دواړه دی. ددے دپاره چه دا حدیث حضور ﷺ په تبوك کښے ونیلے دے او مکه او مدینه د تبوك او د یمن په مینځ کښے دی. نو اشاره اوکړه هغه د یمن طرف ته یعنی د یمن په طرف باندے نے اشاره اوکړه او

مراد دَ هغه دَ مکے او مدینے نه وو ددے وجے نه هغه اوفرمائیل چه ایمان د یمن دے ولے چه هغه وخت مکه او مدینه دواړه دَ یمن طرف ته وو. دریمه دا چه د یمن نه مراد د انصارو خلق دی ددے دپاره چه انصار په اصل کښے د یمن اوسیدونکی وو بیا د ایمان نسبت ورکړے شو د انصارو طرف ته ولے چه هغه د ایمان مددګار وو او دا اختیار کړے دے ډیرو خلقو او په تولو کښے دا قول ښهٔ دے.

شیخ ابو عمر وئیلے دی چه کهٔ چرے ابو عبید اوَ کوم چه ددهٔ تابع شوے وو. دَ حدیثو الفاظو ته کتلے او په هغے کښے ئے تامل کولے نو دا تاویل به ئے نهٔ کولو او ظاهر حدیث لره به ئے نهٔ پریخودو. او دا به ئے وئیلے چه مراد دَ یمن خلق دی. ددے دپاره چه په یو روایت کښے دی چه تاسو له دَ یمن خلق راغلل او دا خطاب دے دَ انصارو طرف ته . نو ضرور به د یمن والو نه دَ انصارو نه سوا نور خلق مراد وی، په دے شان باندے په دے روایت کښے چه کوم دی چه د یمن خلق راغلل نو ظاهره خبره ده چه په دغه وخت کښے انصار راغلی نهٔ وو. دویمه دا چه حضور ﷺ مخکښے دَ هغوی ښیکلی صفات بیان کړل چه هغه نرم دله دی بیا دَ هغے نه پس ئے اوئیلے چه ایمان هم دَ یمن دے نو دا اشاره ده دَ هغو خلقو طرف ته کوم چه دَ یمن نه راغلی ووَ دَ مکے او مدینے طرف په ښهٔ شان په دے باندے قائمیږی دے ته نسبت ورکوی ددغه سړی په طرف لو دَ یمن والو دا حال وو په دغه وخت په ایمان کښے او د هغه خلقو چه رسول الله ﷺ له راغلی وو دَ یمن والو نه. او د هغه دوفات نه پس هم بعضے یمن والا په ایمان کښے داسے کامل تیر شوے دی لکه اویس قرنی او ابو مسلم خولانی رضی الله عنهما او د هغوی په شان نور خلق چه د هغوی زړونه سلیم وو او ایمان ئے قوی وو. نو د ایمان نسبت د هغوی طرف ته ددے وجے نه دے چه هغه په ایمان کښے کامل وو او ددے غرض دا نهٔ دے چه دَ دوی نه سوا نور خلق مؤمنان نهٔ دی په دے صورت کښے په دے حدیث کښے چه ایمان په حجاز کښے دے منافات به هم نهٔ وی. بیا مراد په دغه حدیث کښے د یمن والا نه هغه یمن والا دی. چه هغه په دغه وخت کښے موجود وو نهٔ چه دَ هرے زمانے یمن والا . ددے دپاره چه د لفظ نه دا نهٔ اوځی او دا حق دے او مونږه په دے باندے شکر اداء کوو چه هغه مونږه ته سیدها لار اوښوده انتهی.

په سراج الوهاج کښے دی چه دَ لفظ نه نهٔ وتل څه دَ یمن والا پورے خاص نهٔ دی بلکه دا

حکم په هر حدیث کښې چلیدې شي چه په هغې کښې کوم یو ملك والو فضیلت بیان شوې دې.
لیکن صحیح صحیح روایتونه کوم چه د یمن والو په غوره والي یا د بل ملك په غوره والي کښې راغلي دي، دَ هغه روایتونو نه تر اوسه پورې خلق د هغه ملك فضیلت راوباسي. ددې دپاره چه د اصولو تاثیر په فروعو کښې ضروري وي بیا د تجربې نه دا خبره معلومه شوې ده لکه چه ایمان او فقهه او حکمت په یمن کښې په هره زمانه کښې پاتې دې داسې په بل یو ملك کښې نۀ دې پاتې. لکه دې طرف ته چه آننده اشاره کېږي. او دومره قدرې پوره ده د حدیثو دَ مضمون د صحت دپاره او الله پاك خاص کوي په خپل رحمت سره هغه چالره چه اوغواړي نو څه وجه نشته دې چه حدیث لره خاص کړي دَ هغه خلقو نه چه کوم موجود وو په دغه زمانه کښې او د الله رحمت ددې نه زیات فراخه دې. انتهیٰ

اودا نې چه کوم فرمائیلي دي چه فقهه دَ یمن ده نو دَ فقهې نه مراد دلته دَ دین پو هه ده بیا په اصطلاح دَ شرعې کښې اهل اصولو دا معنی قرار کړې ده، چه هغه علم دې دَ احکام شرعیه عملیه د هغوی دَ دلائلو سره. بیا نې فرمائیلي دي چه حکمت هم د یمن دې د حکمې په باب کښې څو قولونه دي لیکن ښکلې او ښۀ قول دادې چه حکمت عبادت دې په هغه علم سره چه د الله پاك په معرفت باندې مشتمل وي او ددې په وجه سره بصیرت کهلاویږي او نفس تهیك کیږي او توفیق دَ عمل ورکیدې شي او دَ خواهشات نفساني نه بچاؤ راتلې شي، او حکیم هغه دې چه په هغه کښې دا تمامې خبرې موجود وي. ابوبکر بن درید وائي کومه کلمه چه د زجر وي یا د نصیحت وي او کومه خبره چه غوره والي طرف ته بلنه کوي او د بدي نه منع راولي هغه حکمت دې او هغه حکم دې او دغه مقصود دې په دې حدیث کښې 'ان من الشعر لحکمة' یعنی بعضې شعر حکمت وي. (کذا قال النوويؒ)

او په سراج الوهاج کښې دي چه حکمت د رسول الله ﷺ حدیث ته وائي چه دَ الله دَ کلام نه ورستو دې، او یو جماعت د سلفو ددې آیت تفسیر داسې کړې دې "یعلمهم الکتاب والحکمة" تفسیر دادې چه په دې شان ددې آیت "ادع الی سبیل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة" نو صفا دَ حدیث په معنو کښې دادې چه دَ حکمت نه حدیث نبویؐ مراد دې چه په هغې باندې دَ

حدیثو کتابونه مشتمل دی او فرمائیلی نی دی چه بعضی شعر حکمت دے ددے مطلب دادے چه بعضی شعر د حدیث موافق وی هغه ښهٔ دے او کوم شعر چه د حدیث نبوی ﷺ خلاف وی هغه قبیح دے. او کومه چه ابن الصلاح وغیره د حکمت معنی بیان کړے ده هغه د فلاسفو د تعریف سره ملاویږی او هغے ته نزدے دے. او یو دلیل ددے خبرے چه د حکمت نه مراد حدیث دے دادے چه ددے سره نے فقهے لره بیان کړه او دا حدیث د نبوت د نشانو نه یوه نشانه ده او په دے کښے د رسول الله ﷺ د طرف نه په یمن او په خاوندانو د یمن باندے شهادت دے. چه په دوی کښے ایمان دے او فقهه ده او حدیث دے. او دا دومره لوے فضیلت دے چه ددے نه لوے کوم بل فضیلت نشته دے او خو ایتونه او حدیثونه ددوی په شان کښے او د دوی د ایمان په صفت کښے وارد شوے دی. چه هغے لره علامه شوکانی په خپلو تصانیفو کښے بیا کړے دی. او هغے لره په سلسلة العسجد وغیره کښے ذکر کړے دی. او د یمن او صنعاء بیان په خو کتابونو کښے لیکلے دے چه په هغوی کښے حظیرة القدس او ریاض المرتاض دی.

او ما د یمن والو نه د خو علماؤ حال چه هغه په کتاب او سنت باندے چلیدونکے وو په کتاب "اتحاف النبلاء" او "التاج المکلل" کښے ذکر کړے دی او شکر دے د الله تعالی په دے خبره باندے چه د قرآن او حدیث او د فقهے په علم کښے مونږ ته د اهل یمن نه توسل دے. انتهی

(۱۸۳) عَنِ ابْنِ عَوْنٍ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ بِمِثْلِهِ.

ترجمه: ابو هریرهؓ د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی (د سابقه حدیث په شان مگر سند لږ مختلف دے.

(۱۸۴) عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ اَتَاكُمْ اَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ اَضْعَفُ قُلُوبًا وَاَرَقُّ اَفْئِدَةً اَلْفِقْهُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ. [بخاری: ۴۳۹۰]

ترجمه: د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه تاسو ته یمن والا راغلل چه د هغوی زړونه ضعیف او فؤاد نے نرم دی فقهه هم د یمن او حکمت هم د یمن دے.

فائده: فواد او زړهٔ دواړه د شهرت په بناء باندے یو دی او بعضو وئیلی دی چه فواد مغایر دے د قلب او عین دے د قلب او بعضو وئیلی دی چه فواد باطن قلب دے او بعضو وئیلی دی چه

فواد دَ زړهٔ پرده ده او دَ زړهٔ دَ ضعیف کیدو نه دا مراد دے چه په دے کښے د الله جل شانه نه یره او عاجزی ده۔ او دَ نصیحت موندلو قابل دے او سختی او کلك والی نه سلامت دے لکه څنګه چه دَ نورو خلقو په زړهٔ کښے دے او دَ هغے نه ضعف قلب مراد نهٔ دے چه دَ حاکمانو په نزد بادے پر لوے عیب دے۔

(١٨٥)عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ رَأْسُ الْکُفْرِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَالْفَخْرُ وَالْخُیَلَاءُ فِی اَهْلِ الْخَیْلِ وَالْإِبِلِ الْفَدَّادِیْنَ اَهْلِ الْوَبَرِ وَالسَّکِیْنَةُ فِی اَهْلِ الْغَنَمِ :

ترجمه : دَ ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرما ئیلی دی چه دَ کفر سر دَ مشرق طرف ته دے لوئی او توقے مسخرے کول او فخر او تکبر کول په اسونو او اوښانو والا کښے دے چه هغه چغے وهی او وبر والا دی او غریبی او نرمی په خاوندانو دَ بزو کښے ده۔

فائده : په حدیث کښے دَ فدادین لفظ دے ددے په معنو کښے اختلاف دے ابو عمرو شیبانی وائی چه دا دَ فداد جمع ده په تشدید دَ دال سره او فداد غوا او غویانو ته وائی چه دَ هغے نه دَ زمیندارئ کار اخستے شی ددے نه مراد کاشت کار او زمیندار ملکی خلق دی لیکن نور ددے نه انکار کوی او وائی چه فدادین دَ فدید نه دے چه دَ هغے معنی ده چغے وهل او شور کول او مراد ترے نه هغه خلق دی چه هغه په اوښانو او اسونو او پټو کښے چغول کوی او حد درجه بد اخلاقه او سخت دی۔ او ابو عبیده وائی چه دَ فدادین نه هغه خلق مراد دی او هغوی سره ډیر اوښان دی دَ دوو سوو نه واخله تر دَ زرو پورے۔ (نوویؒ)

په تحفة الاخیار کښے دی چه د څناورو دَ صحبت هم تاثیر وی دَ اسونو او د اوښانو خدمت کونکے اکثر بد اخلاقه وی او دَ بزو څرونکے زیات مسکینان وی۔ په دے واسطه پیغمبرانو علیهم السلام بزے څرولے دی۔ (او وبر والا دی) وبر وائی دَ اوښانو ویختو ته او دا دَ اوښانو والا سره وی نهٔ دَ اسونو والا سره وی۔ او شاند مراد هغه خلق وی چه هغوی سره اسونه او اوښان دواړه وی۔

(١٨٦)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ اَلْاِیْمَانُ یَمَانٍ وَّالْکُفْرُ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالسَّکِیْنَةُ فِی اَهْلِ الْغَنَمِ وَالْفَخْرُ وَالرِّیَاءُ فِی الْفَدَّادِیْنَ اَهْلِ الْخَیْلِ وَالْوَبَرِ :

ترجمه : ذ ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ایمان په یمن کښے دے او کفر دَ یورپ په طرف باندے دے ۔ او غریبی او اطمینان په بزو والا کښے دے او لوئی او ځان ښودل په شور کونکو والو کښے دے. چه هغه اوښان او اسونه ساتی.

(۱۸۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ الْفَخْرُ وَالْخُیَلَاءُ فِی الْفَدَّادِیْنَ اَهْلِ الْوَبَرِ وَالسَّکِیْنَةُ فِیْ اَهْلِ الْغَنَمِ :

ترجمه : ذ ابو هریرةؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو لوئی او تکبر کول په شورکوونکو والا کښے دے او چه هغه اوښان لری او غریبی او مسکینی په بزو والو کښے ده ۔

(۱۸۸) وَحَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الدَّارِمِیُّ اَخْبَرَنَا اَبُو الْیَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَیْبٌ عَنِ الزُّهْرِیِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَزَادَ : (اَلْاِیْمَانُ یَمَانٍ وَالْحِکْمَةُ یَمَانِیَةٌ) بخاری : ۳۴۹۹]

ترجمه : په دے سند سره هم مذکوره بالا حدیث منقول دے صرف دومره اضافه ده چه ایمان په یمن والو کښں دے ، حکمت په یمن والو کښں دے ۔

(۱۸۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِیَّ ﷺ یَقُوْلُ : جَاءَ اَهْلُ الْیَمَنِ هُمْ اَرَقُّ اَفْئِدَةً وَاَضْعَفُ قُلُوْبًا اَلْاِیْمَانُ یَمَانٍ وَالْحِکْمَةُ یَمَانِیَةٌ السَّکِیْنَةُ فِیْ اَهْلِ الْغَنَمِ وَالْفَخْرُ وَالْخُیَلَاءُ فِی الْفَدَّادِیْنَ اَهْلِ الْوَبَرِ قِبَلَ مَطْلَعِ الشَّمْسِ :

ترجمه : ذ ابو هریرةؓ نه روایت دے چه ما ذ رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه یمن والا راغلی دی دا خلق دَ کمزورے او د نرم زړۀ والا دی ایمان په یمن والاؤ کښں دے حکمت په یمن والاؤ کښں دے مسکینی دَ بزو په څرولو والا کښں ده او فخر او غرور او شور او غوغ د اوښانو دَ څرولو والا کښں دے چه هغه دَ مشرق طرف ته اوسیږی ۔

(۱۹۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَتَاکُمْ اَهْلُ الْیَمَنِ هُمْ اَلْیَنُ قُلُوْبًا وَاَرَقُّ اَفْئِدَةً اَلْاِیْمَانُ یَمَانٍ وَالْحِکْمَةُ یَمَانِیَةٌ رَاْسُ الْکُفْرِ قِبَلَ الْمَشْرِقِ :

ترجمه : ابو هریرةؓ روایت کوی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه تاسو ته یمن والا راغلی

دی دا ډیر نرم زړه والا او رقیق القلب دی حکمت او ایمان په یمن کښې دے او د کفر سر چشمه په مشرق کښې ده .

(۱۹۱) وحدثنا قتیبة بن سعید وزهیر بن حرب قالا حدثنا جریر عن الاعمش بهذا الاسناد ولم یذکر : رأس الکفر قبل المشرق :

ترجمه : مذکوره بالا حدیث په دے سند سره هم راغلے دے صرف په دے کښې دا الفاظ نشته دے چه د کفر سر چشمه په مشرق کښې ده .

(۱۹۲) وحدثنی محمد بن المثنی حدثنا ابن ابی عدی وحدثنی بشر بن خالد حدثنا محمد یعنی ابن جعفر جعفر قالا حدثنا شعبة عن الاعمش بهذا الاسناد مثل حدیث جریر وزاد : والفخر والخیلاء فی اصحاب الابل والسکینة والوقار فی اصحاب الشاء : [بخاری : ۳۳۸۸]

ترجمه : اعمش په دے مذکوره سند سره د جریر د حدیث مطابق نقل کړے دی او په هغے کښې نے دومره اضافه کړے ده چه فخر او غرور په اوبنانو والاؤ کښې دے او مسکنت او وقار د بزو والاؤ کښې دے .

(۱۹۳) عن جابر بن عبد الله یقول قال رسول الله ﷺ غلظ القلوب والجفاء فی المشرق والایمان فی اهل الحجاز :

ترجمه : د جابر بن عبد الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د زړونو سختی او کهر کهراپن په یورپ والو کښے ده او ایمان په حجاز والو کښے دے.

فائده : د مدینے نه د مشرق په طرف د مضر کافران اوسیدل چه هغه ډیر زیات سخت خلق وو او د حضور و ملاقات ته راتلونکی خلق به ئے تنګول او حجاز د عربو یو قطعه ده چه په هغے کښے مکه او مدینه او طائف آباد دی. په السراج الوهاج کښے دی چه په دے حدیث کښے د مشرق مذمت او د حجاز تعریف دے او یمن په حجاز کښے داخل دے. او هندوستان په مشرق کښے دے او دا د یوے تیرے شوے زمانے حکایت دے بیا الله تعالی په هندوستان باندے خپل فضل اوکړو او په هغے کښے ئے اسلام او مسلمانانو لره خواره کړل او د هند ډیر زیات خلق په اسلام

باندے مشرف شول او دا د الله تعالی فضل دے چه هغه چالره اوغواړی ورکوی. او په هندوستان کښے ډیر لوے لوے علماء او فضلاء تیر شوے دی او ډیر محدثین چه په کتاب او سنت باندے ے عمل کولو او د هند اوسیدونکی هغه بعضے بدعتیان چه هغه ددے حدیث نه خبرے راوبـسی چه د مشرق نه مراد د نجد خلق دی او دا حدیث په نجد والو باندے صادق راخی او په دے بناء باندے تکفیر کوی د شیخ محمد بن عبد الو هاب نجدی چه هغه د نجد نه راووتے او حجاز نه راغلے وو او هغوی توحید لره خور کړے وو او شرك لره نے ختم کړے وو نو دا په تدعین د هند سره تعصب او عناد دے ددے وجے نه چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی چه د کفر لوړ غر په یورپ کښے دے او نجد نے خاص کړے نۀ دے او مشرق عام دے تمام هغه ملکونو لره شامل دے چه هغه د مدینے نه یورپ طرف ته واقع دی هند وی یا سند او شیخ محمد بن عبد الو هاب مسلمان وو عالم وو او د حقے خبرے دعوت نے ورکوو هغه نۀ کافر وو او نۀ د اسلام نه خارج وو .

بیا ددے حدیث نه به خنګه مراد شی په دے حال کښے چه هر کله په بعضے احادیث صحیحو کښے د نجد والو فضیلت موجود دے هغه د یو سړی په باب کښے چه هغه د نجد اوسیدونکے وو فرمانیلے دی چه دۀ خلاصے اوموندو کۀ چرے هغه رښتونے دے او د حدیث نه مراد هغه سړے دے چه هغه ددے صفت قابل وی یعنی سخت دله او کافر وی او په چا کښے چه دا صفت نشته دے هغه په حدیث کښے داخل نۀ دے خواه کۀ نجدی وی یا هندی وی یا مشرقی وی. یا مغربی اوندلسی وی. او د. حدیث مفهوم دغه دنے. مترجم مولانا شبیر الدین صاحب قنوجی نه اوریدلے وو او فرمانیلے نے وو جه د مشرق نه مراد د " بدایون " قصه دہ چه د مدینے منورے نه د یورپ په طرف باندے واقع دہ او د هغه ځائے نه د شیطان قرن وتلے دے چه هغه په دنیا کښے د بدعت رواج خور کړو علمانے موحدینو لره نے فاسقان او کافران قرار کړل الله تعالیٰ دے دۀ د شر نه تمام مسلمانان بچ اوساتی آمین یارب العالمین:

باب بیان انه لا یدخل الجنة الا المؤمنون وان محبة المؤمنین من الایمان وان افشاء السلام سبب لحصولها:

باب : جنت تـه بـه هم مؤمنان ځی او د مؤمنانو سره محبت ساتل په ایمان کښې داخل دی او دَ سلام رواج کول دَ محبت سبب دے :

(۱۹۳)عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ لا تَدْخلُون الْجنَّة حتّی تُؤْمِنُوا وَلا تؤمنُوا حتّی تحابُّوا وَلا اَدلُّكُم علٰی شَیْئٍ اِذَا فَعلْتُموهُ تحابَبْتُم اَفْشُوا السَّلام بَیْنكُم : [ابن ماجه : ۶۸]

ترجمه : دَ ابـو هـریـرةؓ نـه روایـت دے چـه رسـول اللّٰه ﷺ فرمائیلي دی تاسو جنت ته نهٔ شی تلے ترڅو چه تاسو ایمان راؤنهٔ وړی او ایماندار به جوړ نهٔ شی دَ کومے پورے چه تاسو په خپلو کښے یو بل سره محبت اونهٔ ساتی او زهٔ تاسو ته هغه څیز اونه ښایم چه هر کله تاسو هغے لره کوی نو په خپلو کښے مو دَ یو بل سره محبت جوړیږی سلام لره په خپلو کښے رواج کړی ۔

فائده : ایمان دار به جوړ نهٔ شی یعنی پوره ایماندار به نهٔ شی تر کومے پورے چه محبت او نهٔ ساتی په خپلو کښے دَ یو بل سره او دَ سلام رواج کولو دا معنی ده چه هر یو دَ ایمان خاوند ته به سـلام کـوے خـواه کهٔ دَ هغه سره پیژنګلی وی یا نهٔ وی او سلام دَ مینے سبب دے او دَ دوستی دَپیـدا کـولو کنجی ده او دَ سلام په رواج کولو کښے دَ مسلمانانو په زړونو کښے نزدیکت راځی او ددے عـلامـت ظاهریږی ۔ ولے چه سلام دَ مسلمانانو نشانی ده چه په نورو قومونو کښے نے ممتاز کـوی او پـه دے کښے دَ نـفـس ریاضـت دے او عـاجزی ده او دَ نورو مسلمانانو عاجزی ده او دَ نورو مسلمانانو تعظیم دے ۔

بـخـاری په خپل صحیح کښے دَ عمار بن یاسر نه روایت کوی هغوی وائی چه درے خبرے دی چـاچـه هغه حاصلے کړے نو ایمان نے حاصل کړو یو خو انصاف په خپل نفس کښے دویم تولو تـه سلام کول دریم دَ تنګی په وخت کښے خرچ کول ، او دَ بخاری نه علاوه نورو خلقو دے قول لره مرفوعا روایت کړے دے ۔ او په سلام کښے یوه بله فائده داده چه په دے سره عداوت او دشمنی لرے کیږی او پـه خپلـو کښے حسد او بغض لرے کیږی چه هغه نیکی لره ورانوی ۔ مګر سلام به خاص دَ خدائے پـه واسطه باندے کوی نهٔ دَ څه خواهشات نفسانی نه، او نهٔ به سلام لره په خپلو دوستانو او خپلوانو پورے خاص کوی ۔ (کذا قال النوویؒ)

په تحفة الاخیار کښې دي چه د جنت ملاویدل په ایمان باندې موقوف دي او ایمان په محبت باندې موقوف دې نو معلومه شوه چه جنت په محبت باندې موقوف دې بیا حضرت محمد ﷺ د محبت د حاصلولو آسانه طریقه د السلام علیکم ، کول اوښودل. په سلام سره په دې واسطه باندې محبت حاصلیږي چه دا دعاءِ خیر دې یعنې الله پاك دې تاله د هرې بلا نه سلامت اوساتي. او معمول دې چه بنده خپلې خیر خواه دُعا غوښتونکي لره خپل دوست ګڼي. نو هغه هم دهٔ سره محبت شروع کړي. هر چند سخاوت او احسان هم د محبت سبب دې لیکن سخاوت او احسان : تمامو مسلمانانو نه نۀ شي کیدې او سلام آسانه خبره ده چه د هر چانه کیدې شي په دې واسطه باندې حضور ﷺ دې لره خاص کړې او ښودلې دې. لیکن افسوس! زمانه الټه شوې ده چه دَ جهالت او غرور په سبب سره اوس بعضې خلق په السلام علیکم کولو سره خفه کیږي او دشمني ته ملا تړي دَ محبت او دَ خیرخواهي ځیز ددې الټه شوو په نزد دَ دشمنۍ سبب شوې دې. انتهی

مترجم وائي ما چه کوم خلق په السلام علیکم کولو سره خفه شوې لیدلې دي هغهٔ هغه خلق دي چه هغه دَ انتهاء درجې جاهل او وحشي دي. چه هغوی ته دا هم معلومه نۀ ده چه دَ السلام علیکم معنی څه ده؟ که چرې دغه خلقو ته څوك په پښتو ژبه کښې اووائي چه خدائې پاك دې تاله سلامت اوساتي چه دا بعینه د سلام معنی ده نو خوشالیږي پس ددې جاهلانو علاج دادې چه دوی ته دَ السلام علیکم معنی اوښودلې شي او په دې باندې پوهه کړې شي چه صحابه کرامؓ به رسول لله ﷺ ته چه د دین دنیا دوارو هدایت کوونکې وو اسلام علیك وینا کوله او دا دَ اسلام شعار دې . بیا ستاسو حقیقت څه دې چه تاسو دَ رسول الله ﷺ دَ سنتو نه ناراضه کیږي او ستاسو درجه هم څه ده او ستاسو څوك تپوس کوی که چرې تاسو دا بد خیالونه پرې نۀ دي نو تاسو به دَ اسلام نه بهر شي او ددې غرور او جهالت په وجه باندې به مو دین او دنیا دواړه تباه شي .

(۱۹۵)عن الاعمش بهذا الإسناد قال قال رسول الله ﷺ والذي نفسي بيده لا تدخلون الجنة حتى تؤمنوا بمثل حديث ابي معاوية ووكيع :

ترجمه : دویم روایت د اعمش نه هم په دے شان دے او هغه دادے چه حضور ﷺ فرمائیلی دی قسم دے په هغه ذات باندے چه د چا په قبضه کښے زما روح دے چه جنت ته به لاړ نهٔ شی تر دے پورے چه ایمان راؤنهٔ وړی د آخره پورے . د ابو معاویه او د وکیع د حدیث په شان :

باب بیان ان الدین النصیحة :

باب : دین خیر خواهی او سچائی او خلوص ته وائی :

(۱۹۲)عن تمیم الدّاری انّ النّبیّ ﷺ قال الدّین النّصیحة قُلنا لِمن قال للّٰه ولکتابه ولرسوله ولائمة المُسلمین وعامّتهم : [ابوداود ۴۹۴۴، نسائی : ۴۲۰۸، ۴۲۰۹]

ترجمه : د تمیم داری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دین د خلوص او خیر خواهی نوم دے مونږه اووے د چا دَ پاره ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل د الله او د هغه د کتاب او د هغه د رسول او د مسلمانانو دَ امامانو او دَ تمامو مسلمانانو .

فائده : نووی وائی چه دا حدیث عظیم الشان دے او په دے باندے دَ اسلام دارومدار دے او هغه چه کوم بعضو وئیلی دی چه دا ددے څلورو احادیثو نه یو حدیث دے چه دَ اسلام دَ تمامو خیرو جامع دے نو صحیح نهٔ دے بلکه صرف په دے حدیث باندے د اسلام دارومدار دے او دا حدیث د مسلم د افرادو نه دے او د تمیم داری نه په صحیح بخاری کښے څه روایت نشته او نهٔ په مسلم شریف کښے ددے نه سوا بل څه روایت دے . په دے روایت باندے ابو سلیمان خطابی وئیلی دی چه نصیحت یو جامع لفظ دے چه ددے په مثل باندے د عربی په ژبه کښے بل لفظ ډیر کم دے . او معنی ددے داده چه د ټولو نیکو یو ځائے کول چه د هغے دپاره نصیحت اوکړے شی دغه شان د فلاح لفظ دے په عربی ژبه کښے چه ددنیا او آخرت د هر قسم نیکو جامع دے بعضو وئیلی دی چه نصیحت وتلے دے د نصح الرجل ثوبه نه یعنی اوګنډله فلانکی خپلے کپړے لره نو دَ نصیحت کونکی کار لره نے مشابهت ورکړو د ګنډلو سره لکه څنګه چه په ګنډلو سره کپړا صحیح کیږی دغه شان په نصیحت کولو سره د بل بنده خلل ختمیږی، او هغه صحیح کیږی او بعضے وائی چه هغه وتلے دے د نصحت العسل نه یعنی ما صفا کړو ګبین لره دَ مومونه نو

مشابهت نے ورکړو صفا خبرے لره چه په هغے کښے غلط والے نۀ وی د هغے کېښن سره چه هغه له مومنه او چرکونه پاك کړے شی لیکن د نصیحت په تفسیر کښے خطابی او علماؤ په دے باب کښے یو نفیس کلام کړے دے او زۀ نے دے تولو لره ملاووم او د نصیحت په طور باندے نے بیانووم په مختصر طور باندے. د الله تعالیٰ دپاره نصیحت دادے چه په هغه باندے ایمان راوړی او د هغه سره چالره شریك نۀ کړی او دَ هغه په صفاتو کښے بے دینی اختیار نۀ کړی.

خو مره صفات چه د کمال او دَ جمال دی هغه تول د هغه دپاره ثابت کړی او هغه لره دَ تمامو عیوبو او نقصاناتو نه پاك اوګنړی، او دَ هغه د عبادت دپاره تیار شی او دَ هغه د نافرمانی نه ځان بچ اوساتی، دَهغه دَ پاره دوستی کوی او د هغه دپاره دشمنی. او کوم بنده چه د خدائے نه انکار کوی دَ هغه سره جهاد کوی او دَ هغه دَ احسان اقرار کوی او دَ هغه شکرګزار شی په تمامو کارونو کښے ربنتونے او مخلص وی دے تولو خبرو ته خلق راغواړی او دے تولو خلقو ته یا چه په کومو باندے دے قدرت لری هغوی ته ترغیب ورکړی خطابی وائی چه په دے خبرو باندے بنده ته نصیحت حاصلیږی نۀ الله تعالیٰ ته. ولے چه الله پاك بے پرواه دے دَ هر نصیحت کونکی د نصیحت نه.

دویم داچه دَ خدائے دکتاب دپاره نصیحت دادے چه په دے خبره باندے یقین اوکړی چه داد الله کلام دے او هغه دے لره رالیږلے دے. دَ چا مخلوق کلام ددے په مثل باندے نۀ شی کیدے او نۀ څوك مخلوق ددے په شان جوړولے شی بیا ددے لونی په زړۀ کښے اولری اوددے تلاوت کوی په څه شان چه د تلاوت حق دے. او دے لره په خوش آوازی سره لولی د درد او د رقت سره ددے حروف په ښۀ شان سره اداء کوی. کوم خلق چه په دے کښے تحریف کول غواړی په تاویلاتو سره دَ هغوی رد اوکړی او څوك چه په دے باندے اعتراض او طعنه کوی د هغے جواب ورکړی کوم مضامین چه ٥ دے کښے دی دَ هغے تصدیق اوکړی ددے د احکامو نه خبردار شی او ددے په علومو او مثالونو باندے پو هه شی او ددے په نصیحتونو باندے غور اوکړی او ددے په عجائبو او غرائبو کښے سوچ او فکر اوکړی او په دے کښے چه کوم آیتونه محکم دی په هغے باندے عمل اوکړی. (یعنی دَ حلالو او حرامو آیتونه او د احکامو آیتونه) او کوم آیتونه چه متشابه دی (یعنی دَ

اعتقاد ایتونه) هغې لره تسلیم کړي. یعنې د هغې په ظاهري معنی باندې یقین اوکړي لو د هغې حقیقت الله پاك ته اوسپاري، (په هغې کښې تحریف ، تاویل یا انکار نۀ کوي) ددې عام لو خاص او ددې ناسخ او منسوخ اوپیژني او ددې علومو لره خوروي او خلقو لره دې طرف ته رابلي.

ذ رسول الله ﷺ دپاره نصیحت دادې چه هغه لره د الله پاك رالیږلے شوے اوګنړي، لو په هغه باندې یقین اولري او ټولو هغه خبرې چه هغه ته ورکړے شوے راغلی دي په هغې تمامو باندې ایمان رالوړي. د هغه حکم مني او هغه چه ذ کومو خبرو نه منع کړے ده د هغې نه منع شي. ذ هغه مدد کوي (اګر چه هغه وفات موندلے دے) داسې مدد کوي بلکه چه هغه په دنیا کښې ژوندے وي. اوکوم سړے چه ذ هغه دشمني کوي د هغه سره دشمني اوساتي او چه کوم بنده ذ هغه دوست وي ذ هغه سره دوستي اوساتي. ذ هغه درجه لویه اوګنړي او ذ هغه ذ حق توقیر اوکړي لو ذ هغه طریقې ژوندي کړي او ذ هغه په سنتو باندې محکم وي او ذ هغه دعوت لره خوروي. ذ هغه شریعت لره مشهور کړي او ذ هغه په شریعت باندې چه څوك تهمت لګوي هغه تهمت لره لرې کوي. او ذ هغه ذ شریعت علم لره خوروي او ذ هغه ذ شریعت په مضامینو کښې غور کوي لو د هغې طرف ته خلق راغواړي او ذ هغې په زدکړه او په ایزده کولو کښې کوشش او نرمي کوي، ذ هغې عظمت او بزرګي کوي او دې لره ذ لوستلو په وخت په ادب سره لولي لو لغوه یعنې بې فائدې خبرې نۀ وي بغیر د ارادې او ذ علم نه به په دې کښې خبرې نۀ کوي او کوم خلق چه د قرآن او حدیث عالمان وي د هغوی به عظمت او عزت کوي او ذ هغوی اخلاقو او عاداتو لره به اختیاره وي. د هغوی په ادب باندې به چلیږي او د هغه اهل بیتو او اصحابو کرامؓ سره به محبت ساتي. او څوك چه د هغه په شریعت کښې بدعت راوباسي ذ هغوی نه به جدا کیږي (یعنې ذ هغه سره به نۀ شریك کیږي او د هغه مدد به نۀ کوي) او کوم سړے چه ذ هغه ذ خاندان یا اصحابو سره دشمني بغض او حسد ساتي ذ هغوی نه به جدا کیږي.

د مسلمانانو حاکمانو د پاره نصیحت دادې چه ذهغوی په اقتداء کښې به مونځ کوي لو ذ هغوی په ملګرتیا کښې به ذ کافرانو سره جهاد کوي لو د حق په خبره کښې به ذ هغه مدد لو اطاعت کوي او هغوی ته به ذ حقې خبرې حکم کوي او یاده وي به ئې ورته او په نرمۍ لو په محبت

سره به نصیحت کوی او کومے خبرے نه چه هغه ناخبره وي هغه به ورته ښائی او په مسلمانانو کښے چه ډ چا د حق هغه ته خبر نۀ وی نو د هغے نه به ئے خبره وی او د هغه نه به بغاوت او سرکشی نۀ کوی او ډ خلقو زړۀ به ډ هغه طرف ته مائله کوی. خطابی وائی چه دا هم ډ هغه دپاره نصیحت دے چه په هغه پسے به مونځ کوی او ډ هغه سره یو ځائے به ډ کافرانو سره جهاد کوی زکوة به هغه لره ورکوی توره به په هغوی باندے نۀ اوچتوی اګر کۀ هغه څه ظلم اوکړی یا بد اخلاقی اوکړی او ډ دروغو په خوشامندی باندے به هغه نۀ مغروره کوی. او ډ هغه ډ پاره به ډ نیکی دعا کوی او دا تمام په داسے صورت کښے دی چه ډ مسلمانانو ډ امامانو نه خلفاء وغیره مراد دی چه هغه ډ مسلمانانو ډ کارونو انتظام کوی ډ حکومت والو نه او دا مشهوره ده او خطابی هم دے لره نقل کړے ده۔

بیائے اووے چه ډ امامانو نه کله ډ دین علماء مراد اخستے شی او ډ هغوی دپاره نصیحت دادے چه ډ هغوی خبرو لره منی چه ډ قرآن او حدیث مطابق وی لیکن ډ عامو مسلمانانو دپاره نصیحت هغه خبره ده چه هغوی ته هغه خبره اوښائی چه په هغے کښے ډ هغوی ډ دنیا او آخرت فائده وی او هغوی ته ضرر نۀ ورکوی او هغوی ته ډدین هغه خبرے ایزده کوی چه په هغے باندے هغه نۀ پو هیږی او په ژبه او لاسونو سره ډ هغه مدد کوی او ډ هغه عیبونو لره پټوی او ډ هغوی نه ضرر لرے کوی. او ډ هغوی ډ نفعے دپاره کوشش کوی او هغوی ته ډ نیکے خبرے حکم کوی او ډ بدے خبرے نه ئے په نرمی او محبت شفقت سره منع کوی. او په دوی کښے چه کوم بزرګ بوډا وی ډ هغه بزرګی او عزت کوی او کوم بچے چه وړوکے وی په هغه باندے شفقت او هغه ته ډ ښو خبرو پند او نصیحت کوی او ډ هغوی سره فریب او حسد نۀ کوی او ډ هغوی دپاره به هغه څه خوښوی کوم څه چه ډ ځان دپاره خوښوی او ډ هغوی دپاره به بد ګڼری هغه څه چه هغه ډ خپل ځان دپاره بد ګڼری او ډ هغوی ډ مال یا عزت به محافظت کوی په دے شان څومره خبرے چه مونږه ډ نصیحت بیان کړے ددے تولو هغه ته دعوت ورکول دی او ډ هغوی همت عبادت طرف ته لګول دی او سلف صالحینو نه بعضے داسے بزرګان وو چه هغوی ډ نصیحت ډ پاره ډ خپلے دنیا ډ نقصان پرواه نۀ لرله ۔

دا خلاصه ددے چه کوم بیان شو د نصیحت په تفسیر کښے ابن ابطال وائی چه ددے حدیث نه دا خبره معلومه شوه چه نصیحت ته دین او اسلام ونیلے شی. او ددین اطلاق په اعمالو باندے هم دے لکه چه په اقوالو باندے دے او نصیحت فرض کفایه دے کۀ بعض خلق ئے اوکړی نو پوره دے په باقی خلقو باندے به مؤاخذه پاتے نۀ شی. او نصیحت د خپل طاقت په مناسب لازم دے هر کله چه دا معلومه شی چه ددۀ نصیحت قبلیدے شی او ددۀ د حکم اطاعت کیدے شی او په دۀ باندے به څه آفت نۀ شی راتلے او کۀ چرے دَ څه آفت یا مصیبت یره وی نو اختیار مند دے کۀ غواړی نو نصیحت دے پریږدی۔

(۱۹۷) عَنْ تَمِيْمِ الدَّارِي عَنِ النَّبِيِّ ﷺ بِمِثْلِه : [راجع : ۱۹۶]

ترجمه : په یو بل سند سره تمیم داری دَ رسول الله ﷺ نه روایت کوی په تیرو شوو الفاظو سره۔

(۱۹۸) عَنْ تَمِيْمِ الدَّارِي عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بِمِثْلِه : [راجع : ۱۹۶]

ترجمه : په یو بل سند سره تمیم داری دَ رسول الله ﷺ نه نقل کوی دَ تیر شوے حدیث په شان.

(۱۹۹) عن جرير قال بايعتُ رسول الله ﷺ على إقام الصلوة وايتاء الزكوة والنصح لكل مسلم. [بخاری : ۵۷، ۵۲۴، ۱۴۰۱، ۲۱۵۷، ۲۷۱۵، ترمذی : ۱۹۲۵]

ترجمه : د جریر بن عبد الله بجلی نه روایت دے. ما دَ رسول الله ﷺ نه په مونځ لوستلو باندے او په زکوة ورکولو باندے او دَ هر مسلمان په خیر خواهی باندے بیعت کړے دے۔

فائده : خاص ئے کړو مونځ لره او زکوة لره ولے چه دا دواړه د شهادتینو نه ورستو ددین لوے رکنونه دی او زکوة لره ئے ذکر نۀ کړو ددے دپاره چه په دویم روایت کښے دی چه ما بیعت کړے دے په اوریدو او منلو باندے. او روژه په دے کښے د حلے ده بلکه ددین تمام احکام په دے کښے راغلل۔

(۲۰۰) عَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ يَقُوْلُ بَايَعْتُ النَّبِيَّ ﷺ عَلَى النُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ :

ترجمه : دَ جریر بن عبد الله نه روایت دے چه ما د رسول الله نه دَ هر مسلمان دَ خیر خواهی

دپاره بیعت کړے دے۔

(۲۰۱)عن جرير قال بايعت النبي ﷺ على السمع والطاعة فلقّني فيما استطعت والنصح لكل مسلم : [بخاري : ۲۰۳، نسائي ۴۲۰۰]

ترجمه : د جریر نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه بیعت کړے دے د اوریدو او د منلو (یعنی کوم حکم چه تهٔ راته کوے هغه به منم او اورم به ئے بیا هغه زهٔ پوهه کړم دومره اووے ونیل! د کومے پورے چه زما قدرت دے (دا د هغه د شفقت کمال وو په خپل امت باندے چه شاند څه حکم سخت نهٔ شی او نهٔ کیږی نو په بیعت کښے به خلل راشی ندے دپاره ئے دومره نور اولوستو چه د کومے پورے زمانه کیدے شی) او په دے خبره باندے ما بیعت اوکړو چه د هر مسلمان خیرخواه به یم.

فائده : ښ جریر په خپل بیعت باندے داسے عمل اوکړو چه یو ځل ئے خپل غلام د اس د اخستو دپاره اولیږو هغه په درے سوه درهمه باندے یو اس بیعه کړو او د هغے اس مالك هم د قیمت : اخستو دپاره ورسره راغے جریر د اس مالك ته اووے چه ستا دا اس د درے سوو درهمو نه د زیات قیمت دے ته دے لره په څلور سوه درهمه باندے خرڅ کړه هغه اووے چه ما خو تا لره اختیار درکړے دے چه کوم قیمت مناسب وی هغه راکړه جریر اووے چه هغه د څلورو سوو درهمو نه هم د زیات قیمت دے لهذا په پنځه سوه درهمه باندے ئے راخرڅ کړه په دے شان باندے جریر سل سل درهمه زیاتول او مالك په کمه باندے راضی وو تر دے پورے چه تر د اتو سوو قیمت ئے کړو او په اتهٔ سوه باندے ئے واخستو خلقو اووے دا دے څه اوکړل جریر اووے ما د رسول الله ﷺ نه د هر مسلمان سره په خیر خواهی کولو باندے بیعت کړے دے نو د اس خرڅوونکے هم مسلمان وو او دا خبره د بد خواهی نهٔ وه چه ددهٔ مال په کم قیمت سره واخلم او دهٔ لره دے نقصان ورکړم روایت کړے دے دے لره طبرانی

باب بيان نقصان الايمان بالمعاصي ونفيه عن المتلبس بالمعصية على ارادة نفى كماله

باب: په گناهونو سره د ایمان کمیدل او په وخت د گناه د گنهګار نه د ایمان د جدا کیدو.
یعنی د گناه د کولو په وخت د کمال ایمان د نهٔ پاتې کیدو بیان:

(۲۰۲)عن ابی هریرة انّ رسول الله ﷺ قال لاتزنی الزانی حین یزنی وهو مؤمن ولا یسرق السارق حین یسرق وهو مؤمن ولا یشرب الخمر حین یشربها وهو مؤمنٌ قال ابن شهاب فاخبرنی عبد الملک ابن ابی بکر انّ ابا بکر کان یحدّثهم هؤلاء عن ابی هریرة ثمّ یقول انّ ابا هریرة یلحق معهنّ ولا ینتهب نهبةً ذات شرف یرفع النّاس الیه فیها ابصارهم حین ینتهبها وهو مؤمنٌ:
[بخاری: ۵۵۷۸]

ترجمه: دَ ابو هریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه زنا نهٔ کوی زنا کوونکے مګر دَ زنا کولو په وخت کښے هغه مؤمن نهٔ وی او نهٔ غل د غلا کولو په وخت مؤمن وی او نهٔ شراب څکونکے دَ شرابو دَ څکلو په وخت کښے مؤمن وی ابن شهاب وائی ما ته عبد الملك بن ابی بکر بیان کړے دے چه ابو بکر بن عبد الرحمن بن حارث دے حدیث لره بیانوی د ابو هریرة نه بیانے اووے چه ابو هریرة نور په دے کښے دومره ملاؤ کړے وو نهٔ لوټ کوونکے داسے لوټ چه هغه لوټے وی (یعنی حقیر څه نهٔ وی) چه دَ هغے طرف ته د خلقو نظر پورته شی دَ واپس کیدو په وخت مؤمن وی.

فائده: نووی فرمائی چه علمائے محققین ددے حدیث معنی داسے کوی چه دے کړونو لره دَ کولو په وخت ددهٔ ایمان کامل نهٔ وی او داسے محاوره ډیره ده چه یو شے نفی کوی او مراد د هغے نه دَ کمال نفی وی لکه دا وائی علم نشته مګر هغه چه کوم قاعده ده مال نشته مګر اوښ عیش نشته مګر دَ آخرت عیش. او مونږه دا تاویل ددے دپاره اوکړو چه دَ ابو ذرّ وغیره حدیث داسے راغلے دے چه چا لا اله الا الله اووے هغه به جنت ته ځی اګر که زنا یا غلا ئے کړے وی او د عباده ابن صامت په روایت کښے دی چه صحابه کرامو دَ رسول الله ﷺ سره په دے خبره باندے بیعت کړے وو چه نهٔ به غلا کوو او نهٔ به زنا کوو او نهٔ بل څه ګناه، بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم یو په تاسو کښے خپل بیعت پوره کړو دَ هغے خو ثواب په الله پاك باندے دے او دَ چانه

چه په دے خطایانو کښے یوه خطا اوشی او بیا هغه ته په دنیا کښے سزا ملاؤ شی نو دغه د هغه کفاره ده او چاته چه په دنیا کښے سزاء ملاؤ نهٔ شی نو په آخرت کښے الله پاك ته اختیار دے که غواړی نو معاف به نے کړی کهٔ اوغواړی نو عذاب به ورکړی نو دا دواړه حدیثونه سره د حیلو نظائرو د الله تعالیٰ ددے قول مطابق دی. "ان الله لا یغفر ان یشرک به ویغفر ما دون ذالک لمن یشاء" یعنی الله تعالیٰ نه بخی شرك کوونکی لره د هغه سره او سوا د شرك نه چه چا لره اوغواړی گناه ورته معاف کوی او دَ اهل حقو په دے باندے اجماع ده چه زنا کار غل او قاتل او ددے نه سوا خاوندان دَ کبیره گناهونو چه په شرك او کفر کښے بتلا نهٔ وی مؤمنان دی مگر ددوی ایمان ناقص دے کهٔ هغه چرے توبه کړی خو گناهونه به نے معاف شی او څوك چه گناه کوی کوی او مړ شی بیا دَ الله جل شانه په اختیار کښے ده کهٔ هغه اوغواړی او اونے بخی او کهٔ هغه اوغواړی نو د گناه برابر عذاب به ورکړی او بیا به نے جنت ته بوځی۔ مونږه لره ددے حدیث په تاویل باندے لاچاره کوی اوکوم حدیث چه ددے مطابق راغلے دے بیا دا تاویل ظاهر دے د لغت نه لرے نهٔ دے نهٔ د استعمال نه، او هر کله چه دوه حدیثونه داسے وارد شی چه په ظاهر په هغے کښے اختلاف وی نو دَ هغے تاویل کول ضروری دی او جمع کول واجب دی او بعضے علماؤ ددے حدیث معنیٰ داسے ذکر کړے ده چه کوم سړے زنا اوکړی او هغے لره حلال اوگنړی یا غلا اوکړی او هغے لره حلال اوگنړی نو هغه مؤمن نهٔ دے ځکه چه شرعی حرامو لره حلال گنړل په اتفاق د علماؤ سره کفر دے او حسن او ابو جعفر طبری وئیلے دی چه د مؤمن د نهٔ کیدو نه مراد دادی چه هغه د تعریف قابل نهٔ شی پاتے کیدے چه مؤمن دَ الله دوست دے دهٔ ته اوئیلے شی او دَ بد لقب مستحق کیږی لکه زنا کار یا شرابی یا غل یا لوټ کونکے او د حضرت ابن عباسؓ نه منقول دی چه دَ هغه دَ زړهٔ نه د ایمان نور لاړشی ختم شی او په دے باب کښے یو مرفوع حدیث هم راغلے دے او مهلب وائی چه ددهٔ بصیرت د الله پاك په عبادت کښے لاړشی او زهری وائی چه دا حدیے او کوم احادیث چه ددے په مثل باندے راغلے دی په هغو باندے ایمان راوړل پکار دی او په کوم مطلب چه راغلے دی په هغے باندے روانیدل پکار دی او دَ هغے په معنیٰ زیات غور کول نهٔ دی پکار۔

ولے چه مونږه ته دَ هغے معنیٰ معلومه نهٔ ده او هغوی وئیلے دی چه جلوی‌ددے احادیثو

لره په داسې شان لکه څنګه چه وراندې خلقو دې لره چلولې دی، او بعضو په دې حدیث کښې نور اقوال بیان کړې دی چه هغه ظاهر نۀ دی بلکه بعضې په هغې کښې غلط دی ددې دپاره ما هغې لره نقل نۀ کړو او دا اقوال چه کوم بیان شول ټول محتمل دی او صحیح هغه معنی ده کومه چه مونږه ذتولو نه وراندې بیان کړه۔ امام بخاریؒ په خپل صحیح کښې ددې حدیث معانې داسې بیان کړې دی چه هغه مؤمن کامل نۀ شی کیدې او په دې کښې دَ ایمان نور نۀ شی پاتې کیدې۔

(۲۰۳) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : لَا یَزْنِی الزَّانِی ، وَاقْتَصَّ الْحَدِیْثَ بِمِثْلِهٖ یَذْکُرُ مَعَ ذِکْرِ النُّهْبَةِ وَلَمْ یَذْکُرْ ذَاتَ شَرَفٍ : [بخاری : ۲۴۷۵، ۵۵۷۸، ۶۷۷۲، ابن ماجه : ۳۹۳۶]

وَقَالَ ابْنُ شِهَابٍ حَدَّثَنِی سَعِیْدُ ابْنُ الْمُسَیَّبِ وَاَبُوْ سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بِمِثْلِ حَدِیْثِ اَبِی بَکْرٍ هٰذَا اِلَّا النَّهْبَةَ :

ترجمه : دَ ابو هریره نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی زنا نۀ کوی یو زنا کونکې .. باقی حدیث هم هغه دې کوم چه تیر شو په دې روایت کښې دَ " ذات شرف " الفاظ نشته دې .

او ابن شهاب ونیلې دی چه ماته ابوسعیداو ابو سلمه او هغوی ته ابو هریرهؓ روایت کړې دې چه دَ نبی کریم ﷺ نه حضرت ابو بکرؓ هم ددغه حدیث په شان روایت کړې دې لیکن په دې کښې لفظ دَ " نهبة " نشته دې .

(۲۰۴) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ بِمِثْلِ حَدِیْثِ عُقَیْلٍ عَنِ الزُّهْرِیِّ عَنْ اَبِی بَکْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ وَذَکَرَ النُّهْبَةَ وَلَمْ یَقُلْ ذَاتَ شَرَفٍ :

ترجمه : په دې روایت کښې دَ " نهبة " ذکر دې او دَ " ذات شرف " ذکر په کښې نشته دې .

(۲۰۵) وَحَدَّثَنِی حَسَنُ بْنُ عَلِیٍّ الْحُلْوَانِیُّ : حَدَّثَنَا یَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرَاهِیْمَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِیْزِ ابْنُ الْمُطَّلِبِ عَنْ صَفْوَانَ ابْنِ سُلَیْمٍ عَنْ عَطَاءِ ابْنِ یَسَارٍ مَوْلٰی مَیْمُوْنَةَ وَحُمَیْدِ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ :

ترجمه : په دې سند سره هم تمام راویانو دَ ابو هریرهؓ نه او ابو هریرهؓ دَ نبی کریم ﷺ نه روایت کړې دې .

(۲۰۶) وحدثنا قُتیبة بْن سعید حدثنا عبد العزیز یعنی الدراوردی عن العلاء بن عبد الرحمن عن ابیه عن ابی هریرة عن النبی ﷺ :

ترجمه : په دے سند کښې مذکور راویانو د حضرت ابو هریرةؓ نه او حضرت ابو هریرةؓ د نبی کریم ﷺ نه روایت کړے دے۔

(۲۰۷) عنْ ابی هریرة عن النبی ﷺ کُلّ هؤلاء بمثل حدیث الزهری غیر ان العلاء وصفوان ابن سُلیم لیس فی حدیثهما : یرفع النّاس الیه فیها ابصارهم حدیث همّام یرفع الیه المؤمنون اعینهم فیها وهو حین ینتهبها مؤمنٌ : وزاد ولا یغلّ احدکم حین یغلّ وهو مؤمنٌ فایّاکم ایّاکم :

ترجمه : دا حدیث هم دَ زهری دَ روایت په شان دے لیکن فرق صرف دومره دے چه د علاء او د صفوان په حدیث کښې ((یرفع الناس الیه فیها ابصارهم)) الفاظ نشته دے او دَ همام په حدیث کښې ((یرفع الیه المؤمنون اعینهم)) الفاظ دی . په دے کښې اضافه ده چه " ولا یغل " و . . . الخ بس تاسو ځان بچ کړی . ځان بچ کړی۔

(۲۰۸) عنْ ابی هریرة انّ النبی ﷺ قال لایزنی الزّانی حین یزنی وهو مؤمنٌ ولا یسرق السّارق حین یسرق وهو مؤمنٌ ولا یشرب الخمر حین یشربها وهو مؤمنٌ والتّوبة معروضةٌ بعْدُ . [بخاری : ۶۸۱۰، نسائی : ٤٨٨٦]

ترجمه : د ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زنا کونکے چه په کوم وخت کښے زنا کوی دغه وخت هغه مؤمن نۀ وی او هر کله چه غلا کوی هغه مؤمن نۀ وی او شرابی چه هر کله شراب څکی نو هغه مؤمن نۀ وی او توبه ددے نه پس قبلیږی .

فائده : نوویؒ فرمائی چه علماؤ اجماع کړے ده چه توبه قبلیږی تر کومے پورے چه ساه وتل شروع شوے نۀ وی دَ زنکدن د آخری سلګو نه مخکښې وخته پورے . او دَ توبے درے ارکان دی یو دا خو داچه د هغه ګناه نه به بالکل ویزاره شی او په انکار سره به دَ هغے نه جدا شی، دویم داچه په تیرے شوے ګناه باندے به شرمنده او ستومانه شی چه افسوس ما دا ګناه ولے کوله، دریم دزړۀ نه به دا کلکه اراده اوکړی چه په آئنده ژوند کښې به کله داسے اونۀ کرم بیا کۀ دَ توبے نه بعد

دغه یوه گناه ده نه دوباره اوشوه نو توبه باطله نۀ ده او څوك چه د یو گناه نه توبه اوکړی او بیا بل قسم گناه اوکړی نو ورومبی توبه ئے صحیح ده د خاوندانو د حق دا مذهب دے او معتزلو دواړو مسئلو نه خلاف کړے دے۔

قاضی عیاضؒ فرمائیلی دی چه بعضو علماو دا ونیلے دی چه په دے حدیث کښے دا اشاره ده دَ تمامو گناهونو طرف ته او یره ئے ورکړے ده دَ تمامو گناهونو نه۔ نو زنا اشاره ده هغه تمامو گناهونو طرف ته کوم چه دَ خواهش نفسانیو نه کیږی او دَ حرامو دَ خواهش نه کیږی۔ او شراب اشاره ده هغه تمامو گناهونو طرف ته چه هغه دَ الله پاك دَ یاد او د ذکر نه انسان لره منع کوی او د رب ذو الجلال دَ حقوقو نه ئے غافله کوی، او لوټ اشاره ده هغه تمامو گناهونو طرف ته چه په هغے کښے دَ الله تعالیٰ په بندگانو باندے ظلم کیږی او دَ هغو بے عزتی کیږی لو دنیا په ناجائز طریقو سره راغونډیږی۔

باب بیان خصال المنافق :

باب : د منافق د خصلتونو بیان :

(۲۱۰) عن عبد الله ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ اَربَع مَن کُنّ فِیه کَانَ مُنافقًا خَالصًا وَمن کَانت فِیه خَلَّة منهن کان فِیه خَلّة مَن نَفاق حتّی یدعها اذا حدّث کَذب وَاذا عَاهدا غدر وَاذا وعد اَخلف وَاذا خاصم فجر غیر انّ فی حدیث سُفیان وَان کانت فِیه خصْلة مِن النّفاق : [بخاری : ۳۴، ۲۴۵۹، ۳۱۷۸، ابوداود : ۴۶۸۸، ترمذی : ۲۶۳۲]

ترجمه : د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په چا کښے چه څلور خبرے وی هغه بالکل منافق دے په چا کښے چه ددے څلورو نه یو خصلت وی نو په هغه کښے د نفاق یو خوی دے تر دے پورے چه هغے لره پریږدی۔ یو خو دادے چه کله خبرے کوی نو دروغ وائی دویم چه کله اقرار اوکړی نو د هغے خلاف کوی دریم چه کله وعده اوکړی نو هغه نۀ پوره کوی څلورم چه کله جګړه کوی نو په ناحقه سره چلیږی او طوفان برپا کوی۔

فائده : او په بعضو روایتونو کښے دادی چه هر کله ددۀ سره امانت کیخودے شی نو په

هغې کښې خيانت کوي نووي فرماني چه علماؤ دې حديث ته مشکل وئيلې دی په دې وجه سره چه کله دا خصلتونه په هغه مسلمان کښې پيدا شي چه هغه د ايمان په ارکانو باندې يقين لري او علماؤ په دې خبره باندې اجماع کړې ده چه کوم سړې په زړه سره دا يقين لري او ژبه سره د ايمان د ارکانو اقرار اوکړي بيا چه دا څلور کارونه کوي نو هغه کافر نۀ دې او نۀ منافق دې چه هغه به هميشه په جهنم کښې پاتې شي. د څه دپاره چه حضرت يوسف على نبينا وعليه السلام په رونړو کښې دا څلور خصلتونه موجود وو نو علمائے محققينو دا وئيلې دی چه دغه صحيح او مختار دې چه دا خصلتونه د نفاق دی او د حديث مطلب دادې چه په کوم سړي کښې دا خصلتونه وي هغه په دې خصلتونو او اخلاقو کښې د منافقينو سره يوشان دې ولې چه نفاق دغه دې چه ظاهر د باطن خلاف وي او نفاق ددغه خلقو په حق کښې اثر کوي د چاسره چه هغه وعده کوي يا خبرې اترې کوي يا جنګ کوي يا امانت اخلي. او د اسلام په حق کښې دا نفاق اثر نۀ کوي ولې چه په اسلام کښې ددۀ ظاهر د باطن په خلاف کښې نۀ دې او د رسول الله ﷺ دا مقصود نۀ دې چه ددې خصلتونو لرونکې انسان داسې منافق دې چه هغه کافر وي او د هغه سزاء هميشه په جهنم کښې اوسيدل وي.

او دا چه نے کوم فرمائيلې دی چه هغه خالص منافق وي ددې نه غرض دادې چه ددې خصلتونو په سبب سره د منافق سره مشابه کيږي بعضې علماؤ وئيلې دی چه دا حديث د هغه سړي په باب کښې دې چه د هغه نه داسې خصلتونه په عام طور سره واقع کيږي. ليکن د چا نه چه کله نا کله دا خبرې واقع کيږي هغه په دې کښې داخل نۀ دې او د حديث په معنى کښې دغه مختار دې. امام ابو عيسى ترمذي د علماؤ نه دا معنى نقل کړې ده چه د حديث نه مراد د عمل نفاق دې نۀ د اعتقاد نفاق. او د عالمانو يو جماعت وائي چه ددې حديث نه هغه منافق مراد دی چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وو او هغوی په دروغه باندې خپل ايمان ظاهر کړې وو او د دين په امانتونو کښې ئے خيانت کړې وو او د دين د مدد وعده ئے کړې وه. او په جنګ جګړه کښې به ئے د ناحق ملګرتيا کوله او دا قول دې د سعيد بن جبير او عطاء بن ابى رباح او رجوع کړې ده دې طرف ته امام حسن بصري اګر چه وړاندې ددې نه په خلاف باندې وو او دا منقول دې د ابن

عباسؓ او ابن عمرؓ ۔ او هغوی دے لره د رسول الله ﷺ نه روایت کړے دے ۔

قاضی عیاضؒ وائی چه زمونږه ډیر امامان په دے طرف باندے تلے دی او خطابی یو قول نقل کړے دے هغه دادے چه مقصود ددے حدیث نه یره ول دی مسلمانانو لره چه هغه ددے خصلتونو عادت وانهٔ خلی، ګنی یره ده چه حقیقتا به منافق شی او خطابی حکایت کړے دے چه دا حدیث وارد شوے دے د یو خاص منافق په باب کښے او د حضور ﷺ دا قاعده وه چه هغه به صفاء نهٔ فرمائیل چه فلانکے منافق دے بلکه اشاره به نے کوله لکه څه حال دے د خلقو چه داسے کوی. مترجم وائی چه الله تعالیٰ ماته الهام اوکړو چه په حدیث کښے څه اشکال نشته دے او نهٔ په دے کښے د تاویل ضرورت دے ښکه په کوم سړی کښے چه دا څلور خبرے جمع وی او هغه همیشه دغه کوی چه دَ خبرو کولو په وخت کښے دروغ وائی وعده کوی او ماتوی ئے د جنګ کولو په وخت کښے دَ ناحق مرسته کوی په امانت کښے خیانت کوی نو هغه پوخ منافق وی۔

ددے دپاره چه ددین په خبرو کښے هم هغه داسے کوی چه په ژبه سره اقرار کوی او په زړهٔ کښے خلاف وی دَدین په احکامو کښے خیانت کوی څکه چه داخو ددهٔ قاعده شوے ده دانهٔ چه کله کله ددهٔ نه دا خبرے سرزد شی او دے په هغے باندے شرمنده شی په دے صورت کښے " اذا حدث کذب " وغیره دا ټول قضایا کلیه وی نهٔ جزئیه او ظاهره ده چه داسے سړے دَ چاچه همیشه دا قاعده وی مؤمن کیدے نهٔ شی۔ په تحفة الاخیار کښے دی چه دَ منافق دوه قسمونه دی یو داچه چه په زړهٔ سره ئے انکار وی او په ژبه سره اقرار کوی دَ حضور ﷺ په زمانه کښے چه کوم منافقان وو هغه په دے شان باندے وو دویمه داچه په زړهٔ کښے ئے کفر نهٔ دے بلکه اسلام دے لیکن په سست اعتقاد او په فسق او فجور کښے ګرفتار وی په دے حدیث کښے دَ دویم قسم نفاق مراد دے لیکن دَ ایمان لائق خو داوو چه سړے دَ بدو ګارونو نه بچ وی بیا هر کله چه دے په بدو کارونو کښے ګرفتار پاتے شو۔ نو دَ اسلام مزه په دهٔ کښے څه ظاهره نهٔ شوله په دے واسطه باندے ئے دهٔ ته منافق اوفرمائیلو ۔ انتهیٰ

(۲۱۱)عَنْ اَبِی هُرَیْرةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ اٰیةُ الْمُنَافِقِ ثَلاثٌ اِذَا حَدَّثَ کَذَبَ وَاِذَا وَعَدَ اَخْلَفَ وَاِذَا ئْتُمِنَ خَانَ : [بخاری : ۳۳، ۲۶۸۲، ترمذی : ۲۶۳۱، نسائی : ۵۰۳۶،]

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د منافق درے نشانی دی هر کله چه خبرے کوی نو دروغ وائی چه وعده اوکړی نو خلاف نے کوی او چه امانت ورته ورکړے شی نو خیانت په کښے کوی.

(۲۱۲) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ((من علامات المنافق ثلاثة اذا حدث كذب واذا وعد اخلف واذا ائتمن خان :

ترجمه : ابو هریرهؓ بیانکوی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د منافق د علاماتو نه درے علامے دادی چه کله خبره کوی نو دروغ وائی او کله چه وعده کوی نو د هغے خلاف ورزی کوی او کله چه ددهٔ سره امانت کیخودے شی نو په هغے کښ خیانت کوی."

(۲۱۳) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ((آية المنافق ثلاث وان صام وصلى وزعم انه مسلم)) [ترمذی ۲۶۳۱]

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د منافق درے نشانے دی اگر چه هغه روژے نیسی او مونځ کوی او هغه خپله ځان ته مسلمان هم وائی."

(۲۱۴) عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ بمثل حديث يحيى بن محمد عن العلاء وذكر فيه ((وان صام وصلى وزعم انه مسلم))

ترجمه : د حضرت ابو هریرهؓ نه د مذکوره سند سره دا الفاظ هم نقل دی: اگر چه هغه روژه نیسی او مونځ کوی او خپل ځان مسلمان حسابه وی."

باب بيان حال ايمان من قال لاخيه المسلم يا كافر

باب : مسلمان رور ته د کافر ویونکی د ایمان بیان :

(۲۱۵)عن ابن عمر ان النبی ﷺ قال اذا كفر الرجل اخاه فقد باء بها احدهما : [بخاری ۶۱۳۰، ۶۱۰۴]

ترجمه : د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه یو سړی

خپل رور ته کافر اوائی نو هغه کفر په دواړو کښې په یو باندے ضرور پرے وُځی.

فائده : یعنی چۀ چاته کافر اووے او هغه په حقیقت کښې کافر وی خو خبره په ځائے باندے شوه او کۀ چرے هغه کافر نۀ وی نو دغه کفر په ویونکی باندے الټه پریوتو . ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه سړے دے خپلے ژبے لره په کنټرول کښې ساتی هرچا ته دے بغیر دَ دلیل یقینی نه کافر نۀ وائی شائد چه دے پرے الټه کافر شی او د خدائے پاك پۀ عذب کښې گرفتار شی البته په دومره ونیلو باندے څه پرواه نشته چه فلانکے سړے دَ کافرو سره کار کوی که چرے دده عمل دَدین خلاف وی او کۀ دَ چا کفر په دلیل قطعی سره ثابت شوے وی او دَ ضروریاتو نه هغه انکار کوی نو دۀ ته دَ شوق نه کافر وایه، ددے دپاره چه بل څوك دده په لاره باندے لاړ نۀ شی، لو په شریعت محمدی کښې خلل رانۀ شی لکه چه په دے زمانه کښې ملحد فقیر ظاهرېږی چه په شریعت محمدی پورے خندا کوی بے شکه هغه کافر دی. انتهیٰ

مترجم وائی چه زمونږه په زمانه کښې یوه نوے فرقه په مسلمانانو کښې پیدا شوے ده چه هغې ته نیچری وائی، هغه لکه ځان ته دَ عقل تابع وائی خو دَ عقل سلیم سره څه تعلق نۀ لری هغه تمام دَدین دَ ضروریاتو لکه دَ فرښتو، دَ شیطان، او دَ وحی نه او دَ معجزاتو نه انکار کوی مونځ او روژے لره لوه خیال کوی هغوی بے شکه کافران دی او کافران هم داسے سخت چه کۀ چرے یو مسلمان دَ هغوی په کفر کښې شك کوی نو زۀ یرېږم چه چرته هغه په خپله کافر نۀ شی امام نوویؒ وائی چه ددے حدیث لره بعضے علماؤ دَ مشکلاتو نه شمار کړے دے ځکه چه ظاهری معنیٰ مراد نۀ ده ولے چه دَ اهلِ حقو مذهب دادے چه مسلمان په گناه کولو سره لکه قتل یا زنا کولو سره نۀ کافر کیږی پس دغه شان خپل رور مسلمان ته په کافر ونیلو سره نۀ کافر کیږی دَ کومے پورے چه دَدینِ اسلام دَ بطلان اعتقاد نے نۀ وی.

او هر کله چه دا معلومه شوه نو دَ حدیث تاویل په څو صورتونو سره شوے دے یو دا چه مراد هغه سړے دے چه هغه دے خبرے لره درسته اوگنړی. دَ کفر الټه کیدو نه به دا مراد وی چه هغه ویونکے پخپله کافر کیږی ولے چه مسلمان ته کافر ونیل درست گنړی دویمه دا چه مراد به دَ کفر دَ الټه کیدو نه دا وی چه دده گناه به په عیب ویونکی باندے بار کړے شی دریمه دا چه حدیث

په هغه خوارجو باندے محمول دے چه دَ مسلمانانو تکفیر کوی. او دے تاویل لره قاضی عیاضؒ د امام مالك نه نقل کرے دے او دا ضعیف دے ځکه چه د اهل حق په نزد خوارج هم دَ نورو خاوندانو دَ بدعت په شان کافر نهٔ دی دا مذهب صحیح او مختار دے څلورم تاویل دادے چه مراد دَ کفر دَ الته کیدو نه دادے چه انجام به ددهٔ په کفر باندے وی ځکه چه گناه گویا دَ کفر قاصد دے او کوم سرے چه گناه ډیره کوی نو یره ده چه د گناهونو خیرے دهٔ لره کفر ته بو نهٔ څی. او تائید کرے دے ددے تاویل هغه روایت چه ابو عوانه سفرائنی په خپل کتاب مخرج علی صحیح مسلم کنبے وستلے دے. بیا که چرے هغه سرے چا ته چه دهٔ کافر وئیلے دی په حقیقت کنبے کافر وی نو بنهٔ ده گنی په ویونکی باندے التهه شی او په یو روایت کنبے دی چه هر کله نے خپل رور ته کافر اووے نو په دواړو کنبے په یو باندے کفر واجب شو. پنځم تاویل دادے چه مراد دَ راګرځیدو نه ددهٔ دَ کفر راګرځیدل دی. یعنی دهٔ چه یو مسلمان ته کافر اووے او هغه کافر نهٔ وو نو دهٔ خپله دَ خپل ځان تکفیر اوکړو ځکه چه ویونکے هم ددهٔ په شان یو مسلمان دے. (انتهٰی ما قال النوویؒ)

(۲۱۶)عَنْ ابنِ عُمر یقُولُ قال رسُولُ اللہِ ﷺ اَیما اِمرِیٔ قال لِاخِیہِ یا کافِر فقدْ باء بِھا اَحدھُما اِن کان کما قال وِاِلّا رجعتْ علیْہِ :[بخاری : ۶۱۰۴]

ترجمه : دَ ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه کوم سرے خپل رور ته د کافر په وینا سره آواز اوکړی نو په دواړو کنبے په یو باندے کفر لازمیږی که چرے هغه سرے چاته چه آواز کوی کافر وی خو خیر (کفر به په هغه باندے وی) ګنی په آواز کونکی باندے به په خپله واپس شی.

(۲۱۷)عنْ اَبِی ذرّ اَنّه سمِع رسُول اللہِ ﷺ یقُولُ لیْس مِنْ رجُل ادّعی لِغیْرِ اَبِیہِ وھُو یعْلمُہٗ اِلّا کفر ومن ادّعٰی ما لیْس لہٗ فلیْس منّا ولْیتبوّا مقْعدہٗ من النّار ومن دعا رجُلا بِالْکُفْرِ وقال عدوّ اللہِ ولیْس کذالک اِلّا حار علیْہِ : [بخاری : ۳۵۰۸]

ترجمه : د ابو ذر غفاریؓ (جندب بن جناده یا بریر) نه روایت دے هغوی دَ رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه فرائیلے نے وو چه کوم سرے خپل ځان ته دَ چا بل چا ځوے اووائی او بنهٔ ورته پته

وی چه ددهٔ څوی نهٔ دے (یعنی قصدا سوا د خپل پلار نه بل چاته پلار اووائی) هغه کافر شو او کوم سړی چه د هغه څیز دعوی اوکړه چه هغه ددهٔ نهٔ دے هغه زمونږ نه نهٔ دے او په جهنم کښے ځان له د اوسیدو ځائے جوړوی او کوم سړے چه څوك د کافر په آواز سره راوغواړی یا ورته د خدائے دشمن اووائی او چاته چه ئے وئیلے هغه داسے نهٔ وی (یعنی هغه کافر نهٔ وی) نو چاچه ورته په کفر آواز کړے دے په هغه باندے الټه کیږی۔

فائده : کوم سړے چه قصدا د خپل پلار نه سوا بل چاته پلار اووائی نو هغه کافر شو نوویؒ وائی چه ددے تاویل په دوه طریقو باندے دے یو خو دا چه هغه دا حکم حلال او جائز اوګنړی دویمه دا چه چه دَ کفر نه مراد کفر شرعی نهٔ دے چه دَ اسلام متضاد دے بلکه دَ کفر نه مراد کفران دے یعنی ناشکری او احسان فراموشی څکه چه دَ پلار حق دهٔ فراموش کړو او غیر لره ئے پلار جوړ کړو او ددے نظیر په دویم حدیث کښے دے حضور ﷺ فرمائیلی دی دَ ښځو په باره کښے چه هغه کفر کوی یعنی دَ خاوندانو ناشکری کوی۔ انتهیٰ

کوم سړے چه دَ هغه څیز دعوی اوکړه چه هغه ددهٔ نهٔ دے هغه زمونږه نه نهٔ دے او هغه خپل ځائے د اوسیدو په جهنم کښے جوړوی یعنی هغه پو هیږی چه دا شے زما نهٔ دے خواهٔ دَ بل چا وی او که نهٔ وی خو په هغے باندے دعوی اوکړی چه زما دے نو هغه زمونږه نه نهٔ دے یعنی زمونږ په لار او طریقه باندے نهٔ دے ولے چه دَ اسلام دَ شان نه دَ دروغو دعوی کول ډیر لرے دی لکه پلار چه خوی ته وائی چه ته زما نهٔ ئے یعنی زما په وضع او چال چلن باندے نهٔ ئے او په جهنم کښے د ځائے جوړولو نه غرض دادے چه ددغه قصور سزاء جهنم دے بیا کهٔ چرے خدائے غواړی نو به خپل فضل به ئے معاف کړی او په توبه سره هم معاف کیدے شی۔ (نوویؒ)

باب بیان حال ایمان من رغب عن ابیه وهو یعلم :

باب : د خپل پلار نه د اوریدو او د نفرت کولو او قصدا بل لره خپل پلار جوړولو دَ ایمان بیان :

(۲۱۸) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ یَقُولُ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَا تَرْغَبُوا عَنْ آبَاءِ کُمْ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ اَبِیْهِ فَقَدْ

کفر. [بخاری: ۶۷۶۸]

ترجمه: دَابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دَ خپلو پلارانو نه نفرت مهٔ کوئ (یعنی خپل پلار ته پلار وائی نورو لره پلار مهٔ جوړوئ) کوم سړی چه دَ خپل پلار نه نفرت اوکړو هغه کافر شو. (ددے معنی پورته ذکر شوے ده)

(۲۱۹) عَنْ اَبِی عُثْمَانَ لَمَّا ادُّعِیَ زِیَادٌ لَقِیْتُ اَبَابَکْرَةَ فَقُلْتُ لَهٗ مَا هٰذَا الَّذِی صَنَعْتُمْ اِنِّی سَمِعْتُ سَعْدَ ابْنَ اَبِی وَقَّاصٍ یَقُوْلُ سَمِعَ اُذُنَایَ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَهُوَ یَقُوْلُ مَنِ ادَّعٰی اَبًا فِی الْاِسْلَامِ غَیْرَ اَبِیْهِ فَالْجَنَّةُ عَلَیْهِ حَرَامٌ فَقَالَ اَبُوْ بَکْرَةَ وَاَنَا سَمِعْتُهٗ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ: [بخاری: ۴۳۲۶، ۶۷۶۶، ابوداود: ۵۱۱۳، ابن ماجه: ۲۶۱۰]

ترجمه: دَابو عثمان (نهدی عبد الرحمن بن مل) نه روایت دے هر کله چه دَ زیاد دعوی اوکړے شوه نو زهٔ دَ ابوبکره سره ملاؤ شوم او ما اووے تاسو دا څه اوکړل (ستا رور) ما دَ سعد بن ابی وقاص نه اوریدلے دی هغه وئیلے وو چه ما دَ خپلو غوږونو باندے دَ رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه فرمائیلی ئے وو څوك چه په اسلام کښے راغے او دَ خپل پلار نه سوائے بل چاله پلار جوړ کړو نو جنت په دهٔ باندے حرام دے. ابوبکرهؓ وائی ما دا پخپله دَ رسول الله نه اوریدلے دی.

فائده: هر کله چه دَ زیاد دعوی اوکړے شوه په اصل کښے زیاد دَ عبید ثقفی ځوے وو او د حضرت علیؓ دَ یارانو نه وو بیا دهٔ ته امیر معاویهؓ دَ خپل پلار ابو سفیان نطفه وئیلے وه او زیاد قبول کړے وه. او د معاویهؓ رور جوړ شو. او حضور ﷺ فرمائیلی دی چا چه په حالت دَاسلام کښے دَ خپل پلار نه سوا بل چاله خپل پلار جوړ کړو نو جنت په دهٔ باندے حرام دے او هغه دے خبرے لره درسته گنړی او اوني کړی. یا ددے فعل جزاء داده چه جنت به په دهٔ باندے په هغه وخت کښے حرام وی هر کله چه بنهٔ خلق جنت ته داخلیږی بیا کهٔ خدائے پاك اوغواړی نو دا بدله به دهٔ لره ورکړی او یا به ئے معاف کړی. نوویؒ:

ابوبکرهؓ وائی چه ما په خپله باندے دَ رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی بیا ابوبکرهؓ ددے گناه په وجه باندے دَ زیاد سره ملاقات کول پریخودل او قسم ئے اوخوړو چه دَ زیاد سره به چرته

خبرے اونۀ کرم (نووی) په السراج الوهاج کښې دی چه خلقو په دے خبره کښے ډیر ډهیل کړے دے تردے پورے چه بعضے خلق ډ نورو اولاد جوړ شوے دے او هغه په دے باندے پوهه دی چه مونږه ددوی اولاد نۀ یو ـ او په بادشاهانو او نوابانو او امیرانو کښے ډ حرامو نسل ډیر خور شوے دے باوجود ددے چه هغه خپلو ځانونو ته ډ پلارانو نسبت ورکوی حالانکه هغه ډ خپلو میندو اولاد دے او ډ پلارانو اولاد نۀ دے او بعضو ډ طمعے په سبب ډ خپل ځان نه سید جوړ کړے دے حالانکه هغه بنی فاطمهؓ نۀ دی او هغه په دے خبره باندے پو هیږی لیکن ډ دنیا ډ بنګلا او ډ عزت په خیال سره دا طوفان جوړه وی او اکثر په داسے هلاکت کښے او تباهی کښے امیران لو مفلسان خلق پرے وځی ـ امیر خو ډ خپل شان ډ سیوا کولو دپاره او مفلس ډ خپل کسب لو ډګټے کولو دپاره، دا نۀ دی مګر ډ شیطان په تسلط سره چه هغه ډدوی عقلونه ختم کړے دی او ګمراه کړے ئے دی الله تعالیٰ دے ورته ډ نیکے لارے هدایت اوکړی ـ (آمین)

(۲۲۰) عَنْ سَعْدٍ وَاَبِی بَکْرَةَ کِلَاهُمَا یَقُوْلُ سمعتهُ اذنای ووعاهُ قَلْبِی مُحَمَّدًا ﷺ یَقُوْلُ مَنِ ادَّعٰی اِلٰی غَیْرِ اَبِیْهِ وَهُوَ یَعْلَمُ اَنَّهُ غَیْرُ اَبِیْهِ فَالْجَنَّةُ عَلَیْهِ حَرَامٌ : [راجع : ۲۱۹]

ترجمه : ډ سعد او ډ ابوبکرهؓ دواړو نه روایت دے چه مونږه په خپلو غوږونو باندے ډ رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی او په زړۀ مو یاد کړے دی چه هغه فرمائیلے وو کوم سړے چه ډ خپل پلار نه سوا بل چاله خپل پلار جوړ کړی او دۀ ته علم وی چه دا زما پلار نۀ دے نو په دۀ باندے جنت حرام دے ـ (یعنی دے به ډ جنت نه منع کولے شی)

فائده : مراد دادے چه خپل نسبی پلار چاته اووائی او خپل ځان ته ډ هغه ډ نطفے نه اووائی او د شفقت په لار سره بل ته پلار اونیلے شی ـ

باب بیان قول النبی ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر :

باب : مسلمان ته کنځل کول او بدے وئیل ګناه ده او دۀ سره قتال (جنګ کول) کفر دے :

(۲۲۱) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهٗ کُفْرٌ قَالَ زُبَیْدٌ فَقُلْتُ لِاَبِیْ وَائِلٍ اَنْتَ سَمِعْتَهٗ مِنْ عَبْدِ اللّٰهِ یَرْوِیْهِ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ نَعَمْ وَلَیْسَ فِیْ حَدِیْثِ شُعْبَةَ

قول زُبید لابی وائل : [بخاری : ۴۸، ۶۰۴۴، ترمذی : ۲۶۳۵، ۱۹۸۳، نسائی : ۴۱۲۱، ۴۱۲۲، ۴۱۲۳، ۴۱۲۴]

ترجمه : دَ عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مسلمان ته کنځل کول یا دَ هغه عیب بیانول فسق دے (یعنی گناه ده او داسے کونکے فاسق کیږی) او د هغه سره جنګ کول کفر دے زبید وائی چه ما دَ ابو وائل نه تپوس اوکړو تا په خپله عبد الله بن مسعود لره دَ رسول الله ﷺ نه روایت کړے اوریدلے دے؟ هغوی اووے او! او دَ شعبه په حدیث کښے نشته تپوس کول دَ زبید دَ ابو وائل نه۔

فائده : نوویؒ وائی چه مسلمانانو ته ناحق بد وئیل په اجماع دَ امت سره حرام دی۔ او ددے مرتکب فاسق دے لیکن د مسلمان سره جنګ کول کفر نۀ دے د اهل حق په نزد باندے۔ لکه څنګه چه مخکښے څو ځایه مونږه بیان کړے دی نو دَ حدیث تاویل په څو قسمه باندے دے یو دادے چه حلال ئے اوګڼړی او جنګیږی دویم داچه د کافر نه مراد ناشکری ده نۀ کفر شرعی۔ دریم داچه انجام ددے کفر دے څلورم داچه دا دَکافرانو فعل دے په سراج الوهاج کښے دی چه دا حدیث دلیل دے دَ روافضو دَ فسق او کوم چه په مثل ددوی خاوندان دَ شرك او کفر او بدعت کونکو نه دی چه هغه صحابه کرامؓ او عمائے سلفؒ او اهل حدیثو ته بد وائی او دلیل دے دَ هغه خلقو دَکفر چه هغه دَ مسلمانانو سره جنګ کوی لکه خوارج او نواصب او شیعه دَ خپل مذهب په حق کښے۔ مترجم وائی په دے حدیث باندے مسلمانانو لره التفات کول پکار دی او په لړه لړه شان خبره باندے چه هغه دَ مسلمان سره جنګ ته تیاریږی نو دے ته کتل پکار دی چه دا جنګ ددوی درجه کوم ځائے ته رسوی دَ یو امر مستحب یا سنت دَپاره جنګیدل او خپل ځان کافر کول دَ انتهاء درجے جهل او غفلت دے دے الله تعالیٰ دے مونږه ددے نه بچ کړی۔ (آمین)

(۲۲۲) عَنْ اَبِی وَائِل عَنْ عَبْدِ اللّٰه عَنِ النَّبِی ﷺ بمثله [بخاری : ۷۰۷۶]

ترجمه : په یو بل سند سره ابو وائل د عبد الله ابن مسعود نه روایت کوی او هغه دَ نبی کریم ﷺ نه په مثل دَ ورومبنی حدیث :

باب بیان قول النبی ‹‹ لا ترجعوا بعدی کفارا یضرب بعضکم رقاب بعض

باب : د نبی کریم ﷺ د دے جملے معنی چه زمانه بعد مه کافران کیږئ چه د یو بل گردنونه وہنی۔

(۲۲۳) عن جریر قال قال النبی ﷺ فی حجة الوداع استنصت الناس ثم قال لا ترجعوا بعدی کفارا یضرب بعضکم رقاب بعض [بخاری ۱۲۱، ۴۴۰۵، ۶۸۶۹، ۷۰۸۰، نسائی ۴۱۳۲، ابن ماجه ۳۹۴۲]

ترجمه : د جریر بن عبد الله بجلی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل په حجة الوداع کښے (یعنی په اخری حج کښے د وداع حج دے نه ځکه وائی چه په دے حج هغه خلق رخصت کړل او د دین احکام یے ورته اوښودل او په دویم کال د هغه وفات شوے وو) چه چپ کړه خلقو لره (د دے دپاره چه هغه دا ضروری خبره واوری) او بیا یے اوفرمائیل زما د دے موقف نه پس یے د وفات نه پس د یو بل ختونه او نه وهی او کافران جوړ نه شی۔

فائده : یعنی په اتفاق سره اوسیدل او نول په یو ځائے باندے د کافرو سره جنګ کول د دے دپاره چه په اسلام کښے ترقی اوشی او څوک چه یے اتفاقی غورځوی په خپلو کښے او یو بل وژنی نو هغه به په خپله باندے کافران کیږی امام نووی فرمائی د دے حدیث په تفسیر کښے اووا اقوال دی یو دا چه مراد هغه خلق دی چه هغوی په خپلو کښے جنګ کول درست ګنړی په ناحقه سره نو هغه یے شکه او یے شبهے کافران دی دویمه دا چه د کفر نه مراد د اسلام د حق ناشکری ده دریمه دا چه هغه کفر ته نزدے کیږی او دا فعل دوی لره کفر ته رسوی څلورم دا فعل د کافرانو په شان دے پنځم دا چه داکفر دے حقیقتا او غرض د حضور ﷺ دادے چه زمانه پس کافران نه شی او په اسلام باندے قائم اوسیږی او هغه چه کوم حکایت کړے خطابی وغیره چه مراد د کفارو نه سلاح پوش دی یعنی هتیار بند کړی او د یو بل ختونه مه وهی او کافر سلاح پوشو ته هم وائی. اووم دا چه یو بل ته کافر مه وائی چه بیا د کفر په بهانه سره ختونه وهی او په تولو کښے ظاهر څلورم تاویل دے او قاضی عیاض دا اختیار کړے دے۔

(۲۲۴) عن ابن عمر عن النبی ﷺ بمثله [بخاری ۴۴۰۲، ۴۴۰۳، ۶۱۶۶، ۶۷۸۵، ۶۸۶۸، ۷۰۷۷، ابوداود ۴۶۸۶، نسائی ۴۱۳۱، ابن ماجه ۳۹۴۳]

ترجمه: مذکوره حدیث په دے سند سره بیان کړے شوے دے

(۲۲۵) عن عبد الله بن عمر عن النبی ﷺ انه قال فی حجة الوداع ویحکم او قال ویلکم لا ترجعوا بعدی کفارا یضرب بعضکم رقاب بعض [راجع ۲۲۳]

ترجمه: د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د حجة الوداع په موقع باندے ویحکم یا ویلکم فرمائیلے وو. زما نه پس کافران کیږی مه. چه اووهی بعضو ستاسو نه څټونه د بعضے نورو (یعنی چه د بو بل څټونه اووهی)

فائده: ویحکم یا ویلکم قاضی عیاضؒ فرمائی چه دادواړه کلمے د عربو خلق د تعجب او درد په وخت کښے استعمالوی سیبویه وائی چه "ویل" ددے دپاره وائی چه په تباهی کښے پریوځی. او ویح د رحم دپاره. او منقول ده ددۀ نه چه ویح زجر دے د هغه سری دپاره چه هغه هلاکت ته نزدے شوے وی. ددے کلمو نه بد دعا مقصود نۀ ده فقط رحم او خیرانتما مقصود ده. او د حضرت عمرؓ نه روایت دے چه ویح د رحمت کلمه ده. او هروی وائی چه ویح د هغه بنده دپاره ونیلے شی چه هغه په آفت کښے پریوځی او د هغے سزاوار نۀ وی او ویل د غه چا دپاره ونیلے شی چه هغه سزاوار وی نو د ویح نه رحم مقصود دے او د ویل نه نۀ دے. (نووی)

(۲۲۶) عن اِبن عمر عن النّبی ﷺ بمثل حدیث شُعبة عنْ واقد: [راجع: ۲۲۳]

ترجمه: تیر شوے حدیث په دے سند سره هم مذکور دے

باب اطلاق اسم الکفر علی الطعن فی النسب والنیاحة:

باب: په نسب کښے طعن کونکے او په مړی باندے په چغو چغو ژړا کونکے باندے د کفر اطلاق:

(۲۲۷) عن ابی هریرة قال قال رسول اللّه ﷺ اثنان فی النّاس هما بهمْ کُفر الطّعن فی النّسب النّیاحةُ علی المیّت:

ترجمه : د ابو هریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه په خلقو کښے دوه خبرے موجود دی او هغه د کفر دی یو په نسب کښے طعن کول دویم په مړی باندے په چغو چغو باندے ژړل (دَ هغه اوصاف بیانوی او چغے وهی ژاړی دے ته نوحه وائی)

فائده : په نسب کښے طعن کول یعنی د چا په نسب باندے داغ لګول چه هغه شریف نهٔ دی یا دَدوی خاندان د دے یا دَ وینځے نه پیدا دی دا تمام د کافرانو تقلید دے ولے چه د عربو کافرانو به دَ جاهلیت په زمانه په خپل نسب او حسب باندے به ئے ډیر فخر کولو او د نورو نسب ته به ئے بد رد وئیلے مسلمانانو لره دا خبره هرګز سزاوار نهٔ ده ځکه چه ټول د حضرت آدم علیه السلام اولاد دے او فضیلت او بزرګی په علم او اعمال صالحه سره دے. او په قیامت کښے به هر سړی ته خپل اعمال پکار باندے راځی ذات او نسب به څه پکار نهٔ راځی لکه چه په دویم حدیث کښے صفا واضحه ده.

په مړی باندے په چغو چغو باندے ژړل او د هغه دَ اوصافو بیانولو سره سره ژړل چه ورته نوحه وائی. نووی فرمائی ددواړو دَ کفر کیدو نه مراد دادے چه هغه د کافرانو فعل دے او د جاهلیت عادتونه دی یا هغه د کفر طرف ته مؤدی دی یا مراد کفران نعمت او هغه کارونو لره حلال یا ناشکری ګنړل او کول خو بلا شبهه کفر دے او ددے حدیث نه دَ نوحے او په نسب کښے د طعنے کولو لوے بد والے راووتو او د هر یو په باب کښے مشهور احادیث راغلی دی.

باب تسمية العبد الابق كافرا :

باب : د خپل مالك د خوانه دَ تختیدلے شوی غلام ته دَ کافر وئیلو بیان.

(۲۲۸) عن منصور بن عبد الرحمن عن الشعبي عن جرير انه سمعه يقول ايما عبد ابق من مواليه فقد كفر حتى يرجع اليهم فقال منصور قد والله روى عن النبي ﷺ لكني اكره ان يُروى عني ههنا بالبصرة : [ابوداود : ۴۳۶۰، نسائی : ۴۰۶۴، ۴۰۶۵، ۴۰۶۶، ۴۰۶۷]

ترجمه : دَ منصور بن عبد الرحمن (واشل عدابی بصری دهٔ ته احمد بن حنبل او یحیی بن معین ثقه وئیلے دی او ابو حاتم ضعیف وئیلے دی) د شعبی نه اوریدلے دی او هغوی د جریر نه

اوریدلے دی چه ونیلے ئے وو چه کوم غلام د خپلو مالکانو نه اوتختی هغه کافر شو . (دلته د کفر نه مراد ناشکری ده ولے چه دۀ د خپل مالك حق اداء نۀ کړو) د کومے پورے چه واپس هغه له رانۀ شی. منصور اووے چه قسمً په خدائے باندے چه دا حدیث خو مرفوعا د رسول الله ﷺ نه مروی دے. (خو ما دلته مرفوعا بیان نۀ کړو د جریر قول مے اوښودو .) لیکن ما ته بد معلومیږی چه دا حدیث زما نه بیان کړے شی په دے ځائے د بصره کښے .

فائده : دا منصور خاص خلقو ته اووے او مرفوعا روایت کول هغوی ددے وجے نه بد ګنړل چه په دغه زمانه کښے په بصره کښے د خوارجو زور وو چه هغوی به کبیره ګناه کونکی ته کافر ونیلو او همیشه دپاره به ئے د جهنم مستحق ګنړلو . منصور ته یره شوه چه چرته کښے خوارج دے حدیث لره سند اونۀ نیسی . او پورته مونږه د خوارجو مسلك او د هغوی بطلان بیان کړے دے . (نوویؒ)

(۲۲۹)عَنْ جَرِيْرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَيُّمَا عَبْدٍ اَبَقَ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ :

ترجمه : د جریر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی کوم غلام چه اوتختی د هغه نه ذمه کوزه شوه (یعنی د اسلام پناه ختمه شوه یا مخکښے چه دۀ کوم رعایت شوے وو هغه به نۀ وی او مالك ته به اختیار ورکولے شی دۀ د وهلو یا د قید کولو)

(۲۳۰)عَنْ جَرِيْرٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ اِذَا اَبَقَ الْعَبْدُ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلٰوةٌ :[راجع : ۲۲۸]

ترجمه : د جریر نه روایت دے هغه د رسول الله نه نقل کوی چه هر کله غلام اوتختی نو د هغه مونځ نۀ قبلیږی.

فائده : امام مازری ددے تاویل کړے دے او قاضی عیاض ددے پیروی کړے ده او هغه دادے چه حدیث محمول دے په هغه غلام باندے چه هغه تختیدو لره حلال اوګنړی د هغه مونځ قبول نۀ دے . او د نۀ قبلیدو نه دا نۀ لازمیږی چه مونځ ئے درست نۀ دے ولے چه نۀ قبلیدل د سقوط ثواب باعث دے او نۀ صحیح کیدل د وجوب قضاء باعث دے . نوویؒ وائی چه دا کلام بے شکه ښکلے دے او زمونږه جمهورو علماؤ ونیلے دی چه په غصب اخستے شوے کور کښے مونځ صحیح دے مګر ثواب ئے نۀ وی او په فتاوی ابو نصر کښے مالیدلے دی د عراق د اصحابو دا قول

محفوظ دے چه په مغصوب کورکښے مونځ صحیح دے فرض د ذمے نه ساقط شول خو ثواب ئے نشته دے او ابو منصور وائی چه د خراسان علماؤ په دے اختلاف کړے دے بعضے وائی چه مونځ په کښے هم نهٔ صحیح کیږی انتهی

باب بیان کفر من قال مطرنا بالنوء :

باب : دَ هغه سړی کافر کیدل چه هغه اووائی چه باران د ستورو دَ گردش نه کیږی :

(۲۳۱) عن زید بن خالد الجهنیّ قال صلّی بنا رسول الله صلوة الصّبح بالحدیبیة فی اثر السماء کانت من اللّیل فلمّا انصرف اقبل علی النّاس فقال هل تدرون ماذا قال ربّکم قالوا اللّه ورسوله اعلم قال قال اصبح من عبادی مؤمن بی و کافر فامّا من قال مطرنا بفضل اللّه ورحمته فذالک مؤمن بی و کافر بالکوکب و امّا من قال مطرنا بنوء کذاو کذا فذالک کافر بی مؤمن بالکوکب :

[بخاری : ۸۴۶، ۱۰۳۸، ۴۱۴۷، ۷۵۰۳: ابوداود : ۳۹۰۶، نسائی : ۱۵۲۴]

ترجمه : د زید بن خالد جهنی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ سره د سحر مونځ په حدیبیه کښے اولوستو (چه دا د یو مقام نوم دے مکے ته نزدے دے) او د شپے باران وریدلے وو هر کله چه هغه د مانځه نه فارغ شو نو خلقو طرف ته ئے مخ کړو او وے فرمائیل تاسو ته پته ده چه ستاسو پروردگار څه فرمائی ؟ هغوی اووے چه الله او د هغه رسول ښه پو هیږی حضور ﷺ اووے چه الله تعالی فرمائی چه زما په بندگانو کښے د بعضو سحر په ایمان شو او د بعضو په کفر باندے نو چاچه اووے چه په مونږ باندے باران راوریدو د الله په فضل او رحمت سره هغوی ایمان راوړو په ما باندے او کفر ئے اوکړو په ستورو باندے او چا چه اووے اوبهٔ د ستورو په گردش باندے راپریوتے هغه په ما باندے کافر شو او ایمان ئے راوړو په ستورو باندے

فائده : نووی فرمائی چه اختلاف کړے دے علماؤ د هغه سړی په باب کښے چه هغه وائی چه اوبهٔ راپریوتے (باران اوشو) د ستورو په حرکت سره بعضو وئیلی دی هغه په حقیقت کښے کافر شو او د اسلام نه بالکل بهر شو او دا په هغه صورت کښے دی چه ویونکے ستورو لره

فاعل او مؤثر گنړي او د اوبو د ورولو ذیاره لکه څنګه چه د جاهلیت د خلقو اعتقاد وو او کوم سړے چه داسے اعتقاد لري د هغه په کفر کېبے څه شك نشته دے. او جمهور علماء دے طرف ته تللي دي ددوی نه دے امام شافعي او دا ظاهره ده د حدیث نه او دغه خلقو ونیلے دي کۀ څوك اووائي چه د ستورو په ګرځش سره باران اوشو لیکن د هغه اعتقاد داوی چه د ابو وزولو والا الله دے او د هغه په رحمت سره اوبۀ پریوځي. او ستوري کۀ چرے څه وی نو داد ابو د پریوتو څه نشاني ده نو هغه کافر کیږي نه خو داسے ونیل مکروه تنزیهی دی. خو ګناه نشته دے په دے کېبے. او د مکروه والي سبب نے دادے چه دا کلمه مشابه ده د کافرانو د کلمے او شعار دے د جاهلیت.

او بعضے وائي چه د کفر نه مراد ناشکري ده او مطلب دادے چه دۀ د خدائے پاك ناشکري اوکړه لیکن دا په داسے صورت کېبے دي چه هر کله ویونکے ستورو لره فاعل او مؤثر نۀ ګنړي او مؤید دے د هغه تاویل چه په دویم روایت کېبے دے چه سحر کړو بعضو په شکر باندے او بعضو په کفر باندے او په یو روایت کېبے دي چه ما یو نعمت خپلو بندګانو ته نۀ دے ورکړے خو بعضے له دوی نه سحر له کافر شول او په یو روایت کېبے دي چه د اسمان نه یو برکت الله داسے نۀ دے رالیږلے خو بعضے کافر شول د هغے سره نو مراد ددے نه کفران نعمت خو دے او د نوء لفظ چه په حدیث کېبے راغلے دے. په دے کېبے ډیرے خبرے دي شیخ ابو عمر بن الصلاح ددے خلاصه بیان کړے ده هغه وائي چه نوء ستوري ته نۀ وائي بلکه د نوء معنی ده ډوبیدل یا راوتل. او اصل دادے چه اتیشت ستوري داسے دي چه د هغے راوتل په تمام کال کېبے معین او معروف دی. او دغه اته ویشت منزلونه دي د قمر یعنی د سپوږمۍ. هر دیارلس شپے پس یو ستورے ددوی نه د مغرب د طرف نه ډوبیږي او دویم مقابل ددے دغه وخت د مشرق نه راخیژي. نو د جاهلیت خلقو به دا اعتقاد لرلو چه کله به باران کیدو نو د هغه ستوري طرف ته به ئے نسبت ورکولو چه کوم به ډوبیدو او اصمعي وائي چه ددغه ستوري په طرف چه کوم د مشرق نه راخیژي ابو عبید وائي د نوء نه ډوبیدل په دغه مقام باندے مراد دي بیا کله نوء په خپله باندے ستوري ته ونیلے شي زجاج ونیلے دي کوم ستورے چه مغرب ته پریوځي هغوی ته نوء وائي او کوم چه د مشرق د

طرف نه راخیژی هغوی ته بارح وائی ۔ انتهی ما قال النووی :

(۲۳۲)عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ الم تروا الی ما قال ربکم عز وجل قال ما انعمت علی عبادی من نعمة الا اصبح فریق منهم بها کافرین یقولون الکوکب وبالکوکب : [نسائی : ۱۵۲۳]

ترجمه : د ابو هریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی تاسو نهٔ گورئ چه ستاسو رب فرمائیلی دی چه ما څه نعمت نهٔ دے ورکړے خپلو بندګانو لره مګر یو بے فرقے د هغې نه سحر ته ددے نه انکار اوکړو او وئیل ستوری ستوری.

فائده : یعنی د ستورو چکر لره نے ددے نعمت علت قرار کړو. تر اوسه پورے په دنیا کښے داسے ضعیف الاعتقاد او ناپوهه خلق موجود دی چه هغه د هر سړی نه والی او بد والی د هغه د ستوری طرف ته منسوب کوی او قمر او شمس او اووهٔ سیارو لره د خاص خاص او سړو دپاره فائده مند او مضر یعنی ضرر رسونکے خیال کوی په دے کښے شک نشته دے چه الله پاك دے لویو لویو جسمونو لره یے کاره نهٔ دی پیدا کړے او د سپوږمی او د نمر دزرګونو فائدو نه یوه فائده دا هم ده چه په دے سره د نباتاتو او حیواناتو پرورش کیږی خو دا تاثیر په ټولو نباتاتو او حیواناتو باندے په طور د عموم دے لکه د انکار یا د اوبو تاثیر د انکار او د اوبو په شان نمر او سپوږمی لره هم کنټرل بکار دی څه نمر او سپوږمی د انسان په شان څه عقل خو نهٔ لری نهٔ روح لری چه بعضو ته نفع رسوی او بعضو ته ضرر او کوم اجرام علویه لره حه طاقتور اوصاحب قوت خیال کوے نو زمکے یے چارے څه قصور کړے دے چه هغه چاته نفع او ضرر نهٔ رسوی بناء بر هسنت جدیده په زمکه او سیارو کښے څه امتیاز ستنه دے اصل داده چه په نمره شوے زمانه کښے هرکله چه الاب او دوربینونه داسے نهٔ وو نو خلقو صرف د سترګو نه کار اخستے وو او د کوم ځائے پورے چه د خلقو نظر کار کولو هغه داوو چه هغوی اووهٔ ستوری سیارے ویستلے او باقی ثوابت نمر او سپوږمی لره نے هم یوه یوه سیاره خیال کړو په دے شان باندے پنځه سیارے یعنی عطارد او زهره. مشتری. مریخ. او زحل او حونکه دا احساه زیات لوړ او اوحت او چمکدار په نظر باندے راتلل او ددوی دوه شپے همیشه په مختلفو منازلو کښے د زمکے نه چاپیره اومندلے شوے څکه د عوامو ته خو د ډیرو خواصو خلقو د فلاسفو او د حاکمانو خلقو هم دا خیال تیر شو چه دا اجسام عقل

او نفس لري.

هغوی د زمکې مختلف حوادث او واقعات چه د هغې اسباب پټ وو د هغو ستورو طرف ته منسوب کړل بیا دا خیال زیاتیدو زیاتیدو تر دې پورې زیات شو چه صنبینو او کلدانی او مصری خلقو د ستورو، او د نمر او د سپوږمۍ عبادت شروع کړو او په شرک کښې گرفتار شول. الله تعالی چه هر کله د اسلام رڼرا په دنیا کښې خوره کړه او دا اعتقاد ختمول شروع شول او حضور ﷺ صفا اوفرمائیل چه منجمین دروغجن دی ددې نه ورستو هر کله چه تحقیقات اوشو او لوی لوی آلات او دوربینونه ایجاد شول بیا خو ددوی د اعتقاد زیلی اوشلیدې ولې چه سوا ددې ستارونه نورې څو ستارې په نظام شمسی کښې معلومې شوې لکه سیریز پالس جونو وسته او یورانس او افتاب مرکز عالم جوړ شو او زمکه هم ددې ستارو په شان یوه ستاره اومندې شوه او سپوږمۍ د زمکې تابع اومندې شوه بیا ټوله کارخانه کومه چه د زړو کالو نه نجومیانو قائمه کړې وه التپه پلټه شوه. او ناممکنه ده چه د مشتری مریخ او زحل وغیره تاثیر خو په خاصو خاصو خلقو باندې کیدو او د سیریز پالس او یورانس وغیره نه شو کیدې حالانکه دغه هم ددوی په شان ستورې دی بیا محال ده چه زمکه په کومه باندې چه موږ ټول اوسیږو او هغه هم یو ستاره ده ددې تاثیر په موږه باندې نه وی او ددې ستورو بلوصف ددې قمر مبعد زمږ دپسه دا قدرت او طاقت وی.

زمکه غریبه د کور چرگ دې ددې خه قدر منزلت نشته دې دې نړه کنستلې شی وهلې شی او په دې بندې گرځی به خبو سره عوبل کوی بې د نړې نه ستوری رووښی چه هغه پرقیږی نو مقدس او پاکیزه نې خیال کوی حالانکه که چرې دې ستورو ته لاړ شی نو صف به معلومه شی چه بعضې په دې کښې د زمکې نه هم زیاتې گنده او عروته غرونه دی په حبله به دوزیتن سره په سپوږمۍ کښې دومره لوی لوی غرونه معلوم شوی چه په ستوړو او زرگونو مبله د هغې زور والې دې معاذالله چه هغه به خومره مهیب او تاریک وی او د لرې نه د سپوږمۍ هغه حسن دې چه د معشوقو مخ لره ددې سره تشبیه ورکولې شی دا خیال دې د انسان بغیر د غور و فکر نه و بغیر حیل فکر لره په میزان مقرره سره جانچ شوې نو حیال نړه حصوده وی او د هغې پیروکار جوړیږی

خیر دا ستوری خو لوے لوے جسمونہ دی او پرٔقیدونکے او زنړا دی د الله پاك لعنت په هغه خلقو باندے چه د هغه دګټهو او دریابونو او غرونو او ونو او څناورو عبادت کوی او هغوی لره معبود جوړوی او مالك او متعـرف نے خیال کوی بلکه په خپلو لاسونو سره یوه بے روحه ټکړه د خورے یا د تانبے یا د سپینو زرو او د سرو زرو نـه جوړه کړی او د هغے عبادت کوی خدائے لره د خپل خواهش مطابق جوړوی " افرئیت من اتخذ الهه هواه " او بعضے چه لږ ددوی په نسبت باندے هوښیار وی هغه د سړو او د پیریانو عبادت کوی او د بنده غوندے ناپائیدار د هستی لره معاذ الله خدائے جوړوی بنده لره د خدائے خوے یا محبوب خیال کوی او هغه لره مقدس او لائق د عبادت ګنړی حالانکه هغه بنده یعنی هغه سړے چه هر کله ژوندے وو نو ددنیا په څه خبره کښے د نورو خلقو نه ممتاز نهٔ وو. خوړلو والا هغه وو څکلو والا هغه وو پیداکونکے او مړکیدونکے هغه وو لکه څنګه چه نورو خلق مری هغه مړ شو یا مړ کیدو والا دے بیا د هغه خدائے سره څه تعلق دے هغه زمونږه په شان د خدائے پاك یو مخلوق دے او اصل داده چه دغه خلقو تر اوسه پورے خپل زبینتونے خدائے نهٔ دے پیژندلے او د هغه په تقدس او عظمت او لویی باندے نے تر اوسه پورے غور نهٔ دے کړے ګنی دداسے ناپاکے خبرے کولو سره به دوی نه شرم ورتلو او هغوی به د زبینتونی خداوند په درګاه کښے داسے بے ادبی نهٔ کوله د خداوندکریم عظمت د هغه په مخلوقات کښے د غور کولو سره معلومیږی.

زمکه د هغه ادنی مخلوق دے چه د هغے محیط څلیرښت زره میله او قطر نے قریبا اتهٔ زره میله دے بیا مشتری چه زمونږه په نظام شمسی کښے یوه سیاره ده هغه زمونږه ددے زمکے نه زر حصے لویه ده او د هغے قطر نهٔه لکه میله دے په دے شان باندے زحل د زمکے نه قریبا شپږ سوه درجے لوے دے د هغے قطر اتیا زره میله دے دغه شان نورے سیارے څه د زمکے نه لوے او څه د زمکے نـه وړے او څـه دزمکے برابر دی زمونږ زمکے نه یوه سپوږمی د زنړا دپاره عطاء شوے ده هغـه هم دومره قـدرے لـویـه ده چـه د هغے قطر د دوه نیم زره میلونو نه زیات دے او مشتری لره څلور چند او زحل لره اووهٔ چند یورانس لره شپږ چند په وجه ددے چه د نمر نه ډیر زیات لرے دی عـنـایـت شـوے دی. بیـا افتـاب چـه ددے تولو سیارو مرکز دے ددے لوے والے دومره قدرے دے چه

یوائې زمونږه د زمکې نه دیارلس لکه حصې لوې دې او د زمکې نه نهه کروړه پنځه ویشت لکه میله ورستو پروت دې که د نمر جسامت لره برابر د یو منګې اوګڼلې شي نو د زمکې جسامت به د هغې په حقله د متر ددانې برابر وی که د نمر د خوا نه توپ پریخودې شي نو د زمکې پورې به د هغې ګوله په نورلس کاله کښې هم راوونه رسی اوس دغه تمامې سیارې د نمر نه چاپیره چکر لګوی او د هغه نه رڼرا او ګرمی حاصلوی. د زمکې حرکت دومره قدرې تیز دې چه یو سل شل ګنا تیز د توپ د ګولې نه زیات چکر لګوی او اته پنځوس زره میله په یوه ګنهټه کښې طے کوی. دغه شان نور ستوری هم په خپل خپل مدار باندې په یره تیزی او جلتی سره تاویږی بیا افتاب ددې تولو لوې لویو جسمونو لره اخلی معلومه نه ده چه د چانه چاپیره تاویږی. اوس ما سوا ددې سیارو نه په خپله زمونږ په نظام کښې لوې لوې دم دار ستوری دی چه د هغو د عظمت په خیال کولو سره د خدائے پاک یره په زړه کښې راځی د یو دُم دار ستوری لکې د لس کروړو نه هم زیات اوګد حساب کړې شوې دې

او دا دم دار ستوری داسې تیزور دی چه ددې تیزی د خیال نه بهر ده. داد نمر خواله راځی او چکر خوری. او بیا په خپلو کرولارو کښې په جلتی سره چلیږی په ١٤٥٤ء کښې یو دم دار ستورې داسې زمکې ته نزدې راغلې وو چه د سپوږمی او د زمکې ترمینځ شوې وو او سپوږمی نې د نظر نه پټه کړې وه هغه دُم دار ستورې کوم چه په ١٧٧٠ء کښې ښکاره شوې وو زمکې ته دومره نژدې راغلې وو چه د زمکې قوت جاذبه ددې په چلیدو باندې اثر کړې وو که چرې هغه دُم دار ستوری زمونږه دې زمکې سره تکر خوړلې وې او صدمه رسیدلې وې نو زمکه به سره د سمندرونو او غرونو د اوبو د یو خاځکی په شان یا د ګتې د یوې ټکړې په شان په څه زبردست او لوې ستوری باندې پربوتې وه. لیکن هغه په خپلې تیزرونی سره د مشری د سپوږمو په مینځ کښې شوه او اووته که چرې ددغه سپوږمو نه چه هغه اوس زیاتې تیزرو دی چالره د هغه دُم دار تیزرو سره تکر راتلې. نو یو یا دواړه به ماتیدلې خو لیکن د الله پاك نظر په خپل تمام مخلوق باندې دې او هغه د تمامو نګهبان او حفاظت کوی. او دا ټول زمونږ نظام شمسی سره د خپلو تمامو سارو او دم دار ستورو وغیره د خدائے د هغه مصنوعاتو په مقابله کښې کوم چه په اسمن

باندے پہ کثرت سرہ معلومیږی یے قدرہ دی ځکه چه دا ټمام ستورې په سوونو او زرګونو په اسمان باندے پرقیدونکے په نظر باندے راځی هر یو ددوی نه په منزله د یو نمر دے او په دے طور باندے هر یو ته ددوی نه سیارے عنایت کړے شوے دی.

پس د خدائے څه عجیبه عجیبه قدرت دے د ښے اسمان طرف ته اوګوری او غور اوکړی چه څومره سیارے په دوربین سره په نظر باندے راځی هغه اتۀ کروړه دی ددوی نه یو یو ددغه نمر مانند رنړا دے او په خیال کښے راځی چه یو یو ددوی ددغه افتاب په موافق په خپلو خپلو جلو کښے سیارے لری. او دوی لره ګرمی او رنړا ورکوی ځکه د شهنشاه بے پرواه قادر مطلق او د زبښتونے خداوند قدرت د انسان فهم او ادراك او قیاس لره پریشانه کوی چه هغه هر وخت او هره لحظه د زمکے او د دُم دار ستورو او سیارو او په لکونو او کوړونو افتابونو او سیارو حفاظت کوی.

او په خپل بے انتهاء قدرت او اختیار سره ددے بے شماره عالمونو لره په خپلو لارو باندے چلوی. او د یو بل سره نے جنګ او ټکرو خوړلو ته نۀ ورکوی. بیا د هغے ثوابت لرے والے د زمکے نه دومره قدرے لرے دے چه د فهم کښے نۀ راځی یو سرے ددے د لرے والی حساب نۀ شی کولے. په اویا لکه کاله کښے چه څومره لرے د توپ ګوله لاړه شی دا نزدے ستورے ددے نه هم زیات لرے دے. بیا څوك جستجو کولے شی.نو د الله تعالی کمالاتو لره موندلے شی اوس د داسے خداوند عظیم الشان د جلال او د بزرګی مخکښے د انسان څه رتبه ده چه هغه ددۀ د یو ادنی مخلوق یعنی د زمکے چینجے دے او هغه په کومه خلۀ باندے د خدائے دعوی کوی او یا د نمر او ستورونو یا د غرونو بنیادم یا د پیری یا فنبر یا ولی یا نبی عبادت کوی او د خپل داسے خداوند عظیم الشان په طرف باندے خپل زړۀ نۀ متوجه کوی او هغه پریږدی. او د نورو نه امداد غواړی د نورو نه پل حاجتونه پوره کول غواړی " لا حول ولا قوۃ الا بالله العلی العظیم ".

۲۳۳) عن ابی هریرۃ عن رسول الله ﷺ قال ما انزل الله من السماء من برکۃ الا اصبح فریق من الناس بها کافرین ینزل الله الغیث فیقولون الکوکب کذا و کذا وفی حدیث المرادی بکوکب کذا و کذا :

ترجمه : د ابو هریرۃ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نۀ دے رالیږلے الله پاك د

اسمان نه څه برکت مګر سحر له یو ے فرقے د هغے نه انکار اوکړو الله پاك اوبهٔ وروی نو دا خلق وائی چه فلانے فلانے ستورے راوختو یا پریوتو د هغے په وجه سره باران اووریدو او د مرادی په حدیث کښے دی چه د فلانی فلانی ستوری به سبب سره (باران اوشو)

(۲۳۴)عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مُطِرَ النَّاسُ عَلٰی عَهْدِ النَّبِیِّ ﷺ فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ اَصْبَحَ مِنَ النَّاسِ شَاكِرٌ وَمِنْهُمْ كَافِرٌ قَالُوْا هٰذِهٖ رَحْمَةُ اللّٰهِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لَقَدْ صَدَقَ نَوْءُ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ (فَلَا اُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُوْمِ) حَتّٰى بَلَغَ (وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ) :[۵۶ : الواقعة : ۷۵ ـ ۸۲]

ترجمه : د ابن عباسؓ نه روایت دے چه باران اوشو د رسول الله ﷺ په زمانه کښے نو هغه اوفرمائیل چه سحر کړو بعضو خلقو په شکر باندے او بعضو په کفر باندے نو چا چه په شکر باندے اوکړو هغوی اووے دا د الله رحمت دے او چاچه کفر اوکړو هغوی اووے چه فلانی نوء فلانے نوء رښتونے شولو بیا دا آیت نازل شو " فلا اقسم بمواقع النجوم " تر د آخره پورے ۔

فائده : یعنی زهٔ قسم خورم په ستورے د ډوبیدو باندے یا د راختو ۔ او دا قسم که چرے پوهیږے نو ډیر لوے قسم دے د آخره پورے تر دے پورے فرمائیلی دی چه تاسو خپله حصه دغه خلی چے دروغ نے ثابتوی۔ شیخ ابو عمر وائی چه دا مقصود نهٔ دے چه ټول آیتونه دے په باب د نوء کښے نازل شی ولے چه تفسیر د دے نه انکار کوی بلکه دا آیت " وتجعلون رزقکم انکم تکذبون " د نوء په باب کښے نازل دے او باقی په بل باب کښے او د ابن عباسؓ نه په یو روایت کښے صرف دا ایت مذکور دے او د هغے تفسیر دادے چه تاسو خپل شکر یا د خپل رزق شکر یا خپله حصه هم اخلی د خدائے د رحمت نه او نسبت کوی د رزق ستورو طرف ته.

باب الدلیل علی ان حب الانصار وعلی رضی الله عنهم من الایمان وعلاماته وبغضهم من علامات النفاق :

باب : د انصارو او د حضرت علی رضی الله عنهم سره محبت ساتل په ایمان کښے داخل دی او ددوی سره بغض ساتل د نفاق نښانی دہ :

(۲۳۵)عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اٰيَةُ الْمُنَافِقِ بُغْضُ الْاَنْصَارِ وَاٰيَةُ الْمُؤْمِنِ حُبُّ الْاَنْصَارِ :

[بخاری : ۱۷، ۳۷۸۴، نسائی : ۵۰۳۴]

ترجمه : د حضرت انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل د منافق نشانی داده چه د انصارو سره به دشمنی ساتی او د مؤمن نشانی داده چه د انصارو سره به محبت ساتی

فائده : ولے چه انصار هغه خلق دی چا چه رسول الله ﷺ مدینے ته راغوښتلے وو او بیا نے هر قسم د هغه مدد اوکړو . ګویا چه اسلام لره جماوه ونکی او قائمه ونکی دا انصار دی . نو ددوی سره محبت ساتل د هر مسلمان فرض دی

(۲۳۶)عن انس عن النبی ﷺ انه قال حب الانصار اية الايمان وبغضهم اية النفاق :

[راجع : ۲۳۵]

ترجمه : د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د انصارو سره محبت ساتل د ایمان نشانی ده او د هغوی سره دشمنی ساتل د نفاق نشانی ده .

(۲۳۷)عن عدی ابن ثابت قال سمعت البراء يحدث عن النبی ﷺ انه قال فی الانصار لايحبهم الا مؤمن ولا يبغضهم الا منافق من احبهم احبه الله ومن ابغضهم ابغضه الله قال شعبة قلت لعدی سمعته من البراء قال اياى حدث : [بخاری : ۳۷۸۳، ترمذی : ۳۸۹۹، ابن ماجه : ۱۶۳]

ترجمه : د عدی ابن ثابت نه روایت دے چه ما د براء بن عاذب نه اوریدلے دی او هغه د رسول الله ﷺ چه فرمائیلی نے وو د انصارو به باب کښے . چه د هغوی دوست مؤمن دے او د هغوی دشمن منافق دے او چا چه د هغوی سره محبت اوکړو الله پاک به د هغه سره محبت اوکړی او چا چه ورسره دشمنی اوکړه الله به د هغو سره دشمنی اوکړی شعبه وائی چه ما د عدی نه تپوس اوکړو چه تا دا حدیث د براء نه اوریدلے دے هغه اووے چه براء ما ته دا حدیث بیان کړے دے .

(۲۳۸)عن ابی هريرة ان رسول الله ﷺ قال لا يبغض الانصار رجل يؤمن بالله واليوم الآخر .

ترجمه : د ابو هریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د انصارو سره هغه سړے دشمنی نهٔ ساتی چه هغه ایمان لری په الله باندے او په ورځے د قیامت باندے

(۲۳۹)عن ابی سعيد قال قال رسول الله ﷺ لا يبغض الانصار رجل يؤمن بالله واليوم الاخر :

ترجمه : د ابو سعید نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د انصارو سره دشمنی نه کوی هغه سړے چه هغه ایمان لری په الله او په ورځ د قیامت باندے.

(۲۴۰)عن زر قال قال علیّ والذی فلق الحبة وبرء النسمة انه لعهد النبی ﷺ الی ان لایحبّنی الا مومن ولا یبغضنی الا منافق [ترمذی ۳۷۳۶ نسائی ۵۰۳۳،۵۰۳۰، ابن ماجه ۱۱۴]

ترجمه : د زر بن جیش (اسدی کوفی چه د یو سل شلو کالو یا اوشپو کالو په عمر کښې مړ شو هغه د جاهلیت زمانه لیدلے وه) وائی چه حضرت علیؓ وفرمائیل: قسم دے په هغه ذات چاچه دانه اوخیرله (او بیا هغه وابنه راوتوکول) او روح ئے جوړ کړو چه رسول الله ﷺ ما سره وعده کړې ده چه زما سره خوك محبت نه ساتی مګر مومن او نه ساتی دشمنی زما سره مګر منافق.

فائده : حضرت علیؓ د حضور ﷺ د زړه خوږے او د هغه خوم وو او د وړوکوالی نه ئے ایمان راوړے وو او حضور ﷺ به د هغه سره ډیر محبت ساتلو هر کله چه لوئے شو نو ډیر امداد اوکړو هغه د حضور ﷺ او په جنګونو کښے ئے ډیره بهادری او جان بازی کوله او سخت کافران ئے اوژل نو د هغه احسان په هر مسلمان باندے دے او هر یو مسلمان له د هغه سره محبت ساتل ضروری دی.

باب بیان نقصان الایمان بنقص الطاعات وبیان اطلاق لفظ الکفر علی غیر الکفر بالله تعالیٰ ککفر النعمة والحقوق :

باب : د عبادت په کمی سره د ایمان کمدل او احسن فرموشی او ناشکری ته کفر وئیل :

(۲۴۱)عن عبد الله ابن عمر عن رسول الله ﷺ انه قال یا معشر النساء تصدقن واکثرن الاستغفار فانی رایتکن اکثر اهل النار فقالت مرأة منهن جزلة وما لنا یارسول الله اکثر اهل النار قال تکثرن اللعن وتکفرن العشیر ما رایت من ناقصات عقل ودین اغلب لذی لب منکن قالت یا رسول الله ومانقصان العقل والدین قال اما نقصان العقل فشهادة امرأتین تعدل شهادة رجل فهذا نقصان العقل وتمکث اللیالی ما تصلی وتفطر فی رمضان فهذا نقصان الدین :

ترجمه : د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اے د ښځو ټولیه!

تاسو صدقه ورکوئ او استغفار کوئ ولې چه ما اولیدل په جهنم کښې اکثر ښځې دي. یوې عقلمندې ښځې اووې یا رسول الله څه سبب دے ؟ او ښځې ولې زياتې دي په جهنم کښې ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه هغوی لعنت ډیر کوی او د خاوندانو ناشکری کوی ما په عقل او دین کښې کمې او عقلمند لره په عقل کوونکې ستاسو نه زیات څوك نهٔ دي لیدلې. هغې ښځې اووې زمونږ په عقل او په دین کښې څه کمې دے ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل د عقل کمې خو دادے چه ددو ښځو ګواهي دَیو سړي دَګواهي برابر ده او دَدین کمې دادے چه ښځه د څو ورځو پورې (په هره میاشت کښې) مونځ نهٔ لولي (د حیض په وجه سره) او د رمضان روژې نهٔ نیسي (د حیض په ورځو کښې) .

فائده : امام نووی وائي ددے حدیث نه ډیرے شان خبرے معلومیږی یو خو ترے نه ترغیب معلومیږی دَ صدقې او نیکو کارونو او د استغفار په کثرت سره دکولو. دویمه داچه چه په نیکو سره ګناه ختمیږی لکه چه د قرآن نه ثابته ده. دریمه داچه دَ خاوند ناشکری او احسان فراموشي لوے ګناه ده او دَ جهنم وعده په هغه ګناه کښې وی چه هغه کبیره وی څلورم داچه لعنت کول هم یو ګناه ده مګر کبیره نهٔ ده . ولې چه حضور ﷺ فرمائیلي دي هغه لعنت ډیر کوی او صغیر لره ډیر کول کبیره دي. او رسول الله ﷺ فرمائیلي دي په مسلمان باندے لعنت ونیل د قتلولو برابر دي او د لعنت په حرام کیدو باندے علماؤ لعنت کړے دے او لعنت وائي په لغت کښې غورځولو او ویستلو ته او په شرعه کښې د الله تعالی د رحمت نه لرے کولو ته ونیلے شي نو دا خبره درسته نهٔ ده چه لرے کړی الله تعالی چالره د رحمت نه د کومے پورے چه د هغه حال او د هغه د خاتمې حال معلوم نهٔ وی څکه علماؤ ونیل دي چه په یو خاص سړی باندے لعنت کول خواه که مسلمان وی یا کافر درست نهٔ دی ددے پورے چه په څناورو باندے هم د کومے پورے چه په نص شرعي سره معلومه نهٔ شي. چه هغه په کفر باندے مړ دے یا په کفر باندے مری. لکه ابو جهل یا ابلیس.

لیکن لعنت کول د اوصافو سره خو حرام نهٔ دی په خپله په حدیث کښې لعنت راغلے دے په هغه ښځه باندے چه هغه وښتهٔ دَ سر په څټ دپاسه منجیلی کړی یا دَ ډمو او کنجریانو سره

تنیل وهی. په سود خوړونکی باندې او خوړه ورکی باندې او په تصویر جوړونکو باندې په ظالمانو باندې په فاسقانو باندې په کافرانو باندې چه هغه د زمکې نښانې ورانوی او چه غلام د خپل مالك نه سوا بل چاله مالك جوړ كړی. حول چه د خپل پلار نه سوا بل چاله پلار جوړ کړی خوك چه په اسلام کښې بدعت راوباسی یا د بدعتی مدد کوی ویره وغیره په ډیرو خلقو باندې پنځه داچه د کفر اطلاق سوا د کفر شرعی نه په ناشکری او احسان فراموشی باندې هم دی. شپږم داچه په ایمان کښې کمې او زیاتې هم راځی اووم داچه امام او حاکم ته نصیحت کول او خپلې رعایه ته او هغوی له یره ول د ګناهونو نه او رغبت ورکول دَ عبادتونو درست والی ته. اته داچه شاګرد له د استاد او رعایه له دَ امام نه تپوس کول او په هغه باندې سوال کول درست دی.

هر کله چه د هغه په فهم کښې څه خبره نۀ راځی نهم صرف د رمضان ونیل درست دی میاشت د رمضان او شهر رمضان ونیل ضروری نۀ دی. امام ابو عبد الله مازدیؒ وائی داچه کومه د ښځو د عقل دَ کمی او د هغوی د ګواهی نه راواتۀ دا اشاره ده دې آیت طرف ته " ان تضل احداهما د آخره پورې یعنی کۀ دَ یوې ښځې هیر شی نو بله به ئې ورته یادوی ددې نه معلومه شوه چه په ښځو کښې ضبط او حفظ کم دې او اختلاف نې کړې دې خلقو په عقل کښې بعضو ونیلې دی چه عقل علم ته ونیلې کیږی او بعضو ونیلې دی چه بعضې ضروری علومو ته ونیلې کیږی.

او بعضو ونیلې دی چه عقل یو قوت دې چه د هغې په وجه سره تمیز کیږی دَ معلوماتو په حقائقو کښې او د عقل په حقیقت او د هغې په قسمونو کښې ډیر اختلاف دې چه هغه مشهور دی. او څه حاجت دَ هغې د بیانولو په دې مقام باندې نشته دې. بیا اختلاف کړې دې خلقو دَ عقل په ځائې کښې متکلمین وائی چه دَ عقل ځائې زړۀ دې او بعضې علماو ونیلې دی چه دَ عقل ځائې دماغ دی مترجم وائی چه د حال حاکمانو په ړړ ، ولائلو سره دا خبره ثابته کړې ده چه دَ عقل او د تمام قوانې مدرکه ظرف دماغ دی او قرآن چه دا دلائل کتل غواړی هغه دې دَ حکمت د کتابونو په طرف باندې رجوع اوکړی او عمده معنی دَ عقل دلاه چه په رجه دَ مختلف تحربو او واقعاتو چه کوم قوت مدرکه ته یو حالت حاصلیږی. چه دَ هغې په وجه سره هغه تمیز کوی ښۀ او بد صحیح او فاسد کښې. بیا امام نووی وائی چه رسول الله ﷺ چه کوم دَ ښځو دَدین

کمے په ورځو د حیض کښے د مونځ نۀ کولو او روژه نۀ نیولو سره بیان کړے دے. هغے لره بعض خلقو مشکل ګڼړلے دے حالانکه دا مشکل نۀ دے ولے چه ددین او د اسلام او د ایمان یوه معنی ده او تمامو عباداتو ته ایمان او دین ویلے شی او هر کله چه دا معلومه شوه نو د چا عبادات چه زیات دی د هغه ایمان او دین هم زیات دے او د چا عبادتونه چه کم دی د هغوی ایمان او دین هم کم دے.

بیا نقصان ددین کله خو په دے شان باندے وی چه انسان د هغے په وجه سره ګنهګاریږی لکه یو مونځ یا روژه پریخودل بغیر د عذر نه. او کله په دے شان سره وی چه انسان د هغے په وجه سره نۀ ګنهګاریږی لکه جهاد یا جمعه پریخودل په شرعی عذر سره. او کله په دے شان وی چه هغه مکلف وی د هغے سره لکه چه ښځه د حیض په ورځو کښے مونځ یا روژه پریږدی. کۀ چرے څوك دا اووائی چه حائضه یعنی د حیض په دوران کښے چه هر کله ښځه معذوره ده نو پکار ده چه د حیض په حالت کښے هغے ته د مانځه ثواب ورکړے شی اګر کۀ هغه ددغه مانځه قضاء نۀ راوړی. لکه مریض یا مسافر ته چه د نفلونو چه هغه هغے لره په حالت د صحت او اقامت کښے اداء کوی ثواب ملاویږی.

نو جواب دادے چه د حدیث د ظاهر نه دا معلومیږی چه حائضے لره ثواب نۀ وی او فرق دادے چه مریض یا مسافر نفلونو لره په نیت د همیشه والی اداء کوی نو هغه ددے لائق دی. په خلاف د حائضے ښځے چه د هغے خو نیت هم دغه وی چه د حیض په حالت کښے مونځ پریخودلے شی. بلکه د مانځه نیت په حالت د حیض کښے حرام دے نو د حائضے ښځے نظیر هغه مریض یا مسافر دے چه هغه په بعضو وختونو کښے نوافل اداء کوی او بعضے وختونو کښے نۀ اداء کوی داسے مریض یا مسافر ته د نفلونو ثواب نۀ ملاویږی په خپل مرض یا سفر کښے هر کله چه هغه دے لره اداء نۀ کړی. (انتهی ما قال النووی)

(٢٤٢) عن بکر ابن مضر عن ابن الهاد بهذا الاسناد مثله:

ترجمه: د بکر بن مضر د ابن الهاد نه په دے سند سره روایت مروی دے.

(٢٤٣) عن ابی سعید الخدری وعن ابی هریرة عن النبی ﷺ بمثل معنی حدیث ابن عمر عن النبی

تخریج: بخاری: ۳۰۴، ۱۹۵۶، ۶۶۲، ۱۹۵۱، ۲۶۵۸، نسائی: ۱۵۷۵، ۱۵۷۸، ابن ماجه: ۱۲۸۸

ترجمه: ابو سعید خدری او ابو هریرة هم د ابن عمر د حدیث هم معنی روایت نقل کړے دے۔

باب بیان اطلاق اسم الکفر علی من ترک الصلوة:

باب: کوم سړے چه مونځ پریږدی د هغه د کفر بیان:

(۲۴۴) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ اذا قرء ابن ادم السجدة فسجد اعتزل الشیطن یبکی یقول یاویله فی روایة ابی کریب یا ویلی امر ابن ادم بالسجود فسجد فله الجنة وامرت بالسجود فابیت فلی النار: [ابن ماجه: ۱۰۵۲]

ترجمه: د ابو هریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی بنیادم چه کله أیت د سجدے اولولی او بیا سجده کوی نو شیطان په ژړا ژړا باندے یو طرف ته لاړ شی او وائی چه خرابی د هغه ی یا زما. دے سړی ته د سجدے حکم اوشو او دهٔ سجده اوکړه اوس به دهٔ ته جنت ملاویږی او ماته د سجدے حکم اوشو ما انکار اوکړو یا نافرمانی مے اوکړه نو زما دپاره جهنم دے:

فائده: امام نووی وائی چه د مسلم مقصود ددے حدیث د ذکر کولو نه دادے چه د بعضے افعالو په ترک سره کفر جوړیږی یا حقیقتا یا برائے نام او د شیطان کفر د سجدے د نهٔ کولو نه ماخوذ دے ددے أیت نه " واذا قلنا للملئکة اسجدوا لادم فسجدوا الا ابلیس ابی وستکبر وکان من الکافرین" او یاد کړه هغه وخت لره چه هر کله مونږ اووے فرښتو ته چه آدم ته سجده اوکړی نو هغوی سجده اوکړه. مگر ابلیس اونهٔ کړه او غرور ئے اوکړو او وو هغه د کافرانو نه جمهور علماؤ داوئیلے دی چه ددے مطلب دادے چه د الله تعالی په علم کښے هغه کافر وو او بعضے وائی چه کان په معنی د صار سره دے یعنی شو د کافرانو نه لکه " وحال بینهما فکان من المعرقین "

(۲۴۵) عن الاعمش بهذا الاسناد مثله غیر انه قال: ((فعصیت فلی النار))

ترجمه: د اعمش نه په دے سند سره د تیر شوی حدیث په مثل روایت دے مگر په دے کښ دا خبره ده چه شیطان اوئیلے چه ما انکار اوکړونو زما دپاره اور دے."

(۲۴۲) عن جابر یقول سمعت النبی ﷺ یقول ان بین الرجل وبین الشرک والکفر ترک الصلوة.

[ترمذی : ۲۶۱۸]

ترجمه : د جابرؓ نه روایت دے چه ما اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلے ئے وو د بنده او د شرك په مینځ کښے فرق د مانځه پریخودل دی

فائده : نوویؒ وائی ددے حدیث معنی داده چه د کفر نه منع کوونکی د مانځه نۀ پریخودل دی بیا چه هر کله مونځ پریخودے شو نو د بنده او د شرك او د کفر په مینځ کښے څه منع کوونکی پاتے نۀ شو او شرك او کفر یو دی او کلمه شرك خاص کیږی په بت پرستو پورے نو کفر عام وی د شرك سره او کوم سړے چه مونځ پریږدی او د هغے د فرضیت نه انکار اوکړی نو هغه کافر دے په اجماع دَ اهل اسلامو او ددین اسلام نه وتلے دے لیکن په داسے صورت کښے چه هغه نوے مسلمان شوے وی او د اسلام د ارکانو نه واقف نۀ وی نو هغه نۀ کافر کیږی او کوم سړے چه مونځ فرض گنړی خو د سُستی او کاهلی (سټړے والی) په وجه باندے هغے لره ترك کوی نو په دے باب کښے د عالمانو اختلاف دے

د امام مالك او شافعیؒ او د جمهورو سلفو او خلفو دا قول دے چه هغه کافر نۀ دے بلکه فاسق دے ددے نه به توبه کولے شی بیا کۀ چرے توبه ئے کړه او مونځ ئے کوو خو خیر گنی بیا به ئے په حد سره قتل کړی لکه محصن زناکار چه سنگسار کړی خو پریخودونکے د مانځه به په توره سره قتلوی. او د یو جماعت د سلفو دا قول دے چه هغه به کافر کیږی. او دا منقول دے د حضرت علیؓ نه او دا مروی دے د امام احمد نه او دے طرف ته تلے دے عبد الله بن مبارك او اسحاق بن راهویهؒ. په السراج الوهاج کښے دی چه ظاهر حدیث ددے مذهب تائید کوی او دے لره ثابت کړے دے دحدیث علماؤ او د علامه ابن قیم یو جدا کتاب دے په دے باب کښے هغوی د مخالفینو د تمامو دلائلو جواب کړے دے. او امام شوکانی په السیل الجرار کښے دے لره اختیار کړے دے. او حاصل دادے چه څوك قصدا مونځ لره پریږدی هغه د قتل لائق شو. او د مسلمانانو په حاکم باندے لازم دی چه دے قتل کړی او دۀ ته به اونیلے شی چه مونځ اوکړه بیا کۀ چرے دۀ انکار اوکړو نو فورا به قتلولے شی او څه ضرورت نشته دے چه څه مهلت ورکړے شی دۀ ته دَ دریو ورځو

بلکه د انکار کولو سره به دے قتلوی او مه دے لره په هدایة السائل کښے په تفصیل سره بیان کړے دی . انتهی امام نووی وائی چه د امام ابو حنیفه او د خاوندانو د کوفے نه د بو بو جماعت دا قول دے چه هغه کافر نهٔ دے. او نهٔ به قتلے دے شی بلکه دهٔ لره به سزا ورکولے شی او قید کولے به شی د هغے پورے چه مونځ شروع کړی. او کوم سړے چه د کفر قائل شوے دے : هغه دلیل ظاهر حدیث دے او څوك چه وائی چه دے مهٔ قتلوی : د هغوی دلیل هغه حدیث دے چه حلاله نهٔ ده د مسلمان وینه مگر په دریو خبرو کښے په یوه خبره سره او په دے کښے د مانځه ترك نشته دے

او جمهور چه کوم وائی چه هغه کافر نهٔ دے نو دلیل راوړی ددے آیت نه " ان الله لا یغفر ان یشرک به ویغفر مادون ذلک لمن یشآء " یعنی الله پاك نهٔ بخی مشرك لره او بخی ددے نه سوا چالره چه اوغواړی . په دے حدیث سره چه چا لا اله الا الله اووے هغه به جنت ته خی او کوم بنده چه مړ شی په لا اله الا الله باندے یقین اوکړو هغه به جنت ته خی او دهٔ لره قتلول نهٔ دی ددے دلیل دادے : آیت ـــ فان تابوا واقاموا الصلوٰة واتوا الزکوٰة فخلوا سبیلهم " یعنی کهٔ چرے هغه توبه کړی او مونځ کوی او زکوٰة ورکوی نو هغه پریږدی معاف نے کړی. او دا حدیث دے چه ماته حکم شوے دے د جنگ کولو د خلقو سره تر دے پورے چه هغه لا اله الا الله اووائی او مونځ کوی او زکوٰة ورکوی بیا چه هر کله هغه داسے کوی نو بچ کړو هغوی خپلو وینو او مال لره. او د هغے تاویل دادے چه بنده د مانځه په پریخودو سره د هغه سزاء مستحق دے کومه چه کافرانو ته ورکړے کیږی یعنی د قتل یا حدیث محمول دے په دے باندے چه څوك مونځ پریخودل درست گنړی یا د هغه انجام کفر دے یا د هغه فعل د کافرانو په شان دے . انتهی

(۲۴۷) عَنْ جابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ یقولُ . سمعتُ النبیَّ ﷺ یقولُ : انّ بَیْنَ الرَّجُلِ وبَیْنَ الشِّرْکِ والْکُفْرِ تَرْکُ الصَّلوٰةِ : [نسائی : ۴۶۳]

ترجمه : جابر بن عبد الله فرمائی چه ما اوریلے دی د نبی کریم ﷺ نه چه هغه فرمائیلے وو.: بے شکه د بنده او د شرك او کفر په درمیان کښی فرق د مونځ پریخودل دی .

باب بیان کون الایمان بالله تعالیٰ افضل الاعمال :

باب : په الله پاك باندے ایمان راوړل د تمامو كارونو نه افضل عمل دے.

(۲۳۸)عن ابی هریرة قال سأل رسول الله ﷺ ای الاعمال افضل قال ایمان بالله قیل ثم ماذا قال الجهاد فی سبیل الله قیل ثم ماذا قال حج مبرور وفی روایة محمد ابن جعفر قال ایمان بالله ورسوله [بخاری : ۲۶، ۱۵۱۹، نسائی ۵۰۰۰]

ترجمه : د ابو هریرة نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه كوم یو كار غوره دے؟ (یعنی د ټولو نه زیات) حضور ﷺ اوفرمائیل ایمان په الله باندے راوړل بیا تپوس اوشو ددے نه بعد څه دی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل جهاد په لاره د الله تعالی كښے بیا تپوس اوشو ددے نه بعد څه دی حضرت ﷺ اوفرمائیل چه حج مبرور. او په یو روایت كښې دا لفظ دے چه په الله پاك او د هغه په رسول باندے ایمان راوړل.

فائده : نووی وائی چه حج مبرور هغه دے چه په هغے كښے څه گناه نهٔ وی او بعضو وئیلے دی چه كوم حج قبول شی الله ته. یا چه څوك صادق وی خالص د خدائے دپاره وی. بیا د قبلیدو نشانی داده چه د حج نه پس به نیك اعمال كوی او د گناهونو نه به ځان بچ ساتی.

(۲۴۹) عن الزهری بهذا الاسناد مثله [نسائی : ۲۶۲۳، ۳۱۳۰]

ترجمه : زهری په یو بل روایت سره د تیر شوی حدیث په مثل روایت بیانوی.

(۲۵۰)عن ابی ذر قال قلت یارسول الله ﷺ ای الاعمال افضل قال الایمان بالله والجهاد فی سبیله قال قلت ای الرقاب افضل قال انفسها عند اهلها واكثرها ثمنا قال قلت لم افعل قال تعین صانعا او تصنع لاخرق قال قلت یارسول الله ارأیت ان ضعفت عن بعض العمل قال تكف شرك عن الناس فانها صدقة منك علی نفسك [بخاری ۲۵۱۸، نسائی ۳۱۲۹، ابن ماجه ۲۵۲۳]

ترجمه : د ابوذر نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو چه كوم یو عمل غوره دے؟ حضور ﷺ اوفرمائیل په الله پاك باندے ایمان راوړل او د هغه په لاره كښے جهاد كول ما اووے كوم غلام آزاده ول غوره دی؟ هغه اوفرمائیل كوم غلام چه خپل مالك ته ښهٔ معلومیږی او چه قیمت ئے زیات وی ما اووے كهٔ چرے زهٔ دا اونهٔ كړم نو حضور ﷺ اوفرمائیل :

چا صانع یعنی د صنعت کار مدد کوه یا مزدوری کوه د هغوی دپاره چه هغه یے هنره وی (یعنی څه کار کسب نه ئۀ وی او د ډوډئ محتاج وی) ما اووبے یا رسول الله کۀ چرے څه په خپله ناتوانه شم یا څه کسب نۀ شم کولے نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه د چاسره بد مۀ کوه دا ستا صدقه ده په خپل ځان باندے

فائده : ما تپوس اوکړو چه کوم یو عمل غوره دے حضور ﷺ اوفرمائیل ایمان راوړل په الله باندے ددے نه معلومه شوه چه د عمل اطلاق په ایمان باندے هم دے او مراد ددے نه هغه ایمان دے . چه د هغے په سبب سړه بنده مسلمان وی او هغه په زړۀ سره یقین کول او په ژبه سره اقرار کول دی. د شهادتینو یقین خو د زړۀ عمل دے او په ظاهر باندے اقرار کول د ژبے عمل دے او دلته په ایمان کښے نور اعمال داخل نۀ دی لکه مونځ. روژه. حج . جهاد وغیره ولے چه دے لره نے مخکښے بیان کړے دی. او ددے سره دا نۀ لازمیږی چه دے اعمالو ته ایمان نۀ شی وئیلے . (السراج الوهاج)

تپوس اوکړے شو چه کوم غلام ازادول غوره دی حضور ﷺ اوفرمائیل کومه چه خپل مالک ته عمده معلومه شی دا هله دی چه کله یو غلام آزادول غواړی او کومے چه ډیرۀ سره روپی وی د هغے په بدله کښے دوه غلامان ددۀ ته ملاویږی خو اعلی غلام یو راخی نو دوه اخستل او آزادول غوره دی د یو عمده ازادولو نه او دا د قربانی په خلاف دے په قربانی کښے یوه تازه څربه بزه د دوو کمزورو بزو نه غوره دی (السراج الوهاج)

اونیلے شو که چرے زۀ دا اونۀ کړ " حضور ورته اوفرمائیل چه د صنعت کار مدد کوه په السراج الوهاج کښے دی چه په بعضے نسخو کښے د صانع په ځائے باډے ضیع دے یعنی وبلے کوونکے او په بعضے نسخو کښے ضایع دے مګر صحیح صانع دے په صاد مهمله سره چه په کوم صورت کښے صانع وی په صاد مهمله او سون سره نو معنی به داوی چه مدد کوه د چا کاریګر چه هغه په لاسونو سره محنت مزدوری کوی لکه ترکهان یا لوهار شو یا درزی وغیره نور داسے تمامے کتے حلالے دی او مراد د هغه کسب ګر دے چه هغه ته د هغه کته نۀ پوره کیږی او د هغه بال بچ ډیر وی چه د هغوی پرورش د هغه په کته کښے ګران وی. نو د هغه امداد کول

ډیر لوی ثواب دے او په کوم صورت کښے چه ضانع وی په ضاد معجمه سره نو هغه د ضیاع نه دے چه د هغې معنی د عیال ده یعنی څوك چه عیال دار وی او غریب وی نو د هغه مدد کوه او په کوم صورت کښے چه صانع دے په صاد مهمله او په غین معجمه سره نو معنی ئے ئے جوړیږی. ولے چه صانع د سپینو زرو او سرو زرو ویلے کولو والا ته ونیلے کیږی نو بیا د هغې خصوصیت څه وجه نشته دے.

او امام نووی په دے مقام باندے صرف دوه لفظونه نقل کړے دی بیا ئے دا ونیلے دی چه بعضو صانع نه چه په صاد مهمله او نون سره دے صحیح ونیلے دی نو معلومه نۀ ده چه په السراج الوهاج کښے دا دریم لفظ ضانع د کوم په صاد مهمله او غین معجمه سره د کوم ځائے نه نقل شوے دے او شاند چه دا سهوه وی والله اعلم. او دا چه کوم فرمانیلے دی چه د چا سره بدئ کوه دا ستا صدقه ده په خپل ځان باندے لکه په صدقه ورکولو سره چه بل ته فائده حاصلیږی دغه شان په بدی نۀ کولو سره نفس ته فائده حاصلیږی په دنیا کښے آرام او په آخرت کښے ثواب ملاویږی.

(۲۵۱)عن ابی ذر عن النبی ﷺ بنحوه غیر انه قال فتعین الصانع او تصنع لاخرق [راجع ۲۵۰]

ترجمه : د ابو ذرؓ نه هم په دویم روایت کښے په شان نقل دی. چه د صنعت کار مدد کوه او مزدوری کوه د هغه چا دپاره چه بے هنره وی

(۲۵۲)عن عبد الله ابن مسعود قال سئلت رسول الله ﷺ ای العمل افضل قال الصلوة لوقتها قال قلت ثم ای قال بر الوالدین قال قلت ثم ای قال الجهاد فی سبیل الله فما ترکت استزیده الا ارعاء علیه [بخاری ۵۲۷، ۲۷۸۲، ۵۹۷۰، ۷۵۳۴، ترمذی : ۱۷۳، نسائی : ۶۰۹، ۶۱۰]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعودؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه کوم یو کار غوره دے (یعنی د هر څه نه زیات په ثواب کښے) نو هغه اوفرمانیل مونځ کول په خپل وخت باندے ما اووے بیا کوم یو هغه اوفرمانیل نیکی کول د پلار مور سره (یعنی هغوی

خوشاله او راضی ساتل او د هغوی سره احسان کول) ما اووے بیا کوم عمل غوره دے هغه اوفرمائیل جهاد کول د الله په لاره کښے بیا ما زیات تپوس کول پریخودل او د هغه رعایت مے اوکړو ددے دپاره چه په هغه باندے بوج یعنی تکلیف نۀ شی۔

(٢٥٣) عن عبد الله ابن مسعود قال قلت يا نبی الله ای الاعمال اقرب الی الجنة قال (الصلوة علی مواقيتها) قلت وما ذا يا نبی الله ؟ قال بر الوالدين قلت وما ذا يا نبی الله قال الجهاد فی سبيل الله :

[راجع : ٢٥٢]

ترجمه : عبد الله ابن مسعودؓ فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه اے د الله نبی ! کوم اعمال جنت ته نزدے کوونکی دی ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه مونځ کول په خپل وخت باندے ۔ بیا ما تپوس اوکړو بیا کوم ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل د مور پلار سره حسن سلوك بیا مو تپوس اوکړو بیا کوم ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل د الله تعالی په لاره کښ جهاد کول۔

(٢٥٤) عن ابی عمرو الشيبانی قال حدثنی صاحب هذه الدار واشار الی دار عبد الله قال سالت رسول الله ﷺ ..

ترجمه : د ابو عمرو شیبانی نه روایت دے چه ماته بیان کړے دے دغه کور والا او اشاره نے اوکړه د عبد الله بن مسعودؓ د کور په طرف باندے ۔ او وے وئیل تپوس اوکړو ما د رسول الله ﷺ نه چه کوم کار ډیر غوره دے اله تعالی ته ددے نه پس نے پوره حدیث بیان کړو کوم چه وړاندے تیر شو

(٢٥٥) عن شعبة بهذا الاسناد مثله وزاد واشار الی دار عبد الله وما سماه لنا : [راجع : ٢٥٢]

ترجمه : په دویم روایت کښے هم دغه شان دی په هغے کښے دادی چه ابو عمرو شیبانی اشاره اوکړه د عبد الله ابن مسعود د کور طرف ته او د هغه نوم نے وانۀ خستو۔

(٢٥٦) عن عبد الله عن النبی ﷺ قال افضل الاعمال او العمل الصلوة لوقتها وبر الوالدين :

ترجمه : د عبد الله ابن مسعود نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د ټولو کارونو نه مخکښے یا د ټولو نه اوچت کار مونځ کول دی په خپل وخت کښے او نیکی کول دی د مور او پلار سره۔

فائده : امام نووی وائی چه په دے مقام باندے یو اشکال دے او هغه دادے چه په بعضے روایتونو کښے نے د ټولو نه غوره ایمان قرار کړے دے او بیا جهاد او بیا حج او په بعضے کښے نے ایمان او جهاد لره او مانځه لره او بیا نے د مور او پلار سره د ښه سلوک لره بیا جهاد لره او په بعضو کښے په غله خوړونکی او هر چاته سلام کولو لره او بعضے کښے قرآن ایزده کولو لره او ښودلو لره او ددے په مثل باندے ډیرو صحیح احادیثو کښے ذکر دی. نو اختلاف کړے دے علماؤ چه څه رنګ به جمع کیږی دے اختلافونو لره . حلیمی د قفال شاشی کبیر نه نقل کړے دی چه په دوه قسمه سره جمع کیدے شی یو خو دا چه دا اختلاف په اعتبار د اختلاف د احوالو او اشخاصو دے او کله وائی چه دا خبره د ټولو نه غوره ده او دا مراد نهٔ دے چه د هر قسم یا د هر سړی دپاره غوره ده او دلیل ددے دادے چه د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چاچه حج نهٔ دے کړے د هغه دپاره حج د څلویښتو جهادونو نه غوره دے او چا چه جهاد نهٔ دے کړے د هغه دپاره جهاد د څلویښتو حجونو نه غوره دے.

دویمه دا چه د افضل الایمان نه مخکښے د من لفظ محذوف دے نو ترجمه به داشی چه غوره د کارونو نه ایمان دے او جهاد دے په دے صورت کښے څه اشکال نشته دے لکه چموئی چه فلانے سړے په دے خلقو عاقل دے یا افضل دے او مراد دا وی چه د هغوی د عاقلانو یا د غوره خلقو نه دے. او داسے قول دے د رسول الله ﷺ چه غوره په تاسو کښے هغه دے چه هغه د خپل کور د خلقو دپاره غوره وی او معلومه ده دا خبره چه د کور والا د غوره کیدو نه د ټولو خلقو سره غوره کیدے نهٔ شی. او دغه شان خلق وائی چه د ټولو نه زیات د عالم سره نفرت کونکے د هغه ګاونډیان وی حالانه ممکنه ده چه یو سړے ددهٔ د ګاونډیانو نه هم زیات ددهٔ پرواه نهٔ لری. دا کلام دے د قفال په دے صورت کښے به ایمان د هر څه نه افضل وی او باقی عملونه به برابر وی په غوره والی کښے.

خو په بعضے خاصو صورتونو کښے یا په خاصو سړو کښے یو مقصود نهٔ دے بلکه محض د ترتیب ذکری دپاره دے لکه " ثم كان من الذين امنوا " او قاضی عیاض د جمع دپاره دوه وجے بیان کړے دی یوه خو دغه وجه کومه چه وړاندے ذکر شوه هغوی وائی چه په جواب کښے د

اختلاف په وجه اختلاف د احوال دے سو اونبودو حضور ﷺ هر قوم ته هغه کار چه هغه ډیر روری وو په هغه زمانه کښے په وجه د شروع د زمانهٔ اسلام او خاوند د تحریر یوه وجه دا بیان کړے ده او دویم دا چه ثم په کلام د عرب کښے ترتیب لره مقتضی نهٔ دے او دا قول شاذ دے د اهل عربیت او د اصولو په نزد بیا صاحب تحریر وائی چه صحیح داده چه جهاد لره حضور ﷺ وړاندے کړے دے په دے واسطه چه مراد د حضور ﷺ هغه زمانه ده چه هر کله د جهاد ډیر زیات ضرورت شی او د کافرانو هجوم شی دغه وخت خو جهاد په ټولو باندے فرض کیږی او په جهاد کښے د ټولو مسلمانانو فائده ده او حج خو په بل وخت کښے هم اداء کیدے شی . انتهی ما قال النوی ملخصا :

باب بیان کون الشرک اقبح الذنوب وبیان اعظمها بعده :

باب : شرك د ټولو ګناهونو نه لوے ګناه ده او د هغے نه پس چه کومه ګناه ده د هغے بیان :

(۲۵۷)عن عبد الله قال سالت رسول الله ﷺ ای الذنب اعظم عند الله قال ان تجعل لله ندا وهو خلقک قال قلت له ان ذلک لعظیم قال قلت ثم ای قال ان تقتل ولدک مخافة ان یطعم معک قال قلت ثم ای قال ثم ان تزنی حلیلة جارک : [بخاری : ۴۴۷۷، ۶۰۰۱، ۶۸۱۱، ۶۸۶۱، ۷۵۲۰، ۷۵۳۲. ابو داود : ۲۳۱۰. ترمذی : ۳۱۸۲. نسائی : ۴۰۲۴]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعود نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه کومه ګناه د الله په نزد باندے لوے ده حضور ﷺ او فرمائیل دا چه ته د الله پاك سره خوك شریك جوړ کړے حالانکه ته الله پاك پیدا کړے نے (بیا ته خپل صاحب پیدا کونکی والا لره پریږدے او بل لره مالك جوړوے دا خومره لوے اندهیر دے او مالك به خومره دے سره ناراضه شی) ما اووے چه دا خو لوے ګناه ده اوس د دے نه پس کومه ګناه ده ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه ته خپل اولاد (هلك یا جینی) اووژنے د دے یرے نه چه تاسو سره به وډوډی اوخوری بیا ما اووے چه کوم ګناه لوے ده د خدائے په نزد هغه اوفرمائیل چه ته زنا اوکړے د خپل ګاونډی د ښځے سره

فائده : یعنی ته غریب نے او تاته د خپل خان او د بی بی د خوراك تکلیف وی نو دا خیال

اوکړے چه په اولاد به د کوم ځائے نه خورم او هغه اوونی نو دا لوے گناه ده کوم چه د شرک نه
ورستو ده خو دا د نورو تولو گناهونو نه وړاندے ده د څه د پاره چه دا گناه څه ده ؟ چه مجموعه ده
د گناهونو اول خو د ناحق خون کول دویم د الله تعالی په نسبت بد اعتقاده کیدل هغه چه چاله
پیدا کوی هغه ته رزق هم ورکوی دریم حرص خوړلو والا خلورم بخیل پنځم بے رحمی شپږم
کمینه پن او بے همتی الله پاك دے مونږه دداسے خیالونو نه بچ کړی (آمین) د هغه د بی بی سره
هر چند زنا مطلقا د هرے ښځے سره چه وی لوے گناه ده خو د گاونډی د ښځے سره خو نوره هم
لوے گناه ده ولے چه گاونډی دا توقع لری چه ددهٔ گاونډی به ددهٔ مدد کوی۔ د ضرورت په وخت
کښے به ددهٔ د بال بچ حفاظت کوی بیا په داسے موقع کښے د هغه بی بی سره زنا کول خومره لویه
بے حیائی او خیانت دے الله پاك دے ترینه مونږه تول بچ اوساتی۔ (آمین)

(۲۵۸) عَنْ عَبْدِ اللّٰه قَالَ رَجلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اىّ الذّنْبِ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ قَالَ ان تدعوا للّٰه نِدًّا وهو خلقك قَالَ ثُمّ اىّ قَالَ انْ تقْتل ولدك مخافَة ان يّطعم معك قَالَ ثُمّ اىّ قَالَ ان تزْنِى حلِيْلة جارك فَانزل اللّٰهُ تصْدِيْقها والّذين لا يدْعُون مع اللّٰه اِلٰهًا اٰخر ولا يقْتلُون النّفس الّتِى حرّم اللّٰهُ اِلّا بالْحقّ ولا يزْنُون ومن يّفعلْ ذالك يلْق اثاما: [۲۵: الفرقان : ۶۸] [راجع : ۲۵۷]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعودؓ نه روایت دے چه یو سړی اووے یا رسول الله ﷺ د الله په نزد
باندے کومه گناه لویه ده ؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائیل دا چه ته شریك کړے چاله د الله سره
حالانکه ته الله پیدا کړے یے هغه اووے بیا کومه گناه لویه ده هغه اوفرمائیل دا چه ته قتل کړے
خپل اولاد لره ددے یرے نه چه هغه به خوراك کوی ستا سره . هغه اووے بیا څه دی؟ حضرت
اوفرمائیل دا چه ته زنا اوکړے د خپل گاونډی د ښځے سره بیا الله تعالی په قرآن مجید کښے ددے
موافق راولیږل " والذین لا یدعون مع الله الها آخر " تر د آخره پورے یعنی د الله تعالی خاص
بندگان هغه دی چه هغه اواز نهٔ کوی د الله پاك سره چا بل خدائے ته او نهٔ قتلوی هغه نفس لره
چه د هغے قتلول الله پاك حرام کړے دی سوا د څه حق د بدلے نه او زنا نهٔ کوی او څوك چه دا کار
کوی هغه به د هغے سزاء اومومی

باب الکبائر واکبرها :

باب : په بیان د هغه گناهونو کښې کوم چه کبیره دی بیا چه په دے کښې کوم لوے لوے گناهونه دی د هغے بیان :

(۲۵۹) عن ابی بکرة عن ابیه قال کنا عند رسول الله ﷺ فقال الا انبئکم باکبر الکبائر ثلاثا الاشراک بالله وعقوق الوالدین وشهادة الزور او قول الزور وکان رسول الله ﷺ متکئا فجلس فما زال یکررها حتی قلنا لیته سکت :[بخاری : ۲۶۵۴، ۵۹۷۶، ۶۲۷۳، ۶۲۷۴، ۶۹۱۹، ۱۹۰۱، ۲۳۰۱، ۳۰۱۹]

ترجمه : د ابو بکره نه روایت دے چه مونږه د رسول الله ﷺ سره وو هغه اوفرمائیل ولے زهٔ اونهٔ ښایم تاسو ته کبیره یعنی لوے گناهونه دریے ځله هغه اوفرمائیل شرك کول د الله سره (دا خو ظاهره ده چه د ټولونه کبیره گناه ده) دویم نافرمانی کول د مور او پلار دریم د دروغو گواهی کول یا دروغ ونیل او رسول الله ﷺ ډډه وهلے ناست وو او بار بار نے دا فرمائیلو (ددے دپاره چه خلق ښهٔ خبر شی او ددے کارونو نه راواوړی .) مونږه په خپل زړهٔ کښې اوویے چه کاش دے چپ شولے (ددے دپاره چه دهٔ ته زیات رنج اونهٔ شی د هغه کبیره گناهونو د خیال کولو چه خلق هغے له څه کوی)

فائده : دَ کبیره گناهونو مفصل بیان :- امام نووی فرمائی چه علماؤ اختلاف کړے دے د کبیره گناه په تعریف کښې د ابن عباس نه روایت دے د کوم خیز نه چه الله تعالی منع فرمائیلے ده د هغے کول کبیره گناه ده. او دا اختیار کړے دے ابو اسحاق او قاضی عیاض دا مذهب د محققینو لیکلے دے. او دلیل د هغه دادے چه هر یو مخالفت دَ الله جل شانه دَ طرف نظر کولو سره کبیره دے او جمهور سلف او خلف دے نه تلے دی چه گناه په دوه قسمه ده یو صغیره او بل کبیره او دا هم د ابن عباس نه نقل دی او د کتاب او د سنتو او سلفو او خلفو د اقوالو نه په دے باندے ډیر دلائل دی امام غزالی په بسیط کښې لیکلے دی چه په صغیره او کبیره کښې چه کوم فرق دے ددے انکار کول دَ فقهے نه لرے دی ولے چه د شرعے د مضامینو نه دا امر ثابت دے. او

نورو خلقو هم داسے ونيلے دی او ہے شکه د الله جل شانه مخالفت خواه هر څومره که وړوکے وي ډير بد دے په نسبت د الله جل شانه د جلال او بزرګی خو بعضے مخالفت د بعضے نه ډير کړے دے او ددے وجے نه بعضے ګناهونه داسے دی چه هغه معاف کيږی مونځ او روژے . حج او عمرے او اودس وغيره عبادتونه لکه په احاديث مبارکه کښے وارد دی او بعضے داسے دی چه هغه نۀ معاف کيږی بيا دَ اول قسم ګناهونه صغائر دی اود دويم قسم ګناهونه کبائر دی.

اوس هر کله چه دا ثابته شوه چه ګناهونه په دوه قسمه باندے دی يو صغائر او بل کبائر نو علماؤ ددے په ضبط کښے لوے اختلاف کړے دے د ابن عباس ؓ نه روايت دے چه کبيره هغه ګناه ده چه په هغے باندے الله پاك جهنم يا غضب يا لعنت يا عذاب يا بل لفظ ددے مانند فرمائيلے دے او دَ حسن بصری نه هم دغه شان منقول دی. او بعضو ونيلے دی کبيره هغه ګناه ده چه په هغے باندے الله پاك په آخرت کښے دَ جهنم وعده کړے ده يا په دنيا کښے دَ څه سزاء (يعنی حدٔ) امام غزالی ؒ په بسيط کښے ونيلے دی چه غوره تعريف دادے چه کومه ګناه انسان کوی هغے لره سپك اوګنړی او دَ هغے نه نۀ يريږی او نۀ شرمنده کيږی هغه کبيره ده. او په کوم ګناه سره چه دۀ تـه خفګان راځی او ستومانه کيږی او په راتلونکے ژوند نے دَ بچ کيدو خيال وی هغه کبيره نۀ ده . ابن الصلاح وائی کبيره وائی لويو ګناهونو ته او ددے څو نشانی دی يوه داچه په هغے کښے حد وی (لکه زنا يا غلا يا تهمت يا شراب خوری يا راهزنی) لکه په لاره باندے خلق لوټل. دويمه داچه په هغے باندے د جهنم د عذاب وعده شوے وی. دريمه داچه ددے کونکی والا ته فاسق ونيلے شوے وی. څلورمه داچه په هغے بادے لعنت وی. لکه لعنت کړے دے الله تعالیٰ په هغه چا باندے چه هغه د زمکے نشانی ورانوی. امام ابو محمد بن عبد السلام ونيلے دی هر کله چه نۀ صغيره او کبيره لره اوپيژنے پکار دی چه تۀ د هغه ګناه په بد والی کښے غور اوکړے که چرے ددۀ بدوالے دَ هغه ګناه د بدوالی چه هغے ته په حديث کښے کبيره ونيلے شوے دی برابر وی يا زيات وی نو هغه کبيره ده ګنی نو هغه صغيره ده نو چاچه خداوند کريم ته بد ونيلے دی يانے د هغه رسول تـه بد اووے يا نے تـوهين سپکوالے اوکړو د چا پيغمبر يانے دروغجن اوګنړو چا پيغمبر لره يائے په کعبه کښے پليتی اولګوله يانے قرآن راواخستو او په ګنده ځانے کښے نے اوغرځوو نو دۀ ډيره لويه

یعنی کبیره ګناه نے او کره .

حالانکه شرعے دے افعالو ته کبیره نۀ دی ویلے په دے شان باندے چا که یوه پاک دامنه ښځه اونیوله د زنا کولو دپاره یا څوک مسلمان نے اونیولو د قتلولو دپاره نو په دے کښے شك نشته دے چه دۀ دا بدی د یتیم د مال خوړلو نه زیاته شوه او هغه کبیره ده نو پس دا هم کبیره شوه په دے شان که چرے کافرانو ته د مسلمانانو بال بچ او ښځے اوښانی او هغه په دے باندے پوهه وی چه کافران به دوی لره تنګوی. او ښځو لره به بے عزته کوی نو دۀ بد والے په میدان جنګ کښے د تختیدو نه هم زیات دے نو پس دا هم ګناه کبیره شوه دغه شان که په یو سړی پوړے داسے دروغ اونیلے شی چه د هغے په وجه سره دروغ ویونکے پوهه وی په دے باندے چه زما په دے دروغو ونیلو سره به هغه اوژلے شی نو دا یوه ګناه کبیره شوه البته که چرے ددغه درغو په وجه سره یوه کجوره د هغه لاره شی نو هغه کبیره نۀ ده او شرعے ددے تصریح کړے ده چه د دروغو ګواهی او د یتیم مال خوړل کبیره ګناهونه دی.

بیا که چرے ددے دواړو کارونو نه لوبے نقصان وی نو ظاهره خبره ده چه هغه کبیره دی. او کوم نقصان چه ډیر لږ وی خو بیا هم کبیره وی ځکه چه ددے ګناهونو شهرت اوشی او خلق ددے نه قلاړ پاتے شی لکه د شرابو یوه قطره څکل کبیره ده اګر کۀ ددے څه فساد نۀ وی دغه شان بناحقه فیصله کول ګناه کبیره ده ولے چه ددروغو ګواهی کول د ناحقے فیصلے کولو سبب دے بیا چه هر کله د دروغو ګواهی کول کبیره ګناه ده نو فیصله او په ناحقه باندے حکم کول به ضرور کبیره ګناه وی. او بعضے علماؤ دا تعریف کړے دے چه کبیره ګناه هغه ده چه د هغے سره څه وعید یا د یا لعنت ذکر شوے وی بیا چه کوم ګناه په بدوالی کښے دداسے ګناه برابر وی نو هغه هم کبیره وی امام ابو الحسن واحدی وائی صحیح داده چه د تعریف څه حد نشته دے بلکه شرعے بعضو ګناهونو ته کبیره او بعضو ته صغیره ونیلے دی او د بعضے ګناهونو ذکر شرعیت نۀ دے کړے په هغے کښے کبیره هم دی او صغیره هم . او د نۀ بیانولو حکمت نے دادے چه سړے ددے تولو ګناهونو نه ددے یرے نه چه حرته کبیره نۀ وی بچ شی. او دا دے دی لکه چه شرعے شب قدر او ساعت جمعے لره پټ کړے دے علماء وائی چه صغیره ګناه په بیا بیا کولو سره کبیره کیږی

او دَ حضرت عمرؓ او ابن عباسؓ نه منقول دی چه دَ توبے او استغفار سره یوه گناه نه شی پاتے کیدے او دَ بار بار کولو سره یو گناه صغیره نهٔ ده۔ ددے مطلب دادے چه کبیره گناه په توبه او استغفار سره معاف کیږی او صغیره په بیا بیا کولو سره کبیره کیږی۔ ابن عبد السلام وئیلے دی چه دَ اصرار حد دادے چه دومره واره دغه گناه اوکړی چه ددے نه دَ ددهٔ بے پرواهی معلومه شی، په دے شان باندے چه هر کله خو صغیره گناهونه ټول یو ځائے کړے او دَ کبیره بدوالی ته اورسی۔ ابن الصلاح وائی چه اصرار دادے چه گناه کوی او دَ هغے نه دَ قلاریدو اراده نهٔ لری بلکه دَ بیا کولو اراده کوی یا همیشه هغے لره کوی۔ مترجم وائی چه دَ اصرار دا تعریف صحیح دے گنی بار بار کول اصرار نهٔ دے کهٔ چرے بار بار توبه یا خپیمانتیا وی په یو حدیث کښے دی چا چه استغفار اوکړو هغه اصرار نهٔ دے کړے اگر کهٔ په ورځ کښے اویا ځله هغه گناه اوکړی په حدیث کښے دَ عقوق لفظ دے چه دَ هغے معنیٰ ده پریکول نه منل او عاق هغه چاته وائی چه دَ خپل پلار اطاعت نهٔ کوی۔

امام نووی وائی کوم عقوق چه په شرعه کښے حرام دی دَ هغے تعریف کمو خلقو کړے دے۔ شیخ امام عبد الله وائی ما په عقوق والدین او دَ هغو په حقوقو کښے څه قاعده نهٔ ده مونډلے ددے دپاره چه په اتفاق دَ علماؤ په هر یو امر او نواهی کښے دَ والدینو اطاعت ضروری او واجب نهٔ دے البته جهاد بغیر دَ مور پلار دَ اجازت نه درست نهٔ دے ولے چه جهاد په مور او پلار باندے ډیر گران تیریږی او دَ هغوی سره دَ خپل بچی دَ زخمی کیدو او دَ قتلیدو یره وی او ددے نه هوی ته ډیر خفگان وی۔ په دے باندے هر یو سفر قیاس کول پکار دی چه په هغے کښے دَ تلو چه دَ څه بلے صدمے دَ رسیدو یره وی۔ ابن الصلاح وائی کوم عقوق چه حرام دی هغه دادی چه څه کار داسے اوکړی چه دَ هغے نه مور پلار ته تکلف اورسی او تکلیف هم سخت په دے شرط باندے چه هغه کار په دے باندے دَ شرعے دَ طرف نه واجب او فرض نهٔ وی او بعضو وئیلے دی چه دَ مور او پلار اطاعت په هر یو امر کښے واجب دے په دے شرط باندے چه هغه امر گناه نهٔ وی او دَ هغوی خلاف کول عقوق دے۔ او په مشتبه کارونو کښے هم دَ هغوی اطاعت بعضے علماؤ واجب کړے دے۔ او زمونږه علماؤ چه کوم طلب دَ علم یا دَ تجارت دپاره سفر جائز کړے دے بغیر دَ مور او پلار

د اجازت نه هغه ز مونږ د دے کلام خلاف نهٔ دے کوم چه مونږ بیان کړو.

مترجم وائی چه د والدینو اطاعت په شان د فرضو او فرائضو دے . مگر د الله پاک اطاعت د هغوی په اطاعت باندے مقدم دے نو د هغوی په وینا باندے به د الله تعالی فرض نهٔ پریږدی. او مباح او مسنون او مستحب به د هغوی په وینا سره پریږدی. ولے چه د فرضو کول مقدم دی او جهاد ته تلل فرض عین نهٔ دی د دے وجے نه بغیر د اجازت د مور او پلار نه تلل حرام دی. او د علم طلب فرض عین دے دغه شان کسب د معیشت په واسطه د اهل وعیال د پرورش نو په دے کښے اجازت د هغوی ضروری نهٔ دے.

او خومره چه کیدے شی چه د هغوی په خوشالی سره علم حاصل کړے او د وړی اوګتے نو غوره ده. امام نووی فرمائیلی دی چه هر چند د مور او پلار نافرمانی او د دروغو ګواهی دواړه کبیره ګناهونه دی خو بیا هم هغه د شرک برابر کیدے نهٔ شی په دے صورت کښے تاویل کولے شی چه مراد هغه دروغجن ګواه دے چه هغه کافر وی یا مراد هغه سړے دے چه هغه دے کار ته درست وائی او کوی ئے . یا د من لفظ محذوف دے یعنی دا څیزونه د کبیره ګناهونو نه دی او دا دریم تاویل ټهیک دے د دے دپاره د دروغو د ګواهی د بیانولو نه دا مقصود دے چه خلق د دے نه زاواوړی او د کفر بدوالے خو هر سړی ته معلوم وو بیا د حدیثو د اطلاق نه دا معلومیږی چه د دروغو هر قسم ګواهی کبیره ګناه ده خواه کهٔ د لوے حق دپاره وی یا د وړوکی حق دپاره وی . انتهی

عن انس عن النبی ﷺ فی الکبائر قال الشرک بالله وعقوق الوالدین وقتل النفس وقول الزور :

ترجمه : د حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د کبیره ګناهونو په باب کښے هغه شرک کول دی د الله سره او نافرمانی کول دی د مور او پلار او خون کول (یعنی قتل کول په ناحقه سره) او دروغ ونیل.

(۲۶۰) عَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ فِی الْکَبَائِرِ قَالَ : اَلشِّرْکُ بِاللّٰهِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَیْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَقَوْلُ الزُّوْرِ : [بخاری : ۲۶۵۳، ۵۹۷۷، ۶۸۷۱]

ترجمه : د انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل د کبیره ګناهونو متعلق " چه هغه د شرک کول دی د الله پاک سره او نافرمانی کول دی د مور او پلار او خون کول دی په ناحقه باندے

او دروغ ونیل دی

(۲۶۱) عَنْ انس ابن مالک قال ذکر رسولُ اللہ ﷺ الْکبائر او سُئل عنہ الْکبائر فقال الشّرک باللہ وقتل النّفس وعقوق الْوالدین وقال الا انبئکم باکبر الْکبائر قال قول الزُّور او شہادۃ الزُّور قال شُعبۃ واکبرُ ظنّیْ انہ قال شہادۃُ الزُّور :[راجع : ۲۶۰]

ترجمہ : دَ انس بن مالکؓ نہ روایت دے چہ رسول اللہ ﷺ فرمائیلی دی د کبیرہ گناھونو یا د: ھغہ نہ چا تپوس اوکړو د کبیرہ گناھونو حضور ﷺ اوفرمائیل شرک کول دَ اللہ سرہ او ناحق قتل کول او نافرمانی دَ مور اوپلار ھغہؓ اوفرمائیل زۂ تاسو تہ اوبنایم پہ ټولو کبائرو کښې کبیرہ ھغہ دروغ ونیل دی یا دَ دروغو گواھی ورکول دی شعبہؓ وائی چہ زما غالب گمان دادے چہ ددروغو گواھی لرہ ئے فرمائیلی دی .

فائدہ : د امام نووی نہ چہ کومہ فائدہ مخکښې نقل شوہ ھغہ ددے مقام سرہ متعلق دہ او ددے نہ معلومیږی چہ ھغہ د دروغو گواھی لرہ د شرک نہ ولې زیاتہ کړہ او وجہ ددے دادہ چہ پہ دے محل باندے د دروغو د گواھی نہ یرول مقصود وو. ولې چہ د خلقو پہ دغہ گناہ کښې پریوتو یرہ وہ،اګر چہ ددروغو گواھی یا دروغ ونیل د شرک برابر نۂ دی ولې چہ شرک د ټولو نہ لوے گناہ دہ او یو راز داھم دے چہ شرک پہ حقیقت کښې دَدروغو یو قسم دے یا دَ دروغو دَ گواھی ولې چہ شرک پہ اللہ پاک باندے ددروغو گواھی دہ یا دروغ دی لکہ چہ څنگہ ئے دروغ دی پہ بندگانو بادے دغہ شان شرک دروغ دی پہ اللہ باندے. پہ اللہ پاک باندے چہ چا شرک کول روا اوگنړل یا ئے دَ دروغو گواھی ورکړہ ھغہ بہ پہ شرک کولو کښې ھم باک نۂ وکوی او اکثر داسے معلومہ شوے دہ چہ دَدروغو گواھی ھغہ خلق ورکوی چہ دَ ھغوی پہ زړونو کښې دَ اللہ عظمت مطلق نۂ وی خو د ھغہ نوم اخلی معاذاللہ دروغ وائی. او پہ دروغہ باندے قسم کوی د دوو پیسو پہ طمع کښې خپل ایمان خوری پس داسے سړے پہ شرک کولو کښې یا دَ شرک پہ خبرو کښې کلہ حصاریږی کۂ چرے ھغہ لہ څہ لګہ غوندے طمع ھم ورکړے شی.

(۲۶۲) عَنْ ابی ھُریرۃ انہٗ رسول اللہ ﷺ قالَ اجْتنِبوا السّبع الْمُوبقات قِیل یَارَسُولَ اللہ ﷺ وَما

عن قال الشرک باللّٰه والسحر وقتل النفس التی حرم اللّٰه الا بالحق واکل مال الیتیم واکل الربو والتولی یوم الزحف وقذف المحصنت الغافلات المؤمنت : [بخاری : ۲۷۶۷، ۵۷۶۴، ۶۸۵۷، ابوداود : ۲۸۷۴، نسائی : ۳۶۷۳]

ترجمه : دابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللّٰه ﷺ فرمائیلی دی دَ اووهٔ گناهونو نه ځان بچ ساتی چه هغه ایمان لره په هلاکت کښے غورځوی اصحابو کرامو اونیلے یا رسول اللّٰه ﷺ هغه کوم گناهونه دی حضور ﷺ اوفرمائیل دَ اللّٰه سره شریك جوړول او جادو او هغه نفس لره قتلول چه دَ هغے وژل اللّٰه پاك حرام کړے دی لیکن په حق باندے وژل درست دی او خوړل دَ یتیم مال لره او سود خوړل او دَ جنگ په ورځ باندے دَ کافرانو دَ مخے نه تختیدل او دَ خاوندوالا ایماندارے ښځو باندے تهمت لګول چه هغه دَ بدکارئ نه هدو خبر نهٔ وی .

فائده : امام نوویؒ وائی چه دا دلیل دے زمونږه ددے مذهب کوم چه صحیح او مشهور دے چه جادو حرام دے یعنی دَ جادو کول او ایزده کول او بل ته ښودل تمام حرام دی. او زمونږه بعضے علماؤ وئیلے دی چه جادو ایزده کول حرام نهٔ دی بلکه جائز دی ددے دپاره چه دَ جادو شناخت اوشی او دَ جادو دَ ختمولو دپاره او جادوګرو لره دَ اولیاء اللّٰه نه دَ تمیز دپاره او دَ هغه خلقو په نزد باندے حدیث محمول دے دَ جادو په چلولو باندے یعنی په هغوی باندے تهمت کول دَ زنا.

امام نوویؒ وائی چه په دے روایت کښے اووهٔ گناهونه ذکر دی او په یو روایت کښے درے او په یو روایت کښے خلور ددے دپاره چه دا لوے سخت گناهونه دی. او اکثر واقع کیږی. خاص کر دَ جاهلیت په زمانه کښے دا گناهونه ډیر واقع کدل او ددے نه پس په حدیث کښے یو بله گناه مذکوره ده. خپل مور پلار ته کنځل کول او په حدیث کښے چغل خوری او د متیازو نه پاکی نهٔ کول ذکر دی او د مسلم نه سوا په نورو کتابونو کښے ددروغو قسم خوړل او د بیت اللّٰه حرمت ماتول هم راغلی دی. او علماؤ وئیلے دی چه کبیره گناه په دے کښے منحصره نهٔ ده بلکه نور ډیر کبیره گناهونه دی او دَ ابن عباسؓ نه نقل دی دَ هغه نه چا تپوس اوکړو چه کبیره گناهونه اووهٔ دی هغه اووے چه دَ اووهٔ نه تر دَ اویا پورے دی بلکه دَ اووهٔ سوو پورے او پوته دَ کبیره تفصیل تیر شو.

(۲۶۳)عن عبد الله ابن عمرو بن العاص ان رسول الله ﷺ قال من الکبائر شتم الرجل والدیه قالوا یا رسول الله ﷺ وهل یشتم الرجل والدیه قال نعم یسب الرجل ابا الرجل فیسب اباه ویسب امه فیسب امه :[بخاری : ۵۹۷۳، ابوداود : ۵۱۴۱، ترمذی ۱۹۰۲]

ترجمه : د عبد الله ابن عمرو بن العاص نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د کبیره گناهونو نه خپل مور او پلار ته کنځل کول دی خلقو اووے یا رسول الله ولے خلقه مور پلار ته کنځل کوی حضور ﷺ ورته اوفرمائیل او کوی خوك کنځل کوی د بل پلار ته بیا هغه کنځل کوی ددهٔ پلار ته او دے کنځل کوی د هغه مور ته او هغه کنځل کوی ددهٔ مور ته .

فائده : نو چاچه وړاندے کنځل اوکړل د غه سبب شو خپل مور پلار ته د کنځلو کولو نو داسے شوه چه دهٔ په خپله باندے خپل مور پلار ته کنځل اوکړل د انسان عزت خپله ددهٔ په خپل لاس کښے دے چاته کنځل کول بیا د هغه سره خوړل خومره لوے حماقت دے. نووی وائی چه ددے حدیث نه دا معلومیږی چه کوم سړے سبب وی دیاره د څه کار نو هغه کار دهٔ طرف ته منسوب کیدے شی. او دبد کار چه کومه ذریعه وی هغه هم بده ده نو شیره د انگور خرڅول د هغه سړی په لاس باندے خوك چه د هغے نه شراب جوړوی یا هتیار خرڅول د هغه سړی په لاس باندے چه هغه ډاکه ماری کوی ناجائز دی.

باب تحریم الکبر وبیانه :

باب : کبر (یعنی دَ غرور او دَ خود پسندی) دَ حرمت بیان :

(۲۶۵)عن عبد الله ابن مسعودؓ عن النبی ﷺ قال لا یدخل الجنة من کان فی قلبه مثقال ذرة من کبر فقال رجل ان الرجل یحب ان یکون ثوبه حسنا ونعله حسنة قال ان الله جمیل یحب الجمال الکبر بطر الحق وغمط الناس :[ترمذی : ۱۹۹۹]

ترجمه : دَ عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی جنت ته به لاړ نهٔ شی چه دَ چا په زړهٔ کښے دَ رتی برابر غرور او لوئی وی. یو سړی اووے هر سړے غواړی چه د هغه

لباس ښکلے وی او د هغه پیزار د نورو نه ښهٔ وی (نو ولے دا هم غرور او لوئی ده) حضور ﷺ اوفرمائیل الله تعالی جمیل دے او خوښوی جمال لره غرور او لوئی داده چه انسان حق لره نا حق کړی (یعنی د خپلے خبرے دپاره یا نفسانیت سره بوه واجبی خبره چه کومه صحیح وی هغے لره رد کړی. او نهٔ ئے منی) او خلقو لره همیشه دپاره کمزورے گنړی.

فائده : یعنی الله تعالی د تولو نه زیات پاکیزه او خوبصورت دے نو هغه خوښوی خوبصورتی او پاکیزگی او په صفائی کښے ښکلے کهٔ چرے ښکلے پیزار چه څومره قدرے حلال دی. هغه اغوستل او زینت کول او خوشبونی لگول دا امور تول د شرعے په رو سره یعنی د شریعت دَ طرفه حلال دی. بلکه غوره دی او دا خیزونه په کبر او غرور کښے داخل نهٔ دی کهٔ چرے دیو سړی د جامو شوق وی هغه لره د نورو نه غوره کپړے اغوستل پکار دی. یا پیزار په خپو کول نو دا بد نهٔ دی بلکه بهتر دی ولے چه صفائی د بدن او د جامے او پاکیزگی دا صفتونه د رب ذولجلال دی او انسانانو ته په طبع سره دا خیزونه مرغوب دی پس ددے حاصلول یا ددے شوق کول په هیڅ شان سره بد کیدے نهٔ شی او ددے شوق کبر او غرور کیدے نهٔ شی. بلکه د کبر هغه معنے دی کومے چه وړاندے بیان شولے امام نووی فرمائی دا چه کوم حضور ﷺ فرمائیلے دی الله تعالی جمیل دے او خوښوی جمال لره. نو علماؤ ددے په معنو کښے دا اختلاف کړے دے بعضو وئیلے دی چه ددے دا معانے دی چه د الله تعالی هر یو صفت جمیل دے او هر یو کار ئے جمیل دے یعنی ښکلے او بهتر دے او د هغه تمام نومونه بهتر دی او تمام صفتونه دَ جمال او دَ کمال په هغه کښے موجود دی ابو القاسم قشیری وائی د جمیل معنی جلیل یعنی بزرگ دے.

او خطابی نقل کړے دی چه د جمیل معنی نورانی او روشن دے یعنی هغه مالك دے دَ رنړا او تازگی. او بعضو وئیلے دی چه د هغه افعال جمیل دی چه هغه نظر کوی په خپلو بندگانو باندے د رحمت سره او تکلیف ورکوی په لږو آسانو کارونو کښے او ثواب ډیر ورکوی او جمیل داسے اسم دے چه په صحیح احادیثو کښے د خدائے پاك دپاره راغلے دی دا حدیث خبر واحد دے او د اسمائے حسنی په حدیث کښے هم دا اسم موجود دے لیکن دَ هغے په سندونو کښے

گفتگو ده او مختار دادی چه الله تعالی نه جمل اونیلې شی او بعضې علماؤ ددې نه منع
فرمائیلې ده امام الحرمین وائی چه د الله تعالی چه کوم صفات او اسماء په شریعت کښې وارد
شوې دی مونږه د هغې اطلاق کوو او د کومو نه چه شریعت منع کړې ده د هغې نه ځان ساتو او
کوم صفتونه او اسمونه چه په شرعه کښې نه دی راغلی د هغې جواز یا عدم جواز څه حکم مونږ
نه کوو ځکه چه د شریعت په احکام نص سره معلوم شوې دی او که چرې مونږه د جواز یا د عدم
جواز حکم اوکړو نو مونږه به حکم اوکړو بغیر د حکم شرعی نه بیا د اطلاق د جائز کیدو دپاره دا
ضروری نه ده چه هغه دلیل یقینی وی (یعنی ایت یا حدیث متواتر) بلکه هغه دلیل پوره دې
کوم چه موجب دې عمل لره اگر چه علم لره موجب نه وی . (یعنی خبر واحد کافی دې) البته
قیاس لره په دې کښې دخل نه شی کیدې تمام شو کلام د امام الحرمین . او د هغه مرتبه اورتبه
په هریو علم کښې خصوصا په دې فن کښې یعنی په علم کلام کښې خو انبیاء درجه ده او دا چه
کوم هغوی ونیلې دی چه مونږه د جواز یا د عدم جواز څه حکم نه کوو د کومې پورې چه دلیل
شرعی نه وی. نو دا ددۀ په دې مذهب باندې ده چه مختار دې . اوصحیح دې د محققینو په نزد
چه په اصل اشیاء کښې دا دې چه څه حکم اونه کړې شی د کومې پورې چه شرعه وارد نه وی نه د
حلال والی نه د حرام والی نه د اباحت ولې چه د خاوندانو د سنتو په نزد باندې حاکم شرعه ده او
امونږه بعضې عالمانو ونیلې دی اصل په اشیاء کښې اباحت دې او بعضو ونیلې دی چه اصل
حرمت دې . او بعضې وائی چه اصل توقف دې او مختار هغه دې کوم چه وړاندې ذکر شو او اهل
سنتو اختلاف کړې دې چه په الله تعالی باندې ددې صفاتو او اسماؤ کوم چه په شرعه کښې وارد
شوې نه دی اطلاق اوکړې شی یا اونه کړې شی په شرط ددې چه هغه نومونه او صفات د جمال
او کمال او د مدح وی نو بعضې ددې اطلاق جائز کړې دې او بعضو منع کړې دې د کومې پورې
چه څه دلیل قطعی لکه ایت یا حدیث متواتر یا اجماع نه وی .

او د خبر واحد نه چه کوم اسم یا صفت ثابت شی د هغې په اطلاق کښې اختلاف دې
قاضی عیاض وائی چه صحیح داده چه ددې اطلاق جائز دې . انتهی ما قال النووی : او په
السراج الوهاج کښې دی چه د الله تعالی په اسماء او صفاتو کښې وقوف صحیح دې یعنی کوم

صفات او اسماء چه په شرعه کښې وارد دی د هغې اطلاق کول پکار دی او د خپل طرف نه نوې نوم او صفت وړول غوره نهٔ دی اګر که د هغې معنی ښکلې وی د امام بیهقی کتاب الاسماء والصفات په دې باب کښې ډیر عمده او جامع کتاب دې فرمائیلې دی چه خپل ځان ته عالی او لوچت او معزز خیال کول یعنی نفس پروری کول دا صفت دومره بد دې چه انسان لره ډیر زیات ذلیله کوی او خلق د هغه نه خفه کیږی او دهٔ لره دشمن ګڼړی. ددې که بخت صفت په وجه سره صرف دا عذاب نهٔ دې چه د جنت نه به محروم شی بلکه په دنیا کښې به ورته هم لوې تکلیف او مصیبت وی او کوم سړې چه کبر کوی نو نور خلق دهٔ سره په دې کښې فکر کوی او په خه نه خه موقع باندې دهٔ لره ذلیله کوی چه ددهٔ تولې غرورناکې لارې اوخی. په حدیث کښې غمط الناس په طاء مهمله سره مروی دې چه د هغې معنی ده خلقو لره حقیر ګڼړل او د صحیح مسلم په تولو نسخو کښې دا لفظ هم دغه شان دې او ابو داود هم دې لره هم دغه شان نقل کړې دې لیکن ترمذی غمص په صاد مهمله سره نقل کړې دې. او معنی ددغې هم داده.

(۲۶۶) عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لا يَدْخُلُ النَّارَ اَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ اِيْمَانٍ وَلا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ اَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرِيَاءَ : [ابوداود : ۴۰۹۱، ترمذی : ۱۹۹۸، ابن ماجه : ۵۹]

ترجمه : دَ عبد الله ابن مسعودؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی جهنم ته به لاړ نهٔ شی (همیشه دپاره) چه د کوم سړی په زړهٔ کښې دَ اوری د دانې برابر ایمان وی او جنت ته به لاړ نهٔ شی هغه سړې چه د هغه په زړهٔ کښې د اوری د دانې برابر کبر وی

فائده : امام نووی وائی چه ددې په تاویل کښې دَ عالمانو اختلاف دې خطابیؒ ددې نوه وجې بیان کړې دی یوه دا چه مراد هغه سړې دې چه هغه په ایمان راوړو کښې دومره لړ غوندې هم غرور اوکړی او ایمان راونهٔ ړی نو هغه به هیڅ کله جنت ته نهٔ شی تلې هر کله چه په دغه حالت کښې مړ شی دویمه دا چه هر کله خلق جنت ته ځی نو دَ هغوی په زړونو کښې به دَ اوری دَ دانې برابر هم غرور نهٔ وی. ځکه چه خدائې پاک فرمائیلې دی مونږه اویستلو دَ جنتیانو دَ زړونو نه چه کوم رنج او غم وو په هغوی کښې او دا دواړه تاویلونه بعید دی ځکه چه حدیث وارد شوې دې دَ

کبر په ممانعت کښې خلقو لره ددې بدې خبرې نه د بچ کولو دپاره. او ددې دواړو تاویلونو په وجه سره هغه مطلب فوت کیږی نو ظاهر هغه دې کوم چه قاضی عیاض او محققینو اختیار کړې دې یعنې مطلب دادې چه هغه به جنت ته نۀ ځی د کومې پورې چه هغه ته د کبر څه بدله ملاؤ شوې نۀ وی یا که هغه ته بدله ملاؤ شی نو دا بدله ده چه هغه به جنت ته لاړ نۀ شی او بعضو ونیلی دی چه هغه به د پرهیزګارانو سره په اول وار کښې جنت ته نۀ ځی.

(۲۶۷) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قال لا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ :

[راجع : ۲۶۵]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعودؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی جنت ته نۀ ځی تللې هغ سړې چه د هغه په زړۀ کښې د زرې برابر غرور وی.

باب الدليل على ان من مات لا يشرك بالله شيئا دخل الجنة وان مات مشركا دخل النار :

باب : کوم بنده چه د شرك نه پاك وی او مړ شی نو هغه به جنت ته ځی او څوك چه د شرك په حالت کښې مړ شی هغه به جهنم ته ځی.

(۲۶۸) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قال وكيع قال رسولُ اللّٰهِ ﷺ وقال ابن نُمَيْرٍ سمعتُ رسولَ اللّٰهِ ﷺ مَنْ مات يُشْرِكُ باللّٰهِ شيئًا دخل النّار وقُلْتُ انا: ومَنْ مات لايُشْرِكُ باللّٰهِ شيئًا دخل الجنّة : [بخاری : ۱۲۳۸، ۴۴۹۷، ۶۶۸۳]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعودؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی او په یو روایت کښې دی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدې دی چه فرمائیلی ئې وو چه کوم سړې مړ شی او د الله پاك سره ئې څوك شریك جوړ کړې وو هغه به جهنم ته ځی عبد الله ابن مسعودؓ وائی زۀ وائم چه کوم سړې مړ شی او هغه د الله پاك سره شریك نه وی جوړ کړې هغه به جنت ته داخلیږی.

فائده : دغه شان دی د صحیح مسلم په اکثرو نسخو کښې او په صحیح بخاری کښې او قاضی عیاضؒ هم داسې نقل کړې دی او په بعضو نسخو کښې ددې برعکس دې یعنې دروميې.

جملې لره ئې دَ ابن مسعودؓ کلام نقل کړے دے او دویمے لره ئې دَ رسول الله ﷺ نه ـ او حمیدیؒ په کتاب الجمع بین الصحیحین کښې دغه شان نقل کړے دی او ابو عوانه هم په دے شان روایت کړے دے او دا دواړه جملے مرفوعا دحضرت جابرؓ نه ثابتے دی. بیا ابن مسعودؓ چه یوه جمله ئې حضور ﷺ ته نسبت کړه او دویمه ئې خپل طرف ته نو ددے وجه به داوی چه هغوی د حضور ﷺ نه یوه جمله اوریدلے وی او دویمه جمله د قرآن او حدیث نه هغوی په خپله باندے ویستلے وی. مګر په دے کښې دا خرابی ده چه ابن مسعودؓ چه په کوم دویم روایت کښې دواړه جملے دَ حضور ﷺ نه نقل کړے دی نو شاند چه ابن مسعودؓ ته ددے روایت کولو په وخت کښې یوه جمله یاده وی نو ځکه هغوی خپل طرف ته نسبت ورکړو ـ والله اعلم

(۲۶۹)عَنْ جابرٍ قَالَ اَتی النّبِیّ ﷺ رجُلٌ فقال یا رسُول اللّٰه ماالْمُوجبَتانِ فقال مَنْ ماتَ وَلَمْ یُشْرِکْ باللّٰهِ شَیْئًا دَخَلَ الْجنّة ومَنْ ماتَ یُشْرِکُ باللّٰهِ شَیْئًا دَخَلَ النَّار :

ترجمه : دَ جابرؓ نه روایت دے چه یو سړے رسول الله ﷺ ته راغے او عرض ئې اوکړو چه یا رسول الله هغه دوه خبرے کومے دی چه په هغے سره جنت یا جهنم واجبیږی ؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه کوم بنده مړ شو او هغه دَ الله سره شریك نهٔ وو جوړ کړے نو هغه به جنت ته ځی او کوم بنده چه مړ شی او هغه دَ الله پاك سره شریك ګرځولے وی هغه به جهنم ته ځی ـ

فائده : امام نوویؒ فرمائیلی دی چه په دے باندے دَ مسلمانانو اجماع ده لیکن دَ مشرك جهنم ته تلل هغه عماما دی هغه به جهنم ته ځی او همیشه به په هغے کښې وی او یهودی نصرانی بت پرستو دَ هر قسمه کافرانو دغه حکم دے، په دے کښې څه فرق نشته دے یعنی هغه به همیشه همیشه په جهنم کښې وی. دغه شان چه کوم کافر وی په عناد سره یا مخالف وی دَ ملت اسلام نه یا چه کوم اسلام طرف ته نسبت لری یعنی مسلمان ورته وئیلے شی بیا حکم اوشی په هغه باندے د کفر د څه امر په انکار سره او کوم چه مشرك نهٔ وی موحد وی دَ هغه جنت ته تلل هم یقینی دی بیا چه د هغه نه په کبیره ګناه باندے څه اصرار او نهٔ شو نو هغه به په وړومبی دله کښې جنت ته ځی او د چا نه چه په کبیره ګناه باندے اصرار شوے دے هغه دَ خدائے پاك مرضی ده که غواړی معاف به ئې کړی او جنت ته به ئې بوځی او که الله پاك غواړی نو دے

به خو ورځې ددغه ګناه په بدله کښې په عذاب کړی. نو ددې نه پس به ئې بیا په جنت کښې داخل کړی لیکن هغه به همیشه همیشه په جهنم کښې نۀ وی.

(۲۷۰) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ لَقِيَ اللّٰهَ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ لَقِيَهُ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ: قَالَ اَبُوْ اَيُّوْبَ: قَالَ اَبُو الزُّبَيْرِ:

ترجمه: دَ جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه ما دَ رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه فرمائیلې ئې وو کوم بنده چه دَ الله سره ملاویږی او د هغه سره ئې څوك شریك کړے نۀ وی هغه به جنت ته ځی او څوك چه ورسره ملاؤ شی او د هغه سره ئې شریك جوړ کړے وی هغه به جهنم ته ځی.

(۲۷۱) عَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ بِمِثْلِهِ:

ترجمه: په یو بل سند سره مروی دی چه حضرت جابرؓ د نبی کریم ﷺ نه نقل کوی (په تیرو شوو الفاظو سره)

فائده: نوویؒ وائی چه دا حدیث دَ اهل سنتو دَ مذهب دلیل دے چه کبیره ګناه کونکے به همیشه په جهنم کښې نۀ وی پاتے بلکه جهنم ته یا خو به بالکل نۀ ځی او کۀ لاړ شی نو څو ورځې پس به بیا دَ هغه ځائے نه جنت ته راوستے شی او پورته ددې مفصل بیان تیر شوے دے.

انتهی زنا او غلا لره ئې دَ دریو وجهو نه خاص کړه چه دا چه دواړه لوې ګناهونه دی او زنا حق دَ الله دے او غلا حق دَ بندګانو نو معلومه شوه چه کوم سړے موحد وی او هغه په ګناه کښې مبتلا وی کوم چه حقوق العباد وی بیا به هم هغه په جهنم کښې همیشه نۀ پاتے کیږی بلکه کله نه کله به د هغه ځائے نه راووځی او په جنت کښې به داخل شی.

(۲۷۲) عَنْ اَبِيْ ذَرٍّ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ اَنَّهُ قَالَ اَتَانِيْ جِبْرَئِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَبَشَّرَنِيْ اَنَّهُ مَنْ مَاتَ مِنْ اُمَّتِكَ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ قُلْتُ وَاِنْ زَنٰى وَاِنْ سَرَقَ؟ قَالَ وَاِنْ زَنٰى وَاِنْ سَرَقَ:

[بخاری: ۱۲۳۷، ۲۳۴۳]

ترجمه: دَ ابو ذر غفاریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه حضرت جبرئیل علیه السلام ماته راغے او ماته ئې خوشخبری راکړه چه کوم سړے ستا دَ امت نه مړ کیږی او هغه

چالره دَ الله سره شریك نهٔ كړی نو هغه به جنت ته داخلیږی ما اووے اګر چه هغه زنا اوكړی یا غلا اوكړی؟ هغوی اووے اګر چه هغه زنا اوكړی یا غلا اوكړی

(۲۷۳)عن ابی ذرّ قال اتیت النبیّ ﷺ وهو نائم وعلیه ثوب ابیض ثم اتیته فاذا هو نائم اتیته فقد استیقظ فجلست الیه فقال ما من عبد قال لا اله الا الله ثم مات علی ذالک الا دخل الجنة قلت وان زنی وان سرق قال وان زنی وان سرق ثلاثا ثم قال فی الرّابعة علی رغم انف ابی ذرّ وهو یقول وان رغم انف ابی ذرّ : | بخاری : ۵۸۲۷ |

ترجمه : د ابو ذرّ نه روایت دے چه زهٔ د رسول الله ﷺ خواله راغلم او هغه اوده وو او یو سپینه کپړائے اغوستے وه بیا زهٔ راغلم نو هغه اوده وو بیا زهٔ راغلم نو هغه بیدار شوے وو زهٔ دَ هغه سره کیناستم هغه اوفرمائیل څوك چه لا اله الا الله اووانی او بیا مر شی په دغه اعتقاد باندے (یعنی د الله تعالیٰ په توحید باندے) نو هغه به جنت ته ځی ما اووے اګر كهٔ غلا او زنا ئے کړے وی؟ حضور ﷺ او فرمائیل اګر چه زنا او غلا ئے کړے وی دریے ځله ئے داسے اوفرمائیل په څلورم ځل باندے هغه اوفرمائیل اګر چه د ابو ذرّ په پوزه کښے خاوره اولګی۔ بیا راووتو ابو ذرّ او هغه ونیلو اګر چه د ابو ذرّ په پوزه کښے خاوره اولګی۔

فائده : یعنی دَ ابو ذرّ ذلت وی څکه چه دا امر دَ هغه دَ مرضی نه خلاف وو هغه دَ ګناهونو نه ډیر زیات نفرت کولو او ګنهګارو لره ئے دَ الله دَ رحمت نه لرے ګڼل او دا امر دَ هغوی د بار بار تپوسونو نه معلوم شو چه دَ زنا او غلا کولو سره هم هغه جنت ته تلے شی۔ لکه په دے باندے هغه ډیر حیران شو چه د دومره دومره ګناهونو سره به دے جنت ته بوتلے شی، یعنی کوم لفظ چه حضور ﷺ فرمایلے وو هغه ئے ونیلے او روان وو او دا ډیر محبت وو دَ ابوذرّ دَ محمد رسول الله ﷺ سره

باب تحريم قتل الكافر بعد قوله لا اله الا الله :

باب : کافر لره د لا اله الا الله نه پس قتلول حرام دی :

(۲۷۴)عن المقداد بن الاسود اخبره انه قال یا رسول الله ارایت ان لقیت رجلا من الکفار فقاتلنی

فضرب احدی یدیَ بالسّیف فقطعها ثمّ لا ذمنی بشجرة فقال اسلمتُ للّه افاقتُلهٗ یا رسُول اللّه بعد ان قالها . قال رسُولُ اللّه ﷺ لاتقتلهٗ قال فقلتُ یا رسُول اللّه انه قد قطع یدیَ ثمّ قال ذٰلک بعد ان قطعها افاقتُلهٗ قال رسُول اللّه ﷺ لا تقتُلهٗ فانْ قتلتهٗ فانه بمنزلتک قبل ان تقتلهٗ و انّک بمنزلته قبل ان یّقولَ کلمتهٗ الّتی قال :[بخاری : ۴۰۱۹، ۶۸۶۵]

ترجمه : د مقداد بن اسود نه روایت دے هغوی اووے یا رسول الله ﷺ که چرے څه دیو کافر سره انخلم او هغه زما سره جنګ کوی او هغه زما یو لاس په توره سره کټ کړی او بیا زمانه بچ شی او په یوه اونه کښے پناه واخلی او اووائی چه زهٔ تابع شوم د الله یا رسول الله زهٔ قتل کرم داٌ لره ورستو ددے وینا نه رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل مهٔ قتلوه دهٔ لره ما اووے یا رسول الله دهٔ زما لاس کټ کړو او بیا ئے داسے اووے نو زهٔ دے قتل کړم ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل مهٔ قتلوه دهٔ لره (اګر چه تاته ددهٔ نه صدمه اورسیده او زخمی شوے) که چرے تا دهٔ لره قتل کړے وے نو ددهٔ حال به ستا په شان باندے وی دَ قتل نه مخکښے او ستا حال به ددهٔ په شان وو دَ هغه وخته پورے چه کله دهٔ دا کلمه ونیلے نهٔ وی.

فائده : ظاهر د حدیث مفهوم دادے که چرے تهٔ دهٔ لره قتل کړے نو هغه به ستا په مثل باندے شی یعنی هغه به مسلمان شی او تهٔ به ددهٔ په شان شے لکه څنګه چه دے دَ اسلام دَ قبلولو نه وړاندے یعنی کافر وو. په دے کښے دا اشکال دے چه مسلمان جهاد کونکے ددغه ګناه سره نهٔ شی کافر کیدے خصوصا په هغه صورت کښے هر کله چه دهٔ ته احتمال وی چه دا د زړهٔ نه مسلمان شوے نهٔ دے بلکه دَ ځان دَ بچ کولو دپاره بهانه کوی او دهٔ مسلمان لره زخمی کړے هم وی.

امام نوویؒ فرمایلے دی ددے حدیث په مطلب کښے دَ عالمانو اختلاف دے دَ ټولو نه عمده معنی داده کومه چه دَ امام شافعیؒ او ابن قصارؒ نه منقول ده. چه هر کله دهٔ لا اله الا الله اووے او اسلام ئے قبول کړو نو هغه ستا په شان شو یعنی دَ جان دَ حرمت او حفاظت کښے څنګه چه ته وے ددهٔ دَ قتل نه وړاندے او تا چه هر کله دهٔ لره قتل کړو نو تهٔ ددهٔ په شان شوے. یعنی ستا دَ جان

حرمت پاتے نۀ شو. او ستا وینه تو یول حلال شو لکه څنګه چه ددۀ حال وو د اسلام د راوړلو نه مخکښے قاضی عیاض ونیلے دی چه ددے معنی داده چه تۀ د هغه په شان شوے د حق په مخالفت کښے او د ګناه په ارتکاب کښے اګر چه ستا په مخالفت او ګناه او د هغه په مخالفت او ګناه کښے فرق دے د هغه ګناه د کفر پورے رسیدلے وه او ستا ګناه به د فسق پورے رسی. بیا علماؤ اختلاف کړے دے چه که چرے یو مسلمان په جهاد کښے داسے اوکړی یعنی یو کافر د لا اله الا الله د ونیلو نه پس مړ کړی. نو ددۀ څه حکم دے بعضو ونیلے دی چه په دۀ باندے څه نشته دے نۀ قصاص نۀ دیت نۀ کفاره. ولے چه وړاندے به په حدیث کښے راشی چه اسامهؓ دا فعل کړے وو بیا رسول الله ﷺ نۀ هغه قتل کړو او نۀ دیت او نۀ کفاره ئے په هغه باندے واجب کړه.

او د بعضو په نزد باندے کفاره واجب ده لیکن قصاص ساقط دے په وجه د شك والی چه هغه ئے کافر اوګنړو او مړ ئے کړو او دا خیال ئے اوکړو چه هغه د کلمۀ توحید په لوستلو سره مسلمان کیدے نۀ شی په داسے حالت کښے او د دیت په واجب کیدو کښے د امام شافعیؒ نه دوه قولونه دی بیا دا خلق د اسامهؓ د حدیث نه جواب کوی چه کفاره واجب نۀ ده او دیت هم په دے وجه باندے نۀ وی اخستے شوے چه اسامهؓ مفلس وی.

(۲۷۵)عن الزهری بهذا الاسناد اما الاوزاعیّ وابن جریج ففی حدیثهما قال اسلمتُ لله کما قال اللّیث واما معمر ففی حدیثه فلما اهویتُ لاقتله قال لا اله الا الله: [راجع: ۲۷۴]

ترجمه : دویم روایت هم دغه شان دے په هغے کښے داسے دی چه ما اسلام راوړے دے د خدائے دپاره او د معمر په روایت کښے دی چه هر کله زۀ تیار شوم ددۀ د قتل دپاره نو دے واتی چه لا اله الا الله:

(۲۷۶)عن المقداد بن عمرو بن الاسود الکندیّ وکان حلیفا لبنی زُهرة وکان ممّن شهد بدرًا مع رسول الله ﷺ انه قال یا رسول الله ارایت ان لقیتُ رجلا من الکفار ثُمّ ذکر بمثل حدیث اللّیث: [راجع: ۲۷۴]

ترجمه : د مقداد بن عمرو بن اسود کندی نه روایت دے هغه د بنی زهره حلیف وو (یعنی د

هغوی په امان کښې راغلي وو او د هغوی سره ئې وعده کړې وه) او د بدر په جنګ کښې د رسول الله ﷺ سره وو هغوی اووې یا رسول الله ته به ئې څنګه ګڼړې که چرې زۀ او جنګیږم د یو کافر سره او بیا ئې بیان کړو حدیث لره په مثل د حدیث د لیث لکه چه وړاندې تیر شو .

(۲۷۷)عَنْ اُسَامة ابن زید وهٰذا حدیث ابن ابی شیبة قال بعثنا رسول الله ﷺ فی سریة فصبحنا الحُرقات مِنْ جُهینة فَاَدْرَكْتُ رَجلاً فقال لا اله الا الله فطعنتهٗ فوقع فی نفسی من ذالک فذکرته للنبی ﷺ فقال رسول الله ﷺ اقال لا اله الا الله ؟ قال قلت یا رسول الله انما قالها خوفا من السلاح قال افلا شققت عن قلبه حتی تعلم اقالها ام لا فما زال یکررها علی تمنیت انی اسلمت یومئذٍ قال فقال سعد وانا والله لا اقتل مسلما حتی یقتله ذو البطین یعنی اسامة قال قال رجل الم یقل الله وقاتلوهم حتی لا تکون فتنة ویکون الدین کله لله فقال سعد قد قاتلنا حتی لا تکون فتنة وانت واصحابک تریدون ان تقاتلوا حتی تکون فتنة : [بخاری : ۴۲۶۹، ۶۸۷۲، ابوداود : ۲۶۴۳]

ترجمه : دَ اسامه بن زیدؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږه په یوه سریه کښې اولیږلو (سریه واتی دَ لښکر یوې ټکړې ته چه په هغې کښې دَ څلورو سوو سرو پورې وی) مونږ سحر له جنګ اوکو دَ حرقات سره چه دَ جهینه نه وو (حرقات په ضمې دَ حاء او دَ فتحې دَ راء سره یوه قبیله ده) بیا ما یو سړے اومندو چه هغه لا اله الا الله اووے او ما په نیزه سره اوژلو ددے نه پس زما په زړۀ کښې وهم شو (چه د لا اله الا الله دَ ویلو سره دده وژل درست نۀ وو) نو ما رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو حضور ﷺ اوفرمائیل چه هغه لا اله الا الله ونیلې وو او هغه تا اوژلو ما عرض اوکړو یا رسول الله هغه د هتیار د ویرے نه ونیلې وو حضور ﷺ اوفرمائیل ولے تا دَ هغه زړۀ سیرلې او کتلې وو چه تاته معلومه شوه چه دۀ په زړۀ سره دا کلمه نۀ وه ونیلې (مطلب دادے چه تاته دَ کوم ځائې نه معلومه شوه) بیا هغه بار بار دا اوفرمائیل تر دے پورے چه ما دا آرزو اوکړه چه کاش زۀ په دغه ورځ باندې مسلمان شوے وے . (نو دَ اسلام راوړلو نه پس به په داسې ګناه کښې اخته شوے نۀ ووم ولے چه د اسلام په راوړلو سره د کفر وړومبنی ګناهونه معاف کیږی) سعد بن ابی وقاص اووے قسم په خدائې چه زۀ به چا مسلمان لره نۀ وژنم د هغې پورې چه هغه لره ذوالبطین اسامه اونۀ

وزنی (بطین تصغیر دے د بطن او بطن خیتی ته وائی اسامهؓ ته ذولبطین ځکه وائی چه ذ هغه خیټه لویه وه) یو سړی اووے الله تعالی فرمائی چه جنګ کوی د هغوی سره کومے پورے چه فساد پاتے نۀ شی او دین تمام د الله دپاره شی سعدؓ اووے مونږ خو جنګ کوو (ذ کافرانو سره) ددے دپاره چه فساد پاتے نۀ شی او ته او ستا ورور ددے دپاره جنګ کوی چه فساد شی۔

فائده: الله تعالیٰ فرمانیلے دی په سورۀ انفال کښے چه جنګ کوی ذ کفارو سره تر دے پورے چه فساد پاتے نۀ شی یعنی د هغوی زور ختم شی او هغوی په ایمان کښے خلل نۀ شی غورځولے او ټول دین خالص ذ الله دپاره شی۔ ددے سړی مطلب ددے آیت ذ لوستلو نه داوو چه مسلمان هم کۀ چرے فساد کوی د هغو سره جنګ کول جائز دی سعدؓ په دۀ باندے الزام اولګولو چه دا خو نور فساد زیاتول دی په خپلو کښے جنګ کول او ز مونږ جنګونه ذ فساد ذ ختمولو دپاره وی۔

(٢٧٨) عَنْ اُسامة ابْنِ زَيْدِ بْنِ حارِثَةَ يُحدثُ قال بعثنا رسول الله ﷺ الى الْحُرقة مِنْ جُهينة فصبحنا الْقوم فهزمْناهُم قال ولحقْتُ انا و رجُلٌ مِّن الْانْصار رجُلا منْهُم فلمّا غشيْناه قال: لا الٰهَ الا اللّٰهُ قال فكفّ عنْه الْانْصارِىّ وطعنْتهُ برمْحى حتى قتلْتُهُ قال فلمّا قدمْنا بلغ ذالك النّبى ﷺ فقال لى يا اُسامة اقتلْتهُ بعْد ما قال لا اله الا اللّٰهُ قال قلْت يا رسُول الله انّما كان مُتعوّذا قال فقال اقتلْتهُ بعْد ما قال لا اله الّا اللّٰهُ قال فما زال يُكرّرُها علَىّ حتّى تمنّيْتُ انّى لم اكُنْ اسْلمْتُ قبْل ذالك الْيوْم:

[راجع: ٢٧٧]

ترجمه: د اسامه بن زیدؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږه د حرقے په طرف باندے اولیږلو چه هغه یوه قبیله ده ذ جهینه نه بیا مونږه سحر هلته کښے اورسیدو او هغوی له مونږه شکست ورکړو ما او یو انصاری په دوه تنا باندے یو سړے اونیوو هر کله چه هغه مونږه راګیرکړو نو هغه لا اله الا الله ونیل شروع کړل انصاری چه دا واوریدل نو د هغه نه واپس شو او ما هغه لره وهلو تردے پورے چه مړ شو۔ هر کله چه مونږه واپس راغلو نو دا خبره رسول الله ﷺ ته اورسیدله (او په رومبی روایت کښے دی چه اسامه ورته په خپله باندے ذکر اوکړو او شائد چه هغه ته ذ

وراندے هم خبر رسیدلے وو او بیا اسامه ورته هم ذکر اوکړو) په دغه وخت کښے رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اے اسامه تا هغه لره اوژلو د لا اله الا الله نه پس ما اووے یا رسول الله هغه د خپل ځان د بچ کولو دپاره کلمه وئیلے وه حضور ﷺ اوفرمائیل تا هغه اوژلو د لا اله الا الله د وئیلو نه پس بیا حضور ﷺ بار بار دا وینا فرمائیله تر دے پورے چه ما دا آرزو اوکړه چه کاش زهٔ مسلمان شوے نهٔ وے ددے ورځے نه وړاندے (نو ددے قتل کولو گناه به په ما باندے نهٔ وه د مسلمانیدو نه پس -)

(۲۷۹)عَنْ صَفْوانَ ابْنِ مُحْرِزٍ انّه حدّث انّ جُنْدب بْن عبد اللّه الْبجليّ بعث الى عسعس ابن سلام زَمَنَ فِتْنَة اِبْنِ زُبَيْر فقالَ اِجْمَعْ لِيْ نفرًا مِنْ اخْوانِک حتّى اُحدّثهم فبعث رسولا اِلَيْهِم فلمّا اجْتمعُوا جَآء جُنْدُب وَعلَيْه بُرْنُس اَصْفَر فقَالَ تَحدّثوا بِمَا كُنْتم تَحدّثون به حتّى دار الْحدِيْث فلمّا دار الْحَدِيْثُ اِلَيْه حَسَرَ الْبُرْنُسَ عَنْ رَاْسِهٖ فقَال انّى اَتَيْتُكم ولا اُرِيْدُ ان اُخْبِرَكم عَنْ نَبِيّكم انّ رَسُول اللّه ﷺ بعث بَعْثًا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ اِلٰى قَوْمٍ مِنَ الْمُشْرِكِيْن وانّهم الْتقوا فكان رَجُل مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ اذا شآء ان يَّقْصِد اِلٰى رَجُلٍ من الْمُسلِمِيْن قصد له فقتله وَاَنّ رجلا مِنَ الْمُسْلِمِيْن قصد غفلته قال وكُنّا نُحدّثُ انّه اُسامة ابن زيد فلَمّا رَفَعَ اِلَيْه السَّيْف قَال لا اِلٰهَ اِلّا اللّٰهُ فَقَتَلَهٗ فجاء الْبَشِيْر اِلَى النّبى ﷺ فسَالَهٗ فاَخْبَرهٗ حتّى اَخْبرهٗ خبر الرّجُل كَيْف صَنَعَ فدعاهُ فسَئَلَهٗ فقال لِمَ قَتَلْتَهٗ قال يا رَسُول اللّٰهِ اَوْجَعَ فِى الْمُسْلِمِيْنَ وقَتَل فُلَانًا وَفُلَانًا وسمّى لَهٗ نفرًا وانّى حَمَلْتُ عَلَيْهِ فلَمّا رَاَى السَّيْفَ قَال لا اله الّا اللّٰهُ قال رسُول اللّٰه ﷺ اقتَلْتَهٗ قَال نعم قال فكيف تصْنَعُ بلا الٰهَ الّا اللّٰهُ اِذا جاءَ تْ يَوْمَ الْقِيامَة قال يا رَسُول اللّه استغفرلِى قال فكيف تصْنع بلا الٰهَ الّا اللّه اذا جاءَ تْ يَوْمَ الْقِيامَةِ قال فجعَلَ لا يَزِيْدهٗ على انْ يَّقُوْلَ كَيْف تَصْنَعُ بلا الٰه الّا اللّٰهُ اِذا جاءَ تْ يَوْمَ الْقِيامَة :

ترجمه : د صفوان بن محرز نه روایت دے چه جندب بن عبد الله بجلیؓ عسعس بن سلامه نه ینا کونکے اولیږلو هر کله چه د عبد الله ابن زبیرؓ فتنه اوشوه چه ته جمع کړه زما دپاره څو ونړو لره ددے دپاره چه زهٔ د هغوی سره خبرے اوکړم عسعس خلقو ته قاصد اولیږلو او هغه اجمع شول نو جندب راغے او یوه زیړه توپی ئے په سر باندے وه (په صراح کښے دی چه برنس

هغه توپی ده چه هغې لره به په شروع د زمانهٔ اسلام کښې په سرولو او اودی وائی چه برنس هغه کپړا ده چه دَ هغې سر په هغې کښې لګیدلې وی کرته یا جبه) (جوهری وائی چه برنس یوه اوګده توپی ده چه هغې لره به خلقو د اسلام په شروع کښې پسرولو) هغوی اووے ته خبرے کوه کومے چه کومے کوے تر دے پورے چه دَ جندب وار راغې (یعنی هغه ته خبره کول ضرور پریوتل) نو هغه توپی دَ خپل سر نه کوزه کړه او وے وئیل چه زهٔ ستاسو حواله راغلم په دے اراده سره چه بیان کړم تاسو ته حدیث ستاسو دَ پیغمبر ﷺ هغه دا چه رسول الله ﷺ یو لښکر دَ مشرکانو په یو قوم باندے اولیږلو هغه دواړه لښکرے سلاؤ شوے (یعنی په میدان جنګ کښې یو بل ته مخامخ شوے) نو په مشرکانو کښې یو سړے وو هغه چه ه په کوم مسلمان باندے غوښته نو حمله به ئې کوله او هغه به ئې قتلولو آخر یو مسلمان هغه لره قتل کړو او خلقو مونږ ته اووے چه هغه مسلمان اسامه بن زیدؓ وو هر کله چه هغه توره په هغه باندے راواړوله نو هغه اووے لا اله الا الله لیکن هغوی قتل کړو ددے نه پس د هغه قاصد خوشخبری راوړه او رسول الله ﷺ له راغې حضور ﷺ دَ هغه نه د حال تپوس اوکړو هغه ورته تمام حال بیان کړو تر دے پورے چه دَ هغه سړی حال ئې ورنه هم اووے ۔ (یعنی دَ اسامه بن زیدؓ) حضور ﷺ اسامهؓ لره راوغوښتو او تپوس ئې ترے نه اوکړو چه تا ولے دا سړے قتل کړو اسامهؓ اووے یارسول الله هغه مسلمانانو ته ډیر تکلیف ورکړو او وژلے ئې دے فلانے او فلانے او دَ خو سړو نومونه ئې واخستل بیا زهٔ په دے باندے غالب شوم هر کله چه هغه تورے ته اوکتل نو لا اله الا الله ئې اووے رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه تا هغه قتل کړو هغوی اووے او! حضور ﷺ اوفرمائیل چه څه جواب به ورکوے هر کله چه هغه راشی د قیامت په ورځ باندے دَ لا اله الا الله ۔ هغه اووے یا رسول الله زما دپاره دَ مغفرت دُعا اوکړه حضور ﷺ اوفرمائیل چه ته به څه جواب ورکوے دَ لا اله الا الله په ورځ دَ قیامت باندے ۔ بیا حضور ﷺ ددے نه زیات څه اونهٔ فرمائیل او دا به ئې وئیلے چه ته به څه جواب ورکوے دَ قیامت په ورځ باندے دَ لا اله الا الله هر کله چه هغه به رواستے شی دَ قیامت په ورځ باندے۔

فائده : په حدیث کښې داسے دی ولا ارید ان اخبرکم عن نبیکم : چه ددے لفظی ترجمهٔ داوه

چه زما اراده نه وه تاسو ته د بیانولو ستاسو د پیغمبر ﷺ د احادیثو او دا حوږړی نه نووی وائی چه په تمامو نسخو کښې دا عبارت په دې شان باندې دې او ما هم د کومې نورې چه نسخې زما سره موجود وې په دې کښې دا اومنده په نسخه مطبوعه مصر او مطبوعه دهلی او کلکته په ټولو کښې دغه شان دې . خو د مطبوعه کلکته په حاشیه کښې دا سې لیکلی دی . چه په بعضو نسخو کښې د الا لفظ دپاسه لیکلی شوې دی یعنی داسې دې لا ارید ان اخبرکم الا عن نبیکم په دې صورت کښې خو مطلب صفا دې یعنی زما اراده څه نه وه سوا ددې نه چه حدیث بیان کړم تاسو ته ستاسو دَ پیغمبر ﷺ. او د امام نووی د کلام نه دا معلومیږی چه په یوه نسخه کښې د الا لفظ نشته دې نو شاند مراد د هغوی هغه نسخې دی کومې نسخې چه هغه ته په دمشق کښې په لاس باندې راغلې وې .

امام نووی وائی دلته دا اشکال کیدې شی چه جندبؓ په خپله عسعس ته قاصد لیږلې وی چه ته خلقو لره راجمع کړه زۀ هغوی ته حدیث بیانووم بیا چه هر کله راغې نو پخپله ئې خنګه اووې چه زما اراده د حدیث د بیانولو نۀ وه او ددې رفع په دوه قسمه سره کیدې شی یو خو دا چه د لا لفظ زیاتی وی په دې صورت کښې به ترجمه هغه شی کومه چه پورته ذکر شوه یعنی زه ستاسو خواله راغلم په دې اراده سره چه زۀ تاسو ته بیان کړم حدیث ستاسو د پیغمبر ﷺ لو مطلب به صفا شی لکه چه په قرآن کښې د لا لفظ لایعلم اهل الکتاب وما منعك الا تسجد کښې سوا دې . دویمه دا چه که د لا لفظ زیاتی نۀ وی او مطلب داوی چه زۀ تاسو ته راغلم او زما اراده د حدیث دَ بیانولو نۀ وه بلکه دَ خپل طرف نه د خبرو کولو . خو زۀ اوس د خپلې ارادې نه زیات حدیث هم بیانووم او وایم چه رسول الله ﷺ یو لښکر اولیږلو .... تر اخره پورې . په خبر جاری کښې دی چه شاند د لا نه وړومبې همزه د استفهام محذوف وی یعنی زۀ تاسو ته راغلم او دا کیدې شی چه زما اراده دَ حدیث د بیانولو نۀ وی (یعنی زما اراده ده) والله اعلم:

باب قول النبی ﷺ من حمل علینا السلاح فلیس منا :

باب : کوم بنده چه په په مسلمانانو پسې هتیار اوچت کړی هغه مسلمان نه نۀ دې:

(۲۸۰)عَنْ ابنِ عُمرَ اَنّ النَّبِیّ ﷺ قَالَ مَنْ حَمَلَ عَلَیْنَا السَّلاحَ فَلَیْسَ مِنَّا :

ترجمه : دابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چا چه په مونږ باندے هتیار اوچت کړو هغه زمونږ نه نۀ دے :

فائده : امام نوویؒ فرمائی چه کوم سړے په مسلمانانو پسے هتیار راواخلی په ناحقه سره بغیر دَ څه قسم تاویل نه خو دا فعل حلال نۀ ګڼړی نو هغه به ګنهګار وی کافر به نۀ وی او خوك چه ئے حلال اوګڼړی هغه کافر دے او دا حدیث محمول دے په حلال ګڼړلو والا باندے. یا مراد دادے چه هغه زمونږ په عمده طریقے باندے نۀ دے ـ انتهی

(۲۸۱) عَنْ سَلَمَة عَنِ النَّبِیِّ ﷺ مَنْ سَلَّ عَلَیْنَا السَّیْفَ فَلَیْسَ مِنَّا :

ترجمه : دَ سلمه ابن اکوعؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه په مونږه پسے توره اوباسی هغه زمونږ نه نۀ دے ـ

(۲۸۲)عَنْ اَبِی مُوسٰی عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ مَنْ حَمَلَ عَلَیْنَا السَّلاحَ فَلَیْسَ مِنَّا : [بخاری : ۷۰۷۱، ترمذی : ۱٤۵۹، ابن ماجه : ۲۵۷۷]

ترجمه : دَ ابو موسیؓ نه رایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خوك چه په مونږ پسے هتیار اوچت کړی هغه زمونږ نه نۀ دے ـ

باب قول النبی ﷺ من غشنا فلیس منا :

باب : کوم سړے چه مسلمانانو ته فریب ورکوی هغه زمونږ نه نۀ دے:

(۲۸۳)عَنْ اَبِی هُرَیْرَة اَنّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ مَنْ حَمَلَ عَلَیْنَا السَّلاحَ فَلَیْسَ مِنَّا وَمَنْ غَشَّنَا فَلَیْسَ مِنَّا : [ابن ماجه : ۲۵۷۵]

ترجمه : دَ ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه په مونږ باندے هتیار اوچت کړی هغه زمونږ نه نۀ دے او کوم سړے چه مونږ ته دهوکه راکوی هغه زمونږ نه نۀ دے ـ

(۲۸٤)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَة اَنّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَرَّ عَلٰی صُبْرَةِ الطَّعَامِ فَاَدْخَلَ یَدَهٗ فِیْهَا فَنَالَتْ اَصَابِعَهٗ بَلَلاً

فقال ماهذا یا صاحب الطعام فقال اصابته السماء یا رسول اللّٰه قال افلا جعلته فوق الطعام کی یراه الناس من غش فلیس منی : | ترمذی : ۱۳۱۵ |

ترجمه : د ابـو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول اللّٰه ﷺ په لاره کښے یو ډیرے د غنمو اولیدو حضور ﷺ خپل لاس په هغے کښے دننه کړو نو په کوتو پورے نے لوندوالے راغے حضرت ﷺ تپوس اوکړو د غلے مالکه دا څه دی ؟ هغه اووے دے ته باران رسیدلے دے یا رسول اللّٰه ! حضور ﷺ اوفرمائیل نو بیا تا دا لونده غله د پاسه ولے نۀ ایخوده دے دپاره چه خلقو لیدلے کوم سړے چه فریب کوی او دهوکه ورکوی هغه زمونږ نه نۀ دے ۔

باب تحریم ضرب الخدود و شق الجیوب والدعاء بدعوی الجاهلیة :

باب : مخ وهل ګریوان شلول او دَ جاهلیت په شان خبرے کول حرام دی :

(۲۸۵) عن عبد اللّٰه قال قال رسول اللّٰه ﷺ لیس منا من ضرب الخدود او شق الجیوب او دعا بدعوی الجاهلیة هذا حدیث یحیی واما ابن نمیر وابوبکر فقالا وشق ودعا بغیر الف :

| بخاری . ۱۲۹۷، ۱۲۹۸، نسائی : ۱۸۵۹، ابن ماجه : ۱۵۸۴ |

ترجمه : د عبد اللّٰه بن مسعودؓ نه روایت دے چه حضور ﷺ فرمائیلے دی زمونږ نه نۀ دے هغه څوك چه مخ شوکوی او ګریوان لره شلوی یا دَ جاهلیت (دَ کفر) دَ زمانے خبرے کوی او په بل روایت کښے د او په ځائے بلندے و دے (بغیر دَ الف نه)

فائده : یعنی کوم بنده چه مخ وهی او ګریوانونه شلوی او دَ جاهلیت غوندے خبرے کوی (یعنی د مصیبت په وخت کښے) زمونږ په شریعت کښے دا تمام کارونه حرام دی انا للّٰه وانا الیه راجعون ونیل پکاردی او صبر کول پکار دی که چرے اوښکے بے اختیاره لاړے شی نو څه مضائقه نشته دے. د جاهلیت غوندے خبرے دادی چه دَ خدائے ناشکری کوی چغے وهی کریکے وهی نوحه کوی واویلا کوی او د زړے نه نورے د بے صبری او دَ بے ادبی خبرے اوباسی۔

(۲۸۶) عن الاعمش بهذا الاسناد وقالا : وشق ودعا | راجع : ۲۸۵ |

ترجمه : دَ اعمش په سند کښ دا لفظ روایت شوے دے چه " ګریوان شلول او دَ جاهلیت والا

جملې ونيل :

(۲۸۷)عَنْ اَبِی بُرْدَةَ بْنِ اَبِی مُوسیٰ قَالَ وَجِعَ اَبُو مُوسیٰ وَجْعًا فَغُشِیَ عَلَیْهِ وَرَأسُهُ فِی حِجْرِ امْرَأَةٍ مِّنْ اَهْلِهِ فَصَاحَتْ اِمْرَأَةٌ مِّنْ اَهْلِهِ فَلَمْ یَسْتَطِعْ اَنْ یَرُدَّ عَلَیْهَا شَیْئًا فَلَمَّا اَفَاقَ قَالَ اَنَا بَرِیٌٔ مِمَّا بَرِیٔ مِنْهُ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فَاِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ بَرِیٔ مِّنَ الصَّالِقَةِ وَالْحَالِقَةِ وَالشَّاقَّةِ : [بخاری : ۱۲۹۶]

ترجمه : دَابو برده بن موسیٰ نه روایت دے چه ابو موسی اشعریؒ ناجوړه شو په هغه باندے بے هوشی راغله دَ هغه سر د یوے ښځے په غیږه کښے پروت وو د کور والو نه. دَ هغه د کور والا د ښځو نه یوے ښځے چغے وهلے په ابو موسی کښے د هغے دمنع کولو طاقت نه وو هر کله چه په هوش کښے راغے نو اوئے ونیل زهٔ ویزار یم دَ هغه چانه چه دَ هغه نه حضور ﷺ ویزار دے د چغو وهونکو والا نه (یعنی کومه ښځه چه په مصیبت کښے په چغو چغو باندے ژاړی) او دَ ویښتو ایستونکو والا نه (یعنی کومه ښځه چه په غم کښے دَ سر ویښته اوباسی) او دَ کپړو شلوونکو والا نه.

فائده : نوویؒ وائی ظاهره او مشهوره معنی دغه ده او قاضی عیاضؒ دَ ابن اعرابی نه نقل کړے دی چه صالقه مخ شوکونکی ته ونیلے کیږی.

(۲۸۸)عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ یَزِیْدَ وَاَبِی بُرْدَةَ ابْنِ اَبِی مُوسیٰ قَالَ اُغْمِیَ اَبِی مُوسیٰ فَاَقْبَلَتْ اِمْرَأَتُهُ اُمُّ عَبْدِ اللّٰهِ تَصِیْحُ بِرَنَّةٍ قَالَا ثُمَّ اَفَاقَ فَقَالَ اَلَمْ تَعْلَمِیْ وَکَانَ یُحَدِّثُهَا اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَنَا بَرِیٌٔ مِمَّنْ حَلَقَ وَسَلَقَ وَخَرَقَ : [نسائی : ۱۸۶۲ ، ابن ماجه : ۱۵۸۶]

ترجمه : دَ عبد الرحمان بن یزید او ابی برده نه روایت دے چه ابو موسی اشعریؒ بے هوشه شو نو دَ هغه ښځه دَ عبد الله مور په چغو باندے راغله بیا هغه په هوش کښے راغے نو اوئے ونیل ولے تهٔ نهٔ یے خبر او حدیث ئے ورته بیان کړو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه بیزار یم دَ هغه چانه چه هغه دَ سر ویښته اوباسی او په چغو ژاړی او کپړے څیرے کوی. (په مصیبت کښے ولے چه دا تمام دَ کافرانو خلقو اسمونه دی)

(۲۸۹)عَنْ اَبِی مُوسیٰ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ بِهٰذَا الْحَدِیْثِ اَنَّ فِی حَدِیْثِ عِیَاضٍ الْاَشْعَرِیِّ قَالَ لَیْسَ مِنَّا وَلَمْ

بقل برئ : [نسائی : ۱۸۶۰، ۱۸۶۱، ۱۸۶۵]

ترجمه : د ابو موسیٰ نه دویم روایت هم دغه شان دے په هغے کنبے داسے دی زمونږ نه نهٔ دے هغه کس چه دا کارکوی او دائے نهٔ وئیلی چه زهٔ بیزاریم.

فائده : نووی فرمانی ظاهره او مشهوره معنی دغه ده او قاضی عیاض د اعرابی نه نقل کړے دی چه صالقه مخ شوکونکی ته وئیلے کیږی.

باب غلظ تحريم النميمة :

باب : چغل خوری سخت حرام دی :

(۲۹۰) عن حُذيفةَ انّه بلغهُ انّ رجلا ينمّ الحديث فقال حُذيفةُ سمعتُ رسول الله ﷺ يقولُ لا يدخلُ الجنّة نمّامٌ :

ترجمه : حذیفهٔ ته خبر اورسیدو چه فلانے سړے خبرے لګول کوی (یعنی چغل خوری کوی) هغوی وانی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه هغه فرمائیلے وو چه نهٔ به داخلیږی جنت ته چغل خور.

فائده : امام نووی وانی چه د یو خبره بل ته رسول د جنګ او فساد جوړولو دپاره دے ته چغلی وئیلے شی. امام غزالی په احیاء العلوم کنبے وئیلے دی چه اکثر چغلی دے ته وئیلے شی چه د یو خبره د بل سره لګول یعنی دغه سړی ته وئیل چه فلانے تاته داسے وئیلے وو او حالانکه چغلی هم څه امر نهٔ دے بلکله د هرے بدے خبرے بیانول چغلی ده خواه په دے سره هغه خبره کونکی ته رنځ وی یا د چا دپاره چه اوئیلے شی هغه ته خفګان وی یا بل دریم کس ته خفګان وی. او دا بیان خواه کهٔ په ژبه سره وی یا په اشاره او کنایه سره وی خو دا تمام په چغلی کنبے داخل دی نو په حقیقت کنبے چغلی د راز کهولاول دی او پرده فاش کول چه هغه چاته ناګوار وی بیا کهٔ چرے یو سړی اولیدل چه یو سړی خپله روپی څخولے او ذکر لوکړو د هغے نورو ته نو دهٔ چغلی اوکړه. امام غزالی فرمانی اوس چه کوم سړی ته څوك چغلی لوکړی نو د هغه دپاره شپږ خبرے ضروری دی یوه خو دا چه دده خبره رښتیا نهٔ ګنړی ولے چه چغل خور فاسق دے دویم دا چه ددغه

کار نه به دۀ لره منع کوی او بد به ورته وائی

دریم دا چه دغه سړی نه به بد ګوری ځکه چه هغه د الله پاك په نزد بالندے بد دے (یعنی چغلی کونکی) څلورم دا چه په خپل زړ چه د چا چغلی چه دۀ کړے ده په هغه دے بدګمانی نۀ کوی پنځمه دا چه ددغه خبرے دے زیات تجسس نه کوی او د هغے تپوس دے نه کوی ګنی په خپله به په دغه ګناه کښے اونخلی د کومے ګناه نه نے چه چغل خور منع کولو. امام نووی فرمائی دا ټول په هغه صورت کښے دی چه هر کله په هغے کښے څه مصلحت شرعی نۀ وی. او کۀ چرے ددے په فاش کولو کښے څه مصلحت وی نو منع نۀ دے. مثلا چه څوك د چا دَ قتل یا د هغه دَ بربادیدو یا عزت لټاویدو اراده اولری نو هغه ته خبر ورکول یا امام یا حاکم ته د چا فساد یا ظلم بیانول چه په هغے کښے د نورو خلقو فائده وی نو داسے کول حرام نۀ دی بلکه په بعضے صورت کښے واجب دی یا مستحب دی. مترجم وائی چه دے خبرے ته کتل پکار دی چه دهغۀ په فاش کولو کښے یا حاکم یا امام ته په وئیلو کښے د عامو خلقو نیکی او منفعت وی. نو بے شکه وئیل پکار دی او په کومه کښے چه د چا فائده نۀ وی صرف د هغه سړی ضرر وی نو د هغے وئیل ضروری نۀ دی. بیا نووی فرمائیلی دی چه دا چه نے کوم فرمائیلی دی چه چغل خور به جنت ته نۀ ځی نو په دے کښے دوه تاویلونه دی یو دا چه مراد هغه سړے دے چه چغلی حرامه نۀ ګنړی دویم دا مراد دے چه چغل خور به د نورو جنتیانو سره جنت ته نۀ ځی. (یعنی د هغوی نه به وروستو جنت ته داخلیږی)

(۲۹۱)عَنْ هَمَّامِ ابْنِ الْحَارِثِ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يَنْقُلُ الْحَدِيْثَ اِلَى الْاَمِيْرِ قَالَ وَ كُنَّا جُلُوْسًا فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ الْقَوْمُ هٰذَا يَنْقُلُ الْحَدِيْثَ اِلَى الْاَمِيْرِ قَالَ فَجَآءَ حَتّٰى جَلَسَ اِلَيْنَا فَقَالَ حُذَيْفَةُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ : [بخاری : ۶۰۵۶، ابوداود ۔ ۱ ـ ۴۸، ترمذی ۔ ۲۰۲۶]

ترجمه : د همام بن حارث نه روایت دے چه یو سړی به د خلقو خبرے حاکم ته بیانولے یو ځل مونږه په مسجد کښے ناست وو خلقو اووے چه دا سړے حاکم ته خبرے رسوی بیا هغه راغے او مونږ سره کیناستو حذیفهؓ اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی هغه فرمائیلے وو جنت ته به نۀ ځی تلے چغل خور.

(۲۹۲)عن همام ابن الحارث قال کنا خلوسا مع حذیفة فی المسجد فجاء رجل حتی جلس الینا فقیل لحذیفة ان هذا یرفع الی السلطان اشیاء فقال حذیفة ارادة ان یسمعه سمعت رسول الله ﷺ یقول لا یدخل الجنة قتات : [راجع : ۲۹۱]

ترجمه : دَ همام بن حارث نه روایت دے چه مونږه په جماعت کښے دَ حذیفهؓ سره ناست وو په دے کښے یو سړے راغے او مونږه سره کیناستو نو حذیفهؓ ته اوئیلے شو چه دے د بادشاه پورے خبرے رسوی حذیفهؓ دَ هغه دَ رټولو په نیت سره اووے ما دَ رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه جنت ته به نهٔ داخلیږی چغل خور.

باب بیان غلظ تحریم اسبال الازار والمن بالعطیة وتنفیق السلعة بالحلف وبیان الثلاثة الذین لا یکلمهم الله یوم القیامة ولا ینظر الیهم ولا یزکیهم ولهم عذاب الیم :

باب : لنګ دَ ګیټونه لاندے دَ ساتلو او احسان کولو او بیا یادولو او دَ مال په دروغه قسم سره خرڅولو دَ سخت حرمت بیان او دَ هغه دریو کسانو بیان چه دَ هغو سره به الله پاك دَ قیامت په ورځ باندے خبرے نهٔ کوی. او نهٔ به ګوری دَ هغوی طرف ته نهٔ به هغوی له پاکوی او د هغوی دپاره به دردناك عذاب وی. :

(۲۹۳)عن ابی ذر عن النبی ﷺ قال ثلاثة لا یکلمهم الله یوم القیامة ولا ینظر الیهم ولا یزکیهم ولهم عذاب الیم : قال فقرأها رسول الله ﷺ ثلاث مرات قال ابو ذر خابوا وخسروا من هم یارسول الله ﷺ قال المسبل ازاره والمنان والمنفق سلعته بالحلف الکاذب : ابو داود : ۴۰۸۷، ۴۰۸۸، ترمذی : ۱۲۱۱، نسائی : ۲۵۶۲، ۲۵۶۳، ۴۴۷۰، ۴۴۷۱، ابن ماجه : ۲۲۰۸]

ترجمه : دَ ابو ذرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه د دریو کسانو سره به الله تعالی خبرے نهٔ کوی د قیامت په ورځ باندے او نهٔ به د هغوی طرف ته ګوری (دَ رحمت په نظر سره) نهٔ به هغه پاك کړی (د ګناهونو نه) او هغوی ته به عذاب دردناك وی. حضور ﷺ دے

ځله دا اوفرمائیل نو ابو ذرؓ اووے برباد شول هغه خلق او په نقصان کښے پریوتل هغه څوك دی یارسول الله ؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل یو خو زوړندونکی دَ ازار دویم، احسان کونکے او یادونکے دَ هغے دریم په دروغه قسم خوړنکے ۔ دَ خپل مال خرڅونکے ۔

فائده : یعنی تهبند یا جامے لره یا کرتے لره دَ کچو لاندے دَ غرور او تکبر په لاره سره لکه په دویم حدیث کښے صفا راغلے دی چه الله تعالیٰ نۀ ګوری دَ هغه سړی په طرف باندے چه هغه خپله کپړا زوړنده کړی دَ غرور نه ۔ او دا دَ غرور قید خاص کوی دَ ازار اچونکی عموم لره او ددے نه دا خبره وتلے ده چه دا وعید دَ هغه چا دپاره دے چه هغه ئے دَ غرور نه زوړند کړی او په خپله باندے رسول الله ﷺ رخصت ورکړے دے حضرت ابوبکرؓ لره دَ کپړے دَ زوړندولو ۔ ولے چه دَ هغه دغه فعل دَ غرور په لاره سره نه وو امام محمد بن جریر طبریؒ وائی چه په دویم روایت کښے حضور ﷺ صرف دَ ازار دَ زوړندولو بیان کړے دے ځکه چه زیاته جامه دَ هغه وخت ازار وو۔

او دَ قمیص هم دغه حکم دے او دا په یو حدیث کښے صفا راغلے دی چه هغے لره ابوداؤد لو نسائی او ابن ماجه په سند دَ حسن سالم نه روایت کړے دے او هغوی دَ خپل پلار نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی زوړندول په ازار کښے دی او په قمیص کښے او عمامه کښے دی۔ او څوك چه په دے کښے هر یو لره اوېزان کړی په غرور سره نو دَ قیامت په ورځ به خدائے پاك دَ هغه طرف ته نۀ ګوری ۔ (نوویؒ)

دا چه ئے کوم فرمائیلے دی چه احسان اوکړی او بیا ئے یادوی یعنی سپك متل مشهور دے " خدا او چهے کا احسان نه کراوے " خدائے دے راباندے دَ سپك سړی احسان نۀ کوی هر کله چه دَ چاسره دَ څه قسم ښۀ سلوك اوکړے یا احسان اوکړے نو تهذیب دادے چه دَ هغے ذکر به نۀ کوے په څه غونډه یا جلسه کښے او خپل احسان به په هغه باندے نۀ خیژوے ګنی نیکی به دے برباد او ګناه به درباندے اوخیژی۔ او مال په دروغه قسمونو سره خر څول لکه چه دَ بے ایمانه سودګرو عادت وی چه دَ خپل مال خامخوا تعریف کوی اګر چه خریدار ته دَ هغے په قیمت کښے یا اخستلو کښے تردد وی خو دے ورته قسم خوری او اخستونکے په دهوکه کښے راشی او دے لره واخلی۔

(۲۹۴) عن ابی ذرٍ عن النبی ﷺ قال ثلاثةٌ لا یکلّمهم اللّٰه یوم القیامة المنّان الّذی لا یُعطی شیئا الا منّه والمنفق سلعته بالحلف الفاجر والمسبل ازاره . [راجع : ۲۹۳]

ترجمه : د ابوذر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د دریو کسانو سره به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ باندے خبرے نهٔ کوی یو احسان یادونکے چه هغه احسان اوکړی او بیائے یادوی دویم خپل مال چلونکے په دروغه باندے په قسم خوړلو سره. دریم ازار زوړندونکے.

(۲۹۵) عن سلیمان بهذ الاسناد قال ثلاثةٌ لا یکلّمهم اللّٰه و لا ینظر الیهم و لا یزکّیهم ولهم عذابٌ الیم . [راجع : ۲۹۳]

ترجمه : په دے روایت کښے دی چه د دریو کسانو سره به الله تعالیٰ خبرے نهٔ کوی او نهٔ به د هغوی طرف ته گوری او نهٔ هغوی لره پاك کړی او د هغوی دپاره دردناك عذاب دے.

(۲۹۶) عن ابی هریرة قال قال رسول اللّٰه ﷺ ثلاثةٌ لا یکلّمهم اللّٰه یوم القیامة و لا یزکّیهم قال ابو معاویة و لا ینظر الیهم ولهم عذابٌ الیم شیخٌ زانٍ وملکٌ کذّابٌ وعائلٌ مستکبرٌ.

ترجمه : د ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د دریو کسانو سره به الله تعالیٰ خبرے نهٔ کوی د قیامت په ورځ بندے او نهٔ دوی لره پاك کړی او نهٔ به د دوی طرف ته اوگوری او دوی لره دردناك عذاب دے یو بوډا زناکار دویم بادشاه دروغجن. دریم محتاجه مغرور دے

فائده : هرچند حرام کاری او دروغ د ټولو په حق کښے بد دی لیکن د دریو سرو په حق کښے دا ډیر زیات بے موقعے دی چه باوجود د بوډاوالی نه هر کله چه عقل کامل شی او شهوت کم شی زنا او حرام کاری سراسر شقاوت دے او باوجود د بادشاهی او حکومت هر کله چه نے د چا نه خوف او ویره نهٔ وی دروغ ویل بالکل بد بختی ده او سره د کنگالی او محتاجی غرور کول او بے سامانه فرغون جوړیدل زیات نامناسب دی قاضی عیاضؒ فرمائی وجه د دے تخصیص داده چه د دغه خلقو نه د دغه گناهونو څه احتیاج او ضرورت نشته دے اگر چه په کولو کښے څه عذر نشته خو د دغه خلقو خو بیا بالکل څه عذر نشی کیدے نو اوس گناه لکه قصدا د خدائے پاك

نافرمانی کول دی او ضد دے او ذلیل گنړل دی د الله جل شانه احکامو لره.

۲۹۷) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ثلاثة لا یکلمهم الله یوم القیامة و لا یزکیهم ولهم عذاب الیم رجل علی فضل ماء بالفلاة یمنعه من ابن السبیل ورجل بایع رجلا بسلعة بعد العصر فحلف بالله لاخذها بکذا او کذا صدقه وهو علی غیر ذالک ورجل بایع اماما لا یبایعه الا لدنیا فان اعطاه منها وفی وان لم یعطه منها لم یف. [ابن ماجه ۲۲۰۷، ۲۸۷۰]

ترجمه: د ابو هریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی درے سړو سره به خدائے پاک خبرے نه کوی د قیامت په ورځ بانده او نه به هغوی پاک کړی او دے دوی دپاره دردناك عذاب یو خو هغه چه په ځنګل کښے د حاجت نه زیاته اوبه لری او مسافر نه هغه اوبو لره منع کړی او دویم هغه چه هغه د چا په لاس بانده مال خرڅ کړو د ماښیګر نه پس او په خدائے پاك بانده ئے قسم اوخوړو چه ما په دومره قیمت بانده اخستے دے او خریدار دده خبره رښتیا اوګنړله حالانکه په دومره بانده دۀ نۀ وو اخستے (یعنی په دروغه بانده ئے قسم اوخوړو او د ماښیګر نه پس تخصیص په دے وجه سره دے. چه هغه متبرك وخت دے د فرښتو د راجمع کیدو یا هغه وخت دے د خرید وفروخت) دریم هغه چا چه بیعت اوکړو د امام ددنیا په طمع سره بیا که چرے امام دۀ لره څه ورکړل ددنیا مال نو دۀ خپل بیعت پورا کړو او کۀ چرے ورنه نۀ کړو نو پوره ئے نۀ کړو ا نو دغه سړی دهوکه ورکړه مسلمان لره د بیعت کولو چه د هغه دۀ په وعده بانده بروسه وه او دے د دنیا به فکر کښے اخته وو د وعدے څه پرواه ئے نۀ کوله

فائده: او کوم ځائے کښے چه اوبه نۀ وی چه د مسافر په کار بانده راشی نووی وائی چه ددے فعل حرمت زیات سخت او ډیر بدکار دے ځکه چه ځناورو لره د هغه اوبو نه منع کول نۀ دی پکار کومے چه د ضرورت نه زیاتے دی نو بیا خلقو لره منع کول به څنګه درست شی البته که چرے مسافر حربی یا مرتد وی نو هغه لره اوبه ورکول واجب نۀ دی انتهی

(۲۹۸) عن الاعمش بهذا الاسناد مثله غیر ان فی حدیث جریر : ورجل ساوم رجلا بسلعة :

ترجمه: د اعمش په روایت کښں هم د وړاندے حدیث په شان الفاظ دی مګر د جریر په حدیث کښں

دالفظ دے چه " یو هغه سړے چه هغه د بل په بیعه باندے بیعه کوی .

(۲۹۹) عن ابی هریرة قال اراه مرفوعا قال ثلاثة لا یکلمهم الله یوم القیامة و لا ینظر الیهم ولهم عذاب الیم رجل حلف علی یمین بعد صلوة العصر علی مال مسلم فاقتطعه وباقی حدیثه نحو حدیث الاعمش. [بخاری. ۲۳۶۹، ۲۳۶۹]

ترجمه : دا روایت هم دغه شان دے او په دے کښے دادی چه چا قسم اوخوړو د مازیګر د مونځ نه پس د چا مسلمان په مال باندے او بے نے مات کړو هغے لره (یعنی د دروغو قسم نے اوخوړو) باقی حدیث به شان د اعمش د حدیث دے

باب بیان غلظ تحریم قتل الانسان نفسه ومن قتل نفسه بشیئ عذب به فی النار وانه لا یدخل الجنة الا نفس مسلمة :

باب : د خودکشی سخت حرمت او د خودکشی کونکے والا عذاب په جهنم کښے او نۀ به ځی جنت ته سوا د مسلمان نه .

(۳۰۰) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ من قتل نفسه بحدیدة فحدیدته فی یده یتوجأ بها فی بطنه فی نار جهنم خالدا مخلدا فیها ابدا ومن شرب سما فقتل نفسه فهو یتحساه فی نار جهنم خالدا مخلدا فیها ابدا ومن تردی من جبل فقتل نفسه فهو یتردی فی نار جهنم خالدا مخلدا فیها ابدا :

ترمذی ۲۰۴۳، ابن ماجه ۳۴۲۰]

ترجمه : د ابو هریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه ځان د اوسپنے په هتیار سره مړ کړی نو هغه هتیار به د هغه په لاس کښے وی راکاږی یعنی منډی به هغے لره په ګیډه خپله کښے او د جهنم په اور کښے به همیشه همیشه اوسیږی او کوم سړے چه زهر اوخکی او ځان مړ کړی سو هغه به حکی د غه زهرو لره او د جهنم په اور کښے به وی همیشه همیشه او کوم چا چه ځان راالوزغوزولو د غر نه او ځان ے قتل کړو نو هغه به د جهنم د اور په غر کښے رغړی او همیشه به ئے دا حال وی . (چه د اوچت ځائے نه به ښکته ارتاوه ولے شی .)

فائدہ : امام نووی فرمائی په دے مقام باندے ځو قولونه دی یو هغه سړے دے چه هغه خودکشی حلاله اوګنړی په داسے کارونو سره خپل ځان مړ کړی نو هغه کافر دے. او بے شکه هغه به همیشه همیشه په جهنم کښے وی او دویمه دا چه د همیشه د اوسیدو نه مراد ډیرے موده پورے اوسیدل دی. دریمه دا چه د دغه کار بدله هم دا وه چه همیشه همیشه به په جهنم کښے وی. خو الله پاك احسان کړے دے او دا حکم یے کړے دے چه د چا خاتمه په اسلام کښے دننه اوشوه هغه په جهنم کښے همیشه نه شی پاتے کیدے .

(۳۰۱) عن جرير وعن ابن القاسم وعن خالد بن الحارث حدثنا شعبة كلهم بهذا الاسناد مثله .

[بخاری : ۵۷۷۸، ترمذی : ۲۰۴۳، نسائی : ۱۹۶۴]

ترجمه : د تیر شوی سند نه علاوه راوی په دریے سندو سره روایت کوی د شعبه نه هم هغه حدیث لره .

(۳۰۲) عن ثابت ابن ضحاك اخبر انه بايع رسول الله ﷺ تحت الشجرة وان رسول الله ﷺ قال من حلف على يمين بملة غير الاسلام كاذبا فهو كما قال ومن قتل نفسه بشئ عذب به يوم القيامة وليس على رجل نذر في شئ لا يملكه : [بخاری : ۱۳۶۳، ۴۰۶۱، ۶۱۰۵، ۶۶۵۲، ابوداود : ۳۲۵۷، ترمی : ۱۵۴۳، نسائی : ۳۷۷۹، ۳۷۸۰، ۳۸۲۲، ابن ماجه : ۲۰۹۸]

ترجمه : د ثابت بن ضحاك نه روایت دے هغوی بیعت اوکړو د رسول الله ﷺ نه د رضوان د اونے لاندے او هغه اوفرمائیل کوم بنده چه قسم اوخوری په څه خبره باندے د اسلام نه سوا د بل دین (یعنی داسے اووائی کۀ چرے ما دا کار اوکړو نو زۀ به نصرانی یا یهودی یا به هندو یم) دروغو قسم نو دا بے شوه لکه چه دۀ اووے او چا چه قتل کړو خپل ځان په څه څیز سره نو هغه لره به په هغه څیز سره عذاب ورکولے شی د قیامت په ورځ باندے. په بل چا باندے هغه نظر پوره کول لازم نۀ دی ولے چه دا د دۀ په اختیار کښے نه دی (لکه نذر اوکړی د بل چا د غلام ازادولو)

فائده : یعنی کافر شو داد زورنے او زجر په طور باندے دی نووی ونیلی دی چه کۀ چرے دۀ په زړۀ کښے د اسلام نه سوا د بل دین عظمت وی نو بے شکه بے شبهے کافر دے او د چا بل زړۀ

کبی چه د بل دین عظمت نه وی. بلکه د اسلام دین دده په زړهٔ کښې دننه وی نو هغه به کافر نهٔ وی په داسې صورت کښې: کفر نه مراد ناشکری ده ولې چه د اسلام مقتضی داوه چه دا قسم بد قسمونه مهٔ خوری.

(۳۰۳) عَنْ ثَابِتِ ابْنِ ضَحَّاكٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَيْسَ عَلَى رَجُلٍ نَذْرٌ فِيمَا لَا يَمْلِكُ وَلَعْنُ الْمُؤْمِنِ كَقَتْلِهِ وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ فِي الدُّنْيَا عُذِّبَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنِ ادَّعَى دَعْوَى كَاذِبَةً لِيَتَكَثَّرَ بِهَا لَمْ يَزِدْهُ اللَّهُ إِلَّا قِلَّةً وَمَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينِ صَبْرٍ فَاجِرَةٍ. [بخاری: ۱۳۶۴، ۶۰۴۷، ابوداود: ۳۲۵۷]

ترجمه: د ثابت بن ضحاک نه روایت رسول الله ﷺ فرمائیلی دی په یو سړی باندې هغه نذر پورا کول واجب نهٔ دی چه هغه دده په ملك کښې نهٔ وی او په مسلمان باندې لعنت کول داسې دی لکه د هغه قتلول. او کوم بنده چه خپل ځان په دنیا کښې په څه څیز سره قتل کړی په قیامت کښې به په هغه څیز سره عذاب ورکولې شی او څوك چه د خپل مال د زیاتولو دپاره د بل په مال باندې د دروغو دعوی اوکړی نو خدائے پاك به د هغه مال نور کم کړی او کوم بنده چه قسم اوخوری د حاکم په حکم سره د دروغو.

فائده: نووی فرمائی چه ددې نه دا معلومیږی چه په مسلمان باندې لعنت کول درست نهٔ دی په دې شان په هغه مسلمان باندې چه هغه فاسق وی. په دې شان په چا معین کافر باندې خواه که هغه ژوندې وی یا مړ وی مگر په هغه کافر باندې چه د هغه په کفر باندې مړ کیدل په نص سره ثابت وی په هغه بادې لعنت لیږل جائز دی. لکه ابو لهب او ابو جهل وغیره. او لعنت کول د کافرانو په گروه باندې جائز دی لکه په نصارو باندې. او ظاهر حدیث دادې چه لعنت او قتل دواړه په حرمت کښې برابر دی. اگر چه قتل ډیر سخت دې دا اختیار کړې دې مازری.

دده مال به الله تعالی کم کړی نووی وائی چه دلته کښې دا عبارت محذوف دې یا هغه عطف دې د وړومبی جملې په مبتداء باندې او دا مطلب په دویم روایت کښې پوره راغلی دې چه کوم سړې قسم اوخوری د حاکم په حکم سره د چا مسلمان د مال د باوه ولو دپاره نو هغه به د الله تعالی سره ملاویږی او هغه به دهٔ نه په غصه کښې وی.

(۳۰۴)عن ثابت ابن الضحاک الانصاری قال قال رسول اللہ ﷺ من حلف بملة سوی الاسلام کاذبا فھو کما قال ومن قتل نفسه بشیء عذبه اللّٰه به فی نار جھنم وھذا حدیث سفیان واما شعبة فحدیثه ان رسول اللّٰه ﷺ قال من حلف بملة سوی الاسلام کاذبا فھو کما قال ومن ذبح نفسه بشیء ذبح به یوم القیامة ۔ [راجع ۳۰۲]

ترجمه : د ثابت بن ضحاك انصاریؓ نه روایت دے چه رسول اللہ ﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه سوا د اسلام نه په بل دین باندے قسم اوخوری په دروغه سره قصدا نو هغهٔ هغه شان شو او کوم بنده چه په څه څیز سره خپل قتل کړی نو خدائے پاك به دهٔ نه په هغه څیز سره عذاب ورکړی د جهنم په اور کښے دا روایت دے د سفیان او د شعبه په روایت کښے دی کوم بنده چه قسم اوخوری د اسلام نه سوا په بل دین کښے نو هغه هم هغه شان شو لکه څنګه چه دهٔ اووے او کوم سړے چه خپل ځان لره په څه څیز سره ذبحه کړی نو هغه به په هغه څیز سره ذبحه کیږی د قیامت په ورځ باندے ۔

(۳۰۵)عن ابی ھریرة قال شھدنا مع رسول اللہ ﷺ حنینا فقال لرجل ممن یدعی بالاسلام ھذا من اھل النار فلما حضرنا القتال قاتل الرجل قتالا شدیدا فاصابته جراحة فقیل یارسول اللّٰه الرجل الذی قلت له انفا انه من اھل النار فانه قاتل الیوم قتالا شدیدا وقد مات فقال النبی ﷺ ((الی النار)) فکاد بعض المسلمین ان یرتاب فبینما ھم علی ذالک اذقیل فانه لم یمت ولکن به جراحا شدیدا فلما کان من اللیل لم یصبر علی الجراح فقتل نفسه فاخبر النبی ﷺ بذالک فقال اللّٰه اکبر اشھد انی عبد اللّٰه ورسوله ثم امر بلالا فنادی بالناس انه لا یدخل الجنة الا نفس مسلمة ان اللّٰه یؤید ھذا الدین بالرجل الفاجر ۔

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه موږه د رسول اللہ ﷺ سره وو په جنګ حنین کښے (قاضی عیاض فرمائی چه صحیح خبر دے چه خائے د خنین باندے) حضرت ﷺ یو سړی ته اوفرمائیل چه دعوی ئے کوله د اسلام (یعنی خپل ځان ته به ئے مسلمان ویلو) چه دا د جهنم والو نه دے هر کله چه د جنګ وخت راغے نو دا سړے ښه اوجنګیدو او زخمی شو خلقو اووے یا

رسول الله ﷺ چه کوم سړی به جهنمي وبللو وو هغه ئې ښه اوجنګېدو او مړ شو رسول الله ﷺ اوفرمائيل جهنم ته لاړو د بعضې مسلمانانو خو به د دې کبله شک راغلې وو اولې چه د ظاهري حال نه د هغه جنتي کېدل معلومېدې شو ا به د دې کبله خبر راغې چه هغه مړ نه دې بلکه ژوندې دې لېکن ډېر سخت زخمي دې هر کله چه شپه شوه نو هغه د زخمونو تکليف برداشت نه کړو او خپل ځان ئې په خپله ماندې اووژلو هر کله چه رسول الله ﷺ ته دا خبر راورسېدو نو هغه اوفرمائيل الله لوي دې او زه ګواهي ورکووم د دې خبرې چه زه د الله بنده او د هغه رسول يم (حکم چه کوم خبره هغه ښوولې وه هغه ريښتيا شوه) بيا هغه حکم اوکړو بلال ته هغه منادي يعني اواز لوکړو خلقو کښې چه جنت ته به لاړ نه شي يو بنده مګر هغه چه مسلمان وي او الله تعالیٰ مدد کوي د دې دين په فاجر سړي سره.

فائده: دا سړې منافق وو په ظاهره باندې مسلمان وو او په زړه کښې کافر وو اګر چه هغه اسلام د پاره ډېر کوشش کړې وو او جنګېدو زخمي شو بيا د ايمان نه کېدو په وجه باندې د هغه ټول کوشش هم بېکاره ځي معلومه شوه چه بغير د ايمان نه چه انسان څومره نېکې خبرې کوي د مسلمانانو مدد کوي اسلام ته فائده رسوي خو بيا هم هغه بنده جنتي کېدې نه شي.

(٣٠٩) عن سهل بن سعد الساعدي ان رسول الله ﷺ التقی هو والمشركون فاقتتلوا فلما مال رسول الله ﷺ الی عسكره ومال الاخرون الی عسكرهم وفي اصحاب رسول الله ﷺ رجل لا يدع لهم شاذة ولا فاذة الا اتبعها يضربها بسيفه فقالوا ما اجزأ منا اليوم احد كما اجزأ فلان فقال رسول الله ﷺ اما انه من اهل النار فقال رجل من القوم انا صاحبه ابدا قال فخرج معه كلما وقف وقف معه واذا اسرع اسرع معه قال فجرح جرحا شديدا فاستعجل الموت فوضع نصل سيفه بالارض وذبابه بين ثدييه ثم تحامل على سيفه فقتل نفسه فخرج الرجل الی رسول الله ﷺ فقال اشهد انك رسول الله قال وما ذاك قال الرجل الذي ذكرت انفا انه من اهل النار فاعظم الناس ذالك فقلت انا لكم به فخرجت في طلبه حتی جرح جرحا شديدا فاستعجل الموت فوضع نصل سيفه بالارض وذبابه بين ثدييه ثم تحامل عليه فقتل نفسه فقال رسول الله ﷺ عند ذالك ان الرجل ليعمل عمل

اهل النار فیما یبدو للناس وهو من اهل الجنة [بخاری : ۲۸۹۸،۴۲۰۲. وانظر فی مسلم : ۲۲۸۳]

ترجمه : د سهل بن سعد ساعدیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ او مشرکان مخامخ شو په جنګ کښے او جنګ ئے اوکړو بیا چه هرکله حضور ﷺ خپل لښکر ته واپس شو او هغه خلق هم خپل لښکر طرف ته لاړل نو د حضور ﷺ په صحابه کښے یو سړے وو (د هغه نوم قزمان وو او د منافقانو نه وو) اګا دګا به ئے نه پریخدو بلکه په مخه سړه به ئے قتلول (یعنی د کوم کافر سړه چه به مخامخ شو هغه به ئے قتل کوو) نو صحابه کرامو اووے نن چه زمونږ په کار باندے دا سړے راغے داسے هیڅ څوک نه وو راغلے رسول الله ﷺ اوفرمائیل هغه خو جهنمی دے زمونږ د ملګرو نه یو سړی اووے زهٔ د هغه سره ګرځم (او د هغه خبر اخلم چه هغه د جهنم د تللو قابل څه کار کوی ولے چه په ظاهره کښے خو هغه ډیر د خوند کار کوو) بیا هغه سے د هغه سره اووتو کوم ځائے چه به دے اودریدو هلته کښے به هغه اودریدو او کوم ځائے کښے چه به هغه په منډه باندے تلو نو هلته به دے هم په منډه باندے تلو آخر هغه سړے (یعنی قزمان) سخت زخمی شو او (د زخمونو په تکلیف باندے ئے صبر اونه کړو) زر مړ کیدل ئے غوښتل او د توره موټے ئے په زمکه باندے کینښودو نیغه ئے اودروله سوکه ئے د دوارو سینو په مینځ کښے برابره کړه او د پاسه ئے پرے د بدن زور ورکړو او ځان ئے په خپله باندے اوژلو بیا هغه سړے (کوم چه د هغه سره تلے وو) رسول الله ﷺ ته راغے او وے وئیل چه زهٔ ګواهی ورکوم چه ته د الله تعالی رسول ئے حضور ﷺ اوفرمائیل چه څه اوشو ؟ هغه سړی اووے تا چه اوس کوم سړی ته جهنمی وئیلے وو او خلقو په هغه باندے تعجب کړے و نو ما وئیلے وو چه زهٔ به ستا په واسطه باندے د دهٔ خبر اخلمه بیا زهٔ د دهٔ په تلاش کښے اووتم هغه سخت زخمی شو او د زر مړ کیدو دپاره هغه د توره موټے په زمکه باندے کینښودو او سوکه ئے د خپلو دوارو سینو په مینځ کښے کینښوده بیا ئے زور ورکړو تر دے پورے چه خپل ځان ئے مړ کړو رسول الله ﷺ چه دا واوریدل نو اوے فرمائیل چه د خلقو په نزد باندے د جنتیانو په شان کار کوی او هغه جهنمی وی او د جهنمیانو په شان کار کوی او هغه جنتی وی .

فائده : نو انسان له پکار دی چه په خپلو عملونو باندے غرور نۀ کوی او بهروسه پرے نۀ ساتی بلکه د خدائے نه یریږی او د ښۀ خاتمے دپاره دے دعا کوی دغه شان گنهگار لره نااومیده کیدل نۀ دی پکار کیدے شی چه رب ذوالجلال ددۀ د ژوند خاتمه په ښۀ عمل سره اوکړی۔

(۳۰۷)عن الحسن یقول ان رجلا ممن کان قبلکم خرجت به قرحة فلما اذته انتزع سهما من کنانته فنکاها فلم یرقا الدم حتی مات قال ربکم قد حرمت علیه الجنة ثم مد یده الی المسجد فقال ای والله لقد حدثنی بهذا جندب عن الرسول ﷺ فی هذا المسجد [بخاری : ۳۴۶۳]

ترجمه : دَ حسنؒ نه روایت دے هغه وئیلی دی چه په وړاندے خلقو کښے په یو سړی باندے دانه راووختـه هغـه تـه چه هر کله تکلیف شو نو د خپل ترکش نه ئے یو غشے راواستو او هغه دانه ئے اوخیـرلـه دَ هغے نـه بیـا وینه بنده نۀ شوه تردے پورے چه هغه مړ شو بیا الله تعالی اوفرمائیل ما حرام کړے دے جنت لره په دۀ باندے بیا حسنؒ خپل لاس دَ جماعت په طرف باندے اونیولو او وے وئیل چه قسم په خدائے چه دا حدیث ما ته جندبؓ بیان کړے دے د رسول الله ﷺ نه په دے جماعت کښے

فائده : قاضی عیاضؒ فرمائی چه شاند دے سړی خودکشی لره حلال گنړله یا مراد دادے چه په دۀ باندے جنت حرام دے هغه وخت چه هر کله ښۀ او نیک خلق جنت ته ځی۔ یا به د هغه په حساب کښے اوږدوالے وی یا به هغه اودرولے شی په اعراف کښے۔ نوویؒ وائی چه دا هم کیدے شی چه هغه وخت به شرعه کښے کبیره گناه کوونکے کافر کیدو۔ او دا حدیث محمول دے په دے باندے چه هغه د زړ مړ کیدو دپاره یا بغیر د څه مصلحت نه دا حرکت کړے وو۔ ځکه د دوائی او د علاج دپاره دانه څیرل درست دی هر کله چه د فائدے غالب گمان وی۔

(۳۰۸)عن الحسن یقول حدثنا جندب بن عبد الله البجلی فی هذا المسجد فما نسینا وما نخشی ان یکون کذب علی رسول الله ﷺ خرج برجل فیمن کان قبلکم خراج فذکر نحوه [راجع : ۳۰۷]

ترجمه : دَ حسنؒ نه روایت دے چه مونږه ته جندب بن عبد الله بجلیؓ په دے جماعت کښے حدیث بیان کړے دے بیا مونږ هغے لره نۀ دے هیر کړے او نۀ مونږه ته یره ده چه جندبؓ به دروغ وئیلی وی په رسول الله ﷺ باندے۔ چه فرمائیلی دی رسول الله ﷺ ستاسو نه وړاندے په یو سړی

باندے دانه راواخته بیا ئے قصه بیان کړه په هغه شان لکه چه تیره شوه ۔

باب غلظ تحریم الغلول وانه لایدخل الجنة الا المؤمنون :

باب : مال غنیمت غلا کول سخت حرام دی ۔ او نۀ به داخلیږی جت ته مگر مؤمنان خلق :

(۳۰۹)عن عمر ابن الخطاب قال لما کان یوم خیبر اقبل نفرٌ من اصحاب النبی ﷺ فقالوا فلانٌ شهیدٌ وفلان شهیدٌ حتی مروا علی رجل فقالوا فلانٌ شهیدٌ فقال رسول الله ﷺ کلا انی رایته فی النار فی بردة غلها اوعباءة ثم قال رسول الله ﷺ یا ابن الخطاب اذهب فنادی فی الناس انه لا یدخل الجنة الا المؤمنون قال فخرجت فنادیت الا انه لا یدخل الجنة الا المؤمنون:

[ترمذی : ۱۵۷۴]

ترجمه : دَ عمر بن الخطابؓ نه روایت دے هر کله چه دَ خیبر ورځ شوه نو دَ رسول الله ﷺ یو څو صحابه راغلل او اوئے وئیل چه فلانے شهید دے فلانے شهید دے تر دے پورے چه تیر شو په یو سړی باندے نو اوئے وئیل چه دا شهید دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل هیڅ کله شهید نۀ دے ما هغه لره په جهنم کښے لیدلے دے دَ یو څادر یا دَ عبا په غلا کښے (یعنی دَ غلا په وجه سره) بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل او دَ خطاب څویه پاسه او آواز اوکړه په خلقو کښے چه جنت ته به هغه خوك ځی چه هغه ایمان دار وی (او غلا کوونکے به جنت ته نۀ شی تلے) حضرت عمرؓ وائی چه زۀ لاړم او آواز مے اوکړو په خلقو کښے چه خبردار شی جنت ته نۀ شی تلے مگر مؤمنان ۔

(۳۱۰)عن ابی هریرة قال خرجنا مع رسول الله ﷺ الی خیبر ففتح الله علینا فلم نغنم ذهبا ولا ورقا غنمنا المتاع والطعام والثیاب ثم انطلقنا الی الوادی ومع رسول الله ﷺ عبدٌ له وهبه له رجلٌ من جذام یدعی رفاعة ابن زید من بنی الضبیب فلما نزلنا الوادی قام عبد رسول الله ﷺ یحل رحله فرمی بسهم فکان فیه حتفه فقلنا هنیئا له الشهادة یارسول الله ﷺ قال رسول الله ﷺ کلا والذی نفس محمد بیده ان شملة لتلتهب علیه نارا اخذها من الغنائم یوم خیبر لم تصبها المقاسم قال ففزع الناس فجاء رجل بشراک او شراکین فقال یا رسول الله اصبت هذا یوم خیبر فقال رسول الله ﷺ شراک من النار او شراکان من نار :

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه مونږه د رسول الله ﷺ سره اووتو د خیبر په طرف باندے بیا الله تعالی مونږه ته فتح راکړه نو مونږه لوټ نهٔ کړو سپین او سرهٔ زرو لره (یعنی سپین او سرهٔ زر په لاس باندے رانغلل .) بلکه اولوټل مونږه غله او اسباب او کپړے . بیا مونږه د وادی سره دَ رسول الله سره لاړو د هغه یو غلام وو (چه د هغه نوم مدعم وو) چه بخلے وو هغه ته یو سړی د جذام نه هر کله چه مونږه په وادی کښے کوز شو نو د رسول الله ﷺ غلام پاسیدو او د هغه کجاوه ئے پرانسته چه په هغے کښے یو غیبی غشے راغے په هغے باندے اولګیدو چه : هغے نه دَ هغه مرګ وو خلقو اووے مبارکی دے وی هغه شهید دے یارسول الله ! حضور ﷺ اوفرمائیل چه هرګز نه قسم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښے دَ محمدؐ روح دے هغه شمله به په دے باندے د انګار په شان بلیږی کومه چه دهٔ د مال غنیمت نه دَ خیبر په ورځ اخستے وه . او د هغه وخته پورے غنیمت تقسیم شوے نهٔ وو په دے اوریدو سره خلق اوریدل او یو سړے راغے او یو دوه تسمه یا دوه تسمے ئے راوړے او اوئے وئیل یارسول الله ﷺ ما د خیبر په ورځ باندے دا موندلے وے رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا تسمه یا تسمے دَ انګار دی (یعنی که چرے تا دا داخلے کړے نهٔ وے نو دا تسمه به انګار شوے وو د قیامت په ورځ باندے به پرے تړلے شوے وے . یا تا لره به عذاب درکیدے شو . ددے تسمو د وجے نه .)

فائده :امام نوویؒ فرمانی چه ددے دوارو حدیثونو نه دا احکام راووځی (۱) یو خو غلول یعنی دَ غلا حرام کیدل په مال غنیمت کښے . (۲) دویم فرق نهٔ کول په لږه او ډیره کښے تر دے پورے چه د یوے تسمے غلا هم حرامه ده . (۳) دریم دا چه چا غلا کړے وی هغه ته به شهید نهٔ شی وئیلے . (٤) څلورم دا چه څوك د كفر په حالت كښے مړ شی هغه به جنت ته نهٔ شی تللے . او په دے باندے اجماع ده د مسلمانانو . (٥) پنځم دا چه بغیر دَ ضرورت نه قسم خوړل درست دی ولے چه حضور ﷺ په خپله باندے قسم خوړلے دے (٦) شپږم دا چه چا څه غلا اوکړه د غنیمت په مال کښے نو هغه لوزه هغه څیز واپس کول او داخله ول واجب دی او هر کله چه ئے هغه واپس کړی نو د هغه نه به اخستے شی او د هغه مال به نهٔ شی سیزلے خواه کهٔ هغه ئے واپس کړی یا ئے واپس نهٔ کړی ولے چه حضرت دَ شملے د غل مال نهٔ دے سیزلے او که چرے دا واجب وے نو هغه به

دا سے کړے وو

او هغه چه کوم ذ حدیث نه منقول ده چه کوم بنده ذ غنیمت په مال کښے غلا اوکړی نو د هغه اسباب اوسیزی او هغه اووهی یا یے مر کړی نو دا حدیث ضعیف دے ددے ضعف لره ابن عبد البر بیان کړے دے طحاوی ونیلے دی که چرے هغه صحیح هم وی خو منسوخ شوے دے او دا د هغه وخت حکم دے هر کله چه مالی سزاء جائز وه (یعنی اوس په شریعت کښے مالی سزاء ورکول لکه جرمانه جائداد ضبط کول وغیره نهٔ دی پاتے)

باب الدلیل علی ان قاتل نفسه لا یکفر :

باب : خودکشی کوونکے به کافر نهٔ وی :

(۳۱۱)عن جابر انّ الطّفیل بن عمرو الدّوسیّ اتی النّبی ﷺ فقال یا رسول الله هل لّک فی حصن وحصین ومنعة قال حصنٌ کان لدوس فی الجاهلیّة فابی ذالک النّبیُّ ﷺ دخر اللّٰه لِلانصار فلمّا هاجر النّبیُّ ﷺ اِلی المدینة هاجر الیه الطّفیل ابن عمرو وهاجر معه رجل من قومه فاجتووالمدینة فمرض فجزع فاخذ مشاقص له فقطع بها براجمهٗ فشخبت یداهٗ حتّی مات فراٰه الطّفیل ابن عمرو فی منامه فراٰه وهیئتهٗ حسنةٌ وراٰه مغطّیا یدیه فقال له ما صنع بک ربّک فقال غفرلی بهجرتی الی نبیّه ﷺ فقال له ما له اراک مغطّیا یدیک قال قیل لی لن نّصلح منک ما افسدت فقصّها الطّفیل علی رسول الله ﷺ فقال رسول الله ﷺ اللّهم ولیدیه فاغفر :

ترجمه : ذ جابرؓ نه روایت دے چه طفیل بن عمرو دوسیؓ رسول الله ﷺ ته راغے او عرض نے اوکړو یارسول الله ته یو مضبوط لښکر او قلعه غواړے (د هغه قلعے په باره کښے نے اووے کوم چه د دوس وو د جاهلیت په زمانه کښے) هغه قبول نهٔ کړو ددے وجے نه چه الله تعالی د مدینے د انصارو په حصه کښے دا خیره لیکلے وه. (چه رسول الله ﷺ دهغوی سره پاتے شی ذ هغوی په حمایت او حفاظت کښے) نو هر کله چه رسول الله ﷺ د مدینے په طرف باندے هجرت اوکړو نو طفیل بن عمروؓ هم د هغوی سره هجرت اوکړو او د هغه سره د هغه د قوم یو سړی هم هجرت اوکړو بیا د مدینے هواء هغه ته ناموافق شوه (او د هغه په ګیډه کښے درد پیدا شو) هغه سړے چه

کوم طفیل سره راغلے وو نا جوړه شو او د تکلیف د وجے نه هغه چوړی د غشو واخسته او د خپلو گوتو جوړونه نے کټ کړل او د دواړو لاسونو نه نے وینه بهیدل شروع شو تر دے پورے چه هغه مړ شو بیا طفیل بن عمرو هغه لره په خوب کښے اولیدو او د هغه شکل ښۀ وو مگر خپل دواړه لاسونه نے پټ کړے وو طفیل ترے نه تپوس اوکړو چه ستا رب تا سره څه سلوك اوکړو هغه اووے چه بخنه نے اوکړه ماته ځکه چه ما هجرت کړے وو د هغه د پیغمبر ﷺ په طرف باندے. طفیل اووے چه څه وجه ده زۀ وینم چه تا خپل لاسونه پټ کړے دی هغه سړی اووے چه ما ته حکم اوشو چه مونږه دا نۀ صحیح کوو کوم چه تا په خپله باندے وران کړے او خراب کړے دی. بیا طفیل بن عمرؓو دا خوب نبی کریم ﷺ ته بیان کړو حضور ﷺ اوفرمائیل چه اے خدایه ! ددۀ دواړه لاسونه هم اوبخے لکه څنگه چه تا دَ هغه نور بدن باندے کرم فرمائیلے دے دَ هغه دواړه لاسونه هم درست کړے.

فائده : امام نوویؒ فرمائی چه په دے حدیث کښے دلیل دے دَ هغ لوے فائدے چه اهل سنتو خپله کړے ده چه کوم بنده خپل ځان په خپله باندے مړ کړی یا بل څه گناه اوکړی او بیا بغیر د توبے ایستلو نه مړشی. نو هغه کافر نۀ دے ورنه دا ضرور ده چه هغه به جهنم ته ځی بلکه هغه د خدائے پاك په مرضی باندے ده او پورته دا قاعده بیان شوے ده . ددے نه دا ثابته شوه چه گناهگار به عذابیږی او د گناهونو نه به ورته نقصان رسیږی. او په دے باندے رد کړے دے مرجیو هغوی وائی د ایمان سره د گناهونو څه ضرر نۀ وی، په تحفت الاخیار کښے دی چه ددے حدیث نه لوے فضیلت د هجرت ثابت شو ددغه سړی د خپلو وژلو نیت نۀ وو چه حرام مرگ شی. د تکلیف نه دا حرکت شوے وو. یا کیدے شی چه د هلاکت نیت نے وو مگر دَ هجرت په برکت او د هجرت په دعا سره اوبخلے شو.

باب فی الریح التی تکون فی قرب القیامة تقبض من فی قلبه شیئ من الایمان :

باب : دَ هغے هواء بیان چه قیامت ته نزدے به راوالوزی او مړبه کړی هر هغه

سری لره چه دَ هغه په زړهٔ کښې دَ رتې برابر هم ایمان وی۔

(۳۱۲)عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ان الله یبعث ریحا من الیمن الین من الحریر فلا تدع احدا فی قلبه قال ابو علقمة مثقال حبة وقال عبد العزیز مثقال ذرة من ایمان الا قبضته :

ترجمه : دابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے وو البته الله تعالیٰ به راوالوزوی هوا لره دَ یمن دَ ملك دَ طرف نه چه هغه به دَ ریښمو نه هم زیانه نرمه وی بیا به دا هوا نهٔ پریږدی هغه بنده لره چه دَ هغه په زړهٔ کښې ددانے برابر یا دَ رتې برابر هم ایمان وی یعنی هغه به اوژنی .

فائده :. نو خوك ایماندار به باقی په دنیا کښې پاتے نهٔ شی. دغه وخت کښے به قیامت شی نووی فرمائی چه ددے مضمون احادیث نور هم راغلے دی لکه دا حدیث چه قیامت به تر هغه وخته پورے نهٔ قائمیږی تر کومے پورے چه الله الله ویونکی باقی پاتے وی. یا دا حدیث چه قیامت به نهٔ قائمیږی مگر په بدترینو خلقو باند او دا تمام احادیث په خپل ظاهر باندے محمول دی.

او هغه چه کوم بل حدیث کښے راغلے دی چه یو ډله زما د امت به په حق باندے قائم وی دَ قیامت دَ ورځے پورے به دَ هغے مخالف نه وی ولے چه مراد ددے نه دادے چه هغه ډله به قائم وی تر دے پورے چه هغه هواء به هغه تمام کړی نو بیا به قیامت قائمیږی . او دا چه ئے وئیلے دی چه دَ چا په زړهٔ کښے دَ رتې برابر یا دَ دانے برابر ایمان وی نو ددے نه هغه مذهب ثابت شو کوم چه صحیح دے چه ایمان زیاتیږی او کمیږی او دَ ریښمنو نه زیات د نرمیدو نه غرض دادے چه هغه هوا به نرمه او مزیداره وی او په یو بل حدیث کښے داسے دی چه هغه هواء به دَ شام دَ طرف نه چلیږی ددے جواب دادے چه ښیدے شی چه دغه وخت دوه هواګانے چلیدے یوه دَ یمن دَ طرف نه او بله دَ شام دَ طرف نه یا یوه هوا وی خو شروع کیږی دَ یمن نه او بیا به خوریږی دَ شامه پورے .
والله اعلم

باب الحث علی المبادرة بالاعمال قبل تظاهر الفتن :

باب : دَ فتنے او فساد خوریدو نه وړاندے دَ نیك عملونو په ځائے راوړلو باندِ

ترغیب :

(۳۱۳)عن ابی هریرة ان رسول الله ﷺ قال بادروا بالاعمال فتنا كقطع الليل المظلم يصبح الرجل مومنا ويمسي كافرا او يمسي مؤمنا ويصبح كافرا يبيع دينه بعرض من الدنيا :

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زر زر نیك كار كوی د هغه فتنو نه وړاندے چه هغ د تیارۀ د شپے د حصو په شان دی سحر به سړے ایماندار وی او ماښام به كافر وی یا به ماښام مؤمن وی او سحر به كافر وی او خپل دین به خو څوی د دنیا د څه غرض په بدله كښے

فائده : یعنی ددنیا طمعه به په دغه وخت كښے دومره غالبه شی چه د ایمان محبت به زړۀ كښے پاتے نۀ شی دَ لږے شان دنیاوی فایدے دپاره انسان ایمان لره پریږدی او كفر اختیار كړی دا خبره زمونږه په زمانه كښے ډیره زیاته خوره شوه چه د ایمان قدر او منزلت بالكل پاتے نۀ شو او چاته چه گورے د دنیا طلب گار دے. ډیرو خلقو لره اولیدے شول چه وړاندے دیندار مسلمانان وو بیا ددنیا په طمعه باندے كافران شوے دی. او كفر ئے اختیار كړے دے څوك نصرانی جوړ شو څوك دهریه الله تعالی دے مونږه محفوظ اوساتی . نوویؒ وائی چه مراد دادے چه په دغه زمانه كښے به فتنے داسے پرله پسے وی چه د ایمان بچ كول به مشكل وی. په یوه ورځ كښے دننه به داسے انقلاب وی چه سحر به بنده مؤمن وی او ماښام به كافر وی او سحر به مسلمان شی. په تحفة الاخیار كښے دی چه په دے حدیث كښے د هغه فسادونو خبر دے كوم چه: یزید او د سلطنت مروانیه په زمانه كښے واقع شول په دے حدیث كښے ارشاد دے چه فرصت دے بنده غنیمت اوگمری او د پریشانی نه دے مخكښے څه نیك عمل چه تر ے نه كیږی هغه دے اوكړی.

باب مخافة المؤمن من ان يحبط عمله :

باب : مؤمن لره د خپلو عملونو دَ ختمیدو نه یریدل پكار ده :

(۳۱۴)عن انس ابن مالک انه لما نزلت هذه الآية يا ايها الذين آمنوا لا ترفعوا اصواتكم فوق صوت

النبی الی آخر الآیة : جلس ثابت فی بیته وقال انا من اهل النار واحتبس عن النبی ﷺ فسال النبی ﷺ سعد بن معاذ فقال یا ابا عمرو ما شان ثابت اشتکی فقال سعد انه لجاری وما علمت له بشکوی قال فاتاہ سعد فذکرہ له قول رسول الله ﷺ فقال ثابت انزلت هذه الآیة ولقد علمتم انی من ارفعکم صوتا علی رسول الله ﷺ فانا من اهل النار فذکر ذالک سعد للنبی ﷺ فقال رسول الله ﷺ بل هو مؤمن من اهل الجنة :

ترجمه : دَ انس بن مالک نه روایت دے هرکله چه آیت نازل شو " یا ایها الذین امنوا لا ترفعوا اصواتکم فوق صوت النبی " د آخره پورے نو ثابت بن قیس بن شماس په خپل کور کښے ناست وو او دائے اووے چه زهٔ جهنمی یمه (ولے چه د هغه آواز ډیر اوچت وو او هغه خطیب وو دانصارو) خکه هغه پریدو اونهٔ راتللو د رسول الله ﷺ خواله حضور ﷺ د سعد بن معاذ نه تپوس اوکړو چه اے ابا عمرو د ثابت څه حال دے ولے ناجوړه شوے دے" بیا سعد د ثابت خواله راغے او هغوی ته نے دا بیان اوکړو کوم چه رسول الله ﷺ فرمائیلے وو ثابت اووے دا آیت نازل شو او تاسو ښهٔ پوهیږئ چه په تاسو ټولو کښے زما آواز تیز دے په رسول الله ﷺ باندے . نو زهٔ جهنمی یمه بیا سعد دا خبره رسول الله ﷺ ته بیان کړه حضور ﷺ اوفرمائیل نه بلکه هغه خو مؤمن دے د جنت والاؤ نه دے .

(۳۱۵)عن انس بن مالک قال کان ثابت ابن قیس ابن شماس خطیب الانصار فلما نزلت هذه الآیة بنحو حدیث حماد ولیس فی حدیثه ذکر سعد ابن معاذ :

ترجمه : په دوېم رایت کښے هم دغه شان دی چه ثابت بن قیس بن شماس د انصارو خطیب وو بیا چه هر کله دا ایت نازل شو د اخره پورے او په دے کښے د سعد بن معاذ ذکر نشته دے .

(۳۱۶)عن انس بن مالک قال لما نزلت یا ایها الذین امنوا لا ترفعوا اصواتکم فوق صوت النبی ولم یذکر سعد ابن معاذ فی الحدیث :

ترجمه : دا حدیث هم ډیرے مخکښے حدیث په شان دے .

(۳۱۷)عن انس بن مالک قال لما نزلت هذه الآیة وقتص الحدیث ولم یذکر سعد ابن معاذ وزاد

قال فكنّا نراه يمشي بين اظهرنا رجل من اهل الجنة

ترجمه : په دې روايت كښې هم د سعد بن معاذ ذكر نشته دے او دومره زياتوالے په دے روايت كښې دے چه انس وائي ثابت زمونږ خلقو په مينځ كښې روان وو مونږه به هغه ته كتل چه يو سړے جنتي په مونږ كښې روان دے

باب هل يؤاخذ باعمال الجاهلية :

باب : هر كله چه څوك مسلمان شي نو آيا د كفر د وخت په عملونو باندے به مواخذه وى ؟

(۳۱۸)عن عبد الله قال قال اناسٌ لرسول الله ﷺ يا رسول الله انؤاخذ بما عملنا في الجاهلية قال اما من احسن منكم في الاسلام فلا يؤاخذ بها ومن اساء اخذ بعمله في الجاهلية و الاسلام. [بخارى : ۲۹۲۱]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعودؓ نه روايت دے څه خلقو اووے رسول الله ﷺ ته يا رسول الله ﷺ زمونږ نه به تپوس كيږى ؟ د هغه كارونو كوم چه مونږه د جاهليت په زمانه كښې كړے دى حضور ﷺ اوفرمائيل په تاسو كښې چه چا په ښۀ شان سره اسلام قبول كړو (يعنى د زړۀ نه رښتونے مسلمان شو) د هغه نه به د جاهليت د عملونو تپوس نۀ كيږى او كوم چه بد دے (يعنى صرف په ظاهر كښې مسلمان وى او په زړۀ كښې ئے كفر پاتے وى) د هغه نه به تپوس كيږى د جاهليت او د اسلام دواړو د وختونو كارونو .

فائده : ولے چه هغه په كفر باندے قائم پاتے شو او په حقيقت كښې هغه مسلمان نۀ شو بلكه منافق شو نووى وائي چه اسلام غورځوى وړومبے د كفر د زمانے تمام گناهونه يعنى د اسلام د قبلولو نه پس معاف كيږى او په دے باندے د مسلمانانو اجماع ده .

(۳۱۹)عن عبد الله قال قلنا يا رسول الله ﷺ انؤاخذ بما عملنا في الجاهلية فقال من احسن في الاسلام لم يؤاخذ بما عمل في الجاهلية ومن اساء في الاسلام اخذ بالاول والآخر : [بخارى : ۶۹۲۱، ابن ماجه : ۴۲۴۲]

ترجمه : دَ عبد الله ابن مسعودؓ نه روايت دے مونږه غرض اوکړو يا رسول الله ز مونږ نه به بدله اخستے شي د هغه كارونو كوم چه د جاهليت په وخت كښے مونږه كړے دي حضور ﷺ اوفرمائيل چاچه نيكي اوكړه په اسلام كښے د هغه نه به د جاهليت د وخت د كارونو بدله نۀ شي اخستے او چاچه بد اوكړل په اسلام كښے د هغه نه به بدله اخستے شي د وړومبنو (يعني د كفر د وخت) او دَ ورستو (يعنى د اسلام د وخت) دَ دواړو وختونو دكارونو .

(۳۲۰) اخبرنا على بن مسهر عن الاعمش بهذا الاسناد مثله : [راجع : ۳۱۹]

ترجمه : اعمش هم په دے سند سره هم دغه روايت بيانوى دَ تير شوے حديث په شان .

باب كون الاسلام يهدم ما قبله وكذا الهجرة و الحج

باب : اسلام، حج، اودَ هجرت سره دَ مخكينو گناهونو معاف كيدل :

(۳۲۱)عَنِ ابْنِ شَمَاسَةَ الْمَهْرِىّ قَالَ حضرنا عمرو ابْنَ الْعَاصِ وهو فِى سياقة الْموت يبْكى طويْلا وحوّل وجْهَهُ اِلى الْجدار فجعل اِبنهُ يقولُ لهُ ما يبْكيك يا ابَتَاهُ اما بشّرك رسولُ اللّه ﷺ بكذا اما بشّرك رسولُ اللّه ﷺ بكذا قال فاقبل بوجهه فقال افْضل ما نعدُّ شهادةُ ان لا اله الّا اللّهُ وانّ محمّدا رّسولُ اللّه ﷺ انّى قدْ كُنتُ على اطْباق ثلاث لقدْ رايْتُنِىْ وما احدٌ اشدّ بُغضا لرسُول اللّه ﷺ منّى ولا احبّ اِلىّ ان اكُوْن قد اسْتمكنْتُ منه فقتلْتُهُ فلوْ مُتُّ على تِلْك الْحالِ لكُنْتُ منْ اهْلِ النّارِ فلمّا جعل اللّهُ عزّ وجلّ الْاِسْلام فى قلْبى اتيْتُ النّبىّ ﷺ فقُلْتُ ابْسُطْ يمينك فلأبايعك فبسط يمينهُ قال : فقبضْتُ يدىْ قال مالك يا عمْرو قال قُلْتُ اردتُ ان اشْترط قال تشْترطُ بماذا قُلْتُ ان يّغفرلِى قال اما علمت انّ الْاِسْلام يهْدمُ ما كان قبْلهُ وان الْهِجْرة تهْدمُ ما كان قبْلها وانّ الْحجّ يهْدمُ ما كان قبْلهُ وما كان احدٌ احبّ اِلىّ منْ رسُول اللّه ﷺ ولا اجلّ فِى عيْنِى منْه وما كُنتُ اُطِيْقُ ان املأ عيْنىّ مِنْهُ اجْلالا لّهُ ولو سُئلْتُ ان اصفهُ ما اطقْتُ لانّى لمْ اكُنْ املأُ عيْنىّ منه ولو متُّ على تلْك الْحال لرجوْتُ ان اكُوْن منْ اهْلِ الْجنّة ثمّ وليْنا اشْياء ما ادْرِى ما حالِىْ فِيْها واذا انا مُتُّ فلا تصْحبْنِى

سانحة ولا نار فاذا دفنتمونی فسنوا علیّ التراب سنّا ثم اقیموا حول قبری قدر ما تنحر جزور ویقسم لحمها حتی استانس بکم وانظر ماذا اراجع به رسل ربی

ترجمه : ابن شماسهؒ (عبد الرحمن بن شماسه بن ذئب) مهری نه روایت دے چه مونږه: عمرو بن العاصؓ خواله لاړو او هغه مرګ ته نزدے وو نو ډیر وخته پورے نے اوژړل او خپل مخ نے واړولو دیوال طرف ته نو د هغه خوی یعنی خپل خوی ورته اووے بابا ! نه ولے ژاړے؟ ولے تاته رسول الله ﷺ دا خوشخبری نۀ ده درکړے بیا هغه ورته خپله خلۀ نزدے کړه او ورته نے اووے په ټولو خبرو کنبے مونږه غوره ګنړو ددے خبرے ګواهی ورکول چه نشته دے معبود برحق مګر یو الله دے او محمد د هغه رالیږلے شوے دے او په ما باندے درے حاله تیر شوے دی یو حال داوو چه ما په خپله باندے اولیدو چه د رسول الله ﷺ نه مے زیات بد څوك نۀ ګنړلو او زما دا آرزو وه چه په څه شکل به نے قابو کړم او قتل به نے کړم (معاذالله) بیا که چرے زۀ مړوے په دے حال کنبے نو جهنمی به ووم دویم حال داوو چه الله تعالی د اسلام محبت زما په زړۀ کنبے واچوو او زۀ رسول الله ﷺ ته راغلم ما اووے چه خپل ښے لاس رادیخوا کړه چه زۀ ستانه بیعت اوکړم حضور ﷺ خپل لاس رادیخوا کړو نو ما ترے نه خپل لاس واپس رادیخوا کړو رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے عمرو ناله څه اوشو ما اووے چه زۀ شرط کول واړم حضور ﷺ اوفرمائیل څه شرط ما اووے دا شرط چه زما ګناهونه معاف شی (کوم چه مے تر اوسه پورے کړے دی) هغه اوفرمائیل اے عمرو ته نه پوهیږے چه اسلام غورځوی ورومنی ګناهونو لره دغه شان حج غورځوی ورومنی ګناهونو لره او هجرت غورځوی ورمنو ګناهونو لره بیا د رسول الله ﷺ نه زیات زما ذ چا سره زیات مهمت نۀ وو او نۀ زما په نظر کنبے د هغه نه زیات د چا شان وو او ما به په غټو سترګو هغه نه نۀ شو کتلے د هغه د جمال او جلال د وجے نه او که څوك زمانه ذ هغه ذ صورت تپوس اوکړی نو زۀ نے بیانولے نۀ شم ولے چه ما به په غټو سترګو هغ ته کتلے نۀ شو او کۀ په هغه حال کنبے زۀ مړوے نو امید وو چه جنتی ووم ورستو ماته په څه نورو څیزونو کنبے اختل پریوتل زۀ نۀ پو هیږم چه زما به څه حال وی د هغے په وجه سره . نو هر کله چه زما ذ جنازے سره دے څوك ژړا کونکے او چغے وهلو والا نۀ وی او نۀ دے اور وی او هر کله چه زۀ دفن شم نو خاوره په ما باندے

واچوی په ښهٔ شان سره او زما د قبر نه چاپیره اودریږ د دومره وخته پورے چه څومره وخت کښے چه اوښ ذبحه کولے او ویشلے شی د هغے غوښه ددے دپاره چه زما زړهٔ خوشاله شی ستاسو نه۔ (او زهٔ په تنهایی کښے ګهبراو نهٔ شم) اوګورم چه د پروردګار وکیلانو نه به زهٔ څه جواب ورکووم

فائده : یعنی منکر نکیر لره نووی فرمائی چه ددے حدیث نه ډیر خبرے معلومے شوے یو خو دا چه څوک مرګ ته نزدے شی هغه ته تسلی او تشفی ورکول پکار دی۔ او د امید او د عفوے او د کاشالی اینونه ورته اوره ول پکار دی لکه چه د عمرو بن العاص خوی اووے او دا مستحب دی په اتفاق سره۔ دویمه دا چه صحابه کرامو به د رسول الله ﷺ څومره عزت حرمت کولو۔ دریمه دا چه د جنازے سره ژړلو والا او اور اوړل منع دی۔ او عالمانو دے لره مکروه کړی دی۔ لیکن نوحه کول خو حرام دی او اور اوړل خو مکروه دی په وجه ددویم حدیث باندے او سبب د کراهت دا دے چه دغه عادت دے د جاهلیت د زمانے او ابن حبیب مالکی وائی چه په اور ایخودو کښے شګون بد دے د مړده دپاره خلورم دا چه چه خاوره اچول په قبر باندے مستحب دی پنځم دا چه په قبر باندے کیناستل نهٔ دی پکار لکه چه په بعضو ملکونو کښے دستور دے شپږمه دا چه په قبر کښے د مړده امتحان وی او فرښتے د هغه نه سوال کوی او دا د اهل حق مذهب دے۔ اووم دا چه د دفن کیدو نه پس د لږ ساعت دپاره د قبر په خوا کښے اودریدل پکار دی او دا مستحب دی۔ اتم دا چه مړده په کیل قبر بادے د حاضریدونکو آواز اوری نهم دا چه د مشترکے غوښے بانټ کول درست دی دغه شان د شنو میوو لکه انګور او په دے کښے زمونږه د اصحابو اختلاف دے چه مشهور دے۔ انتهی مختصرا

(۳۲۲) عن ابن عباس انّ اناسا من اهل الشرک قتلوا فاکثروا وزنوا فاکثروا ثم اتوا محمدا ﷺ فقالوا انّ الّذی تقول وتدعوا الیه لحسن ولو تخبرنا انّ لما عملنا کفارة فنزل والّذین لا یدعون مع اللّٰه الٰها آخر ولا یقتلون النّفس الّتی حرّم اللّٰه الا بالحق ولا یزنون ومن یفعل ذالک یلق اثاما : ونزل یا عبادی الّذین اسرفوا علی انفسهم لا تقنطوا من رّحمة اللّٰه۔ | ۹۲ : الزمر : ۵۳ || بخاری : ۴۸۱۰، ابوداود : ۴۲۷۴، نسائی : ۴۰۱۵ |

ترجمه : دَ عبد الله ابن عباس ؓ نه رایت دے په مشرکانو کښے څو خلقو (د شرك په حالت کښے) ډیر قتلونه کړے وو او ډیرے زناګانے ئے کړے وے نو هغه رسول الله ﷺ له راغلل او عرض ئے اوکړو تهٔ چه څه وائے او د کومے لارے طرف ته رابلل کوے هغه ښهٔ ده. او کهٔ چرے تهٔ مونږه ته ښائے زمونږه دَ ګناهونو کفاره نو مونږه اسلام راوړو دغه وخت دا آیت نازل شو "والذین لا یدعون مع الله الها آخر" د آخره پورے یعنی کوم خلق چه د الله تعالی سره بل معبود نهٔ ګڼړی او دَ کوم روح قتلول چه الله تعالی حرام کړے دی هغه نهٔ قتلوی مګر دَ چا د حق په بدله او زنا نهٔ کوی او څوك چه دا کارونه (یعنی قتل او زنا او شرك کوی) نو هغه به بدله اوموومی او دهٔ له به دردناك عذاب وی دَ قیامت په ورځ باندے او همیشه به اسیری په عذاب کښے په ذلت سره. خو چه چا ایمان راوړو او توبه ئے ویسته او نیك کارونه ئے کول نو د هغه بدی ورانیری او نیکی ترے نه جوړیری او الله تعالی مهربان دے بخونکے دے (او الله تعالی هغه خلقو ته اوښوده چه تاسو اسلام راوړی نو ستاسو وړومبی ټول ګناهونه به د شرك دَ زمانے نه معاف شی) او دا آیت نازل شو "یا عبادی الذین اسرفوا علی انفسهم" تر د آخر پورے یعنی اے زما بندګانو چاچه ګناهونه کړے دی مهٔ نااميده کیږی د الله درحمت نه.

باب بیان حکم عمل الکافر اذا اسلم بعده :

باب : کافر کهٔ چرے دَ کفرپه حالت کښے نیك کار کوی بیا مسلمان شی دَ هغے دَ حکم بیان :

(۳۲۳) عَنْ حکیم ابن حزام اخبرہ انه قال لرسول اللهِ ﷺ ارأیتَ اُمُوْرًا کُنْتُ اتحنثُ بِهَا فِی الْجاهلیّة هل لِی فیها مِنْ شیْ ؟ فقال له رسُول الله ﷺ اَسْلمْتَ علی مَا اَسْلفْتَ مِنْ خیْرٍ وَالتّحنّثُ التّعبُّدُ :[بخاری : ۱۴۳۶، ۲۲۲۰، ۲۵۳۸، ۵۹۹۲]

ترجمه : حکیم بن حزام ؓ نبی کریم ﷺ ته عرض اوکړو چه تاته پته شته چه ما دَ جاهلیت په زمانه کښے چه ما کوم د عبادت کار کړے دے (یعنی نیك مے ګڼلے دَ ګناه نه دَ وتو دپاره) دَ هغه ثواب به ماته میلاویږی (یعنی دَ کفر د زمانے نیك کار خو به بے کاره نهٔ ځی هغه اوفرمائیل تا

اسلام راوړو په وړومبو تولو نيکو باندے چه يا کړے دی

فائده: يعنى هر کله چه ته مسلمان شوے نو ستا د کفر د زمانے نيکى هم بے کاره نۀ شی بلکه د هغے تمامو ثواب به ورکولے شی البته که چرے ته مسلمان شوے نۀ وے او د کفر په حالت کښے مړوے نو ستا تمامے نيکى به برباد شوے وے دا مطلب د حديث نه اوخى او دا قول دے د محققينو چه کافر که چرے مسلمان شی نو د هغه. هغه نيک کار چه هغه نے د کفر په حالت کښے کړے وی بے کاره نۀ شی او خدائے پاك به په هغے باندے ثواب ورکوی په دليل د هغه حديث چه دارقطنى د ابو سعيد خدرى نه نقل کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی هر کله چه يو کافر مسلمان شی او بيا د هغه اسلام ښۀ وی نو الله پاك به د هغه هرے نيکى لره اوليکى کومے چه نے کړے وی. او هره بدی به نے ورانه کړی کومه چه نے کړے وی او د اسلام د راوړلو نه پس چه کومه نيکى کوی نو د يوے نيکى په بدله کښے به د لسو نه تر د اوۀ سوو پورے ثواب ملاوېږی. او د هرے بدی په بدله به يوه بدی لکلے شی. خو هر کله چه خدائے دے لره هم معاف کړی نو يوه بدی به نے هم نۀ شی ليکلے

امام ابو عبدالله مازرى فرمائی ظاهر حديث خلاف دے د دے قاعدے نه کومه چه مقرر شوے ده چه د کافر تقرب صحيح نۀ دے بيا به د هغه په نيکى باندے ثواب هم نۀ وی. او ايمان راوړل د هغه اطاعت دے نۀ تقرب ځکه چه په تقرب کښے شرط دے چه د چاسره تقرب کوی نو هغه پيژنی او هغه د کفر په حالت کښے خدائے هم برابر پيژندلے نۀ وو په دے صورت کښے د حديث تاويل کول ضروری دی يعنى مطلب دادے چه د کفر په زمانه کښے چه تا کومے نيکى کړے وے د هغے په وجه سره ستا طبيعت نېك شوے وو او په تا کښے د نيل کار عادت پيدا شو او بيا تۀ په دغه عادت او طبيعت سره په اسلام کښے هم فائده اخستے شے. ولے چه هغه بوځى تالره د نيکو کارونو طرف ته يا مطلب دادے چه د دغه نيکو په وجه سره تۀ مستحق شوے د تعريف چه هغه د اسلام په حالت کښے هم باقی دے يا دا مطلب دے چه د اسلام په حالت کښے به تا ته د نيکو ثواب د نورو نه زيات ملاوېږی ولے چه تا وړاندے هم نيك کار کړے دے. او هر کله چه کافر لره د نيك عملونو په وجه سره په عذاب کښے سپك والے راځی نو د ثواب زياتېدل څه ګران نۀ

دی. تمام شو کلام د مازری :

قاضی عیاض ونیلی دی بعضے وائی چه مطلب د حدیث دادے چه د ورومبو نیکو په برکت سره خدائے تاته د اسلام هدایت اوکړو او نیکی په اول کښے دلیل دے د نیے خاتمے او د سعادت د انجام (انتهیٰ) لیکن صحیح هغه دے کوم چه ابن ابطال وغیره ونیلی دی چه حدیث محمول دے په ظاهر باندے ابن ابطال وائی الله تعالی ته اختیار دے چه په خپلو بندګانو باندے څومره چه غواړی او په څه شان له چه غواړی عنایت کوی. او چاته هم په دے کښے د اعتراض مجال نشته دے. او فقهاؤ چه کوم ونیلی دی چه د کافر عبادت صحیح نه دے او که چرے هغه اسلام راوړی نو د هغے عبادت اعتبار به نۀ وی. ددے مطلب دادے چه د دنیا د د احکامو په رو سره د هغوی عبادت صحیح نۀ دے او د آخرت ثواب د الله پاك په اختیار کښے دے اوس که چرے څوك داسے اوائی چه په آخرت کښے به هم په دے باندے ثواب نۀ وی نو د هغه قول به رد کیدے شی. ددے صحیح حدیث نه او د کفارو د بعضے افعالو خو په دنیا کښے هم اعتبار وی.

په خپله باندے فقهاؤ ونیلی دی چه که چرے په کافر باندے په حالت د کفر کښے څه کفاره لکه د ظهار وغیره کفاره واجب وی بیا هغه دے لره اداء کړی د کفر په حالت کښے نو پوره به شی، او اختلاف کړے دے شوافعو . چه که چرے د کفر په حالت کښے جنب شو او بیا ئے غسل اوکړو د کفر په حالت کښے او ددے نه پس مسلمان شو نو دوباره غس کول لازمی دی یا نۀ دی. او زمونږ بعضو ملګرو په دے کښے مبالغه کړے ده چه د کافر هر یو طهارت صحیح دے که غسل وی یا اودس وی یا تیمم وی . او د اسلام د راوړلو نه پس په هغه پاکوالی سره مونځ کول درست دی.
انتهی ما قال النووی :

مترجم وائی چه اسلام راوړل یو داسے لوے نعمت دے چه خدائے پاك په مقابله کښے ددے بل نعمت نۀ دے پیدا کړے . د کومے پورے چه ددے نعمت په وجه سره فائدے حاصلیږی لرے نۀ دی. او د کافر کوم نیك عملونه چه ضائع کیږی نو هغه ددے په وجه سره چه د هغه مرګ په کفر باندے وی او اعتبار آخرے خاتمے لره دے. بیا چه هر کله خاتمه نیکه شی او انسان کفر پریږدی او مسلمان شی نو خدائے پاك د هغه محنت نۀ ضائع کوی او د هغه په نیکو کارونو باندے به ضرور

ثواب ورکوی ۔ دویمه دا چه که چرے رسول اللہ ﷺ د کفر نیکی د اسلام د راوړلو نه پس لغوه کولے نو خلقو ته به خفگان وو او د اسلام د طرف نه به ئے رغبت اوریدو ۔ حالانکه اصلی مقصد د هغه داوو چه په خلقو کښے د اسلام شوق پیدا شی۔ په دے وجه سره هغه اوفرمائیل چه د اسلام په راوړلو سره خوګناهونه تول ختم شی او نیکی باقی پاتے وی هغه هیڅ کله نۀ ختمیږی۔

سبحان اللہ د خداوند کریم عنایت او محبت د خپلو بندګانو سره څنګه دے. اللہ تعالی دے هر یو بنده ته د ایمان هدایت اوکړی او زمونږ او د تمامو مسلمانانو خاتمه دے په خیر سره کړی ۔ اے زمونږه ربه تۀ زمونږه خاتمه هم بنۀ په ایمان سره کړے آمین ۔

(۳۲۴)عَنْ حَكِيْمِ بْنِ حِزَامٍ اَخْبَرَهُ اَنَّهُ قَالَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ اُمُوْرًا كُنْتُ اَتَحَنَّثُ بِهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ مِنْ صَدَقَةٍ اَوْ عَتَاقَةٍ اَوْ صِلَةِ رَحِمٍ اَ فِيْهَا اَجْرٌ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَسْلَمْتَ عَلٰى مَا اَسْلَفْتَ مِنْ خَيْرٍ .[راجع : ۳۲۳]

ترجمه : دَ حکیم بن حزامؓ نه روایت دے هغوی اووے رسول اللہ ﷺ ته یا رسول اللہ په دے کښے ته څه وائے چه کوم نیک کارونه ما دَ جاهلیت په زمانه کښے کړے دی لکه صدقه ، او دَ غلام آزادول یا صله رحمی کول دَ هغے ثواب به ماله راکولے شی ؟ حضور ﷺ اوفرمائیل تا اسلام راوړے دے په هغه نیکی باندے کومے چه تا مخکښے کړے دی (یعنی هغه نیکی قائمه ده لوس هغه په اسلام کښے زیاته شوه.

(۳۲۵)عَنْ حَكِيْمِ ابْنِ حِزَامٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَشْيَاءَ كُنْتُ اَفْعَلُهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ قَالَ هِشَامٌ يَعْنِي اَتَبَرَّرُ بِهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَسْلَمْتَ عَلٰى مَا اَسْلَفْتَ لَكَ مِنَ الْخَيْرِ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا اَدَعُ شَيْئًا صَنَعْتُهُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ اِلَّا فَعَلْتُ فِي الْاِسْلَامِ مِثْلَهُ .[راجع : ۳۲۳]

ترجمه : حکیم او بن حزام اووے یا رسول اللہ څه کارونه دی چه ما به دَ جاهلیت په زمانه کښے کول هشام اووے یعنی نیک کار رسول اللہ ﷺ اوفرمائیل اسلام راوړو ته په هغه نیکو باندے کومے چه تا کولے مخکښے . ما اووے یا رسول اللہ نو قسم په خدائے پیا چه ما څو مره کارونه دَ جاهلیت په زمانه کښے کړے دی د هغه نه یو هم نۀ پریږدم دے تولو لره نه بیا دوباره د

اسلام په حالت کښې په ځانې باندې راوړم (ځکه چه د جاهلیت زمانه د اسلام د وخت نه مخکښې
نه شی د نیکو په زیاتوالی کښې)

(۳۲۲)عن عروة عن ابیه ان حکیم ابن حزام اعتق فی الجاهلیة مائة رقبة و حمل علی مائة بعیر ثم
اعتق فی الاسلام مائة رقبة و حمل علی مائة بعیر ثم اتی النبی ﷺ فذکر نحو حدیثهم :

[راجع : ۳۲۳]

ترجمه : د عروة نه روایت دے حکیم بن حزام د جاهلیت په زمانه کښې سل غلامان آزاد کړے
وو لو سل اوښان ئے د سورلی دپاره ورکړے وو بیا هغه د اسلام په حالت کښې هم سل غلامان آزاد
کړل او سل اوښان ئے د سورلی دپاره د خدائے پاك په لاره کښې ورکړل. ددے نه پس رسول الله ﷺ
له راغے او بیان ئے کړو هغه حدیث لره په دے شان سره لکه څنګه چه پورته ذکر کړے شوے دی.

فائده : نووی فرمائی چه حکیم بن حزام مشهور صحابی دے هغه په کعبه کښې دننه
پیدا شوے وو دا فضیلت بل چاته نه دے ملاو شوے او یوه عجیبه خبره داده چه هغه ترشپیتو
کالو پورے په جاهلیت کښې تیر کړے و بیا د شپیتو کالو پورے د اسلام په حالت کښې ژوندے وو
. لو هغه مسلمان شو نو په هغه کال باندے مکه فتح شوه او په ۸۴ هجری کښې په مدینه منوره
کښې وفات شو نو د اسلام په حالت کښې د شپیتۀ کاله د ژوند نه مراد دادے چه د اسلام په زمانه
کښې د شپیتو کالو پورے ژوندے وو .

باب صدق الایمان واخلاصه :

باب : د ایمان د رښتیا او د خلوص بیان :

(۳۲۷)عن عبد الله قال لما نزلت الذین امنوا ولم یلبسوا ایمانهم بظلم شق ذالک علی اصحاب
رسول الله ﷺ وقالوا اینا لا یظلم نفسه فقال رسول الله ﷺ لیس هو کما تظنون انما هو کما قال
لقمان لابنه یا بنی لا تشرک بالله ان الشرک لظلم عظیم [۳۱ : لقمان : ۱۳] [بخاری : ۳۲،
۳۳۲۰، ۳۶۲۹، ۳۶۲۹، ۴۷۷۶، ۶۹۱۸، ۶۹۳۷، ترمذی : ۳۰۶۷]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعود نه روایت دے هر کله چه دا آیت نازل شو " الذین آمنوا ولم

یلبسوا ایمانهم بظلم " د اخره پورے یعنی کوم خلقو چه د ایمان راوړلو او بیا یے د خپل ایمان سره ظلم اونهٔ کړو (یعنی په ګناه کښے اخته نهٔ شو) هغوی لره امن دیےاو دغه کسان لاره موندونکی دی نو ډیر ګران تیر شو دا آیت د رسول الله ﷺ په اصحابو باندے هغوی اوویے یا رسول الله ﷺ په مونږ کښے څوك داسے دے چه هغه ظلم نهٔ کوی په خپل ځان باندے (یعنی ګناه نهٔ کوی) رسول الله ﷺ اوفرمائیل ددے آیت دا مطلب نهٔ دے څنګه چه تاسو خیال کوی بلکه دَ ظلم نه مراد هغه دے کوم چه حضرت لقمان خپل ځوی ته اوویے اے زما بچیه بے شك شریك مهٔ ګرځوه د الله سره بے شك شرك ډیر لویے ظلم دے .

فائده : نو دَ ظلم نه مراد شرك دے په دے صورت کښے به دَ آیت مطلب داشی چه کوم خلق ایمان راوړی بیا هغوی شرك اونهٔ کړی نو هغوی لره امن دے اګر چه هغه په نورو ګناهونو کښے چه د شرك نه کم وی مبتلا وی د صحیح بخاری په روایت کښے داوی چه هر کله آیت نازل شو نو دَ رسول الله ﷺ اصحابوؓ اوویے چه مونږ کښے څوك داسے دے چه هغه په خپل نفس باندے ظلم نهٔ وی کړیے. کله چه خدائے پاك دا آیت نازل کړو چه شرك لویے ظلم دیےنو اصحابوؓ دَ ظلم نه مراد هره یوه ګناه اوګنړله ددے وجے نه دا آیت په هغوی باندے بوج شو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه مراد د ظلم نه مطلق ظلم نهٔ دے بلکه خاص یو ظلم چه هغه د هر څه نه لویے ظلم دے لکه شرك څنګه چه لقمان خپل ځوی ته اوویے چه شرك لویے ظلم دے

خطابی وائی چه په اصحابو باندے ځکه دا آیت ډیر ګران تیر شو. چه د ظلم ظاهری معنی داده د خلقو حق پټول او په ګناهونو کښے مبتلا کیدل هغوی خیال اوکړو چه دا ظاهری معانے مراد دی. او اصلی معنی د ظلم داده چه یو څیز لره د هغه ځائے نه اوچتول او په بل ځائے کښے ایخودل بیا چه کوم سړی د الله پاك نه سوا د بل چا عبادت اوکړو نو هغه زیات شو په ظلم کښے د نورو ظالمانو نه ددے حدیث نه دا خبره معلومه شوه چه سوا دَ کفر نه په بله ګناه کونو سره سړے نهٔ کافر کیږی او لقمان یو ډیر لویے حکیم تیر شویے دے او اختلاف کړیے دے عالمانو چه هغه نبی وو یا نهٔ وو . امام ابو اسحاق ثعلبی وائی چه هغه په اتفاق سره حکیم وو مګر عکرمہ وائی چه هغه نبی هم وو . بل چا هغه ته نبی نهٔ دی وئیلے . او د لقمان د ځوی نوم چه هغوی ورته

نصیحت کړے وو انعم وو او بعضو ونیلے دی چه مشکم وو ۔ واللہ اعلم :

باب بیان تجاوز اللہ تعالیٰ عن حدیث النفس والخواطر بالقلب اذا لم تستقر وبیان انہ سبحانہ تعالیٰ لم یکلف الا ما یطاق وبیان حکم الهم بالحسنۃ وبالسیئۃ :

باب : په زړۀ کښے چه کومے وسوسے راځی د کومے پورے چه هغه جَم نۀ شی په هغے باندے مؤاخذه نۀ وی او الله تعالیٰ هم دومره تکلیف ورکړے دے څومره چه طاقت وی او د نیکی او د ګناه قصد څه حکم لری :

(۳۲۹)عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ لَمَّا اُنْزِلَتْ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ ((لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِی اَنْفُسِکُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ یُحَاسِبْکُمْ بِهِ اللّٰهُ فَیَغْفِرُ لِمَنْ یَّشَاءُ وَیُعَذِّبُ مَنْ یَّشَاءُ وَاللّٰهُ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ)) " قَالَ فَاشْتَدَّ ذٰلِکَ عَلٰی اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَاَتَوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ ثُمَّ بَرَکُوْا عَلَی الرُّکَبِ فَقَالُوْا اَیْ رَسُوْلَ اللّٰهِ کُلِّفْنَا مِنَ الْاَعْمَالِ مَا نُطِیْقُ : الصَّلٰوةَ وَالصِّیَامَ وَالْجِهَادَ وَالصَّدَقَةَ وَقَدْ اُنْزِلَتْ عَلَیْکَ هٰذِهِ الْاٰیَةُ وَلَا نُطِیْقُهَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَتُرِیْدُوْنَ اَنْ تَقُوْلُوْا کَمَا قَالَ اَهْلُ الْکِتَابَیْنِ مِنْ قَبْلِکُمْ سَمِعْنَا وَعَصَیْنَا بَلْ قُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَکَ رَبَّنَا وَاِلَیْکَ الْمَصِیْرُ قَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَکَ رَبَّنَا وَاِلَیْکَ الْمَصِیْرُ فَلَمَّا اقْتَرَاَهَا الْقَوْمُ ذَلَّتْ بِهَا اَلْسِنَتُهُمْ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فِیْ اِثْرِهَا اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَا اُنْزِلَ اِلَیْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ کُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰئِکَتِهٖ وَکُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ لَا نُفَرِّقُ بَیْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَکَ رَبَّنَا وَاِلَیْکَ الْمَصِیْرُ [۲: البقره : ۲۸۵] فَلَمَّا فَعَلُوْا ذٰلِکَ نَسَخَهَا اللّٰهُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا کَسَبَتْ وَعَلَیْهَا مَا اکْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِیْنَا اَوْ اَخْطَاْنَا قَالَ نَعَمْ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَیْنَا اِصْرًا کَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَی الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِنَا قَالَ نَعَمْ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ قَالَ نَعَمْ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا اَنْتَ مَوْلٰنَا فَانْصُرْنَا عَلَی الْقَوْمِ الْکٰفِرِیْنَ [البقره : ۲۸۶] قَالَ نَعَمْ

ترجمه : د ابو هریرة نه روایت دے چه هر کله په رسول الله ﷺ باندے دا آیت نازل شو لله ما

فی السموت الارض " د آخره پورے یعنی الله پاك لره دی هغه څه چه په اسمانونو او زمکو کښے دی او که چرے تاسو ښکاره کوی یا پټوی هغه خبرے چه په نفسونو ستاسو کښے دی حساب به کوی الله پاك ستاسو سره د هغے . پس اوبه بخی هغ چاله چه خوښه نے شی او په عذاب به کړی هغه چا لره چه خوښه نے شی. او الله تعالی په هر څیز باندے قدرت لری نو گرانه شوه دا خبره د حضور ﷺ په اصحابو باندے او هغوی حضور ﷺ ته راغلل او کیناستل په زنگونونو باندے او اوئے وئیل چه یا رسول الله ﷺ مونږ ته حکم اوشو د هغه کارونو د کولو چه طاقت نے لرو مونږ لکه مونځ . روژه جهاد صدقه . اوس په تا باندے دا ایت نازل شو او په دے باندے په عمل کولو کښے زمونږ طاقت نشته دے (یعنی په خپل زړهٔ باندے زمونږه زور نهٔ چلړی چه د بدی او شیطانی وسوسو ته ئے نهٔ پریږدو) رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل تاسو څه غواړی چه داسے وایی لکه څنګه چه دواړو کتابونو والا یهودو او نصارو وئیلے وو (هر کله چه به نے د خدائے حکم واوریدو) واوریدل مونږه او نافرمانی به نے اوکړه (یعنی مونږه ستا حکم واوریدو خو مونږه په دے باندے عمل نهٔ کوو) بلکه داسے وایی واوریدو مونږه او قبول کړو مونږه او بخے مونږ لره اے زمونږه مالکه ستا طرف ته مونږ لره تلل دی ددے په اوریدو سره صحابو اووے واوریدل مونږه او قبول کړو مونږه او ستا طرف ته مونږ لره تلل دی هر له چه خلقو دا اووے او د خپلو ژبو نه نے اوستلے د هغے نه پس دا آیت نازل شو " امن الرسول بما انزل الیه من ربه والمؤمنون " د آخر پورے یعنی ایمان راوړے دے رسول په هغه څه باندے چه نازل شوے دے دهٔ ته د طرف د رب خپل نه او ایمان راوړے دے مؤمنانو هم تولو ایمان راوړے دے په الله باندے او د هغه په فرښتو باندے د هغه په کتابونو باندے او د هغه په رسولانو باندے مونږه داسے نهٔ کوو چه یو رسول لره منو او یو لره نهٔ منو (لکه چه یهودو او نصارو به کول) او اووے هغوی مونږه واوریدل او اومنل اوبخے مونږ لره اے زمونږ مالکه تالره زمونږ درتلل دی هر کله چه هغوی داسے اوکړل نو الله تعالی (په خپل فضل او کرم سره) هغوی ته نے دے آیت لره " یعنی وان تبدوا ما فی انفسکم " بیان کړو او دا آیت نازل شو الله تعالی چالره تکلیف نهٔ ورکوی مگر د هغه د طاقت موافق هر چاته د هغه نیك پکار باندے رلولی. او په هغه باندے د هغه د بدو بوج وی . لوا ے

مالکه مة ســـــه مونـږ د لره که زمـو ـږ نه خطا اوشي يا مو هير شي مالك اوفرمائيل بنه! اې زموږه مالك مة بار کوه په مونږه باندې داسې بوج لکه چه تا بار کړے وو په وړومبو خلقو باندې زمونږ نه مخکښې (په يهودو باندې يا : هغوی نه اونة شوه هغوی نافرمانی اوکړه) مالك اوفرمائيل بنه ! او معاف کړه زمونږه خطاګانې او اوبخې مونږه لره او رحم اوکړے په مانږه باندے نة زمونږه مالك ئے مدد اوکړه زمونږ په هغه خلقو باندے چه کافران دی پروردګار اوفرمائيل بنه.

فائده : امام ابو عبد الله مازري وائي دا ايت په هغو باندې ګران شو ولے چه هغه پوهه شو چه زمونږه نه به مؤاخذه کيږی د هغه وسوسو کومے چه خود بخود په زړة کښے نيږيږی او موږ ته د هغے دلرے کولو طاقت نشته دے. يا دا تکليف د طاقت نه سوا شو او هغه جائز دے عقلا ليکن اختلاف دے چه آيا په شريعت کښے ددے حکم شوے يا نة شوے. يعنی خداوند کريم په خپل فضل سره د خپلو عاجزو بندګانو تولے دعاګانے قبولے کړے او د سختو نه سخت احکام چه دوی نه نة شو کيدے د اسلام نه ئے اوچت کړل او دين ئے اسان کړو. او دا حکم ئے اوچت کړو کوم چه ئے مخکښے ورکړے وو چه د زړة په خيال باندے به مواخذه وی . اوس که چرے د چا په زړة کښے د ګناه خيال راشي نو د کومے پورے چه ئے هغه ګناه کړے نة وی ليکلے نة شی.

امام مازری وائي وان تبدوا ما فی انفسکم په منسوخ کيدو کښے دا اعتراض دے چه نسخ هلته کيږی هر کله چه په دويم حکم کښے او په وړومبی حکم کښے جمع نة شی کيدے او دلته کښے جمع ممکنه ده په دے شان سره چه وړومبے آيت علم وی د هر يو قسم وسوسو او خيالونو لره کوم چه په اختيار کښے دی مګر په کوم صورت کښے چه صحابو په وړومبی آيت سره هغه خيال کړے دے کوم چه په اختيار کښے نة دے . په دغه صورت کښے البته دويم آيت ددے ناسخ شو قاضی عياض وئيلي دی د نسخ نه هغه امر مانع نة دے هر کله چه راوی په خپله نسخ لره نقل کړے دے. بعضو وئيلی دی چه د نسخ نه مراد د هغوی شبهے لره لرے کول دی کومه شبهه چه هغو ته د وړومبی آيت نه شوے وه. او کرانه شوے وه هغه په هغوی باندے . اوس په دويم آيت سره د هغوی اطمينان راغے چه مواخذه د طاقت نه سوا نة وی امام واحدی وئيلي دی چه د آيت په منسوخ کيدو کښے اختلاف دے او د محققينو قول دادے چه هغه محکم دے

منسوخ نۀ دے (نووی)

(۳۳۰)عن ابن عباس قال لما نزلت هذه الآية وان تبدوا ما في انفسكم او تخفوه يحاسبكم به الله قال دخل قلوبهم منها شيء لم يدخل قلوبهم من شيء فقال النبي ﷺ قولوا سمعنا واطعنا وسلمنا قال فالقى الله تعالى الايمان في قلوبهم فانزل الله لا يكلف الله نفسا الا وسعها لها ما كسبت وعليها ما اكتسبت ربنا لا تؤاخذنا ان نسينا او اخطأنا قال وقد فعلت ربنا ولا تحمل علينا اصرا كما حملته على الذين من قبلنا قال قد فعلت واغفر لنا وارحمنا انت مولانا قال قد فعلت ۔ [ترمذی : ۲۹۹۲]

ترجمه : د ابن عباس نه روایت دے هر کله چه دا آیت نازل شو "وان تبدوا ما في انفسكم او تخفوه يحاسبكم به الله " نو د خلقو په زړونو کښے هغه خبره پریوته چه هغه په څه خیز سره نۀ پریوتے (یعنی ډیره یره ئے پیدا شوه) بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل اووایئ مونږه واوریدل او قبول مو کړل او اطاعت مو اوکړو . بیا خدائے پاك ایمان د هغوی په زړونو کښے واچوو او دے آیت لره ئے نازل کړو . لا يكلف الله نفسا الا وسعها : د اخره پورے یعنی الله تعالی تکلیف نه ورکوی چاته مګر د هغه د طاقت موافق کوم چه هغه کوی د ځان د پاره نیك کار د هغے ثواب هغه لره دے او څوك چه ګناه کوی د هغے بوج به د هغه په سر باندے وی او اے زمونږ مالك ! مۀ نیسه مونږ لره په هیره او په خطا کښے مالك اوفرمائیل ما دغه شان اوکړل . اے زمونږ مالك ! مۀ بار کوه په مونږه باندے بوج لکه چه تا بار کړے و په وړومبو حلقو باند . مالك اووے ما دغه شان اوکړل . او اوبخے مونږ لره او رحم اوکړے په مونږه باندے تۀ زمونږه مالك ئے مالك اوفرمائیل ما دغه شان اوکړل .

باب تجاوز الله تعالى عن حديث النفس والخواطر بالقلب اذا لم تستقر :

باب : دَ الله پاك معاف کول . د زړۀ په خبرو باندے کله چه چه دَ هغے پخه اراده نۀ وی شوے :

(۳۳۱)عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوز لامتي ما حدثت به انفسها ما لم يتكلموا او يعملوا به ۔ [بخاری : ۲۵۲۸ ، ۶۶۶۴ ، ابوداود : ۲۲۰۹ ، ترمذی : ۱۱۸۳ ، نسائی .

۳۳۴۳، د ۳۳۴۴، ابن ماجه : ۲۰۴۰، ۲۰۴۴۔

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي الله پاك معافي کړے ده زما امت ته په هغه خیالونو باندے (د ګناه) چه هغه په زړهٔ کښے راشي د کومے پورے چه هغه په زړهٔ سره نهٔ وي ونیلي شوے یا په هغې باندے عمل شوے نهٔ وي.

فائده : په السراج الوهاج کښے دي چه ددے آیت نه معلومیږي چه د هرقسم بد خیال او اراده کومه چه په زړهٔ کښے پیدا شي. هغه معاف ده ولے چه د "ما" حرف په حدیث کښے علم دے هریو خیال او اراده برابره خبره ده هغه خیال او اراده په زړهٔ کښے جم شوے وي یا نهٔ وي. کمْذلِه وخته پورے وي یا د ډیرے مودے پورے په هر شان سره هغه معاف شوے دے ددے امت دپاره. او دا شرف خاص کړے دے الله پاك په دے امت باندے. په خلاف د وړومبو امتونو چه د هغوی د زړه په خیال باندے به هم مواخذه وه نو زمونږ دپاره چه څه قسم خیال وي او هغه په زړهٔ کښے وي هغه معاف دے. ددے خیال په وجه سره به انسان نهٔ مرتد وي او نهٔ ګنهګار، نهٔ څه عبادت ددے په وجه سره باطلیږي او نهٔ څه طلاق یا عتاق په دهٔ باندے پریوځي او نهٔ څه بل څه معامله نافذ کیږي لو دلالت کوي په دے باندے هغه احادیث چه هغه په دے باب کښے راځي او د هغې الفاظ ډیر دي.

اوس چه کوم د بعضو علماؤ نه منقول دي چه خیال په دوه قسمه باندے دے یو خو هغه خیال چه په زړهٔ کښے راځي او لاړو تیر شو. په دے باندے مواخذه نشته او دغه خیال ددے حدیث نه مقصود دے. او یو هغه خیال دے چه هغه په زړهٔ کښے جم شو او مضبوط شو او د عقیدے په طور باندے شو. په هغې باندے به مواخذه وي او دغه مقصود نهٔ دے ددے حدیث نه خو ددے فرق څه دلیل نشته نه ددے تاویل ضرورت دے ولے چه حدیث عام دے شامل دے دواړو قسم خیالونو لره. او اګر که خیال په زړهٔ کښے جم هم شي خو بیا هم آخر هغه خیال وي. په ظاهر کښے د هغې وجود د اعمالو په شان نهٔ دے. نو بیا ددے مواخذه به په څه سره وي. نو ددے تاویل او تکلیف څه وجه نشته دے او د کلام نبویؐ د خاص کولو څه علت نشته دے. او څه ضرورت نشته دے چه الله پورے هغه خبره اوتړي چه هغه خبره هغه نهٔ وي فرمائیلي او په بندګانو باندے

گناه لازم کړی. او په هغو باندے مواخذه اولری د هغه امر نه چه د شریعت د طرف نه معاف دے.
او بعضے فرق کونکے دا وئیلے دی چه کوم خیال په زړهٔ کښے جم شی په هغے باندے خو عمل اوکړے شو اوس هغه په شوے عمل کښے داخل دے کوم چه مقصود دے ددے حدیث نه، او دا قول د عقل نه ډیر لرے دے ولے چه عمل او نکله خو د خیال نفسی مقابل دی او دا دواړه د عفوے حدونه دی او څوك د عربو اوسیدونکے ددے حدث نه دا مطلب نه گنړی. کوم چه دے خلقو گنړلے دے او ددے نه معلومه شوه چه کومو خلقو دا فرق کړے دے د هغوی قول باطل دے او د هغوی سره څه دلیل نشته دے بلکه صرف زانے ده چه د هغے څه ضرورت نشته.

او هر کله چه رښتنی رسول ﷺ مونږ ته بیان اوکړو چه الله جل شانه په څه خیال باندے مواخذه نه کوی. د کومے پورے چه په هغے باندے عمل اونهٔ کړے شی نو قصد او نیت او عزم او اعتقاد که چرے فرض کړے شی چه د خیال نه زیات دی بیا هم په دے باندے مواخذه نهٔ وی. ولے چه دا څزونه عمل نهٔ دے او مواخذه په عمل سره وی په دے کښے څوك دا هل شرعه نه خلاف نهٔ کوی او ددے حدیثونو نه دا ثابتیږی چه مواخذه نشته دے مگر په عمل سره. او لوے دلیل هغه دے کوم چه د ابن عباسؓ په حدث کښے دے چه کوم یو بنده اراده اوکړی د بدئ او بیا هغے لره اونهٔ کړی نو الله پاك ددهٔ په عمل نامه کښے یوه نیکی اولیکی. او د ابو هریرهؓ نه روایت دے که بدی لره نهٔ کوی نو ددهٔ دپاره یوه نیکی اولیکی. ولے چه ددے نه دا معلومیږی که چرے د بدئ اراده اوکړی او په هغے باندے عمل اونهٔ کړی نو د یوے نیکئ ثواب ملاویږی او دا امر معلوم دے چه چا اراده اوکړه د بدئ یا ئے عزم اوکړو یا ئے قصد اوکړو او هغه په دغه بدئ باندے عمل اونهٔ کړو بیا به دهٔ ته د یوے نیکئ ثواب ملاویږی په څائے ددے باندے چه د بدئ مواخذه شی.

په دے صورت کښے چه کومو خلقو په عزم ارداه او نیت کښے فرق کړے دے ددے نه څه فائده نشته دے. او بعضو اهل کلامو دا وئیلے دی چه په عزم به مواخذه او عتاب وی مثلا څوك عزم اوکړی د چا پیغمبر د توهین یا د اسمانی کتاب د تحقیر نو هغه د عزم کولو سره کافر شو اگر چه څه فعل ئے نهٔ دے کړے او څه خبره ئے د ژبے نه وستے نهٔ وی او دا گمان د هغوی غلط دے په دے باند څه دلیل عقلی یا نقلی نشته دے ولے چه هغه غایت کوم چه د مواخذے دپاره قرار

شوے دے عمل یا تکلم دے. او داسے عمل کولو والا نۀ عمل اوکړو او نۀ ئے تکلم اوکړو نو داوئیل چه په دے سره به مواخذه وی بلا دلیل دے بلکه مخالف دے د دلیل صریح او واضح نه او هغه خلق ځوك چه داسے وائی نو هغوی ته یوه شبهه اوشوه او هغه دا چه دغه سړی عزم اوکړو د هغه امر چه هغه جائز نۀ دے او دا سبب دے د مواخذے حالانکه داد هغوی غلطی ده. ځکه چه دۀ ئے شکه عزم اوکړو د هغه امر چه هغه جائز نۀ دے لیکن کوم چه جائز نۀ دے هغه کار دے د کوم چه دۀ عزم کړے وو نۀ پخپله دا عزم یوه شیطانی وسوسه ده ځکه د شریعت د طرف نه معاف دے: کومے پورے چه پرے عمل یا تکلم اونۀ شی. او صرف عزم نۀ عمل دے نۀ کلم په اتفاق د اهل لغو لو د اهل شرعه باندے. او ددے حدیث سلفو صالحینو هم دغه معانے کړے دی. او الله تعالی دے رحم اوکړی په امام شافعیؒ باندے ولے چه هغوی په خپل کتاب کښے چه د هغے نوم "ام" دے لیکلی دی چه کوم خیال بیان نۀ شی هغه د زړۀ وسوسه ده چه معاف شوے ده د بنیادمو نه او چا چه په دے کښے تاویل کړے دے هغه په حق باندے نۀ دی. دداسے احادیثو تاویل کونکی په حق باندے نۀ دی.

نو ددے تمام تقریر نه دا معلومه شوه چه په دے امت باندے هغه خرج کوم چه په وړومبو اُمتونو باندے وو یعنی د زړۀ په عزم باندے به د هغو نه مواخذه کیدے شوه او د زړۀ په خیالونو باندے خواه چه هغه جم شوے وی یا نۀ وی جم شوے او د ډیرے مودے پورے وی یا د لږ ساعت پورے دا ټول قسم خیالات مونږه ته معاف شوے دی. او په وړومبو باندے به ددے په وجه سره عذاب وی په دے مسئله کښے زمونږ تقریر اوګد شوے دے او پوره بحث ددۀ په کتاب " دلیل الطالب علی ارجع المطالب " کښے داسے دے. چه دغه شان به تاسو ته په نورو کتابونو کښے نۀ ملاویږی. انتهیٰ: نوویؒ وئیلی دی چه امام مازریؒ وئیلی دی چه د قاضی ابوبکر طیب مذهب دا دے چه کوم سړے د ګناه اراده په زړۀ سره اوکړی او خپل زړۀ لره په هغے باندے مضبوط اومستعد کړی نو ګنهګار به وی او دا حدیث او نور قسم داسے حدیثونه محمول دی. په هغه خیالونو کښے چه هغه په زړۀ کښے تیر شی لو ختم شی او جم نۀ شی دے ته "هم" وائی او په هم او عزم کښے فرق دے او په حدیث کښے د هم لفظ وارد دے.

دا مذهب دے د قاضی ابوبکر او مخالف دی ددے اکثر فقهاء او د هغوی دلیل ظاهر دے۔
قاضی عیاضؒ ونیلی دی اکثر سلف او اهل علم فقهاء او محدثین د قاضی ابوبکرؒ د مذهب په طرف باندے تلی دی ولے چه د نورو احادیثو نه معلومیږی چه د زړهٔ په اعمالو باندے به مواخذه وی لیکن هغوی ونیلی دی چه دا مواخذه به په هغه بدی باند، نه وی څکه چه دا عزم په خپله باندے یو بدی ده بیا کهٔ چرے دهٔ دے گناه لره اوکړه نو دویمه گناه پرے نیکلے شی۔ اوس که چرے بدی نے پریخوده نو یوه نیکی به نے لیکلے شی لکه چه په حدیث کښے وارد دی ولے چه دهٔ پریخوده د الله د یرے نه او مجاهده نے اوکړه د نفس امارهٔ سره او دا نیکی ده لیکن هغه هم کوم چه معاف دے او چه په هغے کښے بدی نهٔ شی لیکلے هغه وسوسه ده چه هغه بے اختیاره په زړهٔ کښے غورځیږی نهٔ د هغے عزم وی نهٔ په نفس کښے جم کیږی۔ او بعضے متکلمینو په دے کښے اختلاف لیکلے دے چه که چرے دهٔ بدی پریخوده د خلقو د شرم د وجے نه نه د خدائے پاك د وجے نه نو دهٔ ته د نیکی ثواب نهٔ ملاویږی ولے چه دهٔ خو بدی پریخودے دهٔ د حیاء نه نهٔ د یرے د الله نه او دا قول ضعیف دے ددے هیڅ دلیل نشته دے تمام شو کلام د قاضی عیاضؒ۔ امام نوویؒ وائی چه د قاضی عیاضؒ کلام ډیر ښهٔ دے ولے چه د شرعے او د نصوصو دلالت کوی په دے باندے چه کوم عزم په زړهٔ کښے جم شی په هغے باندے به مواخذه وی۔ الله تعالی فرمائیلی دی کوم خلق چه غواړی بدی خورول په مسلمانانو کښے هغوی لره دردناك عذاب دے او فرمائی بچ شی د گمان نه ولے چه بعضے گمان گناه وی او په دے باب کښے ډیر داسے آیتونه دی او په نصوص شرعیه او په اجماع د علماؤ سره دا امر مسلم دے چه حسد کول او مسلمانانو لره فید گنړل او د هغوی بدخوا کیدل حرام دی حالانکه دا تمام د زړهٔ عملونه دی

مترجم وائی چه د مولانا ابو الطیب دا تحقیق ډیر ښکلے دے او موافق د ظاهر حدیث دے او یو جماعت د سلفو په دے باندے تلی دے او امام نووی او اکثرو متاخرینو ددے نه خلاف کړے دے۔ په دلیل د دویم آیت او په احادیث او زهٔ پناه غواړم په الله سره د غلط او باطل خیال نه او دعا کووم الله تعالی دے توفیق راکړی په دے مسئله کښے د ثواب بیانولو۔ زما په نزد باندے صحیح داده چه خیال په دوه قسمه باندے دے یو خو خیال د هغه بدی دے چه د هغے کول په

لاسونو ـ سره یا په ژبه سره په شرعه کښې منع کړے شوے دی لکه غیبت غلا یا زنا یا شراب خمر ددے گناهونو که څوك قصد او اراده اوکړی بیا خواه که هغه اراده په زړهٔ کے جم شی یا جم نهٔ شی په هر شان باندے به ددهٔ نه مواخذه نهٔ وی د کومے پورے چه هغه گناه او نهٔ کړی او څوك چه ئے نهٔ کوی دَ الله تعالیٰ دَ یرے نه ددے نه قلار وی نو دَ هغه دپاره یوه نیکی اولیکلے شی او دا منطوق دے دَ ابو هریرةؓ دَ حدیث کوم چه وړاندے راځی ـ

او یو هغه خیال چه هغه په شرعه کښے یو گناه قائم شوے ده. لکه د شرك اعتقاد، حسد ، بغض دَ مسلمان سره بد خواهی، کبر ، نخوت ، حرص ، طمع ددے قسم خیال هر کله چه په زړهٔ کښے جم شی. او دَ عقیدے په شان شی نو دا گناهونه دی په دے باندے به مواخذه وی البته که چرے په زړهٔ کښے تیر شی او لاړ شی ختم شی نو د خداوند کریم نه امید دے چه دَ هغے مواخذه اونهٔ کړی او که چرے دا خیال گناه نه وے. نو حضور ﷺ به ددے نه پناه نهٔ غوښتله او دَ نفس دَ پاکولو دعا به ئے نهٔ کوله ـ او یوه لویه خرابی داده چه که چرے ددے قسم خیال گناه نهٔ وے او په دے باندے مواخذه نه وے نو دَ شرك اعتقاد لرونکے د الله تعالیٰ د صفاتو نه انکار کوونکے یا منافق چه هغه په ژبه سره څه نهٔ وی ونیلے مواخذه دار به نهٔ وو. اګر چه دَ هغه خاتمه هم په شرك او کفر او نفاق باندے وی حالانکه ددے یو مسلمان قائل نهٔ شو. او راز په دے کښے دادے چه یو خو وسوسه ده چه په زړهٔ کښے راشی او تیره شی دا داسے ده لکه په بهیدلو اوبو باندے پلیتی پریوته او اوبهیده په دے سره دَ اوبو صفت بدل نهٔ شو او هغه دَ پاکو نه پاکے او صفاو نه صفا دی. او یو اعتقاد دے چه په زړهٔ کښے یو خیال راشی او جم شی او مضبوط شی خواه انسان هغه دَ خلے نه اوباسی یائے اونهٔ باسی بیا دا خیال د نفس صفت کیدے شی او په اعمال قلبیو کښے شمارلے شی. ددے مثال داسے دے لکه چه په ولاړو ابو کښے پلیتی اوغورځیږی او هغه ناپاکه او بدبویه کړی. او دا خیال په حقیقت کښے جوارح او دَ اعمالو په شان په خارج کښے موجود دے او آخر زړهٔ هم دَ ژبے په شان یو اندام دے ـ

بیا دَ ژبے نه وتلے شوے خبره خو په خارج کښے موجوده وی او دَ زړهٔ صفت دے موجود نهٔ وی دا څنګه کیدے شی. بس په احادیثو کښے چه کوم دَ لم تعمل لفظ وارد شوے دے ددے نه دا

خیال اووتو ولے چه دا عمل قلب دے اوس که چرے څوك اعتراض کوی چه په دے صورت کښے که چرے د زنا یا د غلا خیال هم جم شی نو هغه به هم د نفس صفت کیدے شی بیا پکار ده چه په دے باندے هم د مواخذه وی. حالانکه پورته تاسو ونیلے دی چه ددے گناهونو په خیال باندے مواخذه نشته دے نو مونږه به دا جواب ورکوو چه بے شکه که چرے دا خیال جم شی نو د نفس به یو صفت وی خو شرعے د زنا او د غلا ذ مفهوم خیال نهٔ دے ایخودے بلکه ذ جوارح نه چه کوم کار کولے شی هغے ته نے زنا او غلا ونیلے ده په خلاف د اعتقاد او د بے دینی. او غرور او نفاق او حسد او بخل سره چه هغے مفهوم د نفس صفاتو لره قائم کرو.

او هر کله چه ذ زنا او د غلا ذ مفهوم عمل جارح شو په دے صورت کښے به ددے عمل انتساب ذ نفس ذ طرفه نهٔ وی ولے چه یو عمل ذ دوو عاملانو سره قائمیدے نهٔ شی نهٔ یو عرض ذ دوو موضوعاتو (محل) کښے موندے کیدے شی . پس په هغه گناهونو کښے د مالم تفعل نه به د هغے عمل مراد وی. یعنی عمل جارحه او د کومے پورے چه هغه گناه ذ جارح سره نهٔ کوی نو د هغے په خیال باندے حواه چه هغه په څه شان باندے وی مواخذه به نهٔ وی. اوس فرض که یو سړے د اسلام د راوړلو نه پس گونگا یعنی چاړا شو او هغه خپل زړهٔ ذ اسلام د عقیدو نه واړوو او د کفر په عقیدو باندے نے جماؤ کړو. لیکن د کفر څه عمل نے نهٔ کوو او ژبے خو د هغه کار نه کوو چه د هغے نه څه د کفر کلمه وتلے وے. نو ولے دهٔ نه به مواخذه نهٔ وی او ددهٔ د کفر په اعتقاد باندے به عذاب نهٔ وی. حالانکه دا هغه حدیث نه چه کومه معنی وتلے کیږی ددے په موجب باندے پکار ده چه مواخذه نهٔ وی مگر ذ غور کولو نه معلومیږی چه په خپله باندے حدیث په دے خبره باندے ناطق دے. چه ددهٔ نه به مواخذه وی، ولے چه ددهٔ خبرے نه کول ذ یرے ذ وجے نه نهٔ دی بلکه ددے وجے نه دی چه ژبه ددهٔ چاړی شوے ده او څه چه هغه ونیل نو ذ کفر خبرے به نے د خلے نه وتلے .

الله تعالٰی دے بچ کړی مونږ لره د هر قسم باطل وسوسو او خیالونو نه. او زمونږ نفس لره دے پاك کړی ذ خراب اعتقاد او خراب صفاتو نه : آمین یا رب العالمین :

(۳۳۲)عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ تَجَاوَزَ لِاُمَّتِی عَمَّا حَدَّثَتْ بِهِ اَنْفُسُهَا

ما لم تعمل اوْ تتكلم به: [راجع . ۳۳۱]

ترجمه : د ابو هریرهٌ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه الله جل شانه اوبخلو زما د امت د زړهٔ خبرو لره د کومے پورے چه ے په هغے باندے عمل نهٔ وی کړے یا ئے په ژبه سره نهٔ وی ونیلے۔

(۳۳۳)عنْ قتادة بهذ الاسناد مثله : [راجع : ۳۳۱]

ترجمه : دَ قتاده نه دویم روایت هم دغه شان دے ۔

باب اذا هم العبد بحسنة كتبت واذا هم بسيئة لم تكتب :

باب : کله چه بنده دَ نیکی اراده اوکړی نو هغه لیکلے شی مګر کله چه دَ بدی اراده اوکړی نو هغه نهٔ شی لیکلے :

(۳۳۴)عنْ ابی هُریرة قال قال رسُول الله ﷺ قال اللّهُ عز وجلّ اذا همّ عبْدی بسیّئة فلا تکْتُبُوها علیه فانْ عملها فاکْتُبُوها واذا همّ بحسنة فلمْ یعْملها فاکْتُبُوها حسنة فانْ عملها فاکْتُبُوها عشْرًا :

[ترمذی : ۳۰۷۳]

ترجمه : د ابو هریرهٌ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی الله جل شانه فرمائی چه زما بند د بد کار اراده اوکړی (په زړهٔ کنبے) نو مهٔ لیکی هغے لره او چه کله دَ نیکی اراده اوکړی لیکن کړے ئے نهٔ وی نو یوه نیکی د هغه دپاره اولیکی او که چرے اوکړی ئے نو لس نیکی لیکی ۔

(۳۳۵)عنْ ابی هُریرة عنْ رسُول الله ﷺ قال قال اللّهُ عز وجلّ اذا همّ عبْدی بحسنة ولمْ یعْملْها کتبْتُها له حسنة فانْ عملها کتبْتُها عشر حسنات الی سبْع مائة ضعْف واذا همّ بسیّئة ولمْ یعْملْها لمْ اکْتُبْها علیه فانْ عملها کتبْتُها سیّئة واحدة :

ترجمه : د ابو هریرهٌ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه الله جل شانه فرمائیلی دی هر کله چه زما بنده اراده اوکړی د نیکی او بیا ئے اونهٔ کړی هغے لره نو زهٔ دَ هغه دپاره یوه نیکی اولیکم او که چرے اوکړی هغے لره یعنی نیکی لره نو ذیوے نیکی په بدله کنبے دَ لسو

نیکو نه د اووه سوه نیکو پورې لیکم . او هر کله چه اراده اوکړی او نهٔ کړی (دے بدی لره) نو زهٔ هغه بدی نهٔ لیکم او کهٔ چرے اوکړی هغے بدی لره نو یوه بدی لیکم .

(۳۳۲) عن ابی هریرة عن محمد رسول الله ﷺ فذکر احادیث منها قال قال رسول الله ﷺ قال الله عز وجل اذا تحدث عبدی بان یعمل حسنة اکتبها له حسنة ما لم یعمل فاذا عملها فانا اکتبها بعشر امثالها واذا تحدث بان یعمل سیئة فاغفرها له ما لم یعملها فاذا عملها فانا اکتبها له بمثلها وقال رسول الله ﷺ قالت الملائکة رب ذاک عبدک یرید ان یعمل سیئة وهو ابصر به فقال ارقبوه فان عملها فاکتبوها له بمثلها وان ترکها فاکتبوها له حسنة انما ترکها جرای وقال رسول الله ﷺ اذا احسن احدکم اسلامه فکل حسنة یعملها تکتب بعشر امثالها الی سبع مأة ضعف وکل سیئة یعملها تکتب له بمثلها حتی یلقی الله عز وجل [بخاری : ۴۲]

ترجمه : ابو هریرهؓ حضرت محمد ﷺ نه څو حدیثونه بیان کړل په هغے کښے یو داوو چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی هر کله چه زما بنده په زړهٔ کښے نیت کوی د نیك کار کولو نو د هغه دپاره یوه نیکی اولیکم ترکومے پورے چه هغه هغه نیکی لره نهٔ وی کړے . بیا که چرے اوئے کړه هغے لره نو زهٔ د هغه دپاره لس نیکی (د یوے په بدله کښے) لیکم . او هر کله چه په زړهٔ کښے نیت کوی د بدی کولو نو زهٔ هغه لره اوبخم هر کله چه هغه بدی نهٔ وی کړے او هر کله چه اوکړی نو یوه بدی اولیکم . او فرمائیلے دی رسول الله ﷺ چه فرشتے وائی اے پروردگاره دا ستا بنده دے بدی کول غواړی حالانکه پروردگار د هغوی نه زیات وینی خپل بنده لره الله تعالی فرمائی گوری ورته که چرے هغه بدی کوی نو هغه هم هغه شان پوره لیکی او که چرے اوئے نهٔ کړی (او قلار شی ترینه) نو ددهٔ دپاره یوه نیکی اولیکی . ولے چه دهٔ پریخوده بدی زما د یرے نه . او فرمائیلے دی رسول الله ﷺ هر کله چه په تاسو کښے د چا اسلام غوره شی (یعنی خالص او ریښتونے او د نفاق نه خالی شی) بیا چه هغه څه نیکی کوی د هغه دپاره د یوے په بدله کښے لس نیکی د اووه سوو پورے لیکلے شی او څوك چه بدی کوی نو یوه بدی لیکلے شی تر دے پورے چه ملاؤ شی د الله جل شانه سره .

(۳۳۷)عن ابی هریرة قال قال رسُولُ اللهِ ﷺ من همّ بحسنة فلم یعملها کُتبت له حسنةً ومن همّ بحسنةٍ فعملها کُتبتْ له الی سبع مأة ضعف ومن همّ بسیّئة فلم یعملها لم تُکتب وان عملها کُتبت.

ترجمه : دَابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کوم بنده چه اراده اوکړی دَ نیکۍ او اونۀ کړی هغے لره نو دَ هغه دپاره یوه نیکی اولیکلے شی. او کوم سړے چه اراده د نیکۍ اوکړی او اوکړی هغے نیکۍ لره نو دَ هغه دپاره دَ لسو نه تر د اووۀ سوو پورے نیکی لیکلے شی. او کوم بنده چه اراده اوکړی دَ بدۍ او اونۀ کړی هغے لره نو هغه نۀ شی لیکلے او چه اوکړی نو هغه به لیکلے شی.

(۳۳۸)عَنْ ابنِ عبّاس عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فِیما یرْوِیْ عن ربّه عزّوجلّ قال اِنّ اللّٰهَ تعالیٰ کتب الْحسنات والسّیّات ثُمّ بیّنَ ذالِکَ فمنْ همّ بحسنة فلمْ یعملها کتبها اللّٰهُ عِنْدهٗ حسنةً کامِلةً فاِنْ همّ بها فعمِلَها کتبها اللّٰهُ عِنْدهٗ عشْر حسناتٍ الی سبْع مِأة ضِعْف اِلیٰ اضْعاف کثِیْرةٍ واِنْ همّ بسیّئةٍ فلمْ یعْمَلْها کتبها اللّٰهُ عزّ وجلّ سیّئة واحِدَة : [بخاری : ۶۴۹۱]

ترجمه : دَ عبد الله ابن عباسؓ نه روایت دے دَ رسول الله ﷺ نه روایت کوی چه دَ خپل پروردګار نه ئے فرمائیلے دی په تحقیق سره الله تعالیٰ لیکی نیکو لره او بدو لره بیائے بیان کړو هغے لره څوک چه اراده اوکړی دَ نیکۍ بیا اونۀ کړی هغے لره نو الله تعالیٰ دَ هغه دَ پاره صرف یوه نیکی اولیکی. او که چرے اراده اوکړی دَ نیکۍ او اوکړی هغے نیکۍ لره نو دَ هغه دپاره دَ لسو نیکو نه واخله د اووۀ سوو پورے نورے زیاتے اولیکلے شی او چه اراده اوکړی دَ بدۍ او بیا اونۀ کړی هغے لره نو الله تعالیٰ به پوره یوه نیکی ددۀ دپاره اولیکی. او چه اوکړی هغے بدۍ لره نو د هغه دپاره یوه بدی اولیکلے شی.

فائده : ددے حدیث نه دا خبره معلومه شوه چه د نیکۍ دَ دوچند کیدو څه انتهاء نشته دے د اووۀ سوو پورے بلکه ددے نه زیاتے هم دوچند کیږی. او دا مذهب صحیح او مختار دے. او ماوردی دَ بعضے عالمانو نه نقل کړے دی چه دا دوچند کیدل دَ اووۀ سوو نه زیات نۀ کیږی ددے حدیث نه ددے قول غلطی ثابته شوه. (نوویؒ)

(۳۳۹)عن الجعفد ابی غثمان فی هذا الاسناد بمعنی حدیث عبد الوارث وزاد او محاها الله ولا یهلک علی الله الا هالک۔ا راجع : ۳۳۲

ترجمه : دویم روایت هم دغه شان دے لکه چه وړاند ذکر شو لیکن دومره زیات دے چه کمچوے دغه بدی اوکړی نو یوه بدی لیکلے شی یا هغے لره هم خدائے پاك ختموی او ځوك نهٔ تباه کیږی د خدائے سره مگر د چا په قسمت کښے چه تباهی ده ۔

باب بیان الوسوسة فی الایمان وما یقوله من وجدها :

باب : دَ وسوسے بیان او هر کله چه وسوسه راشی نو څه به وائی :

(۳۴۰)عَنْ ابی هُرَیرة قال جاء ناس مِّن اصحاب النَّبی ﷺ الی النَّبی ﷺ فسألوهُ انّا نجدُ فی انفسنا ما یتعاظَمُ احدُنا ان یّتکلّم به قال اوَقد وجدتّموهُ قالوا نعم قال ذاک صریحُ الایمان :

ترجمه : دَابو هریرةؓ نه روایت دے څه خلق د اصحابو نه د رسول الله ﷺ په خدمت کښے راغلل او تپوس ئے اوکړو چه زمونږه په زړونو کښے هغه هغه خیالونه تیریږی چه د هغے بیانول زمونږ نه هریو لره لوے گناه معلومیږی (یعنی هغے خیال لره ونیلے کیدے نهٔ شی ولے چه هغه خیال معاذالله دَ کفر یا دَ فسق خیال دے چه دَ هغے د خلے نه ویستل مشکل معلومیږی ۔) حضور ﷺ اوفرمائیل ولے تاسو ته داسے وسوسے کیږی خلقو اووے او ۔ حضور ﷺ اوفرمائیل دا خو عین ایمان دے ۔

فائده : یعنی هر کله چه تاسو دا وسوسه بده گنړی او داسے بده چه دَ هغے په ژبه سره ویستل نهٔ غوره کوی نو معلومه شوه چه ستاسو ایمان کامل دے ۔ او د شیطان زور په تاسو باندے نهٔ شی رسیدے گنی دا وسوسه به مونږه په زړهٔ کښے جمع کړے وه او زړو به مو د ژبے نه هم ویستلے وه او شیطان وسوسے د هغه چا په زړهٔ کښے غورځوی چه : هغه د گمراه کولو نه نا امیده شی او د کافر په زړهٔ کښے د وسوسے غورځولو څه ضرورت دے هغه خو د شیطان په قابو کښے دے ۔ څنگه چه غواړی په باندے هغه لوبے کوی ۔ نو مطلب دَ حدیث دادے چه وسوسه سبب دَ ایمان دے یا وسوسه دَ خالص ایمان نشانی ده او دے قول لره قاضی عیاضؒ اختیار کړے

دے۔ (نوویؒ)

(۳۴۱) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ عَنِ النَّبِی ﷺ بِهٰذَا الْحَدِیْث :

ترجمه : دَ ابو هریرةؓ نه تیر شوے حدیث په یو بل سند سره هم مروی دے۔

(۳۴۲)عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ سُئِلَ النَّبِیَّ ﷺ عَنِ الْوَسْوَسَةِ فَقَالَ تِلْکَ مَحْضُ الْاِیْمَان :

ترجمه : دَ عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے دَ رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو دَ وسوسے متعلق حضور ﷺ اوفرمائیل چه دا خو مضبوط ایمان دے۔

(۳۴۳) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لا یَزَال النَّاس یَتَسَائَلُوْنَ حَتّٰی یُقَالَ هٰذَا خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خلق اللّٰهَ فَمَنْ وَجَد ذَالِکَ شَیْئًا فَلْیَقُلْ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ :[بخاری : ۳۲۷۶، ابوداود : ۴۷۲۱]

ترجمه : دَ ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی همیشه خلق تپوسونه کوی تردے پورے چه وائی چه الله تاسو تول پیدا کړی نو الله تعالیٰ چا پیدا کړو پس څوك چه ددے قسم شبهه په زړهٔ کښے اومومی نو وائی دے چه ایمان راوړے دے ما په الله پاك باندے۔

فائده : او په دویم روایت کښے دی پناه غواړی دَ الله نه او قلار شی۔ مطلب دادے چه دغه وسوسے او شبهے لره دَ زړهٔ نه اوباسی او ددے خیال پریږدی. او ددے دَ لرے کیدو دپاره دَ الله تعالیٰ نه دُعا کوی۔ امام مازریؒ وئیلے دی چه دَ ظاهر حدیث نه دا خبره وتلے شی چه داسے وسوسو لره د زړهٔ نه لرے کړی او دَ هغے طرف ته خیال پریږدی او دَ الله پاك نه پناه غواړی او دا ضروری نهٔ ده چه دغه وسوسه په غور او فکر او دلیلونو سره باطله کړی اصل دادے چه خیالات په دوه قسمه باندے دی یوخو هغه دی چه په زړهٔ کښے نهٔ جماویږی خو داسے ناځاپه راشی دهغے علاج دغه دے کوم چه په حدیث کښے ذکر شو او دغسے خیال نه وسوسه وئیلے کیږی او دویم هغه قسم خیال دے چه هغه په زړهٔ کښے جمع شی نو هغه نهٔ دفع کیږی بغیر د غور او فکر او استدلال نه۔ (نوویؒ)

مترجم وائی چه کوم علاج په حدیث کښے ذکر شو دغه ددے دوه قسمه وسوسو علاج

دي او که چرې په نظر او استدلال کښې پرمخې مو وړې زياتې وسوسې پيدا کيږي چه د هغې لرې
کول په اخر کښې ګران شي او د دې کلام هغه سړے تصديق کوي چا چه د فلسفة الهي او حکمت
او کلام ذائقه په ښه شان سره څکلې وي او د هغې په حقائقو او دقائقو کښې ئې د يو مدې پورې
غور نظر او فکر کړے وي ما د خپل عمر يو برخه لره په دې کښې صرف کړې ده وروستو د هغې
نه معلومه شوه چه څومره قدرې نظر او استدلال لره وسعت ورکوې دومره قدرې حيراني او
پريشاني سيوا کيږي او بل څه دليل په څه دعوى باندې نقض يا معارضې نه خالي نه وي. الا
ما شاء الله. په دې واسطه د لويو لويو متکلمينو امامانو لکه امام غزالي امام امدي سابن فورک
. امام فخرالدين رازي وغيره مونږ په خپل اخري عمر کښې رجوع اوکړه طرف د کتاب او سنت ته
او اعراض مو اوکړو د هغه وسوسو او خيالات عقليو نه په کومو کښې چه شيطان غوږ څولے
ووم بيا بچ کړو خدائے پاک چالره ې چه غوښته د خپلو بندګانو نه او الله تعالى قادر دے په هر
څيز باندې او د هغه پناه غوښتل پکار دي د شيطان د شر نه. امام فخرالدين رازي وئيلي دي چه
انتهاء د عقل د زغلولو داده چه په اخر کښې عقل اودريږي او دے حيرانيږي او ډيرو خلقو چا چه
په دې کښې کوشش کړے دے اخر ګمراه شوي دي. اوس دې شبهې ته اوګورئ کومه چه په
حديث کښې ذکر شوې ده چه الله تعالى هر څه پيدا کړي دي بيا معاذ الله! الله چا پيدا کړو دا
څومره لويه شبهه د شيطان ده. چه د هغې حاصل دادے چه الله تعالى واجب دے يا ممکن دے که
چرې ممکن دے نو په دې واسطه هم يو خالق ضرور دے او که واجب دے نو د هغه وجوب لره
معلول پکار دی بس حکماو او متکلمينو نه جواب کوو وجوب نه د خدائے په وجوب او وجوديت
مسئلو کښې ډيرې زياتې دي هغه د حکمت او د کلام د کتابونو د کتو نه معلومېدے شي
او هر کله چه هغه اوکړے او نه هغې ته سړے غور اوکړي نو دا نتيجه پيدا شي چه چه
خبره په زړه کښې نه حسوسېږي د حلوړو طرفه نه سلب د شبهه کښې بنده ګيرېږي اخر بيا
مشکلې طريقه د معلومېږي چه د خدائے کړي وجوب او وجود او وحدت لره د هغه فطري دلائلو
نه ثابت کړي چه هغه خدائے دل نه خپل غست سره د هر سړي په زړه کښې ايخودې دي او هغه
سے سيدا د دليلونو لره کوي چه حکماو د متکلمينو قائم کړي دي يوهم دي د حکماو او د

متکلمینو دلائل داسے دی: لکه مصنوعی گل چه په ظاهر کښے ښکلے دے خو د تاثیر گل نۀ دے په عوض د هغه تفریح او بے انتهاء خوبی کومه چه د گل د بوټو نه حاصلیږی ددغه مصنوعی گل نه یوشان له تشویش او حیرانتیا پیدا کیږی . ډیر فطری دلائل د خدائے پاك د پیژندگلی دی چه په هغے کښے د لږ شان غور کولو نه پس په خدائے پاك باندے یقین جوړیږی. او د هغه د صفتو ثبوت هم په ښۀ شان له حاصلیږی. او د هغه دلائلو مخدوشه عقلیه احتیاج باقی نۀ پاتے کیږی کومو لره چه فلاسفه او متکلمینو قائم کړے دی او مونږه د هغه دلائلونه د خو دلیلونو ذکر پوره کړے دے او که خدائے پاك اوغواړی نو مونږ به په دے باب کښے یوه جدا او مفصل رساله لیکو .

لومړے او اوچت دلیل د الله تعالی د پیژندلو دادے چه د څه کارخانے یا د باغ یا د مکان د ښۀ کیدو یا خرابیدو انتظام هم بغیر د یو منتظم نه نۀ وی بیا د دومره لوی عالم یعنی دنیا انتظام چه په هغے کښے په زرگونو عالم په شان زمونږ د زمکے دی او ددے تولو حرکات او سکنات او پیدا ولږ او د شپے او ورځے بدل والے بغیر د یو حاکم زبردست منتظم نه چه هغه د چا محتاج نۀ وی څنګه کیدے شی او کوم بنده چه دا ګنړی چه دا انتظام په خپله باندے چلیږی هغه د خپل عقل او بصیرت نه کار نۀ اخلی **ولم یجعل الله له نورا فماله من نور**

(۳۴۴)عن هشام بن عروة بهذا الاسناد ان رسول الله ﷺ قال یاتی الشیطان احدکم فیقول من خلق السماء من خلق الارض فیقول الله عزوجل ثم ذکر بمثله وزاد ((ورسله)) ا راجع ۳۴۳ا

ترجمه : د هشام بن عروة نه روایت دے په دے سند سره . رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه شیطان به تاسو کښے هر یوته راځی . بیا وائی چا پیدا کړے دے اسمان لره او چا پیدا کړے د زمکے لره نو هغه وائی الله پیدا کړے دی. بیا وائی چه الله چا پیدا کړے دے هر کله چه داسے شبهه ستاسو نه د چا په زړۀ کښے راشی نو وائی دے چه ما ایمان راوړے دے په الله پاك باندے او د هغه په رسولانو باندے.

فائده : ددے په لوستلو سره شیطان خفه شی او لاړ شی ولے چه د هغه د دهوکے نه څه نقصان اونۀ شی که چرے دا شبهه په زړۀ کښے راشی نو ددے علاج یو بل دے او هغه دادے: چه

دغه مردود شیطان نه اوواښی چه خدایے خو : هر خه پیدا کونکے دے او خدائے هغه چاته ونیلے شی چه : هغه پیدا کونکے بل خوک نه وی ب ستا دا نبوس کول چه خدائے چا پیدا کړے دے لوبه نادانی او حماقت دے چه دداسے لویے ذات چه : هغه عظمت او برکت او لوئی ددنیا ومافیها : تمامو کائناتو نه معلومیږی

(د ۳۴۵)عن ابی هریرة قال قال رسول الله یاتی الشیطان احدکم فیقول من خلق کذا و کذا حتی یقول له من خلق ربک فاذا بلغ ذالک فلیستعذ بالله ولینته : | راجع ۳۴۳

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی ی چه شیطان په تاسو کښے د یو خواله راشی بیا وائی چا پیدا کړے نی تر دے پورے چه دا وائی چه ښه ستا خدائے چا پیدا کړے دے هر کله چه ستاسو نه چاته داسے شبهه وی نو پناه غواړی په الله سره د شیطان نه او واړی د داسے خرابو خیالونو نه

فائده : یعنی دا خیال پریږده په بل خه کار کښے مصروف شه او پو هه شه چه دا د شیطان وسوسه ده او هغه گمراه کول غواړی (نووی)

(د ۳۴۶)عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ یاتی العبد الشیطان فیقول من خلق کذا و کذا بمثل حدیث ابن اخی ابن شهاب : | راجع ۳۴۳

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی شیطان د بنده خواله راځی او وائی دا چا پیدا کړے دی دا چا پیدا کړے دی بیا نے بیان کړو حدیث لره په هغه شان ځنګه چه وړاندے تیر شو .

(د ۳۴۷)عن ابی هریرة عن النبی ﷺ قال لا یزال الناس یسئلونکم عن العلم حتی یقولوا هذا الله خلقنا فمن خلق الله قال وهو اخذ بید رجل فقال صدق الله ورسوله قد سالنی اثنان وهذا الثالث او قال سالنی واحد وهذا الثانی .

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خلق به ستاسو نه د علم د خبرو تپوس کوی تردے پورے چه وائی به الله خو مونږه پیدا کړے یو بیا الله تعالی چا پیدا کړے دے

راوی وائی چه دے حدیث لره د بیانولو په وخت ابو هریرهؓ د یو سړی لاس نیولے وو. هغوی اووے رښتیا ونیلے دی الله او د هغه رسول ﷺ زمانه دوو سړو دا تپوس اوکړو او دا دریم دے یا یو سړی زمانه تپوس کړے دے او دا دویم دے

(۳۴۸)عن محمد قال قال ابوهريرة لا يزال الناس بمثل حديث عبد الوارث غير انه لم يذكر النبي ﷺ في الاسناد ولكن قال في آخر الحديث صدق الله ورسوله.

ترجمه :د محمدؒ نه مرفوعا دا حدیث په ابو هریرهؓ باندے مروی دے په دے کښے د نبی کریم ﷺ ذکر په اسناد کښے نشته دے لیکن د حدیث په آخر کښے دا سے دی چه رښتیا ونیلے دی الله او د هغه رسول ﷺ

(۳۴۹)عن ابي هريرة قال قال لي رسول الله ﷺ لا يزالون الناس يسألونك يا ابا هريرة حتى يقول هذا الله فمن خلق الله قال فبينا انا في المسجد اذ جاء ني ناس من الاعراب فقالوا يا ابا هريرة هذا الله فمن خلق الله قال فاخذ حصى بكفه فرماهم به ثم قال قوموا قوموا صدق خليلي ﷺ.

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ما ته فرمانیلے دی اے ابو هریرهؓ! خلق به ستا نه (د دین د خبرو) تپوس کوی تردے پورے چه دا اووائی عجیبه ده الله خو دادے اوس الله لره چا پیدا کړے دے. یو ځل مونږ په جمعت کښے ناست وو څه خلق د باندے او سیدونکی راغلل او اونے ونیل اے ابو هریرهؓ! عجیبه ده الله خو دادے اوس الله چا پیدا کړے دے ددے د اوریدو سره ابو هریرهؓ په یو ډک موټی کنړو باندے اوشتل او ورته نے اووے پاڅی پاڅی رښتیا ونیلے دی زما دوست رسول الله ﷺ

(۳۵۰)عن ابي هريرة يقول قال رسول الله ﷺ ليسألنكم الناس عن كل شيء حتى يقول الله خلق كل شيء فمن خلقه.

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی ستاسو نه به خلق د هرے سوے خبرے تپوس کوی تردے پورے چه اُربه وائی چه الله هر څیز پیدا کړے دے بیا الله لره چا پیدا کړے دے.

(٣٥١) عن انس بن مالک عن رسول الله ﷺ قال قال عزوجل ان امتک لا یزالون یقولون ما کذا ما کذا حتی یقولوا هذا الله خلق الخلق فمن خلق الله تعالی

ترجمه : د انس بن مالك نه روایت دے هغوی د رسول الله ﷺ نه اورېدلې دی چه الله تعالی فرمائیلې دی ستا د امت خلق به وائی دا څه دے دا څه دے په اخر کښې به داسے ووائی الله خو مخلوق پیدا کړے دے بیا الله چا پیدا کړے دے

(٣٥٢) عن انس عن النبی ﷺ بهذا الحدیث غیر ان اسحاق لم یذکر قال قال الله عزوجل ان امتک

ترجمه : د حضرت انس نه روایت دے چه دغه شان سره لکه څه پورته ذکر شو مگر په دے کښې دا نشته دے چه الله پاک عزوجل فرمائیلې دی ستا (چه خلق به) ستا امتیان وی.

باب وعید من اقتطع حق مسلم بیمین فاجرة بالنار

باب . کوم سړے چه قسم اوخوری او د چا مسلمان حق اوواخلی د هغه سزا جهنم دے :

(٣٥٣) عن ابی امامة ان رسول الله ﷺ قال من اقتطع حق امرئ مسلم بیمینه فقد اوجب الله له النار وحرم علیه الجنة فقال له رجل وان کان شیئا یسیرا یارسول الله قال وان قضیب من اراک

[نسائی ٥٤٣٦، ابن ماجه ٢٣٢٤]

ترجمه : د ابوامامه (ایاس بن ثعلبه انصاری حارثی یا عبد الله بن ثعلبه بن عبد الله) نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی چه کوم سړے د چا مسلمان حق (که مال وی یا غیر مال لکه د ږیرې څرمن غوښتل وغیره یا نور قسم نه حقوق وی لکه حق د شفعې حق د سړیب چه قذف د سخې سړه ... وار) اوواخلی او قسم اوخوری نو الله پاک د دۀ دپاره واجب کړو جهنم او حرام ئے کړو په دۀ باندے جنت نو دۀ نه یو سړی اووئے رسول الله اګر که هغه څه لږ غوندے څیز وی حضور ﷺ اوفرمائیل اګر که یو ښاخ د پیلو د اونے ولے نه وی

فائده : د مسلمانانو حق تلفی خومره لوے ګناه ده او دویم په دروغه باندے قسم خوړل معاذ الله ! دد سزا دغه ده چه د جنت نه به محرومه شی او جهنم ته لاړ شی اوس که دا حق

[illegible] اوګڼه نو ولې چې په هر حال [illegible] ده ځکه چې دا د اسلام حق لره او نه پېژندو او د [illegible]

[illegible] اوګڼه کړو امام نووي وېلي دي په دې حدیث کښې په [illegible]

[illegible] توجیه داچه حدیث محمول دې په هغه [illegible]

[illegible] حلال [illegible] په دې اعتقاد باندې خو هغه کافر دې

[illegible] واجب [illegible] نه دا مراد دې چه هغه

[illegible] معاف کړلې شي او د جنت د [illegible]

[illegible] دې به [illegible] او د مسلمان

[illegible] نه دا غرض نه دې چه د کافر ذمي حق [illegible]

[illegible] مطلب دا دې چه [illegible] وعید د هغه چا به حق کښې دې خو چه

[illegible] کافر ذمي [illegible] لیکن دا ضروري نه ده چه په هغې کښې دې

[illegible] په مذهب [illegible] کوي چه د مشهور مخالف

[illegible] مشهور [illegible] تاویل [illegible]

[illegible] وېلي دي [illegible] ولګولې شي نو اکثر معاملې د

[illegible] کافر [illegible] درست دي [illegible]

[illegible] دې کوم

چه د مسلمان [illegible] لیکن [illegible] او په خطو

[illegible] هغه [illegible]

[illegible]

[illegible] امام مالک او امام شافعي او د جمهور علماؤ د مذهب

[illegible] امام ابوحنیفه [illegible]

[illegible] امام نووي [illegible]

[illegible]

[illegible]

په دې صورت کښې د مسلم روايت منقطع شو ځکه چه عبد الله بن کعب تابعي دې او هغه صحابه نه دې پيدا شوې: هغه سړي ته چه هغه وخت مونږ لې ورځ په ٣ هجري کښې ليکن ناقل وخت د ابو امامه صحيح نه دې ولې چه د عبد الله بن کعب نه په صحت منقول دي چه حديث بيان کړې دې ابو امامه لکه چه ... حيله مسلم په دوه روايت کښې کړې دې ... تصريح په د عبد الله بن کعب د ... د ابو امامه نه او دې نه باطل شو هغه چه کوم اوئيلې شو چه ابو امامه وخت مونږ لې دې په ... هجري کښې او که چرې د تاريخ وخت صحيح وې نو مسلم ... ذکر کوو ... ابن الاثير په ... کتاب معرفة الصحابه کښې انکار کړې دې ... تاريخ وفات نه. انتهى

[٣٥٣] عن عبد الله عن رسول الله ﷺ قال من حلف على يمين صبر يقتطع بها مال امرئ مسلم هو فيها فاجر لقي الله عز وجل وهو عليه غضبان قال فدخل الأشعث بن قيس فقال ما يحدثكم أبو عبد الرحمن قالوا كذا وكذا قال صدق أبو عبد الرحمن في نزلت كانت بيني وبين رجل أرض باليمن فخاصمته إلى النبي ﷺ فقال هل لك بينة فقلت لا قال فيمينه قلت إذا يحلف فقال رسول الله ﷺ عند ذلك من حلف على يمين صبر يقتطع بها مال امرئ مسلم هو فيها فاجر لقي الله عز وجل وهو عليه غضبان فنزلت إن الذين يشترون بعهد الله وأيمانهم ثمنا قليلا [آل عمران: ٧٧] إلى آخر الآية

تخريج الأئمة: صحيح البخاري [illegible] ابو داود [illegible] ترمذي [illegible] ابن ماجة ٢٣٢٣.

توضيح: د عبد الله ابن مسعود نه روايت دې چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي کوم سړې چه د ... د مسلمان ... د هغه په باره به دروغه بانده قسم اوخوري نو دې به د الله جل ... په ... او هغه به په ده باندې ډير غصه وي هر کله چه عبد الله ابن مسعود دا حديث بيان کړو نو اشعث ابن قيس ... راغې او وئيل ابو عبد الرحمن دا کنيت دې د عبد الله ابن مسعود: ... حديث ... درته ... دا حديث ... اوئيلې چه

عنه ... نقل دي چه دا زما په باره کښې نازل شوي دی زما او د یو بل سړي د شرکت زمکه وه په
... کښې ... : هغه منع کښې جګړه راغله او موږ راغلو په خدمت کښې د رسول الله
ﷺ حضور ﷺ ما ته اوفرمائیل تا سره ګواهان شته ؟ ما عرض اوکړو چه نشته دي هغه
ﷺ اوفرمائیل چه خو بیا ده له قسم ورکړه ما اوویل چه هغه خو به قسم اوخوري رسول الله
ﷺ اوفرمائیل کوم سړي چه مجبور شي او قسم اوخوري د مسلمان د مال د وهلو دپاره
هغه دروغژن وي نو د هغه به د الله جل جلاله سره ملاویږي او هغه به غصه وي په ده باندې بیا
آیت نازل شو ان الذین یشترون بعهد الله وایمانهم ثمنا قلیلا ... د آیت آخر پورې یعنی کوم خلق چه د
الله پاک وعده او قسم ورکړي د لږ شان مال د اخستلو دپاره د هغوي به آخرت کښې څه حصه
نشته دې او خدای پاک به د هغوي سره خبرې نه کوي او نه به هغوي له پاک کړي او نه به د
هغوي طرف ته اوګوري او هغوي له به دردناک عذاب وي

فائده نووي رحمه الله لیکلي دي چه علماء وائي د غصې نه دا مراد دې چه الله پاک به د الره د
خپل رحمت نه لرې کړي او دې ته به عذاب کوي او ده له کار به بد اوګرځي ... مرجه والي چه دا
تاویل نې د حقیقت نهي معنی د غضب ... علماء سلفو د الله پاک په صفتو کښې تاویل نه دې
کړې چه ... هغې لره په ظاهر باندې او قلاره شوي دي د هغې د کیفیت د بیانولو نه او
د ... سلامتي او احسن ده او په تاویل کښې ډیرې خطرې دي خو امام نووي په دې مقام
... د متکلمینو پیروي کړې ده

۲۰۹ عن عبد الله قال من حلف علی یمین یستحق بها مالا هو فیها فاجر لقی الله وهو علیه غضبان
ثم ذکر نحو حدیث الاعمش غیر انه قال کانت بینی وبین رجل خصومة فی بئر فاختصمنا الی
رسول الله ﷺ فقال شاهداك او یمینه

ترجمه : عبد الله بن مسعود فرمائیلي دي چه کوم سړي قسم اوخوري د یو مال د وهلو دپاره
هغه ... په هغې کښې دروغژن وي نو د الله پاک سره به داسې حال کښې چه الله پاک به
په ده باندې ... بیا ... ذکر ... لکه چه مخکښې تیر شو په دې کښې دا زیاته ده
چه ... زما او د یو سړي ... کښې جګړه وه په یو کوهي کښې زمونږ دواړو جګړه وه د رسول الله

ﷺ نه محکمبي حضور ﷺ اوفرمائیل ستا دپاره دوه ګواهان دي یا ددۀ قسم دی

(۳۵۸) عن ابن مسعود یقول سمعت رسول الله ﷺ یقول من حلف علی مال امرئ مسلم بغیر حقه لقی الله وهو علیه غضبان قال عبد الله ثم قرا علینا رسول الله ﷺ مصداقه من کتاب الله عزوجل ان الذین یشترون بعهد الله وایمانهم ثمنا قلیلا (آل عمران ۷۷) الی آخر الآیة (بخاری ۲۳۵۶)

ترجمه : عبد الله ابن مسعود نه روایت دی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه هغه فرمائیلی وو کوم بنده چه ناحقه د مسلمان په مال باندې په ناحقه سره قسم اوخوری نو الله سره به ملاویږی په داسې حالت کښې چه الله به په ده باندې غصه وی عبد الله وائی چه بیا رسول الله ﷺ دې په تصدیق کښې دا آیت مبارک اولوستلو ان الذین یشترون بعهد الله وایمانهم ثمنا قلیلا تر آخره آیته پورې

(۳۵۹) عن وائل ابن حجر قال جاء رجل من حضرموت ورجل من کندة الی النبی ﷺ فقال الحضرمی یا رسول الله ان هذا قد غلبنی علی ارض لی کانت لابی فقال الکندی هی ارضی فی یدی ازرعها لیس له فیها حق فقال النبی ﷺ للحضرمی لک بینة قال لا قال فلک یمینه قال یا رسول الله ان الرجل فاجر لا یبالی علی ما حلف علیه ولیس یتورع من شیء فقال لیس لک منه الا ذالک فانطلق لیحلف فقال رسول الله ﷺ لما ادبر اما لئن حلف علی ماله لیاکله ظلما لیلقین الله عزوجل وهو عنه معرض (ابوداود ۳۲۴۵، ۳۶۲۳ ترمذی ۱۳۴۰)

ترجمه : د وائل بن حجر نه روایت دی چه دوه سړی د حضرموت او یو ملک نوم دی په عرب کښې او یو سړی د کندې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلې حضرموت والا اووئیل یا رسول الله ﷺ دې سړی زما په زمکه باندې زما په قبضه کښې ده زه په دې کرونده کوم ددۀ په دې کښې هیڅ حق نشته ده دې به شخص ... ... زمینداري کووم ددۀ په دې کښې هیڅ حق نشته دی نو رسول الله ﷺ حضرموت والا ته اووئیل ستا سره ګواهان شته؟ هغه اووئیل نشته دی حضور ﷺ اوفرمائیل ستا دپاره ددۀ قسم ورکړه هغه اووئیل یا رسول الله هغه خو فاجر دی به قسم

خوړلو کښې هغه ته باك نشته دے او هغه پرهيز نۀ کوی د څه خبرے نه . حضور ﷺ اوفرمائیل ستا اوس څه وس نۀ چلیږی په هغه باندے سوا د قسم نه بیا هغه لاړو قسم خوړلو لره رسول الله ﷺ اوفرمائیل هر کله چه د هغه شا شوه گوره که چرے دۀ قسم اوخوړو د بل د مال په ناحقه سره د اخستلو دپاره نو دے به د خدائے پاك سره ملاویږی او هغه به په دۀ باندے غصه وی .

(۳۵۹)عن وائل ابن حجر قال كنت عند رسول الله ﷺ فاتاه رجلان يختصمان فى ارض فقال احدهما ان هذا انتزى على ارضى يا رسول الله فى الجاهلية وهو امرء القيس ابن عابس الكندى وخصمه ربيعة ابن عبدان قال بينتك قال ليس لى بينة قال يمينه قال اذا يذهب بها قال ليس لك الا ذالك قال فلما قام ليحلف قال رسول الله ﷺ من اقتطع ارضا ظالما لقى الله عزوجل وهو عليه غضبان قال اسحاق فى روايته ربيعة ابن عيدان :[راجع : ۳۵۸]

ترجمه : د وائل ابن حجرؓ نه روایت دے زۀ د رسول الله ﷺ سره ووم . په دے کښې دوه سړی راغلل چه جنګ ئے کولو په یوه زمکه باندے یو اووے چه دۀ زما زمکه اخستے ده په زور باندے د جاهلیت په زمانه کښې او هغه امرء القیس بن عابس کندی وو او د هغه حریف (دشمن) ربیعه بن عبدان وو . حضور ﷺ اوفرمائیل ! ستا سره ګواهان شته هغه اووے نشته دے حضور ﷺ اوفرمائیل چه بیا په دۀ باندے قسم دے هغه اووے یارسول الله بیا خو به هغه زما مال واخلی (یعنی قسم به اوخوری) حضور ﷺ اوفرمائیل چه بس دغه کیدے شی ستا دپاره . هر کله چه هغه پاسیدو د قسم خوړلو دپاره نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل کوم سړے چه د چا زمکه په ظلم سره اوو هی نو خدائے پاك به په هغه باندے غصه وی هر کله چه دے د هغه سره ملاؤ شی د اسحاق په روایت کښې ربیعه بن عیدان دے .

فائده : یا د مثناة نه او د زهیر په روایت کښې په باء موحده سره . قاضی عیاض ونیلے دی چه صحیح د اسحاق روایت دے یعنی په عیدان یا مثناه سره او دا قول دے د دار قطنی او عبد الغنی په سعید او د ابونصر بن ماکولا . او ابن یونس په تاریخ کښې هم دغه شان لیکلے دی یعنی یو جماعت د حفاظو چه په هغوی کښې دی حافظ ابو القاسم بن عساکر دمشقی دۀ عبدان په

کسره د بانے موحده او عین او تشدید دال سره روایت کړے دے . نووی وائی چه ددے حدیث نه
خو مسائل معلوم شول . یو خو دا چه قابض زیات حقدار دے په نسبت د غیر قابض دویمه دا چه
هر کله مدعی علیه منکر شی او د مدعی سره ګواه نۀ وی . نو په مدعی علیه باندے قسم دے
دریمه دا چه ګواه مقدم دے په قبضه باندے او د چاسره چه ګواه وی څیز به هغه ته ورکولے شی
بغیر د قسم خوړلو نه . څلورم دا چه که مدعی علیه اګر فاسق وی بیا هم د هغه قسم مقبول دے
او مطالبه به د هغه نه ساقطیږی
پنځم دا چه که چرے مدعی علیه یو بل ته د دشمنی په وخت کښے فاسق یا فاجر اووائی
نو د هغے سزا خذه به نۀ وی شپږمه دا چه که چرے وارث د څه څیز دعوی کوی د خپل مورث د
طرف نه او حاکم ته دا خبره معلومه وی چه دده مورث مړ شوے دے او سوا د مدعی نه د هغه بل
څوك وارث نشته دے نو دده فیصله کول درست دی او په دے باندے چه مدعی دده وارث دے او
مورث مړ شوے دے ګواه اخستل ضروری نۀ دی او کوم حاکم ته چه دا امر معلوم نۀ وی نو
وروستے د وراثت په ثبوت باندے ګواه اخستل پکار دی بیا د دعوے په ثبوت باندے . انتهی
مختصرا

باب الدلیل علی انّ من قصد اخذ مال غیره بغیر حقّ کان القاصد مهدر الدم فی حقه وان قتل کان فی النّار وان من قتل دون ماله فهو شهید:

باب : کوم سړے چه په ناحقه سره پردے مال اخستل اوغواړی نو د هغه وینه به د هغے په حق کښے لغوه کیږی او چه مړ شی نو جهنم ته به ځی او مال والا که چرے د خپل مال په بچ کولو کښے مړ شی نو هغه شهید دے:

(۳۶۰)عن ابی هریرة قال جاء رجل الی رسول الله ﷺ فقال یا رسول الله ! ارایت ان جاء رجل یرید اخذ مالی فقال لا تعطه مالک قال ارایت ان قاتلنی قال قاتله قال ارایت ان قتلنی قال فانت شهید قال ارایت ان قتلته قال فهو فی النار:

ترجمه : د ابو هریرة نه روایت دے چه یو سړے رسول الله ﷺ ته راغے او عرض ئے اوکړو چه یا

رسول الله نه څه فرمائي چه کوه یو سړے راشي او زمانه زما مال په ناحقه سره اخلي حضور ﷺ اوفرمائیل چه مه ورکوه خپل مال هغه ته بیا هغه سړي اوویے که چرے هغه ما سره جنګ کوي حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه ته ورسره هم جنګ کوه بیا هغه اوویے که چرے هغه ما قتل کړي حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه ته شهید نے بیا هغه اوویے که چرے زۀ هغه مړ کړم حضور ﷺ اوفرمائیل هغه به جهنم ته ځي

فائده: یعني هغه مستحق شو د جهنم ولے چه هغه ظالم وو. بیا به یا دۀ ته بدله ملاؤ شي د دغه ظلم او جهنم ته به لاړ شي یا به نے الله تعالی معاف کړي. او څوك چه دے کار لره حلال ګڼړي هغه کافر دے هغه به بے شکه جهنم ته ځي او دا چه کوم حضور ﷺ اوفرمائیل که چرے ته مړ سوے نو ته شهید نے یعني تاته به ثواب د شهیدانو په شان ملاویږي اګر چه ددنیا په احکامو کښے شهید نۀ وي. ولے چه شهید په درے قسمه باندے دے یو خو هغه چه په جهاد کښے د کافرانو دلاسه مړشي په څه سبب سره نو هغه شهید دے د دنیا او د آخرت دواړو د احکامو په رو سره. یعني په دنیا کښے دا حکم دے چه دۀ لره به غسل نۀ ورکوي. او نۀ به پرے د جنازے مونځ کوي. او په اخرت کښے به دۀ ته درجه د شهیدانو ملاویږي. دویم هغه چه د آخرت د ثواب په رو سره شهید دے ددنیا په احکامو کښے شهید نۀ دے. لکه په طاعون سره مړشي یا د ګېډے په بیمارۍ سره یا چه پرے کور راولویږي. یا چه د خپل مال په بچ کولو کښے شهید شي په دوی باندے د شهید لفظ په حدیث کښے وارد سوے دے. نو داسے شهید لره به غسل ورکوي او مونځ د جنازے به پرے لولي او په آخرت کښے به دوی ته ثواب د شهیدانو به ښن ملاویږي خو دا ضروري نۀ ده چه د ورومبي قسم شهیدانو برابر به ورته ثواب ملاویږي

دریم هغه چه د دنیا د احکامو په رو سره شهید دے. خو دوی لره به د شهیدانو ثواب نه پوره ثواب نۀ ملاویږي لکه هغه شهید چه هغه د غنیمت په مال کښے خیانت کړے وي او یو مثال د هغه چه هغه ته ویلے شي چه شهید نۀ دے بیا دا قسم شهید که چرے د کافرانو سره په جنګ کښے شهید شوے وي د هغه حکم به د دنیا د شهیدانو په شان وي. نۀ به دۀ لره غسل ورکوي او نۀ به پرے مونځ د جنازے کوي خو په آخرت کښے به دۀ ته پوره ثواب نۀ ملاویږي

شهید نه شهید ځکه وئیلې شی چه هغه ژوندئ دے او د هغه روح په جنت کښې حاضر دے په
خلاف د نورو مړدګانو چه هغه به د قیامت په ورځ باندے جنت ته ځی دا قول د نضر بن شمیل
دے او ابن الانباری وائی ځکه چه د شهید دپاره الله تعالی او د هغه فرښتو ګواهی ورکړے ده د
جنت او بعضو وئیلے دی ځکه چه شهید د ساه وتلو په وخت کښې خپلو درجو او مرتبو لره وینی
او بعضے وائی چه فرښتے د هغه د روح اوچتو دپاره حاضریږی او بعضو وئیلے دی چه ددهٔ په
ایمان او په ښکلے خاتمه باندے خلق ګواه وی د ظاهر په رویٔ باندے او بعضو وئیلے دی چه ددهٔ
وینه او زخم په دهٔ باندے ګواه دی ولے چه هغه د قیامت په ورځ باندے د قبر نه پاځی او د هغه زخم
به تازه وی او وینه به ترے بهیږی او ازهری وغیره یو بل قول نقل کړے دے چه دهٔ ته شهید ددے
د وجے نه وئیلے کیږی چه دے به ګواه وی د قیامت په ورځ په نورو امتونو باندے به دے صورت
کښے ددے د تخصیص څه وجه نشته دے ولے چه زمونږه د پیغمبر ﷺ امت ګواه دے په نورو
امتونو باندے (انتهی ما قال النووی)

۳۲۱ عن ثابت مولی عمرو ابن عبد الرحمان اخبرهٔ انّه لما کان بین عبد الله ابن عمر وبین عنبسة
ابن ابی سفیان ما کان تیسروا للقتال فرکب خالد بن العاص الی عبد الله ابن عمرو فوعظه خالد
فقال عبد الله ابن عمرو اما علمت ان رسول الله ﷺ قال من قتل دون ماله فهو شهید

ترجمه: د ثابت نه روایت دے چه مولی وو د عمرو بن عبد الرحمن هر کله چه د عبد الله ابن
عمرو او د عنبسه بن ابی سفیان په مینځ کښې فساد راغے نو دا دواړه جنګ کولو ته تیار شو. خالد
بن العاص چه د [illegible] سور شو او د عبد الله ابن عمرو خوا ته راغے او هغه
ته [illegible] الله ابن عمرو [illegible] معلومه نه ده چه حضور ﷺ فرمائیلی دی کوم
سړے [illegible] د خپل مال د [illegible] هغه شهید دے

فائده: [illegible] ظلما سره ددهٔ مال [illegible] احتمال غواړی
نو هغه جنګ کولی د دغه ظالم سره او [illegible] په دغه جنګ کښې نو دے شهید دے او که حربی
دغه [illegible] نو هغه به جهنم ته ځی [illegible] کښی ذکر شو امام نووی
فرمائی ددے حدیثو [illegible] هغه سړی فیل [illegible] چه هغه به [illegible] باندے مال

اختـــل غــوارِي اوس کۀ دغه .مال لږ وي .وکۀ ډير وي ولے چه حديث عام دے او بعضے مالکيو نا
لیـکـلے دي، چـه د لږ مـال په غصب سره اخـتـلو کښے لکه کپړا یا غله قتـل درست نۀ دے خو نا
مذهب خه نۀ دے ولے چه دَ حدیثو نه خلاف دے او تهیك هغه دے کوم چه د احادیثو نه ثابت
شوے دے. او دے لره جمهورو اختيار کړے دے او د خپل مال د بچ کولو دپاره جنگ کول جائز دي
.واجب نۀ دي کـه غـوارِي نو جنگ دے نۀ کوي مال لوټل دے برداشت کړي ليکن د ښځے عزت
بچ کـول واجب دي او دَ هغے دپاره جنگ کول ضروري دے او دَ خپل ځان دپاره بل دویم لره وژلو
کښے اختلاف دے .

(۳۶۲) عن ابن جريج بهذا الاسناد مثله :

ترجمه: دَ ابن جريج په سند سره هم دا روایت مروي دے

باب استحقاق الوالي الغاش لرعيته النار :

باب : کـوم حـاکـم چـه دَ خپـل رعيت په حقوقو کښے خيانت کوي . دَ هغه دَپاره
جهنم دے :

(۳۶۳) عـن الـحـســن قال عاد عُبَيْد الله بن زياد معقل ابن يسـار الْمُزنِيَّ فِيْ مرضه الَّذِى مات فِيْه فقال
معقل انّه محدثک حديثا سمعْتهٔ من رَسُول الله ﷺ لَوْ علمْتُ انّ لِيْ حيوة ما حدّثْتك انّي سمِعْتُ
رسُـول الله ﷺ يقولُ ما من عبد يسترعيه الله رعيّة يموت يوم يموت وهُو غاش لرعيّته الا حرّم الله
عليْه الْجنّة : [بخاري : ۷۱۵۰، ۷۱۵۱، وانظر في مسلم ۴۷۲۹، ۴۷۳۰]

ترجمه : د حســن نـه روایت دے . عبیـد اللـه بـن زیاد د معقل بن یسار تپوس ته راغے په کومه
بیـمـاري کښے چـه هـغه مړ شو نو معقل اووے چه زۀ يو حديث بيانووم کوم چه ما دَرسول الله
ﷺ نـه اوریـدلے دے او کـه چرے ماته علم وے چه زۀ به ژوندے یم نو ما به تاسو ته دا بیان کړے نۀ
وے. مـا درسـول الـلـه ﷺ نـه اوریـدلے دي چه فرمائیلي ئے وو یو بنده داسے نشته چه هغه لره الله
تـعالٰی رعیت ورکړے وي بیا هغه مړشي په داسے حالت کښے چه هغه خیانت کوي دَ خپل رعیت
په حقوقو کښے مگر خدائے پاك به حرام کړي په هغه باندے جنت لره .

فائده : دا حدیث معقلؓ عبید الله بن زید ته د مرګ په وخت کښې بیان کړو ولې چه هغه ته معلومه وه چه عبید الله بن زیاد ته دا حدیث فائده نۀ ورکوی بیا هغوی خیال اوکړو چه د حدیث پټول غوره نۀ دی او د نیکے خبرے بنودل ضروری دی اګر که هغه یې مني یا نۀ مني . ددے وجې نه هغه په خپل ژوند کښې بیان نۀ کړو چه هسے نه ددے حدیث نه یو فساد خور شي خلق عبید الله بن زیاد بد اوګنړی او ددۀ د اطاعت نه بهر شي یا عبید الله ابن زیاد معقلؓ ته څه ضرر اورسوی ولے چه هغه مردود جابر او ظالم وو . او هغه د اهل بیتِ نبویؐ حرمت او عزت اونۀ کړو نو د بل چا د حرمت د هغه نه څه توقع وه .

او د رعیت په حقوقو کښې د خیانت کولو نه مراد دادے چه د حاکم د پاره د خپل رعیت د دین او د دنیا دواړو اصلاح ضروری ده بیا که چرے هغه د خلقو دین خراب کړو ، او حدود شرعیه یې پریخودل یائے د هغوی په جان او مال باندے ناحقه زیاتے اوکړو یائے بل قسم ناانصافی اوکړه یا یې د هغو د حق تلفي اوکړه نو هغه په خپل منصب کښې خیانت اوکړو . اوس هغه جهنمي شو او که چرے دغه کار لره یې حلال اوګنړلو نو همیشه دپاره د جنت نه محروم شو . ګني په اول تولے کښې هر کله چه جنتیان جنت ته داخلیږی نو دیے به د هغوی سره د تلو نه محروم شي . (نوویؒ)

(۳۶۴)عنِ الحسن قال دخل عُبیدُ اللّٰه ابن زیاد علٰی معقِل بن یسارؓ وهو وجع فسأله فقال انی محدّثک حدیثًا لم اکن حدّثتکهٗ انّ رسول اللّٰه قال لا تسترعی اللّٰهُ عبدًا رعیّة یموت حین یموت وهو غاش لها الّا حرّم اللّٰهُ علیه الجنّة قال الا کُنت حدّثتنی قال ما حدّثتک اوْلم اکن لاحدّثک :

[راجع ۳۶۳]

ترجمه : د حسن نه روایت دے چه عبید الله بن زیاد د معقل بن یسارؓ خوله لاړو او هغه بیمار وو هغه ته معقلؓ اووے زۀ تاته یو حدیث بیانوم چه هغه ما تاته نۀ وو بیان کړے رسول الله ﷺ فرمانیلے دی الله چا بنده لره رعیت نۀ ورکوی بیا هغه د مرګ په وخت د هغوی د حقوقو په خیانت کښې مړکیږی مګر الله پاك حراموی په هغه باندے جنت لره . ابن زیاد اووے ولے تا ماته دا حدیث نۀ بیانولو ددے نه مخکښې معقلؓ اووے چه ما بیان کړے نۀ دے تاته یا ما ولے تاته بیانکړے

وي۔ (او خپل ځان مې په مصيبت کښې اخته کړے وے اوس خو مړ کيږم ما ته ستا نه په نښته په دے وجه باندے مې بيان کړو۔

(۳۶۵) عَنْ هِشَام قَالَ قَالَ الْحَسَنُ كُنَّا عِنْدَ مَعْقِلِ ابْنِ يَسَارٍ نَعُودُهُ فَجَاءَ عُبَيْدُ اللّٰهِ ابْنُ زِيَادٍ فَقَالَ لَهُ مَعْقِلٌ اِنِّي سَاُحَدِّثُكَ حَدِيْثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ ثُمَّ ذَكَرَ بِمَعْنَى حَدِيْثِهِمَا : [راجع ۳۶۳]

ترجمه : دَ هشام نه روايت دے حسن وائي چه مونږ دَ معقل بن يسار سره وو د هغه دَ بيمار پرسئ دپاره په دے کښې عبيد الله ابن زياد راغے معقل هغه ته اووے زۀ تا ته يو حديث بيانووم چه ما اوريدلے دی دَ رسول الله ﷺ نه بيا ئے بيانکړو حديث لره په هغه شان لکه چه مخکښے ذکر شو۔

(۳۶۶) عَنْ اَبِي الْمَلِيْحِ اَنَّ عُبَيْدَ اللّٰهِ ابْنَ زِيَادٍ عَادَ مَعْقِلَ ابْنَ يَسَارٍ فِي مَرَضِهِ فَقَالَ لَهُ مَعْقِلٌ اِنِّي مُحَدِّثُكَ بِحَدِيْثٍ لَوْلَا اَنِّي فِي الْمَوْتِ لَمْ اُحَدِّثْكَ بِهِ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ يَقُوْلُ مَامِنْ اَمِيْرٍ يَلِي اَمْرَ الْمُسْلِمِيْنَ ثُمَّ لَا يَجْهَدُ لَهُمْ وَيَنْصَحُ اِلَّا لَمْ يَدْخُلْ مَعَهُمُ الْجَنَّةَ : [انظر فی مسلم : ۴۷۳۱]

ترجمه : ابو المليح (عامر يا زيد بن اسامه هذلی بصری) نه روايت دے چه عبيد الله بن زياد دَ معقلؓ بيمار پُرسی اوکړه دَ هغه په بيمارئ کښې نو معقلؓ اووے چه زۀ تا ته يو حديث بيانووم که چرے مړ کيدو والا نۀ وے نو تا ته به مے بيان کړے نۀ وے ما دَ رسول الله ﷺ نه اوريدلے دی چه فرمائيلے ئے وو چه څوک حاکم وی دَ مسلمانانو بيا دَ هغوی په نيکئ کښے کوشش نۀ کوی او په خالص نيت سره دَ هغوی بهتری نۀ غواړی نو هغه به د هغوی سره جنت ته نۀ شی تللے۔ (بلکه ورستو به پاتے کيږی او د خپلے ناانصافئ عذاب به ئے شرموی۔)

باب رفع الامانة والايمان من بعض القلوب وعرض الفتن على القلوب :

باب : دَ بعضے زړونو نه د امانت او د ايمان پورته کيدو بيان او دَ فتنو راتلل په زړونو کښے :

(۳۶۷) عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حَدِيْثَيْنِ قَدْ رَاَيْتُ اَحَدَهُمَا وَاَنَا اَنْتَظِرُ الْآخَرَ حَدَّثَنَا اَنَّ الْاَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوْبِ الرِّجَالِ ثُمَّ نَزَلَ الْقُرْآنُ فَعَلِمُوْا مِنَ الْقُرْآنِ وَعَلِمُوْا مِنَ السُّنَّةِ ثُمَّ حَدَّثَنَا رَفْعَ الْاَمَانَةِ قَالَ يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الْاَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ فَيَظَلُّ اَثَرُهَا مِثْلَ الْوَكْتِ ثُمَّ يَنَامُ النَّوْمَةَ

فتقبض الامانة من قلبه فيظلّ اثرها مثل المجل كجمر دحرجته على رجلك فنفط فتراه منتبرا وليس فيه شيئ ثمّ اخذ حصاة فدحرجه على رجله فيصبح النّاس يتبايعون لا يكاد احد يؤدى الامانة حتى يقال انّ في بنى فلان رجلا امينا حتى يقال لرجل ما اجلده ما اظرفه ما اعقله وما في قلبه مثقال حبّة من خردل من ايمان ولقد اتى علىّ زمانّ وما ابالى ايّكم بايعت لئن كان مسلما ليرده الله على دينه ولئن كان نصرانيًا او يهوديًا ليردنه على ساعيه واما اليوم فما كنت لابايع منكم الا فلانا وفلانا :

[بخاری : ۶۴۹۷، ۷۰۸۶، ۷۲۷۶، ترمذی : ۲۱۷۹، ابن ماجه : ۴۰۵۳]

ترجمه : دَ حذیفه بن یمانؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږه ته (دَ امانتونو په باب کښے) دوه حدیثونه بیان کړل یو خو ما اولیدو او دَدویم انتظار کووم حدیث بیان کړو مونږ ته (دا وړومے حدیث دے) چه امانت دَ خلقو دَ زړونو په زیله باندے نازل شو بیا هغوی حاصل کړو قرآن لره او حاصل ئے کړو حدیث لره . بیا حدیث بیان کړو هغه مونږ ته (دا دویم حدیث دے) چه امانت به پورته شی نو اوئے فرمائیل چه یو سړے به لږ ساعت اودهٔ شی بیا به دَ هغه د زړهٔ نه امانت اوچت کړے شی او دَ هغه نشان به دَ یو پیکه رنګ په شان پاتے شی. بیا به یو خوب واخلی نو امانت به دَ زړهٔ نه پورته شی او دَ هغ نشان ه دَ یو چهالے په شان پاتے شی لکه ته چه یوه سکروټه په خپه باندے تویه کړے او بیا د خرمنے دَ سوزیدو سره یوه پونړاکه رااوخی دَ هغے دننه څه نه وی . بیا هغه یوه ګیټی واخسته او په خپله خپه باندے ئے اوغوړځوله او اوئے فرمائیل چه خلق به اغستل او خرڅول کوی او په هغے کښے به څوك داسے نهٔ وی چه هغه امانت ادا کړی تردے پورے چه خلق اووائی چه په فلانکی قوم کښے یو سړے امانتدار دے او ددے پورے چه یو سړی ته به دا اونیلے شی چه هغه څنګه خوش مزاج هوښیار او عقل مند دے . (یعنی دَ هغه بهٔ تعریف کوی) او د هغه په زړهٔ کښے به دَ اوری دَدانی برابر ایمان هم نهٔ وی . بیا حذیفهؓ وائی چه په ما باندے یوه زمانه تیره شوے ده هر کله چه به ما بے خطرے دَ هر یو سره معامله کوله (یعنی لین دین) څکه چه که چرے هغه مسلمان وے نو د هغه دین به هغه لره د بے ایمانی نه راړولے وو او که چرے نصرانی یا یهودی وے نو حاکم به هغه دَ بے ایمانی نه منع کړو لیکن په نن ورځ خو زهٔ ستاسو

خلقو سره چرته هم معامله نهٔ کووم البته د فلانی او فلانی سری سره به کووم.

فائده: نووی وائی ظاهره داده چه د امانت نه هغه تکلیف مراد دے کوم چه الله تعالی خپلو بندګانو ته ورکړے دے او هغه اقرار کوم چه نے ددوی نه اخستے دے. امام ابوالحسن واحدی ددے آیت په تفسیر کښے وائی: " انا عرضنا الامانة علی السموت والارض والجبال " چه ابن عباس وئیلے دی چه امانت د الله تعالی هغه فرائض دی چه هغه نے فرض کړے دی په خپلو بندګانو باندے. او حسن وائی چه د امانت نه مراد دین دے او دین ټول امانت دے او ابو العالیه وائی چه: امانت نه اوامر او نواهی مراد دی او مقاتل وائی چه دَ امانت نه عبادات مراد دی. حامدی وائی: اکثرو مفسرینو داقول دے نو امانت ددے تولو په نزد عبادات او فرائض دی چه دَ هغے په اداء کولو سره ثواب ملاویږی او په نهٔ کولو سره ئے عذاب وی او صاحب تحریر وائی چه په احادیثو کښے: امانتونو نه مراد هغه دی کوم چه په دے آیت کښے دے " انا عرضنا الامانة " او هغه عین ایمان دے. نو هر کله چه ایمان دَ انسان په زړهٔ کښے بنهٔ جمع شی په دغه وخت کښے هغه تکالیفو لره پوره کوی او د هغے په اداء کولو کښے کوشش کوی. انتهی

مترجم وائی چه د امانتونو او ایمان یوه ماده ده او په شرعه کښے ایمان او امانت لازم او ملزوم دی د چاپه زړهٔ کښے چه ایمان دے د هغه په زړهٔ کښے امانت هم دے او د چا په زړهٔ کښے چه ایمان نشته دے د هغه په زړهٔ کښے امانت هم نشته دے او مراد د امانت نه دادے چه په زړهٔ کښے یو قسم پاکیزګی رڼتونوالے او صفائی وی او دانصاف او راستی نه پوره ډك شوے وی کوم زړهٔ چه د جاهلیت په زمانه کښے داسے وو هغوی په اسلام پوهه شو او قبول ئے کړو او شرك او کفر لره نے پریخودو بیا د قران او حدیث په حاصلولو سره په هغوی باندے نور زیات نورانیت اوختو آئینه ئے صفا وه او ددے سره بنهٔ صفا شوه او په کومو زړونو کښے چه امانت نهٔ وو د مکر او خیانت نه هغه خمیر شوے وو. او دپاسه پرے د شرك او کفر تیارهٔ خوره شوے وه لکه دَ ابو جهل زړهٔ داسے زړونو ته د قرآن او احادیث نه هیڅ فائده اونهٔ شوه هغه هیڅ کله مسلمانان نهٔ شو بلکه د پل شیطانت او د مکر او خیانت په وجه سره نور زیات په کفر کښے مضبوط شول. تردے پورے چه الله پاك هغوی لره هلاك کړو ددے نه سوا بل څه علاج نهٔ وو.

د اودۂ کیدو نه یا دغه ظاهری معنی مراد ده یا د خوب نه دا مقصود دے چه لږ ساعت به د
خدائے پاك د ذکر نه غافل وی او د بے ایمانه سره به په خرابو مجلسونو کښے کینی ۔ یا د لږ وخته
پورے به د دنیا د کاروبار خرید او فروخت کښے به مصروف وی ۔ یعنی نور به ترے نه پورته شوے
وی او تاریکی به په کښے پاتے وی لکه ښکلے او صفا رنګ به ترے نه اووښځلے شی نو توره شان
ښه به پاتے شی په حدیث کښے د وکت لفظ تول دے چه د هغے معنی ده ددانے داغ او بعضو ددے
معنی پیکه سیاهی ښودلے ده او بعضو وئیلے دی هغه رنګ چه د مخکښے رنګ نه خلاف وی۔
نووی ؒ د صاحب تحریر نه نقل کوی چه ددے مطلب دادے چه امانت به د زړۂ نه لږ لږ او چتیدل
شروع شی هر کله چه په وړومبی حصه د هغے پاتی نو د هغه نور به ختم شی او یوه توره دهبه (
زخه) به پاتے شی د پیکه رنګ لکه د وړومبی رنګ خلاف به دا رنګ پیدا شی بیا چه هر کله
یوه بله حصه پورته شی نو د پونړاکی په شان نشان به جوړ شی او دا یو مضبوط داغ دے چه د
موډو پورے به وی ، په دے کښے به توروالے د اول نه زیات وی نو د امانت نور لره او د بے ایمانی
تیارے لره ئے د چھالے یعنی د پونړاکے سره مشابهت ورکړو۔ په یوه سکروټه چه په خپه باندے په
ایخودو سره د اور نور خو زر ختم شی او یو تور شان داغ به خپه باندے پاتے شی لو په ګیتی
غورځولو سره حضور ﷺ دغه تشبیه نوره هم واضحه کړه ددے دپاره چه خلق پرے په ښۀ
طریقه سره ښۀ پوهه شی۔ حاصل دادے چه د ایمان نور به په قلاره قلاره د زړۂ نه پاخیږی او د
کفر توروالے به په کښے خوریږی۔ او په دے شان د زړۂ نه احاطه کوی وړومبی لږ شان داغ وی بیا لږ
لږ زیاتیږی بیا تر دے پورے چه زړۂ بالکل تور شی او د ایمان په بدله کښے پرے کفر خورشی۔
لکه څنګه چه په دے زمانه کښے هر سړے امانتدار دے څوك د چا حق نۀ وهی په یو بل
باندے ئے بهروسه ده دابه بالکل ختمه شی او د امانتونو نوم او نشان به په دنیا کښے پاتے نۀ شی۔
مګر چرته چرته په لکونو او زرګونو کښے یو نیم سړے ایمان دار او خداترس پاتے شی چه هغه به
امانتدار وی خلق به هغه مشهور کړی چه یو هغه سړے امانتدار دے۔ داسے زمانه اوس موجود
ده چه څوك په چا باندے بروسه نۀ کوی چاته چه روپۍ ورکړے هغ هضمه وی د امانت اداء کول
خو څه بلکه په توله دنیا کښے به بے ایمانی خوره شی، نو د ایمان قدر او منزلت به هم ختمیږی نه

اوبستلے شی تعریف به هم کوی خو د بے ایمانانو ما پخپله باندے دا حال په حیدرآباد دکن کښے لیدلے دے هغه خلق کومو نه چه مسلمانان او مومنان ونیلے شی د لوے لوے فاندے دپاره دے دینه او د بے ایمانه خلقو تعریفونه کوی او د هغوی خوشامندی کوی

اوکوم سرے چه ددین نانید کوی هغوی ته د بے ایمانانو د خوشالولو دپاره بد وانی: لا حول ولا قوة الا بالله ". څکه خو د خدائے وهنه دداسے د نوم په مسلمانانو باندے پریوتے ده چه هغه د کافرو په حکومت کښے د اوسیدو نه علاوه د کافرو په نظر کښے داسے ذلیل او خوار دی چه سوا د باورچی گونی خدمت گاری او خانسامانی نه علاوه بل یو کار هم ددوی نه نهٔ اخستلے کیږی. او په یوه زمانه کښے مسلمانان د تمامو قومونو سرداران وو او د هغوی رعب او دبدبه دومره وه، چه په کافرانو باندے به د هغوی د نوم اخستو سره یره راتلله هر یو مسلمان به د خدائے په احکامو باندے په قربانیدو فخر گنړلو. ـ ببین تفاوت راه از کجا است تا بکجا.

چونکه د امانتونو او ایمانداری زمانه وه څکه مسلمانان ټول امانتدار وو د هغوی سره بغیر د خوف او خطر نه لین دین او معامله کول وو. د وژلو یره خو د سره نه نهٔ وه. او دغه نصرانیانو به هم بے ایمانی نهٔ کوله ذیرے د وجے نه او که کووله به نے نو ایماندار حاکم مجود وو هغه به ورله سزاء ورکووله او د بے ایمانی نه به نے راړولو او زما پیسے به نے ماته راکوولے هغه به هیڅ کله نهٔ ډوبیدے. د څو خلقو نوم نے واخستو چه هغه به ایماندار وی د باقی خلقو څه بروسه نشته دے او هر کله چه خلق بے ایمانه شونو حاکم هم دغه شان کیږی هغه د رشوت خوری او د ظلم نه علاوه حق لره ناحق کوی او غریب رعایا لره تنگوی. او د هغوی حق تلف کوی. ددے وجے نه د حاکم نه هم دا امید نهٔ دے پاتے چه هغه به بے ایمان لره هم سزاء ورکړی او حق ډوبولو نه به نے پریږدی. قاضی عیاض وانی چه بعضو د مبایعت نه کوم چه د حذیفهؓ په قول کښے دے د خلافت بیعت مراد اخستے دے او دا خطاء دے ولے چه د یهودی او نصرانی نهٔ د خلافت بیعت نهٔ شی کیدے نو د مبایعت نه دغه اخستل او خرڅول او معامله او لین دین مراد دے.

(۳۶۸) عن الاعمش بهذا الاسناد مثله :

توجمه : په مختلفو اسنادو سره د اعمش روایت د تیر شوی روایت په شان دے.

(٣٦٩) عَنْ حذیفہ قال کُنا عِنْد عُمر فقال اَیُّکُمْ سمع رسُوْل اللّٰہِ ﷺ یذکر الْفِتن فقال قومٌ نحنُ سمعنَاہُ فقال لعلّکم تعنُون فِتنۃ الرَّجُل فِی اھلہ ومالہ وجارہٖ قالُوا اجل قال تلک تُکفِّرُھا الصَّلٰوۃ والصِّیام والصَّدقۃ ولٰکن اَیُّکم سمع رسُوْل اللّٰہِ ﷺ یذکر الَّتِی تموج مَوْج الْبحْر قال حُذیفۃ فاسکت الْقومُ فقُلْتُ انا قال انت للّٰہ ابُوک قال حُذیفۃ سمِعْتُ رسُوْل اللّٰہِ ﷺ یقُولُ تعرض الفتن علی الْقُلُوب کَالْحَصِیْر عوْدًا عوْدًا فایّ قلْبٍ اشربُھا نُکت فِیْہ نُکْتۃ سوْدآء وایّ قلْب انکرھا نُکت فِیھا نُکْتۃ بیضاء حتّی تصِیْر عَلٰی قلْبیْن علی ابیض مثْل الصَّفا فلا تضرّہٗ ما دامت السّمٰوٰت والْارض وَالْآخر اسْوَد مُرْبَادًّا کَالْکُوز مَجخِیًا لا یعرف معْرُوفًا ولا یُنْکِرُ مُنکرًا الا ما اُشْرب مِنْ ھواہُ قال حُذیفۃ وحدَّثْتُہ انّ بیْنک وبیْنھا بابٌ مُغْلقًا یُوشِکُ اَن یُّکسر قال عُمرُ کسرًا لَا ابا لَکَ فلوا انّہ فُتح لعلّہ کَان یُعادُ قُلْتُ لا بل یُکْسَر وحدّثْتہ انّ ذالک الْبَاب رَجُلٌ یُقْتَلُ او یموتُ حدیْثًا لیْس بِالْاغالِیط قال ابُو خالِد قُلْتُ لِسعْد یَا ابَا مالِک ما اَسْود مُرْبَادًّا قال شِدّۃ الْبَیاض فِی سوادٍ قَالَ قُلْتُ فما الْکُوز مُجخِیًا قالَ منْکُوسًا :

ترجمہ : د حذیفہؓ نہ روایت دے مونږہ دَ امیر المؤمنین حضرت عمرؓ سرہ ناست وو ھغہ اووے چہ پہ تاسو کښے چا دَ رسول اللہ ﷺ نہ دَ فتنو پہ بارہ کښے اوریدلے دی. خلقو اووے او مونږہ اوریدلے دی حضرت عمرؓ اوفرمائیل چہ شاید تاسو دَ فتنو نہ ھغہ فتنے مراد کوئ چہ ھغہ دَ سړی پہ کور او پہ مال او پہ گاونډیانو کښے وی. ھغوی اووے چہ او ! حضرت عمرؓ اوفرمائیل چہ : ھغہ فتنو کفارہ و پہ یو مونځ . روژہ او زکوۃ سرہ اداء کیږی لیکن ستاسو نہ چا اوریدلے دی ھغہ فتنو لرہ د رسول اللہ ﷺ نہ چہ ھغہ بہ د دریاب دَ موجونو پہ شان پہ چپو چپو باندے راځی . حذیفہؓ وائی چہ ددے پہ اوریدو سرہ تمام خلق چپ شول ما اووے ما اوریدلے دی. حضرت عمرؓ اوفرمائیل چہ تا اوریدلے دی ستا پلار ډیر ښۂ وو . حذیفہؓ اوفرمائیل چہ ما د رسول اللہ ﷺ نہ اوریدلے دی چہ فرمائیلے ئے وو فتنے بہ پہ زړونو باندے داسے راځی دَ یوے نہ پس بلہ لکہ د بوری تیلیان چہ دَ یو نہ پس یو وی بیا کوم زړۂ کښے چہ کومہ فتنہ پیدا شی نو پہ ھغے کښے یو تور داغ پیدا شی او کوم زړہ چہ دے لرہ نۂ منی نو پہ ھغہ کښے بہ یو سپین نورانی داغ وی. تردے

پوړے چه په دے شان به سپین او تور داغونه داغونه کیږی زړه به په دوه قسمه باندے شی یو خو خالص سپین زړهٔ د: هموارے گټے په شان چه هغے ته به یو فتنه نقصان نهٔ شی رسولے د کومے پوړے چه زمکه او آسمان قائم وی ۔ دویم هغه تور او سفیدی مائل زړهٔ چه د لوړو جوړو په شان چه هغه نهٔ څه نیے خبرے لره بنهٔ گنړی. او نهٔ بدے خبرے لره بده گنړی مگر هغه چه هغه دوهٔ په زړهٔ کښ کینی حضرت حذیفهؓ وائی چه ما بیا حضرت عمرؓ ته حدیث بیان کړو چه ستا او ددے فتنے په منځ کښے یو دروازه ده چه هغه بنده ده مگر نزدے ده چه هغه ماته شی ۔ حضرت عمرؓ اوفرمائیل چه ماته به شی ستا پلار نشته که چرے کهولاویږی نو شائد چه بیا نے بنده کړی ما اوویے نه ماته به شی او ما هغه ته حدیث بیان کړو چه دا دروازه یو سړے دے چه هغه به قتل کړے شی یا به مړ شی بیا دا حدیث څه غلط (د زړهٔ نه جوړه شوے خبره) نهٔ وو ابو خالد وائی چه ما د سعد بن طارق نه تپوس اوکړو (کوم چه ددے حدیث راوی دے) د اسود "مربادا" نه څه مراد دے؟ هغوی اوویے د سپین والی شدت په توروالی کښے ما اوویے چه د کلکوز مجخیا نه څه مراد دے هغوی اوویے کوز تیت شوے ۔

فائده : د فتنے اصل معنیٰ ازمائش او امتحان دے بیائے په عرف کښے دے ته اوئیلو چه ددے نه یو قسم برائی پیدا شی ابوزید وئیلے دی داسے وائی هغه سړے چه فتنه کښے پریوتو هر کله چه د هغه حال بدل شی او د بنهٔ نه بد شی. او فتنه په اهل او مال کښے داده. چه د هغوی محبت پرے ډیر غالب شی او د خدائے احکامو لره فراموش کړی هغه په ځانے باندے نهٔ راوړی. لکه چه اله تعالی فرمائیلے دی ستاسو مال او اولاد فتنه دی یا د اولاد فتنه داده چه د هغوی تعلیم او تربیت نهٔ کوی او هغوی آواره شی

دغه شان فتنه د گاوندی داده چه د: هغه حق نهٔ اداء کوی نو دا ټولے فتنے د یو قسم گناه دی چه د هغے کفاره په نیکو سره کیږی. الله تعالی فرمائیلے دی نیکی ورانوی بدو لره : د حضرت عمرؓ ددے نه مراد هغه فسادات وو چ هغه به آئنده د حضور ﷺ په امت کښے ظاهریږی په دے کښے به د مسلمانانو قتل او غارت وی یا به په کښے گمراهی خوریږی. حضرت عمرؓ ورته اوفرمائیل چه تا اوریدلے دی ستا پلار ډیر بنهٔ سړے وو. یعنی چه د هغه د نطفے نه ستا غوندے

هلك پیدا شوے دے په حدیث کښے لله ابوك دے او دا د مدح یوه کلمه ده د عربو د خلقو عادت
دے چه هر کله د چا تعریف کوی نو هغوی ته دا کلمه وائی ۔ ولے چه د پلار نسبت د خدائے طرف
ته کول د هغه بزرگی بیانول دی. لکه چه ونیلے شی بیت الله او ناقة الله ۔ صاحب تحریر ونیلے
دی هر کله چه د هلك نه خه ښځ خبره وینی نو دا کلمه وائی۔ یعنی ستا پلار ډیر ښځ وو چه هغه
داسے هلك زیږه ولے دے ۔ نووی

په حدیث کښے کالحصیر عودا عودا ۔ دے لره په درے قسمه سره لوستلے شی یو غوډ
عُودا بضم عین دال مهمله سره ۔ دویم عودا عودا په فتح د عین او دال مهمله سره دریم عوذا عوذا
په فتح دَ عین او د ذال معجمه سره ۔ صاحب تحریر صرف اولے وجے لره بیان کړے ده او قاضی
عیاض درے واړه وجهو لره ذکر کړے دی ۔ لیکن اول وجهے لره اختیار کړے ده او ونیلے ئے دی چه
زمونږه شیخ ابو الحسین بن سراج دونیمے وجهے لره اختیار کړے ده اوس ددغه درے واړو وجهو
جدا جدا ترجمه ذکر کولے شی د وړومبی وجهے ترجمه داده چه فتنے به په زړونو کښے د یو بے نه
پس بله یوه څی راځی لکه د بورئے تلی (کاړیا) چه د یو نه پس بل لګولے شی یعنی بوریا
جوړوونکے لکه وړومبی تیلی جوړه کړی هغه پوخ کړی بیا دویم تیلی جوړه وی پخوی ئے۔ په
دے شان باندے به دا فتنے هم وی چه وړومبی به په زړهٔ کښے جمع شی بیا به دویمه ۔ قاضی
عیاض ونیلے دی چه زما په نزد باندے د حدیث مطلب دغه دے او سیاق او تشبیه په دے باندے
دلالت کو د دویمے وجهے ترجمه داده چه فتنے به د زړونو په یو طرف کښے راشی او اوبه نخلی لکه
بوریا چه د ګنډلو والا د ډډهو پورے انخلی

او د غُودا عودا به دا معنی وی چه بار بار به دغه فتنے راځی ۔ ددریمے وجهے ترجمه داده او
د بوریا په شان به په کښے جو ختیږی. پناه غواړو په خدائے پاك سره ددغه فتنو نه یعنی خدائے
پاك دے بچ کړی مونږ لره دغه فتنو نه۔ (نووی) بیا په کوم زړهٔ کښے چه هغه فتنه پیدا شی (
یعنی ځائے اونیسی او کینی) نو په هغے کښے به یو تور داغ وی او کوم زړهٔ چه دے لره نهٔ منی (او
په قرآن او حدیث باندے قائم اوسیږی نو په هغه زړه کښے به یوه سپینه روحانی نښه وی په دے
شان باندے به سپین او توردا غونه داغونه کیږی چه زړهٔ به په دوه قسمه باندے شی یو خاص

خالص سپین زړۀ د هموارے گتے په شان (چه په هغے کښے څه شی نۀ لگیدے دا تشبیه ده د زړۀ د هموارے گټے سره لکه څنگه چه دے قسم گټه صفا او د داغونو نه پاکه وی دغه شان دغه زړۀ هم د فتنو نه پاك او صفا وی) دویم تور سفیدی مائل (یعنی خړ) د اولټه کوزے په شان چه هغه نۀ څۀ خبرے لره ښۀ گڼړی او نۀ څه بدے خبرے لره بده گڼړی د خپل خواهش تابع وی په حدیث کښے : مربادا لفظ دے او بعضو دے لره مربندا لوستلے دے راوی په خپله باندے ددے تفسیر مخکښے بیان کړے دے او وئیلے ئے دی چه دَ اسودٌ مربادا نه دا مراد دے چه دَ سپین والی غالب کیدل په تورِوالی کښے . قاضی عیاضؒ وائی زمونږ بعضے مشائخو وئیلی وو چه په دے کښے غلطی شوے ده یعنی شدت البیاض فی سواد کښے او په ځائے د شدت دَ شبه لفظ صحیح دے یعنی توروالے مائل دَ سپین والی ولے چه په کوم توروالی کښے سپین والے غالب وی هغے ته ربده نۀ شی وئیلے بلکه بلق ورته وئیلے شی که په بدن کښے وی که په سترگه کښے وی نو حور ورته وائی. او ربده خو هغه لړ شان سپین والے دے چه هغه په تور والی کښے ملاؤ وی لکه څنگه چه د شتر مرغ رنگ وی په دے واسطه باندے دے ته ربده وئیلے شی. ابو عبیده دَ ابو عمر نه نقل کړے دی چه ربده هغه رنگ دے چه هغه د تور او دَ خړ په مینځ کښے وی . ابن ورید وائی ربده تیرۀ رنگ ته وئیلے شی او بعضے وائی چه په سیاهی کښے تیرگی ملاؤ شی او دَ مجخیا معنی اوندها (الټه) ددے تفسیر هم مخکښے راغلے دے قاضی عیاضؒ وائی چه ماته ابن سراج وئیلی دی کلکوز مجخیا دادے د توروالی تشبیه نۀ ده لکه د یو دویم وصف بیان دے ددے د اوصافو نه . یعنی هغه زړۀ الټه شوے دے لکه چه کوزه الټه شی بیا په هغے کښے اوبۀ نۀ شی پاتے کیدے دغه شان په دغه زړۀ کښے څه غوره والے او نیکی او دَ حکمت خبره نۀ پاتے کیږی او د هغے بیان څه چه دا به اوولیو چه نۀ هغه ښے خبرے لره ښۀ او نۀ بدے خبرے لره بده گڼړی.

قاضی عیاض وائی کوم زړۀ چه نیکے خبرے لره نۀ جماوه وی هغے له ئے مشابهت ورکړے دے د اړولے کوزے سره چه په هغے کښے اوبۀ نۀ حصاریږی صاحب تحریر وائی د حدیث مطلب دادے چه هر کله سړے د خپل خواهش پیروی کوی یا دَ گناهونو مرتکب کیږی نو د هر یو گناه په کولو سره دده په زړۀ کښے توروالے راځی بیا هغه په فتنه کښے پریوځی او دَ اسلام نور

بالکل د هغه د زړهٔ نه رخصتیږی او زړهٔ به شان د اړولے شوے کوزے په شان الټه کیږی. لکه څنګه چه کوزه نسکوره کړے په هغے کښے چه څه وی هغه اوځی او هیڅ په کښے پاتے نهٔ شی دغه شان ددهٔ د زړهٔ نه د اسلام نور اوځی بیا بالکل نهٔ راځی . (نووی) دا چه کوم نے فرمانیلے دی چه فتنے به د دریاب د موجونو په شان په موج موج کښے راځی نو اوس به د فتنو منع کول درست نهٔ وی او هغه به په چپو چپو د موجونو په شان باندے راتلل شروع شی . دا چه کوم حضرت عمرؓ حذیفهؓ ته اووے چه ستا پلار نهٔ دے دا یوه کلمه ده چه د عربو په ژبه کښے به څه کار باندے مستعد کولو ته ونیلے شی یعنی تالره خوك بچ کولو والا نشته دے اګر خیر که چرے ستا پلار ژوندے وے نو هغه به په مصیبت کښے ستا شریك وو خو په تا باندے به دومره تکلیف نهٔ راتلو او نهٔ به واځے نے بیا کوشش کوه او ځان تیاروه یعنی مستعدی کوه په خپل بچاؤ کښے (نووی) او فرمانیلی نے دی چه ستا او ددے فتنے په مینځ کښے یوه دروازه ده یعنی دا دروازه کومه چه اوس بنده ده او فتنو لره منع کونے ده د یو سړی ذات دے چه د هغه په سبب سره تمامے د فساد لارے بندے دی بیا چه هر کله هغه اوژلے شی نو لکه چه دروازه ماته شوه او د فتنو هغه بنده لاره آزاده شوه اوس به په درز درز د تمامو فتنو موجونه په چپو چپو باندے راتلل شروع شی او تمام خلق به په تلاطم کښے پریوځی . په دویم روایت کښے دی چه هغه ذات دے د حضرت عمرؓ او شاند چه حضرت حذیفهؓ د رسول الله ﷺ نه دغه اوریدلے وی. د شك په طور باندے چه هغه به اوژلے شی یا به مړ شی. یا حضرت حذیفهؓ دا سے ګنړل چه حضرت عمرؓ به وژلے کیږی لیکن هغوی ددے صفا بیانول د هغه مخامخ نهٔ ګنړل په دویم روایت کښے دی چه حضرت عمرؓ به خپله باندے دغه دروازه پیژندله لکه چه نے دا خبره پیژندله چه نن شپه د صبا د ورځے نه مخکښے ده او دا چه کوم حذیفهؓ ونیلے دی دا حدیث غلط نهٔ دے یعنی د [illegible] زړهٔ نه جوړ کړے شوے نهٔ وو نهٔ دا اهل کتابو د کتابونو نه ویستلے شوے وو. بلکه خاص د رسول الله ﷺ حدیث دے بیا چه څنګه رسول الله ﷺ فرمانیلے وو هم هغه شان اوشو او حضرت عمرؓ کوم چه دَ فتنو منع کوونکے وو شهید شو. او دَ هغه نه پس برابر دَ فتنو دروازه آزاده شوه. دَ حضرت عمرؓ شهادت .جنګ جمل. جنګ صفین . قتل خوارج. دَ حضرت علیؓ شهادت، د حضرت امام حسینؓ

شهادت . د کربلا افسوس ناکه واقعه دَ امام حسینؓ . د اهل بیت نبویؐ بے حرمتی . د مختار بن عبید ثقفی جنگ . دَ معصب جنگ د مختار سره . د عبد الله بن زبیر قتل . په مکه معظمه کښے دَ مدینے والا بربادی . د یزید په لاس سره . او په دے شکل سره په زرګونو خرابی او فتنے چه تراوسه پورے د اهل اسلامو په خپلو کښے واقع شوے دی .

سبحان الله دَ حضرت عمرؓ د فضیلت او بزرګی دپاره د عقلمند سړی په نزد باندے بو حدیث هم پوره دے . د نورو حدیثونو ضرورت نشته دے چه د هغه د ذات مقدس آفتونو او بلاګانو منع کوونکے . او دَ اسلام پښت پناه . په کافرانو باندے رعب داب او په مسلمانانو کښ اتفاق وو . هغه ذات دَ بعضے بد ذاته شرپسند په کومه خله باندے بد وائی او دَ خدائے او دَ هغه د رسولانو نه نۀ شرمیږی .

(۳۷۰) عَنْ رِبْعِیّ قَالَ لَمَّا قَدِمَ حُذَیْفَة مِنْ عِنْدِ عُمَر جَلَسَ یُحَدِّثُنَا فَقَالَ اِنَّ اَمِیْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ اَمْسِ لَمَّا جَلَسْتُ اِلَیْهِ سَأَلَ اَصْحَابَه اَیُّکُم یَحْفَظُ قَوْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فِی الْفِتَن وَسَاقَ الْحَدِیْث بِمِثْل حَدِیْث اَبِی خَالِدٍ وَلَمْ یَذْکُرْ تَفْسِیْرَ اَبِی مَالِک لِقَوْلِهٖ مُرْبَادًّا مُجَخِّیًا . .

ترجمه : د ربعی ابن خراشؒ نه روایت دے هر کله چه حضرت حذیفهؓ د حضرت عمرؓ دَ خوا نه راغے نو کیناستو مونږ ته نے حدیث بیانول . هغوی اووے چه پرون ورځ هر کله چه زۀ دَ هغوی سره ناست ووم . هغه د خلقو نه تپوس اوکړو چه په تاسو کښے چا یاد کړے دَ رسول الله ﷺ ارشاد د فتنو په باره کښے بیا نے بیان کړو حدیث لره په هغه شان لکه چه پورته ذکر شو په دے کښ د مربادا او مجخیا تفسیر نشته دے (لکه چه په مخکښ روایت کښ دے)

(۳۷۱) عَنْ رِبْعِیّ ابْنِ حِرَاش عَنْ حُذَیْفَة اَنَّ عُمَر قَالَ مَنْ یُحَدِّثُنَا اَوْ قَالَ اَیُّکُم یُحَدِّثُنَا وَفِیْهِم حُذَیْفَة مَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِی الْفِتْنَة قَالَ حُذَیْفَة اَنَا وَسَاقَ الْحَدِیْث کَنَحْوِ حَدِیْث اَبِی مَالِک عَنْ رِبْعِیّ وَقَالَ فِی الْحَدِیْث قَالَ حُذَیْفَةُ حَدَّثْتُه حَدِیْثًا لَیْسَ بِالْاَغَالِیْط قَالَ یَعْنِیْ اَنَّهٗ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ :

ترجمه : د ربعی ابن خراشؒ نه روایت دے هغوی اوریدلے دی دَ حذیفه نه چه حضرت عمرؓ اووے چه په تاسو کښے څوک دَ رسول الله ﷺ حدیث مونږ ته دَ فتنو په باب کښ بیان کولے شی؟

هلته کښې حذیفہؓ هم وو هغه اووې چه زهٔ بیانولې شم بیا نې بیان کړو حدیث لره په داسې شان لکه چه پورته ذکر شو په دې روایت کښې دادي چه حذیفهؓ وئیلې دي ما هغوی ته یو حدیث بیان کړو چه هغه غلط نهٔ وو (یعني اوریدلې مې واوروو اخوا دیخوا خبره نهٔ وه) بلکه د رسول الله ﷺ نه مې اوریدلې وو

باب بیان ان الاسلام بدأغریبا وسیعود غریبا وانه یأرز بین المسجدین :

باب : اسلام شروع شو د غربت سره او بیا به غریب شي او راغونډ به شي ددواړو جماعتونو په مینځ کښې :

(۳۷۲) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ بدأ الاسلام غریبا وسیعود کما بدء غریبا فطوبی للغرباء :

ترجمه : د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي اسلام شروع شو د غربت نه (په مدینه کښې) او بیا به دغه شان واپس شي لکه څنګه چه شروع شوې وو (په مدینه کښې) نو خوشحالي دې وی د غریبانو دپاره.

فائده : اسلام شروع شو د مدینې نه یعني وړومبې د هغه خلقو نه شروع شو چاچه مدینې منورې ته د مکې نه هجرت کړې وو راغلي وو او هغه غریب مسافر وو چه خپل وطن ئې پریخودلې راغلي وو. او بیا به دغه شان شي یعني په آخره زمانه کښې به بیا راغونډیږي راغونډیږي بیا به مدینې ته راشي او په تمامه دنیا کښې به د کفر زور وی کوم چه مسلمانان وی هغوی به مدینې منورې ته د کفارو د بېرې نه په تیخته سره راځي قاضي عیاضؒ وائي چه مطلب د حدیث دادې چه وړومبې اسلام شروع شو د شمار د څو کسانو نه بیا به په آخره زمانه کښې په دې شان باندې کم شي چه په لږو خلقو کښې به پاتې شي اوس چه نې کوم فرمائیلي دي طوبیٰ د غریبانو دپاره نو د طوبی معنی خوشحالي او سرور دې او بعضو د طوبی نه جنت مراد اخستې دې او بعضو هغه اونه چه هغه جنت کښې ده دا ټولې معانې ئې جوړیږي. (نووی)

(۳۷۳) عن ابن عمر عن النبی ﷺ ان الاسلام بدء غریبا وسیعود غریبا کما بدء وهو یأرز بین

الْمَسْجِدَيْنِ كما تارز الحية في جحرها :

ترجمه : دَ عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه اسلام شروع شو په غربت کښې او بیا به غریب شی لکه چه شروع شوے وو. او دَ دواړو جماعتونو (مکے مدینے) په مینځ کښے به راغونډ شی لکه چه مار راغونډ یږی په خپل سوری کښې.

فائده : قاضی عیاضؒ فرمائی چه ددے مطلب دادے چه ایمان به لول لو په آخر دواړو زمانو کښے به په دغه حال باندے وی ولے چه په اوله زمانه کښے چه کوم رښتونے ایماندار وو هغه مدینے ته راغلل یا خو نے هجرت اوکړو هغے ته دَ وطن جوړولو دپاره . یا د رسول الله ﷺ د ملاقات دپاره او دَ هغه نه دَ علم دَ حاصلولو دپاره به مدینے ته راتلل. دغه شان دَ خلفاؤ زمانه هم وه او دغه شان د هغوی نه پس چه کوم کوم دَ خپل وخت پیشوا او امامان تیر شوے دی هغوی د علم حاصلولو دپاره مدینے ته راغلل او زمونږه د زمانے پورے هلته کښے خلق تلل کوی. د رسول الله ﷺ د قبر شریف دَ زیارت دپاره او دَ هغه ځائے دَ نورو مشاهدو او آثارو نه دَ برکت حاصلولو دپاره . خو مدینے ته نه راځی مګر هغه خلق چه مومنان وی. انتهی :

په السراج الوهاج کښے دی چه شاند دا واقعه قیامت ته نزدے وی او ددے حدیث نه دا خبره معلومیږی چه اسلام به د آخرے زمانے پورے وی او هغه به غریب کړے شی او حرمینو ته به واپس راغونډ کړے شی او دا وخت تراوسه پورے راننغے باوجود ددے چه اسلام غریب شوے دے او څنګه غریب . په دویم روایت کښے دی د عمر بن عوفؓ نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دین به راغونډ شی او حجاز نه به راشی لکه مار چه خپل سوری ته ننوځی. او دین به دَ حجاز سره په دے شان اوتړلے شی لکه بزه د غر د سر سره . او دین شروع شو دَ غربت سره او بیا به دغه شان شی لکه څنګه چه شروع شوے وو. خوشحالی دے وی د غریبانو دپاره او غرباء هغه دی چه هغه به ستوی زما سنتو لره حه هر کله خلق نے ورانوی. روایت کړے دے دے لره ترمذی . په مرقات کښے دی چه حجاز د عربو د هغه ټکړے نوم دے چه په هغے کښے مکه او مدینه دی او دَ هغے خوا شا کلی دی. او دا خبره خو بعضے وائی چه مسندے شی په دے زمانه کښے څکه چه دَ تمامے دنیا ښارونه ډک شوے دی دَ بے دینی نه او په دے وخت کښے دین غونډ شوے دے دَ حجاز په طرف او

حجاز اشاره ده هغه مبارکے تکرے طرف ته چه هغې ته یمن ونیلے شي ولې چه په یمن کښې یو جماعت پیدا شوے دے دَ اهل حدیثو چه هغوی برابر کړو هغه سنتو د رسول الله ﷺ لره چه خلقو هغه وران کړے وو او تر اوسه پورے بعضے خلق د هغوی نه باقي دي په یمن کښې یا الله ته مونږه دِ هغوی نه کړے او زمونږ حشر دَ هغوی نه حساب کړے ۔ مترجم ونیلے دي چه مراد دَرسول الله ﷺ ددغه حدیث نه دا معلوم شو چه په آخره زمانه کښې به د اسلام تنزل شروع کیږي لو ځائے په ځائے باندے به مسلمانان په کافرانو باندے مسلط کیږي تردے پورے چه تمام ملکونه او ښارونه به د کافرانو په حکومت کښې راشي.

او په هر ځائے باندے به د کافرانو زور شي او په آخر کښې به بیا دغه ښارونه یعنی مکه او مدینه دَ کوم ځائے نه چه اسلام شروع شوے وو د مسلمانانو د پناه ځائے وي۔ او دا امر څه ظاهر شوے دے او څه باقي دے دَ تولو نه مخکښې چه کوم ملك د مسلمانانو دَ قبضے نه بهر شو هغه د اندلس ملك وو دَ هغه ځائے جماعتونه او مدرسے د مسلمانانو دَ لاس جوړے شوے تراوسه پورے یاد گار دي او یو جماعت په قرطبه کښې دومره لوئے دے چه دومره لوے جماعت په دنیا کښې په یو ځائے کښې هم نشته دے خو افسوس دے چه نصاري غالب راغلل او هغې جماعت لره نے گرجه جوړه کړه او دَ تیرے شوو پنځو سوو کالو نه خو دومره قدرے زر زر د مسلمانانو تنزل کیږي او دَ هغوی حکومتونه بربادیږي که چرے داسے پاتے شوه نو خدائے دے نهٔ کړي په ډیره نزدے زمانه کښې به دَ مسلمانانو حکومت په دنیا کښې صرف مکه معظمه او مدینه منوره کښې باقي پاتے شي او هغه ملکونه چه هلته دَ سوونو کالونو نه مخکښې مسلمانان اوسیدل او قصبے او ښارونه نے وو او د کافرانو په کښې نوم او نشان نهٔ وو اوس په هغه ملکونو باندے کافران بادشاهان دي او مسلمانان ذلیله او خوار دي۔

ورومبے دَ هندوستان په شان لوے او وسیع او زرخیز ولایت دَ مسلمانانو د قبضے نه اووتو دَ نصارو په قبضه کښې راغے اوس یو څو ورځے تیرے شوے چه کاشغر لره چین بت پرستو واخستو لو دَ بخارا او خیوا او وسط ایشاء ملکونولره دَ روس نصارو قبضه کړل ، او بلقان او بوسنیا او سردیا او جبل اسود چه دَ روم دَ سلطان زیر نگین وو هغه مختار شول دغه شان دَ یونان حاکم نصراني

بادشاه خودمختار شو. اوس په دے وخت کښے چه زۀ ددے حدیث تفسیر لیکم دَ مرولو دَترکمانیانو ملك دَ روس نصارو قبضه کړے دے او اوس دَ هغوی نظر په افغانستان باندے دے او ددے طرفه دَ هندااستان نصاری په افغانستان باندے دعوی کوی او ولایت مصر لره نے دَ سلطان روم دَ اختیار نه ویستو او هلته نے خپل اختیار جماؤ کړے دے او دَ جزیرهٔ عرب څو بندرگاهونه لکه عدن او سواکن وغیره ئے په خپله قبضه کښ کړے دی اوس دوه سلطنتونه دَ نوم دپاره باقی دی یعنی دَ روم او دَ ایران سلطنت هغه هم دَ نصارو دَ یرے نه په لړزان باندے دی -[پاکستان دوه ټکړے شوے دے په افغانستان باندے دَ روس سلطنت راغلے دے او په ایران کښے دَ روس هنگامے روانے دی عطاء الرحمان اشرف] او دَ هغوی دَ مرضی مطابق انتظام کوی دَ حدود شرعیو نوم او نشان نشته دے، دَ فسق او فجور بازار علی الاعلان گرم دے اوس هغه زمانه ډیره نزدے معلومیږی هر کله چه به دَ نوم دپاره هم دَ مسلمانانو یو سلطنت او حکومت پاتے نۀ شی او هغه به تمام دَ نصارو رعیت جوړ شی او کوم چه بچ مسلمانان وی هغه به دَ هغوی دَ حکومت نه تختی او په مکه او مدینه کښ به ساه اخلی (یعنی آرام به مومی) په دغه وخت کښے به ددے حدیث په پوره طور باندے ظهور اوشی که څوك اووائی چه په مکه او مدینه کښے خو دا وخت په خپله باندے دَ بدعاتو زور دے . او دَ حدیث او قرآن دَ نشر نه هلته څه شیطانان دی چه هغه مانع دی بیا دَ اسلام دَ راغونډیدونه دَ مکے او مدینے طرف ته به څه مراد وی ؟ نو ددے جواب دادے چه ددغه شیطانانو زور په مکه او مدینه کښے فی الحال دے .

هر کله چه رښتونے او پاخۀ مسلمانان په توله دنیا کښے هر طرف ته خوارۀ شوے دی بیا چه هر کله دا پاخۀ او رښتونی مسلمانان دَ کافرو نه اوېرېږی او مکے او مدینے ته راشی جمع شی نو دَ هغه شیطانانو به په ښۀ طریقے سره خبر واخلی . په دغه وخت کښے به دَ لوے آزادی سره دَ کتاب او سنت پیروی په حرمینو شریفینو کښے رائج وی. او بدعاتو سره به په ښۀ طریقه اوچقیږی څوك چه ژوندے پاتے وی هغه به دے لره اووینی انشاء الله تعالیٰ : [نن صبا واقعی په حرمینو شریفینو کښے دَ جلالة الملك امام المسلمین سعود بن عبد العزیز حفظه الله الودود دَم غنیمت دے اعلیٰ حضرت دَ کتاب او سنت په پیروی او اشاعت کښے مصروف او مشغول دی

هلته د قرآن او د حدیث قانون رائج دے او دَ شرك او بدعت بنهٔ دشمنی روانه ده وراندے هم خدائے حافظ دے دا زما په حیله باندے مشاهده ده . فقد عبد الغفار سلفی ۲۶ شعبان ۱۳۷۵ هجری مطابق ۹ اپریل ۱۹۵۶ء

(۳۷۴) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قال : انّ الْاِیْمان لیارِزُ اِلی الْمدِیْنة کما تارِزُ الْحیّة اِلی جُحْرِها : [بخاری : ۱۸۷۶ ، ابن ماجه : ۳۱۱۱]

ترجمه : دَ ابو هریرهٔ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ایمان به راغونډ شی او مدینے ته به داسے راشی لکه څنګه چه مار ځان راغونډ کړی او خپل سوری ته ننوځی .

باب ذهاب الایمان آخر الزمان :

باب : په آخره زمانه کښے دَ ایمان ختمیدل :

(۳۷۵) عَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قال لا تقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰی یُقَالَ فِی الْاَرْضِ اللّٰهُ اللّٰهُ : [ترمذی : ۲۲۰۷]

ترجمه : دَ حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی قیامت به نهٔ قائمیږی دَ کومے پورے چه په زمکه کښں الله الله وئیلے کیږی.

فائده : بیا چه هر کله دَ الله دَ نوم خوك وسونکے پاتے نهٔ شی هغه وخت به قیامت قائمیږی نوویؒ وائی چه مراد دا دے چه قیامت به هغه وخت وی هر کله چه تمام خلق بدترین پاتے شی. لکه چه په دویم رایت کښے دی او دَ یمن دَ طرف نه به یوه هوا راشی قیامت ته نزدے نو تمام مؤمنان به مړهٔ شی . ددغه هوا نه دا خبره معلومه شوه چه په زمکه باندے به دَ الله ویونکے باقی پاتے نهٔ شی وروسے خو ماته دَ قیاس نه لرے معلومیده خو په دے زمانه کښے مے تصدیق اوشو او په حدیث باندے زما کامل یقین راغے زموږ په زمانه کښے دَ الله نه منکر ډیر خوارهٔ شوے دی او چه خوك دَ الله تعالی نوم اخلی نو هغه پورے خندا کوی . بیا به قیامت ته نزدے داسے منکرین یعنی دهری یا نیچری باقی پاتے شی او دَ الله پاك منونکی به دَدنیا نه اوچت شی .

(۳۷۶) عَنْ اَنَسٍؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لا تقُوْمُ السَّاعَةُ عَلٰی اَحَدٍ یَّقُوْلُ اللّٰهُ اللّٰهُ :

ترجمه: د انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه قیامت به نهٔ قائمیږی په هغه سړی باندے چه هغه الله الله وائی(بلکه هر کله چه هغه مړ شی نو په هغه وخت به قیامت وی)

باب جواز الاستسرار بالایمان للخائف :

باب: کوم سړے چه یریږی دَ خپل عزت یا جاهت نه نو هغه خپل ایمان پټ ساتلے شی :

(۳۷۷)عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ احْصُوْا لِيْ كَمْ يَلْفِظُ الْاِسْلَامَ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَتَخَافُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ مَا بَيْنَ السِّتِّ مِائَةِ اِلَى السَّبْعِ مِاَةٍ فَقَالَ اِنَّكُمْ لَاتَدْرُوْنَ لَعَلَّكُمْ اَنْ تُبْتَلُوْا قَالَ فَابْتُلِيْنَا حَتّٰى جَعَلَ الرَّجُلُ مِنَّا لَا يُصَلِّيْ اِلَّا سِرًّا : [بخاری : ۳۰۶۰، ابن ماجه : ۴۰۲۹]

ترجمه : دَ حذیفهؓ نه روایت دے مونږه دَ رسول الله ﷺ سره وو هغه اوفرمائیل چه شمار کړی دَ اسلام خومره سړی قائلین دی بیا مونږه اووے یا رسول الله ولے تهٔ یریږے په مونږه باندے ؟ (په څه آفت راتلو سره دَ دشمنانو دَ وجے نه) او مونږه دَ شپږ سوه سړو نه واخله تر دَ اووه سوه پورے یو حضور اوفرمائیل شائد چه په بلا کښی گرفتار شی. حذیفهؓ فرمائی چه بیا داسے اوشوه مونږ په بلا کښی پریوتو تر دے پورے چه زمونږ بعضے مونځ لره هم په پټه باندے لوستلو .

فائده : یعنی زمونږه تعداد دومره قدرے دے بیا مونږه ته دَ دشمنانو نه څه یره ده تاسو ولے یریږی . دَ بخاری په روایت کښے یو زر پنځه سوه دی او په یو روایت کښے پنځه سوه دی او دا اختلاف نے داسے رفع کړے دے چه ښځے او بچی تمام یو ځائے شی نو یو زر پنځه سوه ترینه جوړیږی او سړی به شپږ سوه . اوه سوهٔ وی او دَ جنگ قابل به پنځه سوه وی. سبحان الله دَ صحابه کرامو زړهٔ داسے مضبوط وو چه صرف په شپږ سوه یا اوهٔ سوه سړو باندے هغوی لره د دشمنانو نه یره نهٔ وه. او یو دا زمانه ده چه صرف په هندوستان کښے لوهٔ کروړه مسلمان دی او په تمامه دنیا کښں به دَ شلو کروړو نه کم نهٔ وی (نن صبا اویا کروړه مسلمانان دی)بیا هم د خپلو دشمنانو نه دومره یریږی چه د هغے انتهاء نشته دے لو فرمائیلی نے وو چه تاسو نهٔ پو هیږی کیدے شی چه په بلا کښں گرفتار شی یعنی دا په هغه فتنو کښے اوشوه کومے چه دَ رسول الله ﷺ نه پس ظاهرے شولے، لوٴ مسلمانان په خپلو کښں په جنگ باندے شو بیا داسے مصیبت راغے چه

مونځ کول مشکل شو یو د یو په فکر کښې وو اکثر به ئې په کور کښې مونځ لوستلو او په مسجد کښې جمع کول موقوف شول ـ زمونږ په زمانه کښې هم مسلمانان د یو بل داسې دشمنان شوې دی چه دَ یوې محلې والا د بلې محلې والا په جمات کښې مونځ نهٔ کوی حالانکه مونځ یو داسې عبادت دې چه یهود او نصاری هم ددې نه منع نهٔ کوی او ما د یو یهودی نه تپوس اوکړو چه مونږ ستاسو په ګرجا کښې مونځ لولو هغه راته اووې په شوق سره اولوله ولې چه ګرجه د خدائې کور دې د چا ملك نهٔ دې چه څوك غواړی نو په دې کښې دې خدائې یادوی او د هغه بندګی دې کوی افسوس دې چه د یهودیانو خو دې دا خیال وی او د مسلمانانو دا کیفیت دې چه که په یو مسئله کښې د هغه خلاف کوی نو بیا هغه لره خپل جماعت ته نهٔ پریږدی " لا حول ولا قوة الا بالله " الله تعالی فرمائی چه دَ هغه نه زیات ظالم څوك دې چه هغه دَ الله په جماعتونو کښې دَ الله د یاد نه چالره منع کړی ـ تمامو خاوندانو دَ قبلې لره لازم دی چه چا بنده لره خواه چه هغه ئې هر څو مره مخالف وی جماعت ته دَ راتلو نه او په هغې کښې د مونځ لوستلو نه نهٔ منع کوی ـ تر دې پورې چه شیعه معتزله او خوارج هم د جماعت نه او په هغې کښې دَ مانځه نه منع کول درست نهٔ دی.

باب تألف قلب من يخاف على ايمانه لضعفه والنهي عن القطع بالايمان من غير دليل قاطع :

باب : کوم سړې چه ضعیف الایمان وی دَ هغه زړهٔ ملاوه ول او دَ کومې پورې چه دَ ایمان یقین نهٔ وی چا سړی ته مؤمن نهٔ وئیل :

(۳۷۸)عَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِي وَقَّاصٍ قَالَ قَسَمَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ قَسْمًا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ اَعْطِ فُلَانًا فَاِنَّهُ مُؤْمِنٌ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ اَوْ مُسْلِمٌ اَقُوْلُهَا ثَلَاثًا وَيُرَدِّدُهَا عَلَيَّ ثَلَاثًا اَوْ مُسْلِمٌ ثُمَّ قَالَ اِنِّي لَا اُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْهُ مَخَافَةَ اَنْ يَكُبَّهُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ فِي النَّارِ : [بخاری : ۲۷، ۱۴۷۸، ابوداود : ۴۶۸۳، ۴۶۸۵، نسائی : ۵۰۰۷، ۵۰۰۸، وانظر فی مسلم : ۲۴۳۴]

ترجمه : دَ سعد بن ابی وقاص نه روایت دې رسول الله ﷺ څه مال ویشلو نو ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ! فلانی ته اوکوره هغه مؤمن دې (رسول الله ﷺ) اوفرمائیل مسلمان دې ما

درے وارہ داسے اووے هغهٔ هر وار داسے فرمائیل چه مسلمان دے بیا حضور ﷺ اوفرمائیل زهٔ یو سړی لره ورکووم حالانکه بل لره دَ هغه نه زیات غواړم ددے یرے نه چه چرته خدائے پاك دهٔ لره په جهنم کښے اونهٔ غورځوی ۔

فائده : یعنی تهٔ دهٔ ته یقینا مؤمن څنگه وائے شاند چه مسلمان وی نو داوایه چه هغه مؤمن دے یا مسلمان دے نو ددے نه د هغه دَ ایمان انکار نهٔ شی وتلے بلکه حضرت ﷺ منع کړے ده دهٔ ته دَ یقینا مؤمن وئیلو نه ۔ ددے وجے نه چه دَ هغه ایمان په دلیل یقینی سره ثابت شوے نهٔ وی ، دویمه دا چه ایمان یو قلبی فعل دے ددهٔ په حال باندے الله تعالی بنهٔ پو هه دے په خلاف د اسلام چه هغه ظاهر دے په ژبه سره دَ اقرار کولو نه ۔

صاحب تحریر وائی چه په دے کښے اشاره ده دَ هغه سړی دَ نهٔ مؤمن کیدو ۔ حالانکه په دے کښے اشاره ده دَ هغه سړی دَ مؤمن کیدو ولے چه وړاندے هغه اوفرمائیل چه بعضے سړی لره زهٔ زیات غواړم خو ورکړه نورو ته وی ۔ داسے نهٔ وی چه هغه په جهنم کښے پرمخے گذار شی ۔
ددے حدیث نه داخبره معلومیږی چه په ایمان او اسلام کښے فرق دے او په دے مسئله کښے ډیر لوے اختلاف دے او څه بیان ددے مخکښې تیر شوے دے او په دے کښې اشاره ده هغه مذهب طرف ته چه هغه حق دے چه فقط په ژبه سره اقرار کول کافی نهٔ دی ترکومے پورے چه ئے په زړهٔ باندے یقین نهٔ وی ۔

او کرامیه او بعضے مرجیه دا وائی چه صرف په ژبه سره اقرار کول کافی دی حالانکه دا صفا غلطی ده او خلاف دے دَ مسلمانانو دَ اجماع نه او خلاف دے دَ نورو آیتونو او احادیثو نه چه دَ هغے نه دَ منافقانو کفرثابتیږی حالانکه دَ منافقانو هم دغه حال وو چه هغوی به دَ زړهٔ نه یقین نهٔ لرلو ۔ خو په ژبه باندے به ئے اقرار کولو ۔ نوویؒ :
حضور ﷺ اوفرمائیل ! زهٔ ئے دغه سړی لره ورکووم حالانکه بل لره ددهٔ نه زیات غواړم یعنی بعضے سړے ضعیف الایمان وی او زهٔ دهٔ لره ددنیا مال ورکووم نو ددهٔ وجے نه نهٔ ورکووم چه زهٔ دا لره زیات غواړم ۔ غواړم خو زهٔ نورو لره چه دَ چا ایمان قوی دے خو ضعیف الایمان لره دَ هغهٔ دَ ایمان دَ بچ کولو دپاره ورکووم چه داسے نهٔ وی چه دَ مال په نهٔ ملاویدو سره خفه شی او دَ اسلام نه

واوړی او په جهنم کښې پرمخې ګوزار شي او د چا چه ایمان قوی دے هغوی ته ضرورت د دومره مال ورکولو نشته دے ځکه چه هغه د ایمان نه واپس کیدونکے نهٔ دے ۔ امام نووی وئیلے دی ددے حدیث نه دا خبره ثابته شوه چه حاکم ته په جائز کار کښې سفارش کول جائز دی او بار بار د غه خبره کول هم جائز دی او مفضول فاضل ته هغه خبره ښودلے شی چه د هغے څه مصلحت وی او فاضل لره ضروری نهٔ ده چه مشوره قبوله کړی۔

بلکه په دے کښې به غور او فکر کوی که چرے د مصلحت نه خلاف وی نو هغے لره رد کولے شی او چاته په یقین سره مؤمن نهٔ دی وئیل پکار د کومے پورے چه دلیل یقینی نهٔ وی ۔ او امام دَ خپلے رائے مطابق مال لره صرف کولے شی په ضروری کار کښې بیا چه کوم پس ددے نه ضروری وی دغه شان بل چا جنت ته د تلو یقین نشته مګر دَ چا دپاره چه نص راغلے وی لکه عشره مبشره وغیرهم او په دے باندے د اهل سنتو اجماع ده۔

(۳۷۹) عَنْ سَعْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اَعْطٰى رَهْطًا وَسَعْدٌ جَالِسٌ فِيْهِمْ قَالَ سَعْدٌ فَتَرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُعْطِهِ وَهُوَ اَعْجَبُهُمْ اِلَيَّ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَالَكَ عَنْ فُلَانٍ؟ فَوَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَوْ مُسْلِمًا قَالَ فَسَكَتُّ قَلِيْلًا ثُمَّ غَلَبَنِيْ مَا اَعْلَمُ مِنْهُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَالَكَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَوْ مُسْلِمًا قَالَ فَسَكَتُّ قَلِيْلًا ثُمَّ غَلَبَنِيْ مَا عَلِمْتُ مِنْهُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَالَكَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاَرَاهُ مُؤْمِنًا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَوْ مُسْلِمًا اِنِّيْ لَاُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْهُ خَشْيَةَ اَنْ يُكَبَّ فِي النَّارِ عَلٰى وَجْهِهٖ : [راجع : ۳۷۸]

ترجمه : دَ سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ څو خلقو لره مال ورکړو او زهٔ هلته ناست ووم. نو هغه بعضو لره ورنهٔ کړو حالانکه هغه زما په نزد باندے په هغه ټولو کښې غوره وو ما اووے یا رسول الله تا څو فلانی لره ورنهٔ کړو زهٔ خو په خدائے باندے قسم دے چه دهٔ لره مؤمن ګنړم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل یا مسلمان بیا دَ لږ وخته پورے زهٔ چپ پاتے شوم، ورستو ددے نه دغے خیال زور اوکړو او ما اووے یارسول الله تا فلانی لره ولے ورنهٔ کړو قسم په خدائے باندے چه زهٔ دهٔ لره مؤمن ګنړم ۔ حضور ﷺ اوفرمایل یا مسلمان ، بیا څه لږ وخت زهٔ چپ پاتے

شوم بیا د غه خیال زور اوکړو او ما اووے یا رسول الله تا فلانی لره ولے ورنهٔ کړو قسم په خدائے چه زهٔ خو دے مومن گنړم حضور ﷺ اوفرمائیل یا مسلمان . زهٔ ورکووم یو سړی لره او ددهٔ نه علاوه مے بل سړه مے زیات محبت وی ددے وجے نه چه چرته پرمخے په جهنم کښے گزارنهٔ شی .

(۳۸۰) عن سعد انه قال اعطی رسول الله ﷺ رهطا وانا جالس فیهم بمثل حدیث ابن اخی ابن شهاب عن عمه وزاد قمت الی رسول الله ﷺ فسارزته فقلت یا رسول الله مالک عن فلان . [راجع ۳۷۹]

ترجمه : د سعدؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ خلقو لره ورکړل او زهٔ ناست ووم بیا ئے بیان کړو حدیث لره په دغه شان سره لکه چه پورته ذکر شو . دومره زیات دے چه آخر زهٔ پاڅیدم او ما په پټه سره اووے یا رسول الله تا فلانی لره ولے پریخودو . ؟

(۳۸۱) عن محمد ابن سعد یحدث هذا الحدیث فقال فی حدیثه فضرب رسول الله ﷺ بیده بین عنقی وکتفی ثم قال اقتالا؟ ای سعد انی لا اعطی الرجل : [بخاری : ۱۴۷۸ ، وانظر فی مسلم : ۲۴۳۵]

ترجمه : د محمد بن سعدؒ نه دا حدیث روایت کړے شوے دے په دے کښے دادی چه رسول الله ﷺ خپل لاس زما د څټ او د اوګے ترمینځه اووهو او وے فرمائیل څه جنګوے اے سعد! زهٔ ورکووم یو سړی لره (حدیث تر اخره پورے)

باب زیادة طمانینة القلب بتظاهر الادلة :

باب : هر کله چه دلیلونه ښهٔ اورسی نو زړهٔ ته زیات اطمینان حاصل شی :

(۳۸۲) عن ابی هریرة ان رسول الله ﷺ قال نحن احق بالشک من ابراهیم اذقال ربی ارنی کیف تحی الموتی قال اولم تؤمن قال بلی ولکن لیطمئن قلبی [۲ : البقره : ۲۶۰] قال ویرحم الله لوطا لقد کان یاوی الی رکن شدید ولو لبثت فی السجن طول لبث یوسف لاجبت الداعی : [بخاری : ۳۳۷۲ ، ۴۶۹۴ ، ابن ماجه : ۴۰۲۶ ، وانظر فی مسلم : ۶۱۴۲]

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مونږه ته به شک ولے نهٔ وی

هر کله چه ابراهیم علیه السلام ته شك شوے وو. اے پروردگاره! ماته اوښایه چه ته په څه شان باندے ژوندی کوے مړو لره پروردګار اوفرمائیل ولے ستا یقین نهٔ کیږی ددے خبرے . حضرت ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل ولے نه زما یقین دے خو زهٔ غواړم چه زما زړهٔ ته نور زیات اطمینان حاصل شی او رحم دے اوکړی الله پاك په حضرت لوط علیه السلام باندے چه هغه پناه غوښتلے وه د سخت مضبوط او که چرے زهٔ په قید کانه کښے دومره ورځے پاتے شوے وے لکه چه څومره ورځے حضرت یوسف علیه السلام قید کښے تیر کړے وو نو فورا به د غښتونکی واا! سره تلے ومه.

فائده : امام نووی فرمائی علماؤ اختلاف کړے دے ددے عبارت په مطلب کښې چه مونږ ته به شك ولے نهٔ وی چه هر کله ابراهیم علیه السلام ته شك شوے وو په څو اقوالو باندے . د ټولو نه بهتر او صحیح هغه دے چه هغه امام ابراهیم مزنی او یو جماعت دعلماؤ بیان کړے دے . یعنی مطلب ددے دادے چه ابراهیم علیه السلام ته شك کیدل محال وو او که چرے هغه ته د پیغمبری باوجود شك وے نو نورو پیغمبرانو ته به هم شك وو. حالانکه تاسو ته پته ده چه ماته شك نشته دے نو حضرت ابراهیم علیه السلام ته هم شك نهٔ وو لو دا هغه ددے دپاره اوفرمائیل چه هر کله دا آیت نازل شو " اذ قال ابراهیم رب ارنی کیف تحی الموتی الآیه " نو بعضے خلقو په ابراهیم علیه السلام باندے غلط ګمان اوکړو او دا ئے اوویے چه هغه ته شك شوے وو د مړو په دوباره ژوندی کیدو کښې او زمونږ پیغمبر ﷺ ته شك نهٔ وو شوے لیکن حضور ﷺ دَ هغوی د ګمان د غلط کولو دپاره اوفرمائیل چه حضرت ابراهیم علیه السلام پیغمبر وو او پیغمبر هم داسے چه خلیل الله وو. بیا که چرے هغه شك وے نو ماته به ضرور هم شك وو حضرت ابراهیم علیه السلام لره حضور ﷺ د خپل خان د پاسه مقدم کړو په طریقه دَادب او تواضع . او کیدے شی چه دغه وخت حضور ﷺ ته معلومه شوے نهٔ وی چه هغه د تمامو پیغمبرانو نه دے په درجه کښے اوچت وی .

بیا اختلاف کړے دے علماؤ چه هر کله ابراهیم علیه السلام ته شك نهٔ وو نو هغوی خدائے پاك ته درخواست ولے کوو چه ماته اوښایه چه ته څنګه ژوندی کوے مړو لره . څو وجهو

لره بیان شوے دی لیکن ظاهره داده چه حضرت براهیم علیه السلام په مړو ژندی کولو باندے یقین وو . خو هغوی غوښتل چه زړهٔ ته نور زیات اطمینان راشی اودا په دے شان باندے دے چه وړومبے حضرت ابراهیم علیه السلام د دلائلو نه علم حاصل کړے وو چه الله تعالی مړو لره ژوندی کوی لیکن هغوی په خپلو سترګو سره دا امر لیدلے نهٔ وو په دے واسطه باندے هغوی غوښتل چه علم استدلالی لره اولولی یقین حاصل شی او هغه په مشاهده سره کیږی .

ولے چه په علم استدلال کښے شکوك باقی پاتے کیږی او بیا په مشاهده سره هغه تمام شکونه ختمیږی دا مذهب دے دَ امام ابو منصور ازهری . دویمه وجه داده چه حضرت ابراهیم علیه السلام خپل ځان لره دَ خدائے پاك په حضور کښے ازمائیل غوښتل چه خدائے دَ هغه درخواست لره قبلوی او که نهٔ قبلوی په دے صورت کښے به دَ " اولم تؤمن " معنیٰ به دلوی چه ولے ستا یقین نشته دے ددے خبرے چه تهٔ زما دوست نے او ستا درجه او مرتبه زما په نزد باندے لویه ده . دریمه وجه داده چه حضرت ابراهیم علیه السلام خپل یقین لره زیاتول غوښتل اګر چه وړاندے هم دغه یقین وو او شك نے بالکل نهٔ وو خو هغه علم الیقین وو هغوی غوښتل چه ددے نه اوچته دَ عین الیقین درجه دے حاصله کړی . څلارمه وجه داده چه هر کله هغوی په مشرکانو باندے دلیل قائم کړو چه زما پروردګار مړهٔ کول او ژوندی کول کوی نو دَ خدائے پاك نه نے اوغوښته چه دا امر راته اوښایه چه دَ هغوی دلیل صفا او ثابت شی. او بعضو نورے وجے بیان کړے دی خو هغه ظاهر نهٔ دی امام ابوالحسن واحدی وائی اختلاف کړے دے خلقو چه ابراهیم علیه السلام دا سوال ولے اوکړو نو اکثرو ونیلے دی چه هغه یو مردار څناور دَ دریاب په غاړه باندے اولیدو چه هغے لره درندو او پرندو خوړلو دَ هغوی دا خیال راغے چه ددے څناور دا ټکړے به څنګه رایو ځائے شی او د هغوی په زړهٔ کښے شوق راغے چه دَ مړو ژوند کول اووینی . لکه مؤمنون چه غواړی چه حضور ﷺ او جنت مو اولیدے او دَ خدائے پاك د دیدار طلب ګار دی حالانکه هغوی ته یقین دے ددے تولو او شك نشته دے په هغے کښے . انتهی

او حضور ﷺ اوفرمائیل چه الله پاك دے رحم اوکړی په حضرت لوط علیه السلام چه هغه پناه غوښتلے وه . یعنی هر کله چه فرشتو دَ الله پاك عذاب راخستے وو لو دَ لوط علیه

السلام په خدمت کښې راغلي نو د ښکلو هلکانو په جامه کښې راغلي وو۔ حضرت لوط علیه السلام هغوی لره میلمانهٔ اوګڼل او د هغوی میلمستیا کول ئې غوښتل. خو د هغه قوم چه په لواطت کښې مبتلا وو جمع شول او راغلل او هغه میلمانهٔ ئې تنګول غوښتل۔ حضرت لوط علیه السلام یو منتې د هغه میلمنو په خاطر داری او دل جوئی کښې پرې نخودو . او د خپل قوم خلقو ته ئې اوویے د خدائے نه اویرېږی او ما د خپلو میلمنو په مخکښې مهٔ رسوا کوی او که ستاسو دغه شان خواهش وی نو زما لونړه حاضرې دی . هغه په نکاح باندې واخلئ ـ دا هم هغوی اونهٔ منله بیا حضرت لوط علیه السلام اوفرمائیل اے کاش که چرې په ما کښې زور وے نو تاسو به مې منع کړې وے یا به مې پناه اغستے وه دَ چا مضبوط سخت نه یعنی که چرې زما خاندان والا وے نو دَ هغوی پناه به مې اخستے وه او دا چه کوم هغوی د خپل قوت او د خپل خاندانوالا دَ پناه ذکر اوکړو نو دا د ددې وجې نه نهٔ وو چه هغه دَ خدائے پاك نه غافل وو بلکه هغوی د خپلو میلمنو زړهٔ خوشحالول غوښتل . چه زما وس دَ کومې پورې چلیدې نو ما به تاسو بچ کولی او کیدې شي چه دغه وخت په تکلیف کښې ئې دَ الله تعالیٰ پناه غوښتل هیر شوے وی نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه خدائے پاك دې په هغه باندې رحم اوکړی .

فرمائیلې ئې وو که چرې زهٔ په قید خانه کښې دومره ورځې پاتے وے څومره چه حضرت یوسف علیه السلام پاتے وو نو فورا به دَ غوښتونکی والا سره تلې وم. یعنی هر کله چه دَ ذولیخې په تهمت سره یوسف علیه السلام قید شو نو د څو کالو پورت هغه په قید کښې وو آخر دَ عزیز مصر دَ طرف نه یو بلنې والا راغې چه لاړشه د عزیز مصر د خوب تعبیر بیان کړه مګر حضرت یوسف علیه السلام اونهٔ منل او وې فرمائیل چه دَ کومې پورې دَ ښځو دَ مکر تپوس اونهٔ شي او زما صفائی بالکل اونهٔ کړې شي دَ هغه وخته پورې زهٔ نهٔ راځم۔ نو زمونږ پیغمبر ﷺ دَ حضرت یوسف فضلیت بیان کړو چه په هغه کښې دومره قدرے صبر او استقلال وو چه دومره په بل کښې مشکل دی لیکن انسان چه کله په مصیبت کښې ګرفتار شي نو په څه طریقه باندې چه کیدې شي د هغې نه په خلاصی کښې تادی کوی.

(۳۸۳) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بِمِثْلِ حَدِیْثِ یُوْنُسَ عَنِ الزُّهْرِیِّ وَفِیْ حَدِیْثِ مَالِكٍ ((

ولکن لیطمئن قلبی)) قال ثم قرأ هذه الآیة حتی جازها . [بخاری . ۳۳۸۷، ۴۹۹۲، وانظر فی مسلم : ۲۱۴۲]

ترجمه : ابو هریرةؓ د نبی کریم ﷺ نه نقل کوی د مذکوره حدیث په مثل باندے مګر د مالك د سند نه چه کوم روایت دے په هغے کښې دا لفظ دے (دا سوال ددے دپاره دے) چه زما زړۀ مطمئن شی بیا ئے باقی تول آیت تلاوت کړو .

(۳۸۴) عن ابی اُویس عن الزهری کروایة مالک باسناده وقال ثم قرأ هذه الآیة حتی انجزها .

[راجع : ۳۸۳]

ترجمه . د ابو اویس د سند نه هم دا روایت نقل دے مګر څه الفاظ مختلف دی مګر معنیٰ ئے هم هغه ده کومه چه تیره شوه .

باب وجوب الایمان برسالة نبینا محمد ﷺ الی جمیع الناس ونسخ الملل بملته :

باب : زمونږه د پیغمبر حضرت محمد ﷺ د پیغمبرۍ یقین کول او تمامو شریعتونو لره د هغه په شریعت سره منسوخ ګنړل واجب دی :

(۳۸۵) عن ابی هریرة ان رسول الله ﷺ قال ما من الانبیاء من نبی الا قد اعطی من الآیات ما مثله امن علیه البشر وانما کان الذی اوتیت وحیا اوحی الله الیّ عزوجل وارجوا ان اکون اکثرهم تابعا یوم القیامة : [بخاری : ۴۹۸۱، ۷۲۷۴]

ترجمه : د ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی هر یو پیغمبر ته هغه معجزے ملاؤ شوے دی چه هغه ددۀ نه مخکښې بل پیغمبر ته ملاؤ شوے وے بیا ایمان راوړے په هغے باندے بنده لیکن ماته چه کومه معجزه ملاؤ شوے ده هغه قرآن دے چه الله تعالیٰ ماته رالیږلے دے (داسے معجزه چا بل پیغمبر ته نۀ ده ملاؤ شوے) ځکه زۀ امید کووم چه زما پیروی کونکی به د تولو نه زیات وی د قیامت په ورځ باندے .

فائده : یعنی زما معجزه قرآن داسے کھولاؤ معجزه ده چه هغه مخکښې چا پیغمبر ته

نۀ ده ملاؤ ځکه چه زما تابعدار زیات وی یا قرآن داسے معجزه ده چه په هغے کښے د سحر وغیره شبهه نۀ شی کیدے په خلاف د نورو معجزو چه په هغے کښ د سحر وغیره شبهه کیدے شوله. ځکه زما پیروی کونکی به زیات وی یا د نورو پیغمبرانو معجزے تیرے شوے لکه ځنګه چه د هغوی زمانه تیره شوه او زما معجزه چه قرآن دے د قیامته پورے باقی دے او هغه معجزه په دے واسطه باندے ده چه د قرآن طرز بیان او د هغے فصاحت او بلاغت او غیبو حالاتو تولو بنیلامو لره عاجز کړل. چه څوک خو دے ددے په مثل باندے یو صورت هم جوړ کړی که چرے هغه تول جمع شی بیا هم نۀ شی کیدے او نن دیارلس سوه کاله یر شو په زرګونو باندے د قرآن مخالفین شول خو د چانه دا اونۀ شوه چه ددے په مقابله کښ یو صورت جوړ کړی.

زمونږ په زمانه کښے بعضے د عقل دشمنان داسے راووتے دی چه د قرآن عربیت لره فصیح نۀ ګنړی او په دے کښ اعتراض کوی که څوک د هغوی نه تپوس اوکړی چه تاسو د عربی په ژبه کښ څه لیاقت پیدا کړے دے او په صرف او نحو باندے هم پو هیږی او که نه نو جواب ملاؤ شی چه نه. سبحان الله ! چیندخ ته هم زکام راغے لوے لوے د عربو اهل زبان خو د قرآن په اوریدو سره حیران شول او ایمان ئے راوړو او د نن ورځے پورے د قرآن د فصاحت او بلاغت او طرز بیان د دے مثل کیدو اقرار کوی خو دا پرونی لوندہ ګان او د هندی بوډا کوسټ چه د هغوی نه څوک د مسلمانانو په حکومت کښ د خیثیت تپوس نۀ کوی د مسلمانانو مصلح جوړ شوے ناست دی او دا اصلاح کوی چه حدیث او قرآن لره ختموی " لا حول ولا قوة الا بالله " بیا چه کوم رسول الله ﷺ په دے حدیث کښ بیان فرمانیلے دی چه زما امید دے چه زما پیروی کونکی به زیات وی د قیامت په ورځ دا هم د هغه یوه معجزه ده ولے چه د هغه د وفات نه پس الله تعالیٰ اسلام ته داسے رونق ورکړو چه د مشرق نه تر د مغربه پورے خور شو. او لوے لوے ولایتونه مسلمانانو فتح کړل او ځنګه امید چه هغه کړے وو دغه شان خدائے پاک اوخودل. د الله پاک شکر دے د هغه په نعمتونو باندے چه بے انتهاء دی. اے خدایه ! تا مخکښ اسلام ته ترقی ورکړے ده او مخالفین دے ورته زیر کړے وو دغه شان په دے زمانه کښے هم د اسلام مدد اوکړه او خپل ربښتونی دین لره او په خپل فضل او کرم سره د مسلمانانو زړونو لره مضبوط کړه ددے دپاره چه هغه بیا ستا د دین په

ترقی کښې مصروف وی او په دنیا کښې نیک نامی او په آخرت کښې ثواب او جنت حاصل کړی.
آمین یا رب العلمین:

(۳۸٦) عن ابی هريرة عن رسول الله ﷺ انه قال والذی نفس محمد بيده لا يسمع بی احد من هذه الامة يهودی ولا نصرانی ثم يموت ولم يؤمن بالذی ارسلت به الا كان من اصحاب النار:

ترجمه: د حضرت ابو هريرهؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيل دی قسم دے په هغه ذات باندے دَ چا لاس کښې چه دَ محمد ﷺ روح دے ددے زمانے (يعنی زما دَ وخت او زمانه نه بعد تر قيامته پورے) څوك يهودی يا نصرانی (يا بل څه دين والا) چه زما حال ولوری او بيا ايمان رانه وړی په هغه څه باندے چه زهٔ په هغے باندے رالیږلے شوے یم (يعنی قرآن) نو هغه به جهنم نه ځی.

فائده: امام نووی فرمائی ددے حديث نه دا معلومه شوه چه وړومبی شريعتونه ټول منسوخ شول زمونږ دَ پيغمبر ﷺ په شريعت سره. او دا خبره معلومه شوه چه چاته دَ اسلام دعوت نهٔ دے رسيدلے هغه معذور دے ولے چه دا قاعده په اصولو کښې ثابته شوے ده چه د شريعت د راتللو نه مخکښې څه حکم په انسانانو باندے نهٔ کيدو. انتهیٰ

اګر چه په دے زمانه کښے مسلمان په هر يو ملت او ولايت کښې خور شو، خو ليکن هغه ټول نه ټول د دنيا په کارونو کښې مصروف دی. او دين هغوی بالائے طاق ایښودے دے الا ماشاء الله. ددين دعوت کارونو ته خو څه چه عامو مسلمانانو ته هم دَدين احکام نهٔ ښائی. تر دے پورے چه اکثر مسلمانان د ددين د احکامو نه بالکل نا واقفه شوے دی او صرف د نوم دپاره ورته مسلمان وئيلے کيږی دا دعوت د دين داسے ضروری څیز دے چه هر يو پيغمبر ﷺ خپل تمام عمر په دے کښې صرف کړے دے او د هغے فائدے بے حده او بے شمار دی. هر کله چه حضرت عيسیٰ عليه السلام دَ الله پاك حضور ته تشريف يوړو نو دَ هغه خواريانو دَ دين دعوت خوره ول شروع کړل او باوجود ددے چه د هغوی مخالف زورآور او دَ دنيا حاکمان وو، خو آخر هغه دعوت رو رو داسے اثر اوکړو چه دَ مخالفينو قوت مات يعنی ختم شو او په لکونو او زرګونو د هغوی نه عيسايان شول. او د عيسايانو قوت تر دے پورے زيات شو چه په تمامه دنيا کښې د هغوی دين

خور شو. چنانچه زمونږه د زمانے پورے د هغوی د دعوت اثر باقي پاتے دے او تر اوسه پورے عیساني عالم خپل دعوت نۀ پرېږدی او شپه او ورځ په تقریر او تحریر سره عیسوی مذهب ته تائید او مدد ورکوی. او د کوم ملك د خلقو نه چه واورې چه هغوی د عیسوی مذهب نه ناواقفه دی هلته کښې فورا چه په څه شکل کیدے شی خپل ځان رسوی په دے کار کښې خواه هغه مړ هم شي عزت او ذلت هر څه نے قبول دی او د خپل عیسوی دین د خورونے دپاره په خپل ځان باندے هر څه برداشت کوی. ډیر زیات افسوس دے چه مسلمانان ددے نه بالکل غافله شوے دی او د مسلمانانو مُلا او مولوی او درویش سیوا په آرام سره د روټو خوړلو نه نور ددین څه کار نۀ کوی. نۀ په نورو ژبو کښې دَ اسلام د کتابونو او د قرآن ترجمه خوره وی تولو نصاری ؤ د خپل واقفیت په واسطه دَ قرآن ترجمه په انګریزی او فرانسیسی او جرمنی ژبو کښې کړے ده.

خو د مسلمانانو دا توفیق نشته دے چه هغه د قرآن او ددین دَ کتابونو ترجمه په نورو ژبو کښې خصوصا د کافرانو په ژبو کښې اوکړی او دَ هغے په لکونو او زرګونو نسخے په کافرانو کښې خورے کړی ددے دپاره چه هغوی د رښتونے دین شریعت نه واقف شی. نصاری ؤ خپل دین داسے خراب کړے دے چه دَ عقل خاوند که دَ لږ عقل نه کار واخلی نو هغوی ته به دا دین لغوه ښکاره شي. د دریو خدایانو یو خداء او د یو دریو داسی واهی خبره ده چه هغه دَ چا په ذهن باندے نۀ راځي. بیا دا ونیل چه عیسی علیه السلام د الله پاك ځوے دے باوجود ددے نه چه حضرت عیسی علیه السلام خوړل او څکل کول او پیدا شوے وو او مرګ نے لرلو ددے نه هم زیات د قیاس نه خلاف او د عقل نه لرے دے. نو هغه د دعوت په زور سره په کم عقلو او بے وقوفو کښے برابر خوریږی. دَ اسلام دین خو داسے صفا او بے لوث دے چه په کښې سیوا دَ یو رښتونے خدائے بر حق چه هغه مونږه لره او زمکے او اسمانونو لره او تولو مخلوقاتو لره پیدا کړے دی د چا بل چا پرستش نشته دے او په دے دین کښې یوه خبره دَ عقل خلاف نشته دے لکه چه په نورو دینونو کښې موندلے شی.

بیا یقین دے که چرے مسلمانان دَ نصارو په نسبت دَ خپل خوږ دین په خورلو کښې عشر عشیر یعنی لسمه حصه هم کوښش اوکړی نو دَ هغے اثر به دَ نصاریٰ دَ کوشش نه به څو چنده

زیات وی۔ او چونکه په دے زمانه کښې د خلقو رجحان د عقل په طرف باندے زیات دے پس په دے کښې شك نشته دے چه هغه به په تمامو دینونو کښې اسلام ته ترجیح ورکړی او شرك او کفر لره به پریږدی او د برحق خدائے د توحید به قائل شی۔ کوم چه د ټولو نه اعلیٰ رکن د اسلام دے اوس دا دعوت په مختلفو طریقو باندے کیدے شی چه څه خلق د قرآن او د حدیث ترجمه د کافرانو په ژبو کښې اوکړی څه خلق د اسلام د حقیقت دلائل په مقابله د بل مذهب ډیر په صفا طور باندے لیکی۔ او بیائے په هر قوم د کافرانو کښې خوروی۔ او څه خلق چه د کافرانو ژبه ایزده کړی او بیا د هغوی ملك ته لاړشی او د خپل دین پرچار په زبانی پندو او نصیحت او دعوت په فصاحت او بلاغت کښې کوی۔ هکذا

(۳۸۷)عَنِ الشَّعبِی قَالَ رَاَیتُ رَجُلا مِنْ اهْلِ خُراسان سال الشَّعْبِیَّ فقال یا ابا عمْرو انَّ منْ قِبلنا منْ اهْلِ خُراسان یَقُولُوْنَ فِی الرَّجُل اذا اعْتق امتهٗ ثُمَّ تزوّجها فهُو کالرّکب بدنته فقال الشَّعْبی حدّثنی ابوبرْدة ابن ابی مُوسی عَنْ ابیْهِ انّ رَسُول اللّهِ ﷺ قال ثلا ثةٌ یُؤتوْن اجْرهُم مرّتیْنِ رجُلٌ مِنْ اهْلِ الکتاب امن بنبیّه وادْرک النّبی ﷺ فامن به واتّبعه وصدقهٗ فله اجْران وعَبْدٌ مَمْلُوک ادّی حقّ اللّه علیه وحقّ سَیّده فلهٗ اجْران ورجُلٌ کانتْ لهٗ امةٌ فغذّاها فاحْسن غذاء ها ثُمّ ادّبها فاحْسن ادبها ثُمّ اعْتقها وتزوّجها فله اجْران ثُمّ قال الشّعْبی لِلْخُراسانی خُذْ هٰذِهِ الْحدیْث بغیْر شیْئٍ فقدْ کان الرَّجُلُ یرْحلُ فیْما دُوْن هٰذا الی الْمدیْنة [بخاری : ۹۷، ۲۵۴۷، ۳۰۱۱، ۳۴۴۶، ۵۰۸۳، ۱۱۱۲، نسائی : ۳۳۴۴، ابن ماجه : ۱۹۵۲]

ترجمه : یو سړے چه د خراسان اوسیدونکے وو د شعبیؒ نه ئے تپوس اوکړو چه زمونږ د ملك خلق وائی چه کوم سړے خپله وینځه آزاده کړی او بیا ورسره نکاح اوکړی نو د دے مثال داسے دے لکه چه څوك د هدی په ښاروی باندے سورلی کوی شعبی اوفرمائیل چه ماته بیان کړے دے ابو برده بن ابی موسیٰ هغوی د خپل پلار ابو موسیٰ اشعریؓ نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دریو سړو ته به دوه چند ثواب ورکولے شی یو هغه سړی ته چه هغه د اهل کتابو نه (یهود یا نصاریٰ) او ایمان ئے په خپل پیغمبر باندے راوړے وی او بیا زما زمانه اوموندی او په ما باندے هم

ایمان راوړی. او زما پیروی کوی او زبښتونے اوګڼی نو هغه لره دوچند ثواب دے او یو هغه غلام چه هغه د الله حق اداء کړی او د مالك حق هم د هغه دپاره دوچند ثواب د او یو هغه سړے چه د هغه سره یوه وینځه وی بیا په ښۀ شان په هغې باندے خوروی او څکوی بعد ددے نه ئے په ښۀ شان سره تعلیم او تربیت اوکړی او بیا هغې لره ازاده کړی او د هغې سره نکاح اوکړی نو هغه لره هم دوچند ثواب دے، بیا شعبی خراسانی ته اووے ته دا حدیث واخله بغیر د محنت نه ګڼی نو یو سړے ددے نه د وړوکی حدیث دپاره د مدینے پورے سفر کړے وو.

فائده : دا شعبی په دے واسطه باندے اووے چه د خراسانی سره ددے حدیث قدر وی او هغه دے حدیث لره یاد کړی. سبحان الله وړاندے خلقو دین په واسطه څنګه څنګه بے انتهاء کوششونه کړے دی چه د یو یو حدیث د اوریدو دپاره ئے د منزلونو سفرے او تکلیفونه تیر کړے دی الله تعالیٰ دے هغوی ته جزائے خیر ورکړی دَ تمامو مسلمانانو دَ طرف نه ځکه چه دَ هغوی احسان په ټولو مسلمانانو باندے دے . امام نووی وائی دے حدیث نه لوے فضیلت اووتو د هغه اهل کتابو چه کوم مسلمانان شوے دی او د هغه غلام چه هغه د خدائے او د مالك دواړو حقوق اداء کوی. او د هغه سړی چه هغه خپله وینځه ازاده کړی او بیا ئے په نکاح سره واخلی.

(۳۹۸) عن صالح ابن صالح بهذا الاسناد نحوه : راجع : ۳۸۷

ترجمه : په مختلفو سندونو سره صالح ابن صالح دے حدیث لره دغه شان بیان کړے دے .

باب نزول عیسی بن مریم حاکما بشریعة نبینا محمد ﷺ واکرام الله هذه الامة زادها الله شرفا وبیان الدلیل علی ان هذه الملة لا تنسخ وانه لا تزال طائفة منها ظاهرین علی الحق الی یوم القیامة :

باب : دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ نازلیدو او دَ هغه په شریعت محمدیؐ دَ چلیدو ، او دَ الله تعالیٰ دے امت ته دَ عزت او شرف دَ عطا کولو بیان ، او ددے خبرے دلیل چه اسلام دَ مخکینو دینونو ناسخ دے او تر قیامته پورے به یو

جماعت دَ اسلام په حفاظت کښې ولاړ وی :

(۳۸۹)عن ابی هريرة يقول قال رسول الله ﷺ والذی نفسی بيده ان ينزل فيکم ابن مريم عليه الصلوة والسلام حکما مقسطا فيکسر الصليب ويقتل الخنزير ويفيض المال حتی لا يقبله احد. [بخاری : ۲۲۲۲. ترمذی : ۲۲۳۳]

ترجمه : دَ ابو هريرةؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی قسم دے په هغه ذات باندے چه دَ هغ په لاس کښې زما روح دے البته نزدے ده چه راکوزيږی به عيسیٰ د مريم ځوے په تاسو کښې او حکم به کوی موافق ددے شريعت او انصاف به کوی او ماته به کړی صليب لره (چه هغه نصاریٰ ؤ جوړه کړے دے او دَ هغے عبادت کوی) او قتل به کړی خنزير لره او ډير به ورکوی مال لره تردے پورے چه څوك به نهٔ اخلی هغے لره .

فائده : نوویؒ وائی حضرت عيسیٰ عليه السلام به مات کړی صليب لره . ددے نه دا خبره اوځی چه منکرات او لهو لعب اوباطلے آلے لکه باجے او تصويرونه وغيره ماتول پکار دی . او دَ خنزير وژل هم ددے قسم نه دی، او په دے کښې دليل دے دَ هغه مذهب چه هغه مختار دے. چه خنزير لره مونږه کوم ځاے مومو اګر چه په دار الکفر کښې وی او مونږه قادر يو دَ هغے په قتل باندے نو قتلوو به هغے لره او دا قول کم دے چه دهٔ لره به پريږدی. او دا چه کوم رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه حضرت عيسیٰ عليه السلام به موقوف کړی جزيے لره يعنی دا صحيح معنیٰ ده دَ حديث. يعنی په دغه زمانه کښې به کافرانو ته حکم اوشی چه يا مسلمانان شی يا به قتليږی جزيه اخستل به موقوف کړے شی او داسے وئيلی دی امام ابو سليمان خطابیؒ . او قاضی عياضؒ د بعضو علماؤ نه نقل کړے دی چه حضرت عيسیٰ عليه السلام به جزيه مقرر کړی په تمامو کافرانو باندے او ددے وجے نه به د مال زياتے راشی خو دا صحيح نهٔ دے. او درسته معنیٰ هم دغه ده کومه چه خطابیؒ وئيلے ده او ددهٔ طرف ته جمهور علماء تلے دی مګر په دے صورت کښې دا اعتراض کيږی چه دا حکم خو دَ شريعت محمدیؐ نه خلاف دے او په دے حديث کښې راغلی دی چه حضرت عيسیٰ عليه السلام به دَ شريعت محمدیؐ موافق حکم کوی. ددے

جواب دادے چه دا حکم د شریعت محمدیؐ خلاف نهٔ دے ځکه چه د جزیے د اخستو حکم د هغه وخته پورے دے څهٔ وخت چه عیسی علیه السلام راکوز شي او هر کله چه دا حکم په حدیث کښې مصرح دے نو دا حکم زمونږه د شریعت محمدی شو ـ نهٔ د عیسیٰ علیه السلام ـ او دا چه نبي کوم فرمائیلي دی چه ډیر مال به ورکړی نو مطلب دادے چه د عدل او انصاف په برکت سره به برکت ډیر شي، او مال به زیات شي یا به زمکه خپلے خزانے راوباسي لکه چه په دویم حدیث کښې راغلي دی یا به دَ خلقو رغبت د مال په طرف باندے نهٔ وی په وجه د نزدے والي د قیامت ددے وجے نه به مال ډیر زیات پاتے شي او الله پاک څهٔ پوهیږی په اصل حال باندے ـ

(۳۹۰) عن الزهری بهذا الاسناد وفی روایة ابن عیینة ((اماما مقسطا وحکما عدلا)) وفی روایة یونس : ((اماما مقسطا)) وفی حدیث صالح ((حکما مقسطا)) کما قال اللیث وفی حدیثه من الزیادة : وحتی تکون السجدة الواحدة خیرا من الدنیا وما فیها : ثم یقول ابوهریرة اقرء وا ان شئتم : وان من اهل الکتاب الا لیؤمنن به قبل موته : [۴: سورة النساء : ۱۵۹] [بخاری : ۳۴۴۸]

ترجمه : دَ زهری نه نور روایتونه هم داسے دی ، دَ ابن عیینه په روایت کښې داسے دی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام به امام وی انصاف کوونکے ، او دَ یونس په روایت کښې دی چه حاکم وی به وی عدل کوونکے ، او په دے روایت کښې داسے نشته دے چه امام به وی انصاف کوونکے ، لکه څنګه چه د لیث په روایت کښې دی په دے کښې دومره زیادته ده چه په دغه زمانه کښې به یوه سجده د تمامے دنیا نه بهتره وی. بیا ابو هریرةؓ وئیل که چرے ستاسو زړهٔ غواړی نو دا آیت تلاوت کړی ـ داسے نهٔ ده دَ اهل کتابو والو نه چه ایمان به نهٔ راوړی په حضرت عیسی (علیه السلام) باندے د هغه د مرګ کیدو نه مخکښې ـ

فائده : یعنی دَ خلقو رغبت به په دغه زمانه کښې دَ عبادت طرف ته زیات وی، په وجه د نزدی والي د قیامت ـ او د مال نه به نفرت پیدا شي نو یوه سجده به دَ هغوی په نزد باندے د دنیاؤ د مافیها نه غوره وی ـ او قاضی عیاضؒ وائی د یوے سجدے ثواب دَ هغه زمانے دَ ټولے دنیا دَ خیرات کولو نه زیات غوره دی ولے چه دَ مال به په هغه وخت کښې احتیاج نهٔ وی په سبب دَ

زیانوالی د مال سره او د سجدے نه مراد دغه ظاهری معنی یامونځ مراد دے .

یعنی عیسیٰ علیه السلام چه هر کله راکوزیږی نو د هغوی په زمانه کښی کوم چه اهل کتاب وی هغه به ایمان راوړی په هغه باندے او په خپله غلطئ باندے به یقین کوی او پو هیږی به چه هغه د الله پاك بنده دے او د هغه د وینځے ځوے دے ددے نه معلومیږی چه دابو هریرهؓ مذهب داوو چه په قرآن کښی چه کوم د قبل موته ضمیر دے هغه د عیسی علیه السلام په طرف باندے راجع کوی او دا قول دے د مفسرینو د یو جماعت او د اکثرو مفسرینو دا قول دے چه هغ ضمیر دَ اهل کتابو په طرف باندے راجع کوی. او معنیٰ دَ آیت داده چه څوك دَ اهل کتابو نه داس نشته دے چه هغه دَ خپل مرګ نه مخکښی په عیسیٰ علیه السلام باندے ایمان راونهٔ وړی.

یعنی دَ ساه وتلو په وخت کښی حقه خبره هغه ته ظاهریږی چه ما چه کوم عیسی علیه السلام لره دَ خدائے پاك ځوے ګنړلو دا غلطه ده خو دغه وخت به ئے ایمان فائده نه ورکوی په دے واسطه باندے چه دغه وخت دَ نزعے او سکرات دے او په دغه وخت دَ قول او فعل څه اعتبار نشته دے لو په داسے حالت کښے نهٔ کفر صحیح دے او نهٔ ایمان نهٔ وصیت نهٔ بیعه نهٔ عتاق او نهٔ دَ قسم عقد ولے چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی دَ هغه خلقو توبه قبوله نهٔ ده چه هغه بدی کوی او هر کله چه مرګ راشی نو وائی چه اوس مونږه توبه کړه.

او دا مذهب زیات ظاهر دے ولے چه دَ وړومبی مذهب موافق آیت خاص کیږی دَ هغه کتابی سره چه هغه دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام په زمانه کښی وی. او دَ دویم مذهب په موافق دَ هر یو کتابی دَ پاره عام کیږی او مؤید دے ددے قرأت " قبل موتهم " او بعضے دا وائی چه دَ به ضمیر زمونږه پیغمبرؐ ته راجع دے او دَ موته ضمیر دَ کتابی طرف ته راجع دے. او معنی دَ آیت داده چه هر یو کتابی به ایمان راوړی زمونږ په پیغمبرؐ باندے دَ خپل مرګ نه مخکښی . والله اعلم (نوویؒ)

(۳۹۱)عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ والله لینزلن ابن مریم حکما عادلا فلیکسرن الصلیب ولیقتلن الخنزیر ولیضعن الجزیة ولیترکن القلاص فلا یسعی علیها ولتذهبن الشحناء والتباغض والتحاسد ولیدعون الی المال فلا یقبله احد :

ترجمه : دَابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی قسم په خدائے چه دَ مریم ځوے به راکوزیږی (دَ اسمان نه) او هغه به حاکم وی او عدل به کوی نو مات به کړی صلیب لره او قتل به کړی خنزیر لره او پریږدی به ځوان اوښ لره بیا به څوك محنت نۀ کوی په دے باندے او دَ خلقو دَ زړونو نه به زنګ او حسد او دشمنی او جلن ختم شی او رابلی به هغه خلقو لره دَ مال ورکولو دپاره لیکن څوك به ئے نۀ قبلوی (ددے وجے نه چه چاته به ئے حاجت نۀ وی او دَ هر چا سره به زیات مال وی)

فائده : یعنی څوك به دَ هغه پرواه نۀ کوی او نۀ به ئے څوك خدمت کوی ددے وجے نه چه دَ دنیا مال به بے حده پروت وی دَ خلقو به حاجت نۀ وی او دویمه دا چه قیامت به نزدے وی ٠ خلق به زر زر دَ خپل آخرت فکر کوی . قاضی عیاضؒ او صاحب مطالع وائی چه دَ " ولا یسعیٰ علیها " معانے دادی چه دَ هغوی زکوة به نۀ شی غوښتلے ددے وجے نه چه زکوة اخستونکے به څوك نۀ وی او دا تاویل باطل دے په څو وجوهو سره او صواب هم دغه دے کومے معانے چه مونږ بیان کړے . (نوویؒ)

(۳۹۲) عَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ کَیْفَ اَنْتُم اِذَا نَزَلَ ابْنُ مَرْیَم فِیْکُم وَاِمَامُکُمْ مِنْکُم :

[بخاری : ۳٤٤۹]

ترجمه : دَ ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی تاسو به څنګه یئ هر کله چه دَ مریم ځوے راکوزیږی په تاسو کښ ٠ او ستاسو امام به ستاسو نه وی.

(۳۹۳) عن ابی هریرة یقول . قال رسول الله ﷺ کیف انتم اذا نزل ابن مریم فیکم فامکم منکم .

[راجع : ۳۹۲]

ترجمه : د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی چه ستاسو په څه حال وی هر کله چه د مریم ځوئے راکوزیږی په تاسو کښې او امامت کوی ستاسو .

(۳۹۴) عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال کیف انتم اذ انزل فیکم ابن مریم فامکم منکم فقلت لا ابن ابی ذئب ان الاوزاعی حدثنا عن الزهری عن نافع عن ابی هریرة وامامکم منکم قال ابن ابی ذئب هل تدری ما امکم منکم ؟ قلت تخبرنی قال : فامکم بکتاب ربکم عز وجل وسنة نبیکم صلی الله علیه واله وسلم . [راجع ۳۹۲]

ترجمه : د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے . رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی ستاسو به څه حال وی چه هر کله د مریم ځوئے راکوز شی ستاسو کښې . بیا امامت به کوی ستاسو ستاسو نه (ولید بن مسلم وائی) ما ابن ابی ذئب ته اووے . چه اوزاعی حدیث بیان کړو د زهری نه . هغوئ د نافع نه هغوئ د ابو هریره رضی الله عنه نه . په هغے کښې دا دی چه امام به ستاسو ستاسو نه وی . ابن ابی ذئب اووے ته پو هیږے چه ددے مطلب څه دے ؟ چه امامت به کوے ستاسو ستاسو نه . ما اووے او ښایه ! هغوی اووے چه امامت به کوی حضرت عیسی علیه السلام ستاسو د پروردگار په کتاب او د پیغمبر په سنتو سره .

فائده : یعنی تابع به وی د شریعت محمدی او پیروی به کوی د قرآن او د حدیث نو حضرت عیسی علیه السلام اگر چه پیغمبر دے . خو د هغه د پیغمبری زمانه زمونږ د پیغمبر په ظهور باندې ختم شوے ده او چه هغه دنیاته راځی نو زمونږ د پیغمبر په امت کښې به شریك شی د قرآن او د حدیث موافق عمل به کوی ددے نه صفا معلومیږی چې

عیسی علیه به په خپله مجتهد مطلق وی او د قرآن او حدیث موافق به عمل کوی ۔ او د قران او حدیث نه به احکام راوباسی او خا مجتهد تابع به نهٔ وی ۔ او د اخیره د عقل نهٔ لرے ده چه پیغمبر د بو مجتهد مقلد وی او باطل دے هغه خیال د حنیفیهؤ چه عیسی علیه السلام به د امام ابو حنیفه په مذهب باندے چلیږی بلکه په داسے خیال کښ تو هین د عیسی علیه السلام وشه کړی او کومو حنفیهو چه داسے خیال کړے دے د هغے علماؤ محققینو رد کړے دے

او په خپله د حنفی مذهب علماؤ دے لره باطل قرار کړے دے ۔ په دے شان دا قول چه امام مهدی علیه السلام به د امام ابو حنیفه مقلد وی یا حضرت خضر علیه السلام د ابو حنیفه شاګرد وو ۔ دا ټول خرافات دی چه په دے باندے یو دلیل د کتاب او سنت یا عقل سلیم نشته دے ۔ او تعجب دے هغه علماؤ سره چه هغوی بے سمجھے بوجے داسے واهی خبرو لره په خپلو کتابونو کښ نقل کړی دی

او چا چه په دے خبرو باندے فریفته کیږی ۔ د الله جل جلاله نه امید دے چه حضرت مهدی علیه السلام او حضرت عیسی علیه السلام دواړه به د قرآن او حدیث پیرو کاری وی او تابع به وی او د اهل حدیثو ممد کار او معاون به وی ۔ او د مجتهدینو اختلافات به اوچت کړی او کوم متعصب مقلد چه ددوی وینا نه منی هغه به ذلیل او خوار وی ۔ څوک چه ژوندے پاتے شو هغه به انشاء الله تعالی زمونږ ددے خبرے تصدیق اوکړی او زمونږ سلام به ددے دواړو حضراتو په خدمت کښ اورسوی ۔ او زمونږ سعی او کوشش به د هغوی په دعائے خیر سره په اخرت کښ نیکه ثمره اوښانی ۔ او زمونږ بهروسه خو بالکل زمونږ په خداوند باندے ده ۔ چه هغوی زمونږ مالک دے د ژوند او د مرګ نهٔ پس او مونږ ته د هغهٔ په غلامی او بندګی باندے فخر دے ۔ په دنیا او آخرت کښ اے زمونږ صاحب ۔ مالک خداوند کریم مونږ په خپله غلامی کښ قبول کړه او زمونږ د

زړه په خپلو یادو کښې اولګوه او مونږ په خپل عشق او محبت کښې فنا ه کړے ۔ امین یا رب العالمین۔

(د ۳۹۵)عن جابر بن عبدالله یقول سمعت النبیّ صلی الله علیه واله وسلم یقول لا تزال طآئفة من امتی یقاتلون علی الحق ظاهرین الی یوم القیمة قال فینزل عیسی بن مریم فیقول امیرهم تعال صلّ لنا فیقول لا ان بعضکم علی بعض امراء تکرمة الله هذه الامة.| انظر فی مسلم : ۳۹۵|

ترجمه : د جابر بن عبد الله نه روایت دے ۔ ما اؤ ریدلے دی د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه هغه فرمائیلے وو۔ همیشه به یو ګروه ځما د اومت جنګیږی (د کافرانو او مخالفینون سره) په حق باندے د قیامت د ورځے پورے به هغه غالب وی ۔ بیا به عیسیٰ بن مریم علیهم السلام راکوزیږی او د دغه ګروه امام به ورته وائی راشه مونځ اولوله (حضرت عیسیٰ ته به وائی) هغه به وائی نۀ ۔ ستاسو نۀ د یو په نورو باندے حاکم وی ۔ دا هغه بزرګی د چه الله پاك عنایت کړے ده دے امت ته ۔

فائده :. چه دومره لوئے پیغمبر روح الله به د مسلمانانو د امام اطاعت قبلوی او په هغه پسے به مونځ لولی ۔ سبحان الله حضرت عیسیٰ علیه السلام به زمونږ د پیغمبر پیروی کوی ۔ زمونږ پیغمبرﷺ هم یو ځل په عبد الرحمن بن عوف پسے مونځ لوستلے دے ۔ دویم دا چه د دغه زمانے امام به مهدی علیه السلام وی ۔ چه هغه به د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قائم مقام وی ۔ او لوئے فضیلت اوبزرګی والا به وی (راضی د وی الله د هغوی نه)

باب بیان الزمن الذی لایقبل فیه الایمان.

باب :. د هغه زمانے بیان هرکله چه ایمان به مقبول نۀ وی .

(د ۳۹۶)عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال لا تقوم الساعة حتی تطلع الشمس من مغربها فاذ اطلعت الشمس من مغربها امن الناس کلهم اجمعون فیومئذ لا ینفع نفسا

ایمانها لم تکن امنت من قبل او کسبت فی ایمانها خیرا.[۲: الانعام : ۱۵۸]

ترجمه: د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے دی قیامت به نه قائمیږی هر کله چه نمر د قبلے د طرفه نۀ وی راختلے . بیا چه هرکله نمر د قبلے نۀ راوخیژی نو په دغه وخت به تمام خلق ایمان راوړی (په خدائے باندے چه دومره لو یه نشانی اووینی) لیکن د هغه ورځے ایمان به فائده نۀ ورکوی . هغه بنده لره چه هغه وړاند ایمان راوړے نۀ وی . یا هغه د ایمان سره نیکی نۀ وی کړے .

فائده :. ځکه چه خدائے خو هغه ایمان لره منظوره وی چه هغه په غیبو باندے وی او هرکله چه نشانے ښکاره شی او قیامت راشی نو هغه وخت خو به د کافر او مؤمن د ټولو په خدائے پاك باندے یقین راشی . قاضی عیاض وائی دا حدیث په خپل ظاهر باندے محمول دے د اهل حدیثو او فقهاؤ او متکلمینو په نز باندے مگر باطنیه ؤ (باطنیه یوه فرقه ده د صوفیه ؤ نه چه هغه تمامو آیتونو او حدیثونو لره د ظاهره معنی نه بدله دویمه معنی راوباسی او مخالف دی د صحابه ؤ او تابعینو او آئمه دینو د طریقے نۀ . او د افرقه وړوکے بچے دے د نیچری او فلسفی او دهری حکیمانو) په دے کښی تاویل کړے دے نو وئ مترجم وائی چه ما د اهل باطنو په تاویلاتو باندے ډیرے مودے پورے غوراوکړو . او د هغوی عللو او اسبابو لره م اولیدل . نو اکثر د تاویلاتو کونکو د پاره فائده مند ثابت نۀ شو . بلکه کوم قباحتو نه چه هغوی د خپل بدفهم نۀ په ظاهری معنیٰ کښی خیال کړی وو . د هغے نۀ هغه څه زیات مفاسد په تاویلی معنیٰ کښی پیداشول . باؤ جود ددے هغه خلق په خیالی تاویلاتو باندے اړم دی او دا د شیطان یوه وسوسه ده . خدائے د مونږ د هغے نۀ په پناه کښی اولری .

په دے قسم نے کړے دے تاویل د استواء سره د استیلاء . او تاویل نزول سره د نزول رحمت او تاویل د سمع او بصروغیره د صفات الله او بعضے داسے تاویلات م اولیدل چه په

هغے کښې علت تاويل موافق د عقيدے د صاحب تاويل معلوم نۀ وی . اوس ددے تاويل كول ددوه وجهو نـۀ خالي نۀ دی . يا خو هغه په حقيقت كښې په دے عقيده باندے نۀ دی كومه چه هغه ظاهره وی . بلكه هغه عقيده د خپل خان نه ذليله كولو او رسوا كولو د پاره . يا د دے افت نـه دبچ كيدو د پاره هغوئ صرف د خپلے ژبے نۀ د خپل خان طرفته منسوب كړه . يا ديده او دانسـتـه پـه حـماقت او سفاحت كښې مبتلا دی . چه د تاويل د نۀ ضروری كيدو پـه صـورت كـښې هـم تـاويـلات كـوی . پـه دے حديث كښې چه كوم دا راغلی دی چه قيامت به نۀ قائميږی د هغے پورے چه د نمر د قبلے د طرفنه راختلے نۀ وی . نو اهل سنتو دے لره پـه خپلـه ظـاهـری مـعـنـی بـانـدے محمول كړے دے . ولے چه د نمر راختل د قبلے د طرفـنـه نۀ محال دی نۀ خلاف عقل ۀ د خداوند كريم د قدرت كامله نۀ څه لرے دی . څكه چـه هـغـه زمـكے لـره د مـغـرب نـۀ د مشرق پـه طـرف متـحـركه ايخودے ده . هغه ددنيا د ختمولو په وخت كه چرے دے لره د مشرق نۀ د مغرب طرفته كړی نو ولے مشـكله ده ؟

اوس باطنيه ؤ چه كوم ددے حديث تاويل كړے دے . نو دۀو حالو نۀ خالی نۀ دے يا دا چه هـغـه بـاطـنـيـه دی چه په حقيقت كښې د هری او طبعی او نيچری او د خداوند كريم نۀ انـكـار كونكی دی . په دے صورت كښې خو البته د تاويل ضرورت دے . خو چاته چه معاذ الـلـه ! ددے قـسـم بـد اعـتـقـاد وی . چـه د خـداونـد كريم يا د هغه د صفت كامله لكه علم او قـدرت وغيـره نه منكر وی . نو ددے ضرورت څه دے ؟ چه وروميے قرآن او حديث لره تسليم كـړی او بـعـد ددے نۀ ئے په تاويل وړښـے شی ددوئ په نزد خو دين او ملت څه شے نۀ دے . او ده خو زيله (معاذالله) كت كړے ده د خدايئ او پيغمبرئ . بيا ددا سے خلقو نۀ چه هر كله په ايات يا حـديـث كـښې تاويلات مـمـنـوع كيـږی . نو نور زيات د هغوئ د نادانی او حماقت ثبـوت كيـږی . ددغـے قبيـلـے نۀ دے هغه چه بعضے باطنيـه اهل الحادو زمونږ په زمانه كښې پـه مـعجزاتو او وحی او حشر نشر وغيره كښې تاويل كړے دے . او د فرښتو او شيطانانو او د

جنا تو نۀ نے انکار کړے دے یا دا هغه باطنیه دی چه د خداوند کریم اؤ او د هغه د صفات کامله او اصول دین قائل او معترف دی. بیا دغه خلقو ته څه ضرورت دے چه په دے حدیث کښې تاویل کوی او دا امر یعنی د نمر د قبلې نۀ راختل داسے دی لکه چه نمر ته د نمر خاته نه په راختو کښې څه قسم استبعاد نشته دے. دغه شان د قبلې د طرفه په راختو کښې هم څه استبعاد نشته او مشرق او مغرب او شمال او جنوب دا څلور واړه طرفونه اعتباری دی. او د هر یو ملك او قطعه زمین په لحاظ سره په هغے کښې تغیر او تبدل کیږی عرض په تسعے کښې نۀ مشرق دے نۀ مغرب بلکه نمبر شپږ میاشتے افق ته نزدے ددے د پسه وی. او د شپږو میاشتو پورے ددے د لاندے وی. علاوه ددے راختل او پڅوبیدل د نمر که چرے موافق د قاعدو د قدیمو فلسفو او ګوری نو د زمکے یو لږ شان حرکت د غیر معمولی نۀ چه د فنائے عالم په وخت د قیاس نه لرے نۀ وی نقطۀ مشرق مغرب او نقطۀ مغرب مشرق کیدے شی. او که چرے موافق د فلسفۀ جدیدئے اوګوری نو د زمکے حرکت ذاتی کوم چه په خپل محور باندے دے او حرکت مداری چه د نمر نه چاپیره دے. دواړه معلوم دی. جذب او کشش آفتاب او ثقل ذاتی په زمکه کښې. بیا چه هر کله فنائے عالم ته نزدے ددے نظام شمسی په تمامو حالتونو او نسبتونو کښې تغیر پیدا شی. نو بدلیدل د نقطه مشرق او مغرب څه لرے دے. دویمه دا چه که چرے نظام شمسی په خپل حالت باندے باقی پاتے وی بیا هم حرکت ذاتی د زمکے دواړو طرفو نۀ جائز الوقوع دے. لکه چه یو بے ګولے لره دا خوا نۀ دیخوا او چورلوے یا د اخوا نۀ دے خواه هغه په هر حالت کښې په خپل محور باندے چورلی او دا څه د عقل نه بعید نۀ ده.

(۳۹۰) عن ابی هریرة عن النبی ﷺ بمثل حدیث العلاء: ابخاری: ۴۶۳۵، ۴۶۳۶، ابوداود ۴۳۱۲، ابن ماجه: ۴۰۶۸

ترجمه: د ابو هریرة نه مذکوره رایت په مختلفو سندونو سره مروی دے.

(۳۹۸)عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ثلث اذ خرجن لا ینفع نفسا ایمانها لم تکن امنت من قبل او کسبت فی ایمانها خیرا طلوع الشمس من مغربها والدجال ودآبة الارض.

[ترمذی. ۳۰۷۲]

ترجمه: د ابو هریره رضی الله عنه نه راویت دے. چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی درے خبرے چه هر کله ظاهر ے شی نو هغه وخت به چا لره د ایمان د راوړو نه څه فائده نه وی هغه چاته چه هغوی مخکښ ایمان راوړے نه وی. یا نیک کارنے نه وی کړے. یو خو راختل د نمر کوم ځائے چه پرے وخی. دویم ددجال راوتل دریم د دابة الارض راوتل.

فائده: یعنی د زمکے نه به یو ځناور پیدا شی او د کافرانو او مؤمنانو په ما بین کښ به تمیز راولی.

(۳۹۹)عن ابی ذر ان النبی صلی الله علیه واله وسلم قال یوما اتدرون این تذهب هذه الشمس؟ قالوا الله ورسوله اعلم قال ان هذه تجری حتی تنتهی الی مستقرها تحت العرش فتخر ساجدة فلا تزال کذالک حتی یقال لها ارتفعی ارجعی من حیث جئت فترجع فتصبح طالعة من مطلعها ثم تجری حتی تنتهی الی مستقرها تحت العرش فتخر ساجدة فلا تزال کذلک حتی یقال لها ارتفعی ارجعی من حیث جئت فترجع فتصبح طالعة من مطلعها ثم تجری لا یستنکر الناس منها شیئا حتی تنتهی الی مستقرها ذلک تحت العرش فیقال لها ارتفعی اصبحی طالعة من مغربها فقال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اتدرون متی ذاکم ذاک حین لا ینفع نفسا ایمانها لم تکن امنت من قبل او کسبت فی ایمانها خیرا [۶ الانعام: ۱۵۸][بخاری: ۳۱۹۹، ۴۸۰۲، ۴۸۰۳، ۷۴۲۴، ۷۴۳۳، ابوداود: ۴۰۰۲، ترمذی: ۲۱۸۶، ۳۲۲۷]

ترجمه: دا بوذر رضی الله عنه نه روایت دے. رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خپلو

صحابۂ ته یوه ورځ اوفرمائیل ! تاسو ته پته ده چه دا نمر چرته ځی ؟ هغوئ اووے چه الله او د هغه رسول به پوهیږی . هغوئ اوفرمایل داځی تردے پورے چه د خپلو اوړیدو په ځائے باندے د عرش لاندې راشی او هلته په سجده باندے پرے وځی (ددغه سجدے په مفهوم الله تعالی پوهه دے) بیا په دغه حال کښې وی تردے پورے چه حکم ورته اوشی پورته شه اوځه . او د کوم ځائے نه چه راغلے وی هلته راشی او د خپلو راختو د ځائے نه راوخیژی بیا ځی ځی ترد ے پورے چه د خپلو اوړیدو په ځائے د عرش دلاند راشی او سجده کوی بیا په دغه حال کښې وی . ترد ے پورے چه ده ته اوونیلے شی . پورته شه او واپس لاړ شه . هغه راوخیژی د خپلو راختو دځائے نه بیا ځی یو ځل په دے شان سره چلیږی او خلقو ته څه فرق ده په چال کښې معلوم نه وی . ترد ے پورے چه هغه به د خپلو اوړیدو ځائے ته راشی د عرش د لاندے. په دغه وخت به ده ته اوونیلے شی . پورته شه . او راوخیژه د مغرب د طرفنه په کوم ځائے چه ته پرے وځے . هغه به راوخیژی د مغرب د طرفنه . بیا رسولله صلے الله علیه واله وسلم اوفرمائیل ! تا سو څه خبر یئ چه دا به کله وی (یعنی نمر د مغرب د طرفنه راختل)دا به هغه وخت وی هر کله چه د چا ایمان راوړل به فائده نه ورکوی . چا چه د وړاندِ نه ایمان راوړے نه وی . یا ئے په خپل ایمان کښې نیك کارونه نه وی کړی .

فائده :. د ظاهر حدیث نه د زړو فلسفیانو د خیال تائید کیږی . چه زمکه ساکنه ده . او نمر حرکت کوی . مګر په حقیقت کښې داسے نه ده . ولے چه مراد دلته د نمر د تلو نه روزانه طلوع او غروب نه دے کوم چه د زمکے د حرکت نه پیدا کیږی . بلکه مقصود د نمر هغه حرکت دے . چه هغه دده په منازلو کښې دے . لکه چه د کلبی نه منقول دے . او قتاده او مقاتل ونیلے دی . چه نمر ځی راځی د یو میعاد معینه پورے . واحدی وائی بیا به دده اوړیدل هغه وخت شی هر کله چه دنیاختم شی . خو په دے صورت کښې د حدیث مطلب بنه نه ذهن نشین کیږی . ولے چه د حدیث نه هر ورځ د عرش لاندِ تلل او سجده

کول ثابتيږي

نووي واني يو جماعت د مفسرينو: ظاهر حديث په طرف تلے دے واحدي واني په دے صورت کښې هره ورځ هر کله چه نمر پريوځي نو د عرش لاندے او دريږي. تردے پورے چه هغه به راخيژي د مغرب نه مگر په دے کښې د اشکال دے چه دے نمر ډوبيدل خو هر ساعت او هر لحظه جاري دے. ځکه چه زمکه په شکل د کرے ده او ددے دا طرافو او جوانبو د اوسيدونکو په لحاظ سره هر يو افق مختلف دے بيا ډوبيږي په يو قوم باندے او راخيژي په بل قوم باندے. او يو ځائے ډوبيږي او بل ځائے نه. او که چرے د افق نه حقيقي مراد وي. چه د هغے په وجه سره د زمکے برابر دوه حصے کيږي. يو فوقاني او يو تحتاني نو دا اشکال به رفع کړے شي. والله اعلم بمراد رسوله صلى الله عليه واله وسلم:

(۴۰۰) عن ابى ذر ان النبى ﷺ قال يوما اتدرون اين تذهب هذه الشمس؟ بمثل معنى حديث علية: [راجع: ۳۹۹]

ترجمه: ابو ذر د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چه حضور ﷺ يوه ورځ اوفرمائيل تاسو ته پته شته دے چه دا نمر کوم ځائے ته ځي: باقي الفاظ په مثل د مخکښې حديث دي:

(۴۰۱) عن ابى ذرّ قال دخلتُ المسجد ورسُوْلُ اللّه صلّى اللّهُ عليه واله وسلّم جالسٌ فلمّا غابت الشمسُ قال يا اباذرّ هل تدرى اين تذهبُ هذا لشّمسُ قال قُلْتُ اللّهُ ورسُولُهُ اعلمُ قال فانّها تذهبُ فتستاذنُ فى السُّجُود فيؤذنُ لها وكانّهاقد قيل لها ارجعى من حيثُ جئتِ قال فتطلُعُ من مَغْرِبها قال ثُمّ قرء فى قرآءة عبد اللّه وذلك مُستقرٌّ لّها. [راجع: ۳۹۹]

ترجمه: د ابو ذرّ نه روايت دے زه جماعت ته لاړم او رسول الله صلّى اللّهُ عليه واله وسلّم ناست وو. هر کله چه نمر پريوتو نو هغهٔ او فرمائيل اے ابو ذر! تا ته پته ده چه نمر چرته ځي. ما اووے الله او د هغه رسول ښه پوهيږي. هغهٔ اوفرمايل! هغه ځي او اجازت غواړي د سجدے. بيا ده ته اجازت ميلاو شي. يو ځل به ده ته اوئيلے شي واپس شه ځه د

مغ

کوم ځے نهٔ چه راغلی نے نو هغه به راوخیژی د مغرب د طرف نهٔ بیانے د عبدالله د قراءت مطابق د اولوستو . و ذالك مُستقرلها یعنی هغه مقام د اودریدو دے د نمر

(۴۰۲)عن ابی ذر قال سألت رسول الله صلے الله علیه واله وسلم عن قول الله تعالی والشمس تجری لمستقرّلها قال مستقرّها تحت العرش. ۱۵۳

ترجمه : د ابو ذرّ نه روایت دے ما د رسول الله صلّے الله علیه واله وسلم نه تپوس اوکړو د دے آیت لره نمر روان وی د خپلو اودریدو ځائے ته د تللو د پاره . حضرت و فرمائیل دده د اودریدو ځائے د عرش د لاندے دے .

فائده : د ا د نمر تلل په یو فضا کښ چه هغه بے حده وسیع ده . او چه د هغے په مقدر دخدائے نه سیوا څوك پوهه نهٔ دی . د فلسفه جدید موافق دے . هغه دا ونیلے دی . چه نمر کوم چه زمونږ د نظام مرکز دے . سره د خپلو سیارو یو حرکت به تدریجی کوی د یو بے نقطے په طرف چه د هغے بُعد لره سیواه دا لله تعالی نهٔ نور څوك نهٔ پیژنی . او هر کله چه دا حرکت ختم شی . نو ضرور به یو انقلاب عظیم په دے نظام شمسی کښ واقع شی . او شاند چه د غه انقلاب د شرع په ژبه کښ د قیامت نهٔ تعبیر شوے وی . والله اعلم بالصواب .

﷽ بَابُ بَدْءِ الْوَحیِ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ ﷽

باب: د هغے خبرے بیان چه په رسول الله صلے الله علیه واله وسلم باندے وحی (یعنی د الله پیام) نازلیدل څنګه شروع شو .

(۴۰۳)عن عائشة انها قالت کان اوّل مابدئ به رسول الله صلے الله علیه واله وسلم من الوحی الرؤیا الصادقة فی النوم فکان لایری رؤیاالا جاءت مثل فلق الصبح ثم حبب الیه الخلاء فکان یخلو بغار حراء یتحنث فیه وهو التعبد اللیالی اولات العدد قبل ان یرجع الی اهله ویتزود لذالک ثم یرجع الی خدیجة فیتزوّد لمثلها حتی فجئه الحق وهو فی غار حراء فجاءه الملک فقال اقراء قال ما

انا بقار ء ی قال فاخذنی فغطنی حتی بلغ منی الجهد ثم ارسلنی فقال اقراء قال قلتُ ما انا بقاریٔ قال فاخذنی فغطنی الثانیة حتی بلغ منی الجهد ثم ارسلنی فقال اقرا باسم ربک الذی خلق ہ خلق الا نسان من علق ہ اقرأ وربک الاکرم الذی علم بالقلم علم الانسان مالم یعلم ہ فرجع بھارسول اللہ صلی اللہ علیہ و الہ وسلم ترجف بوادرہٗ حتی دخل علی خدیجة فقال زملونی زملونی فزملوہ حتی ذھب عنہ الروع ثم قال لخدیجةای خدیجة مالی واخبر ھا الخبر قال لقد خشیت علی نفسی قالت لہ خدیجة کلا ابشر فو اللہ لا یخزیک اللہ ابدا و اللہ انک لتصل الرحم وتصدق الحدیث وتحمل الکل وتکسب المعدوم وتقری الضیف وتعین علی نوائب الحق فانطلقت بہ خدیجة حتی اتت بہ ورقة ابن نوفل بن اسد بن عبد العزی وھو ابن عم خدیجة اخی ابیھا وکان امرأ تنصر فی الجاھلیة وکان یکتب الکتب العربی ویکتب من الانجیل با العربیة ماشاء اللہ ان یکتب وکان شیخا کبیرا قد عمی فقالت لہ خدیجة ای عم اسمع من ابن اخیک قال ورقة بن نوفل یا ابن اخی ماذا تری فاخبرہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ والہ وسلم خبر مارای فقال لہ ورقة ھذا الناموس الذی انزل علی موسی یا لیتنی فیھا جذعا یلیتنی اکون حیا حین یخرجک قومک قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ والہ وسلم او مخرجی ھم قال ورقة نعم لم یات رجل قط بما جئت بہ الا عودی وان تدرکنی یومک انصرک نصرا مؤزرا۔ [بخاری: ۴۹۵۳]

ترجمه: دام المؤمنين حضرت عائشې رضی الله عنها نه روايت دے۔ هغوی وائی د تولو نه وړومبے چه کومه وحی په رسول الله صلی الله عليه واله وسلم باندے شروع شوه هغه دا وه چه د هغه خوب به رښتيا کيدلو۔ هغه چه به څه خوب ليدو هغه د سحر رڼا پشان ښکاره کيدو۔ بيا هغه ته د تنهايئ شوق راغے۔ هغه به په غار حرا کښې بواځې تشريف فرماوو. هلته به ئے عبادت کوو د څو شپو پورے۔ او کورته به نه راتلو۔ او خپل خوراك به ئے د ځان سره اوړلو۔ بيا به د حضرت ام المؤمنين حضرت خديجې رضی الله عنها خواله راتلو۔ او هغې به نور د خوراك سامان دومره تياره وو او ورکوو به ئے۔ تردے پورے چه ناڅاپه

په هغهٔ باندے وحی نازله شوه (او د هغهٔ د وحی توقع نه وه) هغه ددغے حراء په غار کښې وو
چه فرښته هغه لره راغله او ورته نے اووے! لوله هغه اووے زه لوستلو والا نه یم. حضورؐ
فرمائی هغے فرښتے زه اونیوم او زور نے (په سینه کښې) راکړو. دومره چه زه ستړے شوم یا
هغه ستړے شو. بیا نے زه پریخودم او راته نے اووے! اولوله. ما اووے زه لوستلو والا نهٔ یم
هغه بیا زه اونیوم او زور ے (په سینه کښې) راکړو. او بیا نے پریخودم او راته نے اوو. اولوله!
ما اووے چه زه لوستلو والا نه یم. هغه بیا په دریم وار زه اونیوم او دسینے سره جوښت کړم
تردے پورے چه ستړے شو بیا نے پریخودم او راته نے اووے. اِقرا بِسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ O د
اخره پورے. یعنی اولوله د نوم د هغه مالك سره چه پیدا کړے نے نے. او پیدا کړے نے دے
بنده د قطرے د وینے نهٔ. اولوله او ستا مالك لوئے عزت والا دے. چه هغه خو دنه اوکړه په
قلم سره. او پوهه نے کړو انسان په هغه څه چه پرِ پوهه نهٔ وو. ددے په اوریدو سره رسول الله
صلی الله علیه واله وسلم کورته راغے او د هغهٔ د مټ او د څټ په مینځ کښې غوښه چه وه
رپیدله (دخوف او دیرے نهٔ. چونکه د اد وحی ورمبے ځل وو او هغه ته عادت نهٔ وو په دے
وجه پر هیبت راغے.) تردے چه حضرت خدیجے بی بیؓ ته راورسیدو. او هغه اوفرمایل! په
ما کمبل خور کړه. په ما کمبل خور کړه. هغے پر کمبل خور کړو تردے پورے چه یره نے
ختمه شوه. دغه وخت نے خپلے بی بی حضرت خدیجےؓ ته اوفرمائیل. اے خدیجےؓ! ماته
څه اوشو؟ لوټول حال نے ورته بیان کړو. او اوئے ویل چه ماته د خپل ځان یره ده. خدیجے
بی بیؓ اووے هرګز نه نه. خوشحاله شه! قسم په خدائے چه الله پاك به تا چرته رسوا نهٔ
کړی یا به د چرته خفه نه کړی. په الله قسم چه ته خپلولی جوړه وے. رښتیا وائے. بو
ج اوچتوے. (یعنی د عیال او اطفالو. او یتیمانانو او مسکینانو ملګرتیا کوے او د هغوی
بار اوچتوے) او د نادارو د پاره ګټه کوے. او د میلمه خاطر داری کوے. او په رښتونی
افتونو کښې (لکه څوك قرضدار ے شو یا مفلس شو یانوره څه تباهی پرِ راغله) د خلقو

مدد کوے ـ بیا بی بی خدیجہؓ هغهٔ لره د ورقه بن نوفل خواله بوتلو هغه د خدیجې د تره خوئے وو ـ (ولے چه ورقه د نوفل خوئ وو او نوفل دا سد خوئ وو ـ او خدیجهٔ د خویلد لور وه او خویلد د اسد خوئ وو ـ نو د ورقه او بی بی خدیجې پلار ان خپلو کښ رونړه وو) او د جاهلیت په زمانه کښ نوفل نصرانی شوے وو ـ او په عربی لیکلو پو هیدو ـ نو انجیل به ئے په عربی کښ لیکلو څومره چه الله ته منظور وو ـ او ډیر زیات بوډا شوے وو ـ (د بوډا والی په وجه ئے) نظر ختم شوے وو خدیجې هغه ته اووے اے تره ! (هغه ئے دتره خوئ وو خو د بزرګی د پاره ئے ورته تره اووے ـ او په یو روایت کښ د تره خوئ دے) د خپل وراره خبره واؤره ـ ورقه اووے اے زما وراره تا څه لیدلی دی ـ رَسُوْل اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّمَ چه کوم حالت لیدلے وو هغه ئے تمام بیان کړو ـ ورقه اووے ـ دا خو ناموس دے ـ چه په حضرت موسی علیه السلام باندې نازل شوے وو ـ کاش چه زه به دغه زمانه کښ ځوان وے ـ کاش چه زه په دغه زمانه کښ ژوندے وے ـ د هغه وخته پورے هر کله چه ستاسو قوم تاسو لره اوباسی ـ رَسُوْل اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّمَ او فرمائیل ! ولے هغه به مالره اوباسی ـ ورقه اووے هاں! کله چه یو سړے په دنیا کښ هغه راوړی راغلے وی څه چه تا راوړی دی ـ (یعنی شریعت او دین) نو خلق د هغوئ دشمنان شوی دی ـ او که چرے ما هغے ورځے لره موندلے نو په ښه شان به م ستا مدد کړے وو ـ

فائده :ـ یعنی د هغے تعبیر به رښتیا وو ـ صفا او کولاؤ کولاؤ د څه قسم شبه به په کښ نهٔ وه ـ علماؤ وئیلے دی د نبوت نه مخکښ د شپږو میاشتو پورے دا حالت وو ـ ددے نهٔ پس علانیه حضرت جبرائیل علیه السلام هغه ته تشریف راؤړو ـ او راز په دے کښ دا وو چه که چرے دفعةً د ورمبی نهٔ حضرت جبریل علیه السلام د هغه خواله راغلے وے نو کیدے شی چه هغه گهبراؤ شوے وے او د بشریت په وجه سره ناڅاپه د نبوت بار ئے اوچت کړے نهٔ وے ـ دا حدیث د صحابهٔ د مراسیلو نهٔ دے ـ ولے چه د حضرت عائشے رضی الله

عنها عمر دومره نه وو. چه هغوئ په خپله دا قصه لیدلی وی . بلکه ضرور به ے پخپله د رسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه یا د چا صحابی نه اوریدلے وی . او د صحابی مرسل روایت په اتفاق د علماؤ حجت دے . او په دے کښې چا خلاف نه دے کړے سیوا دابو اسحاق اسفرائینی نه حضرت ته دتنهایی شوق راغے یعنی د خلوت او عزلت او د اهغه امر دے چه مدار د انسانی ترقی او وظیفه ده د هر ولی او نبیؑ او صالح او حکیم او فیلسوف . بو سړے په دنیا کښې د اعلے درجے نه دے تیر شوے چه هغه خلوت او عزلت اختیار کړے نه وی . او دیو ے مودے پورے یواځے اوسیدلے او فکر او مراقبه نے کړی نه وی . او وجه ددے داده چه په تنهایی کښې فکر ښه وی . ولے چه زړهٔ خالی وی د مشاغلو نه . نو ده ته موقع میلاؤ شی . د یو مطلب په طرف د ښه متوجه کیدو او مبتدی لره د حالت استغراق د پیدا کولو د پاره اول تنهائی ضروری ده . بیا هر کله چه د اقوت حاصل شی . او د ده نه ملکه راشی نو د تنهایی ضرورت پاتے نه شی . هغه بیا په خلقو کښې ناست هم د یو مطلب په طرف باندے خپل زړه په ښه شان له لګولے شی .

څکه د نبوت نه پس زمونږ پیغمبر رسول الله صلے الله علیه واله وسلم لره د تنهایی ضرورت نهٔ وو. حری یا حراء بکسر حانے حطی یو غر دے د مکے نه په درے میله فاصله باندے . کوم سړے چه د مکے نه منی ته ځی نو په ګس لاس باندے راځی . اوس هلته یو قبه جوړه شوے ده او هغے غرته جبل نور وئیلے کیږی . یعنی سینه ئے کلك او نیوز او په سینه کښې ئے زور ور کړو . او ظاهره داده چه حضرت سترے شوے وی . ولے چه فرښتو لره خداوند تعالی ډیر طاقت ورکړے دے . او هغه ستړی کیږی نه . علماؤ اختلاف کړے دے . چه دا فرشته څوك وه . اکثر دا وائی چه حضرت جبرائیل وو ولے چه د وحی کار د هغه په حواله دے . او بعضو وئیلے دی چه اسرافیل وو او دا چه کوم حضرت محمد صلے الله علیه واله وسلم اوفرمائیل چه زه لوستلو والا نه یم. ددے نهٔ غرض دادے چه ما څه کتاب نه دے

لوستے یا زہ پہ بنہ شان سرہ لوستلے نۀ شم ۔ ولے چہ امی کیدل د بل چا لوستونکی نہ د لوستلو مانع نۀ دے ۔ او بعضو ونیلے دی چہ دغہ فرشتے یوہ صحیفہ د حریرو د ھغہ پہ لاس کښې ورکړے وہ ۔ ھر کلہ چہ ھغہ دا اوفرمائیل ۔ ددے زور ورکولو نۀ دا مقصود وو چہ نورِ ملکی دآنحضرت صلے اللہ علیہ والہٖ وسلم پہ تمام جسم کښې شریك شی ۔ او د ھغہ زړہ مبارك بنہ متوجہ شی ۔ ددے وجے نہ ئے بار بار دا امر اوکړو ۔ ددے حدیث نہ صفا معلومہ شوہ ۔ چہ د ټولو نۀ مخکښې چہ کوم سورت د قرآن نازل شوے دے ھغہ د اسورت دے ۔ او د اصحیح دے ۔ او پہ دے باندے د جمھور سلفو او خلقو اتفاق دے ۔ او بعضو ونیلے دی چہ دَ ټولو نۀ وړاندِ سورۂ مدثر نازل شوے دے ۔ خو ھغہ قول صحیح نۀ دے ۔ او بعضو ددے حدیث نۀ دا دلیل اخستے دے ۔ چہ بسم اللہ د سورت جز نۀ دے ۔ چونکہ بسم اللہ لرہ ئے ذکر کړے نہ دہ ۔ د ھغے جواب دادے چہ شاید بسم اللہ ورستو نازلہ شوی وی ۔ لکہ څنګہ چہ باقی سو رتونہ ورستو نازل شوی دی ۔ (نوویؒ)

قاضی عیاض وانی دا فرمان د ھغہ ددے وجے نہ نۀ وو چہ ھغہ تہ د اللہ پہ پیغام کښې شك وو ۔ بلکہ ھغہ اویریدو چہ کیدے شی دومرہ لوئے بوج پہ زمانہ اوچت نۀ کړے شی ۔ او ساہ بہ م اوځی ۔ ولے چہ د وحی پہ سختئ سرہ ډیر مشقت وی ۔ یا دا خیال د ھغہ وختہ پورے وی ۔ د کومے پورے چہ پہ خوب کښې د نبوت بشارتونہ کیدل او د فرشتے آواز ھغہ اوریدلے وو ۔ خو ملاقات ئے ورسرہ نۀ وو شوے نو ھغہ تہ یرہ شوہ د شیطان خو ھر کلہ چہ د فرشتے سرہ ملاقات اوشو ۔ نو پہ دغہ وخت خو پہ څہ شان لہ شك نۀ شو پاتے کیدے ۔ او نۀ د شیطان دغلبے یرہ پاتے کیدے شوہ ۔

نوویؒ ونیلے دی دویم تاویل ضعیف دے ۔ ولے چہ د حدیث نۀ صفا معلومیږی چہ حضرت دا د فرشتے د ملاقات نۀ پس او فرمایل ۔ ربښتونی آفتونہ چرتہ، څکہ چہ کوم آفتونہ د ناحقے پہ وجہ سرہ راشی ۔ لکہ څوك د فضول خرچی نہ مفلس شی یا ظلم

اوکړی او په بلا کښې گرفتار شي نو د هغه مدد کول ضروري نۀ دی ۔ سبحان الله ! بی بی دے وی خو داسے لکه حضرت خدیجه رضی الله تعالیٰ عنها چه وه ۔ چه هغه خپل خاوند لره د مصیبت په وخت کښې تسلی او تشفی ورکوی او په هر ه معامله کښې نیکه صلاح ورکوی ۔ د حضرت خدیجے د عقلمندئ او هوښیار والی او لیاقت او استعداد د ثبوت د پاره صرف دغه یو حدیث پوره دے ۔ مطلب د هغے د گفتگو دادے چه د هغه اخلاق او عادات او خصلتونه خو زیات ښکلی دی ۔ چه د هغے په وجه سره خدائے هم د هغه نه خوشحاله دے او د خدائے مخلوق ترے نه هم راضی دے ۔ بیا په هغه باندے، آفت راتلل د عقل نۀ خلاف دی ۔ ظاهره ده چه زمونږ په شریعت کښې او هم په وړومبو شریعتونو کښې هر کله چه غور او خوض اوکړے نو معلومیږی چه گناهونۀ په دوه قسمه دی ۔ یو قسم خو هغه دی چه هغه د مخلوق سره تعلق نه لری او صرف د خدائے تعالیٰ سره تعلق لری ۔ لکه شرك کول د کفر اعتقاد ساتل ۔ دویم قسم هغه دی چه هغه د مخلوق سره تعلق لری ۔ چه د هغے په وجه سره د خدائے تعالیٰ مخلوق ته تکلیف وی ۔ رنځ رسوی ۔ تقریبا اکثر گناه بلکه ټول گناهونه ددے قسم دی ۔ لکه زنا، غلاء ، ظلم ، سودخوری ، غیبت ، نفاق ، حسد ، بخیلی وغیره ۔

بیا چه کوم سړے ددواړه قسمه گناهونو نه پرهیز کوی ۔ او د هغے په بدله نیکی کوئ چه په هغے سره خدائے پاك خوشحالیږی ۔ او د خدائے مخلوق ترے هم خوشحاله وی ۔ هغه گورے که په مصیبت کښې اونخلی ۔ هغه ته خو ورځ په ورځ خوشحالی سیوا کیږی ۔ او هغه همیشه د خپلو عملونو په اثر سره او د هغے په تصورسره مست او په جامو کښې نۀ ځائیږی ۔

نو په حقیقت کښې هر یو گناه یو رنځ دے ۔ چه د انسان ژوند خرابوی ۔ او عیش لره یے خونده او تریخ کوی ۔ په دے واسطه تمامو شریعتونو په اتفاق د گناه نۀ منع فرمائیلے ده ۔

مثلاً کوم سړے چه بخیلی کوی او د خپلو بچو او خپلوانو او دوستانو حق په ښه شان نۀ ادا کوی سړی پوه نۀ نول ددہ دشمنان جوړ شی او څومره چه ترے نه کیږی ددہ جان او مال ته نقصان رسوی کوم سړے چه حسد کوی هغه په خپل لاس سره خپل ځان ته نقصان رسوی څوك چه ظلم اوکړی نو خلق د هغه دشمنان شی د هغے بدله ترے نه اخلی. په دے شان د تمامو گنهونو حال دے چه انجام د هغے رنځ او غم دے. کوم سړے چه گناه لره یو خوند او کنړی او کوی نے هغه انجام لیدونکے او باریك بین نۀ دے که چرے هغه ښه فکر اوکړی نو هغه ته به دا خبره معلومه شی چه دا د گهړی نیمے لذت د هغه یے انتها تکلیف په مخکښی چه هغه وړاندې راتلونکے دے څه حقیقت نۀ لری

د زنا وخت چه هغه یو دا نیمه لحظه خوندوی د هغے څه بساط دے. معاذ الله د هغه افسونو په مخکښی چه هغه زنا کونکی ته د مخکښی تلو سره راتلونکی دی. یو شریف سړے ددغه زنا کار کورته په پریخودو باندیخوشحاله نۀ وی. د هغه گاونډی هغه لره په کونړ کښی اوسیدل نۀ خوښوی. د چا سره چه نے زنا کړے وی د هغے ښځے که چرے خونه وی هغه ددۀ دونے ترے جوړیږی. او هر کله چه موقعه مومی نو ده لره قتلوی. او د کومے چه خاوند نۀ وی نو د هغے نور عزیزان او خپلوان او رشته داران نے دشمنان شی او هر وخت ددہ د وژلو په فکر کښی وی او که چرے فرض کړه که هغه ښځه زنا کاره وی او د هغے خپلوان او رشته داران نۀ وی یا وی خو پرے بد نۀ گنړی بیا هم دانقصان دے چه په دغه سری کښی د زنا عادت راشی بیا د هرے یوے ښځے سره په دے فعل کولو باندے مستعد کیږی او نقصان مومی. دویم د هغه زنا کاری بی او د هغے خپلوان او رشته داران ټول د هغه دشمنان شی او اکثر داسے بد کردار خوند د خپلے بی بی د لاسه ساه ورکوی.

او که چرے دا هم نۀ وی. نو د زنا کارو ښځو سره د بد کار کولو په وجه بنده ته قسم قسم بیماری لکه اتشك. سوزاك. جذام وغیره خبیثه مرضونه لاحق کیږی چه د هغے

اثر د خو پښتو پوړے په اولاد کښې هم روان وی او په چه د ابیماری راشی نو د هغه د ژوند نه مرګ غوره معلومیږی معاذالله د بو ان د مزے د پاره چه هغه په حلال طوربانده هم ممکنه ده د تول عمر د پاره داسے سخت تکلیف اوچتول د عقلمند سړی کار نهٔ دے . او س ددے نهٔ د څوك دانه ګڼړی چه د ګناهونو نهٔ د بچ کیدلو فائده صرف په دنیا کښې ده . یعنی ددنیا په ژوند کښې ده . نهٔ ! بلکه د اخرت فائدے ددے نهٔ سیوا دی . او کوم بسن چه مونږ د پوړته اوکړو ددے وجے نهٔ دا غرض دے چه بعضے خلق چه د هغوی پوره پو هه نهٔ وی هغه خیال کوی چه د ګناهونو نه بچ کیدل په دنیا کښې څه فائده مند نهٔ دی . بلکه په دے کښې صرف د آخرت فائده ده حالانکه دا خیال د حماقت او سفاهت خیال دے په شریعت او مذهب بانده چلیدل . اوبدو خبرو نهٔ بچ کیدل . او نیکو کارونو لره کول دنیا او آخرت دواړو لره درست کوی او لکه څنګه چه په مذهب او په شریعت بانده د چلیدو سره انسان د آخرت د عذابونو نهٔ بچ کیږی . دغه شان د دنیاد آفتونو او رنځونو نهٔ هم محفوظ کیږی . او که څوك د اووانی چه په دنیا کښې په ښو ښو سړو بانده هم لوئے لوئے مصیبتونه او تکلیفونه راغلی دی . او ډیرو بد کارانو تمام عمر په آرام تیر کړے دے . نو ددے جواب دادے چه دا ارام او مصیبت د ظاهر لیدونکو په نظر کښې دے . په حقیقت کښې بد کارانو ته څه آرام نشته دے او نیکو کارو ته څه رنځ او غم نشته دے .

په نیك سړی بانده څومره هم آفت چه راشی خو د هغه زړهٔ د خپلے بے قصوری او پاکی په تصور کښې خوشحاله وی او انجام ددغے آفت راحت دے او د بدکار زړهٔ هر وخت په قلق کښې دے . که هر څومره د عیش او عشرت سامان ده سره تیار وی خو هر کله چه نے زړهٔ ته اطمینان او سکون نشته . د ګناهونو د فکر او د مواخذے یره ورته لګیدلی وی نو داتمام سامان هیڅ دے هذا ما الهمنی ربی عز و جل والحمدلله .

په صحیح بخاری کښې دی چه په عبرانی لیکلو پو هیدو . او انجیل نے په عبرانی

کښې لیکلو ۔ نو وی وائی دواړه صحیح دی ۔ او حاصل دادے هغه د نصرئ و ددین نه بنه بنه واقف وو ۔ او په انجیل باندے بنه پو هیدو ۔ کله به ئے دے لره په عبرانی ژبه کښې لیکلو او کله په عربی ژبه کښې ۔ د ناموس نه مراد جبرائیل علیه السلام دے ۔ او اصل نامه د ناموس د نیکے خبرے پتهونکے لکه جاسوس چه بدے خبرے پتهونکی والا ته وائی ۔ جبرائیل ته ناموس ځکه وائی چه هغه د الله تعالیٰ د وحی راز لره د بندیګانو پورے رازه سوی ۔ خو افسوس چه ورقه وفات شوے وو ۔ او رسول الله صلے الله علیه واله وسلم د مدینے نه اوویستو ۔ ځنګه چه ورقه وئیلی وو ۔

(۴۰۴)عن عائشة انها قالت اوّل مابدِئ به رسُوْلُ الله صلّے اللّهُ علیْهِ واله وسلّم منَ الْوحْیِ وساق الْحدیث بمثْلِ حدیْثِ یُوْنس غیر انّهُ قال فو اللّهِ لا یُحزِنک ابداً وَقال فقالتْ خدیْجةُ ای ابْنِ عمِّ اسْمعْ منِ ابْنِ اخیْک : [بخاری : ۲۹۸۲، ۳۹۵۶]

ترجمه : د ام المؤمنین حضرت عائشے رضی الله عنها نه په دویم روایت کښې هم دغه شان دی په دے کښې دومره فرق دے چه حضرت عائشه رضی الله عنها وائی قسم دے په الله پاك چه الله به تا چرته رنجیده نه کړی ۔ (او په وړاندِ روایت کښې داسے وو ۔ رسوا نه کړی) او خدیجے رضی الله عنها ورقه ته اووے ۔ اے د تره ځویه واوره د خپل وراره خبره (او په وړاندِ روایت کښې داسے وو ۔ اے تره ! واوره د خپل وراره خبره)

(۴۰۵)عن عُروة ابن الزُّبیر یقُوْلُ قالتْ عائشةُ زوْجُ النّبیِّ صلّے اللّهُ علیه واله وسلّم فرجع اِلی خدیْجة ترْجفُ فُؤادُهُ واقْتصّ الْحدیْث بمثْل حدیْثِ یُوْنس ومعْمرٍ وَلمْ یذْکُرْ اوّل حدیْثِهِمامن قوْله اوّلُ ما بُدِئ به رسُوْل اللّه صلّے اللّهُ علیْهِ والهٖ وسلّم امن الْوحْیِ الرُّءْ یا الصّادِقةُ وتابع یُوْنس علے قوْله فواللّهِ لاُ یُحزِیْک اللّهُ ابداو ذکر قوْل خدیْجة ای ابْن عمِّ اسْمعْ مِن ابْنِ اخِیْک : [بخاری : ۳، ۴۹۵۵]

ترجمه : په دے روایت کښې دادی چه هغه واپس شو د خدیجے طرفته او د هغه زړه رپیدو ۔

او په دې کښې دا ذکر نشته چه د تولو نه مخکښې چه کومه وحي په هغه باندې شروع شوې وه هغه رښتونې خوب وو. او د وړومبي روایت پشان په دې کښې دادي. چه قسم په الله چه الله به تا چرته رسوا نۀ کړي او خديجې رضي الله عنها ورقه ته اووې. چه اې د تره خویه! واوره د خپل وراره (خبرې لره)

(۴۰۲)عن جابر بن عبدالله الانصاری و کان من اصحاب رسول الله صلے اللّٰہ علیہ واٰلہ وسلّم کان یحدث قال قال رسول الله صلے اللّٰہ علیہ واٰلہ وسلّم وھو یحدث عن فترۃ الوحي قال فی حدیثه فبینا انا امشی سمعت صوتا من السمآء فرفعت رأسی فاذ الملک الذی جآء نی بحرآء جالسا علی کرسی بین السمآء والارض قال رسول الله صلے اللّٰہ علیہ واٰلہ وسلّم فجئثت منه فرقا فرجعت فقلت زملونی زملونی فدثر ونی فانزل اللّٰہ تبارک وتعالی یا ایھا المدثر قم فانذر وربک فکبر و ثیابک فطھر والرجز فاھجر وھی الاوثان قال ثم تتابع الوحی:[بخاری : ۳۲۳۸، ۴۹۲۲، ۴۹۵۴، ۶۲۱۴، ترمذی : ۳۳۲۵]

ترجمه : د جابر بن عبد الله انصاري نه روایت دې او هغه د صحابه ؤ نه وو د رسول الله صلے اللّٰہ علیہ واٰلہ وسلّم. چه فرمانیلې دي رسول الله صلے اللّٰہ علیہ واٰلہ وسلّم او هغه ذکر کولو د وحي موقوف کیدلو. چه یو ځل زه روان ووم ما د آسمان نه یو آواز واوریدلو ما سر پورته کړو نو اومې لیدل چه هغه فرشته ده. کومه چه ماته په حراء کښې راغلې وه په کرسي باندې ناسته ده د آسمان او د زمکې په مینځ کښې ما چه د اولیدل نو ډیر زیاته اوبریدم. او واپس شوم کورته راغلم. ما اووې! په ما باندې کپړه خوره کړه په ما باندې کپړه خوره کړه. هغوی زمانه کپړه چاپیره کړه. بیا الله تعالیٰ دا سورت راولیږو. یا ایها المدثر. د آخر پورې. یعنی اې څادر اغوستو نکیه پاسه! او لږ خلقو لره اویره وه. او د خپل مالك لوني بیان کړه. او خپلو کپړو لره پاکې کړه او پلیتي لره پریږده. د پلیتي نه مراد هغه بتان دي. بیا د وحي راتلل برابر شروع شو.

فائده :د تولو نۀ مخکښې هغه ایتونه نازل شوی دی کوم چه پورته په حدیث کښې بیان شول یعنی اقراء باسم ربك الذی خلق Oخلق الانسان من علق Oاقراء وربك الاکرم الذی علم بالقلم Oعلم الانسان مالم یعلم O ددی نۀ پس د یو ی مودی پوری چه: هغې په تعین کښې اختلاف دی وحی موقوف شوه بیا د ایتونه د سوره مدثر د شروع نازل شو . ددی نۀ پس د وحی سلسله او ترلې شوه او برابر راتلل شروع شو . امام نووی وائی اوس چه کوم بعضې خلق وائی د نولو نه وړمبی سوره مدثر نازل شو دا ضعیف بلکه باطل دی په دی شان سره چه کوم خلق وائی چه د هر څه نۀ وړاند سوره فاتحه نازله شوی ده

(۴۰۷) عن جابر بن عبد الله انه سمع رسول الله ﷺ یقول: ثم فتر الوحی عنی فترة فبینا انا امشی ثم ذکر بمثل حدیث یونس غیر انه قال : فجئثت منه فرقا حتی هویت الی الارض قال : وقال ابو سلمة : والرجز الاوثان قال : ثم حمی الوحی بعد وتتابع : [راجع : ۴۰۶]

ترجمه : جابر بن عبد اللهؓ فرمائی چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه هغه فرمائیل د وحی متعلق چه کله موقوف شوی وه پس څه تلمه چه : باقی حدیث د پورته حدیث په شان دی بس په ما باندی خوف تاری شو او زمکې طرف ته مائل شوم باقی حدی د ماقبل په شان دی

(۴۰۸) عن الزهری بهذا الاسناد نحو حدیث یونس قال فانزل الله عزوجل یا ایها المدثر ...الی والرجز فاهجر قبل ان تفرض الصلوة وهی الاوثان قال فجئثت منه کما قال عقیل. [راجع : ۴۰۶]

ترجمه : د زهری نه روایت دی په دی سند سره د یونس د حدیث په شان. اوونیلی دی هغه نو نازل کړو خدائے پاك سورة مدثر لره ای کمبل اغوستو نکی والا . . . . . د پلیدی پریخودو پوری مخکښې د هغې نه چه فرض کړی شی مونځ. او پلیدی هغه بُت دی او وی نیل هغه فجئثت منه لکه چه ونیلی دی عقیل .

(۴۰۹) عن یحیی یقول سألت ابا سلمة ای القرآن انزل قبل قال یا ایها المدثر فقلت او قرأ قال جابر احدثکم ما حدثنا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال جاورت بحراء شهرا فلما قضیت جواری نزلت فاستبطنت بطن الوادی فنودیت فنظرت امامی وخلفی وعن یمینی وعن شمالی فلم ار احدا ثم نودیت فنظرت فلم ار احدا ثم نودیت فرفعت رأسی فاذا هو علی العرش فی الهواء یعنی جبریل فاخذتنی رجفة شدیدة فاتیت خدیجة فقلت دثرونی فدثرونی فصبوا علیّ ماء فانزل الله تعالی یا ایها المدثر قم فانذر وربک فکبر وثیابک فطهر [۷۴: المدثر : ۱،۰۱] راجع : ۴۰۶

ترجمہ : د یحیی نہ روایت دے چہ ما د ابو سلمة نہ تپوس اوکړو ۔ د ټولو نہ مخکښې پہ قرآن کښې څہ نازل شوے دی ۔ هغوی اووے یا ایها المدثر ما اووے یا اقراء ۔ هغوی اووے ! ما د جابر بن عبد اللہ نہ تپوس اوکړو ۔ پہ قرآن کښې مخکښې څہ نازل شوی دی ۔ هغوی اووے یا ایها المدثر ۔ ما اووے یا اقرء ۔ جابر رضی اللہ عنہ اووے زه تا تہ هغه حدیث بیانوم کوم چہ مونږ تہ رسول اللہ صلے اللہ علیہ والہ وسلم بیان کړے وو ۔ هغه وئیلی وو زه پہ حراء کښې د یو بے میاشتے پورے ووم ۔ هر کله چہ زما د اوسیدو موده پوره شوله نو زه راکوز شوم او د وادئ دننه لاړم ۔ چا ماتہ آواز اوکړو ۔ ما مخے تہ او شاتہ او ښی طرفتہ او گس طرفتہ اوکتل خوک پہ نظر رانغے ۔ بیا چا ماتہ آواز اوکړو نو ما سر اوچت کړو او چہ اومے کتل نو هغه پہ هوا کښې پہ یو تخت ناست وو ۔ یعنی جبرائیل علیہ السلام وو ۔ ما هغه چہ اولیدو نو سخته لړزه راباندے راغله (د هیبت د وجے نہ) بیا زه د خدیجے خوا لہ راغلم او ما اووے پہ ما کپړه اوغوړه وه هغوی پہ ما باندے کپړه خوره کړه او اوبہ ئے راباندے واچولے (د هیبت لرے کولو دپاره) نو اللہ تعالی د ایتونہ راولیږل ۔ یا ایها المدثر ○ قم فانذر ○ وربک فکبر ○ وثیابک فطهر ○ (د دے ترجمه وړاند تیره شوے ده)

(۴۱۰) عن یحیی بن ابی کثیر بهذا الاسناد وقال . فاذا هو جالس علی عرش بین السماء والارض .

راجع : ۴۰۶

ترجمه : یحیی بن کثیر پهدے سند سره روایت کوی چه هغه ناست وو په یو تحت باندے د
آسمان او د زمکے په مینځ کښ :

باب الاسراء برسُوْل الله صلّے اللّٰهُ علیه واله وسلّم الی السّموٰت وفرض الصّلوٰة

باب: د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه و اله وسلم اسمانونو ته تشریف اوړل یعنې معراج او د مانځه فرض کیدل .

فائده : امام نووی وائی دا ډیر لوئے باب دے . او زه په دے باب کښ لنډلنډ مطلبونه د خپلے خپلے موقعے په مطابق بیانوم . او قاضی عیاض معراج په باره کښ څو فقرے ډیر ښکلے لیکلے دی . هغوی وئیلے چه دا تمام خوب وو . او کوم چه حق دے او اکثر و سلفو او متاخرینو دے لره اختیار کړے دے د فقهاؤ او محدیثنو او متکلمینو نه . هغه دادے چه معراج د بیداری په حالت کښ وو . او هغه د خپل جسم مبارك سره تشریف اوړلے وو . او حدیثونه په دے امر باندے دلالت کوی . او په ظاهره سره د عدول کولو دپاره څه وجه نشته دے . او نه دا مجال دے . چه د تاویل احتیاج وی . او شریك د معراج په راویت کښ څو ځایه وهم کړے دے . چه په هغے باندے انکار کړے دے علماؤ او امام مسلم په هغے باندے تنبیه کړے ده او وئیلے دی چه شریك په دے روایت کښ تقدیم او تاخیر کمے اوبیشے کړے دے .

یو د هغے نه دا دے . چه هغه معراج لره د نبوت نه مخکښ نقل کوی . حالانکه دا غلط دے . معراج کم از کم د نبوت نه شپږ میاشتے پس واقع شوے دے . او حربی وئیلے دی چه معراج د ربیع الثانی په اوینشتمه شپه د هجرت نه یو کال وړاندِ شوے وو . او ذهری وائی چه معراج د نبوت نه پنځه کاله پس شوے دے . او اسحاق وائی چه معراج هغه وخت اوشو هرکله چه اسلام په مکه کښ خور شوے وو . او د عربو په قبیلو کښ او په دے تولو قولونو کښ د زهری او ابن اسحاق قول زیات صحیح دے . ځکه چه تولو په اتفاق وئیلے

دی چه حضرت خديجیؓ د حضور صلے الله عليه واله وسلم سره مونځ اولو ستلو د مانځه د فرض کيدو نهٔ پس . او په دے خبره کښې اختلاف نشته چه حضرت خديجهؓ د هجرت نهٔ درے کاله مخکښې تيره شوے وه . او بعضے وائی چه پنځه کاله مخکښې. دويمه دا چه عالمانو اتفاق کړے دے . په دے امر باندے چه مونځ د معراج په شپه فرض شوے دے بيا معراج د نبوت نهٔ مخکښې څنګه کيدے شی . او دا چه کوم د شريك په روايت کښې دی چه هغه اوده وو . او په دويم روايت کښې دی چه د خوب او د ويخے په مينځ کښې وو د خانه کعبے سره .

نو ددے نه دا خبره ثابتيږی چه معراج په خوب کښې وو . ولے چه دا حالت د هغه وخت دے . هر کله چه هغه ته فرشته راغله او په حديث کښې ددے کوم ځائے ذکر دے چه ټوله قصه په خوب کښې تيره شوه . تمام شو کلام د قاضی عياض . نووی وائی د شريك نهٔ سيوا د معراج حديث لره نورو حافظانو او عالمانو روايت کړے دے لکه ابن شهابؒ او ثابت بنانیؒ او قتادهٔ د انسؓ نهٔ . او هغوئ د شريك خبرے نهٔ دی بيان کړی . او شريك د اهل حديثو په نزد حافظ نهٔ دے .

مترجم وائی چه کومو خلقو د معراج حالت په بيداریٔ کښې د جسم سره انکار کړے دے . د هغوئ انکار ددو وجونهٔ دے خو دا چه دومره قدرے تيز حرکت په قياس کښې نهٔ راځی . چه د لکونو کروړونو کلو نو فاصله د يو جسم په لږ وخت کښې طے کړی او بيا د هغے په اجزاء کښې اتصال قائم پاتے شی . دويم دا چه آسمان په مثل د پياز د پوستکی يو پوستکے د بل سره ميلاؤ شوے دی او هغه د چاؤدو او يو ځائے کيدو قابل نهٔ دے .

دويمه شبه خو صرف د بطليموس د تقليد نه پيدا شوے وه . ولے چه هغه خو آسمان تهوس او سخت د يو سره يو ميلاؤ شوے وستلے دے . او د هغه راوستلے شوے نظام مسلمانانو په عربیٔ ژبه کښې نقل کړو . او هم هغه په مسلمانانو کښې شائع شو .

حالانکه په خپله حکماؤ هغه نظام لره باطل کړو او د آسمانونو جسم داسے چه په هغے کښ څه څیز داخلیدے نهٔ شی غلطه شوه او ثابت شو دا مر چه په زرګونو ستوری او اجسام په دغه آسمانونو کښ چه د فضا په شان معلومیږی ګردش کوی او که چرے دا امراو منلے شی چه آسمانونه ټهوس او سخت اجسام دی . نو دا د کوم ځائے نهٔ معلومه شوه چه په دے کښ دروازے اولارے نشته دے .

او فرض کړه که داسے هم وی . نو دا د کوم ځائے نهٔ معلومه شوه . چه هغه چاؤدلو والا او جمع کیدلو والا نهٔ دی . کوم دلیل چه ورمبنو حکماؤ د آسمانونو په نهٔ چاؤدو باندے قائم کړے دے . هغه د ځو ځایونو نهٔ مخدوش دے او د هغے مقدمات ممنوع دی اوس پاتے شو ورومبے امر نو د هغے جواب دادے چه په قیاس کښ د نهٔ راتلو سره یو امر محال کیدے نهٔ شی . په خپله د زمکے حرکت ته اوګورئ دوه کم شپیته زره میله په یوه ګهنټه کښے طے کوی . یعنی د توپ د ګولی نه شپږ شلے ګناتیزه روانه وی . خو نهٔ د زمکے په اجزاؤ کښ تفریق پیدا کیږی . او نهٔ مونږ ته د څه قسم پریشانی په داسے تیز حرکت سره حاصلیږی . او د کومو خلقو په نز چه نمر متحرك دے او زمکه ساکنه ده . نو نمر د زمکے نه د لس کروړه زمکے په فاصله باندے کیدو سره دده مدار د شپیته کروړه میله شو او شپیته لره په دوه سوه څلویښت باندے تقسیم کړه نو په هر یو ساعت کښ دوه نیم کروړه میله د نمر حرکت شو حالانکه په دومره قدرے تیز حرکت سره هم نهٔ د نمر جسم چوی . او نهٔ د هغے په اجزاء کښ تفرق راځی اوس ددے نه هم زیات تیز حرکت ته اوګورئ . رڼرا کومه چه د نمر نهٔ زمونږ پورے رارسی ددے رڼرا حرکت په یو منټ کښ یو کروړ شل لکه میله دے .

که چرے څوك وائی چه رڼرا یو عرض دے . چه د دویم جسم نه قائم دے . او کلام د جوا هر و په حرکات کښ دے . نو ددے جواب دادے چه دغه خیال غلط دے چه رڼرا عرض دے .

بلکه زړا بو جسم دے چه دوړو وړو اجزاؤ نه مرکب دے او هغه اجزاء ډیر په تیزئی سره د رڼا جسم نه هر طرفته شندلے کیږی بیا چه هر کله د حرکت د تیزئ څه انتهاء رااونه وته او نه د جسم د سختئ په دے صورت کښ د خداوند کریم د قادر مطلق د قدرت کامله نه څه لرے نه دے هغه یو جسم لره چه څومره غواړی تیزوالے ورکوی اګر که زمونږ د قیاس او ګمان نه لرے وی ابو جهل په خپل قیاس سره معراج لره بعید اوګنړو او د هغے نه ئے انکار اوکړو او حضرت صدیق د عقل سلیم نه کار واخستو او د معراج شریف تصدیق ئے اوکړو وذلك فضل الله یوتیه من یشاء.

(۱۱۱۳) عن انس ابن مالک ان رسول الله صلے الله علیه واله وسلم قال اتیت بالبراق وهو دآبة ابیض طویل فوق الحمار ودون البغل یضع حافره عند منتهى طرفه قال فرکبته حتی اتیته بیت المقدس قال فربطته با الحلقة التی یربط بها الانبیاء قال ثم دخلت المسجد فصلیت فیه رکعتین ثم خرجت فجاءنی جبریل علیه السلام باناء من خمر واناء من لبن فاخترت اللبن فقال جبریل علیه السلام اخترت الفطرة قال ثم عرج بنا الی السماء فستفتح جبریل علیه السلام فقیل من انت قال جبریل قیل ومن معک قال محمد صلے الله علیه واله وسلم قیل وقد بعث الیه قال قد بعث الیه ففتح لنا فاذا انا بادم صلے الله علیه واله وسلم فرحب بی ودعالی بخیر ثم عرج بنا الی السماء الثانیة فاستفتح جبریل علیه السلام فقیل من انت قال جبریل قیل ومن معک قال محمد صلى الله علیه واله وسلم قیل وقد بعث الیه قال وقد بعث الیه قال ففتح لنا فاذ انا بابنی الخالة عیسی ابن مریم ویحیی بن ذکریا صلوات الله وسلامه علیهما فرحبا بی ودعوالی بخیر ثم عرج بنا الی السماء الثالثة فاستفتح جبریل علیه السلام فقیل من انت قال جبریل قیل ومن معک قال محمد صلے الله علیه واله وسلم قیل وقد بعث الیه قال قد بعث الیه ففتح لنا فاذ انا بیوسف صلے الله علیه واله وسلم واذا هو قد اعطی شطر الحسن قال فرحب بی ودعا لی بخیر ثم عرج بنا الی السماء الرابعة فاستفتح جبریل علیه السلام فقیل من هذا قال جبریل قیل ومن معک قال محمد صلے الله علیه واله وسلم قال وقد

بعث اليه قال قد بعث اليه ففتح لنا فاذ انا بادريس عليه السلام فرحب بی ودعا بخير قال الله عزوجل ورفعناه مكانا عليا ثم عرج بنا الى السماء الخامسة فاستفتح جبريل عليه السلام قيل من هذا قال جبريل قيل ومن معك قال محمد صلى الله عليه واله وسلم قيل وقد بعث اليه قال قد بعث اليه ففتح لنا فاذاانابهرون عليه السلام فرحب بی ودعا لی بخير ثم عرج بنا الى السماء السادسة فاستفتح جبريل عليه السلام قيل ومن هذا قال جبريل قيل ومن معك قال محمد صلى الله عليه واله وسلم قيل وقد بعث اليه ففتح لنا فاذ انابموسى عليه السلام فرحب ودعالی بخير ثم عرج بنا الى السماء السابعة فاستفتح جبريل عليه السلام فقيل من هذا قال جبريل قيل ومن معك قال محمد صلى الله عليه واله وسلم قيل وقد بعث اليه قال قدبعث اليه ففتح لنا فاذ انا بابراهيم عليه السلام مسندا ظهره الى البيت المعمور واذاهو يدخله كل يوم سبعون الف ملك لايعودون اليه ثم ذهب بی الى السدرة المنتهى واذاورقها كاذن الفيلة واذاثمرها كالقلال قال فلما غشيهامن امر الله ما غشى تغيرت فما احد من خلق الله يستطيع ان ينعتها من حسنها فاوحى الی ما اوحى ففرض على خمسين صلوة فی كل يوم وليلة فنزلت الى موسى عليه السلام فقال ما فرض ربك على امتك قلت خمسين صلوة فی كل يوم وليلة قال ارجع الى ربك فاسأله التخفيف فان امتك لا يطيقون ذلك فانی قد بلوت بنی اسرآئيل وخبرتهم قال فرجعت الى رب فقلت یاربی خفف على امتی فحط عنی خمسا فرجعت الى موسى فقلت حط عنی خمسا قال ان امتك لا يطيقون ذلك فارجع الى ربك فاسئله التخفيف قال فلم ازل ارجع بين ربی تبارك وتعالى وبين موسى حتى قال يا محمد انهن خمس صلوة عشر فذالك خمسون صلوة ومن هم بحسنة فلم يعملها لم تكتب شيئا فان عملها كتبت سيئة واحدة قال فنزلت حتى انتهيت الى موسى فاخبرته فقال رجع الى ربك فاسئله التخفيف قال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فقلت قد رجعت الى ربی حتى استحييت منه.

ترجمه : د انس بن مالك نه روايت دے . چه رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فرمائيلی دی

زم مخے ته براق راوستے شو او هغه يو څناور دے د سپين رنگ او گد د خر نه دنگ او د قچر نه وړوکے خپله خپه يعنى سم هغه ځائے گدى د کومے پورے چه د هغه نظر رسى ۔ (نو په يوه لمحه کښ د آسمانه پورے تلے شى) زه په هغے باندے سور شوم او د بيت المقدسه پورے راغلم ۔ هلته م هغه څناور په هغه حلقه سره اوتړلو کوم ځائے چه نورو پيغمبرانو به خپلو خپلو څناورو لره تړل (دا حلقه د جماعت ددروازے سره ده ۔ او د تړلو نه دا معلومه شوه چه انسان له د خپلو څيزونو احتياط او حفاظت ضرورى دے او دا د توکل نه خلاف نۀ دے) بيا زه جماعت ته دننه شوم او دوه رکعته مونځ مے اولوستلو او د هغے نۀ پس بهر را اوو تـه نو حضرت جبريل عليه السلام دوه لوښى را اخستے وو او راغے ۔ په يو کښ شراب وو او په بل کښ پى وو ۔ ما پيو لره غوره کړل (يعنى او مے څکل) نو جبرائيل عليه السلام زما سره آسمان ته اوختلو (هرکله چه آسمان ته اورسيدو) نو د دروازے د لرے کولو د پاره نے فرشتو ته اووے ۔ هغوى تپوس اوکړو څوك نے جبرائيل اووے ! زه جبرائيل يم هغوئ اووے ستا سره دويم څوك دے ۔ جبرائيل اووے! محمد صلے اللّٰه عليه وآله وسلم دے ۔ فرښتو تپوس اوکړو ولے هغه غوښتلے شوے وو ؟ جبرائيل اووے ! هاغوښتلے شوے دے ۔ بيانے دروازه کهولاؤ کړه زمونږ د پاره او مونږ حضرت آدم عليه السلام اوليدو هغوئ مرحبااووے ۔ لوزما د پاره نے د غوره والى دعا اوکړه ۔ بيا جبرائيل زمونږ سره دويم آسمان ته اوختو او د دروازے د لرے کولو نے اووئيل ۔ فرشتو تپوس اوکړو څوك نے ؟ هغوى اووے جبرائيل يم ۔ فرشتو اووے ستا سره دويم څوك دے ؟ جبريل عليه السلام اووے محمد ﷺ دے ۔ فرشتو اووے ولے ده ته د غوښتلو حکم شوے وو؟ جبرائيل اووے ها. دۀ ته حکم شوے دے ۔ بيا نے دروازه لرے کړه نو ما دواړه د ترورئ ځامنو لره اوليدل ۔ يعنى عيسى ابن مريم او يحيى بن ذکريا عليهم السلام لره هغوئ دواړو مرحبا اووے ۔ او زما د پاره نے د بهترئ دعا اوکړه ۔ بيا جبرائيل عليه السلام زمونږ سره دريم آسمان ته اوختو او ددروازے د لرے کولو د پاره نے

آواز اوکړو فرښتو اووے څوك دے؟ جبريل عليه السلام اووے! جبريل عليه السلام دے فرښتو اووے دويم ستا سره څوك دے؟ جبرائيل عليه السلام اووے محمد صلى الله عليه واله وسلم دے. فرښتو اووے ولے دہ ته د راتلو پيغام ورکړے شوے وو؟ جبرائيل عليه السلام اووے ها دۀ ته پيغام ورکړے شوے وو. بيا نے دروازه لرے کړه نو ما حضرت يوسف عليه السلام اوليدو. الله د حسن نيمه حصه هغه ته ورکړے وه. هغوئ ماته مرحب اووے او نيکه دعائے راته اوکړه. بيا جبرائيل عليه السلام مونږ د څلورم آسمان ته اوخيژولو او د دروازے د لرے کولو نے اووے. فرښتو تپوس اوکړو څوك دے. جبرائيل عليه السلام اووے! جبرائيل عليه السلام دے. فرښتو تپوس اوکړو ستا سره دويم څوك دے. جبرائيل عليه السلام اووے محمد ﷺ دے فرښتو اووے! ولے دے غوښتلے شوے دے. جبرائيل عليه السلام اووے ها غوښتلے شوے دے. بيا ئے دروازه لرے کړه نو ما ادريس عليه السلام اوليدو. هغوئ ماته مرحبا اووے او ښه دعائے اوکړه ماته. الله جل جلاله فرمائی مونږه اوچت کړو ادريس عليه السلام په لوړ مقام باندے (نو د لوړ مقام نه دغه څلورم آسمان مراد دے) بيا جبرائيل عليه السلام زمونږ سره پنځم آسمان ته اوختو او د دروازے لرے کولو دپاره نے آواز اوکړو فرښتو تپوس اوکړو څوك نے جبرائيل عليه السلام اووے جبرائيل عليه السلام دے بيا نے اووے څوك دی ستا سره جبرائيل عليه السلام اووے محمد ﷺ دے فرښتو اووے ولے هغه غوښتلے شوے دے؟ جبرائيل عليه السلام اووے ها! غوښتلے شوے دے. بيا نے دروازه بسرته کړه نو ما حضرت هارون عليه السلام اوليدو هغوئ مرحبا اووے او ماته نے نيکه دعا اوکړه بيا جبرائيل عليه السلام زمونږ سره شپږم آسمان ته اورسيدو. او د دروازے د لرے کولو نے اووے فرښتو تپوس اوکړو څوك نے جبرائيل عليه السلام اووے جبرائيل عليه السلام دے فرښتو اووے ستا سره بل څوك دے؟ جبرائيل عليه السلام اووے محمد ﷺ دے. فرښتو اووے! ولے دۀ ته خدائے پاك خپل ځان ته د رابللو پيغام ليږلے

وو. جبرائیل علیه السلام اووے او لیږلے وو. بیا ئے دروازه بیرته کړه نو ما حضرت موسیٰ علیه السلام اولیدو. هغوی اووے مرحبا او ماته ئے ښه دعا اوکړه. بیا د جبرائیل علیه سره اووم آسمان ته اوختو. پس جبرائیل علیه السلام دروازه لرے کوله. فرښتو تپوس اوکړو خوك ئے هغه اووے جبرائیل علیه السلام دے. تپوس ئے اوکړو ستا سره بل خوك دے؟ هغه اووے محمد ﷺ دے. فرښتو تپوس اوکړو ولے هغه غوښتلے شوے دے. هغوی اووے ها غوښتلے شوے دے. بیا دروازه لرے کړه نو ما ابراهیم علیه السلام اولیدو. هغه په خپله شا سره بیت المعمور ته ډډه وهلے وه (ددے نه معلومه شوه چه قبلے طرفته شاکول اوکیناستل درست دی) او هغے ته هره ورځ اویا زره فرښتے داخلیږی چه هغه بیا چرته نهٔ واپس کیږی. بیا جبرائیل علیه السلام زه سدرة المنتهی ته بوتلم چه د هغے پاڼړے دومره لوئے وے لکه د هاتی غوږونه او د هغے میوه لکه قله (یو لوئے منګے چه په هغے کښې دوه مشکه یاد هغے نه زیاتے اوبه راځی). بیا چه هر کله دغے ونے لره د الله په حکم سره پټه شوه نو د هغے حال داسے شو چه خوك مخلوق د هغے ښکلوالے بیانولے نه شی. بیا الله جل جلاله او غور ځول زما په زړهٔ کښې څه چه ئے غورځول او پنځوس مونځونه ئے په هره شپه او ورځ کښې په ما باندے فرض کړل. هر کله چه زه د هغه ځائے نهٔ راکوز شوم او موسیٰ علیه السلام ته راورسیدم. نو هغوی تپوس اوکړو ستا پروردګار ستا په امت باندے څه فرض کړل. ما اووے پنځو س مونځونه ئے پر فرض کړل. هغوئ اووے بیا واپس لاړ شه خپل پروردګار لره. او کم والے ترے نهٔ اوغواړه ولے چه ستا په امت کښې به ددومره مونځونو کولو طاقت نهٔ وی. او ما خپلو بنی اسرائیلو لره ازمایلی دی. او د هغوئ امتحان م اخستے دے. زه واپس شوم خپل پرودګار ته او عرض مے اوکړو چه اے پروردګاره کمے اوکړه زما په امت باندے. الله تعالیٰ ترے نه پنځه مونځونه کم کړل. زه واپس شوم او د موسیٰ علیه السلام خواله راغلم. او ورته مے اووے چه پنځه مونځونه راته خدائے پاك معاف کړل

هغوی اووے ستا په امت کښې به دومره طاقت نۀ وی ته خپل رب له بیا لاړشه او کمے کړه ۔ هغه به فرمائیل او زه به هغه شان برابر د پروردګار او حضرت موسی علیه السلام په مینځ کښې تلم راتلم ۔ تردے پورے چه الله جل جلاله او فرمایل ! چه اے محمد ﷺ هغه پنځه مونځونه دی ۔ او د هرے شپے او د هرے ورځې مونځونو کښې په یو مونځ کښې د لسو مونځونو ثواب دے ۔ نو دغه پنځوس مونځونه شول (سبحان الله د مالك څومره عنایت په خپلو غلامانو باندے دے چه لولی خو پنځه مونځونه او ثواب ورته د پنځوسو میلاویږی) او کوم سړے چه نیت اوکړی ۔ د نیك کار کولو او بیا هغه اونه کړی ۔ نو ده ته به د یو ے نیکۍ ثواب میلاویږی ۔ او چه ئے اوکړی نو دلسو نیکو ۔ او کوم سړے چه نیت اوکړی د بدۍ او بیا ئے اونه کړی نو څه پسے نۀ لیکلے کیږی او که چرے اوئے کړی ۔ نو یوه بدی لیکلے کیږی ۔ حضرت ﷺ فرمائی بیازه راکوز شوم او د حضرت موسی علیه السلام خواله راغلم هغوی اووے واپس شه خپل پروردګار ته اوکموالے اوغواړه ۔ رسول الله صلے الله علیه واله وسلم اوفرمایل ! چه زه خپل پروردګار ته بیابیا واپس شوم تردے پورے چه ماله د هغه نه شرم راغے ۔

فائده : براق بضم با د هغه څناور نوم دے ۔ چه په هغے باندے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم د معراج په شپه سور شوے وو ۔ زبیدی او صاحب تحریر وئیلے دی چه براق هغه څناور دے چه په هغے باندے تمامو پیغمبرانو سورلی کړے ده ۔ خو د نورو پیغمبرانو په هغه باندے سورلی کول دلیل غواړی ابن درید وئیلے دی براق د برق نۀ وتلے دے ۔ برق وئیلے شی بجلۍ ته ددے څناور نوم ځکه براق شو چه د هغه چال د بجلۍ په شان تیز وو ۔ او بعضو وئیلے دی ځکه چه هغه د بجلۍ په شان صفا او ستهرا او چمکدار وو ۔ او بعضو وئیلے دی ځکه چه هغه سپین وو ۔ قاضی عیاض وئیلے دی ۔ احتمال دے چه په دغه څناور کښې دوه رنګه وی ۔ ولے چه برقاء هغه بزے ته وئیلے کیږی چه د هغے په سپین

والی کښې تورے کړخے وی او په حدیث کښې په خپله موجود دے ۔ چه د هغه ښناور رنګ سپین وو ۔ نو براق، هم په سپین رنګ کښې داخل دے ۔ (نووی)

مُقدس یا مقدس دواړه صحیح دی ۔ او مشهور ے معانے ددے دادی ۔ د پاکی کور۔ ولې چه هلته انسان د ګناهونو نه پاك کیږی یا هغه مکان په خپله پاك دے د بتانو د ګندګی نه ۔ نووی وئیلے دی په دے روایت کښې اختصار دے ۔ او مراد دادے چه جبرائیل علیه السلام حضرت ﷺ ته اختیار ورکړو چه په دے دواړو لوخو کښې چه کوم یو غواړے اختیار کړه ۔ هغهٔ یې غوره کړل لکه چه په دویم روایت کښې د ابو هریرة صفا موجود دی ۔ چه هغه ته الهام اوشو د پیو د اختیاره ولو او د فطرت نهٔ مراد اسلام او استقامت دے ۔ او مطلب دادے چه تا دا سلام علامت لره او په هغے باندے استقامت لره اختیار کړو۔ او پې د اسلام علامت ددے وجے نهٔ شو چه هغه پاکیزه خوشګوار او نیك انجام دے ۔ او شراب خو دتمامو ناپاکو زیله ده ۔ او په حال او مال دواړو کښې بدی پیدا کولو والا دی ۔ یعنی شراب بدی پیداکوی ۔ انتهیٰ)

مترجم وائی چه ممکنه ده چه دفطرت نهٔ مراد دلته لغوی معنی د فطرت وی یعنی پیدائش او افرینشن او مقصود دادے چه دا فطری غذا ده دانسان هر کله چه بنده پیدا شی نو د هغه پرورش بغیر د پیو نهٔ مشکل دے او پې هغه غذا ده چه زیاده مقوی ، سریع الهضم ،داندامونو غتېونکے ، او د جسم پرورش کونکی ، او په دے کښې غذائیت او مائیت دواړه موجود دی ۔ او هغه فطری یعنی پیدائشی دے خداوندِ کریم دے لره جوړ کړی دی ۔ دانسان صنعت لره په دے کښې د خل نشته په خلاف د شرابو چه نهٔ په هغے کښې غذائیت دے ۔ چه دانسان د جسم د پرورش د پاره کافی شی ۔ نهٔ هغه فطری دی ۔ بلکه د انسان د ترکیب او صنعت نهٔ تیار شوے دی ۔ او خومره قدرے منفعت چه ددے نه حاصلیږی د هغے نه زیات ترے نه ضرر او نقصان پیدا کیږی ۔ نووی وائی ددے ځائے نهٔ خو خبرے معلومے

شولے ۔ یوه داچه هر کله کورِ والا د دننه نه اواز اوکړی چه ته څوك یے ؟ نو د هغے په جواب کښ به خپل نوم اخلے نه داچه "زه" یم ۔ ولے چه ددے ممانعت راغلے دے ۔ او "زه" وئیل یے فائدے دی دویمه داچه په آسمان کښ دروازے دی ۔ دریمه داچه په دروازو باندے محافظ او چوکیداران دی ۔ مرحبا هغه لفظ دے چه دے لره د عربو خلق د میلمه د راتلو په وخت کښ وائی ۔ یعنی ته بنه او فراخه ځائے ته راغلے ۔ ددے نه معلومه شوه چه کوم سړے ملاقات له راشی د هغه خاطر داری کول ۔ او په رونړ تندی سره میلاویدل ۔ د هغه تعریف کول په شرط ددے چه معزور نه وی ۔ درست دی او دا طریقه ده د انبیاو ۔

بیت المعمور یو کور دے ۔ دکعبے په طرف د آسمانونو د پاسه ۔ دے کورته معمور ځکه وئیلے کیږی چه هغه همیشه آباد وی ۔ او هره ورځ نوے نوے فرښتے اویا زره هلته د عبادت د پاره راځی ۔ چه هغه بیا چرته نه راځی ۔ ددے نه معلومول پکار دی چه فرښتے څومره بے حسابه دی ۔ سدرة المنتهیٰ یوه اونه ده دبیر دَ اوو اسمانونو د پاسه ۔ او هغه حد دے د فرښتو د تلویا حد دے د هغه علم چه د هغے نه مخکښ علم سوا د خدائے پاك نـه بـل چا تـه نشتـه ۔ ابن عباسؓ وائی د هغے نوم سدرة المنتهیٰ ځکه شو چه د ملائیکو علم د هغه ځائے پورے ختم شوے دے ۔ او ددغے نه وړاندِ څوك نه دی تلے سیوا د رسُوْل اللّٰه صلّے اللّٰهُ علیْه واله وسلم نه ۔

او د عبدالله ابـن مسعودؓ نه منقول دے ۔ چه دے ته منتهیٰ ځکه وئیلے کیږی ۔ چه څه دبره نه نازلیږی هغه دلته راځی اودریږی ۔ او کوم څه چه د لاندِ نه ورخیژی هغه هم هلته اودریږی ۔ یعنی د اخدائے حکم ۔ یعنی هر کله چه د الله جل جلاله خاص تجلی په هغه اونه باندِ اوشوه نو د هغے رنګ روب نے بدل کړو او حسن جمال د هغے بینظیره شو ۔ چه د هغے صفت د بیانولو نه دے ۔ ربنتیا دی د مخلوق څه مجال دے چه د خپل خالق ذوالجلال تعریف اوکړی ۔ ددے نه صفا ثابته شوه ۔ عقیده د سلف امت چه خدائے تعالیٰ

په خپل عرش باندے د آسمانونو د پاسه دے ورنه دواپس کیدو به څه معنیٰ وی ۔ نووی
په دے مقام باندے دا تاویل کړے دے ۔ چه زهٔ واپس شوم د هغه مقام نهٔ کوم ځائے چه ما د
خداوند کریم سره خبرے کړے وے او بیا مے عرض اوکړو دوباره او نقل کړے دی دے لره
مولانا ابو طیب په سراج الوهاج کښ او نه دے رد شوے دے تاویل لره حالانکه دا تاویل
مردود دے او نووی د متاخرینو متکلمینو په تقلید کښ داخیال کړے دے چه هغه خداوند
کریم لره د جهاتو مکان نهٔ منزه خیال کوی ۔ او د حدیثو عالمان او سلف صالحین په
مذهب باندے په دے حدیث کښ د څه تاویل ضرورت نشته دے ۔ ځکه چه د دویٔ په نز د
خدائے مکان عرش دے او هغه جهت په فوق کښ دے ۔ بس مطلب د حدیث صفا دے ۔
چه زه خداوند کریم له لاړم او کومو خلقو چه داخیال کړے دے ۔ چه معاذا لله د خدائے پاك
ذات هر ځائے دے ۔ او د عرش نه ذات لره څه خصوصیت نشته دے ۔ د هغوی په طریقه
باندے د معراج څه فضیلت نهٔ رااوځی او نهٔ د دومره تکلیف څه ضرورت معلومیږی چه د
شپے په وخت د اووهٔ آسمانونو سفر هغه ته مخکښ راشی ۔ ولے چه د هغوی په نز خو په
زمکه باندے هم د خدائے پاك ذات موجود دے ۔ بیا د اووه آسمانونو نه پورته د بوتللو څه
مقصود وو ۔ لاحول ولا قوه الا بالله ط ۔

داکم بخته عقیده د جهم بن صفوان نهٔ خوره شوے ده ۔ چه هغه په زرګونو
مسلمانانو لره ګمراه کړی دی او تر اوسه پورے د هغه ګمراهی قائمه ده ۔ او نجات ورکړے
دے رب ذوالجلال د دغه شیطان د شر نهٔ د حدیث عالمانو او سلفو صالیحینو لره ۔ او چا د
هغوی پیروی اختیار کړے ده الله پاك د زمونږ د ټولو د سلفو پیروی نصیب کړی ۔ او
زمونږ حشر د هم د هغوی سره کړی ۔ امین یا رب العلمین : د دے حدیث نهٔ صفا معلومه
شوه چه زمونږ پیغمبر صلے الله علیه واله وسلم د الله جل جلاله سره بلا واسطه خبرے کړے
دی ۔ او الله پاك هغه ته جواب ورکړے دے ۔ اوس هغه خلق چه هغه وانی خدائے خبرے نهٔ

کوی معاذالله اونهٔ د هغه په خبرو کښې آواز او حروف دی ۔ دغه کسان لکه دا حادیثو او آیتونو رد کوی د کومو نهٔ چه خاص د الله پاك خبرے کول او په هغے کښې آواز کول ثابت دی ۔

یعنی په باربار عرض کولو سره او کمی غوښتلو سره اوس ماته شرم راغے او س نهٔ شم تلے ۔ لکه چه د هغهٔ خیال وو چه زما امت به داپنځه مونځونه هم روزانه نهٔ ادا کوی ۔ خو کومه چه خدائے ته منظوره وه هغه اوشوه ۔ دا چه کوم بار بار تخفیف اوشو نو علماؤ اختلاف کړے دے په دے کښې چه وړاندِ د پنځوسو مونځونو چه کوم حکم شوے وو هغه وجوبی وو یا غیروجوبی ۔ خطابیؒ وئیلے دی هغه حکم غیر و جوبی وو گنی کم والے پکښې څنګه اوشو ۔ او صحیح داده چه هغه حکم وجوبی وو ولے چه که غیر وجوبی وے نو د کمی دغوښتو ضرورت نهٔ پریوتو ۔ اوس دا تخفیف نسخ دے مخکښې د عمل نهٔ او هغه جائزوو۔

(۴۱۲)عَنْ انس ابْن مالکٍ قَالَ قال رَسُوْلُ اللّٰه صلَّے اللّٰهُ عليْه وَاله وسلَّم اُتِيْتُ فَانْطلقوْا بِيْ اِلی زمْ زم قال فشرح عن صدری ثُمَّ غُسل بماءِ زمْزمَ ثُمَّ اُنزلتُ ۔ :

ترجمه : دانس بن مالكؓ نه روایت دے ۔ رسُوْل اللّٰه صلَّے اللّٰهُ عليْه وَاله وسلم فرمائیلے دی ماله دوه فرښتے راغلے او زه ئے د زم زم خواله بوتلم او بیائے زما سینه اوڅیرله او د زم زم په اوبو سره ئے اووینځله بیائے پریخودم زه په خپل ځائے باندے ۔

فائده : یعنی هغه ځائے د کوم ځائے نهٔ چه بوتللے شوے وو ۔ دا معنیٰ په هغه صورت کښې ده هرکله چه په حدیث کښې انزلت په ضم د "تا" صیغهٔ واحد متکلم مجهول وی او کوم چه په سکون د "تا" وی صیغهٔ واحد مؤنث مجهول نو په دے صورت کښې به د هغے مفعول مالم یسم فاعله محذوف وی ۔ او هغه مذکور دے د برقانی په روایت کښې په دے شان ثم انزلت علی طست من ذهب مملو نة حکمة ۔ یعنی بیا را تاؤ شو په ما باندے بو

طشت د سرو زرو (یعنی بو خانک د سروزرو) چه په هغې کښې حکمت ډك شوې وو.
یعنې هغه د ایمان او حکمت نه ډك شوې لوخې نے زما په خیرلے شوې سینه کښې
راوږولو او بیا نے زما سینه مېلاؤ کړه جوړه شوه او ماته هیڅ درد او تکلیف نه وو)

(۴۱۳) عن انس ابن مالک ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اتاه جبریل وهو یلعب مع الغلمان فاخذه فصرعه فشق عن قلبه فاستخرج القلب فاستخرج منه علقة فقال هذا حظ الشیطان منک ثم غسله في طست من ذهب بماء زمزم ثم لامه ثم اعاده في مکانه وجاء الغلمان یسعون الی امه یعني ظئره فقالوا ان محمدا قد قتل فاستقبلوه وهو منتقع اللون قال انس وقد کنت اری اثر ذلک المخیط في صدره.

ترجمه: دانس بن مالك نه روایت دے . چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم له جبرائیل علیه السلام راغے . او هغه د هلکانو سره لوبے کولے . هغوی هغهٔ لره اونیوؤ او په زمکه نے سملاوؤ . او زړه ئے ورله اوخیرلو او راوویستو ئے او د وینے یوه کلکه ټکړه نے ترے نه لوغوړخوله . او اوئے وئیل چه دومره حصه د شیطان وه په تاکښې بیا نے هغه زړه وینځلو د سرو زرو په خانك کښې د زمزم په اوبو سره . (ددے نه دا نهٔ ثابتیږی چه مونږ لره د سروزرو لوښو استعمال جائز دے ولے چه دا د فرښتو فعل دے . او ممکنه ده چه د هغوی شریعت زمونږ د شریعت مغائر وی دویمه دا چه ددغه وخته پورے د سرو زرو استعمال حرام شوے نهٔ وو) بیا ئے ورستو هغے لره په خپل ځائے کینښودو . او هغه (ملګری) هلکان په منډه منډه د خپلے مور خواله راغلل . یعنې ددائی مور د آنحضرت خواله او ورته ئے اووے چه محمد ئے اووژلو . ددے په اوریدو سره خلقو منډے کړے چه اوئے کتل (نو هغه صحیح او سالم وو او) رنګ ئے بدل شوے وو . (دیرے نه) انس وائی ما د هغې ګنډلو (چه حضرت جبریل علیه السلام کړی وو) د حضرت په سینه مبارکه باندے نښان لیدلے وو .

(۴۱۴) عن شریک ابن عبدالله بن ابی نمر قال سمعت انس بن مالک یحدثنا عن لیلة اسری

رسول الله صلى الله عليه واله وسلم من مسجد الكعبة انه جاء ه ثلثة نفر قبل ان يوحى اليه وهونائم في المسجد الحرام وساق الحديث بقصته نحو حديث ثابت البناني وقدم فيه شيئا واخر وزادونقص :[بخاری : ۳۵۷۰، ۷۵۱۷]

ترجمه : دشریك بن عبدالله نه روایت دے چه ما اوریدلے دی د انس بن مالكؓ نه چه هغه بیان کولو د هغه شپے چه په هغے کښې معراج شوے وو ـ د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لره د کعبے د مسجد نه هغه له درے فرشتے راغلے د وحی د راتلو نه مخکښې او هغه په جماعت کښې اوده وو ـ بیائے بیان کړلو حدیث لره په هغه شان لکه چه ثابتؒ راویت کړے دے د انسؓ نه لیکن مخکښې ئے بیان کړے دی بعضے خبرولره او ورستو ئے بیان کړی دی بعضے خبرولره ـ او زیات کړے کم کړے ئے دے ـ

(۴۱۵) عن انس ابن مالك قال كان ابو ذر يحدث ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم قال فرج سقف بيتي وانا بمكة فنزل جبريل عليه السلام ففرج صدري ثم غسله من ماء زمزم ثم جاء بطست من ذهب ممتلئ حكمة وايمانا فافرغها في صدري ثم اطبقه ثم اخذ بيدي فعرج بي الى السماء فلما جئنا السماء الدنيا قال جبريل عليه السلام لخازن السماء الدنيا افتح قال من هذا قال هذا جبريل قيل هل معك احد قال نعم معي محمد قال فارسل اليه قال نعم فافتح ففتح قال فلما علونا السماء الدنيا فاذا رجل عن يمينه اسودة وعن يساره اسودة قال فاذ انظر قبل يمينه ضحك واذا نظر قبل شماله بكى قال فقال مرحبا بالنبي الصالح والابن الصالح قال قلت يا جبريل من هذا قال هذا آدم وهذه الاسودة عن يمينه وعن شماله نسم بنيه فاهل اليمين اهل الجنة والاسودة التي عن شماله اهل النار فاذا نظر قبل يمينه ضحك واذ نظر قبل شماله بكى قال ثم عرج بي جبريل حتى اتى السماء الثانية فقال لخازنها افتح قال فقال له خازنها مثل ما قال خازن السماء الدنيا ففتح فقال انس ابن مالك فذكر فنوجد في السموت ادم وادريس وعيسى وموسى وابراهيم عليهم الصلوة والسلام ولم يثبت كيف منازلهم غير انه ذكر انه قد وجد ادم في السماء الدنيا وابراهيم في السماء السادسة

قال فلمّامرّ جبریل ورسُولُ اللّٰه صلّے اللّٰه علیه واله وسلم بادریس قال مرحبا با النّبیّ الصّالح قال ثم مرّ فقلتُ من هذا قال هذا ادریس قال ثُمّ مررتُ بموسی علیه السّلام فقال مرحبا با النّبی الصّالح و لاخ الصّالح قال قُلتُ من هذا قال هذا موسی قال ثُمّ مررتُ بعیسی فقال مرحبا با النّبیّ الصّالح والاخ الصّالح قُلتُ من هذا قال هذا عیسی بن مریم قال ثُمّ مررتُ بابراهیم فقال مرحبا با النّبیّ الصّالح والإبن الصّالح قال قُلتُ من هذا قال هذاابراهیم علیه السّلامُ قال بن شهاب و اخبرنی بن حزم انّ ابن عباس وّاباحیّة الانصاری کانا یقولان قال رسولُ اللّٰه صلّے اللّٰه علیه واله وسلّم ثمّ عرج بی حتی ظهرتُ لِمُستوی اسمعُ فیه صریف الاقلام قال ابن حزمٍ وّانس بن مالک قال رسولُ اللّٰه صلّے اللّٰه علَیه واله وسلّم ففرض اللّٰه علے اُمّتی خمسین صلوة قال فرجعتُ بذلِک حتی امرّ بموسیٰ فقال موسی ماذا فرض ربّک علے اُمّتک قال قُلتُ فرض علیهم خمسین صلوة قال لی موسی فراجع ربّک فانّ اُمّتک لا تطیقُ ذلک قال فراجعتُ ربّی فوضع شطرها قال فرجعتُ الی موسی علیه السّلامُ فاخبرتُهُ قال راجعُ ربّک فانّ اُمتک لا تُطیقُ ذلک قال قال فراجعتُ ربّی فقال هی خمسٌ وّهی خمسُون لا یُبدّلُ القولُ لدیّ قال فرجعتُ الی موسی فقال راجع ربّک فقُلتُ قد استحییتُ مِن ربّی قال ثُمّ انطلق بی جبریل حتی نأتی سدرة المُنتهی فغشیهاالونٌ لّا ادری ماهی قال ثُمّ اُدخلتُ الجنّة فاذا فیها جنا بذاللّؤلؤ واذا ترابها المسک (بخاری: ۳۴۹، ۳۳۴۲: نسائی: ۴۴۸، ابن ماجه: ۱۳۹۹)

ترجمه: دانس بن مالکؓ نه روایت دے چه ابو ذر غفاریؓ حدیث بیانولو چه رسول اللّٰه صلّے اللّٰه علیه واله وسلم فرمانیلے دی . مات کړے شو چهت زما د کور او زه په مکه کښں ووم . او جبرائیل علیه السلام راکوز شو . هغوی زما سینه او څیرله بیا ئے هغے لره اووینځله د زم زم په اوبو باندے . بیا ئے یو طشت د سرو زرو راوړو چه هغه د حکمت او ایمان نه ډك وو . او راتونی ئے کړو هغے لره زما په سینه کښں . او دهغے نه پس ئے یو ځائے کړه زما سینے لره . او زما لاس ئے اونیوو او آسمان ته اورسیدو . نو جبرائیل علیه السلام دربان ته

اووے ۔ کھولاؤ کړه ۔ هغه تپوس اوکړو څوك دے ؟جبرانیل علیه السلام اووے جبرانیل علیه السلام دے ۔ تپوس اوشو چه نور هم ستا سره څوك شته ۔ جبرائیل اووے هامحمد دے ۔ تپوس اوشو ولے هغه غوښتلے شوے دے ۔ (جبرائیل) اووے ۔ ها! بیا هغه دروازه بیرته کړه ۔ هر کله چه مونږ د اسمان د پاسه لاړو ۔ نو یو سړے م اولیدو چه د هغه ښی طرفته هم جهنډ وو(دروحونو) او گس طرفته ئے هم جهنډ وو هغه چه هر کله ښی طرفته گوری نو خاندی ۔ او کله چه گس طرفته به ئے کتل نو ژړل به ئے ۔ هغه چه کله زه اولیدم نو اوئے ونیل مرحبا اے نیك بخته نبیّ او نیك بخت ځویه ۔ ما د جبرائیل علیه السلام نه تپوس اوکړو دا څوك دے ؟ هغوئ اووے دا آدم علیه اسلام دے ۔ او دا چه د خلقو کوم جهنډ د هغه نه ښی طرفته او گس طرفته دی ۔ دا د هغه اولاد دے ۔ نوښی طرفته هغه خلق دی کوم چه به جنت ته ځی او گس طرفته هغه خلق دی چه هغه به جهنم ته داخلیږی ۔ ځکه چه هر کله هغه ښی طرفته گوری نو (دخوشحالی په وجه) خاندی ۔ او هر کله چه هغه گس طرفته گوری نو (درنځ او غم په وجه) ژاړی بیا حضرت فرمائی ۔ جبرائیل علیه السلام زۀ واخستم او په پورته روان شو تردے چه دویم آسمان ته اورسیدو ۔ او دهغے څوکیدار ته ئے اووے ! دروازه لرے کړه ۔ هغه هم داسے اووے لکه څنگه چه د وړمبی آسمان چوکیدار ونیلے وو۔ بیا ئے دروازه بیرته کړه ۔ انس بن مالكؓ وائی ۔رَسُوْل الله صلے اللهُ علَيْه واله وسلم په آسمانونو کښ د حضرت آدم ، او ادریس او عیسیٰ او موسیٰ اوابراهیم علیهم السلام سره ملاقات اوکړو او دابیان ئے نه دے کړے چه ددوئ نۀ هر یو په کوم آسمان باندے میلاؤ شو خو دومره ئے ونیلے دی چه د آدم علیه السلام سره په وړمبی آسمان باندې ملاقات اوشو ۔ او د ابراهیم علیه السلام سره په شپږم آسمان کښ هرکله چه جبرائیل علیه السلام او حضرت صلے الله علیه واله وسلم د ادریس علیه السلام په خواه تیریدل نو هغوی اووے مرحبا اے نبی صالح ۔ حضرت تپوس اوکړو دا څوك دے ۔ جبرائیل علیه

السلام اووے دا ادریس علیہ السلام دے بیا زہ د حضرت موسی علیہ السلام پہ خواہ باندے تیر شوم ۔ هغوئ اووے مرحبا یا نبی صالح او رورہ صالح ماتپوس اوکړو دا څوك دے؟ هغوی اووے دا موسی علیہ السلام دے بیا زہ د حضرت عیسی علیہ السلام پہ خو باندے تیر شوم ۔ هغوی اووے مرحبا اے نبی صالح او رورہ صالح ما تپوس اوکړو دا څوك دے؟ هغوئ اووے دا د مریم ځوے عیسی علیہ السلام دے ۔ بیا زہ د حضرت ابراهیم علیہ السلام پہ خواہ باندے تیرشوم هغوی اووے مرحبا اے نبی صالح او ځویہ صالح ۔ ماتپوس اوکړو دا څوك دے؟ هغوئ اووے دا حضرت ابراهیم علیہ السلام دے ۔

ابن شهاب وئیلے دی ماته ابن حزم بیان کړے دے ۔ چہ ابن عباس رضی الله عنه ابو حبۃ انصاریؓ (عامر ، یا مالك یا ثبت) دواړو وئیلے وو ۔ چہ رَسُوْل اللّٰه صلّے اللّٰه علیه واٰله وسلم فرمائیلے دی بیازہ او خیژولے شوم پہ یو هموار اوچت مقام باندے هلته ما اوریدو د قلمونو آواز ۔ ابن حزم او انس بن مالك وئیلے دی چہ رَسُوْل اللّٰه صلّے اللّٰه علیه واٰله وسلم فرمائیلے دی ۔ بیا الله جل جلاله زما پہ امت باندے پنځوس مونځونه فرض کړل ۔ زہ چہ واپس هر کله د موسیٰ علیہ السلام خواته رااورسیدم ۔ نو هغه زما نه تپوس اوکړو ۔ الله پاك څه فرض کړل ستا پہ امت باندے؟ ما اووے پنځوس مونځونه ئے پہ هغوی باندے فرض کړل ۔ موسیٰ علیہ السلام اووے ته بیاواپس لاړ شه! د خپل رب خواله ولے چہ ستاپہ امت کښ دومرہ قدرے طاقت نشته دے زہ واپس شوم خپل پروردګار له ۔ هغه یو حصه مونځ معاف کړو ۔ او واپس بیا موسی علیہ السلام له راغلم او هغوی ته م بیان اوکړو ۔ هغوی اووے واپس لاړ شه پروردګار ته ولے چہ ستا د امت دومرہ طاقت نشته د پروردګار ته واپس لاړمه ۔ الله تعالی راته اوفرمائیل پنځه مونځونه دی او هغه د پنځو سو برابر دی (پہ ثواب کښ) مادلته خبرہ بدله نۂ کړہ حضرت فرمائی بیازہ موسی علیہ السلام له واپس راغلم ۔ هغوی اووے بیا لاړ شه پروردګار له ۔

مـااووے مالـه شـرم راځـی د خپـل پروردګار نۀ (په بار بار عرض کولو سره) بیا زه د جبرائیل علیه السلام سره سدرة المنتهیٰ ته لاړم په هغې باندې داسې رنګ ختلے وو چه هغه مانۀ پیـژنـدو چـه هـغـه څـه وو ۔ بیـا ئے زه جنت ته بوتلم هلته دلعلونو ګنبد وواو خاوره د هغې مشك وو ۔

فائده :۔دا سینـه څیـرل او زړۀ وینـځـل او صـفا کول څه خلاف قیاس نۀ دی ۔ نۀ محال دی ۔ د خداونـدِکریـم د قدرت نۀ دا امر بالکل بعید نۀ دے ۔ بلکه په موجوده زمانۀ کښې په خپله انسان په جراحت کښې داسے ترقی کړے ده ۔ چه په وړاندِ زمانه کښې خلقو دے لره خلاف قیاس ګنړلو ۔ او په طشت کښې د ایمان او حکمت ډکولو دا معانے دی ۔ چه دغه طشـت څه ددا سے څیـز نـۀ ډك وو چه هغه په زړۀ کښې د اچولو سره زړه رنړاشواو ډك شو د ایمان او حکمت نۀ ۔ دا تاویل نووی کړے دے او زما په نزد دَ تاویل ضرورت نشته ۔ ولے چه دغـه طشـت هم د جنت وو ۔ او د جنت په طشت کښې ایمان او حکمت ډکیدل څه بعید نۀ دی ۔ ځکـه چه جنت د عالم آخرت نۀ دے ۔ او د عالم آخرت احکام نور دی ۔ هلته ډیر داسے څیـزونـه دی چـه هغے لره مونږ دلته جسمانی او موجود بالذات خیال نۀ کوؤ ۔ جسمانی او موجودبالـذات وی ۔ ددغـے قبیـلے نه دی د اعمالو تول کول ۔ د مرګ ذبحه کول ۔ د قرآن د سورتونو شفاعت کول ۔ والله اعلم

قاضی عیاض ونیلے دی په دے مقام باندے دا اشکال کیږی چه د کافرانو روحونه خو په سجین کښے اوسیږی ۔ چه هغه په اوومه زمکه کښې دے ۔ یا د هغے نه د لاندے دے یا په قیـد کښې وی ۔ او د مومنانو روحونه په جنت کښې آرام مومی ۔ بیا دا روحونه آدم علیه السلام ته څنګه راجمع شوے وو او ددے جواب دادے چه کیدے شی ۔ د حضرت آدم علیه السلام سره د هغوی د روحونو د پیش کیدلو یو وخت وی ۔ او رَسُوْل اللهِ صلّے اللهُ علیهِ واله وَسَلم په اتفاق سره په دغه وخت هلته رسیدلے وی ۔ او د هغوی روحونو لره ئے لیدلے وی ۔

او دا هم احتمال دے چه د کافرو ارواح په جهنم کښ او د مومنانو روحونه په جنت کښ
همیشه پاتے کیدل نۀ وی ۔ بلکه خاص په یو وخت کښ به وی ۔
لکه چه په قرآن کښ دی ۔ چه هغه سحر او مابنام د جهنم مخے ته کوی او په
حدیث کښ دی ۔ چه د مؤمن مخے ته د هغه د اوسیدو ځائے په قبر کښ پیش کولے شی او
هغه ته به وئیلے شی چه داستا همیشه د اوسیدو ځائے دے ۔ تردے پورے چه الله تعالیٰ به
تا لره دے ځائے ته رسوی ۔ او دا هم احتمال دے ۔ چه جنت د آدم علیه السلام ښی طرفته وی
او جنم نے گس طرف ته وی ۔ والله اعلم ۔
امام نووی وئیلے دی ۔ په دے روایت کښ کوم چه د ابراهیم علیه السلام په شپږم
آسمان باندے مذکور دے خو که چرے معراج دوباره شوے وی ۔ په دے صورت کښ څه
اشکال نشته ۔ ځکه چه یو ځل په شپږم آسمان باندے میلاؤ شوے وی او بیا اووم آسمان
ته د هغهٔ سره تلے وی ۔ والله اعلم : او آواز کوم چه د فرښتو د لیکلو نۀ وتلو ۔ او دا لیکل
دفرښتو یا خود الله جل جلاله د احکام او د وحی وه ۔ یا هغه د لوح محفوظ نه نقل کولو ۔
قاضی عیاضؒ وائی دا دلیل دے د اهل سنتو دمذهب چه وحی او مقادیر تول د الله تعالیٰ
په کتاب لوح محفوظ کښ لیکلے کیږی په قلمونو سره او هغه پرے پو هه دے چه هغه
کیفیت چه هغه په آیاتونو او احادیث صحیحه ؤ کښ واردی او هغه په خپل ظاهر باندے
محمول دی ۔ خو ددے په کیفیت او صورت او جنس خدائے پاك ښه پو هه دے ۔ یا هغه
سرے پرے پو هیږی چه هغه ته نے خدائے پاك اوښائی د خپلو فرښتو او پیغمبرانو نۀ ۔ او
کوم خلق چه ددے قسم آیتونو یا احادیثو تاویلو نه کوی ۔ او په ظاهر سره هغے لره اړه وی ۔
هغه ضعیف النظر دی ۔ او ضعیف الایمان ۔ ځکه چه هر کله په شریعت مقدسه کښ د
امور وارد دی ۔ او عقلا محال نۀ دی ۔ نو په هغ کښ د تاویل څه ضرورت دے ۔
او الله تعالیٰ کوی هغه څه چه غواړی ۔ او حکم کوی د هغه څه چه غواړی ۔ لو دا

لیکل یو حکمت الهی دے . چه په هغې سره هغه د غیبو خبرے خپلو بندیگانو ته بنودل غواړی کنی هغه خو پخپله بے پرواه دے د کتابونو نهٔ او هغه ته د یا د ساتلو دپاره د لیکلو ضرورت نشته . قاضی عیاض ونیلی دی زمونږ د پیغمبر صلے الله علیه واله وسلم ددے مقامه پورے تلل او د تمامو پیغمبرانو علیهم السلام د مقاماتو نهٔ د مخکښې تللو دا دلیل دے زمونږ د پیغمبرؐ د فضیلت په نورو پیغمبرانو علیهم السلام باندے . اوبزّاز په یو روایت کښې د حضرت علیؓ نه د معراج بیان کړے دے . په هغې روایت کښې دادی . چه جبرائیل علیه السلام د هغه سره تلو تردے پورے چه د پردے خواته اورسیدل . د هغه ځائے نه یوه فرښته راووته جبرائیل علیه السلام اووے قسم دے په هغه ذات چا چه تهٔ ربښتونے پیغمبرؐ کړے نے او زالیږلے نے . زه چه د کوم وخت نهٔ پیدا شوے یم ما دا فرښته نهٔ لیدلے . حالانکه زه په تمام مخلوق کښې خدائے پاك ته زیات بزرگ یم . او په دویم روایت کښې دی . چه بیا جبرائیل علیه السلام زمانه جدا شولو او آوازونه تمام موقوف شول . تمام شو کلام د قاضی عیاض: په حدیث کښې د شطر لفظ وارد دے چه د هغې معنیٰ د نصف ده . پنځویشت مونځونه نے معاف کړل په دے صورت کښې به دا مخالف نهٔ وی دوېمې روایت چه په هغې کښې د پنځه پنځه مونځونو معاف کیدل ذکر دی ولے چه د شطر د معاف کیدو نه دا غرض نهٔ دے چه په یو وار کښې شطر معاف شو بلکه په څوواره کښې معاف شوے وو. او قاضی عیاض ونیلی دی چه دشطر نهٔ یو حصه مراد ده یعنی پنځه مونځونه او نیمه ترے نه مراد نهٔ ده او دا هم کیدے شی خو ددے ضرورت نشته ولے چه حدیث مختصر دے . په دے کښې نے د څو ځله واپس کیدو بیان نهٔ دے کړے . والله اعلم .

(۴۱۲) عنْ انس بن مالك لعلّهٗ قال عنْ مالك ابن صعصعة رجلٍ مّنْ قومه قال قال النّبیُّ صلّی الله علیه واله وسلّم بینا انا عند البیت بین النّائم والیقظان اذْ سمعتُ قائلا یقوْلُ احدُ الثّلاثة بین الرّجُلین فاتیتُ فانطلق.

[۱ . قوله احد الثلاثته الخ رجلین نه مراد جبرائیل علیه السلام او میکائیل علیه السلام دی او د ثالث نه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم مراد دے . یو سړے د دا خیال نه کوی چه دا حدیث د پورته حدیث نه معارض دے . ولے چه په دے کښې مخکښې د نزول وحی ذکر دے . او په هغې کښې بعد د نزول وحی . لیکن په غور د لیدوسره ثابتیږی . چه په دے روایت کښې شریك (یو راوی دے ددے حدیث) دوه ځایه غلطی کړے ده . ۱ . دا چه معراج د نزول وحی نه شوے دے . او دا ورانږ د وحی نه ذکر کړے دے . ۲ . دا چه حضرت ته دوه سړی (فرښتے) راغلی وے . او هغه درے سړی بیان کړی دی . ۱۲ .]

بی فاتیت بطست مَنْ ذهب فیها من مَاءِ زمزم فشرح صدری الی کذاو کذا قال قتادة فقلت للذی معی ما یعنی قال الی اسفل بطنِه فاستخرج قلبی فغسل بماء زمزم ثمّ أعید مکانه ثم حشی ایمانا وحکمة ثم اتیت بدابّةٍ ابیض یقال له البراق فوق الحمار ودون البغل یقع خطوه عند طرفِه فحملت علیه ثم انطلقنا حتّی اتینا السّمآء الدّنیا فاستفتح جبریل علیه السّلام فقیل من هذا قال جبریل قیل ومن معک قال محمّد صلے الله علیه واله وسلّم قیل وقد بعث الیه قال نعم قال ففتح لنا وقال مرحبا ولنعم المجئ جآء قال فاتینا علی ادم علیه السّلام وساق الحدیث بقصّتِه وذکر انّه لقی فی السّمآء الثانیة عیسی ویحیی علیهما السّلام وفی الثالثة یوسف وفی الرّابعة ادریس وفی الخامسة هارون قال ثم انطلقنا حتی انتهینآ الی السّمآء السادسة فاتیت علی موسی فسلّمت علیه فقال مرحبا بالاخ الصالح والنبیّ الصالح فلمّا جاوزته بکی فنودی ما یبکیک قال یاربّ هذا غلام بعثته بعدی یدخل من امّته الجنة اکثر ممّا یدخل من امّتی قال ثم انطلقنا حتی انتهینا الی السّمآء السابعة فاتیت علی ابر اهیم وقال فی الحدیث وحدث نبیّ الله صلی الله علیه واله وسلّم انه رای اربعة انهار یخرج من اصلها نهران ظاهران ونهران باطنان فقلت یا جبریل ما هذه الانهار قال امّا النهران الباطنان فنهران فی الجنّة وامّا الظاهران فالنیل والفرات ثم رفع لی البیت المعمور فقلت یا جبریل ما هذا قال هذا البیت المعمور یدخله کلّ یوم سبعون الف ملك اذا خرجوا منه لم یعودوا فیه اخرما علیهم ثم اتیت باناءین احدهما خمر والآخر لبن فعرضا علیّ فاخترت اللبن فقیل لی اصبت اصاب الله بک امّتک

علی لفطرة ثمّ فرضت علی کلّ یوم خمسون صلوة ثمّ ذکر قصتها الی آخر الحدیث :[بخاری : ۳۲۰۷، ۳۸۸۷، ۳۳۹۳، ۳۴۳۰: ترمذی : ۳۳۴۶، نسائی : ۴۴۷]

ترجمه : د انس بن مالكؓ نه روایت دے هغوی کیدے شی چه اوریدلے وی د مالك بن صعصعه نهٔ چه هغه یو سړے وو د هغوی د قوم نه . چه فرمانیلے دی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم زه د خانهٔ کعبے سره ووم او زما حالت د خوب او د بیداری په مینځ کښ وو . په دے کښ ما واؤ ریدل د یو ویونکی نه چه ونیل نے په مونږ دواړو کښ دریم دادے . (یعنی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم)بیا زما خوا له راغلل او زه ئے بوتلم بیا ماله یو طشت راوړے شو د سروزرو او په هغے کښ اوبه وے د زمزم او زما سینه ئے اوخیرله ددے پورے او ددے پورے قتاده وائی کوم چه ددے حدیث راوی دے . ما د خپل ملګری نهٔ تپوس اوکړو ددے نهٔ څهٔ مراد دے . هغوی اووے یعنی اوئے خیرله ګیډه د لاندِ پورے . او زړه راوویستو د هغے نه او بیا ئے د زمزم په اوبو باندې اووینځلو او بیا ئے په خپل ځائے باندې کیښودو او په خپل ځائے ئے بیا ډك کړو د ایمان او حکمت نهٔ . بیا ئے یو څناور راوستو چه د هغه رنګ سپین وو . هغے ته به ئے براق وئیلو . د خر نهٔ دنګ او د قچر نه وړوکے (یعنی چیت)وو . اوخپل قدم به ئے هغه ځائے ایخودو چرته چه به د هغه نظر رسیدلو . زه ئے په هغے باندې سور کړم . بیا مونږ روان شو تردے چه د اوّل آسمان دروازے له راغلو . جبرائیل علیه السلام ددروازے لرے کولو اووے فرښتو تپوس اوکړو څوك دے . هغه اووے جبرائیل دے . هغوی اووے ستا سره څوك دے . جبرائیل اووے محمدؐ دے . هغوی اووے ! ولے هغه غوښتلے شوے دے ؟ جبرائیل علیه السلام اووے ها! بیا ئے دروازه بیرته کړه فرښتو اووے مرحبا مبارك د وی ستا تشریف راوړل بیا مونږه راغلو آدم علیه السلام له او بیان ئے کړه د حدیث پوره قصه او ذکر ئے اوکړو چه هغه په دویم آسمان باندې ملاقات کړے دے عیسی علیه السلام سره او د یحیی علیه السلام سره او په دریم آسمان باندې د یو سف علیه

السلام سره او په خلورم آسمان باندې د ادریس علیه السلام سره او په پنځم آسمان باندې د هارون علیه السلام سره . بیا نے اووے چه مونږ لاړو تردے چه شپږم آسمان ته اورسیدو . هلته د حضرت موسیٰ علیه السلام سره میلاؤ شو . هغه ته ما سلام اوکړو هغوی اووے مرحبا نیك رور او نیك نبی ته . هر کله چه زه لړ مخکښ لاړم نو هغه په ژړا شو . آواز راغے چه اے موسیٰ علیه السلام ولے ژاړے ؟ هغه اووے . اے پروردګاره ! تا دا هلك زمانه پس پیغمبر کړو . اوددهٔ د امت نهٔ به زیات خلق جنت ته ځی زما دامت نهٔ (نو حضرت موسیٰ علیه السلام خفه شو په خپل قوم باندے حالانکه د هغوی تعداد ډیر وو . خو جنتیان په هغوی کښ کم وو . زمونږ د پیغمبرؐ د امت نه) بیا حضرت فرمانی چه مونږ لاړو تردے چه اووم آسمان ته اورسیدو . هلته ما ابراهیم علیه السلام اولیدو . او بیان نے کړو په دے حدیث کښ چه رسُول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمانیلی دی . ما څلور نهرونه اولیدل چه د سدرة المنتهی د ویخ نهٔ وتلے وو . دوه نهرونه کهولاؤ وو او دوه نهرونه بند وو . ما اووے اے جبرائیله دا نهرونه څنګه دی ؟ هغوی اووے دادوه پټ شوے نهرونه خو جنت ته تلے دی . او دا ښکاره دوه نهرونه خو نیل او فرات دی . بیا اوچت کړے شو زما د پاره بیت المعمور ما اووے اے جبرائیله علیه السلام داڅه دی ؟ هغویٰ اووے دا بیت المعمور دے . دے ته هره ورځ اویازره فرښتے راځی . چه هغه بیا چرته دے ته نه راځی پس دغه د هغویٰ آخری راتلل وی بیا ماته دوه لوښی راوړے شول په یو کښ شراب وو او په بل کښ پی دواړه زما په مخکښ کیښودے شول . ما پیو لره غوره کړل آواز راغے تا ښه اوکړل . خدائے تهٔ په ښهٔ لاره باندے راوستلے . او ستا امت به هم ستا په لاره باندے چلیږی . بیا په ما باندے هره ورځ پنځه مونځونه فرض شول . بیا نے بیان کړه تمامه قصه دآخره پورے .

فائده : نیل د افریقے په ملك کښ یو دریاب دے . چه د هغے اوګدوالے درے زره میلو ته نزدے دے . او د مصر پائے تخت "قاهره "ددے دریاب په غاړه واقع دے . د مصر د

ملك شادابى او سرسبزى ددغه درياب نۀ ده ـ هر كله چه دغه درياب‌جوش يعنى موج اووهى او را وخيژى او به دهغے پورته ـ نو تمام ملك سيراب شى ـ او فرات هغه درياب دے كوم چه په عراق عرب كښ واقع دے ـ دكوفے ښار چه نن صبا بالكل وران شوے دے ـ ددغے درياب په غاړه آباد وو ـ او د كربلا واقعه ددغه درياب په غاړه واقع شوے وه ـ ددے اوبه زياتے خوږے او صفا او هضمونكے دى ـ قاضى عياض وائى ددے حديث نۀ معلوميږى ـ چه د سدرة المنتهىٰ زيله په زمكه كښ ده ـ ولے چه نيل او فرات ددے د زيلو نۀ وتلے دى ـ نووىؒ وائى داخه ضرورى نۀ ده ـ ځكه احتمال دے چه دَ سدرة المنتهىٰ د زيلو نه دواړه دريابونه وتلے وى ـ بيائے روان كړى دى د كوم ځائے پورے چه الله پاك غوښته ـ او په زمكه نموداره شوے وى ـ او دا امر نۀ خلاف شرع او نۀ خلاف عقل دے ـ او دَ ظاهر حديث نۀ هم دغه معلوميږى نو ددے طرفته تلل پكار دى ـ

(۴۱۷)عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ وَزَادَ فِيْهِ فَاُتِيْتُ بِطَسْتٍ مِّنْ ذَهَبٍ مُّمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَّاِيْمَانًا فَشُقَّ مِنَ النَّحْرِ اِلٰى مَرَاقِ الْبَطْنِ فَغُسِلَ بِمَآءِ زَمْزَمَ ثُمَّ مُلِئَ حِكْمَةً وَّاِيْمَانًا.[راجع : ۴۱۶]

ترجمه : د مالك بن صعصعهؓ نه روايت دے ـ چه رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ فرمائيلے دى ـ دغه حديث چه پورته ذكر شو ـ دومره زيات دے چه ماته د سروزرو يو طشت راوړے شو چه هغه ډك وو د حكمت او د ايمان نۀ ـ بيائے لو ځيرله زما سينے لره د لاندِ گيډے پورے ـ اواوئے وينځله د زمزم په اوبو باندے ـ او بيائے ډكه كړه د حكمت او ايمان نۀ.

(۴۱۸)عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ اَبَاالْعَالِيَةِ يَقُوْلُ حَدَّثَنِىْ ابْنُ عَمِّ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ يَعْنِى ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ ذَكَرَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عليه وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ حِيْنَ اُسْرِىَ بِهٖ فَقَالَ مُوْسىٰ اٰدَمُ طُوَالٌ كَاَنَّهٗ مِنَ الرِّجَالِ شَنُوْءَةَ وَقَالَ عِيْسىٰ جَعْدٌ مَّرْبُوْعٌ وَذَكَرَ مَالِكًا خَازِنَ جَهَنَّمَ وَذَكَرَ الدَّجَّالَ.[بخارى : ۳۲۳۹، ۳۳۹۶]

ترجمه: د قتاده نه روايت دے ما دابو عاليه نه اوريدلے دى چه وئيلے ئے وو ۔ ماته حديث بيان كړے ستاسو دَ پيغمبر (رَسُوْلِ اللّٰه صَلَّے اللّٰهُ عليهٖ وآله وَسلَّم) د تره ځوى يعنى عبدالله بن عباسؓ۔ چه رَسُوْلِ اللّٰه صَلَّے اللّٰهُ عليه وآلهٖ وَسلَّم ذكر كولو د معراج نو اوئے فرمايل چه موسىٰ عليه السلام (غنم رنگے) يو دنگ سړے وو ۔ لكه دَ شنوه (شنوه يوه قبيله ده په عربو كښې) د سړو ۔ او عيسىٰ عليه السلام گهونگرو ويختو والا ميانه قد وو ۔ اوبيان ئے كوۀ د مالك چه داروغه دے د جهنم۔ او ذكر ئے كوۀ د دجال۔

(۴۱۹)عَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَبِى الْعَالِيَةِ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عَمِّ نَبِيِّكُمْ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ مَرَرْتُ لَيْلَةَ اُسْرِىَ بِىْ عَلٰى مُوْسَى ابْنِ عِمْرَانَ رَجُلٌ آدَمُ طُوَالٌ جَعْدٌ كَاَنَّهٗ مِنْ رِجَالِ شَنُوْءَةَ وَرَاَيْتُ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ مَرْبُوْعَ الْخَلْقِ اِلَى الْحُمْرَةِ وَالْبَيَاضِ سَبِطَ الرَّاْسِ وَاُرِىَ مَالِكًا خَازِنَ النَّارِ وَالدَّجَّالَ فِىْ اٰيَاتٍ اَرَاهُنَّ اللّٰهُ اِيَّاهُ فَلَا تَكُنْ فِىْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ قَالَ كَانَ قَتَادَةُ يُفَسِّرُهَا اَنَّ النَّبِىَّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ قَدْ لَقِىَ مُوْسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ. [راجع : ۴۱۸]

ترجمه: دَ قتاده نۀ روايت دے هغه اوريدلے د ابو العاليه نۀ ۔ هغوى وائى حديث بيان كړ دے مونږ ته ستاسو د نبىؐ د تره ځوى حضرت ابن عباس رضى الله عنه ، چه رَسُوْلِ اللّٰه صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ فرمائيلے دى ۔ په كومه شپه چه زما معراج اوشو ۔ زه په موسىٰ بن عمران عليه السلام باندےِ تيرشوم ۔ هغه يو غنم رنگے دنگ سړے وو ۔ گونگرو ويختو والا لكه دَ شنوه سړى چه وى ۔ او ما اوليدو عيسىٰ ابن مريم لره هغه ميانه قد وو ۔ او رنگ د هغه سوږ او سپين وو۔ او د سر ويختۀ ئے چرته چرته سيدها وو ۔ او خودلے شوے وو ۔ هغه ته مالك د جهنم داروغه او د جال په هغه نشانو كښې كومے چه الله پاك ښودلے دى ۔ نو شك مۀ كوه د هغه په ملاقات كښې د موسىٰ عليه السلام سره ۔ راوى وائى چه قتاده ددے آيت داسے تفسير كوى چه نبى صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ دَحضرت موسىٰ عليه السلام سره ملاقات كړے وو ۔

فائده : د سبط معنی نیغ او صفا چه په هغے کښې کوږ والے نۀ وی . او په پورته روایت کښې دی چه د هغه ویخته ګونګر وو . نو جواب دادے چه ګونګر په دوه قسمه دی . یو خو سخت ګونګر لکه چه د حبشیانو ویخته دی هغے ته په عربئ کښې قطط وائی . او یو نرم ګونګر چه هغه سیدها او صفا وی . او صرف په سوکو کښې لږ شان کاږه وی . دغسے ویختو ته سبط ونیلے کیږی .

او بعضو ویلی دی . چه په وړمبی حدیث کښې د جعد د لفظ نه ګونګر ویخته مراد نۀ دی . بلکه جعودت د جسم سره مشتق دے . یعنی د بدن درنیدل او سخت کیدل او نهوس کیدل . او دلیل ددے دادے . چه د حضرت موسیٰ په صفت کښې په یو روایت کښې د جعد لفظ راغلے دے . حالانکه په دویم روایت کښې دی چه د هغه ویخته سیدها او صفا وو . دا استشهاد دے د آیت کریمه فلا تکن فی مریة من القائه نۀ چه ددے تفسیر قتاده دغه کړے دے چه بیشکه د موسیٰ علیه السلام سره حضرت رسول الله صلے الله علیه واله وسلم میلاؤ شوے دے . او دا اختیار کړے دے یو جماعت لکه مجاهد او کلبی اوسدی وغیره نو ددے آیت معنی به ددوی په مذهب باندے داوی چه شك مه کوه ته په خپل ملاقات کښې د موسیٰ علیه السلام سره . او د جمهور علماؤ په نز د ایت دا معنی ده چه شك مه کوه موسیٰ ته دکتاب په میلاویدو کښې او د امذهب دے د ابن عباس او مقاتل او زجاج دا آیت سوره الم تنزیل السجده په سپاره یو بشمه کښې دے . او شروع ددے آیت داده ولقد آتینا موسیٰ ... . . . الخ

(۴۲۰)عن ابن عبّاسٍ انّ رسُول الله صلّے اللهُ علیْه واله وسلّم مرّبواد الْازرق قال کانّی انْظرُ الی مُوسٰی علیْه السلام هابطا مّن الثّنیّة ولهٗ جو ارٌ الی الله با التّلبیة ثمّ اتی علے ثنیّة هرْشی فقال ایُّ ثنیّة هذه قال ثنیّةُ هرْشی قال کانّی انظرُ الی یونس بن متی علی ناقة حمْر آء جعْدة علیْه جُبّةٌ مّنْ صُوف خطامُ ناقته خلْبةٌ وّهو یلبّیْ قال ابنُ حنْبل فی حدیثه قال هشیْم یعنیْ لیْفا .[ابن ماجه : ۱۲۸۹]

ترجمه : د عبدالله ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم په "وادی ازرق "تیریدو نو تپوس نے اوکړو د اکومه وادی ده؟ خلقو اووے وادی ازرق حضرت اوفرمایل لکه چه زه موسی علیه السلام لره وینم هغه راکوزیږی د غر نه او په آواز سره د لبیك چغے وهی بیا هغه د هر شاپه غونډئ (تیکری) باندے راغے (هرشا د یو غرنوم دے د شام او د مدینے په لاره باندے جحفے ته نزدے) هغه تپوس اوکړو دا کومه غونډئ ده . خلقو اووے دا د هر شا غونډئ ده . حضرت اوفرمایل لکه چه زه وینم یونس علیه السلام بن متی لره هغه په یوے سرے بار داره اوښه باندے سور وو او دوړئ یوه جبه نے اغوستے ده . هغه د اوښے واګے د کجورے د رسی دی . او هغه لبیك وائی . ابن حنبل په خپل حدیث کښ بیان کړے دے . چه هشیم وائی د خلبه نه مراد لیف دے . (یعنی د کجورے دونے پټ)

فائده : قاضی عیاض وئیلے دی د اکثرو روایتو نو نه معلومیږی . چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دغه پیغمبرانو لره د معراج په شپه لیدلی دی او دا امر د تصریح سره د ابو العالیه په روایت کښ د ابن عباس نه موجود دے . او د ابن مسیب په روایت کښ د ابو هریره نه . مګر په هغے کښ د لبیك وئیلو ذکر نشته دے . اوس که چرے څوك وائی چه دا پیغمبر خو مړ شو او آخرت ته لاړو . اوس لبیك څنګه وائی . او حج څنګه کوی . هغه خو د عمل کولو مقام نه دے . نو زمونږ شیخانو او مونږ ه ددے څو جوابونه ویستلے دی . یو خو دا چه شهیدان د پیغمبرانو په شان دی . بلکه د هغوئ نه هم غوره ره دی او شهید ژوندے دے د خپل پروردګار سره . نو ولے لرے ده یعنی ګرانه ده چه هغه حج اوکړی یا مونځ اوکړی .

لکه چه په بل حدیث کښ وارد دی . او د کومے پورے چه د هغوئ نه کیږی د خدائے نه نور نز دیکت حاصلوی . او لکه چه هغه مړه شوے دی . خو تر اوسه پورے په دنیا کښ دی . چه د عمل مقام دے . البته هر کله چه قیامت شی . او ددنیا میعاد ختم شی په هغه

وخت به عمل ختم شی ۔ دویمه دا چه د آخرت عمل ذکر او دعا ده ۔ الله تعالیٰ فرمائیلی دی ۔ دعوٰ هم فیها سبحنك اللهم وتحیتهم فیها سلامٌ ۔ دویمه دا چه دا خوب وی کیدے شی چه بله شپه کښ د معراج د شپے نهٔ سیوا ۔ لکه چه د ابن عمرؓ په روایت کښ دی ۔ زه اوده ووم چه ما خپل ځان د کعبے په طواف کولو اولیدو ۔ او بیان ئے کړه قصه د عیسیٰ علیه السلام ۔ څلورمه دا چه رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ ته ئے د هغه پیغمبرانو د زندګی حال اوښودلے شو په طور د تمثیل چه د هغوی حج څنګه وو ۔ او لبیك ئے څنګه وو ۔ ځکه په خپله هغه اوفرمائیل ! چه ګویایعنی لکه چه زه وینمه موسیٰ علیه السلام لره او لکه چه وینم عیسیٰ علیه السلام لره ۔ او لکه چه وینم یونس علیه السلام لره پنځم دا چه هغهٔ بیان کړه هغے خبرے لره چه دَ هغے وحی شوے وی هغه ته د هغه پیغمبرانو د کیفیت او حالت نهٔ ۔ اګر چه هغهٔ په خپلو سترګو سره هغه نهٔ وی لیدلے ۔ تمام شو کلام د قاضی عیاضؒ (نوویؒ)

(۴۲۱)عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سِرْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ بَیْنَ مَکَّةَ وَالْمَدِیْنَةِ فَمَرَرْنَا بِوَادٍ فَقَالَ اَیُّ وَادٍ هٰذَا فَقَالُوْ وَادِیَ الْاَزْرَقِ قَالَ فَقَالَ کَاَنِّیْ اَنْظُرُ اِلٰی مُوْسٰی عَلَیْهِ السَّلَامُ فَذَکَرَ مِنْ لَوْنِهٖ وَشَعْرِهٖ شَیْئًا لَمْ یَحْفَظْهُ دَاؤدُ بْنُ اَبِیْ هِنْدٍ وَاضِعًا اِصْبَعَیْهِ فِیْ اُذُنَیْهِ لَهٗ جُؤَارٌ اِلَی اللهِ بِالتَّلْبِیَةِ مَارًّا بِهٰذَا الْوَادِیْ قَالَ ثُمَّ سِرْنَا حَتّٰی اَتَیْنَا عَلٰی ثَنِیَّةٍ فَقَالَ اَیُّ ثَنِیَّةٍ هٰذِهٖ قَالُوْ هَرْشٰی اَوْ لِفْتٌ فَقَالَ کَاَنِّیْ اَنْظُرُ اِلٰی یُوْنُسَ عَلَیْهِ السَّلَامُ عَلٰی نَاقَةٍ حَمْرَاءَ عَلَیْهِ جُبَّةُ صُوْفٍ خِطَامُ نَاقَتِهٖ لِیْفٌ خُلْبَةٌ مَارٌّ ابِهٰذَا الْوَادِیْ مُلَبِّیًا ۔[راجع : ۴۲۰]

ترجمه : د عبدالله ابن عباسؓ نهٔ روایت دے ۔ چه مونږ د رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ سره روان وو د مکے او مدینے په مینځ کښ په یو وادیٔ باندے تیریدو ۔ حضرتؐ تپوس اوکړو دا کومه وادی ده ۔ خلقو اووے دا وادی "ازرق" هغهٔ اوفرمائیل لکه چه زهٔ وینم موسیٰ علیه السلام لره بیا ئے بیان کړو د هغه د رنګ او د ویختو حال چه هغه یاد نهٔ وو۔داؤد بن ابی

هندته (چه هغه راوی دے ددے حدیث)او گو تے نے په غوږونو کښں ایخی دی او خدائے ته چغے وهی په آواز سره لبیك وائی ۔ او په دے وادیٔ کښں روان دے ۔ عبدا لله وائی بیا مونږ روان وو تردے چه په یوے غونډیٔ باندے راغلو حضرت اوفرمائیل دا کومه یوه غونډیٔ ده ۔ خلقو اووے دا د هر شا یا د لفت حضرت اوفرمایل لکه چه زه وینم یونس علیه السلام لره په یوه سره اوښه باندے یوه جبه دوړیٔ اغوستلے او د هغه د اوښے دَ واګو رسیٔ د کجورے د پټ ده په دے وادیٔ کښں په لبیك وئیلو سره روان دی ۔

(۴۲۲)عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ فَذَكَرُواالدَّجَّالَ فَقَالَ اِنَّهُ مَكْتُوْبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ قَالَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَمْ اَسْمَعْهُ قَالَ ذَاكَ وَلٰكِنَّهُ قَالَ اَمَّآ اِبْرَاهِيْمُ فَانْظُرُوْااِلٰى صَاحِبِكُمْ وَاَمَّا مُوْسٰى فَرَجُلٌ اٰدَمُ جَعْدٌ عَلٰى جَمَلٍ اَحْمَرَ مَخْطُوْمٍ بِخُلْبَةٍ كَاَنِّىْ اَنْظُرُ اِلَيْهِ اِذِ انْحَدَرَفِى الْوَادِىْ يُلَبِّىْ .[بخاری : ۱۵۵۵ ، ۵۹۱۳]

ترجمه : د مجاهد نهٔ روایت دے ۔ چه مونږ د عبدالله ابن عباسؓ سره ناست وو ۔ خلقو ذکر اوکړو دد جال او اوئے وئیل چه د هغه به دَ دواړو سترګو په مینځ کښں د کافر لفظ لیکلے وی ۔ ابن عباسؓ وائی دا خو ما نهٔ دی اوریدلے لیکن حضرت اوفرمائیل ! ابراهیم علیه خو داسے دے لکه چه تاسو خپل ملګری ته ګوریٔ ۔ (یعنی زما په شان دے په شکل کښں) او موسیٰ علیه یو سړے دے غنم رنګے ګونګرو ویختو والا یا د سخت بدن والا په سور اوښں باندے سور دے ۔ چه د هغه واګی د کجورے د پوستکی دی لکه چه زه هغوی ته ګورم ۔ هر کله چه راکوزیږی په وادیٔ کښں نو لبیك وائی ۔

(۴۲۳)عَنْ جَابِرٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ عُرِضَ عَلَىَّ الْاَنْبِيَاءُ فَاِذَا مُوْسٰى ضَرْبٌ مِّنَ الرِّجَالِ كَاَنَّهُ مِنَ الرِّجَالِ شَنُوْءَةَ وَرَاَيْتُ عِيْسَى بْنَ مَرْيَمَ فَاِذَا اَقْرَبُ مَنْ رَاَيْتُ بِهٖ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُوْدٍ وَرَاَيْتُ اِبْرَاهِيْمَ فَاِذَااَقْرَبُ مَنْ رَاَيْتُ بِهٖ شَبَهًا صَاحِبُكُمْ يَعْنِىْ نَفْسَهُ وَرَاَيْتُ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَاِذَ اَقْرَبُ مَنْ رَاَيْتُ بِهٖ شَبَهًادِحْيَةُ وَفِىْ رِوَايَةِ ابْنِ رُمْحٍ دِحْيَةُ بْنُ خَلِيْفَةَ .[ترمذی : ۳۶۴۹]

ترجمه : د جابرؓ نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی . ماته مخکښی راوستے شول پیغمبران علیهم السلام نو موسیٰ علیه درمیانه قدو قدمت والا سړے وو (یعنی نه ډیر خورب نه ډیر خوار غونډ بدن ئے وو یاکم بدن کم گوشت) لکه د شنوه (یوه قبیله ده) خلق چه وی . او ما اولید و عیسیٰ ابن مریم علیه السلام لره زه د تولو نه زیات د هغه مشابه عروه بن مسعودؓ لره مومم . ما اولیدو ابراهیم علیه السلام لره د تولو نه زیات د هغه مشابه ستاسو ملگرے دے . (یعنی هغه خپل ځان ته اوفرمائیل) او ما اولیدو جبرائیل علیه السلام لره (د بنیادم په صورت کښی) د تولو نه زیات مشابه د هغه دحیه دے . او د ابن رمح په روایت کښی دی د حیه بن خلیفه .

(۴۲۳) عن ابی هریرة قال قال النبی صلے الله علیه واله وسلم ((حین اسری بی لقیت موسی علیه السلام فنعته النبی ﷺ فاذ ارجل حسبته قال مضطرب رجل الرأس کانه من رجال شنوءة ولقیت عیسی علیه السلام فنعته النبی صلے الله علیه واله وسلم قال فاذا ربعة احمر کانما خرج من دیماس یعنی حماما قال ورأیت ابراهیم علیه السلام وانا اشبه ولده به قال فاتیت باناءین فی احدهما لبن وفی الآخر خمر فقیل لی خذ ایهما شئت فاخذت اللبن فشربته فقال هدیت الفطرة او اصبت الفطرة اما انک لو اخذت الخمر غوت امتک .[بخاری : ۳۳۹۴، ۳۴۳۷، ۵۵۷۶، ترمذی : ۳۱۳۰]

ترجمه : دابو هریرةؓ نه روایت دے . رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی . هرکله چه هغه ته معراج اوشو . چه زه د موسیٰ علیه السلام سره میلاؤ شوم بیا هغه د هغهٔ صورت بیان کړو چه زما خیال دے هغه داسے فرمائیلی وو (ډاشک دے راوی ته) هغه دنگ نرے وو او گدو ویختو والا لکه څنگه چه د شنوه خلق وی . او فرمائیلی ئے وو . چه زه د عیسیٰ علیه السلام سره میلاؤ شوم . بیا حضرتؐ د هغه صورت بیان کړو . د هغه قدو قامت درمیانه وو . سور رنگ لکه چه اوس څوك د حمام نه راوځی (یعنی داسے ترو تازه او خوش رنگ وو) او هغه فرمائیلی دی چه زه د ابراهیم علیه سره میلاؤ شوم نو زه د هغه په

ولاد کښې د ټولو نه زیات د هغه سره مشابه یم. هغه اوفرمائیل بیا ماته دوه لوښی راوړے شول په یو کښې پی وو او په بل کښې شراب. او ماته اووئیلے شو ته چه کوم غواړے خوښ کړه. ما د پیو لوښے واخستو او پی م او خکل هغے اورے (یعنی هغه فرښتے چا چه هغه دولړه لوښی راوړی وو) تاته د فطرت لار میلاؤ شوه. یا ته اورسیدے فطرت ته (ددے تفسیر پورته تیر شوے دے) او که چرے تا شرابو لره اختیار کړے وے نو ستا امت به گمراه شوے وو.

فائده:۔ په یو روایت کښې په نسبت د موسی علیه السلام د ضرب لفظ راغلے دے یعنی د غوښے نه ډك (خورب) او په دویم روایت کښې د مضطرب یعنی کمے غوښے والا (مانده) نو په دواړو کښې تعارض شو. قاضی عیاضؒ وئیلے دی چه د مضطرب په روایت کښې راوی ته شك دے. نو صحیح دغه د ضرب روایت دے. نوویؒ وائی تعارض نشته ځکه چه د ضرب معنیٰ په لغت کښې د سپکے کمے غوښے هم راغلے ده. دغه شان ابن سکیت او صاحب مجمل او زبیدی او جوهری وئیلے دی. او د عیسیٰ علیه السلام په نسبت په دے روایت کښې دی. چه د هغه رنگ سور وو او د ابن عمر په روایت کښې دی چه هغه غنم رنگے وو. او بخاریؒ د ابن عمرؓ نه نقل کړے دی چه هغوی د سور رنگ نه انکار کړے دے. او قسم ئے خوړلے چه رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ د حضرت عیسیٰ سور رنگ نه دے فرمائیلے او دا د راوی شبه ده. نو شاید چه د احمر د لفظ نه (غنم رنگے) مراد وی او گندمی یوائے نه وی. بلکه دگندمی او سور په مینځ کښې وی.

او کوم چه په حدیث کښې وی لکه د حمام نه اوس راووتو. نو د دیماس د لفظ ترجمه ده. او دیماس د دمس نه مشتق دے چه د هغے معنی ده په خاورو کښې پټول. او دلته یا حمام مراد دے یا غار او تهه خانه. او مطلب دادے چه د هغه رنگ روپ داسے وو لکه چه اوس یو خیز ددنے نه راویستلے شی چه په هغے باندے نمر او گرد و غبار لگیدلے نه وی

او گمراه به شي ـ یعنی تول امت لکه یهود او نصری چه تمام گمراه شول اوس د نصری ؤ دا حال دے چه په هغوی کښ ډیر ے فرقے دی ـ خو کومه فرقه چه په دغه تولو کښ بنه خیال کولے شي ـ یعنی پروتیستنټ هغه هم په حماقت کښ گرفتار دی او ددین ورمبے اصل یعنی توحید نهٔ پیژنی ـ په مسلمانانو کښ اگرچه ډیرے گمراه فرقے دی او په زرگونو لکونو په دوی کښ د نصری ؤ پشان په رښتونے توحید باندےِ قائم نهٔ دی په شرك کښ گرفتار دی ـ خو یوه فرقه ددوی په توحید او اتباع سنت کښ زیاته مضبوطه ده ـ او هغه همیشه قائم دی په حق باندےِ ـ اگرچه ددین دشمنان ددغه فرقے دشمنان دی خو خدائے پاك دهغوی مددگاردے ـ

باب ذکر المسیح ابن مریم المسیح الدجال :

باب : د مسیح ابن مریم او د مسیح دجال بیان :

(۴۲۵)عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ اُرَانِىْ لَيْلَةً عِنْدَالْكَعْبَةِ فَرَاَيْتُ رَجُلًا اٰدَمَ كَاَحْسَنِ مَا اَنْتَ رَاءٍ مِّنَ الرِّجَالِ مِنْ اٰدَمِ الرِّجَالِ لَهُ لِمَّةٌ كَاَحْسَنِ مَا اَنْتَ رَاءٍ مِّنْ اُدْمِ الرِّجَالِ لَهُ لِمَّةٌ كَاَحْسَنِ مَا اَنْتَ رَاءٍ مِنَ اللِّمَمِ قَدْ رَجَّلَهَا فَهِىَ تَقْطُرُ مَآءً مُتَّكِئًا عَلٰى رَجُلَيْنِ اَوْعَلٰى عَوَاتِقِ رَجُلَيْنِ يَطُوْفُ بِالْبَيْتِ فَسَئَلْتُ مَنْ هٰذَا فَقِيْلَ هٰذَا الْمَسِيْحُ بْنُ مَرْيَمَ ثُمَّ اِذَا اَنَا بِرَجُلٍ جَعْدٍ قَطَطٍ اَعْوَرِ الْعَيْنِ الْيُمْنٰى كَاَنَّهَا عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ فَسَاَلْتُ مَنْ هٰذَا فَقِيْلَ هٰذَاالْمَسِيْحُ الدَّجَّالُ .[بخاری : ۵۹۰۲، ۶۹۹۹]

ترجمه : د عبدالله بن عمر نه روایت دے ـ رَسُوْلِ الله ﷺ فرمائیلی دی ـ ماته یوه شپه اوښودے شول چه زه د کعبے سره یم ما یو سړے اولیدو غنم رنگے لکه چه تاسو ډیر غنم رنگی سړی لیدلے دی ـ د هغه د اوگو پورے ویختے دی لکه ښکلے چه تاسو ډیر ښه د اوگو پورے ویختے لیدلے دی ـ او په ویختو کښ ئے گومنز کړے ده ـ د هغے نه اوبهٔ څڅیږی (یعنی

په هغه کښې تری او تازگی داسے ده لکه چه په هغه ویختو کښې وی چه هغه د اوبو نه ډك وی یا په حقیقت کښې د هغے نه اوبه څخیږی) او تکیه شوے دے په دوو سړو باندے یا د دوو سړو په اوګو باندے او طواف کوی د کعبے نه . ما تپوس اوکړو د اخوك دے . خلقو اووے دا مسیح دے د مریم ځوے . بیا ما یو سړے اولیدو ډیر و ګونګرو ویختو والا . په ښی سترګه کاڼړنګ (ړوند) چه د هغه سترګه لکه دګل شوی انګوروه . ماتپوس اوکړو دا څوك دے ؟ خلقو اووے دا مسیح الدجال دے (خدائے دِ د هغه دشر نه مسلمانان اوساتی)

فائده :- قاضی عیاضؒ وائی . که چرے داقصه بیداره نشته ځکه چه حضرت عیسیٰ علیه السلام ژوند دے او ... ت دے . بیا په طواف کولو کښې څه استعباد دے . او که چرے دا د خوب قصه ده لکه چه د ابن عمرؓ د دویم روایت نه چه معلومه ده . نو په دے کښې هغه ... تاویلات دی کوم چه پورته تیر شو . او ظاهر داده چه دا د خوب قصه ده . ځکه چه په دے کښې د دجال طواف کول هم ذکر دی . حالانکه په صحیح حدیث کښې وارد دی چه دجال به مکے او مدینے ته نه ځی . او د مالك په روایت کښې د دجال د ... طواف ذکر نشته .

... دیدے شی چه حرمت د مکے او مدینے د دجال د هغه زمانے سره خاص وی هر کله چه هغه فساد کوی . او مسیح حضرت عیسیٰ علیه السلام ته هم وئیلے شی او دجال ته هم . لیکن عیسیٰ علیه السلام ته د مسیح وئیلو په وجه کښې د عالمانو اختلاف دے . واحدی وائی ابو عبید او لیث وئیلے دی چه د مسیح اصل په عبرانی ژبه کښې مسیحا دے بیا عرب ... هغے لره بدل کړو مسیح کړے ... دے . لکه موسیٰ چه اصل د هغے په عبرانی ژبه کښې موشیٰ یا میشا دے . په دغه صورت کښې به دا لفظ مشتق نه وی . لیکن د جمهورو په نزد مشتق دے . د ابن عباسؓ نه منقول دے . چه هغه ته مسیح ځکه وئیلے شو چه هر کله به هغه په چا بیمار باندِلاس راښکو نو هغه به جوړیدو او ابراهیم او ابن

اعرابی وائی چه مسیح ونیلے شی صدیق ته . او بعضے وائی څکه چه د هغه ددواړو خپو سلی برابر او صفا وو په مینځ کښې ژور نهٔ وو . او بعضو ونیلے دی څکه چه هغه دخپلے مور ... گیډے نهٔ په تیلو غوړ شوے پیدا شوے وو . اوبعضو ونیلے دی چه څکه چه برکت په هغه باندے خور کړے شوے وو هر کله چه هغه پیدا شوے وو . اوبعضے وائی څکه چه خدائے ... په هغه باندے لاس راښکلے وو . یعنی ښکلے ئے پیدا کړے وو . او ددے نهٔ سیوا نورے وجهے هم بیان کړے دی . او دجال ته مسیح څکه وائی . چه د هغه سترگے ورانے شوے دی یا څکه چه هغه کاڼړا (یعنی کاړینگ) دے . او کاړینگ ته هم مسیح ونیلے شی . یا څکه چه هغه به په تمامه زمکه باندے چکر لگوی دخپلو راوتلو په وخت کښې . (نووی)

(۴۲۶)عن عبدالله بن عمر ذكر رسول الله صلى الله عليه واله وسلم يوما بين ظهراني الناس المسيح الدجال فقال ان الله تبارك وتعالى ليس باعور الا ان المسيح الدجال اعور عين اليمنى كان عينه عنبة طافية قال وقال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم اراني الليلة في المنام عند الكعبة فاذا رجل ادم كاحسن ماترى من ادم الرجال تضرب لمته بين منكبيه رجل الشعر يقطر ماء واضعا يديه على منكبي رجلين وهو بينهما يطوف بالبيت فقلت من هذا فقالوا المسيح بن مريم ورايت وراءه رجلا جعدا قططا اعور عين اليمنى كاشبه من رايت من الناس بابن قطن واضعا يديه على منكبي رجلين يطوف بالبيت فقلت من هذا قالوا هذا المسيح الدجال .[بخاري: ۳۹ ... ۳۴۴۰]

وانظر في مسلم: ۷۳۶۲]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے . رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یوه ورځ دخلقو په مخکښې د مسیح الدجال ذکر اوکړو . نو اوئے فرمایل چه الله جل جلاله کانړ نهٔ دے اومسیح دجال کاڼړ دے په ښی سترگه، دهغه کاړینگه سترگه لکه گل شوے کور . (پس دایوه ښکاره نښانی ده ددے خبرے چه هغه مردود دروغجن دے د خدایئ په دعوی کښې) هغه فرمائیلی دی . یوه شپه په خوب کښې ما خپل ځان د کعبے په خواه کښې

اولیدو یو سړے غنم رنګے لکه ډیر ښه ښوك غنم رنګے سړے چه د هغه پهتے د مونډه هو پورے وے او ویخته نے ګومنز کړی وو د سر نه اوبه څڅیدے او دواړه لاس نے ددوسړو په مټو باندے ایخے وو طواف نے کوو دخانه کعبے ماتپوس اوکړو داسړے څوك دے ـ خلقو اووے د امسیح ابن مریم علیهم السلام دے ـ او د هغه نه شاته ما یو بل سړے اولیدو ـ چه هغه سخت ګونګروویختو والا په ښی سترګه (ړوند)کانا وو ـ ما چه کوم خلق لیدلے دی ـ په هغو تهولو کښې ابن قطن د هغه سره زیات مشابه دے ـ هغه هم خپل دواړه لاسونه ددوو سړو په اوګو باندے ایخودی وو طواف نے کوو ماتپوس اوکړو ـ چه دا څوك دے ـ خلقو اووے ـ دامسیح دجال دے ـ

فائده : معاذ الله ، د الله تعالی خو سترګے صحیح او سالمے دی ـ د هرقسم عیب او نقص نه هغه پاك دے د هرقسم خلل او نقصان نۀ ـ

(۴۲۲)عَنِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ رَاَيْتُ عِنْدَ الْكَعْبَةِ رَجُلًا اٰدَمَ سَبِطَ الرَّءْسِ وَاضِعًا يَدَهُ عَلٰى رَجُلَيْنِ يَسْكُبُ رَاْسُهٗ اَوْيَقْطُرُ رَاْسُهٗ فَسَاَلْتُ مَنْ هٰذَا فَقَالُوْ عِيْسَى بْنُ مَرْيَمَ اَوِالْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ لَا يَدْرِىْ اَىَّ ذٰلِكَ قَالَ قَالَ وَرَاَيْتُ وَرَآءَهٗ رَجُلًا اَحْمَرَ جَعْدَ الرَّءْسِ اَعْوَرَ الْعَيْنِ الْيُمْنٰى اَشْبَهُ مَنْ رَءَيْتُ بِهٖ بْنُ قَطَنٍ فَسَاَلْتُ مَنْ هٰذَا فَقَالُوْ الْمَسِيْحُ الدَّجَّالُ

ترجمه : د عبدالله بن عمرؓ نۀ روایت دے ـ رسُول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمانیلے دی ما د کعبے سره یو سړے اولیدو چه غنم رنګے وو د هغه ویخته څنګیدلے وو دواړه لاسونه نے ددوو سړو په اوګو باندے ایخے وو او د هغه د سر نۀ اوبه بهیدلے ـ ماتپوس اوکړو دا څوك دے خلقو اووے دا عیسی علیه السلام دے د مریم ځوے یا نے دا اووے ـ مسیح دے د مریم ځوے معلومه نۀ ده چه کوم لفظ نے ونیلے وو بیا د هغه شاته ما یو بل سړے اولیدو ـ سور رنګے ګوګرو ویختو والا په ښی سترګه باندے ړوند (یعنی کانړا) د ټولو نه زیات مشابه د هغه سره د قطن ځوے دے ـ ماتپوس اوکړو دا څوك دے ؟ هغوی اووے د امسیح دجال دے

(۴۲۸)عن جابر بن عبداللهِ انّ رسُوْلَ اللهِ صلّی اللهُ علیْهِ والہٖ وسلّم قال لمّا کذّبتنیْ قُریشٌ قُمتُ فیْ الحجرِ فجلّی اللهُ لیْ بیتِ المُقدسِ فطفقتُ اُخبرُ هُمْ عنْ ایاتهٖ وانا انْظُرُ الیْهِ.[بخاری: ۴۷۱۰، ۳۸۸۶، ترمذی: ۳۱۳۳]

ترجمه :دجابر بن عبدالله نهٔ روایت دے ۔ رسُوْل اللهِ صلّی اللّٰهُ علیْهِ والہٖ وسلّم فرمانیلے دی ۔ هر کله چه د قریشو خلقو ماته دروغجن اووے ۔ نو زه دحطیم په (دائره) کښې اودریدم ۔ او الله تعالی بیت المقدس زما مخے ته کړو ۔ نو ما قریشو ته د هغے نشانئ خودل شروع کړو ۔ او مالیدو هغے لره (یعنی بیت المقدس لره مے لیدو)

(۴۲۹)عنْ عبداللهِ ابنِ عُمرَ قال سمِعْتُ رسُوْلَ اللهِ صلّی اللهُ علیْهِ واله وسلّم یقُوْلُ بیْنما انا نائمٌ رایْتنیْ اطُوْفُ بالْکعْبةِ فاذا رجُلٌ ادمُ سبْطُ الشّعْرِ بیْن رجُلیْنِ ینْطفُ رأْسُهٗ مآءً اوْ یُهراقُ رأْسُهٗ ماءً قُلْتُ منْ هذا قالُوْ هذا ابنُ مرْیم ثُمّ ذهبْتُ الْتفِتُ فاذا رجُلٌ احْمرُ جسیْمٌ جعْدُ الرّأْسِ اعْورُ الْعیْنِ کانّ عیْنهٗ عنبةٌ طافیةٌ قُلْتُ منْ هذا قالُوْ الدّجالُ اقْربُ النّاسِ بهٖ اشْبهُا بْنُ قطنٍ .

ترجمه : د عبدالله بن عمر نهٔ روایت دے ۔ ما اوریدلے دی د رسُوْل اللهِ صلّی اللّٰهُ علیْهِ والہٖ وسلّم نه ۔ زه اودهٔ ووم په دے کښې ما خپل ځان اولیدو چه زه طواف کووم د خانه کعبے نهٔ ۔ او غنم رنګے یو سړے مے اولیدو چه دهغه ویخته سید ها وو او د سر نهٔ ئے اوبه څڅیدلے یا بهیدلے ۔ ما تپوس اوکړو دا څوك دے ؟ خلقو اووے دا د مریم ځوے دے ۔ بیا زه لاړم او بل طرفته مے کتل نو یو سړے مے اولیدو سور رنګے موټا په بنی سترګه کاڼا لکه د هغه سترګه ګل شوے انګور دے ما اووے دا څوك دے هغوی اووے دا دجال دے ۔ په ټولو خلقو کښې د هغه مشابه ابن قطن دے ۔

(۴۳۰)عن ابیْ هُریْرہ قال قال رسُوْلُ اللهِ صلّی اللهُ علیْهِ والہٖ وسلّم لقدْ رایْتُنیْ فِیْ الْحِجْرِ وقُریْشٌ تهسْالُنیْ عنْ مسْرای فسالتْنیْ عنْ اشْیآءَ منْ بیْتِ الْمُقدسِ لمْ اُثْبِتْها فکُرِبْتُ کُرْبةً مّا کُرِبْتُ مِثْلهٗ قطّ

قَالَ فَرَفَعَهُ اللّٰهُ لِیْ اَنْظُرُ اِلَیْهِ مَا یَسْاَلُوْنِیْ عَنْ شَیْئٍ اِلَّا اَنْبَاْتُهُمْ بِهٖ وَقَدْ رَاَیْتُنِیْ فِیْ جَمَاعَةٍ مِّنَ الْاَنْبِیَآءِ فَاِذَا مُوْسٰی عَلَیْهِ السَّلَامُ قَائِمٌ یُّصَلِّیْ فَاِذَا رَجُلٌ ضَرْبٌ جَعْدٌ کَاَنَّهٗ مِنَ الرِّجَالِ شَنُوْءَةَ وَاِذَا عِیْسَی بْنُ مَرْیَمَ عَلَیْهِ السَّلَامُ قَائِمٌ یُّصَلِّیْ اَقْرَبُ النَّاسِ بِهٖ شَبَهًا عُرْوَةُ ابْنُ مَسْعُوْدٍ الثَّقَفِیُّ وَاِذَا اِبْرَاهِیْمُ عَلَیْهِ السَّلَامُ قَائِمٌ یُّصَلِّیْ اَشْبَهُ النَّاسِ بِهٖ صَاحِبُکُمْ یَعْنِیْ نَفْسَهٗ فَحَانَتِ الصَّلٰوةُ فَاَمَمْتُهُمْ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنَ الصَّلٰوةِ قَالَ لِیْ قَائِلٌ یَا مُحَمَّدُ هٰذَا مَالِکٌ صَاحِبُ النَّارِ فَسَلِّمْ عَلَیْهِ فَالْتَفَتُّ اِلَیْهِ فَبَدَاَنِیْ بِالسَّلَامِ.

ترجمه: د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ فرمائیلے دی۔ ماخپل ځان په حطیم کښې اولیدو او قریشو زمانه زما د سیل (یعنی د معراج د حال تپوس کولو۔ نو هغوی د بیت المقدس د یو څو څیزونو تپوس کولو چه هغه ما نهٔ شو بیانولے۔ ماته ډیر غم شو چه داسے زه چرته په غم کښې شوے نهٔ وُم۔ بیا الله جل جلاله بیت المقدس اوچت کړو او زما مخے ته ئے کیښودو۔ ما به هغے ته کتل اوس چه به دوی دکومے خبرے تپوس کولو ما به ورته ښودله۔ او ما خپل ځان د پیغمبرانو په جماعت کښې اوموندو۔ چه ما اوکتل نو موسیٰ علیه السلام ولاړ وو مونځ ئے لوستلو هغه یو سړے دے میانه تن وتوش او د کلک بدن لکه د شنوه خلق چه وی۔ او اومے لیدو عیسیٰ ابن مریم علیه السلام لره هغه هم ولاړ وو مونځ ئے لوستلو۔ او د ټولو نو زیات مشابه د هغه زه عروه بن مسعود ثقفیؓ لره مومم۔ او مے لیدو ابراهیم علیه السلام چه ولاړ وو مونځ ئے کولو۔ د ټولو نه زیات مشابه د هغه ستاسو صاحب دے۔ هغه خپل ځان ته اوفرمائیل بیا د مانځه وخت راغے نو ما امامت اوکړو (او تمامو پیغمبرانو ماپسے مونځ اولوستو) هر کله چه زه د مانځه نهٔ فارغ شوم نو یو ویونکی اووے یا محمدؐ! دا مالك دے د جهنم داروغه دهٔ ته سلام اوکړه ما چه د هغه طرفته اوکتل نو هغه پخپله مخکښې ماته سلام اوکړو۔

فائده: قاضی عیاض وئیلے دی دَ هغه پیغمبرانو په مانځه کښې چه گفتگو وه هغے لره پورته مونږ بیان کړے دی۔ او کله د مانځه نهٔ ذکر او دعا مرادوی۔ یا بل څه د

آخرت عمل ـ لو که څوك وائی چه آنحضرت صلی الله علیه واله وسلم حضرت موسیٰ علیه السلام لره په قبر کښ په مونځ لوستلو اولیدو ـ بیا ئے په بیت المقدس کښ د هغه سره مونځ اولوستلو بیا په آسمان باندے د هغه سره میلاؤ شو د اخنګه کیدے شو ـ نو ددے جواب دادے ـ چه په قبر کښ کوم چه هغه لیدلے وو نو دا خو د معراج شریف نه وړاند وو ـ او په بیت المقدس کښ ئے چه کوم درسُوْل اللهِ صلے اللّٰهُ علَیْه واله وسلم په اقتداء یعنی په هغه پسے مونځ لوستلے وو ـ دا د معراج شریف په شپه مبارکه کښ وو ـ بیا حضرت موسیٰ علیه السلام یا خو د رسُوْل اللهِ صلے اللّٰهُ علَیْه واله وسلم نه مخکښ آسمان ته تلے وو ـ یا مونځ ئے د آسمانونو د واپسی نه پس اولوستلو ـ

بَابُ ذِكْرِ سِدْرَةِ الْمُنْتَهىٰ :

باب : د سدرة المنتهیٰ بیان :

(۴۳۱)عنْ عبدالله قال لَمَّا اُسْرِیَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صلے اللّٰهُ علَیْه واله وسلّم اُنْتُهِیَ به الیٰ سِدْرَةِ الْمُنْتَهیٰ وهی فی السَّمآءِ السَّادسة الیْها یَنْتَهِیْ ما یُعْرجُ به من الارْض فَیُقْبضُ منْها والیْها یَنْتَهی ما یُهْبطُ به منْ فوْقها فیُقبضُ منْها ـ قال اذْ یغْشی السِّدْرةَ ما یغْشی قال فراشٌ مِّنْ ذهبٍ قالَ فأُعْطِیَ رسُوْلُ اللّٰهِ صلے اللّٰهُ علَیْه واله وسلّم ثلاثاً اُعْطِیَ الصّلٰوت الخمس واُعْطِیَ خواتمَ سُوْرَةِ البقرة وغُفرَ لمنْ لّمْ یُشْرِكْ باللّٰهِ منْ اُمّته شیْئا الْمُقْحِمات (ترمذی : ۳۲۷۶، نسائی : ۴۵۰)

ترجمه : د عبد الله ابن مسعودؓ نه روایت دے ـ هر کله چه د رسُوْل اللّٰهِ صلے اللّٰهُ علَیْه واله وسلم معراج اوشو نو هغه د سدرة المنتهی پورے اورسیدو ـ او هغه په شپږم آسمان کښ دے ـ د زمکے نه چه څه اوخیژی هغه دلته راځی اودریږی بیا اخستے کیږی ـ او کوم چه د بره نه راکوزیږی هغه هم دلته اودریږی ـ بیا اخستے کیږی ـ الله تعالیٰ هم دلته فرمائیلے دی هر کله چه سدرة المنتهی ئے پټوله هغه څیزونه چه هغه پټیدل وو ـ عبد الله وائی یعنی پتنګے د سروزرو ـ بیا رسُوْل اللّٰهِ صلے اللّٰهُ علَیْه واله وسلّم لره هلته درے څیزونه ورکړے شول

بیو خو پنځه مونځونه دویم د سورة بقرے آخری آیتونه دریم الله بخشش اوکړو د هغه په امت کښې هغه چاته چه هغه شرك نه کوی دالله جل جلاله سره باقی تمامو تباه کونکووالا گناهونو لره .

فائده : نووی وائی چه په تولو نسخو کښې دغه ده . چه سدرة المنتهی په شپږم اسمان کښې دے . لیکن پورته تیر شودانس په روایاتو کښې چه سدرة المنتهی داووم اسمان دپاسه دے . او قاضی عیاض وائی دا صحیح دے او داکثرو دغه قول دے . او ممکن دی جمع کول په دواړو روایتونو کښې په دے شان چه د سدرة المنتهی ویخ په شپږم آسمان کښې وی . اوخانگے دهغے په اووم آسمان دپاسه دی . ځکه چه هغه ډیره لویه ونه ده . او خلیل وائی سدرة المنتهی یوه ونه ده په اووم آسمان کښې چه د هغے سورے کړے شوے دے په آسمانونو باندے او جنت باندے . او د لویولویو کبیره ؤ گناهونو مطلب دادے . چه کوم بنده ددے امت نۀ مرشی او هغه په شرك کښې گرفتار نۀ وی . نو هغه به همیشه په جهنم کښې نۀ پاتے کیږی . بلکه چرته نۀ چرته به ضرور بخلے کیږی . او دا مراد نۀ دے چه ده ته به عذاب نۀ وی . ولے چه په نورو نصوص شرعیه او اجماع امت سره دا امر ثابت شوے دے . چه بعضے مو حدینو لره چه هغه گنهگار وی عذاب ورکولے شی . احتمال دے چه دلته بعضے خاص خلق مراد وی چه دهغوی تمام گناه به بخلے کیږی . او دوی لره بالکل عذاب نۀ وی .

یا الله تۀ په خپل عنایت اوکرم سره مونږ په دغه خلقو کښې کړے او زمونږ گناهونه اوبخے او لکه څنگه چه تامونږ تر اوسه پورے دشرك نۀ بچ کړے یو دغه شان خاتمه هم زمونږه په توحید باندے اوکړے . او مۀ مبتلا کوه مونږ لره په شرك کښې . بیشکه تۀ تمام اختیار لرے .

باب معنی قَوْلِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ وَلَقَدْرَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰی وهل رای النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

رئۀ لیلة الإسراء.

باب : په دې باب کښې دابیان دې . چه ولقد راٰه نزلة اخرى **نه څه مراد دي اورسول الله ﷺ حق تعالی جل جلاله لره د معراج په شپه کښې لیدلے وو یانه.**

فائده : قاضي عیاض وئیلي دی سلفو او خلفو اختلاف کړے دے . په دے امر کښې چه زمونږ پیغمبر صلے اللہ علیه واله وسلم الله تعالی جل شانه . لره د معراج په شپه کښې لیدلے وو یانۀ . نو حضرت عائشې رضي الله عنها انکار کړے دے دلیدو نۀ لکه په خپله په دے کتاب کښې د هغې نۀ روایت دے . اودغه شان منقول دے د ابو هریرةؓ او یو جماعت د صحابۀ ؤ نۀ . او دغه مشهور دے دابن مسعودؓ نۀ او په دے طرف تلے دے یو جماعت دمحدثینو او متکلمینو.

او دابن عباسؓ نه داسے روایت دے . چه هغۀ الله تعالی لره په خپلو سترګوسره لیدلے دے . او دغه شان قول دے دابوذرؓ او کعبؓ نه. حسن بصری به ددے خبرے قسم خوړلو . او دغه شان مروی دے دا بن مسعودؓ . ابو هریرهٔ او امام احمد بن حنبل نۀ و خوندانو د مقالاتو د امام ابو الحسن اشعری او د هغوی د ملګرونۀ نقل کړے دے . چه هغه الله پاك لره لیدلے دے . او زمونږ بعضے مشائخو په دے مسئله کښې توقف کړے دے . او وئیلے ئے دی چه په لیدو باندے څه صفا دلیل نشته لیکن لیدل جائز دی . ولے چه د الله تعالی دیدار په دنیا کښې ممکن دے . او د موسیٰ علیه السلام درخواست کول دديدار دپاره دغه دلیل دے د امکان څکه چه نبی د هغه امر درخواست څنګه کوی چه هغه د الله تعالیٰ په نسبت محال وی .

او اختلاف کړے دے علماؤ چه حضرت موسیٰ علیه السلام او زمونږ پیغمبر دواړو حق تعالیٰ لره لیدلے دے په دے شان علماؤ اختلاف کړے دے . په دے مسئله کښې چه زمونږ پیغمبر صلے اللہ علیه واله وسلم د حق تعالیٰ سره خبرے کړے دی د معراج په شپه

بلاواسطه یانه دی . سیوا د اشعری اودیو جماعت د متکلمینو په نزدنے کلام کړے دے .

او بعضو ددے قول نسبت ورکړے دے دجعفر بن محمدؒ اوابن مسعودؓ او ابن عباسؓ په طرف په دے شان علماؤ اختلاف کړے دے ددے آیت په معانو کښ ثم د نافتدلی یعنی بیانزدے شو اوراکوز شو . او بعضو وئیلی دی . دانزدے کیدل دجبرائیل علیه السلام سره دی یا د سدرة المنتهیٰ سره . او ابن عباسؓ او محمد بن کعبؒ او جعفر بن محمدؒ وغیره نه منقول دی چه نزدے کیدل درسول الله صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ نه دی . په دے صورت کښ دنزدے کیدو تاویل کول پرے وخی . او مراد به د قرب نه داوی چه دخدائے بزرگی په هغه باندے ظاهره شوه . او انوار د معرفت ورته بیرته یعنی برسیره شو . او دغیبو اسرار ورته معلوم شول . او د قابل قوسین او او ادنی به هم تاویل کول وی . او دغه شان تاویل به ئے کیدے شی په هغه حدیث کښ چه هغه سرے یولیشت ماته نزدے وی . او زه دیو لاس نه هغه ته نزدے یم تمام شو کلام د قاضی عیاضؒ . خو لیکن صاحب تحریر خو دغه اختیار کړے دے . چه رسول اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ خدائے پاك عزوجل لره لیدلے دے . او وئیلی دی چه په دے امر باندے ډیر دلیلونه دی . خو مونږ به هغے سره حجت راوړوکوم چه قوی وی .

یو حدیث دے د ابن عباس رضی الله عنه نه . هغوی وئیلی دی چه ولے تاسو تعجب کوئ په دے خبره سره چه خلعت ابراهیم علیه السلام ته میلاؤ شو . او کلام موسیٰ علیه السلام ته اودیدار محمد مصطفیٰ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ ته . اود عکرمہؓ نه روایت دے . د ابن عباسؓ نه تپوس اوشو . چه ولے محمد صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ خپل رب لره لیدلے دے ؟ هغوی اووے هاں . او د شعبه نه په اسناد منقول دے هغوی دقتاده نه او هغوی دانس نه وئیلی دی چه محمد صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ خپل رب لره لیدلے دے . دراصل په دے باب کښ حدیث دے د ابن عباسؓ او ابن عباسؓ عالم دے ددے امت . او په ګرانو مسئلو کښ به

خلقو د هغه طرفته رجوع کوله .

ابن عمر په دے مسئله کښ د هغه طرفته رجوع کړے ده . او د هغه نه نے تپوس
پښتنه کړے وه چه محمد صلی الله علیه واله وسلم خپل رب لره لیدلے دے . هغوی اووے
هالیدلے دے . او حدیث د حضرت عائشهؓ ضرر نۀ کوی . ولے چه حضرت عائشهؓ داسے نۀ
دی ونیلے چه ما د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلے دی . چه هغه فرمائیلے وو
چه مانۀ دے لیدلے خپل پروردګار لره بلکه هغوی خپل رائے بیان کړے ده او په هغه آیتونو
باندے خیال کړے وو "ماکان لبشر ان یکلمه الله الاوحیا اومن وراء حجاب او یرسل رسولا او
آیت لا تدرکه الابصار." او صحابیؓ هر کله چه څه خبره اوکړی او بل صحابیؓ د هغه
مخالف وی . نو قول د هغه حجت نۀ دے . او هر کله چه صحیح شول روایتونه د ابن
عباسؓ نۀ د دیدار په اثبات کښ نو ضرور دی ثابتول د دغه قول ځکه چه دا امر په عقل
سره نۀ شی معلومیدے . بلکه ضروری دی اوریدل د شارع نۀ او په دے څوك نۀ دی پوهه
چه ابن عباس هم په خپل رائے سره یا اجتهاد سره د دیدار ثبوت ورکړے وی . معمر بن راشد
ونیلے دی . هر کله چه اختلاف بیان کړے شو د حضرت عائشهؓ او د ابن عباسؓ په رویت الهی
کښ خو زمونږ په نز حضرت عائشهؓ د ابن عباسؓ نه په علم کښ زیاته نۀ وه . او ابن عباسؓ
ثابتوی یو امر لره چه د هغے نفی کړے وی نورو او ثابتونکے مقدم دے په نفی کونکی
باندے . تمام شولو کلام د صاحب تحریر.

او حاصل دا دے چه د اکثرو علماؤ په نزد ترجیح دے خبرے ته ده چه رسول الله صلی
الله علیه واله وسلم خپل رب لره په دواړو سترګو سره لیدلے دے د معراج په شپه، او دلیل
د هغوی دغه حدیث دے د ابن عباسؓ وغیره او دا ثابته ده چه ابن عباسؓ د رسول الله صلی
الله علیه واله وسلم نه اوریدلے دی او دانے ونیلے دی . په هغے کښ څه شك نشته . بیا
حضرت عائشهؓ چه کومه د هغے نفی کړے ده . نو هغه د څه حدیث نه نۀ ده او که چرے د

هغے سره څه حدیث وے نو بیان کړے به یے وو بلکه هغوی استنباط کړے دے ایت نه او د هغے مطلب به مونږ وړاندے بیانوو داچه کوم حضرت عائشے دلیل راوړے دے دے آیت نه لا تدرکه الابصار دے جواب خو ظاهر دے ولے چه ادراک ونیلے شی احاطے ته . او د الله تعالی احاطه څوک نه سی کولے او هر کله چه په نص سره د احاطے نفی راوونه نو دے نه د رؤیت نفی نه شی وتلے کوم چه بغیر د احاطے نه وی . او خلقو نور هم دے ایت جوابونه ورکړے دی . مګر د هغے د بیانولو ضرورت نشته او دا جواب مختصر او صحیح دے . کوم چه مونږ بیان کړو .

او دویم دلیل د هغے دے آیت نه دے . و ماکان لبشر ان یکلمه الله الا وحیا او من وراء حجاب O دے جواب په څو قسمه دے . یو خو دا چه د لیدو په وخت د خبرو کول څه ضروری نه دی نو جائز دے چه رؤیت بغیر د کلام نه وی . دویمه دا چه ددغه عامو نه زمونږ پیغمبر خاص کړے شوے دے دریمه داچه د وحی نه مراد کلام دے بغیر د واسطے نه . اګرچه جمهورو داونیلے دی چه د وحی نه ددغه ځائے الهام یا خواب مراد دے او د حجاب نامعنے دی چه خدائے تعالی صفا کهله کهلا خبرے نه کوی . بلکه هغه د خدائے کلام لره اوری او هغه وینی نه . د حجاب نه داغرض نه دے چه هلته څه پرده ده . چه هغه جدا کوی یو مقام لره د بل مقام نه . انتهی ما قال النووی مختصرا .

مولانا ابو طیب په سراج الو هاج کښ لیکلے دی . چه ماته کومه په دے مقام کښ معلومه شوه هغه داده چه په دے مسئله کښ خاموشی غوره ده . او غور او خوض کول پکښ ښه نه دی . ځکه چه د قرآن آیتونه محتمل دی او هر کله چه احتمال وی نو استدلال نه شی کیدے . او چا چه رؤیت لره ثابت کړے دے . هغه دقرآن نه ثابتوی . حالانکه د قرآن حال دادے چه هغه مجمل دے . او ابن عباس څه موضوع حدیث په دے باب کښ نه دے راوړے . بلکه هغوی استدلال کړے دے د ایات نه نو داهم هغه باب کښ نه

دے راوړے ۔ بلکه هغوی استدلال کړے دے د ایات نه نو داهم د هغه اجتهاد شولو اواجتهاد د چا حجت نهٔ دے ۔ د کومے پورے چه په هغے باندے دلیل نهٔ وی ۔ او حضرت عائشهٔ هم دلیل راوړی د اجتهاد نه ۔ او د هغے استدلال زیات واضح دے او په یو روایت کښ صراحتاً دا امر ثابت دے د مسروق نه چه حضرت عائشهٔ ونیلے دی ۔ ما د تولو نهٔ مخکښ ددے آیت تپوس د رسُول الله صلے الله علیه واله وسلم نه کړے دے ۔ هغوی وفرمایل چه مراد ددے نهٔ جبرائیل علیه السلام دے ۔ او ددے نه صفا معلومه شوه چه رسُول الله صلے اللهٔ علیه واله وسلم ددے آیت تفسیر سره د جبرائیل علیه السلام ذکر کړے دے ۔ نو لوس ددے نه د اوریدو دپاره څه دلیل پکار دے ۔ څکه غوره داده چه توقف اوکړے شی د کومے پورے چه دلیل قائم نهٔ وی ۔

او زه دانهٔ وایم چه دیدارِ الهی جائز نهٔ دے ۔ بلکه خبره په دے کښ ده چه آیا دیدار شوے دے که نهٔ دے ۔ او حدیث موقوف په دے باب کښ حجت کیدے نهٔ شی ۔ هرکله چه د هغے خلاف دویم حدیث موقوف وی ۔ او دا مسئله د عقل او اجتهاد نه معلومیدے نهٔ شی ۔ بلکه سماع پکار ده درسُول الله صلے اللهٔ علیه واله وَسلم نه ۔ او په دے ځائے باندے څه سماع مرفوع نشته دے ۔ انتهی مختصراً ۔

(۴۳۲)عن الشَّیبانیّ قال سالتُ زرّبن حُبیش عن قول الله تعالی فکان قاب قوسین او ادنی قال اخبرنی ابنُ مسعُود ان النّبیّ صلے اللهٔ علیه واله وسلّم رای جبریل علیه السّلام له ستّمائة جناح ۔ا بخاری : ۴۸۵۶ ، ۴۸۵۷ ، ۳۲۳۲ . ترمذی : ۳۲۷۷ ا

ترجمه : د سلیمان شیبانی نه روایت دے ۔ ما د زر بن جیش نه تپوس اوکړو دے آیت لره فکان قاب قوسین بیا یعنی پاتے شو فرق د دوو لیندویا د دے نه هم نزدے ۔ هغوی ونیلے دی ماته عبد الله ابن مسعودؓ بیان کړے دے ۔ چه رسُول اللهِ صلے اللهُ علیه واله وَسلم حضرت جبریل علیه السلام لره اولیدو د هغه شپږ سوه وزرے وے ۔

فائده : یعنی هغه ئے په اصل صورت باندے اولیدو کنی نو په نورو شکلونو سره خو به هغه اکثر لیدلو. عبدالله ابن مسعودؓ هم کوم چه ددے حدیث راوی دے لوے عالم دے ددے امت. او معارض دے د هغه قول د عبد الله ابن عباس د قول نووی د عبد الله ابن مسعودؓ دغه مذهب دے . چه مراد ددے آیت نه جبرائیل علیه السلام دے لیکن اکثر مفسرین دے طرفته تلے دی . چه مراد د لیدو نه لیدل د الله تعالیٰ دی . بیا هم خلقو اختلاف کړے دے . بعضو وئیلے دی چه خپل پروردګار ئے د خپل زړۀ په سترګو سره اولیدو اولیدل په حقیقت کښې صحیح لیدل وو . په دے شان چه الله تعالیٰ یوه سترګه د هغه په زړۀ کښې پیدا کړه . او بعضو وئیلے دی په ظاهر دواړو سترګو سره ئے اولیدو . امام ابو الحسن واحدی وائی دابیان دے رسُول اللهِ صلّے اللّٰهُ علَیْهِ واله وسلم ددیدار الهی د معراج په شپه کښې . ابن عباسؓ او ابو ذرؓ اوابراهیم تمیمی وائی . چه هغه خدائے پاك د زړۀ په سترګه اولیدو . یا ئے د لیدو طاقت ورته په زړه کښې واچوؤ او هغه اولیدو داسے لکه چه په سترګو سره ئے ګوری . او یو جماعت د مفسرینو په دے طرف تلے دے . چه هغه په دغه ظاهری سترګو سره خدائے تعالیٰ لره لیدلے دے . او دغه قول دے د انس او عکرمه او د حسن او دربیع (نووی)

(۴۳۳) عن عبْداللّٰه قال ما کذب الْفؤاد مارای جبْرئیْل علیْهِ السّلامْ لهٗ ستُّ مائة جناح

ترجمه : عبدالله ابن مسعودؓ وائی چه حق تعالیٰ فرمایلے دی ماکذب الفؤاد مارای . یعنی دروغ نۀ لیدو زړه کوم چه ئے لیدو د هغے نه مراد د جبرائیل لیدل دی . حضرت اولیدو هغه لره دهغه شپږ سوه وزرے وے .

(۴۳۴)عنْ عبْداللّٰه قال لقدْ رای منْ ایات ربِهِ الْکُبْریٰ قال رایٰ جبْرئیْل علیْهِ السّلامْ فِیْ صُوْرتِهٖ لهٗ ستُّ مِائةِ جناحٍ : (راجع : ۴۳۲)

ترجمه : عبد الله ابن مسعودؓ وئیلے دی . داچه کوم حق تعالیٰ فرمائیلے دی . لقد رایٰ من

ایات ربہ الکبری ۔ بیشکہ اونے لیدے د خپل رب لوئے نشانی ۔ مراد ددے نہ دلاے چہ هغه اولیدو جبرائیل علیه السلام لره د هغه په اصل صورت کښې شپږ سوه وزرے وے د هغه۔

(۴۳۵)عن ابی هریرة ولقد راٰه نزلة اخری قال رای جبریل علیه السلام.

ترجمه : د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ددے په تفسیر کښې ولقد راه نزله اخری یعنی اولیدو هغه لره په دویم ځل راکوز یدو کښې چه اولیدو هغه جبرائیل علیه السلام لره۔

(۴۳۶) عن ابن عباس قال راٰه بقلبه :

ترجمه : د ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ لیدلے دے هغه لره په زړهٔ سره:

(۴۳۷)عن ابن عباس قال ما کذب الفؤاد مارای ولقد راٰه نزلة اخری قال راٰه بفواده مرتین

ترجمه : د ابن عباسؓ نه روایت دے "ماکذب الفواد مارای و لقد راٰه نزلة اخری "په تفسیر کښې چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم الله تعالی لره په خپل زړهٔ سره دوه ځله لولیدو

فائده : نو د ابن عباس دغه قول دے ۔ چه مراد په دغه ایاتونو کښې د الله جل جلاله دیدار دے ۔ او وړاندے ددے تفصیل تیر شوے دے۔

(۴۳۸) عن الاعمش حدثنا ابو جهمة بهذا الاسناد :

ترجمه : اعمش بیان کوی چه ابو جهمه مونږ ته په دے سند سره هم دغه حدیث بیان کړے دے ۔

(۴۳۹)عن مسروق قال کنت متکئا عند عائشة فقال یا ابا عائشة ثلث من تکلم بو احدة منهن فقد اعظم علی الله الفریة قلت ما هن قالت من زعم ان محمدا صلی الله علیه واله وسلم رای ربه فقد اعظم علی الله الفریة قال و کنت متکئا فجلست فقلت یاام المؤمنین انظرینی و لا تعجلینی الم یقل الله عز وجل ولقد راٰه بالافق المبین ولقد راٰه نزلة اخری فقالت انا اول هذه الامة سال عن ذلک رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فقال انما جبریل علیه السلام لم اراه علی صورته التی خلق

علمها غير ها تين المرتين رايته منهبطامن السماء ساذاعظم حلقه ما بين السماء الى الارض فقالت اولم تسمع ان الله عزوجل يقول لاتدركه الابصار وهو يدرك الابصار وهو اللطيف الخبير اولم تسمع ان الله يقول وما كان لبشر ان يكلمه الله الا وحيا او من وراء حجاب او يرسل رسولا الى قوله انه علي حكيم قالت ومن زعم ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم كتم شيئامن كتب الله فقد اعظم على الله الفرية والله يقول ياايها الرسول بلغ ما انزل اليك من ربك وان لم تفعل فما بلغت رسالته قالت ومن زعم انه يخبر بما يكون في غد فقد اعظم على الله الفرية والله يقول قل لا يعلم من في السموت والارض الغيب الا الله . [بخاری: ۴۶۱۲، ۴۸۵۵، ۷۵۸۰، ترمذی: ۳۰۶۸، ۳۲۷۸]

ترجمه: د مسروق نه روایت دے چه ما تکیه لګولے وه د حضرت عائشے په خوا کښې هغوئ اووے . اے ابو عائشه (دا کنیت دے د مسروق) چه درے خبرے دی چه څوك د هغے قائل شی هغه لونے دروغ اوویل په خدائے پاك باندے . ما اووے . هغه درے خبرے کومے دی؟ هغوی اووے (یوه داده) چه څوك دا ګنړی چه حضرت محمد خپل رب لره لیدلے دے هغه لونے دروغ اووے په الله پاك باندے . مسروق وائی ماتکیه لګولے وه دے په اوریدو سره کیناستم . ما اووے اے ام المؤمنین ! لږ ما خبرے کولو ته پریږده او تادی مه کوه ولے الله تعالی نه دی فرمایلے ولقدراه بالافق المبين ولقد راه نزلة اخرى . حضرت عائشے اووے په دے امت کښې ما ټولو نه وړاندے دے ایتونو د رسول الله صلى الله عليه واله وسلم نه تپوس کړے دے هغه اوفرمائیل چه مراد په دے ایتونو کښې حضرت جبریل عليه السلام دے ما هغه په خپل اصلی حالت باندینه وو لیدلے سیوا د دویم ځل نه . چه د هغے ذکر په دے ایتونو کښې دے ما اولیدو هغه لره چه راکوزیدو د اسمان نه . او د هغه بدن لونے والے د اسمان نه د زمکے پورے ځائے نیولے وو بیا حضرت عائشے اووے . ولے تا نه دی اوریدلے چه الله تعالی فرمیلے دی . لا تدركه الابصار و هو يدرك الابصار و هوا

للطیف الخبیر. ولے تانهٔ دی او ریدلے چه الله تعالی فرمانیلے دی . و ماکان لبشران یکلمه الله الا وحیااو من وراء حجاب او یرسل رسولا تر د علیٌ حکیمٌ پورے . (دویمه داده) چه څوك دا خیال کوی چه رسُول الله صلّے الله علیه واله وسلم د الله جل جلاله د کتاب نه څه پټ کړے دے . نو هغه لوئے دروغ اوونیل په الله جل جلاله باندے . الله تعالی فرمانیلے دی . یا ایها الرسول بلغ ما انزل الیك من ربك و ان لم تفعل فما بلغت رسالته . یعنی اے پیغلم رسونکیه او رسوه هغه څه چه نازل شوے دی . پتا باندے د طرف درب ستانهٔ . او که چرے تهٔ داسے اونهٔ کړو نو تا پیغام اونه رسؤو (دریم دادے) چه څوك وائی چه رسُول الله صلّے الله علَیه واله وَسلَمَ ته د صبا د حال پته وه (یعنی دراتلونکی حال) نو هغه لوئے دروغ اوونیل په الله جل جلاله باندے . الله جل جلاله پخپله فرمانیلے دی . اے محمدؐ! په زمکه او اسمانونو کښ څوك د غیبو خبره نهٔ پیژنی ما سیوا د الله جل جلاله نه .

فائده : ورمبے آیت د سوره انعام په دولسمه رکوع کښ دے . چه ترجمه د هغے داده . چه هغه لره نهٔ شی مونده سترګے او هغه مونده شی سترګو لره هغه په راز پوهه او خبر دار دے . او دویم آیت د سوره شوری په پنځمه رکوع کښ دے . ترجمه دپوره آیت داده او نشته دے طاقت د چا بنده چه خبرے اوکړی د الله پاك سره مګر په اشاره سره یاد پردے نه ورستو سره یا اولیږی یو پیغام رسونکے بیا اورسوی د هغه حکم څه چه غواړی . هغه د تولو نه اوچت او حکمتونو والا دے .

ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه . چه داسے ونیل درست دی چه الله تعالیٰ فرمانی . او مطرف بن عبدالله داسے ونیل مکروهه ګنړلے دی . او ونیلے ئے دی چه دا وایی چه الله فرمانیلے دی . او مهٔ وایی چه الله تعالیٰ فرمانی . خو د مطرف دا قول مخالف دے د صحابهؓ او تابعینو د فعل نه . او صحیح اوغوره خبره داده چه دواړه قسمه ونیل درست دی . او دا قول دے د آئمه سلفو او خلفو او په خپله قرآن کښ موجود دے . " الله یقول

الحق و هو یهد السبیل" او په صحیح مسلم کښې د ابوذرنه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلے دی الله تعالی فرمائی ۔ من جاء بالحسنة فله عشر امثالها او چه ددے نه انکار اوکړو د هغه سره څه دلیل نشته دے (نووی)

او ددے حدیث نه معلومه شوه چه د غیبو علم صرف د خدائے پاک سره خاص دے سیوا د خدائے نه بل هیڅ چا ته د غیبو علم نشته دے ۔ که پیغمبرؑ دے یا فرښته یا ولی یا صالح یا سلطان یا عارف. او په خپله الله تعالیٰ خپل کتاب زمونږ د پیغمبرؑ په ژبه سره بیان کړے دے ۔ولو کنت اعلم الغیب لا ستکبرت من الخیر و ما مسنی السوء ان انا الا نذیر وبشیر لقوم یؤمنون ۔ یعنی که چرے ماته د غیبو علم وے نو لویه نیکی به م حاصله کړے وه ۔ او ماته به څه تکلیف نۀ رارسیدوزه خو یو ښکاره یره ولو والا یم ۔ او هر کله چه د الله او د رسول د بیان نه معلومه شوه ۔ چه د غیبو علم سیوا د خدائے پاک نه بل چاته نشته او د بل بیان څه حاجت دے ۔ الله تعالی دِ هدایت اوکړی هغه بدعتیانو ته چه د غیبو علم رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یا نورو اولیاؤ او مشائخو د پاره ثابتوی او په هغے باندے څه دلیل نشته بلکه دلیل د هغے په خلاف باندےِ موجود دے ۔ خدائے خبر چه د هغوی په عقلونو باندے څه مار پریوتے دے ۔ او شیطان هغوی لره کوم ځائے پرمخے غورځوی ۔ خدائے تعالیٰ دے مونږ لره او زمونږ د طریقے خلقو لره دداسے خیالونو نه بچ کړی (السراج الوهاج)

(۴۴۰)عن داود بهذا الاسناد نحو حدیث ابن علیة وزاد قالت ولو کان محمد صلی الله علیه واله وسلم کاتما شیئا مما انزل علیه لکتم هذه الایة واذ تقول للذی انعم الله علیه وانعمت علیه امسک علیک زوجک واتق الله وتخفی فی نفسک ما الله مبدیه وتخشی الناس والله احق ان تخشاه .

اراجع : ۴۳۹

فائده : دا آیت د سورهٔ احزاب په پنځمه رکوع کښې دے. ترجمه د هغے داده او هر

کله چه تا وینا شروع کړه هغه سړی ته چه په هغه باندے الله احسان کړے دے او تا احسان کړے او نیسه د ځان سره جوړه خپله او اوېرېږه د الله نه او تا پټولو په خپل زړه کښ یو څیز الله هغے لره ظاهره ول غواړی او ته یریدے د خلقو نه او پکار دی د الله جل جلاله نه یریدل بیا چه هر کله زید تمام کړو د هغه ښځے نه خپل غرض مونږ هغه ستا په نکاح کښ درکړه. ځکه چه په مسلمانانو باندے حرج نه وی په نکاح کولو کښ د خپلو متبنی د ښځو سره هر کله چه هغوی پوره کړی د دغو سره خپل غرض. او دے د الله حکم پوره کول۔

مراد د دغه سړی نه زید بن حارثهٔ دے چه هغه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم په ځوئ نیولے وو۔ د هغه بی بی زینب وه۔ چه د هغه د ترور لور وه هر کله چه د زید سره د هغے رانغله۔ نو وړمبے خو هغه زیدؓ ته نصیحت اوکړو خو په زړه کښ د هغه دا خیال وو. چه که چرے زید هغے لره پریږدی نو زه به د هغے سره نکاح کوم۔ هغه دا خیال په زړه کښ پټ او ساتو۔ ځکه چه کافران او منافقان بدګونی اونه کړی چه محمدؐ د خپلے اینګور سره د نکاح کولو په فکر کښ دے۔ الله تعالی دغے ارادے لره ظاهره کړه او نکاح د زینب نے د هغه سره اوکړه۔ او د کافرانو طعن او تشنیع لره نے لغوه کړو۔ او اوئے فرمایل چه متنبی خوے په اصل کښ خوے نهٔ دے۔ چه د هغه جوړه په پاللو باندے حرامه کیږی. په دے آیت کښ چونکه حضرت صلے الله علیه وسلم ته نصیحت کړے او الزام نے لګولے دے چه ته د خلوق نه پریږے۔ حالانکه د الله نه زیات یریدل پکار دی۔ او د هغه د زړه خبره کومه چه هغه پټوله ښکاره نے کړله۔ پس که چرے هغه یو یا څه آیت لره پټولے نو معاذالله! دے لره به نے پټ کړے وو۔

(۴۴۱)عَنْ مَسْرُوْق قَال سَالْتُ عَائشة هلْ رایٰ مُحَمَّدٌ صلّے اللّٰهُ عَلَیْهِ والہ وسلّم ربَّهٗ فقالتْ سُبْحان اللّٰهِ لقدْ قفَّ شعْرِیْ لِما قُلْت وساق الْحدیْث بقصّته وحدیْثُ داوٗد اتمُّ واطْول.[راجع : ۴۳۹]

ترجمہ: د مسروق نه روایت دے ما د ام المومنین حضرت عائشہؓ نه تپوس اوکړو چه محمد صلی الله علیه و اله وسلم خپل رب لیدلے دے؟ هغوی اووے سبحان الله زما ویخته نیغ اودریدل (ددے خبرے په اوریدو سره) او بیان نے کړو حدیث لره په دغه شان لیکن په روایت د داؤد (کوم چه پورته تیر شو) لونے اوپوره دے۔

(۴۴۲) عن مسروق قال قلت لعائشة فاین قوله تعالى ثم دنا فتدلى فكان قاب قوسين او ادنى فاوحى الى عبده مااوحى قالت انما ذاک جبرئیل علیه السلام كان یاتیه فی صورة الرجال وانه اتاه فی هذه المرة فی صورته التی هی صورته فسد افق السماء. [بخاری: ۳۲۳۴]

ترجمہ: د مسروق نه روایت دے ما حضرت عائشے رضی الله عنه ته اووے (ته وائے چه رسول الله صلی علیه واله وسلم خپل رب لره نۀ دے لیدلے) بیا د الله تعالیٰ دا قول څنګه دے ثم دنی فتدلی فکان قاب قوسین او ادنی فاوحی الی عبده ما اوحی. هغوی اووے ددے آیت نۀ خو جبرائیل مراد دے. هغه به همیشه هغه ته دسړو په صورت کښ راتللو او په دغه وار خاص په خپل صورت کښ راغے نو تول کناره د اسمان ډکه شوے وه

فائده: په دے صورت کښ به د آیت معنی داوی. چه بیا نزدے شو جبرائیل علیه السلام او نزدے راغے محمد ﷺ ته اوپاتے شوه فاصله ددو لیندو یا د هغے نه نزدے او بعضو د قوس نه ذراع مراد اخستے دے نو معنی به داوی. پاتے شوه فاصله ددو لاسو یاددے نه هم کمه یعنی د هغه او د جبرائیل په مینځ کښ دومره نزدے والے راغے. ددے نه پس الله تعالیٰ د خپل بنده طرفته وحی اوکړه کومه چه ئے اوکړه.

باب فی قوله علیه السلام ((نور انی اراه)) وفی قوله ((رأیت نورا))

باب: ددے خبرے بیان چه د نبی کریم ﷺ دا وئیل چه هغه خو نور دے او هغه څنګه لیدے شم او دا فرمان چه ما نور اولیدو:

(۴۴۳) عن ابی ذر قال سالت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هل رایت ربک قال نور انی اراه

ترجمه : د ابو ذرؓ نه روایت دے . ما د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه تپوس اوکړو .
ولې تا خپل پروردګار لره لیدلے دے ؟ هغه اوفرمائیل هغه خو نور دے ما به څنګه لیدو .

فائده : نووی وائی یعنی حجاب د هغه نور دے . او معنیٰ داده چه د نور په وجه سره ما هغه نهٔ شو لیدلے . ولې چه هر کله نور ډیروی نو سترګې بریخ کوی او څه په نظر نهٔ راځی . د عرفاؤ په نزد دے حدیث معنیٰ داده . چه الله تعالی جل شانه نور دے . او ظهور دے . یعنی د هغې په وجه سره د تولو هستی او نمائش دے . لکه چه په قرآن کښې دی . الله نور السموات والارض که چرے دا نور نهٔ وے تمامه نیستی نیستی به وه او د څه څیز وجود به نهٔ وو . بیا چه څنګه د نور په وجه سره نور څیزونه خو دلے کیږی . د غه شان د الله جل شانه مخلوقاتو لره مونږ وینو . خو د هغه لیدل ګران دی . ځکه چه مونږ د مادے لو د جسم د کثافت نه ډك شوے یو . البته الله تعالی چه هر کله خپلو پاکو بندیګانو لره د هغه علائق جسمانی نه صفا کړی او هغوی لره نورانی کړی نو په هغه وخت به خپل نور اقدس هغوی او ښائی . والله اعلم .

(۴۴۴) عن عبدالله ابن شقیق قال قلت لابی ذر رضی الله عنه لو رءیت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لسالته فقال عن ای شیٔ کنت تساله قال کنت اساله هل رایت ربک ؟ قال ابوذر قد سالته فقال رایت نورا . [راجع : ۴۴۳]

ترجمه : د عبدالله بن شقیقؒ نه روایت دے . ما ابو ذرؓ ته اووے که چرے ما رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لیدلے وے نو څه تپوس به مے ترے نه کړے وے . ابو ذرؓ اووے تا څه تپوس کړو ؟ عبد الله اووے ما به دا تپوس کړے وے . چه تا خپل پروردګار لیدلے دے که نهٔ دے . ابو ذرؓ اووے ما دا تپوس کړے وو د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه . هغه فرمائیلی وو چه ما یو نور لیدلے وو .

فائده : یعنی صرف نور نه دے بلکه نور ماته اوښودلے شو او نور ماته نۀ دی ښکاره شوی . قاضی عیاض وئیلی دی داخبره محال ده چه د الله جل جلاله ذات نور وی ولے چه نوریو جسم دے او الله سبحانه وتعالی پاك دے د جسمیت نه . دغه مذهب دے د تمامو امامانو او داچه کوم الله فرمایلی دی الله نور دے د زمکے اسمانونو او په حدیث کښ نے د نور اطلاق په ذات الهی باندے کړے دے نو ددے نه مراد دادے چه هغه د نور خالق دے . او خاوند دے د نور ب هادی دے د تمامو اسمانونو او زمکے د مخلوق یا نورانی کونکے دے د مومنانو زړونو لره

مترجم وائی د قاضی عیاض د اتقریر مسلم نۀ دے . او نۀ د سلفو دا چل دے . بلکه الله تعالی حقیقتاً نور دے او د نور لفظ په متعدد نصوصو کښ په هغه باندے راغلے دے . ب په هغے کښ د تاویل د کولو ضرورت نشته . او س پاتے شو د جسم اطلاق نو هغه به په خدائے باندے نۀ شی کولے . ددے د پاره چه په شریعت کښ دا لفظ د خدائے په واسطه نۀ دے راغلی . دغه شان خو د جسم نه تنزیه د هغے هم څه اصل نشته .

باب فی قوله علیه السلام ان الله لا ینام وفی قوله حجابه النور لو کشفه لاحرق سبحات وجهه ما انتهی الیه بصره من خلقه :

باب : ددے قول په باره کښ چه الله تعالی نۀ اوده کیږی او دا قول چه د هغه حجاب نور دے که چرے هغه دے لرے کړلاؤ کړی نو د مخ شعاګانے به د هغه د مخ شعاګانے اورسی نو د هغه خائی مخلوق به اوسوزی:

(۴۴۵)عن ابی موسی رضی اللّٰه عنه قال قام فینا رسول الله صلے اللّٰهُ علیه واله وسلم بخمس کلمات فقال ان الله لاینام و لا ینبغی له ان ینام یخفض القسط ویرفعه یُرفع الیه عمل اللیل قبل عمل النهار وعمل النهار قبل عمل اللیل حجابه النور وفی روایة ابی بکر النار لو کشفها لاحرقت سُبحات وجهه ماانتهی الیه بصره من خلقه وفی روایة ابی بکر عن الاعمش ولم یقل حدثنا .[ابن ماجه :

د ۱۹۵، ۱۹٦ |

ترجمه: د ابو موسیٰ نه روایت دے . رسول الله صلے الله علیه واله وسلم مونږ ته په ولاړے پنځه خبرے واورولے هغه فرمایلے وو چه الله جل جلاله نۀ اوده کیږی . او نۀ خوب د هغه لائق دے (ولے چه خوب د عضلات او د بدن د سترے او اندامونو د سترے کیدو د وجے نۀ راځی او خدائے تعالی پاك دے د سترے والی نۀ دویمه دا چه اوده کیدل غفلت دے او هغه منزه دے ددے نه) لاند کوی تلی(میزان) لره او پورته کوی هغے لره او چتولے شی د شپے عمل د هغه په طرف د ورځے د عمل نه مخکښ او د ورځے عمل د شپے د عمل نه مخکښ د هغه پرده نور دے . د ابو بکر په روایت کښ دی . چه پرده د هغه نور دے که چرے هغه بیرته کړی دغه پردے لره . البته د هغے د خلے شعاع ګانے به اوسیزی مخلوق لره . تر کوم ځائے چه د هغے نګاه رسی .

فائده :- د بندیګانو د عملونو او ارزاقو په تول کولو کښ . نووی وائی د اتمثیل دے د خدائے په میزان د تللو سره . په سراج الو هاج کښ دی . چه دا تمثیل نه دے بلکه حقیقتاً خدائے تعالی داسے کوی او د امذهب دے دسلفو په دے قسم آیتونو لو احادیثو کښ او ورستو خلق د تمثیل قائل شوی دی چه د هغوی د خبرے څه اعتبار نشته . یعنی په شپه کښ چه کوم د هغه بندیګان نیك کار کوی . هغه د شپے د تیریدونه مخکښ په شپه شپه کښ خدائے پاك ته رسولے شی .

ددے حدیث نه صفا دا خبره معلومیږی چه د خدائے تعالی جهت فوق کښ دے . او دامذهب دے د ائمه سلف رضی الله عنهم . نووی وئیلے دی پرده په لغت کښ آړ او رکاوټ ته وئیلے شی . او داشان دے د هغه اجسام چه هغه محدود دی . او خدائے تعالی پاك دے د جسمیت او تحدید نۀ په دے صورت کښ د پردے نه مراد منع کونکے دے د هغه د دیدار نه . یعنی نور د هغه د لیدو مانع دے . ځکه چه په نور سره سترګے بریښیږی .

په سراج الوهاج کښې دي چه ددې تاويل ضرورت نشته دې . بلکه د سلفو دا قول دې . چه کوم څه په شريعت کښې راغلي دي هغه چلوه په هغه شان چه څنګه راغلي وي . او د هغې کيفيت نۀ بيانول او په هغې کښې تاويل او تعطيل او تمثيل او تشبيه کول نۀ دي پکار. مترجم وائي چه متاخرين لکه نوويؒ او سيوطيؒ او ابن حجر عسقلانيؒ او ملا علي قاريؒ اوشيخ عبدالحق دهلويؒ د ورستو متکلمينو تقليد کړې په دغه قسم آيتونو او احاديثو کښې اکثر داسې تاويلات کړي دي . چه هغه د سلفو د طريقې نه خلاف دي . په دې حديث کښې نې اوګورئ د حجاب چه نې کوم تاويل کړې دې هغه په دې بناء باندې چه حجاب شان دې د اجسامو حالانکه دا امر تر اوسه پورې په شريعت کښې ثابت شوې نۀ دې . چه خدائې تعالىٰ د جسميت نه پاك دې بيا د نورو آثارو او لوازمو د جسميت څه ذکر دې . د هغه نګاه خو د تمام مخلوقه پورې رسيږي . بيا که چرې هغه خپل حجاب اوچت کړي نو د هغه د مخ د تجلي په مخکښې څه نه پاتې کيږي . اوټول سوزې خاورې کيږي . نوويؒ په دې مقام باندې د ورستنو متکلمينو د تقليد په وجه سره ، تاويل د ځانه کړې دې . او دا غلط دې . د حق تعالىٰ د پاره وجه او يد او عين ، قدم وغيره ثابت ۱ ـ دي . د آيات او احاديثو نه او سلفو په دې کښې د څه قسم تاويل نۀ دې کړې نۀ تحريف بلکه تاويل طريقه ده دَ جهميه او مبتدعه او معتزله ؤ . خذ لهم الله تعالىٰ . او بعضې علمائې اهل سنت خدائې دې په هغوی باندې رحم اوکړي . هغه هم په دې ګمراهۍ کښې اونښتلې دي . هغه هم تاويل کوي او د سلف صالحينو طريقې ئې هيرې کړې دي . الله جل شانه دې د هغوی خطا معاف کړي .

[۱ ـ څنګ چه خدائې دې دغه شان نې لاس دي . باقي تمام اندامونه نې هم هغه شان دي څنګ چه هغه پخپله دې . عبدالغفار سلفي]

(۴۴۶)عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ قَالَ قَامَ فِيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ بِاَرْبَعِ كَلِمَاتٍ ثُمَّ

ذکر سنتل حدیث ابی معاویۃ ولم یذکرمن خلقه وقال حجابه النور .[راجع : ۴۴۵]

ترجمه : د اعمش نه په دے شان دویم روایت دے . مګر په دے کښې د پنځه خبرو په بدله څلور خبرے دی . او د مخلوق ذکر په کښې نشته او ونیلے ئے دی چه حجاب (یعنی پرده)د هغه نور دے

(۴۴۷)عن ابی موسی رضی الله عنه قال قام فینا رسول الله صلے الله علیه واله وسلم باربع ان الله عزوجل لاینام ولا ینبغی له ان ینام و یرفع القسط ویخفضه ویرفع الیه عمل النهار باللیل وعمل اللیل بالنهار .[راجع : ۴۴۵]

ترجمه : د ابوموسیٰ نه روایت دے . رسول الله صلے الله علیه واله وسلم په ولاړے څلور خبرے بیان کړلے . داچه الله تعالیٰ نۀ اوده کیږی او نه د هغه لائق دی او دهٔ کیدل . پورته کوی تلے (میزان) لره او ښکته کوی . او پورته کولے شی د هغه طرفته د ورځے عمل شپے ته او د شپے عمل ورځے ته .

باب اثبات رؤیة المؤمنین فی الاخرة ربهم سبحانه وتعالیٰ :

باب:دالله تعالیٰ دیداربه مؤمنانوته په آخرت کښې وی.

(۴۴۸)عن عبدالله ابن قیس رضی الله تعالیٰ عنه عن النبی صلے الله علیه واله وسلم قال جنتان من فضة انیتهما وما فیهما وجنتان من ذهب انیتهما ومافیهما ومابین القوم وبین ان ینظروا الی ربهم الارداء الکبریاء علی وجهه فی جنة عدن [بخاری ۴۸۷۸، ۴۸۸۰، ۷۴۴۴، ترمذی ۲۵۲۸، ابن ماجه ۱۸۶ :]

ترجمه : دعبدالله بن قیس (ابوموسیٰ اشعریؓ) نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے دی دوه جنتونه به د سپینوزرو وی د هغے لوښی او تمام څیزونه به د سپینو زرو وی او دوه جنتونه به د سرو زرو وی د هغے لوښی او تمام څیزونه به د سروزرو وی او

حلمونه به دخپل پروردګار په لیدلو کښې خه پرده نه وی په جنت العدن کښې به سوا دیو
بزرګی دخادر نه چه هغه به دخدایے تعالی په مخ باندے وی

فائده : بیا چه هر کله خدایے تعالی هغه خادر لره دخپل مخ نه او چت کړی لو
پول مؤ منان به دهغه مخ مبارك او ویني او دهغه دیدار نه به دومره خوشحالي حاصلیږی
چه دهغے حد نشته نه دهغے بیان کیدے شی . امام نووی وئیلے دی تمامو اهل سنتو مذهب
دادے چه دخدایے تعالی لیدل ممکن دی محال نه دی او هغوی اتفاق کړے دے په دے باندے
چه په آخرت کښې به مومنان هغه ته ګوری او کافران به ددغه نعمت نه محروم وی او
معتزله او خوارجو او بعضے مرجیه و داګمان کړے دے چه خدایے به دهغه په مخلوق کښې
څوك نه وینی بلکه دخدایے لیدل محال دی او دا یو ښکاره خطا او قبیح جهل دے .
دکتاب او سنتو او اجماع صحابه و او سلف امت نه داامر ثابت دے کښې واقع شوے
دے لیکه ریاض المرتاض او تقصار کښې یو جماعت دعلماؤ او ائمه و نه نقل کړے دے یا
الله نه مونږه په خپل دیدار باندے مشرف کړه او داچه کوم نووی ویلے دی چه دخدایے دیدار
به بغیر دجهت نه کیږی لکه څنګه چه دهغه علم بے جهت نه دے داد متکلمینو طریق دے
او داهل حقو دا مسلك نه دے دهغوی په نزد خو ددے قسم نصوصو لره په ظاهر معنی
باندے ایخودل پکار دی بغیر دتاویل او تعطیل نه او په حدیث صحیح کښې دا امر موجود دے
چه کوم ځائے دے خدایے هغه تپوس او کړو دوینځے نه .
او په یو حدیث کښې دی چه هغه اشاره او کړه په ګوتو سره داسمان په طرف دغه شان په دے
باب کښې ډیر ایسونه او احادیث دی چه دهغے نه دخدایے پاك اعلی شان او فوقیت علے
العرش او په اسمان کښې کیدل موندلے کیږی بیادا قول دنووی دهغے سره څه مناسبت لری
الله تعالی دے رحم او کړی په هغه سړی باندے چه هغه انصاف کوی او په تاویل او تکلیف
باندے درپے نه وی.

مترجم وائی چه خدائے تعالی لره جهت خیال کول داد جهیمیه او مبتدعه او معتزله ؤ عقیده ده گنی سلف علماء او اهل حدیث خدائے لره تول په جهت فوق کښې گنړی او دحنابله رحمهم الله دغه قول دے بیا چه هر کله خدائے تعالی په یو جهت کښې شولو نو دهغه لیدل هم په یو جهت کښې کیدے شی او متکلمینو چه یو رؤیت بلا جهت بلا مکان وستلے دے دا په حقیقت کښې نفی رؤیت دے او دهغو په عقیده کښې په غور کولو سره څه فرق نه راځی ولے چه درؤیت نه منکرو هغه رؤیت نفی کړے دے کوم چه ظاهر او متعارف دے یعنی دیو څیز مخے ته کیدل په یو مکان کښې کیدل په رانی او مرئی کښې یو شان د نسبت مقابله دَ تاویلا تو کیدل دمرئی یو جهت کیدل درائی نه. نه دهغه رؤیتِ چه هغے لره متکلمینو اختراع کړے دے دغه رنگ متکلمینو ډیرے مسئلے داسے قسم کړیدے دی چه هغه په حقیقت کښې د نصوصو انکار دے. خدائے د ے د هغوی خطا معاف کړی او مونږ ددے نه مسئلے دا ستواء لره په خپل کتاب الانتهافی الاستواء کښې بیان کړے ده.

(۴۴۹) عَنْ صُهَيْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا دَخَلَ اَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ قَالَ يَقُوْلُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى تُرِيْدُوْنَ شَيْئًا اَزِيْدُكُمْ فَيَقُوْلُوْنَ اَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوْهَنَا اَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ قَالَ فَيَكْشِفُ الْحِجَابَ فَمَا اُعْطُوْا شَيْئًا اَحَبَّ اِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ اِلٰى رَبِّهِمْ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى.

[ترمذی: ۲۵۵۲، ابن ماجه: ۱۸۷]

ترجمه: صهیبؓ نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلے دی هر کله چه جنتی جنت ته لاړشی هغه وخت به الله تعالی ورته او فرمائی! هغه به او وائی! ولے تا زمونږه مخونه سپین نه کړل مونږ له دجنت رانه کړو او دجهنم نه دے بچ نه کړو (اوس نو څه غوښتل پکاردی) بیابه پرده او چته کړے شی په دغه وخت به جنتیانو ته څه څیز دهغے نه او چت نه معلو میږی یعنی دخپل پروردګار په طرف دکتلو نه.

(۴۵۰) عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَزَادَ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْاٰيَةَ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ. [راجع:

۱۳۴۹

ترجمه: د حمادبن سلمہ نه په دغه اسناد سره دا حدیث مروی دے دو مره زیات دے چه بیا هغه دا ایات اولو ستو چه یعنی دنیکوپه واسطه الهی دے چه هغه به دتمامو نعمتو نونه زیاته مزه لو خوندورکوی۔

﴿باب معرفة طريق الرؤية :﴾

باب : د الله پاک د دیدار د کیفیت بیان :

(۳۵۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَخْبَرَهُ اَنَّ نَاسًا قَالُوْا لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِه وَسَلَّمَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ نَرٰى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِه وَسَلَّمَ هَلْ تُضَآرُّوْنَ فِی الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ قَالُوْا لَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ هَلْ تُضَآرُّوْنَ فِی الشَّمْسِ لَيْسَ دُوْنَهَا سَحَابٌ قَالُوْا لَا قَالَ فَاِنَّكُمْ تَرَوْنَهُ كَذٰلِكَ يَجْمَعُ اللّٰهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَيَقُوْلُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ شَيْئًا فَلْيَتَّبِعْهُ فَيَتَّبِعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الشَّمْسَ الشَّمْسَ وَيَتَّبِعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الْقَمَرَ الْقَمَرَ وَيَتَّبِعُ مَنْ كَانَ يَعْبُدُ الطَّوَاغِيْتَ الطَّوَاغِيْتَ وَتَبْقٰى هٰذِهِ الْاُمَّةُ فِيْهَا مُنَافِقُوْهَا فَيَاْتِيْهِمُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِیْ صُوْرَةٍ غَيْرِ صُوْرَتِهِ الَّتِیْ يَعْرِفُوْنَ فَيَقُوْلُ اَنَا رَبُّكُمْ فَيَقُوْلُوْنَ نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْكَ هٰذَا مَكَانُنَا حَتّٰى يَاْتِيَنَا رَبُّنَا فَاِذَا جَآءَ رَبُّنَا عَرَفْنَاهُ فَيَاْتِيْهِمُ اللّٰهُ فِیْ صُوْرَتِهِ الَّتِیْ يَعْرِفُوْنَ فَيَقُوْلُ اَنَا رَبُّكُمْ فَيَقُوْلُوْنَ اَنْتَ رَبُّنَا فَيَتَّبِعُوْنَهُ وَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَانَیْ جَهَنَّمَ فَاَكُوْنُ اَنَا وَاُمَّتِیْ اَوَّلَ مَنْ يُجِيْزُ وَلَا يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ اِلَّا الرُّسُلُ وَدَعْوَى الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ اَللّٰهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ وَفِیْ جَهَنَّمَ كَلَالِيْبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ هَلْ رَاَيْتُمُ السَّعْدَانَ قَالُوْا نَعَمْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ فَاِنَّهَا مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ غَيْرَ اَنَّهُ لَا يَعْلَمُ مَا قَدْرُ عِظَمِهَا اِلَّا اللّٰهُ تَخْطَفُ النَّاسَ بِاَعْمَالِهِمْ فَمِنْهُمْ يَبْقٰى بِعَمَلِهِ وَمِنْهُمُ الْمُجَازٰى حَتّٰى يُنَجّٰى حَتّٰى اِذَا فَرَغَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ مِنَ الْقَضَآءِ بَيْنَ الْعِبَادِ وَاَرَادَ اَنْ يُّخْرِجَ بِرَحْمَتِهِ مَنْ اَرَادَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ اَمَرَ الْمَلٰٓئِكَةَ اَنْ يُّخْرِجُوْا مِنَ النَّارِ مَنْ كَانَ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا مِمَّنْ اَرَادَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ اَنْ يَّرْحَمَهُ مِمَّنْ يَّقُوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَيَعْرِفُوْنَهُمْ بِاَثَرِ السُّجُوْدِ تَاْكُلُ النَّارُ مِنِ ابْنِ اٰدَمَ اِلَّا اَثَرَ السُّجُوْدِ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ اَنْ تَاْكُلَ اَثَرَ السُّجُوْدِ فَيَخْرُجُوْنَ مِنَ النَّارِ قَدِ امْتَحَشُوْا فَيُصَبُّ عَلَيْهِمْ مَآءُ الْحَيٰوةِ فَيَنْبُتُوْنَ مِنْهُ

کماتنبت الحبة فی جمیل السیل ثم یفرغ اللّٰہ من القضاء بین العباد ویبقی رجل مقبل بوجهه علی النار وهو اٰخر اهل الجنة دخولا الجنة فیقول ای رب اصرف وجهی عن النار فانه قد قشبنی ریحها واحرقنی ذکاؤها فیدعو اللّٰہ ماشاء اللّٰہ ان یدعوه ثم یقول اللّٰہ تبارک وتعالی هل عسیت ان فعلت ذلک بک ان تسئل غیره فیقول لااسئلک غیره ویعطی ربه عزوجل من عهود ومواثیق ماشاء اللّٰہ فیصرف اللّٰہ وجهه عن النار فاذا اقبل علی الجنة وراٰها سکت ماشاء اللّٰہ ان یسکت ثم یقول ای رب قدمنی الی باب الجنة فیقول اللّٰہ له الیس قد اعطیت عهودک ومواثقک لاتسئلنی غیر الذی اعطیتک ویلک یاابن اٰدم مااغدرک فیقول ای ربی یدعو اللّٰہ حتی یقول له فهل عسیت ان اعطیتک ذلک ان تسئل غیره فیقول لاوعزتک فیعطی ربه ماشاء اللّٰہ من عهود ومواثیق فیقدمه الی باب الجنة واذاقام علی باب الجنة انفهقت له الجنة فرای مافیها من الخیر والسرور فیسکت ماشاء اللّٰہ ان یسکت ثم یقول ای رب ادخلنی الجنة فیقول اللّٰہ تعالی له الیس قداعطیت عهودک ومواثیقک لاتسئال غیر مااعطیت ویلک یاابن اٰدم مااغدرک فیقول ای رب لااکونن اشقی خلقک قال فلایزال یدعو اللّٰہ عزوجل حتی یضحک اللّٰہ تبارک وتعالی منه فاذاضحک اللّٰہ منه قال ادخل الجنة فاذادخلها قال اللّٰہ له تمنه فیسال ربه ویتمنی حتی ان اللّٰہ عزوجل لیذکره من کذاوکذاحتی اذاانقطعت به الامانی قال اللّٰہ عزوجل ذلک لک ومثله معه قال عطاء بن یزید وابوسعید الخدری مع ابی هریرة لایرد علیه من حدیثه شیئاحتی اذاحدث ابوهریرة ان اللّٰہ قال لذالک الرجل ذلک لک ومثله معه قال ابوسعید وعشرة امثاله معه یااباهریرة قال ابوهریرة ماحفظت الاقوله ذلک لک ومثله معه قال ابوسعید اشهد انی حفظت من رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه واٰله وسلم قوله ذلک لک وعشرة امثاله قال ابوهریرة وذلک الرجل اٰخر اهل الجنة دخولا الجنة.

[بخاری : ۷۴۳۷، ۶۵۷۳، نسائی : ۱۱۳۹]

ترجمه : دابو هریره رضی اللّٰہ عنه نه روایت دے چه خلقو رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه واٰله وسلم ته اووے ولے مونږ به خپل پروردګار لره او وینو دقیامت په ورځ رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه واٰله

وسلم او فرمائیل ولے تاسو یو بل ته تکلیف ور کوی د څوارلسمے شپے د سپوږمۍ په لیدو کښې؟(یعنی د ازدهام او هجوم دوجے نه)یا تاسو ته څه تکلیف وی د څوارلسمے شپے د میاشتے په لیدو کښې؟خلقو اووے نه یا رسول الله حضرت او فرمائیل ! تاسو ته څه مشقت وی یا یو بل ته صدمه رسوی د نمر په لیدو کښې په هغه وخت چه وریځ نه وی ؟(او آسمان صفاوی)خلقو اووے نه !حضرت فرمایل !بیا په دے شان (یعنی بغیر د تکلیف)او مشقت او زحمت او ازدهام نه)به تاسو خپل پروردګار لره او وینی. حق تعالی به خلقو لره د قیامت په ورځ جمع کړی نوورته به او فرمائی چا چه د څه شی عبادت کوؤ د هغه سره شی بیا چه چاد نمر عبادت کوؤ هغه به د نمر سره وی او چا چه د سپوږمۍ عبادت کوؤ هغه به د سپوږمۍ سره او چا چه د طاغوت عبادت کوؤ هغه به د طاغوت سره شی او د امت د محمد به باقی پاتے شی او په دے کښې به منافقان خلق هم وی بیا به الله تعالی هغوی ته راشی په داسے صورت چه هغه به هغوی نه پیژنی او او به وائی چه زه ستاسو پرودګار یم هغه به او وائی پناه غواړو مونږ ستانه او مونږ په دے ځائے ولاړ یو تر هغے پورے چه زمونږ پرودګار به راشی نو مونږ به هغه او پیژنو بیا به الله تعالی هغوی ته راشی او اوبه وائی زه ستاسو رب یم هغه به او وائی ته زمونږ رب نے بیابه د هغه سره شی او د دوزخ په دغه وخت داوی یا الله مونږبچ کړه (داد شفقت په لاړ سره به وائی او په خلق باندے)او په دوزخ کښې کونډے دی اود لوسپنے چه د هغے سر کوږوی او په تنور کښې چه غوبنه کله غورځوی نو په کو نهوکښې نے ور غورځوی لکه د سعدان اغزی (سعدان یو جهاړدے اغزووالا حضرت صحابهٔ ته او فرمایل !تاسو سعدان لیدلے دے ؟هغوی او وے ها .لیدلے دے یا رسول الله !داغزو په شکل وی (یعنی کږو سوکووالا)خو په دے څوك نه دی پو هه سیوا د الله نه چه هغه کونډے به څومره لوئے لوئے وی هغه خلقو لره په دوزخ کښې په زور را کاږی (یعنی فرشتے به په هغه کونډو سره را کاږی دوز خیانو لر ه)د هغو د بدو عملو نو په وجه سره اوس به بعضے په هغوی

نه بدله ور کوی دعمل خپل تردے پورے چه هر کله الله پاك دخپلو بند یگانو دفیصلے نه فراغت لو مومی او اوٚ غواړی چه رااو کاږ م د دوزخ والا ؤنه په خپل رحمت سره چه غواړی هغه لره نو فرښتو ته به حکم او کړی رااو باسیٔ د دوزخ نه هغه چالره چه هغوی دخدائے سره څوك شریك کړے نه وی په هغوی باندے خدائے رحمت کول غواړی چه هغه لآاِلٰهَ اِلّااللّٰهُ و ائی نو فرښتے به په دوزخ کښ داسے خلقو لره پیژنی او هغوی به پیژنی دسجدے دنشانو نونه۔ اور سړی لره سوزوی مگردسجدے نشانو لره چه خدائے تعالی دهغے سیزل په اور باندے حرام کړے دی بیابه هغه د دوزخ نۀ راو یستلے شی وراتۀ شوی سیزلے شوی هر کله چه په هغوی باندِیآبِ حَیات او نوستلے شی هغه به تروتازه داسے راپَاسی لکه چه دکچرے په بهاؤکښ دانه زرراتوکیږی ۔(او به چه کوم ځائے ته خزله کچرا خاؤر په بهید وکښ رلوړی هلته دانه ښه راخیژی او زر مزیداره او شنه کیږی دغه شان به هغه جهنمی هم دآب حیات اچولو سره تازه شی او دسوزید ونشا نونه به ترنه بالکل ختم شی)ددے نه پس به الله تعالی دخپلو بند بند یکا نو د فیصلے نه فراغت کوی او یو سړے به باقی پاتے شی چه دهغه مخ به د دوزخ په طرف وی او دے به په جنتیا نو کښ روان وی هغه به سوال او کړی اے زمارَبه زما مخ دجهنم د طرف نه واړه وه دهغے لپیټ زه سیزلے یَم بیابه دخدائے نه دعا کوی هر کله چه خدائے تعالی ته منظوره شی بعد دهغے نه به ورته الله تعالی لو فرمائی کچرے زه ستا داسوال پوره کړم نو ته به بل سوال کوے هغه به او وائی نه زه به بیا څه سوال نه کوم اوځنگه چه خدائے ته منظوره وی هغه به قول اقرار او کړی بیابه الله تعالی دهغه مخ دَدوزخ دَطرفنه واړه وی۔ (دجنت طرفته)هر کله چه جنت طرفته دهغه مخه شی نو چپ به وی دکومے پور چه خدائے ته منظوره وی بیابه اووائی !اے ربه ما دجنت دروازے ته اورسوه الله پاك به ورته او فرامائی تا څه څه قول او اقرار کړے وو ۔ چه زه به بیا دویم سوال نۀ کووم څومره دغا باز نے هغه به او وائی اے ربه او دعا به کوی دهغے پورے چه

پروردگار به ورته او فرمائی !ښه ده که زه ستا دا سوال پوره کړم نو بیابه ته نور څه غواړے هغه به او وائی نه قسم دے ستا دعزت او څه څه قولونه و اقرار به اوکړی څنګ چه الله جلا جلاله ته منظوره وی آخر به الله تعالی هغه لره دجنت دروازے ته او رسوی هر کله چه هلته ولاړوی نو تمام جنت به ده ته ښکاریږی او کوم څه چه په هغے کښې نعمت یا خوشحالی او راحت دے هغه ټوله به ورته ښکاری بیابه دیوے مودے پورے دکومے پورے چه خدائے ته منظوره وی هغه به چُپ وی ددے نه پس به عرض او کړی اے ربه! ماجنت ته دننه بوځه الله تعالی به ورته او فرمائی تا څه اقرار کړے وو تاخو ویلی وو چه اوس به زه څه سوال نه کوم بدی دے وی ستا اے دآدم ځو یه څومره مکاړئے هغه به عرض او کړی اے زما ربه زه ستا په مخلوق کښې د بد نصیبه کیدو نوره دعا غواړم تردے پورے چه الله جل شانه به مسکے شی او هر کله چه خدائے تعالی مسکے کیږی نو او به او فرمائی ښه ده ځه جنت ته هر کله چه هغه جنت ته دننه ځی نو خدائے تعالی به هغه ته فرمائی اوس چه ته څه آرزو کوے هغه به کولے شے او غوښتلے شے تردے پورے چه الله تعالی به نے هغه ته یاده وی چه فلانے څیز او غواړه فلانے څیز او غواړه هر کله چه د هغه اآرزو ګانے ختم شی نو حق تعالی به ورته او فرمائی مونږ داتمام تاله در کړو او ددے سره دومره نور درکړم (یعنی ستادخواهشاتونه دو چند واخله سبحان الله څو مره کرم او رحمت دے دالله تعالی په خپلو بندیګانو باندے او چه هغه کرم نه کوی نو نو ربه نے څوك کوی دغه مالك دے دغه خالق دے دغه رازق دے دغه پالونکے دے)عطاء بن یزید ویلے دی کوم چه ددے حدیث راوی دے چه ابو سعید خدریؓ هم ددے حدیث په روایت کولو کښې دابو هریرهؓ موافق وو چرته خلاف نه وو خو ابو هریرهؓ چه هر کله دا اووے چه الله تعالی به هغه ته او فرمائی مونږداټول تاله در کړل او دو مره به نور درکړم نو ابو سعید اووے لس حصه به زیاتے در کوم نو ابو هریرهؓ اووے چه ماته خو دا خبره یاده ده چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دا فرمائیلے دی چه

مونږداتول تالره درکړو او دومره به نور درکړو ابو سعید وانی زه ګواهی ورکوم چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ا فرمائیلی دی چه مونږداتول تاله درکړل او لس حصے به زیاتے درکړو ابو هریرهٔ ونیلی دی داهغه سړے دے چه دټولونه به په اخر کښ جنت ته ځی۔ نو نورو جنتیانو ته معلومه نه ده چه به څه څه نعمتونه میلاو یږی)

فائده :۔ داتشبیه مے د ښدلو نمر لره دخدانے پاك د لیدلو سره نه تشبیه دنمر دخدانے سره ولے چه نمر یو مخلوق دے په څه خبره کښ دخالق په مثل نه شی کیدے الله تعالی فرمائی لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْئٌ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ دهغه مساوی څه څیز نشته او هغه اوری وینی مقصود دادے چه دخدانے په دیدار کښ به دڅه قسم هجوم نه معلومیږی نه په په لیدو سکی باندے یو په یو رالویږی صدمه به رسوی بلکه هریو به په خپل ځائے باندے کمال فراغت او راحت سره خدائے پاك لره دینی ۔لکه څنګه چه په دنیا کښ دڅوارلسمے شپے دمیاشتے په لیدو کښ یاد نمر په لیدوکښ څه تکلیف نه وی طاغوت ویلے شی هغه څیز ته دکوم څیز چه عبادت کولے شی سیواد خدائے نه داقول دے دلیث او ابو عبید او کسانی او دجمهور اهل لغتو او ابن عباس او مقاتل او کلبی وغیرهم ویلے دی چه طاغوت شیطان ته ویلے شی او بعضو ویلے دی بُت ته ۔ (نوویؒ)

په السراج الو هاج کښ دی چه ورمبی معنی ښه ده او هغه شامله ده د اولیاؤ په قبر پر ستو پورے او ددرویشانو او عالمانو په تقلید کوونکو پورے (چه هغه دهغوی تقلید دخدانے او درسول په ارشاد باندے مقدم کوی او تمامو مشرکین او مبتدعینو لره په منافقو مؤمنانو کښ پټ شوے نو هلته به هم دمؤمنانو سره یو ځائے وی او دهغوی او دمؤمنانو په مینځ کښ به یو روك راشی دهغے دننه به رحمت وی او دمخے نه به عذاب معلومیږی بس منافق به تر ے نه جداشی او دمؤمنانو رنړابه دهغوی نه ختم شی او بعضو ویلے دی چه داخلق به دحوض نه شړلے کیږی او هغوی ته به ونیلے شی لرے شی لرے شی

(نووی)لاامعرفت دحق سبحانه وتعالی یا خوبه په دے شان سره وی چه خدائے تعالی به په خپل قدرت کا مله سره دهر مؤمن په زړه کښ خپل جمال په دے شان ذهن نشین کړی چه هغه به ورمبی صورت لره دخدائے دصورت نه مغائراو مبائن گنړی یا دا معرفت به دهغه صفاتو دوجے نه وی کوم چه خدائے تعالی دخپل ځان دپاره بیان کړے دی چه هغه دچا مثل نه دے دهغه برابر څوك نشته او هغه پاك دے دهر عیب نه بیا چه هر کله ورمبت صورت نبکاری نو هغه ددے صفاتو نه خالی وی ځکه مؤمنان به هغت ته خدائے نه وانی هر کله چه خدائے په خپل اصلی صورت کښ ظاهر شی نو هغه به په تمامو صفات مقدسه و باندے مشمل وی او مؤمنان به هغه او پیژنی او خپل خدائے به ئے او منی او دهغه سره به شی۔

په دے حدیث کښ دخدائے دپاره خوخبرے ثابتے شوے دی یو خوصورت دویم راتلل دریم خندل خلورم خبرے کول او دعلماء اهل سنت ددے قسم په ایتونو او حدیثونو کښ دوه مذهبه دی یو حق دے او یو خطا۔ حق هغه دے چه هغه داکثرو سلفو قول دے بلکه دټولو چه دهغت په معانو کښ زیاتے خبرے کول نه دی پکار بلکه په هغے باندے ایمان راوړل پکار دی او د هغت ظاهر و معنو لره قبلو پکار دی ۔او په څه شان چه دا آیاتونه او حدیثونه راغلے دی په هغه شان چلو ل پکار دی او داسے اعتقاد ساتل پکار دی چه هغه خدائے د بزوګئی او جلال لائق دے او داګنړل بکار دی چه دخدائے په مثل څه شے نشته دے .او داقول دیو جماعت دمتکلمینو هم دے چه هغه محققین دی او په دے کښ سلامتی ده دهر یو آفت نه او په دے باندیے تلے دی دتمام امت سلف او امام او په دے باب کښ لوئے عمده کتاب "کتاب الجو انزو الصلات "دے د سید ابو الخیر طیب قنوجی ۔

شیخ محمد بن محسن عباس په کتاب تنزیه الذات والصفات کښ دخدائے دراتلو په بحث کښ لیکلے دی چه الله تعالی فرمائیلے دی هغه منتظر دی دخدائے دراتلودوریځے په سوری

کښې او فرمائي راغې ستارب يا راغلې ستا سورب او دصفا تو په باب کښې زمونږ قول داد ے
چه مونږ ايمان راوړے دے په هغه باندے او د هغه په وجود پوهه يو اوڅه قدرے هغه لره
پيژنو خو نه کيفيت بيانو ؤنه مثال نه مشابهت ورکو ؤپه الله باندے دالله دمراد موافق او
دهغه په مثل څه خير نشته دے ۔بيائے بيان کړو هريو صفت لکه استواء او علو او وجه
اويمين او کف ساق او نف اوعين او يد او اصبع او شمال او قدم اورجل او نزول او کلام او
قول او روء يت او فوق او ذحقو ۔ او دليل راغلے په دے باندے دايتونو او احاديثونه او قوي نے
کړو دسلفو مذهب لره او ردنے کړو هغه تاويل لره کوم چه متکليمنو کړے دے او چه په
هغے باندے ورستي خلق تلے دی او خطاهغه دے چه هغه اکثر دمتکلمينو مذهب دے
۔يعني دهغوی تاويل کول پکار دی دهرے يوے موقعے په موافق څنګه چه هغه په دے
حديث کښې وائي چه دراتلو نه مراد دادے چه مؤمنان به هغه لره ويني اودا دراتلو معانے
مجازي دی يا د دے نه دفرشتو راتلل مقصود دی قاضي عياضؒ ويلي دی چه زمونږ په نزد
دا معني بهتره ده حالانکه دامعني غلط ده داهل حقو په نزد او حاصل دادے چه دابه
دمؤمنانو اخير امتحان وی بيا چه هر کله هغه دوئ ته او وائي زه ستا سورب يم نو دوی به
انکار کوی او دهغه نه به پناه غواړی بيابه الله جل جلاله په خپل هغه صورت باندے
تجلي او کړی په کوم شان چه مؤمنان هغه لره پيژني او په کو موصفاتو چه هغه لره
پيژندلے شي اګر چه وړاند به نے خدائے ليدلے نه وی خو دهغه دصفاتونه به هغه لره پيژندلے
شي چه داز مونږه رب دے اووائي به ته زمونږه رب نے۔

خطابیؒ ويلے دی کيدے شي چه پناه غوښتل خاص دمنافقانو فعل وی او قاضیؒ
عياضؒ ددے انکار کړے نوویؒ ويلے دی د قاضي عياضؒ قول صحيح دے او دظاهر حديث نه
دغه وتلے دے چه انکار به دمنافقينو سره سره خاص کيږی نه او دهغه سره دکيدو داغرض
دے چه دهغه دحکم پيروی به کوی او جنت ته به څي يا به دهغه دفرښتو سره شي او جنت

نه به خي او داهم يو قسم تاويل دے چه دهغے دليل نشته . (السراج الوهاج)

کوم ته چه خلق پل صراط واني او خوند انو دحق هغے لره ثابت کړے دے او سلفو په هغے باندے اجماع کړے ده او هغه يو پل دے دجهنم دپاسه خوټولو خلقو لره به په هغے باندے تيريدل وي نو مؤمنان به دخپلے خپلے درجے په موافق په هغے باندے تيريږي لو کافرا به دهغے نه غور خيږي او جهنم ته به ځي الله تعالى د مونږ بچ کړي . او زمونږ داصحاب سلف نه منقول دے چه داپل دويخته نه زيات نرے او دتورے نه زيات تيره دے لکه چه دابو سعيد خدريؓ نه روايت دے دنو رو پيغمبر انو وينا يعني دپل نه دتيريدو په وخت په وجه دهول او يرے چه د قيامت په ورځ او وخت خو خلق خبرے کوي او مريدان به دخپلو پيرانو سره جنگ کوي . (نوویؒ) . . .

په حديث کښې دادے . فَمِنْهُمُ الْمُؤْمِنُ بَقِيَ بِعَمَلِهِ . ددے ترجمه داده کومه چه بيان شوه او په بعضو نسخو کښې داسے دي الموثق بعمله يعني بعضے به دهغوي نه راخکلے کيږي دخپل عمل په وجه سره او په بعضے نسخو کم دادي الموبق بعمله يعني بعضے ددوي نه خو به هلاکيږي په خپل عمل سره او په بعضے نسخو کښې داسے دي فَمِنْهُمُ الْمُؤْمِنُ بَقِيَ بِعَمَلِهِ يعني بعضے دهغوي نه به مؤمنان وي چه هغه به باقي پاتے شي (دراښکلو نه)دخپل عمل په وجه سره . نووي وئيلے دي زمونږ په ښار کښې په اکثر و نسخو کښې دغه شان دي داترجمه ده دمجازي لکه چه په حديث کښې تيره شوه اوپه بعضے نسخو کښې مخرول دے يعني کټ کولے به شي دهغه غو ښے يا به غوز ځولے شي او په بعضے نسخو کښې مجرول دے يعني هلاکت ته نزدے . نوويؒ وائي دظاهر حديث نه داخبره وتلے شي چه دجهنم اور به دسجدے اووه اندامونو لره نه شي سيزلے چه هغے لره بنده د سجدے په حالت کښې په زمکه باندے لګوي يعني مخ او دواړه لاسونه او دواړه زنګونان او دواړه خپے او دغه شان وئيلے دي بعضے علماؤ او قاضي عياضؒ د دے نه انکار کړے دے او وئيلے ئے دي

دی چه دسجدے دنشانو نونه صرف تندے مراد دے لیکن وړے قول مختار دے۔

اوس کۀ څوك داوانی چه مسلم مخکښې په خپله روایت کړے دے چه بعضے خلق به دجهنم نه رااوځی بالکل سیزلے شوی سیوادمخ نه نودهغے نه به نور تولو اندا مونه دسجدے سالم وی په نظر عمرم ددے حدیث او هغه حدیث خاص دے دهغه خلقو سره (انتهی)

نووی ونیلے دی دخدائے دخندا نه دهغه راضی کیدل مقصود دی او دخپل نعمت ظاهره ول او دا تاویل غلط دے او نووی دورستو متکلمینو په تقلید سره دے لره لیکلے دے۔ او اصل دادے لکه چه سمع او بصر او کلام وغیره دالله جل سبحانه صفات دی او هغه محمول دی په خپلو حقیقی معنون باندے دغه شان ضحك یعنی مسکراهټ دهغه دصفتونو نه یو صفت دے او لکه څنګه چه دخدائے او ریدل او لید ل او خبرے کول دمخلوق داوریدلو او لیدلو اوخبرو کولو پشان نه دی دغه شان دهغه خندل هم د مخلوق دخندلو په شان نه دی. او هغه پاك دے په خپل ذات او صفات کښې دمخلوق دمشابهت نه دااعتقاد دے دصحابهٔ وا و تابعینو او دسلف اآئمه ؤدعلما ؤلکه. چه څو ځله پورته تیر شول .

(۴۵۲)عن عطاء بن یزید اللیثی وابی هریرة اخبرهما ان الناس قالوا للنبی ﷺ یا رسول الله ﷺ هل نری ربنا یوم القیامة ؟ وساق الحدیث بمثل حدیث ابراهیم ابن سعد : [بخاری. ۸۰۶، ۶۵۷۳]

ترجمه : عطاء بن یزید لیثی او ابو هریرهؓ دواړه فرمانی چه خلقو د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو اے د الله رسوله ! ولے مونږه به د قیامت په ورځ باندے الله پاك لره وینو ؟ باقی ئے د ابراهیم بن سعد والاد حدیث هم معنی حدیث بیان کړو.

(۴۵۳)عن همام ابن منبه قال هذاماحدثنابه ابوهریرة عن رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فذکراحادیث منهاقال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ان ادنی مقعد احدکم من الجنة ان یقول

لہ تمن فیتمنی ویتمنی فیقول لہ ھل تمنیت فیقول نعم فیقول لہ فان لک ماتمنیت ومثلہ معہ | بخاری : ۱۵۷۳، ۸۰۱ |

ترجمہ : د همام بن منبه نه روایت دے دا هغه حدیثو نه دی چه بیان کړے دی مونږ ته ابو هریره رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه او بیان ئے کړل څو حدیثو نو له د هغے نه یو دا وو چه فرمائیلے دی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم چه ستاسو نه د کمے درجے والا جنتی به ستا سو نه هغه وی چه هغه ته به اوویلے شی آرزو او کړه هغه به آرزو کوی او آرزو به کوی بیا به هغه ته او ویلے شی تا آرزو او کړه هغه به او وائی ها! پس الله تعالی به هغه ته او فرمائی تاله به دا تمامے آرزو گانے درکړم او دومره نورے۔

۴۵۲ عن ابی سعیدن الخدری رضی اللہ عنہ ان ناسافی زمن رسول اللہ صلے اللہ علیہ والہ وسلم ھل نری ربنایوم القیمۃ قال فھل تضآرون فی رؤیۃ الشمس بالظھیرۃ صحوا لیس معھاسحاب وھل تضآرون فی رؤیۃ القمر لیلۃ البدر صحوا لیس فیھاسحاب قالوا لایارسول اللہ قال وماتضآرون فی رؤیۃ اللہ تبارک وتعالی یوم القیمۃ الا کماتضآرون فی رؤیۃ احدھما اذاکان یوم القیمۃ اذن موذن لیتبع کل امۃ ماکانت تعبد فلایبقی احد کان یعبد غیر اللہ من الاصنام ولاانصاب الایتساقطون فی النار حتی اذالم یبق الامن کان یعبد اللہ من بر وفاجر وغبر اھل الکتاب فیدعی الیھود فیقال لھم ماکنتم تعبدون قالوا کنانعبد عزیر بن اللہ فیقال کذبتم مااتخذاللہ من صاحبۃ ولاولد فما ذا تبغون قالوا عطشنایاربنافاسقنافیشار الیھم الاتریدون فیحشرون الی النار کانھاسراب یحطم بعضھابعضافیتساقطون فی النار ثم یدعی النصاری فیقال لھم ماکنتم تعبدون قالوا کنانعبد المسیح ابن اللہ فیقال لھم کذبتم مااتخذاللہ من صاحبۃ ولاولد فیقال لھم ماذاتبغون فیقولون عطشنایاربنافاسقنافیشار الیھم الاتردون فیحشرون الی جھنم کانھاسراب یحطم بعضھابعضافیتساقطون فے النار حتی اذالم یبق الامن کان یعبد اللہ من بر وفاجر اتاھم رب العلمین فے ادنی صورۃ من التی راوہ فیھاقال فماذا تنتظرون تتبع کل امۃ ماکانت تعبد قالوا ایاربنافارقنا الناس فی

الدُّنْیَا اَفْقَرَ مَا كُنَّا اِلَیْهِمْ وَلَمْ نُصَاحِبْهُمْ فَیَقُوْلُ اَنَا رَبُّكُمْ فَیَقُوْلُ نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْكَ لَا نُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَیْئًا مَرَّتَیْنِ اَوْ ثَلَاثًا حَتّٰی اِنَّ بَعْضَهُمْ لَیَكَادُ اَنْ یَّنْقَلِبَ فَیَقُوْلُ هَلْ بَیْنَكُمْ وَبَیْنَهٗ اٰیَةٌ فَتَعْرِفُوْنَهٗ بِهَا فَیَقُوْلُوْنَ نَعَمْ فَیُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ فَلَا یَبْقٰی مَنْ كَانَ یَسْجُدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ مِنْ تِلْقَآءِ نَفْسِهٖ اِلَّا اَذِنَ اللّٰهُ لَهٗ بِالسُّجُوْدِ وَلَا یَبْقٰی مَنْ كَانَ یَسْجُدُ اتِّقَآءً وَّرِیَآءً اِلَّا جَعَلَ اللّٰهُ ظَهْرَهٗ طَبَقَةً وَّاحِدَةً كُلَّمَا اَرَادَ اَنْ یَّسْجُدَ خَرَّ عَلٰی قَفَاهُ ثُمَّ یَرْفَعُوْنَ رُءُوْسَهُمْ وَقَدْ تَحَوَّلَ فِیْ صُوْرَتِهِ الَّتِیْ رَاَوْهُ فِیْهَا اَوَّلَ مَرَّةٍ فَقَالَ اَنَا رَبُّكُمْ فَیَقُوْلُوْنَ اَنْتَ رَبُّنَا ثُمَّ یُضْرَبُ الْجِسْرُ عَلٰی جَهَنَّمَ وَتَحِلُّ الشَّفَاعَةُ وَیَقُوْلُوْنَ اَللّٰهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ قِیْلَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَا الْجِسْرُ قَالَ دَحْضٌ مَّزِلَّةٌ فِیْهَا خَطَاطِیْفُ وَكَلَالِیْبُ وَحَسَكٌ تَكُوْنُ بِنَجْدٍ فِیْهَا شُوَیْكَةٌ یُقَالُ لَهَا السَّعْدَانُ فَیَمُرُّ الْمُؤْمِنُوْنَ كَطَرْفِ الْعَیْنِ وَكَالْبَرْقِ وَكَالرِّیْحِ وَكَالطَّیْرِ وَكَاَجَاوِیْدِ الْخَیْلِ وَالرِّكَابِ فَنَاجٍ مُّسَلَّمٌ وَّمَخْدُوْشٌ مُّرْسَلٌ وَّمَكْدُوْسٌ فِیْ نَارِ جَهَنَّمَ حَتّٰی اِذَا خَلَصَ الْمُؤْمِنُوْنَ مِنَ النَّارِ فَوَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ مَا مِنْ اَحَدٍ مِّنْكُمْ بِاَشَدَّ مُنَاشَدَةً لِّلّٰهِ فِی اسْتِقْصَآءِ الْحَقِّ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِیْنَ فِی النَّارِ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا كَانُوْا یَصُوْمُوْنَ مَعَنَا وَیُصَلُّوْنَ وَیَحُجُّوْنَ فَیُقَالُ لَهُمْ اَخْرِجُوْا مَنْ عَرَفْتُمْ فَتُحَرَّمُ صُوَرُهُمْ عَلَی النَّارِ فَیُخْرِجُوْنَ خَلْقًا كَثِیْرًا قَدْ اَخَذَتِ النَّارُ اِلٰی نِصْفِ سَاقَیْهِ وَاِلٰی رُكْبَتَیْهِ ثُمَّ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا مَا بَقِیَ فِیْهَا اَحَدٌ مِّمَّنْ اَمَرْتَنَا بِهٖ فَیَقُوْلُ عَزَّوَجَلَّ ارْجِعُوْا فَمَنْ وَّجَدْتُّمْ فِیْ قَلْبِهٖ مِثْقَالَ دِیْنَارٍ مِّنْ خَیْرٍ فَاَخْرِجُوْهُ فَیُخْرِجُوْنَ خَلْقًا كَثِیْرًا ثُمَّ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِیْهَا اَحَدًا مِّمَّنْ اَمَرْتَنَا ثُمَّ یَقُوْلُ ارْجِعُوْا فَمَنْ وَّجَدْتُّمْ فِیْ قَلْبِهٖ مِثْقَالَ نِصْفِ دِیْنَارٍ مِّنْ خَیْرٍ فَاَخْرِجُوْهُ فَیُخْرِجُوْنَ خَلْقًا كَثِیْرًا ثُمَّ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِیْهَا مِمَّنْ اَمَرْتَنَا اَحَدًا ثُمَّ یَقُوْلُ ارْجِعُوْا فَمَنْ وَّجَدْتُّمْ فِیْ قَلْبِهٖ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ مِّنْ خَیْرٍ فَاَخْرِجُوْهُ فَیُخْرِجُوْنَ خَلْقًا كَثِیْرًا ثُمَّ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِیْهَا خَیْرًا وَّكَانَ اَبُوْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیُّ یَقُوْلُ اِنْ لَّمْ تُصَدِّقُوْنِیْ بِهٰذَا الْحَدِیْثِ فَاقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ وَّاِنْ تَكُ حَسَنَةً یُّضٰعِفْهَا وَیُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِیْمًا فَیَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ شَفَعَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ وَشَفَعَ النَّبِیُّوْنَ وَشَفَعَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَلَمْ یَبْقَ اِلَّا اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ فَیَقْبِضُ قَبْضَةً مِّنَ النَّارِ فَیُخْرِجُ مِنْهَا قَوْمًا لَّمْ یَعْمَلُوْا خَیْرًا قَطُّ قَدْ عَادُوْا حُمَمًا فَیُلْقِیْهِمْ فِیْ نَهَرٍ فِیْ اَفْوَاهِ الْجَنَّةِ فِیْ حَمِیْلِ السَّیْلِ اَلَا تَرَوْنَهَا تَكُوْنُ اِلَی الْحَجَرِ اَوْ اِلَی الشَّجَرِ مَا یَكُوْنُ اِلَی الشَّمْسِ یَكُوْنُ اُصَیْفِرَ وَاُخَیْضِرَ وَمَا یَكُوْنُ مِنْهَا اِلٰی

الظلّ یکونُ ابیض فقالوا یارسول الله کانّک کنت ترعی بالبادیة قال فیخرجون کاللؤلوء فی رقابهم الخواتم یعرفهم اهل الجنّة هؤلاء عتقاء الله الّذین ادخلهم الله الجنّة بغیر عمل عملوه ولا خیر قدّموه ثمّ یقول ادخلوا الجنّة فما رایتموه فهو لکم فیقولون ربنا اعطیتنا مالم تعط احدامن العٰلمین فیقول لکم عندی افضل من هذا فیقولون یاربنا ای شیئ افضل من هذا فیقول رضائی فلااسخط علیکم بعده ابدا [بخاری : ۷۴۳۹، ۴۵۸۱]

ترجمه : دابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے څه خلقو درسول الله صلی الله علیه واله وسلم په زمانه کښ او وے یا رسول الله ولے مونږ به او وینو خپل پروردګار لره دقیامت په ورځ؟ هغه او فرمایل ها! اوبه وینئ . تا سو ته څه تکلیف وی دنمر په لیدو کښ دغرمے په وخت هر کله چه کهلاؤ وی او وریځ نه وی؟تا سو ته څه تکلیف وی دسپوږمۍ په لیدو کښ دخوار لسمے شپے هر کله کهولاؤ وی او وریځ نه وی؟هغوی او وے نه حضرتؐاور فرمائیل!تاسو ته به دومره تکلیف وی دالله تعالی په لیدو کښ دقیامت په ورځ خومره چه دسپوږمۍ او دنمر په لیدو کښ وی هر له چه دقیامت ورځ شی نو یو آواز کو نکے به آواز او کړی چه هر یو ګروه یو ځائے شئ دخپلو خپلو معبو دانو سره بیا چه څومره خلق سیوا دخدائے نه دبل چا عبادت کوی لکه دبتا نو په هغوی کښ به څوك نه بچ کیږی اوټول نه تهول به په دوزخ کښ غورځیږی او باقی به پاتے شی هغه خلق چه هغه دالله عبادت کو ی که نیك وی یا بد ذ مسلمانانو نه او څه داهل کتابو نه.

بیابه یهودیان را اوغو ښتلے شی او هغو ته به او ویلے شی تا سود چا عبادت کو لو ؟هغه به او وائی مونږه عبادت کوؤ دحضرت عزیر علیه السلام چه هغه دالله ځوے وو هغوی ته به جواب میلاؤ شی تا سودروغ ویلو الله جل شانه نه څوك بی بی کړے ده او نه دهغه ځوئ شوے دے اوس تاسو څه غواړئ ؟ هغه به اووائی اے ربه جل جلاله زمونږ !مونږ تږی یو په مونږ باندے اوبه اوڅکوه حکم به او شی لا ړشئ اوڅکئ بیابه هغه

رابنکو دے شی دجهنم طرفته هغوی ته به داسے معلومیږی لکه سراب (په تیزنمر کښ چه په شګه شګه زمکه کښ دلرے لکه داوبوښکاری)او هغه به داسے شغلے وهی لکه چه یو لره یو خوری او هغه به تمام او غور ځیږی په اور کښ ددے نه پس به نصاری را وبللے شی او دهغوی نه به سوال او شی چه تا سود چا عبادت کوو؟ هغه به اووائی چه مونږ عبادت کوؤ دحضرت مسیح چه دالله ځوئ دے هغوی ته به جواب میلاؤشی چه تا سودرو غجن یئ د الله جل جلاله نه ځوك ښځه شته او نه د هغه ځوئ شته دے بیابه هغوی ته او ویلے شی اوس تا سو څه غواړئ ـ هغه به او وائی اے ربه !مونږ ه تږی یو په مونږ باندے اوبه اوڅکوه حکم به او شی ځئ!بیا هغه اول به په منهو زغلی دجهنم طرفته ګویا هغه به سراب وی او درانیوؤ دیرے نه به هغه خپل په خپله یو یو لره خوری بیا به هغه تول ارتا وه ولے شی په جهنم کښ تردے پورے چه هر کله څوك باقی پاتے نه شی سیو ادهغه خلقونه چا چه دالله عبادت کوؤکه نیك وی یا بد په دغه وخت به مالك ددواړو جهانو دهغوی خواله راشی په داسے صورت کښ چه هغے لره هغوی پیژنی او اوبه فرمائی تاسو دڅه خبرے منتظر یئ هر یو ګروه ملګرے شو دخپل خپل معبود سره هغه به او وائی اے زمونږ ربه مونږخوپه دنیا کښ ددغه خلقو ملګرتیانه وه کړے (یعنی دمشرکانو)هر کله چه مونږ دهغوی ډیر محتاجه وو ـ نه دهغوی په محبت کښ پاتے شوے وو بیابه هغه او فرمائی زه ستا سورب جل جلاله یم هغه به او وائی مونږه په الله سره پناه غواړو ستانه د الله سره چالره نه شریك کوؤدوه یادرے خبرے به دلته کوی تردے پورے چه په هغوکښ به بعضے خلق اوړید وته نزدے شی (ولے چه دامتحان به ډیر سخت وی او شبهه به په زړهٔ کښ زور کوی)بیابه هغه او فرمائی ښه ده تا سود خپل رب څه نشانئ پیژنئ چه په هغے سره هغه او پیژنی هغه به اووائی ها! بیابه دخدائے پنډۍ کهلاؤشی او کوم سړے چه خدائے ته (په دنیا کښ)دخپل زړهٔ نه (بغیر دجبر او خوف یا ریانه)سجد ه کړے وی هغه ته به هلته

هم سجده میسر وی او کوم سړی چه په دنیا کښې سجده کو له دخپل ځان بچ کو لو دپاره (دتورے دیرے نه او په زړه کښې دهغه ایمان نه وو یا خلقوته دښودنے دپاره)نو دهغه ملا (شا)به الله یوه تخته کړی هر کله چه هغه سجده کول غواړی نو پړ مخے به په زمکه رالو یږی بیا چه هغه خلق خپل سر او چتوی نو خدائے تعالی به په هغه صورت کښې وی په کوم صورت کښې وی په کوم صورت کښې په وړاندے هغه لیدلے شوے وو او اوبه وائی چه زه ستا سورب یم هغه به تول اووائی ته زمونږ رب ئے ددے نه پس به په جهنم باندے یو پل کښودے شی او سفارش (شفاعت)به شروع شی او خلق به وائی یا الله مونږ بچ کړے یا الله مونږبچ کړے خلقو اووے یا رسول الله پل به څنګه وی هغه او فرمائیل دخوئیدو مقام به وی هلته به کونډے وی او اغزی لکه چه دنجد په ملك کښې یوه کا نټا وی چه هغے ته سعدان وئیلے کیږی یعنی (کوږ سر والا)مؤمنان به په هغه پل باندے تیریږی بعضے دسترګو په رف کښې بعضے تیزو اسو نو په شان بعضے داو ښانو په شان او بعضے به بالکل دجهنم نه بچ بچ پورے وځی۔(یعنی هغوی ته بالکل صدمه نه رسیږی)لیکن بعضے به څه صدمه او مومی خو اوبه رسی (یعنی پورے به وځی)او بعضے به په تکلیفونو موندو سره جهنم ته غورځیږی هر کله چه مؤمنان دجهنم نه خلاصے او مومی نو قسم دے په هغه ذات چه دهغه په لاس کښې زما روح دے چه څوك په تا سو کښې دخپل حق دپاره جګړه کو نکے دومره نه دے خومره چه هغه جنګ کو نکی وی دخدائے سره دقیامت په ورځ دخپلو هغه رونړو دپاره چه هغه په جهنم کښې وی ۔(دخدائے سره جګړه کونکی یعنی خدائے ته بار بار عرض کونکی دخپلو رو نړودجهنم نه داآزاده ولو دپاره)هغه به وائی اے زمونږ ربه ! دغه خلق (کوم چه اوس په جهنم کښې دی)روژے به ئے نیولے زمونږ سره او مونځ به ئے لو ستلو او حج به ئے کو لو حکم به او شی لا ړشئ او را او باسی ئے دجهنم نه کوم چه تا سو پیژنئ بیابه دهغوی صورتونه په جهنم باندے حرام شی ۔(یعنی دجهنم اوربه دهغو

صورتونو لره بد لولے نه شی او مخ به د هغوی محفوظ وی ددے دپاره چه مومنان هغوی لره پیژنی)او مؤمنان به ډیرو سرو لره دجهنم نه راوباسی په هغوی کښ به بعضو لره اور دنیمو پنډو پورے خوړلے وی بعضو لره دزنګونانو پورے بیابه هغه او وائی اے زمونږ ربه !اوس خو په جهنم کښ څوك باقی پاتے نه شو د هغه سړونه چه د هغوی دویستلو تا حکم کړے وو مونږ ته (یعنی په مونځ روژه او حج کو نکو والا کښ اوس څوك پاتے نهٔ شو ـ)حکم به او شی بیا لاړشئ او دچا په زړه کښ چه ددینار برابر نیکی مو مئ هغه هم را او باسئ بیابه هغه را او باسی ډیر و خلقو لره او او وائی به اے زمونږ ربه !مونږپریے نه خودو چالره په هغه خلقو کښ دکو مو دو یستلو چه تا مونږ ته حکم کړے وو حکم به اوشی بیالاړشئ اودچا په زړهٔ کښ چه دنیم دینار برابر هم نیکی مو مئ هغه هم را او باسئ بیابه هغه ډیرو سړولره راوباسی واوبه وائی اے پروردګار ه !اوس په هغوی کښ څوك باقی پاتے نه شود هغه خلقونه چه د هغوی راویستو تا حکم کړے وو حکم به او شی بیالا ړشئ او دچا په زړهٔ کښ چه دیو ے زرے برابر نیکی وی (بلکه اوس تول هغه قسم خلق دی چه هغه بد کار او کافر وو او درتی برابر هم نیکی په هغوی کښ نه وه ـ)ابو سعید خدریؓ چه هر کله داحدیث بیانولو نوویلے نے وو کښ چرے تاسو ما رښتو نے نهٔ ګنړئ په دے حدیث کښ نو او لولئ دے آیت لره چه انّ اللّٰه لایظلم مثقال ذرّة .دآخره پورے یعنی الله تعالی ظلم نه کوی درتی برابر او کومه چه نیکی وی نو هغه دو چند کوی او دخپل طرف نه ډیر څه ثواب ورکوی بیابه الله تعالی او فرمائی فرښتے به شفارش او کړی او پیغمبرؑ به سفارش اوکړی او مؤمنان به سفارس او کړی اوس څوك باقی پاتے نه شو خو هغه باقی دے چه هغه دټولو رحم کو نکو نه زیات رحم کونکے دے (قربان د هغه د ذات مقدس نه)بیابه یو ه خاؤره دجهنم نه راو باسی دبنیاد مو او په هغے کښ به هغه خلق وی چه هغوی چرته هم نیکی نه وی کړے هغه به سوی سکارهٔ شوے وی بیابه خدائے تعالی هغه خلقو لره یو نهر ته او

غورځوی چه هغه به دجنت په دروازو باندے وی چه دهغے نوم نهر الحیات دے هغه به په هغے کښې داسے زرتر و تازه شی لکه چه دانه د او بو په بهاؤ(ورخ)کښې دخزلے مزلے په ځائے باندے راخیژی (په زور سره لونده)تا سو گورئ دانه کله دگټے سره وی کله دونے سره او کومه چه دنمر په رخ باندے وی هغه سپینه پاتے وی خلقو اووے یا رسول الله تاخو گویا په ځنګل کښې ځناورو لره څرولے دی (دهغے په تمام حال پو هه نے)بیا هغه او فرمایل چه هغه خلق به دغه نهر نه دلعلونو پشان پړقیدلے را اوځی دهغوی په غاړو کښې به پټے وی جنت والا به هغوی لره پیژنی او وائی به چه داد الله تعالی ازاد کړے شوے دی دوئ لره خدائے پاك جنت ورکړے و بغیر دڅه نیکئ او عمل نه بیابه ورته فرمائی جنت ته ځئ او څه څیزته چه گورئ هغه ستاسو دے هغه به او وائی اے زمونږه ربه تا مونږ لره دو مره څه راکړو چه دو مره تا چاله نه دی ورکړی په تمام جهان والاؤ کښې الله تعالی به او فرمائی اوس زما سره ستاسو پاره ددے نه زیات نور هر څه دی هغه به او وائی اے زمو نږ ربه او س ددے نه زیات څه دی الله تعالی به او فرمائی زما رضا مندی او س به زه په تا سو باندے چرته نه غصه کیږم۔

فائده: ۔یعنی الله تعالی ته به کتلو کښې دهجوم او ازدهام تکلیف نه وی دنمر او دسپوږمیی په لیدو کښې دڅه قسم تکلیف دهجوم او اژدهام نه وی او کلام په طریقه دمبالغے دے یعنی که چرے به فرض محال څه تیکلیف وی نو دومره به وی بعضے علماو وئیلے دی چه دارؤیت مغائر دے دهغه رؤیت چه هغه به خاص مومنانو لره په جنت کښې وی او دارؤیت به دامتحان او تمیز دپاره وی دمؤمنانو او مشرکانو په مینځ کښې (طیبی)۔

سراب ویلے شی هغه شګندارے زمکے ته چه هغه دلرے نه دغرمے په وخت په ګرمئ کښې داوبوپشان ښکاره کیږی هر کله چه خواله نے هلته لاړشے نو او به نه وی او ترږے بنده جوړه لاسونه پاتے شی دغه شان حال به دهغه جهنمیانوی چه دتندے دسختے نه به جهنم لره چه به ورته دسراب په شان معلو میږی او به او ګڼړی او په هغے کښې به او غورځیږی پټ ه

غوا ړو مونږ په خدائے پاك سره ـ

دیهودو او نصاریٰ ؤ اصلی دین ډیر خوند ناك او ښه وو او دخدائے دطرفنه راغلے وو لکه داسلام دین خو دهغه ورځو دمذهبو نو عالمانو او اماما نو په خپله نادانی او بے عقلئ سره داسے خبرے په دین کښ شریکے کړلے چه هغه سراسر دعقل خلاف دی او هغوی دااو گنړله چه مونږ دخپلو خپلو پیغمبرانو نه دخدائے ځوئے جو ړوو نو خلق به زمونږ پیغمبر لره د تولونه لوئے او گنړی اوزمونږ په دین کښ به شریك کیږی او دقیامته پورے به دادین دنورو پیغمبرا نو په راتلو سره نۀ منسوح کیږ ی حالانکه که چرے په دغه خلقو کښ لږشان هم عقل وے او پوهه ئے لرلے او غورئے کولے نو داسے لغوه او بیهوده خبرے به ئے په خپل دین کښ نه شریك کولے او خپل دین به ئے نۀ بدنا مولو دیهودو حال چه ددے بیوقوفی په طفیل شوے دے هغه ظاهر دے چه په تمامه دنیا کښ دهغوی تعداد زیات لږپاتے شو او دهغوی تول شوکت او حشمت په خاؤرو کښ میلاؤ شو او دنصریٰ ؤ هم فروغ لره عربو داسلام په زور سره ختم کړو اوس په دے زما نه کښ گو نصریٰ ددُنیاوی علومو او فنو نو په وجه سره په مسلمانا نو باندے غالب شوے دی او په ظاهر ډیر څه یوم تام لری کو دهغودین او مذهب داسلام په دین او مذهب باندے هیڅ کله غلبه نه دے بلکه داز مانه داسے ده چه په دے کښ دعلوم عقلیه ؤ ورځ په ورځ ترقی کیږ ی او خلق په دے پو هه دی چه د نصریٰ ودابے دلیه دعوے چه حضرت مسیح دخدائے ځویٔ وو خو مره وقعت لری ـ

افسوس!صد افسوس !که چرے نصاریٰ داوخت هم دخپل عقل نه کار واخلی او لکه ددنیا په کارو نو کښ چه غور او فکر کوی دغه شان دخپل دین اصولو لره هم جانچ کړی نو داتولـه طمعه کاری او دغا بازی کومه چه دهغوی پادریانو کړے ده به په هغوی باندے ښکاره شی هغه به هم دمسلمانانو په شان دربنتونے توحید په نور سره مشرف شی

که چرے نصارئ دغه لغوه او بے هوده خبره او خلاف عقل یعنی تثلیث لره پر بردی او په توحید باندے راشی نو بیا په هغوی کښ او په مسلمانانو کښ به ډیرکم فرق پاتے شی او دادواړه قومه به یو ځائے په تګ راتګ سره په دنیا کښ ژوند تیره ول شروع کړی او د دشمنئ اووینے تو یه ولو دروازه به بند ه شی بلکه څه عجب خبره ده چه په څو ورځو کښ به نور باقی قومو نه هم ددوئ تا بعدار شی او په عوض دبے اتفاقئ او اختلاف او فساد به اتفاق او اتحاد او امن امان پیدا شی -

خیر داتوله دخدائے په مرضئ باندے موقوف ده خو هغه مسلمان چه خپل ځان ته مسلمان وائی او دمشرکانو پشان دخدائے نه سیواد پیرانو او دپیغمبر انو نذر نیاز وکوی دمصیبت په وخت هغوی ته چغے وهی دهغوی نه دعا غواړی په هر امر باندے هغوئ قادر او متصرف خیال کوی هغه په حقیقت کښ دنصرئ ؤ نه هم بد تر دی خاورے دے پر یو ځی دهغوی په عقلونو باندے هغوی نصارئ ولره داعتراض ځائے ورکړے ګنړلے دے یعنی دهغو دصفاتو نه چه هغه ده بیان کړے دی هغوی لره پیژنی او هغوی کښ یو صفت داهم دے چه هغه ددنیا دڅه مخلوق مشابه نه دے نه دچا جو ړدے پاك دے دهر عیب او نقص نه۔ یعنی په دنیا کښ چه هر کله مونږ لره دخپل معاش په واسطه دهغه خلقو سره دمیلاو یدو او د دوستئ کولو ضرورت وو په هغه وخت خو مونږ میلاؤ نه شو نه مو د هغوی ملګر تیا او کړه بلکه فقرو فاقه مو قبوله کړه او دهغوی مخالفت مو کولو او دهغوی ر دمو کولو -

بیا نن مونږ ته دهغوی څه احتیاج نشته دے مونږ په هغوی پسے ولے ځو او غرض دادے چه مؤمنان به حق تعالی ته عاجزی او دعا کوی چه په دے مشکل کښ زمونږ مدد او کړه دمها جرینو او انصارو په دنیا کښ دا حال وو چه هغوی دخپلو لئ او عزیز داریٔ هم خیال نه دے کړے او دمشرکانو نه جدا شول او مصیبت ئے برداشت کړو او دغه حال پاتے

شوی دی دموحدانو په هره زمانه کښی چه هغوی دمشرکانو دلاس نه تکليفونه او چت کړی دی راضی شوی الله تعالی جل شانه دهغوی نه او زمونږ حشردی د هغوی سره کړی اامين يا رب العلمين

په قران پاك کښی په سورة نون والقلم کښی دی يوم يکشف عن ساقٍ يعنی هغه ورځ چه کهولاؤ به شی دساق نه ساق ويلی شی پنډئ ته نووی وائی ابن عباسؓ او اکثر خاوندانو دلغتو دساق معنی دلته دسختئ او د زور د پاره کړی ده يعنی يو هو لناك امر به ښکاره شی او دامثل دی چه دی لره دعربو خلق وائی "جنګ قائم شو په پنډو باندی" او اصل دادی چه انسان کله به يو سخت امر کښی پری وځی نو خپلی متی راغناړی او پنډئ ښکاره کوی پينسی راکاږی دکو شش دپاره قاضی عياض وئيلی دی بعضی وائی دساق نه دلته يو لوئی نو ر مراد دی او داپه يو حديث کښی هم وارد دی ابن فورك ويلی دی مراد دهغی نه هغه فاندی او الطاف دی چه هغه به مؤمنانو ته نوی ميلا ويږی دخدائے پاك ديدار په وخت او بعضو ويلی دی چه ساق به يوه نښانی وی دمؤمنانو او دخدائے تعالی په مينځ کښی او څه فرښتے به ظاهريږی. او بعضو ويلی دی چه احتمال دی چه ساق يو مخلوق وی دخدائے چه هغوی لره خدائے نښانی جوړه کړی وی دهغه وخت دپاره او داد ساقو نو نه دجدا صورت وی او بعضو ويلی دی د دی معنی داده چه دهغوی يره به لاړه شی او رعب به ترينه پاځی او کوم هول چه دهغوی په زړونو باندی وو هغه به ختم شی او اطمينان به ورته حاصل شی بيا به هغه سجده او کړی.

خطابی ويلی دی دار يدار نور دی او هغه چه کوم به مؤمنانو ته په جنت کښی وی هغه نور دی انتهی ما قال النوی. او داتمام تاويلات لغوه او بی کاره دی او مخالف دی دسلفو اصل دادی چه خدا و ند کريم چه کوم اعضاء دخپل ځان دپاره ثابت کړی دی لکه وجه او يد او عين او ساق داټول حق دی په خپله معنی باندی ليکن څنګه چه دخدائے کنهه

او حقیقت چا بشر ته معلوم نه دے دغه شان ددغه اعضاؤ هم حقیقت او ماهیت معلوم نه دے پس په هغے باندے ایمان راوړل پکار دی او د هغے کیفیت لره په خدا و ند کریم باندے سپارل پکار دی او بیا کیدل پکار دی دتشبیه نه یعنی داخیال نه کول چه معاذالله دخدائے لاس یا خله یا ستر گے یا پنډۍ دبنیاد مو یا دبل څه مخلوق دلاسو یا د خلے یا دستر گو یا د پنډۍ پشان دی بلکه څنګه چه د هغه ذات بے مثله او بے نظیر دے دغه شان د هغه صفات هم تول بے مثله او بے نظیر دی داعقیده ده داهل حدیثو رحمهم الله تعالی څکه چه دملا (شا) جوړ نه شکته کیږی نو بیا به سجده څنګه کوی.

امام نووی ویلے دی داسجده به دامتحان دپاره وی او په دے سره ب عضو عالمانو دلیل قائم کړے دے په دے خبره باندے چه تکلیف مالا یطاق جائز دے یعنی د هغه خبرے حکم کول چه هغه کیږی نه حالا نکه دا استدلال باطل دے څکه چه آخرت د تکلیف ځائے نه دے او د هغه سجدے نه به امتحان مقصد وی او بعضو ویلی دی ددے حدیث نه داوهم کیږی چه منافقان به هم د مؤ منانو سره خدائے پاك لره او وینی ابن فورك ویلے دی چه یو گروه په دے طرف تلے دے حالا نکه داغلط دے بلکه دمسلمانانو دعلماؤ داجماع نه دا امر ثابت دے چه منافقانو لره به دخدائے تعالی دیدار نه وی او دحدیث نه د اخبره کوم ځائے وتلے ده چه منافق به هم خدائے پاك لره وینی بلکه د هغه جماعت لیدل وتلے دی چه په هغے کښ به مؤمنان او منافقان ټول وی او دجماعت د لیدلو نه داخبره نه لازمیږی چه هر یو سړے دے د هغوی نه او وینی دکتاب او دسنتو نه ډیر د لیلونه دی په دے امر باندے چه منافق لره به دالله دیدار نه نه نصیب کیږی.

قاضی عیاض ونیلے دی د بهلا یی نه مراد دلته یقین دے او صحیح داده چه بهلانی هغه شی دے چه هغه دایمان نه علاوه دے څکه چه دایمان حصے نه شی کیدے بلکه دا حصے د هغه شی وی چه هغه په ایمان باندے زیاتی وی لکه نیك عمل یا پټ ذکریا

بل څه د زړه عمل لکه شفقت په مسکینا نو باندې یا خوف الهی یا صفا نیت وغیره او دلا لت کوی په هغې باندې دویم حدیث چه دجهنم نه به هغه بنده هم را اوځی چه هغه لا الهٰ الاالله ویلې وی او دهغه په زړهٔ کښ درځی برابر نیکی وی (نوویؒ)

چه دهغوی په تعداد څوك پوهه نه دې سیو اد خدا و ند کریم نه او د خدائے تعالی مو تې دو مره قدرې لوئے دې چه توله زمکه دهغه په یو موتی کښ راځی دَ قیامت په ورځ باندې . مبارك دی هغه خلق چه هغه به دَ الله پاك دَ خالص موتی نه ووځی او په هغه باندې به د بل هیڅا احسان نهٔ وی سیوا دَ الله تعالیٰ نه . مګر صرف دَ الله تعالیٰ په توحید باندې ئے یقین لرلو دَ هغه دَ سفارش دپاره به څوك پیغمبر یا فرشته یا مؤمن نهٔ وی آخر به ئے الله پاك په خپلو مبارکو لاسونو باندې راوباسی، سبحان الله ! دَ مالك رضامندی دومره لوې نعمت دې چه دَ جنت تمام نعمتونه دَ هغې په مخکښ بے حقیقته دی جوان سړے هغه دے چه هغه دَ خپل مالك دَ رضامندئ طلبګار او په هر حال کښ دَ هغه شکرګزار وی.

(۴۵۵)عَنْ ابِیْ سَعِیْدِالْخُدْرِیْ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اَنَّہٗ قَالَ قُلْنَایَارَسُوْلَ اللّٰہِ انرِیٰ رَبَّنَاقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صلَّی اللّٰہُ علَیْہِ ھلْ تضَارُّوْن فِیْ رُؤْیَۃِ الشَّمْسِ اِذَاکَانَ یَوْمٌ صَحْوٌقُلْنالاوسُقْتُ الْحدِیْثَ حتّٰی انْقضیٰ اٰخِرُہٗ وھُوَنَحْوُحدِیْثِ حفْصِ ابْنِ مَیْسَرۃ وزَادبعْدقوْلِہٖ بغیْرعَمَل عمِلُوْہٗ ولاقدم قدَّمُوْہٗ فیُقَال لھُمْ لکُمْ مَارأیْتُم ومثْلُہٗ معَہٗ قَال اَبُوْسَعِیْدِالْخُدْرِیْ بَلَغَنِیْ اَنَّ الْجِسْرَ اَدَقُّ مِنَ الشَّعْرۃِ وَاحدُّ مِنَ السَّیْفِ ولَیْس فِیْ حدِیْثِ اللَّیْثِ فیَقُوْلُوْن رَبَّنااعْطیْتَنامالَمْ تُعْطِ احداً مِّن العٰلَمِیْن ومابعْدَہٗ فاقرّبہٖ عِیْسَی بْنُ حمّادٍ.[راجع : ۴۵۴]

ترجمه : دویم روایت هم دابو سعید خدری رضی الله عنه نه دغه شان دې په دې کښ دادی چه مونږ او وې یا رسول الله ولې مونږ به خپل مالك لره او وینو ؟ هغهٔ او فرمایل تاسو ته څه حرج وی دنمر په لیدو کښ هر کله چه صفا ورځ وی ؟ مونږه اووې نه . او بیان ئے کړو حدیث لره دَ آخره پورې خو دومره زیات دې ددې عبارت نه پس هغوی لره خدائے جنت

ورکړو بغیر د څه عمل یا نیکئ نه او هغوی ته به او ویلے شي څه چه تا سو کوری هغه ستا سودی او دومره نور دی ابو سرید رضی الله تعالی عنه ویلے دی چه ما ته دا حدیث رارسیدلے دے چه پل به دو یختہ نه زیات نرے او دتورے نه به زیات تیره وی او دلیس په روایت کښ دانشته دے چه هغه به وائی اے ربه تا مونږ له هغه څه راکړل چه هغه دا په تول جهان والا ؤ کښ چاله نه دی ور کړے او کوم چه د هغے نه بعد دی.

(۴۵۲)عن زید بن اسلم باسنادهما نحو حدیث حفص بن میسرة الی آخره وقد زاد ونقص شیئا

ترجمه: زید بن اسلم په خپلو دواړو سندونو سره د حفص بن میسره په مل باندے روایت بیانوی. او د هغه په روایت کښ څه کمی بیشی ده .

﴿بَابُ اِثْبَاتِ الشَّفَاعَتِه وَاِخْرَاجِ الْمُوَحِّدِيْنَ مِنَ النَّارِ.﴾

باب :. دشفاعت ثبوت او د جهنم نه د موحدانو راویستلے کیدل .

فائده :. قاضی عیاض ویلے دی د اهل سنتو مذهب دادے چه شفاعت عقلا جائزدے او شرعا د هغے ثبوت ددے آیتِ نه یو منذ الا تنفع الشفاعةُ اِلّامنْ اذن له الرّحْمن ورضی له قولا . او ددے ایت نه وَلَایَشْفَعُوْنَ اِلَّالِمَنِ ارْتَضٰی او حدیثو نه د شفاعت په باب کښ ډیر راغلے دی او آثارِ صحابهٔ هم ډیر دی د هغے تولو په میلاویدو سره دشفاعت ثبوت متو اتر کیږی د ګنا هګار مؤمن په واسطه. او اجماع کړے ده سلفو او خلفو او تمام اهل سنتو دشفاعت په ثبوت باندے او انکار کړے دے خوارجو او بعضے معتزله ؤ شفاعت دا آیت دے فماتنفعهُمْ شفاعتُ الشافِعِیْن او دا أیت وماللظّلمِیْنَ مِنْ حمِیْمٍ وَّلاشفِیْعٍ یُطاعُ حالانکه دا آیا تونه د کافرانو په حق کښ دی .

او هغوی چه کوم دشفاعت دا یتو نو تاویل کړے دے چه مراد د هغے نه د درجو زیات والے دے نو دا باطل دے نو دا باطل دی چه جهنم یان به دشفاعت په وجه سره جهنم دے زمونږ د پیغمبر صلے الله علیه واله وسلم سره او هغه تسکین کښ ورکول دی د میدان

حشر د هول نه او حساب و کتاب زر شروع کول لکه چه به بیان مخکښ راشي ۔ دریم بعضے خلقو لره بغیر د حساب او کتاب نه جنت ته بوتلل د اهم زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم د پاره دے ۔ دریم شفاعت د هغه خلقو د پاره چه هغه د جهنم مستحق شوے وی ۔ د هغوی شفاعت به زمونږ پیغمبرؐ او نور خلق کوی ۔ څلورم شفاعت د هغه خلقو چه هغه جهنم ته تلے وی د گنهگار ونه ۔ او د هغوئ راویستل زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم او د فرشتو او د مومنانو د شفاعت نه ثابت دی ۔ لکه په یو حدیث کښ وی ۔ چه بیا به الله تعالیٰ راوباسی د جهنم نه هم یو لا اله الا الله ویلو والا ۔ او صرف کافران به په دغه دوزخ کښ پاتے کړے شی ۔ پنځم هغه شفاعت چه هغه په جنت کښ ددرجے اوچتولو دپاره وی ددے قسم شفاعت نه معتزله هم انکار نه کوی نه د ورمبی شفاعت نه قاضی عیاضؒ ونیلے دی دمشهور و روایتو نو نه د سلف صالحینو د شفاعت د پاره دعا کول ثابت شوے دی ۔ په دے صورت کښ چه څوك وائي چه د الله تعالیٰ نه ۔ زمونږ د پیغمبرؐ شفاعت غوښتل مکروه دی ۔ ددے خبرے طرفته خبرے کول نه دی پکار۔

ځکه چه شفاعت د څه گنهگار و سره مخصوص نه دے ۔ بلکه د تخفیف حساب اود درجو د زیات والی والی د پاره به هم وی ۔ او هر یو عاقل ته یره لګیدلے ده چه چرته هغه د گنهگارو نه نه شی ۔ په خپل عمل باندے بهروسه نشته دے ۔ چه څنګه به وی ۔ او کوم سری چه هغے لره مکروه گڼړلے دے پکار ده چه هغه د مغفرت او بخنے د پاره هم دعا نه کوی او دا خلاف دے د سلفو او خلفو د طریقے نه ۔ تمام شو کلام د قاضی عیاض رحمة الله علیه (نوویؒ)

(۴۵۷)عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیْ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ یُدْخِلُ اللّٰهُ اَهْلَ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ یُدْخِلُ مَنْ یَّشَاءُ بِرَحْمَتِهٖ وَیُدْخِلُ اَهْلَ النَّارِ النَّارَ ثُمَّ یَقُوْلُ انْظُرُوْا مَنْ وَّجَدْتُّمْ فِیْ قَلْبِهٖ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ مِّنْ اِیْمَانٍ فَاَخْرِجُوْهُ فَیُخْرَجُوْنَ مِنْهَا حُمَمًا قَدِ امْتُحِشُوْا فَیُلْقَوْنَ فِیْ

نَهرِ الحَيٰوةِ اَوِ الحَيَا فَيَنبُتُونَ فِيهِ كَمَا تَنبُتُ الحِبَّةُ اِلٰى جَانِبِ السَّيلِ اَلَم تَرَوهَا كَيفَ تَخرُجُ صَفرَآءَ مُلتَوِيَةً؟.

[بخاری : ۲۲، ۶۵۶۰]

ترجمه : د ابو سعید خدریؓ نه روایت دے ۔ چه رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلی دی ۔ الله جل جلاله به جنت والاؤ لره جنت ته بوځی چالره چه غواړی په خپل رحمت سره ۔ او دوزخ والا به دوزخ ته بوځی ۔ بیا به اوفرمائی ۔ گورئ د چا په زړه کښی چه د اوری د دانے برابر هم ایمان وی ۔ هغه به د دوزخ نه راوباسی ۔ هغه خلق به راوځی د کوئلے پشان سیزلے شوی ۔ بیا به او غورځولے شی په نهر الحیات یا نهر الحیا کښی (دا شک دے امام مالکؒ چه روای ددے حدیث دے او دَ نورو په روایت کښی نهر الحیات دے بغیر د شک نه) او داسے به راخیژی لکه دانه چه د بهیدلو اوبو په طرف کښی خیژی۔ ولے تا هغے لره نۀ ده لیدلے خنگه په خاوره کښی پټه شوے دانه راوخیژی ۔

(۴۵۸) عَنْ عَمرِو ابنِ يَحيىٰ بِهٰذَا الاِسنَادِ وَقَالَا: فَيُلقَونَ فِي نَهرٍ يُقَالُ لَهُ الحَيَاةُ وَلَم يَشُكَّا : وَفِي حَدِيثِ خَالِدٍ كَمَا تَنبُتُ الغُثَاءَةُ فِي جَانِبِ السَّيلِ وَفِي حَدِيثِ وُهَيبٍ كَمَا تَنبُتُ الحِبَّةُ فِي حَمِئَةٍ اَو حَمِيلَةِ السَّيلِ : [راجع : ۴۵۷]

ترجمه : عمرو ابن یحییٰ په خپل سند سره نقل کوی چه هغوی لره به په نهر حیات کښی اچولے شی په دے روایت کښی راوی ته شک نشته دے ۔

دَ خالد په حدیث کښی دا لفظ دے " دَ دانے په ځائے باندے دَ کوړا کرکټ (گندگی) ذکر راغلے دے

(۴۵۹) عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ اَمَّا اَهلُ النَّارِ الَّذِينَ هُم اَهلُهَا فَاِنَّهُم لَا يَمُوتُونَ فِيهَا وَلَا يَحيَونَ وَلٰكِن نَاسٌ اَصَابَتهُمُ النَّارُ بِذُنُوبِهِم اَو قَالَ بِخَطَايَاهُم فَاَمَاتَهُمُ اللّٰهُ اِمَاتَةً حَتّٰى اِذَا كَانُوا فَحمًا اُذِنَ بِالشَّفَاعَةِ فَجِيءَ بِهِم ضَبَائِرَ ضَبَائِرَ فَبُثُّوا عَلٰى اَنهَارِ الجَنَّةِ ثُمَّ قِيلَ يَا اَهلَ الجَنَّةِ اَفِيضُوا عَلَيهِم

فیـنبُتُون نبات الحبّة تکُونُ فِیْ حمیْل السَّیْل فقال رجلٌ مّن القوْم کان رسُوْلُ اللّٰه صلّے اللّٰهُ علَیْه واٰله وسلّم قدْ کان بالْبادیة.[ابن ماجه : ۴۳۰۹]

ترجمه : دا بو سعیدؓ نه روایت دے چه رسُوْل اللّٰه صلّے اللّٰهُ علَیْه واٰله وسلم فرمانیلے دی هغه خلق جهنم والا دی ۔ (یعنی همیشه هلته اوسیدونکی دی کافر او مشرك) نو هغه به نۀ مری او نۀ به ژوندی کیږی ۔ لیکن څه خلق چه هغه د ګناهونو په وجه دوزخ ته تللے شی ۔ اور به هغوی لره اوسیزی او کوئله به ترے نه جوړه کړی ۔ بیا به اجازت اوشی ۔ شفاعت به کیږی ۔ او داخلق به راویستلے شی ګروه ګروه او خورولے به شی د جنت په نهرو نو باندے ۔ او حکم به اوشی اے د جنت خلقو ! په دوی باندے اوبه اوغورځوئ ۔ بیا به هغه په دے شان لره یوه ځائے شی لکه دانه چه د هغه خاورے سره یو ځائے شی چه هغه اوبو په بهیدو کښ راوړے وی ۔ یو سړی اووے معلومیږی چه رسُوْل اللّٰه صلّے اللّٰهُ علَیْه واٰله وسلم په ځنګل کښ اوسیدلے پاتے شوے وی (هر کله چه هغه ته دا معلومه ده ۔ چه په بهاؤ کښ چه کومه خاوره جمع کیږی په هغ کښ دانه ښه راتو کیږی).

فائده : نووی ونیلے دی معنی د حدیث داده ۔ چه کوم خلق کافران دی او په جهنم کښ د همیشه اوسیدو مستحق دی ۔ نو هغه به نۀ مړه کیږی او نۀ به ژوندی کیږی ۔ یعنی په څه شان به هغوی ته د عذاب نه خلاصے نۀ وی ۔ او راحت به ورته نۀ حاصلیږی ۔ لکه چه الله تعالیٰ فرمانیلے دی ۔ د هغو به څه فیصله نۀ کیږی چه مړه شی او نه به پرے عذاب سپکیږی ۔ او لکه چه نے فرمانیلے دی بیا به نۀ په هغے کښ مړ کیږی نۀ به ژوندے کیږی ۔ او د حق خلقو مذهب دادے چه د جنت آرام او د جهنم عذاب به دواړو ته همیشه وی ۔ او دا خلق چه کوم ګنهګار به جنت ته بوتللے شی ۔ دا به هغه خلق وی چه هغه به مؤمنان وی خو په ګناهونو کښ به مبتلا شوے وی ۔ الله تعالیٰ به هغوی لره د جهنم په اور سره اووهی او کوئله به نے کړی دیو ے مودے پورے، دَ عذاب ورکولو نه پس او دا امر به حقیقتاً

وی یعنی احساس به ئے ختم شی ۔ بیا د جهنم نه راویستلے شی مرو لره د کوئلے پشان ۔

(۴۶۰)عن ابی سعید الدری عن النبی ﷺ بمثله الی قوله فی حمیل السیل ولم یذکر ما بعده : [راجع: ۴۵۹]

ترجمه : په یو بل سند سره ابو سعید خدری دَ نبی کریم ﷺ نه داسینقل کوی لیکن په دے سند کښ څه لږ غوندے کم بیان دے ۔

﴿باب آخر اهل النار خروجا :﴾

باب : د جهنم نه چه به څوک آخری څوک راووځی :

(۴۶۱) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ اِنِّیْ لَا اَعْلَمُ اٰخِرَ اَهْلِ النَّارِ خُرُوْجًا مِّنْهَا وَاٰخِرَ اَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُوْلًا الْجَنَّةَ رَجُلٌ يَّخْرُجُ مِنَ النَّارِ حَبْوًا فَيَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ لَهُ اِذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ فَيَاْتِيْهَا فَيُخَيَّلُ اِلَيْهِ اَنَّهَا مَلْاٰى فَيَرْجِعُ فَيَقُوْلُ يَارَبِّ وَجَدْتُّهَا مَلْاٰى فَيَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ لَهُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ فَيَاْتِيْهَا فَيُخَيَّلُ اِلَيْهِ اَنَّهَا مَلْاٰى فَيَرْجِعُ فَيَقُوْلُ يَارَبِّ وَجَدْتُّهَا مَلْاٰى فَيَقُوْلُ اللّٰهُ لَهُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ فَاِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ اَمْثَالِهَا اَوْ اِنَّ لَكَ عَشْرَ اَمْثَالِ الدُّنْيَا قَالَ فَيَقُوْلُ اَتَسْخَرُبِيْ اَوْ تَضْحَكُ بِيْ وَاَنْتَ الْمَلِكُ وَقَالَ لَقَدْ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهٗ قَالَ فَكَانَ يُقَالُ ذَاكَ اَدْنٰى اَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً. [بخاری : ۶۵۷۱، ۷۵۱۱، ترمذی : ۲۵۹۵، ابن ماجه : ۴۳۳۹]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے ۔ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانیلے دی ۔ زه پیژنم هغه سړے چه هغه به د ټولو نه ورستو جنت ته ځی ۔ دا هغه سړے دے چه هغه به د جهنم نه د ځنګونانو سره په خویدلو راوځی ۔ الله تعالیٰ به هغه ته اوفرمائی ځه او دا خل شه په جنت کښ ۔ ونیلے دی (هغه) پس هغه به راشی جنت ته یا نزدے هغے ته ۔ پس او به غورځولے شی د هغه په خیال کښ چه په تحقیق سره جنت ډک

شوے دے پس واپس بہ شی او او بہ وائی اے زما ربہ جل جلالہ ! او موندوما هغې لره (یعنی جنت لره) ډك شوے پس او فرمائی بہ الله تعالیٰ هغه ته څه پس داخل شه په جنت کښ (وئیلے دی هغه) بیا بہ داخل شی جنت ته . بیا بہ واچولے شی د هغه په خیال کښ چه تحقیق جنت ډك شوے دے . بیا بہ واپس شی او اوبه وائی اے زما ربہ جل جلاله! ما اوموندو هغې لره ډك شوے (یعنی جنت لره) بیا بہ اووائی الله تعالیٰ څه داخل شه په جنت کښ ډ ستا د پاره دنیا اولس گنا ددنیا برابر ځائے دے یا دلسو دنیا گانو برابر. هغه بہ اووائی ته زما سره توقے کوے یا خندا کوے . او تالره بادشاهی ده . عبدالله ابن مسعودؓ وائی ما رَسُوْل اللّٰه صلی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰله وَسَلم اولیدو چه خندل نے تردے پورے چه د هغه غابښ مبارك ښکاره شول . او هغه اوفرمایل دابه د ټولو نه د کمے درجے جنتی وی .

فائده :. په سخر بہ اوضحك کښ شك دے راوی ته . او ضحك په دویم روایت کښ هم وارد دے او هغه عیب نه دے نه نقص . بیا ضحك د خدائے په صفت کیدو کښ مانع نه دے . او هغه مثل د نورو صفاتو الهیه ؤ مشابه نه دے د مخلوق د صفاتو نه . نووی وائی د خندا کولو په معانو کښ اختلاف دے . او په دے کښ څو قولو نه دی . یو داکوم چه د امام مازریؒ نه منقول دے چه په طریق د مقابلے دے .

ځکه چه هغه د الله تعالیٰ سره څو ځله وعده اوکړه . چه اوس به څه نه غواړم بیا نے د خپل اقرار خلاف اوکړو او غوښتل نے اوکړل . نو دا په مثل د خندا شول یعنی هغه سړی دا اوگنړله چه دالله تعالیٰ دا فرمان چه ته جنت ته څه او ستا د پاره دا دانعمتونه دی دیو قسم خنداده . یعنی د هغه خندا بدله ده نو خندا بدلے ته نے مجازاً خندا اووے . او مطلب دادے چه ولے ته بدله ورکوے زما د خندا د بادشاهی باوجود.

دویم قول دادے چه مراد ددے نه نفی ده . چه زه پوهه یم چه ته بادشاه نے خندا نه کوے . لیکن حیران په دے یم چه ما نالائقه لره . دومره لوئے لوئے نعمتونه راکوے . دریم

قول دادے۔ چه ددغه سړی ژبه په قابو کښې نۀ شوه او د هغه نه په خوشحالئ کښې داسے
هیر شو چه شروع ئے کړے هغه خبرے لکه په دنیا کښې چه به ئے په داسے ځائے کښې کولے۔
او د خدائے په طرف د خندا نسبت کول او دا داسے دی لکه چه ده د بل سړی په حق کښې
اوفرمائیل! چه هغه د خوشحالئ په وجه خپل ځان قابو نکړے شو۔ او اوئے وئیل! چه ته
زما بنده ئے او زه ستا رب یم۔ او پکار وو دا ویل چه زه ستا بنده یم او ته زما رب ئے۔ او د
خوشحالئ په وخت په بے اختیارئ کښې اکثر داسے بے موقع او غلطے خبرے د ژبے نه وستلے
کیږی (انتهی)

(۴۶۲)عَنْ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ اِنِّیْ لَا اَعْرِفُ اٰخِرَ اَهْلِ النَّارِ خُرُوْ جًا مِّنَ النَّارِ رَجُلٌ يَّخْرُجُ مِنْهَا زَحْفًا فَيُقَالُ لَهُ انْطَلِقْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ فَيَذْهَبُ فَيَدْخُلُ الْجَنَّةَ فَيَجِدُ النَّاسَ قَدْ اَخَذُوْا الْمَنَازِلَ فَيُقَالُ لَهُ اَتَذْكُرُ الزَّمَانَ الَّذِیْ كُنْتَ فِيْهِ فَيَقُوْلُ نَعَمْ فَيُقَالُ لَهُ تَمَنَّ فَيَتَمَنّٰى فَيُقَالُ لَهُ لَكَ الَّذِیْ تَمَنَّيْتَ وَعَشَرَةُ اَضْعَافِ الدُّنْيَا قَالَ فَيَقُوْلُ اَتَسْخَرُبِیْ وَاَنْتَ الْمَلِكُ قَالَ فَلَقَدْ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهٗ [راجع : ٤٦١]

ترجمه: د عبد الله ابن مسعودؓ نه روایت دے۔ رسول اللّٰه صلے اللّٰه علیه واله وسلم فرمائیلے
دی زه پیژنم هغه سړی لره چه هغه به د ټولو نه ورستو د جهنم نه راوځی۔ هغه به یو سړے
وی چه هغه به په رابنکلو د ګانړئ په سوری کښې د دوزخ نۀ راویستلے شی۔ هغه ته به
اووئیلے شی ځه جنت ته ځه! هغه به لاړ شی چه ګوری نو په تمامو مکانونو کښې به
جنتیان وی۔ (او یو مکان به خالی نۀ وی وروکے غوندِ هم) ده ته به اووئیلے شی تا ته یاده ده
هغه زمانه چه په هغے کښې ته وے۔ (یعنی د دوزخ هغه تکلیف او تنګی) هغه به اووائی
ها یاد دی۔ بیا به هغه ته اووئیلے شی نبه ده اوس بله آرزو اوکړه۔ هغه به اوکړی۔ حکم
به اوشی دا واخله او د لسو دنیاګانو برابر واخله۔ او هغه به اووائی اے باری تعالیٰ! ولے ته په
ما پورے خندا کوے او ته بادشاه ئے۔ (یعنی لس ددنیا برابر ماله راکوے۔ او هلته خو یو

وړوکے شان کوږ هم خالی نشته دے) راوی وائی ما رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اولیدو چه خندل ئے تردے پورے چه د هغه غاښ مبارک ښکاره شول.

فائده : په حدیث کښې د انواجذ لفظ دے او نواجذ هغه غاښونو ته وئیلے شی چه هغه د ټولو نه په اخر کښې راخیژی. چه هغے ته عوام د عقل غاښونه وائی او دا غاښونه هغه وخت ښکاره کیږی چه کله بنده په زور سره اوخاندی.

(۴۶۳)عن عبدالله ابن مسعود ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال اخر من یدخل الجنة رجل فهو یمشی مرة ویکبو مرة وتسفعه النار مرة فاذا ما جاوزها التفت الیها فقال تبارک الذی نجانی منک لقد اعطانی الله شیئا ما اعطاه احدا من الاولین والاخرین فترفع له شجرة فیقول ای ربی ادننی من هذه الشجرة فلاستظل بظلها واشرب من مائها فیقول الله عزوجل یا ابن ادم لعلی ان اعطیتکها سالتنی غیرها فیقول یارب ویعاهده ان لا یساله غیرها وربه تعالی یعذره لانه یری مالاصبر له علیه فیدنیه منها فیستظل بظلها ویشرب من مائها ثم ترفع له شجرة هی احسن من الاولی فیقول ای رب ادننی من هذه الشجرة لاشرب من مائها واستظل بظلها لااسئلک غیرها فیقول یاابن ادم الم تعاهدنی ان لاتسالنی غیرها فیقول لعلی ان ادنیتک منها تسالنی غیرها فیعاهده ان لا یساله غیرها وربه تعالی یعذره لانه یری مالاصبر له علیه فیدنیه منها فیستظل بظلها ویشرب من مائها ثم ترفع له شجرة عند باب الجنة هی احسن من الاولیین فیقول ای رب ادننی من هذه الشجرة لاستظل بظلها واشرب من مائها لااسئلک غیرها فیقول یاابن ادم الم تعاهدنی ان لاتسالنی غیرها قال بلی یارب هذه لا اسئلک غیرها وربه تعالی یعذره لانه یری مالا صبر له علیه فیدنیه منها فاذا ادناه منها فیسمع اصوات اهل الجنة فیقول ای رب ادخلنیها فیقول یاابن ادم ما یصرینی منک یرضیک ان اعطیک الدنیا ومثلها معها فیقول یارب اتستهزئ منی وانت رب العلمین فضحک ابن مسعود فقال الا تسئلونی مم اضحک فقالوا مم تضحک فقال هکذا ضحک رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فقالوا مم تضحک یا رسول الله قال من ضحک رب العلمین فیقول انی لا استهزئ منک ولکنی علی ما

شاء قادر

ترجمه: د عبدالله ابن مسعودؓ نه روايت دے ۔ رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فرمائيلے
دي: ټولو نه اخر چه څوك جنت ته ځي هغه به يو سړے وي چه هغه به روان وي ۔ بيا به
پرمخې غور ځيږي ۔ او د جهنم اور به هغه لره سيزي ۔ هر كله چه د دوزخ نه پورے وځي نو
په شاته به هغې ته اوګوري ۔ او اوبه وائي لوئے بركت والا دے هغه صاحب چه هغه خلاصے
راكړو مالره ستا نه بيشكه الله تعالى مالره دومره څه راكړل چه دومره يے چا له نۀ دي
وركړے نۀ په وړمبو كښې نۀ په وروستو كښې ۔ بيا به هغه ته يوه ونه اوښودلے شي ۔ هغه به
اووائي اے ربه جل جلاله! ما نزدے كړه دغې ونې ته چه زه ددے لاندې په سورى يم او ددے اوبه
به څښم الله تعالى به ورته اوفرمائي اے د آدم عليه السلام څويه! كه چرے زه ستا دا سوال
پوره كړم نو تۀ به بيا بل سوال كوے هغه به اووائي نۀ اے زما ربه! او وعده به اوكړي چه
بيا به څه بل سوال نۀ كوم ۔ الله تعالى به د هغه عذر قبول كړي ځكه چه هغه به داسے
نعمت لره ليدلے وي ۔ چه په هغې بانديې به دده نه صبر نۀ شي كيدے ۔ (يعنى انسان بے
صبره دے ۔ دے چه هر كله په تكليف كښې مبتلا وي او د عيش خبره اووينى ۔ نو بے اختياره
د هغې خواهش كوي) آخر به الله تعالى هغه لره هغې ونې ته نزدے كړي هغه به د هغې په
سورى كښې اوسيږي ۔ او د هغې اوبه به څښي ۔ بيا به هغه ته يوه ونه او ښائي چه هغه به د
هغې اولنې نه هم ښه وي ۔ هغه به اووائي چه اے پروردګاره! مالره دغې اونے ته نزدے اورسوه ۔
ددے د پاره چه زه ددے اوبه اوڅكم ۔ او زه به بل څه سوال نه كوم الله تعالى به ورته
اوفرمائي اے د آدم عليه السلام څويه! ولے تا وعده نۀ وه كړے ۔ چه زه به بيا سوال نه كوم ۔
او كه چرے تازة دغې ونے ته اورسوم نو بيا به ته بل سوال كوے ۔ هغه به اقرار اوكړي ۔ بل
سوال به نۀ كوم ۔ بيا به زه بل څه سوال هم نه كووم ۔ او الله تعالى به هغه لره معذور
اوګنړي ۔ ځكه چه هغه له صبر نشته په هغه نعمت بانديې كوم چه وينى ۔ بيا به الله

تعالى هغه لره هغې ونې ته نزدې كړي هغه به د هغې په سورى كښې وى او د هغه څانې اوبه به څښې ـ بيا به هغه ته يوه اونه اوښودلې شى چه هغه به د جنت په دروازه باندې وى ـ او هغه به د ورمبو دواړو ونو نه غوره وى ـ هغه به اووائى اې زما ربه! ما دغې اونې ته اورسوه چه زه ددې د سورى لاندې يم او د دغه څانې اوبه څكم ـ اوس به زه نور څه سوال نه كوم. الله تعالى به ورته اوفرمائى اې د آدم عليه السلام ځويه ! ولې تا اقرار نۀ وو كړې چه اوس به زه نور څه سوال نۀ كوم ـ هغه به اووائى بيشكه ما اقرار كړې وو ليكن اوس زما دا سوال پوره كړه ـ بيا به زه بل سوال نه كوم. او الله تعالىٰ به معذور اوګرځوى ده لره ـ ځكه چه هغه به ګورى هغه نعمتونو ته چه د كومو نه صبر يدې نۀ شى ـ آخر به اله تعالىٰ هغه لره د هغه ونې سره كړى ـ هر كله چه هغه د هغه ونې خواله لاړ شى نو د جنت والاؤو آوازونه به واؤرى او اوبه وائى ـ اې زما ربه ! ما جنت ته دننه اورسوه ـ الله تعالىٰ به اوفرمائى اې د آدم عليه السلام ځويه ! ستا دا سوال به كوم څيز تمامه وى ـ (يعنى ستا ـ اخواهش به كله موقوف شى ـ او دا بار بار سوال كول به څنګه بند شى) عجيبه خبره ده ته په دې باندې راضى نې چه زه تاله د ټولې دنيا برابر دركړم او دومره نور دركړم هغه به اووائى اې ربه زما ته! زما سره خندا كوې او ته د تمام جهان مالك نې ـ بيا عبدالله ابن مسعودؓ په خندا شو او خلقو ته نې اووې ـ تاسو تپوس نۀ كوئ زما نه چه زه ولې خاندم ـ خلقو تپوس اوكړو چه ته ولې خاندې هغوئ اووې رسُوْل اللّٰهِ صلّے اللّٰهُ علَيْه واله وسلم په دې شان (ددې حديث بيانولو سره) خندلې وو ـ خلقو تپوس اوكړو تۀ ولې خاندې يا رسول اللهؐ ! هغه اوفرمايل! د رب العالمين د خندا سره زه هم خاندم ـ هر كله چه هغه بنده دااووائى چه تۀ زما سره خندا يعنى توقې كوې او د ټول جهان مالك نې ـ پروردګار او خاندى (د هغه په نادانۍ او بې وقوفئ باندې) او اوفرمائى زه توقې نۀ كوم (توقې او مذاق كول زما لائق نۀ دى ـ هغه دبنديګانو لائق دى) بلكه زه چه څه غواړم كولې شم.

فائده: بیا ددوه دنیا برابر ورکول څه مشکل کار دے ۔ چه په دے باندے تهٔ حیران شوے ۔ او دے لره دے خندا او مذاق اوګنړلو هغه خداوند کریم داسے قادر مطلق دے ۔ چه په لکونو کرورونو ددنیا مثل په یو دم جوړه ولے شي ۔ بلکه اوس په زرګونو لکونو دنیا زمونږ د زمکے برابر او د هغے نهٔ په لکونو حصے لوئے د هغه په سلطنت کښې موجو دے دی دا حدیث اګر چه د جنتیانو په حال کښې وارد دے ۔ خو په دنیا کښې په دے حدیث باندے په غورکولو سره لوئے لوئے فائدے حاصلیدے شي ۔ د هغے نهٔ یوه فائده داده چه د طمع او حرص لوبے صبرئ څه انتهانشته که چرے خزانه د قارون هم انسان ته میلاؤ شي ۔ یا د هفت کشور سلطنت هم اوموِمی ۔ بیا به هم ددے نهٔ دزیاتے حرص کوی ۔

ځکه انسان لره لازم دی چه د اول نه د طمع او د حرص زیلے پریکړی او څومره قدرے چه خدائے ورکوی هغه ډیره اوګنړی او پرے خوشحاله شي ۔ ګنې مفت به ئے زندګی برباد شي او تمام عمر به په رنځ او تکلیف کښې ګرفتاروی ۔

باب : ادنى اهل الجنة منزلة فيها :

باب : د جنت والو نه د ټولو نه د کمې درجې والا بیان :

(۴۶۳)عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ اَدْنٰی اَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً رَجُلٌ صَرَفَ اللّٰهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ قِبَلَ الْجَنَّةِ وَمَثَّلَ لَهُ شَجَرَةً ذَاتَ ظِلٍّ فَقَالَ اَیْ رَبِّ قَدِّمْنِیْ اِلٰی هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اَكُوْنُ فِیْ ظِلِّهَا وَسَاقَ الْحَدِیْثَ بِنَحْوِ حَدِیْثِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَلَمْ یَذْكُرْ فَیَقُوْلُ یَاابْنَ اٰدَمَ مَایَصْرِیْنِیْ مِنْكَ اِلٰی اٰخِرِ الْحَدِیْثِ وَزَادَ فِیْهِ وَیُذَكِّرُهُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ سَلْ كَذَاوَكَذَا فَاِذَانْقَطَعَتْ بِهِ الْاَمَانِیُّ قَالَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ هُوَ لَكَ وَعَشَرَةُ اَمْثَالِهٖ قَالَ ثُمَّ یَدْخُلُ بَیْتَهُ وَتَدْخُلُ عَلَیْهِ زَوْجَتَاهُ الْحُوْرِ الْعِیْنِ فَتَقُوْلَانِ اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَاكَ لَنَا وَاَحْیَانَا لَكَ قَالَ فَیَقُوْلُ مَااُعْطِیَ اَحَدٌ مِثْلَ مَا اُعْطِیْتُ ۔

ترجمه: د ابو سعید خدریؓ نه روایت دے ۔ چه رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ فرمائیلے دی ۔ د ټولو نه د کمے درجے جنتی هغه دے چه د هغه مخ به الله تعالیٰ د جهنم د طرفنه واړه

وی او د جنت طرفته به ېې کړی او هغه ته به یوه سایه داره ونه اوښودلې شي. هغه به اوواسي اې زما ربه جل جلاله! ما دې ونې خواله بوځه زه به ددې په سوړې باندې یم او بیا ېې کړو حدیث لره چه هغه نسان لکه چه عبد الله ابن مسعودؓ بیان کړې دې. مګر په هغې کښې دا نشته دې چه الله تعالی به اوفرماني اې د آدم علیه السلام ځویه! ستا سوال به څه شي تمامه وی د آخره پورې. دومره زیات دې. چه الله تعالی به هغه ته یاده وی چه د فلانی فلانی څیز ارزو اوکړه. تردې پورې چه هر کله د هغه تمامې ارزوګانې ختم شي نو الله تعالی به اوفرماني تۀ د اتول واخله اولس حصې ددې نۀ زیاتې واخله او بیا به هغه خپل کورته لاړ شي او د حورانو نه به دوه بیبیانې دده خواته راشي او او به وائي چه شکر دې د خدائې چه هغه تا لره ښکلې کړو زمونږ دپاره. او مونږ لره ېې ښکلې کړلې ستا د پاره. بیا به هغه اوواتي چاته الله تعالی دومره زیاته (حصه) نه ده ورکړې. څومره چه ېې مونږ له راکړې ده.

(۳۶۵)عن المغیرة ابن شعبة یرفعه الی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال سال موسی علیه السلام ربه ما ادنی اهل الجنة منزلة قال هو رجل یجیئ بعد ما ادخل اهل الجنة الجنة فیقال له ادخل الجنة فیقول ای رب کیف وقد نزل الناس منازلهم واخذوا اخذ اتهم فیقال له اترضی ان یکون لک مثل ملک ملک من ملوک الدنیا فیقول رضیت ربی فیقول لک ذلک ومثله ومثله ومثله ومثله فقال فی الخامسة رضیت ربی فیقول هذا لک وعشرة امثاله ولک مااشتهت نفسک ولذت عینک فیقول رضیت ربی قال ربی فاعلاهم منزلة قال اولئک الذین اردت غرست کرامتهم بیدی وختمت علیها فلم تری عین ولم تسمع اذن ولم یخطر علی قلب بشر قال ومصداقه فی کتاب الله عزوجل فلا تعلم نفس ما اخفی لهم من قرة اعین الا یة [ترمذی : ۳۱۹۸]

ترجمه: د مغیره بن شعبه رضی الله تالی عنه نه روایت دې. هغه وئیلي وو. رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلي دی. چه حضرت موسی علیه السلام د خپل پروردګار نه

تپوس اوکړو د ټولو نه کمے درجے والا جنتي څوك دے؟ الله تعالى اوفرمايل هغه سړے دے. چه تمام جنتيان به جنت ته لاړشي نو ورستو به هغه ته اووئيلے شي څه جنت ته څه ! هغه به اووائي اے زما ربه جل جلاله! څنګه لاړشم؟ هلته خو ټولو خلقو د خپلے خپلے ټهکانے د پاره خپل ځايونه جوړ کړی دی. هغه ته به اووئيلے شي ولے ته راضي ئے په دے خبره باندے چه تا ته دے دومره ملك ميلاؤ شي. څومره چه ددنيا د يو بادشاه سره وو. هغه به اووائي زه راضي يم اے زما ربه! حکم به اوشي دومره ملك مونږ تاله درکړو. او دومره نور. او دومره نور. او دومره نور. او دومره نور. په پنځم ځل کښې به هغه اووائي زه راضي يم اے زما ربه جل جلاله! الله تعالى به اوفرمائي دا هم واخله او لس حصے ددے نه زياتے واخله. او څه چه ستا زړه غواړی اوکوم چه تاته ښه ښکاری په ليدو کښې هغه واخله. هغه به اووائي زه راضي شوم اے زما ربه جل جلاله! بيا حضرت موسى عليه السلام تپوس اوکړو؟ د ټولو نه لوئے درجے والا جنتي څوك دے الله تعالى او فرمايل هغه خو هغه خلق دی. چه هغه ما پخپله چانړ کړے دی. او د هغوی بزرګي او عزت ما په خپل لاس سره جماؤ کړے دے. او په هغوی مے مهر لګولے دے. د چا سترګو نۀ دے ليدلے نۀ د چا غوږونو اوريدلے دے. نۀ د چا په زړۀ کښې تير شوے دے (کوم څه چه د هغوی د پاره تيار دی) او د هغے تصديق کوی هغه څه چه په کلام الله کښې دی. فلا تعلم نفسٌ ما اخفي لهم من قرة اعين الاية. يعني څوك نۀ دی خبر د هغه څه نه چه پټ ايخودے شوے دی د هغوی د پاره د هغوی د سترګو يخوالے د آخره پورے.

(۴۶۲) عن المغيرة ابن شعبة يقول على المنبر ان موسى عليه السلام سئل الله تعالى عن اخس اهل الجنة منها حظا و ساق الحديث بنحوه. [راجع : ۴۶۵]

• ترجمه: مغيره بن شعبه په منبر باندے اووے حضرت موسى عليه السلام د الله تعالى نه تپوس اوکړو د ټولو نه د کمے درجے جنتي څوك دے. بيا ئے بيان کړو حديث لره په هغه شان

سره لکه چه پورته تیر شو.

(۴۶۷)عن ابی ذرّ قال قال رسُولُ اللہ صلی اللہ علیه واله وسلّم انّی لا اعلمُ اخر اهل الجنة دخولا الجنة واخر اهل النّار خروجا منها رجلٌ یؤتی به یوم القیمة فیقالُ اعرضُ علیه صغار ذنوبه وارفعُ عنه کبار ها فتعرضُ علیه صغارُ ذنوبه فیقال عملت کذاو کذا و کذا او عملت یوم کذا کذا و کذاو کذا فیقولُ نعم لا یستطیعُ ان ینکر وهو مشفقٌ من کبار ذنوبه ان تعرض علیه فیقالُ له فانّ لک مکان کلّ سیّئة حسنة فیقولُ ربّ قد عملتُ اشیاء لا راها هاهُنا فقد رایتُ رسُولُ اللہ صلّی اللہ علیه واله وسلّم ضحک حتّی بدتْ نو اجذهُ. [ترمذی : ۲۵۹۶]

ترجمه: د ابو ذرؓ نه روایت دے. رسُولُ اللہ صلی اللہ علیه واله وسلّم فرمائیلی دی زه پیژنم هغه سړی لره چه هغه به د تولو نه وروسته (بعد)جنت ته ځی. او د تولو نه وروستو به د دوزخ نه راوځی. هغه به یو سړے وی چه هغه به راوستے شی د قیامت په ورځ. بیا به حکم اوشی پیش کړئ دده کم ګناهونه او مهٔ پیش کوئ دده غټ ګناهونه. نو پیش به کړے شی د هغه واړه ګناهونه. او ورته به اونیلے شی په فلانی ورځ دے دا کار کړے دے. هغه به قبول کړی انکار به اونهٔ کړی. او اوبه یریږی په خپلو غټو ګناهونو باندې چه چرته هغه پیش نهٔ کړے شی. حکم به اوشی چه مونږ تا ته د هر یو ګناه په بدله کښې یوه نیکی درکړه. هغه به اووائی اے زما مالکه ما نور هم څه کارونه کړے دی د ګناه. چه هغے لره ما دلته اونه موندو. راوی وائی ما اولیدو رسُول اللہ صلی اللہ علیه واله وسلم لره چه خندل ئے تردے پورے چه د هغه د ژامو غابښونه ښکاره شول.

(۴۶۸) حدثنا ابومعاویة کلاهما عن الاعمش بهذا الاسناد: [راجع : ۴۶۷]

ترجمه: د اعمش په روایت سره هم دا روایت راغلے دے.

(۴۶۹) عن ابی الزّبیر انّه سمع جابربن عبد اللہ رضی اللہ عنهُ یسالُ عن الوُرُودِ فقال نجیءُ نحنُ یوم القیمة عن کذاو کذا انظر ای ذلک فوق النّاس قال فتدعی الاممُ باوثانها وما کانت تعبدُ الاوّل ثمّ

يأتينا ربنا بعد ذلك فيقول من تنظرون فيقولون ننظر ربنا عزوجل فيقول انا ربكم فيقولون حتى ننظر اليك فيتجلى لهم يضحك قال فينطلق بهم فيتبعونه ويعطى كل انسان منهم منافق او مؤمن نورا ثم يتبعونه وعلى جسر جهنم كلاليب وحسك تاخذ من شاء الله ثم يطفأ نور المنفقين ثم ينجو المؤمنون فتنجو اول زمرة وجوههم كالقمر ليلة البدر سبعون الفا لا يحاسبون ثم الذين يلونهم كاضوء نجم ثم كذلك ثم تحل الشفاعة ويشفعون حتى يخرج من النار من قال لااله الاالله وكان في قلبه من الخير مايزن شعيرة فيجعلون بفناء الجنة ويجعل اهل الجنة يرشون عليهم الماء حتى ينبتوا نبات الشيئ في السيل ويذهب حراقه ثم يسئل حتى تجعل له الدنيا وعشرة امثالها معها.

ترجمه: ابو الزبير اوريدلے دی د جابر بن عبد الله انصاریؓ نه. د هغوی نه تپوس اوکړو خلقو د راتلو د حال د قيامت د ورځے. هغوی اووے مونږ به راځو د قيامت په ورځ په دے شان سره ګوری يعنی دا د پاسه د ټولو خلقو. بيا به راوغوښتے شی. امتونه د خپلو خپلو بتانو او معبودانو سره وړمبے امت بيا دويم امت ددے نه پس به زمونږ پروردګار راشی او فرمائی به! تاسو څوك ګوری؟ (يعنی امت محمدیؐ ته به مخاطب ارشاد اوفرمائی) هغه به اووائی مونږ خپل پروردګار له ګورو (يعنی د هغه منتظر يو) پروردګار به اوفرمائی زه ستاسو مالك يم. هغه به اووائی مونږ تا له ګورو. (نو معلوم به شی) بيا به اوښودلے شی پروردګار هغوی ته په خندا سره او د هغوی سره به روان شی او خلق به ټول د هغه نه ورستو وی هر يو سړے خواه که هغه منافق دے يا مومن هغه ته به يو نور ميلاويږی خلق به د هغے سره وی. او د جهنم په پل باندے به د هغے سره وی او د جهنم په پل باندے به کونډے او اغزی وی. هغه به نيسی هغوی له چه خدائے غواړی ددے نه پس به د منافقانو نور مړ کړے شی. او مومنان به خلاصے اومومی. نو وړمبے ګروپ د مومنانو د هغوی مخونه به د څوارلسمے شپے د سپوږمئ په شان وی. د اوياز ره بنديانو به وی چه د هغو سره به حساب کتاب نهٔ کيږی د هغے نه پس ګروپ به د ښه پرقيدونکو ستورو پشان

وی . بیا د هغې نه پس د هغوی نه اِلاند تردې پوړې چه د شفاعت وخت به راشي او خلق به شفاعت کوی . او د جهنم نه به راویستلې شي او هغه څوك چا چه لااله الا الله ونیلې وی . او د هغه په زړه کښې د اوربشې د دانې برابر هم نیکی وی . او بهتری وی دغه خلق به د جنت په غولی کښې واچولې شي او جنتی خلق به په هغوی باندې اوبه تویوی او په دې شان به تازه کیږی لکه چه جهاړ د اوبو په بهاؤ کښې تازه شي . او د هغې سوز ش او سوې بالکل ختم شي بیا به هغه سوال د خدائې نه کوی . او هر یو ته به د ومره میلاویږی لکه توله د نیا بلکه لس د دنیا برابر .

فائده :. دا روایت موقوف دې په جابرؓ باندې او د مسلمؒ شرط دانۀ دې . مگر هغوی بیان کړې دې هغې لره ځکه چه هغه مسندا مروی دې په دویمه طریقه سره او په خپله امام مسلمؒ ددې په رفع باندې تنبیه کړې ده د ابن ابی شیبه د روایت نۀ . او بیان کړی نې دی د هغې اسناد او سماع د رسُوْل اللّٰه صلى اللّٰهُ علَيْه واله وسلم نه . نوویؒ ونیلې دی . راوی په دې مقام باندې غلطی او تحریف او خلط کړې دې . او اتفاق کړې دې په دې باندې متقد مینو او متاخرینو چه دا د لیکلو والا غلطی ده . قاضی عیاض ونیلې دی د حدیث عبارت په تمامو نسخو کښې دامې دې یعنی عن کذا و کذا انظر ای ذالك فوق الناس . چه د هغې ترجمه بیان شوه . لیکن مطلب ترې نه نۀ معلومیږی . صحیح عبارت دادې . علی کوم دغه شان روایت کړې دې بعضې اهل حدیثو او د ابن ابی حصیمه په کتاب کښې د کعب بن مالكؓ نه مروی دې . یحشر الناس یوم القیمة علی تل و امتی علی تل یعنی جمع کولې به شي خلق د قیامت په ورځ په یوه ټیله باندې به وی . او کوم هم ټیلې نه ونیلې کیږی (دنگه زمکه چه هغه د تیکرې پشان وی) طبری په خپل تفسیر کښې د ابن عمرؓ په روایت سره بیان کړې دې . چه بیا به پورته او خیژی محمد صلى الله علیه و اله وسلم او د هغه امت په یو ټیله باندې د ټولو خلقو د پاسه .

قاضی عیاض وائی ددے نه معلومیږی چه د راوی نه د کوم لفظ او نۀ لوستے شو نو هغه کذا و کذا د هغے په بدله کښ اولیکو بیا نے د هغے تفسیر په ای فوق الناس سره او دانظر لفظ نے د تنبیه د پاره هلته اولیکو او س نقل کونکو بعینه دے عباد لره نقل کړے دے ۔ او انظر لره نے هم په حدیث کښ شریك کړے دے والله اعلم او هغه به بے تپوس بے پښتنے په جنت کښ داخلیږی ۔ د بخاری په روایت کښ دی ۔ دا به هغه خلق وی چه نۀ منترے کوی نۀ بدفالو نۀ ګوری او په خپل پروردګار بهروسه لری.

(۴۷۰)عن جابر سمعه من النبیّ صلے اللّٰه علیه و اله وسلّم باذنیه یقولُ انّ اللّٰه عزو جلّ یخرج ناسا مّن النّار فیُدخلهم الجنّة.

ترجمه : د جابر نه روایت دے هغه اوریدلے دی په خپلو غوږونو سره د رسول الله ﷺ نه چه رسول الله ﷺ فرمائیل ! چه بے شکه الله تعالی به څه خلقو لره د جهنم نه راوباسی او جنت ته به نے داخل کړی ۔

(۴۷۱)عن حمّاد بن زید قال قلت لعمرو ابن دینار اسمعت جابربن عبدالله یحدث عن رسول الله صلّے اللّٰه علیه واله وسلّم انّ اللّٰه عزّو جلّ یخرج قوما من النّار بالشّفاعة قال نعم .

ترجمه : د حماد بن زید نه روایت دے چه ما د عمر بن دینار نه تپوس اوکړو آیا تا حدیث اوریدلے دے د جابر بن عبد الله نه چه هغه د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دے چه الله تعالی به د جهنم نه څه خلقو لره راووباسی د شفاعت د وجے نه هغه اوفرمائیل او ما اوریدلے دے۔

(۴۷۲)عن جابر ابن عبدالله قال قال رسول الله صلّے اللّٰه علیه واله وسلّم انّ قوما یُخرجون من النّار یحترقون فیهاالّا دارات وُجوههم حتی یدخلون الجنّة .

ترجمه : د جابر بن عبدا للّه نه روایت دے ۔ رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے هغه خلق چه په جهنم کښ اوسوزی او د هغه ځائے نه به راوخی ۔ او جنتته به ځی ۔ د هغوی تمام بدن به سوے وی سیوا د مخ نه.

فائده : ولے چه په مخ سره سجده کولے شی ۔ بل حدیث دے چه تمام د سجدے اندامونه به د انگارونونه بچ وی ۔ لکه چه پورته ذکر شو ۔

(۴۷۳)عَنْ یَزِیْد الْفَقِیْرِ قَالَ کُنْتُ قَدْ شَغَفَنِیْ رَأْیٌ مِّنْ رَأْیِ الْخَوَارِجِ فَخَرَجْنَا فِیْ عِصَابَةٍ ذَوِیْ عَدَدٍ نُرِیْدُ اَنْ نَحُجَّ ثُمَّ نَخْرُجَ عَلَی النَّاسِ قَالَ فَمَرَرْنَا عَلَی الْمَدِیْنَةِ فَاِذَا جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ یُحَدِّثُ الْقَوْمَ جَالِسٌ اِلٰی سَارِیَةٍ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ فَاِذَا هُوَ قَدْ ذَکَرَ الْجَهَنَّمِیِّیْنَ قَالَ فَقُلْتُ لَهٗ یَا صَاحِبَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ مَا هٰذَا الَّذِیْ تُحَدِّثُوْنَ وَاللّٰهُ یَقُوْلُ اِنَّکَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَیْتَهٗ وَکُلَّمَا اَرَادُوْا اَنْ یَّخْرُجُوْا مِنْهَا اُعِیْدُوْا فِیْهَا فَمَا هٰذَا الَّذِیْ تَقُوْلُوْنَ قَالَ فَقَالَ اَتَقْرَءُ الْقُرْاٰنَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَهَلْ سَمِعْتَ بِمَقَامِ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ یَعْنِی الَّذِیْ یَبْعَثُهُ اللّٰهُ فِیْهِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاِنَّهٗ مَقَامُ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ الْمَحْمُوْدُ الَّذِیْ یُخْرِجُ اللّٰهُ بِهٖ مَنْ یُّخْرِجُ قَالَ ثُمَّ نَعَتَ وَضْعَ الصِّرَاطِ وَمَرَّ النَّاسِ عَلَیْهِ قَالَ وَاَخَافُ اَنْ لَّا اَکُوْنَ اَحْفَظُ ذٰکَ قَالَ غَیْرَ اَنَّهٗ قَدْ زَعَمَ اَنَّ قَوْمًا یَّخْرُجُوْنَ مِنَ النَّارِ بَعْدَ اَنْ یَّکُوْنُوْا فِیْهَا قَالَ یَعْنِیْ فَیَخْرُجُوْنَ کَاَنَّهُمْ عِیْدَانُ السَّمَاسِمِ قَالَ فَیَدْخُلُوْنَ نَهْرًا مِّنْ اَنْهَارِ الْجَنَّةِ فَیَغْتَسِلُوْنَ فِیْهِ فَیَخْرُجُوْنَ کَاَنَّهُمْ عِیْدَانُ السَّمَاسِمِ قَالَ فَیَدْخُلُوْنَ نَهْرًا مِّنْ اَنْهَارِ الْجَنَّةِ فَیَغْتَسِلُوْنَ فِیْهِ فَیَخْرُجُوْنَ کَاَنَّهُمُ الْقَرَاطِیْسُ فَرَجَعْنَا فَقُلْنَا وَیْحَکُمْ اَتُرَوْنَ الشَّیْخَ یَکْذِبُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ فَرَجَعْنَا فَلَا وَاللّٰهِ مَا خَرَجَ مِنَّا غَیْرُ رَجُلٍ وَّاحِدٍ کَمَا قَالَ اَبُوْ نُعَیْمٍ

ترجمه : د یزید بن صهیب ابو عثمان فقیر نه روایت دے زما په زړه کښې د خوارجو یوه خبره راغلے وه ۔ (هغه دا چه کبیره گناه کونکے به همیشه همیشه په جهنم کښې وی او کوم چه جهنم ته لاړشی هغه بیا د هغے نه نۀ راوځی) نو مونږ راووتو د یو لوئے جماعت (ټولی) سره په دے اراده چه حج اوکړو بیا به د خارجیانو مذهب خورؤو هر کله چه مونږ مدینے ته اورسیدو نو څه گورو چه جابر بن عبدالله د یوے ستنے سره ناست دے خلقو ته احادیث د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اوروی ۔ هغوی ناځاپه د دوزخیانو ذکر اوکړو ۔ ما اووے ! اے اصحابیٔ د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه څه حدیث بیا نه وے ؟ الله تعالیٰ خو

فرمانیلی دی . اے زما ربه! ته چه چالره جهنم ته بوځے نو ته هغه لره رسوا کړو . او فرمائی چه د جهنم خلق د هغه ځانے نه وتل او غواړی نو بیا به په دغے کښې غوړ ځولے شی . او س ته څه وانے "هغوی اووے تا قرآن لوستلے دے" ما اووے ها لوستلے دے هغوی بیا اووے . ته د حضرت صلے الله علیه واله وسلم مقام اوریدلے دے . یعنی هغه مقام چه هغه به د قیامت په ورځ الله تعالی هغه ته عنایت کوی . (چه د هغے بیان په دے آیت کښې دے عسی ان یبعثك) ما اووے ها ما اوریدلے دے . هغوی اووے بیا دغه مقام محمود دے چه د هغے په وجه سره به راوباسی . الله تعالی د جهنم نه هغه خلقو لره چالره چه هغه اوغواړی . بیا نے بیان کړو د پل صراط حال او د خلقو د تیریدو په هغه پل باندے او او مته یره ده . چه یاد نه وی پاتے شوے دا . مگر هغوی دا ونیلے دی . چه څه خلق به د هغوی د تلو نه پس د دوزخ نه راوستلے شی . او په دے شان به راوځی لکه د آبنوس لرگی . (تور لوغړن سیزلے شوے) بیا به د جنت یو نهر ته بوتللے شی . او هلته به غسل کوی او د کاغذ په شان سپین به راوځی ددے په اوریدو سره مونږ واپس شو او مونږ اووے . خرابی دے وی ستاسو نے دے بوډا دروغ ونیل په رسول الله صلے الله علیه واله وسلم باندے . (یعنی هغه هیڅ کله دروغ نه ونیل بیا ستاسو مذهب غلط او ختو)او مونږ تمام واپس شو خپل مذهب ته . مگر یو سړے واپس نه شو . دغه شان ونیلے دی . ابو نعیم فضل بن دکین.

فائده :. دا دواړه آیتونه د خوارجو دلیل دی چه هغه وانی دوزخ نه چه لاړشی بیا به خوك دهغے نه نه شی وتلے . حالانکه دا آیتونه د هغه کافرانو او مشرکانو په بحث کښې دی چه هغه به همیشه په جهنم کښې وی . په حدیث کښې د سماسم لفظ دے چه هغه سمسم جمع ده . او سمسم وانی تل ته . د هغے لرگے هم نمر ته په ایخودلو سره تور پیږی او بعضو ونیلے دی په اصل کښې د الفظ د آبنوس او بعضو ونیلے دی سماسم ونیلے شی ابنوس ته.

(۴۷۴)عن انس ابن مالک ان رسول اللہ صلے اللہ علیہ و الہ وسلم قال یخرج من النار اربعۃ فیعرضون علی اللہ تعالی فیلتفت احدھم فیقول ای رب اذا اخرجتنی منھا فلا تعدنی فیھا فینجیہ اللہ منھا

ترجمہ :۔ انس بن مالک نہ روایت دے رسول اللہ صلے اللہ علیہ و الہ وسلم فرمایلے دی ۔ د دوزخ نہ بہ څلور سړی راوستلے شی ۔ نو د خدائے مخے تہ بہ حاضر کړے شی ۔ د ھغوی نہ بہ یو دجھنم طرفتہ اوګوری او او بہ وائی ۔ اے زما مالك ! ھر کلہ چہ تا خلاصے راکړو ددے نہ ۔ نو اوس مو بیا مہ بوځہ دے تہ ۔ اللہ تعالیٰ بہ ھغہ لرہ نجات ورکړی د جھنم نہ۔

(۴۷۵)عن انس ابن مالک قال قال رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم یجمع اللہ الناس یوم القیمۃ فیھتمون وقال ابن عبید او فیلھون لذلک فیقولون لو ستشفعنا الی ربنا حتی یریحنا من مکاننا ھذا قال فیاتون ادم علیہ الصلوۃ والسلام فیقولون انت ادم ابو الخلق خلقک اللہ بیدہ ونفخ فیک من روحہ وامر الملئکۃ فسجدو لک اشفع لنا عندربک حتی یریحنا من مکا ننا ھذا فیقول لست ھنا کم فیذکر خطیئتہ التی اصاب فیستحیی ربہ عزوجل منھا ولکن ائتوانوحا اول رسول بعثہ اللہ قال فیاتون نوحا علیہ الصلوۃ والسلام فیقول لست ھناکم فیذکر خطیئتہ التی اصاب فیستحیی ربہ منھا ولکن ئتوا ابراھیم علیہ السلام الذی اتخذ اللہ خلیلا فیاتون ابراھیم علیہ السلام فیقول لست ھنا کم ویذکر خطیئتہ التی اصاب فیستحیی ربہ منھا ولکن ائتوا موسی علیہ السلام الذی کلمہ اللہ واعطاہ التوراۃ قال فیاتون موسی علیہ السلام فیقول لست ھناکم ویذکر خطیئتہ التی اصاب فیستحیی ربہ منھا ولکن ائتوا عیسی علیہ السلام روح اللہ و کلمتہ فیاتون عیسی علیہ الصلوۃ والسلام روح اللہ وکلمتہ فیقول لست ھناکم ولکن ائتوا محمدا صلے اللہ علیہ والہ وسلم عبداقد غفرلہ ما تقدم من ذنبہ وما تاخر قال قال رسول اللہ صلے اللہ علیہ والہ وسلم فیاتونی فاستاذن علی ربی فیوذن لی فاذ اانا رایتہ وقعت ساجدا فیدعنی ماشاء اللہ فیقال یا محمد ارفع راسک قل تسمع سل تعطہ اشفع تشفع فارفع راسی فاحمد ربی بتحمید یعلمنیہ ربی عزوجل ثم اشفع فیحد لی حدافاخرجھم من

النار و ادخلهم الجنة ثم اعود فاقع ساجدا فیدعنی ماشاء الله ان یدعنی ثم یقال لی ارفع یامحمد قل یسمع سل تعطه اشفع تشفع فارفع راسی فاحمد ربی بتحمید یعلمنیه ثم اشفع فیحدلی حدا فاخرجهم من النار و ادخلهم الجنة قال فلا ادری فی الثالثة اوفی الرابعة قال فاقول یا رب ما بقی فی النار الامن حبسه القرآن ای من وجب علیه الخلود قال ابن عبید فی روایته قال قتادة ای وجب علیه الخلود (بخاری . ۲۲۵۹)

ترجمه : دانس بن مالك نه روایت دے . رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلے دی . الله تعالی به دقیامت په ورځ خلقو لره راجمع کړی . بیا به هغه کوشش کوی د هغه مصیبت دلرے کولو ... بیا به د هغوی په زړه کښ خدائے پاك د هغے فکر واچوی . که چرے زمونږ څوك سفارش اوکړی خپل مالك ته دلته د آرام موندلو دپاره نو غوره ده . نو رابه شی آدم علیه السلام ته او اوبه وائی . ته د ټولو خلقو پلار یے . الله تعالی تالره په خپل لاس سره جوړکړے یے . او خپل (پیدا کړے) روح نے پتا کښ پوکلے دے . او فرښتو ته نے حکم اوکړو نو هغوی تا ته سجده اوکړه . نو ته نن زمونږ خلقو شفارس اوکړه الله پاك ته چه هغه آرام راکړی . مونږ لره ددے ځائے د تکلیف نه . هغه به اووائی زه ددے لایق نۀ یم . او خپله خطا به یاده کړی چه زه د الله تعالی نۀ شرمیږم لیکن تاسو نوح علیه السلام له لاړ شئ هغه وړمبے پیغمبر دے چه هغه لره رالیږلے دے الله تعالی . هغه به راشی نوح علیه السلام ته نو نوح علیه السلام به اووائی زه ددے لائق نه یم او خپله خطا کومه چه تر نۀ په دنیا کښ شوے وه هغه به رایاده کړی او شرمیږی به د خپل پروردګار نه او اوبه وائی تاسو لاړ شئ ابراهیم علیه السلام لره . چه هغه الله تعالی خپل دوست جوړ کړے وو . هغه تمام خلق به ابراهیم علیه السلام له راشی هغه به اووائی زه ددے لائق نۀ یم . او هغه خطا کومه چه د هغۀ نه شوے وه هغه به رایاده کړی چه زه د خدائے نه شرمیږم لیکن تاسو لاړ شئ موسی علیه السلام لره چه د هغه سره الله تعالی خبرے کولے او هغه ته نے تورات شریف عنایت

کړے وو ۔ هغه به تول موسی علیه السلام ته راشی ۔ هغه به اووائی زه ددے لائق نهٔ یم ۔ او هغه خطا کومه چه د هغه نهٔ شوے وه به یاده کړی ۔ او د خدائے نه به شرمیږی لیکن تاسو لاړشئ عیسی علیه السلام ته چه هغه دالله روح دے ۔ او د هغه په حکم سره پیدا شوے دے ۔ هغه به راشی عیسی علیه السلام ته ۔ هغه به اووائی زه ددے لائق نهٔ یم ۔ لیکن تاسو لاړشئ محمدرسول الله صلے الله علیه واله وسلم ته۔ هغه داسے بنده دے د الله تعالیٰ چه د هغه وړمبی او ورستی تمام گناهونه معاف شوی دی ۔ رسول الله صلے الله علیه واله وسلم اوفرمایل بیا به هغه خلق تول ماله راشی۔ زه به د خپل پروردګار نهٔ اجازت غواړم (د باریاب کیدلو) ماته به اجازت میلاویږی ۔ هر کله چه زه هغے له اووینم نو په سجده به زهٔ پریوځم ۔ بیا به هغه ما پریږدی په سجده کښ د کومے پورے چه غواړی ۔ او بعد د هغے نه به اووئیلے شی اے محمد ! اوچت کړه خپل سر لره اووایه چه څه وائے اورم او غواړه چه څه غواړے درکولے به شی ۔ او ستا شفاعت به قبلیدے شی ۔ بیا به زه سر اوچت کړم ۔ او د خپل پروردګار تعریف به کوم په هغه شان سره څنګه چه هغه ماته ښودلے وی ۔ بیا به شفارس کوم نو یو حد به زما د پاره مقرر کړے شی ۔ زه به د هغه حد په موافق خلقو لره ددوزخ نه راوباسم ۔ او جنت ته به ئے بیایم او دوباره به خپل پروردګار ته راځم او په سجده به پریوځم ۔ هغه به ما پریږدی په سجده کښ د کومے چه غواړی ۔ بیا به حکم اوشی ۔ یا محمده! خپل سر را چت کړه او وایه اورم به ئے ۔ غواړه د رکووم به ئے ۔ شفارس کوه قبلولے به شی ۔ زه به خپل سراوچت کړم او د خپل مالك تعریف به اوکړم ۔ څنګه چه هغه ماته اوښائی ۔ بیا به زه شفارس کوم نو یو حد به اوټړلے شی ۔ زه به د هغے حد موافق خلقو لره د دوزخ نهٔ راوباسم او په جنت کښ به ئے داخلوم ۔ راوی وائی ماته یاد نهٔ دی ۔ چه هغه په دریم یا څلورم ځل کښ اوفرمایل ! زه به اووایم چه اے زما مالکه ! اوس خو څوك په دوزخ کښېنې پاتے نهٔ شول ۔ مګر هغه چه د قرآن په موجب همیشه په دوزخ کښ د اوسیدو لائق

دے قتادۃ وسلے دی یعنی د ځ چه همیشه اوسیدل هلته ضرور دی۔

فائده: څو څیزونو لره الله تعالی په خپل خاص لاس مبارك سره جوړ کړے دی۔ د هغے بزرګی ورکولو نه یو په هغے کښ آدم علیه السلام دے۔ دویم توریت لره ئے په تختو باندے په خپل لاس سره لیکلے وو۔ دریم په جنت العدن کښ ئے ونے په خپل لاس سره لګولے دی۔ دغه شان څو تمام څیزونه د خدائے په حکم سره پیدا شوے دی۔ خودے څیزونو لره خدائے پاك په خپل خاص لاس سره جوړ کړے دی لکه چه په حدیث کښ وارد دی۔ څو د خدائے لاس داسے بے شبهے مقدس بینظیر دے لکه د هغه ذات مقدس جل شانه۔

هغه ګناه کړے وه۔ د هغے ونے نه ئے خوراك د کومے نه چه الله منع کړے وو۔ نووی وائی عالمانو اختلاف کړے دے۔ چه د پیغمبرانو نه ګناه صادرکیږی یا نۀ۔ او قاضی عیاض په دے بحث کښ مختصرتقریر کړے دے۔ هغه دادے چه د نبوت نه پس د هغو نه کفر سر زد کیدے نه شی۔ بلکه هغه معصوم دی د کفر نه۔ لیکن د نبوت نه وړاندِ څو په دے کښ اختلاف دے۔ او صحیح داده چه د نبوت نه هم هغه وړاندِ د کفر نه معصوم وی۔ اوس پاتے شو ګناه نو رکوم چه د کفر نه کم دی۔ نو د کبیره ګناه نه په اتفاق سره هغه معصوم دی۔ او په دے شان د هغه غلیطانو نۀ چه هغه په تبلیغ رسالت کښ وی۔ قولاً یا فعلاً دا مذهب دے د استاد ابو مظفر اسفراینی۔

زمونږ د آئمه خراسان نه او مشائخ صوفیه ؤ نه او د بعضو په نز داغلطی کیدے شی۔ لکه زمونږه پیغمبرؑ ته سهوه او شوه په مانځه کښ لیکن ضروری ده چه هغه خبر شی د خپلے غلطی نه یا په هغه وخت یادوفات نه وړاند او د امذهب دے د جمهور علماؤ او اکثرو محققینو۔ اوس پاتے شول صغیره ګناهونه۔ نو کوم صغیره ګناهونه چه هغه قسم دی چه د هغے نۀ دنائت و رخست او کمینه پن اوځی۔ د هغے نه په اتفاق سره معصوم دی او باقی صغیره ګناهونو کښ اختلاف دے۔ اکثر فقها او محدثین سلف او خلف په دے طرف

تلي دي چه ددې قسم صغیره گناهونه د هغوی نه کیدې شي . او دلیل د هغوی د قرآن آیتونه او حدیثونه دي . او یو جماعت د محققینو فقها ء او متکلمینو نه په دې طرف تلي دې . چه هغه پاك دي د صغائرونهٔ هم لکه څنګه چه د کبائرو نه هم پاك دي .

او د نبوت منصب مانع دې دداسې گناهونو د کولو نه . او قصداً د خدائې نه مخالفت کولو نه . او کوم احادیث او آیاتونه چه هغه قسم وارد شوې دي چه د هغې نه د پیغمبرانو گناهګار کیدل اوځي . هغه تاویل کړې شوې دي . یا محمول دي په سهوه باندې . یا د الله اذن وو په بعضې څیزونو کښې . لیکن هغوی ته یره شوه په هغې کښې د مواخذې . یا بعضې څیزونه داسې دي . چه هغه د نبوت نه مخکښې د هغوی نه سرزد شوې وي . او دا مذهب حق دې . ځکه چه د انبیاؤ د اقوالو او افعالو پیروی کول لازم دی .

بیا که چرې هغه خطاوار وي . نو په ډیرو افعالو کښې به د هغوی پیروی کول لازم نه وي . قاضی عیاض وئیلي دي . چه مونږ د غه مطلب لره په خپل کتاب شفاء کښې ښه بیان کړې دې . چه داسې په نورو کتابونو کښې نهٔ میلاویږی . او ددې خبرې نه مه یریږئ چه دامذهب منسوب دې د خوارجو او معتزله ؤ او مبتدعه وګروهونو په طرف ځکه چه دهغوی مطلب ددې مذهب نه بل دې . هغه څه ! په صغیره گناه سره کافر کیدل . او مونږ پاك یو ددې خیال نه . او دا چه کومې خطایانې د انبیاؤ بیان کړې شوې دي . لکه د آدم علیه السلام په هیره سره د هغه ونې نهٔ خوړل . او د نوح علیه السلام بددعاکول په کافرو باندې . او قتلول د موسی علیه السلام یو کافر لره . او بچ کول د ابراهیم علیه السلام خپل ځان لره د کافرو د شرنه . پهو خبره به نې اوکړه چه هغه به په یو شان سره رښتیا کیدله . دا به حقیقت کښې د نورو په حق کښې گناه نه ده . مګر په انبیاؤ باندې عتاب راغې . یا هغه اوبریدو دهغه خبرونه هم په وجه د قرب او منزلت . تمام شو کلام د قاضی عیاضؒ .

امام ابو عبدا لله مازری وائی چه مورِ خینو لیکلی دی . چه حضرت ادریس علیه

السلام د نوح علیہ السلام نیکہ وو ۔ بیا کہ چرے د اثابتہ شوہ چہ ادریس علیہ السلام پیغمبر وو نو د مورخینو دا قول صحیح نۀ دے چہ ھغہ د نوح علیہ السلام نیکہ وو ۔ ولے چہ د حدیث نہ صفا دا امر وتلے دے ۔ چہ نوح علیہ السلام د تولو نہ ورمبے پیغمبر دے چہ دنیا تہ راغے ۔ او بعضو ونیلے دی چہ پہ حدیث کښی د رسول لفظ دے او کیدے شی چہ ادریس علیہ نبی وی رسول نۀ وی ۔ قاضی عیاض ونیلے دی ۔ بعضے وائی چہ ادریس الیاس علیہ السلام تہ ونیلے شی ۔ او ھغہ پیغمبر وو ۔ د بنی اسرائیلو د یو شع بن نون سرہ ۔ پہ دے صورت کښی بہ اعتراض نۀ وی ۔ پہ دے شان بہ دا اعتراض نۀ شی کیدے ۔ چہ آدم علیہ السلام او شیث علیہ السلام دوارہ پیغمبران وو ۔ او ھغہ د نوح علیہ السلام نہ مخکښی وو ۔ ولے چہ آدم علیہ اسلام تہ د خپل اولاد د تعلیم حکم شوے وو ۔ او ھغہ کافر نۀ وو ۔ دغہ شان شیث علیہ السلام چہ ھغہ خلیفہ وو د آدم علیہ السلام ۔ کافرانو تہ د ھدایت د پارہ لیږل خو دا حکم د تولو نہ مخکښی د نوح علیہ السلام د پارہ شوے وو ۔

قاضی عیاض ونیلے دی ۔ د ابو الحسن بطال مذھب دادے ۔ چہ آدم علیہ السلام رسول نہ وو ۔ ددے د پارہ چہ دا اعتراض وارد نہ وی ۔ حالانکہ د ابو ذرؓ طویل حدیث نص صریح دے ۔ چہ آدم علیہ او ادریس علیہ دوارہ رسولان وو ۔ نوویؒ یعنی خلیل قاضی عیاضؒ ونیلے دی د خلت پہ اصل کښی معنیٰ قطع کول او براھیم علیہ السلام تہ ئے خلیل اووے ځکہ چہ ھغہ قطع کری وو تولو حاجتونو لرہ د مخلوقاتو نہ ۔ او پریخودے ئے وو ھغے لرہ پہ خپل رب باندے ۔ او بعضو ونیلے دی ۔ دَ خلت معنی رښتونے او صفا دوستی دہ چہ ھغہ باعث وی د اسرار او ز مونږ د تخلل یعنی درازونو د راتلو ۔ او بعضو ونیلے دی دَ خلت معنیٰ محبت دے تمام شو کلام د قاضیؒ عیاضؒ ۔

ابن انباری ونیلے دی ۔ خلیل ونیلے شی دوست تہ چہ د ھغہ دوستی او محبت پورہ وی ۔ او محبوب ھغہ تہ چہ د ھغہ پہ محبت کښی څہ نقص او خلل نۀ وی ۔ واحدی ونیلے

دی ۔ داقول مختار دے ۔ولے چه الله خلیل دے د ابراهیم علیه السلام او ابراهیم علیه السلام خلیل دے د الله او په کوم صورت کښې چه د خلت معنی د قطع حاجت شی ۔ نو په دغه صورت کښې الله ته دا براهیم علیه السلام خلیل نۀ شی وئیلے کیدے ۔ (نووی)

د موسیٰ علیه السلام سره الله تعالیٰ خبرے کړے دی ۔ په دے باندې اهل سنتو اجماع کړے ده ۔ چه دا کلام په خپل ظاهر باندے محمول دے ۔ او الله تعالیٰ حقیقتاً د حضرت موسیٰ علیه اسلام سره خبرے کړے دی ۔ او موسیٰ علیه السلام اوریدلے دی بلا واسطه ۔ او کلام د الله یو صفت دے چه د مخلوق د کلام مشابه نۀ دے ۔ مراد د وړمبو گناهونو نه هغه گناهونه چه هغه د نبوت نه وړاندې شوے وی او دورستو نه د نبوت نه پس گناهونه مراد دی ۔ او بعضو وئیلے دی چه مراد د امت وړمبی اوورستی گناهونه دی ۔ په دے صورت کښې به د بخشش نه مراد د هغوی د گناهونو بخشش وی ۔ یا همیشه د پاره د جهنم نه بچ کیدل او بعضووئیلے دی چه مراد د هغه گناهونو نه هغه هیریدل پاتے کیدل دی چه د هغوی نه شوے وو ۔ او بعضو وئیلے دی چه دوړمبو گناهونو نه مراد د آدم علیه السلام خطاء ده ۔ او ورستو نه د امت گناهونه مراد دی ۔ او بعضو وئیلے دی چه دا بر تقدیر فرض دی ۔ یعنی که ستاسو څه گناهونه دی نو هغه تمام مغفور او معاف دی او بعضو وئیلے دی چه مقصو د د هغے نه پاکی ده د هغوی د گناهونو نۀ ۔ (نووی)

نصاری په دے آیت سره لیغفرك الله ما تقدم من ذنبك و ما تاخر ۔ زمونږ په پیغمبر رسول الله صلی الله علیه واله وسلم باندے اعتراض کوی ۔ چه هر کله هغه پخپله گناهگار وو نو نورو لره به د گناهونو نه څنگه پاك کړی ۔ د هغے جواب دادے ۔ چه دوړمبو کتابونو آسمانی ونه د نورو پیغمبرانو هم په گناهونو کښې مبتلا کیدل راوتلے شی ۔ بیا چه کوم جواب د هغوی د طرفنه ورکیدے شی ۔ هغه جواب زمونږ دپیغمبرؐ د طرفنه هم کیدے شی دویمه دا چه گناه او تقصیر د مسلم ده ۔ چه د عامو خلقو نه د ډیرو دلسے خبرو

شکایت نۀ وی ۔ کوم چه د خاصو بندیګانو د پاره لوئے تقصیرونه ګنړلے شی دغه شان د پیغمبرانو او د مقربو خلقو ګناهونه داسے دی ۔ چه هغه زمونږ په حق کښې هیڅ ګناه هم نۀ ده لیکن د تقرب په وجه سره هغه ګناه ګنړلے شی ۔

او چونکه انبیاء بشر دی او محال ده چه بشر دے د لوازم بشریت نه پاك وی خکه خامخا څه تقصیر یا غفلت په څه وخت کښې د هغوی نه واقع کیږی ۔ بیا چه مالك د خپل چابنده داسے تقصیرانو لره هم د یو قلم سره معاف کړی نو دا د هغه کمال محبت دے د هغه بنده سره ۔ او په هغے کښې عظمت او بزرګی ده ۔ د هغه بنده په نورو بندیګانو باندے ۔ نو دا ایات په حقیقت کښې یو شرف دے زمونږ د پیغمبر د پاره نۀ نقصان لکه چه مخالفین خیال کوی ۔ خدائے پاك دے هغوی ته هدایت اوکړی ۔ البته د هغوی اعتراض په دے صورت کښې درست کیدو چه مونږ خپل پیغمبرؑ لره نعوذ بالله ۔ د بندګی نه اوچت د خدائے مقام ته رسولے ۔ لکه چه هغوی د خپل پیغمبر علیه السلام سره کړے دی ۔ دا داسے دے وقوفی او بے عقلی خبره ده چه تمامو مذهبونو والا د نصاری و په دے خیال باندے په زوره زوره خندا کوی ۔ او د دے خیال په وجه سره د هغوی تمام مذهب د عقلاؤ په نزد لغوه شوے دے لاحول ولا قوة الا بالله ط ۔

یعنی هر کله چه نور پیغمبران به هغوی ته جواب ورکړی او لوبه والئی چه مونږ ددومره لوئے کار لائق نۀ یو نو هغه به زما خواله راشی ۔ قاضی عیاضؒ وئیلے دی ۔ د نورو پیغمبرانو دا وینا کول په وجه د عاجزی او انکساری دی ۔ او کیدے شی اشاره وی د هغے خبرے چه دا درجه د شفاعت زما درجه نۀ وه ۔ او د هغه نه د ورستو والا ده او کیدے شی چه هغوی ته معلومه وی چه دا درجه زمونږ د پیغمبر رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ده ۔ لیکن هر یو د خپل خان نه پس په بل باندے حواله ورکړه تردے چه رورو دا سلسله زمونږه پیغمبرؑ ته راورسیده او د هغه غوره والے په تمامو پیغمبرانو باندے ظاهر شو ۔ د دے حدیث

نه داخبره هم وتلے شی ۔ چه په لویولویو کارونو کښ ورمیے د زیات عمر والا او بزرګو خلقو طرفته رجوع کول پکار دی

اوزمونږ پیغمبرؐ کوم چه به د هغه کار نه انکار نهٔ کوی او نیار به شی ورته ۔ هغه ددیے وجے نهٔ چه هغه به پو هه وی په دیے باندیے چه دا زما کار دیے ۔ او د اعزت خدائے پاك زما د پاره ایخودیے دیے ۔ نوویٔ ونیلے دی ۔الله تعالیٰ چه کوم د هغه خلقو په زړونو کښ به داواچوی چه ورمبی به آدم علیه السلام له لاړ شی ۔ بیا نوح علیه السلام له ۔ بیا ابراهیم علیه السلام له ۔ په دیے شان دآخره پوریے ۔ په دیے کښ حکمت دادیے چه زمونږ د پیغمبر رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فضیلت په نورو پیغمبرانو باندیے معلوم شی ۔ ولے چه که چرے د ورانډِ نه هغه د حضرتؐ خواله راتلے نو ددیے خبرے احتمال پاتے کیږی ۔ چه د نورو پیغمبرانو نه هم دا کار ممکن وو۔

لیکن هر کله چه هغویٔ د تولو نهٔ سوال اوکړو او چا چه قبول نهٔ کړو ۔ نو دهغه بزرګی په ټولو باندیے ظاهره شوه ۔ او د جنابِ الوهیت نه د هغه کمال قرب ظاهر شو ۔ د دیے حدیث نه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم غوره والے په تمامو مخلوقاتو باندیے خواه که هغه پیغمبران دی یا نور بندیګان ۔ یا پیرایان یا فرشتے دی ظاهریږی ولے چه دومره لویٔے کار یعنی شفاعت عظمیٰ به د چا بل چا نه نهٔ شی کیدلے او هغهٔ به هغے لره قبلوی ۔ یا الله تهٔ مونږ ه لره او تولو مسلمانانو رونړو لره د هغه شفاعت عظمیٰ نصیب کړے آمین یا رب العلمین ط ۔

ددیے حدیث نه صفا معلومیږی چه د شفاعت اذن به د هغه دپاره دقیامت په ورځ وی ۔ اګر چه دا درجه الله تعالیٰ خاص دهغه د پاره ایخودیے ده ۔ خو د هغے اجازت به په قیامت ورکوی ۔ اوس چه کوم خلق خیال کوی چه د شفاعت اذن هغه ته شوے دیے د هغوی خیال غلط دیے او مخالف دیے د قرآن نه ۔ په قرآن کښ موجود دی چه هلته به د چا

شفاعت کار آمد نۀ وی ۔ مگر چاته چه خدائے اذن اوکړی ۔ او س دا شفاعت به هم د هغه خلقو د پاره وی ۔ چه د هغوی نجات ورکونکے او د عذاب نه بچ کونکے سوا دخدایے پاک نه څوك نۀ وی ۔ خو په ظاهر کښې د پیغمبرانو د رتبے او چتولو د پاره او د هغوی د خوشحالولو د پاره به هغوی ته شفارس کولے شی ۔ او د هغوئ شفارس به قبلولے شی ۔ دا نۀ دی گنړل پکار چه دا پیغمبر دخدائے په درگاه کښې د څه قسم زور معاذالله یا دباو لرلے شی چه خدائے به د هغے وجے نه د هغه شفارس منی ۔ ولے چه د خدائے تعالیٰ هغه شان دے چه په هغه باندې د رتی برابر د چا زور یا دباؤ نشته ۔ او د لویو نۀ لوئے پیغمبر او بنده مقرب هم هریوه خبره او حاجت د هغه نه داسے غواړی ۔ لکه بند چه د خپل مالك نه لو غلام د خپل صاحب نه چه غواړی ۔ یعنی کافراو مشرك لکه چه الله تعالیٰ فرمائی ۔ الله جل جلاله نه بخی شرك لره او ددے نه ثابتیږی مذهب د خاوندانو دحق ۔ چه په دے باندې اجماع کړے ده سلفو چه کوم سړے په توحید باندې مرشو هغه به همیشه دپاره په جهنم کښې نۀ پاتے کیږی۔

(۴۷۶)عَنْ انس قال قال رَسُوْلُ اللهِ صلّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسلَّمَ یَجْتَمِعُ الْمُوْمِنُوْن یوم الْقِیٰمةِ فیَهْتَمُّوْن بذلك او یُلْهَمُوْن ذٰلِكَ بِمِثْلِ حدیث ابی عوانة وَقال فِی الْحَدِیْثِ ثُمَّ اٰتِیْهِ الرَّابعة اوأعُوْدُ الرَّابِعة فاَقُوْلُ یا رَبِّ مَابَقِیَ اِلاَّ مَنْ حَبَسهُ الْقُرْاٰنُ.[بخاری : ۴۴۷۶، ابن ماجه : ۴۳۱۲]

ترجمه : د انس بن مالكؓ نه روایت دے چه رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلے دی ۔ الله تعالیٰ به راغونډ کړی مومنانو لره د قیامت په ورځ هغوئ ته به خیال راشی دا آخره پورے لکه چه پورته حدیث تیر شو ۔ په کښې دادی چه هغه به په څلورم وار عرض اوکړی چه اے پروردگاره اوس خو په جهنم کښې څوك پاتے نۀ شو ۔ مگر څوك چه د قرآن په حکم سره حصار شوے دی ۔ یعنی څوك چه د همیشه دپاره د لوسیدو مستحق دی ۔

(۴۷۷)عَنْ انس ابْنِ مَالِكٍ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قال یَجْمَعُ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِیْنَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ

فیلھمون لذلک بمثل حدیثھما و ذکر فی الرابعة فاقول یارب ما بقی فی النار الا من حبسه القران ای وجب علیه الخلود.[بخاری . ۶۴۴۷، ۲۱۰۴، ۵۱۲۶]

ترجمه : د انس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله پاك به یو جمع کوی مؤمنانو لره په ورځ د قیامت باندے او دوی ته به خیال راځی تر آخره پورے لکه چه څنګه مخکښ روایت تیر شو په دے کښ دادی چه رسول الله ﷺ به په څلورم ځل باندے عرض کوی اے پروردګاره په جهنم کښ اوس هیڅ څوك پاتے نۀ شو مګر چه هغه د قرآن په حکم سره په جهنم کښ پاتے دے یعنی چه څوك همیشه په جهنم کښ د اوسیدو مستحق دے.

(۴۷۸)عن انس ابن مالک ان النبی صلی الله علیه واله وسلم قال یخرج من النار من قال لا اله الا الله وکان فی قلبه من الخیر ما یزن شعیرة ثم یخرج من النار من قال لا اله الا الله وکان فی قلبه من الخیر ما یزن برة ثم یخرج من النار من قال لا اله الا الله وکان فی قلبه من الخیر مایزن ذرة زاد ابن منھال فی روایته قال یزید فلقیت شعبة فحدثته حدثنا به قتادة عن انس ابن مالک عن النبی صلی الله علیه واله وسلم بالحدیث الا ان شعبة جعل مکان الذرة ذرة قال یزید صحف فیھا ابو بسطام .[بخاری : ۴۴، ۷۴۱۰، ترمذی : ۲۵۹۳، ابن ماجه: ۴۳۱۲]

ترجمه : دانس بن مالك نه روایت دے . رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی راوځی به د دوزخ نه هغه بنده چه هغه لااله الاالله ونیلے وی . او د هغه په زړه کښ د وربشے د دانے برابر نیکی وی . بیا به راوځی د دوزخ نه هغه بنده چه هغه لااله الا الله ونیلے وی او د هغه په زړه کښ د غنم د دانے برابر نیکی وی . بیا به راوځی ددوزخ نه هغه سړے چه هغه لااالا الا الله ونیلے وی او د هغه په زړۀ کښ د ذرے برابر نیکی وی .

شعبه په دے حدیث کښ تصیحف کړے دے او په ځائے د ذرے (چه د هغے معنی میږی دی) هغوی ذره روایت کړے دے . (چه هغه یوه غله ده چه هغے ته چینا ونیلے شی.)

(۴۷۹) عن معبد ابن هلال العنزی قال انطلقنا الی انس ابن مالک وتشفعنا بثابت فانتھینا الیہ یصلی الضحی فلیستاذن لنا ثابت فد خلنا علیہ واجلس ثابتا معہ علی سریرہ فقال لہ یاابا حمزۃ ان اخونک من اھل البصرۃ یسألونک ان تحدثھم حدیث الشفاعۃ قال حدثنا محمد صلی اللہ علیہ والہ وسلم قال اذا کان یوم القیمۃ ماج الناس بعضھم الی بعض فیاتون ادم علیہ الصلوۃ والسلام فیقولون لہ اشفع لذریتک فیقول لست لھا ولکن علیکم بابراھیم علیہ السلام فانہ خلیل اللہ فیاتون ابراھیم علیہ السلام فیقول لست لھا ولکن علیکم بموسی فانہ کلیم اللہ عزوجل فیؤتی موسی علیہ السلام فیقول لست لھا ولکن علیکم بعیسی فانہ روح اللہ وکلمتہ فیؤتی عیسی علیہ السلام فیقول لست لھا ولکن علیکم بمحمد صلی اللہ علیہ والہ وسلم فاُوتی فاقول انالھا انطلق فاستاذن علی ربی فیؤذن لی فاقوم بین یدیہ فاحمدہ بمحامد لا اقدر علیہ الان یلھمنیہ اللہ عزوجل ثم اخر لہ ساجدا فیقال لی یا محمد ارفع راسک وقل یسمع لک وسل تعطہ وشفع تشفع فاقول رب امتی امتی فیقال انطلق فمن کان فی قلبہ مثقال حبۃ من برۃ او شعیرۃ من ایمان فاخرجوہ منھا فانطلق ثم ارجع الی ربی عزوجل فاحمدہ بتلک المحامد ثم اخرلہ ساجدا فیقال لی یامحمد ارفع راسک وقل یسمع لک وسل تعطہ وشفع تشفع فاقول یارب امتی امتی فیقال لی انطلق فمن کان فی قلبہ مثقال حبۃ من خردل من ایمان فاخرجہ منھا فانطلق فافعل ثم اعود الی ربی فاحمدہ بتلک المحامد ثم اخرلہ ساجدا فیقال لی یا محمد ارفع راسک وقل یسمع لک وسل تعطہ واشفع تشفع فاقول یارب امتی امتی فیقال لی انطلق فمن کان فی قلبہ ادنی ادنی ادنی من مثقال حبۃ من خردل من ایمان فاخرجہ من النار فانطلق فافعل ھذا حدیث انس الذی انبانا بہ فخرجنا من عندہ فلما کنا بظھر الجبان قلنالو ملنا الی الحسن فسلمنا علیہ وھو مستخف فی دار ابی خلیفۃ قال فد خلنا علیہ فسلمنا علیہ قلنا یاابا سعید جئنا من عند اخیک ابی حمزۃ فلم نسمع بمثل حدیث حدثناہ فی الشفاعۃ فقال ھیہ فحدثناہ الحدیث فقال ھیہ قلنا مازاد نا قال قد حدثنا بہ منذ عشرین سنۃ وھو یومئذ جمیع ولقد ترک شیئا ما ادری انسی الشیخ اوکرہ ان یحدثکم فتتکلو قلنالہ حدثنا فضحک وقال خلق الانسان

مِنْ عِجَالٍ مَاذَكَرْتُ لَكُمْ هٰذَا إِلَّا وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أُحَدِّثَكُمُوهُ قَالَ ثُمَّ أَرْجِعُ إِلَى رَبِّي فِي الرَّابِعَةِ فَأَحْمَدُهُ تِلْكَ الْمَحَامِدَ ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا فَيَقُولُ لِي يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ يُسْمَعْ لَكَ وَسَلْ تُعْطَهْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَقُولُ يَا رَبِّ ائْذَنْ لِي فِيمَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ فَيَقُولُ لَيْسَ ذٰلِكَ لَكَ أَوْ قَالَ لَيْسَ ذٰلِكَ إِلَيْكَ وَلٰكِنْ وَعِزَّتِي وَجَلَالِي وَكِبْرِيَائِي وَعَظَمَتِي وَجِبْرِيَائِي لَأُخْرِجَنَّ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ قَالَ فَأَشْهَدُ عَلَى الْحَسَنِ أَنَّهُ حَدَّثَنَا بِهِ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أُرَاهُ قَالَ قَبْلَ عِشْرِينَ سَنَةً وَهُوَ يَوْمَئِذٍ جَمِيعٌ ۔ [بخاری : ۷۵۱۰]

ترجمه :د معبد بن هلال عنزی نه روایت دے چه مونږ د انس بن مالکؓ خواله لاړو او د ثابت سفارش مے اوغوښتو (د هغه سره دملاقات د پاره آخر مونږ هغه ته اورسیدو . هغه د چاشت مونځ لوستلو ـ ثابت ز مونږ د پاره اجازت اوغوښتلو ـ ددنه تللو او مونږ دننه لاړو ـ هغه ثابت د ځان سره په تخت باندے کیښنولو ـ ثابتؓ اووے اے ابو حمزه (دا د انس کنیت دے) ستا رورېصرے والا غواړی چه مونږ ته د شفاعت حدیث واوروه . هغوی اووے مونږ ته بیان کړے دے حضرت محمد رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ. هر کله چه د قیامت ورځ شی نو خلق به گهبراؤ شی د یو بل خواله به ځی ـ وړمبی به : حضرت آدم علیه السلام خواله راشی ـ او اوبه وائی تهٔ د خپل اولاد سفارش اوکړه ـ (خدائے ته ددے دپاره چه هغه خلاصے راکړی ددے آفت نه) هغه به اووائی زه ددے لائق نهٔ یم ـ لیکن تاسو ابراهیم علیه السلام له لاړشئ ـ هغه د الله جل جلاله دوست دے ـ پس خلق به د هغه خواله لاړ شی ـ هغه به ورته اووائی زه ددے قابل نهٔ یم ـ لیکن تاسو د موسیٰ علیه السلام خواله لاړشئ هغه کلیم الله دے ـ (یعنی الله بلا واسطه د هغه سره کلام کړے دے) خلق به د هغه خواله لاړ شی ـ هغه به اووائی زه ددے لائق نه یم لیکن تاسو د حضرت عیسیٰ علیه السلام خواله لاړشئ ـ هغه روح الله دے او د هغه کلمه ده (یعنی بے پلاره د خدائے په حکم سره پیدا شوے دے) خلق به د هغه خواله لاړ شی ـ هغه به اووائی زه ددے

لانځئ نه یم لیکن ناسو حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه واله وسلم له لاړشئ ۔ هغه به تمام زما خواله راشي ۔ زه به اووایم بنه ده دا زما کار دے ۔ اوز ه به لاړشم او د خدائے تعالی نه به اجازت غواړم (یعنی د شفاعت د پاره) ماته به اجازت میلاؤ شي زه به د هغه مخے ته ولاړ یم ۔ او داسے تعریفونه به د هغه بیانووم چه هغه زه اوس نۀ شم بیانولے ۔ په هغه وخت به نے الله زما په زړه کښ اوغورځوی ددے نه پس په سجده به زه پریوځم ۔ آخر حکم به اوشي اے محمدﷺ! خپل سر اوچت کړه او وایه زه اورم اوغواړه مونږ نے درکوؤ او شفاعت کوه مونږ به نے قبلوؤ ۔ زه به عرض اوکړم اے زما مالکه! امت زما امت زما ۔ حکم به اوشي! ځه! او د چا په زړه کښ چه د وربشو ددانے یا د جوارو ددانے برابر ایمان وی هغه راوباسه ددوزخ نه ۔ زه به دغه شان تولو خلقو له راوباسم ۔ بیابه خپل مالك ته راشم او دغه شان تعریف به اوکړم ۔ او بیا به په سجده پریوزم ۔ حکم به اوشي یا محمدﷺ! خپل سر لوچت کړه او اووایه چه څه وائے ستا خبره به اوریدلے شي ۔ او غواړه چه څه غواړے تاته به میلاویږی ۔ سفارش کوه ستا سفارش به قبول وی ۔ زه به عرض اوکړم مالکه زما! امت زما امت زما (یعنی زه د خپل امت بخنه غواړم) حکم به اوشي ځه! او د چا په زړۀ کښ چه د لروی د دانے برابر ایمان هم وی هغه د جهنم نه راوباسه ۔ زه به دغه شان عمل اوکړم ۔ او بیابه واپس لاړشم خپل رب ته او دغه شان تعریفونه به اوکړمه او په سجده به پریوځم ۔ حکم به اوشي اے محمدﷺ! خپل سر اوچت کړه او وایه مونږ اورو. غواړه مونږ نے درکوؤ ۔ سفارش کوه مونږ نے قبلوؤ ۔ زه به عرض اوکړم اے مالکه زما! زما امت زما امت ۔ حکم به اوشي لاړشه! او د چا په زړۀ کښ چه د اروی ددانے نه هم کم ډیرکم ډیر کم ایمان وی هغه لره د جهنم نه راوباسه زه به لاړشم او دغه شان به اوکړم۔ معبد بن هلال وائی دا دانسؓ حدیث دے ۔ چه هغوی مونږ ته بیان کړو ۔ بیا مونږ د هغه د خوا نه راووتو هر کله چه د قبرستان په بلندئ باندے اورسیدلو ۔ نو مونږ اووے کاش مونږ د حسن (بصری) په طرف لاړے او

هغه نه مو سلام اوکړے او هغه د ابو حلیفه په کور کښې پټ شوے وو ۔ (د حجاج بن یوسف ظالم د یرے نه) اخر مونږ د هغه خواله لاړو ۔ او هغه ته مو سلام اوکړو ۔ مونږه اووے اے ابو سعید ! مونږ ستا د رور ابو حمزه (انس) د خوا نه راغلي یو ۔ هغوی د شفاعت په باب کښې یو حدیث مونږ ته بیان کړو چه د اسے حدیث مونږ نه وو اوریدلے ۔ هغوی اووے ها بیان کړئ ۔ مونږ هغه حدیث هغه ته بیان کړو هغوی اووے د احدیث خو هغوی مونږ ته شل کاله مخکښې بیان کړے وو ۔ هر کله چه هغه تکړه وو (یعني دومره بوډا نه وو لکه څنګه چه اوس دے) اوس هغوی څه پریخودل هغه نے هیر شو یئے تاسو ته بیانول مناسب نه ګنړل ۔ داسے دے نه وی چه تاسو په بهروسه کښې کینئ (اوپه نیکو عملونو کښې سستی شروع کړی) مونږ هغه ته اووے هغه څه دے" مونږ ته نے بیان کړه ۔ ددے په اوریدو سره هغه او خندل او اوئے وئیل چه د انسان په پیدائش کښې تادی ده ۔ ماپه تاسو باندے دا قصه څکه ذکر کوله ۔ چه زه تاسو ته بیان کړم دغے تکړے لره ۔ (کومه چه انس پریخودے ده یعنی تاسو ډیر زر په تادئ کښې درخواست اوکړو د بیانولو او که چرے تاسو درخواست نه کولے نو هم ما بیانولو) رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلے دی بیا به واپس شم خپل پروردګار ته په څلورم ځل او په دغه شان به تعریف او توصیف کوم ۔ بیا به په سجده پریوځم ماته به حکم اوشی اے محمد ! سر اوچت کړه او وایه مونږ اورو غواړه مونږ درکوو سفارش کوه مونږ نے قبلوو ۔ په دغه وخت به زه عرض اوکړم چه مالکه زما ۔ ماته اجازت راکړه د هغه بنده هم د جهنم نه د راویستلو چا چه لااله الا الله وئیلے وی (یعني صرف په توحید باندے یقین لری) الله تعالی به اوفرمائی دا ستا کار نه دے لیکن قسم دے زما په عزت او بزرګی او جاه و جلال باندے ۔ چه زه د جهنم نه راوباسم هغه بنده لره چه هغه لااله الاالله وئیلے وی ۔ معبد وائی زه ګواهی ورکوم چه حسن دا حدیث مونږ ته بیان کړے دے او وئیلے نے دی چه هغوی دے لره د انس نه اوریدلے دے ۔ زه په دے پوهه یم چه بیان

کړې نے دے ما نسه شل کاله وړاند ۔ هر کله چه هغه په طاقت کښې وو (یعنی د هغه حافظه ښه وه او په بدن کښې نے طاقت وو)۔

فائده :۔ نووی وئیلے دی ددے حدیث نه د سلفو او اهل سنتو مذهب ثابتیږی چه ایمان زیاتیږی او کمیږی او ددے بیان وړاندے تیر شوے دے۔

(۴۸۰)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ اُتِیَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ علیه واله وسلّم یومًا بلحمٍ فرُفِعَ اِلَیْهِ الذِّرَاعُ وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا نَهْسَةً فقال انا سَیِّدُ النَّاسِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وهَلْ تَدْرُوْنَ بِمَ ذَاكَ یَجْمَعُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ الْاَوَّلِیْنَ وَالْاٰخِرِیْنَ فِیْ صَعِیْدٍ وَّاحِدٍ فَیُسْمِعُهُمُ الدَّاعِیْ وَیَنْفُذُهُمُ الْبَصَرُ وَتَدْنُو الشَّمْسُ فَیَبْلُغُ النَّاسُ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا لَا یُطِیْقُوْنَ ومالا یَحْتَمِلُوْنَ فَیَقُوْلُ بَعْضُ النَّاسِ لِبَعْضٍ اَلَا تَرَوْنَ مَااَنْتُمْ فِیْهِ الاترون مَاقَدْ بَلَغَكُمْ اَلَا تَنْظُرُوْنَ اِلٰی مَنْ یَّشْفَعُ لَكُمْ اِلٰی رَبِّكُمْ فَیَقُوْلُ بَعْضُ النَّاسِ لِبَعْضٍ ائْتُوْا اٰدَمَ فَیَاْتُوْنَ اٰدَمَ فَیَقُوْلُوْنَ یَااٰدَمُ اَنْتَ اَبُوْ الْبَشَرِ خَلَقَكَ اللّٰهُ بِیَدِهٖ وَنَفَخَ فِیْكَ مِنْ رُّوْحِهٖ وَاَمَرَ الْمَلٰٓئِكَةَ فَسَجَدُوْا لَكَ اشْفَعْ لَنَا اِلٰی رَبِّكَ اَلَا تَرٰی مَا نَحْنُ فِیْهِ اَلَا تَرٰی مَا قَدْ بَلَغَنَا فَیَقُوْلُ اٰدَمُ اِنَّ رَبِّیْ غَضِبَ الْیَوْمَ غَضَبًا لَّمْ یَغْضَبْ قَبْلَهٗ مِثْلَهٗ وَلَنْ یَّغْضَبَ بَعْدَهٗ مِثْلَهٗ وَاِنَّهٗ نَهَانِیْ عَنِ الشَّجَرَةِ فَعَصَیْتُهٗ نَفْسِیْ نَفْسِیْ اذْهَبُوْا اِلٰی غَیْرِیْ اذْهَبُوْا اِلٰی نُوْحٍ فَیَاْتُوْنَ نُوْحًا فَیَقُوْلُوْنَ یَا نُوْحُ اَنْتَ اَوَّلُ الرُّسُلِ اِلَی الْاَرْضِ وَسَمَّاكَ اللّٰهُ عَبْدًا شَكُوْرًا اشْفَعْ لَنَا اِلٰی رَبِّكَ اَلَا تَرٰی مَا نَحْنُ فِیْهِ اَلَا تَرٰی مَاقَدْ بَلَغَنَا فَیَقُوْلُ لَهُمْ اِبْرَاهِیْمُ اِنَّ رَبِّیْ قَدْ غَضِبَ الْیَوْمَ غَضَبًا لَّمْ یَغْضَبْ قَبْلَهٗ مِثْلَهٗ وَلَا یَغْضَبُ بَعْدَهٗ مِثْلَهٗ وَذَكَرَ كَذِبَاتِهٖ نَفْسِیْ نَفْسِیْ اذْهَبُوْا اِلٰی غَیْرِیْ اذْهَبُوْا اِلٰی مُوْسٰی فَیَاْتُوْنَ مُوْسٰی عَلَیْهِ السَّلَامُ فَیَقُوْلُوْنَ یَامُوْسٰی اَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ فَضَّلَكَ اللّٰهُ بِرِسَالَتِهٖ وَبِتَكْلِیْمِهٖ عَلَی النَّاسِ اشْفَعْ لَنَا اِلٰی رَبِّكَ الاتری مَا نَحْنُ فِیْهِ اَلَا تَرٰی مَاقَدْ بَلَغَنَا فَیَقُوْلُ لَهُمْ مُوْسٰی عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ اِنَّ رَبِّیْ قَدْ غَضِبَ الْیَوْمَ غَضَبًا لَّمْ یَغْضَبْ بَعْدَهٗ مِثْلَهٗ وَاِنِّیْ قَتَلْتُ نَفْسًا لَّمْ اُوْمَرْ بِقَتْلِهَا نَفْسِیْ نَفْسِیْ اذْهَبُوْا اِلٰی عِیْسٰی عَلَیْهِ السَّلَامُ فَیَاْتُوْنَ عِیْسٰی فَیَقُوْلُوْنَ یَا عِیْسٰی اَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَكَلَّمْتَ النَّاسَ فِی الْمَهْدِ وَكَلِمَةٌ مِّنْهُ اَلْقَاهَا اِلٰی مَرْیَمَ وَرُوْحٌ مِّنْهُ فَاشْفَعْ لَنَا اِلٰی رَبِّكَ اَلَا تَرٰی مَا نَحْنُ فِیْهِ اَلَا تَرٰی مَا قَدْ بَلَغَنَا فَیَقُوْلُ لَهُمْ عِیْسٰی اِنَّ رَبِّیْ قَدْ غَضِبَ الْیَوْمَ غَضَبًا لَّمْ یَغْضَبْ قَبْلَهٗ مِثْلَهٗ

وَلَمْ یَذْکُرْ لَهُ ذَنْبًا نَفْسِی نَفْسِی اذْهَبُوْا اِلٰی مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ فَیَأْتُوْنِیْ فَیَقُوْلُوْنَ یَا مُحَمَّدُ اَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَخَاتَمُ الْاَنْبِیَاءِ وَغَفَرَ اللّٰهُ لَکَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِکَ وَمَا تَاَخَّرَ اشْفَعْ لَنَا اِلٰی رَبِّکَ اَلَا تَرٰی مَا نَحْنُ فِیْهِ اَلَا تَرٰی مَا قَدْ بَلَغَنَا فَاَنْطَلِقُ فَاٰتِیْ تَحْتَ الْعَرْشِ فَاَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّیْ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ یَفْتَحُ اللّٰهُ عَلَیَّ وَیُلْهِمُنِیْ مِنْ مَحَامِدِهٖ وَحُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَیْهِ شَیْئًا لَمْ یَفْتَحْهُ لِاَحَدٍ قَبْلِیْ ثُمَّ قَالَ یَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَاْسَکَ سَلْ تُعْطَهْ اشْفَعْ تُشَفَّعْ فَاَرْفَعُ رَاْسِیْ فَاَقُوْلُ یَا رَبِّ اُمَّتِیْ اُمَّتِیْ فَیُقَالُ یَا مُحَمَّدُ اَدْخِلِ الْجَنَّةَ مِنْ اُمَّتِکَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَیْهِ مِنْ بَابِ الْاَیْمَنِ مِنْ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ وَهُمْ شُرَکَاءُ النَّاسِ فِیْ مَا سِوٰی ذٰلِکَ مِنَ الْاَبْوَابِ وَالَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِیَدِهٖ اِنَّ مَا بَیْنَ الْمِصْرَاعَیْنِ مِنْ مَصَارِعِ الْجَنَّةِ لَکَمَا بَیْنَ مَکَّةَ وَهَجَرٍ اَوْ کَمَا بَیْنَ مَکَّةَ وَبُصْرٰی

[بخاری: ۳۳۶۱، ۳۳۴۰، ۴۷۱۲، ترمذی: ۲۴۳۴]

ترجمہ: ابو هریرةؓ نه روایت دے . چه یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته غوښه راوړے شوه نو د لاس غوښه هغه ته ورکړے شوه او د لاس غوښه د هغه ډیره خوښه وه . هغه په غاښونو سره هغه اوشو کوله او بیا ئے او فرمائیل ! سردار به یم زه د ټولو خلقو د قیامت په ورځ او تاسو پو هه یئ چه په څه وجه سره الله تعالیٰ به راجمع کړی . د قیامت په ورځ وړمبو او وروستو لره په یو میدان کښې ترډے پورے چه د چغو والا آواز به د ټولو اوریدے شی او د لیدونکو نظر به په دے ټولو باندے پریوتے شی او نمر به رانیزدے کړے شی او به خلقو باندے به هغه مصیبت اوسختی وی چه په هغوی کښې به ئے د برداشت طاقت نه وی . آخر په خپلو کښې به یو بل ته او وائی . ځی چه د آدم علیه السلام خواله لاړ شو او د هغه خواله به راشی او اوبه وائی اے آدم علیه السلام ته د ټولو خلقو پلار ئے . الله تعالیٰ ته په خپل لاس سره پیدا کړے دے . او خپل روح ئے پتا کښې پو کلے دے او فرښتو ته ئے حکم ورکړو هغوی سجده اوکړه تا ته . ته زمونږه شفارس اوکړه خپل پروردګار ته ولے ته نه ګورے مونږ په څه حال یو ته نه ګورے کوم چه په مونږه باندے مصیبت دے . ادم علیه السلام به اووائی نن زما پروردګار په غصه کښې دے او په داسے

غصه كښې دے چه چرته داسے غصه شوے نۀ وو نۀ به غصه شي ۔ او هغه زه منع كړے وم د ونې نه ليكن ما د هغه نافرماني اوكړه (او د هغې ونے نه م اوخوړه) نن ماته په خپله د خپله ځان فكر دے ۔ تاسو چا بل چاله لاړ شئ ۔ د نوح عليه السلام خواله ورشئ بيا به هغه تمام خلق د نوح عليه السلام خواله لاړشي او ورته به وائي ۔ اے نوح عليه السلام ! تۀ د تولو پيغمبرانو نه وړمبے په زمكه باندے راغلے ئے ۔ او الله تعالى تاته شكر گزار بنده ونيلے دے ۔ ته زمونږ شفارش اوكړه خپل رب ته ۔ ولے تۀ نۀ گورے مونږ په څه حال كښې يو او كوم مصيبت چه په مونږ باندې راغلے دے ۔ هغه به اووائي زما رب نن داسے په غصه كښې دے ۔ چه داسے چرته نۀ غصه شوے وو او نۀ به غصه شي ۔ او ما خپل قوم ته بددعاكړے وه ۔ څكه ماته په خپله د خپل ځان فكر دے ۔ تاسو د ابراهيم عليه السلام خواله ورشئ ۔ بيا به هغه ټول په يو ځائے د ابراهيم عليه السلام خواله لاړ شي ۔ او اووائي به اے ابراهيم عليه السلام ! تۀ د الله نبي ئے او د هغه دوست ئے د زمكے والا ؤ نه تۀ زمونږ سفارش اوكړه ۔ خپل پروردگار ته ولے تۀ نۀ گورے چه مونږ په څه حال كښې يو ۔ او كوم مصيبت په مونږ باندې راغلے دے ۔ هغه به اووائي زما پروردگار نن دومره په غصه دے ۔ چه داسے چرته غصه شوے نۀ دے نۀ غصه شوے وو او نۀ به غصه شي ۔ او خپلے د دروغو خبرے به بيان كړي ۔ (يعني په دنيا كښې چه هغه كوم درے څله دروغ ونيلے وو) څكه ماته په خپله خپل فكر دے ۔ او تاسو د بل چا خواله لاړشئ ۔ يعني د موسى عليه خواله لاړشئ ۔ هغه خلق به د موسىٰ عليه السلام خواله لاړشي ۔ او دا به اووائي اے موسى عليه السلام ! ته د الله رسول ئے الله تاله د خپلو پيامونو نه بزرگي دركړے ده او په خپل كلام سره په تمامو خلقو باندے تۀ زمونږ شفارش اوكړه خپل پروردگار ته ولے ته نه گورے چه مونږ په كوم حال كښې يو ۔ او كوم مصيبب په مونږ باندې راغلے دے ۔ موسىٰ عليه السلام به اووائي ۔ چه زما پروردگار نن داسے په غصه كښے دے چه داسے هغه نۀ چرته غصه شوے وو او نۀ به غصه

شی ۔ او ما پہ دنیا کښې یو قتل کړے وو چہ د هغے ماته حکم نۀ وو ۔ څکه ماسره په خپله د خپل ځان فکر دے ۔ تاسو د عیسی علیه السلام خوا له لاړشی۔ هغه ټول خلق به د عیسیٰ علیه السلام خواله راشی ۔ او دابه اووائی اے عیسیٰ علیه السلام تۀ د الله جل جلاله رسول ئے ۔ تا په زانګو کښې د خلقو سره خبرے کړے دی ۔ (د پیو د خوراك په وخت) تۀ د الله یوه خبره ئے چه غور ځولے وے هغه په مریم کښې او د هغه روځ ئے ۔ تۀ سفارش اوکړه زمونږ ه خپل رب ته ۔ ولے تۀ نۀ ګورے مونږ ته چه مونږ په څه حال کښې یو ۔ او کوم مصیبت په مونږ باندے راغلے دے ۔ عیسیٰ علیه السلام به اووائی ! زما پروردګار نن دومره قدرے غصه دے چه دومره غصه چرته نۀ وو ۔ او نۀ به چرته شی ۔ او څه ګناه ئے د هغه نۀ دے بیا کړے (لکه چه نورو پیغمبرانو خپلے خطایانے بیان کړے ولے چه د حضرت عیسی علیه السلام نه څه ګناه منقول نۀ ده) نو ماته خپل فکر دے خپل فکر دے ۔

او تاسو د بل چا خواله لاړشی ۔ د محمد صلے الله علیه واله وسلم خواله لاړشی ۔ هغه به ټول زما خواله راشی ۔ او دابه اووائی اے محمد صلے الله علیه واله وسلم تۀ د الله رسولؐ ئے ۔ او تۀ خاتم الانبیاء ئے ۔ الله ستا ورمبی ورستی تمام ګناهونه معاف کړے دی ۔ تۀ سفارش اوکړه زمونږ خپل رب ته ۔ ولے تۀ زمونږ حال نۀ وینے او نه ګورے چه مونږ په کوم ګناه کښې ګرفتار یو ۔ ددے په اوریدو سره به زه روان شم او د عرش د لاندې به راشم او خپل رب ته به په سجده پریوځم ۔ بیا به الله تعالیٰ زما زړه پرانزی ۔ او هغه تعریفونه به ماته اوښائی چه هغه ئے زمانه وړاندے چاته نۀ دی ښودلے ۔ (زه به د هغه ښه تعریف او حمد کوم) بیا به اوفرمائی ۔ اے محمدؐ ! خپل سر اوچت کړه ۔ غواړه چه څه غواړے درکولے به شی ۔ سفارش کوه قبلیږی به ۔ زۀ به سر اوچت کړم او دابه وایم چه امت زما امت زما ۔ حکم به اوشی اے محمد صلے الله علیه واله وسلم د خل امت نه هغو خلقو لره چه د هغوئ سره حساب و کتاب نشته دے ۔ داخل کړه په باب ایمن سره جنت ته او هغه په نورو

خلقو کښې شریك دی په باقي دروازو د جنت کښې ۔ (یعنی په هغې هم تللې شی خو دا دروازه د هغوئ د پاره خاص کړے شوے ده) قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښې چه د محمدؐ روح دے ۔ د جت ددروازے په دواړو بازوګانو کښې د ومره فاصله ده ۔ لکه مکه او هجر (هجر یو ښار دے بحرین کښې) یا لکه په مکه او بصری کښې (بصری یو ښار دے دَ د مشق نه په درے منزلو باندے)

فائده :۔ ځکه چه د دست غوښه بے ریشے وی ۔ او ډیره زر او به کیږی او د هغے ذائقه هم مزیداره وی ۔ ترمذی د حضرت عائشے نه روایت کړے دے۔ چه ددست غوښه هغه ته غوره نۀ وه بلکه هغه ته به غوښه خو ورځے پس میلاویده نو هغه به دست اخستو ددے د پاره چه زر پوخ شی ۔ هغهٔ فرمائیلی دی د الله جل جلاله دَ احسان ظاهره ولو د پاره ۔ او ددے حکم اوشو هغهٔ ته د خپلے درجے د ښودلو د پاره او ز مونږ د فائدے دپاره ۔

قاضی عیاضؒ وئیلی دی سردار هغه دے ۔ چه هغه د ټولو خلقو نه په درجه کښې زیات وی ۔ او چه د هغوی په طرف خلق د سختئ په وخت پناه اخلی او رسول الله صلے الله علیه واله وسلم خو سردار دے ۔ د بنیاد مو په دنیا او آخرت دواړو کښې ۔ خو هغه خاص کړو قیامت لره ۔ ځکه چه د هغه ځائے سرداری عمده ده ۔ او هلته به تمام خلق ورمبی او روستی راجمع کیږی او آدم علیه السلام او د هغه اولاد به ټول د هغه د جهنډے لا ندے وی ۔ لکه چه الله تعالیٰ فرمائی ۔ په هغه ورځ به د چا سلطنت وی ۔ دَ الله چه هغه یو دے او زبردست قهار دے ۔ د الله سلطنت په دنیا کښې هم دے ۔ خو د قیامت په ورځ به ئے پوره سلطنت وی ۔ ځکه چه بل هیڅوك به په دغه ورځ د سلطنت حکومت ، امیرئ او سردارئ دعوے کولو والا نۀ وی (نووی)

یعنی هغه میدان به داسے صفا او هموار وی ۔ چه په لیدو کښې به نظر تمامو خلقو ته رسیدے شی په خلا ف ددنیا ۔ دلته د زمکے د ګولایئ په وجه نظر ټولو ته رسیدے نۀ شی ۔

بعضو وسیلے دی چه مراد د خدائے نظر دے خو د خدائے نګاه خو په هر شان تولو ته رسیدے شی. خواه که هغه هموار میدان وی یانه وی نووی ونیلے دی. د غصے نه دا مراد دے. چه الله تعالی به بدل اخستونکے وی دنافرمانو نه. او د هغه عذاب به په مخکښ موجود وی. او قسم قسم تکلیف به په خاوندانو د محشر باندے وی. او د اخبرے نۀ وړاندے شوے دی او نۀ به آئنده کیږی. نو د الله د غضب نۀ دغه مراد دے. په دے واسطه چه محال دے تغیر د هغو په حق کښ په غضب سره یا په رضا سره.

السراج الوهاج کښ دی چه نووی په دے مقام باندے د یو صفت تاول کړے دے. او پوزته داخبره تیره شوه چه د سلفو مذهب په صفاتو کښ دادے. چه کوم صفات په کتاب او سنت کښ وارد دی. هغے لره روایت کول په هغے باندے یقین کول. په ظاهر باندے روا نه ول بغیر د تاویل او تسیف او تعطیل او تشبیهه نه. او کوم اسر چه نووی بیان کړے دے. دا غایت دے د غضب نه د هغے معنی لغوی ده. ددے ځائے نه د پیغمبر صلے الله علیه وسلم اور نورو پیغمبرانو درجه پیژندل پکار دی. هغه به تول نفسی نفسی وانی. اود خپل زوح یعنی ځان په فکر کښ به سرګردانه وی. زمونږ پیغمبر صَلے اللّٰهُ علَیه واٰلِه وسلم به دَ عامو نیکئی د پاره او د امت د خلاصولو د پاره ګویا وی. سبحان الله په دے باندے دا آیت صادق دے. وما ارسلنك الا رحمة للعالمین. د هغه ذات رحمت او کرم دے د تمامے دنیا د پاره په دنیا او آخرت کښ.

ددے نه زیات کوم یو شرف دے ددے نه زیاته کومه یوه درجه ده د هغه فرق دے د مرتبے په هغه سړی کښ چه هغه په دنیا کښ خپله بهلانی غواړی او په هغه سړی کښ چه هغه د عامو خلقو بهلانی غواړی. اول لره د دویم سره څه نسبت نشته دے. کوم سړے چه د عامو مسلمانانو د فاندے درسولو کار کوی لکه مدرسه جوړه کړی. یا سرائے جوړه کړی. د مسلمانانو د دین یا د حکومت مدد کوی. داسے کار کوی چه په هغے سره

ذېب هې او ذلت نه بچ کیږي ددین د دکتاب یا ددین تعلیم خوره وي تجارت یا صنعت یا د حرب آلات او اسباب شائع کوي . دهغې د رجه ددې مسلمان نه چرته فائق ده . چه هغه صرف د خپل نفس د بچ کولو د پاره په عبادت کښې مصروف پاتې دې . هجر دمکې د ښار نه د یوې میاشتې په لار باندې دې . نو د جنت پهاټك دومره قدرې لوئې دې . د چوکهټ یوه کونه د بلې کونې نه دومره مسافت لري . الله اکبر جل شانه، د دې نه قیاس کول پکار دی . چه جنت خومره لوئې دې .

(۴۸۱)عن ابی هریرة قال وضعت بین یدی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قصعة من ثرید ولحم فتناول الذراع وکانت احب الشاة الیه فنهس نهسة فقال انا سید الناس یوم القیمة ثم نهس نهسة فقال انا سید الناس یوم القیمة ولما رای اصحابه لا یسئلونه قال الا تقولون کیفه قالوا کیفه یا رسول الله قال یوم یقوم الناس لرب العلمین وساق الحدیث بمعنی حدیث ابی زرعة وزاد فی قصة ابراهیم علیه الصلوة والسلام قال وذکر قوله فی الکوکب هذا ربی وقوله لا لهتهم بل فعله کبیرهم هذا وقوله انی سقیم قال قال والذی نفس محمد بیده ان مابین المصراعین من مصاریع الجنة الی عضادتی الباب لکما بین مکة وهجر او هجر ومکة قال لا ادری ای ذلک قال .

ترجمه : دا بو هریرة نه روایت دې . ما د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په مخکښې یوه پیاله د ثرید کیښوده . (ثرید یوه غله ده چه د ډوډۍ او شوربا دَ میلاوید ونه جوړیږي) او غوښه هغه ددست غوښه واخستله او هغه ډیره خوښه وه د هغه. په توله بزه کښې هغه یو خل په خله سره اوشوکوله او بیائې اوفرمایل چه زه د خلقو سردار به یم د قیامت په ورځ بیا ئې دوباره اشوکوله او اوئې فرمایل ! زه به د خلقو سردار یم د قیامت په ورځ هر کله چه هغه اوکتل . چه د هغه یاران د هغه نه څه تپوس نۀ کوي . نو پخپله ئې اوفرمایل ! چه تاسو دا تپوس نۀ کوئ چه څنګه به سردارنې ؟ هغوی اووې ! څنګه یارسول الله ! هغه اوفرمایل ! خلق به تمام اودریږي د الله جل جلاله په مخکښې او بیان ئې کړو حدیث لره په هغه شان

لکه چه پورته تیر شو د حضرت ابراهیم علیه السلام په قصه کښې . دومره زیات دے چه هغوی بیان کړے (هغه ددروغو خبرو لره چه په دنیا کښې نے هغه ونیلے یعنی کړے وے) ستورته نے ونیلے وو چه دا زما رب دے (اګرچه ابراهیم علیه د اعتقاد نهٔ وو . ولے چه د پیغمبرانو نه شرك نهٔ صادرکیږی . خو د کافرانو د الزام ورکولو د پاره نے ورمبی ستور لره خدائے قرار کړو بیا سپوږمئ بیا نمر لره هر کله چه هغه ډوب شول نو اونے وئیل دا خدایان کیدے نهٔ شی خدائے هغه دے چه هغه دا تمام پیدا کړے دی) بتان هغه مات کړی وو او اونے وئیل چه دا دے غټ بت مات کړے دی . بیمار نهٔ وو اوونیلے نے وو چه زه بیمار یم. قسم دے په هغه ذات چه د چا په لاس کښې چه د محمدؐ روح دے . دجنت په دواړو پټو کښې یعنی د دروازو په چوکاټ د ننه دومره فاصله ده خومره چه د مکے او هجر په مینځ کښې ده . ماته یاد نهٔ دی چه څنګه نے اووے (یعنی هجر لره ئے مخکښې اووے یا نے مکے لره)

(۳۸۲)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ وَحُذَیْفَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ یَجْمَعُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی النَّاسَ فَیَقُوْمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَتّٰی تُزْلَفَ لَهُمُ الْجَنَّةُ فَیَاْتُوْنَ اٰدَمَ فَیَقُوْلُوْنَ یَااَبَانَااسْتَفْتِحْ لَنَاالْجَنَّةَ فَیَقُوْلُ وَهَلْ اَخْرَجَكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ اِلَّا خَطِیْئَةُ اَبِیْكُمْ اٰدَمَ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ اِذْهَبُوْا اِلٰی اِبْنِیْ اِبْرَاهِیْمَ خَلِیْلِ اللّٰهِ قَالَ فَیَقُوْلُ اِبْرَاهِیْمُ عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ اِنَّمَا كُنْتُ خَلِیْلًا مِنْ وَرَآءَ وَرَآءَ اِذْهَبُوْا اِلٰی مُوْسٰی الَّذِیْ كَلَّمَهُ اللّٰهُ تَكْلِیْمًا فَیَاْتُوْنَ مُوْسٰی عَلَیْهِ السَّلَامُ فَیَقُوْلُ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ اِذْهَبُوْا اِلٰی عِیْسٰی عَلَیْهِ السَّلَامُ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ فَیَاْتُوْنَ مُحَمَّدًا صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ فَیَقُوْمُ وَیُؤْذَنُ لَهٗ وَتُرْسَلُ الْاَمَانَةُ وَالرَّحِمُ فَتَقُوْمَانِ جَنَبَتَیِ الصِّرَاطِ یَمِیْنًا وَّشِمَالًا فَیَمُرُّ اَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ قُلْتُ بِاَبِیْ اَنْتَ وَاُمِّیْ اَیُّ شَیْءٍ كَمَرِّ الْبَرْقِ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ اَلَمْ تَرَوْا اِلَی الْبَرْقِ كَیْفَ یَمُرُّ وَیَرْجِعُ فِیْ طَرْفَةِ عَیْنٍ ثُمَّ كَمَرِّ الرِّیْحِ ثُمَّ كَمَرِّ الطَّیْرِ وَشَدِّ الرِّجَالِ تَجْرِیْ بِهِمْ اَعْمَالُهُمْ وَنَبِیُّكُمْ قَائِمٌ عَلَی الصِّرَاطِ یَقُوْلُ رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ حَتّٰی تَعْجِزَ اَعْمَالُ الْعِبَادِ حَتّٰی یَجِیْءَ الرَّجُلُ فَلَا یَسْتَطِیْعُ السَّیْرَ اِلَّا زَحْفًا قَالَ وَفِیْ حَافَتَیِ الصِّرَاطِ كَلَالِیْبُ مُعَلَّقَةٌ مَاْمُوْرَةٌ تَاْخُذُ مَنْ اُمِرَتْ بِهٖ فَمَخْدُوْشٌ نَّاجٍ وَّمَكْدُوْسٌ فِی النَّارِ

والذی نفس ابی ھریرۃ بیدہ انّ قعر جھنم لسبعین خریفا .

ترجمه : د ابو هريرةؓ او حذيفةؓ نه روايت دے چه رسول الله صلے اللہ علیه واله وسلم فرمائيلے دی . الله تعالی به د قيامت په ورځ خلقو لره جمع کړی . مسلمانان به ولاړ وی تردے پورے چه جنت به د هغوی خواله راوستے شی . بیا به هغه آدم علیه السلام ته راغونډ شی . او اوائی به . بابا ! زمونږ جنت کھولاؤ کړه زمونږ دپاره . هغه به اووائی د جنت نه تاسو راویستلی یئ چا . زما هغه گناه تاسو راویستلی یئ . نن زمانه دا کار نۀ شی کیدے . البته تاسو زما ځوے ابراهیم علیه السلام له لاړ شئ . ابراهیم علیه السلام به اووائی زمانه دا کار نۀ شی کیدے . زه د الله دوست وم لیکن ورستو (یعنی زما د الله جل جلاله سره دومره نزدے والے نۀ دے راغلے چه څه پرده نۀ وه . بلکه دوه حجابونه وو نۀ ما د هغه سره بلاواسطه خبرے کړے دی . او نۀ مے هغه لیدلے دے) تاسو لاړ شئ د موسیٰ علیه السلام خواله چه د هغه الله تعالی خبرے کړی دی . هغوی به د موسیٰ علیه السلام خواله راشی . هغه به اووائی زه ددے لائق نه یم تاسو په عیسیٰ علیه السلام پسے لاړ شئ . چه هغه د الله کلمه او د هغه روح دے . عیسی علیه السلام به اوائی دا زما کار نۀ دے . بیا به هغه تمام د محمد صلے اللہ علیه واله وسلم خواله راشی . هغه به ولاړ وی او هغه ته به اجازت میلاؤ شی (د جنت د کھولاوه ولو) او امانت او صله رحمی به اولیږلے شی . هغه به د پل نه ښی طرفته او ګس طرفته او درولے شی . ستاسو نه به ورمبے بنده د پل صراط نه په دے شان پورے اوځی لکه بجلی . هغوی اووے زمونږ پلار مور دے تانه قربان وی . د بجلئ پشان کوم څیز تیریږی . هغهؑ اوفرمایل ! تاسو بجلی نۀ ده لیدلے . هغه څنګه تیریږی او بیا راځی د سترګو په رپ کښ . بیا لکه څنګه چه هوا ځی بیا لکه مرغئ چه الوزی . بیالکه سړے چه منډه وهی د خپل خپل اعمالو په موافق او ستاسو پیغمبرؐ به په پل باندے ولاړ وی . هغه به وائی یا الله بچ کړے یا الله بچ کړے . تردے پورے چه د اعمالو

زور به کم شی (یعنی ښه عملونو والا به اووتلے شی او هغه خلق به پاتے شی چه د هغوی نیك عملونه کم وی هغوی ته به پوزے وتل گران وی) او یو سړے به راشی هغه به تلے نۀ شی مگر رانښکلے شوے . او د هغه پل دواړه طرفته به کنډے وی . زوړ ندے شوے هغے ته به حکم اوشی هغوی به رانیسی . بیا به بعضے بندیگان په چهل چهلا (په سولیدو سولیدو)خلاصے موندلے شی او بعضے به پړمخے په جهنم کښې غوزخولے کیږی . قسم دے په هغه (ذات) د چا په لاس کښې چه د ابو هریرة روح دے چه د جهنم جوړوالے د اویاؤ کالو لاړ ده .

فائده :. ولے چه دا دواړه لونے کارونه دی . چه د هغے خیال مومن لره همیشه ساتل پکار دی . امانت یعنی خلقو او سچائی صداقت او راست بازی خبرے اترے او په هر کاورِ بار کښې او (ناتا) یعنی رشته دارانو سره چه کوم محتاج وی سلوك کول . د هغوی خبر اختسل. او که چرے یو څیز په هغے کښې ارتاؤ شی نو د اویاؤ کالو پورے ویخ ته نۀ رسیږی . معاذالله .

*باب فی قول النبی ﷺ ((انا اول الناس یشفع فی الجنة و انا اکثر الانبیاء تبعا)) *

باب : حضور ﷺ فرمائیلی دی " زۀ وړومبے کس یم د جنت متعلق سفارش کوونکے او د نورو انبیاؤ علیهم السلام نه به زما تابعدار زیات وی .

(۴۸۳)عَنْ انس ابن مالک قال قال رسُوْلُ الله صلّے اللّٰهُ علیه و اٰله وسلّم انااوّلُ النّاس یشفعُ فی الْجنة و انا اکثرُ الانبیآء تبعًا.

ترجمه : د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صَلی اللهُ علیه و اله وَسَلم فرمائیلے دی زه به دټولو نه وړاندے چه جنت کښې شفاعت کوم او د تمامو پیغمبرانو نه به زیات زما تابع خلق وی د قیامت په ورځ .

(۴۸۴)عَنْ انس ابن مالک قال قال رسُوْلُ اللهِ صلّے اللّٰهُ علیه وَاٰلهٖ وَسلّمَ انااکثرُ الْانبیآءِ تبعًایوْم القیمة و انا اوّل من یّقرعُ باب الْجنّة .

ترجمه: د انس بن مالکؓ نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلے دی د ټولو پیغمبرانو نه زیات به زما تابعدا روی د قیامت په ورځ او زه به د ټولو نه وړاندے د جنت دروازه ټکووم (یعنی بیرته کووم به ئے)

(۴۸۵)عن انس ابن مالک قال قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم انا اوّل شفیع فی الجنة لم یصدّق نبی من الانبیاء نبیًا مایصدقه من امته الا رجل واحد.

ترجمه: د انس بن مالکؓ نه روایت دے. رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلے دی زه به د ټولو نه مخکښ په جنت کښ شفاعت کووم. بل یو پیغمبر دومره خلقو نۀ دے منلے لکه څومره خلقو چه زه منلے یم او بعضے پیغمبران خو داسے دی چه د هغوی منلو والا بس یو سړے وی.

(۴۸۶)عن انس ابن مالک قال قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم اتی باب الجنة یوم القیمة فاستفتح فیقول الخازن من انت فاقول محمد فیقول بک امرت لا افتح لاحد قبلک.

ترجمه: دانس بن مالکؓ نه روایت دے. رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلے دی زه به د قیامت په ورځ د جنت دروازے له راشم او د جنت دروازه به کهولاوه وم. څوکیدارا به تپوس اوکړی. تۀ څوک ئے! زه به اووایم محمد یم. هغه به اووائی ستا په واسطه ماته حکم شوے وو. چه ستا نۀ مخکښ به د چا د پاره دروازه نۀ بیرته کووم.

باب اختباء النبی صلی الله علیه وسلم دعوة الشفاعة لامته:

باب: د نبی پاک د خپل امت دپاره د شفاعت د دعا مؤخر کول:

(۴۸۷)عن ابی هریرة ان رسول الله صلے الله علیه واله وسلم قال لکل نبی دعوة یدعوبها فارید ان اختبی دعوة شفاعة لا متی یوم القیمة.

ترجمه: د ابو هریرهؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلے دی د هر یو نبی یوه دعا وی. (چه هغے له خداوند تعالی ضرور قبلوی او باقی دعاګانے قبلیږی

هم اونه قبلیږی هم)نو زه غوارم چه خپلے دعا لره پټه اوساتم د قیامت د ورځے پورے د خپل امت د شفاعت د پاره ۔

فائده : یعنی په دنیا کښې به هغه دعالره نهٔ غوارم بلکه د آخرت د پاره به ئے پټه اوساتم او د خپل امت د نجات د پاره به ئے صرف کړم ۔ سبحان الله زمونږ د پیغمبرؐ د خپل امت سره څومره محبت وو او الفت چه د پلار د ځوے سره داسے الفت نهٔ وی ۔ او د غه وجه ده ۔ چه هغه به د خپل امت په هغه وخت مدد کوی هر کله چه پلار د ځوی نه خلوند د ښځے نه او خپل د خپل نه بیزاره شی او ټولو ته به د خپل خپل ځان د بچ کولو فکر وی ۔

(۴۸۸)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَالِهٖ وَسَلَّمَ اِنَّ لِکُلِّ نَبِیٍّ دَعْوَةً فَارَدْتُ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ اَنْ اَخْتَبِیْ دَعْوَتِیْ شَفَاعَةً لِاُمَّتِیْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ.

ترجمه : د ابو هریرةؓ نه روایت دے رسول الله صَلے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَالِهٖ وَسَلم فرمائیلی دی د هر نبی یوه دعا ضرور قبلیږی نو زما اراده ده که خدائے غواړی نو خپله دعا به پټه اوساتم ۔ او د قیامت په ورځ به د خپل امت شفاعت کوم ۔

(۴۸۹)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مِثْلَ ذَالِکَ :

ترجمه : په یو بل سند سره هم دغه روایت مروی دے :

(۴۹۰)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ لِکَعْبِ الْاَحْبَارِ اِنَّ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَالِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ لِکُلِّ نَبِیٍّ دَعْوَةٌ یَدْعُوْ بِهَا فَاَنَا اُرِیْدُ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ اَنْ اَخْتَبِیَ دَعْوَتِیْ شَفَاعَةً لِاُمَّتِیْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ فَقَالَ کَعْبٌ لِاَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنْتَ سَمِعْتَ هٰذَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَالِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ اَبُوْ هُرَیْرَةَ نَعَمْ .

ترجمه : ابو هریرةؓ کعب احبار ته اووے رسول اللهِ صلّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَالِهٖ وَسَلم فرمائیلی دی ۔ د هر نبی علیه السلام د پاره یوه دُعا وی ۔ چه هغے لره هغه غواړی ۔ زما اراده ده په شرط د دے که خدائے غواړی ۔ زه به هغے دعا لره پټه اوساتم د خپل امت د شفاعت د پاره د قیامت په ورځ ۔

کعب ابو هریرهؓ ته اووے ۔ تاداسے اوریدلے دی رسول اللهِ صلے اللّٰهُ علَیْه واله وَسلم نه ابو هریرهؓ اووے او ۔

(۴۹۱)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلیه واله وسلم لِکُلِّ نَبِیٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ فَتَعَجَّلَ کُلُّ نَبِیٍّ دَعْوَتَهٗ وَاِنِّیْ اَخْتَبَأتُ دَعْوَتِیْ شَفَاعَةً لِاُمَّتِیْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ فَهِیَ نَائِلَةٌ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مَنْ مَاتَ مِنْ اُمَّتِیْ لَا یُشْرِکُ بِاللّٰهِ شَیْئًا ۔۱۹۴

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے ۔ رسول اللهِ صلے اللّٰهُ علَیْه واله وسلم فرمائیلے دی د هر نبی علیه السلام یوه دعاده چه هغه ضرور قبلیږی نو هر نبی تادی (جلدی) کړیده هغه دعائے غوښتلے ده (په دنیا کښ) او زه خپله دعا پټه ساتم دقیامت د ورځے په واسطه د خپل امت د شفاعت د پاره ۔ او که خدائے غواړی نو زما شفاعت به د هر یو امتی د پاره وی پشرط ددے چه هغه په شرک باندے مړ شوے نهٔ وی ۔

فائده :۔ یعنی د خاتمے په وخت هغه مشرک مړ نه شی اگرکه هر څومره چه گنهگار وی ۔ نوویؒ وائی ددے حدیث نه د اهل حقو مذهب ثابتیږی ۔ چه کوم بنده مړ شی او د شرک نه پاك وی ۔ هغه به همیشه د پاره په جهنم کښ نه پاتے کیږی اگر که کبیره گناهونه ئے کړے وی ۔ او ددے دلائل پورته بیان شول ۔

السراج الوهاج کښ دی ۔ چه شرک عام دے ۔ خواه بل څوك خدائے ثابت کړی یا د هغه په صفتونو کښ یو صفت د هغه د مخلوق د پاره خواه هغه څه چه وی ثابت کړی ۔ او شرك یو جلی دے یو خفی ۔ او د هغے نه بچ کیدل نهایت گران دی (یعنی مشکل دی) په دے واسطه الله تعالی فرمائیلے دی ۔ اکثر خلقو په الله باندے ایمان راوړے وی مگر هغه مشرکان وی ۔ او دا آیت صادق دے په هغه مقلیدنو باندے چه هغوی د خپلو عالمانو او مجتهدینو نه خدایان جوړ کړے دی ۔ او په هغه خلقو چه هغه په قبرونو باندے هغه کوی چه هغه خاص دی د الله سره ۔ او حلالوی څناورو لره د ماسوا الله په نوم باندے ے هغه

تهول مشرکان دی . او باوجود ددے امید لری د نبی علیه د شفاعت بلکه د خپلو بزرگانو د شفاعت . حالانکه شفاعت د هغه چا د پاره دے چه هغه د الله سره د څه قسم شرک نهٔ وی کړے نهٔ پټ نه ښکاره . او څوک چه شرك کوی د هغه شفاعت به نهٔ کیږی . بلکه هغه به همیشه په جهنم کښې وی خواه څوك وی کوم ځائے وی . انتهی .

(۴۹۲)عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لکل نبی دعوة مستجابة یدعوا بها فیستجاب له فیؤتاها وانی اختبات دعوتی شفاعة لامتی یوم القیمة .

ترجمه : د ابو هریرة نه روایت دے . رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی . د هر پیغمبر یوه دعاوی قبلیدونکے چه هغے له هغه غواړی او قبلیږی . او ورکولے شی . او ما خپله دعا پټه ایخے ده د خپل امت د شفاعت د پاره د قیامت په ورځ .

(۴۹۳)عن ابی هریرة یقول قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لکل نبی دعوة دعابها فی امته فاستجیب له وانی ارید ان شاء الله ان اوخر دعوتی شفاعة لامتی یوم القیمة .

ترجمه :د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلے دی . د هر پیغمبر یوه دعا ده . چه هغوی غوښتلے د خپل امت د پاره . او ما خپله دعا پټه ایخودے . د خپل امت د شفاعت د پاره د قیامت په ورځ (که خدائے پاك غواړی)

(۴۹۴)عن انس ابن مالک ان النبی صلی الله علیه واله وسلم قال لکل نبی دعوة دعاها لامته وانی اختبات دعوتی شفاعة لامتی یوم القیمة .

ترجمه: د انس بن مالك نه روایت دے . رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی . د هر پیغمبر یو دعا ده چه هغوی غوښتلے ده د خپل امت د پاره . او ما خپله دعا پټه ایخودے ده . د خپل امت د شفاعت د پاره . د قیامت په ورځ باندے .

(۴۹۵) عن شعبة عن قتادة بهذا الاسناد :

ترجمه : په دے سند سره هم مذکوره بالا روایت نقل شوے دے .

(۴۹۶) عن ابی امامة عن النبی ﷺ :

ترجمہ: ابو اسامہؓ د نبی کریم ﷺ نه هم دغه حدیث بیان کړے دے۔

(۴۹۷) عن انس ان النبی ﷺ قال فذکر نحو حدیث قتادة عن انس : [بخاری ۶۳۰۵]

ترجمہ: انسؓ فرمائی: چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل او مذکوره حدیث ئے بیان کړو۔

(۴۹۸) عَنْ جابر ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ یقولُ عن النبی ﷺ لکُلِّ نبیّ دعْوة قد دعا بها فی اُمّته وخبأتُ دعوتی شفاعة لّاُمّتی یوم القیامة

ترجمہ: د جابر بن عبد اللہؓ نه روایت دے رسول اللہ صلی اللّٰہ علیہ واٰلہ وسلم فرمائیلی دی د هر یو پیغمبر علیه السلام یو دعا ده چه هغے لره هغوی غوښتلے ده د خپل امت په حق کښې۔ او ما خپله دعا لره پټه ایخودے ده د خپل امت د شفاعت د پاره دقیامت په ورځ۔

﴿بَابُ دُعَآءِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّمَ لِاُمَّتِهٖ وَبُکَائِهٖ شَفَقَةً عَلَیْهِمْ﴾

باب: د رسول اللہ صلی اللہ علیه و اله وسلم دعا کول د خپل امت د پاره اوژړل د هغوی په حال باندے د شفقت نه۔

(۴۹۹) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرِو ابْنِ الْعَاصِ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلَّمَ تَلَا قَوْلَ اللّٰهِ تعالٰی فِیْ ابراهیم ربّ انّهنّ اضللن کثیراً مّن النّاس فمنْ تبعنیْ فانّهٗ منّیْ ومنْ عصانیْ فانّک غفُوْرٌ رّحیْم الایة وقال عیسٰی علیه السّلامُ انْ تعذّبْهمْ فانّهمْ عبادُک وانْ تغفرْ لهُمْ فانّک انت الْعزیْزُ الْحکیْمُ ۔ فرفع یدیه وقال اللّٰهُمّ اُمّتیْ اُمّتیْ وبکٰی فقال اللّٰهُ عزّوجلّ یا جبْریْل اذْهبْ الٰی مُحمّد وّرُبُّک اعْلمُ فسئلْهُ ما یُبْکیْک فاتاهُ جبْریْل علیه السّلامُ فسالهُ فاخْبرهُ وهُو اعْلمُ فقال اللّٰهُ عزّوجلّ یا جبْریْل اذْهبْ الٰی مُحمّد فقُلْ انّا سنُرْضیْک فیْ اُمّتک ولا نسُوْءُک۔

ترجمہ: د عبداللہ بن عمرو بن العاص نه روایت دے۔ رسول اللہ صلی اللّٰہ علیہ واٰلہ وسلم دا آیت اولوستو چه په دے کښې د حضرت ابراهیم علیه السلام قول دے۔ اے ربه! هغوی خطاکړے (یعنی بتانو) ډیر خلقو لره هغوخوك چه زما په لار باندے روان شو نو هغه زما

دے ۔ او چا چہ زمہ وینا او نۂ منلہ د هغه ته بخونکے او مهربان نے ۔ او د اآیت چه په دے
کښ د حضرت عیسیٰ علیه السلام قول دے که چرے تهٔ هغوی لره په عذاب کرے نو هغه
ستا بندیگان دی ۔ او که چرے ته هغوی لره اوبخے نو تهٔ مالك نے حکمت والا ۔ بیا نے خپل
دواړه لاسونه اوچت کړل او دا نے اووے ۔ اے پروردگاره ځما ! امت ځما امتِ ځما او په ژړا شو
۔ الله تعالیٰ اوفرمایل اے جبرائیله ! ته د محمدِ صلے اللهٔ علَیْه والٰه وسلم خواله لاړه شه او
رب ستا ښه پوهه دے لیکن ته لاړشه ۔ د هغه نه تپوس اوکړه چه هغه ولے ژاړی ؟ جبرائیل
عليه السلام د هغه خواله راغے او تپوس نے اوکړو ته ولے ژاړے ؟ هغه ورته تمام حال بیان
کړو ۔ جبرائیل علیه الله تعالیٰ ته لاړو عرض ئے اوکړو ۔ حالانکه هغه ښه پوهه وو الله
تعالیٰ او فرمائیل اے جبرائیل ! د محمدؐ خواله لاړ شه ! او ورته اووایه چه مونږ به تالره
خوشحاله کړو ستا په امت کښ او تا به نۂ خفه کوؤ۔

فائده :۔ نووی وئیلی دی ۔ په دے حدیث کښ څو فائدے دی ۔ یو خو دا چه د رسول
اللهِ صلے اللهٔ علَیْه والٰه وَسلم د خپل امت سره ډیر زیات محبت او شفقت او مهربانی وه ۔
دویمه دا چه په دعا کښ لاس اوچتول مستحب دی دریم دا چه بشارت عظیم دے ۔ ددے
امت د پاره او هغه نور زیات شو د خداوند کریم د وعدے نه ۔ کو چه چه هغه اوکړه چه مونږ
به تالره راضی کړو ستا په امت کښ او د نۂ خفه کولو او دا حدیث لوئے امید دے د امت د
خلقو د پاره ۔ څلورم بیان دے د رسول اللهِ صلے اللهٔ علَیْه والٰهِ وَسلم د کمال بزرگی او د
اوچتے درجے ۔ او د الله تعالیٰ چه کوم عنایت په هغه باندے وو د هغے ۔ او د جبرائیل په
لیږلو کښ حکمت دا وو چه د رسول اللهِ صَلے اللهٔ عَلَیْه وَالِهٖ وَسَلم بزرگی ښکاره شی ۔ او
معلومه شی چه د هغه درجه ډیره اوچته ده ۔ او خدائے تعالیٰ د هغه رضامندی غواړی ۔ او
دا حدیث مطابق د ے ددے آیت و لسوف یعطیك ربك فترضی یعنی الله تعالیٰ به تالره
درکړی بیا به ته راضی شے ۔

او دا چه ئے کوم ونیلے دی چه مونږ به تالره اراضی کوو ۔ ددیے نه لوئے امید وتلے شی ځکه چه رضامندی هغه وخت هم کیږی چه الله تعالیٰ به بعضو لره معاف کړی او بعضو لره به جهنم ته بوځی ۔ نو اونے فرمایل ! چه تالره رنځ نه درکوم ۔ بلکه ستا د امت ټولو خلقو لره به د جهنم د اور نه او عذاب نه خلاصے ورکوم ۔

﴿بَابُ بَيَانِ اَنَّ مَنْ مَاتَ عَلَى الْكُفْرِ فَهُوَفِي النَّارِ وَلَا تَنَالُهُ شَفَاعَةٌ وَّلَا تَنْفَعُهُ قَرَابَةُ الْمُقَرَّبِيْنَ



باب: کوم سړے چه د کفر په حالت کښې مړ شی ۔ هغه به جهنم ته ځی او د هغه شفاعت به نۀ کیږی او د بزرګانو بزرګی به د هغه څه پکار نه راځی ۔

(۵۰۰)عَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَيْنَ اَبِىْ قَالَ فِى النَّارِ قَالَ فَلَمَّا قَفَّاالرَّجُلُ دَعَاهُ فَقَالَ اِنَّ اَبِىْ وَاَبَاكَ فِى النَّارِ ۔[ابوداود : ۴۷۱۸]

ترجمه : د انسؓ نه روایت دے ۔ چه یو سړی تپوس اوکړو یا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وسلم زما پلار کوم ځائے دے ۔ هغهٔ اوفرمائیل په دوزخ کښې ۔ هر کله چه د هغه شاشوه او روان شو ۔ نو حضرتؐ هغه راوغوښتو او ورته ئے اوفرمایل ! چه زما پلار او ستا پلار دواړه په جهنم کښې دی ۔

فائده : ځکه چه هغه په کفر باندې مړ وو او څوك چه په کفر باندې مړ شی هغه به جهنم ته ځی ۔ هغه لره به د چا رشته خپلولی پکار نۀ راځی ۔ ددیے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د عربو خلق کوم چه د نبوت نه وړاندِ مړه دی ۔ او د بتانو پرستش ئے کولو ۔ هغه جهنم یان دی او ددیے نه د ے څوك دانۀ ګنړی چه د دعوت نه مخکښې د امواخذه ده ۔ ولے چه هغوی ته د نورو پیغمبرانو دعوت رسیدلے وو ۔ لکه حضرت ابراهیم علیه السلام او دا چه کوم هغه ، هغه سړے راوغوښتو او روته ئے اووے ۔ چه زما پلار هم په جهنم کښې دے ۔ ددیے نه دا عرض وو ۔ چه دده غم کم شی او هغه ته دا معلومه شی ۔ چه

د خدائے په مخکښې تول برابر دی کومه قاعده چه هغه نیولے ده د هغے خلاف نۀ شی کیدے . د کافر ټهکانه جهنم دے . خو اه که هغه د نبی علیه السلام پلار وی یا څوے . جلال الدین سیوطیؒ په څو حدیثونو سره دا امر ثابت کړے دے . چه الله تعالی د آنحضرت صلی الله علیه واله وسلم دعا لره د هغه د والدینو په حق کښې قبوله کړه . او هغه دوباره ژوندے کړے شو او اسلام ئے راوړو . خو اکثرو علماؤ او محدثینو ددے نه انکار کړے دے او دغے حدیثونو لره ئے موضوع خودلے دی او الله ښه پوهه دے په حقیقت د حال باندے .

باب فی قوله تعالی وانذر عشیرتک الاقربین :

باب : د الله تالی دا فرمان چه اے نبی ! خپلو قرابت والا لره اویره وه :

(۵۰۱) عن ابی هریرة قال لما نزلت هذه الایة وانذر عشیرتک الا قربین دعا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قریشا فاجتمعوا فعم وخص فقال یا بنی کعب ابن لوی انقذوا انفسکم من النار یابنی مرة بن کعب انقذوا انفسکم من النار یا بنی عبد شمس انقذوا انفسکم من النار یابنی هاشم انقذوا انفسکم من النار یابنی عبدالمطلب انقذوا انفسکم من النار یا فاطمة انقذنفسک من النار فانی لا املک لکم من الله شیئا غیران لکم رحما سابلها ببلالها . [ترمذی : ۳۱۸۵، نسائی : ۳۶۴۶، ۳۶۴۷]

ترجمه : دابو هریرةؓ نه روایت دے هر کله چه د ایات نازل شو "اویروه خپل خندان والا و لره " نو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د قریشو خلقو لره راوغوښتل . هغه تمام راجمع شول هغه عامو تولو لره او یرول او بیا ئے خاص کړه او اوئے فرمائیل ! اے د کعب بن لوئ ځامنو آزاد کړئ خپل ځان د جهنم نه . اے د مره بن کعب ځامنو ! آزاد کړئ خپل ځان د جهنم نه . اے د عبد شمس ځامنو ! خلاص کړئ خپل ځان د جهنم نه . اے د هاشم ځامنو ! خلاص کړئ ځان خپل د جهنم نه اے د عبدالمطلب ځامنو ! خلاص کړئ ځان خپل د

جهنم نه . اے فاطمے خلاص کړه ځان خپل د جهنم نه . ځکه چه زه د خدائے په مخکښې ځه اختیار نه لرم (یعنی که هغه عذاب ورکول او غواړی نو بچ کولے نه شم) البته تاسو چه کومه زما سره خپلولی لرئ . زه هغے لره جوړه وم یعنی خیال نے ساتم (یعنی په دنیا کښې ستاسو سره احسان کول غواړم)

(٥٠٢) عن عبد الملک بن عمیر بهذا الاسناد :

ترجمه : د عبد الملك بن عمیر نه هم په دے اسناد سره روایت راغلے دے :

(٥٠٣) عن عائشة قالت لما نزلت وانذر عشیرتک الاقربین قام رسول الله صلے الله علیه واله وسلم علی الصفا فقال یا فاطمة بنت محمد یا صفیة بنت عبد المطلب یابنی عبد المطلب لاأملک لکم من الله شیئا سلونی من مالی ماشئتم .

ترجمه : د ام المومنین حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے . هر کله چه دا آیات نازل شو "او یره وه ته خپل خاندان والا ولره" نو رسول الله صلے الله علیه واله وسلم د صفه په غر باندے اودریدو . او اوئے فرمایل اے فاطمة ! د محمد لور . اے صفیه ! د عبدالمطلب لور . او اے د عبدالمطلب ځامنو ! زه د خدائے په وړاندے تاسو لره بچ کولے نۀ شم البته زما د مال نه چه ستاسو کوم زړه غواړی اوغواړئ .

(٥٠٤) عن ابی هریرة قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم حین انزل علیه وانذر عشیرتک الاقربین یامعشر قریش اشتروا انفسکم من الله لااغنی عنکم من الله شیئا یا بنی عبدالمطلب لا اغنی عنکم من الله شیئا یا عباس ابن عبد المطلب لا اغنی عنک من الله شیئا یا صفیة عمة رسول الله صلے الله علیه واله وسلم لااغنی عنک من الله شیئا یا فاطمة بنت محمد سلینی ما شئت لا اغنی عنک من الله شیئا . [بخاری : ٢٧٥٣، ٤٧٧١، نسائی : ٣٢٤٨]

ترجمه : د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه په رسول الله صلے الله علیه واله وسلم باندے چه هر کله دا آیات نازل شو "اویره وه تۀ خپلو نزدے خپلوانو لره) نو هغه

اوفرمائیل! چه اے د قریشو خلقو ! تاسو خپل ځانونولره د الله نه واخلئ (دنیك اعمالو په بدله کښې) زه د الله جل جلاله په وړاندے ستاسو په څه کار نۀ شم راتلے ۔ اے د عبد المطلب ځامنو زه ستا په څه کار نۀ شم راتلے د الله په وړاندے ۔ اے صفیه چاچی د رسول الله صَلی اللّٰهُ عَلَیْه وَالِهٖ وَسَلَّمْ زه ستا په څۀ کار نۀ شم راتلے ۔ د الله جل شانه په وړاندے ۔ اے فاطمهؓ لور د محمدصَلی اللّٰهُ عَلَیْه وَالِهٖ وَسَلَّمَ تۀ زما په مال کښې چه څه غواړے اوغواړه ۔ بیا د الله جل جلاله په مخکښې زه ستا په څه کار نۀ شم راتلے ۔

(۵۰۵)عن ابی هریرة عن النبی ﷺ نحو هذا :

ترجمه : ابو هریرةؓ په دے سند سره هم دغه روایت دَ نبی کریم ﷺ نه روایت کوی :

(۵۰۶)عَنْ قَبِیْصَةَ ابْنِ الْمَخَارِقِ وَزُهَیْرِبْنِ عَمْرٍ وقَالَا لَمَّانَزَلَتْ وَاَنْذِرْعَشِیْرَتَکَ الْاَ قْرَبِیْنَ قَالَ انْطَلَقَ نَبِیُّ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْه وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِلٰی خَمْسَةٍ مِّنْ جَبَلٍ فَعَلَا اَعْلَاهَا حَجَراً ثُمَّ نَادٰی یَا بَنِیْ عَبْدِ مَنَافٍ اِنِّیْ نَذِیْرٌاِنَّمَامَثَلِیْ وَمِثْلُکُمْ کَمَثَلِ رَجُلٍ رَاٰی الْعَدُوَّ فَانْطَلَقَ یَرْبَأُاَهْلَهٗ فَخَشِیَ اَنْ یَّسْبِقُوْهُ فَجَعَلَ یَهْتِفُ یَاصَبَاحَاهْ.

ترجمه : د قبیصه بن محارق او زهیرؓ بن عمرو نه روایت دے ۔ دواړو وئیلے دی هر کله چه دا آیات نازل شو "اویره وه ته خپلو نزدے خپلوانو لره" نو رسول الله صَلی اللّٰهُ عَلَیْه وَالِهٖ وَسَلَّمَ دغر یو گټے له لاړو او د تهولو نه په لوړه گټه باندے اودریدو بیا ئے آواز اوکړو ۔ اے د عبد مناف ځامنو زۀ یره ولو والا یم ۔زما مثال او ستاسو مثال داسے دے چه یو سړی خپل دشمن لره اولیدو ۔ بیا هغه په منډه لاړو د خپل خاندان د بچ کولو د پاره او اویریدو چرته دشمن د هغه نه وړاندے اونه رسی ۔ نو په چغو سر شو یا صباحاه ۔

فائده :.یا صباحاه ! یوه کلمه ده چه دے لره د عربو خلق په څه لویه واقعه باندے وائی او اکثر په عربو کښې لوټ مار د سحر په وخت کښې کیدلے شی ۔ نو ددے کلمے دوینا نه غرض داوی ۔ چه خلق خبر دار شی ۔ او د خپل ځان بچاؤ اوکړی

(۵۰۷)عن زهير ابن عمرو وقبيصة البن محارق عن النبى ﷺ بنحوه :

ترجمه : دغه روایت په دے سند سره هم مروی دے :-

(۵۰۸)عن ابن عباس قال لما نزلت هذه الآية وانذر عشيرتك الاقربين ورهطك منهم المخلصين خرج رسول الله صلى الله عليه واله وسلم حتى صعد الصفا فهتف ياصباحاه فقالوا من هذا الذى يهتف قالوا محمد فاجتمعوا اليه فقال يابنى فلان يابنى فلان يابنى عبد مناف بنى عبدالمطلب فاجتمعوا اليه فقال ارايتكم لواخبرتكم ان خيلا تخرج بسفح هذا الجبل اكنتم مصدقى قالوا قلنى نذير لكم بين يدى عذاب شديد قال فقال ابولهب تبالك اما جمعتنا الالهذا ثم قام فنزلت هذه السورة تبت يدا ابى لهب وقدتب كذا قرأالاعمش الى آخر السورة .[بخارى : ۱۳۹۴، ۳۵۲۶، ۴۸۰۱، ۴۹۷۱، ۴۹۷۲، ۴۹۷۳، ترمذى : ۳۳۶۳]

ترجمه : دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے هر کله چه دا ایات نازل شو - "اوويره وهته خپلو نزدے رشته دارانو لره - او خپل قوم مخلصینو (ربنتونی) خلقو لره - نو را اوتو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم تردے پورے چه هغه صفا غر ته اوختو او چغه ئے کړه یا صباحاه خلقو اووے - دا څوك چغے وهی - هغوی اووے محمد دے . بیا تمام خلق هغه ته راجمع شو - هغه اوفرمایل ! اے د فلانی ځامنو ! اے د فلانی ځامنو ! اے د فلانی ځامنو ! اے د عبد مناف ځامنو ! اے د عبد المطلب ځامنو ! هغه ټول راجمع شول .نو هغه ورته اوفرمایل تاسو څه پو هیږئ که چرے زه تاسو ته دا اووایم - چه ددے غر لاندے سواره دی - نو تاسو به زما خبره اومنئ ؟ هغوی اووے مونږ پتا کښې یوه خبره دروغ نهٔ ده موندلے هغه اوفرمایل ! نو بیا زه تاسو یره وم د سخت عذاب نهٔ - ابو لهب اووے خرابی دوی ستا، تا مونږ ټول ددے دپاره راجمع کولو . بیا هغه پاسیدو (د هغه مجلس نه)دغه وخت - سورت نازل شو تبت یدا ابی لهب و تب . یعنی هلاك دے وی دواړه لاس دا بولهب او هلاك شولو . اعمش دے سوره لره داسے اولوستو د آخره پورے - (یعنی دقد حرف ئے پکښې زیات کړو .

او مشهور قرآت تب دے بغیر د قدنه)

فائده :۔ نووی ویلی دی او س په قرآن کښې صرف دومره قدر دے ۔ وانذر عشیرتك الاقربین O یعنی اویره وه ته خلو نزدے رشته دارانو لره او دا عبارت نهٔ دے ۔ ور هطك منهم المخلصین ۔شاید ددے تلاوت منسوخ شوے وی ۔

(۵۰۹) عن الاعمش بهذا الاسناد قال : صعد رسول الله ﷺ ذات یوم الصفا فقال : ((یا صباحاه)) بنحو حدیث ابی اسامة ولم یذکر نزول الآیة ﴿ وانذر عشیرتک الاقربین ﴾ [راجع : ۵۰۸]

ترجمه : په دے سند او په دے الفاظو سره هم دغه روایت نقل کړے شوے دے۔

﴿بابُ شَفاعَةِ النَّبیّ صَلَّے اللّٰه عَلَیْه وَالِه وَسَلَّمَ لِاَبِیْ طَالِبْ وَالتَّخْفِیْفِ عَنْهُ بِسَبَبِه : ﴾

بـاب :۔ د رسول الله صلی اللّٰہ علیہ وآلہ وسلم د شفارش په وجه سره د ابو طالب په عذاب کښې د کمیدو (سپک والی) بیان ۔

(۵۱۰)عَنِ الْعباسِ ابنِ عَبدِ الْمطّلِبِ اَنَّهُ قَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ نَفَعْتَ اَبَاطَالِبِ بِشَیْئٍ فَاِنَّهُ کَانَ یَحُوْطُکَ وَیَغْضَبُ لَکَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْه وَالِه وَسَلَّمَ نَعَمْ هُوَ فِی ضَحْضَاحٍ مِّنْ نَّارٍ وَّلَوْلَا اناللکان فِی الدَّرکِ الْاَ سْفَلِ مِنَ النَّارِ : [بخاری : ۳۸۸۳، ۶۲۰۸، ۶۵۷۲]

ترجمه : حضرت عباس اووے یا رسول الله ! ولے تا ابو طالب ته هم څه فائده رسولے ده هغه به ستا حفاظت کولو او ستا په واسطه به غصه کیدو (یعنی چا چه به تهٔ تنګولے هغه ته به غصه کیدو)رسول الله صلے اللّٰہ علیہ والہ وسلم اوفرمائیل ها! هغه د جهنم د پاسه په درجه کښې دے ۔ که چرے زه نهٔ وے (یعنی ما د هغه د پاره دعا نهٔ وے کړے) نو هغه به د جهنم په لاندې درجه کښې وو (چه هلته عذاب ډیر سخت دے)

(۵۱۱)عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابنِ الْحَارِث قَالَ سَمِعْتُ الْعَبَّاسَ یَقُوْلُ قُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اَبَاطَالِبِ کَانَ یَحُوْطُکَ وَیَنْصُرُکَ وَیَغْضَبُ لَکَ فَهَلْ نَفَعَهُ ذٰلِکَ قَالَ نَعَمْ وَجَدْتُّهُ فِیْ غَمَرَاتٍ مِّنَ النَّارِ فَاَخْرَجْتُهُ

الی ضحضاح.

ترجمه: د عبدالله بن حارثؒ نه روایت دے ما اوریدلے دی د عباسؓ نه هغه ونیلے وو ما اووے یا رسول اللهؐ! ابو طالب به ستا بچاؤلو او ستا مدد به نے کولو ـ او ستا د پاره به نے په خلقو باندے غصه کوله ـ نو هغ هغه ته څه فائده اوشوه ددے خبرو نه ؟ هغه اوفرمائیل ها! ما هغه په سخت انکار کښ اولیدو نو ما راواوویستو او راواوے ویستو هغه لره کم اورته ـ

(۵۱۲) عن سفیان بهذا الاسناد عن النبی ﷺ بنحو حدیث ابی عوانة : [راجع : ۵۰۹]

ترجمه: دَ سفیان نه په دے سند سره دَ نبی کریم ﷺ نه دَ ابوعوانه دَ حدیث په مثل باندے مروی دے ـ

(۵۱۳) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِالْخُدْرِیِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ ذُکِرَ عِنْدَهٗ عَمُّهٗ اَبُوْ طَالِبٍ فقال لَعَلَّهٗ تَنْفَعُهٗ شَفَاعَتِیْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ فَیُجْعَلُ فِیْ ضَحْضَاحٍ مِنَ النَّارِ یَبْلُغُ کَعْبَیْهِ یَغْلِیْ مِنْهُ دِمَاغُهٗ .[بخاری : ۳۸۸۵، ۶۵۶۴]

ترجمه: دا بو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلے اللّٰہ علیه واله وَسلم ته د هغه دتره ابو طالب ذکر اوشو هغه اوفرمایل کیدے شی چه هغه ته فائده وشی زما د شفاعت نه د قیامت په ورځ ـ او هغه به لږ اور کښ او درولے شی چه هغه به د هغه د گیتو پورے وی ـ لیکن مازغه (دماغ) به د هغه ویشیږی د هغے نه (معاذالله د جهنم اور به خومره سخت وی)

﴿باب اَهْوَن اَهْلِ النَّارِ عَذَابًا﴾

باب : د اور عذاب چه د ټولو نه به کم چاته وی :

(۵۱۴) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ اَدْنٰی اَهْلِ النَّارِ عَذَابًا یَنْتَعِلُ بِنَعْلَیْنِ مِنْ نَارٍ یَغْلِیْ دِمَاغُهٗ مِنْ حَرَارَةِ نَعْلَیْهِ :

ترجمه: دا بو سعید خدریؓ نه روایت دے چه رسول الله صَلَّے اللّٰہ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ فرمائیلے

دی چه د ټولو نه کمے درجے عذاب په هغه چاته وی. چه هغه ته د اور پیزار په خپو کړلے شی. بیا به د هغه د سر دماغ د ګرمی د وجے نه ختکیږی.

(۵۱۵)عن ابن عباس ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال اهون اهل النار عذابا ابو طالب وهو منتعل بنعلین یغلی منهما دماغه.

ترجمه: د ابن عباسؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی چه د ټولو نه کم عذاب به د جهنم ابو طالب ته وی. هغه به دوه پیزار په خپو کول وی داسے چه په هغے سره به د هغه دماغ ختکیږی.

(۵۱۶)عن النعمان ابن بشیر یخطب وهو یقول سمعت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یقول ان اهون اهل النار عذابا یوم القیمة لرجل یوضع فی اخمص قدمیه جمرتان یغلی منهما دماغه.[بخاری: ۶۵۶۱، ۶۵۶۲، ترمذی: ۲۶۰۴]

ترجمه: د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے چه هغه خطبه لوستله هغوی اوویے ما د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلے دی. هغه فرمایلی دی د ټولو نه د کمے درجے عذاب به د قیامت په ورځ هغه ته وی. چه د هغه به دخپو د تلو لاندے انګار دوه ایخودلے شی چه د هغے په وجه سره به ئے مازغه (دماغ) ختکیږی.

(۵۱۷)عن النعمان بشیر قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ان اهون اهل النار عذابا من له نعلان وشراکان من نار یغلی منهما دماغه کما یغلی المرجل ماتری ان احدا اشد منه عذابا وانه لاهونهم عذابا.

ترجمه: د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی د ټولو نه سپک عذاب به هغه چاته وی چه هغه ته به دوه تسمے او پیزار د انګار اغوستے شوی وی. د هغه دماغ به داسے جوشیږی لکه څنګه چه کټوئ په ختکیدو ختکیدو پخیږی. هغه به داسے ګنړی چه ددے نه زیات عذاب چاته نشته. حالانکه هغه به د

تولونه کم عذاب وی

باب الدَّلِيلِ عَلٰى اَنَّ مَاتَ عَلَے الْكُفْرِ لَا يَنْفَعُهُ عَمَلٌ.

باب :. د کفر په حالت باندې د مړشوی بنده به د هغه عمل هیڅ بکار نه راځي.

(۵۱۸) عَنْ عَائِشَةَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ابْنُ جُدْعَانَ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ يَصِلُ الرَّحِمَ وَيُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ فَهَلْ ذٰلِكَ نَافِعُهُ قَالَ لَايَنْفَعُهُ اِنَّهُ لَمْ يَقُلْ يَوْمًا رَبِّ اغْفِرْلِيْ خَطِيْئَتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ .

ترجمه : ام المؤمنین حضرت عائشے رضی الله عنها اووے یا رسول الله ! د جدعان خوي به د جاهلیت په زمانه کښ صله رحمی کوله (یعنی د خپلوانو سره به ئے ښه سلوك کولو) او په مسکینانو به ئے غله خورولـه دا کار به هغه ته فائده ورکوی (د قیامت په ورځ) حضرت اوفرمایل ! فائده به هیڅ نه ورکوی (دقیامت په ورځ) هغه چرته دا نۀ وو وئیلے چه اے پروردګار زما ګناهونه اوبخے د قیامت په ورځ.

فائده :. یعنی د هغه د قیامت یقین نۀ وو . او کوم بنده چه په قیامت باندے ایمان نۀ لری هغه کافر دے . هغه له به څه عمل فائده نۀ ورکوی . قاضی عیاض وئیلے دی په دے خبره باندے اجماع ده . چه کافرانو له به د هغوی نیك عمولونه فائده نۀ ورکوی . او هغوی ته به د څه قسم اجر نۀ میلاویږی . نۀ به ورته آرام وی . نۀ به پرے عذاب ختمیږی البته دابه کیږی . چه په کافرانو باندے به د نورو کافرو په نسبت د هغوی د عملونو موافق عذاب سخت یا کم وی . تمام شولو کلام د قاضی عیاض .

اما م حافظ فقیه ابو بکر بیهقی په کتاب البعث والنشور کښ د بعضے اهل علمو نه دغه شان نقل کړے دے . بیهقی وئیلے دی . دا خبره ممکنه ده چه د ابن جدعان حدیث او کوم چه ددے قسم حدیثونه دی د هغه کافر په نیکو کښ چه هغه د کفر په حالت کښ مړ شی. مراد د هغے نه دا شو چه دغه کافر له به د عذاب نه چرته هم خلاصے نۀ وی . لیکن د هغه عذاب د هغه د نیکو په وجه سره کمیدے شی او که چرے هغه نیکے نۀ وی

کړے نو د هغه عذاب به د هغه په خطایانو باندے سخت وی ۔ علماؤ وئیلے دی چه د جدعان
ځوے به په خلقو باندے غله ډیره خوروله ۔ او هغه د میلمنو د پاره یوه پیاله جوړه کړے وه ۔
چه په هغے باندے به په سپری سره ختلو ۔ او هغه دبنی تمیم بن مره د قوم نه وو ۔ چه
دحضرت عائشے عزیز وو ۔ او د قریشو د رئیسانو نه وو ۔ د هغه نوم عبدالله وو ۔ او جدعان
بضم جیم د هغه د پلار نوم وو (نووی)

٭ باب مُوالاة الْمُؤْمِنِين ومُقاطعة غيْرِ همْ والْبر آء ة منْهمْ ٭

باب :۔ د مؤمن سره د دوستئ ساتلو او د غیر مؤمن سره د دوستئ د قطع کولو او د هغوی نه د اجد اوسیدو بیان ۔

(۵۱۹)عنْ عمروبْنِ الْعاصِ قالَ سمِعْتُ رسُوْلَ اللّٰهِ صلَّی اللّٰهُ علیْهِ والِه وسلَّم جهاراً غیْرَ سِرّ یقُوْلُ
الا انّ الَ ابیْ یعْنیْ فلا نا لیْسوا الیْ باوْلیاء وانّما ولیّی اللّٰه وصالِحُ الْمُؤْمِنِیْن .[بخاری : ۵۹۹۰]

ترجمه : د عمرو بن عاص رضی الله عنه نه روایت دے چه ما د رسول الله صلی اللّٰہ علیه واله
وسلم نه اوریدلے دی ۔ هغه په زوره سره فرمایلے وو په پټه سره نه ۔ د فلانی اولاد زما عزیز نه
دی مګر الله زما مالك دے او زما عزیز هغه مؤمن دے چه هغه نیك وی ۔

فائده :۔ راوی د هغه سړی نوم وانه خستو د یرے ددوجے نه د خپل ځان یا بل ته د
ضرر نه د بچ کولو د پاره ۔ او مقصود د باب ددے عبارت نه حاصلیږی ۔ چه زما عزیزان او
رشته داران هغه دی چه هغه نیك وی ۔ اګر که هغه په رشته کښ لرے وی ۔ او کوم سړے
چه نیك نهٔ وی هغه زما عزیز نهٔ دے اګر که په رشته کښ هر څو مره نزدے وی ۔ قاضی
عیاض لیکلے دی چه د فلانی نه مراد حکم بن العاص دے ۔ او د اهغه حکم په جهر سره
کړے دے په پټه سره نهٔ دے ۔ ددے نه معلومه شوه چه د دین ددښمنانو نه ښه په ښکاره
ویزاره کیدل پکار دی۔ او د نیکو خلقو سره محبت کول که چرے د فساد یره نهٔ وی ۔ (نووی
)

باب الدليل على دخول طوائف من المسلمين الجنة بغير حساب ولا عذاب

باب: د مسلمانانو د یو ګروپ بغیر د حساب او عذاب نه به جنت ته د داخلیدو بیان.

(۵۲۰) عن ابی هریرة ان النبی صلی الله علیه واله وسلم قال یدخل من امتی الجنة سبعون الفا بغیر حساب فقال رجل یارسول الله ادع الله ان یجعلنی منهم قال اللهم اجعله منهم ثم قام اٰخر فقال یارسول الله ادع الله لی ان یجعلنی منهم قال سبقک بها عکاشة

ترجمه: د ابو هریرة نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی. زما د امت نه به اویا زره کسان بغیر د حساب کتاب نه جنت ته ځی. یو سړی لووے یا رسول الله! د الله نه دعا اوغواړه چه خدائے ما د هغه خلقو نه کړی. هغه اوفرمائیل اے الله! دے د هغه خلقو نه کړه. بیا دویم پاسیدو او اوئے وئیل یا رسول الله دعا اوکړه چه خدائے ما هم د هغو خلقو نه کړی. حضرت اوفرمائیل چه وړاندے ستا نه دا کار کړے وو عکاشه.

فائده: یعنی هغه د دعا درخواست کړے دے د تولو نه مخکښ او ما دُعا کړیده اوس هر سړی ته دا مرتبه نۀ شی حاصلیدے. قاضی عیاض وئیلے دی چه دویم سړے ددغه مرتبے لائق نۀ وو او عکاشه د هغے لائق وو او بعضو وئیلی دی چه هغه منافق وو نو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هغوی ته ګول ګول جواب ورکړو او دا د اخلاقو نه خلاف وه چه هغه ورته وئیلے وے چه ته د هغوی نه نۀ ئے

او بعضو وئیلے دی. چه هغه د وحی نه معلومه شوے وی چه زما دُعا د عکاشه په باب کښ به قبوله وی. او ددغه دویم سړی په باب کښ قبلیدلو والا نۀ ده. ځکه هغه د بل د پاره دعا اونه کړه. او خطیب بغدادی وئیلے دی چه دویم سړے سعد بن عباده (د انصارو رئیس) وو که چرے دا خبر رښتیا وی. نو هغه ته منافق قرار ول غلط شو لیکن آخری قول ظاهر دے او دے لره علماؤ اختیار کړے دے. دے حدیث کښ د امت نبوی لوئے

فضیلت دے او د الله جل جلاله د لوئے احسان بیان دے زمونږ په پیغمبرؐ باندے ۔ د صحیح مسلم په یو روایت کښې داسے دی ۔ په دغه اویا زره بنیادمو کښې به د هر یو بنیادم سره زر کسان نور وی ۔ په دے صورت کښې د ټولو بنیادمو تعداد چه بے حسابه به جنت ته ځی څلور اربه اولس اتیا کروړه شو ۔ الله تعالیٰ دے په خپل فضل سره مونږ هم د هغه خلقو نه کړی ۔ آمین (نووی مع زیاده)

(۵۲۱)عن ابی هریرة یقول سمعت رسول الله ﷺ یقول بمثل حدیث الربیع :

ترجمه : په دے سند سره هم مذکوره بالا حدیث مروی دے :

(۵۲۲)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ یَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ اُمَّتِیْ زُمْرَةٌ هُمْ سَبْعُوْنَ اَلْفًا تُضِیْءُ وُجُوْهُهُمْ اِضَاءَةَ الْقَمَرِ لَیْلَةَ الْبَدْرِ قَالَ اَبُوْ هُرَیْرَةَ فَقَامَ عُکَّاشَةُ ابْنُ مِحْصَنٍ الْاَسَدِیُّ یَرْفَعُ نَمِرَةً عَلَیْهِ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ ادْعُ اللّٰهَ اَنْ یَّجْعَلَنِیْ مِنْهُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ادْعُ اللّٰهَ اَنْ یَّجْعَلَنِیْ مِنْهُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ سَبَقَکَ بِهَا عُکَّاشَةُ .[بخاری : ۲۵۴۲]

ترجمه : د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه اوریدلی دی ۔ چه فرمایلے ئے وو زما د امت نه د اویازرو یو جماعت به جنت ته ځی ۔ چه د هغوی مخونه به د څوارلسمے د سپوږمئ پشان پرقیږی ۔ ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه ونیلے دی ۔ چه ددے په اوریدو سره عکاشه بن محصن اسدی او دریدو خپل کمبل ئے اوچت کړو او اوئے ونیل یارسول اللهؐ ! دعا اوکړه ماته چه مالره الله جل جلاله د هغه خلقو نه کړی ۔ رسول الله صلے الله علیه واله وسلم اوفرمائیل چه یا الله ته د ده لره د هغه خلقو نه کړه ۔ بیایو سړے بل د انصارو نه اودریدو او اوئے ونیل ۔ یا رسول اللهؐ دعا اوکړه چه الله مالره هم د هغه خلقو نه کړی ۔ رسول الله صلے الله علیه واله وسلم ورته اوفرمائیل ۔ چه دا خبره ستا نه وړاندے عکاشه اوکړله ۔

(۵۲۳) عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال یدخل الجنة من امتی سبعون الفا زمرة واحدة منهم علی صورة القمر.

ترجمه: د ابو هریرة نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی چه زما د امت نه به اویا زره کسان جنت ته ځی د هغوی نه به د بعضو وجودونه د سپوږمی پشان پرقیږی.

(۵۲۴) عن عمران قال قال نبی الله صلی الله علیه واله وسلم یدخل الجنة من امتی سبعون الفا بغیر حساب قالوا ومن هم یا رسول الله قال هم الذین لایکتوون ولا یسترقون وعلی ربهم یتوکلون فقام عکاشة فقال ادع الله یانبی الله ان یجعلنی منهم قال انت منهم فقام رجل فقال یانبی الله ادع الله ان یجعلنی منهم قال سبقک بها عکاشة.

ترجمه: د عمران رضی الله تعالی عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی چه زما د امت نه به اویا زره کسان بغیر د حساب نه جنت ته تللے شی. خلقو تپوس اوکړو هغه کوم خلق دی. یارسول الله؟ هغه اوفرمایل! هغه خلق چه هغه داغ نهٔ ورکوی. او منتر نهٔ کوی. او په خپل پروردگار باندے توکل لری. په دغه وخت عکاشه اودریدو او عرض ئے اوکړو یارسول الله! دعا اوکړه چه خدائے ما د هغو خلقو نه کړی. هغهٔ اوفرمایل ته د هغوی نه ئے. بیا یو بل سړے اودریدو او اوئے وئیل! چه اے د الله نبی دعا اوکړه چه خدائے ما هم د هغه خلقو نه کړی. هغهٔ اوفرمائیل چه ستا نه وړاندے عکاشه وئیلی وو.

فائده: یعنی په بیماری کښی دوائی علاج او جهاړ پهونک نهٔ کوی. په دے خیال سره چه صحت او تندرستی د خدائے په اختیار کښی ده. دوائی او علاج بغیر د هغه د مرضی نه څه فائده نهٔ ورکوی. پس بهروسه د هغوی په خدائے باندے وی. نوی وانی چه دے حدیث په مطلب کښی اختلاف کړے دے امام ابو عبد الله مازری وئیلی دی چه بعضے

خلقو ددے حدیث نه استدلال کړے دے د دوایئ او علاج په ممانعت باندے ۔ حالانکه اکثر علماء د دے خلاف دی ۔ او دلیل د هغوی هغه حدیثونه دی ۔ چه په هغے کښ پخپله آنحضرت صَلَی اللهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ د دوه یانو او غذا فائدے بیان کړے دی لکه د کلونجی قسط او ایلوے وغیره ۔

او په خپله هغه په بیماری کښ دوائی کړے ده ۔ او حضرت عائشے د هغه دوایئ لره نقل کړے ده ۔ او هغه منتر خوډلے دے او د هغے نه شفا شوے ده او په یو حدیث کښ دی چه بعضے صحابه وؓ د سوره فاتحے منتر کړے وو ۔ او په هغے ئے اجرت اخستے وو ۔ هر کله چه د احدیثونه ثابت دی ۔ نو ددے حدیث مطلب دادے چه کوم خلق دوایانو لره په طبع فائده مندے گنړی او د خدائے داختیار او مرضئ قائل نهٔ وی ۔ هغه به جنت ته نهٔ شی تللے ۔ قاضی عیاضؒ وئیلے دی چه ددے تاویل په طرف ډیر خلق تلے دی حالانکه دا تاویل تهیك نهٔ دے ۔ ولے چه رسول الله صَلَی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ د هغه خلقو فضیلت بیان کړو چه هغه به جنت ته بغیر د حساب او کتاب نه ځی ۔ او د هغوی مخونه به د سپینو زرو په شان پرقیږی ۔ بیا که چرے دا تاویل اوکړے شی کوم چه هغه خلقو کړے دے ۔ نو دا فضیلت به د هغوی سره خاص نهٔ وی ۔ ددے وجے نه چه دا حال د تمامو مسلمانو هم دے ۔ یعنی ځوك چه د هغے خلاف اعتقاد لری (یعنی دوائی لره بالطبع او بالذات مؤثره گنړی) هغه خو کافر دے ۔

نورو علماؤ هم ددے حدیث مطلب بیان کړے دے ۔ ابو سلیمان خطابیؒ وئیلے دی مراد د دوائی د ترك نه دادے ۔ چه هغه بهروسه په الله باندے لری ۔ او د هغه په قضاء او امتحان باندے راضی دی ۔ هغوی وئیلے دی دادرجه ډیره اوچته ده ۔ او یو جماعت ددے په طرف تلے دے ۔

قاضی عیاضؒ وئیلے دی ظاهر حدیث هم دغه دے ۔ او د حدیث نه دا وتلے دی چه په داغ

ورکولو کښې او منتر کولو کښې او نور قسم علاج کولو کښې څه فرق نشته دے او داؤدئ
ونیلے دی د حدیث نه مقصود دا دے . چه هغه خلق د تندرستئ په حالت کښې د اکار نهٔ
کوی . څکه چه مکروه دے د صحت په حالت کښې تعویذ او منتر لیکن د بیمارئ په
حالت کښې خو درست دے

اوبعضو وئیلے دی . چه د حدیث نه هم دوه قسمه علاجونه مقصود دی . یعنی
منتر او داغ لګول او باقی علاجونه د توکل خلاف نهٔ دی . څکه چه علاج په خپله رسول
الله صَلے اللّهٔ علَیه وآله وسلم کړے دے . او د سلفو علماؤ او فضلاؤ کړے دے. او په کوم
سبب باندے چه یقین وی لکه خوړل او څکل د مړیدو د پاره هغه توکل لره نهٔ خرابوی.
څکه هغوی علاج کول نهٔ پرے ایخے دی نه نے ډوډئ ګټلو لره د خپل ځان د پاره او د بال بچ
د پاره د توکل خلاف کړے دی . مګر دا ټول هله دی . چه د هغه بروسه په خدائے پاك باندے
وی نهٔ په خپله دوائی او علاج او ګټه باندے . او په داغ ورکولو او نور قسم علاج کښې فرق
بیانول ډیره اوګده ول غواړی . او حضرت دواړولره جائز کړے دی . او دَدواړو تعریف نے کړے
دے لیکن یو نکته زه بیانوم چه هغه پوره ده هغه داداه چه حضرت صَلے اللّهٔ علَیه وآله
وسلم پخپله هم دوائی کړے ده او نورو لره نے هم دوائی کړے ده . او داغ هغه نه دے ورکړے
البته بل لره نے ورکړے دے . او په صحیح حدیث کښې ممانعت راغلے دے دداغ ورکولو نه .
او هغه فرمائیلے دی ماته داغ ورکول ښه نه ښکاری تمام شو کلام د قاضی عیاضؒ .

او ظاهر دغه معنیٰ ده کومه چه خطابی اختیار کړے ده . او حاصل دادے چه دهغه
خلقو اعتقاد په خدائے پاك باندے قوی شی او هر کار خدائے پاك ته سپاری . نو کوم آفت
چه په هغوی باندے راشی . دهغے د دفعه کولو د پاره د دنیاوی اسبابو په طرف هغوی توجه
نهٔ ده کړے اوبیشکه دا درجه ډیره غوره ده . لیکن رسول الله صَلے اللّهٔ علَیه وآلِه وَسلَمَ چه
کوم علاج کړے دے . هغه په دے واسطه چه د علاج جائز کیدل خلقو ته معلوم شی .

(انتهى ما قال النووی) نووی وئیلی دی سلفو او خلفو د توکل په حقیقت کښی اختلاف کړے دے امام ابو جعفر طبری د یو جماعت د سلفو نه نقل کړے دے چه توکل دادے چه سړا د خدائے نه د بل چا ېره پاتے نهٔ شی نهٔ د درنده نهٔ د دشمن او په دوړی ګټلو کښی کوشش سربړدی په دے خیال سره چه الله ضامن دے د رزق ورکولو او دلیل د هغه خلقو حدیثو نه دی او یو جماعت وئیلی دی چه توکل دادے چه انسان په خدائے تعالی باندے بهروسه اولری او دا دے امر یقین اوکړی چه د هغه حکم جاری دے لیکن کوشش کوی د دوړی په ګټلو کښی او د دشمن نه په بچ کیدلو کښی لکه چه پیغمبرانو کړے دے قاضی عیاض وئیلی دی چه طبری او اکثر فقهاؤ دے قول لره اختیار کړے دے .

او بعضے صوفیانو ورمبی قول لره اختیار کړے دے لیکن صوفیه اکثر د فقهاؤ موافق دی خو هغوی د اوئیلی دی چه توکل صحیح کیدے نه شی د کومے پورے چه د دنیا د اسبابو خیال وی یا ئے په هغه اسبابو باندے زړه نه اطمینان وی . البته د اسبابو کول د الله نبودلے شوے طریقه ده . او په دے کښی د هغه حکمت دے . مګر دا ضروری ده چه بهروسه په الله باندے وی او ددے امر یقین وی چه د دنیا په اسبابو سره نهٔ نفع کیږی نهٔ ضرر . بلکه نفع اونقصان خاص د الله پاك د طرفنه وی . تمام شو کلام د قاضی عیاض .

استاد ابو القاسم قشیری وئیلی دی چه د توکل ځائے زړهٔ دے . او د ظاهر حرکت د زړه د توکل خلاف نه دے پشرط ددے چه بنده ته یقین وی چه آسانی او سختی ټول د خدائے د تقدیر نه دی سهل بن عبد الله تستری وئیلی دی . توکل دادے چه د الله په مشیت باندے راضی شی او خپله اراده په هغے باندے پریږدی . ابو عثمان حیری وئیلی دی توکل دادے چه الله تعالی لره پوره اوګنړی او په هغه باندے بهروسه اولری . او بعضو وئیلی دی چه توکل دادے چه زیات او کم ټول برابر اوګنړی والله اعلم .

(۵۲۵)عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ اُمَّتِي

سبعون الفا بغیر حساب قالو امن هم یارسول الله قال هم الذین لا یسترقون و لا یتطیرون و لا یکتوون وعلی ربهم یتوکلون (بخاری ۶۵۵۳)

ترجمه: د عمران بن حصین رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی چه زما د امت نه به اویازره کسان بغیر د حساب نه جنت ته ننلی شی. خلقو اووے یارسول الله ! هغه به څوك خلق وی ؟ هغه اوفرمائیل هغه خلق چه هغه نه منتر کوی نه بد شګون اخلی نه داغ لګوی . اوپه خپل پروردګار باندے بهروسه لری .

(۵۲۲)عن سهل ابن سعد ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال لیدخلن الجنة من امتی سبعون الفا او سبع مائة الف لا یدری ابو حازم ایهما قال متماسکون اخذ بعضهم بعضا لا یدخل اولهم حتی یدخل آخرهم وجوههم علی صورة القمر لیلة البدر (بخاری ۶۵۵۴)

ترجمه: د سهل بن سعد رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی . چه زما د امت نه اویا زره یا اویا لکه (ابو حازم چه کوم راوی دے ددے حدیث هغه ته یاد نه دی چه سهل اویا زره ونیلے دی یا اویا لکه) بنیادم به جنت ته ځی . یو بل لره نیولے نیولے (یعنی د یو لاس به د بل په لاس کښې وی . صف تړلے شوے . ددے د پاره چه ټول په یو ځنے جنت ته لاړ شی ددے نه معلومیدے شی چه د جنت دروازه څومره پلنه (۱) حول سے د هغوی نه مخکښې نه وی ننوتے او د هغوی مخونه به د څوارلسمے شپے د سپوږمی په شان وی

(۵۲۳)عن حصین ابن عبد الرحمن قال کنت عند سعید ابن جبیر فقال ایکم رای الکوکب الذی انقض البارحة قلت انا ثم قلت اما انی لم اکن فی صلوة ولکنی لدغت فقال فماذا اصنعت قلت استرقیت قال فما حملک علی ذلک قلت حدیث حدثناه الشعبی قال وما حدثکم الشعبی قال حدثنا عن بریدة بن حصیب الاسلمی انه قال لا رقیة الا من عین او حمة فقال قد احسن من انتهی الی

ماسمع ولکن حدّثنا ابنُ عبّاسٍ عن النّبیّ صلّے اللّٰهُ علیه واٰله وسلّم قال عُرِضَتْ علیَّ الْاُمَمُ فرأیتُ النّبیَّ ومعهُ الرُّهیطُ والنّبیَّ ومعهُ الرّجُلُ والرّجُلان والنّبیَّ ولیس معهُ احدٌ اِذْرُفِع لِیْ سوادٌ عظیمٌ فظننتُ انّهم اُمّتِیْ فقیلَ لِیْ هٰذاموسٰی وقومُهُ ولکِنِ انظُرْالی الْاُفُق فنظرْتُ فاِذاسوادٌ عظیمٌ فقال لِیْ انظُرْ الی الْاُفُقِ الْاٰخر فنظرْتُ فاِذ سوادٌ عظیمٌ فقِیلَ لِیْ هٰذه اُمّتُک ومعهُمْ سبْعُوْنَ الْفًایدْخُلُوْنَ الْجنّةَ بغیْرِ حسابٍ وّلا عذابٍ فقال بعْضُهُمْ فلعلّهُمْ الّذیْن وُلدُوا فِیْ الْاسلام فلمْ یُشْرِکُوْ اباللّٰه شیْئًا وّذکرُ اشْیآءَ فخرج علیْهِمْ رسُوْلُ اللّٰهِ صلّے اللّٰهُ علیه واٰله وسلّم فقال ماالّذِیْ تخُوضُوْن فِیْهِ فاخبرُوْهُ فقال هُم الّذِیْن لایرْقُوْن ولا یسْترْقُوْن ولا یتطیّرُوْن وعلی ربّهِمْ یتوکّلُوْن فقام عُکّاشةُ بْنُ مِحْصنٍ فقال ادْعُ اللّٰه انْ یّجْعلنِیْ منْهُمْ فقال انْت منْهُمْ ثُمّ قام رجُلٌ اٰخرُ وقال یارسُوْل اللّٰه ادْعُ اللّٰهَ انْ یّجْعلنِیْ منْهُمْ فقال سبقک بِهاعُکّاشةُ. [بخاری : ۳۴۱۰، ۵۷۰۵، ۶۴۷۲، ۶۵۴۱]

ترجمه : د حصین بن عبد الرحمٰن نه روایت دے . چه زه د سعیدن ابن جبیر سره وُم . هغوی اووے چه تاسو نه چا هغه ستورے لیدلے دے چه هغه پرون شپه مات شوے وو . ما اووے . چه زه په څه مانځه کښې مشغول نهٔ وُم (ددے نه غرض ډادے چه څوك ماله عابد . شب بیدار خیال اونهٔ کړی) بلکه زه لړم چیچلے وم (نو ماله خوب نهٔ راتلو او ستورے مات شوے مے اولیدو) سعید اووے . بیا تا څه اوکړو ؟ ما اووے ما منتر اوکړو . هغوی اووے تا منتر ولے کوو ؟ ما اووے د هغه حدیث د وجے نه کوم چه شعبی ماته بیان کړے دے . هغوی اووے شعبیؒ کوم حدیث بیان کړے دے . ما اووے هغوی ماته حدیث بیان کړے دے د بریدهؓ بن حصیب اسلمیؓ نه هغوی اووے چه منتر فائده نهٔ ورکوی مګر د نظر د پاره یا د چیچلے شوی د پاره (یعنی د بد نظر د اثر لرے کولو د پاره یا د لړم او مار وغیره د چیچلے شوی د پاره فائده ورکوی) ابو سعید ونیلے دی چه چه څه واوریدل او په هغے باندے ئے عمل اوکړو نو ښه ئے اوکړل لیکن مونږ ته خو عبد الله ابن عباس رضی الله عنه حدیث بیان کړے دے . هغوی د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلے دی . چه فرمایلے ئے وو . زما مخے ته

د پیغمبرانو امتونه رواستلے شو . بعضے پیغمبر داسے وو چه د هغه د امت خلق د لسو نه هم کم وو . او د بعضو سره یو هم نه وو . په دیکښې یو لوئے امت راغے زه پوهه شوم چه دا زما امت دے . ماته اووئیلے شو چه دا موسیٰ علیه السلام دے او د هغه امت دے . ته د آسمان غاړے ته اوګوره ما چه اوکتل چه یو بل لوئے ګروپ دے ماته اووئیلے شو چه دا ستا امت دے . او په دغه خلقو کښې اویازره بنیادم داسے دی . چه هغه به بغیر د حساب او عذاب نه جنت ته ځی . بیا هغه پاسیدو او خپل کورته نے تشریف یو ړلو . نو خلقو خبرے کولے د هغه خلقو په باره کښې چه هغه به بے حسابه اوبے عذابه جنت ته تللے سی . بعضو اووے کیدے شی هغه هغه خلق دی چه د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وسلم په صحبت کښې پاتے دی . او بعضو اووے نهٔ شاید هغه خلق دی چه هغه د اسلام په حالت کښې پیدا شوے دی . او هغوی د الله سره څوك شريك كړے نهٔ دے . او بعضو څه نور څه اووے چه په دے کښې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بهر راوتو او اوئے فرمایل ! تاسو خلق په څه څیز کښې بحث کوئ ؟ هغوی هغهٔ ته خبر ورکړو . بیا هغهٔ اوفرمائیل دا هغه خلق دی چه هغه نهٔ منتر کوی . نهٔ منتر ساتی نهٔ منترل کول غواړی نهٔ د بد شګون اخلی او په خپل پروردګار باندے بهروسه لری دے د اوریدو سره عکاشه د محصن څوے پاسیدو او هغه اووے ته د الله نه دعا اوکړه چه ماله د هغه خلقو نه کړی . هغهٔ اوفرمائیل ته د هغه خلقو نه نے . بیا یو بل سړے پاسیدو او اوئے وئیل دعا اوکړه چه ما هم الله د هغوی سره کړی هغهٔ اوفرمائیل چه عکاشه ستا نه وړاندے دا کار اوکړلو .

فائده :. خطابیؒ وئیلے دی چه د بریده رضی الله عنه د روایت د امطلب دے . چه یو منتر زیاته فائده ورکوی د منتر نه نهٔ دے او د نظر په تاثیر کښې څه شك نشته دے . او هغه رښتیا دے . او رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم منتر کړے دے او نورو ته ئے هم حکم ورکړے دے بیا که چرے منتر د قرآن د آیتونو یا د الله د نو مونو نه وی نو د هغے کول مباح

دی ۔ او کراهت په هغه منتر کښې دے چه هغه په عربی ژبه کښې نهٔ وی ۔ او د هغې مطلب معلوم نهٔ وی ددے احتمال نه چه شاید په هغې کښې د کفر الفاظ وی ۔ یا څهٔ داسے خبره وی چه د هغې نه شرک لازمیږی ۔ اواحتمال دے چه منتر مکروه وی هغه چه د جاهلیت په طرز باندے وی ۔ د هغه خلقو خیال داوو چه جنات زمونږه مد دکوی ۔ او آفتونو لره لرے کوی تمام شو کلام د خطابیؒ ۔

(۵۳۸)عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عُرِضَتْ عَلَیَّ الْاُمَمُ ثُمَّ ذَكَرَ بَاقِی الْحَدِیْثِ نَحْوِ حَدِیْثِ هُشَیْمٍ وَلَمْ یَذْكُرْ اَوَّلَ حَدِیْثِهٖ . [راجع : ۵۲۶]

ترجمه : ابن عباسؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه په ما باندے امتونه پیش کړے شول باقی حدیث هم هغه شان دے کوم چه پورته ذکر شو ۔

﴿بَابُ بَیَانِ كَوْنِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ نِصْفَ اَهْلِ الْجَنَّةِ ،﴾

باب : د جنت نیم خلق به ددے امت وی ۔

(۵۳۹)عَنْ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ اَمَا تَرْضَوْنَ اَنْ تَكُوْنُوْا رُبُعَ اَهْلِ الْجَنَّةِ قَالَ فَكَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ اَمَا تَرْضَوْنَ اَنْ تَكُوْنُوْا ثُلُثَ اَهْلِ الْجَنَّةِ قَالَ فَكَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ اِنِّیْ لَاَرْجُوْ اَنْ تَكُوْنُوْا شَطْرَ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَسَاُخْبِرُكُمْ عَنْ ذٰلِكَ مَا الْمُسْلِمُوْنَ فِی الْكُفَّارِ اِلَّا كَشَعْرَةٍ بَیْضَاءَ فِیْ ثَوْرٍ اَسْوَدَ اَوْ كَشَعْرَةٍ سَوْدَاءَ فِیْ ثَوْرٍ اَبْیَضَ . [بخاری : ۶۵۲۸ ، ۳۳۴۸ ، ۶۶۴۲ ، ترمذی : ۲۵۴۷ ، ابن ماجه : ۴۲۸۳]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے ۔ چه رسول الله صلی اللّٰهُ عَلَیْهِ واٰله وسلم فرمائیلے دی ولے تاسو په دے خبره خوشحاله نه یئ چه د جنتیانو څلورمه (یعنی څلورمه حصه) به ستاسو نه وی ۔ ددے په اوریدو مونږ تکبیر اولوستو (د خوشحالی په وجه) بیا ئے اوفرمائیل ولے تاسو په دے خبره نهٔ خوشحالیږئ ۔ چه دریمه حصه د جنتیانو به تاسو یئ ددے په اوریدو سره مونږ تکبیر اووے ۔ بیا هغه اوفرمائیل

چه زما امید دے چه په جنتیانو کښې به نیم تاسو خلق یئ . او دهغے وجه داده . چه هغه زه بیانوم چه مسلمانان په کافرانو کښې داسے دی لکه چه سپین ویخته په تور غویی کښې وی یا یو تور ویخته په سپین غوایه کښې وی .

فائده :۔ یعنی په دنیا کښې په هره زمانه کښې دٔ کافرانو تعداد سیواوی . په دے وجه سره جنتی خلق ډیر کم وی . او ددے امت خلق به دجنتیانو نیم عدد لره گهیره وی . که چرے جنتیان ډیر وے نو البته د هغے نیم خلق ددے امت نه کیدل د قیاس نه بعید وو .

(۵۳۰)عَنْ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ كُنَّامَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ فِيْ قُبَّةٍ نَحْوًامِّنْ اَرْبَعِيْنَ رَجُلًا فَقَالَ اَتَرْضَوْنَ اَنْ تَكُوْنُوْرُبُعَ اَهْلِ الْجَنَّةِ قَالَ قُلْنَانَعَمْ قَالَ اَتَرْضَوْنَ اَنْ تَكُوْنُوْثُلُثَ اَهْلِ الْجَنَّةِ فَقُلْنَانَعَمْ فَقَالَ وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ اِنِّيْ لَاَرْجُوْ اَنْ تَكُوْنُوْا نِصْفَ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَذَاكَ اَنَّ الْجَنَّةَ لَايَدْخُلُهَآ اِلَّانَفْسٌ مُّسْلِمَةٌ وَّمَآاَنْتُمْ فِيْ اَهْلِ الشِّرْكِ اِلَّا كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَآءِ فِيْ جِلْدِالثَّوْرِالْاَسْوَدِاَوْكَالشَّعْرَةِ السَّوْدَآءِ فِيْ جِلْدِالثَّوْرِالْاَحْمَرِ .[راجع : ۵۲۹]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه مونږ د رسول الله صلے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ووېه یوه خیمه کښې چه په هغے کښې تقریبا څلویښت سری به وو . هغه اوفرمایل ! ولے تاسو په دے خبره خوشحاله یئ . چه د جنت څلورمه حصه به تاسو خلق شی مونږ اووے هاؤ بیا هغه اوفرمایل تاسو په دے خبره خوشحاله یئ چه دجنیتانو دریمه حصه تاسو یئ . مونږ اووے هاؤ هغه اوفرمایل قسم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې د محمدؐ روح دے . امید دے چه تاسو به د جنتیانو په نیمه یئ . او دا ځکه چه جنت ته به هغه څی چه هغه مسلمان دے او مسلمانان د مشرکانو په دننه داسے دی لکه چه سپین ویخته د تور غویی په څرمنه کښې وی یا تور ویخته د سور غوایه په څرمنه کښې وی .

(۵۳۱)عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ خَطَبَنَارَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ فَاَسْنَدَ ظَهْرَهٗ اِلٰى قُبَّةِ اَدَمٍ فَقَالَ اَلَا

لايدخل الجنة الا نفس مسلمة اللهم هل بلغت اللهم اشهد اتحبون انكم ربع اهل الجنة فقلنا نعم يارسول الله فقال اتحبون ان تكونوا ثلث اهل الجنة ما انتم في سواكم من الامم الا كالشعرة السوداء في الثور الابيض او كالشعرة البيضاء في الثور الاسود .[راجع : ۵۲۹]

ترجمه : د عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے ۔ چه خطبه لوسته زمونږ په مخکښ رسول الله صلے الله علیه واله وسلم نو تکيا نے ورکړه خپلے شالره د څرمنے په ډیره باندے لو اوئے فرمایل چه خبردار شئ ۔ نۀ به څی څوك جنت ته مګر هغه چه مسلمان دے ۔ یا الله ما ستا پیغام اورسو و یا الله تۀ ګواه شه ۔ ولے تاسو غواړئ چه د جنت څلورمه حصه خلق ستاسو نه وی ؟ مونږ ه اووے ها یا رسول الله ! هغه اوفرمایل ! ولے تاسو غواړئ چه د جنت دریمه حصه خلق د ے ستاسو نه وی ؟ تولو اوفرمایل ها یارسول الله ! هغه اوفرمایل چه زما امید دے ۔ چه تاسو به د جنتیانو په نیمه یئ ۔ تاسو په مخالفو خلقو کښ داسے یئ لکه یو تور ویخته په سپین غوایه کښ یا یو سپین ویخته په تور غوایه کښ ۔

فائده : هغه په ومبی ځل دا نۀ فرمائیل بلکه ومبی وار څلورمه حصه بیا دریمه حصه او بیا نے نیمه اوفرمایله ددے نه داغرض دے چه زیات خوشحاله شی ۔ دویمه دا چه د هغوی عزت او عظمت ثابت شی ۔ څکه چه بار بار چا بنیادم لره د ورکولو نه دلرا اوځی چه ورکونکی ته د هغه لوئے خیال دے ۔ دریمه دا چه هغه خلق بار بار د خدائے تعالیٰ تعریف کوی او د هغه شکر ادا کوی ۔ ددے حدیث نه دا خبره وتلے ده ۔ چه د امت محمدیؐ نه به د جنت بنیادم نیم خلق وی ۔ او په دویم حدیث کښ داسے دی چه د جنتیانو به یو سل شل صفونه وی ۔ د هغوی نه به اتیا صفونه ددے امت د خلقو وی ۔ ددے نه دا معلومیږی ۔ چه په دریو ؤ کښ به دوه حصے د امت محمدیؐ نه وی ۔ کیدے شی چه ومبے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم ته د نیم خبر ورکړے شوے وی ۔ بیا الله پاك په خپل عنایت سره نور

زیات کړل ۔ دوه حصے په دربوؤ کښې ئے د هغه د امتیانو نه جنتیان کړل (نووی)

﴿باب قوله : يقول الله لادم اخرج بعث النار من كل الف تسعماة وتسعة :﴾

باب : الله پاک به آدم علیه السلام ته وائی چه په زرو کښې نهه سوه او نهه نوی دوزخیان راوباسه (یو جنتی او باقی دوزخی)

(۵۳۲)عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اللّٰہُ عَزَّوَجَلَّ یَاٰاٰدَمُ فَیَقُوْلُ لَبَّیْکَ وَسَعْدَیْکَ وَالْخَیْرُ فِیْ یَدَیْکَ قَالَ یَقُوْلُ اَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ قَالَ مِنْ کُلِّ اَلْفٍ تِسْعَ مِائَۃٍ وَّتِسْعَۃً وَّتِسْعِیْنَ قَالَ فَذٰلِکَ حِیْنَ یَشِیْبُ الصَّغِیْرُ وَتَضَعُ کُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَھَا وَتَرَی النَّاسَ سُکٰرٰی وَمَاھُمْ بِسُکٰرٰی وَلٰکِنَّ عَذَابَ اللّٰہِ شَدِیْدٌ قَالَ فَاشْتَدَّ ذٰلِکَ عَلَیْھِمْ قَالُوْا یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ وَاَیُّنَا ذَاکَ الرَّجُلُ فَقَالَ اَبْشِرُوْا فَاِنَّ مِنْ یَّاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ اَلْفٌ وَّمِنْکُمْ رَجُلٌ قَالَ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِہٖ اِنِّیْ لَاَطْمَعُ اَنْ تَکُوْنُوْا رُبُعَ اَھْلِ الْجَنَّۃِ فَحَمِدْنَا اللّٰہَ وَکَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِہٖ اِنِّیْ لَاَطْمَعُ اَنْ تَکُوْنُوْا ثُلُثَ اَھْلِ الْجَنَّۃِ فَحَمِدْنَا اللّٰہَ وَکَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِہٖ اِنِّیْ لَاَطْمَعُ اَنْ تَکُوْنُوْا شَطْرَ اَھْلِ الْجَنَّۃِ اِنَّ مَثَلَکُمْ فِی الْاُمَمِ کَمَثَلِ الشَّعْرَۃِ الْبَیْضَآءِ فِیْ جِلْدِ الثَّوْرِ الْاَسْوَدِ اَوْ کَالرَّقْمَۃِ فِیْ ذِرَاعِ الْحِمَارِ ۔[بخاری : ۳۳۴۸، ۶۵۳۰، ۴۷۴۱، ۷۴۸۳]

ترجمه: د ابو سعید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ فرمائیلے دی چه الله تعالیٰ به اوفرمائی ! اے آدم علیه السلام ! هغه به اووائی حاضر یم ستا په خدمت کښې ۔ ستا په اطاعت کښې او توله نیکی ستا په لاس کښې ده ۔ حکم به اوشی چه ددوزخیانو یو جماعت اوباسه هغه به عرض اوکړی د دوزخیانو څنګه جماعت ؟ حکم به اوشی د هر و زور بنیادمونه نه یو کم سل تنه د جهنم دپاره اوباسه (او یو سړے به په زرو کښې جنت ته ځی)

هغه اوفرمائیل دا خو هغه وخت دے هرکله چه بچے بوډا شی (په وجے خوف یاد هغه ورځے د لوئے والی د وجے نه) او هر یوه حامله (ښځه) به خپل حمل اوغورځوی او ته

به او وینے خلقو لره لکه چه په نشه کښې مست دی ۔ او هغه به مست نهٔ وی ۔ خو د الله عذاب به سخت وی صحابهٔ ددے امر په اوریدو سره سخت خفه شول ۔ او اوئے وئیل یا رسول اللهؐ ! گوره د هغه زرو نه یو بنده (چه کوم جنتی دے) په مونږ کښې په څوك اوځی ۔ هغه اوفرمایل چه تاسو خوشحاله شئ چه د یاجوج او ماجوج کافر دومره قدرے دے چه که چرے د هغوی حساب اوکړی نو ستاسو نه به یو بنده اود هغوی نه به زر تنه برابر شی ۔ بیا هغهٔ او فرمائیل قسم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې زما روح دے ۔ زما امید دے چه په جنت کښې څلورمه حصه کسان ستاسو نه وی ۔ په دے باندے مونږ د الله تعریف اوکړو او تکبیر مو اووے ۔ بیا هغه اوفرمایل چه قسم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې زما روح دے ۔ زما امید دے چه په جنت کښې به دریمه حصه بندیگان ستاسو نه وی ۔ په دے باندے مو نږ د الله تعالیٰ تعریف اوکړو او تکبیر مو اووے ۔ بیا هغه اوفرمائیل چه قسم دے په هغه ذات چه د هغے په لاس کښې زما روح دے ۔ زما امید دے چه د جنت نیم خلق به ستاسو نه وی ۔ ستاسو مثال د نورو امتونو په مخکښې داسے دے لکه چه یو سپین ویښته د تور غوایه په څرمنه کښې وی ۔ یا یو نشان د خر په خپه کښې چه وی ۔

فائده :۔ علماؤ اختلاف کړے دے چه د اخبرے به کوم وخت کیږی ۔ بعضو وئیلی دی د قیامت قائمیدو په وخت ددنیا فناه کیدو نه مخکښې ۔ او بعضو وئیلی دی د حشر په ورځ ۔ په دے صورت کښې د بچی غور ځیدونه د امراد دے چه په هغه وخت به داسے هول او یره وی چه که چرے څوك ښځه هلته حامله وی نو د هغے بچے به اوغورځیږی ۔ او دغه مراد دے د بچی د بوډا کیدو نه ۔ نوویٰ وهب بن منتبه او مقاتل وئیلی دی چه یاجوج او ماجوج د یافث بن نوح اولاد ته وئیلے شی ۔ او ضحاك وئیلی دی هغه د ترکیانو یو قوم دے او کعب وئیلی دی ۔ هغه د آدم اولاد دے لیکن د حوا د گیډے نه نهٔ دی ۔ او د هغے وجه داده چه یوه ورځ آدم علیه السلام ته احتلام اوشو او د هغه نطفه دخاورو سره میلاؤ شوه ۔ نو

الله تعالیٰ د هغې خاورے نه یاجوج او ماجوج لره پیدا کړل ۔ والله اعلم (نووی)

(۵۳۳) عن الاعمش بهذ الاسنادغیرانهماقالاماانتم یومئذ فی الناس الا کالشعرة البیضآء فی الثور الاسود او کالشعرة السودآء فی الثور الابیض ولم یذکراو کالرقمة فی ذراع الحمار۔

[راجع: ۵۳۳۲]

ترجمه: دَ دویم روایت بیان دغه دے ۔ کوم چه وړاندے تیر شو ۔ په دے کښ دادی چه تاسو به په هغه ورځ دَ نورو خلقو په مخکښ داسے یئ لکه چه یو سپین ویخته په تورغوایه کښ یا تور ویخته په سپین غوایه کښ وی ۔ او دَ خرِ دَ خپو د نشان ئے ذکر نهٔ دے کړے ۔

کتاب الطهارة

د پاک والی مسئلے

﴿بَابُ فَضلِ الْوُضُوءِ﴾

باب: د اودس د غوره والی بیان۔

هر چند د ایمان نه پس په عباداتو کښ مونځ مقدم دے ۔ خو د مانځه شرط پاکوالے دے ۔ ځکه ئے ورمبے پاکوالی لره بیان کړو ۔

(۵۳۴) عَنْ اَبِیْ مَالِکِ الْاَشْعَرِیِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ الطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِیْمَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَأُ الْمِیْزَانَ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَاٰنِ مَابَیْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَالصَّلٰوةُ نُوْرٌ وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ وَالصَّبْرُ ضِیَآءٌ وَالْقُرْاٰنُ حُجَّةٌ لَکَ اَوْ عَلَیْکَ کُلُّ النَّاسِ یَغْدُوْا فَبَایِعٌ نَفْسَهٗ فَمُعْتِقُهَا اَوْ مُوْبِقُهَا ۔

[ترمذی: ۳۵۱۷]

ترجمه: د ابو مالك اشعری رضی الله عنه نه (چه د هغه نوم حارث یا عبید یا کعب بن عاصم یا عمرو دے) روایت دے ۔ چه رسول الله صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمایلی دی چه

پاکوالے د نیم ایمان برابر دے . او الحمد الله ډکوی به میزان (تلے) لره (یعنی دومره قدرے ددے ثواب عظیم دے چه د حملونو د تللو تله به ددے په اجر سره ډکیږی او سبحن الله او الحمد الله دواړه به ډکوی د آسمانونو او د زمکے په مینځ کښ ځائے لره (که چرے د هغے ثواب د یوجسم شکل فرض کړے شی) او مونځ نور دے او صدقه دلیل دے او صبر رنړا ده او قرآن ستا دلیل دے په بل باندے یا د بل دلیل دے پتا باندے (یعنیٰ که دپو هے سره نے لولی او فائده لوچته کړی او ستا دلیل دے . که داسے نۀ وی نو بل ته به فائده شی او ته به محرومه پاتے شے) هر یو سړے(که نیك وی یا بد) سحر چه پاسی . یا آزاده وی ځان خپل لره (په نیك كار كولو سره د خدائے د عذاب نه) یا (بدكار كوی) او خپل ځان لره تباه كوی .

فائده :. یعنی دطهارت ثواب دومره زیاتیږی چه دایمان د نیم ثواب برابریږی او بعضو وئیلے دی چه ایمان هغه ټولو گناهو نو لره چه د ایمان دراؤړو نه مخکښ شوے وی ختموی . دغه شان حال د اودس هم دے . ولے چه اودس بغیر د ایمان نه نۀ صحیح کیږی . او هر کله چه اودس په ایمان باندے موقوف شو نو دنیم ایمان برابر شو . او بعضو وئیلے دی چه د ایمان نه په دے حدیث کښ مونځ مراد دے لکه چه الله تعالیٰ فرمائی و ماکان الله لیضیع ایمانکم یعنی الله تعالیٰ به ستاسو مانځه لره نۀ بیکاره کوی . او پاکوالے شرط دے د مانځه ځکه دنیم مانځه برابر شو او په حدیث کښ د شطر لفظ راغلے دے . او په شطر کښ دا ضروری نه ده. چه برابر د نیمے نیمه دے وی . او د اپه ټولو قولونو کښ بنهٔ دے . او احتمال دے چه مراد د حدیث نه داوی چه د ایمان دوه جزه دی . یو دزړهٔ نه یقین کول بل په ظاهر کښ اطاعت کول . او طهارت مقدمه ده د مانځه او مونځ اطاعت دے ځکه طهارت دْ ایمان نیمه حصه شوه والله اعلم (نوویؒ)

او مونځ د گناهونو او بدو نه خلقو لره منع کوی . او دنیکو طرفته نے بیائی . او ثوابونه اونیکی پرے کوی . لکه چه د نور نه د اخبرے حاصلیږی او بعضو وئیلے دی چه

مونږ نو ږدے ددے وجے نه چه په مانځه لوستو سره قسم قسم معارف او مکاشفات حاصلیږی . ځکه چه زړهٔ په دغه وخت فارغ وی او د الله طرفته متوجه وی . او په خپله الله تعالی فرمائی مدد غواړی زمانهٔ په صبر او مانځه سره .

او بعضو وئیلے دی . چه د مانځه د لوستونکو والا په مخ باندے به یو نور وی د قیامت په ورځ او په دنیا کښں هم د مونځ گذار په مخ باندے نور وی . والله اعلم (نوویؒ) او د صدقه ورکونکی والا د خلاصی دپاره به صدقه د قیامت په ورځ باندے دلیل وی . ځکه چه منافق صدقه نهٔ ورکوی . او نهٔ په صدقه کښں څه د فائدے خیال کوی . او هغه صبر کوم چه شرعاً محبوب دے هغه څه دے صبر کول د الله تعالیٰ په اطاعت باندے . او صبر کول د گناهونو نه د بچ کیدو د پاره او صبر کول په مصیبتونو باندے او دنیا په تکلیفونو باندے . او غرض دادے چه صبر ښکلے خیز دے . او کم بنده چه صبر کونکے دے هغه دا هدایت او رنړا په لاره باندے دے . ابراهیم خواص فرمائیلے دی . صبر څه دے ؟ کلك لو سیدل په کتاب الله او حدیث رسول الله باندے .

ابن عطاءؒ وئیلے دی صبر څه دے ؟ د بلا په وخت خپلے زړے لره صحیح ساتل د ادب سره . استاذ ابو علی دقاق وئیلے دی . د صبر حقیقت دادے چه څه الله تعالیٰ په تقدیر کښں لیکلے دی په هغے باندے اعتراض نهٔ کوی . لیکن ظاهره ول د خپل مصیبت د صبر خلاف نه دی چه په طور د شکایت نهٔ وی . ولے چه ایوب علیه السلام ته الله تعالی صابر وئیلے دے . او هغوی دا وئیلے وو چه ماته تکلیف او بیماری ده . (نوویؒ)

﴿بَابُ وُجُوبِ الطَّهَارَةِ لِلصَّلٰوةِ﴾

باب : د مانځه د پاره پاکوالی ضروری دے .

(۵۳۵) عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ دَخَلَ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ عُمَرَ عَلَى ابْنِ عَامِرٍ يَعُوْدُهٗ وَهُوَ مَرِيْضٌ فَقَالَ اَلَا تَدْعُوا اللّٰهَ لِيْ يَا ابْنَ عُمَرَ قَالَ اِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا تُقْبَلُ صَلٰوةٌ

بغیر طهُوْرٍ وَّلا صدقةٌ مّنْ غلُوْلٍ وَّکُنْت علی الْبصْرة . [ترمذی : ۱ . ابن ماجه : ۲۷۳]

ترجمه : د مصعب بن سعد نه روایت دے چه عبد الله بن عمر رضی الله عنه د ابن عامر خواله راغے . هغه بیمار وو د هغه تپوس لره . ابن عامر اووے اے ابن عمرؓ ته زما د پاره دُعا نهٔ کوے . هغوی اووے چه ما د رسول الله صلی اللّٰهُ عَلَیْه واله وسلمنه اوریدلے دی . چه هغه فرمایلے وو الله پاك نهٔ قبلوی مانځه لره بغیر د طهارت نه . او نهٔ قبلیږی صدقه د هغه مال غنیمت نه چه هغه د تقسیم نه وړاندے پټ کړلے شی . او تهٔ خو په بصره کښ حاکم شوے ئے

فائده :۔نووی وئیلے دی چه د احدیث نص دے د طهارت په وجوب باندے د مانځه د پاره او اجماع کړے ده امت په دے امر باندے چه طهارت د مانځه د صتحت شرط دے .

قاضی عیاض وئیلے دی . اختلاف کړے دے علماؤ چه طهارت ولے فرض شوے دے د مانځه د پاره . ابن جهیم وئیلے دی . د اسلام په شروع کښ او د س سنت وو . بیا د تیمم په آیت کښ ددے فرضیت نازل شو . او جمهورو علماؤ وئیلے دی چه اودس ددے نه وړاندے هم فرض وو . خو هغوی اختلاف کړے دے په دے کښ چه د هریو مانځه د پاره فرض دے یا په هغه حالت کښ هر کله چه بے اودسه شی .

نو د سلفو څه عالمان په دے طرف تلے دی چه د هر مانځه د پاره اودس فرض دے . اګرچه بے اودسه شوے نهٔ وی. او دلیل د هغوی دا قول دے د الله تعالیٰ اذا قمتم الی الصلواه د آخره پورے . یعنی هر کله چه تاسو پاځئ د مانځه د پاره نوویئځئ مخ خپل او لاسو نه خپل او په دے کښ قید دے اودسه کیدو نشته دے.

او د یو جماعت قول دادے چه د اسلام په اول کښ د غه شان حکم وو بیا منسوخ شوے دے . او بعضو وئیلے دی چه دا حکم استحبابا دے نه وجوبا او د بعضو په نزد اودس په هغه وخت شروع شوے وو کله چه به بنیاد بے اودسه شو البته تازه اودس کول د هریو

مانځه د پاره مستحب دے . او په دے قول باندے اجماع کړے ده د فنونے خاوندانو . او په هغے کښې څه اختلاف نۀ دے پاتے . او په آیت مذکوره کښې د محدثین لفظ مقدر دے یعنی هر کله چه پاڅئ تاسو د مانځه د پاره د بے اودسۍ په حالت کښې . تمام شو کلام د قاضی عیاض .

او زمونږ ه ملګرو اختلاف کړے دے په دے کښې چه د اودس د واجب کیدو علت څه دے ؟ بعضو وئیلے دی چه اودس واجیږی په بے اودسۍ سره . او بعضو وئیلے دی نۀ واجیږی د هغے پورے چه د مانځه د پاره نۀ وی پاخیدلے او بعضو وئیلے دی چه په دواړو امرونو سره واجیږی . او زمونږ د ملګرو په نز د غه راتح دے او اجماع پرے کړے ده امت چه مونځ بغیر د طهارت نه حرام دے . خواه که دا پاکوالے په اوبو سره وی یا په خاوره سره . او څه فرق نشته دے په فرض او نفل مانځه کښې او د سجدهٔ تلاوت او سجده د شکر او د جنازے په مانځه کښې . مګر د شعبیؒ او محمد بن جریر طبریؒ نه منقول دی . چه د جنازے مونځ بغیر د طهارت نه جائز دے . او دا مذهب باطل دے . او د ابن تیمیهؒ نه منقول دے . چه سجده د تلاوه بغیر د طهارت نه ورستو ده او اجماع کړیده علماؤ د هغے په خلاف باندے . او که چرے یو بنده قصداً بے اودسه مونځ اولوستلو نو هغه ګنهګار شو . لیکن کافر نۀ دے . دغه زمونږه او د جمهور علماؤ مذهب دے . او د امام ابو حنیفهؒ نه منقول دے چه هغه به کافر کیږی . ځکه چه هغه د دین سره مذاق اوکړلو . او زمونږ دلیل دادے چه کفر نشته دے مګر په اعتقاد سره دے او ددغه مونځ کونکی اعتقاد خو صحیح دے .

مګر دا هله ده چه دغه مونځ ګذارته څه عذر نۀ وی . کچرے عذر وی مثلاً اوبه نۀ میلاویږی نو خاوره وی نو په دے کښې د امام شافعیؒ څلور قولونه دی . او د هر یو قول په طرف علماء تلے دی .

۱ . د تهولو نه زیات صحیح قول دادے . چه مونځ دے اوکړی بغیر د طهارت نه بیا چه کله

طهارت ممکن شی نو د مانځه اعاده (یعنی بیا دوباره) دے اوکړی .

۲ . دویم قول دادے چه مونځ دے نه کوی او هر کله چه طهارت ممکن شی نو بیا دے قضاء اولولی .

۳ . دریم قول دادے چه مونځ لوستل مستحب دی مگر قضائے واجب ده .

٤ . څلورم قول دادے چه مونځ د ے اوکړی او قضائے واجب نۀ ده او دغے قول لره مزنی اختیار کړیدے او دا ازروئے دلیل په تولو قولونو کښ صحیح دلیل دے یعنی قوی . ځکه چه د مانځه واجب کیدل خو د حدیث نه ثابت دی . حضرت محمد صَلے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلم فرمائیلے دی هر کله چه زه تاسو ته د څه کار حکم اوکړم نو تاسو هغے لره په ځائے راوړئ . د کومے پورے چه ستاسو نه کیدے شی . او د بیا راگرځولو د پاره څه نوے امر پکار دے او هغه امر موجود نۀ دے (نووی مع زیاده)

او په مال غنیمت کښ صدقه نۀ قبلیږی . ددے وجے نه چه دغنیمت د مال نه به ضرور تاسو غلا کړے وی . یا د الله تعالیٰ د نورو بندیگانو حقوق به په تاسو باندے وی . بیا ددا سے سړی د پاره د دعا څه فائده ورکوی . او ظاهره خبره ده چه د عمرؓ ونیل په طریقه دَ زجر او د تشدد وو . او ددے نه دا غرض وو . چه ابن عامر اوس هم د غفلت نه بیدار شیاو توبه کړی . گنی دعا د فاسقانو د پاره مفید ده . همیشه رسول الله صَلے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلم او سلفو او خلفو د کافرانو او گنهگارانو د پاره دعا گانے کړے دی . چه خدائے پاك دے هغوی ته هدایت اوکړی او توبه دے نصیب کړی . (نووی)

(۵۳۶) عن سماک بن حرب بهذا الاسناد عن النبی ﷺ بمثله : [راجع : ۵۳۵]

(۵۳۷) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبه اخیٰ وهب ابْنِ مُنَبِهٖ قَالَ هٰذا مَاحَدَّثَنَاابُوهُرَیْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْه وَاٰلِه وَسَلَّم فَذَکَر احادِیْث مِنْهاوقال رسُوْلُ اللّٰه صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْه وَاٰلِه وَسَلَّمَ لَا تُقْبَلُ صَلوةُ اَحَدِکُمْ اِذَااَحْدَثَ حتّٰی یَتَوَضّا . [بخاری : ۱۳۵ ، ابوداود : ۶۰ ، ترمذی : ۷۶]

ترجمه : د همام بن منبه نه روایت دے چه هغه د وهب بن منبه رور دے ۔ هغوی وئیلے دی چه دا هغه حدیثونه دی چه ابو هریرهؓ مونږ ته بیان کړے دی ۔ د حضرت محمدصلی الله علیه وآله وسلم نه بیا ئے ذکر کړل حدیثونو لره په هغے کښې یو حدیث دا هم وو چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمائیلے دی ۔ چه الله تعالیٰ نهٔ قبلوی ستاسو نه د چا مونځ کله چه هغه بے اودسه وی ۔ د هغے پورے چه اودس اوکړی ۔

﴿بَابُ صِفَةِ الْوُضُوْءِ وَكَمَالِهِ﴾

باب : د اودس طریقه او دهغې د پوره کولو بیان ۔

(۵۳۸) عَنْ حُمْرَانَ مَوْلٰى عُثْمَانَ اَخْبَرَهٗ اَنَّ عُثْمَانَ ابْنَ عَفَّانَ دَعَا بِوَضُوْءٍ فَتَوَضَّأَ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنٰى اِلَى الْمِرْفَقِ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُسْرٰى مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهٗ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى اِلَى الْكَعْبَيْنِ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوْئِيْ هٰذَا ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ فِيْهِمَا نَفْسَهٗ غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَكَانَ عُلَمَآءُنَا يَقُوْلُوْنَ هٰذَا الْوُضُوْءُ اَسْبَغُ مَا يَتَوَضَّأُ بِهٖ اَحَدٌ لِلصَّلٰوةِ ۔

[بخاری : ۱۵۹، ۱۶۴، ۱۹۳۴، ابوداود : ۱۰۶، نسائی : ۸۴، ۸۵، ۱۱۶]

ترجمه : د حمران نه روایت دے چه هغه مولا (یعنی آزاد کړے شوے غلام) وو ۔ د عثمان ابن عفانؓ هغوی وئیلے دی چه حضرت عثمان بن عفانؓ د اودس اوبه اوغوښتلے او اودس ئے اوکړو نو ورمبے ئے دواړه ورغوږ لره او وینځل درے واره ۔ بیائے غر غره اوکړه (کلی) او پوزے ته ئے اوبه واچولے ۔ بیائے درے پیرے مخ اووینځلو تر څنګنونو پورے بیائے ښی لاس اووینځلو تر څنګلو پورے ۔ بیا ئے ګس لاس اووینځلو درے ځله بیا ئے مسح د سر اوکړه ۔ بیا ئے ښی خپه اووینځله درے ځلِه ۔ بیا ئے ګسه خپه اووینځله د ګیټو پورے درے ځله ۔ ددے نه پس ئے اوے چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم مالیدلے دے چه دغه شان اودس ئے کوؤ

لکه څنګه چه ما اوس اودس اوکړلو . بیا هغهٔ اوفرمائیل ! کوم سړے چه زما د اودس په شان اودس اوکړی بیا اودریږی اودوه رکعته مونځ اولولی او په مینځ د هغے کښ په بل څه خیال کښ غرق نۀ شی نو د هغه وړمبی ګناهونه ټول اوبخلے شی . ابن شهاب وئیلے دی . زمونږ علماؤ وئیلے وو . چه دا اودس په ټولو اودسونو کښ پوره دے . کوم چه د مانځه د پاره اوکړلے شی .

فائده :. ددے حدیث نه معلومه شوه چه د اودس په شروع کښ درے ځله د مړوندونو پورے لاسونه وینځل سنت دی . او په دے باندے د علماؤ اتفاق دے (نوویؒ)

نوویؒ وئیلے دی چه د غرغرے کمال دادے . چه اوبه خلے ته واچوی بیا ته په خله کښ خورے کړی . او د هغے نه پس ئے بیا تهوك کړی . او ادنیٰ درجه د هغے دا ده . چه اوبه به صرف خلے ته واچوی خوروی به ئے نه لیکن خورول د اوبو خو د مشهورقول په موافق شرط نۀ دی . او د امذهب د جمهورعلماؤ دے . لیکن زمونږ د بعضے ملګرو په نزد شرط دے او د ااختلاف هم هغه شان دے لکه چه د سر په مسحه کښ اختلاف دے . د بعضو په نزد که چرے لوند لاس په سر باندے کیږدی نو مسح او شوه لیکن د بعضو په نز د هغے خوزول ضروری دی . لیکن صحیح دادے چه خورول ضروری نۀ دی . په شان د نورو اندامونو هغے ته اوبه رسول پوره دی . په حدیث کښ د استنثار لفظ دے . اکثر د لغتو خاوندان او فقهاء او محدثینو د استنثار معنیٰ د پوزے د فرنجولو د پاره کړے ده . (د سونږه ولو دپاره)

ابن اعرابی او ابن قتیبهٔ په پوزه کښ د اوبو اچولو معنیٰ کړے ده او صحیح وړمبے قول

دے . او په دویم روایت کښ ددے تاکید دے . په هغے کښ دادی چه وړمبئ به پوزه سونږ کړی بیا به استنشاق اوکړی یعنی په پوزه کښ به اوبه واچوی بیابه استنثار اوکړی یعنی

پوزه به سونړ کړی . دفراء نه منقول دے چه استنشاء وئیلے شی د پوزے خوزولو ته په طهارت کښ . او استنشاق وئیلے شی په پوزه کښ دننه ته اوبه رسولو ته . او د ساه په زور سره د اوبو پورته خیژولو ته یعنی راښکلو ته . او مستحب ده چه خلے ته او پوزے ته په اوبو اچولو کښ مبالغه اوکړی . مګر رروژه په خله مبالغه کول مکروه دی . ولے چه د لقیطؓ نه روایت دے چه رسول الله صلے اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلم فرمائیلے دی . مبالغه کولو لره په پوزه کښ په اوبو اچولو کښ مګر کله چه ته روژه دار ئے او دا حدیث صحیح دے . روایت کړے دے لره ابو داؤد او ترمذی د سندونو صحیحه وُنه . ترمذی وئیلے دی چه دا حدیث حسن صحیح دے .

زمونږه ملګرو وئیلے دی چه کله په څه شان سره اوبه پوزے او خلے ته اورسیدے نو مضمضه او استنشاق ادا شو . او افضل ولے دے په دے کښ پنځه قولونه دی . ورمبے قول دادے چه درے چونګه اوبه به واخلی او په هر یو چونګ سره به غرغره کوی او په پوزه کښ به اوبه اچوی .

دویم قول دادے . چه په یو چونګ سره به درے خله غرغره کوی . بیا درے خله به په پوزه کښ اوبه اچوی . دریم دادے چه یو چونګ به واخلی او غرغره به اوکړی . بیا به په پوزه کښ اوبه واچوی . بیا به غر غره اوکړی او په پوزه کښ به اوبه واچوی . بیا به غر غره اوکړی او په پوزه کښ به اوبه واچوی .

څلور دادے چه دوه چونګه اوبه به واخلی په یو چونګ سره به درے څله غر غره اوکړی . او ددویم چونګ نه به درے څله په پوزه کښ اوبه واچوی . پنځمه دا چه شپږ چونګه اوبه به واخلی . ورمبی درے چونګه به خلے ته واچوی . ورستی درے چونګه به پوزے ته واچوی . او صحیح ورمبے قول دے او دغه د حدیث نه ثابت دے . چه هغے لره روایت کړے دے بخاری او مسلم (نوویؒ)

نووتی ونیلی دی ۔ داحدیث اصل عظیم دے په صفت دَ اوداسهٔ کښې ۔ او اجماع کړے ده

مسلمانانو چه واجب یو یو ځل وینځل دی ۔ او درے واره وینځل سنت دی او په احادیث صحیحه کښې یو یو وار او دوه واره او درے درے واره راغلے دی علماؤ ونیلی دی چه دا اختلاف دلیل دے د جواز او درے ځله کمال دے ۔ او یو ځل کافی دے او په دے محمول دے اختلاف د احادیثو او راویانو چه کوم اختلاف کړے دے د یو اصحابیؓ نو دا محمول دے په دے باندے چه بعضو یاد ساتلی دے او د بعضو هیر شوے دے ۔ بیا چه چازیات بیان کړے دے هغه به قبول وی ۔ ځکه چه زیاتوالے د ثقه مقبول دے ۔ او اختلاف کړے دے علماؤ د سر په مسح کښې نو د امام شافعیؒ په نزد مسح هم درے ځله کول مستحب دی لکه څنګه چه د باقی اندامونو درے درے واره وینځل دِی ۔

او د امام ابو حنیفهؒ او مالك او احمدؒ او د اکثرو عالمانو په نز د سر مسح یو ځل سنت ده او د یو ځل نه زیات کول نهٔ دی پکار ۔ او په احادیث کښې یو ځل مسح منقول ده۔

او د امام شافعی دِلیل هغه حدیث دے د عثمانؓ چه هغه وړاندے راځی چه حضرت صَلے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلمَ او دس وکړو درے درے ځله او قیاس کړے دے هغوی سر لره په نورو اندامونو باندے او په کوم حدیث کښې چه یو ځل منقول دے ۔ د هغے جواب ئے ورکړے دے چه یو ځل مسح کول د جواز د بیان په واسطه دے ۔ او همیشه رسول الله صلّے اللّٰهُ علَیْهِ وَاٰلِه وَسَلمَ هغه کړے ده ۔ چه کومه غوره وه ۔

او اجماع کړے ده علماؤ د مخ او دواړو لاسونو او د خپو د وینځلو په وجوب باندے ۔ لیکن روافضو د خپو مسح لره واجب کړے ده او دا د هغوی خطا ده د ځه وجے نه چه تمام نصوص متفق دی د خپو په وینځلو باندے ۔ او چا چه د رسول الله صلّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسَلمَ اودس نقل کړے دے هغه د خپو وینځل روایت کړے دی ۔ په دے شان سره اجماع کړلے ده

علماؤ چه د سر مسح واجب ده لیکن اختلاف کړے دے د هغے په مقدار کښې امام شافعیؒ۔ او دیو جماعت په نز د تول سر مسح واجب ده۔ او د امام ابو حنیفهؒ په نزد څلورمے حصے د سر مسح واجب ده۔ او د غرغرے او په پوزه کښې د اوبو اچولو په وجوب کښې څلور مذهبونه دی۔ یو خو مذهب د امام مالكؒ او شافعیؒ دے چه دواړه سنت دی۔ په اودس او په غسل کښې۔ او د سلفو نه حسن بصریؒ او زهریؒ او حاکمؒ او قتادهؒ او ربیعهؒ او یحیی بن سعیدؒ انصاریؒ او زاعیؒ او لیث بن سعدؒ په دے طرف تلے دی۔ او د عطاؒ او احمد نه هم یو روایت داسے دے۔ دویم مذهب دادے چه دواړه واجب دی په اودس او په غسل دواړو کښې۔ او لودس او غسل بغیر ددے نه نۀ صحیح کیږی۔ او د امشهور دے د احمد بن حنبلؒ نه او د امذهب دے د ابن ابی لیلیٰ او حمادؒ او اسحاق بن راهویهؒ او یو روایت دے د عطاء نه۔

دریم مذهب دادے۔ چه دواړه په غسل کښې واجب دی۔ او په او داسه کښې واجب نۀ دی۔ او د اقول دے د ابو حنیفهؒ او د هغه د ملګرو او سفیان ثوریؒ۔ څلورم مذهب دادے۔ چه په پوزه کښې اوبه اچول په اوداسه او غسل دواړو کښې واجب دی۔ او غر غره کول په دواړو کښې سنت دی۔ او دغه قول دے د ابو ثورؒ او ابو عبیدؒ او د داؤد ظاهری او د ابوبکر بن منذر او یو روایت دے د احمد نه او اتفاق کړے دے جمهورو علماؤ په دے باندے چه په اوداسه او غسل دواړو کښې اوبه بیول په اندامو باندے کافی دی۔ او مږل ئے ضروری نۀ دی۔ او مالكؒ او مزنیؒ مږل شرط کړے دی۔

دغه شان جمهورو علماؤ اتفاق کړے دے۔ چه د کچو او د څنګنونو وينځل واجب دے۔ او د زفرؒ او داؤد ظاهریؒ په نز واجب نۀ دی۔ او علماؤ پر ے اتفاق کړے دے۔ د کچو نه مراد هغه دوه اوچت هډوکی دی چه د پنډئ او د خپو په مینځ کښې دی۔ او په یوه خپه کښې دوه کچې وی۔ او رافضیانو یو نا اشنا خبره ونیلے ده چه په هر خپه کښې یو ه تخنه ده۔ او تخنه هغه هډوکے دے چه هغه د خپے په مینځ کښې دے په کوم ځائے باندے چه د چپل

نسمه راخي او د امام محمد نه هم دا منقول دے خو صحیح نۀ دے ۔ او خلاف دے دلغتو
او ددے حدیث نه هم داخبره وتلے ده چه په هره یوه خپه کښې دوه تخنے وی ۔ یعنی دوه
کچے وی او دلائل د هغے ډیردی او مادے تولو دلائلو لره په تفصیل سره په شرح مهذب کښې
بیان کړے دی ۔ او دتمامو مذاهبو اختلاف لره او د هغے وجوه لره مے مفصل ذکر کړے دی ۔
او دلته زما مقصد داوۀ ۔ چه د حدیثو سره متعلق امورو لژه بیان کړم۔

زمونږ اصحابو وئیلے دی چه که چرے د یو سړی دوه خولے وی نو د دو وینځل واجب
دی که چرے درے لاسه یادرے خپے ئے وی ۔ او تولے برابر وی ۔ نو دتولو وینځل به واجب وی
۔ او که چرے زیاتی لاس ناقص وی ۔ لیکن د فرضو په ځائے باندے وی ۔ یعنی د څنګونانو
نه لاس طرفته نو د هغے وینځل پکار دی ۔ او کوم چه د څنګونانو نه پورته وی ۔ نو د هغے
وینځل فرض نۀ دی ۔ او که چرے د چا لاس د څنګونانو سره یو ځائے کټ شوے وی ۔ نو
اوس د باقی لاس وینځل فرض نۀ دی لیکن مستحب دی چه هغه باقی لاس لره او وینځی
۔ ددے د پاره چه اندام د طهارت نه خالی پاتے نۀ شی (نوویؒ)

نوویؒ وئیلے دی مراد د هغه ګناهونو نه صغیره ګناهونه دی نۀ کبیره ۔ او ددے
حدیث نه دا خبره وتلے کیږی ۔ چه د هر اودس نه پس دوه رکعته مونځ کول مستحب دی ۔
او دا سنت مؤکده دے ۔ زمونږ د ملګرو نه یو جماعت وئیلے دی ۔ چه دادوه رکعتونه هر
وخت لوستے کیدے شی یعنی په هغه وختونو کښې هم چه په هغے کښې مونځ لوستل
منع دی ۔ او حدیث د بلالؓ ددے دلیل دے چه په صحیح بخاری کښې دے چه هغه به کله
اودس کولو نو مونځ به ئے لوستلو ۔ او وئیل به ئے چه په تمامو عملونو کښې ددے عمل
زیات امید دے ۔ او که چرے د اودس نه پس فرض یا بل څه نفل اولولی نو هم به ورته د
افضیلت حاصلیدے شی ۔ اودا چه ئے کوم او فرمایل چه په مینځ کښې ئے په څه بل څه
خیال کښې غرق نۀ شی ۔ د هغے مطلب دادے ۔ چه ددنیا په خیال کښې اونه نخلی چه هغه د

مانځه سره علاقه نۀ لري . که چرے د څه قسم خیال په زړۀ کښې تیر شي . او په هغه وخت هغه خیال لره ختم کړي . او په هغے کښې غرق نۀ شي نو معاف دے او که خدائے غواړي نو دا فضیلت ورته حاصلیدے شي . ولے چه په دے کښې دده اختیار نشته دے . دویمه دا چه الله تعالیٰ دے امت لره د هغه قسم خیالاتو نه چه کوم په زړۀ کښې تیریږي معاف کړے دی او ددے بیان وړاندے په کتاب الایمان کښې تیر شوے دے .

یعنی په دے حدیث کښې چه کوم د اوداسه ذکر دے . دا کامل اودس دے . اوس ددے نه زیاتول او درے واره نه زیات اینځل مکروه دی هر کله چه په هر یو وار کښې تول اندامونه وینځلے شي که چرے په دوه واره کښې تول اندامونه وینځلے شي نو هغه به یو ځل ګڼړلے شي .

کچرے چاته شك راغے چه دوه واره وینځلے شو یا درے واره نو دوه واره به ګڼړلے کیږي او یو ځل به نے نور وینځي دغه تهیك دے . او جویني وئیلے دی چه درے ځله به ګڼړلے شي ځکه چه دوه واره پوره دی . او په ځلورم وار بدعت دے . او بعضو ددے حدیث نه دلیل رواړے دے د خنګونانو او د کچو نه د زیات وینځلو په کراهت باندے . حالانکه زمونږ په نز باندے دا غوره دے . او د ابن شهابؒ دقول نه ددے مکروه والے نۀ دے وتلے (نوویؒ)

(۵۳۹)عَنْ حُمْرَانَ مَوْلٰی عُثْمَانَ اَنَّهٗ رَاٰی عُثْمَانَ دَعَا بِاِنَآءٍ فَاَفْرَغَ عَلٰی کَفَّیْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ اَدْخَلَ یَمِیْنَهٗ فِی الْاِنَآءِ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهٗ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَّ یَدَیْهِ اِلَی الْمِرْفَقَیْنِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ مَسَحَ بِرَاْسِهٖ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَیْهِ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّاَ نَحْوَ وُضُوْئِیْ هٰذَا ثُمَّ رَکَعَتَیْنِ لَایُحَدِّثُ فِیْهِمَا نَفْسَهٗ غُفِرَلَهٗ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ .[راجع : ۵۳۸]

ترجمه : د حمران نه روایت دے چه مولیٰ (آزاد غلام) وو د عثمان بن عفانؓ هغوی اولیدو حضرت عثمانؓ لره چه هغوی یو لوښے د اوبو راوغوښتو . او په خپلو دواړو لاسو نو به ئے

درے خله اوبه واچولے او هغه نے اووینځل بیا نے ښی لاس په لوښی کښں دننه کړو او کلی نے اوکړه او په پوزه کښں نے اوبه واچولے بیا نے مخ درے خله اووینځو . او دواړو څپو لره نے درے خله اووینځلے بیا نے اووے . چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلے دی چه کوم بنده زما ددے اودس په شان اودس اوکړو . او د هغے نه ورستو نے دوه رکعته مونځ اوکړو . او زړه نے په نور خیال کښں او نه لګوؤ نو د هغه وړمبی ګناهونه بخلے کیږی .

فائده :. نووی ونیلے دی ددے حدیث نه دا خبره وتلے ده . چه د خلے د کنګالولو او پوزے ته د اچولو د پاره په ښی لاس کښں اوبه اخستل پکار دی . او دا هم دلیل راؤړی ددے حدیث نه چه د خلے اوپوزے د پاره به په دغه یو چونګ کښں او به اخلی . او دا یو طریقه ده ددغه پنځو طریقونه . چه هغے لره مونږ بیان کړے دی . د غه شان دا دلیل هم کوی چه دواړو منګلو لره په لوښی کښں د منډلو نه وړاندے وینځل پکار دی . اګرکه د خوب نه بیدار شوے نۀ وی . هر کله چه د لاسونو دنجاست ګمان وی . او زمونږ مذهب دغه دے . (انتهی)

باب فضل الوضوء والصلوة عقبه

باب :. داودس او د هغے نه پس د مونځ لوستلو فضیلت.

(۵۴۰) عن حمران مولی عثمان قال سمعت عثمان ابن عفان وهو بفناء المسجد فجاء ة المؤذن عند العصر فدعا بوضوء فتوضأ ثم قال والله لاحدثنكم انى سمعت رسول الله صلے الله عليه واله وسلم يقول لايتوضأ رجل مسلم فيحسن الوضوء فيصلى صلوة الا غفر الله له مابينه وبين الصلوة التى عليها .[بخاری ۱۶۰، نسائی : ۱۴۶]

ترجمه : د حمران نه روایت دے . چه مولی وو د عثمان ابن عفانؓ هغوی ونیلے دی ما اوریدلے دی د عثمان ابن عفانؓ نه چه هغه د جماعت په مخکښں وو . په دے کښں مؤذن هغه ته راغے . د مازیګر د مانځه په وخت هغوی د اودس اوبه اوغوښتلے اودس نے اوکړو . بیا نے اووے قسم مے دے

وی په الله جل جلاله باندے زه تاسو ته يو حديث بيانوم . کچرے د الله په کتاب کښې يو آيت نه وے . نو ما به تاسو ته نه بيانوو . ما د رسول الله صلے الله عليه و اله وسلم نه اوريدلي دی . چه فرمانيلے ئے وو کوم بنده چه په ښه شان سره اود س اوکړی . او بيامونځ اوکړی نو د هغه هغه گناهونه او بخلے شی . کوم چه د هغه مانځه نه د بل مانځه پورے وی .

فائده : هغه آيت دادے . ان الذين يكتمون ما انزلنا من البينت والهدى من بعد مابينه للناس فى الكتب اوليك يلعنهم الله و يلعنهم اللاعنو ن O يعنى کوم خلق چه پټوی هغه خبرو لره چه هغه ښکاره دی او د اهدايت خبرے ورستو د هغے نه مونږ بيان کړے دی . د هغه خلقو د پاره په کتاب کښې . الله پاك په هغوی باندے لعنت کوی . او لعنت کوی په هغوی باندے لعنت کونکی .

نو د حضرت عثمان رضی الله عنه مطلب دادے چه د الله تعالىٰ د علم د خبرے ښودل او د هغے رسول نه وے واجب نو ماته د څه حديث د بيانولو حرص نشته چه زه خامخا تاسو ته دا بيان کړم اگر چه دا آيت د اهل کتابو په شان کښې دے . مگر څوك چه د هغوی غوندے کار کوی . او ددين خبرے لره د ضرورت په وخت پټوی . د هغه په شان کښې دا وعيد کيدے شی . او يو حديث مشهور هم موجود دے . چه رسول الله صلے الله عليه واله وسلم فرمانيلے دی چه کوم سړے د علم خبره پټوی الله تعالىٰ هغه ته د اور واګے غورځوی .

او په ښه شان سره اود س کول يعنى پوره د هغے د شرانطو او آدابو سره ددے حديث نه معلومه شوه چه داودس آداب او شرائط ايزده کول او په هغے باندے عمل کول د احتياط سره مستحب دی . او پکار ده چه سړے په هغه شان سره اودس اوکړی چه د ټولو امامانو په نز درست وی . او د اختلافاتو په خصلتونو باندے عمل اونه کړی . ددے د پاره ضروری چه بسم الله په شروع کښې اولولی . او نيت اوکړی په پوزه کښې اوبه واچوی او سونږے کړی . په ټول سر باندے مسح اوکړی اندامونه او مړی پرله پسے او دس اوکړی (يعنى د يو اندام د وينځلو نه پس دومره نه حصاريږی چه هغه وُچ شی)د ترتيب خيال به ساتی . دغه شان به ټولو اختلافی خبرولره لحاظ ساتی . او داسے اودس به کوی چه بالاجماع طهارت وی . (نووی)

(۵۴۱) وفی حدیث ابی اسامة ((فیحسن وضوءہ ثم یصلی المکتوبة)) [راجع : ۵۴۰]

ترجمه : د ابو اسامه په حدیث کښې دا لفظ دے چه د ښهٔ اودس کولو نه بعد فرض مونځ لره دے اداء کړی

(۵۴۲) عن حمران انه قال فلما توضأ عثمان قال والله لاحدثنکم حدیثا والله لولا اٰیة فی کتاب الله عزوجل ماحدثتکموه انی سمعت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یقول لا یتوضأ رجل فیحسن وضوءه ثم یصلی الصلوة الا غفرله مابینه وبین صلوة التی تلیهاقال عروة الاٰیة ان الذین یکتمون ماانزلنا من البینت والهدی الی قوله اللعنون . [راجع : ۵۴۰]

ترجمه : د حمران نه روایت دے . هر کله چه حضرت عثمانؓ اودس اوکړلو . نو هغوی اووے . چه قسم دے په الله باندے زه تاسو ته یو حدیث بیانووم که چرے د الله په کتاب کښې دا آیت نه وے نو مابه دا حدیث تاسو ته نه ووبیان کړے ما د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلے دی هغه فرمائیلے وو . کوم سړے چه په ښه شان سره اودس اوکړی او بیا مونځ اولولی . نو دده هغه گناه او بخلے شی کوم چه د هغه مانځه نه پس ددویم مانځه پورے وی . عروه وئیلے دی هغه ایت دادے ان الذین یکتمون ما انزلنا من البینت والهدی الی قوله اللعنونO

(۵۴۳) عن عمرو ابن سعید ابن العاص قال کنت عند عثمان فدعابطهور فقال سمعت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یقول مامن امرءٍ مسلم تحضره صلوة مکتوبة فیحسن وضوءها وخشوعهاورکوعهاالاکانت کفارة لماقبلهامن الذنوب مالم یات کبیرة وذلک الدهر کله .

ترجمه : د عمرو بن سعید بن عاص نه روایت دے زهٔ د حضرت عثمانؓ سره ناست وُم . هغوی د اودس اوبه اوغوښتلے . بیا ئے اووے ما اوریدلے دی د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه هغهٔ فرمائیلے وو چه څوک مسلمان د فرض مونځ وخت اومومی . او بیا په ښه طریقه سره اودس اوکړی او د زړه دا خلاصه مونځ اولولی . او په ښه شان له رکوع (او سجده) اوکړی . نو دغه مونځ به دده د وړمبو گناهونو کفاره کیدے شی د کومے پورے چه کبیره گناه نهٔ کوی . او همیشه دغه شان (عمل) کوی

فائده : یعنی د هغه مانځه لو اودس په وجه سره صغیره گناهونه ټول معاف کیږی او

کبیرہ گناهونه نهٔ معاف کیږی مطلب دا نهٔ دے چه صغیرہ هم هغه وخت معاف کولے شی د کومے پورے چه کبیرہ گناہ نه کوی اګرچه د حدیث نه دا احتمال کیږی مګر سیاق حدیث ددے احتمال انکار کوی قاضی عیاض وئیلے دی دا چه کوم په دے حدیث کښ د صغائرو معاف کیدل مذکور دی دا هل سنتو دغه مذهب دے او کبائر په توبه سره معاف کیږی . یا د الله تعالی په فضل او رحمت سره . (نووی)

(۵۴۴)عن حمران مولی عثمان قال اتیت عثمان ابن عفان بوضوء فتوضا ثم قال ان ناسا یتحدثون عن رسول الله صلے الله علیه واله وسلم احادیث لا ادری ماهی الا انی رایت رسول الله صلے الله علیه واله وسلم توضامثل وضوئی هذاثم قال من توضا هذاغفرله ما تقدم من ذنبه وکانت صلوته ومشیه الی المسجدنافلة وفی روایة ابن عبدة اتیت عثمان فتوضا

ترجمه : د حمران نه روایت دے . چه مولی وو دعثمان ابن عفانؓ هغوی وئیلے دی ما عثمان ابن عفانؓ له د اودس اوبه راوړلے . هغوی اودس اوکړو . بیانئے اووے چه بعضے خلق د رسول الله صلے الله علیه و له وسلم نه داسے حدیثونه نقل کوی چه په هغے باندے زهٔ پوهه نه یم . خو ما رسول الله صلے الله علیه واله وسلم لره لیدلے دے چه هغه اودس اوکړو په دے شان لکه څنګه چه ما اوکړو . بیائے اوفرمائیل . کوم سړے چه په دے شان اودس اوکړی د هغه وړمبی ګناهونه اوبخلے شی او هغه لره به د مانځه او جماعت د تلو خانله ثواب میلاویږی دابن عبده په روایت کښ داسے دی چه حمران وائی زه د عثمان خواله راغلم هغوی اودس اوکړو . (یعنی د اوبو د راوړو ذکر نشته)

(۵۴۵)عن ابی انس ان عثمان توضا بالمقاعد فقال الا اریکم وضوء رسول الله صلے الله علیه واله وسلم ثم توضا ثلاثا ثلاثا وزاد قتیبة فی روایته قال سفیان قال ابوالنضر عن ابی انس قال وعنده رجال من اصحاب رسول الله صلے الله علیه واله وسلم .

ترجمه : ابو انس (مالک بن ابی عامر اصبحی مدنی چه نیکه دے د امام مالکؒ)نه روایت دے . چه حضرت عثمانؓ اودس اوکړو په مقاعد کښ بیانئے اووے ولے زه تاسو ته او نبایم د رسول الله صلے الله علیه و له وسلم اودس اوکړو درے درے واره . د قتیبه په روایت کښ دومره سیوا دی چه

کوم وخت حضرت عثمانؓ دا حدیث بیان کړو هغه وخت د هغه سره د رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم څو اصحاب موجود وو

فائده : مقاعد به نے هغه د کانونو ته ونیل چه د حضرت عثمانؓ د کور په خو اکښې وو او بعضو ونیلے دی مقاعد زینه او سیړی ته ونیلے کیږی . او بعضو ونیلے دی هغه مقام نه کوم چه هغوی د کاروبار د پاره د کیناستو قرار کړے وو . نووی ونیلے دی دا حدیث اصل عظیم دے ددے مسلے چه په اودامه کښې هر یو کار درے درے ځله کول پکار دی . او پورته بیان کړلے شول چه درے وارہ په ځانے راوړل سنت دی په اجماع سره . او واجب یو ځل دی . او د امام شافعی استدلال ددغے حدیث نه دے . چه د سر مسح هم درے وارہ سنت ده . لکه د نورو اندامونو وینځل او په دے باب کښې ډیر دغه شان حدیثونه راغلی دی . د هغے صحت او صنعت لره ما په شرح مهذب کښې بیان کړے دی . او هغوی (یعنی صحابهؓ) دے حدیث لره تسلیم کړے دے . چا ترے نه انکار نه دے کړے . د بیهقی په روایت کښې دی . چه حضرت عثمانؓ درے درے ځله اودس اوکړو . بیا نے د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اصحابو ته اوفرمائیل ! ولے تاسو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لره په داسے کولو لیدلے دے هغوی اووے ها . (نووی)

(٢٥٦)عن حمران ابن ابان قال کنت اضع لعثمان طهورة فماأتی علیه یوم لا وهو یفیض علیه نطفة وقال عثمان حدثنا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم عند انصرافنا من صلوتنا هذه قال مسعر اراها العصر فقال ما ادری احدثکم بشیء او اسکت فقلنا یارسول الله ان کان خیرا فحدثنا وان کان غیر ذلک فالله ورسوله اعلم قال ما من مسلم یتطهر فیتم الطهور الذی کتب الله علیه فیصلی هذه الصلوات الخمس الا کانت کفارات لما بین هن (نسائی : ۱۴۵، ابن ماجه : ۴۵۹)

ترجمه : د حمران بن ابان نه روایت دے . ما به د حضرت عثمانؓ د پاره د طهارت اوبه سره غسل کولو (یعنی غسل به نے کوو په واسطه د تکمیل طهارت او د ثواب د زیات والی) حضرت عثمانؓ اووے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم مونږ ته حدیث بیان کړو . هرکله چه مونږ ددے مانځه نه اوزګار شو مسعر وائی (کوم چه ددے حدیث راوی دے) زما خیال دے چه هغه د مازیکر مونځ وو هغه اوفرمائیل زه نه پوهیږم چه تاسو ته حدیث بیان کړم یا چپ پاتے شم .

مونږه اووے یا رسول الله ! که چرے د بهترئ خبره وی نو بیان کړه اوکومه چه غوره نه وی نو الله او د هغه رسول ښه پوهه دے هغه اوفرمائیل. کوم مسلمان چه طهارت اوکړی ـ به پوره طهارت اوکړی کوم لره چه الله تعالی فرض کړے دے. او پنځه مونځونو لره لولی هغه ته به هغه گناهونه معاف کیږی. کوم چه د هغه مونځونو په مینځ کښې کوی

فائده :. یعنی معلومه نهٔ ده. چه ددے حدیث بیانول مصلحت دے یا نه بیانول بیا هغه نه معلومه شوه چه بیانول مصلحت دے. ځکه چه هغه بیان کړه چه هغوی ته رغبت پیدا شی په پاکوالی کښې او دعباداتو په ټولو قسمونو کښې. او مخکښې هغه په بیا نولو کښې تامل اوکړو. ددے خیال نه چه خلق په دے باندے تکیه اونه کړی. ورستو ئے بیانول مناسب اوګنړل (نووی)

د بهترئ د خبرے نه دا مراد دے. چه زمونږ د خوشحالئ خبره وی. چه په هغے سره مونږ ته رغبت پیدا شی په ښه عملونو کولو کښې. یا مو یره پیدا شی د ګناه نه. اوکوم چه ددے قسم حدیث نه وی. نو په هغے باندے الله او د هغه رسول رسول الله صلی الله علیه و له وسلمښه پوهه دی. یعنی تهٔ په خپل رائے باندے عملاوکړه کچرے ته ئے مناسب ګنړے نو مونږ ته ئے بیان کړه. ګنی نو خیر (نووی) .ددے حدیث پاك نه معلومه شوه چه که چرے په طهارت کښې صرف فرضو لره اداکړی. او سنتو او مستحباتو لره پریږدی. نو هم به ورته دا فضیلت حاصلیدے شی. یعنی د ګناهونو مغفرت اګرچه د سنتو په ادا کولو سره نو زیات ګناهونه معاف کیږی او ثوابونه زیاتیږی (نووی)

(۵۴۳)عن جامع ابن شداد قال سمعت حمران ابن ابان یحدث ابابردة فی هذاالمسجد فی امارة بشران عثمان بن عفان قال قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم من اتم الوضوء کماامرة الله عزوجل فالصلوات المکتوبات کفارات لما بینهن هذاحدیث ابن معاذ ولیس فی حدیث غندر فی امارة بشر ولا ذکر المکتوبات [راجع : ۵۴۹]

ترجمه :د جامع بن شداد نه روایت دے هغه فرمانی چه ما د حبان بن ابان نه اوریدلی دی چه هغه حدیث بیانولو د ابوبردہ نه د بشر په حکومت کښې (یعنی د هغه دَ حکومت په زمانه کښې) چه عثمان بن عفان وئیلے دی چه فرمائیلے دی رسول الله ﷺ چه کوم سے پورا کړی خپل وضوء لره

پہ ځہ شان چہ اللہ تعالی حکم کړے دے نو د هغه فرض مونځونه به کفاره وی د هغه ګناهونو کوم چہ د هغے پہ مینځ کښں کوی ۔ دا روایت دے د ابن معاذ او د غندر پہ روایت کښں د عبارت نشته دے ۔ (د بشر پہ امارت کښں) نہ د فرضو مونځونو بیان دے ۔

(۵۳۸) عن حمران مولی عثمان قال توضأ عثمان ابن عفان یوما وضوء احسنا ثم قال رأیت رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم توضأ فاحسن الوضوء ثم قال من توضأ هکذا ثم خرج الی المسجد لا ینهزه الا الصلوة غفر لہ ما خلا من ذنبہ.

ترجمه : د حمران نہ روایت دے ۔ چہ مولی وو د عثمان بن عفان رضی اللہ عنه هغه یوه ورځ په ښه شان سره اودس اوکړو ۔ بیا ئے اووے ما رسول اللہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم لیدلے دے ۔ هغه پہ ښه شان او س اوکړو د هغے نہ پس ئے اوفرمایل ! چہ کوم سړے پہ دے شان سره اودس اوکړی ۔ بعد د هغے نہ جماعت تہ لاړ شی لیکن خاص د مانځه د پاره پاځی (یعنی د بل ځه کار نیت ئے نہ وی ۔ بلکه خالص د مانځه پہ اراده پورته شی) نو د هغه وړمبی ګناهونه اوبخلے شی ۔

(۵۳۹) عن عثمان ابن عفان قال سمعت رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم یقول من توضأ للصلوة فاسبغ الوضوء ثم مشی الی الصلوة المکتوبة فصلاها مع الناس او مع الجماعة او فی المسجد غفر اللہ لہ ذنوبہ.

ابحاری ۱۶۳۳ . ۸۵۵ د ۱

ترجمه : د حضرت عثمان بن عفانؓ نہ روایت دے ۔ هغوی وائی ما د رسول اللہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نہ اوریدلے دی چہ فرمائیلے ئے وو کوم بنده چہ د مانځه د پاره پوره اودس اوکړی بیا د فرض مانځه د پاره (جماعت تہ) روان شی او د خلقو سره یا د جماعت سره یا پہ جماعت کښں مونځ اولولی ۔ نو اللہ د هغه تمام ګناهونه اوبخی ۔

باب : الصلوات الخمس والجمعة الی الجمعة ورمضان الی رمضان مکفرات لما بینهن ما اجتنبت الکبائر :

باب : پہ دیبیان کښں چہ پنځه مونځونه اود جمعې نہ تر د بلې جمعې پورې او د

رمضان نه تر د بل رمضان پورې د ګناهونو کفاره کیږي کوم چه ددې په درمیان کښ کیږي که چرې د کبیره ګناهونو نه ځان ساتي :

(۵۰د)عن ابي هريرة ان رسول الله ﷺ قال الصلوات الخمس والجمعة الى الجمعة كفارات لما بينهن مالم تغش الكبائر [ترمذی ۲۱۴]

ترجمه: د ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه پنځه مونځونه او یو جمعه د بلې جمعې پورې کفاره دي د هغې ګناهونو چه کوم ددې په مابین کښې وي تر څو پورې چه کبیره ګناه اونه کړي.

(۵۱د)عن ابي هريرة عن النبي ﷺ قال الصلوات الخمس والجمعة الى الجمعة كفارات لما بينهن.

ترجمه: ابو هریرهؓ بیان کوي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه پنځه مونځونه او د جمعې نه تر د بلې جمعې پورې دا کفاره کیږي د هغه ګناهونو کوم چه ددې په مابین کښ کیږي.

(۵۲د)عن ابي هريرة ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم قال الصلوت الخمس والجمعة الى الجمعة ورمضان الى رمضان مكفرات ما بينهن اذا اجتنب الكبائر.

ترجمه: د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دے رسول الله. رسول الله صلی الله علیه و له وسلم فرمائیلي وو چه پنځه مونځونه او جمعه د جمعې پورې. او رمضان د رمضانه پورې کفاره کیږي د هغه ګناهونو کوم چه د هغې په مینځ کښې وي. په شرط ددې چه د کبیره ګناهونو نه بچ شي

باب الذكر المستحب عقب الوضوء.

باب: د اودس نه پس څه لوستل پکار دي.

(۵۳د)عن عقبة بن عامر قال كانت علينا رعاية الابل فجاءت نوبتي فروحتها بعشي فادركت رسول الله صلى الله عليه واله وسلم قائما يحدث الناس فادركت من قوله مامن مسلم يتوضأ فيحسن وضوءه ثم يقوم فيصلي ركعتين مقبل عليهما بقلبه ووجهه الا وجبت له الجنة قال فقلت ما اجود هذه فاذا قائل بين يدي يقول التي قبلها اجود فنظرت فاذا عمر قال اني قد رأيتك جئت انفا قال مامنكم من احد يتوضأ فيبلغ او فيسبغ

الْوُضُوْءَ ثُمَّ يَقُوْلُ اَشْهَدُاَنْ لَاۤاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اِلَّا فُتِحَتْ لَهٗ اَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ يَدْخُلُ مِنْ اَيِّهَاشَاءَ .

[ابوداود : ۱۶۹، ۹۰۶، نسائی : ۱۵۱، ابن ماجه : ۴۷۰]

ترجمه : د عقبه بن عامرؓ نه روایت دے ۔ زمونږ د خلقو د اوښانو د څرولو کار وو زما وار چه راغے ۔ نو ما اوښانو لره اوڅرول ماښام له مے د هغوی د پاتے کیدو ځائے ته راوستل نو ما اولیدو چه رسول الله رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ ولاړ دے خلقو ته وعظ اوروی ۔ هغه اوفرمایل ! چه کوم مسلمان په ښه شان سره اودس اوکړی بیا په ولاړے دوه رکعته مونځ اوکړی د خپل زړۀ او خلے د تصدیق سره ۔ (یعنی د ظاهر او باطن په توجه سره نه په زړه کښ څه د دنیا خیال راولی نه مخ اخوا دیخوا واړه وی) د هغه د پاره جنت واجبیږی ۔ ما اووے څه ښکلے خبره ئے اوفرمایله (چه د هغے ثواب دومره قدرے لوئے دے او محنت ئے ډیر کم دے)یو سړے زما مخے ته وو ۔ هغه اووے ورمبی خبره ددے نه هم ښکلے وه ۔ ما چه ورته اوکتل نو هغه عمرؓ وو ۔ هغوی اووے زۀ پوهه شوم چه ته اوس راغلے ۔ هغه اوفرمایل چه څوك ستاسو نه اودس اوکړی په ښه شان سره پوره اودس او بیا اووائی ۔ اشهد ان الا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده و رسوله :یعنی ګواهی ورکوم چه نشته دے لائق د عبادت بل څوك سیوا د الله نه او محمد رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ د هغه بنده او رسول دے ۔ نو کهولاؤ کړے شی هغه ته د جنت اتۀ دروازے په کومه سره چه غواړی (جنت ته)تلے شی ۔

فائده :۔ د اودس نه پس په اتفاق د علماؤ د اکلیمه لوستل مستحب دی ۔ او د ترمذیؒ په روایت کښ ددے نه پس دومره نور زیات دی ۔ اللهم اجعلنی من التوابین و جعلنی من المتطهرین ۔ او نسائی په خپل کتاب "عمل الیوم اولیله" کښ روایت کړے دے ۔ (چه داوئیل مستحب دی) سبحنك اللهم اشهدان الا اله الا انت وحدك لا شریك لك و اتوب الیه ۔ زمونږ ملګرو وئیلے دی ۔ چه د غسل نه پس هم ددے وئیل مستحب دی (نوویؒ)

(۵۵۴) عن عقبة بن عامر الجهنی ان رسول الله ﷺ قال فذکر مثله غیر انه قال : من توضا فقال اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله : [راجع : ۵۵۳]

ترجمہ : د عقبه بن عامر نه په يو بل سند سره دا الفاظ منقول دی چه چا اودس اوکړو او دا دعا ئے اولوستله اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله

﴿بَابٌ اٰخَرُ فِیْ صِفَةِ الْوُضُوْءِ﴾

دویم باب د اودس په ترکیب کښی .

(۵۵۵) عن عبد الله ابن زيد ابن عاصم الانصاری و کانت له صحبة قال قيل له توضأ لنا وضوء رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم فدعا باناء فاكفأمنه على يديه فغسلهما ثلاثاثم ادخل يده فاستخرجها فمضمض واستنشق من كف واحدة ففعل ذلك ثلاثا ثم ادخل يده فاستخرجها فغسل وجهه ثلاثا ثم ادخل يده فاستخرجها فغسل يديه الى المرفقين مرتين مرتين ثم ادخل يده فاستخرجها فمسح برأسه فاقبل بيديه وادبر ثم غسل رجليه الى الكعبين ثم قال هكذا كان وضوء رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ا

بخاری : ۱۸۵، ۱۸۶، ۱۹۱ |

ترجمہ : د عبد الله بن زيد بن عاصم انصاری نه روایت دے ۔ هغه صحابی وو هغه نه خلقو اوویے چه مونږ ته د رسول الله ﷺ پشان اودس کول اوښایه ۔ هغوی یو لوښے (د اوبو) راواغوښتو هغے لره یے ښکته کړو ۔ وړمبی نے په دواړو لاسونو باندے اوبه واچولے (د دے نه معلومه شوه چه د اودس په شروع کولو کښی د دواړو لاسونو وینځل مستحب دی په اوبو کښی د لاس د منډلو نه وړاندے ۔) او اونے وینځلے دواړو منګلو لره درے خله ۔ بیانے لاس په لوښی کښی دننه کړو او راوویستو نے او په یو چونگ اوبو سره نے غرغره اوکړه او په پوزه کښی نے واچولے درے خله نے دغه شان اوکړو ۔ بیا نے لاس دننه کړو او بهر نے راوویستو او مخ نے درے خله اووینځلو (د بخاری په روایت کښی دی دواړه چونگونه نے میلاؤ کړل او بیا نے راواخستلے او درے واره نے مخ اووینځلو) بیا نے په لوخی کښی لاس او منډلو او بهر ته نے راوویستو او خپل دواړه لاسونه نے د څنګلو پورے دوه دوه واره او وینځلو ۔ بیا نے لاس او منډلو په لوښی کښی او بهر ئے کړلو او په سر ئے مسح اوکړله وړمبی نے دواړه لاسونه د مخے نه یوړل بیا نے د شانه یوړل ۔ بیا نے دواړه خپے وینځلے د ګیټو پورے د دے نه پس نے اوویے ۔ رسول الله ﷺ دغه شان اودس کولو

فائده : او په یو روایت د صحیح بخاری کښې د ابن عباس نه داسے روایت دے چه لاس نے او منډو نو چونګ ئے راواخستو بیائے هغه په دویم لاس سره یو ځائے کړو او مخ ئے اووینځلو . اوابن عباس رضی الله عنه وئیلی دی ما رسول الله ﷺ لره په دغه شان اودس کولو لیدلے وو او په سنن ابو داؤد او بیهقی کښې د حضرت علیؓ نه روایت دے چه دواړه لاسونه به په لوښی کښې منډوی او بیا به راواخلی او په مخ به ئے اچوی . نو په دے حدیثونو کښې په څو کښې د یو لاس منډل منقول دی . او په څو کښې دواړه لاس دننه کول او په څو کښې یو لاس لره د دویم لاس سره ملګرے کول . دا درے صورتونه دی لیکن صحیح او مشهور دادے . چه دواړه لاس یو ځائے کړی او اوبه واخلی ځکه چه مخ په دغه شان سره اووینځلے شی . داسے وئیلے دی امام شافعیؒ او مذنی زمونږ ملګری وئیلے دی . چه په مخ اینځلو کښې د پورته طرفنه شروع کول دی . (نووی)

نووی وئیلے دی ددے حدیث نه دا خبره اووتله . چه یو اندام لره دوه ځله او بل له درے ځله وینځل درست دی . او کیدے شی چه دا دجواز د پاره وی . نووی وئیلے دی د سر په مسح کښې دواړو لاسونو لره د مخے نه بوتلل او بیا د شا دطرفنه واپس کول . دا مستحب دی په اتفاق د علماؤ ځکه چه په داسے کولو سره په تول سر باندے لاس رابنکلے کیږی . او زمونږ بعضے اصحابو وئیلے دی . داسے کول د هغه سړی دپاره دی چه د هغه په سر باندے ویښته کهلاؤ شوے وی او که چرے ویښته نه وی یا ئے جوړا تړلے وی نو دوباره دلاسونو د واپس کولو څه فائده نشته او ددے حدیث نه داخبره وتلے ده چه د تول سر مسحه واجب ده . ځکه چه په دے کښې د کمال بیان دے نه چه د وجوب

په او داسه او غسل کښې د اخروی ثواب نه علاوه دنیاوی فائدے هم ډیرے دی . اطباؤ وئیلے دی چه د انسان په بدن باندے هره ورځ ګرد غبار جمع کیږی چه د هغے په وجه سره د بدن مسامے بندے شی دغه خیرو او ګندونو لره صفا کول د صحت د حفاظت د پاره ډیر زیات ضروری دی شریعت محمدیؐ داسے ښکلے قاعده تړلے ده چه د هغے په وجه سره انسان لره په دویمه او دریمه هفته هره میاشت ضروریو غسل کول پریوځی . دجنابت د جمعے د حیض او نفاس غسل د اخترونو غسل بلکه هره ورځ دغسل د قت وواو ضرورت هم نه وو .

ددے وجے سے تول بدن دبنده په جامه سره پټ وی . اکثر مخ او دواړه لاس او خپے کولاؤ پاتے وی نو هغے لره د صفا ساتلو د پاره نے اودس مقرر کړے دے . اوس پنځه واره یا څلور واره یا دوه واره یا یو وار خو هره ورځ په اوداسه کښ دغے اندامونو لره وینځل وی البته که چرے خپے په موزو کښ پټے وی نو هر وار وینځل د هغے ضروری نه دی بلکه مقیم لره په شپه او ورځ کښ یو ځل او مسافر لره په درے شپے او ورځے کښ یو ځل وینځل کافی دی . اوس د اوداسه په شروع کښ درے خبرے د ابو د ازمانښت د پاره مقرر دی . لاسونه د مړوندونو پورے وینځل د رنګ معلومولو د پاره او غرغره د مزے معلومولو د پاره او په پوزه کښ اوبه اچول د بوئ معلومولو د پاره دغه د اوبو درے اوصاف دی چه د هغے لیدل د طهارت د پاره ضروری دی .

عن عمرو بن یحیی بهذالاسناد نحوه ولم یذکر: الی الکعبین: (راجع: ۵۵۵)

ترجمه: په دے سند سره هم مذکوره بالا روایت منقول دے خو په دے کښ دا الفاظ نشته دے چه "د ګجو پورے"

۵۵۵) عن عمرو بن یحیی بهذالاسناد وقال مضمض واستنثر ثلاثا ولم یقل من کف واحدة وزاد بعد قوله فاقبل بهما وادبر بدء بمقدم رأسه ثم ذهب بهما الی قفاه ثم ردهما حتی رجع الی المکان الذی بدأ منه وغسل رجلیه : راجع: ۵۵۵)

ترجمه: د عمر بن یحیی نه په دغه اسناد سره روایت دے . په هغے کښ دادی چه غرغره نے اوکړه او په پوزه کښ نے اوبه واچولے درے ځله او دانے نه دی وئیلے چه په یو چونګ سره او د مخے نه نے سوږه او د شانه یے یوړه . ورستو نے دومره زیاته کړیده چه وړمبی نے د سر مسح د مخے نه شروع کړه او د څټ پورے نے لاس رابنکودل بیا نے د هغه ځائے نه واپس کړل او مخے ته ئے راوړل دواړو لاسونو لره په هغه مقام باندے د کوم ځائے نه چه نے شروع کړے وه او دواړه خپے نے اووینځلے .

فائده : شیعه ګانو د خپو د وینځلو په عوض د هغے مسح معمول کړے دے . حالانکه په خپو باندے چه څومره ګردو غبار پرے وځی او د پلیتی د لګیدو احتمال وی . دومره په مخ او لاسونو باندے نه وی بیا خو د هغے وینځل خاص په مقتضائے عقل دے . او دغه ثابت دے د احادیث صحیحه او مشهوره ونه او لطف دا چه هرکله موزے په خپو وی نو په موزو باندے

مسحه کول جائز قرار کړے دی او هر کله چه خپے ښکاره وی . نو هغې له وینځل ضروری نه ګنړی

(۵۵۸) عن عمرو ابن یحیی بمثل اسنادهم واقتص الحدیث وقال فیه . فمضمض واستنشق واستنثر من ثلاث غرفات وقال ایضا فمسح براسه فاقبل به وادبر مرة واحدة . [راجع : ۵۵۵]

ترجمه : دا حدیث هم د مخکښ حدیث په شان دے لیکن معمولی د الفاظو تبدیلی ده

(۵۵۹) عن عبد الله ابن زید بن عاصم المازنی یذکر انه رای رسول الله صلی الله علیه واله وسلم توضا فمضمض ثم استنثر ثم غسل وجهه ثلاثا ویده الیمنی ثلاثا والاخری ثلاثا ومسح براسه بماء غیر فضل یدیه وغسل رجلیه حتی انقاهما .

ترجمه : د عبدالله بن زید بن عاصم نه روایت دے . هغوی اولیدو رسول الله ﷺ لره چه هغه اودس اوکړو . بیائے غر غره اوکړه . بیائے پوزے ته اوبه واچولے . بیائے مخ وینځلو درے ځله . اوښے لاس درے ځله او ګس لاس درے ځله . او په سر باندے ئے مسحه اوکړه په نوو اوبو سره . نه په هغه اوبو سره چه هغه په لاسونو لګیدلے وے . او دواړه خپے ئے اووینځلے . ترڅو پورے چه هغه ئے صفا کړلے .

قال ابو الطاهر : حدثنا ابن وهب عن عمرو ابن الحارث :

ترجمه : ابو طاهر وئیلی دی چه مونږ ته ابن وهب د عمرو بن الحارث نه بیان کړے دے .

﴿بَابُ الْإِيتَارِ فِي الْاِسْتِنْثَارِ وَالْاِسْتِجْمَارِ﴾

باب : په پوزه کښې اوبه اچول دغه شان استنجاء کول طاق مرتبه غوره دی .

(۵۶۰) عن ابی هریرة یبلغ به النبی صلی الله علیه واله وسلم قال اذا استجمر احدکم فلیستجمر وترا واذا توضا احدکم فلیجعل فی انفه ماء ثم لینثر [بخاری . ۱۶۲ ، ابوداود : ۱۴۰ ، نسائی : ۸۶]

ترجمه : د ابو هریره نه روایت دے . چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو نه څوك دپاخانے ځانے صفاکوی نو په طاق لوټو سره دے صفا کوی . او هر کله چه څوك ستاسو نه اودس کوی نو په پوزه کښې د اوبه اچوی او بیا د ے پوزه پرنجوی .

فائده : یعنی په درے یا پنځه یا اووه لوټو سره اوبعضو کښې د استنجا معنی د اینځلو د باره دی . یعنی طاقت وار به خوشبو واخلی . لیکن صحیح دغه ده کومه چه په ترجمه کښې ذکر شوے ده . او مقصود دادے چه په لوټو سره صفائی د بے طاق بار وی . یعنی درے یا پنځه یا زیات او زمونږ مذهب دادے چه د دریو نه زیات مستحب دے او حاصل د مذهب دادے . چه صفاکول واجب دی . او درے پوره کول هم واجب دی . که چرے په دریو سره صفائی اوشوه نو اوس زیات اختسل واجب نه دی که صفائی رانغله نو نورے اختسل پکار دی بیا که چرے په طاق عدد پوره شوه نو اوس به زیاتے نه اخلی (مثلاً په پنځه ؤ صفائی راغله نو شپږمه به نه راخلی) او که چرے په جفت صفائی راغله لکه په څلورو یا شپږو باندے نو هغے لره طاق کول مستحب دی او زمونږ بعضے اصحابو وئیلے دی چه طاق اختسل واجب دی . په دلیل ددے حدیث او د جمهورو دلیل هغه حدیث دے . چه هغه په سنن کښې مروی دے . چه چا طاق واختسل نو ښه ئے اوکړو . او که چا طاق وانۀ خستو نه هم څه حرج نشته . (نووی)

(۵۲۱) عن همام ابن منبه قال هذا ما حدثنا به ابو هريرة عن محمد رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فذكر احاديث منها وقال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم اذا توضا احدكم فليستنشق بمنخريه من الماء ثم لينتثر (بخاری : ۱۶۱ ، نسائی : ۸۸ ، ابن ماجه : ۴۰۹)

ترجمه : د همام بن منبه نه روایت دے . ابو هریرة د رسول الله ﷺ نه اوریدلے او دا حدیثونه ئے مونږ ته بیان کړے دی . بیا هغوی ذکر اوکړو د څو حدیثونو یو د هغے نه دا هم وو . چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی هر کله چه څوك ستاسو نه اودس کوی . نو دواړو سپیږمو لره به صفا کړی په اوبو سره او بیا به پوزه سونړ کړی

فائده : نووی وئیلے دی په دے حدیث کښې دلیل دے د هغه سړی چه هغه پوزے پر نجولو ته واجب وائی .

(۵۲۲) عن ابی هریرة ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم قال من توضا فليستنثر ومن استجمر فليوتر .

ترجمه : د ابو هریرة نه روایت دے . چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه اودس کوی نو پوزے ته دې اوبه اچوی او کوم سړے چه استنجا کوی نو طاق واره دے کوی .

(۵۶۳ د)عن ابی هریرة و ابی سعید الخدری یقولان قال رسول الله ﷺ بمثله : [راجع : ۵۶۲]

ترجمه: دابو هریرةؓ او د ابو سعید خدریؓ نه په مثل ددغه روایت منقول دے.

(۵۶۴ د)عن ابی هریرة ان النبی صلی الله علیه واله وسلم قال اذا استیقظ احدکم من منامه فلیستنثر ثلث مرات فان الشیطان یبیت علی خیاشیمه . [بخاری : ۳۲۹۵] نسائی ۹۰]

ترجمه: د بو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی . هر کله چه ستاسو نه څوك (د خوب) نه بیدار شی . نو پوزه دے درے واره سونړه وی . ځکه چه شیطان د هغه دپوزے په هډوکی کښ وی یا په پوزه کښ.

فائده : قاضی عیاض وئیلی دی . احتمال دے چه حقیقتاً شیطان په پوزه کښ اوسیږی . ولے چه په پوزه سره زړهٔ ته لاره تلے ده . او په هغے باندے څه پرده نشته دے . او په حدیث کښ دی چه شیطان پټ شوی څیز لره نه کهولاوه وی . ځکه په جمایۍ کښ د خلے د بندولو حکم دے . ددے د پاره چه شیطان په خله دننه لاړ نه شی او احتمال دے چه د شیطان نه مراد مجازاً غبار وی . یا د پوزے رینت وغیره وی (نوویؒ)

(۵۶۵ د)عن جابر بن عبد الله یقول قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اذا استجمر احدکم فلیوتر .

ترجمه: د جابرؓ بن عبد الله نه روایت دے . چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه څوك ستاسو نه استنجا کوی نو طاق عدد دے کوی .

باب وجوب غسل الرجلین بکمالهما

باب: پوره خپے وینځل واجب دی .

(۵۶۶ د)عن عائشة زوج النبی صلی الله علیه واله وسلم یوم توفی سعد بن ابی وقاص فدخل عبد الرحمن بن ابی بکر فتوضا عندها فقالت یاعبدالرحمن اسبغ الوضوء فانی سمعت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یقول ویل للاعقاب من النار

ترجمه :د ام المومنین حضرت عائشے رضی الله عنها خواله عبدالرحمن بن ابی بکرؓ لاړو . په کومه ورځ چه سعد بن ابی وقاصؓ انتقال اوکړو نو هغوی اودس اوکړو حضرت عائشےؓ اووے .

اے عبد الرحمن ! اودس لره ښه پوره اوکړه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلے ئے وو خرابی ده پړکوواﺍ لره د جهنم په اور سره (یعنی د پوندے خواؤ شا حصه چه په اوداسه کښې اوچه پاتے شی)

فائده : نووی وئیلے دی . د امام مسلم غرض ددے حدیث ددواړو نه دادے چه د خپو وینځل واجب دی او مسح کافی نه ده . او په دے مسئله کښې خلقو اختلاف کړے دے . څو مذهبونه دی مګر کومے لره چه د فقهاء یو جماعت او خاوندانو د فتوی په هره زمانه او په هر ښار کښې اختیار کړے دے . هغه دادے چه دواړو خپو لره دکچو پورے وینځل واجب دی . او د هغے د پاره مسح کافی نه ده او د وینځلو سره بیا مسح کول ضروری نه دی . او ددے خلاف د چا معتبر سړی نه منقول نه دے . او شیعه وائی چه ددواړو خپو مسح واجب ده . او محمد بن جریر او جبائی د معتزله ؤ امام وئیلے دی . چه اختیار دے خواه که مسح کوی په دواړو خپو باندے یا وینځی هغے لره .

او بعضے ظاهریه ؤ وئیلے دی . چه مسح او وینځل دواړه واجب دی . او دغه مخالیفینو چه کوم دلائل بیان کړی دی هغه ظاهر نه دی . او ما د هغے ټولو تفصیل په ښه شان سره په شرح مهذب کښې کړے دے . کوم ځوك چه هغے لره اوګوری نو څه شك شبه به ئے پاتے نه شی . او دلته خو زمونږ مقصود دادے چه د حدیث شرح بیان کړو . نه د مخالیفینو رد اوقدح . او مختصر داده چه څو مره خلقو د رسول الله ﷺ اودس نقل کړے دے په مختلفو مقاماتو او مختلفو حالاتو کښې هغه ټولو د خپو وینځل نقل کړے دی .

او دا چه کوم هغه فرمائیلے دی خرابی ده د پړکو په اور سره . په هغے کښې دلیل دے د خپو د وینځلو ګنی ددے وعید نه څه مطلب نه اوځی . او یو حدیث صحیح دے د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جدنه چه یو سړی اووے یا رسول الله ! اودس څنګه کول پکار دی ؟ هغه اوبه اوغوښتلے او دواړه منګلے ئے او وینځلے . بیا ئے اودس اوکړو تردے چه دواړه خپے ئے اووینځلے . بیا ئے اوفرمایل اودس داسے کول پکار دی . او ځوك چه ددے نه کمے زیاتے کوی هغه بدکوی . او ظلم کوی . دا حدیث صحیح دے . دے لره ابوداؤد وغیره په اسناد صحیحه سره نقل کړے دے

(۵۶۷)عن عائشه عن النبی ﷺ بمثله

(۵۶۸)عن سالم مولی المهری قال: خرجت انا وعبد الرحمان بن ابی بکر فی جنازة بن ابی وقاص فمررنا علی باب حجرة عائشة فذکر عنها عن النبی ﷺ بمثله.

(۵۶۹)عن سالم مولی شداد بن الهاد قال کنت مع عائشة فذکر عنها عن النبی ﷺ بمثله.

(۵۷۰) عن عبد الله بن عمرو قال رجعنا مع رسول الله صلی الله علیه واله وسلم من مکة الی المدینة حتی اذا کنا بماء بالطریق تعجل قوم عند العصر فتوضأ وهم عجال فانتهینا الیهم واعقابهم تلوح لم یمسها الماء فقال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ویل للاعقاب من النار اسبغوا الوضوء. [ابوداود: ۹۷، نسائی ۱۱۱، ابن ماجه ۴۵۰]

ترجمه: د عبد الله بن عمرو نه روایت دے چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د مکے نه مدینے ته تللو په لاره کښے یو خانے اوبه میلاؤ شوے د مازیګر د مانځه وخت شوے وو. خلقو زر زر اودس اوکړو مونږ چه د هغوی خواته اورسیدو نو د هغوی پرکی وچ معلومیدل په هغے باندے اوبه نه وے لګیدلے. بیا رسول الله ﷺ اوفرمایل! خرابی د پړکو په اور سره. پوره کوه اودس لره

(۵۷۱) عن منصور بهذا الاسناد ولیس فی حدیث شعبة اسبغوا الوضوء وفی حدیثه عن ابی یحیی الاعرج [راجع: ۵۷۰]

ترجمه: دغه مذکوره روایت په دے سند سره هم مروی دے لیکن په دے کښی دا جمله منقول نۀ ده چه اودس لره پوره کړئ.

(۵۷۲)عن عبد الله بن عمرو قال تخلف عنا النبی صلی الله علیه واله وسلم فی سفر سافرناه فادرکنا وقد حضرت صلوة العصر فجعلنا نمسح علی ارجلنا فنادی ویل للاعقاب من النار. [بخاری: ۶۰، ۹۶، ۱۶۳]

ترجمه: د عبد الله بن عمرو نه روایت دے. رسول الله ﷺ زمونږ نه غائب شو په یو سفر کښی. بیا هغه اوموندو مونږ لره. او د مازیګر د مانځه وخت شوے وو. مونږ مسح شروع کړه په خپلو

چو ناندے (حضرت محمد ﷺ) اواز اوکړو خرابي ده پرکو لره د جهنم په اور سره

(۴۷۳) عن ابی هریرة ان النبی صلے الله علیه واله وسلم رای رجلا لم یغسل عقبه فقال ویل للاعقاب من النار

ترجمه: د ابو هریرة نه روایت دے رسول الله ﷺ یو سړے اولیدو چه هغه (په اودس کښې) خپل پرکی اینخلی نه وو نو اوے فرمایل! خرابی ده پرکو لره د جهنم په اور سره.

(۴۷۴) عن ابی هریرة انه رای قوما یتوضاون من المطهرة فقال اسبغوا الوضوء فانی سمعت اباالقاسم صلے الله علیه واله وسلم یقول ویل للعراقیب من النار. (بخاری. ۱۶۵، نسائی: ۱۱۰)

ترجمه: ابو هریرة رضی الله څه خلقو لره اولیدل چه هغوی د خاوړے په کوزه سره اودس کولو نو اوئے وئیل پوره کوئ اودس لره ولے چه ما اوریدلے د ابو القاسمﷺ نه. هغه فرمائیلے وو خرابی ده کو نچو لره په انګار سره.

(۴۷۵) عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم ویل للاعقاب من النار.

ترجمه: د ابو هریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هلاکت دے پرکو لره په اور سره.

باب وجوب استیعاب جمیع اجزاء محل الطهارة .

باب: په اودسه کښې تمامو اعضاؤ لره وجوبا د پوره وینځلو بیان.

(۴۷۶) عن جابر قال اخبرنی عمر بن الخطاب ان رجلا توضا فترک موضع ظفر علی قدمه فابصره النبی صلے الله علیه واله وسلم فقال ارجع فاحسن وضوءک فرجع ثم صلے. (ابن ماجه: ۶۶۶)

ترجمه: د جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه ماته بیان کړے دے حضرت عمر رضی الله عنه چه یو سړی اودس اوکړو او د نوک برابر ئے په خپلو خپو کښې وچ پریخودو. رسول الله ﷺ هغه ته اوکتل. نو اوئے فرمایل! لاړ شه! او په ښه شان اودس اوکړه راشه! هغه واپس شو او بیا راغے مونځ ئے اوکړو.

فائده: نووی وئیلے دی. ددے حدیث نه دا خبره وتلے کیږی. چه که چرے په اودسه

کښې بـو ه ذره مقام هم چه د هغې وينځل واجب دي وچ پاتې شي . نو اودس به درست نه وي . په دې بـاندې د ټولو اتفاق دے ليکن په تيمم کښې که چرې څه حصه د مخ پريږدي او په هغې باندې لاس رانـه کاږي نو په هغې کښې اختلاف دے زمونږ او د جمهورو علماؤ مذهب دادے . چه تيمم بـه درست نه وي لکه څنګه چه اودس درست نه دے . او د ابو حنيفه نه په دے کښې درے روايتونه دي يـو خـو دا چه که د نيمے نه کم پاتې شي نو درست کيږي . دويم دا چه که د ربعې نه کم پاتې شي نو درست کيږي . دريمه دا چه که د څلورمې حصے نه کم پاتې شي نو درست کيږي ددے حديث نه دا هـم معلـومـه شـوه که چرے يو سړے په ناپوهئ سره داسے اوکړي خو بيا هم د هغه طهارت به صحيح نـه وي او کـوم سړے چه جاهل وي هغه لره په نرمئ سره پو هه کول پکار دي . او بعضې خلقو ددے حديث نه دليل راوړے دے . چه د دواړو خپو وينځل واجب دي او مسح کافي نه ده .

او قـاضـي عيـاض دليل کړے دے دے حديث لره موالاة يـعـنـي د پرله پسے اودس کولو په وجـوب بـانـدے . څـکـه چـه هـغـه په ښـه شان اودس کول کړے دي او د احکم ئے نه دے ورکړے چه صـرف وچ چه کوم ځائے پاتے دے هغه مقام به اووينځي . حالانکه دا استلال ضعيف دے يا باطل دے څـکـه چـه پـه ښـه شـان د اودس کولو دا معنیٰ هم کيدے شي . چه د غے اودس لره پوره کړه . (انتهى)

باب خُرُوْجِ الْخَطَايَا مع مَآءِ الْوَضُوْءِ .

باب: داودس داوبو سره د ګناهونو دلرے کیدو بیان .

(۵۷۷) عن ابى هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم قال اذا توضأ العبد المسلم او المؤمن فغسل وجهه خرج من وجهه كل خطيئة نظر اليها بعينيه مع الماء او مع اخر قطر الماء فاذا غسل يديه خرج من يديه كل خطيئة كان بطشتها يداه مع الماء او مع اخر قطر الماء فاذا غسل رجليه خرجت كل خطيئة مشتها رجلاه مع الماء او مع اخر قطر الماء حتى يخرج نقيا من الذنوب .[ترمذی : ۲]

ترجمه : دابـو هـريـره رضـي الـلـه تـعـالى عنه نه روايت دے رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فـرمـايـلـي دي هـر کله چه بنده مسلمان يا مؤمن (داشك دے دراوي)او دس کوي او مخ وينځي نو

د هغه د خلے نه هغه تول گنا هونه (صغیره) وتلے کیږی کوم چه هغه په سترګو سره کړے وی داو بو سره یا داخری قطرے سره (چه هغه د مخ نه غوز خیږی دا هم شك دے دراوی) بیا چه هر کله لاس وینځی نو د هغه دلا سونو نه هر یو گناه کوم چه نے په لا سو سره کړے وی دا وبو سره یا د اخری قطرے سره ولے کیږی بیا چه هر کله خپے وینځی نو هر یو گناه کوم پسے چه هغه په خپلو سره وتلے وی دا وبو سره یاد آخری قطرے سره وتلے کیږی. تر دے پورے چه دتولو گنا هونو نه پاك صفا بهر را اوځی.

(۸۷ د)عن عثمان بن عفان قال قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم من توضا فاحسن الوضوء خرجت خطایاه من جسده حتی تخرج من تحت اظفاره.

ترجمه :دحضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول االله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے دی کوم بنده چه په ښه شان سره او دس او کړی نو د هغه گناه دبدن نه وتلے شی تر دے پورے چه د نوکونو دلا ندے نه هم او وتلے شی.

باب استحباب اطالة الغرة والتحجیل فی الوضوء.

باب:باب مخ لره زیات وینځل دومره قدرے چه د سر مخے ته حصه هم وینځلے شی دغه شان لا سونه د څنګوا خپلولره دګچونه پورے وینځل مستحب دی.

فائده: نووی وائی علما و اختلاف کړے دے چه مستحب دکوم ځائے پورے وینځل دی بعضو ویلے دی چه دڅنګلو او ګچو نه پورته وینځل پکار دی څو مره به زیاتوی؟ دهغے څه حد نشته دے بعضو ویلے دی دنیم مټ پورے مستحب دی دغه شان خپه دپنډئ پورے او بعضو ویلے دی دا وګو پورے وینځل مستحب دی او په دے باب کښ چه کوم حدیثونه مذکور دی هغه ددے خبرے تا ئید کوی او دا چه کوم امام ابو الحسن بن بطال مالکی او قاضی عیاض دعوی کړے ده چه دڅنګلو او ګچو نه زیا تول په اتفاق دعالما نو مستحب نه دی دادعوی باطله ده او څنګه به دادعوه صحیح شی کله چه درسول الله صلے الله علیه واله وسلم او ابو هریره رضی الله عنه نه ددے خلاف ثابت حجت دی.

او داجه کوه به بو حدیث کښې مروی دے چه چادد ے نه زیات کړل یانے کم کړل نو هغوی بد او کړل او ظلم او کړو مراد دد ے نه په عدد کښې زیاتول او کمول دی (انتهی)نووی وائی ددے حدیث نه هم رد راځی په روافضو باندے چه هغه په خپو باندے مسحه کوی.

(۵۷۹)عن نعیم بن عبد الله المجمر قال رأیت ابا هریرة یتوضأ فغسل وجهه فاسبغ الوضوء ثم غسل یده الیمنی حتی اشرع فی العضد ثم غسل یده الیسری حتی اشرع فی العضد ثم مسح برأسه ثم غسل رجله الیمنی حتی اشرع فی الساق ثم غسل رجله الیسری حتی اشرع فی الساق ثم قال هکذا رأیت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یتوضأ وقال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم انتم الغر المحجلون یوم القیمة من اسباغ الوضوء فمن استطاع منکم فلیطل غرته وتحجیله.[بخاری : ۱۳۶]

ترجمه : دنعیم بن عبد الله مجمر نه روایت دے چه ما ابو هریره رضی الله عنه لره په اودس کو نو اولید و هغوی مخ وینځلو نو هغے لره ئے پوره وینځلو بیانے ښی لاس او وینځلو ترد ے پورے چه دمټ یوه حصه ئے وینځله بیانے دسر مسح او کړه بیانے ښی خپه او وینځله نو دپنډئ یوه حصه ئے ورسره هم وینځله بیانے ګسه خپه او وینځله ترد ے چه دپنډئ یوه حصه ئے ورسره هم او وینځله بیانے اووے ما رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لره په دغه شان او دس کولو لیدلے دے او فرمائیلے دی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ستا سو تندی اولا سونه او خپے به سپینے (نورانی)وی دقیامت په ورځ دپوره او دس کولو په وجه سره بیا چه څوک ستا سو نه خپلو لا سونو لره او خپو او مخ لره وینځل زیاتوی نو زیات دے کړی

(۵۸۰)عن نعیم بن عبد الله انه رأی ابا هریرة یتوضأ فغسل وجهه ویدیه حتی کاد یبلغ المنکبین ثم غسل رجلیه حتی رفع الی الساقین ثم قال سمعت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یقول ان امتی یأتون یوم القیمة غرا محجلین من اثر الوضوء فمن استطاع منکم ان یطیل غرته فلیفعل .[راجع ۵۷۹]

ترجمه : دنعیم بن عبدالله نه روایت دے هغوی ابو هریره رضی الله عنه لره په اودس کولو او لیدو هغه مخ او وینځلو او دواړه لا سونه ئے او وینځل ترد ے پورے چه دا وګواوږے او رسید و بیانے دواړه خپے وینځلے ترد ے پورے چه دپنډو پورے اورسیدو ورستو دد ے نه ئے او وے ما د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلے دی چه فرمایلے ئے وو زما دامت خلق به دقیامت په ورځ

سپین مخ او سپینو خپو والا شی راځی به د اودس د نښانو نه بیا چه ستاسو نه څوك خپل مخ لره زیات ونځلی شی هغه دې وینځی

[۵۱۱] عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم قال ان حوضی ابعد من ایلة من عدن لهو اشد بیاضا من الثلج واحلی من العسل باللبن ولآنیته اکثر من عدد النجوم وانی لاصد الناس عنه کما یصد الرجل ابل الناس عن حوضه قالوا یارسول الله اتعرفنا یومئذ قال نعم لکم سیما لیست لاحد من الامم تردون علی غرا محجلین من اثر الوضوء. [ابن ماجه: ۴۲۸۲]

ترجمه: دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلے دی زما حوض دومره لوئے دے لکه دعدن نه ایله د دے نه هم زیات دهغے اوبه د واورے نه زیاتے سپینے او د شهدو او پیو نه زیاتے خوږے دی او په هغے باندے چه کوم لوښی ایخودے سوے دی هغه په شمېر کښی د ستورو نه زیات دی او زه منع کوم خلقو لره دهغه حوض نه لکه چه څوك دبل چا اوښانو لره دخپل حوض نه منع کوی خلقو اووے یا رسول الله ته به مونږ پیژنے په هغه ورځ هغه او فرمایل !ها ستاسو نښان به داسے وی چه هغه به ستاسو نه دبل امت دپاره نه وی تاسو به راځئ زما مخے ته سپین لاسونه او خپے د اودس په طفیل سره

[۵۱۲] عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم علی امتی الحوض وانا اذود الناس عنه کما یذود الرجل ابل الرجل عن ابله قالوا یانبی الله اتعرفنا قال نعم لکم سیما لیست لاحد غیرکم تردون علی غرا محجلین من آثار الوضوء ولیصدن عنی طائفة منکم فلا یصلون فاقول یارب هؤلاء من اصحابی فیجیبنی ملك فیقول وهل تدری ما احدثوا بعدك. [راجع: ۵۱۱]

ترجمه: دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلے دی زما دامت خلق به زما په حوض کوز راتلل کوی او زه به خلقو لره لرے کوم دهغے نه لکه چه سړے دبل سړی اوښانو لره بیرته کوی خلقو اووے یا رسول الله ولے ته به مونږ هلته پیژنے شے؟ هغه او فرمایل ها! ستاسو نښانی به داسے وی چه هغه به دبل امت سړو نه وی تاسو به راځئ زما حواله سپین مخی او لاسونه خپے څما حواله د اودس په وجه سره او یو ګروپ به منع کولے شی څما حواله د راتلو نه هغه به زما حواله نه شی راتلے نو زه به عرض او کړم چه اے

پروردګاره داخو زما خلق دی هغه وخت به یو ه فرښته ماله جواب راکړی ولې ته نه پیژنې چه دې خلقو ستا نه ورستو په دنیا کښې نوی نوی کارونه کول .

فائده : نووی ویلې دی یو جماعت استدلال کړې دې ددې حدیث نه چه وضوء خاص دې ددې امت سره او بعضو ویلې دی چه اوس ددې امت سره خاص نه دې خودافضیلت یعنی تندې او لا سونه نورانی کیدل به خاص وی دقیامت په ورځ ددې امت سره او دلیل دهغې دویم حدیث دې چه په هغې کښې دادی چه داز ما او دس دې او زمانه وړاندې دپیغمبر انو اودس دې . لیکن اول جماعت دوه جوابونه ورکړې دی یو خودادې چه داحدیث ضعیف دې او ددې ضعف مشهور دې دویمه داچه که چرې دې حدیث لره او منلې شی نو ددې نه دومره قدرې ثابتیږی چه دوړاندې پیغمبر انو دپاره او دس وو خو د وړاندې امتو نو دپاره او دس نه ثابتیږی(انتهی)په دویم روایت کښې دومره زیاته ده ددې په او ریدو به زهٔ وایم نو بیا بیرته شئ بیابیر ته شئ یعنی لرې شی نووی ویلې دی علماؤپه دې مقام باندې ډیر خبرې لیکلې دی .

وړمبی داچه مراد دهغه خلقو نه منافقان دی چه داسلام نه واپس شوې وو نو احتمال دې چه دهغوی حشر ددغه نښان سره یعنی دسپینو مخونو او سپینو لا سونو او خپلو والا سره وی او رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هغوی لره مسلمانان او ګڼړی په هغه وخت به هغه ته جواب میلاؤ شی چه داخلق په خپل حالت باندې نهٔ دی پاتې او دوی ستا نه پس دین لره بدل کړې وو او دهغه په دوړ حیات کښې مسلمانان وو او بیا دهغه نه پس داسلام نه واپس شوې وو نو رسو ل الله صلی الله علیه واله وسلم به هغه خلقو لره او پیژنی او راغواړی به ئې اګر چه په هغوی باندې به داودس نښان نه وی په دغه وخت به جواب میلاؤ شی چه دغه خلق ستا سو نه پس داسلام نه واپس شوې وو دریمه داچه مراد دهغه خلقونه ګنهګاردی چه دهغوی دژوند خاتم په توحید باندې شوې وی خو په کبیره ګنا هو نو او بدعتونو کښې مبتلا وو لیکن بدعت دکفر د درجې پورې نه وو رسیدلې

په دې صورت کښې داضروری نه ده چه داخلق دخالص او ضرور جهنم ته لاړشی بلکه کیدې شی چه وړمبې داسزاء د دیکې ورکو لو هغوی ته میلاؤشی بیا الله تعالی به په هغوی

باندے رحم او کړی او هغوی جنت ته به بوځی بغیر دعذاب نه او دا هم ممکنه ده چه دهغوی مخونه او لاسونه خپے سپین نورانی وی او احتمال دے چه داخلق دهغه په زمانه کښی هم وو او دهغه نه پس هم وو لیکن هغه هغوی لره ددعه نښانو نو نه پیژندلے شی امام ابن عبد البر ویلے دی کوم سړے چه په دین کښی نوے خبرے زاوباسی هغه به دحوض کو ثر نه شړے کیږی لکه رافضی او خارجے او تمام ګمراه فرقے دغه شان به هغه خلق هم شړلے کیږی چه هغوی ظلم کړے وی او دخلقو حق نے نیولے وی حق لره ختموی او ناحق لره خوروی کبیره ګناه علا نیه کوی او دغه شان دتمامو خلقو دپاره هم یره ده چه هغه دحوض نه اوشړلے شی (انتهی)

(۵۸۳)عن حذیفة قال قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم ان حوضی لا بعد من ایلة من عدن والذی نفسی بیده انی لا دوذ عنه الرجال کمایذ وذ الرجل الابل الغریبة عن حوضه قال یارسول الله وتعرفنا؟ قال نعم تردون علیّ غرا محجلین من اثار الوضوء لیست لاحد غیرکم (ابن ماجه : ۴۳۰۲)

ترجمه : دحذیفه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے دی زما حوض دو مره لوئے دے لکه دعدن نه ایله (یو ښار دے دمصر او دشام په مینځ کښی) قسم دے په هغه دچا په لاس کښی چه زما روح دے زه به خلقو لره دهغه ځائے نه لرے کوم لکه چه یو دبل او ښانو لره دخپل حوض نه شړی خلقولره دهغه ځائے نه شړی خلقو اووے یا رسول الله ته به مونږ پیژنے؟ اووے هغه او فرمایل هاتاسو به زما خواله راځئ سپین تندی سپین لاسونه خپے داو دس نښان به وی چه هغه به ستاسو نه سیوا په بل امت باندے نه وی.

(۵۸۴)عن ابی هریرة ان رسول الله صلے الله علیه واله وسلم اتی المقبرة فقال السلام علیکم دار قوم مؤمنین وانا ان شاء الله بکم لاحقون وددت انا قد راینا اخواننا قالوا اولسنا اخوانک یارسول الله قال انتم اصحابی واخواننا الذین لم یاتوا بعد فقالوا کیف تعرف من لم یات بعد من امتک یارسول الله فقال ارءیت لوان رجلا له خیل غر محجلة بین ظهری خیل دهم بهم الا یعرف خیله قالوا بلی یارسول الله قال فانهم یاتون غرا محجلین من الوضوء وانا فرطهم علی الحوض الا لیذادن رجال عن حوضی کمایذاد البعیر الضال اناديهم الا هلم فیقال انهم قد بدلوا بعدک فاقول سحقا سحقا.

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم په قبرستان

کښې تشریف راوړو نو اوئے فرمایل سلام دې پټ سو باندې داکو ر دې دمسلمانانو او مونږ که خدائے غواړی نو ستا سو سره میلاو یدونکی یو زما ارزو ده چه زۀ دخپلو رونړو لره او وینم (ددې حدیث نه معلومه شوه چه دنیکی خبرې ارزو کول درست دی لکه دعلماؤ او فضلاؤ سره دمیلا ویدو) صحابهٔ و اووے یا رسول الله ولې مونږ ستا رو نړه نهٔ یو "هغه او فرمایل تا سو زما اصحاب یئ او رونړه زما هغه خلق دی چه هغه لا او س دنیا ته نه دی راغلی صحابهٔ و او وے یا رسول الله نه څنګه پیژنے دخپل امت هغه خلقولره چه تا هغوی لره لیدلی نه دی هغه او وے عجیبه ده تا سو ګوری چه دیو سړی سپینو تندو سپینو لا سو خپو والا اسو نه په تو رو مشکی اسونو کښې شریك شی نو هغه به خپل اسونه نه پیژنی صحابهٔ و اووے بیشکه هغه خوبه پیژنی هغه او فرمایل او زما د امت خلق به سپین لاسونه او خپے لری دقیامت په ورځ داودس په وجه سره او زه به دهغوی پیش خیمه یم په حوض کونر باندے خبردار شی بعضے خلق به زما دحوض نه واپس کولے شی لکه چه پاګل اوبن دځان نه زغلولے کیږی زه به هغوی ته آواز او کړم راشی راشی په هغه وخت به او ویلے شی دغه خلقو خپل ځان بدل کړے وو او کافر شوے وو یا د هغوی حالت بد ل شوے وو (په بدعت او ظلم کښې ګرفتار شوے وو)بیابه زه او وایم لرے شی لرے شی.

فائده :. اګر چه مرګ کیدل یقینی دی په دے کښې شك نشته خو انشاء الله هغه دبرکت دپاره فرمایلے وی او دخدائے حکم په ځائے راوړلو دپاره چه هغه فرمایلے دی تا سو څه کار لره چه صبح کونکی وی داسے مه وایئ چه زه به نے صبا او کړم بلکه داسے وایئ چه که چرے خدائے غواړی او خطابی ویلے دی چه انشاء الله نے دعادت په طور باندے اووے دتحسین کلام دپاره او بعضو ویلے دی انشاء الله دمرګ سره متعلق نه دے بلکه دمؤمنانو سره دمیلاویدو سره یعنی که خدائے غواړی نو خاتمه زمونږ به هم په ایمان باندے وی او مونږ به هم ستا سو سره میلاو یږو و په دے ځائے باندے او بعضو دانشاء الله معنی څه وخت چه خدائے غواړی او بعضو نورے معانے کړے دی چه هغه معانے ضعیفے دی. (نووی)

صحابهٔ اووے ولے مونږ ستا رو نړه نه یو هغه او فرمائیل تا سو زما اصحاب یئ بلکه مقصود دادے چه ستا سو درجه خود خپل رور نه زیاته ده تاسو خوصحابه کرامؓ یئ او رونړه هم

نی او کوم خلق چه اوس پیدا شوی نه دی هغه صرف روښره دی صحابه نه دی
لکه چه الله تعالی فرمایلی دی مؤمنان ديو بل رو ښره دی قاضی عیاض ویلی دی ابن عبدالبر ددی
حدیث نه او دېو رو حدیثو نو نه استدلال کړی دی په دی امر باندی چه د هغه نه دورستو زمانی
خلق به هم د افضیلت لری تردی چوری چه بعضی د هغوی نه افضل دی د بعضی صحابه نه او
داچه کوم حضرت صلی الله علیه واله وسلم او فرمایل بهتر ستاسو نه زما د زمانی خلق دی نو
ددی نه مراد مهاجرین او انصار دی او هغه بیشکه افضل دی په تمام امت کښی لیکن کوم سړی
چه د حضرت صلی الله علیه واله وسلم په محبت کښی پاتی شوی وی یا یی هغه لره لیدلی وی او
د هغه څه اثر په دین کښی نه وی نو ورستو د هغه دزمانی سړی د هغه نه غوره کیدی شی لکه
څنګه چه دنورو حدیثو نه معلومیږی .
قاضی عیاض ویلی دی سیوا د عبدالبر نه دنورو بعضو متکلمینو هم دغه مذهب دی
لیکن اکثر علماء ددی نه خلاف دی او وائی چه څوک د حضرت صلی الله علیه واله وسلم په
محبت کښی پاتی شوی وی او یو ځل یی هغه لیدلی وی نو هغه ته د محبت فضیلت میلاؤ شو اوس
د هغه نه دورستو زمانی سړی د هغه برابر کیدی نه شی اګر که په زهد او تقوی کښی چه هر
څومره مو به لری او دلیل د هغوی د احدیث دی که چری ستاسو نه څوک د احد دغر برابر سره
زر خرچ کړی سو د صحابه د مد یا د نیمه مد برابر کیدی نه شی تمام شولو کلام د قاضی عیاض
(نووی) په هغه وخت به او ویلی شی چه هغه خلقو خپل ځانونه ستا نه ورستو بدل کړی وو
السراج الوهاج کښ دی الله تعالی دی تباه کړی رافضیانو لره هغوی د هغه خلقو نه صحابه کرام
لره کړیلی دی مهاجرین او انصارو لره حالانکه په دی حدیث کښی دجال لفظ دی د صحابه و او که
چری د صحابه لفظ نه وی بیا هم مراد هغه خلق دی چه د هغه د وفات نه پس د اسلام نه
ګرځیدلی دی نه هم صحابه معاذالله
الله تعالی د هغوی په تعریف کښی فرمائی وما بدلوا تبدیلا او فرمائی رضی الله عنهم ورضو عنه او
فرمائی لیغیظ بهم الکفار ددی نه دا اوخی چه کوم سړی د صحابه نه خفه شی او په هغه باندی
غصه او کړی هغه په خپله کافر دی لعنت دی وی د الله په هغه مردود باندی چه هغه د رسول الله

صلے اللہ علیہ والہ وسلم پہ دوستانو او قربانید و نکو باندے تہمت لگوی او ھغہ داھل بیت رسالت بد خواہ گنړی او ھیرہ وی دھغوی خدمتو نو لرہ چہ دھغے پہ دولت زمونږ پورے اسلام را اورسید و او دھغوی پہ سعی او کوشش سرہ دنن ورځے پورے ددین قیام دے رحمتہ اللہ علیہم اجمعین۔

(۵۸۵) عن ابی ھریرۃ انّ رسول اللہ ﷺ خرج الی المقبرۃ فقال:۔ السلام علیکم دار قوم مؤمنین وانا انشاء اللّٰہ بکم لاحقون : [ابوداود : ۳۲۳۷، نسائی ۱۵۰]

ترجمہ: ابو ھریرۃؓ بیان کوی چہ رسول اللہ ﷺ اووتلو قبرستان طرف تہ نو رسول اللہ ﷺ اوفرمائیل سلامتی دے وی پہ تاسو باندے اے د مؤمنانو قومہ او مونږہ ھم تاسو خلقو سرہ ملاویدونکے یو۔

﴿بَابُ تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوُضُوْءُ :﴾

باب: د اودس د اوبو د ځائے پورے د زیوراتو داچولو بیان:

(۵۸۶) عن ابی حازم قال کنتُ خلف ابی ھریرۃ وھو یتوضأ للصلوۃ فکان یمدُّ یدہٗ حتی یبلغ ابطہ فقلتُ لہ یاباھریرۃ ما ھذالوضوء فقال یابنی فرّوخ انتم ھٰھنالو علمتُ انکم ھٰھنا ماتوضأتُ ھذالوضوء سمعتُ خلیلی صلی اللّٰہ علیہ والہ وسلم یقول تبلغ الحلیۃ من المؤمن حیث یبلغ الوضوء . [نسائی : ۱۴۹]

ترجمہ: دابو حازم نہ روایت دے چہ زہ دابو ھریرہ شاتہ وم ھغہ دمانځہ دپارہ اودس کو لو نو ھغہ خپل لاس نہ وینځل او ږدہ کړل تردے چہ داو گے پورے ئے او وینځل ما اووے اے ابو ھریرہ داڅنگہ اودس دے ؟ابو ھریرۃ اووے۔ اے دفروح اولا دہ (فروح دابراھیم علیہ السلام دځوئ نوم دے چہ دھغہ پہ اولا د کښں دعجمو خلق دی ابو حازم ھم عجمی وو)تۀ دلتہ کښں موجود وے کہ چرے ماتہ داپتہ وے چہ تہ دلتہ کښں موجود ئے نو ما بہ پہ دے شان سرہ او دس نہ وو کړے ما او ریدلے دی دخپل دوست نہ (یعنی رسول اللہ صلی اللہ علیہ والہ وسلم نہ۔) چہ فرمایلے ئے وو دقیامت پہ ورځ بہ مومن تہ دھغہ ځائے پورے کالی اچولے شی د کومے پورے چہ دھغہ اودس رسیدلے وی۔

فائده :۔(ما به په دے شان سره او دس نه کوو) ځکه چه تا سو خلقو ته دو مره علم نشته دے داسے نۀ وی چه تا سو گمراه شی او داخیال او کړئ چه دتر خونو پورے دا سو نو وینځل فرض دی قاضی عیاض ویلے دی ابو هریره داغرض دے چه کوم سړے امام یعنی پیشوا وی هغه لره پکار دی چه هر کله دځه ضرورت نه په رخصت باندے عمل کوی یا دو سوسے دوجے نه په ځه امر کښې مبالغه کوی یا ځه هغه بغیر د ضرورت نه دهغے په رخصت باندے عمل شروع کړی یا هغه کار په ځان لکه پشان دفرضو لازم او گنړی ۔(نووی)

﴿باَبُ فَضْلِ اِسْبَاغِ الْوَضُوْءِ عَلَى الْمَكَارِهِ﴾

باب :۔دسختئ او تکلیف په حالت کښې دپوره او دس کولو څه ثواب دے ۔

(۵۸۷)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ اَلاَ اَدُلُّکُمْ عَلٰى مَایَمْحُوْ اللّٰهُ بِهِ الْخَطَایَا وَیَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ قَالُوْا بَلٰى یَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ عَلَى الْمَکَارِهِ وَکَثْرَةُ الْخُطَا اِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلٰوةِ بَعْدَ الصَّلٰوةِ فَذٰلِکُمُ الرِّبَاطُ [ترمذی : ۵۱]

ترجمه : دابو هریرة نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے دی ولے زه تا سو ته او نۀ بنایم هغه خبرے چه په هغے سره گنا هو نه ختمیږی (یعنی معاف کیږی یا د لیکلو والا دفتر نه ورانیږی او درجے او چتیږی (په جنت کښې)خلقو اووے ولے نه یا رسول الله اوبنایه هغه او فرمایل پوره کول اودس لره په سختئ او تکلیف کښې (لکه په ژیا ته یخنی یا بیماری کښې) او ډیر ول د قدمونو دجماعته پورے (په دے شان چه جماعت دکورنه لرے وی او دے ورته با بار ما نځه له ځی)او انتظار کول ددویم مانځه دیو مانځه نه پس دغه رباط دے (یعنی دنفس حصارول دعبادت دپاره یا هغه رباط دے کوم چه په جهاد کښې کیږی چه دهغے ذکر په قرآن شریف کښې دے (ورابطوا)

(۵۸۸)وفی حدیث مالک ثنتین : فذالکم الرباط فذالکم الرباط [نسائی : ۱۴۳]

ترجمه : په یو بل سند سره هم دغه حدیث مروی دے لیکن په هغے کښې دا الفاظ دوه ځله دی چه دا رباط دے دا رباط دے

﷽باب السّواک﷽

باب: دمسواك بيان.

فائده : امام نووی ویلے دی مسواك کول سنت دی واجب نه دی دخه وخت نه مانځه دپاره نه بل دخه وخت دپاره او په دے باندے اتفاق کړے دے تمامو معتد به علماؤ ولیکن شیخ ابو حامد دداؤد ظاهری نه ددے وجوب نقل کړے دے لیکن هغوی ویلے دی چه مسواك داسے واجب دے چه د هغے په پریخو دلو سره مونځ نه باطلیږی او داسحاق بن راهویه نه منقول دے چه مسواك واجب دے که چرے قصدا دے لره پریخودے شی نو مونځ باطلیږی .

او امونږ ورستو اصحابو دشیخ ابو حامد د روایت انکار کړے دے او وئیلے ئے دی چه دداؤد مذهب دادے چه مسواك سنت دے لکه جماعت او که چرے د داؤد نه مسواك وجوب ثابت شی بیا هم په اجماع کښې دده مخالفت ضرور نه کوی ځکه چه محققین علماء او اکثر په دے طرف ملے دی چه مسواك سنت دے او اسحق بن راهو یه نه دوجوب روایت صحیح نه دے بیا مسواك مستحب دے په ټولو وختو نو کښې لیکن پنځه وخته زیات مستحب دے یو خود مانځه په وخت کو که په او داسه سره وی یا په تیمم سره دوئم داوداسه په وخت دریم دقرآن دتلاوت په وخت څلورم دخوب نه دبیدارئ پنځم دخلے دتغیرپه وخت او دا تغیر یا خو د خوراك او څښاك نه کیږی یا د بدبو دار څیز د خوړلو نه یا د ډیروخته پورے دخلے پاتے کیدو نه یا د ډیروخبرو دکولو نه او د امام شافعی مذهب دادے چه مسواك دروژه دار دپاره مکروه دے دغرمے دوخت نه پس ددے دپاره چه د روژه دار دخلے بوئ چه هغه نه دخوراك نه پیدا شوے وی او هغه الله پاك ته غوره دے او مستحب دے چه مسواك دپیلو وی

او که چرے په یوداسے څیز سره او کړی چه په هغے سره دخلے تغیر ختم شی نو مسواك به ادا کړے شی لکه په زیږے کپړے سره او سعد سره یا اشنان سره (دغه شان په منجن سره) که چرے په ګوته سره نے او مږی او هغه ګوته نرمه وی نو مسواك نۀ ادا کیږی او که چرے سخت وی نو په هغے کښې درے قولونه دی یو خو مشهور دے چه نه کافی کیږی دوئم داچه که چرے بل څه

حیز دمسواك كولو دپاره میلاؤ نه شی نو كافی كیږی.

دریم او مستحب دادے چه په متوسط لرګی سره مسواك او كړے چه هغه نه ډیر كلك وی چه د هغے سره وری زخمی شی نه بالكل نرم او مستحب ده چه مسواك دخلے په عرض كښ او شی نه په لمبایی كښ داسے نه چه وری زخمی كړی او مسواك به ښه كرخوی دغه ښو نو په غاړو او ژبیلو او تمام حلق كښ او لا ندی د نرمئ سره او ورمبئ به دښی طرفنه شروع كوی او دبل مسواك كول دهغه په اجازت سره درست دے او هلك ته د معصوم والی نه د مسواك عدت وركوی ددے دپاره چه عادت شی.

(۵۸۹)عن ابی هریرة عن النبیّ صلے اللہ علیہ والہ وسلّم قال لولآان اشقّ علے المومنین وفی حدیث زهیر علیٰ امتی لامرتهم با السواک عند كلّ صلوة.[ابوداود : ۴۶، نسائی : ۵۳۳، ابن ماجه ۲۸۹]

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلی دی كه چرته په مسلمانانو باندے شاق (یعنی گرانیدے نه)او دز هیر په روایت كښ داسے دی چه كه زما په امت باندے شاق كید ے نه نو ما به هغوی ته حكم كړے وو دهر مانځه په وخت دمسواك كولو

فائده : نووی وائی داحدیث دلیل دے ددے خبرے چه مسواك واجب نه دے امام شافعی وائی كه چرے واجب وے نو هغه به حكم كړے وو اگر كه هغه بوج كیدے او یو جماعت دعلما ؤیلی دی ددے حدیث نه معلومیږی چه امر دوجوب دپاره دے دغه مذهب دے داكثرو فقهاؤاو دیو جماعت دمتكلمینو او داصحاب رسول او داهم معلومیږی چه كوم امر مستحب دے هغه ما مور به نه دے او داهم معلومیږی چه په كومه مسئله كښ دخدائے تعالی دطرفنه څه حكم رانه شی په هغے كښ رسول الله صلے الله علیه واله وسلم لره په خپل امت باندے څومره شفقت او اسانی منظوره وه او داهم معلومیږی چه دهر مانځه په وخت مسواك كول غوره دی(انتهی باختصار)

(۵۹۰)عن المقدام ابن شریح عن ابیه قال سألت عائشة قلت بای شیء كان یبدأالنبیّ صلے اللہ علیہ والہ وسلّم اذادخل بیته قالت بالسواک .[ابوداود : ۵۱، نسائی : ۸، ابن ماجه : ۲۹۰]

ترجمه : د ام المومنین حضرت عائشي رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم چه به کله کور ته راغے نو ورمبے به ئے مسواك کوؤ

(٥٩١) عن عائشة ان النبی ﷺ كان اذا دخل بيته بدا بالسواک [راجع: ٥٩٠]

ترجمه : د ام المؤمنین حضرت عائشي نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ به کله کور ته راغے نو ورومبے به ئے مسواك کوولو.

(٥٩٢) عن ابی موسی قال دخلت على النبي صلى الله عليه واله وسلم وطرف السواک على لسانه

[بخاری: ٢٤٣، ابو داود: ٤٩، نسائی: ٣]

ترجمه : دابو موسی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه زه درسول الله صلی الله علیه واله وسلم خوا له لاړم دمسواك یو طرف دهغه په ژبه باندے وو (یعنی په مسواك سره ئے ژبه صفاکوله.)

(٥٩٣) عن حذيفة قال كان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم اذاقام ليتهجد يشوص فاه با السواک.

[بخاری: ٢٤٥، ٨٨٩، ١١٣٦، ابوداود: ٥٥ نسائی: ١٦٢٠، ١٦٢١، ١٦٢٣، ابن ماجه: ٢٨٦]

ترجمه : دحذیفه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم چه به هر کله پاسید و د تهجدو د لوستو د پاره نو خله به ئے صفا کوله په مسواك سره (یا غاښو نه به ئے صفا کول په مسواك سره)

(٥٩٤) عن حذيفة قال كان رسول الله ﷺ اذا قام من الليل بمثله ولم يقولو اليتهجد: [راجع: ٥٩٣]

مذکوره روایت په دے سند سره هم مروی دے د الفاظو په څه لږه تبدیلی سره

(٥٩٥) عن حذيفة ان رسول الله ﷺ كان اذا قام من الليل يشوص فاه بالسواک: [راجع: ٥٩٣]

ترجمه : دحذیفه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم چه به هر کله پاسید و د تهجدو د لوستو د پاره نو خله به ئے صفا کوله په مسواك سره

(٥٩٦) عن ابن عباس انه بات عند نبي الله صلى الله عليه واله وسلم ذات ليلة فقام نبي الله صلى الله عليه واله وسلم من آخر الليل فخرج فنظر الى السماء ثم تلا هذه الاية في ال عمران ان في خلق السموت والارض واختلاف الليل والنهار حتى بلغ فقنا عذاب النار ثم رجع الى البيت فتسوک وتوضا ثم قام فصلى

ثم اضطجع ثم قام فخرج فنظر الی السمآء ثم تلا هذه الآیة ثم رجع فسوّک فتوضّأ ثم قام فصلی .

ترجمه : دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه هغه یو ه شپه درسول الله صلے الله علیه واله وسلم سره وو نو د شپے په آخره حصه کښې حضرت پاسیدو او بهر را اووتو اسمان طرفته ئے اوکتل او بیائے دا ایت اولو ستو چه په سورۃ آل عمران کښې دے انّ فی خلق السّموت والارض نه واخله دفقنا عذاب النار پورے بیا واپس شو دننه راغے او مسواك ئے اوکړو او اودس ئے اوکړو او په ولاړئے مونځ اولو ستلو او بیا سملا ستو بیا پا څید و او بهر ته او وتو او داسمان طرفته ئے او کتل او دغه ایت ئے اولو ستو او بیا واپس دننه راغے او مسواك ئے اوکړو او اودس ئے اوکړو او بیا او دریدو مونځ ئے اولو ستلو

فائده :۔ نووی وئیلے دی ددے حدیث نه لوئے فائدے او ښکلی احکام وتلے دی او امام مسلمؒ په دے مقام باندے دے حدیث لره مختصر ذکر کړے دے او پوره حدیث ئے په کتاب الصلوت کښې بیان کړے دے مونږ به هم هلته ددے شرح او فوائد بیا نوو. انشاء الله

﴿بَابُ خِصَالِ الْفِطْرَةِ﴾

باب:۔دسنت خبرو بیان

(۵۹۷)عن ابی هریرة عن النبیّ صلّے اللّٰه علیه واٰله وسلّم قال الفطرةُ خمسٌ او خمسٌ مّن الفطرة الختانُ والاستحدادُ وتقلیمُ الاظفار ونتف الابط وقصُّ الشّارب .[بخاری : ۵۸۸۹، ۵۸۹۱، ۶۲۹۷، ابوداود : ۴۱۹۸، نسائی : ۱۱، ابن ماجه : ۲۹۲]

ترجمه : د ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل فطرت پنځه دی یا پنځه خیزونه د فطرت نه دی ختنه کول (یعنی سنتول) او زیرے ناف ویختهٔ کټ کول او نوکان کټ کول او دَ ترخونو ویختهٔ ویستل او بریتان کټ کول .

فائده :۔ نووی وئیلے دی دفطرت نه دلته څه مراد دے په دے کښې علماؤ اختلاف کړے دے ابو سلیمان خطابیؒ وئیلے دی اکثر علماؤ دفطرت معنے سنت کړے ده او مطلب دادے چه داخیزونه دپیغمبر انو سنت دی او بعضو وئیلے دی دفطرت نه دین مراد دے بیا دهغے نه اکثر خیز

ونه واجب نه دی او د بعضے څیز ونو په جوب کښې اختلاف دے لکه ختنه او کلی او پوزے ته او به اچول ختنه کول دامام شافعیؒ او ډیر وعالمانو په نزواجب دی او په سړی او ښځو دواړو باندے واجب ده . په سړی باندے خودا چه دحشفے (یعنی دذکر په سر باندے) چه څو مره څرمن ده هغه ټوله تمامه کټ کولے شی چه پورا حشفه کهولا ؤشی او په ښځه باندے دا چه دفرج دپورته جانب نه یوه ټکړه دغو ښے کټ کړے شی او صحیح مذهب زمونږه چه په هغے باندے جمهور علماء دی دادے چه ختنه په ما شوم والی کښې جائز ده واجب نۀ ده .

او یو قول دادے چه په ولی باندے دَ نا بالغ ختنه کول واجب دی د هغه د بالغ کیدو نه وړاندے او یو قول دادے چه ختنه دلسو کالو نه وړاندے حرامه ده او صحیح داده چه ختنه دبچی د پیدائش په اوومه ورځ کول مستحب دی او دپیدائش ورځ به ور سره هم حساب وی او زمونږ بعضے ملګرو اختلاف کړے دے په خنثی مشکل کښې (یعنی په چاکښې چه دښځے او سړی ددواړو نښانی برابر موجود وی)بعضو ونیلے دی د هغه ختنه په فرج کښې کو ل پکار دی دبلوغ نه وروستو او بعضو ونیلے دی دکو مے پورے چه د هغه حال ښکاره شوے نه وی چه سړے دے یا ښځه ده دهغے وخته پورے د هغه ختنه کول نه دی پکار .

او دکوم سړی چه دوه ذکره وی (یعنی آله تناسل)که چرے دواړه دکا ر وی نو ددواړو ختنه به کولے شی ګنی کوم چه دکار وی د هغے ختنه به کوی او دکار نه مراد دبعضو په نزد متیاز یے ئی او بعضو په نزدجماع ده او که چرے یوسړے بے ختنے نه مړشی نو په هغے کښې درے قولونه ئی صحیح او مشهور قول دادے چه ختنه به نے نه کوی خواه که هغه وړوکے وی یا لوئے دویم دادے چه ختنه به کوی دریم دادے چه لوئے وی نوکوی به ئے چه وړو کے وی نو نه به ئے کوی (انتهی)دنامه نه لاندے وېښته لرے کول په چاړه سره او دا سنت دی او مقصود دادے چه مقام پاك اوصفاشی او غوره خریل دی او قینچی کول او وېستل دوېښتو هم درست دی دغه شان به دارولرے کول هم درست دی او مراد دنامه نه لاندے هغه وېښته دی چه هغه په ذکر باندے وی او د هغے نه ګیر چاپیره دغه شان هغه وېښته چه دښځے دفرج (دوړوبولو داندام) خواؤشانه وی ابو العباس بن شریح وئیلے دی چه مراد هغه وېښته دی چه هغه د دبّر (یعنی دلو یو بولو داندام نه

چاپیره وی۔

بهرحال دقبل او دبر او دهغې خواوشاویخته تول خریل غوره دی اوس دهغې دپارعه څه میعاد مقرر نه دے کله چه ضرورت شی په هغه وخت نے خریل پکار دی یعنی هر کله چه ویخته لوئے شی دغه شان دبر یتو او ترخونو دویحتو دپاره او دنو کو نو دکټ کولو دپاره څه میعاد مقرر نه دے او دنامه لا ند دو یختو دپاره منقول دے چه دځلو یښتو ورځے کښ دننه دننه خریل پکار دی نه داچه څلویښت ورځے څه دخریلو میعاد دے۔(نووی)بعضے بے وقوف او بے عقل خلق داخیال کوی چه په شریعت محمدی کښں په داسے ورو ورو خبر و سره ولے بحث کیدے شی۔ دهغے جواب دادے چه داامر خود هغه شریعت دپاره ضروری دے چه دتولو شریعتو نو نه غوره او دتمامو ناسخ دے او اعلی هغه دے چه په هغے کښ دتمامو ضروریا تو تعلیم وی۔

او ورے ورے خبر ے سپکے گنړل او پریخودل او دهغے دتعلیم په طرف تو جه نه کول داخو دبے وقوفانو کار دے نه دعالمانو عاقلانو البته په دے امر کښں غور کول پکاردی چه داخبرے مفیدی منفعت بخش یابے کاره په غور کولو سره معلو میږی چه په شریعت محمدیٔ کښں چه دهغے حکم شوے دے هغه ادنی وی یا اعلی تول نه تول فائده مند او ضروری او فائده ور کونکی دی

یو دنامه لا ندے ویختو لرے کولو ته گوره چه علاوه د طهارت او نفاسیت نه طبعا هم دا قوت باه یعنی منی لره زیاتوی په دے شان نورو کارونو لره قیاس کره هغه سړے لوئے جاهل کم سمجه نادان او بے وقوفه دے چه هغه پیغمبر انو لره دځپل ځان برابر خیال کوی لو داگنړی چه دهغوی احکام تول مفید او ضروری نه شی کیدے۔

نوکو نه پرے کول داهم سنت دی واجب نه دی او مستحب دی چه ورمبی دواړولا سو نو نوکو نه پریکړی بیا ورپسے دخپو نوکو نه ورمبی به دښی لاس دکلمے د گو تے نه شروع کړی بیا دمینځ گوته بیا دهغے ملگری گوته بیا کچه گو ته بیا انگوټها یعنی کټه گوته بیا به دگس لاس نوکونه دکچے گوتے نه شروع او کړی او دگسے خپے په کچه گوته بهج نے ختم کړی (نووی) ترخونو وینته ویستل داپه اتفاق سره سنت دی او غوره داده چه اوئے باسی که چرے ویستے نے

شي او خره يل او دارولګول پرے هم درست دي او ديونس بن عبدا لاعلی نه منقول دے چه زه دامام شافعي خواله لاړم دهغه سره مزين وو هغه دهغه دتر خونو ويختـه خريل هغه اووے چه زه پوهه يم چه ويستـل ئے سنت دي ليکن زمانه نۀ کيږي دَ درد د وجے نه۔ (نووي)

مونـچ (يعـنـي بريت) کټ کول داهم سنت دي او مستحب ده چه دښي طرفنه کټ کول شروع کړي او اختيار دے چه که پخپله ئے کټ کوي يائے په بل باندے کټ کوي او دتر خ ويخته پخپله کټ کول غوره دي او که په بل سره ئے او خره وي نو هم جائز دي ليکن دنامه لا ندے ويخته هغه په خپلـه خره وي اوس په دے کښ اختلاف دے چه بريت دکوم ځائے پورے کټ کول پکار دي. مختـار قـول دادے چه دهغے پورے به ئے کټ کوي چه دشو نډے غاړه (کناره) ښکاره شي او بيـخ نـه بـه ئـے پـه چاړه سره نـه کټ کوي او هغه چه کوم په حديث کښ راغلي دي چه کټ کړئ بـريتـو لـره مـراد دهـغـے نـه دادے چه لږشان دشونډےنه او چت وي ۔دغه شان دږيرے دپريخو دو حکـم دے او دفارس دخلقو عادت وو چه هغو به ګيرو لره مونډئ کولے په شريعت کښ دهغے مما نعـت راغـے او علماؤ دږيرے په باره کښ لس دولس خبرے داسے ليکلي دي چه هغه يو ديو نه زياتے بدے دي.

(۱)يو خو پـه ږيـره بـابـنـدے تـو ر خضاب لګول هر کله چه دجهاد په غرض سره نه وي(۲) دويم ږيـرخضـاب لـګـول دنيـکـو خـلـقـو سره دمشابهت لګول په ګندهك وغيره سره ويختو لره زږ د سپيـنـو لـودپـاره ددے وجے نـه چه خلق ئے تعظيم او ادب کوي او دا او ګنړي چه بزرګ دے څلورم دخواتي په اولو ورخو کښ چه هر کله دږيرے ويخته را او خيژي نو دهغے ويستـل دز يبائش دپاره

(۵)پـنـځـم دسـپيـنـو ويختـو ويـسـتـل (۶)شپږم دو يختـو صفونه تړل يو بل پسے ددے دپاره چه ښـځـو تـه ښـه مـعـلـوم شي(۷)اووم دے لره کمول درخسارونو ويختـه خريل يا لو يه ول دکنپټي دو يختو سره يـو ځـائے کـول (۸)اتـم ګـو مـنـز کـول په نيت دنمائش (۹)نهم هغه پريشانه پريخو دل په بے پروايئي سره بار بار خپل ځان زاهد وښيلو لره(۱۰)دهغے تور والي يا سپين والي ته کتـل دغرور لو تـکـبـرٰ او فـخـرپـه نيـت سره(۱۱)يو لـسـم هغے لره تړل او رنګول (۱۲)دولـسـم هغے لره خره يل۔ که

دبنځے ږیره را او خیژی نو هغے لره خریل مستحب دی (انتهی)

(۵۹۹)عن انس ابن مالک قال قال انسؓ وُقّت لنافی قص الشارب وتقلیم الاظفار ونتف الابط و حلق العانة ان لانترک اکثر من اربعین لیلة . (ابوداود : ۴۲۰۰، ترمذی : ۲۷۵۸، ۲۷۵۹، نسائی : ۱۳، ابن ماجه : ۲۹۵)

ترجمه : انس بن مالک وئیلے دی زمونږ دپاره میعاد مقرر شوے دے دبریتو کټ کولو او دنوکونو پریکولو او دترخونو دویختو دو یستلو او دنامه دلا ندے دو یختو دخریلو چه پریږدو مونږ هغے لره دخلو یښتو ورځونه زیات .

(۶۰۰)عن ابن عمر عن النبی صلے الله علیه واله وسلم قال احفو الشوارب واعفو اللحی.

ترجمه : دعبدالله ابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے دی کټ کړی بریتو لره او پریږدوئ ږیرولره .

(۶۰۱)عن ابن عمر عن النبی صلے الله علیه واله وسلم انه قال باحفاء الشوارب واعفاء اللحیة.[نسائی]

ترجمه :۔ دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے دی مونږ ته حکم شوے دے دبریتو دزیلے نه کټ کولو او دږیرے د خریلو .

(۶۰۲)عن ابن عمر قال قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم خالفوا المشرکین احفو الشوارب واوفو اللحی.[بخاری : ۵۸۹۲]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے دی خلاف کوئ دمشرکانو او باسئ بریتو لره او پوره ساتئ ږیرولره (یعنی پریږدوئ هغے لره لنډه ول مه کوئ)

فائده :۔ داقول دے دیو جماعت زمونږ داصحابو نه او دډیر وعلماؤاو قاضی عیاض وئیلے دی دږیرے لنډه ول او قینچی کول مکروه دی او دهغے دطول او عرض نه دو یختو اخستل او برابره ول غوره دی او مکروه دی چه بنده ء خپله ږیره لویه کړی په شهرت سره لکه ږیره قینچی کړے او سلفو اختلاف کړے دے چه دږیرے حد څه دے بعضو وئیلے دی چه څه حدنشته مګردو مره به نے لویه وی چه مشهور کړے شی بلکه کمه به نے پریږدی لو امام مالک ږیرے لنډولو ته

مکروه ونیلے دی او بعضو یو موټے حد کړے دے خو مره قدرے چه دهغے نه زیات وی قینچی کول پکار دی او بعضو د ږیرے لنډه ول مطلقا مکروه ګنړلے دی مګر په دوران دحج یا دعمره کښ. او په بریتو کښ خو دسلفو داقول دے چه بالکل دزیلے نه قینچی کړے شی یا او خریلے شی ولے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم صفافرمایلے دی کټکوئ بویتو لره او داقول دے داهل کوفه ؤدخاوند انو دکوفے. او ډیر خلق ددے په طرف تلے دی چه دبریتو بالکل خریل مکروه دی او امام مالك رحمة الله علیه وئیلے وو چه دامثله ده او کوم خوك چه داسے کوئ هغوی له دے سزا ور کړے شی او مکروهه به نے ګنړل دهغے اخستل دپاسه نه.

او دهغه داقول دے چه احفاء او جزا او رقص دتولو معنی قینچی کول دی یعنی بریتو لوه قینچی کول پکار دی تر دے پورے چه دشونډو کناره ښکاره شی او بعضے علماؤ وئیلے دی چه په دے دواړو حکمونو کښ اختیار دے کوم چه غواړی کوی دے تمام شولو کلام دقاضی عیاض او مختار دادے چه ګیره خو په خپل حال باندے پریخودے شی په هغے کښ کمے نه کوی او بریتو نه دو مره کټ کړیی چه دشونډے کناره ښکاره پاتے شی. (نووی)

(٢٠٣)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ جُزُّوا الشَّوَارِبَ وَاَرْخُوا اللُّحٰی خَالِفُوا الْمَجُوْسَ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے دی کټ کوئ بریتو لره او ځنګوئ ږیرو لره او خلاف کوئ دفارسیانو (یعنی آتش پرستو).

(٢٠٤)عَنْ عَآئِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ عَشْرٌ مِّنَ الْفِطْرَةِ قَصُّ الشَّارِبِ وَاِعْفَآءُ اللِّحْیَةِ وَالسِّوَاكُ وَاسْتِنْشَاقُ الْمَآءِ وَقَصُّ الْاَظْفَارِ وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ وَنَتْفُ الْاِبِطِ وَحَلْقُ الْعَانَةِ وَانْتِقَاصُ الْمَآءِ قَالَ زَکَرِیَّا قَالَ مُصْعَبٌ وَنَسِیْتُ الْعَاشِرَةَ اِلَّا اَنْ تَکُوْنَ الْمَضْمَضَةُ زَادَ قُتَیْبَةُ قَالَ وَکِیْعٌ اِنْتِقَاصُ الْمَآءِ یَعْنِی الْاِسْتِنْجَاءَ.

[ابوداود: ٥٣، ٢٧٥٧، نسائی: ٥٠٥٥، ٥٠٥٦، ٥٠٥٧ ابن ماجه: ٢٩٣]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله صلے الله

علیه واله وسلم فرمایلی دی لس خبرے پیدائشی سنت دی یو بریتو نه کټ کول دوئم ږیره پریخو دل دریئم مسواك کول خلورم په پوزه کښې او به اچول پنځم نو کو نه پریکول شپږم دیوړو وینځل (دغوږ دننه او پوزه او دترخ اود پتونانو وینځل)اووم دترخ ویختـه ویستل اتم (۸)دنامه دلا ندې ویختـه اخستـل نهم(۹)په او بو سره استنجا کول (یا په شر مگاه باندے داودس نه پس لږے شان اوبهٔ شیندل)(۱۰)خبره هیره شوه کیدے شی چه غرغره کول وی. وکیع ونیلی دی دانتقاص الماء نه (کوم چه حدیث کښې راغلی دے)استنجاء مراد ده.

(۶۰۵) عم مصعب بن شیبة فی هذا الاسناد مثله غیر انه قال ابوه ونسیت العاشرة : [راجع : ۶۰۴]

ترجمه : په دے سند سره هم مذکوره بالا حدیث منقول دے.

باب الاستطابة :

باب: داستنجا بیان

(۶۰۶) عن سلمان قال قیل له قد علمکم نبیکم صلی الله علیه واله وسلم کل شیئ حتی الخرآءة قال فقال اجل لقد نهانا ان نستقبل القبلة لغآئط اوبول اوان نستنجی بالیمن اوان نستنجی باقل من ثلثة احجار اوان نستنجی برجیع او بعظم. [ابوداود : ۷، ترمذی ۱۶. نسائی ۴۱. ابن ماجئی : ۳۱۶]

ترجمه : دسلمان رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه هغه ته اوویلے شو ستا سو نبی تاسو ته هره یوه خبره ښودلے تردے پورے چه پاخانه (غل)او پشاب (متیازو)لره هم هغوی اووے ها! مونږ هغه منع کړی یو دقبلے په طرف کولو نه نو دمتیازو او پاخانے دپاره یا چه مونږ استنجا کوو په ښی لاس سره یا د دریو کتهو نه په کم استنجا کولو سره یا په غوشانو او هدو کی سره داستنجا کولو نه.

فائده : نووی ونیلی دی په دے مسئله کښې دعلما ؤ څو مذهبو نه دی یو خود امام مالك او امام شافعی مذهب دے هغه دادے چه دمتیازو او پاخانے په وخت دقبلے طرفته مخ کول په ځنګل کښې حرام دی مگر په ابادئ کښې حرام نه دی او دا روایت دے دعباس بن عبد المطلب او عبدالله بن عمر رضی الله عنهم او شعبی او اسحق بن راهو یه او امام احمد بن حنبل نه دویم

مذهب دادے چه هر ځائے حرام دی که په ځنګل کښې وی یا ابادی کښې او داقول دے دابو ایوب انصاریؓ او مجاهدؒ نه ابراهیم نخعی او سفیان ثوریؒ او دابو ثورؒ او داحمدؒ په دویم روایت کښې. دریم مذهب دادے چه هر ځائے درست دی که په کور کښې وی یا په ځنګل کښې او دامذهب دے دعروه ابن زبیرؓ او ربیعه چه شیخ وو دامام مالك او داؤد دظاهریؒ.

څلورم مذهب دادے چه قبلے طرفته مخ کول چرته هم درست نه دی نه په ځنګل کښې نه په کو کښې لیکن شا کول ورته درست دی او دا یو روایت دے دامام ابو حنیفهؒ او امام احمدؒ نه. ددویم مذهب والا ؤدلیل هغه صحیح حدیثو نه دی چه هغه مطلقا په ممانعت کښې واردی لکه دسلمان رضی الله عنه حدیث او د ابو ایوبؓ او ابو هریرهؓ وغیره هما هغوی وئیلے دی چه دامما نعت دقبلے دعظمت په سبب دے او داخبره هر ځائے موجوده ده خواه که ځنګل وی یا مکان وی او که دکور دپردے په وجه دا امر جائز وی نو پکار ده چه په ځنګل کښې هم جائز وی ځکه چه په ځنګل کښې زمونږ او دکعبےؓ په مینځ کښې غرونه او نالے وغیره حائل دی. ددریم مذهب والا ؤدلیل دابن عمر حدیث دے چه هغوی رسول الله صلے الله علیه واله وسلم لره دبیت المقدس طرفته مخ کړے او دکعبے طرفته شا کړے لیدلے دے دحاجت په وخت اودحضرت عائشےؓ حدیث دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم ته داخبر او رسیدو چه بعضے خلق قبلے طرفته مخ کول دحاجت په وخت مکروه ګنړی هغه او فرمایل ها! داسے خیال کوه بیا هغه او فرمایل زما کهډی دقبلے په طرف کړئ.

دے حدیث لره امام احمدؒ په خپل مسند کښې او ابن ماجه په اسناد حسن روایت کړے دے دڅلورم مذهب والا ؤدلیل دسلمانؓ حدیث دے دورمبی مذهب والا ؤدلیل دعبدالله بن عمرؓ حدیث دے او دحضرت عائشےؓ او حدیث دجابرؓ رسول الله صلے الله علیه واله وسلم منع کړے ده په متیازو کښې دقبلے په طرف دمخ کولو نه بیاما او لیدو هغهؓ دوفات نه یو کال مخکښې هغه دقبلے طرفته مخ کړے وو روایت کړے دے دے لره ابو داؤد او ترمذی وغیر هما اؤپه اسناد حسن سره او حدیث دمروان اصفر چه ما ابن عمر لره او لیدو هغوی او بنه کینوله دقبلے مخے ته بیائے دهغے په پناه‌ئ کښې متیازے او کړلے. ما اووے چه داخو منع دی هغوی اووے منع هله دی هرکله چه په

هموار میدان کښې داسې او شي که چرې په قبله کښې او داستنجا کولو والا په مینځ کښې څه څیز
حائل وي نو منع نشته روایت کړې دې دې لره ابو داؤد او داحدیثونه صحیح دي چه دهغې نه ددې
امر جواز په مکان کښې ثابتیږي او دابو ایوب او سلمانؓ او دابو هریرةؓ حدیثو نه چه په مما نعت
کښې وارد دي هغه محمول دي په صحراء باندې ددې دپاره چه جمع کړې شي په حدیثو کښې او
داأمر متفق علیه دې چه په حدیثو کښې جمع کول ضرور دي هر کله چه جمع شي او دلته
خو جمع ممکنه ده او په ځنګل او مکان کښې صرف فرق دادې چه په ځنګل کښې دقبلې په طرف
دمخ کولو او شاکولو ضرورت نشته او په مکان کښې کله ضرورت وي مثلاً کهډې په دې طرف
جوړې وي یا په بل طرف ځائې نه وي .

لو چا چه شاکول درست ګڼړلي دي دهغې د رد دپاره ډیر قسم صحیح موجود دي چه په هغې کښې
مطلقا مما نعت راغلې دې لکه دابو ایوبؓ وغیره حدیث اوس دامام شافعیؒ دمذهب موافق په
کور کښې دقبلې په طرف مخ او شا کول هغه وخت درست دي هر کله چه دیوال دمکان نه ددرېو لا
سو یا دهغې نه په کمه فاصله باندې وي او هغه دیوال دپردې دومره قدرې دنګ وي چه داعضاء
اسفل پرده ترې راتلې شي دهغې اندازه نې دپالا ن دورستی لرګی سره کړې ده او هغه دلاس دوه
دومره برابر وي بیا که چرې ددریو لاسو نه زیاته فاصله وي یا پرده دهغې نه وړه وي نو مخ کول یا
شا کول به حرام وي په مثل دځنګل او زمونږ دبعضې اصحابو په نزد په هر حال کښې په مکان
کښې داامر درست دې او په ځنګل کښې درست نه دې لیکن صحیح ورمبې قول دې او څه فرق
نشته دې په پرده کښې خواه که دخادر وي یا دیوال یا دخت یا دغر او کچرې خپله لمن قبلې طرفته
زوړنده کړي نو په هغې کښې اختلاف دې صحیح داده چه درست دي ځکه چه پرده او شوله اوس
کوم ځائې چه مخ کول یا شا کول درست دي هلته هم کراهت دې لیکن دجمهورو په نزد مکروه
نه دې او مختار دادې چه که چرې تکلیف او حرج وي بل طرفته دمخ کولو یا شا کولو سره نو
مکروه نه دي او که تکلیف یا حرج نه وي نو مکروه دي او جماع کول درست دي دقبلې په طرف
دمخ کولو سره په کور کښې وي یا په ځنګل کښې زمونږ ه او ابو حنیفهؒ او امام احمدؒ او داؤد
ظاهريؒ دغه قول دې

او مالکی خلقو په دے کښې اختلاف کړے دے ابن قاسم دے لره جائز بیت المقدس په طرف مخ یا شا کول درست دی لیکن مکروهه دی او کچرے دپا خانے یا متباز و کولو په وخت دقبلے په طرف دمخ یا دشا کولو نه بچ شی بیا داستنجا په داسے او کړی نو جائز دی . په ښی لاس سره استنجا کول بالاتفاق منع دی مگر حرام نه دی او بعض اهل ظاهر و په نز حرام دی زمونږ اصحاب وائی ... په ښی لاس سره داستنجا متعلق څه کار مه اخلئ مگر په عذر سره که چرے په اوبو سره استنجا کوی نو په ښی لاس سره داوبه غوږ خوی او په گس لاس دے مړی دوړوبولو اندام لره یا دلویو بولو اندام لره . اوکه چرے په لوټه سره استنجا کوی نو مقعد لره (یعنی دبر به په ښی لاس سره صفاکوی او ذکر (یعنی دنارینه دوړوبولو اندام) لره به لوټه په زمکه باندے یاد دواړو خپلو په مینځ کښې کیږدی او وچوی به نے او په گس لاس سره به ذکر او نیسی او ځوك چه داسے نه شی کولے نو لوټه به په ښی لاس سره او نیسی او ذکر به په گس لاس سره پاکوی او ښی لاس به نه خوزوی او زمونږ بعضے اصحابو وئیلی دی چه ذکرلره به په ښی لاس سره نیسی او لوټه به په گس لاس کښې اخلی خو داصحیح نه دے (نووی)ددریو گټو نه په کمه نے استنجا کول منع فرمایلی دی نووی وائی ددے حدیث نه صفامعلومیږی چه درے واره او چول واجب دی او په دے مسئله کښې دعالمانو اختلاف دے زمونږ مذهب دادے چه په لوټه سره دپلیتئ لرے کول ضروری دی او درے ځله صفائی ضروری ده کچرے په یو ځل یا دوه ځله سره پلیتی لرے شوه نو په دریم وار صفائی ضروری ده او داقول دے داحمد بن حنبل او اسحاق بن راهویه او ابو ثور لو مالك

او داؤد وئیلی دی چه واجب صفا کول دی دپلیتئ نه که چرے په یوه لوټه سره هم صفائی او شی نو پوره ده او زمونږ دبعضے اصحابو هم دغه قول دے لیکن مشهور مذهب دغه دے کوم چه وړاندے بیان کړے شو زمونږ اصحابو وئیلی دی چه که چرے په داسے لوټه یا گټه سره استنجا کوی چه دهغے درے گوټونه وی او په هریو گوټ سره نے یو یو ځل پاك کړی نو پوره به کړے شی ځکه چه مقصود درے ځله پاکول دی او درے گټے یالوټے غوره دی دغه شان دیوے گټے یا دیو لوټے نه . او که چرے دوړاندے ورستو دواړو طرفونو صفائی کوی نو شپږ ځله صفائی ضروری ده

لوغوره داده چه شپیږ لوټے وی لیکن که یو ه لوټه شپږو گوټونو والا وی نو درسته ده.
دغه شان په غټه کپړه سره چه د هغے دوه طرفته لوندوالے نه رسی استنجا کول درست دی زمونږ اصحابو ونیلے دی چه که چرے په درے لوټو سره صفائی او شوه نو اوس به ځلورمه نه اخلی او نه ځلورمه اخستل ضروری دی که چرے په ځلورمه سره صفائی راغله نو پنځمه اخستل واجب دی اوس به شپږمه نه اخلی. اوکه چرے په پنځمه سره صفائی او نه شوه نو شپږمه اخستل واجب دی او کچرے په شپږمه سره صفائی او شوه نو او ومه اخستل مستحب دی دطاق کولو دپاره غرض کلیه داده چه که چرے صفائی په طاق ږیره اوشی نو اوس به بله نه سیوا کوی او که په جفت سره او شی نو یو ه به سیوا کړی طاق به نے کړی او رسول الله صلے الله علیه واله وسلم چه کوم په حدیث کښ دګټو ذکر کړے ددے نه بعضے اهل ظاهرو سړاد ګټے نه په بل خیز باندے استنجاء کول ناجائز ګڼړلے دی او داکثر وعالما نو داقول دے چه دګټے څه تخصیص نشته بلکه په کپړه او لرګی باندے هم استنجا درسته ده او غرض دادے چه داسے خیز وی چه په هغے سره پلیتی لرے شی او دا کارسیوا دګټے نه په نورو خیز ونو باندے هم کیدے شی. او رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دګټو ذکر ددے دپاره کړے دے چه اکثر ګټے دسهولت سره میلا و یږی او دلیل د هغے دادے چه هغه منع کړے ده په هډو کی او غو شانو سره او لید سره داستنجا کولو نه کچرے دګټے تخصیص منظور وے نو سیو ادګټے نه به نے دنورو تولو خیزونو نه منع کړے وه (نووی) په غو شانو او هډو کی سره استنجا کول منع دی نووی وائی دغو شانو نه مراد هر یو نجس یعنی پلیت خیز دے څکه پر استنجا کول درست نه دی او د هډو کی ممانعت ددے وجے نه دے چه هغه د پیر یانو خوراك دے دغه شان د هر یو خوراك په خیز استنجا کول منع دی او د څناور په هر یو جز. سره او دکتا بونو په پاڼړو سره نجس خیز که نرم وی داوبو پشان یا جمع شوے وی په هغے سره په څه شانله استنجا جائز نه ده کچرے چاه دے سره استنجا او کړه نو درسته به نة وی. بیابه په پاکو او بو سره استنجا کول غواړی لوټه به کافی نه وی څکه داستنجا مقام بیلمازه شولو ه اجنبی پلیتی سره او چا چه دخه خوراك په خیز سره استنجا او کړه نو صحیح داد ه چه درسته به وی په لوټه سره استنجا د هغے نه پس کافی ده . اګرچه پلیتی دځپل مقام نه زیاته

شوے نه ده او بعضے وائی استنجا به درسته وی مګر ګنهګا به وی (نوویؒ)

(۶۰۷)عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ لَنَا الْمُشْرِكُوْنَ انِّيْ ارى صَاحِبَكُمْ يُعَلِّمُكُمْ حتّى يُعَلِّمُكُمْ الْخِرَاءَةَ فَقَالَ اجَلْ اِنَّهُ نَهَانَا اَنْ يَّسْتَنْجِيْ اَحَدُنَا بِيَمِيْنِهِ اَوْ يَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ وَنَهَانَا عَنِ الرَّوْثِ وَالْعِظَامِ وَقَالَ لَا يَسْتَنْجِيْ اَحَدُكُمْ بِدُوْنِ ثَلٰثَةِ اَحْجَارٍ .[راجع : ۶۰۶]

ترجمه : دَ سلمانؓ نه روایت دے چه مونږ ته مشرکانو اووے مونږ وینو ستا سوصاحب لره هغه تاسوته هر څیز ښائی تردے چه لوئے او واړه بول کول هم سلمانؓ اووے بیشکه هغهٔ مونږ منع کړی یو په ښی لاس سره داستنجا کولو نه یاد قبلے په طرف دمخ کولو نه (په حالت دَلویو بولو کولو کښې)او منع کړے ئے یو مونږ په غو شانو او هډو کو سره داستنجا کولو نه او هغه فرمائیلے دی څوك دستاسونه استنجا نه کوی ددریو ګټونه بغیر یادَدریو ګټونه په کم کښې ـ

(۶۰۸)عَنْ جَابِرٍ يَّقُوْلُ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ اَنْ يُّتَمَسَّحَ بِعَظْمٍ اَوْ بِبَعْرٍ .[ابوداود : ۳۸]

ترجمه : دجابر رضی الله عنه نه روایت دے منع کړے ده رسول الله صلی الله علیه واله وسلم دپاکولو دهډو کی یاد پچو نه (یعنی استنجا لره په دے څیز ونو سره)

﴿بَابُ اِسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ بِغَائِطٍ اَوْبَوْلٍ﴾

باب :دلو یو بولو او متیاز و په وخت دقبلے په طرف دمخ کولو حکم.

(۶۰۹)عَنْ اَبِیْ اَيُّوْبَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا اَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوْهَا بِبَوْلٍ وَلَا غَائِطٍ وَلٰكِنْ شَرِّقُوْا اَوْ غَرِّبُوْا قَالَ اَبُوْ اَيُّوْبَ فَقَدِمْنَا الشَّامَ فَوَجَدْنَا مَرَاحِيْضَ قَدْ بُنِيَتْ قِبَلَ الْقِبْلَةِ فَنَنْحَرِفُ عَنْهَا وَنَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ .[بخاری : ۱۴۴، ۳۹۴، ابوداود : ۹، ترمذی : ۸، نسائی : ۲۱، ۲۲، ابن ماجه : ۳۱۸]

ترجمه : دابو ایوب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلے دی هر کله چه تاسودپاخانے یعنی دحاجت دپاره کینئ نو دقبلے په طرف مه مخ کوئ او شا کوئ دهغے په طرف لو یو بولو کښې یا متیاز وکښې البته یا یورپ یا د پچهم په طرف مخ کوئ

ابو ایوب رضی الله عنه ونیلے دی بیا مونږ دشام ملك ته راغلو څه گوروچه دبولو ځایو نه دقبلے په طرف جوړ شوے دی مونږ به دهغے نه مخ اړولو اودخدائے نه به مواستغفار غوښتلو۔

فائده: نووی وائی داد مدینے والو دپاره حکم دے یا چاقبله دیورپ او پچهم په طرف نه دی۔

(۲۱۰)عن ابی هریرة عن رسول الله ﷺ قال: اذا جلس احدکم علی حاجة فلا یستقبلن القبله ولا یستدبرها:

ترجمه: دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلے دی چه هر کله ستاسو نه څوك دحاجت دپاره کینی نو دقبلے په طرف باندے دے نۀ مخ کوی او نه دے شاه کوی .

﴿بَابُ الرُّخْصَةِ فِیْ ذٰلِکَ فِیْ الْاَبْنِیَةِ .﴾

باب: په کورونو کښی ددے امر داجازت بیان.

(۲۱۱)عن واسع بن حبان قال کنت اصلے فی المسجد وعبد الله ابن عمر مسند ظهره الی القبلة فلما قضیت صلوتی انصرفت الیه من شقی فقال عبد الله یقول ناس اذاقعدت للحاجة تکون لک فلا تقعد مستقبل القبلة ولا بیت المقدس قال عبد الله ولقد رءیت علے ظهر بیت فرأیت رسول الله صلے الله علیه واله وسلم قاعدا علے لبنتین مستقبلا بیت المقدس لحاجته .[بخاری: ۱۴۵، ۱۴۸، ۱۴۹، ۳۱۰۲، ابو داود ۱۲، ترمذی: ۱۱، نسائی: ۲۳، ابن ماجه: ۳۲۲]

ترجمه: دواسع بن حبان نه روایت دے ما مونځ لو ستلو په جماعت کښی او عبدالله بن عمرؓ په خپله شاسره دقبلے په طرف ډډه وهلے ړه ناست وو کله چه ما مونځ او کړو نو دیو طرفنه هغه ته را اوگرځیدم عبدالله اووے خلق وائی چه هر کله حاجت ته کینی نوقبلے او بیت المقدس طرفته مه مخ کوی او زه چهت ته او ختم نو رسول الله صلے اله علیه واله وسلم مے په دو وخښتو باندے ناست او لیدو دحاجت دپاره بیت المقدس طرفته ئے مخ کړے وو(او هر کله چه بیت المقدس طرفته مخ شی نو دقبلے طرفته شا راځی)

(۶۱۲)عن ابن عمر قال رقیت علی بیتی اختی حفصة فرایت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قاعدا لحاجته مستقبل الشام مستدبر القبلة.[راجع: ۶۱۱]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه زه دخپلے خور حضرت حفصہ کورته اوختم ما رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لره او لیدو دحاجت دپاره ناست وو شام طرفته ئے مخ وو او قبلے طرفته ئے شا وه.

﴿بَابُ النَّهِيُ عَنِ الْاِسْتِنْجَاءِ بِالْيَمِيْنِ.﴾

باب: په ښی لاس سره داستنجا، کولو دمما نعت بیان.

(۶۱۳)عن ابی قتادة قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لایمسکن احدکم ذکره بیمینه وهو یبول ولا یتمسح من الخلاء بیمینه ولایتنفس فی الاناء .[بخاری: ۱۵۳، ۵۶۳۰، ابوداود: ۳۱، ترمذی: ۱۵، نسائی: ۲۴، ۲۷، ۴۷، ابن ماجه: ۳۱۰]

ترجمه: دابو قتاده رضی اله عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی خوك دستا سو نه خپل ذکر دوړو بولو کولو په وخت کښی په ښی لاس کښی نه نیسی او دلوبو بولو نه پس دے په ښی لاس سره استنجا نه کوی او لوښی له به پوکے نه ورکوی.

فائده: نووی وئیلے دی په استنجاء کښی ذکر په ښی لاس سره نیول مکروه دی په مکروه تنزیهی نهٔ تحریمی لکه چه پورته تیر شو او مقصود دادے چه په ښی لاس سره به څه قسم مدد نه اخلی په استنجاء کښی او په لوښی کښی پوکے کول ددے دپاره منع شو چه کیدے شی دخلے یا دپوزے نه څه څیزاوځی او په اوبو کښی او غور ځیږی لیکن داوبو نه بهر درے ځله پو کل سنت دی.

(۶۱۴)عن ابی قتادة قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اذا دخل احدکم الخلاء فلا یمس ذکره بیمینه [راجع: ۶۱۳]

ترجمه: دابو قتاده رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلی دی هر کله چه څوك ستا سو نه تشی کولو ته لاړشی نو نه به نیسی ذکر خپل لره په ښی لاس سره.

(۶۱۵)عن ابی قتادة ان النبی صلے اللہ علیہ والہ وسلم نہی ان یتنفس فی الاناء وان یمس ذکرہ بیمینہ وان یستطیب بیمینہ. [راجع: ۶۱۳]

ترجمہ: دابو قتادہ رضی اللہ عنہ نہ روایت دے رسول اللہ صلے اللہ علیہ والہ وسلم منع فرمایلے دہ پہ لوښی کښې دپو کلو نہ او خپل ذکر لرہ پہ ښی لاس سرہ دنیولو نہ او لاس سرہ داستنجاء دکولو نہ۔

باب التمین فی الطهور وغيره

باب: پہ طہارت وغیرہ کښې دښی طرفنہ دشروع کولو بیان۔

(۶۱۶)عن عائشة قالت: كان رسول الله صلے الله عليه واله وسلم ليحب التيمن في طهوره اذا تطهر وفي ترجله اذا ترجل وفي انتعاله اذا انتعل. [بخاری: ۱۶۸، ابوداود: ۴۱۴۰، ترمذی: ۶۰۸، نسائی: ۱۱۲]

ترجمہ: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی اللہ عنہا نہ روایت دے چہ رسول اللہ صلے اللہ علیہ والہ وسلم بہ غوږہ کول دښی طرفنہ شروع کول پہ طہارت کښې او پہ منګز (ګومنز)کولو کښې او پہ پیزار پخپو کولو کښې

فائدہ: نووی وائی دایوہ قاعدہ مستمرہ دہ پہ شروع کښې او هغه دا دہ چہ کوم کار پہ دنیا کښې لرشان عزت لری لکہ جامے اغوستل او پیزار پخپو کول او جماعت تہ تلل او مسواک او رانجہ لګول او نوکونہ پرېکول او بریت خربل او ویښتہ ګومنزہ ول او دترخ ویښتہ خربل او سلام ګرځول دما ښخہ نہ پس او د اوداسہ اندامونہ وینځل او د پاخانے نہ وتل او خوړل او څکل او مصافحہ کول او حجر اسود ښکلول او کومے خبرے چہ ددے پہ شان دی پہ هغے ټولو کښې دښی طرفنہ شروع کول او جامے ویستل او کوم کارونہ چہ ددے پہ مثل دی پہ هغے کښې دګس طرفنہ شروع کول مستحب دی او داتمام پہ دے وجہ سرہ چہ ښی طرف لرہ پہ ګس طرف باندے برتری بزرګی او شرف دے۔ او اجماع کړے دہ علماؤ پہ دے باندے چہ پہ او داسہ کښې ښی لاس ښی خپو نرہ وړاندے وینځل سنت دی کہ حرے ددے نہ خلاف او کړی نو فضیلت ختمیږی لیکن او

دس صحیح کیدے شی او دشیعه گانو په نزد دا امر واجب دے او دهغوی دخلاف څه اعتبار نشته دے او دګس طرفنه شروع کول اګر چه درست دی مګر مکروه دی .

شافعی صفاوئیلیدی او په سنن ابو داؤد او ترمذی کښ په اسانید حسنه دابو هريرؓ نه روایت دے چه رسول الله فرمایلی دی هر کله چه تاسو اغوندئ یا او دس کوئ نو دښی طرفنه شروع کوئ او دانص دے دښی طرفنه په شروع کولو کښ اوس ددے خلاف کول مکروه دی یا حرام دی او دعلماؤ اجماع ده په دے باندے چه حرام نه دی خو مکروهه دی . او بعضے اندامونه د اوداسه داسے دی چه په هغے کښ دښی طرفنه شروع کول مستحب نه دی بلکه دښی او ګس دواړو یو ځل طهارت کول پکار دی لکه دواړه غوږونه او دواړه اننګی که چرے دا نه شی کیدے نو دښی طرفنه دے شروع کړی(نوویؒ)

(٦١٧)عَنْ عائشة قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ فِيْ شَأْنِهٖ كُلِّهٖ فِيْ نَعْلَيْهِ وترجُّلِهٖ وطُهُوْرِهٖ. [راجع : ٦١٦]

ترجمه : دام المومنین حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دښی طرفنه شروع کول په هر یر کار کښ غوره کول په پیزار پخپو کولو کښ او په ګومنز کولو کښ او په طهارت کولو کښ (دبخاری په روایت کښ دی دکومے پورے چه ستا سونه کیدے شی په هر کار کښ)

﴿بَابُ النَّهْيِ عَنِ التَّخَلِّي فِي الطُّرُقِ وَالظِّلَالِ﴾

باب:باب په لاره لو سوری کښ دپاخانی غور خولو منا نعت .

(٦١٨)عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ اتَّقُوْا اللَّعَّانَيْنِ قَالُوْا وَمَا اللَّعَّانَانِ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ الَّذِيْ يَتَخَلّٰى فِيْ طَرِيْقِ النَّاسِ أَوْ فِيْ ظِلِّهِمْ .[ابو داود : ٢٥]

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلی دی ځان او ساتئ تاسو دلعنت دوؤ کارونو نه (یعنی دهغے په وجه سره به خلق پتا سو باندے لعنت کوی)خلقو اووے هغه دلعنت دوه کارونه کوم کوم دی هغه او فرمایل یو خو په لاره کښ (په

کومه باندے چه خلق ځی راځی)غل یعنی پاخانه غورځول دویم دسایه دار ځائے (چه هلته خلق په سوری کینی او آرام کوی)کښ لونے بول غوړ ځول (ددے دواړو کارونو نه خلقو ته تکلیف وی او هغه بدوائی لعنت کوی)

﴿بَابُ الْاِسْتِجْمَار بِالْمَاءِ مِنَ التَّبَرُّزِ﴾

باب : د قضائی حاجت نه بعد په اوبو سره استنجاء کول :

(۶۱۹)عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ دَخَلَ حَائِطًا وَتَبِعَهٗ غُلَامٌ مَعَهٗ مِيْضَاَةٌ وَهُوَ اَصْغَرُنَا فَوَضَعَهَا عِنْدَ سِدْرَةٍ فَقَضٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ حَاجَتَهٗ فَخَرَجَ عَلَيْنَا وَقَدِ اسْتَنْجٰی بِالْمَآءِ .

[بخاری : ۱۵۰، ۱۵۱، ۱۵۱، ۲۱۷، ۵۰۰، ابوداود : ۴۳، نسائی : ۴۵]

ترجمه : دانس بن مالك نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دیو باغ دننه لاړو او پسے هغه وریسے یو هلك لاړو دهغه سره یوه لوټه وغیره وه هغه هلك په مونږ ټولو کښ وړوکے وو هغه لوټه دیو بیرے په خواه کښ کینږوده بیا چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دخپل حاجت نه فارغ شو او بهر را او وتو نو په اوبو سره ئے استنجاء اوکړه.

(۶۲۰)عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُوْلُ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَاَحْمِلُ اَنَا وَغُلَامٌ نَحْوِيْ اِدَاوَةً مِّنْ مَّآءٍ وَعَنَزَةً فَيَسْتَنْجِيْ بِالْمَآءِ.

ترجمه : دانس بن مالکؓ نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم پاخانے ته تللو زه او یو بل هلك زما برابر د اوبو ډول (یعنی کوزه یا لوټه)او برچهی (وړه نیزه) راواخسته بیا هغه استنجاء اوکړه په اوبو سره (اوبرچهی ئے ددے وجے دځان سره ساتله چه هغه به مکے ته خخه کړی او مونځ به اولولی

(۶۲۱)عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ يَتَبَرَّزُ لِحَاجَتِهٖ فَاٰتِيْهِ بِالْمَآءِ فَيَغْسِلُ بِهٖ.

ترجمه : دانس بن مالکؓ نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم به دحاجت دپاره کهولا

ؤ میدان تہ تلو (دخلقو دنظر نہ لرے)بیابہ اوبہ هغه لرہ راوړے شوے او هغه به په هغے سره استنجاء کوله

فائده : نووی وائی ددے احادیث نه څو مسائل او وتل یو خودا چه دحاجت دپاره لرے تلل بسکاره دی دخلقو دنظر نه لرے دویمه دا چه کوم سړے فضیلت لری هغه دخپلو ملګرونه دچانه څه کار اخستلے شی دریمه دا چه خدمت دخاوندانو دفضیلت او صالحینو مستحب دے څلورمه دا چه په او بو سره استنجاء کول مستحب دی او صرف په کټه باندے دقناعت کولونه غوره دی او خلقو اختلاف کړے دے په دے مسئله کښ لیکن جمهور سلف او خلف او خاوندان دفتوی په دے طرف تلے دی چه په لوټه سره استنجاء کول او بیاپه اوبو سره وینځل غوره دی او ابن حبیب مالکی وئیلے دی چه لوټے کافی نه دی مګرپه هغه صورت کښ کله چه اوبه نه میلاویږی او بعضے علماؤ دهغه احادیثو نه استدلال کړے دے چه په لوښی سره اودس کول غوره دی دحوض یا تالاب داودس کولونه مګردا استدلال مقبول نه دے قاضی عیاض وئیلے دی ددے قول څه اصل نشته او نه درسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه دا امر منقول دے چه هغه حوض موندلے دے بیائے هغه پریخو دے وی او په لوښی سره ئے او دس اختیار کړے وی

﴿باب الْمَسْحِ علَے الْخُفَّيْنِ .﴾

باب :په موزو باندے دمسح کولوبیان

فائده : امام نووی وئیلے دی چه عالمانو اجماع کړے ده چه په موزو باندے مسحه جائزه ده په سفر او حضر دواړو کښ برابره خبره ده که ضرورت وی یا نه وی او اختلاف کړے په دے کښ هغه چاچه دهغوی داختلاف څه اعتبار نشته دامام مالك نه په دے کښ څو روایتونه دی او مشهور روایت دجمهورو موافق دے او دموزو مسح لره ډیرو صحابه ؤنقل کړے دے حسن بصری وئیلے دی ماته او یا ؤ صحابه کرامو وئیلے دی چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم په مزوباندے مسحه کوله او ما په شرح مهذب کښ دهغه صحابه ؤنه دااکثرونو مونه بیان کړے دی او څو بنے خبرے مے لیکلے دی او اختلاف کړے دے علماؤ چه مسح په موز باندے غوره ده یا

دخپو وینځل غوره دی۔
او دغه قول دے حضرت عمرؓ او ایوب انصاریؓ او یو جماعت دتا بعینوؒ په دے طرف تلے دی چه مسح غوره ده او دوئم روایت دادے چه دواړه برابر دی او ابن منذر دغے لره اختیار کړے دے او حکم او شعبیؒ او حماد وائی چه مسح غوراه ده داحمدؒ نه په دے باب کښ دوه روایتو نه دی صحیح دادے چه مسح غوره ده۔

(۶۲۲)عَنْ هَمَّامٍ قَالَ بَالَ جَرِيْرٌ ثُمَّ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلٰى خُفَّيْهِ فَقِيْلَ تَفْعَلُ هٰذَا فَقَالَ نَعَمْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ بَالَ ثُمَّ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلٰى خُفَّيْهِ قَالَ قَالَ الْاَعْمَشُ قَالَ اِبْرَاهِيْمُ كَانَ يُعْجِبُهُمْ هٰذَا الْحَدِيْثُ لِاَنَّ اِسْلَامَ جَرِيْرٍ كَانَ بَعْدَ نُزُوْلِ الْمَآئِدَةِ.[بخاری : ۳۸۷، ترمذی : ۹۳، نسائی : ۱۱۸ ، ۷۷۳، ابن ماجه : ۵۴۳]

ترجمه: دهمام نه روایت دے جریر متیازے او کړے بیائے او دس او کړو مسح ئے او کړه په موزو باندے خلقو اووے ته داسے کوے هغوی اووے ها! ما رسول الله صلے الله علیه واله وسلم لره او لیدو چه متیازے ئے او کړے بیائے او دس او کړو او مسح ئے او کړه په دواړو موزو باندے اعمش وائی ابراهیم ونیلے دی خلقو ته داحدیث ډیر ښهٔ معلو میدلو ولے چه جریرؓ دسوره مائدے دناز لیدو نه پس مسلمان شوے وو۔

فائده :۔او په سورهٔ مائده کښ داودس آیت دے چه په هغے کښ دخپو دوینځلو حکم دے اوس که چرے جریر رضی الله عنه ددغه سورت دَ ناز لیدونه وړاندے مسلمان شوے وی نو داگمان به کیدے شولو چه دهغه حدیث دسورهٔ مائدے په آیت سره منسوخ شوے وی ۔او هر کله چه هغه ددے دناز لیدو نه پس اسلام راوړے دے نو داگمان هیڅ کله نه شی چلیدے او په سنن بیهقی کښ دابراهیم ابن ادهمؒ نه روایت دے هغوی ونیلے دی مادموزو په مسح کښ دجریرؓ حدیث نه دے اوریدلے۔

(۶۲۳) عن الاعمش فی هذا الاسناد بمعنیٰ حدیث ابی معاویة غیر ان فی حدیث عیسیٰ وسفیان قال : فکان اصحاب عبد الله یعجبهم هذا الحدیث لان اسلام جریر کان بعد نزول المائدة : [راجع : ۶۲۲]

ترجمه: دا روایت په دے مذکور سند سره هم مروی دے او په دے کښ دا هم دی شه دَعبد الله

اصحابو تـه دا حدیث ښهٔ معلومیدو ځکه چه جریر دَ نزول سورهٔ مائدے نه بعد مسلمان شوے وو۔

(۲۲۳)عن حُذیفة قال کُنتُ مع النبیّ صلّے اللّٰهُ علیه واله وسلّم فانتهی اِلی سُباطة قوم فبال قائماً فتنحّیتُ فقال ادْنهٔ فدنوتُ حتی قُمتُ عند عقبیه فتوضأ ومسح علی خُفّیه.بخاری : ۲۲۴، ۲۲۵، ۲۴۷۱، ابوداود : ۲۳، ترمذی : ۱۳، نسائی : ۱۸، ۲۷، ۲۸، ابن ماجه : ۳۰۵، ۳۰۶، ۵۴۴]

فائده: نووی ونیلے دی علماؤ په دے حدیث کښ څوجهے بیان کړے دی یو خو هغه کوم چه دشافعیؒ نه منقول ده چه دعربو خلقو به دملاَ درد علاج په ولاړے دمتیاز وکولو سره کوولو مونږ داګنړو چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم هم دملاَ درد په وجه سره داسے کړے وی۔ دویمه وجه داده چه هغے لره بیهقی په ضعیفو اسناد و سره نقل کړے ده چه دَ هغه دَزنګونانو دننه درد وو۔

دریمه وجه داده چه هغه ته دکینا ستو ځائے نه میلاویدو ځکه هغه د ناچارئ به وجه ولاړ پاتے شو امام ابو عبدالله مازریؒ او قاضی عیاضؒ یو ه څلورمه وجه بیان کړے ده چه په ولاړے متیازو کولو کښ دلو یو بولو دنه وتلو اطمینان وی په خلاف دکینا ستلو او په دغه واسطه حضرت عمرؓ ونیلے دی چه په ولاړے متیازے کول دبر لره بند ساتی دے او دسٔی دوتلو نه او یوه پنځمه وجه هم کیدے شی هغه داده چه هغه په ولاړے متیازے ددے دپاره کړے وے چه ددے جواز معلوم شی مګر یو ځل نے داسے او کړو او همیشه عادت مبارک دهغه دا وو چه په ناستے به نے متیازو لره کولے دحضرت عائشے دحدیث نه دا امر ثابت دے هغوی ونیلے دی چه څوك تا سو ته اووائی چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم په ولاړے متیازے کړے دی نو هیڅ کله مهٔ منئ هغه همیشه په ناستے متیازو لره کولے ۔

روایت کړے دے دے لره احمدبن حنبلؒ او ترمذی او نسائی او ډیرو خلقو او اسناد ددے غوره دی او په ولاړے دمتیازو کولو په ممانعت کښ څو حدیثونه مروی دی هغه ثابت نه دی خود عائشےؓ داحدیث ثابت دے په دغه واسطه علماؤ ونیلے دی چه په ولاړے متیازے کول مکروهه دی که چرے عذر نه وی او داکراهت تنزیهی دے نه تحریمی ابن منذر په اشراق کښ

لیکلی دی چه علماوا اختلاف کړے دے په ولاړے متیازو کولو کښې نو دحضرت عمرؓ او زید بن ثابتؓ او ابن عمرؓ او سهل بن سعدؓ نه داامر ثابت دے چه هغوی په ولاړے متیازے کړے دی او دغه شان منقول دے ذانسؓ او علیؓ او ابو هریرةؓ نه او دغه شان وئیلے دی ابن سیرینؒ او عروه ابن زبیر او ابن مسعودؓ او شعبیؒ او ابراهیم بن سعد دے لره مکروه ګڼلے دی او ابراهیم بن سعد به دهغه سړی ګواهی نه قبوله چه هغه به په ولاړے متیازے کولے۔

په دے مسئله کښې یو درېم قول بل دے هغه دا چه که چرے دمتیازو ځائے داسے وی چه دهغے نه دمتیازو قطرے یعنی څاڅکی الوزی نو په ولاړے باندے متیازے کول مکروه دی او که چرے دڅاڅکو یره نه وی نو مکروه نه دی دامام مالکؒ دغه قول دے ۔ ابن منذر وېلے دی متیازے په ناستے کول زما په نزد غوره دی او په ولاړے هم درست دی او دا ټول ثابت دی درسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه تمام شو کلام دابن منذرؒ او دیو قوم په (روړی) باندے راتلل دمتیازو کولو دپاره نو دا به په هغه وجه سره وی چه هغه خلق دے لره بد نه ګڼړی بلکه هغه خوشحالیږی او چاته چه ناراضګی نه وی دهغه په زمکه متیازے کول یا دهغه خوراك خوړل درست دی لو دهغے ډیر مثالونه دی یا هغه ډیران خاص دهغه قوم نه وی بلکه دتمامو کورونو په صحن کښې مشترك وی لیکن دهغوی کورته نزدے وی بیا په دے وجه سره دهغوی په طرف نسبت شوے وی۔

او دا چه کوم هغه په ډیران باندے متیازے او کړلے او لرے ئے تشریف یو ړلونو حالانکه دهغه عادت داوو چه دحاجت دپاره به لرے تللو نو قاضی عیاض ددے داوجه بیان کړے ده چه هغه دخلقو په پو هه کولو کښې یا به هغه په خپلو کارونو کښې مصروف وو دفعتا هغه ته دمتیازو حاجت شوے وو او دغه وخت لرے تلل ممکن نه وو په دے وجه هغه ډیران ته ورغلو (نوویؒ) هغه او فرمایل نز دے راشه زه نزدے لاړم هغهٔ نزدے په دے وجه را او غوښتو چه دخلقو نه په پوهه شی دویمه دا چه دهغه غرض متیازے کول وو نه پاخانه او ددویم حدیث نه هم اطمینان وو ځکه چه خواته راتلو کښې څه قباحت نه وو (نوویؒ) تردے پورے چه دهغه دپوندو په خواکښې او درېدم بیا هغه او دس او کړ و لو په موزونے مسح او کړه) نووی وائی داحدیث په ډیرو زیاتو فائدو باندے مشتمل دے یو خو په موزو باندے مسح کول دویم په حضر کښے مسح جائز کېدا. دریم په ولاړے

متیازے جائز کیدل څلورم دمتیازے کونکی سره ددویم سړی دنزدے کیدو دجواز پنځم دمتیازے کونکی بل لره راغو ښتل دپردے دپاره شپږم دپردے کولو استحباب اووم دمتیاز وکولو دکورونو په خواه کښې.

(۶۲۵)عن ابی وائل قال کان ابو موسی یشدد فی البول ویبول فی قارورة ویقول ان بنی اسرائیل کان اذا اصاب جلد احدهم بول قرضه بالمقاریض فقال حذیفة لوددت ان صاحبکم لا یشدد هذا التشدید فلقد رأیتنی انا ورسول الله صلی الله علیه واله وسلم نتماشی فاتی سباطة قوم خلف حائط فقام کما یقوم احدکم فبال فانتبذت منه فاشار الی فجئت فقمت عند عقبه حتی فرغ: [راجع : ۶۲۳]

ترجمه : دابو وائل رضی الله عنه نه روایت دے ابو موسی رضی الله عنه به زیاته سختی کوله په متیازوکښې هغه به متیازے کولے په یو ه شیشه کښې او ویل به ئے چه په بنی اسرائیلو کښې به هر کله دچاپه بدن متیازے او لګیدے نو هغوی به څرمن خریله په (قینچیانو)سره حذیفةؓ اووے زه غواړم چه ابو موسی داسے سختی نه کولے نو غوره به وه زه درسول الله صلے الله علیه واله وسلم سره روان ووم هغه دیو قوم په ډیران باندے راغے ددیوال شاته هغه او دریدو لکه څنګه چه ستاسو نه څوك وی بیائے متیازے او کړے زه لرے واپس شوم هغهٔ راته اشاره او کړله نیزدے راشه !تردے پورے چه زهٔ دهغه پوندو په خواه کښې او دریدم دکومے پورے چه هغه د متیازو نه فارغ شوے نه وو.

فائده :۔دحذیفةؓ غرض ددے حدیث په بیانو لو کښې داوو چه دومره سختی دابو موسیٰؓ دستتو خلاف دی ولے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم په ولاړے ولاړے متیازے کړے دی او دڅاڅکوو غیره خیال نه دے کړے او په شیشه وغیره کښې ئے متیازے نه دی کړے لکه چه ابو موسیٰ کوی.

(۶۲۶)عن المغیرة بن شعبة عن رسول الله صلے الله علیه واله وسلم انه خرج لحاجته فاتبعه المغیرة باداوة فیها ماء فصب علیه حین فرغ من حاجته فتوضأ ومسح علی الخفین وفی روایة بن رمح مکان حین حتی.

[بخاری : ۱۸۲، ۲۰۳، ۲۰۶، ۲۹۱۸، ۴۴۲۱، ۵۷۹۹، ابوداود : ۵۳۵، وانظر فی مسلم ۹۵۲]

ترجمه : دَ مغیره ابن شعبه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دَ خپل حاجت پلره اووتلو لو دَ هغه نه

ورستو مغیرہ د اوبو یو ډول واخستو او اوونلو او کله چه حضور ﷺ د خپل حاجت نه فارغ شو نو اوبۀ ئے واچولے په حضور ﷺ باندے (یعنی د اودس په وخت کښې) بیا ئے اودس اوکړو او مسح ئے اوکړه په موزو باندے د ابن رمح په روایت کښې داسے دی سچه اوبۀ ئے واچولے په حضور ﷺ باندے تردے پورے چه فارغ شو حضور ﷺ د خپل حاجت نه (یعنی د اودس نه)

(۶۲۷) عن یحیی بن سعید بها الاسناد وقال فغسل وجهه ویدیه ومسح براسه ثم مسح علی الخفین.

[راجع: ۶۲۶]

ترجمه: مذکوره حدیث په دے سند سره هم راغلے دے په څه لږ غوندے زیادت سره.

(۶۲۸) عن المغیرة بن شعبة قال بینا انا مع رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ذات لیلة اذ نزل فقضی حاجته ثم جاء فصببت علیه من اداوة کانت معی فتوضا ومسح علی خفیه. ۳۵

ترجمه: دمغیره بن شعبه رضی الله عنه نه روایت دے زه یوه شپه درسول الله صلی الله علیه واله وسلم سره ووم هغه راکوز شو او دحاجت نه فارغ شو بیا هغه راغے نو ما هغه ته اوبه او غور څولے دډول (لوټے) نه چه زما سره وو هغه اودس او کړو او مسح ئے او کړه په موزو باندے.

فائده: نووی وائی ددے حدیث نه او داسامه بن زیدؓ دحدیث نه داامر ثابتیږی چه په او داسه کښې دنورونه مدد اخستل درست دی او په بعضے حدیثو کښې ددے نه مما نعت راغلے دے لیکن هغه ثابت نه دی زمونږ اصحابو وئیلے دی چه دامدد اخستل په دریے قسمه باندے دی یو خو دا چه په اوبو راوړو کښې دچا نه مدد واخلی او دانه مکروه دی او نه په دے کښې ممانعت شته، دویمه دا چه داندامونو په وینځلو کښې مدد واخلی یعنی دویم سړے د هغه اندامونه او وینځی دامگر دضرورت په وخت جائز دی دریمه دا چه بل سړے صرف اوبه واچوی د هغه پر یخو دل اولی دی کول ئے مکروه دی که نه دی نو په دے کښې دوه قولونه دی او هر کله چه څوک بل اوبه اچوی نا هغه به داودس کونکی کس طرفته ولاړوی.

(۶۲۹) عن المغیرة بن شعبة قال کنت مع النبی صلی الله علیه واله وسلم فی سفر فقال یامغیرة خذالاداوة فاخذتها ثم خرجت معه فانطلق رسول الله صلی الله علیه واله وسلم حتی توری عنی فقضی حاجته ثم جاء وعلیه جبة شامیة ضیقة الکمین فذهب یخرج یده من کمها [illegible] فاخرج یده من اسفلها فصببت علیه

فتوضأ وضوءه للصلوة ثم مسح على خفيه ثم صلى .[بخاری : ۳۶۳، نسائی : ۱۲۳، ابن ماجه : ۳۸۹]

ترجمه : دمغیره بن شعبه نه روایت دے چه زۀ په سفر کښې د رسول الله سره ووم حضور ﷺ اوفرمائیل اے مغیره ! د اوبو لوته راوړه ما راوړه او د حضور ﷺ سره اووتلم حضور ﷺ لاړو تر دے پورے چه زما د نظر نه غائب شو او د حاجت نه فارغ شو او واپس راغے نو حضور ﷺ یوه چغه اغوستلې وه د شام د تنګو نستونړو . حضور ﷺ اوغوستل لاسونه بهر کول د چغې نه خو هغه نۀ راوتل . حضور ﷺ د لاندے نه لاس راوستلو بیا ما د اوداسۀ اوبۀ پرے واچولے حضور ﷺ اودس اوکړو لکه څنګه چه به ئے د مونځ دپاره اودس کولو بیا ئے مسح اوکړه په موزو باندے لو بیا ئے مونځ اولوستلو .

(۶۳۰)عن المغيرة بن شعبة قال خرج رسول الله صلى الله عليه واله وسلم ليقضى حاجته فلما رجع تلقيته بالإداوة فصببت عليه فغسل يديه ثم غسل وجهه ثم ذهب ليغسل ذراعيه فضاقت الجبة فأخرجهما من تحت الجبة فغسلهما ومسح رأسه ومسح على خفيه ثم صلى بنا.[راجع : ۶۲۹]

ترجمه : دمغیره بن شعبه رضی الله عنه روایت دے رسول الله صلى الله علیه واله وسلم دحاجت په واسطه اووتو هر کله چه واپس شونو ما داوبو لوته راواخسته راغلم او هم ته م لوښه واچولے هغه دواړه لاسونه وینځل بیائے خله وینځله بیائے لاسونه وینځل غوښتل جبه تنګه وه آخر دواړو لاسو لره ئے دجبے دلاندے نه را او ویستل او اوئے وینځل هغے لره او په سر باندے ئے مسحه لو کړه لو په موزو باندے ئے مسحه او کړه او بیائے زمونږ سره مونځ او لوستلو .

(۶۳۱)عن المغيرة بن شعبة قال كنت مع النبي صلى الله عليه واله وسلم ذات ليلة في مسير فقال لي أمعك ماء قلت نعم فنزل عن راحلته فمشى حتى توارى في سواد الليل ثم جاء فأفرغت عليه من الإداوة فغسل وجهه وعليه جبة من صوف فلم يستطع أن يخرج ذراعيه منها حتى أخرجهما من أسفل الجبة فغسل ذراعيه ومسح برأسه ثم أهويت لأنزع خفيه فقال دعهما فإني أدخلتهما طاهرتين ومسح عليهما.[راجع : ۶۲۶]

ترجمه : دمغیره بن شعبه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے زه درسول الله صلى الله علیه واله وسلم سره په یو سفر کښې ووم هغه او فرمایل ولے ستاسو سره اوبه شته؟ ما اووے ها! هغه دسورلۍ

نه راکوز شو او تلو په شپه کښې تردې پورې چه دنظر نه پناه شو بیا واپس راغې نو ماورته دلوټې نه اوبه واچولې هغهٔ خله او وینځله او هغه دَ ورئ جبه اغوستې وه نو لاس ئې دلستو نړو نه بهر نه راوتل هغهٔ دلاندې نه لاسونو لره را او ویستل او اوئې وینځل او په سر باندې ئې مسحه او کړه بیا زه ښکته شوم دهغه موزو ویستلو ته هغهٔ او فرمایل پریږده مادې لره په پاکوالی کښې اغوستې دی (یعنی په خپو) کړې دی او مسح ئې او کړه په هغې دواړو باندې۔

فائده :۔ نوویؒ وئیلې دی علماؤ اختلاف کړې دې په دې مسئله کښې زمونږ مذهب خو دادې چه دَ موزو اغوستل په طهارت کامله باندې ضروري دی تردې پورې چه که چانبې خپه او وینځله او بیائې په خپو کړه او بیائې کسه خپه او وینځله او موزه ئې په خپو کړه نو په ښې خپه باندې به مسحه درسته نه وی ځکه چه هغه وخت طهارت کامله وو او س دهغې ویستل او دوباره په خپو کول ضروری دی البته دښې موزې دویستلو حاجت نشته دې ولې چه ددې دپخپو کولو په وخت طهارت کامل شوې وو۔ او زمونږ بعضې اصحابو وئیلې دی چه دکسې موزې ویستل هم ضروری دی او دا قول دې دامالك او اسحاقؒ او ابو حنیفهؒ او سفیان ثوریؒ او یحیی بن ادمؒ او مزنیؒ او ابو ثورؒ او دداؤد داقول دې چه اغوستلې موزه دحدث په حالت کښې هم درسته ده بعد ددې نه دې طهارت کامل کړی (انتهیٰ)

(۶۳۲) عَنِ الْمُغِيرَةِ أَنَّهُ وَضَّأَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ فَتَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلٰى خُفَّيْهِ فَقَالَ لَهُ فَقَالَ إِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ : [راجع : ۶۲۶]

ترجمه : دَ مغیرهؓ نه روایت دې هغهٔ دَ رسول الله ﷺ اودس کولو حضور ﷺ اودس کولو او په دواړو موزو باندې ئې مسح اوکړه مغیره اوئیلې نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه ما دې لره په طهارت باندې اوغوستلې دی:

﴿بَابُ الْمَسْحِ عَلَى النَّاصِيَةِ وَالْعِمَامَةِ .﴾

باب: په تندی لو دستار باندې مسح کول۔

(۶۳۳) عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ تَخَلَّفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ وَتَخَلَّفْتُ مَعَهُ فَلَمَّا قَضٰى

حاجتهٔ قال امعک ماءٌ فاتیتُهٗ بمطهرة فغسل کفّیه ووجههٗ ثمّ ذهب یحسر عن ذراعیه فضاق کمّ الجبّة فاخرج یدهٗ من تحت الجبّة والقی الجبّة علی منکبیه وغسل ذرعیه ومسح بناصیته وعلی العمامة وعلی خفّیه ثمّ رکب ورکبت فانتهینا الی القوم وقدقاموا فی الصّلوة یصلّی بهم عبدالرّحمن بن عوف وقدرکع بهم رکعةً فلمّا احسّ بالنّبیّ صلی اللّٰه علیه واله وسلّم ذهب یتاخّر فاوماالیه فصلّی بهم فلمّاسلّم قام النّبیّ صلی اللّٰه علیه واله وسلّم وقمت فرکعناالرّکعته الّتی سبقتنا [نسائی : ۱۰۸، ۱۲۵، وانظر فی مسلم : ۹۵۳]

ترجمه : دمغیره بن شعبه رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په سفر کښې وروستو پاتے شو زه هم دهغه سره ورسته پاتے شوم هر کله چه هغه دحاجت نه فارغ شو نوداسے او فرمایل ستا سو سره او به شته ؟مایو مشك واخستو داوبونه م ډك راؤړو هغه دواړه لاس ومنځل او خله ئے ومنځله بیائے گس لاس لره دلستو نړی نه راوستل غونبتل نو لستو نړے تنګ وو هغه دلاند نه لاس را او وستو او جبے لره ئے په خپلو او ګوباندے واچوله او دواړه لاسونه ئے ومنځل او په تندی باندینے مسحه او کړه او په پټکی باندے او په موزو باندے بیاسور شو او زه هم سور شوم هر کله چه خپلو خلقو ته اورسیدو نو هغوی مونځ لو ستلو او عبدالرحمن بن عوف هغوی لره مونځ لوستلو هغوی یو رکعت لو ستلے وو هغه ته چه کله معلومه شو چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم تشریف راوړے دے . هغه ورستو کیدلو حضرت اشاره او کړه په خپل ځائے باندے او دریږه آخر هغوی مونځ لره او لوستلو او سلام ئے او ګرځو ؤ نو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اودریدو اوزه هم او دریدم او هغه یو رکعت کوم چه زمونږ نه وړاندے شوے وو هغه مو او لو ستلو .

فائده :. دا هغه حدیث دے چه ددے نه درسول الله صلی الله علیه واله وسلم مونځ لو ستل په خپل اصحابیؓ پسے ثابتیږی علماؤونیلے دی چه هغه سیو ا دعبد الرحمن بن عوفؓ نهٔ په بل چا سړی پسے مونځ نه دے لو ستلے البته دجبرائیل نه روستو ئے مونځ لو ستلے دے .نووی ونیلے دی ددے حدیث نه ډیرے شان خبرے وتلے کیږی یو دافضل اقتداء کول دخان نه دکم درجه ولا سره دویم دنبی مونځ لو ستل په خپل ملګری پسے دریم فضلیت داول وخت دمونځ لوستلو ولے چه صحابه ؤ دهغه انتظار او نکړو او مونځ ئے شروع کړو .

څلورم هر کله چه امام حاضر نه وی نو خلق چا بل لره امام جوړ ولے شی په شرط ددے
چه څه مفسده نه پیدا کیږی او امام پرے خفه نه وی گنی تول خلق دے په اول وخت کښ ځانله
ځانله مونځ او کړی او دوباره په جماعت کښ شریك کیدل مستحب دی ۔ پنځم مسبوق دے
دسلام گرځولو نه پس خپل باقی مونځ پوره کړی او دا باقی مونځ به څکه لولی دده د ذمے نه
ساقط کیږی نه البته سورۂ فاتحه لوستل ساقط کیږی هر کله چه امام لره په رکوع کښ او
مومی۔

شپږم دا چه مسبوق لره هم دامام پیروی په رکوع او سجود او قعده تولو ارکانو کښ
ضروری ده اگر که دهغه د قاعدے وخت نه وی ۔ اووم دا چه مسبوق به دامام نه هله جدا کیږی هر
کله چه امام سلام اوگرځوی او عبدالرحمن بن عوف چه کوم مونځ اولو ستلو او دابو بکرؓ په
شان ورستو واپس نه شو دهغے وجه داوه چه عبدالرحمن بن عوفؓ یو رکعت لو ستلے وو او ابو
بکر رضی الله عنه یو رکعت هم لو ستلے نه وو ۔ انتهی

(۶۳۴)عن الْمغیرة انَّ النَّبیّ صلَّے اللهُ علَیْه واله وسلَّم مسح علے الْخفَّیْن ومُقدَّم رأْسه وعلے عمامته
[ابوداود: ۱۵۰، ترمذی: ۱۰۰، نسائی: ۱۰۷]

ترجمه: دمغیره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم مسح کړے ده
په موزو باندے او په پتکی باندے او په پگړئ باندے

فائده: په پتکی باندے مسحه کول درست دی او دهغے کوزول ضروری نه دی درفع
حرج دپاره دا هل حدیثو دغه قول دے او دبعضے علماو په نزد په پتکی باندے مسحه جائز نه ده
دکومے پورے چه په سر باندے لاس رانه کاږی.

(۶۳۵)عن الْمغیرة انَّ النَّبیّ صلَّے اللهُ علَیْه واله وسلَّم بمثْله [راجع: ۶۳۴]
ددویم روایت معنی هم هغه شان ده لکه چه پورته تیره شوه.

(۶۳۶)عن الْمغیرة انَّ النَّبیّ صلَّے اللهُ علَیْه واله وسلَّم توضَّأ الْمسح بناصیته وعلی الْعمامة وعلی الْخفَّیْن.

ترجمه: دمغیره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے ا الله علیه واله وسلم او دس او کړو نو
مسح ئے او کړه په تندی باندے او په پتکی باندے او په موزو باندے ۔

(٦٣٧)عن بلال ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم مسح على الخفين والخمار.

ترجمه : دبلال رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم مسح اوکړه په موزوباندے او په پټکی باندے.

عن الاعمش بهذا الاسناد وقال في الحديث رأيت رسول الله ﷺ : [ترمذی : ١٠٣ ، ابن ماجه : ٥٦١]

ترجمه : مذکوره حدیث په دے سند سره هم مروی دے . او په یو روایت کښی دی چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدو .

﴿بَابُ التَّوْقِيْتِ فِي الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ.﴾

باب : په موزو باندے د مسح کولو د مدے بیان :

(٦٣٩)عن شريح بن هانی قال اتيت عائشة اسألها عن المسح على الخفين فقالت عليك بابن ابي طالب فسئله فانه كان يسافر مع رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فسألناه فقال جعل رسول الله صلى الله عليه واله وسلم ثلثة ايام ولياليهن للمسافر ويوما وليلة للمقيم قال وكان سفيان اذا ذكر عمرو اثنى عليه.[نسائی ١٢٩، ابن ماجه ٥٥٢]

ترجمه : دشریح بن هانی نه روایت دے زه دحضرت عائشے رضی الله عنها خواله راغلم دهغے نه دموزو دمسح دتپوس دپاره هغوی اووے ته دابو طالب دځوئ (حضرت علیؓ)نه تپوس اوکړه هغه به درسول الله صلی الله علیه واله وسلم سره سفر کولو مادهغه نه تپوس او کړو هغو اووے دمسافر دپاره دمسح موده رسول الله صلی الله علیه واله و سلم درے ورځی او درے شپے مقرر کړے ده او دمقیم دپاره یوه ورځ او یوه شپه راوی وئیلی دی چه هر کله به سفیان دعمر و ذکر کولو نو دهغه تعریف به ئے کولو.

فائده : نووی وئیلی دی دجمهور علماؤ دغه قول دے لکه ابو حنیفهٓ او شافعیؒ او احمدؒ اودامام مالك مشهور قول دادے چه دمسح موده څه مقرر نه ده دخو مره وخوپورے چه غواړی مسح کولے شی او دایو قول قدیم دے شافعیؒ دهغه دلیل دابن ابی عماره حدیث دے چه ابو داؤد روایت کړے دے لیکن هغه حدیث په اتفاق دعلماؤ ضعیف دے او س داکثر علماؤ داقول دے چه

دامودہ دموزے پخپو کولو نہ پس دحدث دوخت نہ شروع کیږی نہ دموزے پخپو کولو دوخت نہ او نہ دمسح دوخت نہ کہ چرے دمودے دتیر هیدونہ وړاند دلمبلو حاجت راغے نو پہ موزے باندے بہ مسحہ جائز نہ وی زمونږ داصحابو پہ نزد بیاکہ چرے غسل او کړی او دواړہ خپے دموزو پہ دننہ لووینځی نو جنابت بہ ختم شی او مونځ بہ پر جائز کړے شی اوس کہ چرے ددے نہ پس بے او دسہ شی نو پہ موزو باندے مسحہ درستہ نہ دہ ځکہ چہ پہ موزو باندے مسحہ هغہ وخت درستہ دہ هر کلہ چہ پہ طهارت کاملہ باندے پہ خپو کړی ددے حدیث نہ داهم معلوم شو چہ مفتی تہ کہ چرے څہ مسئلہ معلومہ نہ وی نو دبل حوالہ دے وکړی چہ هغہ پہ هغے باندے پوهہ وی انتهی۔

(٦٤٠)عن الحکم بهذا الاسناد مثلہ : [راجع : ٦٣٩]

ترجمہ: دَ حکم نہ پہ دے سند سرہ هم هغہ شان مروی دی:

(٦٤١)عن شریح بن هانی قال : سالت عائشة عن المسح علی الخفین فقالت : ایت علیا فانہ اعلم بذالک منی فاتیت علیا فذکر عن النبی ﷺ بمثلہ : [راجع : ٦٣٩]

ترجمہ: شریح بن هانی وائی چہ ما تپوس اوکړو د عائشے ؓ نہ پہ بارہ د مسح کښ پہ موزو باندے نو هغے اونیل چہ تہ لاړ شہ علیؓ تہ ځکہ چہ هغہ زمانہ پہ دے مسئلہ کښ زیات پوهہ دے نو زۂ د حضرت علیؓ خدمت کښ حاضر شوم نو هغہ د نبی کریم ﷺ نہ داسے بیان اوکړو لکہ چہ مخکښ ذکر شو۔

﴿باب جواز الصّلوة کُلّها بوضُوءٍ وّاحِدٍ.﴾

باب: پہ یو او داسہ سرہ دټو مونځو نولو ستل۔

(٦٤٢)عن بریدة انّ النّبیّ صلّے اللّٰه علیه واٰله وسلّم صلّے الصّلوٰت یوم الفتح بوضوءٍ وّاحدٍ وّمسح علٰی خفّیه فقال لهٗ عمر لقد صنعت الیوم شیئًا لم تکن صنعتهٗ قال عمرًا صنعتهٗ یا عمر.[ابو داود : ١٧٢، ترمذی ٦١، نسائی : ١٣٣، ابن ماجه ٥١٠]

ترجمہ: دبریدہ رضی اللہ تعالی عنہ نہ روایت دے رسول اللہ صلے اللہ علیہ والہ وسلم پہ کومہ

ورځ چه مکه فتح شوه په یو اودس سره څو مونځو نه لوستے وو او مسح ئے او کړه په موزو باندے حضرت عمرؓ اووے یا رسول الله تا نن هغه کار او کړو چه چرته دے کړے نه وو هغهؓ او فرمایل ماقصدا داسے او کړو

فائده : نووی وائی ددے حدیث نه څو خبرے معلومے شوے یو خو په موزو باندے مسحه کول دویم فرض مونځونو لره په یو اودس سره لو ستل دکومے پورے چه حدث نۀ وی او داجائز دی په اجماع دعلماؤ . او امام ابو جعفر طحاوی او ابو الحسن بن بطال دصحیح بخاری په شرح کښ دیو جماعت دعلماؤ نه ددے خلاف نقل کړے دے دهغوی په نزد دهر یو فرض مانځه دپاره تازه او دس ضروری دے اگر که اودس وی او دلیل دهغوی داقول دے ادالله تعالی . اذاقُمْتُمْ الی الصَّلٰوۃ فاغسلوا وجوهکم . الایه : او دجمهورو دلیل احادیث صحیحه دی یو دهغے نه داحدیث دے او یو حدیث دانس دے په صحیح بخاری کښ چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دکومے پورے چه حدث شوے نه وی .

دویم حدیث دسویدبن نعمانؓ دے په صحیح بخاری کښ چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دمازیگرمونځ او لو ستلو بیائے ستو ان خوړل او دما ښام مونځ ئے او لو ستلو او اودس ئے او نه کړلو ددے په تائید کښ نور ډیر احادیث راغلی دی لکه دحدیث جمع کول په عرفه او مزدلفه کښ او په تمامو سفرونو کښ او حدیث دتمامو مونځو نو دجمع کولو په خندق کښ یعنی دخندق په جنگ کښ او دایت کریمه نه مراد دادے چه هر کله تا سو بے او دسه شئ او دما نځه دپاره پاڅئ نوخله وینځئ دآخره پورے . او بعضو ونیلے دی چه دا ایت منسوخ دے درسول الله صلے الله علیه واله وسلم په فعل سره او داقول ضعیف دے زمونږ اصحابو ونیلے دی چه دهر مانځه دپاره نوے اودس کول د اوداسه سره سره مستحب دی او په دے کښ څوقولو نه دی.

یو خو دادے چه په هغه او دس سره څه مونځ ضرور او لولی خواه که فرض وی یا نفل وی دویمه داچه تازه اودس په هغه صورت کښ مستحب دے هر کله چه په هغے سره څه فرض مونځ لولی دریمه داچه په هغه اودس سره هغه کار کوی چه هغه بغیر دطهارت نه درست نه وی لکه دقران ښکلول او سجده دتلاوت کول. څلورمه داچه په هر حال کښ مستحب دے اگر چه په

هغې سره څه کار نه کوي په شرط ددې چه دوړمبي اودس په نور حال کښې دومره وخت تېر شي چه دهغې سبب سره دويم اودس دوړمبي اودس نه جداشي او تازه غسل کول مستحب نه دي موافق دصحيح مذهب او امام الحرمين يو قول داستحباب نقل کړے دے او دغه شان په تازه تيمم کولو کښې دوه قولونه دي يو داچه مستحب نه دے او دغه زيات مشهور دے او داتازه تيمم دزخمي يا دبيمار دپاره وي چه هغه داوبو په موجود کيدو سره تيمم کوي او دهغه نه سيوا دبل دپاره هم کيدے شي هر کله چه دوباره تلاش داوبو واجب نه وي چرته او داچه کوم حضرت عمرؓ اووے تا هغه کاراوکړو چه چرته دنه وو کړے.

ددې نه معلوميږي چه اکثر به رسول الله صلی الله عليه واله وسلم پاره دهر مانځه نوے اودس کولو څکه غوره دے او په هغه ورځ چه ئې څومونځونه په يو او ددس سره اولو ستل ددے نه دجواز بيانول مقصود وولکه چه هغه عمرؓ ته او فرمايل ما قصدادا کار کړے دے ددې حديث نه داهم معلوميږي چه دکمې درجې والا دلوئې درجې والا نه سوال کولې شي دهغه کارونو چه دعادت خلاف وي څکه چه کله دامر دهيريد ونه کيږي نو هغه ته يادشي دهغه سوال په وجه سره انتهى

﴿باب كراهة غمس المُتوضئ وغيرہ يدهُ في الاناءِ قبلَ غسلِها ثلاثا :﴾

باب: داوبوپه لوښي کښې لاس منډل دوينځلو نه مخکښې مکروهه دي.

(۶۴۳) عن ابى هريرة ان النبى صلى الله عليه واله وسلم قال اذا استيقظ احدكم من نومه فلا يغمس يدهٗ فى الاناء حتى يغسلها ثلاثا فانه لا يدرى اين باتت يده.

ترجمه: دابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فرمايلي دي هر کله چه ستاسو نه څوك دخوب نه پاسي نو خپل لاس دے په لوښي کښې (يعني داوبو په لوښي کښې نه منډي دکومې پورے چه ئې درے ځله وينځلې نه وي ولې چه معلومه نه ده چه په کوم ځائې کښې شپه تېره کړے ده لاس دده

فائده : امام شافعيؒ وئيلي دي دعربو عادت وو چه هغوي به په لوټو سره استنجا،

کوله او د هغوی ملك گرم وو په او ده کیدو کښې په پرې خوله راتله ځکه احتمال وو چه لاس پلیت شوے وی او ددے حدیث نه ځو مسلے وتلے دی یو خو دا چه اووه ځله وینځل دیوے پلیتئ ضروری نه دی سیوا د سپی د څټلے شوی لوښی نه ۔ دریمه دا چه داستنجا مقام په لوټو سره نه پاکیږی بلکه معاف دے مونږ په هغے سره، څلورمه دا چه دپلیتئ درے ځله وینځل ضروری دی یعنی دپلیتئ متحققه او متوهمه درے واره وینځل مستحب دی پنځمه دا چه دنجاست متوهمه وینځل مستحب دی صرف او به غور ځول پرے کافی نه دی شپږمه دا چه په عباد اتو کښې احتیا ط کول مستحب دی پشرط ددے چه دا احتیاط دوسوسے ددرجے پورے او نه رسی اوس جمهور علماء په دے طرف تلے دی چه دا دلاس منډلو مما نعت تنزیهی دے نه تحریمی په کوم صورت کښې چه دنجاست یقین نه وی او که چرے لاس او منډی نو اوبه نه پلیتیږی او دحسن بصریؒ نه منقول دے چه پلیتیږی که چرے دشپے دخوب نه پاسیدلے وی۔

اوداسحاق بن راهویهؒ او دمحمد بن جریر طبریؒ نه هم منقول دے لیکن داقول ضعیف

۱ دے ولے چه اصل په اوبو اولاس دواړو کښې طهارت دے بیا دشك نه هغه نجس کیدے نه شی او دا او ده کیدل پاخیدل زمونږ په نزد داوده کیدو سره مخصوص نهٔ دی بلکه هر کله چه لو ده شی او پاخی او دنجاست شك نے وی یائے بغیر داوده کیدو نه دنجاست گمان وی نو په لوښی کښې به بغیر دلاس اینخلو نه لاس نه منډی او دامام احمدؒ نه دا روایت دے چه که چرے دشپے دخوب نه پاسیدلے دے نو لاس منډل مکروه تحریمی دی او که دورځے دخوب نه پاسیدلے دے نو مکروه تنزیهی دی او دداؤد ظاهریؒ هم دغه قول دے انتهی

۱ ۔ظاهره پلیتی لکه غل غو شان وغیره ۲ ۔دگمان پلیتی لکه متیازے چه دَ وچیدونه پس نه ښکاری۔

(۶۴۴)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ : [ابو داود : ۱۰۳]

ترجمه : مذکوره بالا حدیث په دے سند سره هم مروی دے۔

(۶۴۵)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ :

ترجمه : مذکوره حدیث په دے سند سره هم مروی دے۔

(۶۴۲)عن ابی هریرة ان النبی صلی الله علیه واله وسلم قال اذا استیقظ احدکم فلیفرغ علی یده ثلث مرات قبل ان یدخل یده فی اناءه فانه لایدری فیم بانت یده.

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی هر کله چه ستا سپونه ځوك وینښ شی(دخوب نه)نو په خپل لاس درے ځله او به غوړ خوی ځکه چه ده ته معلومه نه ده چه کوم ځائے شپه تیره کړے ده لاس دده.

فائده: داکنایه ده یعنی په دُبر(د لویو بولو اندام)یا ذکر (دوړو بولو اندام)باندے وو او کنا یه په داسے مقامو نو کښې زیاته فصیح ده او په قران او حدیث کښې ددے ډیر نظیرونه دی دا هله دی چه په لاس دپلیتئ گمان وی که چرے په لاس دطهارت یقین وی بیا هم لاس وینځل او په لوښی کښې منډل غوره دی او صحیح داده چه په دغه صورت کښې لاس منډل دوینځلو نه وړاندے مکروه نه دی که چرے لوښے دومره لوئے دے چه کښې لاس منډل دوینځلو نه وړاند مکروه نه دی که چرے لوښے دو مره لوئے دے چه لاس په او بو کښې منډل ممکن نه وی نو په خله سره دے تړے نه لوبه راوخلی او لاسونه دے او وینځی یا کچرے دا هم نه شی کولے نو په پاکه کپړے سره دے راوباسی یا په بل څه مدد سره دے اوبه راواخلی (نووی)

(۶۴۳) عن ابی هریرةؓ فی روایتهم جمیعا عن النبی ﷺ بهذا الحدیث کلهم حتی یغسلها ولم یقل واحد منهم ثلاثا الا ما قدمنا من روایة جابر وابن المسیب وابی سلمة وعبد الله بن شقیق وابی صالح وابی رزین فان فی حدیثهم ذکر الثلاث:

ترجمه: د ابو هریرةؓ نه روایت دے. دا حدیث په څو اسانیدو سره منقول دے په هر یو کښې د لاس وینځلو ذکر دے لیکن چا یو کس هم د درے ځلو وینځلو ذکر نهٔ دے کړے.

باب حکم ولوغ الکلب

باب: دسپی د څولې حکم:

(۶۴۴)عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اذا ولغ الکلب فی اناء احدکم فلیرقه ثم لیغسله سبع مرات.[نسائی: ۶۶، ابن ماجه: ۳۶۳]

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی هر کله چه سپے خله او منډی ستا سو نه په یو لو ښی کښې او وڅکی نو تو یه وئ هغے لره اوبیا او ٥ واره وینځی. هغے لو ښی لره .

(٦٤٩)عن الاعمش بهذالإسنادمثلهٗ ولم يذكر فليرقهٗ .[راجع : ٦٤٨]

ترجمه : دَ اعمش نه په دے سند سره روایت مروی دے خو په دے کښې دتو یه ولو ذکر نشته دے .

(٦٥٠)عن ابی هریرة ان رسول الله صلے الله علیه واله وسلم قال اذاشرب الکلب فی انآء احدکم فلیغسلهٗ سبع مرّات. [بخاری : ١٧٢ ، نسائی : ٦٣ ، ابن ماجه : ٣٦٤]

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمایلی دی هر کله چه سپے ستا سو په لو ښی کښې او څکی نو هغے لره اووه ځله وینځل پکار دی .

(٦٥١)عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم طهور انآء احدکم اذاولغ فیه الکلب ان یغسله سبع مرّات اُولاهنّ بالتّراب.

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی ستا سو د لو ښی پاکی هر کله چه سپے په هغے کښې خله او منډی او او څکی داده چه هغه (لو ښی)لره اووه واره او وینځی او په ورمبی ځل ئے په خاورو سره او مږی.

(٦٥٢)عن همام بن منبه قال هذاماحدثنآ ابوهریرة عن محمد الرسول الله صلے الله علیه واله وسلم فذکر احادیث منهاوقال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم طهور اناء احدکم اذاولغ الکلب فیه ان یغسله سبع مرّات.

ترجمه : دهمام بن منبه نه روایت دے دا حا یثونه مونږ ته ابو هریره رضی الله عنه بیان کړے دی نه دهغے نه یو حدیث داهم وو چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایل دی ستا سو نه د چادلو ښی پاکی داده کله چه سپے په هغے کښې په شړپ شړپ او څکی داده چه هغے لره اووه ځله اووینځی .

فائده : ددے احادیثو نه معلو میږی چه سپے نجس دے او دهغه لعاب او خوله ناپا که دہ دجمهورو علماؤ دغه قول دے او دعکرمهؒ او مالك نه یو روایت دادے چه سپے پاك دے او دلیل

دهغوی دادے چه الله تعالی فرمائی "خوریٔ تاسو هغه کوم چه ښکاریان سپی او نیسی ستا سو د پاره "او ظاهره ده چه دسپی لعاب دښکارو په نیولو کښې په هغه ضرور لګی مګر دا دلیل قوی نه دے ځکه چه دښکاره دمباح کیدو نه خاص هغه مقام کوم ځائے چه سپے خله او لګوی طهارت نه ثابت کیږی .

دویم دلیل دادے چه روایت کړے دے ترمذی او ابو داؤد دابن عمرؓ نه چه درسول الله صلے الله علیه وسلم په زمانه کښې به سپی جماعت ته تلل راتلل او متیازے به ئے کولے لیکن چابه پرواه نه لرله . دهغے جواب دادے چه دتلو راتلو نه دهغه طهارت نه شی ثابتیدے اوس پاتے شوے متیازے دهغه نو هغه خو په اجماع سره نجس دی او دجماعت دننه چه زمکه وچه شی نو هغه پاکه شی یا دا حکم په ابتدائے اسلام کښې وو او دهغے نه پس دجماعتونو دصفایئ او پاکیزګئ حکم شوے وی.

دریم دلیل دادے چه وړاندے کوم حدیثونه راغلی دی په هغے کښې دَ سپی دساتلو اجازت ورکړے دے.دهغے جواب دادے چه دپاللو په اجازت سره دهغه طهارت نه شی لازم کیدے دهغه حدیثونو نه دا هم معلومیږی چه سپی په کوم لوخ کښې خوله منډلے وی اوځکل ئے کړے وی دهغه لوښی اووه واره وینځل لازمی او ضروری دی او دغه قول دے دابن عباسؓ او عروهؒ او ابن سیرین او طاوسؒ او عمروبن دینارؒ او اوزاعیؒ او مالك او شافعیؒ او احمدبن حنبلؒ او اسحق بن راهو یهٓ او ابو ثورؒ او ابو عبیدؒ او داؤد رحمه الله علیهم او خلاف کړے دهغے ابو حنیفهٓ او قیاس کړے ئے دے ده لره په نجاستو نو باندے حالانکه داقیاس دے په مقابله دنص او دلیل ئے راوړے دے دطحآویؒ او دارقطنی درائے نه چه ابو هریرةؓ وئیلے دی چه دسپی دخلے اچولو سره درے ځله وینځل پکاردی حالانکه احتمال دے چه ابو هریرةؓ به هیره سره داسے وئیلے وی اووه ځله وینځلو لره هغه مستحب ګنړی او درے ځله لره واجب ګنړی او دابو هریرةؓ نه دا هم ثابت دی چه هغویؒ داووه ځله وینځلو حکم کړے دے بهر حال دابو هریرةؓ داقول داحادیث صحیحه موفوعه مقابل کیدے نه شی (نیل الاوطاء)نوویٔ وئیلے دی زمونږ په نزد دَ سپی متیازے او پاخانه یاوینه او خوله که چرے اولګی نو دهغے هم دا حکم دے چه اووه ځله به ئے وینځی او یو ځل به ئے په خاوره سره مږی .

[٦٥٣] عن ابن مغفل قال امر رسول الله صلى الله عليه واله وسلم بقتل الكلاب ثم قال ما بالهم وبال الكلاب ثم رخص في كلب الصيد وكلب الغنم وقال اذا ولغ الكلب في الاناء فاغسلوه سبع مرات وعفروه الثامنة بالتراب. [ابوداود ٧٤، نسائي ٦٧، ٣٣٦، ٣٣٥، ابن ماجه ٣٦٥، ٣٢٠٠، ٣٢٠١، وانظر في مسلم ٤٠٢١، ٤٠٢٢]

ترجمه: دعبدالله بن مغفل مزني نه روايت دے رسول الله صلى الله عليه واله وسلم حكم اوكړو دسپو دوژلو بيائے او فرمايل خه دے حال دهغوى او حال دسپو بيائے اجازت وركړو دښكارى سپى او دګلے دساتلو دسپى (يعنى دبزود رمے دحفاظت دپاره دسپى) او اوئے فرمائيل هر كله چه سپے په لوښى كښى خله او مندوى او څكى نو هغه لوښے اووه واره وينځئ او په اتم وارئے په خاوره سره مږئ.

فائده: (الف) نووى وئيلے دى زمونږ مذهب او دجمهور علماؤ مذهب داد ے چه اووه ځله به ئے وينځى او په هغے كښى به يو ځل خاوره ميلاوه وى او وينځى به ئے او چونكه خاوره يو جد اخيز دے لكه چه اتم وار شو او راز ددغه قدرے احتياط دسپى په جوټه كښى داد ے چه بعضے سپے زهر بلا وى او بعضے ليونے وى نو په اووه واره وينځلو كښى بالكل دلو ښى نه اثر ختميږى دانه چه نجست دهغه دنورو نجاستو نو نه زيات دے ولے چه سور سپى نه هم زيات نجس دے خو په هغه كښى زهر نشته دے

[٦٥٤] هي رواية يحيى بن سعيد من الزيادة ورخص في كلب الغنم والصيد والزرع. [راجع ٦٥٣]

ترجمه: ديحيى بن سعد په روايت كښى دومره زياته ده او رخصت وركړو هغه دبزو (دساتلو) دسپى او ښكارى سپى او دپټى دپالونكى سپى

فائده: نووى وئيلے دى زمونږه اصحابو اتفاق كړے دے چه بغير دضرورت نه سپے ساتل حرام دى لكه چه څوك پالى دهغه صورت غوره كوى يا دنمائش او زيبا ئش دپاره نو دا حرام دى بلا خلافه ليكن دضرورت دپاره ساتل درست دى او په دے حديث كښى خو ددريو كارو نو دپاره اجازت دے يو دښكار دپاره دويم دخناورو دحفاظت دپاره دريم دپټى دحفاظت دپاره ددے دريو كارونو دپاره خو دټولو په نزد درست دے البته اختلاف دے چه دكورونو دحفاظت دپاره ددے پالل

درست دی یانه دی او صحیح دادے چه درست دی او سپے کچرے چیچلو والا وی نو هغه لره وژنی او که چیچلو والا نه وی نو مه ئے وژنی امام الحرمین وئیلے دی چه دسپو دقتل حدیث منسوخ دے دغه شان دنورسپی قتل: (انتهی مختصرا)

باب النهی عن البول فی الماء الراكد.

باب : په ولاړو اوبو کښې د متیازو کولو ممانعت

(۶۵۵) عن جابر عن رسول الله صلے الله علیه واله وسلم انه نهی ان یبال فی الماء الراکد (نسائی ۳۵، ابن ماجه ۳۴۳)

ترجمه: حضرت جابرؓ د نبی کریم ﷺ نه نقل کوی چه رسول الله ﷺ منع کړے ده په ولاړو اوبو کښې د متیازو کولو نه.

(۶۵۶) عن ابی هریرة عن النبی صلے الله علیه واله وسلم لایبولن احدکم فی الماء الراکد الدائم ثم یغتسل منه

ترجمه: د ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه په تاسو کښې دے څوك په ولاړو اوبو کښې بول نۀ کوی چه بیا د هغے نه غسل کوی.

(۶۵۷) عن همام بن منبه قال هذا ما حدثنا ابوهریرة عن محمد رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فذکر احادیث منها وقال قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم لاتبل فی الماء الدائم الذی لایجری ثم تغتسل منه

ترجمه: همام بن منبه وئیلے دی دا هغه حدیثو نه دی چه مونږ ته ابو هریره رضی الله عنه د رسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه نقل کړے دی بیائے څو حدیثو نه بیان کړل په هغے کښې یو دا هم وو چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلے دی دا سے مه کوه چه متیازے کوے نو په ولاړو اوبو کښې چه هغه بهیدو نکی نه وی او بیا غسل کوے په هغه اوبو سره.

فائده : نووی وئیلے دی دا مما نعت په بعضو اوبو کښې خو تحریما دے او په بعضو کښې کراهتا دے او ددے حدیث نه اوځی چه که چرے اوبه ډیرے نه وی او که چرے اوبه لږے وی او

بهیـرې نـوز مونږ ۮاصحابو نه يو جماعت وئيلي دي چه په هغې كښې متيازې كول مكروهه دي او مختـار دادے چـه حرام دي ولې چه هغه او به پليتے كړے شي موافق دمشهور مذهب د شافعيؒ ا وبل به دهو كه كيږي هغه به دے لره استعمالوي.

او كه چرے او به ډيرے وي ليكن ولاړے وي نوز مونږ داصحابو په نزدپه هغې كښې متيازے كول مكروهه دي ليكن حرام نه دي او كه چرے حرام هر كله هم كيدے شي ولې چه نهي دتحريم دپاره ده او هغـه او به به دحنفيه ؤ په نزباندے پليتے شي په هغه صورت كښې چه دومره لوئے حوض نه وي چـه ديـوے غاړے په خوزولو سره دويمه غاړه خوزيږي او كومے او به چه لړے وي په هغې كښې متيازے كول مكروه دي ليكن صحيح داده چه په هغې كښې متيازے كول حرام دي . او پاخانه كول هم په مثل دمتيازو دي بلكه دهغې نه بدتردي يا په څه لوښي كښې متيازے او كړي او بيائے او بـوتـه تـوئ كړي يا نهر ته دو مره نزدے متيازے او كړي چه او بهيږي ا ونهر ته لاړے شي داټولے خبرے منـع دي او پـه دغـے كـښې چا عالم خلاف نه دے كړے البته دداؤد ظاهري نه منقول دے چه ممـا نـعـت خاص دے دانسـان دمتيازو سره او دپاخانے مما نعت نشته نه په لوښي كښې دمتيازو او پـه هغـے كښې دغور ځولو او نه او بو ته نزدے دمتيازو كولو مما نعت شته دے او علماؤ وئيلي دي چـه اوبـو تـه نـزدے غـل متيـازے كول مكروه دي اگر كه اوبو ته لاړنه شي ولې چه خلق هلته ځي راځي نو هغوي ته تكليف وي .

او چا چـه استنجاء نه وي كړے هغه كه چرے په او بو كښې غوپه لگول غواړي داستنجاء دپاره او اوبـه لړے وي چـه پـه پليتـئ غـور ځيدو سره بيلمازه كيږي نو حرام دي ا وكه ډيرے وي او بهيږي نـو جـائـز دي دعـه شان كـه چرے ډيرے وي او جاري نه وي يعني بهيږي نه ليكن په دغه صورت كښې نه كول غوره دي (انتهى.)

﴿بَابُ النَّهْيِ عَنِ لْاغْتِسَالِ فِي الْمَآءِ الرَّاكِدِ﴾

باب:په ولاړو اوبوكښې دغسل مما نعت .

(۲۵۸)عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ لَايَغْتَسِلُ اَحَدُكُمْ فِي الْمَآءِ الدَّآئِمِ وَهُوَ

جُنُبٌ فَقَالَ كَيْفَ يَفْعَلُ يَااَبَاهُرَيْرَةَ فَقَالَ يَتَنَاوَلُهُ تَنَاوُلاً [نسائي : ۲۲۰، ابن ماجه : ۶۰۵]

ترجمه: دابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے رسول الله صلے الله عليه واله وسلم فرمايلي دي ستا سو نه چه چاته دلمبولو حاجت راشي نو هغه ديپه ولاړو او بو کښې نه لامبي خلقو ابو هريره نه اووے بيابه څه کوی هغوی اوويل په لاسو سره به اوبه راوړی او غسل به پرے او کړی.

فائده: ـ نـووی ونيلي دی زمونږ دعلماؤ په نزد په ولاړو او بو کښې لامبل مکروه دی خواه که اوبه لږے وی يا ډيرے دغه شان په روانه چينه کښې شافعیؒ په بويطی کښې ونيلي دی زه مکروهه پيژنم دجنب دپاره غسل کول په کوهی کښې او په ولاړو اوبو کښې چه روانے نه وی خواه هغه که لږے وی يا ډيرے او داکراهت تنزيهی دے تحريمی نه دے او که چرے جنب داسے په اوبو کښې غسل او کړو او هغه اوبه ددوو لوټو نه کمے وے نو مستعملے کيږی او دحنفيه ؤپه نز چه ددغے نه زياتے وی نو مستعملے به نوی او صحيح مذهب داهل حديثو دادے چه اوبه پاکے دی او پاکول کوی دکرمے پورے چه دنجاست په وجه سره دهغے مزه يا رنګ يابوئ بدل نه شی او څه فرق نشته دے په لږو او ډيرو اوبو کښې خواه که هغه دوه لوټے وی يا دهغے نه کمے وی انتهی مع زياده.

﴿بَابُ وُجُوبِ غَسْلِ الْبَوْلِ وَغَيْرِهِ مِنَ النَّجَاسَاتِ إِذَاحَصَلَتْ فِي الْمَسْجِدِوَاَنَّ الْاَرْضَ يَطْهُرُبِالْمَاءِ مِنْ غَيْرِحَاجَةٍ إِلَى حَفْرِهَا .﴾

باب: په جماعت خانې چه هر کله متيازے او نور نجاستونه لګي نو هغي لره په اوبو سره وينځل ضروري دي او زمكه په اوبو سره پاكيږي دهغي كنستل ضروري نه دي .

(۶۵۹)عَنْ اَنَسٍ اَنَّ اَعْرَابِيًّابَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَامَ اِلَيْهِ بَعْضُ الْقَوْمِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهِ وَسَلَّمَ دَعُوْهُ لَاتُزْرِمُوْهُ فَلَمَّا فَرَغَ دَعَابِدَلْوٍمِّنْ مَّاءٍ فَصَبَّهُ عَلَيْهِ [بخاری : ۲۲۱، نسائی : ۵۳، ۵۵]

ترجمه: دانس رضی الله عنه نه روايت دے چه يو اعرابي (باندیچی) په جماعت کښې متيازے اوکرے خلق (دهغه دوړلو يا دجماعت نه دويستلو دپاره) پاڅيدو رسول الله صلے الله عليه واله وسلم او فرمايل مه منع کوئ ده لره دمتيازو کولو نه هر کله چه هغه متيازے او کړے نو هغه يو

ووړل داوبو اوغوښتو او په هغې باندې اوبنځلو.

(۲٦۰) عن انس بن مالک یذکر ان اعرابیا قام الی ناحیة فی المسجد فبال فیها فصاح به الناس فقال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم دعوه فلما فرغ امر رسول الله صلی الله علیه واله وسلم بذنوب فصب علی بوله.

ترجمه:- انس بن مالک په ذکر کوو چه یو ګنوار (یعنی باندیچی) د جماعت په یو ګوټ کښې متیازې کول شروع کړل خلق ورغلل په هغه پسې رسول الله صلی الله علیه واله وسلم او فرمایل پریږدوئ ده لره هر کله چه هغه متیازې او کړلې نو حضرت صلی الله علیه واله وسلم حکم لو کړو نو داوبو یوه لوټه د هغه په متیازو باندې واچولې شوه.

فائده: نووی وئیلی دی ددې حدیث نه معلومیږی چه دبنده متیازې نجسې (یعنی بیلمازه) دی او په دې باندې اجماع ده خواه که هغه بنده لوئې وی یا وړو کې وی لیکن دکم سن بچی په متیازو باندې صرف او به تویه ول کافی دی دې لره به مونږ وراندې بیا نوو انشاء الله.

او داهم معلومیږی چه دجماعت عزت او عظمت کول پکار دی او دپلیتونه پاك صفا ساتل پکار دی او په زمکه باندې داوبو اچولو سره زمکه پاکیږی او د هغې کنستل ضروری نه دی دغه زمونږ او دجمهور علماؤ مذهب دې او دابو حنیفهؒ په نزد هغه بغیر دکنستلو نه نه پاکیږی لو داهم معلومیږی چه جاهل لره په نرمئ او خوږ وخبرو پوهه کول پکار دی چه دتذلیل یا عناد سره مخالفت او نه کړی او علماؤ لیکلی دی چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم به دووجو سره دباندیچی ډېر پېښودو حکم کړے وو یو خو دا چه دمتیازو په بند ولو سره په خپله هغه ته ضرر وو دویمه دا چه که هغه متیازې کولې او روان وې نو ټول جماعت او د هغه کپړې وغیره به ټول بیلمازه شوې وو (یعنی پلیت شوې وو)

(۲٦۱) عن انس بن مالک قال بینما نحن فی المسجد مع رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اذجاء اعرابی فقام یبول فی المسجد فقال اصحاب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم مه مه قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لا تزرموه دعوه فترکوه حتی بال ثم ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم دعاه فقال له ان هذه المساجد لاتصلح لشئ من هذا البول ولا القذر انما هی لذکر الله والصلوة وقراءة

الْقُرْاٰن اَوْ كَمَاقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ فَاَمَرَ رَجُلًا مِّنَ الْقَوْمِ فَجَآءَ بِدَلْوٍ مِّنْ مَّآءٍ فَشَنَّهٗ عَلَيْهِ.

ترجمه: دانس بن مالك نه روايت دے مونږ درسول الله صلے الله عليه واله وسلم په جماعت کښې ناست وو په دے کښې يو ځنګلي راغے او په ولاړے ئے متيازے کول شروع کړل. درسول الله صلے الله عليه واله وسلم اصحابو اووے هائے هائے څه کوي هغه او فرمايل دهغه متيازے مهٔ بندوئ پريږدوئ. خلقو پريخو دو تردے پورے چه متيازے ئے او کړلے حضرتؐ هغه لره را او غښتو او ورته فرمايل چه جماعتونه دمتيازو او پليتئ لائق نه دي دا خو دالله دياد دپاره او دمانځه او دقران د لوستو دپاره جوړشوے دي يا دغه شان څه هغهؐ او فرمايل بيا هغهؐ يو سړی ته حکم او کړو او هغه يو ه بوقه داوبو راوړه او په هغے باندے ئے توئ کړله.

فائده: نووئ وئيلے دي ددے حديث نه معلومه شو ه چه جماعتونو لره دناپاکو ځيز ونو نه لو تهو کلو نه اوچت آواز کولو نه او دجنګ جګړو نه او دخريد او فروخت نه او دتولو معاملا تو نه په حفاظت کښې ساتل پکار دي او دلته زه يو څو مسئلے په مختصر طور باندے بيا نوم يوه دا چه بے اودسه په جماعت کښې کينا ستل درست دي او که چرے دعبادت په نيت سره کيني لکه اعتکاف يادين دعلم د ايزده کولو يا لو ستلو يا دوعظ کو لو يا دواوريد لو يا مانځه په نيت سره نو مستحب دي ګني نو مباح دي او دبعضے خلقو په نزد مکروهه دي ليکن داقول ضعيف دے دغه شان په جماعت کښې دننه او ده کيدل درست دي.

امام شافعيؒ په "ام" (نوم کتاب) کښې ددے وضاحت کړے دے ابن منذر په اشراق کښې ليکلي دي چه په جماعت کښې داوده کيدو اجازت شته دے سعيد بن مصيب او حسنؒ او عطاءؒ او شافعيؒ او ابن عباسؓ وئيلي دي چه جماعت لره خوابګاه مه جوړوئ او يو روايت دهغوی نه دادے چه که چرے دمانځهٔ دپاره جماعت ته لاړشي نو څه قباحت نشته ددے او اوزاعيؒ وئيلے دي په جماعت کښې او ده کيدل مکروهه دي او امام مالك وئيلے دي مسافرو لره په جماعت کښې او ده کيدل درست دي او مقيم لره په جماعت کښې او ده کيدل مناسب نه دي. او امام احمدؒ وئيلے دي دمسافر وغيره دپاره څه قباحت نشته دے خو که چرے څوك په جماعت کښې خوابګاه جوړوی نو جائز نه دي او داسحقؒ هم دغه قول دے او چا چه په جماعت کښې او ده کيدل جائز کړے دي

دھغوی دلیل دادے چہ حضرت علیؓ او ابن عمرؓ او اصحاب صفۃ بہ پہ جماعت کښې او دہ کیدل او کافر دمسلمانانو پہ اجازت سرہ جماعت تہ تللې شي البتہ بغیر داجازت نہ بہ ھغہ دتلونہ منع کولے شي۔

اوابن منذرؒ وئیلې دي پہ جماعتو نو کښې او دس کول هریو عالم رواہ گنړي البتہ پہ داسے مقام کښې او دس کول چہ پہ ھغے سرہ خلقو تہ تکلیف وي مکروھہ دي او دابن سیرینؒ او مالكؒ او سحنونؒ نہ ددے کراھت مروي دے دجماعت دپاك ساتلو دپارہ زمونږ داصحابو نہ یو جماعت لیکلې دي چہ ځناورو او لیونو لرہ او ماشو مانو هلکانو لرہ جماعت تہ بوتلل مکروہ دي۔ او مراد ھغہ هلکان دي چہ پہ ھغوي کښې تمیز نہ وي ولے چہ ھغہ پلیت کوي جماعت لرہ خودځناور بوتلل حرام نہ دي ولے چہ رسول اللہ صلے اللہ علیہ وا لہ وسلم پہ اوښ سور دخانے کعبے طواف کړے دے او دا ددے دپارہ چہ ھغہ ټولو خلقو تہ او ښو دلہ نو نور دھغہ پیروي کوي دغہ شان جماعت تہ پلیتی اوړل حرام دي او دچا پہ بدن باندے چہ داسے پلیتي لگیدلې وي چہ دھغے نہ دجماعت دپلیتیدو یرہ وي ھغہ دے جماعت تہ نۀ ځي اوکہ چرے یرہ نہ وي نو تلے شي۔ کہ چرے خوك پہ جماعت کښې ښکر او لگوي (یعني رگ اووهي)او دوینے دپارہ ئے څہ لوښے ایخودے نہ وي نو حرام دي کنې مکروھہ دي کہ چرے پہ جماعت کښې دننہ پہ لوښي کښې متیازے او کړي نو پہ دے کښې دوہ قولو نہ دي یو داچہ مکروہ دي دویمہ داچہ حرام دي پہ جماعت کښې نیغ سملا ستل گوتے خوزول تقول او خپے غزول درست دي او جماعت ښائستہ کول او صفاساتل مستحب دي۔

﴿بَابُ حُكْمِ بَوْلِ الطِّفْلِ الرَّضِيْعِ وَ كَيْفِيَّتِ غَسْلِهِ :﴾

باب: دماشوم بچي متیازو لرہ څنگہ وینځل پکار دي۔

(۶۶۳)عَنْ عَآئِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ يُؤْتٰى بِالصِّبْيَانِ فَيُبَرِّكُ عَلَيْهِمْ وَيُحَنِّكُهُمْ فَاُتِيَ بِصَبِيٍّ فَبَالَ عَلَيْهِ فَدَعَا بِمَآءٍ فَاَتْبَعَهٗ بَوْلَهٗ وَلَمْ يَغْسِلْهُ.[انظر فی مسلم : ۶۱۱۹]

ترجمہ : دام المومنین حضرت عائشے رضی اللہ تعالی عنہا نہ روایت دے رسول اللہ صلے اللہ

علیه واله وسلم لـه بـه خلقو ما شومان راوړل هغه به د هغوی دپاره دعا کوله او لاس به ئے پرے

رابـکـلـو او خـه بـه ئے او جویل (چیاکر) او دهغه په خله کښ به ئے ورکړل (لکه کجوره وغیره) یو

• ماشـوم هـغـه تـه راوړے شـو هـغـه په هغهٔ باندے متیازے او کړے هغهٔ اوبهٔ اوغوستلے او په هغه

ځائے باندے ئے واچولے او هغے لره ئے او نه وینځلو

(۲۲۳) عن عائشة قالت اُتِیَ رسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ علیه واله وسلَّم بصبيٍّ یُرْضعُ فبال فی حجْرِه فدعابماۤءِ فصبَّهٗ علیه

ترجمه: دام المومنین حضرت عائشے رضی الله عنه نه روایت دے الله صلے الله علیه واله وسلم

لره یو ئی خوړونکے بچے راوړے شو بچی دهغهٔ په غیره کښ متیازے او کړے هغه اوبهٔ او غوښتے

او په هغه ځائے ئے واچولے۔

(۲۲۴) عن هشام بهذا الاسناد مثل حدیث ابن نمیر :

ترجمه: د هشام نه په دے سند سره هم دغه روایت مروی دے۔

(۲۲۵) عن اُمّ قیسٍ بنتِ محصنٍ اَنّهآ اَتت رسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ علیْهِ واٰلِه وسلَّم بابنٍ لَّهالَمْ یاْکُلِ الطَّعام فوضعهٗ فِیْ حجْرِه فبال قال فلَمْ یزِدْ علٰی اَنْ نَّضع بالْماۤءِ. [بخاری : ۲۲۳، ۵۶۹۳، ترمذی : ۷۱، ابن ماجه : ۵۲۴، وانظر فی مسلم ۵۷۶۲]

ترجمه: دام قیس بنت محصنؓ نه روایت دے هغے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم له یو بچے

راوړو راغلـه چه هغـه غـلـه نـه خوړه او هغـه لره حضرتؐ په غیرهٔ کښ واخستو هغه ما شوم

متـازے او کړلے هغهٔ فقط اوبه په هغے باندے واچولے۔

(۲۲۶) عن الزهری بهذا الاسناد وقال : فدعا بماء فرشّه [راجع : ۲۲۵]

ترجمه: زهری هم دغه روایت لره په دے سند سره بیانوی۔

(۲۲۷) عن عُبیْدِ اللّٰهِ بن عبْدِاللّٰهِ بْنِ عتْبة بْنِ مسْعُوْدٍ اَنّ اُمّ قیْسٍ بنْت محْصنٍ وّ کانتْ مِنَ الْمُهاجراتِ الْاَوَّلِ اللَّاتِیْ بایعْن رسُوْل اللّٰهِ صلّے اللّٰهُ علیْه واله وسلَّم وهی اُخْتُ عُکّاشة بْنِ محْصنٍ احدِبنِیْ اسدِ بْنِ خُزیْمة قال اخْبرتْنِیْ انّهآ اتتْ رسُوْل اللّٰهِ صلّے اللّٰه علیْه واله وسلّم بِابْنٍ لّهالَمْ یبْلُغْ انْ یّاْکُل الطّعام قال عُبیْدُ اللّٰهِ اخْبرتْنِیْ انّ ابْنهاذاک بال فِیْ حجْرِرسُوْلِ اللّٰهِ صلّے اللّٰهُ علیْه واله وسلّم بماۤءٍ فنضحهٗ علٰی ثوْبه ولمْ یغْسِلْهُ غسْلًا.

ترجمه : دعبید الله بن عبد الله بن عتبه بن مسعودؓ نه روایت دے چه ام قیس بنت محصنؓ کومه چه په وړمبو مهاجراتو کښې وه چه هغوی بیعت کړے وو. درسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه او هغه دعکاشه بن محصن خوروه مانه بیان کړے دے چه هغے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم لره خپل یو بچے راوړو راغله چه هغه غله نه خوړله هغه بچي درسول الله صلے الله علیه واله وسلم په غیږه کښې متیازے او کړلے پس رسول الله صلے الله علیه واله وسلم اوبه او غوښتلے او په کپړه باندینے توئ کړلے او هغے لره ئے او نه وینځله.

فائده : نووی وئیلے دی ددے حدیثو نه دبچي په خله کښې دڅه جونیلے څیز دورګولو استحباب ثابتیږی او داهل صلاح او فضل نه برکت حاصلول ترے نه هم وتلے دی او داهم معلومیږی چه بچولره دبزرګانو خواله وړل غوره دی او داهم معلومیږی چه حسن معاشرت او نرمی او ملائمت او په بچو باندے ترحم کول زیات ښه څیز دے او دباب نه مقصود دادے چه دبچي په متیازو باندے صرف اوبه اچول کافی دی په دے باب کښې درے مذهبو نه دی یو صحیح او مشهور دادے چه دهلك په متیازو باندے اوبه تویه ول کافی دی لیکن دجینۍ متیازے په شان دنوروپلیتو وینځل ضروری دی دویم مذهب دادے چه ددواړو په متیاز و باندے اوبه تو ښه ول کافی دی دریم مذهب دادے چه ددواړو وینځل ضروری دی ورستو دواړه مذهبو نه شاذاو ضعیف دی او وړمبی مذهب لره اختیار کړے دے علیؓ ابن ابی طالب او عطاء بن ابی رباح او حسن بصریؒ او احمد بن حنبلؒ او اسحق بن راهوؒ یه یو جماعت دسلفو او خاوند انو دحدیثو او دغه قول دے داابن وهبؒ اختیار کړے دے او دابو حنیفهؒ نه هم مشهور دے دااختلاف په هغه بچي کښې دے چه هغه سیوا دپیو نه بله غله نه خوری هر کله چه هغه غله خوړل شروع کړی نو دنولو په نزد هغه متیازے وینځل ضروری دی. انتهی باختصار

﴿بَاب حُكْمِ الْمَنِيِّ﴾

باب : دمنۍ حکم

(۲۶۸) عَنْ عَلْقَمَةَ وَالْاَسْوَدِ اَنَّ رَجُلًا نَزَلَ بِعَائِشَةَ فَاَصْبَحَ يَغْسِلُ ثَوْبَهُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ اِنَّمَا كَانَ يُجْزِئُكَ اَنْ

رأيته ان نغسل مكانه فان لم تر نضحت حوله لقد رأيتني افركه من ثوب رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فركا فيصلي فيه

ترجمه: دعلقمه او اسود نه روایت دے چه یو سړے دحضرت عائشےؓ بنه خواه تیر یدلو هغه سحر خپلے کپړے وینځلے (کیدے شی چه شپے ورته احتلام شوے وو) حضرت عائشےؓ او وے تاله کافی وه کچرے منی تالیدلے وے نو صرف هغه مقام به دے وینځلے وو او چه دے نه ده لیدلے نو او به به دچاپیره په خوا اوشیندے نو ستلے وے ماخو به درسول الله صلی الله علیه واله وسلم منی چهیل کوله (یعنی ریژوله ځکه چه هغه به وچه شوے وه) بیابه هغهؐ هغه کپړے واغوستے او مونځ به نے لوستلو۔

(۲۶۹) عن الاسود وهمام عن عائشة في المني قالت كنت افركه من ثوب رسول الله صلى الله عليه واله وسلم

ترجمه: داسود او همامؒ نه روایت دے چه حضرت عائشے رضی الله عنها اووے مابه درسول الله صلی الله علیه واله وسلم دکپړونه منی ریژوله۔

(۲۷۰) عن عائشة في حت المني من ثوب رسول الله ﷺ نحو حديث خالد: [راجع: ۳۰۰ | ابن ماجه: ۵۳۹]

ترجمه: په دے سند سره هم مکوره بالا حدیث مروی دے۔

(۲۷۱) عن عائشة بنحو حديثهم: [ابوداود ۳۷۱، ابن ماجه: ۵۳۷م نسائي: ۲۹۶، ۲۹۷، ۲۹۸]

(۲۷۲) عن عمرو بن ميمون قال سئلت سليمان بن يسار عن المني يصيب ثوب الرجل ايغسله ام يغسل الثوب فقال اخبرتني عائشة ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم كان يغسل المني ثم يخرج الى الصلوة في ذلك الثوب وانا انظر الى اثر الغسل فيه. [بخاري: ۲۲۹، ۲۳۱، ۲۳۲، ابوداود: ۳۷۳، ترمذي: ۱۱۷، نسائي ۲۹۳، ابن ماجه. ۵۳۶]

ترجمه: دعمروبن میمون نه روایت دے ما دسلیمان بن یسار نه تپوس او کړو که چرے منی په کپړه باندے او لګی نو منی به وینځی یا کپړه به وینځی؟ هغوی ماته اووے چه حضرت عائشے رضی الله عنه بیان کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم به منی لره وینځله بیابه

مانځه ته وتلو به هغه جامو کښې او ما به دوېنځلو نښان لیدو دهغه په کپړو کښې ۔

(۶۷۳) قال ابن بشر ان رسول الله ﷺ كان يغسل المنى واما ابن المبارک وعبد الواحد ففى حديثهما قالت كنت اغسله من ثوب رسول الله ﷺ : [راجع : ۶۷۲]

په دې سند سره هم دغه حدیث مروی دے خو په الفاظو کښې لږ شان فرق دے ۔

(۶۷۴) عَنْ عبد الله ابن شهابِ الخولانيّ قال كُنتُ نازلاعلى عائشة فاحتلمتُ فِيْ ثوبَيّ فغمستُهمافى المآء فرآتنِيْ جاريةُ لعائشة فاخبرتهافبعثتْ اليّ عَآئشةُ فقالتْ مَاحملک على ماصنعْت بثوبَيک قال قُلتُ رأيتُ مايرى النّآئمُ فِيْ منامه قالتْ هلْ رأيتِ فِيْهماشيْئاقُلتُ لاقالتْ فلوْرءيْتَ شيْئاغسلْتَهُ لقدرأيتُنِيْ وَإنّيْ لاحُكُّهُ منْ ثوب رسوْل الله صلّے اللّهُ عليه واله وسلّم يابسًابظُفرِيْ.

ترجمه : دعبدالله بن شهاب خولانی نه روایت دے زه دحضرت عائشے خواله راغلم ماته احتلام او شو په کپړوکښې ما هغې لره په او بو کښې ډوبے کړلے دَ حضرت عائشے یوے وینزے او لیدل او هغوی ته نے بیان اوکړو هغه جامو لره تاولے غوپه کړے ما اووے په خوب کښې ما هغه اولیدل کوم چه خوب والا وینی (مراد احتلام دے)هغوی اووے په کپړو کښې تاخه اثر اولیدو ما اووے نو هغوی اووے که چرے په کپړو کښې تاخه لیدلے وے نو دهغے وینځل کافی وو او ماخود رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دجامو نه وچه منی په خپلو نو کونو سر ریژه وله۔

فائده : یعنی کچرے په کپړه باندے منی او لگی نو دتولے کپړے وینځل او غوپه ورکول ضروری نه دی صرف هغه مقام به وینځی په کوم ځائے چه منی لگیدلے وی نووی وئیلے دی علماو اختلاف کړے دے دسړی په منی کښې نو د مالك او دابو حنیفهٔ مذهب دادے چه هغه نجسه ده مگر دابو حنیفهٔ په نزدکچرے منی وچه وی نو دهغے ریژول کافی دی ۔ او دغه یو روایت دے دامام احمد بن حنبل نه او دامام مالك په نزد دَهغے وینځل په هر حال کښې ضروری دی اولیث وئیلے دی چه منی نجسه ده لیکن که دمنی لگیدو سره یو سړی مونځ اولو ستو نو دمانځه راگرځول ضروری نه دی اوحسنؒ وئیلے دی چه کچرے په کپړه باندے منی لگیدلے وی او په هغے سره مونځ لولی نو دمانځه راگرځول ضروری نه دی اگر که منی هر څومره ډیره وی لیکن که چرے په بدن لگیدلے وی نو دَ مانځه راگو ځول ضروری دی اگر که منی لږه وی۔

او ډیر علماء په دے طرف تلے دی چه منی پاکه ده او دامروی دے دحضرت علیؓ او سرد بن ابی وقاصؓ او عمرؓ او عائشه رضی الله عنهم نه او احمد نه صحیح تر روایت کښې او دغه مذهب دے دشافعی او اهل حدیثو او چاچه وئیلے دی چه دمنئ طهارت صرف دشافعی قول دے هغه غلطی کړے ده اوس چه ورته کوم خلق نا پاکه وائی دهغوی دلیل هغه حدیث دے چه په هغے کښې دمنئ دوینځلو ذکر دے او څوك چه ورته پاکه وائی دهغوی دلیل هغه حدیث دے چه په هغے کښې دریږولو ذکر دے ولے کچرے منی نجسه وے نو دهغے مږل او ریږول به کافی نه وو لکه چه دوینے مږل او ریږول کافی نه دی او خلق وائی چه دوینځلو روایت محمول دے په استحباب او صفائیٔ باندے یعنی وینځل ئے غوره دی داخودسړی دمنئ حکم شولو اوس زمونږ داصحابو یو قول ضعیف بل دے هغه داچه دمنی دښځے نجسه ده او دسړی پاکه داه او یو قول ددے نه هم زیات ضعیف دے هغه دادے چه ددوارو منی نجسه ده او تهیك دغه دے چه دسړی او ښځے دواړو منی نجسه ده او هر کله چه منی پاکه شوه نو دهغے خوړل درست دی یا نه دی په دے کښې دوه قولو نه دی صحیح دادے چه درست نه دی ولے چه طبیعت دهغے نه کر که کوی نو هغه په خبائث کښې داخل دی کوم چه حرام دی او س منی دنورو ځناورو نو دسپی او سور منی خونجس ده بے لا خلافه او دنورو ځناورو په منی کښې درے قولو نه دی صحیح دادے چه هغه پا که ده خواه که دهغه ځناور غوښه حلاله وی یا نه وی دویم قول دادے چه هغه نا پا که ده مطلقا دریم قول دادے چه دکوم ځناور غوښه حلال دهغه منی پاکه ده او دکوم ځناور غوښه چه نا پاکه وی دهغه منی هم نا پا که ده

نووی وئیلے دی دحضرت عائشے رضی الله عنها ددے حدیث نه خلقو دلیل قائم کړے دے چه دښځے دفرج رطوبت پاك دے او صحیح هم دغه دے او هغوی داوئیلے دی چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته احتلام خوکیدل محال وو ولے چه احتلام دشیطان دفریب نه کیږی نو اوس چه کومه منی په رسول الله صلی الله علیه واله وسلم باندے وه هغه به ضرور دجماع په وجه سره وه او په جماع په وجه سره وه او په جماع کښې منی دفرج درطوبے سره یو ځائے کیږی او کوم خلق چه دفرج رطوبے ته نجس وائی هغوی دوه جوابونه ورکړے دی یو داچه احتلام همیشه

دشیطان دفریب نه نه کیږی بلکه هر کله چه په بدن کښې داعتدال نه زیاته منی پیدا کیږی نو طبیعت هغې لره رفع کوی دریمه دا چه احتمال دے چه دامنی دمقدمات جماع یعنی ښکلولو او مساس او مباشرت نه وتلې وی (انتهی .)

﴿بَابُ نَجَاسَةِ الدَّمِ وَ كَيْفِيَّتِ غَسْلِهِ:﴾

باب : دوینې نجاست او دهغې دوینځلو بیان.

(۵۷۲) عن اسماء قالت جاءت امرأة الی النبی صلی الله علیه واله وسلم فقالت احدنا یصیب ثوبها من دم الحیضة کیف تصنع به قال تحته ثم تقرصه بالماء ثم تنضحه ثم تصلی فیه. [بخاری : ۲۲۷، ابوداود : ۳۶۱، ترمذی ۱۳۸ ، نسائی : ۲۹۲، ابن ماجه : ۶۲۹]

ترجمه : داسماءؓ نه روایت دے یوه ښځه راغله رسول الله صلی الله علیه واله وسلم له او هغې اووے زمونږ نه چه دچا په جامو باندے دحیض وینه او لږی هغه به څه کوی ؟ هغه او فرمایل وږمبے به هغې لره او ریژه وی بیابه پرے اوبه واچوی او مږی به ئے بیابه ئے وینځی بیابه په هغه جامو باندے مونځ اولولی.

فائده : نووی ونیلی دی ددے حدیث نه وتلې دی چه دپلیتئ په او بو سره وینځل واجب دی او څوک چه ئے په څه بل څه څیز سره او وینځی لکه سرکه وغیره سره نو جائز به نه وی او وینه پلیته ده به اجماع داهل اسلام او دپلیتئ په وینځلو کښې صفاکول دهغې ضروری دی دعدد شرط نشته دے که نجاست حکمی وی چه هغه په سترګو سره نه شی لیدے لکه متیازے وغیره دهغې وینځل یو ځل واجب دی او په دویم دریم ځل مستحب دی او نجاست عینی کوم چه په سترګو سره لیدے سی نو دهغې وینځل واجب دی چه نجاست زائل شی او س ورستو دهغې نه په دوے با دریم ځل وینځل مستحب دی او دکپړے نچوړ ول دوینځلو نه پس شرط نه دی دصحیح قول په مطابق او س که چرے دنجاست عینی رنګ دوینځلو نه پس پاتے شی نو څه قباحت نشته البته که دهغې خوند باقی وی نو هغه کپړه ناپاکه ده او خوندلرے کول ترے نه ضروری دی او کچرے بوی باقی پاتے شی نو په دے کښې دوه قولو نه دی صحیح دادے چه هغه به پاکوله شی

انتهی مختصرا

(٦٧٦) عن هشام بن عروة بهذا الاسناد مثل حديث يحيى بن سعيد : [راجع : ٦٧٥]

ترجمه : د هشام بن عروة نه په مثل د وړاندے حديث مروی دے ۔

باب الدليل علىٰ نجاسة البول ووجوب الاستبراء منه

باب: د متيازو د نجاست بيان او د هغې نه د پرهيز د ضروری کيدو بيان ۔

(٦٧٧) عن ابن عباس قال مر رسول الله صلى الله عليه واله وسلم على قبرين فقال اما انهما ليعذبان وما يعذبان في كبير اما احدهما فكان يمشي بالنميمة واما الاخر فكان لا يستتر من بوله قال فدعا بعسيب رطب فشقه باثنين ثم غرس على هذا واحدا ثم قال لعله ان يخفف عنهما مالم ييبسا [بخاری : ٢١٨، ١٣٦١، ١٣٧٨، ٦٠٥٢، ابو داؤد : ٢٠، ترمذی : ٧٠، نسائی : ٣١، ٢٠٦٧، ابن ماجه : ٣٤٧]

ترجمه : عبد الله ابن عباسؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ په دوو قبرونو باندے تير شو نو اوئے فرمائيل چه دے دواړو قبرونو والا ته عذاب کيږی او دا خه په لويه گناه باندے نۀ دی يو خو په دوی کښې چغل خوری کوله او بل به دَ متيازو نه ځان نۀ ساتلو ۔ بيا رسول الله ﷺ يوه شنه لخته رااوغوښتله او هغې لختے لره ئے دوه کړلے او د هغوی دَ قبرونو دَ پاسه ئے خخے کړے او اوئے فرمائيل شائد چه تر کومې پورے دا دواړه لختے اوچے نۀ شی نو تر هغه وخته پورے به دَ دوی په عذاب کښې سپکوالے وی

فائده : دبخاری په روايت کښې دومره زياته ده "او هغه لوئے گناه ده بيا چه ئے کوم دا او فرمائيل چه په لوئے گناه باندے نه دے ددے نه به داغرض وی چه د هغه په خيال سره لوئے نه وو . يادامطلب دے چه د هغه گناه نه قلاريدل هغه ته گران نه وو او قاضی عياض يودريم تاويل کړے دے هغه دادے چه دلوئے نه لوئے گناه نه وه . ددے نه دامطلب دے چه عذاب خه دلوئے نه په لوئے گناه باندے منحصر نه دے بلکه په وړو کی گناه باندے هم وی او د هغه گناه دلوئے کيدو داسبب دے چه متيازو نه کله پرهيزنه کوی نو مونځ باطل شو يعنی مونځ پريخودلے کيدو او دمانځه پريخو دل گناف کبيره ده دغه شان چغل خوری او فساد دتولو نه بد تر گناه ده (نووی)

هغه په هریو قبر باندے یو ه یو ه خانګه اولګوله شاید چه ددے دو چیدو پورے عذاب کم شی نووی وئیلے دی ددے مطلب دادے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دهغوی دواړو شفارس او کړو نو هغه شفارس قبول شو لو په دے شان سره چه دهغوی دعذاب نه دکمولو حکم ا وشو دخانګے دو چید و پورے او کیدے شی چه هغه دعا کړے وی دهغوی دپاره دخانګود وچیدو پورے او احتمال دے چه شنے خانګے ثنا وائی او دهغے وجے نه دعذاب کمے شی او هر کله چه وچے شی نو تسبیح موقوف کیدے شی۔

ولے چه وإن مَنْ شَيْءٍ الْاَيُسَبِّحُ بحمْده نه داکثر ومفسرینو په نز هغه شی مراد دے چه هغه ژوندے وی او دګتے ژوند دهغے پورے وی چه هغه کټ شوے نه وی او دمحققینو علماؤ دغه قول دے چه آیت عام دے او هریو څیز حقیقتا تسبیح کوی او بعضو وئیلے دی چه هر څیز دخپل صورت او سیرت او او صافو او تاثیراتو په وجه سره دخپل صانع په قدرت باندے دلالت کوی او دغه دهغے تسبیح ده

برگ درختان سبز درنظر ہو شیار ہر ورقے دفتر یست معرفت کر دگار!

او ددے حدیث نه علماؤ داخبره وستلے ده چه دقبر په خواه کښ قران لوستل مستحب دی ځکه چه هر کله په شین خاخ سره دعذاب کمے وی نو دقران په برکت سره به ضرور په عذاب کښ کمے راځی او بخاریؒ په خپل صحیح کښ روایت کړے دے چه بریده بن حصیب اسلمیؓ وصیت کړے وو چه زما په قبر کښ ددوه شنه خانونه کینږدلے شی او کیدے شی چه هغوی تبرکا درسول الله صلے الله علیه واله وسلم په دے فعل لیدو سره داوصیت او کړو خطابیؒ انکار کړے دے دهغه فعل کوم چه خلق دقبر نو سره کوی یعنی ګلونه اوبنابنونه اچول اووئیلے دی چه ددے څه اصل نشته ددے حدیث نه داهم وتلے دی چه دقبر عذاب حق دے او معتزله وددے خلاف کړے دے او متیازے نجسے دی او چغل خوری حرامه ده هر کله چه دفسادپه نیت سره وی او کوم چه دچا مسلمان دضرر نه بچ کول منظور وی نو ثواب دے هغه په چغل خوریؒ کښ داخل نه دی (انتهی مع زیاده)

عَنْ الْاَعْمش بهذا الْاسْناد غیْر انه قال : وکان الْآخر لا یَسْتنْزه عَن الْبوْل او منَ الْبَوْل :

ترجمه : د اعمش نه په دے سند سره دا روایت دے او په دے کښې دا الفاظ دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل : چه کوم دویم سړے دے هغه به د متیازو نه خان نه ساتلو .

﴿كِتَابُ الْحَيْضِ﴾

د حیض بیان

فائده :۔ د حیض معنیٰ ده په لغت کښې بهیدل . او په اصطلاح کښې هغه وینے ته ونیلے کیږی . کومه چه د بالغے ښځے د رحم نه بهیږی په معین ورځو کښې . او استحاضه هغه وینه ده چه هغه بے وخته د عادت نه خلاف راشی .

﴿بَابُ مُبَاشَرَتِ الْحَائِضِ فَوْقَ الْإِزَارِ :﴾

باب:۔ د تهبند د پاسه د حائضے ښځے سره مباشرت کول .

(۱۰۹) عن عائشة قالت كانت احدانا اذا كانت حائضا امرها رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فتاتزر بازار ثم يباشرها .[بخاری : ۳۰۰، ۲۰۳۱، ابو داود : ۲۶۸، ترمذی : ۱۳۲، نسائی : ۲۷۵، ابن ماجه : ۶۳۶]

ترجمه : د ام المومنین حضرت عائشےؓ نه روایت دے . زمونږ نه چه به کله څوک حائضه شوه نو رسول الله ﷺ به هغے ته حکم اوکړو . د تهبند د تړلو بیا به نے مباشرت کولو د هغے سره .

فائده :۔ یعنی پټیدو به په څادر کښې د هغے سره اولاس به نے وروړلو او ښکلو له به نے خو جماع به نے نه کوله ولے چه په حیض کښې جماع کول حرام دی په اجماع د اهل اسلامو او که چرے څوک دے لره حلال اوګڼړی نو هغه کافر مرتد دے څکه چه ددے حرام والے د قرآن نه ثابت دے . او څوک چه نے حلال نه ګڼړی او په هیره سره یا د کم عقلئ په وجه داسے کار اوکړی نو په هغه باندے نه ګناه شته دے نه کفاره . او که چرے قصداً داسے اوکړی نو ګناه کبیره ده . او کفاره پرے واجب نه ده د مالکؒ او ابو حنیفهؒ او شافعیؒ په یو روایت کښې دغه قول دے . او زمونږ سلفو د غے لره اختیار کړے دے . لکه عطاءؒ او ابن ابی ملیکه او شعبیؒ او نخعیؒ او مکحولؒ او زهریؒ او ابو الزناد او ربیعهؒ

او حماد بن ابی سلیمان او ایوب سختیانیؒ او سفیانه ثوریؒ او دلیث بن سعدؒ . او یو قول دادے چه په هغه باندے کفاره واجب ده او دامروی دے . د حضرت ابن عباسؓ او حسن بصریؒ او سعید بن جبیرؒ نه او داقول دے د قتاده او زاعیؒ او د اسحقؒ او د احمدؒ .

په یو روایت کښې اوس اختلاف کړے دے . هغه خلقو په کفاره کښې . نو حسنؒ او سعید وئیلے دی . هغه کفاره ده دیو غلام آزاده ول دی . او باقی خلقو وئیلے دی هغه یو دینار یانیم دینار صدقه ورکول دی . او دلیل د هغوی د ابن عباس حدیث دے . مرفوع چه کوم سړے د خپلے ښځے سره جماع اوکړی د حیض په حالت کښې . نو هغه دی یو دینار صدقه ورکړی یا نیم دینار . لیکن دا حدیث په اتفاق د حافظو ضعیف دے . انتهی .

(٦٨٠) عَنْ عائشة قالتْ كانتْ اِحْدانااذاكانتْ حائضًاامَرهارسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِه وسَلَّمَ اَنْ تَاْتَزِرفِىْ فَوْرِحَيْضَتِهَاثُمَّ يُبَاشِرُهاقالتْ واَيُّكُمْ يَمْلِكُ اِرْبَهٗ كَماكانَ رسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَليْهِ واٰله وسلَّم يَمْلِكُ اِرْبَهٗ

[بخاری . ٣٠٢ ، ابوداود : ٢٧٣ ، ابن ماجه : ٦٣٥]

ترجمه : د ام المؤمنین حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے . چه په مونږ کښې به هرے یوے ښځے ته چه حیض راغے . نورسول الله ﷺ به هغے ته د تهبند د تړلو حکم کولو هر کله چه به د حیض وینه په جوش کښې وه . بیا به ئے د هغے سره مباشرت کولو . حضرت عائشےؓ اووے پتاسو کښې خوك په خپل خواهش او ضرورت باندے دومره قدرے اختیارلری . څومره چه رسول الله لرلو

فائده : . یعنی په نفس باندے قابو لرل . او خپل خواهش لره بے موقع منع کول دا د هر سړی کار نه دے . البته چه رسول الله ﷺ کښې دا قدرت وو . ځکه چه د کوم سړی نه صبر نه شی کیدے . هغه له دغه غوره ده چه د حائضے سره مباشرت هم اونه کړی . داسے نه وی چه دشهوت په غلبه کښې جماع اوکړی او گنهگار شی . نوویؒ وئیلے دی . مباشرت یو خو د جماع په معنی کښې دے . هغه د حیض په حالت کښې حرام دے . لکه چه پورته بیان شو .

او یو مباشرت دادے چه د نامه د پاسه او د زنگونانو نه لاندے مباشرت اوکړی . په ذکر

سره یٔ ښکلولو سره یا غاړه ویستلو سره یا چیچلو سکونډلو سره دا حلال دي . د حیض په حالت کښې په اتفاق د علماؤ . او هغه کوم چه دعبیده سلماني نه منقول دي . چه ددې قسم مباشرت هم د حیض په حالت کښې درست نه دي . نو دا شان منکر دي دې لره چا قبول کړې نه دي او که چرې ثابت هم شي خو مردود دي . په دلیل د احادیث صحیحه چه هغې لره بخاري اومسلم روایت کړې دي . چه رسول الله ﷺ به د ازار نه د پاسه مباشرت کولو . او یو مباشرت دادي چه زنګونانو او نوم په مینځ کښې مباشرت کوي لیکن سیوا د قبل او دبر نه په نورو مقامونو کښې په دې کښې درې قولونه دي .

صحیح دادې چه حرام دي . اوس دا حرمت ممتده دي . کوم ځائے کښې چه حیض بند شولو . او ښځې غسل اوکړو . یا ئے تیمم اوکړو . نو د هر قسم مباشرت ورسره حلال کیدې شي . زمونږ او د مالک او احمد مذهب دغه دي . او د امام ابو حنیفه په نزد که په لس ورځو کښې حیض بند شولو نو دغسل نه وړاندې هم مباشرت حلال دي . انتهی مختصرا .

(۲۸۱) عَنْ مَيْمُونَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّمَ يُبَاشِرُ نِسَآءَهُ فَوْقَ الْاِزَارِ وَهُنَّ حُيَّضٌ .

[بخاري : ۳۰۳ . ابوداود : ۲۱۶۷]

ترجمه : د ام المؤمنین میمونه رضی الله عنها نه روایت دي . چه رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به دخپلو ښځو (بيبيانو) سره مباشرت کوؤ د ازار د پاسه . او هغه به حائضه وې .

بَابُ الْاِضْطِجَاعِ مَعَ الْحَائِضِ فِيْ لِحَافٍ وَّاحِدٍ .

باب د حيض والا ښځې سره په يوځادر کښې سملاستل .

(۲۸۲) عَنْ مَيْمُوْنَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّمَ يَضْطَجِعُ مَعِيْ وَاَنَا حَائِضٌ وَبَيْنِيْ وَبَيْنَهٗ ثَوْبٌ .

ترجمه : د ام المؤمنين حضرت ميمونه نه روايت دي . چه رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم زما سره سملاستو او زه به حائضه ووم . زما او د هغه په مينځ کښې به يوه کپړه حائل وه .

(۲۸۳) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ بَيْنَمَآ اَنَا مُضْطَجِعَةٌ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّمَ فِي الْخَمِيْلَةِ اِذْ حِضْتُ فَانْسَلَلْتُ فَاَخَذْتُ ثِيَابَ حِيْضَتِيْ فَقَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّمَ اَنُفِسْتِ قُلْتُ نَعَمْ فَدَعَانِيْ

فاضطجعت معه في الخميلة فقالت و كانت هي و رسول الله صلى الله عليه و اله وسلم يغتسلان في الاناء الواحد من الجنابة.[بخاري. ٢٩٨، ٣٢٢، ١٩٢٩، نسائي: ٢٨٢، ٣٦٩]

ترجمه: د ام المؤمنين ام سلمه نه روايت دے. چه زه د رسول الله صلى الله عليه واله وسلم سره پټه شوے ووم په څادر کښې دفعتاً ماته حيض راغے. زه يو خواته شوم او خپلے د حيض کپړے مے راواخستے رسول الله صلى الله عليه واله وسلماوفرمايل ولے تاته حيض راغے؟ ما اووے هاؤ! هغه زه راوغوښتم بيازه د هغه سره پريوتم په هغه څادر کښې ام سلمة وائي ما او رسول الله صلى الله عليه و اله وسلمبه په يو لوښي سره غسل کوؤ د جنابت نه.

فائده: نووي وائي ددے حديث نه دا اوځي چه د حائضے سره او ده کيدل جائز دي دغه شان د هغے سره په يو څادر کښې پټيدل په شرط ددے چه د بدن سره بدن نه لږي. د نوم (ناف) نه لاندے او د زنګونانو د پاسه. يا صرف فرج نه لږي علماؤ وئيلے دي چه د حائضے سره پريوتل او هغه ښکلول درست دي. دغه شان مساس کول د نوم نه د پاسه او د زنګونانو د لاندے او د حائضے ښځے لاس نجس نه دے. هغه په اوبو او په هر يو روان څيز کښې لاس منډلے شي. او د خپل خاوند سر وينځلے شي ګومنز کولے شي. غله پخولے شي. د هغے خوله او جوټه دواړه پاك دي او ابن جرير وائي په دے باندے د علماؤ اجماع ده. انتهى.

﴿باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجيله وطهارة سؤرها والاتكاء في حجرها وقراءة القرآن فيه﴾

باب: په دے بيان کښې چه حائضه ښځه د خپل خاوند سر اووينځلے شي او د هغه په سر کښې ګومنز کولے شي د هغے په غيږه کښې تکيه لګول او قرآن لوستل جائز دي.

(٦٨٤) عن عائشة قالت كان النبي صلى الله عليه واله وسلم اذا اعتكف يدني الي رأسه فأرجله و كان لايدخل البيت الا لحاجة الانسان. [ابوداود: ٢٤٦٧]

ترجمه: د حضرت عائشې نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به کله طواف کولو نو خپل سر مبارك به ئے ماطرف ته ټيټولو او ما به هغے کښې ګومنز کوله. او حضور ﷺ به کور ته

تشریف نهٔ راوړلو مګر د؛ حاجت انسانی د پاره

فائده : نـووی وئـیلـے دی . ددے حدیث نه څو فائدے د اعتکاف معلومے شوے چه د هغے ذکر به انشاء الله د اعتکاف په باب کښې راشی . او ددے نهٔ معلومیږی چه که چرے اعتکاف کونکے د خپل بدن څه حصه لکه لاس یا خپه یا سر د جماعت نه بهر اوکاږی نو د هغه اعتکاف نه باطلیږی . او کوم سړے چه قسم اوکړی ددے خبرے چه فلانی کورته به نه ځم یا به د فلانی کورنه نه اوځم بیا چه هغه د خپل بدن څه حصه هغه کورته دننه کړی یا نے د هغے نه راوباسی نو د هغه قسم نه ماتیږی او د اهم معلومه شوه چه خاوند د خپلے بی بی نه خدمت اخستے شی په پخولو او لمبولو او وینځلو کښې په شرط ددے چه هغه راضی وی . انتهی .

(۶۹۵) عن عمرة بنت عبد الرّحمن انّ عائشة زوج النّبیّ صلی اللّٰه علیه واله وسلّم قالت ان کنت لادخل البیت للحاجة والمریض فیه فماأسئل عنه الّا وانامارّة وان کان رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه واله وسلّم لیدخل علیّ رأسه وهو فی المسجد فارجله وکان لایدخل البیت الّا لحاجة اذاکان معتکفا وقال ابن رمح اذاکانوا معتکفین. [بخاری : ۲۰۲۹، ابوداود : ۲۴۶۸، ابن ماجه : ۱۷۷۶]

ترجمه : ام المؤمنین حضرت عائشےؓ وئیلی دی . زهٔ (چه به کله په اعتکاف کښې وم) کورته به تلم د حاجت د پاره او روانه روانه کښې چه به څوك په کور کښې بیمار شو د هغه تپوس به مے کوو او رسول الله صلی الله علیه واله وسلم به خپل سر په جماعت کښې زما په طرف راوبخوا کړو هغه به مے ګومنز کوو او هغه به کورته نه راتلو مګر د حاجت د پاره هر کله چه به په اعتکاف کښې وو . ابن رمح وئیلی دی هر کله چه به هغه ټول اعتکاف کښې وو .

(۶۹۶) عن عآئشة زوج النّبیّ صلی اللّٰه علیه واله وسلّم انها قالت کان رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه واله وسلّم یخرج الیّ رأسه من المسجد وهو مجاور فاغسله وانا حائض. [نسائی : ۲۷۵]

ترجمه : د ام المؤمنین عائشے رضی الله عنها نه روایت دے . هر کله چه به رسول اللهصلی الله علیه واله وسلم په اعتکاف کښې وو . نو د جماعت نه به ئے خپل سر راویستو بهر ته . ما به د هغه سر (مبارك) وینځلو حالانکه زهٔ به حائضه وم .

(۶۹۷) عن عآئشة انها قالت کان رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه واله وسلّم یدنی الیّ رأسه وانا فی حجرتی

فأرجل رأسه وأنا في حجرتي فأرجل رأسه وانا حائض.

ترجمه: د ام المؤمنین حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے . رسول الله صلی الله علیه واله وسلم به خپل سر ماته رانزدے کړو . او زه به په حجره کښې وم. بیا به ما د هغه په سر کښې کنګی یعنی ګومنز اوکړه او زهٔ به حائضه وم.

(۲۸۸) عن عائشة قالت كنت اغسل رأس رسول الله صلى الله عليه واله وسلم وانا حائض. [بخاری: ۳۰۱، نسائی ۲۷۴، ۳۸۵]

ترجمه: ام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله عنها وئیلے دی . رسول الله صلی الله علیه واله وسلم له به ما سر وینځلو او زه به حائضه وم.

(۲۸۹) عن عائشة قالت قال لى رسول الله صلى الله عليه واله وسلم ناوليني الخمرة من المسجد قالت فقلت اني حائض فقال ان حيضتك ليست في يدك. [ابو داود: ۲۶۱، ترمذی: ۱۳۴، نسائی: ۲۷۱، ۳۸۴]

ترجمه: حضرت عائشه رضی الله عنها وئیلے دی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ماته اوفرماتیل . ماته جا نماز راوچت کړه د جماعت نه . ما اووے زه حائضه یم حضرت (صلی الله علیه واله وسلم) اوفرمایل . حیض ستا په لاس کښې خو نه دے .

فائده: په حدیث کښې د خمره لفظ دے . اکثرو علماؤ وئیلے دی . چه خمره هغه لږه شان ټکړه د د یو دے وغیره چه په هغے باندے سجده کوی . او خطابی وئیلے دی د خمره نه مراد جانماز دے او کوم چه نے دا اوفرمایل ستا حیض په لاس کښې نه دے . د هغے مطلب دا دے . چه ته د جماعت نه بهر اودریږه او لاس دننه کړه بوریا راکاږه او په لاس دننه کولو کښې څه قباحت نشته اګرچه ته د حیض نه ئے .

(۲۹۰) عن عائشة قالت امرني رسول الله صلى الله عليه واله وسلم ان اناوله الخمرة من المسجد فقلت اني حائض فقال فنا وليها فان الحيضة ليست في يدك. [راجع: ۶۸۹]

ترجمه: د ام المؤمنین عائشے رضی الله عنها نه روایت دے . ماته رسول الله ﷺ حکم اوکړو . د جانماز د اچتولو د جماعت نه . ما اووے ماته حیض دے . هغه اوفرمایل اوچت کړه حیض ستا په

لاسونو کښې کله دے

(۲۹۱) عن ابی هریرة قال بینما رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فی المسجد فقال یاعائشة ناولینی الثوب فقالت انی حائض فقالت انی حیضتک لیست فی یدک فناولته. [نسائی : ۲۸۱]

ترجمه : د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ په جماعت کښې وو په دے کښې هغه اوفرمایل . اے عائشه زما نه داکپړه اوچته کړه هغوی اووے . زه حائضه یم هغه اوفرمایل ستا حیض ستا په لاس کښې نه دے . بیا هغے کپړه اوچته کړه .

(۲۹۲) عن عائشة قالت کنت اشرب وانا حائض ثم اناوله النبی صلے الله علیه واله وسلم فیضع فاه علی موضع فیّ فیشرب واتعرق العرق وانا حائض ثم اناوله النبی صلے الله علیه واله وسلم فیضع فاه علی موضع فیّ ولم یذکر زهیر فیشرب. [ابوداود : ۲۵۹، نسائی : ۷۰، ۲۷۹، ۲۸۰، ۲۸۱، ابن ماجه : ۶۴۳]

ترجمه : د ام المؤمنین حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه ما اوبه څکلے چه اوبه مے اوڅکلے نو هغه لوښے مے رسول الله ﷺ ته ورکړو . هغه به هغه ځائے باندے خله کیښوده په کوم ځائے باندے چه ما خله ایخے وه او څکلے مے وے . او اوبه نے اوڅښلے حالانکه زه د حیض په حالت کښې ووم . او د هډوکی نه (غوښه په خله) اوشوکوله او باقی مے بیا رسول الله ﷺ ته ورکړه هغه به هغه ځائے خله اولګوله په کوم ځائے باندے چه ما لګولے وه . (او اوئے خوړله)

(۲۹۳) عن عائشة انها قالت کان رسول الله صلے الله علیه واله وسلم یتکئ فی حجری وانا حائض فیقرأ القرآن. [بخاری : ۲۹۷، ۷۵۴۹، ابوداود : ۲۶۰، نسائی : ۲۷۴، ۳۸۶، ابن ماجه : ۶۳۴]

ترجمه : د ام المؤمنین حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے . رسول الله صلی الله علیه واله وسلم زمایه غیږه کښې ډډه وهلے وه . او قران نے لوستلو او زه حائضه ووم

(۲۹۴) عن انس ان الیهود کانوا اذا حاضت المراة فیهم لم یوا کلوها ولم یجامعوهن فی البیوت فسال اصحاب النبی صلے الله علیه واله وسلم فانزل الله عزوجل ویسئلونک عن المحیض قل هو اذی فاعتزلوا النساء فی المحیض الی آخر الایة فقال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم اصنعوا کل شئ الا النکاح فبلغ ذلک الیهود فقالوا مایرید هذا الرجل ان یدع من امرنا شیئا الا خالفنا فیه فجاء اسید بن

خصیر و عباد بن بشیر فقالا یارسول الله ان الیهود تقول کذا و کذا افلا نجامعهن فتغیر وجه رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم حتی ظننا ان قد وجد علیهما فخرجا فاستقبلتهما هدیة من لبن الی النبی صلی الله علیه و اله وسلم فارسل فی اثارهما فسقاهما فعرفا ان لم یجد علیهما [ابو داود : ۲۵۸، ۲۱۶۵، ۲۹۷۷، ۲۹۷۸، نسائی : ۲۸۷، ۳۶۷، ابن ماجه : ۶۴۴]

ترجمه : د انس رضی الله عنه نه روایت دے۔ په یهودو کښې چه به کله څوك ښځه حائضه کیده نو د هغے سره به ئے غله نه خوړله او نه به په کور کښې د هغے سره اوسیدل۔ د رسول الله صلی الله علیه وَ له وسلم اصحابو د هغه نه ددے مسئلے په باره کښې تپوس اوکړو۔ نو الله تعالی جل جلاله دا آیت نازل کړو۔ ویسئلونك عن المحیض د آخره پورے۔ یعنی تپوس کوی ستا نه په باره د حیض کښې۔ ته ورته اووایه حیض یوه بیماری ده تاسو جدا اوسیږئ د ښځو نه د حیض په حالت۔ رسول الله صلی الله علیه واله وسلماوفرمایل۔ ټول کار کوئ سوا د جماع نه دا خبر یهودو ته اورسیدو۔ هغوی اووے داسړے (یعنی محمد صلی الله علیه واله وسلم) غواړی چه په هر د خبره کښې دے زمونږ نه خلاف اوکړی۔ ددے په اوریدو سره اسید بن جعفر رضی الله تعالی عنه او عباد بن بشیر رضی الله عنه راغلل او عرض ئے اوکړو یا رسول الله! یهود داسے کوی۔ مونږ به د حیض والا ښځو سره جماع ولے نه کوو (یعنی هر کله چه یهود زمونږ مخالفت لره بد ګنړی او په هغے سره سوزی نو مونږ لره هم په ښه شان سره د هغوی مخالفت کول پکار دی) ددے په اوریدو سره د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د مخ رنګ بدل شو۔ (د هغوی ددے وینا نه چه مونږ په جماع ولے نه کوو۔ نو هغه ته بده معلومه شوه ځکه چه د قرآن خلاف دی) مونږ دا اوګنړله چه هغه ته په هغه دواړو سرو باندے غصه راغله۔ هغه پاځیدل بهر اووتل په دے کښې هغه ته چا پی راولیږل د تحفے په طور باندے هغه هغه دواړه راوغوښتل دوباره۔ او پی ئے پرے اوڅکول ځکه هغوی ته معلومه شوه چه د هغه غصه په هغوی باندے نه وه۔

فائده : هغه د هغوی په خبره باندے صرف غصه شوے وو۔ د هغه په ذات باندے څه غصه نه وو۔ آخر هغه مسلمانان خو وو۔ هغوی دا سلام په حرارت کښې د یهودو نه سوزیدل دا خبره ئے اوکړه چه هغه د قرآن نه خلاف وه۔

باب المذی

باب: د مذی بیان

فائده: مذی یو سپینے نری اوبه دی. چه د شهوت په وخت راوځی. د هغے نه پس شهوت نه کمیږی او چرته ددے وتل نه محسوسیږی. او په سړی او ښځے دواړو کښں دا اوبه راوځی بلکه په ښځو کښں زیاتے (نووی)

(۶۹۵) عن علی قال کنت رجلا مذّاء فکنت استحیی ان اسئل النبی صلے اللّٰه علیه واله وسلم لمکان ابنته فامرت المقداد بن الاسود فسأله فقال یغسل ذکره ویتوضأ [بخاری: ۱۳۲، ۱۷۸، نسائی: ۱۵۷]

ترجمه: د حضرت علیؓ نه روایت دے چه زما مذی به ډیره وتلے شوله. ما به شرم کوو د رسول اللّٰه صلے اللّٰه علیه وسلم نه په تپوس کولو کښں ولے چه د هغه لور بی بی زما په نکاح کښں وه ما مقداد بن اسود ته اووے. هغوی تپوس اوکړو هغهٔ ورته اوفرمایل. خپل ذکر او وینځه او دس اوکړه

(۶۹۶) عن علی انه قال استحییت ان اسأل النبی صلے اللّٰه علیه واله وسلم عن المذی من اجل فاطمة فامرت المقداد فسأله فقال منه الوضوء. [راجع: ۶۹۵]

ترجمه: حضرت علیؓ وئیلے دی ماله شرم راځی د مذیٔ د مسئلے د پوښتنے د رسول اللّٰه صلے اللّٰه علیه وسلم نه په وجه د فاطمے ما مقدادؓ ته اووے هغوی ترے نه تپوس اوکړو هغهٔ اوفرمایل د مذیٔ په وتلو سره اودس لازمیږی (غسل ضروری نه دے)

(۶۹۷) عن ابن عباس قال قال علی بن ابی طالب ارسلنا المقداد بن الاسود رضی اللّٰه عنه الی رسول اللّٰه صلے اللّٰه علیه واله وسلم فسئله عن المذی یخرج من الانسان کیف یفعل به فقال رسول اللّٰه صلے اللّٰه علیه وسلم توضأ وانضح فرجک. [نسائی: ۴۳۴، ۴۳۵، ۴۳۷، ۴۳۸]

ترجمه: د عبد اللّٰه بن عباسؓ نه روایت دے حضرت علیؓ وئیلے دی مونږ مقدادؓ لره اولیږلو. د رسول اللّٰه صلے اللّٰه علیه واٰله وسلم په خدمت کښں. هغوی تپوس اوکړو؟ که چرے د یو سړی مذی اوځی. نو هغه به څه کوی؟ حضرت صلے اللّٰه علیه واٰله وسلم ورته اوفرمایل چه هغه به اودس

اوکړی او خپل شرمګاه به اووینځی.

فائده : نووی ونیلے دی علماؤ اتفاق کړے دے په دے امر باندے چه په مذیٰ وتلو سره غسل نه لازمیږی لیکن اودس لازمیږی د ابو حنیفه او شافعیؒ او احمدؒ او د جمهورعلماؤ دغه قول دے او د هغه حدیثونو نه دا امر ثابتیږی او دا هم وتلے دی چه مذی نجسه ده په دے واسطه هغه د ذکر د وینځلو حکم کړے دے . او مراد د ذکر د وینځلو نه دادے چه څومره قدرے په ذکر مذی لګیدلے وی دومره به وینځی نه تول ذکر لره . شافعیؒ او جمهور علماؤ دغه شان ونیلے دی . او د مالكؒ او احمدنه منقول دے چه تمام ذکر لره به وینځی . او دا هم اوځی چه سیوا د متیازو او پاخانے نه نورے پلیتیٰ لکه مذی او وینه وغیره په لوټه سره پاکول کافی نه دی . بلکه په اوبو سره طهارت کول پکار دی او دغه صحیح او یو قول دادے چه په لوټه سره هم پاکول درست دی او داهم وتلے دی چه څوم لره د خپل سخر یا خوابیے سره یا د ښځے د خور سره د جماع متعلق خبرے کول . د ادب نه خلاف وی . (انتهیٰ باختصار)

﴿بَابُ غَسْلِ الْوَجْهِ وَالْيَدَيْنِ إِذَاسْتَيْقَظَ مِنَ النَّوْمِ.﴾

باب: د خوب نه چه پاڅی د مخ او لاسونو د وینځلو بیان .

(٦٩٨) عن ابن عباس ان النبیّ صلّے اللّٰهُ علیه واله وسلّم قام من اللّیل فقضی حاجتهٗ ثمّ غسل وجههٗ ویدیه ثمّ نام.[بخاری : ٦٣١٦، ابوداود : ٥٠٤٣، نسائی : ١١٢٠، ابن ماجه : ٥٠٨، وانظر فی مسلم : ١٧٨٨، ١٧٩٣، ١٧٩٦]

ترجمه : د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے ﷺ د شپے بیدار شولو نو د حاجت نه فارغ شولو بیا ئے مخ اولاسونه اووینځل او بیا اوده شو .

فائده : امام نووی ونیلے دی . ددے حدیث نه معلومیږی چه د شپے د وینیدو نه پس بیا اوده کیدل مکروه نه دی او د سلفو بعضے زاهدانو دے ته مکروه ونیلے دی . په دے خیال سره چه سترګے به کهولاؤ نه شی او د شپے په تهجد و او وظیفه کښی به ناغه راشی . اورسول الله ﷺ ته ددے خبرے یره نه وه

باب جوازنوم الجنب واستحباب الوضوء له وغسل الفرج اذاارادان یاکل اویشرب اوینام اویجامع.

باب جنب لره اوده کیدل درست دی لیکن اودس کول او شرمگاه وینځل په هغه وخت چه اراده لری د خوړلو او څکلو او اوده کیدلو او جماع کولو غوره دی.

(۶۹۹)عن عائشة ان رسول الله صلے الله علیه واله وسلم کان اذاارادان ینام وهو جنب توضأ وضوءه للصلوة قبل ان ینام.[ابوداود: ۲۲۲، نسائی: ۲۵۶، ابن ماجه: ۵۹۳]

ترجمه: د مؤمنانو د مور عائشے رضی الله عنه نه روایت دے۔ رسول الله ﷺ چه به کله د اوده کیدو اراده کوله او هغه به په جنابت کښ وو۔ نو ورمبے به ئے اودس اوکړلو لکه څنگ چه د اودس کوی د مانځه د پاره د اوده کیدو نه مخکښ۔

(۷۰۰)عن عائشة قالت کان رسول الله صلے الله علیه واله وسلم اذاکان جنبافاراد ان یاکل اوینام توضأ وضوءه للصلوة

ترجمه: د ام المؤمنین عائشے رضی الله عنها نه روایت دے۔ چه رسول الله ﷺ چه به کله جنب شو او اوده کیدل یا خوړل به ئے غوښتل نو اودس به ئے کوؤ څنگه چه د مانځه دپاره کوؤ۔ د اوده کیدو نه وړاندے

(۷۰۱)عن شعبة بهذا الاسناد مثله: [راجع: ۶۹۹]

ترجمه: د شعبه نه په دے سند سره روایت مروی دے۔

(۷۰۲)عن ابن عمران عمر قال یارسول الله ایرقداحدناوهو جنب قال نعم اذاتوضأ.[ترمذی: ۱۲۰، نسائی: ۲۶۰]

ترجمه: د ابن عمر نه روایت دے عمر رضی الله عنه اووے یا رسول الله که چرے زمونږ نه څوک اوده کیدل غواړی او هغه جنب وی؟ هغه اوفرمایل! اودس دے اوکړی بیا اوده کیدے شی

(۷۰۳)عن ابن عمر ان عمر استفتی النبی صلے الله علیه واله وسلم فقال هل ینام احدناوهو جنب قال نعم لیتوضأثم لینم حتی تغتسل اذاشاء

ترجمه :د ابن عمرؓ نه روایت دے چه حضرت عمر د رسول اللهﷺ نه د مسئلے تپوس اوکړو خوك چه زمونږ نه په جنابت کښ شی نو هغه اوده کیدے شی ؟ هغه اوفرمایل هااودس دے اوکړی بیا دے اوده شی کله چه غواړی غسل دے اوکړی ۔

(۷۰۳)عن ابن عمر قال ذکر عمر بن الخطاب لرسول الله صلى الله عليه وآله وسلم انه تصيبه جنابة من الليل فقال له رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم توضأ واغسل ذكرك ثم نم.[بخاری : ۲۹۰، نسائی : ۲۶۰، ابوداود : ۲۲۱]

ترجمه :دعبد الله بن عمرؓ نه روایت دے حضرت عمر رضی الله عنه رسول اللهﷺ ته بیان اوکړو چه هغه ته جنابت اوشی د شپے ۔ حضرت ﷺ ورته اوفرمایل چه اودس کوه او ذکر لره وینځه او بیا اوده کیږه ۔

(۷۰۵)عن عبد الله بن ابي قيس قال سألت عائشة عن وتر رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم فذكر الحديث قلت كيف كان يصنع في الجنابة اكان يغتسل قبل ان ينام ام ينام قبل ان يغتسل قالت كل ذلك قد كان يفعل ربما اغتسل فنام وربما توضأ فنام قلت الحمدلله الذي جعل في الامر سعة.[ابوداود : ۲۲۷، ترمذی : ۲۹۴۳]

ترجمه : د عبد الله بن ابی قیس نه روایت دے چه ما د حضرت عائشے رضی الله عنها نه تپوس اوکړو . د رسول الله ﷺ د وترو په باره کښ بیا نے بیان کړو حدیث لره تردے پورے چه ما اووے هغه به په جنابت کښ څه څه کول ؟ آیا د غسل نه مخکښ اوده کیدو؟ هغوی اووے هغه به دواړه قسمه کول کله به نے غسل اوکړو بیا به اوده شو او کله به نے اودس اوکړو بیا به اوده شو ۔ ما او ... ... دے : الله چه هغه گنجائش یخودے دے په امر کښ.

(۷۰۶)عن معاوية بن صالح بهذا الاسناد مثله [راجع . ۷۰۵]

ترجمه : دا حدیث هم د وړاندے حدیث په شان دے ۔

(۷۰۷)عن ابي سعيد الخدري قال قال رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم اذا اتى احدكم اهله ثم اراد ان يعود فليتوضأ زاد ابو بكر في حديثه بينهما وضوء وقال ثم اراد ان يعاود.

ترجمه : دابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ۔ رسول الله ﷺ فرمائیلی دی

هر کله چه ستاسو نه څوك د خپلې بی بی سره صحبت اوکړی او بیا دوباره کول غواړی نو اودس دے اوکړی او بیا دے صحبت اوکړی

(٧٠٨) عن انس ان النبی صلے اللہ علیہ واله وسلم کان یطوف علی نسائه بغسل واحد.

ترجمه: دانس رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ به تولو ښځو ته راتللو په یو غسل سره

فائده: نووی ونیلے دی. حاصل ددے تولو حدیثونو دادے چه د جنب خوړل او څکل او اوده کیدل او جماع کول د غسل نه وړاندے درست دی په دے باندے د تولو اجماع ده. دغه شان په دے خبره باندے چه د بدن خوله پاکه ده ددے حدیثونو په رویٔ سره دا امر مستحب دے. چه خوړل یا څکل یا اوده کیدل یا جماع کول غواړی نو اودس دے اوکړی. او شرمګاه لره دے اووینځی که چرے داسے نه کوی نو مکروهه دی او د ابن حبیب او داؤد ظاهری په نزد اودس واجب دے او ددے حدیثونو نه دا هم اوښی چه د جنابت غسل فی الفور واجب نه دے. بلکه هر کله چه د مونځه د پاره پاسی هغه وخت واجب دے. (انتهی باختصار)

﴿باب وُجُوب الْغُسل علے الْمرءَة بخروج الْمنيِّ منها.﴾

باب: کچرے د ښځے منی اووته نو په هغے باندے غسل واجب دے

(٧٠٩) عن انس بن مالك قال جآءت ام سليم وهی جدة اسحاق الی رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فقالت له وعآئشة عنده یارسول الله المرأة تری مایری الرجل فی المنام فتری من نفسها ماتری الرجل من نفسه فقالت عائشة یاام سلیم فضحت النسآء تربت یمینک قولها تربت یمینک خیر فقال لعائشة بل انت فتربت یمینک نعم فلتغتسل یاام سلیم اذارأت ذلک.

ترجمه. دانس بن مالك نه روایت دے چه ام سلیمؓ د رسول الله ﷺ خواله راغله (او هغه نیا (دادی) وه د اسحق چه راوی دے ددے حدیث د انس نه) او هلته حضرت عائشة ناسته وه. هغوی اووے یا رسول الله ﷺ ښځه که چرے په خوب کښ داسے اوګوری لکه چه سړے ګوری (یعنی منی لره) ددے په اوریدو سره بی بی عائشے اووے. اے ام سلیم تا رسواه کړو ښځو لره (ددے وجے

نه چه احتلام هغې ښځې ته کیږي چه هغه ډیره شهوت ناکه وي او مني هم د هغې راوځي) ستا په لاس کښې دې خاوره اولړي (او دا هغوی نیکه خبره اوکړه) حضرت اوفرمایل اې عائشې! ستا په لاس کښې دې خاوره اولړي او ام سلیمؓ ته ئې اوفرمایل اې ام سلیمؓ! ښځه به غسل کوي په هغه صورت کښې هر کله چه داسې اوګوري

فائده : بعضې د حضرت عائشې رضي الله عنه د اوئیل چه ستا په لاس کښې دې خاوره اولګي ددې نه بدعا مقصود نه وه نه رښتیا بلکه هغوی په نیک نیتتې سره دا کلمه وئیلې وه اګرچه ددې کلمې مطلب اصل دادې چه په تاباندې محتاجي راشه او ته غریبه شې . خو اوس محاوره شوې ده په عربو کښې هغوی داکلمه هغه وخت وائي چه هر کله څه خبره بده اوګڼړي . یا ئې بده وینې یا رښتیا وي . یا خفا وي .

نووي وئیلې دي چه هر کله د ښځې مني اوځي نو په هغې باندې غسل واجب دې لکه په سړي باندې . او علماؤ اجماع کړې ده . چه په سړي او ښځې دواړو باندې غسل واجبیږي . د مني په وتلو سره یا د خول سره . او په ښځه باندې د حیض او نفاس نه هم غسل واجبیږي . او څه چه د ښځې نه پیدا شي او وینه لړه هم اونه وینې نو په هغې باندې غسل واجب دې د صحیح قول په موافق د غه شان که چرې د بچي په بدله صرف د غوښې ټکړه پیدا شي یا د وینې قطره . او کوم چه غسل نه واجب نه وائي هغه اودس لره واجب ګڼړي او زمونږ مذهب دادې چه غسل واجبیږي به مني وتلو سره خواه په شهوت سره اوځي یا بې شهوته یا هسې د اوده کیدو سره وتلې وي که معلوم شي د هغې وتل یا معلوم وي عاقل وي یا مجنون وي او د مني د وتلو نه دا مراد دې چه بهر راوځي اګر که په خوب کښې دا اوګوري چه جماع ئې اوکړه او مني ئې اووته لیکن که په حقیقت کښې مني نه وي وتې نو غسل نه واجبیږي . دغه‌شان که مني حرکت اوکړي یا بهر راونه وځي بیا هم غسل نشته که چرې د چا مني راوتل شروع شي او هغه په مانځه کښې وي او د کپړې د پاسه ذکر لره تهام کړي ردې چه مني بنده شي نو د هغه مونځ به صحیح کیدې شي او د ښځې حکم د سړي د حکم په شان دې . (انتهیٰ مختصراً)

۱۰۷)عن قتادة ان انس بن مالك حدثهم ان ام سليم حدثته انها سالت نبي الله صلى الله عليه واله وسلم

عن المرأة ترى فی منامها ما یری الرجل فقال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اذا رأت ذلک المرءة فلتغتسل فقالت ام سلمة واستحییت من ذلک قالت وهل یکون هذا فقال نبی الله صلی الله علیه واله وسلم نعم فمن این یکون الشبه ان ماء الرجل غلیظ ابیض وماء المرءة رقیق اصفر فمن ایهما علا او سبق یکون منه الشبه .

[نسائی : ١٩٥ : ابن ماجه : ٦٠١]

ترجمه : د قتادة نه روایت دے چه انس بن مالك رضي الله عنه هغه ته حدیث بیان کړو چه ام سلیمٌ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو که چرے ښځه په خوب کښ اوګوری هغه څه چه هغه سړی ګوری ؟ هغه او فرمایل هر کله چه ښځه داسے اووینی نو غسل به کوی . ام سلیٰ وائی ماله شرم راغے ما اووے داسے څه وی ؟ (یعنی ښځو ته هم احتلام کیږی) رسول الله ﷺ اوفرمایل بیشکه داسے کیږی . ګنی بچے د ښځے مشابه څنګه کیږی . د سړی نطفه کلکه او سپینه وی او د ښځے نطفه نرئ او زیړه وی بیا چه کومه د پاسه راشي یا مخکښ شي بچے د هغے مشابه کیږی .

فائده : یعنی بچے د سړی او د ښځے د دواړو د نطفے د یو ځائے کیدو نه پیدا کیږی . بیا چه د چې نطفه غالبه وی بچے د هغه په شکل وی . او هر کله چه د ښځے نطفه اوشوه نو د هغے وتل لو احتلام کیدل ممکن دی . نوویؒ وئیلی دی . دا حدیث اصل عظیم دے د منی د صفت په بیان کښ په حالت د صحت کښ علماؤ وئیلی دی چه د سړی منی ټینګه او سپینه وی او په توپ سره رو رو راوځی . او د شهوت سره راوځی . او په راوتو کښ ئے خوند راځی . او هر کله چه د ځاځکو په شکل کښ راوځی دغه وخت شهوت ضعیف کیږی او د هغے بوی داسے وی لکه د کجورے د ګابهے . نزدے د اوړو د بوی او چه اوچه شی بعضو وئیلی دی د متیازو په شان بوی ورکوی دا خو اصل حالت دے د منی هر کله چه سړے صحیح او سلامت وی . په څه ناجوړتیا کښے مبتلا نه وی . اوکه چرے بیمار وی نو د سړی منی هم زیړه او نرئ کیږی . یا الات منی ضعیف کیږی . نو هغه په توپ سره نه اوځی بلکه داسے بهیږی بغیر د لذت او شهوت نه . یا په کثرت جماع سره سرخ کیږی د یخنی پشان او کله د خالص وینے په شان راوځی لیکن که چرے منی سرخ هم راوځی بیا هم پاکه ده او په هغے سره غسل واجبیږی .

او د مني دريے خاصے دي يو خو دا چه د شهوت سره اوځي او د هغې د وتلو نه پس سستي راشي . دويم بوي د كجوريد گابهے پشان . دريم زو رو ځو ځله راوځي . ددے نه هره يوه خبره پوره ده د هغې د مني كيدو د پاره او د ريو خبرو كيدل ضروري نهٔ دي كه چرے د هغه د ريو نه يو امر نه وي نو گمان غالب به داوي چه هغه مني نه ده او د ښځے مني زيړه او نرمه وي او كله سپينه هم وي . د هغے پيژندگلي د دو اوصافو نه ده يو خو بوئ د سرې د مني د بوئ په شان . دويم خوند د هغے د وتلو په وخت او د هغے د وتلو نه پس د شهوت كميدل . بيا چه مني په څه شان او په كوم حال كښ اوځي د هغے په وتلو سره غسل واجبيږي . انتهى ما قال النووي .

(۷۱۱)عن انس بن مالك قال سالت مرءة رسول الله صلى الله عليه واله وسلم عن المرءة ترى في منامه مايرى الرجل في منامه فقال اذا كان منها مايكون من الرجل فلتغتسل .

(۷۱۲)عن ام سلمة قالت جاءت ام سليم الى النبي صلى الله عليه واله وسلم فقالت يارسول الله ان الله عزوجل لايستحيي من الحق فهل على المرءة من غسل اذااحتلمت فقال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم نعم اذارات الماء فقالت ام سلمة يارسول الله وتحتلم المرءة فقال تربت يداك فبم يشبهها ولدها .

[بخاري : ۱۳۰، ۲۸۲، ۳۳۲۸، ۶۰۹۱، ۶۱۲۱، ابن ماجه : ۶۰۰]

ترجمه : د انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دے چه يوے ښځے د رسول الله صلى الله عليه واله وسلم نه تپوس اوكړو چه كه چرے يوه ښځه په خوب كښ هغه اوگوري كوم چه نارينه گوري ؟ حضرت اوفرمايل كچرے د هغې نه هغه څيز اوځي كوم چه د سړي نه اوځي . (يعني مني اوځي) نو غسل به كوي .

ترجمه : د ام المؤمنين ام سلمهٰ نه روايت دے چه ام سليمؓ د رسول الله صلى الله عليه واله وسلم خوا له راغله او عرض ئے اوكړو يا رسول الله . الله تعالىٰ د رښتوني خبرے نه شرم نه كوي . ولے په ښځه باندے غسل واجب دے . هر كله چه هغے ته احتلام اوشي ؟ او اوبه اووينى (يعني مني لره) ام سلمهٰ اوؤئے يا رسول اللهؐ ! ولے ښځے ته هم احتلام كيدے شي ؟ حضرت محمد صلى الله عليه واله وسلماوفرمايل ستا په لاسونو دے خاوره اولگئ چه احتلام نه كيږي نو بيا بچے څنگه د مور مشابه كيدے شي

فائده : ددے حدیث نه او د نورو خو حدیثونو نه دا خبره ثابتیږی چه حیاء او شرم هم د الله جل جلاله یو صفت دے خو څنګه چه د هغه نور صفتونه د مخلوقاتو د صفتونو پشان نه دی . دغه شان دا صفت هم د مخلوق پشان نه دے . د سلفو دغه اعتقاد دے . او ورستو بعضو متکلمینو چه هغوی د الله تعالیٰ په صفاتو کښې د تاویل طریقه اختیار کړے ده هغه صحیح او ښه نه ده بلکه یو قسم له بدعت دے په دین کښې . اهل حدیثو تاویل کونکو لره ډیر بد ګڼړلے دی .

(۷۱۳) عن هشام بن عروة بهذا الاسناد مثل معناه وزاد قالت : قلت فضحت النساء : [راجع : ۷۱۲]

ترجمه : د هشام بن عروه نه په دے سند سره په مثل د وړاندے حدیث مروی دے لیکن کښې په الفاظو کښې لږ زیادت دے .

(۷۱٤) عن عائشة فقلت لها اف لک اتری المرأة ذالک : [ابوداود : ۲۳۷، نسائی : ۱۹٦]

ترجمه : عائشے وئیلے دی : هغے اوئیلے افسوس دے په تا باندے آیا ښځے دا هر څه لیدے شی .

(۷۱۵) عَنْ عائشة انّ امرءة قالت لِرسُوْل اللّٰهِ صلّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وَسلّم هَلْ تَغْتسِلُ الْمَرْءَةُ اذا احْتلمتْ وابْصرت الْماءَ فقال نعمْ فقالتْ لها عائشةُ تربتْ يَدَاكِ واُلَّتْ قالتْ فقالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِه وسلّم دعيها وهلْ يكُوْنُ الشّبْهُ اِلّا مِنْ قبْلِ ذٰلك اذا علا مآئها ماءَ الرَّجُلِ اشْبهَ الْوَلَدُ اخْوالهُ واذا علا ماءُ الرَّجُلِ ماءَ ها اشْبه اعْمامهُ .

ترجمه : د مؤمنانو د مور د حضرت عائشے نه روایت دے چه یو ے ښځے د رسول الله صَلے الله علیْه واٰلِه وسلم نه تپوس اوکړو . ولے ښځه به غسل کوی هرکله چه هغے ته احتلام اوشی او اوبه اووینی (یعنی منی) هغه ورته اوفرمائیل ها غسل به کوی . حضرت عائشے اووے . ستاپه لاسو دے خوره اولګی او هغه د ے زخمی شی په هتیار سره . رسول الله صَلے الله علیْه وَاٰلِه وسلم اوفرمائیل پریږدوه دے لره . آخر بچے چه کوم مشابه وی د پلار او د مور هغه دکوم ځائے نه وی هر کله چه د ښځے نطفه د سړی په نطفه باندے غالبه شی نو بچے د خپلو ماماګانو د خاندان مشابه کیږی او کله چه د سړی نطفه د ښځے په نطفه باندے غالبه راشی نو بچے د پلار د خاندان په شکل جوړیږی .

فائده: په حدیث کښې د الت لفظ دې د هغې ترجمه دغه ده کومه چه بیان شوه. یعنې الس د ې زخمي شه او دې شوکولې شي په اله سره چه هغه یو هتیار دې نووی دې ته صحیح وئیلې دی لیکن په مجمع البحار کښې دی چه صحیح الت دې یعنی چغه کړه حضرت عائشې

باب بيان صفة المنيّ الرّجل والمرأة وانّ الولدمخلوق من مآء ها.

باب: د ښځې او د سړی د منی بیان او د دې خبرې چه بچې ددواړو د نطفې نه پیدا کیږي

(٦١٧)عن ثوبان مولى رسول الله صلى الله عليه واله وسلم قالت كنت قائماعندرسول الله صلى الله عليه واله وسلم فجاء حبر من الاحبار اليهود فقال السلام عليك يامحمد فدفعته دفعة كاد يصرع منهافقال لم تدفعني فقلت الا تقول يارسول الله فقال اليهودى انماندعوه باسمه الذى سماه به اهله فقال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم ان اسمى محمدن الذى سمانى به اهلى فقال اليهودى جئت اسئلك فقال له رسول الله صلى الله عليه واله وسلم اينفعك شيئ ان حدثتك قال اسمع باذني فنكت رسول الله صلى الله عليه واله وسلم بعود معه فقال سل فقال اليهودى اين يكون الناس يوم تبدل الارض غير الارض والسموات فقال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم هم في الظلمة دون الجسر قال فمن اول الناس اجازة قال فقراء المهاجرين قال اليهودى فما تحفتهم حين يدخلون الجنة قال زيادة كبد النون قال فماغداءهم على اثرهاقال ينحرلهم ثور الجنة الذى كان يأكل من اطرافها قال فما شرابهم عليه قال من عين فيها تسمى سلسبيلا قال صدقت قال وجئت اسئلك عن شيئ لايعلمه احد من اهل الارض الانبى اورجل اورجلان قال ينفعك ان حدثتك قال اسمع باذني قال جئت اسئلك عن الولد قال ماء الرجل ابيض وماء المرأة اصفر فاذااجتمعافعلامنيّ الرجل منيّ المرأة اذكرا باذن الله عزوجل قال اليهودى لقدصدقت وانك لنبيّ ثم انصرف فذهب فقال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم لقدسالنى هذاالذى سالنى عنه ومالى علم بشيئ منه حتى اتانى الله به.

ترجمه: د ثوبان رضی الله عنه نه روایت دې چه مولی (ازاد کړې غلام) وو د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هغه وائي زه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم سره ولاړ وم. چه په دې کښې

د یهودو د عالمانو نه یو عالم راغے . او اوئے وئیل السلام علیك یا محمد . ما هغه له یو ه دیکا ورکړه . او هغه : غورځیدو ونه بچ شولو هغه اووے تا دیکا ولے راکړه ما اووے ته (نوم اخلے د حضرت او) رسول الله ولے نهٔ وائے . هغه اووے مونږ ده ته په هغه نوم سره اواز کوو کوم چه د ده کورنۍ والاؤ ایخے دے . رسول الله صلے الله علیه واله وسلم اوفرمایل زما نوم کوم چه کورنۍ والاؤ ایخے دے هغه محمد دے یهودی اووے چه زه ستانه د څه تپوس کولو د پاره راغلے یم . رسول الله صلے الله علیه واله وسلم اوفرمایل حقه خبره ده که چرے زهٔ تا ته څه اوښایم نو تاته به فائده وی . هغه اووے زه به ئے په غوګونو سره واورم . بیا رسول الله صلے الله علیه واله وسلم په یو چړه سره چه د هغه په لاس کښې وه په زمکه باندے یوه کرښه راښکو ده (لکه چه خوك د سوچ په وخت دغه شان کوی) او اوئے فرمایل تپوس کوه . یهودی اووے . په کومه ورځ چه دا زمکه او اسمان بدل شی او نور زمکه آسمان شی نو خلق به دغه وخت چرته وی ؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمایل خلق به هغه وخت په تیاره کښې د پل صراط سره ولاړ وی . هغه تپوس اوکړو . بیا به د ټولو نه مخکښې کوم خلق ددغه پل نه پورے اوځی ؟ هغهٔ اوفرمایل په مهاجرینو کښې چه کوم محتاج دی (د مهاجرینو نه مراد هغه خلق دی کومو چه د پیغمبرؐ سره کور کلے پریخودے وواو وتلے وو او د لوږے تندے په تکلیف باندے ئے صبر کړے وو . او د دنیا نه ئے نفرت اختیار کړے وو) یهودی اووے بیا چه دغه خلق جنت ته لاړشی . نو د هغوی به ورمبی ناشته څه وی ؟ هغه اوفرمایل د مهی د زړهٔ ټکړه (چه هغه زیاته مزیداره او مقوی وی . هغه اووے . بیا به د سحر خوراك څه وی ؟ حضرتؐ اوفرمایل هغه غوئ به حلال کړے شی د هغوی دپاره کوم چه په جنت کښې اوسیدل او خریدل کړی وو بیا هغه تپوس اوکړو چه د غه اوخوری نو بیا به څه څکی ؟ حضرتؐ اوفرمایل د یو ے چینے اوبه چه د هغے نوم سلسبیل دے .

هغه یهودی اووے تا رښتیا او فرمایل او زه ستانه د یو داسے خبرے تپوس د پاره راغلے یم چه هغه په دنیا کښې چاته پته نشته سیوا د نبیؐ نه کیدے شی چه یو یادوه سرے پرے پوهه وی . حضرتؐ اوفرمایل که چرے زه تاته هغه خبره اوښایم نو تاته به فائده وی ؟ هغه اووے زه به ئے په خپلو غوږونو سره واورم . بیا هغه اووے زه بچی لره تپوس کوم ؟ حضرتؐ اوفرمایل چه د سړی

اوبه سپینې دی او د ښځې اوبه زیړې دی . هر کله چه دادواړه یو ځائې شی او د سړی منی د ښځې په منی باندې غالبه شی نو د خدائې په حکم سره هلك پیدا کیږی . او کله چه د ښځې منی غالبه شی د سړی په منی باندې نو د خدائې په حکم سره جینئی پیدا کیږی . یهودی اووې تا رښتیا اوفرمایل او بیشکه ته پیغمبر نې . بیا چه هر کله د هغه شا شوه او روان شو نو رسول الله صلی الله علیه واله وسلماوفرمایل ده چه د کومو خبرو زمانه تپوس اوکړو هغه ماته څه معلومې نه وې . تردې پورې چه الله تعالیٰ جل شانه ماته اوښودلې .

(۷۱۷) عن معاوية بن سلام في هذا الاسناد بمثله : غير انه قال كنت قاعدا عند رسول الله ﷺ وقال : زائد كبد النون وقال : اذكر وانث ولم يقل اذكر و آنثا :

ترجمه : په دې سند سره هم دغه حدیث مروی دې خو لیکن په الفاظو کښې لږ اختلاف دې .

﴿بَابُ صِفَةِ غُسْلِ الْجَنَابَةِ﴾

باب: دجنابت د غسل بیان

(۷۱۸) عن عآئشة قالت كان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم اذاغتسل من الجنابة يبدءُ فيغسل يديه ثم يفرغ بيمينه على شماله فيغسل فرجه ثم يتوضأوضوءهُ للصلوة ثم ياخذالمآء فيدخل اصابعهُ في اُصُول الشعر حتى اذارآى ان قداستبرا حفن على رأسه ثلاث حفنات ثم افاض على سائر جسده ثم غسل رجليه .

ترجمه : د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رضی الله عنه نه روایت دې . چه رسول الله صلى الله عليه واله وسلمچه به کله د جنابت غسل کولو نو وړمبی به ئې دواړه لاسونه ووینځل بیا به ئې په ښی لاس سره اوبه غوړځولې او په ګس لاس سره به ئې شر مګاه ووینځلو . بیا به ئې اودس اوکړو هغه شان څنګه چه به ئې د مانځه دتیاریدو د پاره کولو . بیا به ئې اوبه واخستې او خپلو ګوتو به ئې د ویښتو په بیخونو باندې واچولې . بیا چه به هر کله هغه اوکتل چه ویښته لواندهٔ شول نو په خپل سر باندې به ئې په دواړو لاسو نو سره بنې ډکې درې لپې اوبه اوغوړځولې بیا به ئې په ټول بدن باندې اوبه اوغوړځولې او بیا به ئې دواړه خپې ووینځلې .

فائده :. نووی ونیلې دی . زمونږ د اصحابو په نز د جنابت د غسل کمال دادې چه

وروميے به دوارو لاسو نو لره د مړوندونو پورے په لوښی کښې د لاس منډلو نه وړاندے بيا په شرمگاه اوبه بدن باندے چه کوم پليتی لگيدلے وی هغے لره اووينځی بيا به اودس اوکړی په څه شان چه د مانځه دپاره اودس کوی . بيا به تولے گوتے په اوبو کښې اومندی او يو چونگ به راواخلی لو د سر په ويختو او دږيرے په ويختو کښې به د هغے نه خلال اوکړی . بيا به په خپل سر باندے درے ډکے لپے او به توئ کړی او د غوږونو او نوم او د کناتو خبربه واخلی او د خپو د گوتو . او هغه تمامو ځايونو ته به اوبه اورسوی بيابه درے خله په تمام بدن باندے اوبه اوغورځوی او هر ځائے ته به اوبه بنه اورسوی او مستحب داده چه د ښی طرفنه شروع اوکړی . او د قبلے په طرف مخ کړی او کينی او وړستو د فراغت نه دويمه کلمه اولولی .

اشهد ان الا اله الا الله وحده لا شريك له و اشهد ان محمداً عبده و رسوله . د غسل نه وړاندے به نيت اوکړی په دے تولو ځيزونو کښې نيت او په تمام بدن باندے اوبه اچول او هر ځائے ته برابر رسول فرض دی او شرط دادے چه بدن د پليتئ نه پاك شی او باقی تمام ځيز ونه سنت دی او مړل د بدن واجب نه دی . مگر د مالكؒ او مزنی په نزد واجب دی . د غه شان اودس هم په غسل جنابت کښې واجب نه دے مگر داؤد ظاهری په نزد واجب دے (انتهی مختصراً)

(۱۹ ۷) عن هشام فی هذا الاسناد وليس فی حديثهم غسل الرجلين :

په دے سند سره مذکوره حديث مروی دے د الفاظو په څه لږ شان اختلاف سره .

(۲۰ ۷) عن عائشة ان النبی ﷺ اغتسل من الجنابة فبدأ فغسل كفيه ثلاثاً ثم ذكر نحو حديث ابی معاوية ولم يذكر غسل الرجلين :

ترجمه : عائشهؓ بيان کوی چه نبی کريم ﷺ غسل کوو د جنابت نه نو شروع ئے اوکړه د دوارو لاسونو نه درے خله ئے اووينځل بيا ئے د مذکوره حدے په شان ديث بيان کړو .

(۲۱ ۷) عن عائشة ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم كان اذاغتسل من الجنابة بدء فغسل يديه قبل ان يدخل يده في الاناء ثم توضأ مثل وضوء ه للصلوة .

ترجمه : د ام المؤمنين عائشے رضی الله عنهانه روايت دے چه رسول الله چه به کله د جنابت غسل کوؤ . نو وړمبی به ئے دواړه لاس وينځل په لوښی کښې د منډلو نه مخکښې . بيا به ئے

اودس اوکړو لکه څنګه چه به یې د مانځه د پاره اودس کولو .

(۶۲۲ـ) عن ابن عباس قال حدثتني خالتي ميمونة قالت ادنيت لرسول الله صلى الله عليه واله وسلم غسله من الجنابة بدء فغسل كفيه مرتين او ثلاثا ثم ادخل يده في الاناء ثم افرغ به على فرجه وغسله بشماله ثم ضرب بشماله الارض فدلكها دلكا شديدا ثم توضا وضوءه للصلوة ثم افرغ على راسه ثلاث حفنات ملا كفه ثم غسل سائر جسده ثم تنحى عن مقامه ذلك فغسل رجليه ثم اتيته بالمنديل فرده. [راجع: ۲۶۰، ۲۴۹، ۲۵۹. ابو داود: ۲۴۵. ترمذی: ۱۰۳. نسائی: ۲۵۳. ابن ماجه: ۴۱۷، وانظر فی مسلم: ۶۲۷]

ترجمه : د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه زما ترور میمونهؓ بیان کړے دے . چه هغوی اوبه ایخودې وې د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د غسل جنابت د پاره هغه دواړه ورغوی او وینځل دوه واره یا درې واره . بیا ئې لاس په لوښی کښې دننه کړو او په شرمګاه ئې اوبه واچولې . او په ګس لاس سره ئې اووینځلو بیا ئې ګس لاس په زمکه باندې په زور سره اومږلو . بیا ئې اودس اوکړو لکه څنګه چه ئې دمانځه د پاره کولو بیا ئې په خپل سر باندې درې چونګه اوبه واچولې بیا ئې تمام بدن لړه او وینځلو بیا د هغه ځائې نه بدل شو (بل ځائې ته) او خپې ئې اووینځلې بیا ما رومال (یعنی تولیه وغیره) راوړله او راغلم د بدن د وچولو د پاره خو هغه ! هغه رومال لړه وانه خستو .

فائده : نووی ونیلې دی . ددې حدیث نه معلومیږی چه لاس او خپې اوچول غوره نه دی او زمونږ د علماؤ په دې کښې پنځه قوله دی . یو خو دا چه اوچول مستحب دی او اوچولو سره مکروه نه وائی دویم دا چه پاکول مکروه دی یعنی وچول دریمه دا چه وچول نه وچول سراسر دی دواړه څلورم دا چه وچول مستحب دی پنځمه دا چه په ګرمئ کښې مکروه دی په یخنئ کښې مکروه نه دی . او د صحابه و نه په دې کښې درې مذهبونه منقول دی .

یو خو دا چه وچول جائز دی څه قباحت نشته په اودس او غسل دواړو کښې دانس بن مالکؓ او سفیان ثوریؒ دغه قول دے دویمه دا چه وچول مکروه دی . په اودس او غسل دواړو کښې دابن عمرؓ او ابن ابی لیلی د غه قول دے . دریمه دا چه په اودس کښې مکروه دی په غسل کښې مکروه نه دی دابن عباسؓ دغه قول دے . او دنه وچولو په باب کښې یو حدیث دلالے . دویم

صحیح حدیث نہ دے چہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم غسل اوکړو راووتو او دهغه د بدن نه وبه ځڅیدلے او اوچولولره یو جماعت د صحابه ؓ نقل کړے دے لیکن د هغې اسناد ضعیف دی ترمذی وئیلی دی په باب کښې د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه څه ثابت نه دی . (نووی)

بعضو دے حدیث نه وچول جائز کړے دی . ولې چه په لاس سره اوبه څڅول او په کپړه سره وچول دواړه برابر دی . نووی وئیلی دی زمونږ د بعضے اصحابو په دے کښې درے قولونه دی . یو دا چه څڅول غوره دی . او څڅولو ته نے مکروهه نه دی وئیلے . دویمه دا چه مکروهه دی دریمه دا چه مباح دی او دغه صحیح دے . ولې چه ددغه حدیث نه اباحت ثابتیږی . او د ممانعت څه دلیل نشته . (انتهی)

(۷۲۵)عن عائشة قالت كان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم اذا اغتسل من الجنابة دعا بشئ نحو الحلاب فاخذ بكفه بدء بشق راسه الايمن ثم الايسر ثم اخذ بكفه فقال بهما على راسه [بخاری: ۲۵۷. ابوداود: ۲٤۰. نسائی: ٤۲۲]

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقے نه روایت دے . رسول الله صلى الله عليه واله وسلم چه به هر کله د جنابت غسل کولو نو یو لوښے به نے حلاب برابر د اوبو اوغوښتلو . (حلاب هغه لوښے دے چه په هغې کښې د اوبے نه یې لوشلے شی) بیا به نے په لاس سره اوبه واخستلے او وږمیے به نے د سر ښې طرف وینځلو او بیا به نے کس طرف وینځلو ددے نه پس به نے به دواړه لاسه سره اوبه واخستے او په سر به نے وارولے .

فائده : صحیح حلاب دے په کسر (یعنی زیر) د حا او تخفیف د لام سره او بعضو دے لره جلاب لوستے دے په ضم جیم او تشدید لام سره او مراد د هغې نه گلاب دے لیکن هروی ددے نه انکار کړے دے او وئیلی دی چه صحیح حلاب دے

○ باب القدر المستحب من الماء في غسل الجنابة وغسل الرجل والمرءة من اناء واحد في حالة واحدة وغسل احدهما بفضل الاخر . ○

باب : د جنابت په غسل کښې څومره اوبه استعمل شوره دي . او غسل کول د سړي او ښځي د يو لوښي نه په يو حالت کښې اوغسل کول د يو بل په بچ شوۀ اوبو سره .

(۴۲۶)عن عائشة ان رسول اللّه صلے اللّٰه علیه واله وسلم کان یغتسل من انآء هو الفرق من الجنابة .

[ابو داود :۲۳۸]

ترجمه : د مؤمنانو د مور عائشې رضی الله عنها نه روايت دے . چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم به غسل کوؤ په يو لوښي سره . چه په هغې کښې به درے اوګی اوبه راتلې (یعنی اووه یا اته سیره) د جنابت نه .

فائده : . نووی ونیلے دی خاوندانو د اسلام اجماع کړے ده چه د اودس او غسل د پاره د اوبو مقدار معین نه دے . بلکه لږے او ډیرے یو شان کافی دی په شرط ددے چه اندامونه لوانده شی او مستحب داده چه په اودس کښې د يو مد نه کم نه وی . او په غسل کښې د يو اوګی نه کم نه وی . او اوګے یعنی صاع د پنځه رطلو او د دریؤو رطلو وی . او مد د يو رطل او د دریو رطلو وی او زمونږ بعضے اصحابو ونیلی دی چه دلته هغه صاع مراد دے . چه هغه دَ اتو رطلو وی . بهر حال اوبه بیکاره تویه ول منع دی . اګر که د نهر په غاړی وی . او غسل یا اودس کوی د امماننعت تنز یهی دے او بعضو ونیلی دی اسراف حرام دے . انتهی .

(۴۲۷)عن عائشة قالت کان رسول الله صلے اللّٰه علیه واله وسلم یغتسل فی القدح وهو الفرق وکنت اغتسل انا وهو فی الاناء الواحد وفی حدیث سفیان من اناء واحدقال قتیبة قال سفیان والفرق ثلثة اصع.

[ابن ماجه ۳۷۶]

ترجمه : د مومنانو د مور حضرت عائشے رضی الله عنها نه روايت دے . چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم غسل کولو په يوه پیاله سره او هغه فرق وه (فرق هغه لوښي ته وائی چه په هغې کښې درے صاع یعنی اوګی اوبه راځی) او ما او هغهٔ به د يو لوښي نه غسل کولو . سفیان ونیلے دی چه فرق د دریو ؤ اوګو وی قتیبه ونیلے دی . چه فرق درے صاعه دے .

فائده : . نووی ونیلے دی د سړی او ښځے دوارو طهارت کول د يو لوښي نه جائز دی . په اجماع د اهل اسلامو لیکن د ښځې طهارت کول د سړی د طهارت نه په بچ شوؤ اوبو سره هم په

اجماع سره جائز دی . او د سړی طهارت کول د ښځے د طهارت نه په بچ شوؤ اوبو سره زمونږ او د مالك او ابو حنیفه او جمهورو علماؤ په نزد جائز دی او په هغے کښ کراهت هم نشته دے . په دلیل د احادیثو صحیحه و.

او د احمد بن حنبل او د داؤد ظاهری په نزد د ښځے نه په بچ شوؤ اوبو سره د سړی طهارت درست نه دے . په شرط ددے چه ښځے هغه اوبو لره د ځان سره خلوت نه وړلے وی . او هغے لره ئے استعمال کړی وی . او د عبد الله بن سر جس او حسن بصری نه هم دغه شان منقول دی . او مختار د جمهورو قول دے . ولے چه دا حادیث صحیحه و نه دا امر ثابت دے . چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم خپلو بیبیانو سره غسل کړے دے . او هر یو د بل بچ شوے اوبه استعمال کړے دی او خلوت لره په دے کښ څه دخل نشته . او په یو حدیث کښ راغلے دی چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم خپلے یوے بی بی په بچ شوؤ اوبو سره غسل کړے دے روایت کړے دے دے لره ابو داؤد او ترمذی . او نسائی او اصحاب سننو .

ترمذی وئیلے دی حدیث حسن صحیح دے او هغه چه کوم د ممانعت حدیث دے د حکم بن عمرو نه منقول دے . هغه ضعیف دے د حدیثو امامانو هغے ته ضعیف وئیلے دے (لکه امام بخاری) یا مراد د هغے نه دادے چه کومے اوبه د ښځے د اندامونو نه اوغوږ ځیری هغه خو مستعملے دی په هغے سره غسل درست نه دے . یا هغه ممانعت د استحباب د پاره دے . والله اعلم (انتهی)

(۷۴۸) عَنْ ابی سلمة ابن عبد الرّحمن قال دخلتُ علی عآئشة انا واخوها من الرّضاعة فسالها عن غسل النّبیّ صلّے الله علیه واله وسلّم من الجنابة فدعت باناء قدر الصّاع فاغتسلتْ وبیننا وبینها ستْرٌ وّافرغتْ علی رأسها ثلاثا قال وکان ازواج النّبیّ صلّے الله علیه واله وسلّم یاخذن من رءوسهنّ حتّی تکون کالوفرة .[بخاری : ۲۵۱]

ترجمه : د ابو سلمه بن عبد الرحمن نه روایت دے چه زه او د حضرت عائشے رضی الله عنها رضاعی رور (یعنی د پیو د خپلولی) (عبدالله بن یزید) د هغے خواله لاړو او غسل د جنابت نے ترے نه تپوس اوکړو . چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلمه څنګه کول ؟ هغوی اووے یو لوښے به

ئے اوغوښتلو چه په هغې کښې به ډك صاع اوبه راتلې او لامبل به ئے زمونږ او د هغه په مینځ کښې پرده وه هغوی به خپل سر باندې درې ځله اوبه واچولې ابو سلمةً وئیلي دی د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم بیبیانو به ویښته کټ کړے وو. او د غوږونو پورے ویښته ئے ساتلی وو

فائده : د ظاهر حدیث نه معلومیږی. چه ابو سلمةً او عبد الله بن یزید د هغه سر او د بدن پورته حصه اولیده ګنې د هغوی په مخکښې د اوبو د غوښتلو نه او د لامبلو نه څه فائده نه وه. عبد الله خونے رضاعی رور وو. او ابو سلمةً ئے د رضاعی خور زوے وو. ولې چه ام کلثوم بنت ابوبکرؓ په هغه پی. خورولې وو. او دا دواړه محرم دی او محرم لره پورته بدن لیدل درست دی.

په حدیث کښې د "وفره" لفظ دے. اصمعی وئیلي دی. وفره دلمه نه پورته دے. او لمه هغه ویښتو ته وئیلې شی. چه هغه د اوګو پورے وی. او نورو وئیلي دی چه وفره د لمه نه کم دے یعنی کوم ویښته چه د غوږونو پورے وی. ابو حاتم وئیلي دی. چه وفره هغه ویښته دی. کوم چه په غوږونو باندے وی. قاضی عیاض وئیلي دی. د عربو ښځې خو کو نسي ویستل کوی. او د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلمبیبیانو د هغه د وفات نه پس شاید داسے کړے وی د زینت پریخودلو د پاره. نووی وائی د قاضی عیاض په شان نورو علماؤ هم وئیلي دی. اوداګمان نشته دے چه هغوی به د رسول الله صَلَی الله عَلَیْه وَآلِه وَسَلَمْپه حیات کښې داسے کړے وی. او ددے حدیث نه د اخیره ونلے ده چه ښځو لره ویښته کمول درست دی. انتهی.

(٧٢٩) عَنْ اَبِیْ سَلَمَةَ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ اِذَا اغْتَسَلَ بَدَءَ بِيَمِيْنِهِ فَصَبَّ عَلَيْهَا مِنَ الْمَآءِ فَغَسَلَهَا ثُمَّ صَبَّ الْمَآءَ عَلَى الْاَذٰى الَّذِىْ بِهٖ بِيَمِيْنِهٖ وَغَسَلَ عَنْهُ بِشِمَالِهٖ حَتّٰى فَرَغَ مِنْ ذٰلِكَ صَبَّ عَلٰى رَاْسِهٖ قَالَتْ عَآئِشَةُ كُنْتُ اَغْتَسِلُ اَنَا وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ مِنْ اِنَاءٍ وَاحِدٍ وَنَحْنُ جُنُبَانِ.

ترجمه : د ابو سلمه بن عبدالرحمن نه روایت دے. حضرت عائشې رضی الله عنها وئیلي دی چه رسول الله صلی الله علیه و آله وسلمبه غسل کوؤ. نو د نبی لاس نه به ئے شروع کوله ورمبی به ئے په نبی لاس اوبه واچولې او نبی لاس به ئے اووینځلو. بیا به ئے په نبی لاس سره اوبه اچولې او په

کس لاس باندے چه په بدن باندے به کومه پلیتی وه هغه به ئے اووینځله . هر کله چه به ددغے نه اوزګار شو نو په سر باندے به ئے اوبه واچولے . حضرت عائشه رضی الله عنها وائی ما او رسول الله صلے اللهٔ علیه و اٰله وسلمبه د جنابت غسل په لوښی سره کولو .

(۳۰ ے) عن عائشة انها کانت تغتسل هی والنبیٔ صلے اللّٰه علیه واله وسلم فی اناءٍ واحد یسع ثلاثة امداداوقریبامن ذلک.

ترجمه : د مومنانو مور حضرت عائشے رضی الله عنها او رسول الله صلے اللهٔ علیه و اٰله وسلمبه په یو لوښی سره غسل کولو چه په هغے کښ درے مد یا څه دغه شان اوبه راتلے .

فائده : قاضی عیاض ونیلے دی مراد دادے چه د هر یو دپاره به درے مده اوبه اخستلے شوے یـ د مد نه مراد صاع دے ددے دپاره چه موافق شی د هغه حدیث چه په هغے کښ د فرق ذکر دے یا به د غه شان په څه وخت کښ شوے وی . نووی ونیلے دی په دے حدیث کښ ددرے مد ذکر دے او په دویم روایت کښ دادے چه د یو فرق نه به هغه غسل کوو . او په یو راویت کښ دی حضرت عائشے په یو صاع سره غسل اوکړو . او په یو روایت کښ د پنځه و مکوکو بیان دے په غسل کښ او یو مکوك په اوداسه کښ . او په یو روایت کښ یو صاع د غسل د پاره او یو مد داودس د پاره راغلے دے او په یو روایت کښ په یو مد سره اودس . او غسل د یو صاع د پنځه و مدو پورے امام شافعی او علماو ونیلے دی چه دا اختلاف په اعتبار د موقعے او حالت اوکم والی ډیر والی د اوبو وو بهر حال د طهارت د پاره د اوبو څه مقدار مقرر نه دے .

عن عائشة قالت کنت اغتسل اناورسولُ اللّٰه صلے اللّٰه علیه واله وسلم من اناءٍ واحد تختلف ایدنافیه من الجنابة.

ترجمه : د مومنانو د مور حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے . چه ما او رسول الله صلے اللهٔ علیه و اٰله وسلمغسل کوو د یو لوښی نه . (زما او د هغه) د دواړو لاس به په هغے کښ پریوتو او دا غسل د جنابت وو .

(۳۱ ے) عن عائشة قالت کنتُ اغتسل اناورسولُ اللّٰه صلّے اللّٰه علیه واله وسلّم منْ اناء بینی وبینهٔ واحد فیبادرنی حتی اقول دعْ لی قالت وهماجنبان . [بخاری : ۲۶۱]

ترجمه : د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دے ۔ چه ما او رسول الله صَلی الله علیه وآله وسلم غسل کوؤ د یو لوښی نه چه هغه زما او د هغهٔ په مینځ کښې وو ۔ هغهٔ به زر زر اوبه اخستے تردے پورے چه ما به اووے لږے اوبه زما د پاره پریږده او دواړه به جنب وو ۔

(۷۳۲) عن عائشة قالت: كنت اغتسل انا ورسول الله ﷺ من اناء بيني وبينه : واحد فيبادرني حتى اقول دع لي دع لي قالت : وهما جنبان :[نسائی : ۲۳۸، ۴۱۲]

مذکوره بالا حدیث په دے سند سره هم مروی دے په لږ شان تبدیلئ سره ۔

(۷۳۳) عَنْ مَيْمُوْنة انّها كانتْ تغْتسِلُ هِيَ والنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وسَلَّم فِيْ اِناءٍ وَّاحدٍ

ترجمه : د ام المؤمنین میمونے رضی الله عنها نه روایت دے چه هغې او نبی کریم صَلی اللّٰهُ عَلَیْه وَاٰله وَسَلَّمَ غسل کولو د یو لوښی نه ۔

(۷۳۴) عن ابن عبّاس انّ رسُوْل اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه واٰله وَسلَّم كان يَغْتسِلُ بِفَضْلِ مَيْمُوْنَة.

ترجمه : د ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله صَلی اللّٰهُ عَلَیْه وَاٰلِه وَسَلَّمَ میمونے رضی الله عنها نه په پاتے شو ؤ اوبو سره غسل کولو ۔

(۷۳۵) عنْ اُمّ سلَمة كانتْ هي ورسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَاٰله وسلَّمَ يَغْتسِلان فِي الْاِنَاءِ الْوَاحِدِ مِنَ الْجنابة

[بخاری : ۳۲۲، ۱۹۲۹، ابن ماجه : ۳۸۰]

ترجمه : د مؤمنانو مور سلمه رضی الله عنها نه روایت دے چه هغې او رسول الله صَلی اللّٰهُ عَلَیْه واله وسلمبه د جنابت غسل د یو لوښی نه کولو ۔

(۷۳۶) عنْ انس يقُوْلُ كان رسُوْلُ اللّٰه صلَّى اللّٰهُ عليه واله وسلَّم يغتسلُ بخمس مكاكيك ويتوضّأبمكّوك وّقال ابْنُ الْمثنّى بخمس مكاكيْ.[بخاری : ۲۰۱، ابوداود : ۹۵، ترمذی : ۶۰۹، نسائی : ۷۳، ۲۲۹، ۳۴۴]

ترجمه : د انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صَلی اللّٰهُ عَلَیْه وَاٰلِه وَسَلَّمَبه په پنځه مکوك سره غسل کولو او په یو مکوك سره به ئے اودس کولو ۔ (دمکوك نه مراد مُد دے)

(۷۳۷) عنْ انس قال كان النّبيُّ صلَّى اللّٰهُ عليه وَاٰله وَسلَّم يَتَوَضَّأبالْمُدِّويَغْتسِلُ بِالصَّاعِ الى خمْسةِ امْدادٍ.

ترجمه : د انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صَلے اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَبهٔ په یو مد سره اودس کوؤ او د یو صاع نه واخله تر پنځه ؤ مدو پورے به ئے غسل کولو ۔

(۷۳۸)عَنْ سفینة قال کان رسُوْلُ الله صلّے اللّٰهُ علیْه واله وسلّم یغْسَلُهُ الصاع من الْماء من الْجنابة ویُوضئهُ الْمدُّ [ترمذی ۵۶، ابن ماجه ۲۶۷]

ترجمه : د سفینه نه روایت دے ۔ چه رسول الله صلے الله علیْه وَاٰلِه وَسلملره یو صاع اوبه د جنابت د غسل دپاره او یو مد اوبه د اودس کولو د پاره پوره وے ۔

(۷۳۹)عن سفینة صاحب رسُوْل الله صلّے اللّٰهُ علیْه واله وسلّم یغْتسلُ باالصّاع ویتطهّرُبالْمُدّ.[راجع : ۷۳۸]

ترجمه : د سفینه رضی لله عنه نه روایت دے چه رسول الله صَلے اللهُ عَلَیْه وَاٰلِه وَسلّمبه به په یو صاع اوبو سره غسل کوؤ ۔ او په یو مد اوبو سره به ئے اودس کولو ۔

فائده : امام مسلمؒ وئیلے دی چه ابو بکر بن ابی شیبه سفینه ته صحابی وئیلے دی او ابو ریحانه وائی چه هغه بوډا شوے وو یعنی سفینه او ماته د هغه د روایت اعتبار نشته ۔ نووی وئیلے دی په دے صورت کښې امام مسلم دے حدیث لره د نورو حدیثو د متابعت په طور باندے نقل کړے دے نه په دے باندے د اعتماد د پاره ۔

﴿باب اسْتحْباب افاضة الْمآءِ عَلَى الرَّءْ سِ وَغَیْرِه ثَلاثًا﴾

باب: په سر وغیره باندے د درے واره اوبو اچولو بیان ۔

(۷۴۰)عن جُبیْر بن مُطْعم قال تماروْا فی الْغسْل عند رسُوْل الله صلّے اللّٰهُ علیْه واله وسلّم فقال بعْضُ الْقوْم امّا انا فانّیْ اغْسلُ راْسیْ بکذا و کذا فقال رسُوْلُ الله صلّے اللّٰهُ علیْه واله وسلّم امّا انا فانّیْ اُفیْضُ علی راْسیْ ثلاث اکفّ .[بخاری : ۲۵۴، ابو داود : ۲۳۹، نسائی : ۲۵۰، ۴۲۳، ابن ماجه : ۵۷۰]

ترجمه : د جبیر بن مطعمؓ نه روایت دے خلقو جګړه کوله د رسول الله ﷺ په مخکښې په باره د غسل کښې بعضو اوے ۔ موږ خو سر لره په دے شان وینځو داسے داسے ۔ رسول الله اوفرمایل زهٔ خو په خپل سر باندے درے چونګه (اوبه غورځوم)۔

فائده : نووی وئیلی دی د دی حدیث نه د اوتلی دی چه په سر باندی دری واره اوبه غورځول نه غسل کښی مستحب دی او په دی باندی اتفاق دی . او په سر باندی قیاس شوی دی نورو اندامونو له د او لکه څرنګه چه نه اودس کښی دری دری واره هر یو اندام وینځل مستحب دی دغه شان به غسل کښی هم

(۷۳۱) عن جبیر ابن مطعم عن النبی صلی الله علیه واله وسلم انه ذکر عنده الغسل من الجنابة فقال اما انا فافرغ علی راسی ثلاثا.

ترجمه : د جبیر بن مطعم نه روایت دی . د رسول الله ﷺ په د جنابت د غسل ذکر اوشو . حضرت (ﷺ) اوفرمایل . زه خو په خپل سر باندی دری واره اوبه اچووم.

(۷۳۲) عن جابر بن عبد الله ان وفد ثقیف سالوا النبی صلی الله علیه واله وسلم فقالوا ان ارضنا ارض باردة فکیف بالغسل فقال اما انا فافرغ علی راسی ثلاثا قال بن سالم فی روایته ثنا هشیم قال انا ابو بشر وقال ان وفد ثقیف قالوا یا رسول الله.

ترجمه : د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دی . د ثقیف د طرفنه چه کوم خلق راغلی وو هغوی عرض اوکړو یا رسول الله ! زمونږ ملك یخ دی . نو غسل به څنګه کوو؟ حضرت ﷺ اوفرمایل زه خو به خپل سر باندی دری واره اوبه اچوم (زیاتی اوبه تویول ضروری نهٔ دی)

(۷۳۳) عن جابر بن عبد الله قال کان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اذا غتسل من جنابة صب علی راسه ثلاث حفنات من ماء فقال له الحسن ابن محمد ان شعری کثیر قال جابر فقلت له یا ابن اخی کان شعر رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اکثر من شعرك واطیب. [ابن ماجه : ۵۷۷]

ترجمه : د جابر بن عبد الله نه روایت دی رسول الله ﷺ چه کله غسل کولو نو په خپل سر باندی به نی دری لپی ډکی اوبه اچولی حسن اووی زما خو ویخته ډیر زیات (ګڼړ) دی . جابر رضی الله عنه اووی ای زما وراره ! د رسول الله ﷺ ویخته ستا د ویختو نهٔ زیات وو . او ستا نه غوره وو.

﴿باب حکم ضفائر المغتسلة﴾

باب :- بنځو به په غسل کښې خپلې کونځۍ پرانزي یا نه پرانزي .

(۷۴۴)عن ام سلمة قالت قلت یارسول الله انی امرأة اشد ضفر رأسی افانقضه لغسل الجنابة قال لاانما یکفیک ان تحثی علی رأسک ثلاث حثیات ثم تفیضین علیک الماء فتطهرین.[ابوداود : ۲۵۱، ترمذی : ۱۰۵، نسائی : ۲۴۱، ابن ماجه : ۶۰۳]

ترجمه: د مومنانو د مور سلمه رضی الله عنها نه روایت دے . ما اووے یا رسول الله ! زه په خپل سر باندے کونځۍ ترم . ولے د جنابت د غسل د پاره هغے لره پرانزم . هغه ورته اوفرمایل نه . تا لره کافی دی چه په سر باندے د اوبو درے ډکے لپے واچوے . بیا په تمام بدن باندے اوبه واچوے نو پاکه به شے .

فائده :- نووی ونیلے دی . زمونږ او د جمهورو مذهب دادے چه په کونځو کښې چه هر کله تمامو ویختو ته اوبه رسیدے شی دننه او بهر نو د هغے کهولاوه ول ضروری نه دی او که چرے بغیر کهولاویدو نه اوبه نه رسیدے نو کهولاوه ول ئے پکار دی . او د نخعی نه منقول دے چه په هر حال کښې کهولاوه ول ضروری دی . او د حسن د طاؤس نه مروی دے چه د حیض په غسل کښې کهولاوه وال پکار دی . او د جنابت په غسل کښې ضروری نه دی او زمونږ دلیل د ام سلمه حدیث دے. که چرے د سړی په سر باندے کونځۍ وی نو د هغے هم حکم د ښځے په شان دے (انتهی)

(۷۴۵) عن ایوب بن موسی فی هذا الاسناد وفی حدیث عبد الرزاق فانقضه للحیضة والجنابة ؟ فقال : لا ثم ذکر بمعنی حدیث ابن عیینه : [راجع : ۷۴۴]

مذکوره بالا حدیث په دے سند سره هم مروی دے په څه لږ غوندے تغیر سره .

(۷۴۶) عن ایوب بن موسی بهذا الاسناد وقال : افاحله فاغسله من الجنابة ؟ ولم یذکر الحیضة : [راجع: ۷۴۴]

دغه راویت په دے سند سره هم مروی دے .

(۷۴۷)عن عائشة ان عبد الله ابن عمر یأمر النساء اذا اغتسلن ان ینقضن رؤسهن فقالت یاعجبا لابن عمر هذا یأمر النساء اذا اغتسلن ان ینقضن رؤسهن افلا یأمرهن ان یحلقن رءوسهن لقد کنت اغتسل

اسا و رسول الله صلى الله عليه و اله وسلم من اناء واحد وما ازيد على ان افرغ على راسى ثلاث افراغات ۔|

نسائی ٤١٦، ابن ماجه ٦٠٤|

ترجمه : د ام المؤمنين حضرت عائشے رضى الله عنها نه روايت دے چه عبدا لله ابن عمر ښځو لره د غسل په وخت د سر کهولاؤ کولو حکم ورکړو حضرت عائشے رضى الله عنها اووے ۔ حيرا نيږم په ابن عمر باندے چه هغه خو د سر کهولاوه ولو حکم کوی د غسل په وخت نو د سر د خرېلو حکم ولے نه ورکوی ما اورسول الله ﷺ دواړو به د يو لوښی نه غسل کولو ۔ او ما به صرف په خپل سر باندے درے لپے اوبه اړولے۔

فائده : نووی ونيلے دی چه عبد الله بن عمر چه کوم د سر د کهولاو ولو حکم ورکړو دا په داسے صورت کښ دی هر کله چه تمامو ويختو ته اوبه نه رسی يا به د هغه مذهب دغه وی ۔ چه سر کهولاوه ول پکاردی لکه چه د نخعی نه مونږ نقل کړے دی او هغه ته به دام سلمهٔ او عائشے حديث رسيدلے نه وی يا دا حکم به په طور د استحباب او احتياط وی ۔

○باب استحباب استعمال المغتسلة من الحيض فرصة من مسك فى موضع الدم. ○

باب : کومه ښځه چه د حيض غسل اوکړی هغه چه په کپړه يا مالوچو مشک اولګوی او د وينے په مقام ئے استعمال کړی نو مستحب دی

(٧٠٦)عن عائشة قالت سالت امراة النبى صلى الله عليه و اله وسلم كيف تغتسل من حيضتهاقال فذكرت انه علمها كيف تغتسل ثم تاخذفرصة من مسك فتطهر بهاقالت كيف اتطهر بهاقال تطهرى بهاوسبحن الله واستتر واشار لنا سفيان بن عيينة بيده على وجهه قال قالت عائشة واجتذبتهاالىّ وعرفت مااراد النبىّ صلى الله عليه و اله وسلم فقلت تتبعى بهااثر الدم وقال ابن ابى عمر فى روايته فقلت تتبعى بهاآثار الدم.|بخارى : ٣١٤، ٣١٥، ٣١٧، نسائى : ٢٥١، ٤٢٥|

ترجمه: د مؤمنانو د مور عائشے رضى الله عنها نه روايت دے ۔ چه د رسول الله ﷺ نه يوے ښځے تپوس اوکړو د حيض نه به څنګه غسل کووم؟ هغه اوښودل هغے ته غسل کول ۔ بيائے

ورته اوفرمایل چه مشك پر ے لګیدلے وی د مالو چو یوه پاغونده به واخلے اوپه هغے سره به پاکی اوکړے هغے اووے څنګه به پاکی کووم . هغهٔ او فرمایل سبحان الله !(حیرانیږ م چه په دومره ظاهره خبره هم نه پو هیږے) پاکی کوه د هغے سره او پرده اوکړه هغه . سفیان او خودل مونږ ته او خپل لاس نے په خله باندے کیښودو . (یعنی د شرم نه هغه داسے اوکړو) حضرت عائشه رضی الله عنها وائی ما هغه ښځه خپل طرفته راښکوده . او د رسول الله ﷺ په مطلب زهٔ پو هیدلے ووم . ماورته اووے . چه هغه دمشکو پهاهے لره د وینی په ځائے باندے لګوه . (یعنی په شرمګاه باندے)

فائده :. د احکم د نظافت او طهارت او پاکیزه ګی د پاره دے . نهٔ په طور د وجوب . او د نفاس (ځلوینښتی) نه ورستو هم دغه شان مستحب دی . بعضو ونیلے دی چه د مشکو په استعمال سره نطفه زر اودریږی . هر کله چه څه مشك نه میلاویږی نو نوره څه خوشبونی دے استعمال کړی . او دا استعمال د غسل نه ورستو پکار ده او که چرے څه خو شبونی میلاؤ نه شوه نو صرف په اوبو سره پاکی کول پوره دی . لیکن باکرے ۱۔ لره فرج ۲۔ ته دننه اوبه رسول ضروری نه دی او ثیبے ۳۔ لره دومره لرے رسول واجب دی څومره قدرے چه د حاجت د پاره کینی او کهولاویږی۔

۱۔ ناوادهٔ شوے جینی ۲۔ د زنانه اندام ۳۔ وادهٔ شوے ښځه

(۷۴۹) عن عائشة ان امرأة سالت النبی ﷺ کیف اغتسل عند الطهر ؟ فقال : خذی فرصة ممسكة فتوضئی بها ثم ذکر نحو حدیث سفیان : (راجع : ۷۴۸)

ترجمه : حضرت عائشهؓ فرمانی چه یوے ښځے د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه زهٔ به په حیض کښی غسل څه رنګه کووم حضور ﷺ اوفرمائیل چه خوشبودار مالوچ سره پاکیزګی حاصله کړه .

(۷۵۰)عن عائشة ان اسمآء سالت النبیّ صلے الله علیه واله وسلّم عن غُسل المحیض فقال تاخذُاحداکنّ مآء ها وسدرتها فتطهرُ فتحسن الطُّهور ثم تصبُّ علی رأسها فتدلکُهٗ دلکاشدیدًاحتی یبلغ شؤون رأسها ثم تصبُّ علیها المآء ثم تاخذ فرصة مُمسّکة فتطهرُ بها فقال سُبحٰن الله تطهّرین بها فقالت عائشة کانها تُخفی

ذلک تتبعین اثر الدم و سالتہ عن غسل الجنابۃ فقال تأخذماء فتطهر فتحسن الطهور او تبلغ الطهور ثم تصب علی رأسها فتدلکه حتی تبلغ شؤون رأسها ثم تفیض علیها الماء فقالت عائشۃ نعم النساء نساء الانصار لم یکن یمنعهن الحیاء ان یتفقهن فی الدین [ابوداود ٣١٤، ٣١٥، ٣١٦، ابن ماجه : ٦٤٢]

ترجمه : د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دے چه اسماء (د شکل لور یا د یزید بن مسکن لور) تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ نه چه د حیض غسل به څنګه کوم؟ هغه اوفرمایل چه ورمبے به د بیرے د وڼے د پاڼړو اوبه واخلي او په هغے سره به ښه شان پاکي اوکړے (یعني : حیض وینه چه کومه لګیدلے وی هغه به وینځي او صفا به ئے کړے) بیا به په سر باندے اوبه واچوے او ښه په زور سره به ئے اومږے تردے پورے چه اوبه د ویختو زیلو ته اورسي . بیا به په ځان د پاسه اوبه واچوے (یعني په تمام بدن باندے) بیا به په یوه پهاها (د مالوچو یا د کپړے) چه مشک پرے لګیدلے وی . په هغے سره پاکي اوکړے . اسماءؓ اووے څنګه پاکي به کوم؟ رسول اللهؐ اوفرمایل . سبحان الله! پاکي به کوے . حضرت عائشےؓ ورته په پټه اووے . چه د وینے په ځائے باندے به ئے لګوے . بیا هغے د جنابت د غسل تپوس اوکړو . هغه ورته اوفرمایل اوبه به واخلي په ښه شان به طهارت اوکړے . بیا به په سر باندے اوبه واچوے . او دومره به ئے اومږے چه اوبه د ویختو ویخ ته اورسي بیا به په تمام بدن باندے اوبه اوغورځوی . حضرت عائشےؓ اووے د انصارو ښځے هم څه ښکلے ښځے وے هغوی به د دین د خبرے په تپوس کولو کښ شرم نه کوؤ (اودا لازم دی ولے چه شرم په ګناه . او معصیت کښ دے او ددین د خبرے تپوس کول ثواب او اجر دے)

﴿بَابُ الْمُسْتَحَاضَةِ وَغُسْلِهَا وَصَلٰوتِهَا﴾

باب : د مستحاضے بیان او د هغے د غسل او د مانځه حال .

فائده : مستحاضه هغه ښځے ته وئیلے شی چه هغه په استحاضه کښ مبتلاوی او استحاضه وئیلے شی هغه وینے ته چه هغه بے وخته د ښځے د شرمګاه نه جاری وی . او د اوینه دیو رګ نه راوځی چه هغے ته عادل وئیلے شی . او د حیض وینه د رحم د قعر نه راوځی . د

مستحاضے سره وطی درسته ده ۔ اگر که وینه جاری وی زمونږ او د جمهورو علماؤ مذهب دغه دے او د حضرت عائشے رضی الله عنها نه د هغے ممانعت منقول دے ۔ د نخعیؒ او حکم دغه قول دے او د ابن سرین په نزد جماع مکروه ده ۔

او احمد ونیلی دی هغه وخت به جماع کوی کله چه خاوند ته په زنا کښې د اخته کیدو یره وی ۔ او صحیح د جمهورو قول دے او دلیل د هغې هغه دے کوم چه عکرمهؒ روایت کړے دے د حمنه بنت حجش نه چه هغه مستحاضه وه او د هغے خاوند به د هغے سره جماع کووله ۔ روایت کړے دے لره ابو داؤد او بیهقی ۔ او په مونځ او روژے ۔ او اعتکاف ۔ او قراءت ۔ او مس صحف ۔ او سجده تلاوت ۔ او په سجده د شکر کښې او په ټولو عباداتو کښې په شان د پاکے ښځے ده په اتفاق د علماؤ سره ۔ لیکن کله چه د مانځه اراده کوی نو خپل شرمګاه لره به وینځی ۔ او په فرج کښې به یو ه کپړه یا مالوچ ږدی ۔ او که چرے وینه ډیره بهیږی او دا کپړه پوره نه وی نو د پاسه نه به لنګ اووهی بیا به اودس اوکړی په هغه وخت حصاریږی به نه ۔ یا به تیمم اوکړی کچرے اوبه نه میلاویږی یا عذر وی ۔ او د فرض مونځ لوستلو نه پس چه خومره نفل کول غواړی کولے شی ۔ لیکن زمونږ په نزد به په یو اودس سره یو فرض لولی که قضاتوی که اداء وی ۔

او د ابو حنیفهؒ په نزد به هر مانځه له د هر وخت نوے نوے اودس کوی او د هغه وخت دننه چه خومره مونځونه وی که فرض وی یا نفل لوستلے شی ۔ او د ربیعهؒ او مالکؒ په نزد د استحاضے په وینه سره اودس نه ماتیږی ۔ خو د کومے پورے چه بل قسم یے اودسی نه وی نو خومره فرض او نفلو ته چه غواړی لوستلے شی ۔ او دوخت د راتلو نه وړاندے د مستحاضے او دس د هغه مانځه د پاره زمونږ په نزد درست نه دے ۔ او د ابو حنیفه په نزد رست دی ۔ او په مستحاضه باندے غسل واجب نه دے د څه مانځه په وخت او د جمهورو علماؤ دغه قول دے او د ابن زبیرؒ او عطاء بن ابی رباح نه منقول دے چه هغه به د هر مانځه د پاره غسل کوی ۔

او د حضرت عائشے رضی الله نه مروی دے چه هره ورځ به یو ځل غسل کوی ۔ او د مسیبؒ او حسنؒ نه منقول دے چه د هرے ورځے د ماسپخین په وخت به غسل کوی او د جمهورو مذهب صحیح دے ۔ چه هغه به چرته غسل نه کوی ۔ مګر کله چه د حیض نه پاکه شی او په

تکرار د غسل کښې چه کوم حدیثونه راغلي دي هغه ضعیف دي . او مستحاضه په دوه قسمه ده سو خو چه هغه وینه اوګوري چه هغه حیض نه دے لکه د یو ے شپے او یو ے ورځے نه کم دویم کوم څه چه حیض دے څه نه دے لکه برابر وینه لبدل کوي . یا د حیض د مودے نه زیاته وینه اووینی ددے دویم قسم درے صورتونه دي ورمبے دا چه هغه ښځه معتاده نه وي یعنی د شروع نه هغے ته دغه راغلي وي نو د هغے حیض به د یوے شپے او یوے ورځے پورے شماریږي زمونږ په نزد او د ابو حنیفهؒ په نز درے شپے او درے ورځے دي او باقي استحاضه ده . دویمه دا چه معتاده وي نو څو مره ورځی چه د هغے د حیض عادت وي . دومره به ئے حیض شمارلې او باقي به استحاضه وي .

دریمه دا چه ممیزه وي چه کله وینه ډیره اووینی او کله لږه نو هر کله چه توره وینه او وینی هغه حیض دے په شرط ددے چه دیو ے شپے ورځے نه کم نه وي او دپنځلسو ورځونه زیاته نه وي او سره وینه دپنځلسو ورځونه کمه نه وي (نووی معه زیاده واختصار)

(۳۷۵) عَنْ عائشة قالت جآءَ ت فاطمةُ بنْت ابِيْ حُبَيْش الى النَّبِيِّ صلَّى اللّٰهُ عليه واله وسلَّم فقالتْ يارسُوْل الله صلَّى اللّٰه عليه واله وسلَّم فقالتْ يارسُوْل اللّٰه انّي امْرءَ ةٌ اُسْتحاضُ فلا اطْهرُ افادعُ الصَّلوة قال لا انّما ذلک عرْقٌ وليس بالحيْضة فاذا اقْبلت الْحيْضةُ فدعي الصّلوة فاذا اَدْبرتْ فاغْسلي عنْک الدّم وصلِّي [بخاری ۲۲۸، ترمذی : ۱۲۵ ، نسائی ۳۵۷، ابن ماجه : ۶۲۱]

ترجمه : دام المؤمنین عائشے رضی الله عنها نه روایت دے فاطمه بنت ابی حبیش رسول الله صلی الله علیه واله وسلم له راغله او عرض ئے او کړو یا رسول الله! ماته استحاضه شوے ده زه نه پاکیږم ولے مونځ پریږدم هغه او فرمایل نه داد وینے یورګ دے حیض ورځے راشی نو مونځ پر پرده بیا چه د حیض ورځے تیرے شی نو وینه او مونځ شروع کړه

فائده: نووی وئیلے دي چه ددے حدیث نه وتلے دي چه مستحاضه به مونځ لولی مګر په هغه زمانه کښې چه د حیض وینه نه وي او په دے باندے اتفاق دے او داهم اوځی چه د حاجت په وخت د مسئلے تپوس اوشی اوښځه په خپله د مسئلے تپوس کولے شی او د هغے آواز د حاجت په وخت بل څوک او ریدے شي (انتهی)

(۳۵۷) عن هشام بن عروة بمثل حدیث وکیع واسناده وفی حدیث قتیبة عن جریر جاءت فاطمة بنت ابی حبیش بن عبد المطلب ابن اسد وهی امراة منا قال وفی حدیث حماد بن زید زیادة حرف ترکنا ذکره :

په دې سند سره هم مذکوره بالا حدیث مروی دے .

(۳۵۷) عن عائشة قالت استفتت ام حبیبة بنت جحش رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فقالت انی استحاض فقال انما ذلک عرق فاغتسلی ثم صلی فکانت تغتسل عند کل صلوة قال اللیث بن سعد لم یذکر ابن شهاب ان رسول الله صلے الله علیه واله وسلم امر ام حبیبة بنت جحش ان تغتسل عند کل صلوة ولکنه شی فعلته هی وقال ابن رمح فی روایته ابنة جحش ولم یذکر ام حبیبة.[ابوداود : ۲۹۰ ، ترمذی : ۱۲۹ ، نسائی ۲۰۱ ، ۳۵۰]

ترجمه : د ام المؤمنین حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه ام حبیبه بنت حجش رضی الله عنها رسول الله صلے الله علیه واله وسلم ته اووے ماته استحاضه ده هغه او فرمایل دا وینه د یو رګ ده ته غسل کوه او مونځ لوله بیا به هغے د هر مانځه دپاره غسل کولو لیث وائی ابن شهاب دانه دی بیان کړے چه رسول الله صلے علیه واله وسلم ام حبیبه بنت حجش ته حکم او کړو د هر مانځه دپاره د غسل کولو بلکه ام حبیبهٔ به په خپله داسے کول داو ابن رمح په په روایت کښې د ام حبیبه نوم نشته دے بلکه صرف د حجش د لور ذکر دے .

(۳۵۸) عن عائشة زوج النبی صلے الله علیه واله وسلم ان ام حبیبة بنت جحش ختنة رسول الله صلے الله علیه واله وسلم وتحت عبد الرحمن ابن عوف استحیضت سبع سنین فاستفتت رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فی ذلک فقال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم ان هذه لیست باالحیضة ولکن هذا عرق فاغتسلی وصلی قالت عائشة فکانت تغتسل فی مرکن فی حجرة اختها زینب بنت جحش حتی تعلو حمرة الدم الماء، قال ابن شهاب فحدثت بذالک ابابکر ابن عبد الرحمن بن الحارث بن هشام فقال یرحم الله هندا لو سمعت بهذه الفتیا والله ان کانت لتبکی لانها لا تصلی.[بخاری : ۳۲۷ ، ابوداود : ۲۸۵ ، نسائی : ۲۰۲ ، ۲۰۳ ، ۲۰۴ ، ۲۰۵ ، ابن ماجه : ۶۲۶]

ترجمه : د مؤمنانو مور عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه ام حبیبهٔ بنت حجش چه رسول الله صلے علیه واله وسلم د ښځې خور وه او بیبی د عبدالرحمن بن عوف وه د اووه و کالو پورے

مستحاضه وه هغې د رسول الله صلی علیه واله وسلم نه دمسئلې تپوس او کړو هغهؑ او فرمايل داحيض نه دې بلکه د يو رګ وينه ده ته غسل کوه او مونځ لوله حضرت عائشې رضی الله عنها وئيلي دی هغې په يو مرکن (دوسپينې خانك)کښې غسل کولو دخپلې خور زينبؓ بنت حجش په کوټه کښې نو دوينې سور والې په اوبو کښې راتلو (دومره قدرې وينه ترې بهيده)ابن شهابؒ وئيلي دی مادا حديث ابو بکر بن عبدالرحمن ته بيان کړو هغوی اووې خدائې پاك دې رحم او کړی په هنده باندې کاش هغې دافتوی اوريدلې وې قسم په خدائې چه هغې به ژړا کوله په مونځ نه کولو سره (يعنی هغې ته هم استحاضه وه او دامسئله ورته معلومه نه وه نو مونځ به ئې نه کولو او دمونځ په پاتې کيدو باندې به ئې ژړا کوله .

(۷۵۸) عن عائشة ان ابنة جحش كانت تستحاض سبع سنين بنحو حديثهم : [راجع : ۷۵۶]

ترجمه : حضرت عائشهؓ فرمائی چه بنت جحش مستحاضه وه تر د اوؤ کالو پورې باقی ئې مذکوره بالا حديث بيان کړو .

(۷۵۹)عن عآئشة انهاقالتْ انّ اُمّ حبيْبة سالتْ رسُوْلَ اللّه صلّے اللّهُ عليْه واله وسلّم عن الدّم فقالتْ عآئشة رائيتُ مركنها ملاى دمافقال رسُوْلُ اللّه صلّے اللّهُ عليْه واله وسلّم امْكُثِىْ قدرماكانتْ تحْبسُك حيْضتُك ثمّ اغْتسلىْ وصلّىْ [راجع : ۷۵۶]

ترجمه : دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله عنها نه روايت دې چه ام حبيبهؓ تپوس اوکړو د رسول الله صلی عليه واله وسلم نه داستحاضه وينې حضرت عائشه رضی الله عنها وائی ماورته دهغې دلامبلو لوښې دوينې نه ډك او ښو دو هغه او فرمائيل دومره ورځې دې صبر کوی څومره ورځې چه به ئې حيض راتلو (دبيمارئ نه وړاندې دعادت په ورځو کښې)بيادې غسل کوی او مونځ دې کوی

(۷۶۰)عن عائشة زوْ ج النّبىّ صلّے اللّهُ عليْه واله وسلّم انهاقالتْ انّ اُمّ حبيْبة بنْت جحْش الّتىْ كانتْ تحْت عبْد الرّحْمن بْن عوْف شكتْ الى رسُوْل اللّه صلّے اللّهُ عليْه واله وسلّم الدّمَ فقال لهاامْكُثِىْ قدرماكانتْ تحْبسُك حيْضتُك ثمّ اغْتسلىْ فكانتْ تغْتسلُ عنْد كُلّ صلوة. [ابو داود : ۲۷۹، نسائی : ۲۰۷، ۳۵۱]

ترجمه : دحضرت عائشې رضی الله عنها نه روايت دې چه ام حبيبه بنت حجشؓ چه دعبد

الرحمن بن عوف پہ نکاح کبنں وہ درسول اللہ صلے اللہ علیہ والہ وسلم خوا لہ راغلہ او شکایت نے او کړو دوښے دبهیدو هغہ ورته او فرمایل :دو مرہ ورځے حصاریرہ څو مرہ ورځے چہ بہ دحیض راتللو (ددے ناجوړ تیا نه وړاند)بیا غسل کوہ نو هغے بہ دهر مانځہ دپارہ غسل کولو .

فائدہ : دجحش درے لونړہ وے یوہ زینب چہ دهغے سرہ وړاندے زید بن حارثہ نکاح کړے وہ بیا ورته هغوی طلاق ور کړو نو درسول اللہ صلے اللہ علیہ والہ وسلم پہ نکاح کبنں راغلہ دویمہ ام حبیبہ کومہ چہ پہ دے حدیث کبنں مذکورہ دہ دادعبد الرحمن بن عوف پہ نکاح کبنں وہ دریمہ حمنہ چہ دطلحہ بن عبیداللہ پہ نکاح کبنں وہ بعضو ونیلے دی چہ دجحش درے واړے لونړہ پہ استحاضہ کبنں مبتلا وے او بعضے وائی چہ صرف ام حبیبہ تہ دابیماری وہ . (نووی)

٭بَابُ وُجُوبِ قَضَاءِ الصَّوْمِ عَلَى الْحَائِضِ دُوْنَ الصَّلٰوةِ.٭

باب :پہ حائضہ ښځہ باندے دمانځہ قضاء واجب نہ دہ او دروژے قضاء واجب دہ .

(۷۶۱)عن مُعاذة ان امرأة سالت عائشة فقالت اتقضى احدانا الصلوة ايام محيضها فقالت عائشة احرورية انت قد كانت احدانا تحيض على عهد رسول الله صلے الله عليه واله وسلم لاتؤمر بقضاء [بخاری : ۳۲۱، ابوداود : ۲۶۲، ۲۶۳، ترمذی : ۱۳۰، نسائی : ۳۸۰، ۲۳۱۷]

ترجمہ :دمعاذہ رضی اللہ عنہ نہ روایت دے چہ یوے ښځے دحضرت عائشے رضی اللہ عنها نہ تپوس او کړو ولے ښځہ بہ قضاء راوړی دحیض دورځو مانځہ لرہ هغوی اووے ولے تہ حروری نے پہ مونږ کبنں چہ بہ چاتہ حیض راغے درسول اللہ صلے اللہ علیہ والہ وسلم پہ زمانہ کبنں هغے تہ بہ دمانځہ دقضاء راوړو حکم نہ وو.

فائدہ : حروری نسبت دے دحرورا پہ طرف او حرورا دیو کلی نوم دے پہ کوفہ کبنں پہ دوہ میلہ باندے دهر څہ نہ وړمبے خارجیان دغلتہ راغونډ شوی وو هغہ خارجیانو دتولو اهل اسلامو خلاف داخبرہ اختیار کړے دہ چہ حائضے لرہ دمانځہ قضاء راوړل پکار دی دهغوی نہ سیوا دتمامو اهل اسلام اتفاق دے چہ پہ حائضے باندے دمانځہ قضاء راوړل واجب نہ دی خو دروژو قضاء واجب دہ

(۷۶۲)عن مُعاذة انها سالتْ عآئشة اتقضِ الحائضُ الصلوة قالتْ عآئشة احرُوْرِيّةٌ انت قد كُنّ نسآء رسُوْل الله صلّى اللّٰهُ عليه و اله وسلم يحضن افامرهن ان يّجزين قال محمّد بن جعفر يّعْني يقضين. [راجع: ۷۶۱]

ترجمه: معاذه رضی الله عنها تپوس او کړو د حضرت عائشے رضی الله عنها نه ولے حائضه به دمونځ قضانکوی هغوی اووے ولے ته حروری ئے د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم بیبانے چه به حائضه شولے بیاولے هغه به هغوی ته دمانځه دقضاء حکم کوو".

(۷۶۳)عن مُعاذة قالتْ سالتُ عائشة فقلتُ مابالُ الحائض تقضىْ الصّوْم ولاتقضى الصلوة فقالتْ احرُوْرِيّةٌ انت قلتُ لسْتُ بحرورِيّة ولكنّي اسال قالتْ كان يصيبُنا ذلك فنُؤْمرُ بقضآء الصّوْم ولانُؤْمرُ بقضآء الصّلوة [راجع: ۷۶۱]

ترجمه: دمعاذه رضی الله عنها نه روایت دے ما د حضرت عائشے رضی الله عنها نه تپوس او کړو څه وجه ده چه حائضه دروژو قضاء کوی او دمانځه قضاء نه کوی هغوی اووے ته حروری خونه ئے ما اووے نه زه خو تپوس کوم. هغوی اووے مونږ بنځوته چه به کله حیض راغلے نو مونږ ته به حکم اوشو دروژو دقضاء راکړ شولو او حکم به نه کیدو دمانځه دقضاء راکړ شولو.

فائده: داعنایت دے د پروردګار چه هغه د مانځه قضاء معاف کړے ده ګنی نو لوئے بوج به وو ځکه چه مونځ په هر ه ورځ کښې پنځه واره فرض دے په ټول کال کښې په سوونو مونځو نو کول برے وتل او رمضان خو په هر کال کښې یو وار راځی دځلورو پنځه ؤ دورژو قضاء څه ګرانه نه ده

﴿بَابُ تَسَتُّرِ الْمُغْتَسِلِ بِثَوْبٍ وَّنَحْوِهٖ.﴾

باب: غسل کونکی به دکپړے پرده کوی.

(۷۶۴)عن ام هانىء بنت ابى طالب تقوْلُ ذهبْتُ الى رسُوْل الله صلّى اللّٰهُ عليه و اله وسلم عام الْفتح فوجدْتُهٗ يغتسل وفاطمةُ ابْنتهٗ تسْترُهٗ بثوْب [بخاری: ۲۸۰، ۳۵۷، ۳۱۷۱، ۶۱۵۸. ترمذی: ۲۷۳۴، ۵۰۹. نسائی: ۲۲۵. ابن ماجه: ۴۶۵]

ترجمه: د ام هانی بنت ابی طالب نه روایت دے چه زه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم

خواله لاړم په کوم کال چه مکه مکرمه فتح شوه حضرت محمد صلى الله عليه واله واله وسلم غسل کولو او فاطمۍ په هغه باندے دکپړے یوه پرده کړے وه۔

(۷۲۵) عن ام هانی بنت طالب انه لما کان عام الفتح اتت رسول الله صلى الله عليه واله وسلم وهو باعلى مکة قام رسول الله صلى الله عليه واله وسلم الى غسله فسترت عليه فاطمة ثم اخذثوبه فالتحف به ثم صلى ثمان رکعات سبحة الضحى. [راجع: ۷۲۴]

ترجمه: دام هانی بنت ابی طالب نه روایت دے په کوم کال چه مکه فتح شوه نو هغه درسول الله صلے الله علیه واله وسلم خواله راغله هغه دمکے په اوچت جانب کښې وو نو پاسیدو رسول الله صلى الله عليه واله وسلم دغسل کولو دپاره نو حضرت فاطمے رضی الله عنها دیو یے کپړے پرده په هغه بندے او کړه بیا هغه خپلے کپړے واغو ستلے او بیا اته رکعته ئے دڅانښت اولو ستل۔

فائده: نووی ونیلے دی ددے حدیث نه داوتلی دی چه دڅانښت اته رکعتونه دی لو داسنت دی

(۷۲۶) عن سعيد ابن ابى هند بهذا الاسناد وقال: فسترته ابنته فاطمة بثوبه فلما اغتسل اخذه فالتحف به ثم قام فصلى ثمان سجدات وذالک ضحى:

ترجمه: په دویم روایت کښې دا الفاظ مروی دی چه د حضور ﷺ لور حضرت فاطمےؓ په کپړے سره پرده کړے وه کله چه حضور ﷺ غسل اوکړو نو پرده ئے راتوله کړه او اته رکعته دَ څاښت مونځ ئے ادا کړو

(۷۰۱) عن ميمونة قالت وضعت للنبى صلى الله عليه واله وسلم ماء وسترته فاغتسل: [راجع: ۷۲۲]

ترجمه: دمؤمنانو حضرت میمونے رضی الله عنها نه روایت دے هغوی وائی چه مانبی کریم صلے الله علیه واله وسلم دپاره اوبه کیښودے او هغه ته مے پرده او کړه نو هغه غسل او فرمایلو

﴿بَابُ تَحْرِيمِ النَّظَرِ اِلَى الْعَوْرَاتِ.﴾

باب: دبل ستر طرفته کتل حرام دی۔

(۷۰۹) عن ابی سعيد الخدرى ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم قال لاينظر الرجل الى عورة الرجل

ولاالمرءة الى عورة المرءة ولايفضى الرجل الى الرجل فى ثوب واحد و ولاتفضى المرأة الى المرأة فى الثوب الواحد.[ابوداود : ۴۰۱۸، ترمذی : ۲۷۹۳، ابن ماجه : ۶۶۱]

ترجمه : دابو سعيد خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائيلى دی سړے به دبل سړی سترته (يعنى عورت ته دكوم ځائے چه پټول فرض دی) نه ګوری او نه به ښځه دبلے ښځے ستر يعنى عورت ته ګوری او سړے به دبل سړی سره په يو ه كپړه كښ نه اوده كيږی او نه به ښځه دبلے ښځے سره په يو څادر كښ څملی .

فائده : يعنى په دے شان سره چه دواړه لغړوی او ددواړو په بدن كښ څه كپړه حائله نه وی يا څه څيز مائل نه وی نووی ويلے دی دغه څان دا حكم دے چه سړی له دښځے او ښځے لره دسړی ستر ته كتل حرام دی په اجماع سره ددے نه خاوند او دوينځے مالك مستثنى دے خاوند لره دخپلے بيبى او بى بى لره دخپل خاوند تمام ستر ته كتل درست دی سيو ادشرمګاه نه په دے كښ درے قولونه دی .

يودا چه هريودبل شر مګاه ته كتل بغير دضرورت نه مكروهه دی دغه شان دښځے شر مګاه ته دننه كتل هم مكروهه دی او دوينځے مالك كه چرے دهغے سره وطى كوی نو هغه دواړه په مثل دجوړو او خاوند دی او كه چرے محرم دی لكه خور يا تروريا خاله يعنى دمور خور وغيره نو هغه دآزادے ښځے په مثل دی .

او كه چرے وينځه مجوسى ده يا مرتده يابت پرسته يا معتده يا مكاتبه نو هغه په مثل دغير وينځے ده اوس سړی لره خپلو محرم ښځو ته كتل نامه نه په پورته دزنګو نانو نه لاندے سدن نه درست دی او بعضو ويلے دی دومره بدن ته كتل درست دی څومره چه په كاروبار كولو كښ ښكاره كيږی اوس دسړی ستر دسړی نه او دښځے نه دنامه نه لاندے دزنګو نانو پورے دے او په زنګونانو او نوم كښ درے قول نه دی يو دا چه هغه ستر نه دے دغه صحيح دے دويمه دا چه نوم او زنګونان په ستر كښ داخل دی دريمه دا چه نوم ستر دے او زنګونان ستر نه دے .

دابو حنيفه په نزد نوم ستر نه دے او زنګونان په ستر كښ داخل دی او سړی لره غير ښځے ته كتل او ښځے لره غيرسړی ته كتل بالكل حرام دی خواه كه دغه نظر دشهوت سره وی يا بغير

دشهوت نه وی او دبعضو په نزد ازادے ښځے لره دپردی سړی مخ ته کتل بغیر دشهوت نه درست دی مګر داقول ضعیف دے او که چرے ښځه اجنبی وی نو څه فرق نه راځی او په وینځه کښې هم او دامو حنیفه په نزد: غیره وینځه په شان دمحرم ښځے ده دغه شان حرام دی سړی لره دښکلے او د بے ږیرے سړی مخ ته کتل خواه که دغه نظرد شهوت وی یا بغیرد شهوت نه وی خواه دفتنے یره وی یا نه وی صحیح او مختار مذهب دغه دے مګر داخومره حرمت چه دنظر پورته بیان شو په هغه صورت کښې دے هر کله چه څه حاجت اوضرورت نه وی ګنی دحاجت او ضرورت په وخت نظر کول درست دی لکه دخرڅولو اخستلو او دعلاج او دګواهئ په وخت باندے په شهوت سره هغه وخت هم حرم دے زمونږ اصحابو ونیلے دی چه په شهوت سره نظر کول خو په هر سړی باندے حرام دی سیوا د خپلے بی بی یا د وینځی نه تردے پورے که چرے څوك خپلے لور یا مورته هم په شهوت سره او ګوری نو حرام دی .

لوداچه نے کوم سړی له دسړی سره او ښځے لره دښځے سره ښه یو کپړه کښې سملا ستو ممانعت کړے دے دا ممانعت تحریمی دے ددے نه دا هم وتلے دی چه دبل په ستر باندے لاس لګول هم درست نه دی او خلق په حمام کښې اکثر په داسے خرابو کښې پریوځی حالانکه ددغه خبرو نه بچ کیدل پکار دی او څوك چه داسے کوی هغه لره منع کول پکار دی اګر که دمنلو امید نه وی او په تنهایئ کښې بنده بربنډکیدے شی خو بلاضرورته مکروه بلکه حرام دی (نوویؒ)

(۷۶۹) عن الضحاک بن عثمان بهذا الاسناد وقالا : مکان عورة عریة الرجل وعریة المرأة : [راجع : ۷۶۸]

ترجمه : مذکوره بالا حدیث په دے سند سره هم مروی دے .

باب جواز الاغتسال عریانا فی الخلوة:

باب: په تنهایئ کښې لغړلامبل درست دی .

(۷۷۰) عن همام ابن منبه قال هذا ما حدثنا ابوهریرة عن محمد الرسول صلی الله علیه واله وسلم فذکر احادیث منها وقال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم کانت بنو اسرائیل یغتسلون عراة ینظر بعضهم

الى سوء ة بعض وَكان مُوسى يغتسل وحدهٗ فقالوا والله مايمنع مُوسىٰ ان يُغتسل معنا الا انّهٗ ادرقال فذهب مرّة يغتسل فوضع ثوبه على حجر ففرّ الحجر بثوبه قال فجمح مُوسى عليه السّلام باثره يقول ثوبى حجر ثوبى حجر حتّى نظرت بنواسرائيل الى سوء ة مُوسى عليه الاسلامْ وقالوا والله مابمُوسىٰ من باس فقام الحجر حتّى نُظر اليه قال فاذن ثوبهٗ فطفق بالحجر ضربًا قال ابوهريرة والله انّهٗ باالحجر ندبٌ ستّة اوسبعة ضربُ مُوسى بالحجر . [بخاری : ۲۷۸ ، وانظر فی مسلم : ٦١٤٦]

ترجمه : د همام بن منبه نه روایت دے دا هغه حدیثو نه دی چه ابو هریرهٔ مونږ ته بیان کړل چه دمحمد رسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه ئے او ریدلے وو بیا بیان کړل هغوی څو حدیثونو لره په هغے کښې یو داهم وو چه فرمائیلے دی رسول الله صلے الله علیه واله وسلم چه دبنی اسرائیلو خلقو به لغړلمبل کول دیو بل سترته به ئے کتل او حضرت موسی علیه السلام به په یوائے ځائے کښې لامبل کول خلقو اووے موسی علیه السلام زمونږ سره ځکه یو ځائے نه لامبی هغه ته دتو فتق بیماری ده (یعنی دَ ذکر دَ غتیدو)یو ځل موسی علیه السلام لامبلو ته لاړو لو جامے ئے اووستے په کته ئے کیښو دے هغے گټے په خپله دخدائے په حکم سره)دهغه کپړے واخستے او او تختیده موسی علیه السلام په هغے پسے منډے وهلے او ویل به ئے اے گټے زما کپړے راکړه اے گټے زما کپړے راکړه تردے پورے چه بنی اسرائیلو دهغه ستر اولیدو اووئے ویل په خدائے قسم چه په ده کښې خو څه بیماری نشته دے په هغه وخت هغه گټه او دریده او هغوی ته بنه اولیدلے شو بیا هغوی خپلے کپړے او چتے کړے او د(غصے نه ئے)گټه ویشتل شروع کړل ابو هریرهٔ ونیلے دی قسم په خدائے په گټه باندے دموسی دویشتو لو نشانات دی دشپږ و یااوه وګذارونو .

فائده : زمونږ د زمانے بعضے احمق خلق دادسے خبرونه انکار کوی او دگټے خودبه تلل دعقل نه خلاف گنړی حالانکه داد عقل نه دی زمکه او سپوږمئ او نمراوستوری چه دگټے په شان بے جان دی شپه اوورځ حرکت کوی بیا دیوے گټے تلل څه مشکل دی نووئ ونیلے دی مونږ بیان کړے دی چه دضرورت په وخت ستر کهولا وه ول درست دی په تنها ئی کښې دغسل په وخت ناد منیازو کولو په وخت یاد بی بی سره محبت کولو په وخت اودخلقو په مخکښې ستربنکاره

کول هیڅ کله درست نه دی لیکن علماوو نیلی دی چه په تنهایئ کښې هم دلا مبلو په وخت تهه بند اچول مستحب دی او په بر بنډه لامبل هم درست دی.

ددے حدیث په راوړو سره هم دغه غرض دے چه موسی به په خلوت کښې بربنډ لامبل او واحدیث به دهغه خلقو په مذهب باندے دلیل وی چه هغه وائی چه دوړمبو خلقو شریعت زمونږ دپاره هم کافی دے دعمل کولو دپاره په شرط ددے چه دهغے مما نعت نه وی اوبنی اسرائیلو چاچه به دیوبل په مخکښې بربنډلامبل کولونو کیدے شی چه دا دهغوی په شریعت کښې جائز وو یا حرام وو لیکن هغوی هغے لره کول لکه چه زمونږ شرع ولا هم ډیر حرام کارونه کوی. (انتهی)

﴿بَابُ الْاِعْتِنَآءِ بِحِفْظِ الْعَوْرَةِ.﴾

باب: په ستر پرده کولو کښې احتیاط کول.

(۱ ــ) عن جابر بن عبد الله يقول لما بنيت الكعبة ذهب النبي صلى الله عليه واله وسلم وعباس ينقلان حجارة فقال العباس للنبي صلى الله عليه واله وسلم اجعل ازارك على عاتقك من الحجارة ففعل فخر الى الارض وطمحت عيناه الى السماء ثم قام فقال ازاري ازاري فشد عليه ازاره قال ابن رافع في روايته على رقبتك ولم يقل على عاتقك بخاری: ۱۵۸۲، ۳۸۲۹]

ترجمه: دجابر بن عبد الله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه هر کله کعبه جوړه کړے شوه نو رسول الله صلے الله علیه واله وسلم او حضرت عباس رضی اله عنه گټے او چتولے عباس نبی علیه السلام ته اووے ته خل ته بند او حت کړه په اوګه باندے نے وا چوه دګټو او چتو لو دپاره هغه دغه سن او کړل هغه وخت په زمکه او غوړ خیدو او دهغه سترګے په آسمان سره او لګیدے بیا او دریدو او اواوے فرمایل زما ازاد زما ازاد هغوی دهغه أزاد او تړلو دابن رافع په روایت کښې داوګے په ځائے دغټ ذکر دے

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دوړوکوالی نه محفوظ وو دبدو عادتونو او خصلتونو نه کوم چه په جاهلیت کښې جاری وو او

دپیغمبرانو دعصمت بیان شوے دے په کتاب الایمان کښ او په یو روایت کښ دی چه فرښته داسمانه راکوزه شوه او هغه فرښے هغه ته أزاد او تړلو. (نووی)

(۷۷۳)عن جابر بن عبد الله یحدث ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم کان ینقل معهم الحجارة للكعبة وعلیه ازاره فقال له العباس عمه ابن اخی لوحللت ازارک فجعلته علی منکبک دون الحجارة قال فحله فجعله علی منکبه فسقط مغشیا علیه قال فمارای بعد ذلک الیوم عریانا.[بخاری : ۳۶۴]

ترجمه : د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د خلقو سره ګټې راوړلې د کعبې شریفې د جوړولو دپاره او حضور ﷺ ته بند تړلے وو حضرت عباسؓ اوفرمائیل (چه د حضور ﷺ تره وو) اے ځما وراره خپل ازار لره اوباسه او په اوګه باندے ئے واچوه نو دا به ښۀ وی حضور ﷺ ازار اوسِتلو او په اوګو باندے ئے واچولو بیا په حضور ﷺ باندے بے هوشی راغله او پریوتلو بیا ددے نه پس حضور ﷺ بغیر د ازار نه نۀ دے لیدے شوے.

(۷۷۴)عن المسور بن مخرمة قال اقبلت بحجر احمله ثقیل وعلی ازار خفیف قال فانحل ازاری ومعی الحجر لم استطع ان اضعه حتی بلغت به الی موضعه فقال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارجع الی ثوبک فخذه ولا تمشوا عراة.[ابوداود : ۴۰۱۶]

ترجمه : دمسور بن مخرمه رضی الله عنه نه روایت دے چه ما یوه درنه ګټه را اخستے وه او را روان ووم او نرے ازار مے اغوستے وو هغه کهولا ؤشولو او ما ګټه په زمکه باندے نۀ شوه ایخودے تردے پورے چه هغه ځائے له مے یوړله رسول الله صلی الله علیه واله وسلم او فرمایل لاړشه او خپله کپړه پورته کړه او بربنډ تلل مۀ کوه.

﴿بَابُ التَّسَتُّرِ عِنْدَ الْبَوْلِ﴾

باب: د متیازو کولو په وخت ستر لره پټول

(۷۷۵)عن عبد الله ابن جعفر قال اردفنی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ذات یوم خلفه فاسر الی حدیثا لا احدث به احدا من الناس کان احب مااستتر به رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لحاجته هدف او حائش نخل قال ابن اسماء فی حدیثه یعنی حائط نخل.[ابوداود : ۲۵۴۹، ابن ماجه : ۳۴۰]

ترجمه: دعبدالله بن جعفر رضی اله عنه نه روایت دے چه زه یو ځل رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دخان سره په خپله سورلی باندے کینولم شاته بیانے زما په غوږ کښں یو د خبره اوکړه هغه خبره چاته نه بیا نووم او هغه ته دحاجت په وخت دخټ یاد کجوریے د اونو پرده غوره وه (ددے دپاره چه ستر یعنی عورت لره ښوك او نه وینی)

﴿باب بیان انّ الجماع کان فِی اوّل الاسلام لَایُوجِبُ الغُسلِ الّا انْ یُنزل المنیٰ وبیان نسخه وانّ الغُسل یجبُ بالجماع.﴾

باب: په اول داسلام کښی په جماع سره غسل نه واجبیدو دکومے پورے چه به منی نه وه وتلے لیکن هغه حکم منسوخ شو اوپه جماع سره غسل واجبیږی.

(۷۷۵) عن ابی سعید الخدریّ قال خرجتُ مع رسُولِ اللهِ صلّے اللهُ علیه واله وسلّم یوم الاثنین الی قبآء حتّی اذا کنا فی بنی سالم وقف رسُولُ اللهِ صلّے اللهُ علیه واله وسلّم علی باب عتبان فصرخ به فخرج یجرّ ازارهٗ فقال رسُولُ اللهِ صلّے اللهُ علیه واله وسلّم اعجلنا الرّجل فقال عتبانُ یارسُولَ اللهِ ارایت الرّجل یُعجل عن امرأته ولم یمن ماذاعلیه فقال رسُولُ اللهِ صلّے اللهُ علیه واله وسلّم انّماالمآءُ من المآء.

ترجمه: دابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه زه دګل په ورځ درسول الله صلے الله علیه واله وسلم سره اووتم دمسجد قباپه طرف څه وخت چه مونږ دابی سالم محلے نه اورسیدو نو رسول الله صلے الله ولیه واله وسلم دعتبان بن مالك په دروازه کښں او دریدو او اوازئے او کړو هغه دخپل ازاد درابنکودلو سره سره بهر راووتو رسول الله صلے الله علیه واله وسلم او فرمایل مونږ د دۀ لره په جلتئ کښں او ګوزځوؤعتبان اووے یارسول الله که یو سرے په جلتئ دخپلے ښځے نه جدا شی او منی نه وی وتلے دهغے څه حکم دے (یعنی غسل به کوی یا نه) هغه او فرمایل او بۀ یعنی لامبل په او بو (یعنی منیٔ وتلو سره) واجبیږی.

فائده: نووی وئیلے دی اوس دامت اجماع دہ په دے باندے چه په جماع سره غسل واجبیږی اګر که انزال نه وی شوے دغه شان په انزال سره غسل واجبیږی او دصحابه ؓ دیو جماعت داقول وو چه غسل بغیر دانزال نه نه واجبیږی په واجبیدو باندے او س داحدیث انماالماءُ

من الماء منسوخ دے یعنی په اول اسلام کښې داسے حکم وو چه که چرے جماع کوی او انزال نه وی شوے نو غسل نه واجبیږی لیکن وروستو غسل واجب کړلے شو او د حضرت ابن عباسؓ په نزد داحدیث منسوخ نه دے بلکه مراد دده نه داحتلام حالت دے یعنی که چرے څوك په خوب کښې کوم جماع او کړی لیکن لوند والے اونه وینی نو په هغه باندے غسل واجب نۀ دے

(۷۲۶)عن ابی سعید الخدری عن النبی صلے الله علیه واله وسلم انه قال انما الماء من الماء [ابوداود ۲۱۷]

ترجمه: دابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی اوبه دابو نه واجبیږی

(۷۲۷)عن ابی العلاء بن الشخیر قال کان رسول الله صلے الله علیه واله وسلم ینسخ القران بعضه بعضا

ترجمه: ابو العلاء بن شخیر وئیلی دی درسول الله صلے الله علیه واله وسلم یو حدیث لره دویم حدیث منسوخ کوی لکه چه دقران یو ایت په دویم ایت سره منسوخ کیږی۔

فائده: نووی وئیلی دی دامام مسلم غرض ددے حدیث دراوړلو نه دادے چه انما الماء من الماء حدیث منسوخ دے په نورو حدیثو سره او دحدیث نسخ په حدیث سره جائز دے او د هغے څلور صورتو نه دی یو دحدیث متواتر نسخ په حدیث متواتر سره دویم دخبرے واحد نسخ په خبرواحد سره دریم دخبرواحد نسخ په متواتر سره دا درے صورتونه خوبالاتفاق جائز دی څلورم د خبرمتواتر نسخ په خبر واحد سره په دے کښې اختلاف دے دجمهورو په نزد جائز نه دے او دبعضے ظاهریه وو په نزد جائز دے۔

(۷۲۸)عن ابی سعید الخدری ان رسول الله صلے الله علیه واله وسلم مرعلی رجل من الانصار فارسل الیه فخرج وراسه یقطر فقال لعلنا اعجلناک قال نعم یارسول الله قال اذا اعجلت او اقحطت فلاغسل علیک وعلیک الوضوء وقال ابن بشار اذا اعجلت او اقحطت [بخاری: ۲۹۳]

ترجمه: دابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم دیو انصاری مکان باندے تیریدو هغه ئے را او غوښتو هغه رااووتو او د هغه سرنه اوبه څڅیدلے هغه او فرمایل زمونږ په وجه سره تا جلتی او کړه هغه اووے ها! یا رسول الله هغه او فرمایل کله چه تۀ

حلتی او کړے (بغیر دانزال نه پاسے او دریږے) یاته امساك او کړے او منی او نه وځی نو پتا باندے غسل واجب نه دے صرف او دس به کوے.

(۷۷۹)عن ابی بن کعب قال سالت رسول الله صلے الله علیه واله وسلم عن الرجل یصیب المرءة ثم یکسل فقال یغسل اصابه من المرءة ثم یتوضا ویصلی. [بخاری : ۲۹۳]

ترجمه : دابی بن کعب نه روایت دے چه ما د رسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه تپوس اوکړو که چرے یو سړے دخپلے ښځے سره جماع کوی بیا دانزال نه مخکښ پاځی او دریږی هغه او فرمایل وینځی به هغے لره کوم چه لګیدلے وی د ښځے سره (یعنی د ذکر رطوبت او دس به او کړی لمونځ به او کړی.

(۷۸۰)عن ابیّ بن کعب عن رسول الله صلے الله علیه واله وسلم انه قال فی الرجل یاتی اهله ثم لاینزل قال یغسل ذکره ویتوضأ. [راجع : ۷۷۹]

ترجمه : دابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمانیلے دی که چرے یو سړے دخپلے بی بی سره جماع او کړی او د هغه انزال او نه شی نو هغه به خپل ذکر وینځی او اودس به او کړی.

(۷۸۱)عن زید ابن خالد الجهنی انه سال عثمان بن عفان قال قلت ارایت اذاجامع الرجل امراته ولم یمن قال عثمان یتوضا کمایتوضا للصلوة ویغسل ذکره قال عثمان سمعته من رسول الله صلے الله علیه واله وسلم. [بخاری ۱۷۹، ۲۹۲]

ترجمه : زید بن خالد جهنی رضی الله عنه د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه نه تپوس او کړو چه یو سړے دخپلے بی بی سره محبت او کړی او منی او نه اوځی؟ حضرت عثمان رضی الله عنه اووے چه هغه دے اودس او کړی لکه چه د مانځه دپاره او دس کوی او ذکر لره به وینځی حضرت عثمان رضی الله عنه اووے دا ماد رسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه اوریدلے دی.

(۷۸۲)عن ابی ایوب اخبره انه سمع ذلک من رسول الله صلے الله علیه واله وسلم. [راجع : ۷۷۹]

ترجمه : دابو ایوب رضی الله عنه نه روایت دے چه هغه داخبره د رسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه اوریدلے ده

○ باب نسخ الماء من الماء ووجوب الغسل بالتقاء الختانين :

باب : (صرف په منی باندې غسل واجب دی) ددې د نسخ او د دوو ختنو په یوځائې کېدو باندې د غسل د واجب کېدو بیان :

(۷۸۳) عن ابی هریرة ان نبی الله صلی الله علیه واله وسلم قال اذا جلس بین شعبها الاربع ثم جهدها فقد وجب علیه الغسل وفی حدیث مطر وان لم ینزل قال زهیر من بین اشعبها الاربع. [بخاری ۲۹۱، ابوداود: ۲۱۶، نسائی ۱۹۱، ابن ماجه ۶۱۰]

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی هر کله چه سړے دښځې په څلورو ګوټونو کښې کینی (دڅلورو ګوټونو نه لاس او خپې او دواړه ورنونه یا د شرمګاه څلور واړه کونے) بیا اولګی دهغې سره (یعنی دخول او کړی) نو غسل واجب شولو په سړی باندے او دمطرپه روایت کښې دومره زیات دے اګر چه انزال نه وی ۔

فائده : نووی ونیلے دی مطلب دحدیث دادے چه دغسل وجوب دمنی په وتلو باندے نه دے بلکه هر کله چه حشفه(دذکر سر)فرج ته دننه لاړشی نو په سړی او ښځه دواړو باندے غسل واجب شی او په دے کښې ترنن ورځې بالکل اختلاف نشته دے مخکښې البته دځو صحابهٔ وپه دے کښې اختلاف وو لیکن ورستو اجماع او شوله زمونږ اصحاب وائی چه که چرے حشفه دښځې په دبر کښې ــ د سړی په دبر کښې پته شی یا دځه څناور په فرج کښې بیا هم غسل واجبیږی اګر که هغه ښځه یا سړے یا څناور مړوی یاوړو کے وی په هیره سره یا قصدا په زبردستی سره وی یا په اختیار سره وی دغه شان که چرے او ده شوے وی اوښځه دهغه ذکر په خپل فرج کښې دننه کړی خواه ذکر ته انتشار وی یا نه وی غسل واجبیږی خواه که سنت (ختنه)شوے وی یا نه وی په دے ټولو صورتونو کښې په فاعل او مفعول دواړو باندے غسل واجب دے مګر کله چه څوك ددوی نه نابلغه وی نو په هغه باندے واجب نه دے لیکن هغه جنب شولو او که چرے هغه تمیز دار وی نو دهغه په ولی باندے لازم دی چه حکم او کړی هغه ته دغسل دکولو لکه چه حکم کوی داودس دکولو که چرے هغه بغیر دغسل نه مونځ او کړی نو دهغه مونځ به صحیح نه وی او ددخول

دپاره صرف دحشفے پټیدل کافي دي دتمام ذکر پټیدل ضروري نه دي او خوك چه دذکر نه کپړه وغیره چاپیره کړي او دننه ئے کړونو په دے کښې درے قولو نه دي صحیح دادے چه غسل واجب دے په دواړو باندے انتهى مختصرا:

(۷۸۴) عن قتادة بهذا الاسناد مثله غير انه في حديث شعبة . " ثم اجتهد " ولم يقل : وان لم ينزل " اراجع : ۷۸۳]

مذکوره بالا حدیث په دے سند سره هم مروي دے.

(۷۸۵) عن ابي موسى قال اختلف في ذلك رهط من المهاجرين والانصار فقال الانصاريون لايجب الغسل الامن الدفق او من الماء وقال المهاجرون بل اذا خالط فقد وجب الغسل قال فقال ابوموسى فانا اشفيكم من ذلك فقمت فاستاذنت على عائشة فاذن لي فقلت لها ياأماه اوياام المؤمنين اني اريد ان اسئلك عن شئ واني استحييك فقالت لاتستحي ان تسالني عما كنت سائلا عنه امك التي ولدتك فانما انا امك قلت فمايوجب الغسل قالت على الخبير سقطت قال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم اذاجلس بين شعبها الاربع ومس الختان الختان فقد وجب الغسل

ترجمه : دابو موسى رضي الله تعالى عنه نه روایت دے چه اختلاف کړے دے په دے مسئله کښې دمهاجرینو او انصارو یو جماعت انصارو اووے چه غسل هله واجبیږي چه مني په توپ سره اوځي او انزال اوشي او مهاجرینو وئیلے دي هر کله چه سړے دښځے سره صحبت او کړي نو غسل واجب دے ابو موسى وائي او دریږي زه ستاسو تسلي کوم زه پاسیدم او دحضرت عائشے کورته لاړم او دهغے نه مے جازت او غوښتو هغوي اجازت راکړو ما اووے اے مور اے دمسلمانانو مور زه ستا نه څه تپوس کول غواړم لیکن ماله شرم راځي حضرت عائشے رضي الله عنها اووے مه شرمیږه نه دهغے خبرے په تپوس کولو کښې کوم چه ته دخپلے مور نه کوے چه دهغے دګیدے نه ته پیدا شوے یے زه خو هم ستا مور یم (ولے چه دحضرت بیبانے دمؤمنانو میندے دي) ما اووے غسل دڅه نه واجبیږي هغوي اووے تا دښه واقف کار نه تپوس او کړو رسول الله صلى الله علیه واله وسلم فرمایلي دي چه هر کله چه سړے دښځے په څلورو کونو کښې کینني او ختنه دختنے سره میلاؤ شي (یعنی ذکر په فرج کښې داخل شي) نو غسل واجب شولو

فائده : یعنی غسل واجبیږی خواه که انزال شوےوی یا نه وی نووی وائی چه ختنه دختنے سره میلاو بدل ددے نه مراد دخول دے گنی دښځے ختنه پورته وی په جماع کښې هغه نه لګی او احمع کړےدے علماؤ په دے باندے چه که چرے ذکر صرف دفرج سره او لګوی او دننه نے نه کړی نو غسل واجب نه دے

(۷۸۶)عن عائشة زوج النبی صلے اللہ علیه واله وسلم قالت ان رجلا سئل رسول الله صلے الله علیه واله وسلم عن الرجل یجامع اهله ثم یکسل هل علیهما الغسل وعائشة جالسة فقال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم انی لافعل ذلک انا وهذه ثم نغتسل

ترجمه : دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه یو سړی درسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه تپوس او کړو چه که چرے یو سړے دخپلے ښځے سره جماع کوی یا دانزال نه وړاندے ذکر لرے را او باسی نو څه په دواړو باندے غسل واجب دے "رسول الله صلے الله علیه واله وسلم او فرمایل زه او دا (حضرت عائشے رضی الله عنها ته نے اووے) داسے کوؤ او بیا غسل کوؤ

فائده : نووی وئیلی دی دغه شان خبرے سړے دخپلے بی بی سره کولے شی که چرے په هغے کښې څه مصلحت وی او څه تکلیف نه وی هغه دا ددے دپاره او فرمایل چه ددغه سړی تسلی اوشی

باب الوضوء مما مست النار.

باب: کومه غله چه په اور پخه شی دهغے په خوړلو سره او دس ماتیږی.

فائده : نووی وئیلی دی امام مسلم په دے باب کښې هغه حدیثونه بیان کړے دی چه په هغے سره د اودس الازمیدل داوردپخ کړی خیز په خوړلو سره ثابتیږی بیائے هغه حدیثو نه بیان کړل چه داوردپخ کړی په خوړلو سره اودس نه لازمیدل نے نه ثابتیږی اوددے نه داغرض دے چه وړمبی حدیثو نه منسوخ دی او دجمهور سلف او خلف او صحابهٔ و او تابعینو دغه قول دے چه داوړ پخ کړی شوے غلے خوړلو سره او دس نه ماتیږی او دامذهب دے دځلورو امامانو او

داسحق او یحیی او ابو ثور او دابو خیثمه او یو جماعت په دے طرف تلے دے چه اودس ماتیږی او دغه منقول دے دعمر بن عبدالعزیز او حسن بصری او زهری او ابو قلابه او ابو مجلز نه (نووی مختصراً)

(۷۱۷) عن زید بن ثابت قال سمعت رسول الله صلے الله علیه واله وسلم یقول الوضوء مما مست النار

اسنائی ۹ – ۱۰

ترجمه: دزید بن ثابت رضی الله عنه نه روایت دے چه ما د رسول الله صلے الله علیه واله وسلم نه اوریدلی دی چه فرمائیلے یے وو اودس لازمیږی په هغه خوراك سره چه هغه په اور سره پوخ شوے وی

(۷۸۹) قال ابن شهاب اخبرنی عمر ابن عبدالعزیز ان عبدالله ابن ابراهیم ابن قارظ اخبرهٔ انهٔ وجد اباهریرة یتوضا علی المسجد فقال انما اتوضا من اثوار اقط اکلتها لانی سمعت رسول الله صلے الله علیه واله وسلم توضؤا مما مست النار

ترجمه: ابن شهاب دعمر بن عبدالعزیزؒ نه هغوی دعبدالله بن ابراهیمؒ نه او ریدلی دی هغوی ابو هریره لره په جماعت کښ په اودس کولو او لیدو هغوی اووے ما د پنیر ټکړے خوړلے دی ځکه اودس کوم ما د رسول الله صلے الله علیه واله وسم نه اوریدلی دی چه فرمائیلے یے وو اودس کوی د هغه خوراك نه پس چه هغه په اور باندے پوخ شوے وی۔

(۷۹۰) قال ابن شهاب اخبرنی سعید بن خالد بن عمرو بن عثمان وانا احدثهٔ هذا الحدیث انهٔ سال عروة بن الزبیر عن الوضوء مما مست النار فقال عروة سمعت عائشة زوج النبی صلے الله علیه واله وسلم تقول قال رسول الله صلے الله علیه واله وسلم توضؤا مما مست النار۔

ترجمه: ابن شهاب د سعید بن خالد نه او ریدلی دی او هغه هغوی ته دا حدیث بیان کړے وو سعید وئیل دی ما د عروه بن زبیر نه تپوس او کړو د اودس په اوړه پوخ شوی خوراك سره هغوی ووے ما د حضرت عائشے نه اوریدلی دی چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی او دس کوی د هغه خوراك نه (پس) چه هغه په اور سره پوخ شوے وی۔

﴿باب نسخ الوضوء مما مست النار :﴾

باب : په اور سره د پوخ شوي شيز د خوراك نه بعد د اودس د نسخې بيان :

(۷۹۰) عن ابن عباس ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم اكل كتف شاة ثم صلى ولم يتوضأ [بخارى ۲۰۷، ابوداود ۱۸۷]

ترجمه : دابن عباس نه روايت دے رسول الله صلى الله عليه واله وسلم دبزې د دست غوښه او خوړه بيانے مونځ اوکړو او اودس نے او نه کړو

(۷۹۱) عن ابن عباس ان النبى صلى الله عليه واله وسلم اكل عرقااولحماثم صلى ولم يتوضأاولم يمس مآء [ابن ماجه : ۴۹۰]

ترجمه : دابن عباسؓ نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه واله وسلم په هډو كى باندے لګيدلے غوښه يا غوښه او خوړه بيانے مونځ او کړو او اودس نے او نه کړو يائے او به مسه نه کړلے۔

(۷۹۲) عن عمرو ابن امية الضمرى انه راى رسول الله صلى الله عليه واله وسلم يحتزمن كتف ياكل منهاثم صلى ولم يتوضأ [بخارى : ۲۰۸، ۶۷۵، ۲۹۲۳، ترمذى : ۱۸۳۶، ابن ماجه : ۴۹۰]

ترجمه : دعمرو بن اميه ضمرى نه روايت دے هغوى اوليدو رسول الله صلى الله عليه واله وسلم لره چه ديو دست غوښه نے په چاړه سره کټ کوله او خوړله نے بيانے مونځ او لو ستو او اودس نے او نه کړو

فائده : نووى وئيلے دى ددے حديث نه معلوميږى چه غوښه په چاړه سره کټ کول او خوړل درست دى چه کله ضرورت وى مثلا غوښه سخته وى يا لويه شان تکړه وى لوبے ضرورته مکروه دى

(۷۹۳) عن عمرو بن امية الضمرى قال رايت رسول الله صلى الله عليه واله وسلم يحتزمن كتف شاة فاكل منهافدعى الى الصلوة فقام وطرح السكين وصلى ولم يتوضأ [راجع : ۷۹۲]

ترجمه : دعمر بن ضمرى رضى الله عنه نه روايت دے ما رسول الله صلى الله عليه واله وسلم لره اوليدو چه د بزے د دست نے نه چاړه سره کټ کولو او خوړلو په دے کښ د مانځه دپاره او غوښتلے

شو هغه حرړه او غوړ خوله او مونځ نے اولو ستو او اودس نے او نه کړو.

(۷۹۴) عن ابن عباس عن رسول الله ﷺ بذالک [راجع: ۷۹۲]

په دے سند سره هم مذکوره بالا حدیث مروی دے

(۷۹۵) عن میمونة زوج النبی صلے الله علیه واله وسلم اکل عند ها کتفاثم صلی ولم یتوضا [بخاری: ۲۱۰]

ترجمه: د ام المؤمنین میمونے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم د هغے سره د دست غوښه او خوړه بیانے مونځ او لوستو او اودس نے او نه کړو.

(۷۹۶) عن میمونة زوج النبی صلّے الله علیه واله وسلّم بذالک: [راجع: ۷۹۲]

په دے سند سره هم مذکوره بالا حدیث مروی دے.

(۷۹۷) عن ابی رافع قال اشهد لکنت اشوی لرسول الله صلّے الله علیه واله وسلّم بطن الشاة ثم صلے ولم یتوضا

ترجمه: د ابو رافع نه روایت دے چه زه ګواه یم ما به په خپله باندے رسول الله ﷺ له د بکری د بطن (یعنی د ګیډے غوښه) وریتوله. (حضور ﷺ به د هغے نه خوړله) بیا به نے مونځ لوستلو او اودس به نے نه کولو.

(۷۹۸) عن ابن عباس ان النبی صلی الله علیه واله وسلّم شرب لبناثم دعا بماء فتمضمض وقال ان له دسما [بخاری: ۲۱۱، ۵۶۰۹، ابوداود: ۱۹۶، ترمذی: ۸۹، نسائی: ۱۸۷، ابن ماجه: ۴۹۸]

ترجمه: د ابن عباس نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم پی او څکل بیانے او به او غوښتے او غرغره ئے او کړه او فرمایل په پیو سره خله غوړ یږی

فائده: سو غرغره کول د هغے نه پس مستحب دی دغه شان د هر څیز د خوړلو څکلو نه پس د دے د پاره چه په خله کښې څه پاتے نه شی چه د هغے د وتیلے کیدو حاجت پریو ځی او خله صفا شی او اختلاف کړے دے علماو چه د خوراك نه مخکښې او د خوراك نه پس لاس وینځل مستحب دی یا نه دی او ظاهره داده چه مستحب دی د خوراك نه مخکښې مګر هر کله چه د لاسونو د صفائی یقین وی د خیرو میرو او نجاست نه وی مثلا خوراك خشك وی او امام مالك

وینـلے دی چـه خوراك پـه واسطه لاس وینځل مستحب نه دی مګر هر کله چه څه نجاست پرے لګـدلے وی نو وینځل ئے ضروری دی (نووی)

(۷۹۹) عن ابن شهاب باسناد عقیل عن الزهری مثله [راجع : ۷۹۸]

په دے سند سره هم مذکوره حدیث مروی دے.

(۸۰۰) عن ابن عباس انّ رسول الله صلّے الله علیه واله وسلم جمع علیه ثیابهٔ ثمّ خرج الی الصّلوة فاتی بهدیّة خبز ولحم فاکل ثلث لقم ثمّ صلّی بالنّاس وماسّ ماء.

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه واله وسلم کپړے واغوستے او دمانځه دپاره اووتو دغه وخت یو سړی هغه له تحفه راوړه دغوښے او ډوډئ هغه درے نمرئ ترے نه او خوړے او بیائے مونځ اولو ستو او په او بوئے لاس او نه لګوو.

(۸۰۱) عن محمد بن عمرو بن عطاء قال : کنت مع ابن عباس وساق الحدیث بمعنی حدیث ابن حلحلة وفیه ان ابن عباس شهد ذالک من النبی ﷺ وقال صلی ولم یقل بالناس.

دغه حدیث په دے سند سره هم مروی دے په لږشان تبدیلی سره.

﴿بَابُ الْوُضُوْءِ مِنْ لُحُوْمِ الْاِبِلِ.﴾

باب: داوښ دغوښے خوړلو سره داودس کولو بیان.

فائده : نووی وئیلے دی اکثر علماء ددے په طرف تلی دی چه داوښ په غوښه خوړلو سره اودس نه ماتیږی او داحمد بن حنبل او اسحق بن راهویه او یحیی او ابن منذر او ابن خزیمه او داهل حدیثو په نزد اودس ماتیږی.

(۸۰۲) عن جابر ابن سمرة ان رجلا سال رسول الله ﷺ اتوضّا من لحوم الغنم؟ قال ان شئت فتوضّا وان شئت فلا تتوضّا قال اتوضّا من لحوم الابل؟ قال نعم فتوضّا من لحوم الابل قال اصلّی فی مرابض الغنم؟ قال نعم قال اصلّی فی مبارک الابل؟ قال لا. [ابن ماجه ۴۹۵ مختصرا]

ترجمه: دجابر بن سمره رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړی تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ نه چه زه د غوښه اوخورم نو ولے زه به اودس کوم؟ هغه اوفرمایل که غواړے اوکړه او که نه

غوا ړے مه کوه ـ هغه تپوس اوکړو د اوبو غوبه چه او خورم اودس به کوم هغه اوفرمایل اودس کوه د اوبو یه غوښه خوړلو سره هغه اوونیل د بزو د تړلو په ځائے کښې به مونځ کوم؟ هغه اوفرمایل هاں هغه اوویے د اوښانو د تړلو په ځائے کښې مونځ کوم؟ هغه اوفرمایل نه

فائده: ولے چه اوښ زبردست او شریر وی داسے نه وی چه مونځ گزار ته څه تکلیف اورسوی او د بزو یه ځائے ددغے یره نشته نووی ونیلے دی دا ممانعت تنزیهی دے

(۱۰۳) عن جابر بن سمرة عن النبی ﷺ بمثل حدیث ابی کامل عن ابی عوانة [راجع ۱۰۲]

د حضرت جابر نه هم دغه حدیث په بل سند سره هم مروی دے.

باب الدلیل علی ان من تیقن الطهارة ثم شک فی الحدث فله ان تصلی بطهارته تلک.

باب: چاته چه د طهارت یقین دے بیا ئے په حدث کښې شک راشی نو هغه په دغه طهارت سره مونځ لوستلے شی.

(۱۰۴) عن سعید وعباد ابن تمیم عن عمه شکی الی النبی صلی الله علیه واله وسلم الرجل یخیل الیه انه یجد الشیء فی الصلوة قال لا ینصرف حتی یسمع صوتا او یجد ریحا قال ابوبکر وزهیر بن حرب فی روایتهما هو عبد الله ابن زید [بخاری: ۱۳۷، ۷۷۵، ۲۰۵۶، ابوداود: ۱۷۶، نسائی: ۱۶۰، ابن ماجه: ۵۱۳]

ترجمه: سعید او عباد بن تمیم د عباد د تره نه روایت کړے دے چه شکایت اوکړے شو رسول الله ﷺ ته چه کله سړی ته معلومه شی په مانځه کښې چه هغه ته یے اودسی راغله (یعنی گمان ئے راشی) هغه اوفرمایل هغه به مونځ نه ماتوی د کومے پورے چه آواز ئے اوریدلے او بوی یرے لگیدلے نه وی ابوبکر او زهیر په خپلو روایتونو کښې د عباد د تره نوم اخستے دے یعنی عبد الله بن زید

فائده: نووی ونیلے دی دا حدیث یوه لویه قاعده ده د اسلام په قواعدو کښې ددے نه دا وئیلے دی چه هر یو څیز چه د هغے د وجود یقینی وی هغه په شک سره رفع کیدے نه شی

لکه طهارت کوم چه یقینی وی د حدث په گمان سره ختمیدے نه شی زمونږ او د جمهور علماؤ د غه مذهب دے او د امام مالك نه په دے کښ دوه روایتونه دی یو خو دا چه اودس لازم دے که چرے شك د مانځه نه بهروی او که د مانځه دننه وی نو لازم نه دے او دویمه دا چه په دواړو صورتو کښ بیا اودس کول پکار دی (انتهی مختصرا)

(۸۰۵)عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اذا وجد احدکم فی بطنه فاشکل علیه اخرج منه شیی ام لافلایخرجن من المسجدحتی یسمع صوتااویجد ریحا.

ترجمه : د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی . هر کله چه ستاسو نه چاته په خپله گیډه کښ خلش معلوم شی . پس هغه ته شك شی چه د گیډے نه څه اووتل یا نه (یعنی باد خارج شو یا نه شو) پس نه دے اوځی د جماعت نه تر هغے پورے چه اوریدلے نے نه وی آواز یا پرے بوی لگیدلے نه وی . (یعنی یقین دے اودسی نے راغلے نه وی)

﴿بَابُ طَهَارَةِ جُلُوْدِالْمَيْتَةِ بِالدِّبَاغِ.﴾

باب:د مړ څناور څرمن په د باغت سره پاکیږی .

(۸۰۶)عن ابن عباس قال تصدق علی مولاة لمیمونة بشاة فماتت فمربهارسول الله صلی الله علیه واله وسلم هلااخذتم اهابهافدبغتموه فانتفعتم به فقالوا انهامیتة فقال انماحرم اکلها.[باری : ۱۴۹۲، ۲۲۲۱، ۵۵۳۱ ابو داود : ۴۱۲۰، ۴۱۲۱، نسائی : ۴۲۴۶، ۴۲۴۷]

ترجمه : د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه د میمونے د وینځے ته چا یوه بزه په صدقه کښ ورکړه هغه مړه شوه رسول الله ﷺ هغه پرته اولیده نو اونے فرمایل تاسو ددے نه څرمن ولے اونه ویستله پخه نے کړی دے لره پکار راځی خلقو اووے یا رسول الله هغه خو مرداره وه هغه اوفرمایل : مردارے خوړل حرام دی

فائده : نه د هغے د څرمنے نه فائده اخستل نووی وئیلی دی . په دے باب کښ د علماؤ اووه مذهبونه دی یو د شافعی هغه دادے چه په د باغت سره د هر مړ څناور څرمن پاکیږی . ددننه او بهرنه او په لوند او وچ هر یو څیز سره د هغے استعمال درست دے . سیوا د سپی او د سور نه

دویم داچه یو ء خرمن په دباغت سره نه پاکیږی ۔ د احمد او مالك نه د غه مروی دے ۔ دریم داچه د حلال خناور خرمن پاکیږی او د حرام خناور خرمن نه پاکیږی د اوزاعیؒ او ابن مبارکؒ او ابو ثور او اسحق دغه قول دے خلورم د ټولو مردارو خناورو خرمنے په دباغت سره پاکیږی سیوا د سور نه د ابو حنیفه دغه مذهب دے پنځم داچه تمامے خرمنے پاکیږی مگر صرف دبهرنه ۔ او د لوندو خیزونو استعمال په هغے کښ درست نه دے د مالكؒ مشهور مذهب دغه دے ۔ شپږم داچه تمامے خرمنے پاکیږی ترډے پورے چه د سپی او دسور هم د دننه او بهر نه ۔ او دا قول دے د داؤد ظاهریؒ او ابو یوسف ۔ اووم داچه د مردار خناور د خرمنے نه فائده اخستل درست دی ۔ اگر که د هغے دباغت نه وی شوے ۔ د زهری دغه قول دے ۔ (انتهی مختصراً)

(۸۰۷)عن ابن عباس ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم وجدشاة مَيتةً اُعطيتهامولاةٌ لميمونة من الصدقة فقال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم هلاانتفعتم بجلدهاقالوُاانّهاميتةً قال انماحرم اكلها ا

راجع : ۸۰۶ ا

ترجمه : د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه مرداره بزه اولیده چه هغه د میمونے وینځے ته په صدقه کښ میلاؤ شوے وه ۔ هغهٔ اوفرمایل تاسو ددے د خرمنے نه فائده ولے اوچته نه کړه ۔ خلقو اووے ۔ هغه مرداره ده ۔ حضرتؐ اوفرمایل د مردارے خوراك حرام دے (خرمن حرامه نه ده)

(۸۰۸) عن ابن شهاب بهذا الاسناد نحو رواية يونس : ا راجع ۸۰۶ ا

په دے سند سره هم دغه روایت مروی دے

(۸۰۹)عن ابن عباس ان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم مربشاة مَطرُوحة اُعطيتهامولاةٌ لميمونة من الصدقة فقال النبي صلى الله عليه واله وسلم الّا اخذوُااهابهافدبغوُهُ فانتفعوُابه.

ترجمه : د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه غورځیدلے شوے بزه اولیده چه د میمونےؓ وینځے ته په صدقه کښ میلاؤ شوے وه ۔ رسول الله ﷺ اوفرمایل دغه خلقو ددے خرمن نه فائده ولے وانه خسته ۔ د باغت به ئے ورله کړے وو او فائده به ئے ترے نه اوچته کړے وه

(۸۱۰)عن ابن عباس ان میمونة اخبرته ان داجنة کانت لبعض نساء رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فماتت فقال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم الا اخذتم اهابها فاستمتعتم به. [نسائی ۴۲۴۹]

ترجمه: د ابن عباس نه روایت دے چه میمونے رضی الله عنها هغه ته بیان کړے دے ، چه د رسول الله ﷺ یو بی بی په کور کښې یو څناور ساتلے وو هغه مړ شولو نو حضرت صلی الله علیه و له وسلم اوفرمایل تاسو ددے څرمن ولے وانه خسته . دابه مو پکار روا ستے وه .

(۸۱۱)عن ابن عباس ان النبی صلی الله علیه واله وسلم مر بشاة لمولاة لمیمونة فقال الا انتفعتم باهابها؟ : [ابوداود: ۴۱۲۰، نسائی: ۴۲۴۵، ابن ماجه: ۳۶۱۰]

ترجمه: د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د میمونے د وینزے بزے لره اولیده (هغه مړه پرته وه . هغه د هغه ځائے نه راووتو) نو اوئے فرمایل تاسو ددے د څرمنے نه فائده ولے اوچته نه کړه .

(۸۱۲)عن عبد الله ابن عباس قال سمعت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یقول اذا دبغ الاهاب فقد طهر

ترجمه: د عبد الله ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے . ما د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو . هر کله چه په څرمن باندے د باغت اوشولو نو هغه پاکه شوه

فائده : نووی وئیلی دی د باغت په هر یو څیز سره درست دے چه د څرمنے لوندوالی لره وچ کړی او د هغے بدبوئی لرے کړی په دے شان سره چه بیا څرمن د بدبوئی لانقه پاتے نه شی لکه د انار په پوستکو وغیره دوایانو سره او د نمر په اوچولو سره د باغت نه کیږی . او د حنفیانو په نزد کیږی او هر کله چه څرمن په دباغت سره پاکه شوه نو د هغے خرسول هم جائز دی . او د هغے په خوراك کښې درے قولونه دی صحیح دادے چه خوړل د هغے جائز نه دی .

(۸۱۳) عن ابن عباس عن النبی ﷺ بمثله یعنی حدیث یحیی بن یحیی . [ابوداود: ۴۱۲۳، ترمذی: ۱۷۲۸، نسائی ۴۲۵۲، ابن ماجه: ۳۶۰۹]

په دے سند سره هم مذکوره بالا حدیث مروی دے .

(۸۱۴) عن ابی الخیر قال رأیت علی ابن وعلة السباء ی فروا المسته فقال مالک تمسه فقد سألت عبد الله ابن عباس قلت اناتکون بالمغرب ومعنا البربر والمجوس نؤتی بالکبش قد ذبحوه ونحن لا ناکل ذبائحهم ویاتونا بالسقاء یجعلون فیه الودک فقال ابن عباس قدسألنا رسول الله صلے الله علیه واله وسلم عن ذلک فقال دباغه طهوره. [راجع : ۸۱۲]

ترجمه : د ابو الخیر نه روایت دے ما وعله لره یو پوستین اغوستے اولیدو . ما د هغه نه مخ واړه وو هغوی اووے ولے مخ اړوے (ولے ته د ېے نه نجس وائے ؟) ما عبد الله ته اووے . چه مونږ د مغرب په ملک کښې اوسیږو هلته د بربر کافر او آتش پرست (یعنی اور ته سجده کونکی) ډیر دی . هغه بزے راولی او ذبحه کوی مونږ خو د هغوی ذبحه کړے شوے ځناور نه خورو . او مشکو نه راوړی په هغے کښې چربی اچوی ابن عباسؓ ونیلے دی مونږ د رسول الله ﷺ نه د هغے تپوس اوکړو هغه اوفرمایل په دباغت سره پاکیږی . (یعنی په څرمن باندے چه هر کله د باغت اوشولو نو هغه پاکه ده اګر که کافرد هغے دباغت کړے وی)

(۸۱۵) عن ابن وعلة السباء ی قال سألت عبد الله ابن عباس قلت اناتکون بالمغرب فیاتینا المجوس بالاسقیة فیها الماء والودک فقال اشرب فقلت ارای تراه فقال ابن عباس سمعت رسول الله صلے الله علیه واله وسلم یقول دباغة طهوره. [راجع : ۸۱۲]

ترجمه : د ابن وعله سباء ی نه روایت دے ما د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه تپوس اوکړو مونږ د مغرب په ملک کښې اوسیږو هلته مجوسیان (آتش پرست)خلقو د اوبو مشکونه راالخستی وی راځی په هغے کښې چربی پرته وی هغوی اووے څښه دے لره . ما اووے داته په خپل رائے سره وائے ؟ هغوی اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی . چه فرمائیلے ئے وو . چه په دباغت سره څرمنه پاکیږی

❁بَابُ التَّيَمُّمِ.❁

باب: د تیمم بیان

فائده : تیمم ثابت دے په کتاب او اجماع امت سره او هغه فقط په مخ او په دواړو

لاسونو باندے مسحه کول دی خو اه که د یے او دسی نه وی یا د جنابت نه . او علماؤ اختلاف کړے دے د هغے په کیفیت کښې د اکثر علماؤ مذهب دادے چه په تیمم کښې دوه واره وهل ضرور دی یو ځل د مخ د پاره او یو ځل د دواړو لاسونو د پاره د څنګلو پورے . او دغه مروی دے د علیؓ بن ابی طالب نه او عبد الله ابن عمرؓ او د حسن بصریؒ او شعبیؒ او سالمؒ او سفیان ثوریؒ او مالکؒ او ابو حنیفه او خاوندانو د رائے نه.

او د عالمانو د یو جماعت دا قول دے . چه په تیمم کښې یو ځل وهل پوره دی . مسح به کړی په هغے سره مخ او په دواړو ورغوو باندے او دغه قول دے د عطاءؒ او مکحولؒ او اوزاعیؒ او احمدؒ او اسحاقؒ او ابن منذرؒ او اکثر و اهل حدیثو او د محققنو په نزد دغه صحیح او مختار دے

او د زهریؒ نه منقول دے چه دلاسونو مسحه د ترخونو پورے ضروری ده . او د ابن سیر ینؒ نه منقول دے چه درے واره وهل پکار دی . یو ځل د مخ دپاره . دویم ځل ددواړو ورغوو د پاره . او دریم د لاسونو د پاره او د حدث اصغر یعنی د اودس په بدله خو تیمم د تولو په نزد باندے درست دے دغه شان د حدث اکبر نه یعنی جنابت نه هم او په دے کښې چا خلاف نه دے کړے . د حضرت عمرؓ او عبد الله ابن مسعودؓ نه منقول دے چه تیمم د جنابت نه درست نه دے .

او په یو روایت کښې دی چه حضرت عمرؓ او عبد الله ابن مسعودؓ ددے قول نه رجوع کړے ده . او د احادیث صحیحه ؤ نه دا امر ثابت دے . چه تیمم د جنابت نه درست دے او هر کله چه جنب بنده په تیمم سره مونځ اوکړی ا بیا اوبه اومومی نو په هغه باندے غسل واجب دے . په اتفاق د علماؤ او مسافر نه په سفر کښې کوم ځائے چه اوبه نه وی . او د خپلے بی بی سره جماع کول درست دی او تیمم به کوی مونځ به لولی . خو شرمګاه لره به په اوبو سره پاک کړی . که چرے دومره هم اوبه نه وی او صرف په تیمم سره مونځ اولولی نو هم درست دے او که چرے د یے اودسه په څه اندام باندے پلیتی وی او هغه د هغے په بدله اودس کول غواړی نو درست نه دی . او د امام احمدؒ په نزد د جائز دی او د ثوری او اوزاعیؒ او ابو ثورؒ وئیلے دی چه په دغه ځائے باندے دے په خاوره سره مسحه اوکړی . او هر کله چه په تیمم سره مونځ اولولی . او بیا اوبه میلاؤ شی نو د

مانځه راګر ځول ضروري نه دي او د سافعي او احمد او ابن منذر او د داؤد ظاهري په نزد تيمم د پاره د پاکے خاورے کيدل چه هغے باندے غبار وي ضروري دي او د ابو حنيفه او مالك په نزد کوم څيز چه د زمکے د قسم نه دے په هغے باندے تيمم درست دے اګرکه ګرد پرے نه وي لکه صفا وينځلے شوے کته چونا وغيره او مالکي خلقو په لرګي باندے هم جائز کړے دے دغه شان په واوره باندے والله اعلم (انتهی مختصراً مع زيادة)

(۸۱۲)عن عائشة انها قالت خرجنا مع رسول الله صلى الله عليه واله وسلم في بعض اسفاره حتى اذا كنا بالبيداء او بذات الجيش انقطع عقد لي فاقام رسول الله صلى الله عليه واله وسلم على التماسه واقام الناس معه وليسوا على ماء وليس معهم ماء فاتى الناس الى ابي بكر فقالوا الا ترى الى ما صنعت عائشة اقامت برسول الله صلى الله عليه واله وسلم وبالناس معه وليسوا على ماء وليس معهم ماء فجاء ابوبكر ورسول الله صلى الله عليه واله وسلم واضع رأسه على فخذي قد نام فقال حبست رسول الله صلى الله عليه واله وسلم والناس وليسوا على ماء وليس معهم ماء قالت فعاتبني ابوبكر وقال ما شاء الله ان يقول وجعل يطعن بيده في خاصرتي فلا يمنعني من التحرك الا مكان رسول الله صلى الله عليه واله وسلم على فخذي فنام رسول الله صلى الله عليه واله وسلم حتى اصبح على غير ماء فانزل الله تعالى اية التيمم فتيمموا فقال اسيد بن حضير وهو احد النقباء ما هي باول بركتكم يا ال ابي بكر قالت عائشة فبعثنا البعير الذي كنت عليه فوجدنا العقد تحته. [بخاري : ۳۳۴، ۳۶۷۲، ۳۱۰۷، ۱۸۴۴، ۵۲۵۰، نسائي : ۳۰۹]

ترجمه : د ام المومنين عائشے رضی الله عنها نه روايت دے چه مونږ د رسول الله صلے الله عليه واله وسلم سره په سفر کښې اووتلو . هر کله چه بيداء يا ذات الجيش ته اورسيدو (بيداء او ذات الجيش دادواړه د مقام نومونه دي د خيبر او مدينے په مينځ کښې . نو زما د غاړے هار اوشليدو . او رسول الله ﷺ د هغے د تلاش د پاره اودريدو خلق هم اودريدل او هلته اوبه نه وے او نه د دغه خلقو سره اوبه وے خلق د ابوبکرؓ خواله راغلل او اوئے وئيل ته ګورے نۀ چه عائشے رضي الله عنها څه اوکړل؟ رسول الله ﷺ لره ئے حصار کړے دے . او نورو خلقو لره هم چه هلته اوبه نشته او نه د هغوی سره اوبه شته دے . ددے په اوريدو سره ابوبکرؓ راغے او رسول الله ﷺ خپل سر زما په ورون باندے ايخے اوده شوے وو . هغوی اووے تا حصار کړے دے رسول الله ﷺ

علیه و نه وسلم لره او خلقو لره نه دلته اوبه شته او نه د خلقو سره اوبه شته او هغوی غصه اوکړه او څه چه الله جل جلاله غوښته هغه ئے اووے . او زما د تشو لاندے توسے (یعنی توميونه) راکول شروع کړل . زهٔ ضرور خوزیدم مګر د حضرت سرزما په ورون باندے پروت وو د هغے وجے نه خو زیدے نه شوم بیا هغه اوده شولوتردے پورے چه سحر شولو او اوبه بالکل نه وے .

بیا الله تعالیٰ د تیمم دا آیت نازل کړلو . اسید بن حضیر ونیلے دی او هغه د نقیبانو نه وو . (هغه عقبه لره د شپے د انصارو په دولسو سرو باندے نقیب مقرر کړے وو یعنی دخپل قوم نګهبانان ددے دپاره چه هغوی ته د اسلام خبرے ایزده کړی او ددین احکام ورته اوښائی) اے د ابوبکر اولاده ! داخه ورمبے برکت نه دے ستاسو (یعنی ستاسو په وجه سره الله پاك همیشه مسلمانانو ته فائده ورکړے ده دا هم یو نعمت (یعنی تیمم) ستاسو په سبب سره میلاؤ شو)حضرت عائشه رضی الله عنهاوائی بیا مونږ هغه اوښ لره پاڅوؤ په کوم باندے چه زه سوره ووم هار د هغے لاندے نه راووتو .

(۸۱۰) عن عائشة انها استعارت من اسماء قلادة وهلكت فارسل رسول الله صلى الله عليه واله وسلم ناسا من اصحابه فى طلبها فادركتهم الصلوة فصلوا بغير وضوء فلما اتوا النبى صلى الله عليه واله وسلم شكوا ذلك اليه فنزلت اية التيمم فقال اسيد بن حضير جزاك الله خيرا فوالله مانزل بك امر قط الاجعل الله لك منه مخرجا وجعل للمسلمين فيه بركة.[بخاری: ۳۳۶،۳۷۷۳. ابن ماجه: ۵۶۸]

ترجمه : د مومنانو د مور حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے . هغوی د اسماء رضی الله عنها نه یو هار غوښتلے اخستے وو هغه لاره رسول الله صلی اللهُ علیه واله وسلم په خپلو اصحابو کښې څو کسانو لره د هغے د تلاش دپاره اولیږل هلته د مانځه وخت راغے (او به نه میلاویدے)نو هغوی بے اودسه مونځ اوکړو هرکله چه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خواله واپس راغلل نو شکایت ئے اوکړو . په دغه وخت د تیمم آیت نازل شولو . اسید بن حضیر حضرت عائشے ته اووے چه خدائے دے تاسو له ښه بدله درکړی . په خدائے قسم دے هر کله چه څه آفت په تاسو باندے راغلے دے الله پاك هغه لره تال کړے دے . او دمسلمانانو فائده ئے کړے ده

فائده : نووی وئیلی دی ددے حدیث نه دا وتلے دی چه کوم سړی ته اوبه او خاوره دواړه نه ملاویږی هغه دے دغه شان مونځ اولولی او په دے مسئله کښې د سلفو او خلفو اختلاف دے امام شوکانی په "نیل الاوطار" کښې وئیلے دی چه د احمد او شافعی او اکثر اهل حدیثو د اقول دے چه مونځ به لولی بیا د مانځه اعاده واجب ده یا نه ده نو په دے کښې اختلاف دے۔ د شافعی مشهور قول دا دے چه اعاده واجب ده۔

ترجمه: او د احمد او مزنی او سحنون او د ابن منذر قول دا دے۔ چه اعاده واجب نه ده او د مالك او ابو حنیفه په نزد دا سے سړے به مونځ اوکړی۔ لیکن قضاء د دغه مانځه واجب ده او د امام مالك په نزد واجب نه ده۔ د اتول خلور قولونه شول په دے مسئله کښې یو پنځم قول هم دے چه مونځ لوستل مستحب دی او اعاده واجب ده۔

(۸۱۹) عن شقیق قال کنت جالسا مع عبدالله وابی موسی فقال ابوموسی یا اباعبد الرحمن ارایت لوان رجلا اجنب فلم یجدالماء شهرا کیف یصنع بالصلوة فقال عبدالله لایتیمم وان لم یجد الماء شهرا فقال ابوموسی فکیف بهذه الایة فی سورة المائدة فلم تجدوا ماء فتیمموا صعیدا طیبا فقال عبدالله لورخص لهم فی هذه الایة لاوشک اذا برد علیهم الماء ان یتیمموا بالصعید فقال ابوموسی لعبد الله الم تسمع قول عمار بعثنی رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فی حاجة فاجنبت فلم اجدالماء فتمرغت فی الصعید کما تمرغ الدابة ثم اتیت النبی صلى الله عليه واله وسلم فذکرت ذلک له فقال انما کان یکفیک ان تقول بیدیک هکذا ثم ضرب بیدیه الارض ضربة واحدة ثم مسح الشمال علی الیمین وظاهر کفیه ووجهه فقال عبد الله اولم تری عمر لم یقنع بقول عمار (بخاری: ۳۴۵، ۳۴۶، ۳۴۷، ابوداود: ۳۲۱، نسائی: ۳۱۹)

ترجمه: د شقیق نه روایت دے چه زه د عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه او د ابو موسی رضی الله عنهما په خواکښې ناست ووم ابو موسی رضی الله عنهما اووے۔ اے ابو عبد الرحمن (دا کنیت دے د ابن مسعود) کچرے یو سړی ته جنابت شوے وی او هغه ته د یو میاشتے پورے اوبه میلاؤ نه شی نو هغه به د مانځه سره څه کوی؟ عبد الله اووے هغه به تیمم نه کوی اگر که د یو

ے مـاشـے بوزے اوبـه مـلاؤ نـه شي ابو موسی رضي الله عنه اووے بيا په سوره مانده كښې چه دا كوم است دے كـه جـرے اوبـه اونـه مومي نو پاكه خاوره سره تيمم كوئ عبد الله اووے كه چرے ددے است نـه دوئ تـه اجازت وركړے شي پـه جـنابت كښې د تيمم كولو نو هغه به زر زر د اوبو د يخيدو په صورت كښې هم په تيمم كولو كښې لګيا شي ابو موسیٰ اووے تاسو د عمار حديث نه دے اوريدلے چه رسول الله ﷺ زه يو كار د پاره اوليږلم هلته زه جنب شوم او اوبه نه مـلاويدے نو په خاوره كښې په داسے شان سملاسته لكه چه ځناور څنګه سملي . د هغے نه پس د رسول الله صلے الله عليه وآله وسلم خواله راغلم او هغه ته مے بيان اوكړو . هغه اوفرمايل چه تاله كافي وو پـه دے شان په دواړو لاسونو سره كول بيا هغه په دواړو لاسونو باندے يو ځل زمكه اووهله او ګس لاس نے پـه ښـي لاس بـانـدے اووهـلـو بيـانـے د منګلو (يعني ورغوو) په شا باندے او په مخ باندے مـسـحه اوكړه عبد اللهؓ اووے چه تاته پته ده چه حضرت عمرؓ د عمار په حديث باندے قناعت نه كوو

فائده : عـبـد اللهؓ چه كوم دا ووے چه هغه يعني جنبي به تيمم نه كوي . اګركه د يو ے مـاشـے بوزے اوبـه نه مـيلاويږی هغه ددے وجے نه اووے چه جنب لره د هغه په نزد تيمم درست نهٔ وو د حـضـرت عمرؓ دغه قول وو . ليكن نورو صحابهؓ كرامو او تابعينو د هغے خلاف كړے دے او بيـا د مـجتهـد ينو اجماع اوشوه چه تيمم د جنابت د پاره درست دے او پورته تير شوے دی . چه عـمرؓ او عبدالله دے قول ته رجوع كړے ده حـضرت عمرؓ د عمارؓ په حديث باندے قناعت نه دے كړے يعني صرف د عمار په روايت سره د هغه تسلي اونه شوه نهٔ دا چه حضرت عمرؓ عمار لره د روغجن اوګڼړو .

(۸۱۹) عـن شـقيـق قـال : قال موسى لعبد الله وساق الحديث بقصته نحو حديث ابى معاوية غير انهُ قال : فقال رسول الله ﷺ انما كان يكفيك ان تقول هكذا وضرب بيديه الى الارض فنفض يديه فمسح وجهه وكفيه . [راجع : ۸۱۸]

ترجمـه : شـقيـق وائـي چه ابو موسى اونيلے عبد الله ته او توله واقعه ئے بيان كړه چه كومه تيره شوه مګر په دے سند كښې دادی چه حضور ﷺ اوفرمائيل تالره كافي وو چه تا داسے وئيلے وے او

حضور ﷺ دواړه لاسونه په زمکه باندے اووهل بیا نے لاسونه اوڅنډل او په مخ او تلو باندے نے راښکل

(۸۲۰)عن عبد الرحمن ابن ابزی رضی اللہ عنہ عن ابیہ ان رجلاًاتی عمرفقال انی اجنبت فلم اجدماء فقال لاتصلی فقال عمار اماتذکریاامیر المومنین اذاناوانت فی سریۃ فاجنبافلم نجدماء فامااَنت فلم تصل واماانافتمعکت فی التراب وصلیت فقال النبی صلی اللہ علیہ واٰلہ وسلم انماکان یکفیک ان تضرب بیدیک الارض ثم تنفخ ثم تمسح بھماوجھک وکفیک فقال عمراتق اللہ یاعمار فقال ان شئت لم احدث بہ قال الحکم وحدثنیہ ابن عبدالرحمن ابن ابزی عن ابیہ مثل حدیث ذرّ قال وحدثنی سلمۃ عن ذرّ فی ھذاالاسنادالذی ذکرالحکم قال فقال عمر نولیک ماتولیت. ابخاری : ۳۳۸، ۳۳۹، ۳۴۰، ۳۴۱، ۳۴۲، ۳۴۳، ابوداود : ۳۲۲، ۳۲۳، ۳۲۴، ۳۲۵، ۳۲۶، ۳۲۷، ۳۲۸، ترمذی : ۱۴۴، نسائی : ۳۱۱، ۳۱۵، ۳۱۶، ۳۱۷، ۳۱۸، ابن ماجہ : ۵۶۹

ترجمہ:۔ عبد الرحمن بن ابزی رضی اللہ عنہ د خپل پلار نہ روایت کوی چہ یو سړے د حضرت عمر خواله راغے او اوئے وئیل ماته جنابت شوے دے او اوبه نه میلاویږی ۔ هغه ورته اوفرمایل مونخ مه کوه عمار اووئے اے امیر المومنینؓ تاته یا د نه دی هر کله چه زه اوته د لښکر په یو ټکړه کښې وو ۔ بیا مونږ ته جنابت اوشو او اوبه نه وے ۔ تا خو مونځ او نه لوستلو لیکن زه په خاورو کښې اوغرپیدم او مونځ م اولوستلو رسول اللہ صلی اللہ علیہ واٰلہ وسلم اوفرمایل تاله کافی وو خپل دواړه لاسونه په زمکه باندے وهل بیا هغے لره پوکل ۔ او بیا مسحه کول په مخ او دواړو ورغوو باندے حضرت عمر رضی اللہ عنہ اووے د خدائے نه اویرېږه اے عمارهٔ (یعنی په سوچ سمج سره حدیث بیانوه) عمار اووے کچرے نه وائے نو زه به د احدیث نه بیانووم (که چرے ددے په پهولو کښې څه مصلحت وی ۔ ځکه چه د خلیفه اطاعت واجب دے) او په یو روایت کښې دی چه حضرت عمرؓ اووے ستاسو د روایت بوج ستاسو د پاسه دے ۔

فائده : نووی وائی ددے حدیث نه دلیل راوړی هغه خلق چه هغه وائی تیمم په ګټه باندے درست دے او په هغه څیز باندے چه په هغے باندے غبار نه وی ځکه چه که د غبار کیدل ضروری وے نو هغه به خپل لاسونه نه څنډل د هغے جواب دادے چه د څنډلو نه دلته غرض

دانه وو چه سانکل دے غبار د لاسونو نه لرے شي ملکه ډیر ګرد پرے لګېدلے وو په دے وجه هغه لاسونه اوخنډل او ګرد نے که کړو او د امستحب دی

(۱۲۱)عن عبدالرحمن ابن ابزی عن ابیه ان رجلااتی عمرقال انی اجنبت فلم اجدماء وساق الحدیث وزاد فیه قال عمار یاامیر المؤمنین ان شئت لما جعل الله علی من حقک لا احدث به احداولم یذکر حدثنی سلمة عن ذر

ترجمه : عبدالرحمن بن ابزی د خپل پلار نه روایت کوی چه یو سړے د حضرت عمرؓ خواله راغے او هغه اووے ماته جنابت شوے دے او اوبه میلاؤ نه شوے بیا نے بیان کړو حدیث لره هغه شان لکه چه پورته ذکر شو . په دے کښې دومره زیاته ده چه عمارؓ اووے اے امیر المومنینؓ خدائے پاك ستا حق په مونږ باندے کړے دے . (چه ته خلیفه نے او زه ستا رعیت یم) که چرے ته فرمائے نو زه به دا حدیث چا سره نهٔ بیانووم .

(۱۲۲)عن عمیرمولی ابن عباس یقول اقبلت اناوعبدالرحمن ابن یسارمولی میمونة زوج النبی صلے الله علیه واله وسلم حتی دخلناعلی ابی الجهم بن الحارث ابن الصمة الانصاری فقال ابوالجهم اقبل رسول الله صلے الله علیه واله وسلم من نحو بیرجمل فلقیه رجل فسلم علیه فلم یرد رسول الله صلے الله علیه واله وسلم حتی اقبل علی الجدار فمسح وجهه ویدیه ثم رد علیه السلام.[بخاری : ۳۳۷. ابوداود : ۳۲۹. نسائی ۳۱۰]

ترجمه : د ابن عباسؓ د مولی عمیر نه روایت دے چه زه او عبد الله بن یسار د ام المؤمنین میمونه رضی الله عنها د ازاد کړی غلام ابو الجهم بن حارث خواله لاړو . ابو الجهم اووے رسول الله صلی الله علیه و له وسلم د بیر جمل (مدینے ته نزدے یو مقام دے) د طرفنه راغے په لاره کښې یو سړے میلاؤ شو هغه (سړی) هغه ته سلام اوکړو حضرت (ﷺ)جواب ورنه کړو . تردے پورے چه د یو دیوال خواله راغے او مسحه نے اوکړه په مخ او دواړو لاسونو باندے او بیا نے د سلام جواب ورکړو

فائده : نووی ونیلی دی . دغه وخت به رسول الله ﷺ ته اوبه میلاؤ شوے نه وی . ولے چه د اوبو په موجودګی کښې تیمم درست نه دے اګر که د مانځه وخت تنګ وی . یا مونځ د

جنازے وی ۔ د اخر وی او د جمهورو علماو دغه مذهب دے او ابو حنیفه وائی داوبو په موجودګی کښې سمه درست دے د جنازے او اختر د مانځه د پاره کچرے د فوت کیدو یره نے وی لو بغوی نفل کرے دی چه که چرے د فرض مانځه هم وخت تنګ پاتے شی نو په تیمم سره د دے مونځ اوکړی بیا دے اودس اوکړی او قضاء دے اولولی او تیمم په دیوال باندے درست دے او د نفلونو او سجدهٔ تلاوت ۔ او سجده شکر او مس صحف د پاره هم درست دے (انتهی مختصرا)

(۱۲۳) عن ابن عمر ان رجلامر ورسول الله صلے الله علیه واله وسلم یبول فسلم فلم یرد علیه ابوداود ۱۶. ترمذی ۹۰، ۲۷۲۰. نسائی ۳۷. ابن ماجه: ۳۵۳

ترجمه: د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے چه یو سرے راووتو او رسول الله صلے الله علیه واله وسلم متیازے کولے هغه سلام اوکړو حضرت سلام جواب ورنه کړو.

فائده: د دے نه معلومه شوه چه د متیازو کولو په وخت د سلام جواب نه دی ورکول پکار او سلام کول هم په دغسے حالت کښې مکروهه دی او کوم سړے چه د حاجت د پاره کینی هغه لره د الله ذکر کول مکروهه دی هغه به نه تسبیح وائی نه تحلیل نه به د سلام جواب ورکوی نه د بل د پرنجی او نه په خپله د پرنجی نه پس به الحمد الله وائی نه به د آذان جواب ورکوی . دغه شان د حاجت په وخت خبرے کول هم مکروهه دی البته که ضرورت وی نو درست دی او د ابراهیم نخعی او ابن سیرین نه منقول دے چه په خبرو کولو کښې څه قباحت نشته (نووی)

۵.باب الدلیل علی ان المُسلم لاینجس:

باب: مسلمان نجس کیدے نه شی.

(۱۲۴) عن ابی هریرة انه لقی النبی صلے الله علیه واله وسلم فی طریق من طرق المدینة وهو جنب فانسل فذهب فاغتسل فتفقده النبیّ صلے الله علیه واله وسلم فلماجاء ه قال این کُنت یآاباهُریرة قال یارسُول الله لقیتنی وانا جنب فکرهت ان اجالسک حتی اغتسل فقال رسُولُ الله صلے الله علیه واله وسلم سُبحٰن الله ان المومن لاینجس (بخاری: ۲۸۳، ۲۸۵. ابوداود: ۲۳۱. ترمذی: ۱۲۱. نسائی: ۲۶۹. ابن ماجه

[۵۳۴]

ترجمه : د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه هغه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم سره مسلاؤ شو او هغه جنب وو نو بت شولو او د غسل کولو د پاره لاړو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هغه تلاش کولو پس هر کله چه هغه راغے نو تپوس ئے ترے نه اوکړو کوم خاتے وے ؟ هغوی اووے . یا رسول الله ! څه وخت چه ته زما سره میلاؤ شوے دغه وخت زه جنب ووم او مناسب مے نه ګڼړلو چه ستا سره کیناستل د کومے پورے چه مے غسل نه وو کړے . رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل سبحان الله ! مؤمن چرته نجس کیږی .

فائده :. مؤمن خواه که ژوندے وی یا مړ ، جنابت نجاست حکمی دے نه حقیقی . او کافر هم په مثل د مسلمان دے په طهارت ظاهری کښی لیکن هغه نجس دے باطناپه وجه د اعتقاد د نجاست او د بعضے علماؤ په نزد کافر نجاست ظاهری دے . او د غه قول دے د شیعه ؤ . اوس چه مسلمان پاك شو نو د هغه خوله او لعاب او اوښکے ټول پاك دی . خواه که بے اودسه وی یا جنب یا حائضه یا نفاسه وی . او په دے باندے د مسلمانانو اجماع ده او دغه شان بچی هم پاك دی (نووی)

(۸۲۵)عن حذیفة ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لقیه وهو جنب فحاد عنه فاغتسل ثم جاء فقال كنت جنبا قال ان المسلم لاینجس .[ابو داود : ۲۳۰ . نسائی : ۲۶۸ ، ابن ماجه : ۵۳۵]

ترجمه : د حذیفه رضی الله عنه نه روایت دے هغه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم سره میلاؤ شو او هغه جنابت کښی وو نو هغه جدا شو د هغه نه او غسل ئے اوکړو بیا راغے او وئے وئیل چه زه جنب ووم. هغه اوفرمایل مسلمان نجس نه وی .

باب ذکر الله تعالٰی فی حال الجنابة وغیرها .

باب: د جنابت په حالت کښی د الله جل جلاله ذکر کول .

(۸۲۶)عن عائشة قالت كان النبی صلی الله علیه واله وسلم یذكر الله علی كل احیانه.[ابو داود : ۱۸ ، ترمذی : ۳۳۸۴ ، ابن ماجه : ۳۰۲]

ترجمہ : د مؤمنانو مور عائشے رضی اللہ عنہانہ روایت دے چہ رسول اللہ صلے اللہ علیہ واٰلہ وسلم بہ د رب ذوالجلال یاد (یعنی ذکر) ھر وخت کولو ۔

فائدہ : ددے حدیث نہ معلومہ شوہ چہ د جنابت پہ حالت کبن تسبیح ۔ تھلیل ۔ ذکر الھی درست دی او پہ دے باندے اجماع دہ لیکن پہ دے کبن اختلاف دے چہ قران لوستل جنبی یا حائضے لرہ درست دی یا نہ دی ۔ د جمھور علماؤ پہ نزد حرام دی ۔ اگر کہ یو آیت یا د ھغے نہ ھم کہ وی ۔

٥ باب جَوازِ اَكْلِ الْمُحْدِثِ الطَّعام وانَّهُ لاكَراهةَ فِيْ ذٰلِكَ وانَّ الْوُضُوْءَ لَيْسَ عَلَى الْفُوْرِ ۔

باب: د بے اودسہ سری خوراک کول درست دی او اودس فی الفور واجب نہ دے ۔

(۸۲۷) عن ابن عبّاس انّ النّبیّ صلّے اللہ علیہ واٰلہ وسلّم فذكرُوْا لهُ الْوُضُوْءَ فقالَ اُرِيْدُ انْ اُصلّی فاتوضّأُ ؟

[ابوداود : ۳۷۶۰، ترمذی : ۱۸۴۷، نسائی : ۱۳۲]

ترجمہ : د ابن عباس رضی اللہ عنہ نہ روایت دے رسول اللہ ﷺ د تشی (پاخانے) نہ راووتو ۔ او غلہ راوړے شوہ خلقو ھغہ نہ اودس یاد کړلو ھغہ اوفرمایل ولے زہ مونځ کووم چہ اودس اوکړم د ابن عباس رضی اللہ عنہ نہ روایت دے مونږ د رسول اللہ ﷺ سرہ وو ھغہ د پاخانے نہ راووتو غلہ راوړے شوہ خلقو اووے تاسو اودس نہ کوی ۔ ھغہ اوفرمایل ولے څہ مونځ لوستل دی چہ اودس اوکړم ۔

فائدہ : نووی وئیلے دی محدث یعنی بے اودسہ لرہ خوړل څکل ذکر الھی او تلاوت قرآن ټول درست دی او پہ دے باندے د امت اجماع دہ ۔

(۸۲۸) عن ابن عبّاس يقولُ عندَالنّبیّ صلّے اللّٰہُ علیہ واٰلہ وسلّم فجآء من الغائط واُتی بطعامٍ فقیلَ لہٗ الاتوضّأ فقال لم اُصلّی فاتوضّأ ۔ [راجع : ۸۲۷]

ترجمہ : د ابن عباس رضی اللہ عنہ نہ روایت دے مونږ د رسول اللہ ﷺ سرہ وو ھغہ د پاخانے نہ راووتو غلہ راوړے شوہ ۔ خلقو اووے تہ اودس نہ کوے ۔ ھغہ اوفرمایل ۔ ولے څہ مونځ لوستل

دی حه ودس اوکړه

١٢٩ ـ عن ابن عباس یقول ذهب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم الی الغائط فلما جاء قدم الیه طعام فقیل یارسول الله صلی الله علیه واله وسلم الا توضأ قال لم ؟ اللصلوة.

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ تهی نه تشریف یوړلو . کله چه واپس راغے نو غله راوړے شوه. خلقو اووے . یارسول الله ! تهٔ اودس نه کوے . هغهٔ ورته اوفرمایل ولے څه مونځ لوستل دی.

١٣٠ ـ عن ابن عباس یقول ان النبی صلی الله علیه واله وسلم قضی حاجته من الخلاء فقرب الیه طعام فاکل ولم یمس ماء قال وزادنی عمرو بن دینار عن سعید بن الحویرث ان النبی صلی الله علیه واله وسلم قیل له انک لم توضأ قال ما اردت صلوة فاتوضأ وزعم عمرو انه سمع من سعید ابن الحویرث. راجع : ١٢ ـ

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د پاخانے نه راووتو . (یعنی فارغ شولو) هغه وخت خوراك راوړلے شو . هغهٔ اوخوړلو او اوبو له نے لاس ورنهٔ وړلو او په دویم روایت

کښې هم د غه شان دی خلقو اووے چه تا اودس نه کوؤ ؟ هغه اوفرمایل . ماڅه مونځ لوستل غوښتل چه اودس مے کولو

باب مایقول اذا اراد دخول الخلاء.

باب : پاخانې ته د تللو په وخت به څه وائي.

١٣١ ـ عن انس فی حدیث حماد کان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اذا دخل الخلاء وفی حدیث هشیم ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم کان اذا دخل الکنیف قال اللهم انی اعوذبک من الخبث والخبائث

ترجمه: دانس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه به کله تهی له تلونو فرمایل به نے اللهم انی اعوذبك من الخبث والخبائث یعنی یا الله زه پناه غوارم پتا سره د شیطانانو لو

شیطانینو نه یا پلیدی یا نجاستو نو نه یا شیاطین او معاصی نه او په یو روایت کښې دی . کله
چه به هغه کنیف یعنی د لویو بولو مقرره ځائے ته تلو

(۸۳۲) عن عبد العزیز بهذا الاسناد وقال : اعوذ بالله من الخبث والخبائث : [نسائی ۱۹ ، ابن ماجه ۲۹۸]

په دے سند سره چه کوم حدیث راغلے دے په دے کښې دادی چه " زه پناه غواړم په الله پاك سره د
شیطانانو او شیطانینو نه .

باب الدلیل علی ان نوم الجالس لاینقض الوضوء.

باب : په ناستے ناستے اوده کیدو سره اودس نه ماتیږی .

(۸۳۳) عن انس ابن مالک قال اقیمت الصلوة والنبیُّ صلے اللّٰه علیه واله وسلم یناجی رجلا فلم یزل یناجیه حتی نام اصحابه ثم جاء فصلی بهم [نسائی : ۱۹۷]

ترجمه : د انس بن مالكؓ نه روایت دے . چه مونځ اودریدلو او رسول الله ﷺ د یو سړی په غوږ
کښې خبرے کولے . بیا ئے خبرے کولے د هغه سره تر دے پورے چه اصحاب اوده شول او مونځ ے
اولوستو د هغوی سره .

(۸۳۴) عن انس بن مالک قال : اقیمت الصلوة والنبی ﷺ یناجی رجلا فما قام الی الصلوة حتی نام القوم . [بخاری . ۶۴۲،۶۴۳]

ترجمه : حضرت انسؓ فرمانی چه مونځ قائم شو او حضور ﷺ د یو کس سره په غوږ کښې
خبرے کولے بیا ئے خبرے کولے تر دے پورے چه صحابه کرامؓ اوده شول . بیا حضور ﷺ راغے
او د هغوی سره ئے مونځ اولوستو

(۸۳۵) عن قتادة قال سمعت انسا یقول کان اصحاب رسول اللّٰه صلے اللّٰه علیه واله وسلم ینامون ثم یصلون ولا یتوضؤن قال قلت سمعته من انس قال ای والله . [ترمذی : ۷۸]

ترجمه : قتادهؒ وئیلے دی ما د انسؓ نه اوریدلے دی . چه د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم
اصحابؓ اوده شوی وو . بیا به ئے مونځ اولوستو او اودس به ئے نه کولو . شعبه وائی ما د قتادةؒ نه

تپو س اوکړو تاد انس نه اوربدلے دی ۔ هغوی اووے ها ۔ په الله قسم دے۔

(۸۳۶)عَنْ انس انه قال اُقیمت صلٰوۃُ العشآء فقال رجلٌ لی حاجةٌ فقام النبیُّ صلی اللّٰہ علیه واله وسلم یُناجیه حتی نام القوْمُ اوبعض القوم ثم صلّوْا.[ابو دواد : ۲۰۱]

ترجمه : د انس رضی الله عنه نه روایت دے ۔ چه د ماسخوتن د مانځه تکبیر اوشو یو سړی اووے زما ځه حاجت دے ۔ رسول الله ﷺ د هغه سره په ولاړے په غوږ کښ خبرے شروع کړے . تردے پورے چه ټول خلق یا بعضے خلق اوده شول ۔ بیا هغوی مونځ اولوستلو ۔

فائده :۔په غوږ کښ خبرے کول په هغه وخت کښ مکروهه دی ۔ چه کله یو سړے جُدا وی ۔ او د ټولی په وړاندے منع نۀ دی ۔ او مونځ اګرچه تیاروو مګر دا خبرے به ضروری وے چه د مانځه نه ئے هم مخکښ اوکړلے ۔ اوس اوده کیدل مطلقاً د اودس ماتوونکی نۀ دی او د بعضو په نزد مطلقاً اودس لره ماتونکے دے ۔ او د بعضو په نزد ډیر خوب اودس لره ماتوونکے دے او لږ خوب نه ماتوونکے ۔ او د بعضو په نزد په ناستے او ولاړے یا په رکوع او سجده کښ ماتوونکے نه دے اودس لره ۔ اوپه ډډه او نیغ څملاستلو سره ماتوونکے دے۔ او دبعضو په نزد که چرے کوناټی په زمکه لګیدلے وی نو ماتوونکے دَ اودس نه دے ګنی نو ماتوونکے دے اوداسۀ (نووی مختصراً) او په پرکالی سره اودس نه ماتیږی ۔

نوټ : اول جلد په امداد او نصرت د الله پاك سره سر ته اورسیدو انشاء الله دویم جلد به زر تر زره سر ته اورسیږی چه د هغے ابتداء د کتاب الصلوة نه ده

تم بعون الله والحمد لله حمدًا کثیرًا طیبًا مبارکًا فیه

مترجم مولوی **حضرت علی** حنفی ابن حاجی هادی

ناشر فیضی کتب خانه قصه خوانی پشاور